سره د حوالو او تخریجه

مُکمّله او مُدلّله

فتاوىٰ یوسفیه

مشهوره په

سلګونو نويو مسائلو او د هغې حل

اول جلد

تالیف
حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله
مفتي اعظم پاکستان

تقریظونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا
سید شیر علی شاه مدني رحمه الله
سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله
شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه النائزئي

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیټ مرحوم حاجي حسین ګل کابل
0782690850 | 0775681606

حنفی شافعی
بسم اللہ الرحمن الرحیم
کفایت دینی کتب خانہ
کفایت اللہ ابن صدیق
واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل
اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔
کفایت اللہ ابن صدیق
easypaisa
+923052488551
+923247442395
مالکی حنبلی

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغې حل

مکمّل او مدلل

۱

سره د حوالو او تخریجه

داول جلد اجمالي فهرست

ایمانیات او عقائد، دتقدیر مسائل، محاسن اسلام، نبی کریم ﷺ نور دي که بشر، عقیده حیات النبی، انبیاء کرام سره ملاقات، دمعراج مسائل، په خوب کې نبي کریم ﷺ لیدل، صحابه او صحابیات، حضرت حسین ؓ یزید، داجماع او تقلید مسائل، دسنت او بدعت تعریف، مروجه میلاد، اصلاح مفاهیم، د داورون نظریه اعتقاد او اسلام

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقریضونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علي شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ټول حقوق محفوظ دي

د کتاب نوم : ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

مؤلف : حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

ترجمه کونکي : دار الترجمه عبدالغني مارکیټ پشاور

جلد : اول

صفحات : ٥٨٤

تاریخ : ۲۰۱۷ء

د چاپ زیار : مولانا سید محمد پرواني

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل
0782690850 | 0775681606

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

- پشاور
- اکوړه خټک
- کوئټه
- پروان
- کندوز
- غزني
- جلال آباد
- قندهار
- بغلان
- لوګر
- خوست

فهرست

مضمون	صفحه

❖ایمانیات❖

(د مسلمانانو بنیادي عقیدې)

د ایمان حقیقت ۱۵
د نجات له پاره ایمان شرط دی ۱۸
د مسلمان تعریف ۱۹
د قرآن او سنت په رڼا کې د مسلمان تعریف ۱۹
د وحي له شروع کیدونه دري کاله وروسته د عام دعوت او تبلیغ حکم وشو ۲۰
د ګونګي اسلام ښکاره کول ۲۱
هر مسلمان کولی شي چې کافر مسلمان کړي ۲۱
په دین او مذهب کې څه فرق دی؟ ۲۲
د صراط مستقیم نه څه مراد دي؟ ۲۲
ایا په امت محمدیې کې غیرمسلم هم شامل دي؟ ۲۵
ایاله لیدونه پرته یقین معتبرنه دی ۲۶
د الله تعالی د ذات له پاره د واحد او جمعې د صیغې استعمالول ۲۷
د تحریف شویو اسماني کتابونو منونکي اهل کتاب دي؟ ۲۷
مسلمان ته اهل کتاب ویل څنګه دي؟ ۲۷
د نبي کریم ﷺ د مور وپلار په ایمان باندې بحث کول جائز نه دي ۲۸
فیض الباري او رافضي افواه ۲۸
د امام اهل سنت خط ۳۲
په قران کریم کې نازلې شوې د نورو خلکو خبرې قران دی ۳۴
د الله تعالی په کلام کې د انسان کلام به هم نفسي وي؟ ۳۴
انګریزان، امریکایان او نور کافران د رحمت زیات حقدار دي او که مسلمانان؟ ۳۵
د قران په نسخ کې د جمهور اهل سنت مسلك ۳۵
په جمعه او د جمعې په شپه مړ کیدونکي ته په عذاب کې کمی ۳۸
کشف او کرامات حق دي ۳۹
د اولیاوو کرامت حق دی ۳۹

مضمون	صفحه

د حضرت مهدي رضي الله عنه په اړه څو سوالونه ۴۰
ساري مرضونه او اسلام ۴۱
حقيقي اثرکونکی الله تعالی دی دوايي نه ده ۴۲
ايا د حضور ﷺ د قبر مباک خاوره د عرش او کعبې نه بهتره ده ۴۳
په ولي او نبي کې څه فرق دی ۴۶
هيڅ ولی، غوث، قطب، مجدد د هيڅ نبي او يا صحابي برابر نه دی ۴۶
ايا دا د کفر الفاظ دي ۴۶
مسلوب الاختيار باندې د کفر فتوا ۴۶
قضا او ديانت کې فرق ۵۲
ايا گوتم بُده په پيغمبرانو کې شمېرل کيږي؟ ۵۲
يو ولي يا پيغمبر وسيله جوړول روادي ؟ ۵۲
انبياء او اولياء وغيره په دعاګانو کې وسيله جوړول ۵۷
په حق د فلاني سره د دعا کولو شرعي حکم ۵۷
د يوې غلطې عقيدې امام باره کې د ديوبند د بزرگانو مسلک ۵۷
د توفيق د دعا غوښتلو حقيقت ۶۰
د کار و بار (روزګار) اداب ۶۱
د اسبابو اختيارول د توکل خلاف نه دي ۶۱
په اسبابو باندې د يقين کونکو شرعي حکم ۶۲
د رزق د پاره د عادت په طور اسباب اختيارول ۶۲
شريعت اسباب مهمل نه دي پريښي ۶۳
ايا د عالم ارواح دوعدې پشان به په آخرت کې د دنيا خبرې هم هيرې شي؟ ۶۳
بې عمله صحيح عقيده ۶۴
کشف، الهام او بشارت کې فرق ۶۴
کشف او الهام شته خو هغه دليل نه دی ۶۵
مباهله او خدائي فيصله ۶۵
د غيرمسلم په تعريف کې څوک راځي ۶۷
د صبر او بې صبرۍ معيار ۶۷

صفحه	مضمون

تقدير

تقدير څه شی دی؟ ۶۹
آیا د تقدیر تعلق یواځې ځلور شیانو سره دی؟ ۷۰
د تقدیر د مسئلې مزید وضاحت ۷۳
د دعا فلسفه ۷۴
تقدیر حق دی او منل یې د ایمان شرط دي ۷۸
په تقدیر او تدبیر کې څه فرق دی؟ ۸۰
په تقدیر باندې ایمان راوړل ضروري دي ۸۱
تقدیر جوړل ۸۱
ایا ظاهري اسباب د تقدیر خلاف دي؟ ۸۲
د انسان د حالاتو سبب د هغه عملونه دي ۸۳
د انسان په ژوند کې چې څه کیږي ایا هغه ټول له مخکې نه لیکل شوي وو؟ ۸۳
بد کار کولو سره تقدیر ذمه وار ګرځول صحیح نه دي ۸۵
خیر او شر ټول د خدای مخلوق دي خو شیطان د شر سبب او ذریعه ده ۸۵
هر څه د الله په حکم سره کیږي ۸۶
د نظر لګېدو حقیقت ۸۶
قاتل ته سزا ولې ورکول کیږي؟ ۸۶
خود کشي ولې حرامه ده؟ ۸۷
د بنځې نېک بختي او بد بختي له خاوند نه په وړاندې یا وروسته مرګ کې نه ده ۸۷
یواځې قسمت کافي دی که کوشش هم پکار دی؟ ۸۸
د رضا بالقضا مراد ۸۸

محاسن د اسلام

اسلام د فطرت دین دی ۸۹
اسلام د نورو مذهبونو نه په کومو شیانو کې غوره دی؟ ۹۰
په اسلامي ملك کې د غیر اسلامي مذهب په تبلیغ بندیز تنګ نظري نه ده ۹۱

❖ انبیاء کرام علیهم السلام ❖

د انبیاء علیهم السلام بشر دي ۹۳
د شریعت په معرفت کې په سلفو (بزرګانو) باندې اعتماد ۱۰۲
نبي کریم صلی الله علیه وسلم نور دی که بشر؟ ۱۰۸

صفحه	مضمون

د حاضراوناظر مسئله اود شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله نظر ١٠٨
د حضرت آدم عليه السلام تقريباً اوو زره کاله تيرشوي ١١٢
حضرت آدم عليه السلام ته د فرشتو سجده کول ١١٧
ايا انسان د حضرت آدم عليه السلام د غلطي پيداوار دی؟ ١١٧
ايا د حضرت آدم عليه السلام په نسل کې جينکی هم وې؟ ١١٧
د حضرت آدم عليه السلام اود هغه داولاد باره کې سوالونه ١١٨
د حضرت داوُد عليه السلام قوم او زبور ١٢١
حضرت يحيى عليه السلام واده نه و کړی ١٢١
د حضرت يونس عليه السلام له واقعې نه عبرت ١٢٢
د حضرت هارون عليه السلام د قول تشريح ١٢٤
حضرت ابراهيم عليه السلام د ملائکو د مدد وړانديز ولې ونه مانه؟ ١٢٥
د نمرود د حيرانېدو وجه ١٢٦
ايا حضرت خضر عليه السلام پيغمبر و؟ ١٢٧
ايا حضرت خضر عليه السلام ژوندی دی؟ ١٢٨
د حضرت خضر عليه السلام په جمله باندې سوال ١٢٨
د نبي کريم صلى الله عليه وسلم حُليه مبارکه ١٢٩
د حضور صلى الله عليه وسلم درد الشمس معجزه ١٣٢
د انبياء کرامو د اودس ماتي دپاکي مسئله ١٣٥
د سائل دويم خط ١٣٧
د شق القمرمعجزه ١٤١
د حضور صلى الله عليه وسلم نکاح ١٤٣
د خاتم الانبياء صلى الله عليه وسلم په ودونوباندې د شک وضاحت ١٤٤
له طائف نه مکي مکرمې ته نبي عليه السلام دچا په پناه کې تشريف يوړ؟ ١٥٠
د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د سينې اواز ١٥١
مخامخ ستاينه د هرچا له پاره منع ده ١٥١
د "نژدې وه چې نبيان شوي وای.. معنا ١٥٢
د حضور صلى الله عليه وسلم د جنازې لمونځ څنګه شوی و؟ ١٥٣
د حضور صلى الله عليه وسلم د جنازې لمونځ چاورکړی و؟ ١٥٤

صفحه	مضمون

د حضور ﷺ د جنازې لمونځ او تدفین څنګه وشو او خلافت څنګه فیصله شو؟ ۱۵۲
حضرت سوده رضي الله عنها ته د طلاق ورکولو د ارادې حکمت ۱۵۸
رَحمَة للعَالَمِين او بد دُعاء ۱۵۸
د نبي کریم ﷺ سره محبت او د الله تعالی ناراضګي ۱۲۱
د نبي کریم ﷺ د نوم سره بیواځې "ص" لیکل ۱۲۲
د نبي ﷺ او حضرت آدم علیه السلام په نومونو سره "ص" او "ع" لیکل ۱۲۳
د خطاب صیغې سره صلوة او سلام ویل ۱۲۳
د انبیاء علیهم السلام او د صحابه وو رضي الله عنهم له نومونو سره څه لیکل پکار دي؟ ۱۲۳
د امام نوم سره علیه السلام لیکل ۱۲۴
د حضور ﷺ د تولې دنیا له پاره بعثت ۱۲۴

❖ عقیده د حیات النبي ﷺ ❖

۱: حدیث جرید ۱۲۹
۲: د حضور ﷺ د قبر عذاب اوریدل ۱۷۰
۲: له حضور ﷺ نه پرته نورو خلک هم د قبر عذاب اوریدلای شي؟ ۱۷۱
څناورو د قبر عذاب اوري ۱۷۳
۵: د قبر د عذاب د لیدو واقعات ۱۷۵
قبر کې راتلونکې حالات او واقعات ۱۸۰
مړي د خښونکو د پښو اوازونه اوري ۱۸۸
د منکرنکیر راتلل ۱۸۹
دقبر فتنه ۱۹۴
نکیر او منکر مړي په قبر کې راکینوي ۲۰۵
د جنازې او چتونکو په اوږو باندې د مړي خبرې ۲۰۷
د قبر زور ورکول ۲۰۸
د بدر د واقعې حدیثونه ۲۱۳
دقبر خاوند ته عذاب مه ورکوئ ۲۱۲
حیات الانبیاء د قران په رڼاکې ۲۲۱
د انبیاء کرامو ژوند د حدیثو په رڼاکې ۲۲۷
د حدیث په سند باندې د شوې اعتراض خواب ۲۲۹

مضمون	صفحه

❖ انبياء كرام عليهم السلام سره ملاقات ❖

❖ د انبياء عليهم السلام امامت ❖ ۲۳۴
په قبر كي د حضرت موسى عليه السلام لمونځ........ ۲۳۴
حيات النبي ﷺ د صحابه كرامو د اثارو په رڼاكي........ ۲۳۴

❖ د حضور ﷺ د حيات عقيده او څلور واړه مذهبونه ❖

[حنفيه رحمهم الله] ۲۳۲
فضل الله بن حسين توربشتي الحنفي رحمه الله المتوفى ۶۳۰ هـ ۲۳۲
ملا علي قاري رحمه الله (المتوفى ۱۰۱۴هـ) ۲۳۲
علامه ابن الهمام (المتوفي ۶۸۱هـ) ۲۳۶
حضرت علامه عيني المتوفي (۷۵۵هـ) ۲۳۷
امام ملا علي قاري رحمه الله المتوفي (۱۰۱۴هـ) ۲۳۸
حضرت شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله (المتوفى ۱۰۵۲هـ) ۲۳۸
علامه شرنبلاني رحمه الله (المتوفي ۱۰۶۹هـ) ۲۳۸
علامه طحاوي رحمه الله (المتوفي ۱۲۳۳هـ) ۲۳۸
علامه ابن عابدين شامي رحمه الله (المتوفي ۱۲۵۲هـ) ۲۳۹
علامه محمد عابد السندي رحمه الله (المتوفي ۱۲۵۷هـ) ۲۴۰
نواب قطب الدين دهلوي رحمه الله (المتوفي ۱۲۸۹هـ) ۲۴۰
[مالكيه رحمهم الله] ۲۴۰
امام مالک رحمه الله (المتوفي ۱۷۹ هـ) ۲۴۰
علامه سمهودي رحمه الله (المتوفي ۹۱۱هـ) ۲۴۱
[شوافع رحمهم الله] ۲۴۱
علامه تاج الدين السبكي رحمه الله (المتوفى ۷۷۷هـ) ۲۴۱
حافظ ابن حجر رحمه الله (المتوفي ۸۵۲ هـ) ۲۴۲
[حنابله رحمهم الله] ۲۴۳
ابن عقيل رحمه الله ۲۴۳

❖ د نبي كريم ﷺ د حيات عقيده او دامت اكابرين ❖

امام عبد القادر البغدادي (المتوفي ۴۲۹هـ) ۲۴۳
امام بيهقي رحمه الله (المتوفي ۴۵۸ هـ) ۲۴۳
امام شمس الدين محمد بن عبد الرحمن السخاوي رحمه الله (المتوفي ۹۰۲هـ) ۲۴۳

صفحه	مضمون
۲۴۴	علامه جلال الدين سيوطي رحمة الله عليه (المتوفي ۹۱۱هـ)
۲۴۴	علامه عبد الوهاب شعراني رحمة الله عليه (المتوفي ۹۷۳هـ)
۲۴۴	عبد الله بن عبد الوهاب نجدي رحمة الله عليه (المتوفى ۱۲۰۶هـ):
۲۴۵	علامه قاضي شوكاني رحمة الله عليه (المتوفى ۱۲۵۵هـ):
۲۴۵	نواب قطب الدين خان صاحب رحمة الله عليه (المتوفي ۱۲۷۹هـ):
۲۴۵	مولانا شمس الحق صاحب عظيم آبادي رحمة الله عليه (المتوفي ۱۳۲۹هـ):
۲۴۶	د ديوبند د عالمانو او اكابرينو تصريحات
۲۴۷	حضرت مولانا احمد على سهارنپورى رحمة الله عليه الحنفي (المتوفي ۱۲۹۷هـ):
۲۴۷	حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمة الله عليه (المتوفي ۱۳۲۳هـ):
۲۴۷	حضرت مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمة الله عليه (المتوفي ۱۳۴۶هـ):
۲۴۷	حضرت مولانا سيد محمد انور شاه (المتوفي ۱۳۵۲هـ):
۲۴۸	حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه المتوفي (۱۳۶۲هـ):
۲۴۸	شيخ الاسلام حضرت مولانا شبير احمد عثماني رحمة الله عليه (المتوفي ۱۳۶۹):
۲۴۸	حضرت مولانا سيد حسين احمد مدني رحمة الله عليه (المتوفي ۱۳۷۷هـ):
	❖ د حضور ﷺ د حيات په عقيده باندې اجماع ❖
۲۴۹	علامه سخاوي رحمة الله عليه (المتوفي ۹۰۲هـ):
۲۴۹	د منكرين حيات حكم
۲۵۰	د مسئله حيات النبي ﷺ په اړه د ديوبند داوسني دور د اكابرينو مسلك او د هغوى اعلان.
۲۵۱	د برزخ ژوند د بحث موضوع ده
۲۵۱	د روح بېرته وركول
۲۵۲	د اشاعت التوحيد و السنة پاكستان د مقننه مجلس فيصله
۲۵۳	د نبي كريم ﷺ د حيات عقيده او مسلمان امت
۲۵۴	د حيات النبي په منكرينو پسې اقتداء
۲۵۵	د انبياء عليهم السلام په قبرونو كې د ژوند نه د انكاركونكو حكم
۲۵۶	سماع موتى د قران په نظر كې
۲۵۶	سماع موتى د حديثونو په نظر كې
۲۵۷	سماع موتى د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په نظر كې
۲۵۷	واسطه او وسيله
۲۵۷	واسطه او وسيله د قران په نظر كې

مضمون	صفحه

واسطه او وسیله د حدیثونو په نظر کې ۲۵۸
واسطه او وسیله د ابو حنیفه رحمه الله علیه په نظر کې ۲۵۸
تعویذ او بندونه ۲۵۹
دنیاوي قبر کې حساب کتاب ۲۵۹
په قبرونو کې د انبیاء علیهم السلام ژوند ۲۶۰
د حضور ﷺ په قبرمبارک کې د سماع حدود ۲۶۵
د قبر شرعي تعریف ۲۶۵
د نبي ﷺ د حیات عقیده ۲۶۷

❖ معراج ❖

د جسماني معراج ثبوت ۲۶۷
په معراج کې د نبي کریم ﷺ حاضري څو ځلې وشوه؟ ۲۶۸
ایا د معراج په شپه نبي علیه السلام الله تعالی لیدلی دی؟ ۲۶۸
ایا د معراج په شپه حضرت بلال رضی الله عنه د نبي علیه السلام سره و؟ ۲۶۹
نبي کریم ﷺ د معراج نه بېرته په څه شي راغلی و؟ ۲۶۹

❖ په خوب کې د نبي کریم ﷺ زیارت ❖

د نبي علیه السلام د زیارت حقیقت ۲۶۹
په خوب کې د نبي علیه السلام د زیارت بنیادي اصول ۲۷۰
په خوب کې د نبي علیه السلام زیارت کولو سره د صحابي درجه ۲۷۲
ایا غیرمسلم ته د نبي ﷺ زیارت کېدلی شي؟ ۲۷۲
په خوب کې د نبي علیه السلام زیارت ۲۷۳

❖ صحابه رضي الله عنهم ، صحابیات رضی الله عنهن او د نبي ﷺ بیبیانې او لونه ❖

حواري چاته وایي؟ ۲۷۹
عشره مبشره چاته وایي؟ ۲۸۰
په خلفایې راشدینو کښې د څلورو خلفاو نه پرته نور خلفاء ولې شامل نه دي؟ ۲۸۱
د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د پیدائش او وفات تاریخ ۲۸۲
د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلافت په حقه و ۲۸۲
د حضرت عمر رضی الله عنه د ولادت او شهادت تاریخ ۲۸۴
د حضرت عمر رضی الله عنه په تائید کې د قران نازلېدل ۲۸۵
د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه خلاف دروغ تړل ۲۸۶

صفحه	مضمون
۲۸۶	د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه کشف
۲۸۷	د حضور صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع په خطبه کې حضرت عمر رضی الله عنه ژړلي و او که حضرت ابوبکر رضی الله عنه؟
۲۸۸	د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا قول چې که زما نه وروسته پیغمبر وای نو فلانی به و. ددې مصداق څوک دی؟
۲۸۸	د حضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت تاریخ او عمر
۲۸۹	د حضرت علي رضی الله عنه له نوم سره ..کرم الله وجهه.. ولې ویل کیږي؟
۲۸۹	ایا د حضرت علي رضی الله عنه نکاح موقته وه؟
۲۹۰	دآل رسول صلی الله علیه وسلم وجه
۲۹۰	د حضرت علي رضی الله عنه عمر مبارك او د شهادت تاریخ
۲۹۱	د حضرت عباس او حضرت علي رضی الله عنهم په باره کې د یو څو شبهاتو لیرې کول
۲۹۲	پوښتنې
۳۱۷	د پوښتنه کونکي دویم لیک
۳۳۷	د حضرت بلال رضی الله عنه واده
۳۳۷	په حضرت ابوسفیان رضی الله عنه بدګمانی
۳۳۸	د حضرت ابوسفیان نوم څنګه لیکل کیږي؟
۳۳۸	عمر.بکر. زید فرضي نومونو سره د صحابه وو بې ادبي نه کیږي
۳۳۸	د نبي کریم صلی الله علیه وسلم لوراني
۳۳۹	د حضرت خدیجې رضی الله عنها د وفات پرمهال د نبي علیه السلام عمر
۳۴۰	نبي علیه السلام د عائشې رضی الله عنها سره کله واده وکړ؟
۳۴۰	د واده په وخت کې د حضرت عائشه رضی الله عنها عمر نهه کاله و
۳۴۰	ایا د نهو کالو په عمر کې انجلۍ بالغه کیدای شي؟
۳۴۳	ایا د حضرت زینب رضی الله عنها خاوند مسلمان و؟
۳۴۳	حضرت اُمِ هَاني رضی الله عنها څوک وه؟
۳۴۳	د «الصحابة كلهم عدول» تشریح
۳۴۵	صحابه کرام د هدایت ستوري دي
۳۴۶	د بې ادبي بوی راځي
۳۴۷	د صحابه کرامو رضی الله عنهم باره کې تاریخي ګډې وډې خبرې نقلول بې ادبي ده
۳۴۹	دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم سره مینه نه بلکې دا جهالت دی
۳۵۲	حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه کله اسلام راوړ؟

مضمون	صفحه

❖ د حضرت حُسین رضی الله عنه او د یزید په باره کې د اهل سُنت والجماعت مسلک ❖

د حضرت حُسین رضی الله عنه او یزید حیثیت ۳۵۲
ایا یزید ته پلیت ویل جائز دي؟ ۳۵۳
په یزید باندې د لعنت ویلو څه حکم دی؟ ۳۵۴
یزید او د اعتدال مسلک ۳۵۵

❖ اجتهاد او تقلید ❖

د تقلید تعریف او حکمونه ۳۶۱
د څلورو امامانو مذهب حق دی ۳۶۳
څلور واړه امان حق دي ۳۶۴
د څلورو امامانو د حقانیت مطلب ۳۶۷
مجتهدین شارع او مقنن نه دي ۳۷۴
ایا څلور امامان د پیغمبرانو درجه لري؟ ۳۷۵
ایا د اجتهاد دروازه بنده شوې ده؟ ۳۷۵
د یو امام تقلید ولې ضروري دي؟ ۳۷۶
د یو بل په مسلك باندې عمل کول ۳۷۶
د څلورو امامانو په یو وخت کښې تقلید کول ۳۷۷
د شریعت په روا او ناروا کارونو کې د امامانو اختلاف ولې دی؟ ۳۷۸
دیوې فقهې پابندي د یو عام سړي له پاره ضروري ده د مجتهد له پاره نه ۳۷۹
د قران او حدیث په موجودیت کې په څلورو فقهو خصوصا په فقه حنفي باندې ولې زور کیږي؟ ۳۸۰
ایا یوه فقه منل ضروري دي؟ ۳۸۱
د حنفي فقهې د څو خبرو صحیح تعبیر ۳۸۱
د امام ابو حنیفه رحمه الله د رانګ اشاره ۳۸۲

❖ سنت او بدعت ❖

د بدعت تعریف ۳۸۷
د بدعت قسمونه ۳۸۷
پیري او مریدي په خپله مقصود نه دي ۳۹۰

مروج میلاد

د پیدائش یا وفات جشن ۳۹۴
ماتمي جلوس ۳۹۹

مضمون	صفحه

مروج میلاد

د پیدائش یا وفات جشن ۳۹۴
ماتمي جلوس........................ ۳۹۹
د مرګ خبر ورکول ۴۰۲
د مرګ اعلان څنګه سنت دی؟ ۴۰۲
قبرباندې اذان کول........................ ۴۰۴
په قبرونو باندې د ګلونو اچولو باره کې د شاه تراب الحق موقف........................ ۴۰۴
په قبرونو ګلونه اچول بدعت دي ۴۰۵
په قبرونو ګلونه اچول بدعت دي (د مسئلې تحقیق) ۴۱۳
د بُزرګانو په قبرونو باندې عُرس کول ، څادرونه پرې اچول او هغوی نه آرزوګانې غوښتل څنګه دي؟ ۴۲۵
په قبرونو باندې ګلونه اچول د سُنت خلاف دي........................ ۴۲۵
د نذر (منښتې) منل ولې منع دي؟........................ ۴۲۲
د کعبې نیاز ۴۲۲
ایا د نبي کریم ﷺ نیازبه د الله تعالی نیازوي؟........................ ۴۲۲
د اولیاء الله په مزارونو باندې نذر ۴۲۷
یواځې زړه کې خیال راتلو سره نذر نه کیږي........................ ۴۲۸
د یوعالم نه پوښتنه کولو سره سړی نه خلاصیږي........................ ۴۳۰

❖ یو څه د اصلاح مفاهیم باره کې ❖

لومړی لیک........................ ۴۳۳
دویم لیک ۴۳۴
دریم لیک ۴۴۴

❖ د ډارون نظریې ارتقا او اسلام ❖

د ادم علیه السلام د تخلیق په باره کې نبوي تصریحات........................ ۴۴۸
الله تعالی حضرت ادم علیه السلام په خپلو لاسونو جوړ کړ ۴۵۲
دحضرت ادم علیه السلام د تخلیق په باره کې د انبیاء علیهم السلام عقیده........................ ۴۵۳

د قيامت په ورځ به هم اهل ايمان د دهمدې عقيدې اظهار کوي ۴۵۴
دنبوي حديثونو په باره کې د دې کس د خيالاتو اظهار ۴۵۴
د "أنتم أعلم بأمر دنياكم" تشريح ۴۵۷
د ډارون نظريه د الله تعالى نفې کول دي ۴۲۵
انسان څنګه پيدا شو ۴۲۵
په مذهب او سائنس کې فرق ۴۲۲
نظريه ارتقاء ۴۲۷
حضرت ادم عليه السلام او جنت ۴۲۸
د لمر سجده کول ۴۲۹
د پيريانو په باره کې ۴۷۲
د مذهب او سائنس ټکر ۴۷۲
د سائنس دانانو د الحاد اسباب ۴۷۷
د القران ريسرچ سنټر د تنظيم او د دې د باني محمد شيخ شرعي حکم ۴۸۵
سوال نامه ۴۸۸
صحيح بخاري باندې د عدم اعتماد تحريک ۵۰۳
په خپله نه بدليږي او قران بدلوي ۵۰۷
باز او بوډۍ ۵۰۸
قران کريم او حديث قدسي ۵۱۴
د فکري تنظيم په خلاف اواز پورته کول ۵۱۵
حقا که بنائې لا اله است حسين ۵۱۲
د زمکې او اسمان په تخليق کې د تدريج حکمت ۵۱۷
د انسان سپوږمۍ ته رسيدل ۵۱۸
ځمکه او اسمان په څو ورځو کې پيدا شوي دي ۵۱۹

❖ ایمـــانیـــات ❖

[د مسلمانانو بنیادي عقیدې]

د ایمان حقیقت

سوال: ایمان څه شی دی؟ دحدیث په رڼا کې یې وضاحت وکړئ؟

جواب: په حدیث جبرائیل کې دحضرت جبرائیل علیه السلام اول سوال دا و چې اسلام څه شی دی؟ دهغه په ځواب کې ورته پیغمبر علیه السلام داسلام پنځه ارکان ذکر کړل.[۱] دحضرت جبرائیل علیه السلام دویم سوال دا و چې ایمان څه شی دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل "ایمان دادی چې ته ایمان راوړې په الله باندې.دهغه په فرشتو باندې. دهغه په کتابونوباندې اودهغه په رسولانوباندې اود قیامت په ورځ باندې او ایمان راوړې په ښه او بد تقدیر باندې."[۲]

ایمان یوه رڼاده چې درسول الله ﷺ دتصدیق سره په زړه کې راشي اوکله چې دا رڼا په زړه کې راشي. نود کفراوعناد او د جاهلیت درسمونوتیارې ختمې شي اوانسان هغه ټولې خبرې د کومو چې نبي علیه السلام خبرورکړی دی په بصیرت سره یقیني وګڼي. دنبي علیه السلام فرمان دی چې په تاسو کې هیڅوك ترهغې پورې کامل مومن نشي جوړیدی ترڅوچې دهغه خواهشات دهغه دین تابع نه شي کوم چې مادنیاته راوړی دی.[۳] دهغه په راوړل شوي دین کې دټولونه زیات ضروري دا شپږ خبرې دي کومې چې په دې حدیث کې ذکر دي.چې دپوره دین نچوړ په دې شپږو خبروکې دی.

(۱) په الله تعالی باندې دایمان راوړلومطلب دادی چې الله تعالی په ذات اوصفاتوکې یواځې وګڼي. هغه په خپل وجود. ذات او صفاتو کې دهرعیب نه پاك دی اوپه ټولو کمالاتو

---

[۱] عن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال: بينما نحن عند رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم اذ طلع علينا رجل شديد بياض الثياب شديد سواد الشعر لا يرٰی عليه اثر السفر، ولا يعرفه منا احد. حتّٰى جلس الى النبى صلى الله عليه وسلم فاسند ركبتيه الى ركبتيه ووضع كفيه على فخذيه وقال: يا محمد! اخبرنى عن الاسلام. قال: الاسلام ان تشهد ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله. وتقيم الصلوة، وتؤتى الزكوٰة وتصوم رمضان، وتحج البيت ان استطعت اليه سبيلا.قال: صدقت!.فعجبنا له يسأله ويصدّقه. قال: فاخبرنى عن الايمان ....الخ. (مشكوة ص: ۱۱)

[۲] ....قال: ان تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره...... (مشكوة. كتاب الايمان، الفصل الاوّل ص: ۱۱ طبع قديمى كراچى)

[۳] ...لايؤمن احدكم حتّٰى يكون هواه تبعا لما جئت به.. (مشكوة باب ۱ لاعتصام بالكتاب والسنة، الفصل الثانى ص: ۳۰ طبع قديمى كراچى)

سره متصف دی په کایناتوکې هرشی دهغه دارادې تابع دی هرڅه دهغه محتاج دي اوهغه دهیچا محتاج نه دی ، دکایناتوټول یواځې دهغه په قبضه کې دي.دهغه هیڅوک شریک اوبرخه دار نشته.[۱]

(۲) په فرشتوباندې ایمان راوړل دادي چې دا فرشتې دالله یومستقل نوراني مخلوق دي، هغوی دالله تعالی نافرماني نه کوي بلکې هرحکم چې ورکړي هغه پوره کوي اوکومې فرشتې چې الله په څه کارباندې مقررې کړي دي.نوهغوی یوه لحظه هم په هغه کې څه کوتاهي نه کوي[۲]

(۳) په رسولانوباندې ایمان روا‌ړل دادي چې الله تعالی دخپلو بنده ګانو دهدایت له پاره اودوی دخپلې رضا اوناراضګې له کارونو دخبرولوله پاره څه داسې غوره انسانان مقرر کړل چې هغوی ته رسولان اونبیان وایي. انسانانوته دالله خبرې درسولانوپه ذریعه سره رسیږي. دټولونه اول پیغمبر حضرت ادم علیه السلام و اوله ټولونه اخري پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی. له هغه نه وروسته به ترقیامته پورې چاته نبوت نه ورکول کیږي. بلکې دهغه صلی الله علیه وسلم راوړل شوی دین به ترقیامته پورې وي.[۳]

(۴) په کتابونوباندې ایمان راوړل دادي چې الله تعالی پیغمبرانو ته دخپلو بنده ګانو دهدایت له پاره ډیرې اسماني هدایت نامې ورکړې دي، په هغو کې څلورکتابونه زیات مشهور دي. تورات په حضرت موسی علیه السلام باندې نازل شوی و، زبور په حضرت داود علیه السلام باندې نازل شوی و. انجیل په حضرت عیسی علیه السلام باندې نازل شوی و. قرآن مجید په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی و، دا اخري هدایت نامه ده چې دالله تعالی له طرفه بنده ګانوته رالیږل شوې ده، ددې تابعداري په ټولو انسانانو باندې لازمي ده.اوپه دې کې دټولو

---

[۱] قال ان تؤمن بالله.....ای بتوحید ذاته وتفرید صفاته وبوجوب وجوده وبثبوت کرمه وجوده وسائرصفات کماله من مقتضیات جلاله وجماله.....الخ (مرقاة شرح مشکوة ج۱،ص:٤٩ طبع قدیمی)

[۲] (وملائکته .....معناه اطلقت بالغلبة علی الجواهر العلویة النورانیة المبراة عن الکدورات الجسمانیة وهی وسائط بین الله وبین انبیائه وخاصة اصفیائه وقال بعضهم : هی اجسام لطیفة نورانیة مقتدرة علی تشکلات مختلفة .....وانهم عباد مکرمون یسبحون اللیل والنهار لا یفترون ولا یعصون الله ما امرهم ویفعلون ما یؤمرون (مرقاة شرح مشکوة کتاب الایمان ج۱،ص:٤٩، ٥٠)

[۳] (ورُسله) بان تعرف انهم بلغوا ما انزل الله الیهم وانهم معصومون، وتؤمن بوجودهم فیمن علم بنص او تواتر تفصیلاً، وفی غیرهم اجمالاً (مرقاة شرح مشکوة ج:۱،ص: ٥٠) اول الرسل آدم وآخر الرسل محمد صلی الله علیه وسلم (کنزالعمال ج:۱۱،ص: ٤٨٠، حدیث نمبر ٣٢٢٦،طبع بیروت) وعن انس بن مالک رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الرسالة والنبوة قد انقطعت فلا رسول بعدی ولا نبی (ترمذی،ابواب الرؤیا ج:۲،ص:٥١)

انسانانو خلاصون دی، څوك چې له دې اخري كتاب نه مخ واړوي. نو هغه به ناکام وي.[١]

(۵) په قيامت باندې ايمان راوړل دا دي چې يو وخت به راځي چې دا ټوله دنيا به ختمه شي. ځمکه و اسمان به فناشي اودې نه وروسته به الله پاك ټول ژوندي كوي او په دنيا كې چې خلكو كوم نيك يا بدعملونه كړي دي. له ټولو سره به حساب او كتاب وشي. دانصاف تله به ودرول شي او دهر سړی نيکي او بدي به په كې تلل كيږي دچاچې دنيكي تله درنه شي هغه ته به دالله تعالى رضا په برخه شي اوهغه به همېشه له پاره دالله په رضا اوقرب كې وي. چې هغه ته جنت وايي اودچاچې دګناهونو تله درنه شي. نو هغه ته به دالله پاك خفګان ورپه برخه شي. هغه به دالله په بندي خانه كې چې دهغه نوم جهنم دی قيدي كيږي او سزا بهويني او كافران او بې ايمانه خلك به دهمېشه له پاره په جهنم كې اوسي په دنيا كې چې چاپه بل باندې ظلم كړی وي دهغه نه بې رشوت اخستی وي دهغه مال يې په ناحقه خوړلی وي هغه ته بې كنځل كړي وي. دهغه يې بې عزتي كړې وي . دقيامت په ورځ به ددې حساب وشي اود مظلوم بدل به له ظالم نه پوره پوره واخستل شي. دالله پاك ددغې ورځې نوم قيامت دی چې په دې كې به نيك اوبدچاڼ كيږي. هرسړي سره به دخپل پوره ژوند حساب وشي او په چابه د ذرې برابرظلم نه كيږي.[٢]

(٦) په ښه او بدتقدير باندې دايمان راوړلو مطلب دا دی چې ددنيا نظام پخپله نه چليږي. بلكې يوعليم اوحكيم ذات يې چلوي.په دې كائنات كې چې داخوښ اوناخوښه واقعات مخې ته راځي داټول دهغه دارادې اوحكمت سره راځي،دكائناتو دذرې ذرې ټول حالات دهغه عليم او خبيرپه علم كې دي اودكائناتوديپيداكولو نه مخكې دا ټول حالات د الله تعالى له لوري په لوح محفوظ كې ليكل شوي وو. په دې كائناتوكې چې څه كيږي دا دالله تعالى د علم ازلي مطابق كيږي اودهغه په ارادې اوخوښې سره كيږي.غرض داچې په كائناتو كې چې كوم نظام الله تعالى دازل نه تجويزكړی و داكائنات دهغه فيصله شوي نظام مطابق چليږي.[٣]

---

[١] (وكتبه) اى ونعتقد بوجود كتبه المنزلة على رسله تفصيلاً فيما علم يقيناً كالقرآن والتوراة والزبور والانجيل، واجمالاً فيما عداه وانها منسوخة بالقرآن وانه لا يجوز عليه نسخ ولاتحريف الى قيام الساعة (مرقاة شرح مشكوة ج:١،ص:٥٠)

[٢] (واليوم الآخر) اى يوم القيامة لانه آخر ايام الدنيا....وذلک بان تؤمن بوجوده وبما فيه من البعث الجسمانى والحساب والجنة والنار وغيرذلک مماجاءت به النصوص (مرقاة شرح مشكوة ج:١،ص:٥١)

[٣] (خيره وشره) اى نفعه وضره وزيد فى رواية وحلوه ومره ......والمعنى تعتقد ان الله تعالى قدر الخير والشر قبل خلق الخلائق وان جميع الكائنات متعلق بقضاء الله تعالى مرتبط بقدره، قال الله تعالى : قل كل من عندالله وهو مريد لها.....ثم القضاء هو الحكم بنظام جميع الموجودات على ترتيب خاص فى ام الكتاب اولاً ثم فى اللوح المحفوظ ثانياً على سبيل الاجمال والقدر تعلق الارادة بالاشياء فى اوقاتها وهو تفصيل قضائه السابق بايجادها ....هذا تحقيق كلام القاضى (مرقاة شرح مشكوة ج١،ص:٥١،ايضاً شرح فقه اكبر ص:١٣ تا ١٥)

د نجات له پاره ایمان شرط دی

سوال: موږ اوریدلي دي چې الله تعالی به په اخرکې د دوزخ نه هر هغه کس راوباسي د چا په زړه کې چې د سپړلني د دانې برابر ایمان وي. ځکه چې الله تعالی فرمايي چې زه دا نه خوښوم چې یو موحد دیو مشرك سره په یوځای وساتم. نو ایا دنن سبا عیسایان او یهودیان به هم د دوزخ نه راوبستل کیږي. ځکه چې هغوی هم الله مني خو زموږ رسول ﷺ نه مني او حضرت عیسی علیه السلام او حضرت عزیر علیه السلام د خدای زامن ګڼي. نو ایا داعیسایان او یهودیان په دغو ایمان والاوو کې شماردي او که نه؟

جواب: د همېشه خلاصي له پاره ایمان شرط دی. ځکه چې کفراوشرك هیڅکله نه معاف کیږي.[۱] او د صحیح ایمان له پاره یوازې الله منل نه کافي کیږي. بلکې د هغه ټول رسولان منل هم ضروري دي[۲] او خوك چې محمد رسول الله ﷺ د الله تعالی اخري پیغمبر نه مني هغه په الله هم ایمان نه لري ځکه چې نبي کریم ﷺ د الله اخري پیغمبر دی او الله تعالی د هغه د خاتم النبیین شهادت پخپله ورکړی دی[۳]. نو کوم خلك چې د نبي علیه السلام په رسالت. نبوت او ختم نبوت باندې ایمان نه لري. هغوی د الله تعالی شهادت دروغ ګڼي او خوك چې د الله خبرې ته دروغ وايي هغه الله نه مني. نو د نبي کریم ﷺ دین قبلول د خلاصي له پاره شرط دی د غیر مسلمو نجات به نه کیږي.[۴]

---

[۱] انَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِه وَيَغْفِرُمَادُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاءُ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰى اِثْمًا عَظِيْمًا(النساء:٤٨)

[۲] اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّه وَالْمُؤْمِنُوْنَ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰئِكَتِه وَكُتُبِه وَرُسُلِه لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِه وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ(البقرة : ٢٨٥)(لا نفرق) بل نؤمن بالكل بين احد من رسله احد فى معنى الجميع (تفسير نسفى ج:١، ص: ٢٣٣، طبع دار ابن كثير بيروت)

[۳] قال الله تعالى : مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّنَ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ٥ (الاحزاب : ٤٠)

[٤] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم والذى نفس محمد بيده ! لا يسمع بى احد من هذه الامة يهودى ولا نصرانى ثم يموت ولم يؤمن بالذى ارسلت به الا كان من اصحاب النار (رواه مسلم ج:١، ص:٨٦،مشكوة ص:١٢) عن ابن عباس رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ما من احد يسمع بى من هذه الامة ولا يهودى ولانصرانى ولايؤمن بى الا دخل النار،فجعلت اقول اين تصديقها فى كتاب الله ؟ حتى وجدت هذه الاية : ومن يكفربه من الاحزاب فالنارموعده قال: الاحزاب الملل كلها(مستدرك حاكم ،كتاب التفسير ج:٢،ص:٣٤٢)

د مسلمان تعریف

سوال: د مسلمان تعریف څه دی؟

جواب: دنبي کریم ﷺ دراوړل شوي دین منونکي مسلمان دي [۱] ددین اسلام هغه کارونه چې دهغه په دین کې داخلیدل په قطعي دلیل اوتواتر سره ثابت اوخاص تولوته معلوم وي دې ته ددین ضروریات وایي له دې ضروریاتوددین نه انکار کول یاتاویل کول کفر دي. [۲]

د قرآن او سنت په رڼا کې دمسلمان تعریف

سوال: دقران اوحدیث په حوالې سره مختصر دمسلمان تعریف وکړئ؟

دا خبره بیا کوم چې یواځې د قران شریف اودحدیث شریف حواله ورکړئ دبل څه حواله مه ورکوئ که نه بیابه خلکوته دابانه په لاس ورشي چې دا خودیو بزرګ خبره ده څه قران اوحدیث خو نه ده.

جواب: ایمان دنبي کریم ﷺ له لوري دراوړل شوي پوره دین قبلولو نوم دی اوددې په مقابل کې دنبي کریم ﷺ ددین له یوې قطعي اویقیني خبرې نه انکار کول کفردي. په قران کریم کې بې شماره ایتونه راغلي دي"**ماأنزل إلى الرسول**" چې رسول ته کوم حکمونه راغلي دي هغو منلوته "ایمان" او"**ما أنزل إلى الرسول**" چې په هغو کې دیو نه منلوته کفروییل شوي دي همدارنګه په حدیثونوکې هم دا مضمون ډیرراغلی دی. لکه دصحیح مسلم په اول جلد ۳۷ صفحه کې یو حدیث کې دي چې :(هغوی ایمان راوړی دی په ما اوپه هغه څه چې ماراوړي دي "[۳].له دې نه دمسلمان اوکافرتعریف معلومیږي. یعنې کوم څوک چې

---

[۱] الایمان وهو تصدیق محمد صلی الله علیه وسلم فی جمیع ما جاء به عن الله تعالی مما علم مجیئه ضرورة (در مختار ج:٤، ص: ۲۲۱، باب المرتد ، طبع ایچ ایم سعید)

[۲] وایضاً قلت والضابط فی التکفیر ان من رد ما یعلم ضرورة من الدین فهو کافر (اکفار الملحدین ص:۸۸ وایضاً ص : ۲، ۳) ایضاً : ثم اثبتنا فی الفصول الآتیة اجماع اهل الحل والعقد علی ان : تاویل الضروریات واخراجها عن صورة ما تواتر علیه وکما جاء وکما فهمه وجری علیه اهل التواتر انه کفر (اکفار الملحدین ص:۷) فمنکر الضروریات الدینیة کالارکان الاربعة التی بنی الاسلام علیها : الصلوة والزکوة والصوم والحج وحجیة القرآن ونحوها کافر آثم (فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ص :٦۱۱ طبع لکهنؤ)

[۳] عن ابی هریرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: امرت ان اقاتل الناس حتی یشهدوا ان لا اله الا الله ویؤمنوا بی وبما جئت به، فاذا فعلوا ذلك عصموا منی دمائهم واموالهم الا بحقها وحسابهم علی الله.(مسلم ج:۱ ص:۳۷ طبع قدیمی کراچی)

دمحمدرسول الله ﷺ د راوړل شوي دين ټولي خبرې يقيني مني هغه مسلمان دی او څوک چې د دين دقطعي يوې خبرې نه هم منکرشي يامعنی اومفهوم يې بدل کړي هغه مسلمان نه بلکې کافر دی.[۱]

دمثال په توګه قران مجيد پيغمبر عليه السلام ته خاتم النبين فرمايلي دي[۲] او په ډېرو حديثونو کې يې ددې تفسيرکړی دی چې دهغه ﷺ نه وروسته به بل پيغمبرنه وي [۳] اودامت مسلمه ټولې فرقې (له خپلو اختلافاتو باوجود) داعقيده لري. خو مرزاغلام احمد قادياني ددې عقيدې نه انکار وکړاو دنبوت دعوه يې وکړه[۴]. له دې وجې قاديانان کافروګرځول شول.

همدارنګه په حديثونوکې دحضرت عيسی عليه السلام په اخره زمانه کې د راکوزېدو خبرورکړل شوی دی[۵] مرزاقادياني اودهغه تابعداردې عقيدې نه منحرف دي اوهغوی دمرزا قادياني دعيسی کيدودعوه کوي[۶] په دې وجه هم هغوی مسلمانان نه دي. همدارنګه په قرآن مجيد اوحديثونوکې دنبي کريم ﷺ تابعداري ترد قيامته پورې دخلاصي ذريعه ګرځول شوې ده. خو دمرزاقاذياني دعوه ده چې زماوحې دشريعت تجديدکړی دی. له دې وجې نه اوس زماوحې اوتعليم دخلاصي ذريعه ده. (اربعين نمبر۴ص۷۰حاشيه) غرض داچې قادياني د ډېرو شمېره قطعي احکامونه انکارکړی دی ځکه ټولې اسلامي فرقې ددوی په کفرمتفق دي[۷]

دوحې له شروع کيدو نه درې کاله وروسته د عام دعوت او تبليغ حکم وشو

سوال: دوحې دبنديدو په زمانه کې داسلام تبليغ جاري و اوکه نه؟ ديو صاحب وينا ده چې دهغه درايې مطابق له لومړی وحې وروسته درې کلو پورې پيغمبرته ښوونه (ټرېننګ) ورکړل

۱] لا نزاع فی تکفير من انکر ضروريات الدين (اکفار الملحدين ص:۱۲۱ طبع پشاور)

۲] مَاكَانَ مُحَمَّدٌ اَبَااَحَدمِّنْ رِّجالكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِينَ وَكَانَ اللهُ بِكُلِّ شَيءٍ عَلِيمًا (الاحزاب: ۴۰)

۳] عن ثوبان رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:وانا خاتم النبين لا نبی بعدی (ترمذی شريف ج:۲،ص:۴۵) تفصيل له پاره وګورئ ختم نبوت کامل،تاليف حضرت مفتی محمد شفيع صاحب رحمه الله

۴] زموږ دعوه ده چې زه نبي او رسول يم ......زموږ مذهب خو دا دی چې په کوم دين کې د نبوت سلسله نه وي نو هغه مړ دی (ملفوظات ج : ۱۰،ص: ۱۲۷)

۵] وان من اهل الکتاب الا ليؤمنن قبل موته (النساء :۱۵۹) ايضاً عن ابی هريرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله عليه وسلم .... والذی نفسی بيده ليوشکن ان ينزل فيکم ابن مريم حکماً عدلاً .... الخ (باب نزول عيسی عليه السلام ،مشکوة ص: ۴۷۹) تفصيل له پارهه اوګورئ التصريح بما تواتر فی نزول المسيح لامام العصر العلامة محمد انور شاه الکشميری.)

۶] مرزا په آئينه کمالات اسلام کی قسم خوړلو سره ليکی چه الله تعالی زۀ مسيح موعود او مسيح ابن مريم جوړ کړي ووم (آئينه کمالات ص: ۵۵۱ روحانی خزائن ج:۵، ص: ۵۵۱)

۷] تفصيل له پارهه فتاوی ختم نبوت طبع ملتان اوګورئ.

شو اوله هغه وروسته د تبليغ حکم وشو هيله ده ځواب به راکړئ!

جواب: دلومړۍ وحې له نازليدو وروسته دوحې نزول دريوکلوپورې بند و. دغې زمانې ته د"فترة وحي" زمانه ويل کيږي. په دغه زمانه کې ددعوت اوتبليغ عمومي حکم نه و[۱]. دزمانه فترت"نه وروسته دسورة مدثر لومړني ايتونه نازل شول اوهغهﷺ ته ددعوت او ويرولوحکم ورکړل شو[۲]. په فترت وحی کې ډېرحکمتونه وو[۳]. دې صاحب چې دښو ونې اوتړښننگ کومه خبره کړې ده . دادهغه دخپلې فکري سطحې مطابق ده.

دګونګې اسلام ښکاره کول

سوال: زموږ سره يوګونګې دی. موراوپلارېې مړه دي اونومونړی له پيدا ينښ نه تراوسه پورې هندو پاتې شوی دی اوس هغه مسلمانيدل غواړي دهغه عمر ۲۸ کاله دی اوهغه بې تعليمه دی. پوښتنه داده چې ده ته کلمه څنګه وښودل شي سره له دې چې هغه اوريدلای هم نه شي. يومولوي صاحب وويل چې کلمه طيبه وليکئ اوپه اوبوکې يې ويلې کړئ اوهغه بيا پرې وڅښئ. نومسلمان به شي؟

جواب: په کلمه ښنلو باندې خونه مسلمانيږي خو که هغه په اشارې سره دتوحيداورسالت اقراروکړي، نومسلمان به شي.[۴]

۱] وقع فى تاريخ احمد بن حنبل عن الشعبى ان مدة فترة الوحى كانت ثلاث سنين .... وليس المراد بفترة الوحى المقدرة بثلاث سنين وهى ما بين نزول اقراء ويايهاالمدثر عدم مجئ جبريل اليه بل تاخر نزول القرآن فقط(فتح البارى ج:۱،ص:۲۷،باب بدء الوحى ، طبع دار نشر الكتب الاسلاميه لاهور)

۲] ان المراد اولية مخصوصة بالامر بالانذار وعبر بعضهم عن هذا بقوله اول ما نزل للنبوة اقراء باسم ربك، واول ما نزل بالرسالة يا ايها المدثر (الاتقان فى علوم القرآن ج:۱، ص: ۲۴) واعلم ان اختلف يعنى اول ما نزل من القرآن فقيل وهو الصحيح انه اقراء باسم ربك وهو الظاهر من هذا السياق وله ادلة اخرى مذكوره فى موضعها والقول الثانى : ياايها المدثر ويؤيده ما فى الصحيحين عن ابى سلمة عن جابر سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يحدث عن فترة الوحى ..... ان المراد منه نزولها بعد زمن الفترة كما يؤيد السياق (فيض البارى ج:۱، ص:۲۵، الكلام فى اول السور نزولاً)

۳] وفتور الوحى عبارة عن تاخره مدة من الزمان ، وكان ذلك ليذهب ما كان صلى الله عليه وسلم وجده من الروع وليحصل له التشوف الى العود فقد روى المؤلف فى التعبير من طريق معمر ما يدل على ذلك (فتح البارى ج: ۱، ص: ۲۷، باب بدء الوحى)

۴] واعلم ان اشارة الاخرس تعتبر كالبيان فى وصية واقرار ..... الخ (شرح المجلة ص:۴۹، مطبوعة مكتبه حبيبيه كوئته) وايضاً الاجماع منعقد على ايمان من صدق بقلبه وقصد الاقرار باللسان ومنعه منه مانع من خرس ونحوه-(شرح عقائد ص:۱۲۳ طبع خير كثير)

هر مسلمان کولی شي چې کافر مسلمان کړي

سوال: ایا یو عام مسلمان (چې دلمانځه او روژې پابندوي) یو کافر مسلمانولی شي؟ او که مسلمانولی یې شي نو طریقه به یې څنګه وي؟

جواب: هغه به دې کافر ته کلمه شهادت ووایي او په کوم ډول کفر کې چې هغه اخته وي له هغه نه دې توبه پرې اوباسي[۱]. بس مسلمان به شي او د هغه نه وروسته به هغه ته د اسلام ضروري خبرو تعلیم ورکړي.

په دین او مذهب کې څه فرق دی؟

سوال: مذهب او دین کې څه فرق دی؟ همدارنګه اسلام مذهب دی او که دین؟

جواب: د دین او د مذهب یو مطلب دی. نن سبا ځینو خلکو خیال دادی چې دین او مذهب بېل بېل شیان دي خو د هغوی دا خیال غلط دی.[۲]

د صراط مستقیم نه څه مراد دي؟

سوال: ډېرو بزرګانو صراط مستقیم یواځې جومات پورې محدود کړی دی دوی نیک کارونه یواځې لمونځ. روژه او زکات ګڼي. څوک چې لمونځ نه کوي ایا هغه ته کافر ویل صحیح دي؟ ایا دیو مسلمان بل مسلمان ته کافر ویل صحیح دي؟ لمونځ فرض دی. مثلاً که یو سړی په دریاب کې ډوبیږي او د مرستې غوښتنه وکړي. نو دا زموږ باندې فرض دي چې بچ یې کړو، په داسې حال کې چې دوه منټه که موږ صبر وکړو. نو لونځ قضا کیږي. نو موږ په داسې حالت کې جای نمازونه د دریاب په غاړه وغوړوو او لمونځ وکړو او که د دغه ډوب شوي انسان ژوند بچ کړو؟

الله پاک په قران کریم کې فرمایلي دي چې ترجمه یې داده: "او ښایه موږته سمه لار" دا په سورة فاتحه کې دي چې په هر لمانځه کې لوستل کیږي چې د هغې په نه ویلو سره لمونځ نیمګړی وي، دا موږ په هر لمانځه کې پنځه وخته وایو چې وښا یه موږته سمه لار. ایا موږ په غلطه لاره یو که نه نو موږ کومه صحیح لار غواړو. د دې مطلب خو دادی چې صراط مستقیم

۱] واسلامه ان یاتی بکلمة الشهادة ویتبرا عن الادیان کلها سوی الاسلام وان تبرا عما انتقل الیه کفی کذا فی المحیط (عالمگیری ج:۲، ص: ۲۵۳ طبع کوئٹه)

۲] الدین بالکسر وضع التی یدعوا اصحاب النقول الی قبول ما هو عند الرسول علیه السلام والدین والملة متحدان بالذات مُختلفان بالاعتبار فإنْ الشّریعةَ مِنْ حَیْثُ إنّها تُطاعُ تُسَمّی دینًا ومِنْ حَیْثُ إنّها تجمعُ تُسَمّی ملّةً وَمِنْ حَیْثُ إنّها تُرْجعُ إلَیْها تُسَمّی مذْهبًا(قواعد الفقه ص: ۲۹۵، ۲۹۶ طبع صدف پبلشرز کراچی)

څه بل شی دی، نیغه لاره بله ده. چې هغه جنت ته تللې ده. ایا موږ به په هغه لاره باندې ځو چې یواځې جومات ته تللې ده؟
مهرباني وکړئ تاسو موږ ته هغه طرز او طریقه وښیئ چې په هغې عمل وکړو او په نیغه لاره یعنې په صراط مستقیم باندې روان شو؟

جواب: قران کریم څېرته چې موږ ته دادعا ښودلې ده "وښیه موږ ته نېغه لاره"، نو هلته یې ددې نېغې لارې وضاحت هم کړی دی چې لار د هغو خلکو چې تا پر هغوی انعام کړی دی. چې نه الله تعالی پرې غوسه شوی دی او نه هغوی ګمراه دي"[۱]
له دې نه معلومه شوه چې صراط مستقیم د نبي کریم ﷺ، صحابه کرامو رضي الله عنهم او د دین د بزرګانو د لارې نوم دی، هم ددې صراط مستقیم مختصرعنوان اسلام دی[۲]. قران کریم او د پیغمبر علیه السلام پاك ارشادات هم ددې لارې تشریح کوي، نبي علیه السلام د الله پاك له طرفه چې څومره عملونه امت ته ښودلي دي او د کوم کوم وخت له پاره یې چې کوم کوم عمل ښودلې دي د خپلې درجې مطابق هغه په ځای کول ضروري دي او په دې عملونوکې یوهم معمولي او سپك ګڼل صحیح نه دي. که په یوه وخت کې څو عملونه راجمع شي. نو موږ ته دا اصول هم ښودل شوي دي چې کوم یو به وړاندې کوو او کوم یو به ورسته کوو. مثلاً: تاسوچې کوم مثال لیکلی دی چې یو سړی ډوبیږي، نو په دغه وخت کې د هغه بچ کول اوله فریضه ده. همدارنګه که یو سړی لمونځ کوي او د هغه په مخکې یو ړوند سړی په کوهي یا کنده کې غورځیږي، نو هغه به لمونځ مات کړي او د هغه ژوند بچ کول فرض دي.[۳]
له دې تفصیل نه معلومه شوه چې صراط مستقیم د جومات پورې محدود نه دی او هغه سړی کم عقل دی چې اسلام تر جومات پورې محدود ګڼي. خو ددې دا معنا نه ده چې د جومات د اعملونه زیاتي او بې فایدې دي، بیشکه چې اسلام یواځې د روژې، لمانځه، حج او زکات نوم نه دی. خو ددې دا معنا نه ده چې دا لمونځ، روژه، زکات او حج ضروري نه دي. بلکې دا خو د اسلام ډېرلوی او اهم ارکان دي او د اسلام له ټولونه ښکاره نښې دي کوم سړی چې د مسلماني د دعوې سره سره د لمانځه او روژې بوج نه پورته کوي د هغه قدم د صراط مستقیم په اولني پوړ هم نه دی.

۱] اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (الفاتحة : ۵ تا ۷)
۲] والمستقيم المستوى والمراد به طريق الحق وقيل ، هو ملة الاسلام (قوله والمراد به) اى بالصراط المستقيم الطريق الحق المطلق سواء كان نفس ملة الاسلام او ما ينطوى عليه مما هو حق فى باب الافعال والاقوال و الاخلاق والمعاملات بين الخلق والخالق..الخ(حاشيه شيخ زاده على البيضاوى ج:۱ص:۹۵طبع قديمى كتب خانه)
۳] (يجب قطع الصلوة) ولو فرضاً (باستغاثة) شخص (ملهوف) للملهم اصابته كما لو تعلق به ظالم او وقع فى ماء (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوىص:۲۰۳، فصل فيما يوجب قطع الصلوة وما يجيزه)

پاتې شوه داخبره چې مونږ په صراط مستقیم باندې قائم یو. نو بیا دهغه دعاولې غواړو چې "وښیه مونږته نیغه لاره" ددې ځواب دادی چې دلته دوه شیان دي. یو په صراط مستقیم باندې برابرېدل اوبل په صراط مستقیم باندې تراخره پورې قائم اوسیدل. دا دواړه خبرې ښخي جلاجلا دي. ځینې وخت داسې وي چې یو سړی به نن په صراط مستقیم قائم وي. خو الله مه کړه چې دهغه پښه به سباله صراط مستقیم نه ښوېدلې وي اودګمراهي ژورې کندې ته به غورځېدلی وي. دقران کریم ښودل شوې دعا"اهدنا الصراط المستقیم" دموجوده او راتلونکې دواړو زمانوله پاره ده اومطلب دادی چې په اینده هېڅ باور نشته. نوځکه داینده له پاره په صراط مستقیم باندې دقائم پاتې کېدو دعاغوښتل کیږي چې اې الله! څنګه چې تایواځې په خپل کرم اوفضل سره مونږ دخپلو مقبولو بنده ګانو په لار(صراط مستقیم) باندې روان کړي یو. اینده موهم تر مرګه پورې پرې قائم اوساتې.[۱]

تاسوپوښتنه کړې ده چې کوم سړی لمونځ نه کوي. نوهغه ته کافرویل صحیح دي؟ددې ځواب دادی چې کوم سړی لمونځ نه کوي خو هغه دلمونځ دفرضیت قایل وي اودامني چې زه ددې سترې فریضې دپرېښودلو په وجه لوی ګنهګاریم اوزه مجرم یم. داسې سړي ته کافرنه شي ویل کېدای اونه څوک ده ته دکافر ویلو جرات کولی شي.[۲]

خو که داسړی لمونځ فرض نه ګڼي اونه دلمونځ پرېښودل څه ګناه اوجرم ګڼي. نوته اووایه چې ده ته به څوک مسلمان ووایي ځکه چې دده دمسلمان ګڼلومعنا خو دا ده چې الله او رسول ﷺ چې په مسلمانانو باندې دلمانځه دفرض کېدو ذکرکړی دی هغه (نعوذبالله) غلط دی.آیا دخدای او درسول ﷺ خبرې ته غلط ویلو والا هم مسلمان پاتې کېدای شي؟[۳]

تاسوداپوښتنه کړې ده چې ایایومسلمان بل مسلمان ته کافر ویل صحیح دي؟دهغه ځواب دادی چې دا هېڅکله صحیح نه دي بلکې لویه ګناه ده[۴] خو په دی ځان ښه پوهول پکاردي چې مسلمان څوک وي؟

۱] اهدنا الصراط المستقیم .... فالمطلوب اما زیادة ما منحوه من الهدی اوالثبات علیه او حصول المراتب المترتبة علیه ....الخ (تفسیر بیضاوی مع حاشیه شیخ زاده ج:۱،ص: ۹۲، ۹٤) ان الحاصل اصل الاهتداء والمطلوب زیادته والثبات علیه او حصول مرتبته لم تحصل بعد (حاشیه شیخ زاده علی البیضاوی ج:۱، ص: ۹۳ سورة الفاتحه آیت ٦ مزید تفصیل له پاره حاشیه شیخ زاده اوګورئ)

۲] والکبیرة لا تخرج العبد المؤمن من الایمان ولا تدخله فی الکفر (شرح عقائد ص: ۱۰٦ تا ۱۰۸)

۳] فنقول الصلوة فریضة واعتقاد فرضیتها فرض وتحصیل علمها فرض وجحدها کفر (اکفار الملحدین ص:٦)

٤] عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم « أَيُّمَا رَجُلٍ مُسْلِمٍ أَكْفَرَ رَجُلاً مُسْلِمًا فَإِنْ كَانَ كَافِرًا وَإِلاَّ كَانَ هُوَ الْكَافِرَ ».(ابوداؤد ج:۲،ص:۲۸۸ کتاب السنة طبع ایچ ایم سعید)

حضرت محمد ﷺ چې د الله د طرف نه کوم دين راوړې دی او امت ته يې ورکړې دی د غه پوره دين اوددې يوه يوه خبره منل اسلام دی او منلو والا ته يې مسلمان وايي.[۱] د دين اسلام کومې خبرې چې نبي ﷺ بيان کړې دي په هغوکې يوه خبره نه منل يا په هغو کې د شك اوشبهې اظهارکول وته کفر ويل کيږي.[۲] نو کوم سړی چې د دين اسلام يوه يقيني خبره دروغ ګڼي يا ټوکې پسې کوي، نو هغه مسلمان نه دی د نبي ﷺ له لوري دراوړل شوي پوره دين د منلو يو مختصرعنوان کلمه طيبه "لااله الاالله محمدرسولُ الله" ده. مسلمان ددې کليمې ويلو سره د الله د توحيد او د حضرت محمد ﷺ د رسالت او نبوت اقرارکوي اوددې اقرار معنا داده چې هغه به د خدای هرحکم مني اود محمدرسول الله ﷺ هرفرمان به د الله فرمان ګڼي. ددې کليمې طيبې ويلو باوجود چې کوم سړی د نبي عليه السلام يوې خبرې ته (نعوذبالله) غلطه ووايي، هغه په خپل اقرارکې يقيني دروغژن دی په دې وجه داسې سړي ته مسلمان ويل د پيغمبر عليه السلام تکذيب دی. خلاصه داده چې نه يو مسلمان ته د کافرويلو اجازه شته اونه يوکافرته د مسلمان ويلو اجازه شته. په قران کريم کې راغلي دي:

"اې نبي ته ووايه چې حق ستادرب له لوري راغي، اوس چې د چا خوښه وي (هغه دې د حق منلو سره) مومن جوړشي اوچې د چا خوښه وي (ددې نه دې انکاروکړي او کافردې جوړشي) خو دايادساتئ چې بېشکه موږ (داسې) ظالمانو لپاره (چې د حق نه انکارکوي) اور تيارکړې دی" [۳] (سورة کهف:۲۹)

آيا په امت محمدي کې غيرمسلم هم شامل دي؟

سوال: ايا په امت محمدي ﷺ کې غيرمسلم هم شامل دي ديو صاحب ويناده چې د امت محمدي ﷺ د مغفرت دعا کول نه دي پکار. بلکې دا ويل پکاردي چې امت مسلمه ته بښنه وغوښتل شي ځکه چې کافران هم په امت محمدي کې شامل دي.

جواب: د پيغمبر ﷺ امت په دې اعتباره سره خوکافران هم دي چې د هغه دعوت او پيغام د هغوی له پاره هم دی خو کله چې د امت محمدي ﷺ لفظ وويل شي، نو ددې نه مراد هغه خلک دي چې د هغه دعوت ته لبيك وويل او د هغه د پيغام تصديق يې وکړ او په هغه يې

---

[۱] الايمان وهو تصديق محمد صلى الله عليه وسلم فى جميع ما جاء به عن الله تعالى مما علم مجيئه ضرورة (فتاوى شامي ج:٤، ص: ۲۲۱ باب المرتد)

[۲] فمن انكر شيئاً مما جاء به الرسول كان من الكافرين (شرح عقيده طحاويه ص: ۲۹۲)

[۳] وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُومِنْ وَّمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ اِنَّا اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا ۵ (الكهف:۲۹)

ايمان راوړي. له دې وجې دامت محمدي ﷺ په حق کې دخيرد عابالکل صحيح ده اودهغه صاحب خبره صحيح نه ده.[۱]

آيا له ليدونه پرته يقين معتبر نه دی

سوال: وکذلک نری ابراهيم ملکوت......الی موقنين، له دې نه معلومه شوه چې دليدونه پرته يقين معتبرنه دی. حضرت ابراهيم عليه السلام په جليل القدرپيغمبرانوکې دی. هغه باندې صحيفې هم نازلې شوې دي (صحف ابراهيم وموسی) اوقدرت ډيرعجيبه کارونه هغه ليدلي و. هروخت به يې دالله تعالی سره دزړه تعلق قايم و. هغه باندې د **ملکوت السموت والارض** سيل هم شوی و. ددې باوجود هغه ته دزړه اطمينان نه و؟ او**دکيف تحی الموتی** به يې کولو. نوبيا يوعام کس چې دالله تعالی په لارروان وي اودخپلولذتونوقربانولو سره خپل ځان ته تکليف ورکوي اودالله تعالی له طرفه هغه ته فائده نه رسيږي. بياهم دهغه په بندګي کې څه کمی نه راځي، دې صورت کې هغه ددې خبرې ډيرحقدار دی چې هغه باندې دملکوت سيل وکړل شي، چې دهغه حوصله افزايي وشي اواستقامت يې نصيب شي. انبياء عليهم السلام خوبه هسې هم هروخت دملکوت سيل کولو.

جواب: ديقين درجې مختلفې دي، ديقين يوه درجه عين اليقين ده. کومه چې په سترګو باندې دکتلونه وروسته حاصليږي اويوحق اليقين ده کومه چې دتجربې نه وروسته حاصليږي، همدارنګه عام مومنان. نېکان. صديقين اوانبياء عليهم السلام هم په درجوکې فرق لري، د ايمان درجه خوعامو مومنانوته هم حاصل ده. نېکانواوصديقنوته دهغوی ددرجومطابق ديقين دولت ورکړل شوی دی اودانبياء عليهم السلام دمرتبومطابق هغوی ته ديقين درجې ورکړل شوي دي.

د حضرت ابراهيم عليه السلام (**کيف تحی الموتی**) داسې قسمه يقين او اطمينان کوم چې دليدونه پرته وي، مخکې هم هغه ته حاصل و. سالکينو او اولياء الله ته هم دمشاهدې دولت نصيب کيږي اودليدونه پرته هم هغوی ته يقين اواطمينان په غيبو دايمان په طور حاصل وي. خودهغوی ايمان اواطمينان دانبياء عليهم السلام دايمان اواطمينان په شان نه شي کيدای اوهغوی دانبياء عليهم السلام دايمان اواطمينان برداشت کولوقابل هم نه شي کيدای، که نه هغوی به ليوني شي.

۱] أصل الأمة قامة نبينا صلى الله عليه وسلم هم الجماعة الموصوفون بالإيمان به والإقرار بنبوته ، وقد يقال لكل من جمعتهم دعوته أنهم أمته إلا أن لفظ الأمة إذا أطلقت وحدها وقع على الأول ، ألا ترى أنه إذا قيل أجمعت الأمة على كذا فهم منه الأول....الخ(تفسير كبيرج:۸،ص: ۱۷۹، سورة آل عمران آيت :۱۱۱)

دالله تعالی د ذات له پاره د واحد او جمعې د صیغې استعمالول

سوال: الله تعالی په خپل پاک کلام کې کله د خپل ځان له پاره د انا (واحد صیغه) استعمال کړې ده او کله د نحن (جمعې صیغه) لکه: انی انا الله، نحن نزلنا علیک القران، د دې فرق څه وجه ده؟

جواب: اصل خو د واحد صیغه ده. خو کله کله د عظمت د اظهار له پاره د جمعې صیغه استعمال شوې ده. انی انا الله. کې توحید دی او د توحید له پاره د واحد صیغه صحیح ده او انا نحن نزلنا علیک القران کې د دې عظیم الشان کتاب د نازلېدو او د حفاظت ذکر دی او دا دواړه منزل (نازلونکی) او محافظ (حفاظت کونکی) عظمت او قدرت سره تعلق لري. له دې وجې دلته د جمعې صیغه استعمالول زیات صحیح و. والله اعلم باسراره![1]

د تحریف شویو اسماني کتابونو منونکي اهل کتاب دي؟

سوال: د الله پاك له طرف نه نازل شويو څلورو کتابونو نه چې په يو کتاب کې تبديلي يا په هغوکې د خپلې خوښې سره سم څه کمي يا زيات وکړل شي او د هغه تابعداري وکړل شي. نو په دې صورت کې ايا د دې تابعداري کونکو ته اهل کتاب ويل صحيح دي؟

جواب: قران کریم خو د لفظي تحريف نه محفوظ دی[2]. له دې وجې نه د قران کريم په باره کې خو دا بې ځايه دی. په مخکې کتابونو کې تحريف شوي دی،[3] خو د غه خلک د اصل کتاب د منلو دعويدار دي: نو ځکه د وی ته اهل کتاب ويل صحيح دي.[4]

مسلمان ته اهل کتاب ويل څنګه دي؟

سوال: مسلمانان د اسماني کتاب لرونکي دي او محمد رسول الله ﷺ اخري پيغمبر مني.

۱] (فاما قوله : انا نحن نزلنا الذکر) فهذه الصيغة وان كانت للجمع الا ان هذا من كلام الملوك عند اظهار التعظيم فان الواحد منهم اذا فعل فعلاً او قال قولاً ، قال : انا فعلنا كذا وقلنا كذا فكذا ههنا (تفسير كبيرج:۱۹، ص: ۱۶۰، سورة الحجر)

۲] قال تعالى : اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ (الحجر:۹) وهوحافظه فى كل وقت من الزيادة والنقصان والتحريف والتبديل (تفسيرنسفى ج:۲ ص:۱۸۴،طبع دار ابن كثير ،بيروت)

۳] قال تعالى : يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَنَسُوْا حَظًّا (المائدة:۱۳) يفسرونه على غير ماانزل ..... وتغيير وحيه.(تفسير نسفى ج:۱ ص:۴۳۴، طبع دار ابن كثير ،بيروت)

۴] واعلم ان من اعتقد ديناً سماويا وله كتب منزل كصحف ابراهيم وشيث وزبور داؤد فهو من اهل الكتاب.(ردالمحتار مطلب مهم في وطى السرارى ج:۳ ص: ۴۵)

نو ایا دوی ته هم اهل کتاب ویل د شریعت یالغت په لحاظ جائزدي او که نه؟

جواب: اهل کتاب یو اصطلاحي لفظ دی چې د قران مجید نه مخکې د منسوخ شویو کتابونو منلو والو ته ویل کیږي. د مسلمانانو له پاره نه دی.[۱]

د نبي کریم ﷺ د مورو پلار په ایمان با ندې بحث کول جائز نه دي

سوال: مولاناصاحب یوه ډېره اهمه مسئله ده، چې زه یې د درې ځلورو ورځو نه ډېر پریشانه کړې یم، مسئله داده چې زموږ په محله کې یوه مېرمن ده هغه درې ځلورورځې وړاندې زموږ په کور کې ناسته وه اودا یې ویل چې د رسول الله ﷺ مور بی بی (نعوذ بالله) کافره وه ځکه چې د رسول کریم ﷺ نه مخکې اسلام نه و. ایا داسې ویل روا دي؟

جواب: دا مسئله ډېره نازکه ده. محققینو په دې کې د بحث کولو نه منع کړې ده.[۲] امام سیوطي رحمه الله په دې اړه درې رسالې لیکلې دي چې په هغو کې یې د نبي ﷺ د مور و پلار ایمان یې ثابت کړی دی او که په دې تحقیق باندې د چا اطمینان نه وي، نو بیا چوپ پاتې کېدل (توقف) غوره ده. د غې محترمې ته وو ایه چې له تا به په قبر کې یا حشر کې دا پوښتنه نه کیږي چې د نبي ﷺ مور او پلار متعلق ستا څه عقیده وه. په دی وجه دې په دې غلط بحث کې نه اخته کیږي او خپل ایمان دې نه خرابوي او نه دې د مومنانو جذبات بې ځایه زخمي کوي.[۳]

فیض الباري اورافضي افواه

سوال: مهرباني وکړئ اودا راته ووایی چې د مشهور کتاب بخاري شریف تر اوسه پورې څومره شرحې د دیوبند عالمانو لیکلې دي؟ اوپه دې ټولو کې د ټولو نه مستنده او بهتره شرحه کومه ده. کومه چې په اعتماد سره وړاندې کړل شي. ویل کیږي چې د علامه محمد انورشاه کشمیري صاحب رحمه الله څنګه شرح لیکلې ده ایا هغه شرحه د خپل صحیح او مستند متن سره په چاپ شوي ډول پیدا کیږي ؟ او ایا دغه مطبوعه شرح بخاري په اعتماد او یقین سره وړاندې کېدای شي؟

۱] قال تعالی : قُلْ يٰاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ(آل عمران :٦٤) هذ الخطاب یعم اهل الکتاب من الیهود والنصاری (تفسیر ابن کثیر ج:٢،ص: ٥٠ طبع رشیدیه کوئته)

۲] وبالجملة کما قال بعض المحققین: إنه لا ینبغي ذکر هذه المسألة إلا مع مزید الادب، ولیست من المسائل التي یضر جهلها أو یسأل عنها في القبر أو في الموقف، فحفظ اللسان عن التکلم فیها إلا بخیر أولی وأسلم، (شامی ج:٣، ص: ١٨٥ باب نکاح الکافر ، طبع ایچ ایم سعید)

۳] تفصیل له پاره اوګورئ شامی ج:٤، ص:٢٣١) (بحث فی احیاء ابوی النبی صلی الله علیه وسلم بعد موتهما وایضاً شامی ج:٣، ص: ١٨٥ باب نکاح الکافر والحاوی للفتاوی ج:٢، ص:٢٠٢ تا ٢٣٤)

جواب: دصحيح بخاري كومه مستقله شرحه خودې وخت كې په ذهن كې نشته چې اكابر ديوبند ليكلي وي، خو دهغوى درسي افادات دهغوى شاګردانوقلم بندكړي اوخپاره كړي يې دي، په هغو كې ..لامع الدرار. دحضرت ګنګوهي صاحب تقريردى. چې دهغه شاګرد حضرت مولانا محمد يحيى كاندهلوي رحمه الله راجمع كړى و اوزموږ شيخ حضرت مولانا محمد زكريا رحمه الله ابن مولانا محمد يحيى له حاشي سره خپور شوى دى. هم دغه راز دامام العصر حضرت علامه مولانامحمدانورشاه كشميري رحمه الله درسي افادات دهغه شاګردسيدبدرعالم ميرټهي مهاجرمدني د..فتح الباري..په نوم سره خپره كړې ده. حضرت شاه صاحب به په اردوكې تقريرفرمايلو،مولاناسيدبدرعالم هغه عربي ته منتقل كړى اوقلم بندكړى يې دى. (همدارنګه دحضرت ګنګوهي ذكر شوي تقريرونه هم حضرت مولانامحمديحيى په عربي كې قلمبندكړي وو)

له دې نه وروسته هركال په دوره حديث كې طالبانو داكابروتقريرونه قلمبندكول اودهغې نه ځينې خپاره شوي هم دي، چې په هغو كې دشيخ الاسلام مولاناحسين احمد مدني، مولانا شبير احمد عثماني اومولانافخرالدين (نورالله مراقد) هم تقريرونه زيات مشهور دي اوداټول په اردوكې دي

سوال: يوكس چې خپل ځان ته ددين عالم وايي اوخپل ځان داهل سنت والجماعت غړى ثابتوي، هغه په قران شريف كې دتحريف لفظي قايل وي، دهغه په باره كې شرعي حكم څه دى؟ سره له دې چې په قران شريف كې هيڅ قسمه تحريف ممكن نه دى، ځكه چې ددې د حفاظت ذمه واري خپله الله تعالى اخستې ده.اميدلرم چې قطعي اوتحقيقي ځواب به راكړئ.

جواب: په اهل سنت كې هيڅ يوكس په قران كريم كې دتحريف لفظي قايل نه دى. بلكې داهل سنت په نزدداسې كس داسلام نه خارج دى. دامسئله دې زماپه كتاب ..شيعه سني اختلافات اوصراط مستقيم..كې وكتل شي، زماخيال دى چې ستاسوته به دهغه كس په باره كې غلط فهمي شوې وي.

سوال: ستاسوپه خدمت كې مې يو سوال دقران مجيددتحريف لفظي دقايل په باره كې په شرعي حكم باندې دپوهيدوله پاره وړاندې كړى و. تاسودځواب نه وروسته فرمايلي و چې زماخيال دې چې تاسوته به ددغه صاحب په باره كې غلط فهمي شوې وي؟ له دې جملې نه وروسته ماضروري وګڼله چې ستاسو مزيداطمينان وكړم. چې دتحريف لفظي دقايل په باره كې زمايقين وي، نو دشريعت څه حكم دى؟ له دې وجې نه ستاسوپه خدمت كې دهغه عالم دين اصلي الفاظ وړاندې كوم هغوى فرمايي:

(زماپه نزدتحقيق دادى چې په قران كې محققانه طورسره (يواځې معنوي نه) تحريف لفظي هم ذي، ياخوخلكوقصدا كړي دي . يا دڅه غلطي له وجې نه شوي دي)

په دې الفاظو سره هغه فرمايي چې په قران كريم كې تحريف لفظي شته. سره له دې چې مونږ اوريدلي دي چې قران كريم دخپل نزول نه واخله تراوسه پورې دهرقسمه تحريف نه محفوظ دی. په قران كې دمخې نه ياشانه باطله لارنه موندل كيږي اودقران پاک دحفاظت ذمه واري الله تعالی په خپله اخستې ده اوداموهم اوريدلي دي چې په قران كې دهر ډول تحريف هيڅ يو مسلمان قايل نه شته اوكه څوک ځان ته مسلمان ويلوولا داسې ووايي. نو هغه مرتد شي. تراوسه پورې دشيعه فرقې په باره كې مې اوريدلې و چې هغوی په قران كې دتحريف قايل دي. خو يواهل سنت والجماعت ويونكي عالم په تحقيقی طورسره داسې كړې دي. له دې وجې نه زماسره ډيرتشويش شو. چې دقران پاک هرقسمه ذمه واري الله تعالی په خپله اخستې ده اوددې باوجود په قران پاک كې تحريف منل كيږي. له دې وجې په حقيقت باندې دپوهيدوله پاره ماستاسورلانبوونه غوښتې ده. داراته ووايئ چې په پخوا هم چرته يوسني عالم په قران پاک كې دمعنوي يالفظي تحريف قايل و؟ اميدلرم چې تاسوبه مې دقطعي شرعي احكامونه خبر كړئ .مننه.

جواب: مادرته په لومړي خط كې ليكلي و چې په اهل سنت كې هيڅ يوكس دتحريف في القران قايل نه شته. مادرته داهم ليكلي و چې تاسوته به ددغه صاحب په باره كې غلط فهمي شوي وي. زماخيال صحيح شو. تاسوچې كوم عبارت دغه صاحب ته منسوبوئ. هغه دده عبارت نه دی. بلكې په غلط فهمي كې هغه ته منسوب شوی دی.

ددې شرح داده چې فيض الباري (ج:۳ ص:۳۹۵)كې دحضرت ابن عباس رضي الله عنه قول (كوم چې صحيح بخاري ج:۱ ص:۳۶۹كې منقول دي) چې الله تعالی تاسو مسلمانانوته ويلي دي چې اهل كتابو دالله تعالی كلام بدل كړ اوپه كتاب كې يې په خپلولاسونوبدلون وكړ. ددې په شرح كې امام العصرمولانامحمد انورشاه كشميري رحمه الله ليكي:

پوهيدل پكاردي چې تحريف (ففي الكتب السابقه) كې درې مذاهب دي:

۱: ډله دې طرف ته تللي ده چې په اسماني كتابونوكې هرقسمه تحريف شوی دی. لفظي هم اومعنوي هم.ابن حزم رحمه الله هم دې طرف ته مائل دی.

۲: ډلې دامذهب دی چې داتحريف قليل دی.غالبادحافظ ابن تيميه هم دې طرف ته رجحان دی.

۳: ډله دتحريف لفظي نه قطعي منكردي. تحريف ددوی په نزدټول په ټوله معنوي دی. زه وايم چې په دې (موخرالذكر) مذهب باندې به لازم راځي چې (نعوذبالله) قران هم محرف دی. ځكه چې تحريف معنوي په دې كې هم څه كم شوی نه دی.(واللازم باطل فالملزوم مثله)كوم شی چې زماپه نزدمحقق شوی دی هغه دادی چې په دې كې (يعني كتب سماوي كې) تحريف لفظي شوی دی يا هغوی قصداً غلطي كړې ده يادڅه وجې نه؟ الله تعالی په دې ټولوښه پوهيږي.داد حضرت شاه صاحب دپوره عبارت ترجمه ده اوس په دووخبروباندې غوروكړئ:

۱: داچې دابن عباس رضی اللہ عنہ په ارشاد کې د اهل کتا ب په خپل کتاب کې تحریف کول ذکرشوې و، حضرت شاه صاحب په دې سلسله کې درې مذاهب نقل کړل.
۱: د اهل کتاب په کتاب کې تحریف په کثرت سره دی. ۲: تحریف شته خوکم دی.
۳: تحریف لفظي نشته یواځې تحریف معنوي دی، حضرت شاه صاحب دادرې واړه اقوال نقل کولونه وروسته خپل محققانه فیصله کړې ده چې داهل کتاب په کتاب کې تحریف لفظي موجوددی اوس پاتې شوه داخبره چې داتحریف هغوی قصداً کړې دی یاپه غلطي سره شوی دی په دې باندې الله تعالی ښه پوهیږي. غرض داچې ټوله خبره په دې باندې ده چې داهل کتابوپه کتاب کې تحریف لفظي شوی دې یانه؟ که شوی دی. نوکم دی که زیات؟ ددې په باره کې یې ددریومذاهبوذکر کړي دي اوهم ددې تحریف فی الکتاب په باره کې یې خپله محققانه فیصله کړې ده. دقران پاک دتحریف لفظي خو هیڅ ذکرنشته. چې دهغه په باره کې حضرت شاه صاحب وفرمایي چې کوم شی چې زماپه نزد محقق شوی دی چې په دې کې تحریف لفظي شوی دی.
۲: شاه صاحب دویم قول دانقل کړی و چې سابقه کتابونوکې یواځې معنوي تحریف شوی دی، تحریف لفظي نه دی شوی، حضرت شاه صاحب داغلط ګرځوي اوددې قول منونکو باندې الزام لګوي چې که یواځې دتحریف معنوي له وجې نه داکتابونه محرف وګرځول شي، نودې سره به دالازم شي چې قران کریم نه هم محرف وویل شي (نعوذبالله)ځکه چې په دې کې هم خلکوتحریف معنوي کولوکې څه کمې پریښې نه ده.له دې سره دوه خبرې واضحې کیږي:
۱: په قران کریم کې تحریف معنوي سره ددې، مذهب منونکوباندې الزام لګول ددې امردلیل دی چې په قران کریم کې دتحریف لفظي څوک هم قایل نه شته.
۲: خبره داواضحه کیږي چې که شاه صاحب (نعوذبالله) دقران کریم دتحریف لفظي قایل وي. نویواځې دریم مذهب والاوو باندې به یې الزام نه لګاو. بلکې په اولني اودویم مذهب والاوو باندې به یې هم الزام لګولی و.
دایواځې ما ددې عبارت تشریح کړې ده. دکومې وجې نه چې تاته دشاه صاحب خبره باندې پوهیدوکې غلطي شوې ده. که نه دقران پاک دتحریف لفظي نه پاک کیدل یوداسې حقیقت دی چې دهغه نه څوک منکر نه دي. دحضرت شاه صاحب کتاب مشکلات القران مقدمه دې وکتل شي.
داتفاق خبره ده چې همدارنګه پوښتنه له امام اهل سنت حضرت مولاناابوزاهد محمد سرفرازخان صفدر زیدمجدهم نه هم وکړل شوه. هغه دفیض الباري ددې عبارت وضاحت وکړ. دکومې له وجې نه چې شیعه ګان تحریف قران باندې استدلال کوي اوهغه په مناظرو کې وړاندې کوي. شیعه ګان داناټرورکول غواړي چې(نعوذبالله) په فیض الباري کې دې چې

امام العصر حضرت مولانامحمدانورشاه کشمیري اومولانابدرعالم میرتهي قدس الله اسرارهما هم دتحریف قایل وو
حضرت مولانامحمد سرفرازخان دامت برکاتهم العالیه ددې پروپیګنډې ځواب اودغلط فهمي وضاحت په خپل یوخط کې چې هغه دمولاناعبدالحفیظ صاحب په نامه لیکلی و او هدایت یې کړی و چې دادې عام کړل شي، چې موصوف موږ ته فوټوسټیټ رالیږلوسره احسان کړی دی. دمولاناسرفرازخان صفدرمدظله په مکتوب سامي کې د فیض الباري عربی عبارتونه و اردو ترجمه نه وه. دعامي فایدې په خیال دهغې اردوترجمه کړل شوې ده. لاندې دحضرت مولاناابوزاهد سرفرازخان صفدروضاحت هم دهغه په الفاظوکې وړاندې کیږي

دامام اهل سنت خط

باسمه سبحانه وتعالى..... عزیزالقدرجناب حضرت مولاناعبدالحفیظ صاحب دام مجدهم.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.........مزاج ګرامي.

عزیزالقدر! په فیض الباري ج ۳ ص: ۳۹۵کې دي:

"واعلم! أن فی التحریف ثلاثة مذاهب، ذهب جماعة إلى أن التحریف في الکتب السماویة قدوقع بلکل نحوفي اللفظ والمعنى جمیعا، وهوالذي مال إلیه ابن حزم، وذهب جماعة إلى أن التحریف قلیل، ولعل الحافظ ابن تیمیة جنح إلیه، وذهب جماعة إلى انکار التحریف اللفظي راسا فالتحریف عندهم کله معنوي، قلت یلزم على هذا المذهب أن یکون القران ایضاً محرفا، فإن التحریف المعنوي غیر قلیل فیه ایضاً، والذي تحقق عندي أن التحریف فیه لفظي أیضاً أما أنه عن عمدمنهم أو لمغالطة، فالله تعالى أعلم به!"

ترجمه: پوهېدل پکاردي چې دتحریف په باره کې درې مذاهب دي.دیوې ډلې خیال دی چې په اسماني کتابونوکې تحریف لفظي اومعنوي دواړه شوي دی.ابن حزم هم ددې قایل دی.دبلې ډلې نظریه داده چې په اسماني کتابونوکې لږ شان تحریف شوی دی. غالباً دابن تیمیه رُجحان هم دې طرف ته دی، ددریمې ډلې رایه داده چې تحریف لفظي خونه دی شوی، خو تحریف معنوي شوی دی، ددې ډلې دنظریې مطابق به دا لازم راځي چې قران مجیدهم دتحریف نه خالی نه ده. ځکه چې په دې کې هم تحریف معنوي شوی دی، خو زماپه نزد محققه خبره داده چې تحریف لفظي شوی دی یا خوهغوی داسې قصداً کړي دي یادغلطي له وجې نه داسې شوي دي،والله اعلم.

عزیزالقدر! په دې عبارت کې د فیها په ځای ،،فیه،، لیکل شوي ده ،اصل عبارت داسې دی: "أن التحریف فیها (ای الکتب السماویة کالتوراة والإنجیل وغیرهما) لفظي ایضاً.

ترجمه: دفیها ضمیرمرجع کتب سماویه ته دی. یعني په کتب سماویه تورات. انجیل وغیره کې تحریف شوی دی. نه چې په قران کې. خود. .فیه. . ضمیرمفردمذکرپه وجه مغالطه شوې ده، چې شاید په قران کې هم تحریف شوی وي.

په فیض الباري کې ج ۴ ص ۵۳۷کې داعبارت دی: "واعلم أن أقوال العلماء فی وقوع التحریف ودلائلهم کلها قدقضی عنه الوطر المحشي فراجعه".

دبخاري شریف دپنځویشتمې سپارې په حاشیه کې حضرت مولانا احمد علی سهارنپوري لیکلي دي: دفالج دحملې نه وروسته دباقي پنځوسپاروحاشیه حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله کړې ده، سوانح ازقاسمي ازمولانا محمد یعقوب صاحب اوپه دې مقام باندې حاشیه کې محشی یعني حاشیه لیکونکي دحضرت نانوتوي حق پوره کړی دی اودمقام حق یې اداکړی دی. (وګورئ، بخاري ج: ۲ ص: ۱۱۲۷ حاشیه نمبر: ۱)

فیض الباري کې نوروضاحت کولو سره حضرت لیکلي دي:

والذي ینبغي فیه النظرههنا أنه کیف ساغ لإبن عباس إنکارالتحریف اللفظي، مع أن شاهدالوجود یخالفه، کیف! وقدنعی علیهم القران أنهم کانوا یکتبون بأیدیهم ثم یقولون هومن عندالله وما هومن عندالله وهل هذا إلاتحریف لفظي ولعل مراده أنهم ماکانوا یحرفونها قصداً، ولکن سلفهم کانوا یکتبون مرادها کما فهموه ثم کان خلفهم یدخلونه في نفس التوراة فکان التفسیر یختلط بالتوراة من هذا الطریق. انتهی. (ج:٤ ص:٥٣٧)

ترجمه: دلته قابل غورخبره داده چې حضرت ابن عباس رضي الله عنه دتحریف لفظي نه کیدوقول کړی دی. سره له دې چې شواهددې خلاف دي. بیادتحریف لفظي قول دځه وجې نه ممکن دی سره له دې چې قران ددوی دافعل قبیح ذکرکړی دی. چې هغوی په خپلولاسونوسره ولیکې اوبیا وایي چې: داد الله تعالی کتاب دی، حالانکه هغه دالله تعالی دطرف نه نه وي؛ اوهم دغه تحریف دی. غالباً دتحریف لفظي نه کیدونه دهغه دامراد دی چې هغوی قصداً داسې نه کول بلکې دهغوی اسلافوبه په خپلوکتابونوکې دخپلې پوهې مطابق یومفهوم ولیکه. خو دهغوی نه وروسته راتلونکو دتورات په متن کې شامل کړ. چې له دې وجې په اصل متن کې التباس وشواوهمداسې تحریف لفظي وشو.

له دې ټول عبارت نه داواضحه شوه چې تحریف لفظي په تورات، انجیل اوزبورکې شوی دی، خوپه قران کریم کې نه اودحضرت ابن عباس رضي الله عنه دقول تشریح هم اوس وشوه. چې مشرانوبه دخپل یادښت له پاره په کتابونوکې تفسیري الفاظ لیکل. وروسته خلکوهغه هم په متن کې شامل کړل.

داتحریرپه غورسره ولولئ بیا ددې کاپیانې جوړې کړئ اوله خپل طرف نه یې په عالمانو تقسیم کړئ. ددین لوی خدمت به ورسره وشي. کوروالوته ډیرډیرسلامونه وایئ اوپه خپلو دعاګانوکې مونږ مه هیروئ والسلام.

ابوالزاهد محمد سرفراز

په قران کریم کې نازلې شوې د نوروخلکوخبرې قران دی

سوال: قران کریم کې الله تعالی دنوروخلکوقولونه هم ذکرکړي دي. لکه دعزیزمصرقول "إن کیدکن عظیم" یادبلقیس قول "إن الملوک اذا دخلوا" ایاددې قولونو هم هغه اهمیت او حقیقت دی کوم چې دالله تعالی دکلام دی؟ ځینې وعظ کونکي داسې بیان کوي چې ګورئ الله تعالی فرمایي: "إن کیدکن عظیم" حالانکه دادغیرالله قول دی. الله تعالی یواځې نقل کړی دی.

جواب: چې الله تعالی داقولونه نقل کړي دي. نوداهم دالله تعالی دکلام برخه شوه اوددې په لوستلوباندې به هم هغه شان ثواب ورکول کیږي (زه کله کله دلطیفې په طورباندې وایم چې قران کریم کې دفرعون، هامان، قارون اوابلیس نومونه راځي اودهغه په تلاوت باندې هم پنځوس پنځوس نیکۍ ورکول کیږي) اوبیاقران کریم کې چې کوم قولونه نقل شوي دي، هغو کې ځینوباندې رد شوی دی. لکه دکافرانوخبرې اوځینې پرته دتردید نه نقل شوي دي، نومردود قولونه خوښکاره خبره ده چې مردود دي. خوکوم قولونه چې پرته دڅه نکیرنه نقل شوي دي، هغه زمونږ له پاره حجت دي. دعزیزمصراودبلقیس قول. هم په دې دویم قسم کې شامل دي اوددې باره کې داسې ویل چې داالله تعالی ارشاد دی صحیح دي.[1]

دالله تعالی په کلام کې دانسان کلام به هم نفسي وي؟

سوال: تاسووفرمایل چې دغیرالله کوم قولونه الله تعالی په خپل کلام کې نقل کړي دي هغه هم دالله تعالی دکلام برخه شوه، له دې نه دا سوال پیداکیږي که چیرې دغه قولونه دالله تعالی دکلام برخه شي، نوبیاهم نفسي کلام خونه دی؟ ځکه چې نفسي کلام خوقدیم دی اودغه قولونه په څه زمانه کې انسان اداکړي دي. دهغه نه وروسته الله تعالی په دویم ځل باندې اداکړي دي، نوداقولونه خومخلوق شول اوزمونږ داعقیده ده چې قران کریم ټول غیرمخلوق دی.

---

[1] وما ذکره الله تعالی فی القرآن ای المنزل والفرقان المکتمل عن موسی وغیره من الانبیاء علیهم السلام .... وعن فرعون وابلیس ای ونحوهما من الاعداء والاغنیاء ..... فان ذلک ای ما ذکر من النوعین کله کلام الله تعالی ای القدیم اخبارا عنهم (شرح فقه اکبر لملا علی قاری ص:۳۳)

جواب: دمخلوق کلام دالله تعالی په کلام کې راتلل په ښکاره طور مشکل دي. خوکه دې ته نظروکړل شي چې دالله تعالی په علم کې پخوانۍ زمانه، اوسنۍ اوراتلونکې زمانه ټولې یو شان دي، نودامشکل بیانه پاتې کیږي. یعنې مخلوق پیداشو. هغوی څه خبرې وکړې او الله تعالی داداکیدونه وروسته هغه نقل کړې. نوپه ربښتیاباندې مشکل دي. خودمخلوق پیدا کیدونه اوددې خبروکیدونه مخکې دالله تعالی په علم کې واودالله تعالی علم قدیم دی[1]

انګریزان، امریکایان او نورکافران درحمت زیات حقداردي اوکه مسلمانان؟

سوال: ایا په اروپایي اوامریکایي قومونوباندې رحمتونه نازلیږي؟ دهغه ځای عام خلک خوشحاله. نیکاو انسانان په نظر راځي. زموږ دمسلمانانو په نسبت د (حقوق العباد) له ټولونه زیات احترام کوي. نواياهغوی دالله د رحمتونو نه زموږپه نسبت زیات ګټه اخستونکي نه دي؟ سره له دې هغوی سره سپي او تصویرونه ډیرزیات دي. ایاموږ یواځې له دې وجې درحمت حقداریوچې موږ مسلمانان یو. زموږ بدعملونه ددین اواسلام په نوم باندې خراب داغ نه لګوي. درحمت حقدار څوک دي؟ پاکستانیان؟ کوم چې دحقوق العباد قاتلان دي او که کافران؟

جواب: دالله تعالی رحمت په دوه قسمه دی یوعام رحمت اوبل خاص رحمت دی. عام رحمت خوپه هرخاص وعام اومومن اوکافر باندې دی اوخاص رحمت یواځې په ایمان والاوو باندې دی، داول تعلق ددنیا سره دی اوددویم تعلق داخرت سره دی. کفار چې په دنیا کې خوشحاله ښکاري. دهغه وجه داده چې هغوی ته دټولو نیکواعمالوبدله په دنیاکې ورکول کیږي اودهغوی دکفراو بدو عملونو سزا اخرت له پاره ساتل کیږي. ددې په خلاف مسلمانانوته دهغوی دبدو عملونو سزاپه دنیاکې ورکول کیږي. خوپه هرحال دکافرانو اود بدکاروپه دنیاکې خوشحالیدل ددوی دمقبولیت نښه نه ده، بلکې د کافرانوپه دنیاکې خوشحاله ساتل داسې دي لکه چې دپهانسي (دار) بندي په جیل کې ښه پالل کیږي.

دقران په نسخ کې دجمهوراهل سنت مسلک

سوال: مسئله دا ده چې مولانامحمدتقي عثماني صاحب مدظله په علوم القران کې په ص۱۲۴ باندې لیکلي دي چې دجمهور اهل سنت مسلك دادی چې په قران کریم کې داسې ایتونه موجوددي چې دهغو حکم منسوخ شوی دی، خو دمعتزله وو کې دابومسلم اصفهاني

۱] والقرآن كلام الله تعالى فهو قديم .... وقد كان الله تعالى متكلماً اى فى الازل ولم يكن كلم موسى اى والحال انه لم يكن كلم موسى بل ولا خلق اصل موسى وعيسى وقد كان الله تعالى خالقاً فى الازل ولم يخلق الخلق (شرح فقه اكبر ص: ۳۵)

داویناده چې په قران کریم کې یو ایت هم منسوخ نشته. بلکې ټول ایتونه اوس هم واجب العمل دي. دابومسلم په تابعداري کې ځینې نوروحضراتوهم دغه رایه ښکاره کړې ده اوزموږ دزماني دنوي خیال خاوندان هم ددې قایل دي. په کومو ایتونوکې چې نسخ معلومیږي دا حضرات یې داسې تشریح کوي چې په هغه کې دنسخ دمنلوحاجت نه راځي. خو حقیقت دادی چې دا موقف ددلائلو په لحاظ سره کمزوری دی اوددې په اختیارولو سره د ځینې قراني ایاتونوپه تفسیر کې داسې وړاندې والی ورستوالی راځي چې هغه داصول تفسیر نه بالکل خلاف دي.'' دا خودتقي صاحب بیان و. بل ځای حضرت مولاناانورشاه کشمیري رحمه الله په فیض الباری ج۳ ص۱۴۷ باندې لیکي

''أنكرت النسخ رَاسًا وَادعِيَت اَنَ النَسخَ لَم يُرِد فِي القُرانِ رَاسًا،،

دهغه په تشریح کې فرمايي: ''**أعني بالنسخ كون الأية منسوخة فى جميع ماحوته بحيث لاتبقى معمولة فى جزئ من جزئياتها فذلك عندي غيرواقع ومامن أية منسوخة إلاوهى معمولة بوجه من الوجوه وجهة من الجهات**،، (فيض الباري ج۳ص۱۴۷)

نومهرباني وکړئ داروښانه کړئ چې دمولانامحمدانورشاه صاحب رحمه الله په باره کې به څه تاویل کوو. ایاداښکاره دنسخ نه انکارنه دی. په الله قسم زمادهغه په باره کې ښه ګمان دی. یواځې دخپل ناقص ذهن اطمینان غواړم. بل داچې زه جینکوته سبق ښایم. نو ددې قسمه مسائلو توجیه کول ډېر مشکل شي. مهرباني وکړئ داواضحه کړئ چې دانورشاه کشمیري رحمه الله په نزدباندې په دی ایت کې په کوم جزء باندې عمل باقي دی؟

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَةٗۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ وَأَطۡهَرُۚ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ۝١٢ ﴾ (المجادلة: ۱۲)

زماددې وینانه مقصود دادی چې یوخواته دمولانامحمدتقي عثماني صاحب فرمان دادی چې پرته دمعتزله وونه یاددوی دهم فکرو نه بل چادنسخ نه انکار نه دی کړی اوبل خواته ددیوبندیوجلیل القدر بزرګ وايي چې ''**إن النسخ لم يرد فى القران راسًا**،،

نوزماغوندې ناقص العقل والدین له پاره توجیه ډېره مشکله ده. زما دامسئله حل کړئ اوثواب دارین حاصل کړئ!

جواب: دمعتزله وودمذهب اودحضرت شاه صاحب نوالله مرقده دمسلك په مینځ کې فرق دادی چې معتزله خودنسخ فی القران نه بالکل منکردي. لکه نن سباد قادیانانو اود نیچري والاووهم دا رایه ده. دهغوی په نزدباندې چې په قران کریم کې کوم حکم یوځل نازل شوی دی بیادهغه په ځای بل حکم هیڅکله نه دی نازل شوی. حضرت شاه صاحب دنوروااهل حق په شان دنسخ فی القران قایل دی. خو هغه فرمايي چې په قران کې کوم منسوخ ایاتونه باقي

پاتې شوي دي په هغو کې حکمت دادی چې ددې ايت يوجزء به خامخا چېرته په يووخت کې دعمل کولو قابل وي، داسې نه ده چې يو ايت داسې منسوخ کړل شي چې دهغه دجزئياتونه به يو جزء هېڅکله هم معمول نه وي، مثلاً دروژې دفديې حکم دهغه خلکو په حق کې خو منسوخ دی چې کوم خلک دروژې دنيولو طاقت لري. خو ديو بوډا سړي له پاره اوس هم د روژې فديه ورکول جائزدي اوهغه ددې ايت دلاندې ذکردی. له دې وجې نه دا ايت دخپلو ځينو مشمولاتو په اعتبارسره خومنسوخ دی لکه چې په صحيح حديثونوکې ددې تصريح موجوده ده، خو ددې په بعضې جزئياتو اوس هم عمل کيدای شي ددې وجې نه دا ټول منسوخ نه دی، بلکې دځينې اعتباراتو او دجزئياتو په اعتبار سره منسوخ دی. ددې دويم مثال دمناجات ايت دی: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَـٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ ﴾ (الاية)

کوم چې تاسو نقل کړی دی، ايت کې چې کوم حکم شوی و هغه مخکې واجب و چې هغه منسوخ شو . دهغه دنسخ ښکاره حکم ددې نه په وروسته ايت کې موجوددی. خو ددغه حکم استحباب وروسته هم باقي و. ځکه چې په دی ايت کې هم بالکليه نسخ نه دې شوې، بلکې دخپلو ځينو مشمولاتو او جزئياتو په اعتبار سره دا ايت وروسته هم معمول بها و.

غرض داچې دحضرت شاه صاحب نورالله مرقده ارشاد ''ان النسخ لم يرد فی القران راسًا،، دامطلب نه دی چې په قران کې نازليدونه وروسته يوحکم هم منسوخ شوي نه دی ځنګه چې معتزله وايي، بلکې مطلب دادی چې دقران کريم کوم اياتونه منسوخ شوي دي په هغه کې نسخ دټولوووجهونه نه ده شوي بلکې ددغو اياتونوځه جزئيات خامخاپه ځينو وختونوکې په هغو باندې عمل باقي وي دحضرت شاه صاحب رحمه الله دارشاد تصريح پخپله دهغه ددې عبارت نه واضحه ده کوم چې هغه نقل کړی دی هغه فرمايي:

''ان النسخ لم يردفي القران راسًا اعنی بالنسخ کون الاية منسوخة فی جميع ماحوته بحيث لاتبقی معمولة فی جزئی من جزئياتها. فذلك عندی غيرواقع ومامن اية منسوخة الاوهی معمولة بوجه من الوجوه وجهة من الجهات،،

ترجمه: بيشکه په قرانکريم کې نسخ بالکليه نه ده واقع شوې اوددې نسخ بالکليه نه زمامراددادی چې يو ايت دخپلو مشمولاتو په اعتبار سره منسوخ شي، په داسې طريقه باندې چې دهغه په جزئياتو کې دهغه په يوجزئي باندې هم عمل ونه شي. داسې نسخ زما په نزدباندې نه ده واقع شوې بلکې کوم ايت چې منسوخ شي. نو د هغه په ځه نا ځه برخه باندې عمل کيږي.

په دې ضمن کې دفديې دايت مثال ورکولو نه وروسته فرمايي:

''وبالجملة ان جنس الفدية لم ينسخ بالکلية فهی باقية الی الان فی عدة مسائل وليس لهاماخذ

عندی غیر تلك الایة فدل علی انها له تنسخ بمعنی عدم بقاء حکمها فی محل ونحوه.
ترجمه: خلاصه دا چې جنس فدیه بالکل منسوخ نه ده. بلکې فدیه په ګڼو مسائلو کې تراوسه باقي ده او په دې مسائلو کې د فدیې دا خستلو ځای زما په نزد له دې ایت نه پرته بل څه نشته. نو د دې نه معلومیږي چې دا ایت په دې معنا سره منسوخ نه دی چې د دې حکم په یو ځای کې هم باقي نه دی.

په جمعه او دجمعې په شپه مړه کیدونکي ته په عذاب کې کمی

سوال: تاسو د جمعې په ورځ په ۹ اګست باندې دیو سوال په ځواب کې لیکلي و، چې د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه که څوک وفات شي، نو د قبر د عذاب نه خلاصیږي، جناب که یو سړي جوارګر، شرابي، سودخوراو په هرقسمه ګناهونو کې مبتلاوي او هغه د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه باندې وفات شي، نو ایا داسې کس هم د قبر له عذاب نه بچ کیږي؟ که داسې سړی مړشي او د هغه خپلوان د هغه له پاره قران پاک ولولي، صدقه او خیرات ورکړي، نو ایا داسې قسمه مرحوم ته یې ثواب رسیږي؟

جواب: ستاسو مشکل ختمولو له پاره یو څو خبرې په ذهن کې یاد ساتل ضروري دي:

۱: ګناهګار خو موږ ټول یو، څوک په ښکاره باندې ګناه کې مبتلا دي، چې موږ ټول یې ګناه ګار ګڼو او څه خلک داسې ګناهونو کې مبتلا دي چې عام طور باندې ګناهونه نه ګڼل کیږي، د مثال په طور باندې د غیبت ګناه ده، کوم چې د زنا نه بدتره ګڼل شوې ده او د مثال په طور باندې دیو مسلمان د بې حرمتي ګناه ده، کومه چې د سود نه هم بدتره ګڼل شوې ده، دې ګناهونو کې موږ مبتلا یو، کومې چې د زنا، شراب څښلو او سودخوري نه بدترې دي، که موږ داسې ګناه ګار و ته د الله تعالی له رحمت څخه نه مایوس کیږو، نو یو ګناه ګار موږ د الله تعالی د رحمت نه ولې مایوسه کړو؟

۲: حدیث کې راغلي دي چې په فلاني فلاني کارونو باندې د قبر عذاب کمیږي او په فلاني فلاني کارونو باندې د قبر عذاب زیاتیږي، دا هر څه بالکل حق دي، که د کم عقلي په وجه په دې موږ پوه نه شو، نو د دې باندې اعتراض کولو سره خپل دین او ایمان ولې غرق کړو.

۳: د مرګ نه وروسته دانسان د ښو او بدو عملو نو مطابق فیصلې کیږي، د چا د ښو تله درنه وي او د چا بدو، دا خبره د الله تعالی په علم کې ده، موږ د دې باره کې د فیصلې کولو اختیار نه لرو، بلکې ټول د ارحم الراحمین د فیصلې انتظار کونکي دي او د امید او وېرې په حالت کې دي.

۴: په خاصو ورځو کې د قیدیانو په قید کې د کمې کولو رواج په دنیا کې هم موجود دی، که د جمعې د ورځې یا د جمعې د شپې د عظمت په وجه باندې الله تعالی د شرابیانو او جوارګرو په قید کې هم کمی وکړي، نو ما او تا ته د اعتراض څه حق دی؟ او که دا کمې د غټو ګناهګارو په حق کې وي، نو بیا هم څه مشکل نشته، د حدیث مطلب دا دی چې د جمعې په شپه او د جمعې

په ورځ باندې دقبرعذاب بندکړل شي. پاتې شوه داخبره چې دکومو کومو خلکوله پاره بندیږي، ددې یوازې الله تعالی ته پته ده.

کشف او کرامات حق دي

سوال: یوصاحب ویل چې یوبزرګ و. هغه ته یومرید راغی او ویې ویل: چې زه به سبا مړ شم، په دویمه ورځ مسجدحرام ته راغی. طواف یې وکړ. چې لږ لیرې ولاړ. نومړشو. ماهغه ته غسل ورکړاوخښ مې کړ. ماچې کله هغه قبرکې کېښود. نوهغه سترګې وغړولې. ماورته وویل: چې دمرګ نه وروسته هم ژوندشته، وې ویل چې زه ژوندی یم، اوداللہ تعالی هر یو عاشق ژوندی وي. داخبرترکومه حده پورې صحیح ده؟ اوکه غلطه ده، نوددې خلکو باره کې باید مونږ څه ډول عقیده ولرو اودوی سره څه ډول تعلق ساتل پکاردي؟

جواب: داواقعه صحیح کیدای شي.کله ناکله بزرګانوته کشف کیږي اودمرګ نه وروسته دخبرو کولو واقعې په حدیثونوکې هم موجودې دي.

د اولیاوو کرامت حق دی

سوال: همدارنګه یوه بله واقعه بیانوي چې یوبزرګ و. هغه به فرمایل :چې کله زما پلار وفات شواوهغه یې دلمبولوله پاره په تخته باندې واچولو. نوهغه په خنداشو. چاچې لمبولوهغوی پریښود اولاړل. چاکې دهغه دلمبولوهمت نه و. دهغوی یوبل بزرګ ملګری راغی اوهغه ورته غسل ورکړ.

ایاداواقعه صحیح ده یاغلطه؟ کوم بزرګان چې خپلومریدانو ته داسې خبرې کوي دهغوی باره کې ستاسوڅه خیال دی؟ مهرباني وکړئ زمالارښو ونه وکړئ. داسې نه وي چې زه هغه خلکو ته په لاس ورشم اوخپل ایمان خراب کړم. ځکه چې زمونږدیوبندپه عقیده کې خواوسه پورې داشیان مانه دي اوریدلي. په دې وجه ماته نوې ښکاري. داخلک خوهم اهل سنت والجماعت والادي، خوعقیده کې زمونږ دعقیدې سره ډیرزیات خلاف دي.

جواب: دکرامت په طورباندې داواقعه هم صحیح کیدای شي. دیوبندپه اهل سنت کې دی اوداهل سنت عقیدې په ټولوکتابونوکې لیکل شوي دي، چې داولیاووکرامات حق دي[۱]، په دې وجه باندې دداسې واقعاتو نه انکارکول داهل سنت اودیوبندي مسلک خلاف دي اودې واقعاتوکې دعقیدې دخرابېدو هیڅ خبره نشته. که نه اهل سنت به داولیاوو دکراماتودحق کیدوقایل نه وو.

[۱] والكرامات للأولياء حق,اي ثابت بالكتاب والسنة.شرح فقه أكبر:۹۵

د حضرت مهدي رضي الله عنه په اړه څو سوالونه

سوال: تاريخ اسلام کې د بنو فاطمه د خلافت د بنو دلو وخت کې زموږ استاذې موږ ته وويل چې د شيعه ګانو د عقيدې مطابق د هغوی دولسم امام "امام محمد المهدي" چې دیوولسم امام حضرت امام عسکري زوی و. دی د خپل پلار له کوره په ماشوموالي کې ورک شوې و، د هغوی دا عقيده ده چې قيامت ته نزدې وخت کې به د مسلمانانو د اصلاح له پاره راځي. په دې وجه باندې هغه امامت ته نه دی وړاندې شوی او د هغه لقب "المنتظر" دی. تاسو چې د امام مهدي رحمه الله په باره کې بيان کړی دی نو ايا دا هم هغه امام مهدي رحمه الله دی. کوم چې د امام حسن عسکري زوی و؟

۲: تاسو په خپل ځواب کې "حضرت مهدي رضي الله عنه" ليکلی دی، زما د علم مطابق د دې نه دا سې ښکاري چې هغه د حضور ﷺ صحابي دی. ځکه چې موږ خو عام طور باندې د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د هغوی د بيبيانو نومونو سره "رضی الله عنهن" ليکل ليدلي دي، چا ته چې د حضور ﷺ ليدل نصيب شوي دي ايا همداسې ده؟

۳: امامت څه شی دی؟ ايا د الله تعالی له طرفه ورکړل شوې څه درجه ده. يا د حضور ﷺ انعام يا بل څه دی؟

۴: يو امام هغه دی چې د جومات امام وي، د هغه باره کې خو مو ډير څه لوستلي دي، خو هغه څلور امامان يعنې امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله وغيره او هغه امامان کوم چې د شيعه ګانو او اسماعيليه فرقو دولس امامان دي، هغوکې څه فرق دی؟ او حديثونوکې د هغوی څه مقام دی؟

۵: زه الحمد لله مسلمان او سني فرقې سره تعلق ساتم، خو زما اکثر سني خلکو سره دا بحث وي او زه وايم چې د سني عقيدې مطابق يو اځې څلور امامان دي، کوم چې موږ منو او هغه امام ابو حنيفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل دي، ما ته د دې خبرې پته د خپلو استاذانو نه لږيدلې ده، هغه خلک اکثروايي چې د دولس امامان دي، کوم چې دنيا ته راغلي دي او موږ هغوی هم منو، بالکل هم هغه شان څنګه چې دنيا ته زرګونه پيغمبران راغلي دي او هغوی باندې ايمان لرل د مسلمانانو له پاره ضروري دي، خو يو اځې د حضور ﷺ په تعليماتو باندې عمل کول فرض دي، د نورو په تعليماتو باندې نه. اوس وو ايئ چې موږ کې څوک صحيح دي؟

او که په رښتيا باندې د مسلمانانو دولس امامان وي، نو د هغوی نومونه څه دي؟

۶: دجال څوک دی؟ ايا هغه هم ژوند پورته شوی دی، يا هغه غايب شوې و؟

جواب: نه! زموږ عقيده دا نه ده، زموږ عقيده دا ده چې امام مهدي رضي الله عنه به پيدا کيږي او کله چې د هغوی عمر څلويښت کاله شي، نو د مسلمانانو امير او خليفه به وي.

۲: د حضرت مهدي رضي الله عنه په زمانه کې به حضرت عيسی عليه السلام نازل شي، په دې وجه باندې

حضرت مهدي رضي الله عنه د حضرت عيسى عليه السلام صحابي دی او هغه ته رضی الله عنه ويل صحيح دي.
۳: مسلمانان چې کوم کس خپل اميرجوړ کړي، هغه د مسلمانانو امام دی. امام دالله تعالى له طرفه نه مقرريږي او نه رسول الله صلى الله عليه وسلم څوک دانعام په طورباندې امام جوړ کړي دي
۴: دجومات امام دلمونځ ورکولوله پاره دمسلمانانو مشردی. څلور امامان دخپل علم، عمل، فضل، زهداوتقوا په وجه دمسلمانانو مشران دي او شيعه ګان او اسماعيليان چې کوم خلک خپل امامان ګڼي، هغوی دالله تعالى له طرفه مقرر شوي او معصوم ګڼي اودهغوی درجه دنبيانو برابر بلکې دهغوی نه پورته ګڼي. داعقيده داهل سنت په نزد باندې غلطه بلکې کفرده. ۵: ماپورته دڅلوروامامانو او دشيعه ګانو ددولسوامامانو فرق بيان کړی دی.
۶: دجال به قيامت ته نزدې وخت کې پيدا کيږي. دی به يهودی وي. لومړی به د نبوت او بيا به دخدايي دعوه کوي او دهغه دقتلولوله پاره به حضرت عيسى عليه السلام له اسمانه نازل شي. د دجال دژوندي پورته کولو خبره غلطه ده.

ساري مرضونه او اسلام

سوال: ايا دجذام دمريض تعلق له اسلام سره ختم شوی دی؟ که نه. نو دداسې مريض نه د ژوندحق ولې اخستل شوی دی اوداولې ويل کيږي چې دده نه دزمري پشان تښتئ اوده ته په اوږد لرګي سره خوراک ورکوئ؟

جواب: کوم سړی چې په داسې بيماري کې اخته وي چې دهغه نه خلکوته تکليف وي، که خلکوته دده نه دبچ اوسيدو مشوره ورکړل شي، نو دادعقل غوښتنه ده. باقي دبيماري په وجه دده رشته داسلام سره نه ختميږي په دې بيماري به الله ده ته اجرورکوي. اسلام خو د مرض دساري کيدو قايل نه دی، خو که دجذامي مريض سره دناستې پاستې په وجه خدای مه کړه چاته دامرض ولګيږي، نو دکمزورې عقيدې والو عقيده به خرابه شي او هغه به هم دا وګڼي چې دا مرض ده ته ديوجذامي مريض نه لګېدلی دی. ددغې عقيدې دخرابيدو له وجې نه خلکوته ويل شوي دي چې دده نه د زمري په شان تښتئ (اودلرګي په ذريعه دخوراک ورکولو مسئله ماته معلومه نه ده او نه مې چرته لوستلې ده) غرض دا چې د جذامي مريض سپکوالي مقصودنه دی، بلکې دخلکو جسماني تکليف اودعقيدو خرابيدونه ساتل مقصود دي[1]. که ديوې مضبوطې عقيدې والا اودمحکم ايمان والا سړی دجذامي مريض

۱] وعنه (ابی هريرة رضی الله عنه) قال رسول الله صلی الله عليه و سلم (لا عدوی ولا طيرة وفر من المجذوم كما تفر من الأسد (وفی حاشيته) وانما اراد بذلک نفی مااعتقدوا من ان العلل المعدية مؤثرة لا محالة فاعلمهم ان ليس كذلک بل هومتعلق بالمشية ان شاء كان وان لم يشا لم يكن ...الخ (مشكوة ص:۳۹۱، باب الفال والطيرة،الفصل الاول)

سره خوراك څښاك وكړي، نو بيا هم څه ګناه نه ده، نبي كريم ﷺ يو جذامي مريض سره په يوه لوښي كې خوراك كړى دى.[1]

حقيقي اثركونكى الله تعالى دى دوايي نه ده

سوال: زما ديو سوال ځواب تاسو راكړې و. له هغه سره زما ذهني پريشاني ختمه نه شوه. زه تاسو ته په دويم ځل تكليف دركوم، اميدلرم چې تاسو به ما معاف كړئ. زما سوال داو چې:
ايا دوايي خوړلو سره هلك پيداكيداى شي؟ ددې په ځواب كې تاسو ليكلي وچې: لوراو زوى دالله تعالى په حكم باندې پيداكيږي اودوايي هم دالله تعالى په حكم باندې اثركوي. كه داسې عقيده وي، نو دوايي خوړلو كې هيڅ بد ه خبره نشته.
ګستاخي معاف: مولاناصاحب زه غواړم چې تاسو دا ځواب لږوضاحت سره وليكئ. ځكه چې زما زړه مطمئن شوى نه دى.كه دوايي خوړلو سره زوى پيداكيداى شي، نو بيا به هره ښځه دوايي خوړل شروع كړي اودنيا كې به يواځې زامن وي، لوڼې به ختمې شي، ځكه چې زمونږ ملك كې خولامخكې هم جهالت دى. مخكې خو به خلك ددا تاصاحب مزار او نورو مزارونو ته تلل او زوى به يې غوښتلو او اوس كه په دوايي باندې زوى پيداكېدل شروع شي. نو هغه ځاى كې به دښځو غوبل جوړشي كوم كې چې دا دوايي خرڅيږي اودوايي هم په زرګونو روپو باندې خرڅيږي. ايا دا به شرك نه وي؟ او الله تعالى فرمايي: چې زه چاته و غواړم زوى وركړم او چاته چې وغواړم لور وركړم، كله چې الله تعالى په خپلې خوښې سره وركول كوي، نو بيا دوايي څه اثركولى شي؟

جواب: زما خورې! ددوايي تعلق تجربې سره دى.كه چېرې تجربې باندې ثابت شي (يواځې دوكه نه وي) چې دفلانى دوايي په ذريعه باندې هلك پيداكيږي. نو ددې ځواب كې ما ليكلي و چې ددوايي اثركول هم دالله تعالى په حكم باندې دي، څنګه چې دبيماري نه شفا وركونكى الله تعالى دى، دوايي وغيره هم دالله تعالى په اراده، فائده كوي. نو داسې ويل سهي دي چې څنګه الله تعالى ددوايي نه پرته شفا وركوي، هغه شان شفادوايي نه شي وركولى، بلكې دشفا وسيله اوذريعه جوړه شي اوكله چې الله تعالى وغواړي ددوايي سره هم فائده نه كيږي.
همدارنګه كه په رښتيا څه دوايي داسې وي چې دهغې په ذريعه باندې زوى پيداكيږي، نو دهغې حيثيت به هم داوي چې كله الله تعالى ددوايي نه پرته زوى وركوي اوكله يې دوايي ذريعه جوړه كړي اوكله ددوايي داستعمال سره يې هم نه وركوي.كله چې حقيقي اثركونكى

[1] عن جابر: ان رسول الله صلى الله عليه و سلم اخذ بيد مجذوم فأدخله معه في القصعة (ترمذى ج:۲، ص:۴ باب ما جاء فى الاكل مع المجذوم)

الله تعالى وګڼل شي او ددوايي اثرهم دهغه دحکم او ارادې پابند وګڼل شي، نو داشرک نه دی او دداسې دوايي استعمال ګناه نه ده.[1]

نوټ: زمادې سره هيڅ بحث نشته چې داسې څه دوايي شته او که نه.

د الله اودرسول ﷺ تابعداري سره دانبياوو ملګرتيا نصيب کيږي دهغوی درجه نه

سوال: تاسو دلاندېني ايت کريمه پوره تشريح وکړئ؟

﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ۝٦٩ ﴾ (سورة النساء ايت: ٦٩)

ځينې خلک وايي چې ددې ترجمه داده چې"څوک هم دالله اودمحمد ﷺ تابعداري وکړي، نوهغه په هغو خلکوکې شامل دي چې په هغوی باندې دالله انعام شوی دی يعنې انبياء، صديقين، شهيدان او نيکان خلک اوداخلک ډېرښه ملګري دي"اوددې تشريح داسې کوي چې دنبي عليه السلام په تابعداري سره دنبي، صديق، شهيد او صالح درجه نصيب کيږي ايا داډول تشريح سهي دی؟

جواب: داتشريح له دوو وجو غلطه ده، يوه داچې نبوت داسې شی نه دی چې انسان ته دې په محنت، کسب، عبادت او دطاعت سره حاصليږي، دويم ددې وجې نه غلطه ده چې داسلام په څوارلسوپيړيو کې هيچاته هم دکاملې تابعداري توفيق نه دی ورکړل شوی.

دايت مطلب دادی چې کوم خلک دخپل طاقت مطابق دالله اودرسول ﷺ په تابعداري کې کوشش کوي که دهغوی عملونه دکمې درجې هم وي، خوهغوی ته به دقيامت په ورځ دپيغمبرانو، صديقينو، شهيدانو اودنيکانو خلکو ملګرتيانصيب شي.[2]

ايا د حضور ﷺ دقبر مبارک خاوره د عرش اوکعبې نه بهتره ده

سوال: ماسره يوکتاب دی چې دهغه نوم "تاريخ المدينة،. دی اودهغه ليکونکی جناب محمدعبدالمعبود دی اوهغه باندې تقريظ دشيخ القران مولاناغلام الله خان صاحب مدظله مهتمم دارالعلوم تعليم القران راجه بازارراولپنډۍ دی، دتقريظ تاريخ د١٩٧٨ء دفرورې لومړی تاريخ دی، مولاناغلام الله خان صاحب يې ډيرتعريف کړی دی او ان آغامحمدحسين تسبيحي مدظلهم داکتاب دومره خوښ کړی دی چې دفارسي ترجمې کولو هيله يې وړاندې

١] الاشتغال بالتداوی لا باس به إذا اعتقد ان الشافی هو الله تعالى وانه جعل الدواء سبباً ، اما اذا اعتقد ان الشافی هو الدواء فلا (هندية ج:٥، ص: ٣٥٤ طبع كوئته)

٢] ای من عمل بما امره الله به ورسوله، وترك ما نهاه الله عنه ورسوله، فإن الله عز وجل يسكنه دار كرامته، ويجعله مرافقًا للأنبياء ثم لمن بعدهم في الرتبة، وهم الصديقون، ثم الشهداء، ثم عموم المؤمنين وهم الصالحون الخ (تفسير ابن كثير ج:٢، ص:٣١٩)

کړې ده، دې نه پرته دولي زمان مفسرقران دحضرت لاهوري رحمه الله خلف الرشيد دحضرت مولاناعبيدالله دامت مجددهم تقريظات په دې باندې دافاديت مهرلږولوسره ددې کتاب په افاديت کې نوره هم اضافه کړې ده. ددې کتاب دمضامينوپه فهرست کې دادي.

١: مکه مکرمه افضل يامدينه طيبه.　２: دمدينه طيبه په مکه معظمه باندې فضيلت

٣: مدينه طيبه دمکې معظمې نه بهتره ده.

اوس دې باره کې ډير زيات تفصيل دی، زه به کوشش کوم چې مختصرطورباندې يې بيان کړم، ليکلي دي چې:

دامت په دې خبره باندې اتفاق دی چې په ځمکه باندې په افضل ځايونواوبزرگ ښارونوکې مکه مکرمه اومدينه منوره دي، زادهما الله تشريفاوتعظيماً. اوس دې دواړو ښارونو کې کوم يوته په بل باندې ترجيح ورکړل شي؟ نود عالمانو صاحبانو عقل لرونکي ذهنونه هم حيران دي، ټول عالمان دې باندې متفق دي چې دځمکې کومې برخې باندې دحضور ﷺ بدن لګيدلی وي، دځمکې هغه برخه نه يوائې له مکې مکرمې بلکې دکعبة الله نه هم بهتره ده اوو ځمکې خوپريږدئ دعرش عظيم نه هم لوړه، اعلی، اوښه ده.

مخکې يې يوه حواله داهم ليکلې ده:

اميرالمومنين سيدناعمرفاروق رضي الله عنه اوسيدناعبدالله بن عمر رضي الله عنه اونورصحابه کرام رضي الله عنهم اوحضرت مالک بن انس رضي الله عنه اود مدينې اکثره عالمان، مدينه معظمه دمکې مکرمې په مقابله کې بهتره ګڼي، همدارنګه ځينې عالمان هم دمدينې طيبې دفضيلت قايل دي. هغوی دمدينې ښارته په مکې باندې فضيلت ورکوي، خوکعبة الله ترې مستثنی کوي اوکعبه معظمه دټولونه افضل ګڼي، خوداخبره منل شوې ده اودې باندې دمخکې اووروسته ټولوعالمانواتفاق دی چې دحضور ﷺ قبرمبارک دهريوشی نه افضل دی، که هغه دمدينې ښاروي اوکه دمکې، ياکه کعبة الله وي ياعرش مجيدوي، دې کتاب کې حضرت علامة العصرالشيخ محمد يوسف بنوري مدظله دمعارف السنن جلد٣ ص ٣٢٣ باندې ډير تفصيل سره دې موضوع باندې بحث کړی دی، دهغه خلاصه داسې ده چې مبارک قبر او وواړه اسمانونو، عرش مجيد او کعبة الله نه افضل دی اودې کې دهيچا اختلاف نشته.

زمامحترم بزرګه زه دې خبرې سره مکمل طورباندې اتفاق کوم اودازماايمان دی چې لومړی بهترذات دالله تعالی دی. له هغه وروسته غوره اوبهترذات داخري نبي صلی الله عليه وسلم دی، پاتې ټول شيان په فضيلت کې کم دي، دا رښتيادی چې دکعبة الله شريف ډيرلوی عظمت اوفضيلت دی اوعرش عظيم، لوح وقلم وغيره خپل خپل عظمت اوفضيلت لري.

ددې نه يومسلمان هم انکارنه شي کولی، که انکاروکړي، نوهغه مسلمان نه پاتې کيږي، زمامحترم بزرګه! زمادوستانواوخپلوانوکې ځينې خلک دانه مني او وايي چې دحضور ﷺ

مبارکه روضه دکعبة الله اوعرش اعظم نه بهتره نه شي کيدای اوداسې خبرې نه دي کول پکار اوهغوی دقران مضبوط دليل غواړي. په دې وجه باندې زه ډيرزيات پريشان يم. چې کوم رښتيا ومنم اوچاته غلط ووايم. زه ډيرادب اواحترام سره تاسونه غوښتنه کوم چې دقران دليل اودحديثونو په رڼاکې ددې ځواب راکړئ، چې صحيح څه دي؟

جواب: کومه مسئله چې دې کتاب کې ذکرشوې ده. هغې باندې تقريباً داهل علم اتفاق دی. ددې وجه بالکل ښکاره ده. چې حضور ﷺ دټولومخلوقاتونه افضل دی. يومخلوق هم دحضور ﷺ نه افضل نشته اويوحديث کې دي چې انسان له دکومې خاورې پيداکيږي هلته خښيږي هم[1]، په کومه پاکه خاوره کې چې دحضور ﷺ پاک بدن خښ شوی دی، دهغې نه حضور ﷺ پيدا شوی هم دی اوکله چې حضور ﷺ افضل الخلق شو، نوهغه پاکه خاوره هم دټولومخلوقاتونه بهتره شوه.

له دې نه پرته کومواندامونوته چې دافضل الرسل، افضل البشر، افضل الخلق صلى الله عليه واله وسلم سره دلګېدوشرف حاصل شوی دی. هغه هم دنورومخلوقاتونه په دې وجه افضله دی چې دا شرف دهغوی نه پرته بل چاته نه دی حاصل.

ستاسودا ارشادبالکل صحيح اوحق دی چې "لومړی الله تعالى اوبياحضور ﷺ دی..

خودې مسئله کې دحضور ﷺ اوالله تعالى په مينځ کې څه مقابله نه شته. بلکې دحضور ﷺ او نورومخلوقاتوپه مينځ کې مقابله ده. کعبه ده اوکه عرش. کرسي ده. داټول مخلوقات دي، اوحضور ﷺ دټولومخلوقاتونه افضل دی اودقبرمبارکه خاوره يې مبارک بدن سره دلګېدوپه وجه افضله ده چې دمبارک بدن سره دلګيدوکوم سعادت دې ته حاصل دی. هغه نه کعبې ته حاصل دی، نه عرش ته اونه کرسي ته.

اوکه دچا داخيال وي چې ددې شيانونسبت دالله تعالى دطرف ته دی اودمبارک قبر نسبت دحضور ﷺ طرف ته دی، په دې وجه باندې داشيان ددې خاورې نه افضل پکاردي. نو ددې ځواب دادی چې ددې پاکې خاورې دحضور ﷺ سره ذ ملابست نسبت دی اودکعبې اوعرش اوکرسي الله تعالى سره دملابست تعلق نه دی. ځکه چې الله تعالى ددې نه پاک دی.[2]

---

[1] عن أبي سعيد الخدري قال : مر النبي صلى الله عليه و سلم بجنازة عند قبر فقال : قبر من هذا فقالوا : فلان الحبشي يا رسول الله فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم : لا إله إلا الله لا إله إلا الله سيق من أرضه و سمائه إلى تربته التي منها خلق (مستدرک حاکم ج:١،ص: ٣٦٧،وفاء الوفاء ج:١، ص: ٣٢ طبع بيروت)

[2] فلا شک ان مكة لكونها من الحرم المحترم اجماعا افضل من نفس المدينة ماعدا التربة السكينة ، فانها افضل من الكعبة بل من العرش على ما قاله جماعة(شرح الشفاء ج:٢،ص:١٦٢) قال الراقم (المحدث البنورى) وان شئت ان تستانس ذلک بدليل من السنة فلا حظ الى حديث رسول الله ص ان كل نفس تدفن فى التربة التى خلقت منها (كما رواه الحاكم فى مستدركه) معارف السنن ج:٣،ص: ٣٢٤)

په ولي او نبي کې څه فرق دی

سوال: په انبیاوو او اولیاوو کې څه فرق دی؟

جواب: نبي ته خامخ دالله تعالی له لوري احکام ورکول کیږي اوولي د خپل پیغمبر ﷺ تابعداري کوي.[۱]

هیڅ ولی، غوث، قطب، مجدد د هیڅ نبي اویا صحابي برابر نه دی

سوال: دولي، قطب، غوث، دستري تقواخاوند. ددین عالم یاامام په دې ټولوکې دکوم یو درجه د پیغمبرانو سره برابرېدای شي؟

جواب: هیڅ یوولي، غوث، قطب، امام، مجدد دیو ادنی صحابي درجې ته هم نه شي رسیدلی، د پیغمبرانو خوډېرلوی شان دی، علیهم الصلوة والسلام.[۲]

ایا دا د کفرالفاظ دي

سوال: مایوه ورځ یوسړي ته وویل: راځه چې دملاصاحب نه دمسئلو باره کې پوښتنه وکړو، که هغه غلط وي، نوموږبه هم هغه پرېږدو اودهغه خبرې به نه اورو. هغه ځواب راکړ چې زه هغه ته بالکل نه ځم، که هرڅه وشي، دهغه خبره به نه منم که زماڅټ هم پرې کړل شي، مابیااصرار وکړ، چې پوښتنه کولو کې څه بدي نشته. هغه انکارکاو اومااصرارکاو، تردې پورې چې هغه وویل: چې الله تعالی هم راشي او ووایي چې ددې ملاصاحب اومنهاودده خبره واوره. نوبیابه یې هم زه ونه منم اونه به یې خبره واورم. اوس پوښتنه داده چې داسې ویلوسره هغه له ایمان اواسلام څخه وځي اوکه نه؟

جواب: دهغه سړي دا الفاظ "که چېرې الله تعالی هم راشي اودا ووایي"، دکفرکلمه ده، هغه ته ددې الفاظونه توبه کول پکاردي اودخپل ایمان اونکاح تجدیدبه کوي. والله اعلم!

مسلوب الاختیار باندې د کفر فتوا

سوال: دمولانااشرف علي تهانوي رحمه الله دیوعقیدت مند بیان په "الامداد" رساله کې دصفرپه

۱] وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُوْحٰى (النجم:۳) وعلامة صحة الولی متابعة النبی فی الظاهر لانهما یاخذان التصرف من ماخذ واحد، اذا الولی هو مظهر تصرف النبی .... (کشاف اصطلاحات الفنون ج:۲،ص: ۱۵۲۹ طبع سهیل اکیډمی)

۲] والحاصل ان التابعین افضل الامة بعد الصحابة (شرح فقه الاکبر ص:۱۴۶) الولی لا یبلغ درجة النبی (شرح فقه الاکبر ص: ۱۴۸) ایضاً : وانکه گفتیم که اصحاب کرام بهترین بنی آدم اند .... چه هیچ ولی بمرتبه صحابی نرسد (مکتوباب امام ربانی مکتوب :۹۶ دفتر دوم)

میاشت کې داسې لیکل شوي دي چې:

ویده شوم، څه وخت وروسته خوب وینم چې کلمه شریف لااله الاالله محمد رسول الله لولم. خو د محمد ﷺ په ځای باندې دحضورنوم اخلم. دغه وخت مې زړه کې داخیال پیداشوچې تانه دکلمې په لوستلوکې غلطي وشوه. داصحیح لوستل پکاردي. ددې خیال په وجه باندې کلمه شریف په دویم ځل باندې لولم، زړه کې خومې داخبره ده چې صحیح به یې وایم. خوژبې نه مې غیرارادي طور باندې درسول الله ﷺ په ځای باندې داشرف نوم وځي. سره له دې چې ماته ددې خبرې علم شته چې داسې ویل صحیح نه دي، خوپرته داختیارنه مې دخولې نه کلمه داسې اداکیږي. دغه وخت کې راویښ شوم. خوبدن کې مې اوسه پورې بې حسي اوکمزوري وه. کله چې دبیداري په حالت کې راته دکلمې دغلطي خیال پیداشو. نو ددې خبرې اراده مې وکړه چې داخیال دزړه نه لیرې کړم. چې چېرته دا غلطي رانه بیاونه شي، هم دغه خیال کې کیناستم اودکلمې د غلطي دختمولوله پاره مې رسول الله ﷺ باندې درودشریف لوستل شروع کړل. خوبیاهم داسې وایم چې اللهم صلی علی سیدنا ونبینا ومولانا اشرف علي سره له دې چې اوس ویښ یم. خوب نه وینم. خومجبوریم. ژبه مې په خپل واک کې نه ده، هغه ورځ همداسې خیال راغی اوپه بله ورځ مې په بیداري کې ښه وژړل.

کتاب "عبارات اکابر، کې مصنف مولانامحمدسرفراز خان صفدرمدظله اوکتاب "سیف یماني، مصنف مولانامنظور نعماني مدظله ددې ځواب داسې ورکړی دی چې دخوب خبره خوپه یوه درجه کې هم داعتبارقابله نه ده، دخوب نه اسلام معتبردی اونه کفر، نه نکاح اونه طلاق. په دې وجه باندې دخوب په حالت کې چې ددې صاحب له خولې نه دکفرکوم الفاظ وتلي دي دهغو په وجه هغه ته نه کافرویل کیدای شي اونه مرتد. ځکه چې هغه کس هغه وخت کې دحضور ﷺ دارشادمطابق مرفوع القلم و اودبیداري په حالت کې چې هغه دبې اختیاري کوم عذر بیانوي، هغه دقران اوسنت مطابق خطاکې داخل ده، دبیداري په حالت کې په درودشریف کې چې دهغه له خولې نه دمحمد په ځای باندې اشرف علي وتلي دي هغه دخطاپه طورباندې وتلي دي اوشریعت کې چې څوک خطاسره دشرک کلمه ووایي. هغه باندې مواخذه نشته اوهغه به دچاپه نزد کافرهم نه وي.

خوزموږ ښارکهپروکې دمخالفې فرقې یوملاصاحب ددې ځواب "ځواب داسې ورکړی دی چې: داخطاکېدونکی بانه کوي اودهغې ډېروجې دي:

۱: داچې خطاپه لاشعوري کې کیږي، خطاکېدونکي ته پته نه وي چې هغه څه وکړل، اودلته هغه وایي چې هغه ته شعورشته اوهغه په دې غلطي باندې پوهیږي، مطلب داچې هغه څه وایي، قصداً یې وایي.

۲: دا چې خطا څه وخت له پاره وي، تول ورځ خطانه وي

اودلته دهغه دخولې نه تېوله ورځ دحضرت محمد ﷺ نوم په کلمه او درودشریف کې ادانه شو، اوهغه همدارنګه دکفر دکلمې ورد کاو، داد خطاشان نه دی.
۳: خبره داده چې که چېرې په خطاباندې مواخذه نشته. نوددې نه دانه ثابتیږي چې دکفر دکلمې داداکونکي، دخطادعوه به هرحال کې مقبوله وي.
شفاقاضي عیاض کې دي." لایعذر أحد في الکفر بالجهالة ولا بدعوی زلل اللسان.(ص ۲۸۵)
یعني کفرکې دناداني، جهالت او د ژبې دخطاکیدو دعوه کونکی کس چېرې هم معذورنه شي ګڼل کېدای اودفقې په کتابونو"بزازیه.او"ردالمحتار. کې تصریح ده که چېرې یوکس دکفر کلمه اداکړي اوبیادخطااودژبې دخطاکیدوبانه کوي. نوقاضی دې دهغه تصدیق نه کوي. په دې وجه باندې په ذکرشوې واقعې کې دهغه دخطادعوه نه قبلیږي اوهغه دکفرددې کلمې داداکولوپه وجه باندې کافرشو. مولوي اشرف علی تهانوي رحمه الله ددې داتعبیرښودلی دی چې، دې واقعه کې تسلي وه چې هغه طرف ته رجوع کوي، نوهغه په توفیق دالله دسنت تابعداري کونکی دی، مولوي اشرف علی تهانوي رحمه الله ددې کس په کفرباندې راضي دی او هیڅ قسمه انکاریې نه دی پرې کړی. هغه پخپله هم کافرشو. ځکه چې رضابالکفرهم کفرده.
۴: داچې ددیوبندیانوملامحمدانورشاه کشمیري په خپل کتاب "اکفارالمحلدین.، ص۷۳ کې لیکلي دي: (ترجمه) عالمانو فرمایلي دي چې دانبیاء علیهم السلام په شان کې جرآت کول کفردی، اګرچې توهین یې مقصدنه وي اوهم ددې کتاب په صفحه ۸۶ باندې یې لیکلي دي چې دکفرحکم په ظاهره باندې دی، په نیت اوقصدباندې نه.
اوهم ددې کتاب په صفحه ۷۴ باندې لیکل شوي دي چې: په صریح لفظ کې دتاویل دعوه نه قبلیږي اوفاسدتاویل دکفرپه شان دی.
ددې عبارتونونه معلومه شوه چې دحضور ﷺ په شان کې دتوهین الفاظ ویل کفردی اودې باره کې به دقایل دنیت اعتبار نه وي.که چېرې الفاظ محاورتاً یاعام طورباندې دتوهین الفاظ وي. نوهغه نه به کافرویل کیږي اودهغه به هیڅ بانه نه قبلیږي اوکه چېرې دصراحت باوجودڅه بانه وړاندې کوي. نوهغه بانه به فاسده وي اوفاسده بانه دکفرپه شان ده اودلته دبیداري په حالت کې دې کس په خپله خوله باندې په درودشریف کې اشرف علي ویلي دي، نوپه دې کې به هیڅ تاویل نه قبلیږي.
۵: داچې که چېرې داواقعه په طلاق باندې قیاس کړل شي. نوطلاق واقع کیږي. یعني که چېرې یوکس خپل ښځې ته ووایي چې ما تاته طلاق درکړ. طلاق درکړ. طلاق درکړاوبیا دخطا عذر وړاندې کوي او وایي چې مادابې اختیاري کې ویلي دي، مجبور وم،ژبه زماپه واک کې نه وه. نوایادهغه سړي مېرمن طلاقیږي اوکه نه؟ که طلاقیږي نوبیاعجیبه خبره ده چې طلاق کیدو کې خوداعذرقبول نه دی اومولوي اشرف علي ته خپل نبي او رسول ویلوکې

به داعذر قبول وي.

اوس مورته دقران او حديث او فقې په رڼاکې ددې خبرو تفصيل پکاردی:

۱: دقران او حديث او فقې په رڼاکې د "خطا". صحيح تعريف څه دی؟ او خطا په هرحالت کې غير شعوري طور باندې وي او که خطا کونکی په شعور کې هم کيدای شي؟

۲: ايا ذکرشوې واقعه کې دشعور باوجود د محمد ﷺ په ځای باندې دخولې نه اشرف علي وتل دهغه خطا وه؟ او ايا خطا بواځې دلږوخت له پاره وي او که دډيروخت له پاره هم کيدای شي؟

۳: کوم کس چې په خپله خوله باندې دکفرالفاظ ووايي او بياوايي چې زما اختيارنه و. مجبوروم، ژبه زما په واک کې نه وه او ما نه خطا شوې ده. نو ايا اسلامي شريعت کې دهغه د بې اختياري او خطادا دعوه قبوله ده؟ دقبلېدو په صورت کې دصاحب شفاقاضي عياض رحمه الله بيان شوي اعتراضونه او د بزازيه او رد المحتار دبيان شويو عبارتونو مطلب څه دی؟

۴: که چېرې اسلامي شريعت کې دحضور ﷺ شان کې دګستاخي په معامله کې دڅاڼاپوهي جهالت، دژبې خطاکيدل. بې اختياره کيدل. دڅه خفګان يانشې په وجه باندې ناچاره او مجبوره کېدل، دنګراني د کمې په وجه يابې پروايي او بې باکي ياقصداً اونيت او ارادې نه پرته ګستاخي کولوعذرونه قبول نه وي اوصريح الفاظو کې دتاويل دعوه نه قبليږي، نودپورته بيان شوې واقعې صحيحه توجيه څه ده؟

۵: که چېرې يوسړی خپلې ښځې ته په ښکاره الفاظوکې طلاق ورکړي او بياوايي چې بې اختياره وم، مجبور وم، زمانيت دطلاق ورکولو نه و. زمادخولې نه خطاسره دطلاق الفاظ ووتل، نو ايادهغه طلاق واقع کيږي او که نه؟ که واقع کيږي. نوطلاق کيدو کې داعذر قبول نه دی او دکفردالفاظو اداکولو کې دخطااودژبې دخطاکيدوعذرقبليږي، نودواړوکې فرق څه دی؟ اوکه چېرې دکفردالفاظو داداکولونه وروسته دخطاعذرنه قبليږي. نوبياووايئ چې ددې صاحب کوم چې دبيداري اوشعورپه حالت کې واودايې محسوسوله چې زه درودپاک غلط لولم، کافردی او که نه؟

جواب: حديث شريف کې دهغه کس واقعه ذکرشوې ده، دکوم نه چې سورلۍ ورکه شوې وه اودهغه دمرګ په ګمان باندې ونې لاندې څملاسته. کله يې چې سترګې وغړولې، نو وې ليدل چې سورلۍ يې دخپل سامان سره موجوده ده. نوبې اختياره دهغه له خولې نه ووتل.

اللهم انت عبدی وانا ربک (اې الله! ته زما بنده يې اوزه ستارب.)

دادکفرالفاظ دي، خودې باندې حضور ﷺ دکفرفتوا نه ده لګولې. بلکې وېې فرمايل:

خطامن شدة الفرح، دډيرې خوشحالۍ په وجه دهغه خوله خطاشوه، ستاسوملاصاحب به ددې کس او دحضور ﷺ باره کې څه فتوا ورکوي؟ اوقران کريم کې دي: **الامن اکره وقلبه مطمئن بالايمان**، دمجبوري په حالت کې دکفرالفاظ ويل کله چې زړه په ايمان باندې مطمئن

وي، الله تعالى دايمان فتوا ورکړې ده. دکفرنه. کوم عبارتونه چې دې صاحب نقل کړي دي.
دهغو دې واقعې سره هيڅ تعلق نشته. يوکس خپل شيخ سره غير اختياري حالت کې ذکرکوي، که چېرې دهغه په ژبه کې کفر واى اويايې دخولې نه اختيارى طورباندې دکفرالفاظ وتلي واى، نوهغه به ددې اظهارخپل شيخ ته ولې کاو؟ کوم کس چې په څه وجه باندې په خپل اختيارکې نه وي هغه باندې اسلامي شريعت دکفرفتوا نه لګوي. لايكلف الله نفسا الاوسعها، دقران کريم ايت دى. ماته پته نشته چې مسلوب الاختيارباندې دکفرفتوا کوم شريعت ورکړې ده؟ پاتې شوه داخبره چې يوسړى دادعوه کوي چې هغه مسلوب الاختيار و اوکه نه. هغه دکفرالفاظ اداکوي. ياطلاق ورکوي اوکله چې هغه ونيول شي. نوهغه دمسلوب الاختيار دعوه کوي، نو دا دعوه دښکاره حالاتوخلاف ده، په دې وجه باندې به هغه نه شي اوربدل کيداى، کوم عبارتونه چې ملاصاحب نقل کړي دي، دهغو هم دامطلب دى. خودمانحن فيه (دې مسئلې) دې صورت سره هيڅ تعلق نشته. ځکه چې دده الفاظ مخکې چانه نه واوربدلي. هغه پخپله باندې شيخ ته ددې الفاظوذکرکولوسره خپل مسلوب الاختيارکيدل ذکرکړي و. په هرحال هغه صاحب خوالله تعالى ته رسيدلى دى اومادقران اوحديث په حواله باندې ذکر وکړ چې الله تعالى اودهغه رسول ﷺ په هغه کس باندې دکفرفتوا نه جاري کوي، که ددغه ملاصاحب دالله تعالى اودهغه درسول ﷺ په فتوا باندې اعتمادنه وي اوهغه داسې کس باندې دکفرفتوا جاري کوي. نوهغه ته بايدوويل شي چې انشاء الله ته به هم دالله تعالى دربارته حاضريږې. هلته به دټولوخبروعدالت وي. ستاسو مقدمه به هم وړاندې کيږي. خپلې ټولې فتواوې دهغې ورځ له پاره وساتئ. موږبه هم ګوروچې څوک ګټه کوي اوڅوک تاوان؟ الله تعالى دې راته د زړونوله مرضه خلاصى نصيب کړي. بالکل هم دا سوال يوڅوورځې مخکې هم راغلى و. دهغه ځواب کې مې په بل انداز کې ليکلي و ،هغه هم ولولئ!

الزامي ځواب خودادى چې تذکرة الاولياء وغيره کې دا واقعه ذکرشوې ده. چې يوکس حضرت شبلي رحمه الله ته بيعت له پاره راغى، حضرت ترې نه پوښتنه وکړه چې کلمه څنګه لولې؟ هغه وويل چې لااله الاالله محمدرسول الله، ورته ويې فرمايل چې داسې ولوله. شبلي رسول الله، هغه هم هغه شان ولوستله. حضرت ورته وفرمايل چې داشبلي څوک دى؟ ماخو ستا امتحان اخست، وفرمايئ! دحضرت شبلي رحمه الله اودهغه دمريدباره کې ستاسوڅه خيال دى؟
اوتحقيقي ځواب دادى چې دهغه صاحب مقصداصل کلمه لوستل و. څنګه چې له ټولې واقعې نه معلوميږي اوعقيده کومه چې دزړه کاردى هغه صحيح وه، البته دخولې نه يې نور الفاظ ووتل اوهغه ددې الفاظ دکفر ګڼلوله وجې توبه کوله اوکوشش يې کاوه چې صحيح

الفاظ اداکړي، خودخولې نه یې نور الفاظ وتل اوهغه پرې ژړل. زارۍ اوژړايې کوله اوترڅو پورې چې دغه حالت نه ختمیږي. هغه داضطراب په حالت کې واوکله چې ترې نه غیراختیاري حالت ولاړ، نوهغه ددې اطلاع خپل شیخ ته وکړه. چې دهغه ددې غیراختیاری کارکفاره اداکړي ، دې تولې واقعې ته کتلونه وروسته څوک دې ته دکفرالفاظ ویلی شي؟ ایا الله تعالی په غیراختیاري حالت باندې هم دمواخذې اعلان کړی دی؟ که چېرې شته. نوهغه کوم ایت دی؟ یاحدیث دی؟

۱: دملاصاحب داویل چې دخطابانه فضول ده. صحیح ده. څوکوم کس چې خپل اختیارکې نه وي، دهغه باره کې دافتوا ده؟ که داسې وي. نوپه کوم کتاب کې ده؟ **الامن اکره وقلبه مطمئن بالایمان**، دقران او ددې فتوا ترمنځ خلاف دی.

۲: داصحیح ده چې خطاد لږوخت له پاره وي، خومسلوب الاختیار کیدل اختیاري شی نه دی، چې دې کې دې وخت معلوم کړل شي، که چېرې یوانسان ټوله ورځ په خپل اختیارکې نه وي، نودې کې دهغه څه قصوردی.

۳: هغه اختیاري طورباندې دکفر کلمه نه ده ادا کړې ده اونه هغه ددې دعوه کوي. بلکې هغه خودمسلوب الاختیارکیدوخبره کوي. شفا قاضي عیاض رحمه الله دعبارت حقیقت ایامسلوب الاختیاردی؟ نه؛ بلکې په قصدباندې دکفرکلمه اداکولونه وروسته تاویل کونکی ددې نه مراددی.

۴: دجهالت، ناپوهي، یادژبې دخطاکیدوغیره کومې حوالې چې د الدر المختار او ردالمختارنه ورکړل شوي دي. هغه خودې صورت کې دی چې قاضي ته دیوکس باره کې شکایت شوی وي. قاضي دهغه نه پوښتنه وکړي اوهغه داعذروړاندې کړي چې ماته پته نه وه چې داګستاخي ده، یاخوله مې خطاشوه، یاداچې زه هوش کې نه وم اودهغه ددې دعوې نه پرته هغه سره بل هیڅ دلیل نه وي، نوقاضي به دهغه داعذرنه مني، بلکې هغه ته به سزاورکوي،(داسې نه چې هغه دسزانه بري کړل شي)

کله چې دې واقعې کې قاضي ته شکایت نه دی شوی اونه هغه دخپل جرم تاویل کړی دی، هغه صاحب باندې چې غیراختیاري طورباندې څه تیر شوي دي اوځنګه چې هغه بالکل مسلوب الاختیارو، هغه خپله واقعه خپل شیخ ته کوي اوفرمايي چې دقضا مسئلې سره ددې څه تعلق دی.

۵: ددې واقعې تعلق فیمابینه وبین الله دی اودطلاق الفاظ یوه معامله ده، چې دهغې تعلق ښځې سره دی، ښځې دهغه دخولې نه دطلاق الفاظ اوریدلي دي اودمعاملاتوتعلق ظاهري الفاظوسره دی، په دې وجه باندې ښځه دهغه خبره باندې یقین نه کوي اوعدالت به هم باور نه کوي، خوکه هغه ربښتیا مسلوب الاختیارو، نوفیمابینه وبین الله به طلاق نه

کیږي او که چېرې ښځه د هغه په حالت باندې اعتماد وکړي او د هغه مسلوب الاختیار کېدل ومني، نو فتوا به هم داوي، چې فیما بینه و بین الله طلاق نه دی واقع شوی
۲: د حضرت کشمیري رحمة الله علیه حواله صحیح ده. خو هلته د کفر نه بلکې د رضا بالکفر سوال دی.

قضا او دیانت کې فرق

سوال: تاسو چې څه لیکلي دي د هغو خلاصه داده چې کوم صاحب سره واقعه شوې وه. هغه په خپل اختیارکې نه و او کوم کس چې په څه وجه باندې خپل اختیارکې نه وي. نو هغه باندې اسلامي شریعت د کفر فتوا نه لګوي. خو ستاسو په دې خواب باندې چې "هغه صاحب مسلوب الاختیار و. یو څو شکونه بیانوي. کوم چې په فتاوي خلیلیه کې حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمة الله علیه مشرمدرس مدرسه مظاهرالعلوم سهارنپور هم د دې واقعې باره کې لیکلي دي. دا یو حقیقت دی چې په لیکلو ډېر وخت لګیږي. بیا ستاسو په شان مصروف کس له پاره به نور هم مشکل وي. خو که چېرې د دې شکونو تفصیل سره تحقیق وشي. نو ستاسو تحریر به انشاء الله د زرګونو خلکو له پاره. کوم چې د دیوبند اکابرینو او عالمانو سره بغض او کینه لري، د هدایت ذریعه جوړ شي، زما شکونه دا دي:
۱: شک چې د هغه دا دعوه چې زه بې اختیاره یم او ژبه مې په واک کې نه ده. هغه وخت کې شرعي طورباندې معتبروي. کله چې د هغه د مجبوري او بې اختیاري سبب د هغه شیانو په وجه باندې وي، د کومو په وجه باندې چې عام طورباندې اختیار ختمیږي. مثلاً لیونتوب. نشه، زور، په موجوده حالت کې کوم حالت چې هغه سړي ته پېښ شوی دی. د هغه له پاره څه داسې وجه نشته کوم چې عام طورباندې هوش ختمونکی وي. ځکه چې د هغه د بې اختیاري وجه د هغه په کلام کې نشته چې د هغې په وجه باندې د هغه اختیار ختم شي.
۲: شک که چېرې داسې څه وجه شته. نو هغه د مولانا د مینې غلبه ده او د مینې غلبه په اختیارکې نه ده، د مینې په غلبه کې د اطراء تحقق کېدای شي. کوم چې شارع علیه التحیة والتسلیم منع فرمایلې ده. **لاتطرونی کما اطرت الیهود والنصارٰی ولکن قولوا عبدالله ورسوله.** او که چېرې د مینې غلبه او د هغې وجه اختیار ختمونکی وي. نو **نهی عن الاطراء** ته به نه متوجه کېده بلکې معذور به ګڼل کېده. **نهی عن الاطراء** پخپله باندې د دې خبرې دلیل دی چې د مینې غلبه اختیار ختمونکې نه ده. په دې وجه باندې "اطراء. نه حضور ﷺ منع کړې ده، په دې وجه باندې به شرعي طورباندې د هغه دا دعوه نه منل کیږي.
۳: شک که چېرې د الفاظو دا کولو وخت کې د هغه سړي ژبه په خپل واک کې نه وه، نو دا خو د هغه په اختیارکې و. چې کله هغه دا پته وه چې زه بې اختیاریم او مجبوریم او صحیح طورباندې خبرې نه شم کولې. نو د کفر کلمه اداکول به یې پرې ایښې و. په داسې حالت کې

به هغه ته د دې کلمې دا دا کولو دا حکم وي چې هغه به شرعي طور باندې معذور نه ګڼل کیږي.
علامه شامي رحمه الله درد المحتار په حاشیه کې په باب المرتد کې لیکلي دي:

وقوله لايفتى بكفر مسلم أمكن حمل كلامه على محمل حسن ظاهره أنه لايفتى من حيث استحقاقه للقتل ولا من حيث الحكم ببينونة زوجته وقد يقال المراد الأول فقط لأن تأويل كلامه للتباعد عن قتل المسلم بأن يكون قصد ذلك التاويل وهذا لاينافي معاملته بظاهر كلامه فيما هو حق العبد وهو طلاق الزوجة بدليل ماصرحوا به من أنه إذا أراد أن يتكلم بكلمة مباحة فجرى على لسانه كلمة الكفر خطاء بلا قصد لايصدقه القاضي على لسانه كلمة الكفر خطأ بلا قصد له يصدقه القاضي وإن كان لايكفر فيما بينه وبين ربه تعالى فتأمل ذلك!

او علامه شامي رحمه الله بل ځای په باب المرتد کې لیکي:

وفي البحر عن الجامع الصغير إذ أطلق الرجل كلمة الكفر عمداً لكنه لم يعتقد الكفر قال بعض اصحابنا لايكفر لأن الكفر يتعلق بالضمير على الكفر وقال بعضهم يكفر وهو الصحيح عندي لأنه استخف بدينه.

دې نه پرته تاسو چې د هغه صاحب د "مسلوب الاختيار والي". له پاره د قران مجید کوم ایت وړاندې کړی دی. هغه ایت خوښکاره طور باندې د مکره له پاره دی او دغه صاحب ښکاره خبره ده چې مکره نه و. الا من اکره وقلبه مطمئن بالایمان.

جواب: ستاسو دلومړي خط ځواب ما دخپل ناقص علم مطابق بیان کړ. زما د بحث کولو عادت نه دي، بلکې چې کوم کس زما د ځواب نه مطمئن نه شي هغه ته وایم چې په خپل تحقیق باندې عمل وکړه. تاسو دې باره کې په دویم ځل باندې سوالونه راولیږل. او ما پرته د ځواب نه درولیږل، خو تاسو هم دا سوالونه بیا را ولیږل. او ضد کوئ چې ځواب درکړم، ستاسو په اصرار باندې یو ځل بیا لیکم. که شفا ونه شي. نو بیا بل چاته رجوع وکړئ. زما د طرف نه بیا معذرت دی.

۱: حضرت اقدس مولانا خلیل احمد سهارنپوري مهاجر مدني نورالله مرقده زما شیخ الشیخ دی، او زما له پاره سند او حجت دی.

۲: حضرت په دې نکتې باندې بحث کړی دی چې ایا قضاء د هغه مسلوب الاختیار کس خبره تسلیموي؟ او حضرت رحمه الله پخپله باندې هم لیکلي دي چې فیما بینه وبین الله نه په هغه کس باندې د ارتداد حکم کیدای شي او نه د ایمان او د نکاح د تجدید او د قضاء مسئله ما مخکې واضحه کړې ده، هغه یو ځل بیا ولولئ!

د جهالت، ناپوهي او د خولې د خطا کیدو کومه حواله چې په الدرالمختار او ردالمحتار کې

ورکړل شوې ده، هغه خودې صورت کې ده چې قاضي ته دیو کس باره کې شکایت شوی وي، قاضي دهغه نه پوښتنه وکړي او هغه داعذرو وړاندې کړي چې ماته پته نه وه چې داګستاخي ده، یا مې خوله خطاشوه، یاداچې زه هوش کې نه وم اوله هغه سره ددې دعوې نه پرته بل هیڅ دلیل هم نه وي، نو قاضي به دهغه داعذرنه مني. بلکې هغه ته به سزا ورکوي، «دانه چې هغه به دسزانه بري کیږي»

کله چې دې واقعې کې نه قاضي ته شکایت شوی دی اونه هغه دخپل جرم تاویل کړی دی. هغه صاحب باندې چې غیراختیاري طورباندې څه تیر شوي دي اوځنګه کې چې هغه بالکل مسلوب الاختیارو. هغه واقعه هغه خپل شیخ ته کوي اوفرمایي چې دقضا مسئلې سره ددې څه تعلق دی؟

کله چې حضرت پخپله باندې تصریح فرمایي چې فیمابینه وبین الله دې باندې نه دمرتدکیدوحکم کیدای شي اونه دایمان اونکاح دتجدیداوداقضیه په عدالت کې هم نه ده وړاندې شوې چې دې باندې خبرې وکړل شي چې قضاء ددې څه حکم دی؟ نودې باندې دبحث کولوڅه نتیجه شوه؟

۳: ددې ځای څخه ددریوواړوشکونوځواب حاصلیږي، کوم چې تاسو دفتاوی خلیله په حواله باندې ذکرکړي و.

۱: داصحیح دی چې دلته داختیارختمونکواسبابوڅخه په ښکاره ډول کوم سبب نشته، خوسالکینوته کله ناکله داسې حالات پېښیږي. چې دهغوپه حقیقت یواځې دهغه کس نه پرته بل چاته معلومات نه کیږي، قاضي خوبه بې شکه عامو حالاتوته ګوري، خوشیخ. دهغه کس دهغه حالت له نظره نه شي غورځولی، دکوم حالت نه چې سالک تیریږي، که چېرې هغه مریدته په خاص خیال باندې نظرنه کوي، نوهغه بیا شیخ نه بلکې نادان دی، دفتاوی خلیله دصاحب بحث خوقضاء ده، خوسلوکي حالات دقضاء په دائره کې داخل نه دي.

۲: دمینې غلبه په اطراءکې داخله ده. له کومې نه چې حضورﷺ منع کړې ده. ذا بالکل صحیح ده، خوداپه هغه صورت کې ده کله چې دامینه قصداً اوپه اختیارکې وي اوکه چېرې دمینې غلبه کې داسې حالت جوړشي چې دی په خپل اختیارکې نه وي، نودې باندې دمنع کړل شوې اطراء حکم نه جاري کیږي. بلکې دبې هوشۍ حکم به پرې جاري کیږي، داولیاء الله د زرګونو شطحیاتو (خلاف شرع خبرو) توجیه آخر ددې نه پرته څه ده؟

۳: کله چې ورته داپته وه چې ژبه مې خپل اختیارکې نه ده. نوهغه خاموشي ولې اختیارنه کړه، تکلم بکلمة الکفر یې ولې وکړ؟ کوم الفاظ چې هغه اداکړي و. دهغو باره کې خوهغه نه پته وه چې دژبې دبې واکه کېدوپه وجه باندې هغه دکفرالفاظ اداکړل، خوهغه دچپ کیدوپه ځای باندې دصحیح الفاظوداداکولوکوشش په دوو وجو وکړ، یوداچې دهغه

دا اميدوچې اوس به دهغه دخولې نه صحيح الفاظ اداشي. چې دهغه په وجه به دمخکې الفاظوګناه ختمه شي، دويم داچې هغه سره داغم وکه چېرې هم دې وخت کې ورته مرګ راشي، نو(نعوذبالله) دکفرپه الفاظوباندې به يې ژوندختم شي، په دې وجه باندې هغه کوشش کاوچې دژبې نه يې صحيح الفاظ اداشي. چې دمخکې الفاظواصلاح هم وشي اود مرګ دخرابېدو ويره يې هم ختمه شي.

غرض داچې دادرې شکونه کوم چې تاسونقل کړي دي هغه دباب قضادي. اولږشان کوشش سره داشکونه ختميداى شي.

۴: پاتې شوه داخبره چې دغه صاحب خومکره نه و. بيامو ايت شريف الامن اکره، ولې ذکر کړ؟ ددې ځواب دادى چې مکره کې اختيارختم نه وي، بلکې رضاختمه وي. ځنګه چې دهدايه مصنف ددې وضاحت کړى دى اوپه هم دې وجه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دمکره طلاق واقع کيږي اوددغې واقعې والاصاحب مسلوب الاختيارو. نودايت شريف نه استدلال ددلالت په طورباندې دى، يعنې کله چې داکراه په حالت کې قلبه مطمئن بالايمان، وي. نو د کفرپه کلمې باندې به مواخذه نه وي. نودکوم کس چې مسلوب الاختياروي، نوهغه باندې به مواخذه په درجه اولى سره نه وي.

۵: زموږ بريلوي وروڼه الله تعالى زموږ داکابرينو ددرجو د اوچتولو له پاره تجويزکړي دي، ددې حضراتودعمل په وجه باندې نه زموږ داکابرينوڅه نقصان کيږى اونه يې دتکليف نه پرته څه خرابيږي، قران کريم د اخيارو باره کې فرمايي: لن يضروکم الاذى، خودخپل بريلوي وروڼودخير خواهئ له پاره بايدعرض وکړم چې:

۱: دکوم صاحب باره کې چې دابحث دى، ډيروخت وشوچې هغه دالله تعالى دربارته رسيدلى دى، اوهغه احکم الحاکمين کوم چې د هرچا له ظاهراوباطن څخه خبردى، هغه به ددې صاحب باره کې فيصله کړي وي، دالله تعالى دفيصلې نه وروسته ستاسوبحث فضول دى اوفضول اوبې ګټې شيانوکې مشغولېدل دمومن دشان خبره نه ده.

۲: په ټولوعدالتونوکې ددعوي ګيردمرګ نه وروسته مقدمه ختميږي. دمرحوم دوفات نه وروسته نه تاسوهغه ته دايمان دتجديد مشوره ورکولى شئ اونه دنکاح دتجديد، که دامشوره ورکول کيداى شوه، نودمرحوم په ژوندکې ممکنه وه.

۳: که چېرې تاسوپه هغه صاحب باندې دکفرفتوا جاري کړئ اوالله تعالى دهغه دايمان فيصله کړي وي، نوستاسوفيصله به دالله تعالى دفيصلې خلاف وي، اوس تاسوپخپله ووايئ چې دې کې به نقصان دچاوي؟

۴: حضور صلى الله عليه وسلم هم داحقيقت داسې بيان کړى دى

لاتسبوالاموات فانهم قدافضواالى ماقدموا، (مړوته بد رد مه وايئ! ځکه چې هغوى څه مخکې

لیږلي دي،هغه ته وړاندې شوي دي)
تاسویوه پخوانۍ خبره باربارکولوسره دحضور ﷺ دارشاد مخالفت کوئ. دکومې مقدمې فیصله چې دټولونه اوچت عدالت کې شوې ده، درجم بالغیب په دذریعه باندې ددې فیصلې مخالفت هم په خپل سراخلئ. دعقل اوانصاف غوښتنه مو پریښې ده اوفضول کارونوکې مشغول شوي یئ.
په دې وجه باندې زمامشوره داده چې تاسوددیوبندیانوپه مخالفت کې دخپل ځان له پاره خطرې مه پیداکوئ، که دبحث او مناظرې شوق مووي. نو په سلګونونور موضوعات هم شته. ولله الحمد اولاواخراً.
مراد ما نصیحت بود وکرد یم حوالت با خدا کر دیم ورفتیم

ایا ګوتم بُدهـ په پیغمبرانو کې شمېرل کیږي؟

سوال: تعلیم یافته اودنوي ذهن والا خلک .خوګوتم بدهـ هم په پیغمبرانو کې شماري داخبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په قران اوحدیث کې چرته هم دده ذکرنه دی راغلی ځکه موږ په یقین سره هیڅ نه شو ویلی . شرعي حکم دادی چې دکومو پیغمبرانو نومونه په قران کې ذکرشوي دي په هغوی باندې خوپه تفصیل سره یقیني ایمان ساتل ضروري دي اوپه باقي پیغمبرانو باندې اجمالاً ایمان ساتل واجب دي. چې دوی الله پاك دخلکو هدایت له پاره رالیږلي وو. که دهغوی تعلق له هرځای سره وي اوپه هره زمانه کې وي، موږپه ټولوباندې ایمان لرو.[1]

یوولي یاپیغمبر وسیله جوړول روادي؟

سوال: قران مجیدکې خوصفاصفا راغلي دي چې څه غوښتنه کوئ له ماڅخه یې غواړئ. خو بیاهم دیو ولي یا پیغمبر وسیله جوړول څه حکم لري؟

جواب: دوسیلې پوره تفصیل اودهغه صورتونه زمادکتاب (اختلاف امت اورصراط مستقیم) په اوله برخه کې وګورئ[2]. بزرګان مخاطب کول اودهغوی نه غوښتنه خوشرك ده. خو دالله نه غوښتل اوداسې ویل چې یاالله! دخپلونیکواومقبولو بندګانوپه طفیل زما فلانی مرادپوره کړې شرك نه دی.
دصحیح بخاري په اول جلدکې ص۱۳۷ باندې دحضرت عمر رضی الله عنه دادعانقل شوې ده.

---

[1] (ورسله) بان تعرف انهم بلغوا ما انزل الله الیهم وانهم معصومون وتؤمن بوجودهم فیمن علم بنص او تواتر تفصیلاً وفی غیرهم اجمالاً (مرقاة شرح مشکوة ج:۱،ص: ۵۰)
[2] اوګورئ اختلاف امت او صراط مستقیم ص:۶۳ تا ۷۶)

"اللهم انا كنا نتوسل اليك بنبينا فتسقينا وانا نتوسل اليك بعم نبينا فاسقنا".

ترجمه: "یا الله مونږ به ستا په دربار کې د خپل نبي ﷺ په ذریعه توسل کاوو. تا به مونږ باندې د رحمت باران کاو. اوس مونږ د خپل نبي د تره (عباس رضی الله عنه) په ذریعه توسل کوو. نو مونږ باندې د رحمت باران وکړې.

د دې حدیث نه په نبي علیه السلام او په اولیاوو دواړو باندې وسیله نیول ثابت شو. په کوم شخصیت سره چې وسیله نیول کیږي. نو هغه به د سفارش په ډول مخکې کول مقصود وي.

انبیاء او اولیاء وغیره په دعاګانو کې وسیله جوړول

سوال: یو صاحب په خپل کتاب "وسیلے واسطے" کې لیکلي دي چې کوم خلک مړه شوي بزرګان، انبیاء کرام اولیاء یا شهدا په خپلو دعاګانو کې وسیلې جوړوي. دا شرک دی ایا دا همدا سې ده؟

جواب: د هغه صاحب دا ویل چې د بزرګانو په وسیله باندې دعا کول شرک دي، بالکل غلط دي. له بزرګانو خو غوښتنه نه کیږي. غوښتنه خو د الله تعالی نه کیږي. بیا د الله تعالی نه غوښتل ولې شرک شو؟

په حق د فلاني سره د دعا کولو شرعي حکم

سوال: په حق د فلاني او په حرمت د فلاني سره دعا کول څنګه دي په قران او حدیث کې د دې څه ثبوت شته او که نه؟

جواب: په حق د فلاني او په حرمت د فلاني سره دعا کول هم د توسل یو صورت دی. نو د دې وجې نه په دی الفاظو سره دعا کول جایز دي او دا د حضراتو مشائخو معمول هم دی. "حصن حصین" او "الحزب الاعظم" د ماثوره دعاګانو مجموعې دي. په هغه کې په ځینې روایاتو کې "بحق السائلین علیک" "فان للسائل علیك حقًا" وغیره الفاظ منقول دي، چې د هغه نه د دې په جواز او غوره والي دلیل نیولی شو. زمونږ په فقه کې دی ته مکروه ویل شوي دي. د دې توجیه مې هم په "اختلاف امت اور صراط مستقیم" کې کړې ده.[1]

د یوې غلطې عقیدې امام باره کې د دیوبند د بزرګانو مسلک

سوال: د دین عالمان د دې کس په باره کې څه فرمایي چې د یو جومات امام وي او د قران کریم درس هم ورکوي. جومات د علماء دیوبند د منتسبینو او امام صاحب هم د دیوبندي په حیثیت تا کل شوی و. خو د هغه عقیدې دا دي:

---

[1] تفصیل له پاره هغه د مذکوره کتاب اولنۍ حصه اوګورئ ص: ۶۳ تا ۷۰۔

۱:د سورة يوسف په درس کې د حضرت يوسف عليه السلام او د زليخا دنکاح په بحث کې يې دزليخا په باره کې وويل چې هغه زانيه، بدکاره اوکافره وه، ددرس ځينې شريکانوچې کله عرض وکړچې په فلاني فلاني تفسيرکې ليکل شوي دي چې نکاح شوې وه، مثلاً:معارف القران. نوويې ويل چاچې ليکلي دي هغه هم بې ايمانه اولعنتي دی.

۲:د تبليغی جماعت سخت مخالفت کوي، هغوی په جومات کې نه پريږدي اود حضرت شيخ الحديث متعلق يې وويل چې هغه مشرک مړشواوکنځل يې ورته وکړې او ويې ويل چې :په دې تبليغي نصاب کې ګنداوشرک ګډ شوی دی، دتبليغي نصاب په توهين کولوکې دې ته ، ،کتابړی او ،شتابړی، ،په نومونوسره يادوي.

۳: ځينې دديوبنداکابرعالمان مثلاً: حضرت مولانا احمدعلي لارهوي اوحضرت محدث العصر مولانامحمديوسف بنوري په باره کې يې وويل چې داحضرات مشرکان وواودشرک په حالت کې مړه شوي دي.

۴:وسيله بالذوات الفاضلة (مثلاً:انبياء عليهم السلام اوصلحاء امت) ته شرک اوکفروايي اوځوک چې دچابزرګ په وسيلې سره دعاوغواړي هغه ته هم مشرک وايي.

۵:دانبياء عليهم السلام له حيات برزخي في القبورنه انکارکوي اوقايلين حيات علماء ديوبندته مشرکان وايي.

۶:دسماع موتی قايلينوته هم مشرکان وايي.

۷:دخپلې راې په باره کې وايي چې دا حتما اواخري ده اوبل عالم تردې چې خپل استاذان هم نه منم.

اوس دمحلې والا غوسه دي، چې داسې کس موږ امام نه ساتواوس له ستاسودلاندې سوالونو ځوابونه مطلوب دي:

۱:ايا داسې کس داهل سنت والجماعت نه دی؟

۲:ايا داسې کس ته به ديوبندي ويل کيږي؟

۳:ايادداسې کس امامت اوله هغه وروسته لمونځ کول جايزدي اوکه نه؟

۴:ايادغه کس به د کفرد حکم مستحق وي اودده ښځه به مطلقه وي؟

جواب: په سوال کې چې دکوم صاحب نظريات بيان شوي دي که هغه رښتيا ددې نظرياتو والا وي، نو داهل سنت والجماعت نه خارج دی، ځکه چې چامسلمان ته (بيا عالم اوبزرګ ته) بې ايمان، لعنتي اومشرک ويل، داهل سنت دعقيدې خلاف دي[1]، په وسيله بالوجه

---

[1] عن عبد الله قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم (سباب المسلم فسوق وقتاله كفر (بخارى ج:۲،ص:۸۹۳)

المشروع اهل سنت قایل دي[۱]. همدارنګه حیات بزرخي في القبور هم مني[۲]. او سماع الموتی دصحابه کرامو دور نه مختلف فیها مسئله ده. د سماع الموتی قایلینو ته مشرک ویل ګویا (نعوذبالله) صحابه مشرکان ګڼل دي[۳]. نعوذبالله من الزیغ والضلال.

غرض داچې ددې کس نظریات دخوارجو اوروافضو په شان دي. له دې وجې نه دده اهل سنت سره هیڅ واسطه نشته.

۱: حضرات اکابردیوبندهم داهل سنت یو مکتب فکردی. څوک چې په کتاب او سنت باندې عمل کونکي، دحنفیت شارحین، سنتو ته بلونکي، دبدعت له منځه وړونکي، دناموس صحابه علم برداردي، نوکوم کس چې داهل سنت نه منحرف وي هغه دیوبندي نه شي کېدای، داکابر دیوبند نظریات په زیربحث مسائلوکې هغه دی کوم چې: المهند علی المفند، کې زموږ شیخ المشائخ حضرت اقدس مولانا الحاج الحافظ الحجة الثقة الامین السیدي خلیل احمد سهارنپوري ثم مهاجرمدني قدس سره لیکلي دي او په هغو باندې زموږ دټولو اکابرو لاسلیکونه اوتصدیق دی، کوم کس چې ددې رسالې له مسایلو سره موافق نه وي هغه دیوبندي نه دی، زموږ داکابردیوبندواقعي ددې شعرپه شان دي:

درکف جام شریعت درکف سندان عشق هرهوسناکے نه داندجام سندان باختن!

۲: داکس دطائفه منصوره اهل سنت نه منحرف دی له دې وجې نه دده په اقتداء کې لمونځ کول جائزنه دي[۴] اودی دامام کولواهل نه دی، دمحلې والا مکلف دي چې دی دامامت دمنصب نه معزول کړي.

۱] ان التوسل بالنبی صلی الله علیه وسلم جائز فی کل حال قبل خلقه وبعد خلقه فی مدة حیاته فی الدنیا وبعد موته فی مدة البرزخ وبعد البعث فی عرصات القیامة والجنة (شفاء السقام ص: ۱۲۰)

۲] ...فمحصل الجواب ان الانبیاء احیاء فی قبورهم فیمکن لهم سماع..الخ(مرقاة شرح مشکوة ج۲ ص۲۰۹)

۳] جواب : دې مسئله کښې د حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین د دور نه اختلاف دی د دې هیڅ فیصله نه کیږي وګورئ! فتاوی رشیدیه ص:۱۰۸ (طبع اداره اسلامیات لاهور) فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ تُكَلِّمُ أَجْسَادًا لاَ أَرْوَاحَ فِيهَا قَالَ « مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ غَيْرَ أَنَّهُمْ لاَ يَسْتَطِيعُونَ أَنْ يَرُدُّوا عَلَيَّ شَيْئًا...... اعلم رحمک الله ان عائشة رضی الله عنها قد انکرت هذا المعنی واستدلت بقوله تعالی : فانک لا تسمع الموتی وقوله : ومآانت بمسمع من فی القبور ولا تعارض بینهما لانه جائز ان یکونوا یسمعون فی وقت ما او فی حال ما فان تخصیص العموم ممکن وصحیح اذا وجدا المخصص (التذکرة فی احوال الموتی وامور الآخرة علامه قرطبی ص: ۱۶۴. طبع بیروت)

۴] ویکره تقدیم المبتدع ایضاً لانه فاسق من حیث الاعتقاد وهو اشد من حیث العمل .... والمراد بالمبتدع من یعتقد شیئاً علی خلاف ما یعتقده اهل السنة والجماعة (حلبی کبیر ص: ۵۱۴، فصل فی الامامة طبع سهیل اکیډمی) ایضاً : ویکره ....امامة مبتدع ای صاحب بدعة وهي اعتقاد. [بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

۳: د تکفیر په مسئله کې زه ډیرزیات احتیاط کوم. له دې وجې نه ده ته د توبې، انابت او اهل حق سره د تعلق مشوره ورکوم. د دې کس اصلي مرض خودده رایي ده. د کوم طرف ته چې په ۷ نمبر سوال کې ارشاره شوې ده.

دخپلې رایې په باره کې وایي چې: داحتما اواخري ده اودی هیڅ یو عالم حتی چې خپل استاذان هم نه مني

هم دغه خودرایي دډېرو عا لمانو دضلالت او انحراف سبب جوړېږي. دخوارجو اوروافضو نه واخله تراوسه دورتر خلکو پورې ټول خودرایي په حیرانتیاکې اچولي دي. له دې وجې نه کوم کس چې په صراط مستقیم باندې دتلو او دهدایت په لار د مرګ ارزو لري هغه ته لازم دي چې په خپلې رایې داعتماد کولو پر ځای داکابرو په علم او تقوا باندې اعتبار وکړي او دا حضرات په علم ،معرفت ،فهم،فراست، بصیرت،اصلاح ،تقوا او د شریعت په تابعداري کې زموږ نه ډیرزیات په اوچت مقام باندې وو ،والله اعلم.

د توفیق ددعا غوښتلو حقیقت

سوال: دتوفیق تشریح وکړئ په دعاګانوکې ډیرخلک دالله نه دعا غواړي چې یاالله! دفلانکي کارکولوتوفیق راکړې،دمثال په طوریوسړی دادعاکوي چې یاالله!ماته دلمانځه کولوتوفیق راکړې ،خو هغه یواځې په دعاباندې بسنه کوي اوداسې وایي چې کله توفیق راکړل شي، نولمونځ به شروع کړم. په دې باره کې لږوضاحت وکړئ ترڅو زموږدورونو په سترګوداتوفیق پریوتې پرده لیرې شي.

جواب: دتوفیق معنا داده چې په یونیك کارکې دالله دطرف نه دهغه اسباب پیداکیدل[1] کوم سړي ته چې الله تعالی روغ بدن ورکړی وي اودلمانځه کولونه څه مانع هم موجود نه وي اوله دې سره بیاهم هغه لمونځ نه کوي اویواځې دتوفیق دعا غواړي، هغه په حقیقت کې دزړه له تله دعانه غواړي. بلکې (نعوذبالله) دی په دعا پورې ټوکې کوي.که رښتیاهغه له اخلاص سره دعاکولی نوهیڅ وخت به هغه دلمانځه نه محروم نه پاتې کیده.

...بقیه د تیر مخ].. خلاف المعروف عن الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة، وكل من كان من قبلتنا (لايكفر بها) حتى الخوارج الذين يستحلون دماءنا وأموالنا وسب الرسول، وينكرون صفاته تعالى وجواز رؤيته لكونه عن تأويل وشبهة بدليل قبول شهادتهم، إلا الخطابية ومنا من كفرهم (الدرالمختار ج: ١،ص: ٥٥٩، ٥٦٠) ايضا : ان من اظهر بدعة وفجوراً لا يرتب اماماً للمسلمين فانه يستحق التعزير حتى يتوب فان امكن هجره حتى يتوب كان حسناً..اذا كان ترک الصلوة خلفه يفوت الماموم الجمعة والجماعة فهنا لا يترک الصلوة خلفه الا مبتدع مخالف للصحابة رضى الله عنهم اجمعين(شرح العقيدة الطحاوية ص:٤٢٣، طبع مكتبه سلفيه لاهور)

[1] قوله: التوفيق: هو توجيه الاسباب نحو المطلوب الخير (كشاف اصطلاح الفنون ج:٢، ص: ١٥٠١) التوفيق: جعل الله فعل عباده موافقاً بما يحبه ويرضاه (التعريفات للجرجانى ص:٥٢)

د کاروبار (روزګار) اداب

سوال: دقران اوحدیث په رڼا کې دمستقبل منصوبه بندي (دخپل ځان له پاره) څنګه ده؟یعنې په جایزه ذریعه دمستقبل له پاره دولت جمع کول اودخپلوائنده نسلونوله پاره سهولتونه او اسانتیاوې برابرول. د رزق دپراختیاله پاره کوشش کول. سره له دې نه چې زموږ عقیده ده چې الله پاك زموږ رازق اوخالق دی. زمادامطلب نه دی چې انسان دې لاس په لاس کیږدي بلکې دبهتر مستقبل دمنصوبه بندي او دهغه له پاره کوششونه کول دي. مولاناصاحب په دې سره زموږ په معاشره کې ډېرې خرابیانې پیداکیږي.

جواب: کوم سړی چې په حلاله ذریعه مال ګټي اوشریعت چې په دې مال کې کوم حقونه مقرر کړي دي هغه هم په صحیح طریقه باندې اداکوي اوددې سره دا هم ضروري ده چې دمال په ګټلوکې داسې مشغول نه شي چې داخرت دتیارۍ نه غفلت اودشریعت په احکاموکې سستي راشي. دغو درې شرطونوسره که مال وګټي اوداولادله پاره یې پریږدي، نوهېڅ ګناه نه ده. او که ددغو دریو نه په یوشرط کې ترې کمی راغی. نو دا مال به ددې سړي له پاره په قبر اوپه حشرکې عذاب جوړشي، دمال په باره کې چې دقران اوسنت کوم تعلیمات دي دهغه خلاصه مې ذکرکړه اوددې دشرح له پاره یودفترپکاردی.

د اسبابو اختیارول د توکل خلاف نه دي

سوال: که یو څوک دبېماري له حملې نه مخکې څه احتیاطی تدبیرونه اختیارکړي ایاداسې کول خوبه دتوکل خلاف نه وي؟ اوبله دا چې په الله باندې دتوکل په صحیح مفهوم مو پوه کړئ.

جواب: دتوکل معنا په الله تعالی باندې باور کول دي[1] اود باور مطلب دادی چې کار جوړېدل. داسبابو څخه نه ګڼي بلکې داګڼي چې په دې اسبابوکې دالله اراده کارکوي، دالله دارادې نه پرته ټول اسباب بېکاره دي.

عقل در اسباب مے دارد نظر عشق مے گوید مسبب را نگر

اسباب پرېښودل بالکل توکل نه دی. بلکې په دې کې تفصیل دی چې کوم اسباب ناجایز وي، نوهغه دې بالکل پرېږدي اوکوم اسباب چې جایزدي دهغه درې قسمونه دي اودهریوحکم بېل دی:

١: هغه اسباب چې په هغه باندې دمسبب مرتب کېدل یقیني وي لکه ډوډۍ خوړل، ددې اسبابو اختیارول فرض دي او ددې پرېښودل حرام دي.

---

[1] التوکل : هو الاعتماد علی الله وعدم الالتفات الی ماعداه، قال السید: هو الثقة بما عند الله تعالی والیاس عما فی ایدی الناس (قواعد الفقه ص: ٢٤١)

۲: ظني اسباب لکه د بیمار له پاره د دوا یې کول. د دې حکم دا دی چې زمور پشان د کمزورو له پاره د دې اسبابو پرېښودل هم جایزنه دي. خو کوم حضرات چې د ایمان او توکل په قوت کې مضبوط وي. نو د هغوی له پاره د دې ظني اسبابو پرېښودل جایز دي.
۳: وهمي او مشکوک اسباب دي چې د هغه په استعمالولو کې داشك وي چې فائده به وکړي او که نه، د داسې اسبابو استعمالول د ټولو له پاره د توکل خلاف دي. اګرچې په ځینې صورتونو کې جائزوي لکه دم درها.[1]

په اسبابو باندې د یقین کولو شرعي حکم

سوال: د رزق په باره کې مسئله داده چې ترڅو بنده ژوندی وي الله تعالی یې ورکوي؛ ځکه چې الله تعالی دا دده په تقدیر کې لیکلي دي. د الله پاك دومره احسانونو سره چې کوم خلك د انسانانو په مخکې لاس په نامه ولاړوي او ویریږي چې هسې نه چې د نوکرې نه مې او باسي. نو پوښتنه داده چې ایا داډول انسان مسلمان دی؟ چې د هغه ایمان په خدای باندې کم او په خلکو باندې زیات وي چې داخوشحاله وي. نو هرڅه به صحیح وي که نه ژوند به مې تنګ وي.
جواب: د داسې خلکو په اسبابو باندې نظروي او د اسبابو اختیارول د ایمان منافي نه دي. خو په دې شرط چې د اسبابو اختیارولو کې د الله تعالی د یو حکم خلاف ورزي ونه کړل شي. خو د ناروا اسبابو اختیارول د ایمان د کمال منافي دي.[2]

د رزق د پاره د عادت په طور اسباب اختیارول

سوال: ومامن دابة فى الارض الاعلى الله رزقها، کله چې د ټولو خلکو رزق د الله تعالی په ذمه دی، نو هرکال په لکونو خلک د لوږې نه ولې مري؟ او د امرګونه ټول په غریبو ملکونو کې ولې وي؟ مثلاً ایتوپیا، سوډان او د افریقې نور غریب ملکونه. برطانیه، امریکه او فرانس یا د یورپ نورو مالدارو ملکونو کې خلک د لوږې نه ولې نه مري؟ قحط اسماني عذاب دی خو د دې کې هم غریبان دي. مالدار خلک څه نا څه طریقه اختیار کړي، د دې نه معلومه شوه چې دا ایت د معیشت اسبابو سره مشروط دی. یعنې چاچې د رزق حاصلولو له پاره د هغې زمانې سره سم اسباب اختیار کړل الله تعالی به هغه ته رزق ضرور ورکوي.

---

[1] الاسباب المزيلة للضرر تنقسم الى مقطوع به ....والى مظنون ....والى موهوم .....اما المقطوع به فليس تركه من التوكل ، بل ترک حرام عند خوف الموت واما الموهوم فشرط التوكل تركه .... واما الدرجة المتوسطة وهى المظنونة......... ففعله ليس مناقضاً للتوكل .... (فتاوى هنديه ج:٥،ص:٣٥٥ طبع كوئته براى تفصيل ببينيد: بوادر النوادر ص: ٢٦٧، ٢٦٨)
[2] د وړاندې صفحې دریم (٣) نمبر حاشیه اوګورئ او بوادر النوادر ص: ٢٦٧ ، ٢٦٨)

جواب: ستاسو خیال صحیح دی، درزق له پاره اسباب اختیارول ضروري دي، تردې چې دپوره درجې توکل نصیب وي، مرغۍ اوځناور درزق اسباب اختیاروي. خوهغوی کې داسبابو اختیارولو سره سره توکل هم موجودوي.

شریعت اسباب مهمل نه دي پرېښي

سوال: ومامن دابة فى الارض ددې سوال په ځواب کې تاسو وفرمايل: ستاسو خیال صحیح دی، ایابزرګانوهم دې باره کې څه فرمايلي دي؟ ځکه چې مالوستي دي چې چادقران پاک باره کې دخپل طرف نه څه وويل، هغه...په دې وجه باندې کله چې دیو بزرګ نه ددې خیال تصدیق وشي ، نودابه بیا خپل خیال پاتې نه شي او ددې وعید ددایرې نه به ووځي.

جواب: صحیح خبره ده چې شریعت اسباب مهمل نه دي پرېښي. اګرچې اسباب. اسباب دي، ارباب نه دي، دهرچارزق، خودالله تعالی په ذمه دی، خوزمونږنظرداسبابونه مخکې نه شي تلی، په دې وجه باندې مونږته رزق داسبابوپه ذریعه دغوښتلوحکم شوی دی اودرزق له پاره داشرط اېښودل شوی دی. که نه دهغه د رضانه پرته نه اسباب، نه اسباب دي اونه رزق حاصلول داسبابوپه ذریعه باندې کیدای شي.[۱]

ایا د عالم ارواح دوعدې پښان به په آخرت کې د دنیا خبرې هم هېرې شي؟

سوال: زمونږامام صاحب فرمايي چې دانسان څلورځله حالت بدلیږي:
۱: په دنیاکې دراتلونه مخکې په عالم ارواح کې دالله سره وعده.
۲:په دنیاکې اوسیدل. ۳:عالم قبر. ۴: عالم اخرت جنت یادوزخ.
مولوي صاحب مونږ ته په عالم ارواح کې دخپل روح دموجودیت علم اوس وشواوکومو روحونو چې دالله سره دبنده ګۍ وعده کړې ده په هغه کې زمونږ روحونه هم شامل وو، خو مونږته داپته ونه لګیده، خواوس په دې دنیاکې مونږته وويل شوچې تاسودالله سره وعده کړې وه،نوځنګه چې مونږته دعالم ارواح معلومات نه و داسې خوبه نه وي چې دسزا اوجزا او دقبراوداخرت مونږته داسې پته ونه لګیږي څنګه چې په عالم ارواح کې مونږته څه پته نه لګیده؟

جواب: دعالم ارواح خبره خوتاسونه هیره شوه، خو ددنیاپه ژوند کې چې څه شوي وي دابه په اخرت کې نه هېرېږي.[۲]

۱] و ما من حيوان يدب على الأرض إلا على الله تعالى غذاؤه ومعاشه ...... لما وعده سبحانه وهو جل شأنه لا يخل بما وعد .... وحمل العباد على التوكل فيه ولا يمنع من التوكل مباشرة الأسباب مع العلم بأنه سبحانه المسبب لها (روح المعاني ج:۱۲، ص:۲)

۲] يوم يتذكر الانسان ما سعى (النازعات:۳۵) اى اذا راى اعماله مدونة فى كتابه يتذكرها وكان قد نسيها (تفسير نسفى ج:۳،ص: ۵۹۹)

بې عمله صحيح عقيده

سوال: دوړوکي اخترپه ورځ باندې زمونږ ملاصاحب يو څو خبرې وکړې چې د چا علم نه مه کوری، دهغه عمل ته مه ګوری. دا ګورئ چې عقيده يې صحيح ده او که نه؟ که چېرې عقيده صحيح وي. نو دعمل نه پرته هم جنت ته تلی شي. نو ايا دهغه دا ويل صحيح دي. چې عقيده صحيح کيدل پکار دي. علم باندې عمل کولو ته هيڅ ضرورت نشته؟

جواب: دملاصاحب دا خبره خوصحيح ده چې عقيده صحيح وي اوعمل کې نقصان وي. نوکله به نجات ومومي[1] اوکه چېرې عقيده خرابه وي اوهغې کې کفراوشرک ګډ وي. نو بښنه نه کيږي[2]. خوعلم اوعمل ته هم غيرضروري ويل پخپله باندې دعقيدې خرابي ده اودا بالکل غلط دي. ملاصاحب ته ددې نه توبه کول پکار دي.[3]

کشف، الهام او بشارت کې فرق

سوال: کشف. الهام اوبشارت کې څه فرق دی؟ دحضرت محمد ﷺ نه وروسته بل چاته د کشف. الهام يابشارت کيدل ممکن دي دقران اودحديث په رڼاکې وضاحت وکړئ!

جواب: د کشف معنا ديوې خبرې يايوې واقعې ښکاره کيدل دي[4]. د الهام معنا په زړه کې ديوې خبرې راتلل[5] اودبشارت معنا زيری ده[6]. لکه يوښه خوب ليدل.

دحضرت محمد ﷺ نه وروسته کشف. الهام اوبشارت ممکن دي. خو شرعًا دادليل او حجت نه دی اونه ددې ديقيني کيدودعوه کېدای شي اونه ددې دمنلو دعوت ورکوکول

۱] وَأَمَّا مَنْ كَانَتْ لَهُ مَعْصِيَة كَبِيرَة وَمَاتَ مِنْ غَيْر تَوْبَة فَهُوَ فِي مَشِيئَة اللَّه تَعَالَى : فَإِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَأَدْخَلَهُ الْجَنَّة أَوَّلًا وَجَعَلَهُ كَالْقِسْمِ الْأَوَّل ، وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ بِالْقَدْرِ الَّذِي يُرِيد سُبْحانه وتَعَالَى ، ثُمَّ يُدْخِلهُ الْجَنَّة فَلا يَخْلُد فِي النَّار من ماتَ أَحَد عَلَى التَّوْحِيد وَلَوْ عَمِلَ مِنْ الْمَعَاصِي ما عَمِلَ (شرح نووى على مسلم ج:١،ص: ٤١ طبع قديمى كتبخانه)

۲] قال تعالى : انّه مَنْ يشْرِكْ بالله فَقَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيه الْجَنَّةَ وَمَاْوٰهُ النَّارُ وَمَا للظّٰلمينَ منْ اَنْصَار (المائدة :٧٢) انَّ اللهَ لَا يغْفرُاَنْ يشْرَکَ به وَيَغْفرُمَادُوْنَ ذٰلکَ لمَنْ يشَاءُ وَمَنْ يشْرِکْ بالله فَقَد افْتَرٰي اثْمًا عَظيمًا (النساء :١١٦)

۳] بَاب خَوْف الْمُؤْمِن مِنْ أَنْ يَحْبَط عَمَله وَهُوَ لَا يَشْعُر) هَذَا الْبَاب مَعْقُود لِلرَّدِّ عَلَى الْمُرْجِئَة خَاصَّة...... لِأَنَّهُمْ أَخَّرُوا الْأَعْمَال عَنْ الْإِيمَان..... وقالوا لا يضر مع الايمان ذنب اصلاً .... وقد ذم الله تعالى من امر بالمعروف ونهى عن المنكر وقصر فى العمل فقال : كبر مقتاً عندالله ان تقولوا مالا تفعلون فخشى ان يكون مكذبا اى مشابها للمكذبين (فتح البارى ،كتاب الايمان ج:١، ص:١١٠)

٤] الكشف فى اللغة :رفع الحجاب (قواعد الفقه ص: ٤٤٣)

٥] الالهام : ما يلقى فى الروح بطريق الفيض (قواعد الفقه ص : ١٨٩)

٦] البشارة : بالكسر، الخبر يؤثر فى البشرة تغيراً ...... الخ (قواعد الفقه ص : ٢٠٧)

کېداى شي.[۱]

کشف او الهام شته خو هغه دليل نه دى

سوال: که يو سړى دا دعوه وکړي چې ماته د کشف په ذريعه الله پاك حکم کړى دى چې فلاني سړي ته ورشه او دا فلانى خبره ورته وکړه. د داسې سړي په باره کې شريعت څه وايي؟

جواب: د نبي نه پرته هم کشف او الهام کېداى شي. خو هغه حجت نه دى او نه د دې په وجه څه حکم ثابتېدلاى شي بلکې دا به د شريعت په تله باندې تلل کيږي؟ که صحيح وي. نو قبلول دي او که صحيح نه وي. نو بيا مردود دا په هغه صورت کې چې دى د سنت نبوي ﷺ تابعدار او د شريعت پابند وي که يو سړى د سنت نبوي ﷺ نه خلاف روان وي، نو د هغه د کشف او الهام دعوه شيطاني مکر دى.[۲]

مباهله او خدايي فيصله

سوال: د مباهلې حقيقت څه دى؟ په دې باره کې د قران مجيد کوم کوم ايا تونه نازل شوي دي؟

جواب: د مباهلې ذکر د سوره ال عمران (ايت نمبر ٦١) کې شوې ده چې په هغه کې د نجران د نصاراوو په باره کې فرمايل شوي دي "بياچې څوک جګړه وکړى تاسو، نو ووايئ راشئ، راوغواړو موږ خپل زامن او تاسو خپل زامن (او موږ خپلې ښځې او ستاسو ښځې او خپل ځانونه او ستاسو ځانونه بيا به دعا وکړو موږ ټول او لعنت دې وکړي الله په هغه باندې څوک چې دروغژن وي" (ترجمه شيخ الهند).

د دې ايت کريمه نه د مباهلې حقيقت واضح کيږي. چې کله يو فريق د حق واضح کېدلو باوجود هغه نه مني، نو هغه ته دې دعوت ورکړل شي چې راشئ موږ به دواړه ډلې خپلې ښځې او بچې

۱] فالالهام ليس بحجة عند الجمهور الا عند المتصوفة بخلاف الالهام الصادر من الرسول ص فانه حجة عند الكل (رمضان آفندى ، شرح شرح عقائد ص:٦٥ ، ٦٦) ايضاً حاشية شرح عقائد ص :٢٢ حاشيه نمبر :٤، ومجال خطا در كشف بيسار است فلا اعتداد به مع كونه مخالفاً لاجماع المسلمين مكتوبات دفتر اول حصه چهارم مكتوب ٢٦٦، غايت ما فى الباب ..... چه الهام وكشف برغير حجت نيست مكتوبات دفتر اول حصه اول مكتوب :٣١ اعلم ان الالهام : هو الالقاء فى القلب من علم يدعو الى العمل به من غير استدلال بآية ولا نظر فى حجة وهو ليس بحجة ولا يجوز العمل به عند الجمهور لان ما يقع فى قلبه قد يكون من الله تعالى وقد يكون من الشيطان لقوله تعالى : وان الشيطن ليوحون الى اوليائهم وقد يكون من النفس ..... فما يكون من الله تعالى يكون حجة ، وما يكون من الشيطان او النفس لا يكون حجة فلا يكون الالهام حجة مع الاحتمال ولا يمكن التميز بين هذه الانواع الا بعد النظر والاستدلال باصول الدين (تيسير الاصول الى علم الاصول ص: ٢٣٦، بحث فى الاحتجاج بالالهام)

۲] ايضاً_

په يو ميدان کې جمع کړو اوپه منت زارۍ به الله تعالى ته دعا وکړو چې الله تعالى دې په دروغژن باندې خپل لعنت وکړي. باقي دا چې ددې مباهلې نتيجه به څه وي؟ لاندې ذکر شويو حديثونو نه معلوميږي.

۱: مستدرك حاكم (۲، ۵۹۴) کې دي چې: دنصاراوو سيد وويل چې صاحب (يعني نبي عليه السلام) سره، مباهله مه کوئ په الله قسم ' که تاسو مباهله وکړه. نو دواړه فريقينو نه به يو په ځمکه کې خسف شي.

۲: دحافظ ابونعيم په دلائل النبوة کې دی چې سيد عاقب ته وويل په الله قسم: تاسو ته معلومه ده چې دا صاحب په حقه نبي دی او که چېرې تاسو ده سره مباهله وکړه. نو ستاسو بنياد به ووځي کله هم يوقوم ديونبي سره مباهله نه ده کړې چې بيا څوک مشر دهغوی پاتې شوی يا دهغوی بچي لوی شوي دي.

۳: ابن جرير، عبدبن حميد اوابونعيم په دلائل النبوة کې دحضرت قتاده رضي الله عنه په روايت سره دنبي کريم صلى الله عليه وسلم داارشاد نقل کړی دی چې" په اهل نجران باندې عذاب نازليده او که هغوی مباهله کړې وی، نو دځمکې نه به دهغوی صفايي شوې وه".

۴: ابن ابی شيبه، سعيدبن منصور، عبدبن حميد، ابن جرير او حافظ ابونعيم په دلائل النبوة کې دامام شعبي رحمه الله په سندسره دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دا ارشاد نقل کړی دی چې "ماته فرشته داهل نجران دهلاکت دزيري له پاره راغلې وه، که چېرې هغوی مباهله کړې وای. نودهغوی په ونوکې به مرغان هم نه و پاتې شوي".

۵: په صحيح بخاري، ترمذي، نسائي اوپه مصنف عبدالرزاق وغيره کې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما ارشاد نقل شوی دی چې" که اهل نجران دنبي کريم صلى الله عليه وسلم سره مباهله کړې وای. نو په داسې حالت کې به بېرته تلل چې خپل بال بچ اومال نه به يې هيڅ موندلي نه وو". (داټول روايات په درمنثور، ج ۲ ص ۳۹ کې دي)

له حديثونو نه څرګنديږي چې دريښتوني نبي سره مباهله کونکي په الهي عذاب کې داسې مبتلا کيږي چې دهغوی د کور، مال اولاد او هرڅه تباه کيږي اودهغوی يوفرد هم ژوندی نه پاتې کيږي.

دا خو دريښتوني نبي سره مباهلې کولو نتيجه وه اوس ددې په مقابل کې د مرزا غلام احمد قادياني دمباهلې نتيجه هم واورئ!

۱۰ ذی القعده ۱۳۱۰ هـ بمطابق ۲۷ مئ ۱۸۹۳ء باندې دمولانا عبدالحق غزنوي مرحوم سره يوځل دمرزاصاحب سره د عيدګاه په ميدان کې مباهله وشوه، (مجموعه اشتهارات مرزا غلام احمد قادياني ج ۱ ص ۴۲۷، ۴۲۸) دمباهلې په نتيجه کې د مرزا صاحب دمولانا مرحوم په ژوندکې مړ شو، (مرزا صاحب په ۲۶ مئ ۱۹۰۸ء باندې مړشو اومولانا عبدالحق مرحوم د مرزا صاحب نه نهه کاله وروسته ژوندی و دهغه انتقال ۱۲ مئ ۱۹۱۷ء کې وشو. (ريکس قادياني

ج۲ص۱۹۲)، مرزاصاحب دخپل وفات نه اوو میاشتې ځلیریشت ورځې مخکې(۲ اکتوبر ۱۹۰۷ء باندې) ویلي و:" مباهله کونکو نه چې کوم یو دروغژن وي هغه به د رینښتوني په ژوند کې هلاکیږي" (ملفوظات مرزا غلام احمد قادیاني ج۹ص ۴۴۰)

مرزا صاحب د مولانا مرحوم نه مخکې مړشو اود پورته بیان شوي قول تصدیق یې وکړ او ددوه او دوه څلورو پشان واضحه شوه چې څوک رینښتونی و او څوک دروغژن.

دغیرمسلم په تعریف کې څوک څوک راځي

سوال: د۲۳فروري دجمعې په ورځ په جنګ اخبارکې دغیرمسلم له پاره دجومات دشیانو استعمالولو. په عنوان کې تاسو د دوو سوالونو په ځواب کې لیکلي و. چې دغیرمسلم دجنازې لمونځ جائزنه دی. دغیرمسلم لاش ته غسل ورکول جائزنه دي. غیرمسلم دمسلمانانو په هدیره کې خښول جائزنه دي، داهرڅه کولوسره دکونکي اوهغه سره دشریکوخلکوایمان ختمیږي اودهغوی نکاح ماته شوه. مهرباني وکړئ داخبره ښکاره طورباندې وکړئ چې ایا دغیرمسلم تعریف کې هغه خلک هم شامل دي کوم چې د مسلمان کورکې پیداشوي وي اودځوانېدو وروسته دمرګ پورې دهری وي. یادډیروخت پورې یې داسلام پابندي کړې وي اوبیایې اسلام پرېښی وي. دواړه قسمه خلک که په ښکاره طورباندې ووایې چې هغوی مسلمانان نه دي، هغوی خنزیرخوري، شراب څښي، ایادغه خلک هم په غیرمسلموکې شامل دي؟ اوایادهغوی په جنازو کې هم دغه قباحتونه موجوددي؟ یعنې دایمان اونکاح تجدیدلازم دي؟ زموږمعاشره کې داسې ډیرخلک موجوددي، زماپه یورپ کې داوسیدوپرمهال د داسې خلکوسره ملاقات هم کیده، ماهغوی لیدلي دي اوډیر پیژنم هم. ددې سوال ځواب معاشرتي حیثیت لري.

جواب: اسلام دحضورﷺ دراوړل شویو ټولوخبرودمنلونوم دی او دهغې یوې خبرې نه منل هم چې له حضورﷺ څخه یقیني ثابته وي کفر دی،کوم کس چې دداسې ښکاره اوددین په ضرور تو نو کې دیومنکروي، یاهغه ښکاره طورباندې ووایې چې زه مسلمان نه یم، دهغه حکم د مرتد دی. که څه هم هغه دمسلمان په کورکې پیداشوی وي اونوم یې هم دمسلمانانو په شان وي.

د صبراو بې صبرې معیار

سوال: ۱: د ،،بشرالصبرین الذین اذااصابتهم مصیبة،، نه څه مراددي؟ نن سبا دعالمانواو مشائخو په وفات باندې چې کومې مرثیې لیکل کیږي، لکه داچې ،،زما په آرزو اور ولګیده،،یا،،هی افسوس ! ګردش دزمانې څه وکړل،، وغیره الفاظ صحیح دي؟ په خیرالقرون کې ددې څه مثال شته؟

سوال: ۲: اوبیادوفات شوي له پاره تعزیتي جلسې کول. اودخیني خو مستقل طورباندې هرکال جلسې کول. داعرس خونه دی؟ جائزدي اوکه بدعت ؟ دقران اوحدیث اوخیرالقرون نه ددې څه عملي مثال شته؟

سوال: ۳: بزرګان عام طورباندې دهدیرې په ځای باندې مدرسه یا خانقاه کې خښیږي اوتاریخ صفابیانوي چې په اسلافوکې پنځوس یاسل کاله وروسته دبزرګانومقبرې د شرک اوبدعت اډې جوړې شوي دي. ایا داسې کول روا دي اوکه نه؟

سوال: ۴: نن سبا زمونږپه ملک کې ډیرزیات تقریرکونکي موجوددي، بلکې عوام هغوی عالمان ګڼي اوتقریرکونکي حضرات یاد شوي تقریرونه ته وکړي، په اوریدوکې ډیرزیات خوندکوي، دباطل رد هم پرې ډیرښه کیږي. نودداسې حضراتو جلسه کول څنګه دی؟ شرعي طورباندې پکې ثواب شته؟ دامت له پاره ښه ده؟ اوکه چیرې ځواب په نفي کې وي. نوپه غټوغټو جلسواو اداروکې عام طورباندې دوی ولې په نظرراځي؟

جواب: مزاج ګرامي! زما خودومره علمي استعدادنشته چې دعالمانوپه متنازعه مسئلوباندې فیصله کونکي خبره وکړم. خو تاسو زحمت کړئ دی، په دې وجه باندې به دخپل ناقص خیال مطابق ځواب درکړم، که چیرې څه خبره صحیح وي، نو"ګاه باشدکه کودک نادان.به غلط برهدف زنده تیرے. په شان به وي. که نه د "کالا ئے بد بریش خاوند.په شان به وي.

جواب: ۱: قران کریم اوحدیثونوکې دصبرکولو حکم اود زړا فریاد منع کیدل خوبالکل ښکاره دي اوداهم معلومه ده چې مصیبتونو باندې غم اوخفه کیدل یوغیرارادي کار دی اوددې غم او تکلیف دښکاره کولوله پاره ځیني الفاظ هم دانسان دخولې نه وځي اوس دحل کولومسئله داده چې دصبراوبې صبري څه معیار دی؟ دې باره کې چې دکتاب اوسنت اواکابرینودارشاداتونه چې څه مفهوم دي هغه دادې چې دیوې حادثې دوران کې که داسې الفاظ وویل شي چې هغوکې دالله تعالی نه شکایت شوی وي (نعوذبالله) یادهغې حادثې په وجه باندې غیرشرعي کارونه وشي. مثلاً لمونځ قضاکړي. یایومنع شوی کاروکړي، مثلاً ویخته ویستل، مخ وهل وغیره داخوبې صبری ده اوکه داسې څه خبره نه وي. نودصبرخلاف نه ده، خیرالقرون کې هم مرثیې ویل کیدې . خودهغه معیار. هغه اصول دنن سباپه مرثیوباندې وګورئ!

جواب: ۲: دتعزیت مفهوم دمړي وارثانوته تسلي ورکول دي اودهغوی سره په غم کې د شرکت اظهارکولوسره دهغوی غم سپکول دي، کوم چې عام طورباندې کیږي اود,,اذکروا موتاکم بخیر، ، کې دوفات شویو خلکوپه ښوالفاظوباندې د ذکرکولوحکم دی،که تعزیتي

جلسه ددې دوه مقصدونو له پاره وي او د مرحوم په تعریف کې غیرحقیقي مبالغه نه کیږي .
نو دا جائز دي ، د هرکال جلسه کول خو ښکاره خبره ده چې فضول کاردی او دیومرحوم ددروغو تعریف کول هم غلط دي. په هرحال که تعزیتی جلسه دپورته بیان شویو دوو مقصدونو له پاره وي، نودې ته بدعت نه شي ویل کیدای.ځکه چې دا جلسې نه پخپله باندې مقصد تصور کیږي اونه داعبادت ګڼل کیږي.

جواب: ۳: اکابرین او مشائخ په جوماتونو او مدرسو کې خښولو ته فقهاء کرام مکروه ویلي دي.

جواب: ۴: داسې وعظ کونکي اوتقریرکونکي حضرات که صحیح مضمون بیانوي. نو هغوی باندې تقریرکولو کې هیڅ خبره نشته.که عوام هغوی عالمان ګڼي،نوهغوی معذوردي.

[تقدیر]

تقدیر څه شی دی؟

سوال: زما په ذهن کې د تقدیر یا د قسمت متعلق خبره هغه وخت راغله چې کله زموږ د نهم یا دولسم استاد په کلاس کې دا خبره وخپړله.هغه وویل چې هرانسان خپل تقدیر پخپله جوړوي. که الله پاك زموږ تقدیر جوړولی. نوبیا دجنت او دوزخ څه مقصد دی؟مطلب دا دی چې موږ کوم بدکارونه کوو که چیرې هغه الله پاك زموږ په قسمت لیکلي وي. نو زموږ د هغه نه بچ کیدل ناممکن دي. بیا د دوزخ او د جنت معامله ولې او څنګه ده؟
زما په خیال کې خو انسان خپل تقدیر پخپله جوړوي ماخپل یو نږدی دوست سره په دی اړه خبرې وکړې، نو هغه وویل چې "الله پاك ځینې اهمې فیصلې دانسان په تقدیرکې لیکلي دي، باقی وړې وړې فیصلې انسان پخپله کوي. د اهمو فیصلو نه مراد دا دی چې انسان لوی شي،نوڅه به کوي، کوم کوم ځای به اوبه څښي اوداسې نور...خو انسان دخپل صلاحیت او قوت په بنیاد باندې دا فیصلې بدلولی هم شي.
تاسو دڅه حدیثونو وغیره حوالې ورکړي دي اودهغه څه وضاحت مونه دی کړئ. یواځې دا ویل چې"دقسمت په باره کې خبره مه کوئ" زما په نظر کې خوبه هیڅوك هم په دې خبره مطمئن نشي. نبي کریم ﷺ چې هرکله دا خبره کړې ده. نوهغوی دا هم فرمایلي دي چې "مخکني قومونه هم په دی وجه تباه شو. چې هغوی دتقدیر په مسئله کې نیښتي وواوس که تاسو ددې خبرې وضاحت وکړئ.شاید چې زموږ زړونو ته تسلي وشي.

جواب: ګرانه روره السلام علیکم!
د اسلام عقیده دا ده چې د کائناتو هرووړکی ،غټ ، ښه او خراب شیان یواځې دالله پاك په

اراده، قدرت، مشیت او علم سره په وجود کې راغلي دي[۱]. بس زه په دومره خبره پوهېږم چې په تقدیر باندې ایمان راوړلو نه پرته ایمان نه صحیح کیږي[۲]. ددې نه وړاندې نور زه معذور یم.

تقدیر دالله پاك صفت دی[۳]. دا د انساني عقل په تله باندې تلل داسې دي لکه یو عقلمن د سرو زرو په تله باندې د همالیه غر تلي. عمرونه به تیرشي خو دا مقصد به یې پوره نشي. موږ ته دکولو کار کول پکار دي. دتقدیرمسئله نه چاحل کړې اونه به یې حل کړي. بس داسې ایمان ساتئ چې دهرشي پیدا کونکی الله دی او هرشی دهغه په تخلیق سره په وجود کې راغلی دی. انسان ته الله تعالی اختیار او اراده ورکړې ده، مګر دا اختیار مطلق نه دی[۴]. دحضر علي رضي الله عنه نه چا پوښتنه وکړه چې انسان مختاردی که مجبور؟. نو هغه وویل: یوه پښه پورته کړه هغه پورته کړه. حضرت علي صاحب ورته وویل دویمه هم پورته کړه! هغه وویل: چې ترڅوچې دا لومړی پښه په ځمکه باندې کښېږدم، نودویمه پښه نشم پورته کولی. نو حضرت علي رضي الله عنه وفرمایل: بس انسان دومره مختار دی او دومره مجبور[۵]. په هرحال زه په دې مسئله کې د زیات قیل وقال نه معذور یم اودا د ایمان د بربادي ذریعه ګڼم.

آیا د تقدیر تعلق یواځې څلورشیانو سره دی؟

سوال: زه دډېروخت نه امریکه کې اوسیږم، اکثردعیسایانو، یا نورو غیرمسلموسره د مذهب باره کې خبره کیږي. اسلام کې چې دکوموشیانومنل ضروري دي، هغو کې تقدیر باندې ایمان راوړل هم ضروري دي. خوعجیبه خبره داده چې موږته داپته هم نشته چې تقدیر څه شی دی؟ زه دې خبرې باندې هم ایمان لرم چې تقدیر باندې پوره طورباندې نه پوهیدل زموږله پاره بهتردي. خوبیوڅوغټې غټې خبرې معلومیدل پکاردي. موږته خودومره پته ده چې یوتقدیرمعلق وي، اوبل تقدیرمبرم ، اوس که چېرې یوکس زماپه لاس باندې مسلمانیدل غواړي اوزه هغه ته ووایم چې تقدیرباندې ایمان راوړل ضروري دي، نوهغه به

۱] ولا یکون فی الدنیا ولا فی الآخرة شیٔ ای : موجود حادث فی الاحوال جمیعها الا بمشیته ای مقروناً بارادته وعلمه وقضائه ای : حکمه وامره وقدره ای : بتقدیره .....الخ(شرح فقه اکبر ص: ٤٩)

۲] عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « لاَ يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ ....وَيُؤْمِنُ بِالْقَدَرِ(مشکوة باب الایمان بالقدر ص:۲۲ طبع قدیمی کتب خانه)

۳] والقدرة وهی صفة ازلیة تؤثر فی المقدورات عند تعلقها بها (شرح عقائد ص:۱۱۳ طبع ایچ ایم سعید)

٤] ومجمل الامر ان القدر : وهو ما یقع من العبد المقدر فی الازل من خیره وشره ...... کائن عنه سبحانه وتعالی بخلقه وارادته ما شاء کان ومالا فلا (شرح فقه اکبر ص:٤٩)

٥] علم الکلام ص:۸۰، از حضرت مولنا محمد ادریس کاندهلوی رحمة الله علیه ، طبع مکتبه عثمانیه بیت الحمد لاهور_

ضرورداپوښتنه کوي چې تقدیرڅه شی دی؟ اودې کې کوم کوم شیان شامل دي؟ زماپه خیال باندې یوڅواهمې خبرې ضرورمعلومول پکاردي. ماچې کوم لږ شان تحقیق وکړ. نوماته پته ولګېده چې کم نه کم داشیان زموږپه تقدیرکې دلومړۍ ورځې نه لیکل شوي دي. هغو کې پیدائش یعنې دمور دخیټې نه پیداکیدل، مرګ. دکوم کس چې کله،کوم ځای اوڅه ډول مرګ لیکل شوی وي، دهغه یووخت مقررشوی دی، رزق، دکوم باره کې چې قران کریم کې دي چې الله تعالی په رزق زیاتوي اوکموي، چاته ډیرورکوي اوچاته کم، که انسان خپل کوشش وکړي اوکه نه ، رزق یوخاص مقدارکې مقرردی. دسفردوران کې هم موږته رزق پیداکیږي، داسې ښکاري چې سفرهم زموږدمقدربرخه ده. خوځینې شیانوکې شک دی. لکه واده.دانسان خوشحالي اوخفګان. شهرت. بیماري. غرض داچې نورهم ډیرشیان دي. چې دهغې باره کې ماتحقیق ونه کړ اونه یې کول غواړم. خوعالمانونه مې غوښتنه ده چې یوڅواهمې خبرې بیان کړي. چې دادتقدیربرخه ده. ایاتاسوبه زمامددوکړئ؟ ډیره مهرباني به مووي، خاص طور باندې ماته داووایئ چې واده دتقدیر برخه ده؟ یعنې دمخکې نه لیکل شوي وي چې دفلانکي هلک واده به دفلانکۍ انجلۍ سره کیږي. یاڅه داسې خبره ده چې کوشش کولوسره دهرچاسره کیدای شي. ماداسې یوحدیث لوستلی دی چې یو صحابی رضی اللہ عنہ دیوې کونډې سره واده وکړ. نوزموږ نبي جناب حضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم ورته وفرمایل چې تادپیغلې انجلۍ سره واده ولې نه کاوچې هغې تاسره لوبې کولې اوتاهغې سره، ددې حدیث نه داسې معلومیږی چې دایوه داسې معامله ده که چیرې انسان کوشش وکړي، نوهرچاسره کولې شي، خوکیدای شي چې نوراحادیث هم موجودوي. تاسوزمادسوال ځواب راکړئ. مهربانی به مووي.

جواب: دتقدیرتعلق یواځې دې څلورو شیانوسره نه دې کوم چې تاسو بیان کړي دي. بلکې دمخلوق هروړوکی،غټ ،ښه اوبدشی دتقدیر تابع دي[1]. انسان ته داپته نه وي چې دفلانکي شی باره کې زماڅه قسمت دی؟ په دې وجه باندې هغه ته حکم ورکړل شوی دی چې هغه دخپلې ارادې اواختیار، دخپل عمل اوپوهې مطابق دښه نه ښه حاصلولو پاره کوشش وکړي، مثلاً: رزق مقدر دی اودقسمت نه زیاتي چاته یوه دانه هم نه ورکول کیږي، خوچاته داپته نه وي چې دهغه په رزق کې څومره برخه ده؟ په دې وجه باندې هغه دړزق حاصلولو پاره زیات نه زیات کوشش اومحنت کوي، خوهغه ته ورکول کیږي یواځې هغه څومره چې

[1] ولا يكون فى الدنيا ولا فى الآخرة شئ اى : موجود حادث فى الاحوال جميعها الا بمشيته اى مقروناً بارادته وعلمه وقضائه اى : حكمه وامره وقدره اى : بتقديره..الخ(شرح فقه اكبرص: ۴۹) ايضاً الايمان بالقدر فرض لازم، وهو ان يعتقد ان الله تعالى خالق اعما العباد خيرها وشرها، وكتبها فى اللوح المحفوظ قبل ان خلقهم والكل بقضائه وقدره وارادته ومشيته..الخ(مرقاة شرح مشكوة ج۱ص۱۲۲باب الايمان بالقدر طبع بمبئ)

دهغه په قسمت کې لیکل شوي وي. هم داصورت داواده هم دی. مورپلار دخپلو بچو له پاره دښې نه ښه رشته کول غواړي اودخپل علم اواختیارمطابق دښې نه دښې رشتې پلټنه هم کوي، خوکیږي هغه څه چې قسمت کې وي، حضور ﷺ چې حضرت جابر رضی الله عنه ته څه فرمایلي و، چې: تاپېغلې انجلۍ سره واده ولې ونه کړ؟ ددې مطلب هم دادی چې تاته دپېغلې انجلۍ رشته کتل پکارو.[1]

سوال: زه پخپله باندې ډیرخوش قسمته یم. خوماډیرداسې بدنصیبه لیدلې دي. چې هغوی دپیدائش نه تراخره پورې بدنصیبه وي، قران کریم کې دي چې الله تعالی یوبنده ته دهغه دبرداشت نه زیات تکلیف نه ورکوي. خوماځینې داسې خلک لیدلي دي چې هغوی په تکلیفونو اومصیبتونوکې داسې مبتلاشي چې ځان وژنه وکړي. اخرداسې ولې وي؟ کله چې قران کریم کې موجوددي چې د چا دبرداشت نه زیات تکلیف چاته نه ورکول کیږي، نوخلک خودکشي ولې کوي؟ ولې لېونی کیږي؟ اوکه ځینې ژوندي هم وي، نوپه بدترین حالت کې به وي.

ددې سوال ځواب دقران کریم اوحدیثونوپه رڼاکې راکړئ ځکه چې دانسان دعقل په ځواب باندې تسلي نه کیږي، دنیاکې یو نه یو ارسطو موجوددی اوهریودخپل عقل مطابق ځواب ورکوي اودټولوځوابونه دبل نه مختلف وي. د قرآن کریم اوحدیثونونه ځواب راکړئ. امیدلرم چې ځواب به ضروورراکوئ، ستاسوبه ډیره مهرباني وي.

جواب: دقران کریم دکوم ایت حواله چې تاسوورکړې ده، دهغه تعلق خوشرعي حکمونوسره دی، اومطلب یې دادی چې الله تعالی خپل بندګان دداسې حکمونوپابندنه جوړوي کوم چې دهغوی دهمت او طاقت نه بهروي اودکوم حدپورې چې دتکلیفونواومصیبتونوتعلق دی. اګرچې دا ایت مبارک دهغو باره کې نه دی، خوداخبره هم په خپل ځای باندې صحیح ده چې الله تعالی چاباندې دومره مصیبت نه اچوي، چې دهغه دبرداشت نه بهروي، لکه چې یوبل ځای کې یې ارشادفرمایلی دی: "انسان فطرتي طورباندې کمزوری دی،، هغه ته که معمولي شان تکلیف ورسیږي، نوهغه چغې وهل شروع کړي اوچغې یې اسمان ته رسیږي، بزدله خلک دمصیبتونوپه وجه خودکشي کوي، دهغه وجه دانه وي چې مصیبت دهغوی دبرداشت دحدنه بهروي، بلکې هغوی دخپلې بزدلې په وجه باندې هغه دبرداشت قابل ونه ګڼي اوهمت له لاسه ورکړي، که چېرې هغه دلرشان صبر او همت نه کاروا خلي، نودغه تکلیف برداشت کولی شي، غرض داچې انسان باندې داسې مصیبت کله هم نه نازلیږي،

---

[1] عَنْ جَابِرٍ.....قَالَ أَبِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا؟ قَالَ قُلْتُ بَلْ ثَيِّبًا، قَالَ فَهَلَّا بِكْرٌ .....الخ(مشکوة ص: ۲۷۶، کتاب النکاح ، طبع قدیمی)

کوم چې هغه نه شي برداشت کولی، خواکثردانسان دناپوهي په وجه باندې خپل همت اوقوت نه کار وانه خلي، يوشی دانسان دبرداشت نه بهرکيدل بېله خبره ده اوديوشی دبرداشت کولوهمت اوقوت نه استعمالولو بېله خبره ده اودې دواړوکې دځمکې اواسمان فرق دی، يو ديوشی دانسان دطاقت نه بهرکيدل اويودانسان يوشی دخپل طاقت نه بهرکڼل دي، که چېرې تاسوددې دواړوپه فرق باندې پوه شئ نوستاسومشکل به ختم شي

د تقدير د مسئلې مزيد وضاحت

سوال: تاسودجنګ اخبارپه کالم کې ديوې مېرمنې دسوال په ځواب کې..تقديرالهی څه دی؟ ځواب ليکلی و،ستاسوځواب مې په ذهن کې بياشک راپيداکړ.تاسوليکلي دي چې هرشی دتقدير الهي پابنددی اودانسان دژوندپه باره کې ټولې خبرې له مخکې نه ليکل شوي دي دمخلوق هرشی دالله تعالى تابع دی. دابالکل ښکاره خبره ده. په ذهن کې مسئله هغه وخت پيداکيږي کله چې تاسوداوليکل چې دانسان دژوندټول معاملات له مخکې نه متعين اومقرر شوي دي، مثلاً رزق،واده وغيره معاملات.

بيادانسان په ژوندکې دعمل له پاره څه پاتې کيږي؟ داضرورده چې دانسان له پاره چې الله تعالى څه معاملات دمخکې نه مقرروي، مثلاً:دژوند،مرګ او واده په شان معاملات (حقيقت خو دادی چې هيڅ دتعجب خبره نه ده چې الله تعالى درحمت دجوش په حالت کې دغو مقدرومعاملاتوکې تغير وکړي) خو که په ټولو معاملاتوکې دغه صورت حال وي، نوانسان کمزوری کوشش هم دڅه له پاره وکړي؟

تاسودژونددټولو معاملاتوله پاره چې کوم ځواب ليکلی دی له هغه نه دامعلوميږي چې دانسان ټول کوششونه بې فائدې دي، ددې ټولوکوششونوهماغه نتيجه راوځي،کومه چې دهغه دکوشش نه مخکې ليکل شوې وه، بياهغه دڅه له پاره کوشش وکړي؟ سره له دې چې هغه ته معلومه ده چې دهغه دهرکوشش نيتجه محض دصفرپه شکل کې راوځي،نه مولاناصاحب!

زه ستاسوتوجه دې ايت ته هم راګرځول غواړم چې ترجمه يې داده:

هرکس ته به دومره ورکول کيږي څومره چې هغه کوشش کوي.

اوس محترم يوسف صاحب! دادليل مه راته وايئ چې دانسان دکوششونوفيصله هم له مخکې نه شوې ده، يعنې داچې هغه به څومره کوشش کوي. دادليل به بحث برايې بحث وي،ځکه چې ددې به هم هغه مطلب شي چې دهرې خبرې فيصله دمخکې نه شوې ده. سره له دې نه چې دپورتني ايت مطلب هيڅ کله هم دا نه شي کېدآی.

ويره ده چې په لکونوکسان داکالم لولي اوستاسوکالم سره به يې دژوندټولې هيلې ختمې شوې وي اوپه فکرکې به راګيرشوي وي.

د دعا فلسفه

سوال: ۱: ستاسو په ځواب کې چې په مذهب اسلام کې د دعاچې کومه فلسفه او تصوردی ، چې د اسلام د بنیادي عقائدو څخه دي نفې کیږي. کله چې تاسو وایئ چې الله تعالی د انسان دژوند ټول معاملات مخکې فیصله کړي او مقرر کړي دي ،که انسان هرڅه وکړي هغه څه به کیږي کوم چې دهغه په تقدیرکې لیکل شوي دي اوس د الله تعالی یو بنده دخپل یو مشکل اومصیبت له پاره الله تعالی ته سوال اودعاکوي. نوستاسو دځواب نه معلومیږي چې ګویاهغه دیوال سره سروهي، بیاددعاله پاره څه معنا پاتې کیږي؟اوبیاددې څه مطلب دی؟ ..الله تعالی دعااوریدونکی دی...

اوالله تعالی داد شفقت نه ډک الفاظ چې:دالله تعالی درحمت نه مایوسه کیږئ مه...څه معنا لري؟

۲:داهم یادساتئ چې (Rigidity) اورحمت یوځای کیدای نه شي اوتاسوچې په خپل ځواب کې چې څه فرمایلي دي دهغه مطابق. خوانسان ته دالله درحمت دامید په خلاف مایوسه کیدل پکاردي، ځکه چې ستاسو د وینا مطابق دالله تعالی په نزد دانسان دعاګانې ،دهغه سوالونه اود هغه دژوندټول کوششونه هیڅ معنا نه لري.

۳:خبره چې ستاسودځواب تردیدکوي هغه داقوام عالم تاریخ دی، نن امریکه اوټوله اوروپا د ترقي په لاره روان دي،کم نه کم دمادي ترقي په لحاظ سره(هسې اخلاقي لحاظ سره هم هغوی دمسلمانانونه ډیربنه دي) اودهغوی دترقي یواځې اویواځې دهغوی دمحنتونو او مسلسلو کوششونو نتیجه ده اوس که تاسووایئ چې الله تعالی دهغوی په تقدیرکې د مخکې نه داسې لیکلي وو، نوبیا خو به تاسو داټولې خبرې منئ:

۱:الله تعالی ددې قومونوتقدیر چې موږ ورته کافراوګمراه قوم وایو،کامیابي اوارامتیا لیکلې ده اوداچې دهغوی دکوششونو اجرورکوي.

۲:هغه دخپلو منونکواونوم اخستونکوقومونوپه تقدیرکې ناکامي اوذلت لیکلی دی او د هغوی دکوششونومحض ضائع کیدل یې لیکلي دي اواوس چې په ټوله دنیاکې مسلمان ذلیل اوخواردي اودچینجوپه شان مړه کیږي. نوپه دې ټولوامورو کې هغوی بالکل بې قصوره اوبری الذمه دي. ځکه چې داڅه کیږي هغه خومحض دتقدیرلیک دی، محترم یوسف صاحب!داقوم دمخکې نه دخپلې نااهلۍ او (corruption) انتهاء ته رسیدلی دی اواوس ورته داسې بې علمي (Tranqulizer) مۀ ورکوئ. دوی دمخکې نه دبې غمي په خوب ویده پراته دي. دوی ته ووایئ چې:

ستاره کیا تیری تقدیر کی خبر دے گا　　وہ خودفراخی افلاک میں ہے خاک زبوں

عطاہو، رومی ہو، رازی کہ غزالی ہو　　کچھ ہاتہ نہیں آتا ہے بے آہ سحرگاہی!

جواب: ستاسو د دربووارو سوالونو ځواب زما په تحريرکې موجود و. خو تاسو جناب غور ونه کړ، په هرحال ستاسو له پاره څه اموروپه دوېم ځل ليکم:

۱: د تقدير مسئله په قران پاک[۱] او احاديث شريف کې ذکر ده[۲] او دا د حضور ﷺ او صحابه کرامو رضوان الله اجمعين او ټولو اهل حق متفق عليه عقيده ده[۳]. د دې وجې د دې نه انکار کول يا دې پورې ټوکې کول د ځپل دين او ايمان پورې ټوکې کول دي.

۲: د اسمان او ځمکې د جوړولو نه مخکې الله تعالى ته د اينده کيدونکيو ټولو واقعاتو علم و، د اعلم الله تعالى په لوح محفوظ باندې وليکه. په دنيا کې چې څه کيږي د الله تعالى د علم او ليک مطابق کيږي. د دې خلاف نه شي کيداى. وواييءَ چې د دې عقيدې د کومې حصې سره ستاسو اختلاف دى؟ ايا ستاسو ايمان نه دى چې هرشى کوم چې په وجود کې راتلونکى دى الله تعالى ته د ازل نه د دې علم و؟ او که تاسو د دې نه انکار کوئ. نو د دې مطلب دا دى چې تاسو خداى بې علمه يا بې علمه خداى منئ؟ او دا کفر دى؛ که تاسو وواييءَ چې الله تعالى ته پته وه خو ضروري نه ده چې څنګه هغه ته علم وهم‌غه شان دې شيان هم په وقوع کې راشي. نو د دې به دا معنا وي چې د الله تعالى علم غلط شو. د مثال په توګه زما د پيدا کيدو نه واخله ترمرګ پورې حالات، افعال، حرکات، سکنات، وغيره، ټول الله تعالى ته معلوم و که نه؟ که معلوم نه وو (نعوذ بالله) بې علمه کيدل لازميږي او که ورته معلوم وو. نو ايا د علم الهي خلاف کيدلى شي او که نه؟ که تاسو وواييءَ چې د دې خلاف کيدلى شي. نو د الله تعالى د علم غلط کيدل لازم راغلل (نعوذ بالله) او که خلاف کيدلى نه شي. نو هم دغه د تقدير عقيده ده. معلومه شوه هرهغه کس څوک چې په الله تعالى باندې ايمان لري د هغه د تقدير باندې ايمان راوړل لازمي دي، که نه د هغه د ايمان دعوه باطله ده.

۱] قال تعالى : انا كل شئٍ خلقناه بقدر (القمر : ۴۹)

۲] عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لاَ يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ يَشْهَدُ ...وَيُؤْمِنُ بِالْقَدَرِ (مشكوة باب الايمان بالقدر ص:۲۲ طبع قديمى كتب خانه ترمذى ج۲ ص۳۶ ابواب القدر، طبع سعيد)

۳] واعلم أن مذهب أهل الحق اثبات القدر ومعناه أن الله تبارك وتعالى قدر الاشياء فى القدم وعلم سبحانه أنها ستقع فى أوقات معلومة عنده سبحانه وتعالى وعلى صفات مخصوصة فهي تقع على حسب ما قدرها سبحانه وتعالى (شرح مسلم للنووى ج:۱،ص: ۲۷ كتاب الايمان) قلت : وقد تظاهرت الادلة القطعية من الكتاب والسنة واجماع الصحابة على اثبات التقدير ....الخ (تحريرات الحديث مولنا حسين على ص:۴۹۲، طبع جامعه عربيه احسن العلوم) ايضاً : عن عبدالله بن عمرو بن العاص قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : كتب الله مقادير الخلائق قبل أن يخلق السماوات والأرض بخمسين ألف سنة ومعنى كتاب الله اجرى الله القلم على اللوح المحفوظ بايجاد ما بينهما من التعلق واثبت فيه مقادير الخلق ماكان وما هو كائن الى الابد على وفق ما تعلقت به ارادته اولاً (مرقاة شرح مشكوة ج:۱،ص: ۱۲۲ باب الايمان بالقدر)

۳: تاسو داولیدل چې: هرکس ته هغه څه ورکول کیږي دکوم څه چې کوشش وکړي. خو تاسو دا ولې ونه لیدل چې دکوم قران تاسو حواله ورکوئ، نو په هغه قران کې دا هم لیکل شوي دي چې: إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ○ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ (القمر: ۴۹او۵۳)

ترجمه: موږ هر یو شی په یوې خاصې اندازې سره پیدا کړی دی....اوهر وړوکی اولوی شی مولیکلی دی.

هم دغه قدر کوم چې قران ذکر کوي . .تقدیر. .بلل کیږي اودهرشی دمخکې نه دلیکلو اعلان قران کوي اوس ووایئ چې دادتقدیرمسئله زماله لوري جوړه کړل شوې ده که قران کریم بیان کړې ده؟

۴: پاتې شودانسان دمجبورکیدوسوال؛ ددې ځواب مامخکې ذکرکړی دی. چې په تقدیرکې دالیکل شوي دي چې بنده به فلانی کارپه خپلې ارادې اواختیارسره کوي اود جزا او سزا مستحق به ګرځي، دتقدیرسره دانسان داختیاراوارادې نفی نه کیږي اودانسان اختیاردتقدیرمقابل نه دی، بلکې دتقدیرماتحت دی[۱]، خو که داخبره ستاپه پوهه کې نه راځي، نوزه تاسونه پوښتنه کوم چې دتقدیرپه منلوسره ستاسودوینا مطابق مجبورکیدل لازمیږي اودتقدیرنه دنفې په صورت کې دهغه قادرمطلق کیدل اوخالق کیدل لازم راځي. ستاسوپه خیال دانسان قادرمطلق کېدل اودخپل تقدیرپه خپله خالق کیدل منل ایاهغه دخدایي په منصب باندې کینول نه دي؟

۵: ستاسوداګڼل چې که تقدیرپه حقه شي، نودانسان کوشش بې نتیجې کیږي.داخبره ځکه غلطه ده چې انسان ته دارادې اواختیار ورکولوسره دمحنت اوکوشش حکم ورکړل شوی دی او تقدیر (علم الهي)کې داویل شوي چې فلانې کس به دومره کوشش کوي اودهغه به دانتیجه راوځي، کله چې محنت اوکوشش هم په تقدیرکې لیکل شوی دی اودهغه نتیجه هم، نوکوشش اومحنت ولې بې نتیجې شو؟اونګاه مردمومن سے بدل جاتی هین تقدیرین. . خو زما دعقیدې تفسیر، په تقدیرکې لیکل شوی دی چې دفلانې مرد مومن نظرسره به فلانی کار وشي، دابدل شوی تقدیرهم داصل تقدیرلاندې دی.له دې نه خارج نه دی.

۶: ته دتقدیرپه مسئله پوه نه شوې. له هم دې وجې دې دعا دتقدیرخلاف وګڼله. سره له دې چې دعاهم داسبابونه یوسبب دی اوپه تقدیرکې ټول اسباب لیکل شوي دي. چې فلانی بنده به الله تعالی نه سوال کوي ،دالله تعالی په وړاندې به ژاړي اودهغه فلانی کاربه کیږي.[۲]

۱] وللعباد افعال اختيارية ، يثابون بها ان كانت طاعة ، ويعاقبون عليها ان كانت معصية، لا كما زعمت الجبرية....الخ (شرح عقائد ص: ۸۱ طبع خير كثير)

۲] واعلم: ان القدر لا يزاحم سببية الاسباب لمسبباتها ، لانه انما يتعلق بالسلسلة المترتبة جملة مرة واحدة، وهو قوله صلى الله عليه وسلم فى الرقى والدواء والتقاة هل ترد شيئاً من قدر الله ؟[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

۷: له دې نه داهم معلومه شوه چې دتقدیرمسئله داسبابو اختیارول نه منع کوي اونه مایوسي پیداکوي، بلکې ددې برخلاف دلا زیات محنت دعوت ورکوي اود مایوسو کسانو له پاره له ټولونه لويه اسره اوسبب دی، هم دغه وجه ده چې کوم کسان د تقدیردعقیدې نه ناخبره دي هغوی په اکثروخت‌نوکې دحالاتونه چې تنګ شي، نود خودکشي په شان بې وقوفي وکړي،خو يو رښتوني اوپوخ مومن چې په الله تعالی باندې پوره ایمان اوباور لري هېڅکله به دې دهغه د خودکشي خبر نه وي اوربدلی،دتقدیرپه عقیده باندې ایمان لرونکي چې څومره دعاګانې او سوالونه الله تعالی ته کوي نورخلک يې هغومره نه کوي اودتقدیرپه عقیده باندې ایمان لرونکي چې څومره کوش اومحنت کوي نوريې نه کوي،په خپله زمامثال ستاسوپه وړاندې دی، دالله تعالی شکردی چې دکمزوري سره سره ددريو کسانو براب رکار کوم،له دې وجې نه ستاسو دا نظریه غلطه ده.

۸: ته دمغربي قومونوپه مقابله کې دزياتې کمترې ښکارېږي، دهغوی دمادي ترقي نه مرعوب کېدوسره تاهغوی ته دمسلمانانوپه مقابله کې داخلاقي تفوق سندهم ورکړ، زه نه پوهيږم چې هغوی ته کومه اخلاقي برتري حاصله ده؟ایاپه هغه ملکونوکې زنااوشراب څښل داسلامي ملکونوپه نسبت کم دي، تاسوته به یادوی چې په نیویارک کې دڅوګنټوله پاره بجلي تللې وه، نوهلته دغلا،ډاکواوبدمعاشي څنګه بازارګرم شوی و؟ایادغه دهغوی اخلاقي برتري ده؟دچاچې تاسوصفتونه کوئ اوبیاتاسودهغوی مقابله دنن مسلمانانوسره کوئ، دچاپه لیدوسره چې به يهوديان هم وشرمیږي ایاددې مسلمانانوبدعملي د تقدير دعقيدې له وجې نه ده؟بلکې دتقدير اونورصَحيحو عقيدو دنه لرلو له وجې ده اودمغربي قومونومادي ترقي خواول زماپه نظرکې ددې لائق نه ده چې دهغې طرف ته دې وکتل شي، دې قومونوته چې کومه مادي ترقي حاصله ده ایازموږ خوږ پيغمبر ﷺ اودحضور ﷺ نه مخکې نبیانوته هم حاصله وه؟اودموسی علیه السلام په واقعه باندې لږشان غوروکړئ،چې ماديات دفرعون سره ډير ود که دموسی علیه السلام سره؟دحضرت ابراهيم علیه السلام په مقابله کې نمرودته وګورئ،کوم مادي شان اوشوکت چې نمرودته سره و اياهغه ابراهيم علیه السلام ته هم حاصل و؟زموږ پيغمبر ﷺ اودهغوی هم عصرقيصراوکسری ته وګورئ اياحضور ﷺ ته هم هغه مادي شان حاصل و،کوم چې قيصراوکسری ته حاصل و؟که ستاسودونیاسره سم غربيان دمسلمانانونه دمادي ترقي په وجه بهتردي نولږ شان دقومونوپه تاريخ باندې نظرهم واچوئ چې اياددنيااسانتياوې دانبياوو کراموعليهم السلام په مقابله کې ګمراه او بې ايمانه قومونوته حاصله نه وه؟

.....بقيه د تير مخ].. قال : هی من قدر الله ...... الخ (حجة الله البالغة ج:١،ص: ٦٧ باب الایمان بالقدر ،طبع ادارة الطباعة المنيرية ،دمشق)

ترکومې پورې چې دمحنت اوکوشش تعلق دی پورته ماوویل چې دادتقدیرخلاف نه دی.که ستاسودونیاسره سم کافرانوته کامیابي اوارامي حاصله ده. نودادهغوی دمحنت په بدله کې په تقدیرکې لیکل شوي دي اوستاسودونیاسره سم که مسلمانان له ذلت اورسوایي سره مخ دي . نودادوی دبدعملي په نتیجه کې لیکل شوی تقدیردی.

۹:ستاسودانظر سراسرغلط دی چې دتقدیر عقیده. نااهلي،مایوسي اوبې عملي پیداکوي. هر هغه مومن چې په تقدیرباندې صحیحه عقیده لري هغه به کله هم نااهله،مایوسه اوبې عمله نه وي.ددې نااهلي اوبې علمي سبب دخپل دین نه انحراف دی نه د تقدیر عقیده.

۱۰:په پای کې غوښتنه کوم چې دتقدیردعقیدې نه انکارکولوسره دقران کریم اوحدیث شریف له احکامونه انکار ونه کړل شي. دتقدیرعقیده حق ده،که موږ یې ومنو اوکه انکار ترې وکړو، دتقدیر عقیده حق ده،ددې عقیدې صحیح کېدل زموږ په منلویانه منلوباندې موقوف نه دي اوترڅوپورې چې دالله تعالی دعلم اوقدرت نفي ونه کړل شي د تقدیردعقیدې نفي ممکن نه ده،تاسوته اختیاردی چې عقیده تقدیرباندې ایمان راوړلوسره دالله تعالی علم محیط اوقدرت کامله هم ومنئ،یاعقیده تقدیرنه انکارکولوسره دالله تعالی دعلم اوقدرت له منلونه هم انکاري شئ،مشکل خودادی چې تاسوددین بنیادي عقیدې زده کړي نه دي. ددې وجې نه دې ذهن ګډوډ دی، که تاسودین زده کول غواړئ نوپه خپلونیم ګړو معلوماتو باندې ملامه تړئ بلکې ددین کتابونه په صحیح طورسره ولولئ ،زماخیال دی چې د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله کتاب ،،بشهتي زیور،، تراوسه پورې ستاسوله نظره نه دی تیرشوی،تاسودهغه مطالعه وکړئ اوکه بیاهم درته څه شک وي. نودهغه دلیرې کولوله پاره حاضریم

تقدیر حق دی او منل یې د ایمان شرط دي

سوال: (۱) د انسان دنیا ته له راتګ نه مخکې تقدیر لیکل کیږي،چې دا سړی به په دنیا کې دا کار کوي .ایا په تقدیر کې لیکلي وي چې کله داسړی له دنیا نه رخصتیږي. نو د ده به دومره نیکي وي او دومره به یې بدي وي. نو بیا په عمل نامه او تقدیر کې څه فرق دی؟

(۲): که چیرې څوک په مصیبتونو او تکلیفونوکې مبتلا وي. نو خلک وایي چې دده په تقدیرکې به داسې لیکل شوي وي اوکه چیرې څوک په عیش او عشرت سره ژوند تیروي، نو خلک وایي چې دده تقدیر ښه دی،سره له دې چې دالله تعالی فرمان دی چې څومره چا کوشش وکړ هغو مره یې وموندل. نوتقدیر څه شی دی؟

(۳): اوپه یوځای کې مې لوستي دي چې په تقدیرکې کوم څه لیکل کیږي هغه نشي بدلیدلی،سره له دې چې امام المرسلین ﷺ فرمایلي دي: دمظلوم ښېرې نه رد کیږي دهغه د دعا له پاره داسمانونو دروزاې پرانستل کیږي او الله تعالی فرمایي چې زما دې پخپل عزت

قسم وي چې زه به ستا مدد کوم". نو ایا ددې مطلب هم دادی چې په دعا سره تقدیر بدلیږي؟
(۴): نجومي یا عامل وغیره دلاس کتلو سره ښیي چې ستا تقدیرداسې دی. همدارنګه په پیاده رو(فوټ پاټ) باندې ناست په نظر راځي چې دطوطي په ذریعه فال معلوموي اود عوامونه بي وقوف جوړوي.ایا دالله تعالی نه پرته بل چاته معلومه ده چې اینده به څه کیږي؟
(۵): لنډه دا چې ایا تقدیر انسان باندې راڅرخي چې څنګه یې جوړوي یا له مخکې نه لیکل شوی وي؟که چېرې له مخکې نه لیکل شوی وي، نو ایا بدلیدای شي اوکه نه؟که چېرې نشي بدلیدای نو خلک دې بیکاره کینې، ځکه چې هغه څه به کیږي چې کوم په تقدیرکې لیکل شوي وي.

جواب: تقدیر حق دی او منل یې د ایمان شرط دي[1]،خو د تقدیر مسئله بې حده نازکه او باریکه ده،ځکه چې تقدیر د الله صفت دی او انسان د الله د صفتونو احاطه نشي کولی[2]، بس دومره عقیده ساتل پکار دي چې په دنیاکې چې څه هم کیږي الله تعالی ته دمخکې نه دهغه علم وي او الله تعالی هغه دمخکې نه په لوح محفوظ کې لیکلي و[3]،په دنیا کې چې څه کیږي دهغه دوه قسمونه دي. ځینوکې دانسان ارادې او اختیار ته هم دخل دی او په ځینوکې نشته چې په کومو کارونو کې دانسان د ارادې او اختیار دخل دی او په هغه کې د کار کولو حکم وي، که چېرې دا کارونه پخپله اراده او اختیار سره پریږدي .نوپه دې باندې به مواخذه وي[4]او د کومو کارونوکې چې د پرینښودلو حکم دی، نودهغه پخپله اراده او اختیار سره پرینښودل ضروري دي که هغه نه پریږدي نو مواخذه به یې وي،لنډه دا چې څه کیږي د تقدیر مطابق کیږي،خو په اختیاري کارونوکې چونکې د انسان د ارادې او اختیار هم دخل دی،ځکه به په نیکو او بدو اعمالو باندې جزا او سزا وینې.زموږ له پاره له دې نه زیات په دې مسئله کې تحقیق جایز نه دی اونه یې څه فائده شته.

۱] عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لاَ يُؤْمِنُ عَبْدٌحَتَّى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ ....وَيُؤْمِنُ بِالْقَدَرِ (مشكوة ج۱ص:۲۲) نيز:قال الامام الاعظم: يجب اى يفرض...ان يقول آمنت بالله...والقدر(شرح فقه الاكبرص: ۱۳ تا ۱۵)

۲] والقدرة ، وهى صفة ازلية تؤثر فى المقدورات عند تعلقها بها (شرح عقائد ص:۱۱۳ طبع ایچ ایم سعید)

۳] ولا يكون فى الدنيا ولا فى الآخرة شئ... الا بمشيته وعلمه وقدره اى بتقديره بقدر قدره وكتبه .....الخ (شرح فقه اكبر ص:۴۹)

۴] فللعباد افعال اختيارية يثابون بها ان كانت طاعة، ويعاقبون عليها ان كانت معصية...(شرح فقه اكبرص:۵۱)

په تقدير او تدبير کې څه فرق دی؟

سوال: جناب تاسو ته يو وړانديز دی ،زما او زما د دوستانو په مينځ کې يو سوال مطرح شوی دی،که چېرې موږ په دی مسئله باندې پخپله بحث کوو ،نو ددې نتيجه غلطه هم راوځي.زما له تاسو نه غوښتنه ده چې دا مسئله حل کړئ او موږ ټول مطمئن کړئ!
دا حقيقت دی چې تقديرونه الله تعالى جوړ کړي دي خو چې کله يو سړی ديوکار کولو سره سره بياهم ناکام شي،نوهغه ته دا ويل کيږي چې ستاتقدير خراب دی په دې کې ستاڅه قصور دی، نوايا ددې مطلب دا نه شو چې دانسان کوششونه ضائع کيږي؟ترڅوپورې چې دهغه په تقدير کې ددې کار کېدل ليکل شوي نه وي خو چې کله يوسړی دخپل تدبير او کوشش په هيله باندې کارکوي. نو دالله پاك جوړ شوی تقدير په مينځ کې راشي.

جواب: حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمايي چې موږ د تقدير مسئله باندې بحث کاوو چې رسول الله ﷺ تشريف راوړ،موږ يې په دې بحث کې چې وليدو نو ډېرغوسه شو تردې پورې چې مخ مبارك يې دانار په شان سور شو او ډېره په تيزه لهجه کې يې وفرمايل:
"ايا تاسو ته ددې خبرې حکم درکړل شوی دی؟ ايا زه تاسوته په دې شی سره رالېږل شوی يم؟ ستاسو نه مخکې خلک هغه وخت هلاك شول،چې کله هغوی په دی مسئله کې بحث او جدال وکړ ،زه تاسو ته قسم درکوم چې په دی کې بالکل بحث او جدال مه کوئ"[۱] ،(ترمذي، مشکوة صفحه۲۲)

ام المومنين حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي چې کوم سړی د تقدير په مسئله کې لږ بحث هم وکړي دقيامت په ورځ به په دې باره کې دهغه نه پوښتنه کيږي او کوم سړی چې په دی باره کې خبرې ونکړي دهغه نه به پوښتنه نه کيږي[۲] .(ابن ماجه مشکوة صفحه۲۳)

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې هيڅ يوسړی مومن نشي کيدای ترڅو پورې چې په دې څلورو خبرو باندې ايمان رانه وړي:
(۱):ددې خبرې ګواهي ورکړي چې دالله تعال نه پرته بل معبود نشته.
(۲): په مرګ او له مرګ نه وروسته ژوند باندې ايمان راوړي.
(۳): او بل په دې ايمان ولري چې زه دالله رسول يم.الله تعالى زه له حق سره رالېږلی يم.

۱] عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَنَحْنُ نَتَنَازَعُ فِى الْقَدَرِ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ حَتَّى كَأَنَّمَا فُقِئَ فِى وَجْنَتَيْهِ الرُّمَّانُ فَقَالَ « أَبِهَذَا أُمِرْتُمْ أَمْ بِهَذَا أُرْسِلْتُ إِلَيْكُمْ إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حِينَ تَنَازَعُوا فِى هَذَا الأَمْرِ عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ أَلاَّ تَتَنَازَعُوا فِيهِ (مشکوة ص:۲۲ باب الايمان بالقدر)
۲] عن عائشة رضى الله عنها قالت : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : من تكلم فى شئ من القدر سئل منه يوم القيامة ، ومن لم يتكلم فيه لم يسئل عنه (مشکوة ص:۲۳، باب الايمان بالقدر)

(۴): او په تقدیر باندې ایمان راوړي.[۱] (ترمذی ابن ماجه مشکوة صفحه ۲۲).
دنبي کریم ﷺ له دې ارشاداتو لاندې شیان معلوم شو.
(۱): تقدیر حق دی او په تقدیر باندې ایمان راوړل فرض دي.
(۲): د تقدیر مسئله نازکه ده په دې کې بحث او خبرې کول منع دي او په دې باندې د قیامت په ورځ د پوښتنې ویره ده.
(۳): تدبیر د تقدیر خلاف نه دی بلکې د تقدیر یوه برخه ده.

په تقدیر باندې ایمان راوړل ضروري دي

سوال: په کوموشیانو باندې د ایمان راوړلو نه پرته چې بنده نشي مسلمانیدای په هغو کې تقدیر هم شامل دی، خو موږ ته دا معلومه نه ده چې په تقدیر کې څه شی دي. ځینې خلک وایي چې په تقدیرکې مرګ. رزق اوله چاسره چې واده کېدونکی وي شامل دي تاسو دا ووایئ چې اخر په کوم تقدیرباندې زموږ ایمان دی؟ په هغه کې کوم کوم شیان شامل دی؟ او ایا دا رېښتیا ده چې الله تعالی هرشی دمخکې نه مقرر کړی دی؟

جواب: په تقدیر باندې ایمان راوړل فرض دي او دتقدیر یو مطلب مخلوق دی او دکائناتو د پیدا کولو نه مخکې هرشی د الله په علم کې یوه اندازه و. هم ددې مطابق ټول شیان په وجودکې راځي، که په هغه کې دانسان د ارادې دخل وي یا نه وي. که داسبابو په ذریعې سره په وجودکې راشي یاله ظاهري اسبابو نه پرته.[۲]
کوم شیان چې الله پاك د اسبابو ماتحت ساتلي دي دهغو دجائزو اسبابو داختیارولوحکم دی په هغو کې دناجائزو اسبابونه پرهیز کول فرض دي.

تقدیر جوړول

سوال: ایا انسان خپل ښه مستقبل پخپله جوړي. که الله تعالی دده مستقبل جوړوي. زما نظریه داده چې انسان خپل دماغي صلاحیتونه پکار راولي او خپل قسمت پخپله جوړوي

۱] عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه وسلم « لاَ يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّى رَسُولُ اللَّهِ بَعَثَنِى بِالْحَقِّ وَيُؤْمِنُ بِالْمَوْتِ وَبِالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ وَيُؤْمِنُ بِالْقَدَرِ(مشکوة باب الايمان بالقدر ص:۲۲)-

۲] قال فى الشرح السنة الْإِيمَان بِالْقَدَر فَرْض لَازِم وَهُوَ أَنْ يَعْتَقِد أَنَّ اللَّه تَعَالَى خَالِق أَعْمَال الْعِبَاد خَيْرهَا وَشَرّهَا وَكَتَبَهَا فِي اللَّوْح الْمَحْفُوظ قَبْل أَنْ خَلَقَهُمْ ، وَالْكُلّ بِقَضَائِهِ وَقَدَره وَإِرَادَته وَمَشِيئَته....الخ (مرقاة شرح مشكوة ج:۱،ص: ۱۲۲ باب الايمان بالقدر طبع بمبی) كتب الله مقادير الخلائق ...... ومعنى كتاب الله اجرى الله القلم على اللوح المحفوظ بايجاد ما بينهما من التعلق واثبت فيه مقادير الخلق ماكان وما هو كائن الى الابد على وفق ما تعلقت به ارادته اولاً (مرقاة شرح مشكوة ج:۱،ص: ۱۲۲ باب الايمان بالقدر)

اوزما د يو دوست نظريه زما نه مخالفه ده دهغه وينا ده چې انسان خپل ښه مستقبل پخپله نشي جوړلی بلکې دهرسړي قسمت الله تعالی جوړوي. ايا همداسي ده؟

جواب: انسان ته دنيکي او بدي اختيار ضرور ورکړل شوی دی[۱]، خو هغه دخپل قسمت مالك نه دی. قسمت دالله په قبضه کې دی. په دی وجه داويل چې انسان د خپل تقديرپخپله خالق دی يا دا چې خپل تقديرپخپله جوړوي. د اسلامي عقيدې نه خلاف خبره ده[۲]

ايا ظاهري اسباب د تقدير خلاف دي؟

سوال: په تقدير باندې ايمان راوړل دهرمسلمان فرض دي. يعني په ښه او بد تقدير باندې ايمان راوړل. خو چې کله ده ته نقصان ورسيږي يا په مصيبت کې راګيرشي. نوهغه ظاهري اسباب ددې ذمه وار ګڼي هغه ولې داسې وايي چې که چېرې داسې نه مې کړې وای نوداسې به شوي وو. دا نقصان به نه و اودامصيبت به نه راته؟ نو ايا په داسې خبرو کې ګناه شته؟ايا دداسې ويلوسره په تقديرباندې په ايمان کې څه فرق راځي؟اوايا انسان ته دتقدير په باره کې سوچ کول نه دي پکار؟

جواب: شرعي حکم دا دی چې څه کار کوئ ښه سوچ اوسړو دماغو سره يې وکړئ. دهغه له پاره چې څومره جائز اسباب تيارولی شئ په هغه کې کمی مه کوئ. هرکله چې دخپل همت، طاقت او د اختيارد حده پورې چې کوم څه ته کولې شې هغه دی وکړل د دې نه وروسته نتيجه الله ته حواله کړه. که چېرې الله دې نه کوي که څه د نقصان صورت پيښ شو، نودا خيال کوه چې الله ته به هم داسې منظوره وه. کوم څه چې الله ته منظور و هغه وشواو هم په دې کې حکمت و. په داسې صورت کې دا ويل چې که داسې مې کړي وای. نو داسې به شوي و. په دې سره طبعيت خراب او پريشانه شي او څه چې کېدل هغه خووشو. هغه خوپه هيڅ صورت کې بيا نه راګرځي. نواوس کاش چې داسې مې کړي وای او داسې نه کولای له دېرخفګان اوپښېمانتياپرته نور څه دي؟ ځکه په حديث کې ددې نه منع فرمايل شوې ده اودې ته د شيطان دعمل کيلي ويل شوې ده[۳]، په حقيقت کې دا دايمان اوهمت کمزورتيااوله الله تعالی سره دصحيح تعلق دنشتوالي نښه ده.

۱] والله تعالى خالق لافعال العباد....... وللعباد افعال اختيارية يثابون بها ان كانت طاعة ، ويعاقبون عليها ان كانت معصية ......الخ(شرح عقائد ص:۷۵ تا ۸۱)

۲] عن ابن عمر رضى الله عنه .... كل شئ بقدر حتى العجز والكيس (رواه مسلم) مشكوة ص:۱۹، باب الايمان بالقدر)

۳] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صلى الله عليه وسلم وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَلاَ تَعْجِزْ وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلاَ تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا. وَلَكِنْ [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

د انسان د حالاتو سبب د هغه عملونه دي

سوال: یو انسان چې هغه ته په هر ځای کې له خپل قسمت نه شکست وي. یعنې یو انسان چې غریب او محتاج هم وي او غریبي وهلی وي .د علم شوق یې وي. خو علم دده په نصیب کې نه وي .خوشحالي یې کمه وي غم یې زیات وي،مرضونه یې ډېر وي، د مور و پلار خویندو رونړو په موجودیت کې د محبت نه محروم وي.خپل خپلوان ورسره ملاقات نه خوښوي.محنت زیات کوي او میوه یې کمه وي.داسې انسان په دې ویلو باندې مجبور وي چې یاالله ! څنګه چې زه بدنصیبه یم داسې ته بل څوک مه جوړوې.دهغه دا الفاظ دهغه په حق کې څنګه دي؟ که چېرې هغه پخپل تقدیر باندې صبر کوي اودصبرطاقت یې نه وي نو څه کول ورته پکار دي؟

جواب: انسان ته چې کوم ناخوښه حالات مخ ته راشي په هغه کې زیاترد انسان د اعمالود سزا په وجه سره راځي[۱] اوښکاره خبره ده په دې کې دالله نه شکایت بې ځایه دی.انسان ته دخپلو عملونو صحیح کول پکار دي او کوم کارونه چې بې اختیاره مخې ته راشي په هغه کې د الله تعالی څه ذاتي غرض نه وي بلکې د بنده مصلحت پکې وي.ځکه په ډېر سوچ سره صبرپکار دی چې په دې کې دالله تعالی هرڅه مقصد وي ماته منظوره ده.له دې سره چې الله تعالی کوم بېشمېره نعمتونه درکړي دي هغه هم یاد ساتل پکار دي او"الحمد لله علی کل حال" ویل پکار دي.[۲]

د انسان په ژوندکې چې څه کیږي ایا هغه ټول له مخکې نه لیکل شوي وو؟

سوال: د انسان په ژوندکې چې څه کیږي ایاهغه دمخکې نه لیکل شوي وي یا دانسان دعملونو په وجه ظاهریږي؟

...بقیه د تیر مخ]..قُلْ قَدَرُ اللَّه وَمَا شَاءَ فَعَلَ فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَان (صحيح مسلم ج:۲، ص: ۳۳۸ باب الايمان بالقدر والاذعان له ، وايضاً فى ابن ماجه ص:۳۰۷) عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ....فان عليك امر فقل قدرالله ماشاء الله فعل، واياك واللّو فان اللّوَ تفتح عمل الشيطان.(ابن ماجه ص:۳۰۷)

۱] وَمَا اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيبَة فَبِمَا كَسَبَتْ اَيديكُمْ وَيعْفُوْا عَنْ كَثِير (الشورى ۳۰) وعن أَبِى مُوسَى أَنَّ رَسُولَ اللَّه صلى الله عليه وسلم قَالَ « لاَ يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلاَّ بِذَنْب وَمَا يَعْفُو اللَّهُ عَنْهُ أَكْثَرُ ». وَقَرَأَ (وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ (رواه الترمذى (مشكوة ج:۱،ص: ۱۳۶ باب عيادة المريض)

۲] عن ابن عمر : أن رسول الله صلى الله عليه و سلم كان يقول إذا أخذ مضجعه " الحمد لله الذي كفاني وآواني فأجزل، الحمد لله على كل ...الخ(مشكوة ج:۱،ص: ۲۱۲، باب الدعوات فى الاوقات،ابوداؤد ج:۲،ص: ۳۳۳ كتاب الادب ، باب ما يقال عند النوم)

جواب: دا د تقدیر مسئله ده په دې کې زیات پلټنه او بحث جائز نه دی ، بس دومره ایمان لرل پکار دي چې په دنیا کې کوم څه اوسه پورې وشو یا کیږي یا به اینده کیږي .ددې ټولو شیانو الله تعالی ته د دنیا له پیداکیدونه مخکې علم و، د دنیا هیڅ شی دهغه د علم او قدرت نه خارج نه دی او الله تعالی ددغه علم مطابق د کایناتو دهرشی او دهرانسان په اړه لیکې دي ،ددنیا ټول نظام ددې خدایې لیکلو مطابق چلیږي.دې ته تقدیر وایي اوپه دې باندې ایمان راوړل واجب دي کوم سړی چې ددې نه منکروي هغه مسلمان نه دی.[1]

دا هم ایمان دی چې الله تعالی انسان ته اراده، اختیار ، عقل او تمیز ورکړی دی[2]او دا فیصله یې کړې ده چې هغه به دخپل ښه تجویز مطابق او پخپله اراده او اختیار سره فلانی کار کوي.[3]

دا هم ایمان دی چې دانسان د ښه یا بدعمل نتیجه به هغه ته د ثواب یادعذاب په شکل کې په اخرت کې ورکول کیږي.دا ټولې خبرې په قران او حدیث کې[4] په ډېر وضاحت سره بیان شوي دي،په دی باندې ایمان ساتل پکار دي،له دې زیات په دې مسئله کې بحث کول نه دي پکار،په دی کې د بحث کولو نه منع شوې ده اونبي کریم ﷺ په دې باندې سخت خفګان ښکاره کړی دی.[5]

۱] خلق الله تعالی الاشیاء .... وکان الله عالماً فی الازل بالاشیاء قبل کونها .... ومن زعم ان التقدیر الخیر والشر من عند غیرالله کان کافراً بالله (شرح فقه اکبر ص:٤٧، ٤٨)

۲] وهدایة الله تتنوع انواعاً لا یحصیها..... الاول افاضة القوی التی بها یتمکن المرء من الاهتداء الی مصالحة کالقوة العقلیة والحواس الباطنة والمشاعر الظاهر ......الخ (تفسیر بیضاوی ص:٩) ان العقل آلة للمعرفة .... ووجوب الایمان بالعقل مروی عن ابی حنیفة (شرح فقه اکبر ص: ١٦٨)

۳] والله تعالی خالقها ای موجد افعال العباد وفق ما اراد لقوله تعالی : الله خالق کل شئ وفعل العبد شئ (شرح فقه اکبر ص:٦٠) فللعباد افعال اختیاریة...... (شرح فقه اکبر ص:٥١)

٤] وَاَنْ لَيسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰي وَاَنَّ سَعْيَه سَوْفَ يرٰي ثُمَّ يجْزٰهُ الْجَزَاءَ الْاَوْفٰي(النجم ٣٩ تا ٤١) لها ما کسبت وعلیها مااکتسبت (البقرة :٢٨٦) تُجْزٰي كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ (غافر :١٧) وَمَنْ يعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُومِنٌ فَلَا يخٰفُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا (طه :١١٢) وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيدِيكُمْ وَيعْفُو عَنْ كَثِيرٍ (الشوری :٣٠) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم « إِنَّ اللَّهَ لاَ يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً يُعْطَى بِهَا فِى الدُّنْيَا وَيُجْزَى بِهَا فِى الآخِرَةِ وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ بِهَا لِلَّهِ فِى الدُّنْيَا حَتَّى إِذَا أَفْضَى إِلَى الآخِرَةِ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَةٌ يُجْزَى بِهَا رواه مسلم (مشکوة ص: ٤٣٩ کتاب الرقاق) عن ابی أَبِی مُوسَی اشعری أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ « لاَ يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلاَّ بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللَّهُ عَنْهُ أَكْثَرُ ». وَقَرَأَ (وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ (رواه الترمذی (مشکوة ج:١،ص: ١٣٦ باب عیادة المریض)

٥] عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم وَنَحْنُ [بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

بد کار کولو سره تقدیر ذمه وار گرځول صحیح نه دي

سوال: یو سړی چې کله بدکار کوي دده نه که چېرې پوښتنه وکړل شي. نو وايي چې دا زما په تقدیر کې لیکل شوي و. نو کله چې الله تعالی دهغه په تقدیرکې دا سې لیکلي و. نو بیا دهغه څه قصور دی؟

جواب: د بنده قصور خو ښکاره ده چې هغه بد کار پخپل اختیار سره کړی واو په مقدر کې یې هم دا لیکل شوي و چې دی به دا بدکار په خپل اختیار سره کوي او د سزا مستحق به گرځيږي.[۱]

تنبیه: بد کار کول او د تقدیر حواله ورکول د ادب نه خلاف هم دي انسان ته په خپلې غلطي اعتراف کول پکار دي

خیر او شر ټول د خدای مخلوق دي خو شیطان د شر سبب او ذریعه ده

سوال: جنگ اخبارپه یو مضمون کې په عنوان" د ایمان بنیادونه" کې د صحیح مسلم په حواله سره دا حدیث نقل کړی دی، چې د حضرت عمر رضي الله عنه نه (په یو اورد حدیث کې) روایت دي چې یو سړی چې په حقیقت کې جبرائیل علیه السلام و، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته په انساني شکل کې راغلی و، نبي علیه السلام نه یې پوښتنه وکړه چې ایمان څه شی دی ؟ نبي علیه السلام وفرمایل چې ایمان دا دی چې ته الله پاك، دهغه فرشتې، دهغه رالیږل شوي کتابونه، دهغه رسولان او خرت حق وگنې او دا خبره هم ومنې چې په دنیاکې چې څه کیږي دا د الله له طرف نه دي، که هغه خیر وي یا شر و. ،(صحیح مسلم).

مونږ به تراوسه پورې دا اوریدل چې خیر دالله د طرف نه او شر د شیطان د طرف نه دی اوس پورته ذکر شوي حدیث لوستلو سره ایمان کمزوری اوپته نشته چې زما پشان به څومره د کمزوري ایمان والا هم په شك کې پراته وي ځکه چې کله شر هم د الله تعالی له طرف نه دی، نو انسان بیا ولې مجرم دی؟

جواب: د هر شي پیدا کول د الله پاك له طرف نه دي که هغه خیر وي یا شر، شیطان د شرخالق نه دی بلکې د شر ذریعه او سبب دی، که چېرې د شرنسبت شیطان طرف ته د سبب په

...بقیه د تیر مخ]. تَتَنَازَعُ فِى الْقَدَرِ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ حَتَّى كَأَنَّمَا فُقِئَ فِى وَجْنَتَيْهِ الرُّمَّانُ فَقَالَ « أَبِهَذَا أُمِرْتُمْ أَمْ بِهَذَا أُرْسِلْتُ إِلَيْكُمْ إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حِينَ تَنَازَعُوا فِى هَذَا الأَمْرِ عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ أَلاَّ تَتَنَازَعُوا فِيهِ (مشکوة ص: ۲۲ باب الایمان بالقدر)

[۱] وهی ای افعال العباد کلها ای جمیعها من خیرها وشرهاوان کانت مکاسبهم بمیشته ای بارادته وعلمه وقضائه وقدره ای علی وفق حکمه وطبق قدر تقدیره ......الخ (شرح فقه اکبر ص: ۶۷)

حیث وکړل شي، نو غلطه نه ده.خو څنګه چې الله پاك د خیر خالق دی .دغسې که شیطان د شر خالق وګڼل شي. نو دا د مجوسیانو عقیده ده.[۱] دمسلمانانو په نزد د هر شی خالق یواځې الله تعالی دی.[۲]

هر څه د الله په حکم سره کیږي

سوال: زما یوخپلوان په هره خبره کې ښه وي که بده" دخدای په حکم سره" د ویلو عادت لري. یعني که خوشحالي وي اوکه بدحال دی هم دغه وایي .ایا داسې ویل صحیح دي؟ .

جواب: ایا څه شی دالله تعالی د حکم نه پرته هم کیږي؟ نه هر شی د الله په حکم سره کیږي. خو د خیر په کارونو کې د الله تعالی رضا هم وي او په شر او بدي کې دالله رضا نه وي.[۳]

د نظر لګېدو حقیقت

سوال: زموږ په معاشره کې یاداسې به وواېو چې مشران دنظر لګېدو ډیرزیات قایل دي، خاص طورباندې دوړوماشومانوباره کې ډیر وخت ویل کیږي(که چېرې هغوی شېدې نه څښي یایې طبیعت خراب وي) چې داماشوم له نظره شوی دی. بیایې دنظرختمولوکوشش کیږي، مهرباني وکړئ او داووایئ چې اسلامې معاشره کې ددې څه توجیه ده؟

جواب: نظرګېدل حق دیاوختمول یې جائزدي، په دې شرط باندې چې دنظرختمولوطریقه دشریعت خلاف نه وي.

قاتل ته سزا ولې ورکول کیږي؟

سوال: یوچا زموږ نه دا سوال کړی دی چې د یوسړي په تقدیر کې دا لیکل شوي دي چې دده دلاسه به فلانی قتل کیږي. نو بیا الله تعالی ده ته سزا ولې ورکوي؟ سره له چې دده په

۱] القدرية مجوس هذه الامة حيث ذهبوا الى ان للعالم فاعلين ، احدهما سبحانه وتعالى ، وهو فاعل الخير ، والثاني شيطان وهو فاعل الشر (شرح فقه اكبر ص:٦١) وعنه ابن عمر قال قال رسول الله القدرية مجوس هذه الأمة أي أمة الإجابة لأن قولهم أفعال العباد مخلوقة بقدرهم يشبه قول المجوس القائلين بأن للعالم الهين خالق الخير وهو يزدان وخالق الشر وهو أهرمن أي الشيطان ....الخ (مرقاة المفاتيح ج:١،ص: ١٤٩ كتاب القدر، طبع بمبئ دهلی)

۲] الله خالق كل شئ وهو على كل شئ وكيل (الزمر :٦٢) والله تعالى خالق لافعال العباد من الكفر والايمان والطاعة والعصيان لا كما زعمت المعتزلة : ان العبد خالق لافعاله....الخ (شرح عقائد ص:٧٥ طبع خير كثير)

۳] وهی ای : افعال العباد كلها ای : جميعها من خيرها وشرها وان كانت مكاسبهم بمشيته ای : بارادته وعلمه .....ای : على وفق حكمه وطبق قدر تقديره فهو مريد لما يسميه شراً من كفر ومعصية كما هو مريد الخير (شرح فقه اكبر ص:٦٧)

تقدير کې يې داسې ليکلي و، له دې نه پرته څه چاره نه وه، ځکه چې زموږ په تقدير باندې ايمان دی چې کوم څه په تقدير کې دي هغه به کيږي. نو الله پاك بيا سزا ولې مقرره کړې ده؟

جواب: په تقديرکې دا ليکل شوي دي چې فلانی سړی به پخپله اراده او اختيار سره فلانی قتل کوي او د سزا مستحق به ګرځي. ګويا ده خپله اراده او اختيار غلط استعمال کړل ځکه د سزا مستحق شو.[1]

خود کشي ولې حرامه ده؟

سوال: هرکله چې د يو سړي مرګ له خودکشي نه وي، نو خودکشي ولې حرامه ګرځول شوې ده ؟سره له دې چې هغه ته په تقدير کې داشان مرګ ليکل شوی دی، له تاسو څخه غوښتنه ده چې زموږ رهنمايي وکړئ او تفصيل سره ځواب راکړئ الله دی تاسو ته د خيربدله درکړي

جواب: مرګ خو يې هم دغسې ليکل شوی و[2] خو ده پخپل اختيار سره خودکشي وکړه، ځکه دده فعل حرام وګرځول شو[3] او دتقدير عقيدې سا تلو سره دبل په اختياري بدو افعالو باندې سړي ته غوسه ورځي، مثلاً يو سړي چاته د مور خور کنځلې وکړې، نو په دې به ضرور غوسه ورځي، سره له دې چې زموږ دا عقيده ده چې د الله تعالی د حکم نه پرته يوه پاڼه هم نشي ښوريدلی.

دښځې نيک بختي اوبد بختي له خاوند نه په وړاندې يا وروسته مرګ کې نه ده

سوال: د ځينې خلکو دا خيال دی هغه ښځه چې هغه دخپل خاوند له وفات نه وروسته ژوندی وي، هغه بدبخته ده اوکومه ښځه چې دخاوند نه مخکې وفات شي هغه ډېره نيک بخته ده. ايا دا خبره صحيح ده اوکه نه؟

۱] والمقتول ميت باجله اى : الوقت المقدر لموته .... ان وجوب العقاب والضمان على القاتل تعبدى، لارتكابه المنهى وكسبه الفعل الذى يخلق الله تعالى عقيبه الموت بطريق جرى العادة ، فان القتل فعل القاتل كسباً (شرح عقائد ص:٦٦ طبع ايچ ايم سعيد كراچى)

۲] ان المقتول ميت باجله ووقته المقدر بموته فقد قال الله تعالى : فَاِذَا جَاءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ..... ان وجود العقاب والضمان على القاتل تعبدى لارتكابه المنهى عنه ......الخ (شرح فقه اكبر ص:۱۵۲، ۱۵۳)

۳] عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه عن النَّبِىِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «مَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ ، فَهُوَ فِى نَارِ جَهَنَّمَ ، يَتَرَدَّى فِيهِ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا ، وَمَنْ تَحَسَّى سَمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ ، فَسَمُّهُ فِى يَدِهِ ، يَتَحَسَّاهُ فِى نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا ، متفق عليه (مشكوة ص:۲۹۹، كتاب القصاص)

جواب: نیك بختي او بدبختي خو د انسان په نیکو او بدو اعمالو پورې تعلق لري[۱]، په مخکې یا روستو مرګ باندې نه ده.

یوائې قسمت کافي دی که کوشش هم پکار دی؟

سوال: زمادوست وايي که چېرې دانسان قسمت ښه وي، نودمحنت کولو نه پرته به هم ښه ګټه کولی شي، دهغه ده نظر مطابق داګټه دهغه په قسمت کې وه اودهغه قسمت ښه و. زماخیال دی که چېرې انسان محنت وکړي اوقسمت يې ملګری وي، نوکارکيږي دمحنت کولونه پرته قسمت ښه نه شي کيدای، زمادوست وايي چې یوانسان ټوله ورځ محنت کوي اوبل په یوه ګنټه کې دهغه غوندې پیسې وګټي، مهرباني وکړئ ددې ځواب راکړئ چې په موږدواړوکې دکوم یوخیال صحیح دی؟

جواب: داخوصحیح ده چې څه په قسمت کې لیکل شوي وي هغه پیداکيږي، دهغه نه زيات نه شته، خودحلال رزق له پاره کوشش اومحنت کول ضروري دي، دقسمت حال چاته معلوم نه وي، اودحلال رزق له پاره دشرعي فرائضوپابندي کول هم ضروري ده.

د رضا بالقضا مراد

سوال: رسول الله ﷺ فرمايي: الله تعالی چې کله یوبنده ځان ته محبوب کړي، نوهغه په یومصیبت کې ګرفتارکړي، که چېرې هغه صبر کونکی واوسيږي، نوهغه منتخب کړي اوکه چېرې دهغه په قضا باندې راضی وي، نوهغه غوره کړي، مصیبت باندې دصبر، یا په قضاباندې دراضي اوسیدوڅه مطلب دی؟

جواب: مطلب داچې دالله تعالی په فیصلوباندې په زړه کې تنګي اوتکلیف نه محسوسوي، په خولې باندې شکايت نه کوي، بلکې داسې وګڼي چې مالک څه وکړل ښه یې وکړل، طبعي خفګان ددې خلاف نه دی، همدارنګه دهغه تکلیف دلرې کولوله پاره جائزاسباب اختیارول او دعاکول، درضابالقضاخلاف نه دي، والله اعلم.

سوال: یوځل حضور ﷺ دیوڅوصحابه کرامو رضي الله عنهم نه پوښتنه وکړه: تاسو څوک یئ؟ هغوی ځواب ورکړ: یارسول الله ﷺ موږمومن مسلمانان یو. حضور ﷺ وفرمايل چې ستاسو د ایمان نښه څه ده؟ هغوی عرض وکړچې مصیبت باندې صبرکوو، راحت باندې شکر اداکوو

۱] عن ابی بکرة ان رجلاً قال: یا رسول الله! ای الناس خیر؟ قال: من طال عمره وحسن عمله قال: فای الناس شر؟ قال: من طال عمره وقصر عمله (مشکوة ص: ۴۵۰) قال الطيبي رحمه الله وقد سبق أن الأوقات والساعات كرأس المال للتاجر فينبغي ان يتجر فيما يربح فيه وكلما كان رأس ماله كثيرا كان الربح أكثر فمن مضى لطيبه فاز وأفلح ومن اضاع رأس ماله لم يربح وخسرخسراناً مبيناً (مرقاة شرح مشكوة ج:۵ ص: ۷۸)

اوقضاباندې راضي اوسیږو. حضور ﷺ وفرمایل چې والله تاسو په رښتیا مسلمانان یئ. اوس پوښتنه داده چې دې حدیث مبارک کې:

۱: مصیبت باندې دصبرکولو نه څه مراددي؟ ۲: راحت باندې د شکرنه څه مراددې؟

۳: اوقضاباندې دراضي اوسیدو نه څه مراددد؟

جواب: نمبر۱ اونمبر۳ خوپورته بیان شوي دي. راحت اونعمت باندې دشکرکولو مطلب دادی چې هغه نعمت یواځې دالله تعالی داحسان او لطف میوه وګڼي. خپل ذاتي هنراوکمال بې ونه ګڼي. په ژبه باندې الحمدالله ووایي اوشکراداکړي اودغه نعمت دالله تعالی په رضاکې مصرف کړي، هغه نعمت باندې کبراوغرور ونه کړي. والله اعلم

سوال: حضرت داؤد علیه السلام باندې وحې نازله شوه چې: اې داوده! ته هم دیو کارقصداواراده کوې اوزه هم اراده کوم. خو هغه کیږي دکوم چې زه اراده وکړم. که چیرې ته زماپه اراده اوخوښې باندې راضي شوې، فرمانبرداراوحکم منونکی شوې. نوبیابه زه ستاګناهونه معاف کړم اوستا نه به خوشحاله شم اوکه چیرې زماپه اراده باندې راضي نه شوې، نوتا به په تکلیف اومشقت کې واچوم اواخرکې به هغه کیږي. څه چې زه غواړم اوستاپه سربه یواځې پریشاني وي، دې حدیث کې مسلمانانوته څه نصیحت شوی دی؟

جواب: داچې دالله تعالی په اراده اورضاباندې راضي اوسئ. که چیرې دخپل خواهش خلاف یوکار دالله تعالی له طرف نه وشي. نوهغه باندې په زړه اوخوله باندې شکایت مه کوئ.

[محاسنِ اسلام]

اسلام د فطرت دین دی

سوال: زمادیوعیسایي دوست سوال دقران او سنت په رڼا کې ځواب کړئ! هغه وایي چې اسلام ډېرسخت مذهب دی او دفطري دین دعویدارهم دی، په اسلام کې دتفریح څه تصور هم نشته هرطرف ته سختي ده. دزړه دخوشحالولو والا ټول شیان پکې ناجائز دي، دموسیقۍ طرف ته دهرانسان میلان وي اوهر روح په وجدکې راځي. اسلام انسان ددې فطري غوښتنو څخه ولې منع کوي، دخوندا خستلو اجازه ولې نه ورکوي، په موجوده زمانه کې مشیني دور له وجې هرسړی مصروف دی اوټوله ورځ دکارکولونه وروسته دهرسړي زړه تفریح کول غواړي، اداپوزې ریډیو، ټیلي ویژن، سنیما، ډانس کلب اودلوبومیدانونه دي، د ځوانو هلکانو هاکي او فټ بال کول تر ډېرحده پورې زړه تنګي ختموي، اُمیددی چې تاسوبه ضرور ځواب راکړئ ستاسوبه ډېره مهرباني وي.

جواب: ستاسو دعیسایي دوست دا غلط فهمي ده، اسلام دفطرت دین دی اوفطرت دروح د

خوشالولو غوښتنه کوي او اسلام دروح دخوشالولو اوتفريح پوره سامان ورکوي او ددې کامل او مکمل نظام ورکوي اوداسلام نه سوا په بل مذهب کې دروح صحيح تفريح اود خوشحالي فطري نظام موجودنه دی ،ريډيو ټيلي ويژن، سندرې او موسيقی اوداسې نور خرافات چې هغه دتفريح سامان ګڼل کيږي دا دنفس دتفريح سامان دی دروح دتفريح نه .هم دا وجه ده چې دحضرت عيسیٰ عليه السلام اوداسې نورو دالله دمقبولو بنده ګانو ژوند ددې لوبو او تماشو دتفريح نه بالکل خالي و اونن هم دې تفريحاتونه د فاسقانواوفاجرانوميلان دی. خو کوم حضرات چې دروحانيت سره اشنااودالله دمعرفت دجام نه سيراب دي،هغوی داشيان بې فايدې ګڼي،له دې نه معلوميږي چې دا تفريح نفس غتوي او انسان دالله دياد نه غافله کوي ځکه اسلام دفطرت دغوښتنوسره سم دې ډول شيانوته غلط وايي اودپرهيزلائق يې ګڼي.[1]

اسلام د نورو مذهبونونه په کوموشيانوکې غوره دی؟

سوال: تقريبًا ددنياټول مذهبونه دانسان ته دکاميابۍ اوهميشه سکون (اخرت دبهترۍ) لاربنوونه کوي،بيشکه اسلام په دنياکې دالله تعالی له لوري راغلی اخري دين اوربښتونی مذهب دی چې ددې تاييد ددنيالوی لوی مذهبونونه اودتورات ،انجيل او زبورپه شان کتابونه کوي ،لږ په تفصيل سره وښيئ چې داسلام کوم يوشی اوکوم حقيقتونه له دې نورومذهبونونه غوره دي؟

جواب: يوتابعي حضرت عائشې رضي الله عنها ته عرض وکړچې ماته دنبي کريم صلى الله عليه وسلم څه عجيبه خبره وکړه! هغې رضي الله عنها په ځواب کې وفرمايل:بچيه! دنبي عليه السلام کومه خبره داسې وه چې عجيبه نه وه.[2] دام المومنين هم دا وينا ستاد سوال ځواب دی،تاسوپوښتنه کړې چې اسلام په کومه خبره کې دنورو مذهبونو نه غور دی؟

زماعرض دادی چې داسلام کوم يوشی دنورو مذهبونونه افضل او غوره نه دی؟دعقائدو او دعبادت چې کوم تفصيل اسلام وړاندې کړی دی، نوايادنيا بل مذهب داتفصيل وړاندې کړی دی؟د اخلاقو، معاملاتو، معاشرات او دسياست په باره کې چې اسلام کوم تفصيلي

۱] وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيث لِيضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللهِ لهو الحديث على ما روى عن الحسن كل ما شغلک عن عبادة الله تعالى وذكره من السمر والاضاحيک والخرافات والغنا ونحوها (تفسير روح المعانى ج:۲۱، ص: ٦٧ سورة لقمان آيت :٦) وفى التاتارخانية : اعلم ان التغنى حرام فى جميع الاديان .....الخ (ايضاً روح المعانى ج:۲۱،ص: ٦٨)

۲] عن عطاء قال : دخلت انا وعبدالله بن عمر وعبيد بن عمير على ام المؤمنين عائشة رضى الله عنها ...اخبرينا باعجب ما رايت من رسول الله صلى الله عليه وسلم :قال :فبكت وقالت : كل امره كان عجباً.....الخ (تفسير ابن كثير ج:۲،ص: ١٦٩)

هدایات ورکړي دي،ایادا هدیات دنورو مذهبونو په کتابونو کې په لټون سره هم پیدا کیږي؟

بیا چې اسلام په خپل هریوحکم کې دکوم کامل اعتدال لحاظ ساتلی دی ایاددنیاپه بل مذهب کې ددې اعتدال مثال شته؟ ټولې خبرې پریږده تاسویواځې په یوه نکته باندې غور وکړئ چې هغه ټول لوی لوی مذهبونه چې نن په دنیاکې موجود دي.هغوی په څه نا څه ډول دانسان سردمخلوق په مخکې کښته کړی دی.چاداور او داوبوپه مخکې. چاد حیواناتو په مخکې، چاد نمر، سپوږمۍ ،ستورو او اسمان په مخکې او چا پخپله دانساني هستویو په مخکې. اسلام ددنیا هغه واحدمذهب دی چې انسان ته یې داشرف المخلوقات لوړه مرتبه ورکړې ده. هغه یې دخپل صحیح مقام نه خبرکړی دی اوهغه یې دځان پشان دمخلوق دبندګي نه خلاص کړی دی او دخپل خالق بنده ګي یې ور ښودلې ده. یواځې اسلام دنیاته اوښودله چې انسان دمخلوق دعبادت له پاره نه دی بلکې داټول مخلوقات دده دخدمت له پاره دي ،داداسلام په انسانیت باندې هغه احسان دی چې انسان ددې دشکریې نه کله هم نه خلاصیږي اودا د اسلام هغه امتیاز دی چې ددنیا هیڅ یومذهب هم ور سره د برابرې دعوه نه شي کولی. دا ستا دسوال یومختصرشان ځواب دی چې ددې په تفصیل کې دیو لوی تصنیف ضرورت دی، .

په اسلامي ملک کې د غیراسلامي مذهب په تبلیغ بندیز تنګ نظري نه ده

سوال: اول تاسو زما ددې سوال ځواب راکړئ چې زموږ اسلام تنګ نظره مذهب دی؟که چیرې ستاسوځواب په نفې وي او یقینًا په نفې به وي. نوبیا داصل پوښتنې ځواب راکړئ! چې هرکله اسلام دخپل تبلیغ حکم ورکوي، نوبیابه په نورو مذاهبو ولې بندیز لګوي؟ایا اسلام منونکو ته په استقلال اوثابت قدمي باندې شك دی کوم چې ددوی د لومړنیو اوصولوڅخه یو دی،په اسلامي ملکونوکې د نورو مذهبونو تبلیغ قانونًا منع دی. نوایا داخطره نشته چې غیر اسلامي ملکونه د اسلام دتبلیغ په باره کې هم داسې قوانین جوړ کړي؟که چیرې داسې وشي، نوداسلام تبلیغ به چرته اوڅنګه کیږي؟او ایا په دې طریقې سره به د نورو مذهبونو (کوششونو) ته پټه ترقي حاصله نه شي؟ امیددی زماددې سوالونوبه تفصیلي ځواب راکړئ او تاسوبه زما اوزما په شان د ډېرو ځوانانوپه ذهن کې موجود داپوښتنه اوشك لیرې کړئ!

جواب: پخپله چاردیوالي کې دننه څوک نه پریښودلوته تنګ نظري نشي ویل کیدای دې ته غیرت ویل کیږي،اسلام که تنګ نظره نه دی نوبیې غیرته هم نه دی،که چیرې څوک دچا ښځې ته په ښکاره خپل طرف ته دعوت ورکوي نوایا خاوندبه یې دا وزغمي؟ اوایا څوک عقلمند به هغه ته دتنګ نظري پیغور ورکړي؟اوایا دابه وویل شي چې دده پخپله ښځه

باندې اعتماد نشته ځکه بده ګڼي،تاسوته دی معلومه وي چې الله تعالی زموږ نه زيات غيرتي دی او دهغه دين د انساني عزت نه زيات مقدس دی.[١]

پاتې شو ستاسو دا اعتراض چې په اسلامي ملکونوکې که چېرې غيرمذهبوته د خپل مذهب دتبليغ کولواجازه نه وي،نو غير اسلامي ملکونه به هم پخپلو ملکونوکې په مسلمانانو باندې بنديزولګوي چې هغوی دې هم خپل مذهب ته تبليغ نه کوي،نوجناب حقيقت دادی چې دمغرب عيسايي ملکونه چې هغوی ته عام طورباندې ډېر د پراخه زړه والا،لبرل" ويل کيږي،دمسلمانانو دتبليغ په معامله کې ډېرمصيبت دی،ددوی په ملکونو کې عيسايانوته دااسلام دعوت خوپرېږده! تاسو يواځې مسلمانانوته دااسلام دتعليم ورکولو له پاره يوجومات يامدرسه جوړه کړئ نوبياوګورئ !داچې تاسو کوم اورئ چې په انګلينډ کې دومره سوه جوماتونه دي دا زياتر پټ په کورونو کې وي چې دهغه دننه دروازې بندې وي او اذان کولې شي اوهغه هم پرته دمالك داجازې نه اوپه معمولي اواز سره اوتاسو چې کوم جوماتونه په لندن ياپه نوروښارونوکې ښکاره وينئ دهغه شاته د کلونو د صبر محنت پروت وي،تاسو ته دوه مثالونه وړاندې کوم.لندن د دنيا لوی مرکز دی، د مسلمانانو د ډېرې ابادي نه پرته هلته دڅلوېښتو مسلمان ملکونو سفيران اودهغوی متعلقين اوسيږي،د کلونو محنت او دعربو بادشاهانو په زوروباندې په ريجنټ پارك کې دجومات جوړولو اجازه وشو،خودهغه مينار به دلندن سينټ پال دچرچ نه پورته نه وي، سره له دې چې هغه چرچ د ريجنټ پارك نه ليرې دی او داذانوپه اواز باندې هم يو قسم پابندي ده.

اوس واورئ دمسلمانانو دتعليم له پاره د يوې مدرسې جوړولو له پاره د مانچسټر بولټن نزدې دپنځوکالو نه سترې کېدونکي کوشش نه وروسته اجازه ورکړل شو چې تاسو د مسلمانانوبچيانوله پاره اسلامي ديني مدرسه جوړولی شئ.دادکراچۍياپاکستان پراخ دله، لبرل، مشنري مشنونو، د رموزونه بې پروا حکومت خونه دی چې چېرته د عيسايانو "سيلويشن ارمي" (دنجات فوج) دی او چېرته په بهترين علاقوکې څنګه چې په صدرکې ترټولو لوړ کور چې د سرو زرو پشان ځمکه باندې په پراخه رقبه باندې جوړوي داټول له دې پرته چې مشنري سکولونه اوکالجونه ورځ په ورځ زياتيدونکي دي،چې که چېرې مرتد کولی يې نشي نو دمضبوطې عقيدې مسلمان هم نه پرېږدي؛د امريکې"د پراخ نظرې" مثال يو پاکستانی درد من مسلمان بيان کړ هغه په شکوکې اوسيږي چې کله هغه دلته د عيسايانو دا ډېرزيات مشنري سکولونه، مشنري هسپتالونه او دعيسايانو نمايده ګان

١]عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بن مسعود قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم « لاَ أَحَدٌ أَغْيَرُ مِنَ اللّٰهِ وَلِذٰلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ (صحيح بخاری ج:٢،ص: ٦٦٨ طبع نور محمد کراچی)

ولیدل کوم چې په قومي او صوبايي اسمبلوکې ناست وي، نوهغه وويل چې په امريکه کې خويو مسلمان "سني سکول" پرانستلو له پاره هم کلونه لګېږي اول خو چې په کومه محله کې "سني سکول" پرانستل شوی وي دهغه ابادي"پبك هيرنګ" کيږي .باقاعده ووټونه کيږي.چې څومره اوسيدونکي دسکول ياجومات دتعمير په حق کې دي.ښکاره ده چې عيسايي ابادي دخپل کثرت په بناء باندې دا رد وي، بيا په ضلعي کورټ هايي کورټ کې مقدمه وړاندې کيږي هرځای نه په ناکامي سره اخر د سپريم کورټ نه دمسلمان سکول په حق کې فيصله کيږي.په دی لس کاله تيرشي.د امريکې د کورټ په ډېرو خرچوکې د مسلمانانوفنډختم شوی وي، اودمسلمانانو د سني سکول" خوب په دی "لبرل" ملك کې رښتيا نشي.پاتې دا چې څوک مسلمان يواځې د اقليت په بناء باندې د پارليمنټ ياصوبايي اسمبلۍ ممبرجوړشي دا غير ممکن ده.دغه لبرل، پراخ دله، وسيع النظر" ملکونو د اقليتونو نمائنده ګانوته پارليمنټ او اسمبلۍ ته د رسيدلو فساد نه دی پاللی.

❖ انبياءِ کرام عليهم السلام ❖

دانبياء عليهم السلام بشر دي

سوال: جناب معزز مولاناصاحب السلام عليکم ... عرض دادی چې ستاسو رساله "البينات" شايد دتيرشوي ۱۹۸۰ءکال ده، دهغه مطالعه مې وکړه په هغه کې يوڅوخبرې داسې په نظر راغلې چې دهغه وضاحت ضروري دی ځکه چې مادنورو حضراتو دکتابونو مطالعه هم کړې ده،چې په هغو کې ستاسودخبرو او دهغوی دخبروترمنځ ډېرفرق دی ياخوتاسودهغوی خلاف يئ؟يادهغوی ليکل تاسونظر انداز کوئ!

مثلاً نمبر۱صفحه۳۷ ، نبي کريم ﷺ دخپل ذات په لحاظ سره نه يواځې بشرو بلکې افضل البشر و ،دانسانانوسردار دی،د ادم عليه السلام دنسل نه دی."بشراوانسان د دواړو يوه معنا ده" خو کله چې مادنورو حضراتوتصانيف وکتل، نو د ځمکې او اسمان فرق مې محسوس کړ، اخر ددې څه وجه ده؟ سره له دې چې شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي چې" په تحقيق سره امت په دې باندې اجماع کړې ده چې دشريعت په پيژندلوکې دې په سلفوباندې اعتماد وکړل شي ، تابعينواعتماد وکړ په صحابه وو باندې او تبع تابعينوپه تابعينوباندې همدارنګه په هره طبقه کې علماوو په خپلومخکې عالمانواعتماد کړی دی" (عقدالمجيد صفحه ۳۲ ،مطبع دهلي)

اميددی چې که چېرې ددين پوهه طبقه ياکم نه کم هغه حضرات چې ددين په تبليغ کې قدم ږدي هغه خودې داطريقه اختيارکړي چې په دين کې تواترقائم پاتې شي اوس په دې پورته ذکرشوې مسئله کې تاسوددې دثابتولو کوشش کړی دی چې نبي عليه السلام يواځې بشر دی خو

افضل البشر دی .د انسانانو سردار او د آدم علیه السلام له نسل نه دی یعنې د حضور پاک صلی الله علیه وسلم حقیقت بشر دی.خو حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپل "تصنیف" نشر الطیب" کې اول باب په نور محمدي صلی الله علیه وسلم باندې لیکلی دی چې په هغه کې یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پیدایش د نور نه او د هغوی صلی الله علیه وسلم د نور نه د ټول مخلوق د پیدایش اظهار کړی ده او په ضمن کې یې څو حدیثونه هم روایت کړي دي.چې په هغه کې دا ذکر هم دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ادم علیه السلام د پیدائش نه څوارلس زره کاله مخکې د الله په دربار کې نور و"او دا هم پکې دي چې زه هغه وخت نبي وم کله چې ادم علیه السلام د اوبو او خاورې په مینځ کې و.

او جناب رشید احمد ګنګوهي رحمه الله په امداد السلوک کې وایي چې د متواتر حدیثونو نه دا ثابته ده چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سوری نه و او ظاهره ده چې د نور نه پرته د هر شي سوری وي.

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله (په دریم دفتر مکتوب نمبر ۱۰۰ کې) فرمایي چې د هغه نه د یو څو خبرو اظهار کیږي:

۱:نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو نور دی ځکه چې نبي علیه السلام فرمایلي دي"**خلقت من نور الله**" زه د الله د نور نه پیدا شوی یم.

۲:حضور صلی الله علیه وسلم نور و او د هغه سوری نه و.

۳:نبي کریم صلی الله علیه وسلم نور دی چې الله تعالی د حکمت او د مصلحت په وجه د انسان په شکل کې ښکاره کړی دی.

مطلب دا دی چې مجدد صاحب رحمه الله هم د هغوی صلی الله علیه وسلم حقیقت نور ګڼي،خو الله تعالی د څه مصلحت له وجې نه د انسان په شکل کې ښکاره کړی دی.

رساله"التوسل"چې د مولوي مشتاق احمد (دیوبندي) تصنیف دی او د مولوي محمود الحسن صاحب،مفتي کفایت الله صاحب او مفتي محمد شفیع صاحب د علماء دیوبند په تصدیقاتو سره د هغه تایید شوی دی،په هغه کې لیکلي دي چې:﴿ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴾ دې کې د نور نه مراد حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم دی او د کتاب نه مراد قران دی، د نور او د سراج منیر اطلاق په نبي علیه السلام باندې له دې وجې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم نور مجسم او رڼا نه ډیوه ده، نور او ډیوه د همیشه له پاره د صراط مستقیم د لیدلو او د خطرناك ځوندنه د بچ کیدو ذریعه او وسیله وي او د مرګ نه وروسته هم وسیله ده .بلکې د نبي علیه السلام د دنیا ته د راتلو نه مخکې د دوی صلی الله علیه وسلم نیکه عبد المطلب به قریشو د مصیبت په وخت کې د دې نور په وجه د مشکلاتو د حل له پاره وسیله نیوله. (التوسل صفحه ۲۲،تفسیر کبیر ۵۲۲/۳)

﴿ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴾ **ان المراد بالنور محمد صلی الله علیه وسلم و بالکتب القران**،(تفسیر کبیر ج ۱ ،ص ۱۸۹).

تاسو ته دا غرض دی چې تاسو ووایئ چې دا عقیده صحیح ده؟
نوټ: ددې حضراتو د عقیدو نه نبي کریم ﷺ د نور حقیقت ثابت دی چې د ادم علیه السلام نه مخکې پیدا شو.

جواب: د حکیم الامت شاه ولي الله محدث دهلوي قدس سره په حواله چې تاسو کوم اصول نقل کړي دي، چې د شریعت په پیژندلو کې دې په سلفو اعتماد وکړل شي" دا بالکل صحیح دي. خو جناب ستاسو دا خیال صحیح نه دی چې راقم الحروف د نور او بشر په بحث کې ددې اصولو نه انحراف کړی دی ما چې څه لیکلي دي د هغه خلاصه دا ده چې نبي کریم ﷺ په یو وخت کې نور هم دی او بشر هم دی او دا چې د نبي علیه السلام په نور او بشر کیدو کې هیڅ منافات نشته چې دیو اثبات وشي او د بل دې نفی وشي، بلکې هغوی ﷺ د هدایت په صفت او د باطني نورانیت په اعتبار سره نور مجسم دی او د خپل ذات په اعتبار سره خالص او کامل بشر دی.
بشر او انسان کیدل څه د شرم او د عیب شی نه دی چې خدای مه کړه نبي علیه السلام طرف ته ددې نسبت عیب وګڼل شي. ځکه انسانیت او بشریت ته الله تعالی "احسن تقویم" فرمایلي دي[1] په دې وجه بشریت د نبي علیه السلام له پاره عزت دی او د نبي علیه السلام انسان کیدل د انسانیت له پاره د سونو عزتونو او فخرونو سبب دی.
زما په علم کې نشته چې په سلفو صالحینو کې به چا د نبي علیه السلام د بشریت نه انکار کړی وي او هغه به یې د انسانیت د دایرې نه خارج کړی وي. بیشکه نبي علیه السلام په خپل بشریت کې منفرد دی او د شرافت او مرتبې په اعتبار سره په ټولو مخلوقاتو کې بهتر دی او "بعد از خدا بزرګ توئی قصه مختصر" مصداق دی، په دې وجه د نبي ﷺ اکمل البشر، افضل البشر او سید البشر کیدل د ټولو شکونو نه غوره ذیاو ولې به نه وي ځکه چې هغوی پخپله فرمایي: انا سید ولد آدم یوم القیمة ولا فخر (مشکوٰة ص۵۱۱، ۵۱۳).
زه به د قیامت په ورځ د ادم علیه السلام د اولاد سردار یم" او دا خبره د فخر له پاره نه کوم"
قران کریم کې که چیرې الله تعالی په یو ځای کې ﴿ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَـٰبٌ مُّبِينٌ ۝ ﴾ فرمایلي دي (یعنې که چیرې د نور نه د نبي ﷺ ذات مراد واخستل شي) نو په بل ځای کې یې دا هم فرمایلی دي:
﴿ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّى هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ۝ ﴾ (بنی اسرائیل ایت ۹۳)
"ته ورته ووایه چې سبحان الله! زه پرته له دې نه چې انسان یم او پیغمبر یم نور څه یم"

[1] لقد خلقنا الانسان فی احسنِ تقویم ٥ (التین : ٥)

﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ﴾ (كهف ١١٠)
"ته ورته ووايه چې بېشکه زه خوستاسوپشان بشريم.بس ماته دا وحې راځي چې ستاسومعبود يو دی".
﴿ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ ٱلْخُلْدَ ۖ أَفَإِيْن مِّتَّ فَهُمُ ٱلْخَٰلِدُونَ ﴾ (الانبياء ٣٤)
"او موږ ستاسو نه مخکې ديوبشرله پاره هم هميشه له پاره اوسيدل نه دي مقرر کړي.بياکه چېرې تاسو ﷺ وفات شئ نو ايا دا خلک به په دنياکې هميشه وي؟".
قران کريم دا اعلان هم کوي.چې انبياء کرام علهم السلام هميشه له پاره په انسانانوکې لېږل شوي دي: ﴿ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا۟ عِبَادًا لِّى مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ (ال عمران: ٧٩)
"ديوبشرنه دا خبره نه شي کيدای چې الله تعالى هغه ته کتاب .پوهه اونبوت ورکړی بيا هغه خلکوته ووايي چې زما بنده ګان شئ او الله تعالى پرېږدئ".
﴿ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآئِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِىَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُ ﴾
(الشورى: ٥١): "او ديوبشرداشان نه دی چې الله تعالى دهغه سره خبرې وکړي.خو (په درې طريقوسره) ياخوپه الهام سره يادپردې ترشا ديوې فرشتې په ذريعې سره . وحيې وکړي په اجازه دده سره هغه چې څه يې خوښه وي".
او الله تعالى دانبياءکرام عليهم السلا په ذريعه دا اعلان هم کړی دی:
﴿ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ﴾
(ابراهيم.١١) "ددوی رسولانودوی ته وويل چې موږ هم ستاسوپشان انسانان يوخو الله تعالى په خپلو بنده ګانوکې چې په چاباندې وغواړي احسان وکړي".
قران کريم داهم ښودل چې دبشرسپکاوی له ټولو مخکې ابليس وکړاو اول انسان حضرت آدم عليه السلام ته يې له سجدې کولو نه انکاروکړاو دايې وويل:
﴿ قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُۥ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴾ (الحجر ٢٣)
"ويې ويل چې نه يم زه چې بشرته دې سجده وکړم،چې هغه تا دکړنګېدونکې تورې خټې نه پيداکړی دی".
قران کريم داهم ښودلي دي چې کفارو هميشه دانبياءکرام عليم السلام داتباع نه کولو دليل داويلی دی چې داخوبشردی، ايا موږ بشر رسول ومنو؟
﴿ فَقَالُوٓا۟ أَبَشَرًا مِّنَّا وَٰحِدًا نَّتَّبِعُهُۥٓ إِنَّآ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴾ (القمر ٢٤)

"دوی وویل چې ایا موږ دداسې سړي اتباع وکړو چې زموږ د جنس سړی دی او یواځې دی، په دې صورت کې به موږ په لویه غلطۍ او لیونتوب کې یو."

﴿وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓا۟ إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٤﴾ قُل لَّوْ كَانَ فِى ٱلْأَرْضِ مَلَٰٓئِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُولًا ﴿٩٥﴾﴾ (بنی اسرائیل: ۹۴-۹۵). "اوخه وخت چې دې خلکوته هدایت راغی هغه وخت دوی له ایمان راوړلونه پرته له دې بل هیڅ شي منع نه کړل، چې هغوی وویل ایا الله تعالی بشر رسول رالیږلی دی. ته ورته ووایه: چې که چېرې په ځمکه کې فرشتې اوسیدلی نوموږ به خامخا په دوی باندې له اسمان نه فرشته رسول رالیږلې وه."

له دې ارشاداتونه معلومیږي چې انبیاء کرام علیهم السلام انسانان او بشروي اګرچې دیو نبي په نبوت باندې دایمان راوړلو مطلب هم دادی چې هغه بشراورسول ومنل شي، په دی وجه دټولو اهل سنتو په نزدباندې درسول تعریف دا دی چې: رسول هغه انسان دی چې هغه الله تعالی دخپلو پیغامونو او احکامو بنده ګانوته درسولوله پاره لیږلی وي."

څنګه چې قران کریم دانبیاء علیهم السلام دبشریت اعلان کړی دی، دغسې په حدیثونو کې هم نبي کریم ﷺ هم دخپل بشریت اعلان کړی دی. نبي علیه السلام دا فرمايي چې له ټولونه اول زمانوږ پیدا شو) که چېرې داروایت صحیح ومنل شي) هلته داهم فرمایي:

۱: اللهم انما انا بشر فای المسلمین لعنتها وسببته فاجعله له زکوة واجرا (مسلم ص۳۲۳ج۲عن عائشة رضي الله عنها)، "اې الله! زه هم یوانسان یم. په کوم مسلمان چې مالعنت کړی وي اویامې ورته بد رد ویلي وي. نودغه دده له پاره دپاکۍ اود اجر ذریعه وګرځوې!"

۲: اللهم انی اتخذ عندك عهدًا لن تخلفنيه فانما انا بشر فای المؤمنین اذیته شتمته لعنته جلدته فاجعلها له صلوة وزکوة وقربة تقربه بها الیك یوم القیمة (مسلم ص۳۲۴ج۲عن ابی هريرة رضي الله عنه).

"اې الله! زه ستانه یوه وعده اخستل غواړم ته به دهغه خلاف نه کوې ځکه چې زه هم یوانسان یم کوم مومن ته چې ماتکلیف ورکړی وي. کنځل مې ورته کړي وي. لعنت مې کړي وي، وهلی مې وي، نودغه دده له پاره رحمت او پاکي وګرځوې چې ددې په وجه ته هغه ته دقیامت په ورځ خپل قرب ورکړې."

۳: ,, اللهم انما محمد صلی الله علیه وسلم بشر یغضب کما یغضب البشر.. (الحدیث عن ابی هريرة رضي الله عنه مسلم ص۳۲۴ج۲). "اې الله! محمد ﷺ هم یوانسان دی هغه ته هم غوسه ورځي څنګه چې نوروانسانانوته غوسه ورځي."

۴: انی اشترطت علی ربی فقلت انما انا بشر ارضی کما یرضی البشر واغضب کما یغضب البشر.
(مسلم ص۳۲۴ ج۲ عن انس رضي الله عنه).
"ما دخپل رب سره دا شرط کړی دی. ما وویل چې زه هم یو انسان یم زه هم خوشالیږم څنګه چې یو انسان خوشحالیږي او غوسه کیږم څنګه چې یو انسان غوسه کیږي"

۵: انما انا بشر وانه یاتینی الخصم فلعل بعضهم ان یکون ابلغ من بعض فاحسب انه صادق فاقضی له فمن قضیت له بحق مسلم فانما هی قطعة من النار فلیحملها او یذرها. (صحیح بخاري ص۳۳۲ ج۱ مسلم ص۷۴ ج۲ عن ام سلمة رضي الله عنها).
"زه هم یو انسان یم او ماته دمقدمې یو فریق راشي. کیدای شي چې په دوی کې ځینې ډېر چالاك وي. زه هغه رېښتنی وګڼم او فیصله دهغه په حق کې وکړم. دچا له پاره چې زه دبل مسلمان دحق فیصله وکړم هغه یو اخې داورتکړه ده اوس که هغه دغه اخلي او که پرېږدي یې"

۶: انما انا بشر مثلکم انسی کما تنسون فاذا نسیت فذکرونی. (صحیح بخاري ص۵۸ ج۱، صحیح مسلم ص۲۱۲ ج۱ عن ابن مسعود رضي الله عنه).
زه هم ستاسو پشان انسان یم. زه هم هیروم څنګه چې تاسو نه هیریږي. کله چې زه څه هیر کړم نو ماته یې یاد وئ":

۷: انما انا بشر اذا امرتکم بشيء من دینکم فخذوا به واذا امرتکم بشيء من رائی فانما انا بشر.
(صحیح مسلم ص۲۶۴ ج۲ عن رافع بن خدیج).
"زه هم یو انسان یم چې کله تاسو ته ددین دیوې خبرې حکم وکړم. نو هغه واخلئ او چې کله تاسو ته (په دنیاوي معامله کې) دخپلې رایې نه دمشورې په طورڅه حکم وکړم. نو زه هم یو انسان یم"

۸: ... الا ایها الناس فانما انا بشر یوشك ان یاتی رسول ربی فاجیب... الخ.. (صحیح مسلم ۲۷۹ ج۲ عن زید بن ارقم رضي الله عنه).
"واورئ اې خلکو! زه هم یو انسان یم نږدې ده چې زما درب قاصد (له دې ځایه دکوچ پیغام راوړي) راشي او زه هغه ته لبیك ووایم"

د قران کریم او دنبي کریم ﷺ دارشاداتو نه دا ښکاري چې دنبي علیه السلام دنور په صفت سره د موصوف کیدو دا مطلب نه دی چې دنبي علیه السلام دبشریت نفې دې وکړل شي او نه ددې دومره قطعي دلائلو سره دهغوی ﷺ دبشریت نه انکار ممکن دی.

ماداهم لیکلي و چې بشریت څه دشرم او دعیب شی نه دی چې ددې نسبت دنبي علیه السلام طرف ته کول دې دبې ادبي موجب وي بشر او انسان خو اشرف المخلوقات دی، بشریت خو دهغه

کمال دی نقص یې نه دی او بیا د نبي علیه السلام په اشرف المخلوقات کې د تلو لو نه اشرف او افضل کیدل پخپله د انسانیت له پاره فخر دی.

"په دې وجه د نبي کریم ﷺ بشر او انسان کیدل نه یوازې د هغوی ﷺ له پاره فخر دی بلکې د هغوی ﷺ بشر کیدل د انسانانو له پاره تر فرشتو د غوره کېدو ذریعه هم ده" اختلاف امت اور صراط مستقیم صفحه ۳۵ ج ۱)

هم دا عقیده د اکابرو او سلف صالحینو وه، څنګه چې قاضي عیاض رحمه الله په "الشفاء بتعریف حقوق المصطفی ﷺ" القسم الثانی ص ۱۵۷ مطبوعه ملتان کې لیکلي:

قد قدمنا انه صلى الله عليه وسلم وسائرالانبياء والرسل من البشروانه جسمه وظاهره خالص للبشريجوز عليه من الافات والتغيرات والالام والاسقام وتجرع كاس الحمام مايجوز على البشر وهذا كله ليس بتقيصة لان الشيء انمايسى ناقصًا باالاضافة الى ماهواتم منه واكمل من نوعه وقدكتب الله تعالى على اهل هذه الدارفيهايحيون وفيهايموتون ومنها يخرجون وخلك جميع البشر بمدرجة الغير،

"موږ وړاندې ذکر کړي دي چې د نبي کریم ﷺ جسم مبارك او ظاهر خالص د بشر و، د نبي علیه السلام په جسم اطهر باندې هغه ټول آفتونه، تغیرات، تکلیفونه، مرضونه او مرګ راتلای شي، کوم چې په انسانانو باندې راځي او دا ټول کارونه څه نقص او عیب نه دی ځکه چې یو شی هغه وخت ناقص ګڼل کیږي، کله چې په د غه قسم کې یو بل شی ښه پوره او کامل وي د دې دنیا په اوسیدونکو الله تعالی دا مقرر کړي دي، چې هغوی به په ځمکه کې ژوندی وي او په دې کې به مري او د دې ځمکې نه به ویستل کیږي او ټول انسان الله تعالی د تغیر ځائ جوړ کړی دی."

د نبي کریم ﷺ د تکلیفونو څو مثالونو وړاندې کولو نه وروسته په صفحه ۱۵۸-۱۵۹ باندې لیکي: **وهكذا سائرانبيائه مبتلى ومعافیً وذلك من حكمته ليظهرشرفهم فى هذه المقامات ويبين امرهم ويتم كلمته فيهم وليحقق بشريتهم ويرتفع الالتباس من اهل الضعف فيهم لئلايضلوا بمايظهرمن العجائب على ايديهم ضلال النصارى بعيسى بن مريم قال بعض المحققين وهذه الطوارى والتغيرات المذكورة انماتختص باجسامهم البشرية المقصودة بهامقاومة البشرومعانات بنى ادم لمشاكلة الجنس واما بواطنهم فمنزهة غالبًا عن ذالك معصومة منه متعلقة بالملا الاعلى والملائكة لاخذها عنهم وتلقيها الوحى منها (الشفاء بتعريف حقوق المصطفى) (ص ۱۵۸ ج ۲ ص ۱۵۹ ج ۲).**

"همدا رنګه نور انبیاء علیهم السلام هم په تکلیفونو کې مبتلا شوي وو او هغوی ته عافیت هم ورکړل شوی و او دا د الله تعالی کامل حکمت و، دا دې له پاره چې په دې مقاماتو کې د دې حضراتو

شرف ښکاره شي او دهغوی معامله واضحه شي او دالله تعالی خبره ددوی په حق کې پوره شي او دې له پاره چې الله تعالی ددوی بشريت ثابت کړي او دامت دضعیفو خلکو ددوی په باره کې چې کوم التباس و هغه لیرې شي دی له پاره چې ددې عجائباتو په وجه کوم چې ددې حضراتو په لاس ظاهرېږي چې په هغه سره خلک گمراه نشي. څنگه چې نصاری دحضرت عیسی علیه السلام په باره کې گمراه شو. ځینې محققینو فرمايلي دي چې دا عوارض او تغیرات ددې بشري جسمونو سره خاص وو. چې دهغه نه مقصود دبشر مضبوطول او د انسان مشقتونو زغمل دي. دې له پاره چې دهم جنسو سره په شکل کې بو شان شي. خو ددوی پاك روحونه ددې نه څه اثر نه اخلي بلکې هغه معصوم او منزه او دملاء الاعلی او فرشتو سره تعلق لري ځکه چې دوی دفرشتو نه علوم او وحي اخلي".

غرض دا چې دنبي کريم ﷺ دنور کیدو دا معنا بالکل نه ده چې هغه په انسانانو کې داخل نه دی. تاسو چې کومې حوالې نقل کړي دي په هغه کې دنبي ﷺ له پاره دنور دصفت اثبات شوی دی، خو په دې سره دهغوی ﷺ دبشريت نه انکار نه لازمېږي ځکه هغه دمدعا نه خلاف نه دیا و نه زما عقیده ددغه بزرگانو څخه بېله ده.

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په نشر الطيب[1] کې دټولو نه اول نور محمد ﷺ دپیدائش بیان کړی دی او دهغه دلاندې یې هغه احادیث نقل کړي دي چې کوموته تاسو اشاره کړې ده، خو حضرت رحمه الله نور محمد ﷺ تشريح هم کړې ده، څنگه چې اول روایت یې دحضرت جابر رضی الله عنه د مسند عبدالرزاق په حواله سره دا نقل کړی دی:

"نبي علیه السلام وفرمایل: اې جابره! الله تعالی دټولو شیانو نه اول ستا دنبي نور دخپل نور نه (خو په دی معنا سره نه چې دالله نور دهغه ماده ده، بلکې دخپل نور دفیض نه یې) پیدا کړو. بیا چې کله الله تعالی نور مخلوقات پیدا کول وغوښتل، نو دا نور یې څلور برخې کړ، دیوې برخې نه یې قلم پیدا کړ او ددویمې برخې نه یې لوح، وړاندې حدیث اوږد دی".

بیا دهغه په فایده کې لیکي: "ددې حدیث نه نور محمدي ﷺ اول الخلق په حقیقت کې ثابت شو، ځکه چې د کومو شیانو په نسبت سره داولیت حکم په روایاتو کې راغلي دي دهغه شیانو نور د محمدي ﷺ نه وروسته کیدل په دې حدیث کې منصوص دي".

او ددې په حاشیه کې لیکي: "ظاهراً نور د محمدي ﷺ څخه روح محمدي ﷺ مراد دی او د روح حقیقت د اکثرو محققینو دقول سره سم له مادې نه مجرد دی او د مجرد د مادیاتو له پاره ماده کیدل ممکن نه دي. نو ښکاره ددې نور دفیض نه څه ماده جوړه شوې ده. بیا یې دغه ماده څلور برخې کړې ده الخ. او بیا ددغې مادې نه دیو مجرد جوړیدل په دې طریقه باندې

---

[1] نشر الطيب ص: ٥، ٦ وړومبی فصل د نور محمدي په بیان کښې طبع کتب خانه اشاعت العلوم سهارنپور

ممکن دي چې هغه ماده د دې جز نه وي، بلکې په څه طریقه باندې یو اخې د دې سبب خارج عن الذات وي".

دویم روایت چې په هغه کې فرمایل شوي دي چې بیشکه زه د الله په نزد خاتم النبین شوی ومه او ادم علیه السلام په دغه وخت کې په خپل خمیر کې پروت و--- دهغه په حاشیه کې لیکي

" او په دغه وخت کې خوښکاره خبره ده چې دهغوی ﷺ بدن نه و جوړ شوی. نو بیا د نبوت صفت دهغوی روح ته ورکړل شوي وا ونور د محمدي ﷺ هم د دغه روح محمدي ﷺ نوم دی څنګه چې پورته ذکر شو".

له دې نه واضحه شوه چې دحضرت تهانوي رحمه الله په نزد باندې نور د محمدي ﷺ نه مراد د نبي علیه السلام روح دی او په دې فصل کې چې څومره احکام ثابت شوي دي هغه دهغوی ﷺ د روح مقدسه دي او دا خو ظاهره ده چې دهغوی د روح مبارك د اول الخلق کیدو نه دهغوی ﷺ د بشریت نه انکار نه لازمیږي.

او د حضرت تهانوي رحمه الله د تشریح نه دا هم معلومه شوه چې د نبي کریم ﷺ نور د الله تعالی د نور نه د پیدا کیدو مطلب دا نه دی چې نور د محمدي ﷺ (نعوذ بالله) د نور خداوندي څه برخه ده، بلکې دا مطلب یې دی چې د نور خداوندي فیضان د نبي علیه السلام د روح مقدسه د پیدا کیدو سبب وګرځید.

تاسو قطب العالم حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله د امداد السلوك حواله ورکړې ده چې د احادیث متواتره نه ثابته ده چې د نبي کریم ﷺ سوری نه و او ظاهره ده چې د نور نه پرته د ټولو اجسامو سوری وي"؟

د امداد السلوك د فارسي نسخه خو زما مخې ته نشته خو د اردو ترجمه کومه چې مولانا عاشق الهی میرټهی د "ارشاد الملوك" په نوم کړې ده دهغه متعلق عبارت دا دی"

"نبي کریم ﷺ خو هم د ادم علیه السلام په اولاد کې دی خو هغوی ﷺ خپل ذات د ومره پاك کړی و چې خالص نور جوړ شوی وا و الله تعالی ورته نور وفرمایلو او په شهرت سره ثابته ده چې د دوی ﷺ سورې نه و او ظاهره ده چې د نور نه پرته د هر جسم سوری وي، د غسې نبي علیه السلام خپلو تابعدارو ته د ومره د نفس پاکوالی ورکړ چې هغوی هم نور جوړ شول. څنګه چې دهغوی د کراماتو او حکایتونو نه کتابونه ډك دي او د ومره مشهور دي چې د نقل کولو حاجت یې نشته او الله تعالی هم فرمایلي دي چې کوم خلك زموږ په حبیب ﷺ باندې ایمان راوړي دهغه نور به دهغه نه مخکې مخکې په منډه وي او بل ځای کې فرمایي چې "یاد کړه! هغه ورځ چې کله د مومنانو نور د دوی نه مخکې او ښي طرف ته په منډه وي او منافقان به ووایي چې لږ ودریږئ چې موږه هم ستاسو د نور نه څه نور واخلو".

د دې دواړو ایاتونو نه صفا معلومه شوه چې د نبي علیه السلام په تابعداري سره ایمان او نور دواړه حاصلیږي". (ارشاد الملوك مطبوعه سهارنپور، صفحه ۱۱۴-۱۱۵).

ددې اقتباس نه څوخبرې بالکل واضحه دي:

۱:داچې نبي کریم ﷺ دادم علیه السلام په اولادکې وګڼل شواود ادم علیه السلام بشرکیدل دقران کریم نه ثابت دي.

۲:داچې دنبي علیه السلام له پاره چې دکوم نورانیت اثبات شوي دی داهغه دی کوم چې تزکیې اوتصفیې سره حاصلیږي اوپه هغه کې د نبي علیه السلام مرتبه دومره اعلی اوکامله وه چې نبي علیه السلام خالص نور شوی و.

۳:داچې دجسم مبارك دسوري نه ښکاره کیدل یې متواترنه دي ویلي. بلکې شهرت سره ثابتیدل یې ویلي دي.دهرروایتونه داسې دي چې دعام اوخاص په ژبه حاصلیږي خوهغه ته دشهرت درجه خوپریږده چې دخبرواحدپه درجه کې هغه ته صحیح یاد قبلیدو قابل ضعیف حدیث درجه هم حاصله نه وي. بلکې هغه خالص بې بنیاده اوموضوعي وي.دسوري نه ښکاره کیدو روایت هم تر دې حده کمزوری دی.داروایت مرسل هم دی اوضعیف هم او په ځینو راویانوباندې یې دوضع حدیث تهمت لګېدلی دی.

(ددې تفصیل دحضرت مفتي محمدشفیع صاحب رحمه الله په مضمون کې دي.چې هغه به په اخرکې دتکملې په بڼه نقل کړم)

۴: داچې دحدیثونوتصحیح اوتنقیح دمحدثینوحضراتو کاردی. دحضرات صوفیاء کرامو معمول دادی چې ځینې داسې روایات چې هغه عام طورمشهوروي،دهغه دصحیح کولویواځې کوشش نه کوي بلکې دهغه دتصحیح له پاره توجیه ګانې کوي،دلته هم شیخ قطب الدین مکي رحمه الله (چې دهغه د رسالې مکیه ترجمه حضرت ګنګوهي رحمه الله کړې ده) ددې مشهورروایت دا توجیه یې کړې ده چې په نبي کریم ﷺ باندې دنورانیت اودتصفیې دومره غلبه وه چې دمعجزې په طورسره دهغه ﷺ سوری نه و،په هرحال که دسوري نه کیدووالا روایت ومنل شي، نودمعجزې په طور کیدای شي.ګویاچې دنورانیت دغلبې په وجه دهغه ﷺ په جسم مبارك دروح احکام جاري شوي و اوڅنګه چې دروح سوری نه وي همدارنګه دده ﷺ دپاك جسم هم سوری نه و،خو له دې نه دنبي کریم ﷺ دبشریت نفې نښې کیدلی.یوخوله دې وجې نه چې شیخ رحمه الله پخپله دنبي علیه السلام دبشریت تصریح فرمایي،دویم دنورداصفت دنبي علیه السلام دټولومتبعینو اهل ایمان له پاره ثابتوي.ظاهره ده چې که ددې نوردبشریت سره منافات وي، نوبیابه دټولو متبعینو دبشریت نه انکار راشي،دریم ام المومنین حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها چې دنبي علیه السلام حالات دټولونه ښه پیژني هغه فرمایي:

کان بشرًا من البشر. (رواه الترمذی مشکواة ص۵۲۰). "نبي علیه السلام دانسانانونه یوانسان و."

دسوري دنه ښکاره کیدوپه باره کې دفتاوي رشیدې نه یوسوال اوځواب دلته نقلوم:

سوال: د رسول الله ﷺ سوری مبارك به په خمكه پریوت او كه نه؟ او كوم چې ترمذي په نوادرالاصول كې د عبدالملك بن عبدالله بن وحيد نه او هغه د ذكوان نه روايت كړى دى چې دنبي ﷺ سورى نه و، د دې حديث سند صحيح دى يا ضعيف دى يا موضوع دى؟

جواب: دا روايت په صحاحو كتابونو كې نشته او د نوادر د روايت بنده ته حال معلوم نه دى چې څنګه دى. نوادرالاصول د حكيم ترمذي كتاب دى د ابوعيسى ترمذي نه دى فقط والله اعلم درشيد احمد ګنګوهي عفي عنه له دې اقتباس نه معلومه شوه چې د سوري نه ښكاريدو روايت د حديثو په مشهورو كتابونو كې نشته.

د امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله په حواله سره هغوى درې خبرې نقل كړې دي.

۱: نبي كريم ﷺ نوردى ځكه چې هغوى ﷺ فرمايلي دي. "**خلقت من نور الله**" زه د الله د نور نه پيدا شوى يم. ۲: نبي عليه السلام نوردى چې الله تعالى د حكمت او مصلحت له وجې نه د انسان په شكل كې ښكاره كړى دى. ۳: نبي عليه السلام نور دى ځكه د هغوى مبارك سورى نه و.

د نبي عليه السلام د نور نه د پيدا كيدو او د سوري نه ښكاريدلو تحقيق مې پورته ذكر كړى دى خو دلته دومره خبره زياتول مناسب ګڼم چې د "**خلقت من نورالله**" الفاظو سره يو حديث هم نه دى روايت شوى. د مكتوبات شريف په حاشيه باندې په تخريج كې شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله د مدارج النبوة په حوالې سره دا روايت نقل كړى دى:

انا من نورالله والمؤمنون من نوري " زه د الله تعالى له نورنه نه يم او مومنان زما له نورنه دي" خو په دې الفاظو سره مې يو حديث هم د حديثو په ذخيره كې د نه دى تر ستركو شوى. كيداى شي چې دا د حضرت جابر رضي الله عنه د حديث (چې د نشرالطيب په حواله سره تير شوى دى) روايت بالمعنا وي، په هرحال كه چېرې دا روايت صحيح وي. نو د دې شرح هغه ده كومه چې مې د حضرت حكيم الامت تهانوي رحمه الله د نشرالطيب نه نقل كړې ده.

ټول ښه پوهيږي چې د الله نور د اجزاء او حصونه پاك دى په دې وجه يو عقلمند ته دا توهم نشي كيداى چې د نبي عليه السلام نور د الله پاك د نور يوه برخه ده. بيا په دې روايت كې د نبي عليه السلام د نور نه د مومنانو د پيدايش ذكر شوى دى، كه چېرې د جزئيت معنا ترې واخستل شي، نو دا به لازم شي چې ټول د ايمان والا د الله د نور يوه برخه ده. د دا رنګه رواياتو عارفانه تشريح كيداى شي، څنګه چې امام رباني كړې ده خو په دې باندې د عقيدې بنياد ايښودل او نبي عليه السلام د قطعي دلايلو سره سره له بشريت نه ويستل هيڅكله جائز نه دي.

دويمه خبره كومه چې تاسو د حضرت مجدد رحمه الله نه نقل كړې ده اول خو هغه د هغو باريكو علومو او معارفو نه ده چې د متوسطه عقلونه نه ډيره پورته ده.

او د كومو خلكو تعلق چې د كشف سره دى او هغه حضرات چې د تزكيې، تصفيې او د باطني نور لوړو مقاماتو ته رسيدلي وي هغوى د دې د افهام او تفهيم صلاحيت لري. عام خلك په

دې باريکو علومو باندې نه پوهيږي. د دې خلکو که چېرې د شريعت له ظاهر سره څه واسطه وي، نو د هغو اکابرو په شان کې به ګستاخي وکړي. (چې د هغه مشاهده په نن زمانه کې ښه کيږي) او د کومو خلکو چې د غو اکابرو ته عقيدت وي، نو هغوی به د شريعت ظاهري احکام او قطعي دلائل شاته وغورځوي او د الحاد او زنديقيت په ګړنګو کې به ټکرې وخوري. فأن الجاهل اما مفرط واما مفرِط. ځکه د اکابرو وصيت دا دی چې:

نکته ها چون تيغ فولاد است تيز — چون نداری تو سپر واپس ګريز
پيش اين الماس بی اسپر ميا — کز بريدن تيغ رانبود حيا
چې شبها نشستم درين سيرګم — که دهشت ګرفت آستينم که قم
محيط است علم ملك بر بسيط — قياس تو بروی نه ګردد محيط
نه ادراك در کنه ذاتش رسد — نه فکرت بغور صفاتش رسد

دريم تاسو د حضرت مجدد رحمه الله حواله نقل کولو کې د ډېر اختصار نه کار اخستی دی چې د هغه په مقصد پوهيدو کې شك پيدا کيږي. حضرت مجدد رحمه الله فرمايي: د نبي کريم ﷺ تخليق د الله تعالی په اضافي علم سره شوی دی.

ترجمه: او د اسې نظر راځي چې علم اجمالي چې د صفات اضافيه نه دې دا يو نور دی چې په جسماني پيدايش کې په ډېرو پښتونو او رحمو کې منتقل شو او د حکمتونو او مصلحتونو د غوښتنو په وجه د انسان په صورت کې ښکاره شو او په د محمد او احمد پاکو نومونو سره ياد کړل شو. صلی الله عليه وآله وسلم تسليمًا کثيرًا کثيرًا.

د حضرت امام رباني رحمه الله د اقتباس نه لاندې د بيان شوې خبرې ښکاره شوې:

١: د نبي کريم ﷺ پيدائش د الله تعالی د علم اجمالي نه د صفت اضافيه په مرتبه کې شوی دی.

٢: دا صفت اضافيه يو نور و چې هغه ته انساني شکل او قالب ورکړل شو.

٣: انساني شکل تر ټولو ښايسته دی، له دې وجې د الله پاك د حکمت غوښتنه دا شوه، چې نبي ﷺ د انسان او بشر په شکل پيدا کړل شي، که چېرې له بشري شکل نه بهتر بل قالب وای، نو نبي ﷺ به يې کله هم په انساني شکل کې پيدا کړی نه و، له دې نه معلومه شوه چې امام رباني رحمه الله د نبي عليه السلام د بشريت نه منکر نه دی او نه د هغه نور د بشريت منافي دی چې هغه يې اثبات کړی دی. تاسو د التوسل رسالې او د تفسير کبير په حواله ليکلي دي چې ايت کريمه:

﴿قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَـٰبٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾﴾ کې د نور نه د نبي ﷺ ذات مراد دی، په دې ايت کې د نور په تفسير کې درې قوله دي:

١: دا چې له دې نه نبي عليه السلام مراد دی. ٢: دا چې له دې نه اسلام مراد دی.

٣: دا چې قران کريم ترې مراد دی.

داقول امام رازي رحمه الله په دې وجه کمزورې ښودلی دی چې معطوف اومعطوف علیه کې تغیرضروري دی خو دادلیل ډېر کمزورې دی ځکه چې په ځینې وختونوکې دیوشی له پاره ډېر صفات دعطف په طورذکرکیږي.ځکه حضرت حکیم الامت تهانوي رحمه الله په بیان القران کې هم داقول اختیار کړی دی.

په هرحال دنورنه مرادکه نبي علیه السلام وي، یااسلام وي یاقران کریم .په هرصورت کې دلته له نورنه دهدایت نورمراددی،چې دهغه ښکاره طریقه دایت ربط دی.

﴿ يَهْدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضْوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذْنِهِۦ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٦﴾ ﴾(المائدة: ۱۲)

"ددې په ذریعه الله تعالی داسې کسانوته چې دالله درضا غوښتونکي وي،د سلامتیا لارې ښیي (یعنې جنت ته دتلوطریقې چې دهغو خاصو عقیدواوعملو تعلیم ورکوي ځکه چې پوره سل میاشتې دبدن اودروح په جنت کې نصیب کیږي) اودی به په خپل توفیق (اوفضل) سره (دکفر او د گناه) له تیاروپه سمه لاره باندې قائم ساتي.(بیان القران)

امام رازي رحمه الله فرمایي: **تسمية محمد والاسلام والقران بالنور ظاهرة لان النور الظاهر هوالذی يتقوي به البصر على ادراك الاشياء الظاهرة والنور الباطن ايضًا هوالذی تتقوي به البصيرة على ادراك الحقائق والمعقولات.** (تفسیر کبیر ج۱۱ص۱۸۹)

"محمد صلی الله علیه وسلم ،اسلام اوقران ته دنورویلو وجه ښکاره ده ځکه چې دښکاره رڼا په ذریعه خوسترگې ظاهري شیانوته گوري.همدارنگه دباطني رڼا په وجه باندې دحقائقواودعقلي شیانو ادراك کیدای شي".

علامه نسفي رحمه الله په تفسیرمدارك کې لیکي:

اوالنور محمد صلى الله عليه وسلم لانه يهتدى به كماسمي سراجًا. (ص۳۱۶ج۱)

"یا دنور نه مراد حضور صلی الله علیه وسلم دی ځکه چې دهغه صلی الله علیه وسلم په ذریعې سره هدایت ورکول کیږي څنگه چې هغه صلی الله علیه وسلم ته چراغ (ډیوه) ویل شوې ده".

تقریبًا هم دغه مضمون په تفسیرخازن، تفسیربیضاوي، تفسیر صاوي،تفسرروح البیان او داسې نورو تفسیرونوکې دی.

هم دې طرف په اشارې سره مالیکلي و:

"څنگه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دخپلې نوعې په اعتبارسره بشردی همدارنگه هغه صلی الله علیه وسلم دهدایت دصفت په لحاظ سره دټول انسانیت له پاره دنورمیناره ده، داهغه نوردی چې دهغه په رڼاکې انسانیت ته دالله تعالی لاره پیداکیدای شي.

او دهغه رڼا به همیشه له پاره ځلیدونکې وي.لهذا زما په عقیده کې هغه په یو وخت کې نور هم دی او بشر هم".

زمادې ټول بیان خلاصه دا ده چې دنبي عليه السلام بشریت په یقیني دلائلو سره ثابت دی.ځکه دهغه ﷺ له پاره دنورصفت ثابتول اودانسانیت اوبشریت له دایرې نه بې وېستل هیڅکله صحیح نه دي.څنګه چې دنبي ﷺ درسالت اونبوت عقیده ساتل لازمي ده همدارنګه دهغه دانسانیت اوبشریت عقیده هم لازمي ده.څنګه چې مادفتاوي عالمګیري په حواله دانقل کړي دي:

ومن قال لاادری ان النبي ﷺ كان انسيًا اوجنيًا يكفر كذافى الفصول العمادية (ص۳۶ج۲) وكذا فى البحر الرائق(ص۱۳۰ج۵)(فتاوي عالمگيرى ص۲۶۳ج۲)

"او کوم سړی چې دا ووایي چې زه نه پوهیږم چې نبي عليه السلام انسان و یا پیری ،نوهغه کافردی"

د شریعت په معرفت کې په سلفو (بزرګانو) باندې اعتماد

سوال: شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمایي چې: دشریعت په معرفت کې بزرګانوباندې اعتماد پکاردی، خودحضور ﷺ دانسان کیدو په ثابتولو کې دااصول پرېښودل پکاردي اوقران کریم کې په، **قدجاءکم من الله نوروکتاب مبين**، کې دحضور ﷺ انسان کیدل نه بلکې نورکیدل ثابت شوي دي. اوحضور ﷺ پخپله باندې فرمایلي دي چې ادم عليه السلام لندې خاورې وچې زمانور پیدا کړل شو، همدارنګه که حضور ﷺ انسان و، نو دحضور ﷺ سوری ولې نه و؟ تفصیل سره ځواب راکړئ!

جواب: تاسوچې دحکیم الامت حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په حواله باندې کوم اصول نقل کړي دي چې: دشریعت په معرفت کې په مشرانوباندې اعتماد پکار دي.... الخ، دااصول بالکل صحیح دي اوزه پخپله باندې هم ددې اصولو پابندیم اودې زمانه کې هم دادایمان دحفاظت اودسلامتي لارګنم،[1] هم دغه وجه ده چې ماپخپل کتاب "اختلاف امت اورصراط مستقیم،، کې ځای په ځای داهل سنت داکابرینوحوالې ورکړي دي.

دنوراوبشر، په بحث کې ستاسوپه خیال مادنورو اکابرینو نه بېل نظر اختیارکړی دی،داخبره صحیح نه ده، بلکې ماچې څه لیکلي دي چې حضور ﷺ هم نورو اوهم انسان،هم دادقران کریم، دحضور ﷺ، دصحابه کرامو رضي الله عنهم، دتابعینو اوداهل سنت د اکابرینو عقیده

---

[1] ان الامة اجتمعت على ان يعتمدوا على السلف فى معرفة الشريعة ؛ فالتابعون اعتمدوا فى ذلك على الصحابة وتبع التابعين اعتمدوا على التابعين ، وهكذا كل طبقة اعتمد العلماء على من قبلهم ......الخ (عقد الجيد لشاه ولى الله ص:۳۶)

ده. قران کریم چې یو ځای کې قد جاءکم من الله نور و کتاب مبین فرمایلي دي، بل ځای کې بې قل انما انا بشر مثلکم یوحی الی....الخ، هم فرمایلي دي او دکوموا کابرینو چې تاسو حوالې ورکړي دي، هغوی هم دحضور ﷺ دنور کیدو او د انسان کیدو دواړو قایل دي.
ماخولیکلي دي چې دنوراو بشریه مینځ کې تضاد ګڼلو په وجه باندې دیونه منل او دبل منل غلط دي. حیرانتیا ده چې دکومې غلطي باره کې مابیان کړی و. همغه ستاسو دسوال بنیاددی. دامت په اکابرینو کې دیو نوم خو واخلئ چې هغوی وایي چې حضور ﷺ نورو. انسان نه و.
اوبیاماچې دحضور ﷺ (له نور کیدو سره) دانسان کیدو له پاره کوم عقلي اونقلي دلیلونه وړاندې کړي وو، نو تاسو دهغو طرف ته ولې رجوع نه ده کړې. اقلا دعقائد نسفي. کوم باندې چې ټول اهل سنت متفق دي اودفتاوي عالمګیري کومې حوالې چې ورکړل شوي دي، هغو باندې غور کول پکار و، د حضور ﷺ مقدس روح که چېرې دحضرت ادم علیہ السلام نه مخکې پیدا شوی و، نوله دې څخه دحضور ﷺ دانسان کیدونفي څنګه کیدای شي؟
دحضور ﷺ دبدن دسوري نه ښکاریدو روایت خو لومړی دمحدثینو حضراتو په نزد باندې زیات مضبوط هم نه دی،له دې پرته دسوری نه ښکاریدوداوجه هم کیدای شي چې حضور ﷺ باندې به دوریځې یوې ټکړې سوری کاو. یاڅنګه چې دروح سوری نه وي. همدارنګه دنورانیت دغلبې په وجه باندې دحضور ﷺ په بدن باندې دروح حکمونه جاري کیږي. عارفین حضرات دتجسدارواح اوتروح ارواح داصطلاحاتونه واقف دي، په هرحال یوازې دسوري نه ښکاریدوپه وجه باندې دانه لازمیږي چې حضور ﷺ انسان نه و. ام المومنین حضرت عائشې صدیقې رضی اللہ عنہا چې حضور ﷺ ترټولو زیات ښه پېژانده فرمایي چې:
کان من البشر. (مشکوة شریف ص ۵۲۰)
غرض داچې دحضور ﷺ له نور کیدونه انکارنه کیږي اونه ترې نه ماانکارکړی دی.خبره داده چې ایادحضور ﷺ نور کیدل د حضور ﷺ دانسان کیدومنعه کوي؟ ماليکلي دي چې نه؛ منعه نه کوي. بلکې څنګه چې حضور ﷺ نوردی، همدارنګه انسان هم دی[1]. که چېرې قران کریم، حدیثونو او د امت د اکابرینو په ارشاداتو کې تاسوته زمادې دلیل خلاف څه پیداشو. نوماته به دهغه په منلو کې هیڅ عذرنه وي.
نشرالطیب کې چې حضرت حکیم الامت نورالله مرقده نوردمحمدي (علی صاحبها الصلوات

---

[1] والرسول انسان بعثه الله تعالى الى الخلق لتبليغ الاحكام (شرح عقائد نسفى ص:١٦، عالمگيرى ج:٢،ص: ٢٦٣ الباب التاسع فى احكام المرتدين) تفصيل سايه آنحضرت صلى الله عليه وسلم ،كفايت المفتى ج:١،ص: ٨٦، ٨٧ طبع دارالاشاعت

والتسليمات، پيدا کيدل ليکلي دي. هلته يې حاشيه کې ددې تشريح هم کړې دی. هغه هم ولولئ (نشرالطيب ص۵)

نبي کريم ﷺ نوردی که بشر؟

سوال: څه فرمايي عالمان دين اومفتيان په دی باره کې چې زيد وايي چې نبي کريم ﷺ بشردی، دعامو انسانانو پشان په بشريت سره بلل کيږي، عمرو وايي چې دا غلطه ده بلکې دنبي ﷺ له پاره دالله په دربارکې دبشريت اونورانيت ددواړو درجه ده په دی دواړوکې کوم يو په حقه باندې دی؟

جواب: نبي عليه السلام دخپلې نوعې په اعتبارسره بشردی اودقران کريم په الفاظوکې "**بشرمثلکم** راغلي دي، دلاربنونکې په حيث نوردی، نبي عليه السلام انسان دی اوبشرهم انسان ته ويل کيږي نبي عليه السلام انسان منل فرض دي اودهغه دانسانيت نه انکارکفردی[۱] ددې نه معلومه شوه چې که چېرې زيد دنبي عليه السلام دنورانيت قايل دی خو دهغه صلی الله عليه وسلم له بشيرت نه منکر دی، نودده خبره غلطه ده. نبي عليه السلام کامل بشردی اودهدايت دصفت په اعتبارسره کامل نوردی.

د حاضراو ناظر مسئله اودشيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله نظر

سوال: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!محترمه !خبره داده چې بنده په ماهنامه بينات کې ستاسو مضمونونه په پوره مينې سره لولي. کوم چې په عقيدو، اعمالو اواخلاقو کې ډير فايده ورکونکي ثابتيږي اوبنده ته ستاسوپه علمي قابليت باندې ډيرزيات باوردی، له همدې وجې يې دپيداشويو شکونودازالې له پاره تاسو انتخاب کړي يئ، اميددی چې تاسو جناب به دخپل قيمتي وخت نه څه وخت دځوابونوله پاره راکړئ اوپه محقق ډول سره به دبنده تسلي وکړئ!

۱-سوال: تاسودا ختلاف امت اورصراط مستقيم په ص: ۴۰ کې دحاضراوناظرپه مسئله باندې رڼا اچولوکې فرمايلي دی:

دحضور ﷺ په باره کې داعقيده چې هغه هرځای کې موجوددی اودمخلوقاتو هريوشی دهغه په نظرکې دی، دهدايت عقل په اعتبارسره صحيح نه ده. نو دابه څنګه شرعاً صحيح وي؟ دا يواځې دالله تعالی صفت دی اوداديل شخصيت له پاره ثابتول غلط دي.

۱]من قال : لا ادری ان النبی صلی الله عليه وسلم انسياً او جنياً يکفر (بحرالرائق ج:۵، ص: ۱۳۰) فقالوا ابشر يهدوننا (التغابن :۶) انکروا الرسالة للبشر ولم ينکروا العبادة للحجر (تفسير نسفی ج:۳،ص: ۴۹۱ طبع بيروت)

يوې خواته مې ستاسونظريه ولوست اوبلې خواته شيخ اجل حضرت شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په خپله رساله..اقرب التوسل بالتوجه الى سيدالرسل برحاشيه اخبارالاخيار،،ص: ۱۷۰ کې فرمايي:

وباچنديك کس اختلاف وکثرت مذاهب که درعلمايې امت ست يک کس رااختلافي نيست که حضرت محمد صلی الله عليه وسلم باحقيقت بې شائبه مجازتوهم تاوين باقی ست وبراعمال امت حاضروناظراست....

له دې عبارت نه داخبره معلوميږي چې دحضرت محدث دهلوي دزمانې پورې دحاضر او ناظر مسئله باندې دامت مُحمدي ديوفردهم اختلاف نه و،دشاه صاحب دزمانې نه وروسته دچا اختلافات دشاه صاحب قول باطل کولی نه شي. نورداچې په دې کې دبدواعمالو د امت لفظ دی،ددې له پار چې دامت اجابت اوامت دعوت دواړو له پاره عام شي اودابتداء نه واخله ترانتهاء پورې ټولو مخلوقاتواحوال نګاه رسالت باندې مشکف شوې وګڼل شي، نوپه دې کې کومه استحاله لازميږي؟څنګه چې شيخ رحمه الله په خپله باندې په صريح ډول فرمايي : هرچې دردنياست اززمان ادم تانفخهٔ اولی بروے صلی الله منکشف ساختندتاهمه احوال اورا ازاول تا اخرمعلوم گرويد،،،(مدارج النبوة ج:۱)

اوپه دې باره کې دطبراني حديث هم موجوددی:

ان الله قدرفع لی الدنيا وانی انظراليها والی ماهوکائن فيها،،،

همدغه راز شيخ رحمه الله په مدارج النبوة ج:۲ ص:۷۸۷ مطبوعه نولشکورکې فرمايي:

،،بدانکه وے صلی الله عليه وسلم مے بيندوے شنودکلام ترا زيرا که وے متصف است به صفات الهی انست که،،اناجليس من ذکرنی،، وپيغمبرراصلی الله عليه وسلم نصيب وافرست ازين صفت،،،

نورداچې په مدارج النبوة ج:۲ ص: ۷۸۹ مطبوعه نولشکورکې ليکي:

وصيت ميکنم تراائے بردار!بدوام ملاحظه صورت ومعنا اواګرچې باشي توبتکلف ومستحقرپس نزديک است که الفت ګيردروح توبوے.وروسته حاضرايدتراوے صلی الله عليه وسلم عيانا ويابی اورا.وحديث کنی باوے وجواب دهدتراوي وحديث ګويد باد وخطاب کندترا پس فائزشوي بدرجه صحابه عظام ولاحق شوي بايشان انشاءالله تعالی.

دموجوده علماء کراموفراست هم مسلم دی،خو دمقدمينوعلماوو فهم اوفراست يقيناً ډير لوړ دی،دکومودليلونوپه وجه چې دحاضراوناظرترديدکيږي اياهغه دلائل دحضرت محدث مرحوم مخې ته موجودنه وو؟که دحاضراوناظرعقيده شرک وي، نوداسې عظيم شيخ به دې عقيدې ته متفق علمايې امت ولې ويلې؟اياټولو بزرګان په شرک کې اخته وو(نعوذبالله من ذالک)که ستاسونظريه صحيح ده. نوددې پورتنوعباراتو مطلب څه دی؟

امید لرم چې تاسو به زما د خبرې پوره تحقیق سره کامله تشفي وکړئ.الله تعالی دې تاسو ته د خیر بدله درکړئ!

الجواب

د حاضر او ناظر مسئلې په باره کې ما لیکلي وچې:

د حضور ﷺ په باره کې هرچاته پته ده چې هغه ﷺ په پاکه روضه کې استراحت کوي او د ټولې دنیا عاشقان د زیارت له پاره هلته حاضریږي.ددې وجې نه د حضور ﷺ په باره کې دا عقیده چې حضور ﷺ په هرځای کې موجود دی او د مخلوق یو یو شی هغه په نظر کې دی. د هدایت عقل په اعتبار سره هم صحیح نه ده.څنګه به شرعاً دا صحیح وي؟دا یو اخې دالله تعالی صفت دی او دا صفت بل شخصیت ته ثابتول غلط دي.

د حضرت اقدس شاه عبدالحق محدث دهلوي قدس سره عقیده هم داوه،څکه هغه په خپله رساله ..تحصیل البرکات.. في بیان التحیات..کې(چې دکتاب المکاتیب والرسائل اته دیرشمه رساله ده)، ،السلام علیک ایها النبي ورحمة الله وبرکاته، ،لاندې لیکلي دي:

اگرگویند که خطاب مرحاضررابود.وحضرت محمد صلی الله علیه وسلم درین مقام نه حاضراست بس توجیه این خطاب چې باشد؟

جوابش انست که چون ورود این کلمه دراصل یعني درشب معراج بصیغه خطاب بود،دیرتغیرش نداوبرهمان اصلی گزاشتند،

ودرشرح صحیح بخاري میگوید که صحابه درزمان حضرت محمد صلی الله علیه وسلم بصیغه خطاب میگفتند وبعداز زمان حیاتش این چین میگفتند السلام علیکم علی النبي ورحمة الله وبرکاته،نه بلفظ خطاب...(تحصیل البرکات به بیان معنا التحیات ص:۱۸۹)

ترجمه: که وویل شي چې خطاب خو حاضرته کیږي او حضور ﷺ خو دلته حاضر نه دی، نو ددې خطاب توجیه به څه وي؟

ځواب دادی چې په اصل یعني د معراج په شپه داکلمه د خطاب په صیغې سره وه،له دې وجې نه دا په خپل اصلي حالت پرېښودل شوه او په دې کې هیڅ بدلون رانه وستل شو.

او د صحیح بخاري په شرح کې لیکي: چې صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین، د حضور ﷺ د زمانې پورې د خطاب په صیغې سره سلام کولو او د هغه د وفات نه وروسته به یې ،،السلام علی النبي ورحمة الله وبرکاته، ، ویل،د خطاب صیغه به یې نه استعمالوله.

او په مدارج النبوة باب پنجم کې د حضور ﷺ د خصائصو او فضائلو پر مهال لیکي:

وازان جمله خصائص این رانیز ذکر کرده اند که مصلی خطاب میکند حضرت محمد صلی الله علیه وسلم بقول خود السلام علیک ایها النبي ورحمة الله وبرکاته خطاب نمې کند غیراورا.

اگرمرادباین اختصاص ان داشته اندکه سلام برغیرحضرت محمد صلی الله علیه وسلم بخصوص واقع نه شده است وروسته این معنا موافق است بحدیثے که ازا بن مسعودh امده است.واگرمراداین دارندکه خطاب حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باوجودغیبت ازخصائص است نیزوجهے دارد.

ووجه این میگویندکه چون دراصل شب معراج دردوبصیغه خطاب بود که از جانب رب العزت سلام امد برحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم بعد ازان هم برین صیغه گزاشتند.

ودرکرمانی شرح صحیح البخاري گفته است که صحاپه بعدازفوت حضرت السلام علی النبي میگفتند .نه بصیغه خطاب.والله اعلم.

ترجمه :عالمانودحضور ﷺ په خصائصوکې يوه خبره ذکرکړې ده چې لمونځ کونکی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته دايهاالنبي ورحمة الله وبرکاته سره خطاب کولی شي. دحضور ﷺ نه پرته بل چاته خطاب نه شي کولی.

که دخصوصيت نه دعالمانودامراد وي چې په لمونځ کې سلام دحضور ﷺ نه پرته په خصوصيت سره دبل چاله پاره واقع شوي نه دي. نودامضمون دهغه حديث موافق دی،کوم چې دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دی.

اوکه دعالمانومراداوي چې دغائب کيدوباوجودحضرت محمدصلی الله علیه وسلم ته خطاب کول دحضور ﷺ دخصوصياتونه ده، نوداخبره هم يوه معقوله وجه لري اوددې وجه داده چې د معراج په شپه کې سلام دخطاب په صيغې سره و،چې دحضرت رب العزت له طرف نه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ته سلام وشو.له دې وجې نه روسته داصيغه برقراروساتل شوه.

اوپه کرماني شرح بخاري کې دي چې صحابه کراموبه دحضور ﷺ له وفات نه وروسته ،،السلام علی النبي،، ويل،د خطاب په صيغې سره به يې نه ويل،والله اعلم،(ج: ۱ ص: ۱۲۵)

دحضرت شيخ محدث دهلوي قدس سره له عبارتونونه خودامعلومه شوه چې هغه حضور ﷺ حاضر اوناظرنه گڼه.بلکې په حضور ﷺ باندې دخطاب په صيغې سره دسلام توجيه به يې کوله،دويمه خبره دامعلومه شوه چې دشيخ رحمه الله نه مخکې عالمانوهم دحضور ﷺ دحاضراوناظرعقيده نه لرله.ځکه هغوی به دحضور ﷺ دوفات نه وروسته په التحيات کې د ،،السلام عليک ايهاالنبي،،په ځای دغائب صيغه استعمالولهاوالسلام علی النبي،،به يې ويل.

ښکاره دې وي چې شيخ رحمه الله کومه خبره دکرماني شرح بخاري په حوالې سره نقل کړې ده هغه په صحيح بخاري کې دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت ده،هغه فرمايي:

ځوپورې چې حضور ﷺ زموږ په مينځ کې موجودو ،موږ به په التحياتوکې ،،السلام عليک

ايهاالنبي،،لوستلواوكله چې هغه ﷺ وفات شو، نوموږ ددې په ځای ،،السلام على النبي،،به ويل.(صحيح بخاري ج ۲ ص ۹۲۶)[۱]

ماپه ،،اختلاف امت اورصراط مستقيم،،كې داحديث نقل كولوسره ليكلي و:

،،دصحابه وو رضوان الله اجمعين لهم.دې نه مقصد داښودل و،چې په التحيات كې په حضور ﷺ دخطاب دصيغې سره كوم سلام ويل كيږي هغه ددې عقيدې له وجې څخه نه دی چې حضور ﷺ په هرځای كې موجوددی اودهركس سلام په خپله اوري.بلكې دسلام صيغه دالله تعالى دسلام حكايت دی چې حضور ﷺ ته دمعراج په شپه فرمايل شوې وه.(ص ۴۷)

ددې تمهيدنه وروسته دشيخ رحمه الله دهغوعبارتونووضاحت كوم،دكوموچې تاسوحواله وركړې ده:

۱:داقرب الى التوسل،،كوم عبارت چې تاسونقل كړی دی په دې كې ستاسوپه نسخه كې كيدای شي چې دچاپې غلطې په وجه يولفظ پاتې شوی وي،چې دهغه مطلب باندې پوهيدوكې مشكل پيداشو،زماسره د،،المكاتيب والرسائل،،مجتبايي نسخه ده،چې په ۱۹۹۷ كې خپره شوې وه،په دې كې دعبارت صحيح نقل موجوددی اوهغه داسې دی:

،،وباچندين اختلاف وكثرت مذاهب كه درعلمائے امت است يک كس راخلافے نيست كه حضرت محمد صلى الله عليه وسلم بحقيقت حيات به شائبه مجاز وتوهم تاويل دائم وباقى هست،وبراعمال امت حاضروناظر،ومرطالبان حقيقت راومتوجهان حضرت محمد رامفيض ومربى است،،،(ص ۹۵)

ترجمه:له دومره اختلافاتواوډيرومذهبونو سره سره چې دامت په عالمانوكې موجوددې، ديوكس هم په دې كې اختلاف نشته چې حضور ﷺ په حيات حقيقي سره په كوم چې دمجاز اوتاويل هيڅ شبه هم نشته دائم اوباقي دی اودامت په اعمالوباندې حاضراناظردی اودحقيقت غوښتونكو خپل طرف ته متوجه كيدونكوته فيض رسوي اودهغوی تربيت كوي.

په دې عبارت كې زيربحث مسئلې دحاضراوناظرسره تعرض نشته،بلكې داذكرشوي دي چې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ته په پاكه روضه كې حقيقي ژوند حاصل ده اودهغه په بارګاه كې دامت اعمال وړاندې كيږي اوحضور ﷺ حقيقي غوښتنكوته باطني فيض رسوي نود،،براعمال امت حاضروناظر،،هم هغه مطلب دی چې دعرض الاعمال په حديث كې بيان شوی دی،حضرت شيخ رحمه الله دخصائص نبوي په بيان كې ليكي:

وازان جمله انست كه عرض كرده مي شود برحضرت محمد صلى الله عليه وسلم اعمال امت واستغفارمي كندمرايشان راوورايت كرده است ابن المبارک ازسعيدبن المسيب كه هيچ

---

[۱]...سمعت ابن مسعود يقول:علمنى النبى صلى الله عليه وسلم...التشهد...التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليک ايهاالنبى....وهو بين ظهرانينا فلما قبض قلنا: السلام على يعنى على النبى صلى الله عليه وسلم ۳۹.

روزے نیست مگرانکه عرض کرده میشود برحضرت محمد صلی الله علیه وسلم اعمال امت صبح وشام وي شاسد حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ایشان رابسیمائے ایسان واعمال ایشان.
ترجمه:اود حضور ﷺ د خاصیتونونه یوداهم دی چې دحضور ﷺ په بارګاه کې دامت اعمال وړاندې کیږي اوهغه ﷺ ددوی له پاره استغفارکوي.ابن مبارک.له سعیدبن المسیب نه روایت کوي چې هیڅ یوه ورځ بې له دېنه نه تیریږي چې دامت اعمال سحراوماښام د حضور ﷺ په خدمت کې وړاندې نه شي اوحضور ﷺ هغوی دعلاماتواو داعمالوڅخه پیژني.
غرض داچې حضور ﷺ په خپله روضه کې استراحت کوي اوهلته هغه ته دامت اعمال وړاندې کیږي اوهغه یې ګوري.دانه ده چې هغه په هرځای کې موجوددی اودهرکس داعمالو په خپلوسترګوباندې مشاهده کوي.څکه چې څنګه پورته معلوم شو چې ددې خبرې نه په خپله حضرت شیخ دهلوي رحمه الله قایل و اونه له هغه مخکې اهل علم قایل وواونه صحابه کرامورضوان الله اجمیعن داعقیده لرله.که نه په لمونځ کې..السلام علیک ایهاالنبي.. ویلو باندې به دهغوی شک نه واوصحابه کراموړضی الله اجمعین به په ځای د..السلام علی النبي.. دغائب صیغې د ویلوضرورت نه محسوسولو.والله الموافق.
۲:.دمدارج النبوة جلداول په حوالې سره چې کوم څه ویل شوي دي چې:دنیاله اول نه واخله تراخره پورې په حضور ﷺ باندې منکشف کړل شوي ده اوهغه ته له اول نه تراخره پورې ټول حالات معلوم شوي دي اودطبراني کوم حدیث چې تاسونقل کړ چې:الله تعالی زماپه وړاندې دنیاوړاندې کړه، په داسې حالت کې دهغه له طرف نه څه چې په دې کې کیدونکي دي دهغو طرف ته مې کتل.له دې نه دامرادنه دی چې دمخلوق دذرې ذرې علم هغه ته هروخت کې کیږي،یا دمخلوق ذره ذره دهغه په وړاندې حاضر او ناظر ده.بلکې له دې نه مراد کشف اورویت دی،ددې مثال داسې وګڼئ چې تاسویوخپل معزز میلمه باندې دکارخانې سیل کوئ،پوره کارخانه دهغه دنظرپه وړاندې ده اودهغې ټول حالات هغه ته معلوم شول،ددې باوجود دا نه شي ویل کېدای چې دې معززمیلمه ته دکارخانې دهریوشی تفصیلي علم وشواونه دالازمیږي چې ددې کارخانې دادنی نه ادنی پورې جزئیات دهغه په ذهن کې هروخت محفوظ پاتې کیږي.حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله لیکي:
وازجمله معجزات باهره وے صلی الله علیه وسلم بودن اوست مطلع برغیوب،وخبردادن بانچې حادث خواهد شد از مخلوق، علم غیب اصالة مخصوص است به پروردگارتعالی وتقدس که علام الغیوب است وهرچې بزبان رسول الله صلی الله علیه وسلم وبعضے ازتابعان وے ظاهرشده بوحی یابالهام .ودرحدیث امده است والله انی لا اعلم الا ماعلمنی ربی.(مدارج النبوة ج:۱ ص:۲٤٦)
ترجمه:اوحضورپه غالبه معجزو کې یودهغه دغیب په شیانوباندې پوه کېدل دي او.

دمخلوق ته خبرورکول دي دهغوحادثاتونه چې په اينده کې به پېښېږي. علم غيب په اصل کې دپرودرګار عالم سره مخصوص دی چې علام الغيوب دی اوکه درسول الله ﷺ په ژبه مبارکه باندې ياد حضور ﷺ دځينومنونکوپه ژبه باندې ظاهرشي. هغه دوحي اوالهام په ذريعه دی اوپه حديث کې راغلي دي چې: په الله تعالى قسم! ماته نه دي معلوم خويواځې هغه څه چې ماته خپل رب ښودلي دي.

حضرت شيخ رحمه الله چې په دې موقعه باندې څه فرمايلي دي دي ناکاره هم دغه څه د.. اختلاف امت اوصراط مستقيم ..نه رقم کړي و. دحضرت شيخ رحمه الله دعبارت نه دامعلومه شوه چې علم غيب بيل شی دی اودغيب په خبروباندې دوحې په ذريعه ياالهام سره خبرېدل بل شی دی، علم غيب خاصه خداوندي ده. چې په کې بل څوک شريک نشته اواطلاع علی الغيب دوحي اوالهام په ذريعه حضرات انبياء عليهم السلام اواولياء الله عظام رحمهم الله ته حاصله ده.

۳: دريم عبارت دحضور ﷺ دتصوراودهغه دصورت مبارک د استحضارپه باره کې دی؟ شيخ صاحب ددې نه مخکې دا خبره بيانوي چې دحضور ﷺ سره دتعلق پيداکولواودهغه دمبارک ذات نه دفيض حاصلولودوه صورتونه دي، يوظاهري اودويم معنوي اودمعنوي تعلق دوه قسمونه دي اول داچې دحضور ﷺ دصورت مبارک دائمي استحضاروساتل شي، (قسم اول: استحضاران صورت بديع مثال)

اوداستحضاردمختلفو طريقو ښودلوپرمهال ليکي چې: تاته کله په خوب کې دحضور ﷺ زيارت نصيب شوی دی، نوهم دغه صورت مبارکه استحضارکوه، کوم چې دې په خوب کې ليدلی واوکه په خوب کې زيارت نه وي شوی نو:

ذکرکن اوراودرود بفرست بروے صلی الله عليه وسلم وباش درحال ذکرگويا حاضراست دروړاندې درحالت حيات ومي بينی تو اورامتادب باجلال وتعظيم وهمت وحيا.

ترجمه: حضور ﷺ يادوه اوپه حضور ﷺ باندې د درود ليږلو او يادولو حالت داسې وي لکه ته چې دحضور ﷺ په ژوند مبارک کې مخامخ حاضرېږې اوداجلال، تعظيم، همت اوحياسره هغه ته ګورې!

مخکې هغه عبارت دی کوم چې تانقل کړی دی. داټولې خبرې دحضور ﷺ سره معنوي تعلق پيداکولواودحضور ﷺ صورت مبارک په ذهن کې داستحضارساتلوپه باره کې دي، په خپله سوچ وکړئ چې زموږ دزيربحث مسئلې حاضراوناظرسره ددې څه تعلق دی؟

۴: همدارنګه ستاسو له لوري نقل شوی اخري عبارت دزيربحث مسئلې سره هيڅ تعلق نه لري. ځکه چې په خپله په دغه عبارت کې موجوددي... ددوام ملاحظه صورت .. په ذريعې سره دروح نبوي ﷺ سره دتعلق پيداکولوتدبيرښودل شوی دی، چې دهغه حاصل هم مراقبه اواستحضاردی اوددې دوام اواستحضارنتيجه دابيان شوې ده چې: پس حاضراست تراوے

صلى الله عليه وسلم عيانا ...يعني د كشف په ذريعې د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم زيارت كيدل.

څنګه چې په خوب كې د حضور ﷺ زيارت كيږي همدارنګه ځينو اكابروته په بيداري كې هم دهغه زيارت كيږي، (او شيخ رحمه الله هم ددې دولت د حاصولو تدبير ښيي) خو دې سره دا نه لازميږي چې حضور ﷺ دې حاضراوناظروګڼل شي، يا دا چې حضور ﷺ د خپلې روضې مباركې نه خارج ته تشريف راوړي، بلكې د خوب په شان په بيداري كې د حضور ﷺ صورت متمثل كيداى شي، شيخ رحمه الله په ، ،مدارج النبوة، ، (قسم اول باب پنجم) په دې مسئله باندې اوږد بحث كړى دى او په اخر كې فرمايي:

وهمچناكه جائزاست كه درمنام جوهر شريف حضرت محمد صلى الله عليه وسلم متصورومتمثل گرددبے شوب شيطان، دريقظه نيزحاصل گردد وانچې نائم درنوم مې بيند مستيقظ دريقظه به نيند، ، ، ، ، وتمثيل ملكونى بصورت ناسوتى امرے مقرراست، واين مستلزم نيست كه حضرت محمد عليه السلام ازقبربرامده باشد.

بالجمله ديدن حضرت محمد صلى الله عليه وسلم بعدازموت مثال است، چنانچې درنوم مرئى شود دريقظه نيزمې نمايد. وان شخص شريف كه درمدينه درقبراسوده وحى است همان متمثل ميگردد ودريک ان متصوربصورمتعدده، عوام رادرمنام مې نمايد وخواص رادريقظه.

ترجمه: څنګه چې داجائزدي چې په خوب كې د شيطاني تمثيل دليدو نه پرته د حضرت محمد ﷺ ذات شريف متصوراومتمثل شي، همدارنګه د بيداري په حالت كې هم دا ممكن دى او كوم شى چې ويده كس په خوب كې وينې بيداردې هغه په بيداري كې وويني او ملكوتي شى په بيدار او وينې شكل كې متمثل كيدل يومقرر امردى اوله دې سره دا نه لازميږي چې حضرت محمد ﷺ بنفس نفيس د روضه اطهرنه خارج تشريف راوړي.

خلاصه داده چې حضرت محمد ﷺ دوفات نه وروسته ليدل د مثال په صورت كې كيږي، هغه مثال څنګه چې په خوب كې په نظرراځي، په بيداري كې هم په نظرراتلاى شي او هغه ذات اقدس چې په مدينه طيبه كې مستراح اوژوندى دى. هغه په مثال متمثل شي او په هران كې په ګڼو صورتونو كې متمثل كيږي، عوامو ته په خوب په نظرراځي او خواصو ته په بيداري كې هم.

دشيخ رحمه الله ددې عبارت نه واضح كيږي چې په خوب يا بيداري كې د حضرت محمد ﷺ زيارت د تمثيل په صورت كې وي، دا نه چې حضور ﷺ په خپله د قبر مبارك نه خارج ته تشريف راوړي او كتونكي ته په خپله ورځي، خلاصه داده چې د حاضروناظرمسئله كې د شيخ رحمه الله هغه عقيده ده چې مادرته ليكلې وه، د شيخ رحمه الله هغه عبارتونه كوم چې تاسو نقل كړي دي ددې مسئلې سره هيڅ تعلق نه لري.

۵:شيخ نورالله مرقده په خپلو ګڼو کتابونو کې د ځينې عارفانو په حوالې سره ليکلي دي چې حقيقت محمدي ﷺ په ټولو مخلوق کې جاري دی.د ..السلام عليک ايها النبي..بحث چې دمدارج النبوة په کومو پورتنيو عبارتونو کې تيرشو دهغه سره متصل ليکي.

..ودربعضے کلام بعضے عرفا واقع شده که خطاب ازمصلی بملاحظه شهود روح مقدس حضرت محمد وسريان وے درزواری موجودات خصوصاً درارواح مصليين است وبالجمله درين حالت ازشهودوجودحضور ازحضرت محمد غافل وداهل بنايدبود.باميددرودفيوض ازروح پرفتوح وے صلی الله عليه وسلم.(مدارج النبوة ج:۱ ص:۱۲۵)

هم دغه مضمون تحصل البرکات. لمعات او اشعة اللمعات هم ذکرشوې دي.

له دې نه ځينو حضراتو نه داوهم وشوچې حضرت شيخ رحمه الله د حضرت محمد ﷺ د حاضر و ناظر کيدو عقيده لري.حالانکه.حقيقت محمديه.حقيقت کعبه اوحقيقت قران د حضراتو عارفينو خاص اصطلاحات دي.په کوموپوهيدل چې دعام خلکودعقل نه لوړ دي. د حضراتو عارفينوحقائق او معارف په خپل ځای باندې حق دي، خوهغه دخپلې پوهې په پيمانه کې اچول اوپه دې باندې دعقيدو بنياداېښودل بې انصافي ده.

د حضرت آدم عليه السلام تقريباً اوه زره کاله تيرشوي

سوال: وړاندې ورځوکې په اخبارکې دانسان دکوپړۍ تصوير چاپ شوي و اوليکلي يې و چې دا کوپړۍ تقريبًا دشپاړس لکه کالوپخوانۍ ده. دامې چې ولوستل، نوحيران شوم ځکه چې دټولونه اول انسان حضرت ادم عليه السلام و. دهغه به زيات نه زيات په ځمکه باندې دراتلولس زره کاله تيرشوي وي. ددې نه مخکې د انسان په دې ځمکه باندې وجودنه و. نوددې کوپړۍ په باره کې دسانس دانانو داخيال چې داشپاړس لکه کاله پخوانۍ ده. څومره حده پورې صحيح دی؟ اوداهم وفرمايئ چې دحضرت ادم عليه السلام په دې ځمکه باندې دراتلوتقريبًا څومره کلونه شوي دي.

جواب: دمورخينو داندازې مطابق دحضرت ادم عليه السلام تقريبًا اووه زره کاله تيرشوي دي[۱]. د ساينس دانانودا دعوه چې ددومره لکه کالو پخوانۍ کوپړۍ پيدا شوه تشې فرضي اندازې دي.

۱] عن عکرمة قال : کان بين آدم ونوح عشرة قرون کلهم على الاسلام قال : اخبرنا محمد بن عمر بن واقد الاسلمى عن غيرواحد من اهل العلم قالوا: کان بين آدم ونوح عشرة قرون ، والقرن مائة سنة ، وبين نوح وابراهيم عشرة قرون ، والقرن مائة سنة، وبين ابراهيم وموسى بن عمران عشرة قرون والقرن مائة سنة قال .... عن ابن عباس رضى الله عنهما قال : کان بين موسى بن عمران وعيسى بن مريم الف سنة وتسعمائة سنة ولم تکن بينها فترة وانه ارسل بينهما الف نبى من بنى اسرائيل سوى [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

حضرت آدم علیه السلام ته د فرشتو سجده کول

سوال: حضرت آدم علیه السلام ته فرشتو کومه سجده کړې وه؟

جواب: په دې کې دوه قوله دي.

۱: دا چې دا سجده ادم علیه السلام ته د تعظیم په طور وه.

۲: دا چې الله تعالی ته وه او د آدم علیه السلام حیثیت د هغوی له پاره داسې و څنګه چې زموږ له پاره د قبلې شریفې حیثیت دی.[۱]

ایا انسان د حضرت آدم علیه السلام د غلطي پیداوار دی؟

سوال: آدم علیه السلام د غلطي د سزا له وجې جنت نه وایستل شواو د انسانیت ابتداء اوشوه. نو ایا دا دده د غلطي پیداوار وګڼل شي؟

یا دا د ادم علیه السلام دا غلطي د الله پاك مصلحت وګڼل شي؟که چېرې دا د ادم علیه السلام په دې غلطئ کې د الله د تعالی مصلحت و ،نو بیا خو به د انسان په عملونو کې هم د الله تعالی مصلحت شامل وي؟ که چېرې داسې ده، نو بیا د اعمالو او افعالو ذمه وار ولې بنده ده؟

جواب: د حضرت ادم علیه السلام نه چې کومه خطا شوې وه هغه معاف شوې ده[۲].دنیاته رالیږل د سزا په طور نه و بلکې د خلیفة الله په حیث و.[۳]

ایا د حضرت آدم علیه السلام په نسل کې جینکی هم وې؟

سوال: د حضرت ادم علیه السلام نسل څنګه شروع شو ؟یعنې دا د ادم علیه السلام له پاره الله تعالی حضرت حوا پیدا کړه، د حضرت ادم علیه السلام په اولاد کې درې نو مونه د ذکر قابل دي او دادرې واړه

...بقیه د تیر مخ]..من ارسل غیرهم وکان بین میلاد عیسی والنبی علیه السلام خمسمائة سنة وتسع وستون سنة (الطبقات الکبری لابن سعد: ذکر القرون والسنین التی بین آدم ومحمد علیهما الصلوة والسلام ج:۱،ص: ۵۳ طبع بیروت)

۱] واذ قلنا للملائکة اسجدوا ....الخ فکانت الطاعة لله والسجدة لآدم ...... وقال بعضهم : بل کانت السجدة لله وآدم قبلة فیها (تفسیر ابن کثیر ج:۱،ص: ۳۱۲ طبع رشیدیه)

۲] قال الله تعالی: وَعَصٰی اٰدَمُ رَبَّه فَغَوٰی ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّه فَتَابَ عَلَیه وَهَدٰی (طه: ۱۲۱، ۱۲۲)

۳] واذ قال ربک للملائکة انی جاعل فی الارض خلیفة (البقرة :۳۰) ظاهرُ الآیة یَدُلُ علی أنّهُ تعالی إنّما أخرج آدَمَ وحَوَّاءَ من الجنة ، عُقُوبَة لهما علی تلك الزَّلَة ، وظاهرُ قوله تعالی : { إنّي جَاعلٌ فِي الأرض خَلیفَةً } [البقرة : ۳۰ یَدُلُّ علی أنّهُ تعالی خلقهما لخلافة الأرض ، فأنْزَلَهُمَا من الجَنَّة إلی الأَرْضِ لهذا المقصود ، فکیف الجمع بین الوَجْهَیْنِ؟ وجوابُهُ : انه ربما قیل حصل لمجموع الأمْرَیْن والله اعلم،(التفسیر الکبیر ج:۱٤،ص: ۵۳ طبع دار احیاء التراث العربی،بیروت)

نومونه دهلکانو دي. ۱: هابیل. ۲: قابیل. ۳: شیث
آخرددي دري واړو ودونه به هم شوي وي؟ له چا سره؟ هرکله چې په یوتاریخ کې هم دادم علیه السلام دلونو ذکرنه دی راغلی، تاسوماته دابیان کړئ چې دهابیل.قابیل او دشیت نه نسل څنګه پیداشو؟ ،ماد ډېرو عالمانونه پوښتنه وکړه،خو ماته دهغوی په ځواب تسلی ونه شوه او ډېرو عالمانو غیرشرعي ځواب راکړو.

جواب: دحضرت آدم علیه السلام په کورکې به دیوې خیټې نه دوه بچی غبرګوني پیداکیدل اوهغه به پخپل مینځ کې ورور او خور شمارېدل او د دویمې خیټې نه پیداکیدونکو اولادو له پاره به دهغوی حکم دتره داولاد حکم لاره په دې وجه دیوې خیټې نه پیداکیدونکي هلك اوانجلۍ نکاح به د دویمې خیټې له هلک او انجلۍ سره کیدله. دهابیل اوقابیل قصه هم په دې سلسله کې راغلې ده چې قابیل دخپلې غبرګونې خورسره نکاح کول غوښتل چې هغه په اصل کې دهابیل بنځه جوړیدله.[۱]
دجینکونومونه عام طورسره نه ذکرکیږي.دهابیل اودقابیل ذکرهم ددې واقعې له وجې نه راغلی دی.

د حضرت آدم علیه السلام اود هغه داولاد باره کې سوالونه

سوال: ویل کیږي چې موږ ټول دحضرت ادم علیه السلام اوبي بي حوا اولادیو. دې باره کې دلاندې سوالونوځوابونه معلومول غواړم:

سوال: دحضرت ادم علیه السلام اوبی بی حوا لورهم وه؟

جواب: هو!لونړه یې هم وې.[۲]

سوال: که چېرې دهغوی لوروه؟ نوددې مطلب دادی چې دهغوادم علیه السلام له زامنوسره ودونه

۱] أن الله تعالى قد شرع لآدم، عليه السلام، أن يزوج بناته من بنيه لضرورة الحال، ولكن قالوا: كان يُولَد له في كل بطنٍ ذكر وأنثى، فكان يزوج أنثى هذا البطن لذكر البطن الآخر، وكانت أخت هابيل دَميمةً، وأخت قابيل وضيئةً، فأراد أن يستأثر بها على أخيه، فأبى آدم ذلك إلا أن يقربا قربانًا، فمن تقبل منه فهي له، فقربا فَتُقُبِّل من.هابيل ولم يتَقَبَّل من قابيل، فكان من أمرهما ما قص الله في كتابه (تفسير ابن كثير ج:۲،ص:۵۱۷ سورة المائدة آيت ۲۷ تا ۳۱ طبع رشيديه)

۲] أن الله تعالى قد شرع لآدم، عليه السلام، أن يزوج بناته من بنيه لضرورة الحال، ولكن قالوا: كان يُولَد له في كل بطنٍ ذكر وأنثى، فكان يزوج أنثى هذا البطن لذكر البطن الآخر، وكانت أخت هابيل دَميمةً، وأخت قابيل وضيئةً، فأراد أن يستأثر بها على أخيه، فأبى آدم ذلك إلا أن يقربا قربانًا، فمن تقبل منه فهي له، فقربا فَتُقُبِّل من هابيل ولم يتَقَبَّل من قابيل، فكان من أمرهما ما قص الله في كتابه (تفسير ابن كثير ج:۲،ص:۵۱۷ سورة المائدة آيت ۲۷ تا ۳۱ طبع رشيديه)

شوي دي، كه داسې دي. نو ايا د دې مطلب دا نه دی چې موږ ټول انسانان حراميان يو؟

جواب: د حضرت ادم عليه السلام د مېرمنې بي بي حوا به د يوې خېټې نه دوه بچي كېدل. يو هلك او يوه انجلۍ، په يو ځای د پيدا شوي هلك او انجلۍ حكم به د خپلو رونو خويندو په شان و او د دويم ځل خېټې نه پيدا شوي ماشوم به د هغوی د تره د اولاد حكم لاره. دا د حضرت ادم عليه السلام شريعت و، د يو ځل پيدا شوي هلك او انجلۍ نكاح به د دويم ځل پيدا شوي هلك او انجلۍ سره كېدله[1].

سوال: دادم عليه السلام د كيسې په تشريح كې د قران كريم دلاندې ايت مطلب څه دی؟

الف: او موږ انسان د خالصې خاورې نه پيدا كړ،(۲۳:۱۲) يادساتئ چې د خاورې شكل (ډانچه) نه ده ويل شوې.

جواب: د خالصې خاورې مطلب دا دی چې د ځمكې له مختلف قسمه خاورې نه. د حضرت ادم عليه السلام قالب جوړ كړل شو. او بيا هغه كې روح واچول شو.[2]

ب: تا باندې څه وشو چې ته دالله تعالى د عزت خواهش نه كوې او بې شكه هغه ته د مختلفو مرحلونه وروسته پيدا كړی يې او ته يې له ځمكې نه پيدا كړی يې. (۱۳، ۱۷:۱۷)

دلته د مختلف مرحلونه وروسته پيدا كول. او د ځمكې نه د پيدا كولو مطلب څه دی؟

جواب: دلته د عام انسانانو د پيدا كولو بيان دی. چې غذا له مختلفو مرحلونو نه وروسته د اوبو قطره جوړه شي، بيا د مور په خېټه كې د مختلفو مرحلونه وروسته انسان پيدا شي[3].

سوال: د سورت اعراف د ايت نمبر ۱۱ نه تر ۲۵ پورې ولولئ! لومړی د انسان د پيدا كېدو ذكر دی. بيا ادم عليه السلام ته د سجدې. بيا وروسته د ابليس د انكار او چيلنج. خو چيلنج يوازې ادم عليه السلام او د هغه ښځې ته نه دی. د تثنيې صيغه نه ده استعمال شوې. بلكې د جمعې صيغه استعمال شوې ده، د دې مطلب دا دی چې خلك زيات و. داسې څه وشو؟ او هلته يوازې ادم عليه السلام او د هغه بی بی حوا عليها السلام وو. د دې نه وروسته د حضرت ادم عليه السلام او بی بی حوا ذكر شوی دی او د هغوی له پاره د تثنيه ذكر شوی دی، خو اخر كې كله چې د اهبطوا ذكر دی، هلته بيا د جمعې صيغه استعمال شوې ده د دې څه وجه ده؟

۱] پورتنئ حواله۔

۲] { وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإنسان} اي آدم { مِن سلالة } «من» للابتداء والسلالة الخلاصة لأنها تسل من بين الكدر . وقيل : إنما سمى التراب الذي خلق آدم منه سلالة لأنه سل من كل تربة مِن طِينٍ (تفسير نسفى ج:۲،ص: ٤٦١، تفسير ابن كثيرج: ٤،ص: ٤٦٩)

۳]وقد خلقكم اطواراً (نوح : ١٤) قيل معناه من نطفة ثم من علقة ثم من مضغة قاله ابن عباس (تفسير ابن كثير ج:٦،ص: ٣١٥)

جواب: دحضرت ادم علیه السلام دپیدا کولو دکیسې نه مراد د آدم علیه السلام اولادته عبرت او نصیحت ورکول دي، په دې وجه باندې دکیسې دپیل عنوان شروع کړل شوې ده، چې مونږ پیدا کړل. تاسو او ستاسو شکلونه موجوړکړل[۱]. اوس داخبره دحضرت ادم علیه السلام سره خاص نه وه. بلکې دهغه اولادهم دې کې شامل کړل شو. په دې وجه باندې خطاب کې دجمعې صیغه استعمال کړل شوه. بیاد سجدې په حکم اودابلیس په انکاراودهغه دمردودکیدوپه ذکرکې دابلیس دا انتقامي فقره ذکر شوې ده. چې زه به هغوی گمراه کوم[۲]. دشیطان مقصدیواځې دادم علیه السلام گمراه کول نه و. بلکې دادم علیه السلام د اولادنه یې انتقام اخستل مقصدو. په دې وجه باندې دغایب له پاره دجمعې صیغه استعمال شوې ده. مخکې په ایت نمبر۲۷ کې الله تعالی ددې تشریح داسې فرمایلې ده چې اې دادم علیه السلام اولاده:چې شیطان تاسودوکه نه کړي. څنگه یې چې ستاسو مور و پلارله جنت نه ویستلي وو. ددې نه صفاطورباندې معلومیږي چې دشیطان انتقامي کاردادم علیه السلام اولادسره دی[۳].

او اهبطوا کې دجمعې دصیغې داستعمال وجه داده چې دحضرت ادم اوحواعلیهما السلام نه پرته شیطان هم خطاب کې شامل دی.[۴]

له دې نه پرته دتثنیې له پاره دجمعې خطاب هم په عامه توگه باندې استعمالیږي[۵]اوپه دې وجه هم دجمعې خطاب کیدای شي،چې دادم او حواعلیهما السلام سره دهغوی اولادهم خطاب کې شامل شوي وي.[۶]

سوال: شروع کې دبشرذکرشوی دی، اودواحد غائب ضمیردی. خو کله چې ابلیس چیلنج

۱]قال تعالی : ولقد خلقناکم ثم صورناکم (الاعراف: ۱۱)

۲]قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ(الاعراف:۱۶) قال فبعزتک لاغوینهم اجمعین (ص:۸۲)

۳]أنَّ المَقْصُود من ذكر قَصَص الأنبياء عليهم الصَّلاةُ والسَّلامُ حصولُ العِبْرَة لمن يَسْمَعُهَا ، فكانه تعالى لما ذَكَرَ قصَّة آدم ، وبيَّن فيها شدَّة عداوة الشَّيْطان « كما أخْرَجَ أبَوَيْكُم مِن الجَنَّةِ » ....الخ (التفسير الكبير ج:۱۴،ص: ۵۳)

۴] اعلم ان هذا الذى تقدم وذكره هو آدم وحواء وابليس واذا كان كذلک فقوله اهبطوا يجب ان يتناول هؤلاء الثلاثة (التفسير الكبير ج:۱۴،ص: ۵۰)

۵]وقلنا اهبطوا بعضكم لبعض عدوٌ....والخامس : إلى آدم وحواء وذريتهما ، قاله الفراء . والسادس : إلى آدم وحواء فحسب ، ويكون لفظ الجمع واقعاً على التثنية ، كقوله { وكنا لحكمهم شاهدين } [الأنبياء : ۷۸] ذكره ابن الأنباري.(زاد المسير فى علم التفسير ج:۱،ص: ۶۸)

۶]وقلنا اهبطوا " حذفت الالف من " اهبطوا " والخطاب لآدم وحواء والحية والشيطان، في قول ابن عباس.وقال الحسن: آدم وحواء والوسوسة.وقال مجاهد والحسن أيضا: بنو آدم وبنو إبليس(تفسير القرطبى ج:۱،ص: ۳۱۹)

ورکوي، نو د جمعي غائب ضميرونه شروع شي ددې څه وجه ده؟

جواب: پورته مې عرض وکړ چې د شيطان د انتقام اصلي نښه دادم عليه السلام اولاد دی. او د شيطان له دې چيلنج نه دادام عليه السلام اولاد ته عبرت ورکول مقصد دي.

سوال: که حضرت ادم نبي و ،نو د نبي نه خطا څنګه وشوه؟

جواب: حضرت ادم عليه السلام پرته له شکه نبي و. په ځمکه باندې د الله تعالی خليفه و. دهغه په زمانه کې دهغه په ذريعه باندې د الله تعالی حکمونه نازليدل. پاتې شوه دهغوی خطا. ددې باره کې قران کريم پخپله باندې فرمايلي دي. چې دادم نه هيرشو[۱]. اوهيريدل دانسان خاصيت دی. دادنبوت اوعصمت خلاف نه دی. تاسوته به پته وي که چېرې روژه دار په هيرې سره څه وخوري نو دهغه روژه نه ماتيږي.

د حضرت داوٗد عليه السلام قوم او زبور

سوال: يهوديان ، عيسايان اومسلمان قومونه خوپه دنيا کې موجود دي.ايادحضرت داود عليه السلام قوم هم په دنيا کې موجود دی که موجود دوی. نوچرته دي؟ اوزبور چې په حضرت داود عليه السلام باندې نازل شوی کتاب ،هغه هم موندل کيږي اوکه نه؟که وي. نوچرته دی؟

جواب: حضرت داود عليه السلام دبنی اسرايلو په نبيانوکې شمېرل کيږي، هغه د تورات د شريعت متبع و ،ځکه دهغه وخت بنی اسرايل دهغه قوم وو[۲] ،دموجوده بايبل قديم عهدنامه کې يوکتاب زبور دی چې هغه يهوديان په داود عليه السلام باندې نازل شوی مني.

حضرت يحيی عليه السلام واده نه وکړی

سوال: مادايف اے داسلامياتو په کتاب کې لوستي دي چې حضرت يحيی عليه السلام واده کړی و اود"جنګ" دماشومانوپه صفحه کې ليکل شوي دي چې حضرت يحيی عليه السلام واده نه وکړی،ايا دا رښتياده چې حضرت يحيی عليه السلام واده نه وکړی؟

جواب: هو!حضرت يحيی او حضرت عيسی عليه السلام دواړو پيغمبرانو نکاح نه وه کړې،حضرت عيسی عليه السلام خوبه چې کله قيامت ته نزدې نازل شي. نونکاح به هم کوي اواولادبه يې هم وي،څنګه چې په حديث شريف کې راغلي دي[۳] .يواځې حضرت يحيی عليه السلام داسې و چې هغه

۱] ولقد عهدنا الى آدم فنسي ولم نجد له عزماً (طه :۱۱۵) فَنَسِيَ العهد أي النهي والأنبياء عليهم السلام يؤاخذون بالنسيان الذي لو تكلفوا لحفظوه(تفسير نسفي ج:۲،ص: ۳۸۶)

۲] لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَاءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ(المائدة ۷۸)

۳] عن عبدالله بن عمرو قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ينزل عيسى بن مريم الى الارض فيتزوج ويولد له ....الخ (مشكوة ص: ۴۸۰، باب نزول عيسى عليه السلام)

واده نه و کړی په دی وجه قران کریم کې هغه ته"حصور" فرمایل شوي دي[۱]. که چېرې ستاسو په اسلامیات کې د حضرت یحیی علیه السلام د واده خبره لیکل شوې وي، نو غلطه ده.

سوال: که چېرې واده یې نه وي کړی، نو ددې ذکر په قران مجید کې ولې راغلی دی؟

جواب: په قران مجید کې د هغه د واده نه کولو ذکر راغلی دی د واده کولو نه دی راغلی.[۲]

د حضرت یونس علیه السلام له واقعې نه عبرت

سوال: د روزنامه "جنګ"، کراچۍ د جمعې د ورځې د ۱۰ جون ۱۹۹۵ء په اخبار کې تاسو د کراچۍ المیه او ددې حل، په عنوان باندې یو مضمون لیکلی و، له دهغه نه ستاسو د درد او د زړه د خفګان پته لګېده. تاسو د بنګله دیش د بېلیدو د واقعې ذکر هم کړی دی او د کراچۍ په حالاتو کې موهم د غیرملکي لاسونو نه عوام خبر کړل. له دې پرته د کراچۍ د فساداتو ختمولو له پاره تاسو خپل او و تجویزونه هم وړاندې کړل او د امن او سکون او محبت له پاره مو د الله تعالی په دربار کې دعا هم وکړه، ستاسو دا دعا دې الله تعالی قبوله کړي او تاسو ته دې د خیر جزا ورکړي، امین، تاسو دې مضمون د حضرت یونس علیه السلام او د هغه د قوم حواله هم ورکړې وه. د یونس علیه السلام قوم چې څنګه په منت او زارۍ باندې له الله تعالی نه دعا وغوښتله او الله تعالی هغوی باندې خپل رحم وکړ او له هغوی نه یې عذاب لرې کړ. همدارنګه موږ د کراچۍ اوسیدونکي خلک هم الله تعالی ته دعا وکړو چې الله تعالی موږ نه خپل عذاب پورته کړي او د امن او سکون چاپېریال جوړ شي، امین. تاسو د یونس علیه السلام او د هغه د قوم باره کې د معارف القران ج ۴ ص ۵۷۵ عبارت هم وړاندې کړی و. هلته مو یو ځای کې لیکلي دي "حضرت یونس علیه السلام د الله تعالی په حکم باندې د هغه کلي نه ووت.. قران کریم کې د حضرت یونس علیه السلام ذکر په شپږ ځایونو کې کړی دی: ۱. سورت النساء ۲. سورت انعام ۳. سورت یونس ۴، سورت انبیاء ۵. سورت الصافات ۷. سورت القلم کې. د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله ترجمې وړاندې کوم:

د سورت انبیاء په ۷۷ او ۸۷ نمبر ایتونو کې دي:

"د ماهي والا پیغمبر (حضرت یونس علیه السلام) یاد کړئ کله چې هغه (د خپل قوم) نه خفه کیدو سره ولاړ او هغوی وګڼل چې موږ په هغه باندې (د هغه د تلو په وجه) څه نیول نه کوو. هغوی په

۱] فَنَادَتْهُ الْمَلٰئِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا وَّنَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ (آل عمران :۳۹) وفى تفسير روح المعانى : (وحصورا) عطف على ماقبله ومعناه الذى لا ياتى النساء مع القدرة على ذلک ...... والاشارة الى عدم انتفاعه عليه السلام بماعنده لعدم ميله للنكاح لما انه فى شغل شاغل عن ذلک (روح المعانى ج:۳،ص: ۱٤۸، تفسير ابن كثير ج:۲،ص: ۳۵)

۲] د پورته حوالی په شان_

تیارو کې چغې وهل شروع کړل چې ستانه پرته بل څوک دعبادت لائق نشته، ته دټولونقصانونه پاک يې، زه بې شکه ملامت يم. موږ دهغه دعاقبوله کړه اوهغه ته موله تکليف نه خلاصون ورکړاوموږهمدارنګه نوروايمان لرونک ته هم دعذاب اوتکليف نه خلاصون ورکوو.

دسورت الصافات په ۱۳۹ او ۱۴۰ نمبرايتونوکې دي:

"بې شکه يونس علیہ السلام هم پيغمبرانوکې و، کله چې دتښتې پرمهال ډکې کشتۍ ته ورسيد، بيا يونس علیہ السلام په قرعه اندازۍ کې شريک شواوهم دی ملزم وګرځيد.ماهي (پوره اوثابت) تيرکړ، اوخپل ځان يې ملامته کړ، که چېرې هغه دغه وخت کې(تسبيح کونکی) نه وی نو تر قيامت پورې به ددماهي په خيټه کې و.

سورت القلم ايت نمبر ۴۸ نه ۵۰ پورې:

,,دخپل رب په دې تجويزباندې صبروکړئ اوبې صبرې کې دکب(ماهي) خيټې ته تلونکې پيغمبرحضرت يونس(علیہ السلام) په شان مه کيږئ،،

زمامقصد دحضرت يونس علیہ السلام اودهغه دقوم باره کې ټول واقعات بيانول نه دي، يواځې داويل غواړم چې دپورته بيان شوي قراني ايتونونه دانه ثابتيږي چې حضرت يونس علیہ السلام دالله تعالی په حکم باندې دشپې له هغه کلی نه وتلی و، بلکې ددې خلاف دا ثابتيږي چې هغه دالله تعالی له اجازې پرته وتلی واودهغه ددې لغزش په وجه باندې الله تعالی هغه ونيو، دحضرت يونس علیہ السلام واقعه ډيره زيانه مشهوره ده اوهغه چې کومه دعاغوښتې وه دهغې اثرمعلوم دی. دمصيبت په وخت کې موږ دهغې دعا ورد کوواودهغې په ذريعه باندې دالله تعالی نه مددغواړو، دحيرانتيا خبره ده چې مفتي اعظم حضرت مولانامحمد شفيع رحمہ اللہ داځنګه وليکل چې حضرت يونس علیہ السلام دالله تعالی په حکم باندې هغه شپه دکلی نه وتلی و؟

جواب: حضرت مفتي صاحب رحمہ اللہ په صفحه نمبر ۵۷۳ باندې دا بحث مدلل ليکلی دی، هغه ولولئ، خلاصه داده چې دوه ځايونه دي، يودحضرت يونس علیہ السلام دخپل ښارنينوي نه وتل داخودالله تعالی په حکم باندې شوي و، ځکه چې مقررشوي اصول دي چې کله په يوقوم باندې دهلاکت يادعذاب وړاندېن ګويي کيږي، نونبي اودهغه ملګروته دهغه ځای نه دهجرت کولوحکم ورکول کيږي، کله چې حضرت يونس علیہ السلام خپل قوم ته په دريوورځوکې دعذاب راتلوباره کې خبر ورکړ، نوهغه وخت کې به حضرت يونس ته علیہ السلام هم دهغه ځای پرېښودلوحکم شوی وي.

دويم مقام دادی کله چې دحضرت يونس علیہ السلام دکلي نه تروتلو وروسته په کلی والوباندې دعذاب اثرات شروع شول نوهغوی ټولوايمان راوړاودهغوی دتوبې اودايمان په وجه باندې الله تعالی دهغوی نه عذاب لرې کړ، دلته چې کله حضرت يونس علیہ السلام ته پته ولګېده چې

ددريوورځوتيريدوباوجودپه قوم باندې عذاب نازل نه شو، خويونس علیه السلام ته ددې وجه معلومه نه شوه. دهغې په وجه باندې هغه پريشانه شو. اودايې وګڼل که چېرې هغه بېرته کلي ته ولاړنوقوم به هغه ته دروغژن وايي. دغه مهال هغه دې خبرې ته پام ونه کړ چې اوس ورته دالله تعالی دحکم اودوحې انتظارکول پکاردي، ددې په ځای هغه په خپل اجتهاد باندې چېرته بل ځای ته دتلو اراده وکړه. اوکيدای شي دافکر هم ورسره پيداشوی وي چې اوس کوم ځای کې دی موجوددی، قوم به يې پيداکړي اوهغه ته به دروغژن ويلوسره تکليف ورسوي، لږغوروکړئ چې يونبي په دريو ورځوکې دالله تعالی دعذاب دراتلوخبر ورکړي. اوهغه خبر هم دالله تعالی په حکم باندې وي، اوبياهغه خبره پوره نه شي اوداصل حقيقت علم هم ورته نه وي، نوهغه باندې به څه تيرشوي وي؟ دداسې پريشانۍ په حالت کې چېرته بل طرف ته دتلواراده کول هم څه ناممکنه خبره نه وه. دادهغه اجتهادي خطايي وه. چې دهغې په وجه باندې ورته وويل شول چې دالله تعالی له حکم نه پرته يې دسفراراده ولې وکړه؟ بياچې کله دکشتۍ واقعه وشوه نوهغه وخت کې هغه ته احساس وشو اودالله تعالی په دربارکې يې ښېښنه وغوښتله. دکومواياتونوچې تاسوحواله ورکړې ده، هغه هم ددې دويم مقام په باره کې دي، مفتي صاحب رحمه الله چې دلومړي مقام باره کې څه ليکلي دي، هغه ددې خلاف نه دي.

دحضرت هارون علیه السلام د قول تشريح

سوال: يومولوي صاحب په جومات کې دحضرت موسی او حضرت هارون علیه السلام واقعه بيانوله چې دحضرت موسی علیه السلام دعاقبوله شوه اوحضرت هارون علیه السلام پيغمبر شو. له دې وروسته حضرت موسی علیه السلام دالله تعالی ملاقات ته ولاړ، نوسامري يوخوسی جوړ کړ او هغه يې بني اسرائيلو ته وړاندې کړ چې دا خدای دی اوس په بني اسرائيلوکې دوه ډلې پيدا شوې، يوه خو داسې وه چې هغوی خوسی خدای مانه او دويمې ډلې به يې عبادت نه کاوو، حضرت هارون علیه السلام هغوی ددې نه منع نه شول کړی اوچې کله حضرت موسی علیه السلام بېرته راغی، نو حضرت هارون علیه السلام ته غوسه شوچې تاددوی ولې نه منع کول ،حضرت هارون علیه السلام ورته وويل: ترجمه: اې زما دمور زويه! مادسراوږيرې نه مه نيسه' زه ويريدم چې ته به ووايې چې تاپه بني اسرائيلو کې بې اتفاقي پيدا کړه اوتا اوزما خبره دې ونه منله."

مولوي صاحب له دې نه وروسته خلکوته مخاطب شو او ويې ويل چې تاسوولیدل چې تفرقه څومره بدشی دی چې يوپيغمبرموقت وخت له پاره شرك قبول کړ خو تفرقه يې قبوله نه کړه .ايادمولوي صاحب دا تشريح صحيح ده؟

جواب: مولوي صاحب دحضرت هارون علیه السلام د ارشاد صحيح معنانه ده پيژندلې،ځکه يې نتيجه هم صحيح وانه خستله.دحضرت هارون علیه السلام توقف کول او دخوسي دعبادت کونکو

خلاف څه اقدام نه کول د حضرت موسی علیه السلام د انتظار له وجې و. موسی علیه السلام د تلو په وخت کې هغه ته نصیحت کړی و، چې قوم متفق ساته او د داسې خبرې نه ځان ساته چې قوم کې پرې بې اتفاقي پیدا کیږي. حضرت هارون علیه السلام امید لاره چې د حضرت موسی علیه السلام له راتلو وروسته به د قوم اصلاح وشي او که چېرې د هغه په غیرحاضرۍ کې د قوم سره د قتل وقتال یا د قطع تعلق اقدام وشوي. نو داسې نه چې د قوم اصلاح ناممکن شي ځکه چې هغو خلکو هم ویلي و چې موږه د موسی علیه السلام د تر راتلو پورې له دې کار څخه نه ایساریږو ځکه د حضرت موسی علیه السلام راتلو پورې هارون علیه السلام د هغو خلکو خلاف څه اقدام کول مناسب ونه ګڼل. بلکې یواځې په زباني پوهولو باندې یې اکتفاء وکړه [1]. حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه معارف القران کې لیکي:

"په دی واقعه کې د موسی علیه السلام رایه د اجتهاد په اساس باندې دا وه چې په دې حالت کې د هارون علیه السلام د دې مشرک قوم سره اوسیدل نه و پکار. بلکې دوی یې باید پریښي وی ترڅو له دوی سره د دې عمل له وجې د نفرت اظهار شوی وی.

"د حضرت هارون علیه السلام رایه د اجتهاد په اساس دا وه، که چېرې داسې وکړل شي، نو همیشه له پاره به بنی اسرائیل سره ووېشل شي او تفرقه به رامنځ ته شي. د دوی دا اصلاح دا احتمال موجود و چې د حضرت موسی علیه السلام له راستنېدو وروسته به د هغه د اثر سره دا ټول بیا د ایمان او توحید طرف ته راشي. ځکه د څو ورځو له پاره د هغوی سره اسانتیا (نرمي) د هغوی د اصلاح په امید وزغمل شوه د دواړو مقصد د الله تعالی د احکاماتو تعمیل، په ایمان او توحید باندې د خلکو قائمول خو یو جلا والی او قطع تعلق د دې تدبیر ګڼه او بل د حالاتو د اصلاح تر امیده پورې له دوی سره د اسانتیا او د نرمي معامله د دې مقصد له پاره ګټوره وګڼله. (ص ۱۴۲ ج ۲)

حضرت ابراهیم علیه السلام د ملائکو د مدد ورا ندیز ولې ونه مانه؟

سوال: یو حدیث دی چې:

۱: حدثنا معتمر بن سلیمان التیمي عن بعض اصحابه قال جاء جبریل الی ابراهیم علیه السلام وهو یوثق او یقمط لیلقی فی النار قال: یا ابرهیم! الک حاجة؟ قال: اما الیک فلا! (جامع البیان فی التفسیر القران ج ۸ ص ۳٤)

۲: وروي ابی بن کعب الخ وفیه قال فاستقبله جبریل فقال: یا ابراهیم! الک حاجه؟ قال: اما الیک فلا! فقال: فاسئل ربک! فقال: حسبی من سوالی علمه بحالی. (تفسیر قرطبی ج ۱۱ ص ۲۰۳)

---

[1] سورة طه آیات: ۸۹ تا ۹٤_

۳: فاتاه خازن للرياح وخازن المياه يستاذنه فی اعدام النار. فقال علیہ السلام: لاحاجة لی اليكم! حسبی الله ونعم الوكيل،٤: وروي ابی ابن كعب الخ وفيه فقال: ياابراهيم! الک حاجة؟ قال اما اليک فلا! (روح المعانی ج ۹ ص ٦٨)

5: همدارنګه په تفسیرمظهري اردو: ج۸ ص۵۴ باندې دحضرت ابی بن کعب روایت هم موجو د دی.

٦: وذكربعض السلف ان جبريل عرض له فی الهواء فقال: الک حاجة؟ فقال: امااليک فلا! (البدايه والنهايه ج۱ ص۱٤۹)

۷: وذكربعض السلف انه عرض له جبريل وهو فی الهواء فقال: الک حاجة؟ فقال: اما اليک فلا! واما من الله فلی، (تفسیرابن كثيرج۳ص۱۸٤)

ددې پورته بیان شویو روایتونوپه رڼاکې دحضرت ابراهیم علیہ السلام واقعه داسې بیانول چې: فرښتې دالله تعالی نه اجازه اخستلو سره حاضرې شوې اوحضرت ابراهیم علیہ السلام ته یې دمددکولو له پاره وویل. خوابراهیم علیہ السلام دهغوی مددقبول نه کړ. صحیح دي اوکه غلط؟

جواب: داخوښکاره خبره ده چې فرښتې دالله تعالی دحکم نه پرته هیڅ کارنه شي کولی، په دې وجه باندې سیدناابراهیم علی نبیناوعلیه الصلوت والتسلیمات ته دهغوی له طرف نه دمدد وړاندیز دالله تعالی له اجازې پرته ممکن نه دی. خوحضرت خلیل علی نبینا وعلیه الصلوات والتسلیمات هغه وخت کې دتوحیدپه مقام کې و اودغیرالله نه یې نظربالکل پورته و، په دې وجه باندې یې له ټولو اسبابو (چې له هغونه دعاهم ده) نه لاس اوچت کړی و، کاملینوکې داحالت همیشه نه وي. ګاهے باشدوګاهے نه. ولكن ياحنظله ساعة! هذا ما عندی والله اعلم بالصواب.

د نمرود د حیرانېدو وجه

سوال: فان الله ياتی بالشمس من المشرق فات بهامن المغرب: تفسیر عثماني کې لیکل شوي دي چې ددې خبرې اوریدوسره نمرودهیڅ ځواب ورنه کړی شو، که څه هم د مخکې ځواب په شان دلته هم امکان و. پوښتنه داکول غواړم چې هغه امکان څه و؟ دلومړي سوال په ځواب کې خوهغه یوبې ګناه قتل کړاویومجرم یې ازادکړ، دویم ځواب کې یې څه ویلی شو؟

جواب: دیوبې تعلیمه لطیفه ده چې هغه دیوتعلیم یافته نه پوښتنه وکړه چې بابوصاحب دځمکې مینځ کوم ځای دی؟ ځواب ورته په نفي ورکړل شو، هغه بې تعلیمه وویل چې تاسبق ویلوسره په اوبولاهوکړل، داخبره خوماته هم معلومه ده. بابوصاحب ورته وویل چې هغه

څنګه؟ هغه په لاس کې لکړه (همسا) باندې يوه ګول دائره جوړه کړه او د هغې په مينځ کې همساخبنه کړه او ويې ويل چې دا د ځمکې مينځ دی. که چېرې يقين دې نه کيږي نو ناپ يې کړه. هغه ته پته وه چې څوک يې ناپ کولی نه شي او نه د هغه د دعوې خلاف کولی شي.
نمرود هم که د هغه بې تعليمه په مسلک باندې عمل کړی وي. نو ويلی يې شوچې لمرد مشرق نه زه راخېږوم. ستا رب دې د مغرب نه راوخېږوي. څو هغه کې د دې دعوې کولو همت نه و، ځکه چې د هغه يقين و، چې کوم کس يې د مشرق نه راويستلی شي هغه يې د مغرب هم راويستلی شي او که چېرې مادعوې وکړه. نو داسې نه چې د ابراهيم رب يې د مغرب نه راوخېږوي. فبهت الذی کفر.

ايا حضرت خضر عليه السلام پيغمبر و؟

سوال: د حضرت موسى عليه السلام سره چې کوم دويم سړی په سفر کې و هغه غالبًا حضرت خضر عليه السلام و، عام خيال هم دا دی د حضرت خضر عليه السلام پيغمبر کيدل د قران نه ثابت نه دي او د پيغمبرنه پرته په بل چا باندې وحي هم نه نازليږي او د غيبو علم خو يواځې الله پاك ته دی. نو بيا حضرت خضر عليه السلام ته د ظالم بادشاه، نافرمانه بچي او د ديوال لاندې د خزانې علم له کوم طرف نه وشو او موسى عليه السلام ته د دې پته هم نه وه؟

جواب: د قران کريم د دې ايت نه چې پکې د حضرت موسى عليه السلام او د حضرت حضر عليه السلام واقعه ذکر ده دا ثابتيږي چې هغه نبي و او هم دغه د جمهورو علماوو مذهب هم دی[1] او کوم حضرات چې د دې قايل دي چې هغه نبي نه و، کېدای شي د هغوی مطلب داوي چې د دعوت او تبليغ خدمت هغه ته نه و سپارل شوی بلکې ځينې تکويني خدمات له هغه نه واخستل

1] قال الاکثرون ان ذلک العبد کان نبياً واحتجوا عليه بوجوه (الاول) انه تعالى قال : آتيناه رحمة من عندنا ، والرحمة هی النبوة بدليل قوله تعالى: اهم يقسمون رحمة ربک وقوله : وما کنت ترجوا ان يلقى اليک الکتاب الا رحمة من ربک والمراد من هذه الرحمة النبوة (التفسير الکبير ج:۲۱،ص: ۱۴۸) (فوجدا عبدا من عبادنا) العبد هو الخضر عليه السلام في قول الجمهور، الفروة هنا وجه الارض، قاله الخطابي وغيره،والخضر نبي عند الجمهور،وقيل: هو عبد صالح غير نبي، والآية تشهد بنبوته لان بواطن أفعاله لا تکون إلا بوحی (تفسير القرطبی ج:۱۱،ص: ۱۶) ان الخضر نبی وان لم يکن کما زعم البعض (تفسير نسفی ج:۲،ص: ۳۱۵) وما فعلته عن امری لکنی امرت به ووقفت عليه وفيه دلالة لمن قال بنبوة الخضر عليه السلام (تفسير ابن کثيرج:۴،ص: ۲۳۸) قال البغوی لم يکن الخضر نبياً عند اکثر اهل العلم قلت وهذا عندی محل نظر لان العلم الحاصل للاولياء بالالهام وغيره ذلک علم ظنی يحتمل الخطاء ولذلک ترى تعارض علومهم الملهمة فلو لم يکن الخضر نبياً لما جاز له قتل نفس ذکية بالهام انه لو عاش لارهق ابويه طغياناً وکفراً (تفسير مظهری ج:۶،ص: ۱۳۹) والجمهور على ان الخضر نبی وکان علمه معرفته بواطن قد اوحيت اليه ......الخ (تفسير البحر المحيط ج:۶،ص: ۱۴۷)

شو. خو په هرحال د الله تعالی بې واسطې ده ته علم ورکول. له قران کریم نه ثابت دي لهذا هغه ته د ظالم بادشاه. نافرمانه بچي او د دیوال والا دخزانې علم دوحې په ذریعې سره وشواوچې کوم علم د وحې په ذریعه حاصل وي هغه علم غیب نه وي.

ایا حضرت حضر علیه السلام ژوندی دی؟

سوال: ایا حضرت خضر علیه السلام ژوندی دی؟

جواب: حضرت خضر علیه السلام ژوندی دی که نه؟ په دې کې له پخوا څخه سخت اختلاف دی خو څه عقیده او عمل په دې بحث پورې موقوف نه دي ځکه په دې کې بحث کول بې ګټې دي.[۱]

د حضرت حضر علیه السلام په جمله باندې سوال

سوال: فاردنا ان یبدلهما ربهما حضرت حضر علیه السلام په ظاهره باندې دلته دشرک جمله ویلې ده چې د الله تعالی ارادې سره یې خپله اراده هم شامل کړې ده، حالانکه فاراد ربک ان یبدلهما به ډیره مناسبه جمله وای د دې ځواب څه دی؟

جواب: دې کیسې کې درې واقعې ذکرشوي دي.

۱: کشتۍ ماتول ۲: دماشوم قتلول ۳: د دیوال جوړول.

دې دریو واړو تاویل بیانولو له پاره حضرت خضرعلیه السلام د اردت، اردنا او ارادربک درې مختلفې صیغې استعمال کړې دي، دې نه تفنن هم ویل کیدای شي اودهرې یوې صیغې خاص نقطه هم بیانېدای شي.

۱. د مسکینانو کشتۍ ماتول، بیاهلته چې هغوی کرایه هم نه وه اخستې، اګرچې دخپل انجام په اعتبارباندې هغوی ته نقصان رسیدلی و اودهغه په ښکاره باندې څه بدل هم نه و ادا شوی اوپه ظاهره باندې دښو بدله بدې وه، دادب مع الله په وجه باندې یې خپل طرف ته منسوب کړ. او اردت یې وفرمایل.

۱] قال البغوی : اختلف الناس فی ان الخضر علیه السلام حی ام میت .... ولا یمکن حل هذه الاشکال الا بکلام المجدد للالف الثانی رضی الله عنه فانه حین سئل عن حیوة الخضر علیه السلام ووفاته، توجه الی الله تعالی مستعلماً من جنابه عن هذا الامر فرای الخضر علیه السلام حاضراً عنده فساله عن حاله فقال : انا والیاس لسنا من الاحیاء لکن الله سبحانه وتعالی اعطی لارواحنا قوة فنتسجد بها ونفعل بها افعال الاحیاء ......الخ (تفسیر مظهری ج:۶،ص: ۱۵۰، ۱۵۱طبع لاهور ... وذهب جمهور العلماء الی انه حی موجود بین اظهرنا وذلک متفق علیه عند الصوفیة قال النووی وقال ابن الصلاح : هو حی الیوم عند جمهور العلماء والعامة معهم فی ذلک وانما ذهب الی انکاره بعض المحدثین ......الخ (روح المعانی ج:۱۵،ص: ۲۹۵ سورة الکهف :۶۵)

۲: دماشوم قتلول هم په ظاهره باندې شر و. خوالله تعالی دهغه بدله مورپلارته ورکړه. کومه چې دهغوی په حق کې صحیح وه. دلته دوه خبرې جمع شوې
۱. په ښکاره باندې دشر. هغه یې خپل طرف ته منسوب کړه.
۲: دخیریعنې دبدلې ورکولو. هغه یې دالله تعالی طرف ته منسوب کړه
په دې وجه باندې یې دجمعې صیغه استعمال کړه. چې شرخپل طرف ته اوهغه بدله دالله تعالی طرف ته منسوب شي.
۳. اودیتیمانودیوال جوړول. یواځې خیرو. په دې کې په ښکاره باندې دشرهیڅ خبره نه وه اود یتیمانوبلوغ ته رسیدل هم دالله تعالی په اراده و. په دې وجه باندې دلته پخپله له مینځه ووت اوداهر څه یې دالله تعالی طرف ته منسوب کړل. فاراد ربک ددې نه معلومیږي چې په دویم نمبرباندې دشرک جمله نه ده ادا شوې. بلکې دشرکت جمله یې اداکړه چې شراوخیرپخپله باندې تقسیمولو سره په ظاهره باندې شر خپل طرف ته اوهغه بدله کومه چې خیرو. دالله تعالی طرف ته منسوب کړې. والله اعلم باسرارکلامه.[1]

د نبي کریم ﷺ حُلیه مبارکه

سوال: دنبي کریم ﷺ حلیه مبارکه ښکه وه؟ اودهغه ﷺ دجامو اودویښتو متعلق تفصیل ولیکئ:

جواب: دنبي کریم ﷺ حلیه مبارکه په شمائل ترمذي کې دحضرت علي کرم الله وجهه نه نقل ده هغه د "خصائل نبوي" نه نقل کوې:

" ابراهیم بن محمد دحضرت علی رضي الله عنه په اولادکې دی. (یعنې لمسی یې دی) هغه فرمایي چې حضرت علی رضي الله عنه به کله دنبي کریم ﷺ حلیه مبارکه بیانوله. نوویل به یې چې نبي علیه السلام نه زیات اوږد اونه ټیټ و بلکې درمیانه قدیې و. ویښته مبارك یې نه بیخي ګورګوټي اونه بیخي نیغ و. بلکې لږشان ګورګوټي والی پکې و. نبي کریم ﷺ نه بالکل دغټ بدن والا و او نه دډېرګرد مخ والا و. بلکې معمولي شان اوږدوالی یې په مخ مبارك کې و (یعنې مخ مبارك یې نه بالکل غونډ واو نه اوږد و. بلکې د دواړو په مینځ کې و) دنبي علیه السلام رنګ مبارك سپین سور والي ته مایل و. سترګې مبارکې یې ډېرې تورې وې اوبانه یې اوږده وو. دبدن ددبندونوهډوکي یې غټ وو. (مثلاً ښنګلي اوپنډۍ) اودغه راز د دواړو اوږو په مینځ کې یې ځای هم غټ او له غوښو ډك و. په بدن مبارك باندې یې(زیاتی) ویښته نه وو. (یعنې ځینې

---

[1] والجواب أنه لما ذكر العيب أضافه إلى إرادة نفسه ، فقال : { فأردتُ أن أعيبها } ولما ذكر القتل ، عبّر عن نفسه بلفظ الجمع تنبيهاً على أنّه من العظماء في علوم الحكمة ، فلم يقدم على هذا القتل إلاّ لحكمة عالية ، ولما ذكر رعاية صالح اليتيمين لأجل صلاح أبيهما اضافه إلى الله تعالى ، لأنّ المتكفّل بمصالح الأبناء برعاية حقّ الآباء ليس إلاّ الله سبحانه وتعالى (التفسير الكبير ج:۲۱،ص: ۱۶۲، تفسير القرطبى ج:۱۱،ص: ۳۹)

کسان داسې وي چې دهغوی په بدن باندې ويښته زيات وي .دنبي عليه السلام په بدن مبارک باندې دخاص خاص حصونه پرته لکه متې .پنډۍ.وغيره له دې پرته نور ويښته نه وو.) دنبي عليه السلام دسينې مبارکې نه ترنامه پورې دويښتو يوه کرښه وه. لاسونه او دپښوتلې يې دغوښو نه ډک وو،چې کله به روان وو. نو قدمونه به يې قوت سره وچتول تا به ويل چې ښکته طرف ته روان دی،نبي عليه السلام به چې کله چاته توجه کوله نوپوره بدن سره به يې توجه کوله.(يعنې داچې په اورمېږ کرخولوسره به چاته نه متوجه کېده.ځکه چې په داسې کولوسره دمخاطب سره بې پروايي ظاهرېږي اوځينې وخت کې دتکبرحالت ګڼل کيږي. بلکې دسينې مبارکې سره به يې هغه طرف ته توجه کوله.ځينې علماء ددې دامطلب هم فرمايلی دی چې کله به نبي عليه السلام توجه کوله ،نوټول مخ مبارک به يې ګرځاو دسترګوپه کونجونوبه يې نه کتل خو دامطلب صحيح نه دی، د دواړو اوږوپه مينځ کې يې دنبوت مهرو.نبي عليه السلام دنبيانوختم کونکی و. نبي عليه السلام دټولو نه زيات دسخي زړه والا واو دټولونه زيات رښتونی و .دټولونه زيات نرم طبيعت والا واودټولونه زيات د شريفې کورنۍ والا و.(غرض داچې نبي عليه السلام په زړه،ژبه، طبيعت. خاندان ،ذاتي اونسبي صفتونواوپه هرڅه کې له ټولونه افضل و) نبي عليه السلام ته به چې اول ځل چا وکتل رعب به پرې راغی.(يعني دهغه صلى الله عليه وسلم وقار دومره زيات و چې اول ځل کې کتونکی به درعب له وجې نه په هيبت کې راته اول خو دښايست اوجمال رعب هم وي.

شوق افزونگ مانع عرض تمنا داب حسن

بارہا دل نے اُتگھائے ایسی لذت کے مزے

دې سره چې دکمالاتواضافه هم وي .نوبيابه درعب څه پوښتنه کوې او ددېنه پرته چې نبي عليه السلام ته کوم خاص شيان ورکړل شوي وو. نوپه هغه کې رعب هم دالله تعالی دطرف نه ورکړل شوی و) خو کوم سړي به چې وپيژانده اوملاقات به يې ورسره کاو هغه به دنبي عليه السلام داخلاقو اوصفتونوعاشق شواونبي عليه السلام به يې خپل محبوب کړ. دنبي کريم صلى الله عليه وسلم حليه بيانولوکې يواځې داويل کېدای شي چې مادهغوی صلى الله عليه وسلم پشان ښايسته اودکمال والا نه دهغه نه مخکې ليدلی او نه وروسته صلى الله عليه وسلم.[1]

✪ اوپه جاموکې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دمعمول مبارک مختصره خلاصه دا ده چې په جاموکې به يې اکثردخامتاقميص اغوسته[2].

---

[1] خصائل نبوی شرح شمائل ترمذی ص:۱۲ تا ۱٤ـ طبع میر محمد شمائل ترمذی ص۱، ۲، باب ما جاء فی خلق رسول الله صلی الله علیه وسلم ، باب جامع فی صفة خلقه صلی الله علیه وسلم (الخصائص الکبری لیسوطی ص:۷۱)

[2] عن ام سلمة رضی الله عنها قالت : کان احب الثیاب الی رسول الله صلی الله علیه وسلم القمیص (شمائل ترمذی ص:۵، خصائل نبوی ص: ٤۸)

چې دهغه لستوڼي به تر مړوندو پورې[۱] او اوږدوالی به يې ترنيمايي پنډۍ پورې و.[۲]
يوځل يې په روم کې جوړه شوې چپنه (جبه) هم استعمال کړې وه چې دهغې لستوڼي د
مخکې نه تنګ وو[۳]. سپينې جامې به يې خوښولې اودهغو ترغيب به يې هم ورکاو[۴].
اکثربه يې لنګ استعمالاو[۵].يمني څادرونه به يې خوښول[۶].پرتوګ اخستلاو خوښول
تريې ثابت دي، خو اغوستل يې ترې ثابت نه دي[۷].شنه څادرونه يې هم استعمال کړي
دي،کله يې دسرو کرښوالا دوه څادرونه هم استعمال کړي[۸].له وړيونه جوړشوی تور
څادر (توره کمبل) يې هم استعمال کړی دی[۹].په سرمبارك باندې دټوکر(کپړې) اوږده خولۍ
(ټوپۍ)[۱۰]اودهغه له پاسه دپګړۍ ترلو عادت يې لاره.[۱۱]

✪ سرمبارك باندې يې دوښتو ساتل عادت و.چې اکثربه د غوږو ترنرموپورې و اوکله کله
به کمې اوزياتې هم و[۱۲]د حج او عمرې داحرام نه دخلاصېدو پرمهال به يې دسروښتنه په

۱] كان كم قميص رسول الله صلى الله عليه وسلم الى الرسغ (شمائل ص:٥)
۲] اوګورئ خصائل نبوی ص: ٤٩
۳] ان النبى صلى الله عليه وسلم لبس جبة رومية ضيقة الكمين (شمائل ص:٦).
٤] عن ابن عباس رضى الله عنهما قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : بالبياض من الثياب ليلبسهما احيائكم وكفنوا فيها موتاكم فانها من خيار ثيابكم (شمائل ص:٦)
٥] عن ابى بردة قال : اخرجت الينا عائشة رضى الله عنها كساءً ملبداً وازاراً غليظاً فقالت : قبض روح رسول الله صلى الله عليه وسلم فى هذين (شمائل ص:٩، باب ما جاء فى صفة ازار رسول الله صلى الله عليه وسلم)
٦] عن انس بن مالک رضى الله عنه قال : كان احب الثياب الى رسول الله صلى الله عليه وسلم يلبسه الحبرة (شمائل ترمذى ص:٦)
٧] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال : دخلت مع النبى صلى الله عليه وسلم يوماً السوق ، فجلس الى البزار فاشترى سراويل باربعة دراهم ....الخ (مجمع الزوائد ج:٥،ص: ١٤٩ طبع دارالكتب بيروت ،ايضاً :خصائل نبوى ص:٩٥)
٨] عن رمثة قال : رايت النبى صلى الله عليه وسلم وعليه بردان اخضران (شمائل ص:٦، باب ما جاء فى لباس رسول الله صلى الله عليه وسلم)
٩] عن عون بن ابى جحيفة عن ابيه قال : رايت النبى صلى الله عليه وسلم وعليه حلة حمراء كانى انظر الى بريق ساقية ، قال سفيان اراها حبرة (شمائل ترمذى ص:٦)
١٠] عن عائشة قالت : خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات غداة وعليه مرط من شعر اسود (شمائل ترمذى ص:٦)
١١] عن ابن عمر رضى الله عنهما :قال : كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يلبس قلنسوة بيضاء (مجمع الزوائد ج:٥، ص: ١٤٩ حديث :٨٥٠٥ باب فى القلنسوة ، طبع بيروت) وكان يلبس القلانس تحت العمائم (احياء العلوم ص: ٣٥٧ طبع بيروت بيان اخلاقه وآدابه فى اللباس)
١٢] كان شعره يضرب منكبيه واكثر الرواية انه كان الى شحمة اذنيه ...... وربما جعل شعره على اذنيه ...... الخ (احياء علوم الدين للغزالى ج:٢، ص: ٣٨٢ بيان صورته وخلقه صلى الله عليه وسلم)

چاره صاف خریل او مبارک وېښتان به یې په ملګرو تقسیمول.[۱]" صلی الله علیه وعلی اله واصحابه واتباعه اجمعین.

پڼې مبارکې به یې د رنګ شوې څرمنې وې چې په هغه کې به دوه تسمې وې. د هغه نقشه داده:[۲]

د پڼو مبارکو نقشه:

د حضور ﷺ درد الشمس معجزه

سوال: په تیرو ورځو کې یو مولانا صاحب د اتباع رسول ﷺ په موضوع باندې وعظ کې وفرمایل چې: یو ځل حضور ﷺ د حضرت علي رضی الله عنه په ورون باندې سراېښی و، چې خوب ورغی او حضور ﷺ ویده شو. د ماز دیګر وخت په ختیمدو و، حضرت علي رضی الله عنه هغه راپورته کول مناسب ونه ګڼل، سوچ یې وکړ چې لمونځ خو بیا هم کیږي، خود حضور ﷺ دا رنګه قربت به بیا نصیب شي یا نه؟ په دې کې لمر پرېوت. د حضور ﷺ سترګې وغړیدلې، نو نمر پریوتلی

۱] وسئل مالک رضی الله عنه عن دفن الشعر...... وقد کان شعر رسول الله صلی الله علیه وسلم قد قسمه بین الناس یتبرکون به..الخ (البحرالرائق فی مناسک المعتمر والحاج الی بیت الله العتیق ج:۳،ص:۱۸۲۲ الحلق)

۲] عن قتادة قلت لانس بن مالک رضی الله عنه کیف کان نعل رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لهما قبالان باب ما جاء فی نعل رسول الله صلی الله علیه وسلم (شمائل ترمذی ص: ٦، ۷، طبع رشیدیه ساهیوال، خصائل نبوی ص:٦١)

و،حضور ﷺ چې رابیدارشو. نو حضرت علي رضي الله عنه ته يې وفرمايل چې لمونځ کول غواړې اوکه قضا يې راوړې؟حضرت علي رضي الله عنه ورته وفرمايل چې قضا راوړل نه غواړم. حضور ﷺ لمرته حکم وکړ اولمرپه دوه ځل راوخوت اوحضرت علي رضي الله عنه لمونځ وکړ.دخبرې خلاصه داشوه چې حضرت علي رضي الله عنه خپل لمونځ خو قضا کړ. خوحضور ﷺ يې دځنګون څخه راپورته نه کړ.

په دې کې تفصيل طلب خبره داده چې اياحضور ﷺ په خپله لمونځ کړی و.که دکولونه مخکې ويده شوی و.يادواړو لمونځ نه وکړی؟که حضور ﷺ وکړ.نوځنګه ممکنه ده چې حضرت علي رضي الله عنه هلته ناست و او لمونځ يې ونه کړ؟اوبياکله چې نبي ويده کيږي. نوغافل نه وي،دنبي زړه ويښ وي،داځنګه ممکن دی چې نبي ويده شي اودهغه خپل لمونځ قضاشي يادهغه دملګري؟

دمولاناصاحب دخبروسره دغه پورتني شکونه زماپه ذهن کې راغلل.اميدلرم چې ددې ځواب به راکړئ اوراته به ووايئ چې اياداواقعه دصحيح حديثونونه ثابته ده يادکيسې ترحده پورې ده؟

جواب: دحضرت علي رضي الله عنه له پاره د ردشمس حديث امام طحاوي رحمه الله په مشکل الاثارج:۲ ص:۹،کې دحضرت اسماء بنت عميس رضي الله عنها نه روايت کړی دی،ډيردحديثوحافظانودې ته صحيح ويلي دي. امام طحاوي رحمه الله درجال دتصحيح کولونه وروسته دحافظ احمدبن صالح مصري رحمه الله داقول نقل کړی دی.

،،لاينبغي لمن كان سبيله العلم التخلف عن حفظ حديث اسماء الذى روي لنا عنه،لانه من اجل علامات النبوة.(مشكل الاثارج:۲ ص:۱۱)

ترجمه:کوم کس چې دحديث لاره اختيارکړې وي هغه ته دحضرت اسماء بنت عميس رضي الله عنها حديث چې دحضور ﷺ نه مروي دی په يادولوکې کوتاهي کول پکارنه دي،ځکه چې دادنبوت دجليل القدرمعجزاتو نه ده.

حافظ سيوطی رحمه الله ،،اللالي المصنوعة،،کې ليکي: ،،ومما يشهد بصحة ذالک قول الامام الشافعي وغيره ما اوتي نبي معجزة الااوتى نبينا صلى الله عليه وسلم نظيرهااوابلغ منها،وقدصح ان الشمس حسبنت على يسع(ع) ليالى قاتل الجبارين، فلابدان يكون لنبينا صلى الله عليه وسلم نظيرذالک فكانت هذه القصة نظيرتلک.(مشكل الاثارج:۱ ص:۳۴۱)

ترجمه:اوهغه ټول اموړکوم چې ددې واقعې دصحيح کيدوشهادت ورکوي حضرت امام شافعي اودنوروحضراتودا ارشاددی. چې هريونبي ته کومه معجزه ورکړل شوې زموږ نبي ﷺ ته دهغې نظيرورکړل شوی اويادهغې نه زيات اوپه صحيح حديثونوکې راغلي دي

چې لمر د حضرت یوشع علیه السلام له پاره درول شوی و، کله چې هغوی د جبارینو سره جهاد وکړ، نو ضروري ده چې زموږ نبي ﷺ له پاره هم ددې په شان واقعه وي. دا واقعه د حضرت یوشع علیه السلام دواقعې په شان ده.

امام ابن جوزي رحمه الله داکیسه په موضوعاتو کې شمار کړې ده او حافظ ابن تیمیه رحمه الله هم په ،،منهاج السنة،، کې ډیر په شدا و مد سره له دې نه انکار کړی دی. حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کې لیکلي دي:

،، وهذا ابلغ المعجزات، وقد اخطأ ابن الجوزی فی ایراده فی الموضوعات، وکذا ابن تیمیة فی کتاب الرد علی الروافض فی زعم وضعه. والله اعلم،،. (ج:٦ ص:٢٢٢)

ترجمه: د رد شمس دا واقعه د حضرت یوشع علیه السلام دواقعې نه ډیره بلیغه ده. ابن جوزي دا واقعه په موضوعات کې شاملولو سره غلطي کړې ده. همدارنګه ابن تیمیه په خپل کتاب کوم چې په رد روافض باندې لیکل شوی دی داموضوعي ګرځولو سره غلطي کړې ده،،.

حافظ سید مرتضی زبیدی رحمه الله ،،په شرح احیا،، کې لیکي:

،،وهذا تحامل من ابن الجوزی، وقد رد علیه الحافظان السخاوي والسیوطی، وحاله فی ادراج الاحادیث الصحیة فی حین الموضوعات معلوم عند الائمة. وقد رد علیه وعابه کثیرون من اهل عصره ومن بعدهم کما نقله الحافظ العراقی فی اوائل نکته علی ابن الصلاح فلا نطیل مذکره. وهذا الحدیث صححه غیر واحد من الحفاظ حتی قال السیوطی ان تعدد طرقه شاهد علی صحته. فلا عبرة بقول ابن الجوزی،،. (اتحاف شرح احیاج:٧ ص:١٩٢)

ترجمه: دا واقعه په موضوعاتو کې شمارول د ابن جوزي غلطي ده، حافظ سخاوي رحمه الله او حافظ سیوطی رحمه الله په دې باندې رد کړی دی او ابن جوزي چې څنګه صحیح احادیث په موضوعات کې ذکر کړي، هغه ائمه وو ته معلوم دي. ددوی په دې طریقه باندې دهغه معاصرینو او روستو حضراتو هم دهغه عیب چیني کړې ده، څنګه چې حافظ عراقي رحمه الله په خپل کتاب ،،نکت ابن صلاح،، په شروع کې ددې ذکر کړی دی او دې حدیث ته یې ډېرو حافظانو په قول سره صحیح ویلي دي. سیوطي رحمه الله وایي چې: ددې طرق متعدد کیدل ددې په صحیح کیدو باندې شاهد دي، له دې وجې نه د ابن جوزي د قول هیڅ اعتبار نشته.

په هر حال دا واقعه صحیح ده او دا په معجزات نبوي ﷺ کې شمېرل کیږي، پاتې شوه ستاسو دا وینا چې: دا څنګه ممکن ده چې حضور ﷺ لمونځ کړی وي او حضرت علی رضي الله عنه نه وي کړی؟ ددې ځواب په خپله په دې حدیث کې موجود دی، چې حضرت علي رضي الله عنه حضور ﷺ د څه کار له پاره لیږلی و، کله چې هغه د کار نه وروسته راغی، نو لمونځ شوی و، حضور ﷺ دا وګڼله چې ده به لمونځ کړی وي.

اوستاسو د اوینا چې :نبي ویده وي، نو دهغه زړه ویښ وي. بیا لمونځ څنګه قضا کېدای شي؟ ددې ځواب دادی چې دلمونځ دوختونو مشاهده کول دزړه کارنه دی.بلکې دسترګو کاردی او دخوب په حالت کې دنبي سترګې ویدې وې اوزړه يې ویښ و.هم دغه وجه ده چې لیلة التعریس، کې دحضور ﷺ او دهغه دملګرونه دسحر لمونځ قضاشو[1]. والله اعلم.

دانبیاء کرامو داودس ماتي دپاکي مسئله

سوال: زمونږ په جومات کې تیره جمعه یوخطیب صاحب په خپل وعظ کې فرمایلي وچې: یوځل حضور ﷺ په یولوښي کې متیازې وکړې اویوصحابي ته یې ورکړ چې دباندې یې وغورځوه! هغه صحابي چې دباندې ولاړ،نوحضور ﷺ سره دډېرمینې له وجې نه یې هغه وڅښلې،ددې نه وروسته ټول عمردهغه له بدن څخه خوشبويي تلله. له دې نه وروسته خطیب صاحب وفرمایل :چ دحضور ﷺ بول اوبرازپاک دي،په دې کې دعامو انسانانوپه شان ناپاکي اوبدبويي نه وه. لهذادصحابي په دې عمل باندې اعتراض کېدای نه شي.
دخطیب صاحب په دې بیان باندې په جومات کې یوه هنګامه جوړه شوه،اکثروخلکوپه دې باندې اعتراض وکړ،چې داواقعه دسندنه خالي ده،دداسې خطیب امامت جائزنه دی،چې خلاف سندواقعات بیانوي اوغیرمسلموته په اسلام باندې دتنقیدموقع ورکوي. دخلکو اعتراضات په لاندې ډول وو:
۱:داسې څه واقعه په مستندوکتابونوکې نشته.
۲:اوکه داسې شوي هم وي، نوپه حضور ﷺ کې دبشریت څه خصوصیت نه واوهغه مکمل نور و.۳:که حضور ﷺ صحابي ته دمتیازوغورځولوحکم ورکړی و،نوصحابي له پاره حکم زیات اهمیت لرلو یادمحبت جذباتو؟
۴::دنورمذهبونوپه خلکوباندې دمتیازوڅښلواعتراض څنګه کېدای شي؟ کله چې هغوی هم داعقیده لري چې دهغوی په اوتارو(مقصدترې بتان دی)کې هم داسې صفات وو.

---

[1] عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صلى الله عليه وسلم حِينَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ سَارَ لَيْلَةً حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْكَرَى عَرَّسَ وَقَالَ لِبِلاَلٍ « اكْلأْ لَنَا اللَّيْلَ ». فَصَلَّى بِلاَلٌ مَا قُدِّرَ لَهُ وَنَامَ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه وسلم وَأَصْحَابُهُ فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ اسْتَنَدَ بِلاَلٌ إِلَى رَاحِلَتِه مُوَاجِهَ الْفَجْرِ فَغَلَبَتْ بِلاَلاً عَيْنَاهُ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَى رَاحِلَتِه فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه وسلم وَلاَ بِلاَلٌ وَلاَ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِه حَتَّى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ فَكَانَ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه وسلم أَوَّلَهُمُ اسْتِيقَاظًا فَفَزِعَ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه وسلم فَقَالَ « أَىْ بِلاَلُ ». فَقَالَ بِلاَلٌ أَخَذَ بِنَفْسِى الَّذِى أَخَذَ بِنَفْسِكَ قَالَ « اقْتَادُوا ». فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه وسلم وَأَمَرَ بِلاَلاً فَأَقَامَ الصَّلاَةَ فَصَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلاَةَ قَالَ « مَنْ نَسِىَ الصَّلاَةَ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللَّهَ قَالَ (أَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِى)رواه مسلم (مشكوة ص:٦٦)

مولاناصاحب!تاسو به په دې مسئله باندې داسې رڼا واچوئ چې دخلکوتسلي وشي.ځکه چې دمسلمان داعقیده ده چې اسلام دفطرت مطابق دی اودمیتازو ځنبل دانسان په نظرکې دفطرت خلاف دي.موږ دځېل مذهب په اشاعت کې غیرمسلم څنګه قایل کولی شو؟

جواب: دخلکوځلوراعتراضونه کوم چې تاسونقل کړې دی په هغوکې اولنی اعتراض اصلي دی. یعنې داچې داواقعه مستنده ده اوکه نه؟نورسوالونه ټول ددې دلاندې دي ځکه که څه واقعه شوي نه وي. نوبیاداسوالونه متوجه کیږي

ددې واقعې دتسلیمولونه وروسته دمسلمانانوپه ذهن کې دسوالونوپیداکیدل دضعف ایمان. ضعف محبت اوضعف علم وجه ده.ځکه چې په محبت کې سوالونه نه پیداکیږي یاوکه صحیح علم وي. نوتوجیه یې کولی شي چې ممکنه ده چې دادحضور ﷺ خصوصیت وي چې دهغه فضلات نه نجس کیدل یاپه عامو انسانانوباندې دخصوصي فضیلت دلیل دی.دادویم سوال توجیه کېدای شي

ددریم سوال توجیه داکیدای شوه چې کله کله جذبه په محبت غالبه شي اوبنده په هغې معذور ګڼل کیږي.لکه څنګه چې دصلح حدیبیه په وخت باندې حضور ﷺ حضرت علي ؓ فرمایلي وچې:دمحمدرسول الله.،لفظ وران کړه.هغه وویل چې:زه ستاسوپاک نوم ورانولی نه شم!داخبره هغه دحکم صریح په مقابله کې دمحبت دغلبې له وجې نه کړې وه.ددې وجې نه په هغه باندې څه عتاب نازل نه شو.

دځلورم سوال توجیه داکیدای شي چې حضور ﷺ خونه دمتیازوځنبلوحکم فرمایلی واونه یې داقانون جوړکړ،خو یومغلوب محبت یې معذور وګاڼه اوس دعامو خلکوله پاره دمتیازځنبلوحکم په دې کې دکوم ځای نه رااووت؟

غرض داچې اول داخبره پېژندل ضروري دي چې داسې شته اوکه نه؟بیادامعلومول پکار دي چې دحضور ﷺ دفضلاتو هم هغه حکم دی کوم چې زموږ په شان دناپاکه خلکودبولو اوبرازودی؟یاپه دې باره دحضور ﷺ څه خصوصیات هم شته؟په دې باره کې دعالمانوڅه تحقیق دی؟ امام ابوحنیفه اوامام شافعي اودهغوی اکابراومتبعین څه فرمایي؟ بیا دا معلومول پکار دي چې یوحکم دټولوله پاره یوشان وي؟یاځینووختونوکې دموقع اومحل په خصوصیت سره حکم مختلف کیدای هم شي؟

کوم مولاناصاحب چې د ناواقفه اوناپوهه عوامو په وړاندې پرته له تشریح نه داواقعه بیان کړه هغه هم ښه ونه کړل اوچاچې داواقعه واوریدله اوداعتراضاتوباران یې شروع کړ اود مسئلې دنوعیت معلومولوضرورت یې محسوس نه کړ،هغوی هم دڅه عقل اوفکرثبوت وړاندې نه کړ.والله اعلم.

دسائل دویم خط

..جناب مولانامحمد یوسف لدهیانوي صاحب ' السلام علیکم
محترمه!زمادخط ځواب خو وشو.خو نامکمل شان راته ښکاریږي.داصل سوال ځواب په خپل ځای پاتې دی؟یعنې کومه واقعه چې خطیب صاحب بیان کړې وه دهغې حواله دیو مستند راوي یاکتاب پکاروه.ماڅواعتراض کونکوته ستاسوخط وښود یاخوهم هغه سوال وکړل شوچې دهغه کتاب اومصنف نوم دې وښودل شي.دکوم ذکرچې ماکړی دی.بلکې یو صاحب خوتردې پورې وویل چې یوځل په یوه جلسه کې مولانامحمدشفیع هم ددې واقعې ذکرکړی و.خو کله چې دهغوی نه ددې سندوغوښتل شو. نوهغه ورنکړی شو.بلکې سند غوښتونکو باندې یې دایمان دکمزوري فتوي ولګوله او ملامت یې کړل.څنګه چې تاسوپه خپل ځواب کې وفرمایل ،یعني: ددې واقعې دتسلیمولونه وروسته دمسلمانانوپه ذهن کې دارنګه سوالات راپیداکیدل دضعف ایمان.ضعف محبتاوضعف علم وجه ده
ددې معنا خوداشوه چې کوم عالم یاخطیب څه واقعه دحضور ﷺ ته منسوب کړي اوپرته له څه حوالې بیان وکړي، نوهغه دې په صدق دل سره ومنل شي که نه دضعف ایمان فتوي به پرې ولګیږي.همدارنګه خوڅه عالمان کوموته چې موږ علماء سوء هم ویلی شو، ډیر همدارنګه دخپل مطلب واقعات بیانولی شي اوخلک ګمراه کولی شي اوتاسوبه داهم تسلیموئ چې دعلمايي سوء(چې په ظاهره عالم وي)شناخت عام کس نه شي کولی .دهغه نیول خوهم هغه وخت کیدای شي کله چې هغه دواقعاتو سره مستنده حواله هم ورکړي
موږ دامنوبلکې زموږ دادین دی چې حضور ﷺ په ټولوانبیاوو اوانسانانوکې افضل دی اودهغه خصوصیات منل هم دایمان غوښتنه ده،خو له دې سره دافکرهم وکړل شي چې دنن دوردساینس اومادیت دوردی،دعوامواکثریت په خاص طورسره دمغرب له افکارو نه متاثره دي.دهغوی دمطمئن کولوله پاره ترڅپل وس پورې چې کیدای شي څه نا څه کول پکار دي ، لهذاکه دلاندې سوالونوځوابونه ورکول شي نودخلکوتسلي کیدای شي.
۱:ددې واقعې ذکرچې په کوم کتاب کې دی دهغه اودهغه دمصنف نوم څه دی؟
۲:دمذکوره صحابي په عمل باندې دحضور ﷺ ارشادات؟
۳:په نوروصحابه کرامو ﷺ باندې دواقعې اثرات (هرکله چې دامعلومه شوه چې د حضور ﷺ بول اوبرازنه یوازې پاک دي بلکې دخوشبولامل هم دي) اوداهم معلومه ده چې صحابه کرامودحضور ﷺ هرشی سره له خپلو ځانونه زیات محبت کاوو.تردې پورې چې دحضور ﷺ لعاب (لاړې) اوداودس اوبه به یې په خپلومخونوباندې مښلې.
جواب: زمادتیرخط خلاصه داوه چې اول خودې دامعلومه کړل شي چې داواقعه په کوم مستندکتاب کې موجودده اوکه نه؟دویم داچې دحضور ﷺ دفضلاتوپه باره کې داهل علم

او اکابر ائمه دین تحقیق څه دی؟ او د دې دوو خبرونه وروسته کوم شبهات چې راپیښیدای شي د هغې توجیه کیدای شي اوس د دې دواړو نکتو وضاحت کوم:

۱-: دادی چې دا واقعه په مستند کتاب کې شته او که نه؟ حافظ جلال الدین سیوطي رحمه الله ،،کتاب،، خصائص کبری، کې د حضور ﷺ امتیازي خصوصیات راجمع کړي دي، د هغې ددویم جلد صفحه :۲۵۲ فوټوسټیټ تاسوته درلیږم، دکوم عنوان چې دادی ..دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم بول او براز پاک و ...، ددې عنوان لاندې هغه احادیث نقل کړي دي د هغې نه دوه احادیث ... په کوم چې مانشان لګولی دی له ترجمې سره درته نقلوم:

۱:: واخرج ابو یعلی والحاکم والدارقطنی والطبراني وابونعیم عن ام ایمن قالت: قام النبي صلی الله علیه وسلم من اللیل الی فخارة فبال فیها. فقمت من اخبرته. فضحک وقال: اما انک لا یتجعن بطنک ابدا ولفظ ابي یعلی: انک لن تشتکی بطنک بعد یومک هذا ابدا،،

ترجمه:: ابو یعلی، حاکم، دارقطني، طبراني او ابونعیم رحمه الله په سند سره د حضرت ام ایمن رضي الله عنها نه روایت کړی دی چې: حضور ﷺ د شپې په وخت کې په یو خټین لوښي کې متیازې وکړلې، زه د شپې راویښه شوم او تږې وم، ما هغه پیاله وڅښله، چې سحر شو، نو ما حضور ﷺ ته وویل: حضور ﷺ مسکی شواو وې فرمایل: تاته به د خیټې تکلیف هېڅکله نه پېښیږي او د ابو یعلی روایت دی چې: د نن نه وروسته به ته د خیټې د تکلیف شکایت نه کوې.

۲:: واخرج الطبراني والبیهقي بسند صحیح عن حکیمة بنت امیمة عن امها قالت: کان للنبي صلی الله علیه وسلم قدح من عیدان یبول فیه ویضعه تحت سریره. فقال فطلبه فلم یجده فسال فیه فقال: این القدح؟ قالوا: شربته برة خادمة ام سلمة التی قدمت معها من ارض الحبشة. فقال النبي صلی الله علیه وسلم :لقد احتظرت من النار بحظار!،،

ترجمه:: طبراني او بیهقي په صحیح سند سره د حکیمه بنت امیمه او هغې له خپلې مور حضرت امیمه رضي الله عنها نه روایت کړی دی چې: د حضور ﷺ کره به د لرګي یو پیاله پرته وه، چې په هغې کې به یې د شپې میتازې کولې او د خپل کټ د لاندې به یې کیښودله. حضور ﷺ یو سحر راویښ شو، هغه یې وکتله خو هلته یې پیدا نه کړه، د هغې پوښتنه یې وکړه. نوورته وویل شول چې بره نومې د حضرت ام سلمه رضي الله عنها خادمې څښلې ده. حضور ﷺ وفرمایل چې: هغې د اوورنه د بچ کیدوله پاره حصار جوړ کړ.

دادواړه روایتونه مستند دی او د محدثینو یو لوی جماعت د دې تخریج کړی دی او د امت ستر عالمانو دا واقعات پرته له کوم نکیرنه نقل کړي دي او دا یې په خصائص نبوي ﷺ کې شمار کړي دي.

۲- :دحضرت محمد ﷺ د فضلاتو په باره کې د امت د سترو عالمانو تحقیق:

حافظ ابن حجرعسقلاني رحمه الله په فتح الباری، باب الماء الذی یغسل به شعرالانسان (ج: ١ ص: ٢٧٢ مطبوعه لاهور) کې لیکلي دي:

وقد تکاثرت الادلة علی طهارة فضلاته وعدالائمة ذالک من خصایصه فلا یلتفت الی ما وقع فی کتب کثیر من الشافعیة مما یخالف ذالک، فقد استقر الامر بین ائمتهم علی القول بالطهارة.

ترجمه: د حضرت محمد ﷺ د فضلاتو پاک کیدو باندې دلائل ډیر زیات دي او ائمه وو دا د حضور ﷺ په خصوصیاتو کې شمار کړي دي. ډیرو شوافعو په کتابونو کې چې ددې خلاف څه موندل کیږي، هغه د التفات قابل نه دي، ځکه چې ددې خبرې د امامانو په منیځ کې د طهارت په قول باندې معامله فیصله شوې ده.

حافظ بدرالدین عیني رحمه الله په عمدة القاری (ج: ٢ ص: ٣٥ مطبوعه دارالفکر بیروت) کې د حضور ﷺ د فضلاتو طهارت په دلائلو سره ثابت کړی دی او په شوافعو کې چې کوم کسان د دې د خلاف قایل دي په هغوی باندې یې بلیغ رد کړی دی[1] او په (ج: ١ ص: ٧٩) کې یې د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه د حضور ﷺ د بولو او باقي فضلاتو د طهارت قول نقل کړی دی[2].

٢: امام نووي رحمه الله په شرح مهذب (ج: ١ ص: ٢٣٣) کې د بولو او نورو فضلاتو په باره کې د شافعیانو د دواړو قولونو له نقل سره د طهارت قول راجح ګرځولی دی، هغه لیکي:

حدیث شرب المراة البول صحیح رواه الدارقطنی وقال هو حدیث صحیح وهو کان فی الاحتجاج لکل الفضلات قیاسا.

ترجمه: د ښځې د متیازو څښلو واقعه صحیح ده. امام دارقطني دې روایت ته صحیح ویلي دي او دا حدیث د ټولو فضلاتو په طهارت باندې د استدلال له پاره کافي دی.

---

[1] وقال بعض شراح البخاري في بوله ودمه وجهان والأليق الطهارة وذكر القاضي حسين في العذرة وجهين وانكر بعضهم على الغزالي حكايتهما فيها وزعم نجاستها بالاتفاق قلت يا للغزالي مَن هفوات حتى في تعلقات النبي عليه الصلاة والسلام وقد وردت أحاديث كثيرة أن جماعة شربوا دم النبي عليه الصلاة والسلام منهم أبو طيبة الحجام وغلام من قريش حجم النبي عليه الصلاة والسلام وعبد الله بن الزبير شرب دم النبي عليه الصلاة والسلام رواه البزار والطبراني والحاكم والبيهقي وأبو نعيم في (الحلية) ويروى عن علي رضي الله تعالى عنه أنه شرب دم النبي عليه الصلاة والسلام وروي أيضا أن أم أيمن شربت بول النبي رواه الحاكم والدارقطني والطبراني وأبو نعيم (عمدة القارى ج: ٢، ص: ٣٥)

[2] ولئن سلمنا ان المراد هو الماء الذى يتقاطر من اعضائه الشريفة فابوحنيفة ينكر هذا ويقول بنجاسة ذاك حاشاه منه وكيف يقول ذلک وهو يقول بطهارة بوله وسائر فضلاته (عمدة القارى ج: ٢، ص: ٧٩)

علامه ابن عابدین شامي رحمه الله لیکي

صحح بعض ائمة الشافعية طهارة بوله صلى الله عليه وسلم وسائر فضلاته وبه قال ابوحنيفه كما نقله في المواهب اللدنية عن شرح البخاري للعيني.(ردالمحتار ج:١ ص:٣١٨ مطبوعه كراچى)

ترجمه: ځینې شافعي امامانو دحضور ﷺ دبولو اوباقي فضلاتو طهارت صحیح ګرځولی دی. امام ابوحنیفه هم ددې قایل دی. څنګه چې په مواهب الدنیه کې علامه عیني شرح بخاري نه نقل کړي دي.

ملاعلي قاري جمع الوسائل شرح الشمائل (ج:٢ ص:٢ مطبوعه مصر ١٣١٧هجری) کې له دېرې اوږدې خبرې وروسته لیکي:

قال ابن حجر: وبهذا استدل: جمع من ائمتنا المتقدمين وغيرهم على طهارة فضلاته صلى الله عليه وسلم ،وهوالمختار، وفاقاً لجمع من المتاخرين فقدتكاثرت الادلة عليه وعده الائمة من خصائصه صلى الله عليه وسلم .

ترجمه: ابن حجر رحمه الله فرمایي چې زموږ دائمه متقدمینو یوه ډله اونورو حضراتو د حدیثونو سره دحضور ﷺ دفضلاتو په طهارت باندې استدلال کړی دی. دمتاخرینو یوې ډلې هم دغه مختار کړی دی. ځکه چې په دې باندې ډېر دلیلونه موجود دي اوائمه وو دا دحضور ﷺ په خصائصو کې شمار کړي دي.

امام العصر مولانا انورشاه کشمیري رحمه الله فرمایي:

ثم مسالة طهارة فضلات الانبياء توجد في كتب المذاهب الاربعة.، (فيض البارى: ج:١ ص:٢٥٠)

ترجمه: دفضلات انبیاء دطهارت مسئله دڅلورومذهبو په کتابونوکې موجوده ده.

محدث العصر حضرت مولانا محمد یوسف بنوري نورالله مرقده لیکي:

وقدصرح اهل المذاهب الاربعة بطهارة فضلات الانبياء... الخ. (معارف السنن، ج:١ ص:٩٨)

ترجمه: دڅلوروارومذهبونو حضرات دفضلات انبیاء په پاکوالي باندې تصریح کړې ده.

الحمدلله! ددې دواړونکتووضاحت خوبقدرضرورت وشو. داواقعه مستند ه ده اودڅلورو مذهبو امامان دپه حدیثونودتسلیمولو سره دفضلات انبیاء علیهم السلام دطهارت قول نقل کړی دی، که ددې نه وروسته هم اعتراض کیږي، نوهغه ته بیا دایمان ضعف ویل کیږي.

اوس یوه نکته درته تبرعاً لیکم چې هغې سره به دامسئله قریب الفهم شي. دالله تعالی په خپلو مخلوقاتو کې عجائبات دي. په کوموپوهیدل چې زموږ په شان خلکوته ګران دي، چې په خپل قدرت کامله اوحکمت بالغه سره ځینو جسمونو کې داسې محیرالعقول خصوصیات ایښي دي چې په نورواجساموکې نه موندل کیږي. هغه دیو چینجي دلاړو نه وریښم پیداکوي اودشاتودمچۍ فضلاتونه یې دشاتوپه شان نعمت پیداکړی دی اودغریزې

چیلی(غرخي) په نوم (ناف)کي يي له راجمعه ويني مشک جوړکړي.که هغه په خپل قدرت سره دانبياء عليهم السلام په بدنونوکي داسي خصوصيات ايښي وي چي خوراک ددوی په پاکو بدنونوکي دتحليل کيدونه وروسته نه نجس کيږي.بلکي هغه سره چي ددوی په بدنونوکي کوم فضلات پيداشي هغه پاک وي.نوهيڅ دحيرانتياخبره نه ده.داهل جنت په باره کي هرچانه پته ده چي خوراک څښاک کولونه وروسته به هغوی ته دبولو اوبرازو ضرورت نه وي.يوخوشبودارتېغ به وکړي اوخوړلي څښلي هرڅه به هضم شي[۱]اودبدن فضلات به په خوشبوداره خوله کي تحليل شي.کوم خصوصيت چي داهل جنت بدنونوته حاصليږي که الله تعالی دحضرات انبياء کراموعليهم السلام بدنونوته په دي دنياکي دا خاصيت ورکړي، نوپه ځای ده.بياهرکله چي په حديثونوکي په کثرت سره په دي باندي دلائل موجوددي لکه څنګه چي پورته دحافظ ابن حجر رحمه الله په کلام کي تيرشوي دي نود انبياء كراموعليهم السلام بدنونه په خپل بدن باندي قياس كول اوله دي نه انكاركول يادي په منلوكي تامل كول صحيح نه دي،مولانارومي فرمايي:

اين خورد گردد پليدی زوبيله وان خورد گردد همه نورخدا.

په اخره كي له علماوو اوخطيبانوصاحبانو هم دا غوښتنه کوم چي دعواموپه وړاندي داسي خبري بيان نه كړي .كوم چي دهغوی له فهم نه لوړ وي.ولله الحمد اولاً واخراً!

دشق القمرمعجزه

سوال: زموږپه جومات كي چي كوم ملاصاحب امام دی. دهغه داعقيده ده چي دشق القمركومه معجزه چي دحضور ﷺ نه ظاهره شوي وه،هغه صحيح نه ده اونه ددي څه ثبوت شته. مهرباني وكړئ ددي باره كي صحيح احاديث بيان كړئ، چي دهغه تسلي وشي.

جواب: دشق القمرمعجزه په صحيح حديثونوكي دحضرت ابن مسعود ، حضرت ابن عباس، حضرت انس بن مالک، حضرت جبيربن معطم، حضرت حذيفه، اوحضرت علي رضي الله عنهم نه روايت شوي ده.دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په حديث كي دي:

انشق القمرعلى عهدرسول الله ﷺ فرقتين، فرقة فوق الجبل وفرقة دونه فقال رسول الله ﷺ اشهدوا.(صحيح بخاري ج ۲ ص ۷۲۱، صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۷۳ ترمذی ج ۲ ص ۱۶۱)

---

[۱]عَنْ جَابِرٍ قَالَ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم « إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُونَ فِيها وَيَشْرَبُونَ وَلاَ يَتْفُلُونَ وَلاَ يَبُولُونَ وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ وَلاَ يَمْتَخِطُونَ ». قَالُوا فَمَا بَالُ الطَّعَامِ قَالَ « جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ رواه مسلم (مشكوة ص:۴۹۶، باب صفة الجنة واهلها ، الفصل الاول)

ترجمه: د رسول الله ﷺ په زمانه کې سپوږمۍ دوه ټکړې شوه. یو ټکړه د غره له پاسه وه او یوه د غره نه لاندې. حضور ﷺ وفرمایل چې ګواه اوسئ.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په روایت کې دي:

انشق القمر فی زمان النبي ﷺ. (صحیح بخاري ج٢ ص ٧٢١، صحیح مسلم ج٢ ص٣٧٣، ترمذی ج٢ ص١٦١) ترجمه: د حضور ﷺ په زمانه کې سپوږمۍ دوه ټکړې شوه.

د حضرت انس رضی الله عنه په حدیث کې دي:

ان اهل مکة سالوا رسول الله علیه وسلم ان یریهم ایة فاراهم انشقاق القمر مرتین. (صحیح بخاري ج٢ ص٧٢٢، صحیح مسلم ج ٢ ص٣٧٣، ترمذی ج٢ ص١٦١)

ترجمه: د مکې اوسیدونکوله حضور ﷺ نه غوښتنه وکړه چې څه معجزه وښایئ، حضور ﷺ هغوی ته د سپوږمۍ د دوه ټکړې کولو معجزه وښودله.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه په حدیث کې دي:

انفلق القمر علی عهد رسول الله ﷺ. فقال رسول الله ﷺ اشهدوا. (صحیح مسلم ص٣٧٣، ج ٢ ترمذی ص ١٦١ ج٢) ترجمه: د رسول الله ﷺ په زمانه کې سپوږمۍ دوه ټکړې شوه. حضور ﷺ وفرمایل چې ګواه اوسئ!

د حضرت جبیر بن معطم رضی الله عنه په حدیث کې دي:

انشق القمر علی عهد رسول الله ﷺ حتی صار فرقتین علی هذا الجبل وعلی هذا الجبل، فقالوا سحرنا محمد، فقال بعضهم لان سحرنا فمایستطیع ان یسحر الناس کلهم. (ترمذی ج٢ ص١٦١)

ترجمه: د حضور ﷺ په زمانه کې سپوږمۍ دوه ټکړې شوه، تردې چې یوه ټکړه په یوه غره باندې وه، اوبله ټکړه په بل غره باندې وه، مشرکانوویل چې (محمد ﷺ په موږ باندې جادو وکړ، ځینې خلکوویل که چېرې هغه په موږ باندې جادوکړی وي، نوهغه په موږ ټولو باندې جادونه شي کولی (په دې وجه باندې د خارج له خلکونه پوښتنه کول پکار ده، هغوی له خارج نه راتلونکو خلکونه پوښتنه وکړه، هغوی هم د دې خبرې تصدیق وکړ).

حافظ ابن کثیر رحمه الله په البدایه والنهایه (ج٣ ص١١٩) کې د حضرت حذیفه رضی الله عنه حدیث هم نقل کړی دی[1]، او حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کې په (ج٧ ص ٢٢٣) باندې د حضرت

---

[1] د البدایه والنهایه ج:٣،ص: ١١٩ عبارت دا دي....... قال : خطبنا حذیفة بن الیمان بالمدائن فحمد الله تعالی واثنی علیه ثم قال : (اقتربت الساعة وانشق القمر) الا وان الساعة قد اقتربت ! الا وان القمر قد انشق (البدایه ج:٣،ص: ١١٩ فصل انشقاق القمر فی زمان النبی صلی الله علیه وسلم ،طبع دارالفکر بیروت)

علي کرم الله وجهه د حديث حواله هم ورکړې ده[۱]
امام نووي رحمة الله په شرح مسلم کې ليکي:
قاضي عياض رحمة الله فرمايي چې د سپوږمۍ دوه ټکړې کيدل. زموږ د نبي کريم ﷺ په اوچتو معجزو کې يوه معجزه ده او دا ډيرو صحابه کرامو رضي الله عنهم نقل کړې ده. له دې نه پرته په دې ايت مبارکه کې ''اقتربت الساعة وانشق القمر'' هم د دې تاييد شوی دی.
زجاج وايي چې ځينې بدعتيانو، کوم چې د ملت مخالف دي. له دې نه انکار کړی دی. او دا له دې وجې نه چې الله تعالی د هغوی زړونه ړانده کړي دي. که نه عقل ته د دې د انکار کولو همت نه لري[۲]. (شرح مسلم لامام النووي ج۲ ص ۳۷۳)

د حضور ﷺ نکاح

سوال: په اول فروري باندې د ټي وي پروګرام ''تفهيم دين'' کې جناب رياض الحسن ګيلاني صاحب د يو سوال په ځواب کې وويل چې: حضور ﷺ يوويشت نکاح ګانې کړې وې. هغو کې يې د يارلس بيبيانې له ځان سره وساتلې او اتو ته يې طلاق ورکړ، تر کومه پورې چې زما په ناقص علم کې دي. نو حضور ﷺ طلاق ته يو بدعمل ويلې دي، يو اځې د مجبورۍ په حالت کې يې د ورکولو اجازه شته. له دې نه پرته زموږ په پوهه کې څه طلاق د حضور ﷺ خپلو بيبيانو ته ورکول نشته. مهرباني وکړئ د دې حقيقت بيان کړئ!
جواب: يوويشت نکاح ګانې زما علم کې نشته. تر کومه حده پورې چې ما ته معلومات دي، دوه ښځو ته يې له نکاح نه وروسته د هغوی په خوښه باندې طلاق ورکړی و. زما کتاب ''عهد نبوت کے ماه وسال'' کې د دې تفصيل موجود دی.[۳]

۱] قوله (باب سؤال المشركين ان يريهم النبى صلى الله عليه وسلم آية ،فاراهم انشقاق القمر) فذكر فيه حديث ابن مسعود وانس وابن عباس فى ذلك، وقد ورد انشقاق القمر ايضاً من حديث على وحذيفة وجبير بن مطعم وابن عمر وغيرهم..الخ (فتح البارى ج:٦،ص: ٦٣٢)
۲] قَالَ الْقَاضِي : انْشِقَاق الْقَمَر مِنْ أُمَّهَات مُعْجِزَات نَبِيّنَا صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَقَدْ رَوَاهَا عِدَّة مِنْ الصَّحَابَة رَضِيَ اللَّه عَنْهُمْ مَعَ ظَاهِر الْآيَة الْكَرِيمَة وَسِيَاقهَا ، قَالَ الزَّجَّاج : وَقَدْ أَنْكَرَهَا بَعْض الْمُبْتَدِعَة الْمُضَاهِينَ الْمُخَالِفِي الْمِلَّة ، وَذَلِكَ لَمَّا أَعْمَى اللَّه قَلْبه ، وَلَا إِنْكَار لِلْعَقْلِ فِيهَا (شرح النووى لمسلم ج:٢،ص: ٣٧٣ ، باب انشقاق القمر ،طبع قديمى كتب خانه)
۳] د عهد نبوت ماه وسال ص: ۲۹۲، ۲۹۳ د فصل ۸ هـ واقعات (طبع مكتبه لدهيانوى)

د خاتم الانبياء ﷺ په ودونو باندې د شک وضاحت

سوال: زموږ یو دوست چې ډیرلوی فنکاردی، هغه اکثرددین په خبروباندې تبصره کول ضروري ګڼي او اکثروخت هغه د نبي کریم ﷺ د ودونو په مسئله کې وایي چې زه په دې خبره باندې حیران یم چې د دومره ډیرومصروفیاتو. جهاد. تبلیغ سره سره له هغه سره دومره وخت څنګه وچې دومره ودونه یې کړي وو او د ښځو حقونه یې پوره کولی شو. ددې تبصرې زه څه ځواب ورکړم؟ وضاحت راکړئ. ماته ډیر افسوس کیږي.

جواب: دیورپ مستشرقینو دخپل تعصب، کم عقلي او جهل مرکب له وجې د اسلام هغه مسائل چې د تنقید له پاره نشانه جوړ کړي دي په هغو کې د حضور ﷺ د ډیرو ودونو مسئله هم ده. په کومه باندې چې هغوی ډیر زهر شیندلي دي. زموږ نوې طبقه خلک له مستشرقینونه ډیره مرعوبه دي او د احساس کمتري ښکاردي، هغوی په داسې ټولو مسائلو کې، چې مستشرقینوته اعتراض وړ دي پښېماني او معذرت رویه خپله کړې ده. دوی دا خواهش لري چې د مغرب په وړاندې د روشن فکره او روڼ انده کیدو له پاره له دې حقائقونه بیخي انکار وکړي، هغوی د عقلي شبهاتو په ذریعه ددې حقائقو د غلط ثابتولو کوششونه کوي. ستاسو د دوست خبرې هم ددې ذهنیت عکاسي کوي، هغوی په ښکاره په ډیرمعصومانه اندازکې پوښتنه کوي چې حضور ﷺ به ددې دومره بیبیانو حقوق څنګه پوره کولی شول؟ خو د سوال منشا په اصل واقعه باندې اعتراض دی.

په هرحال که ستاسو دوست څو بنیادي خبرې په ذهن کې وساتي نوزه امیدلرم چې د هغه شکونه به لرې شي:

۱: له ټولونه مخکې په دې خبره پوهېدل ضروري دي چې د دین اسلام مسائل د خوش طبعي او ټوکو موضوع ګرځول ډیرخطرناک مرض دی، بنده ته په ډیره کلکه سره له دې کارڅخه پرهیز کول پکاردي، خصوصاً د حضور ﷺ محترم ذات (چې د اهل ایمان له پاره یواځې مرجع نه بلکې د ایمان دراو مدار هم دی) او د حضور ﷺ په باره کې خبرې کول خو د هیڅ یو مسلمان له پاره روانه دي، په قران کریم د هغو منافقانو واقعه ذکر شوې ده چې په خپلو محفلونو کې به یې په نبي کریم ﷺ او قراني ایتونو پورې ټوکې او مسخرې کولې، کله به چې له هغوی نه په دې اړه پوښتنه وشوه ؛نو هغوی به ویل :موږ خو هسې د ګپ شپ او زړه خوشحالولو خبرې کولې ،الله تعالی د دوی ددې عذر په ځواب کې وفرمایل: ایا تاسو د الله تعالی سره، د هغه د ایتونو سره او د هغه د رسول سره ټوکې کولې؟... بهانې مه جوړوئ تاسو د ایمان د دعوې نه

وروسته کفر کړی دی. (التوبه ٦٥ . ٦٦)[۱]
له دې نه معلومیږي چې الهي ایات او دحضور ﷺ مبارک ذات دخپل ګپ موضوع جوړول څومره خطرناک دي، هغه ته چې قران کریم کفرویلي دی. له دې وجې نه هرمسلمان نه . چې په زړه کې یې دسپېلني ددانې برابر ایمان هم وي زماغوښتنه ده چې دحضور ﷺ هیڅ یوقول یا فعل دخپلو تبصرو موضوع ونه ګرځوي. داسې نه وي چې په بې خبرۍ کې یې یو غیر مناسب لفظ له دژبې نه ووځي او دایمان دولت یې برباد شي نعوذبالله من ذالک.

۲: یوه بنیادي غلطي داده چې هغه دحضور ﷺ کې دخپلې علمي سطحې مطابق غورا و فکر کوي او کله چې هغوی په حضور ﷺ کې څه خبره دخپلې ذهني سطحې نه پورته ویني نو دهغوی ذهن ددې خبرې دقبلولو له پاره تیارنه وي او کوم خصوصیات او کمالات چې حضور ﷺ ته ورکړل شوي دي هغه زمونږ دفهم او ادراک نه لوړ دي. هلته دهیڅ یو پیري یا انسان دفکر رسېدل نشت. کوم ځای کې چې دجبرائیل امین وزرې سوځي نو هلته دیو کمزوري انسان دعقل درسېدو څه مجال کېدی شي؟ ستاسو دوست هم په دې بنیادي غلطۍ کې راګیر ښکاري، که هغه دحضور ﷺ دمعاملاتو سره ناپ کړی وي. نو هغه ته به هیڅ حیرانتیا نه وه چې حضور ﷺ به څنګه ددومره ډېرو مصروفیاتو سره دټولو ښځو حقونه پوره کول؟ عالمانو ته پته ده چې دحضور ﷺ هره ادا یو اعجاز لري او حضرت محمد ﷺ په دومره مختصر وخت کې دالله تعالی په توفیق سره په انساني ژوندکې چې کوم انقلاب راوست او امت یې دروحاني اومادي کمالاتو کوم لوړ مقام پورې ورساو ایاکه ټول امت رایوځای شي. نو داسې کارنامه کولی شي؟ او دحضور ﷺ کومه یوه خبره داسې نه ده چې اعجازنه لري؟ دام المومنین حضرت عائشه رضي الله عنها په وینا دحضور ﷺ کومه یوه معامله عجیبه نه وه؟

۳: ستاسو دوست لره دانکته هم هیرول پکارنه دي چې یواځې عقلي احتمالاتو سره. یاد حیرانتیا او تعجب په وجه دیو حقیقت یا واقعې نه انکار نه شي کېدای. مثلاً یو کس دسرپه سترګو سره راختلي لمرته ګوري او ددې په ځای یو نابینا او ړوند سړی یواځې دعقلي احتمالاتو په ذریعه ددې ښکاره حقیقت نه انکاروکړي او په دې باندې حیران شي. نو دعقل خاوندان به ددې نابینا او ړوند په عقل او فهم اعتراض ونه کړي؟ بلکې دی به له ړوندوالي سره سره ... ی هم وګڼي. همدارنګه دحضور ﷺ دازواج مطهراتو حقوق ښه او په عدل سره اداکول یوه حقیقي واقعه ده.

---

[۱] وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ (التوبة: ٦٥، ٦٦)

دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي چې کله حضور ﷺ له دې دنیانه تشریف یوړ. نوهغه وخت کې دحضور ﷺ نهه بیبیانې وې. په هغو کې به یې اتوکره نمبرپه نمبرشپه تیروله. (حضرت سوده رضی الله عنها خپل نمبرحضرت عائشه ته ورکړی و. له دې وجې نه به یې هلته شپه نه تیروله) (صحیح بخاري و مسلم. مشکوة ص: ۲۷۹)[1]

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي چې: حضور ﷺ به ډیرپه عدل او انصاف سره دخپلو بیبیانو حقونه اداکول او بیابه یې دادعا فرمایله یاالله! کومه خبره چې زماپه اختیارکې ده نو په هغه کې خوپوره په عدل او انصاف سلوک کوم او کوم څه چې ستاپه اختیارکې دي زماپه اختیارکې نه دي (یعنې دیوې بی بی طرف ته دزړه زیات میلان) په هغې باندې مامه ملامته کوه.[2] (ترمذي. ابوداود. نسائي. ابن ماجه. دارمي. مشکواة. ص: ۲۷۹)

له دې ډول ډېروحدیثونو اوپه خپله دامهات المومنین رضوان الله اجمعین نه مروي دي. ګویادایومنل شوی حقیقت دی چې حضور ﷺ به نه یوازې دازواج مطهرات حقوق اداکول بلکې هغه دانصاف او عدل یواعلی مثال هم قائم کړاودنیاته یې وښوده. حضور ﷺ په خپله فرمایي: په تاسوکې له ټولونه بهترهغه کس دی چې دخپل کوروالو له پاره ښه وي او زه دخپلو کوروالوله پاره له تاسوټولونه بهتریم[3]. (ترمذي. دارمي. ابن ماجه. مشکوة. ص: ۲۸۱)

اوس په دې ثابت شوي حقیقت باندې دحیرانتیا اظهارکول او ددې نه دانکارکوشش کول. په دې باندې هغه دړوند او نابینا مثال صادقیږي چې یوازې په سترګو پټولو سره او دعقلي احتمالاتو په ذریعه دلمردراختلو نه دانکارکوشش کوي.

۴: او که ستاسودوست ته په دې کې شک وي چې د امت له پاره دڅلورو ودونواجازه دی دحضور ﷺ له پاره دڅلورونه زیات ودونه څنګه جائزو؟ نوده ته په دې خبره پوهېدل پکار دي چې دحضور ﷺ له پاره الله تعالی ډیرخصوصي حکمونه ورکړي وو. کوموته چې داهل علم په اصطلاح کې: "خصائص نبوي" ویل کیږي. حافظ سیوطي رحمه الله په "الخصائص

---

[1] عن ابن عباس رضى الله عنهما ان رسول الله صلى الله عليهم قُبض عن تسع نسوة وكان يقسم منهم لثمان متفق عليه (مشكوة ص: ۲۷۹ باب القسم الفصل الاول) وعن عائشة رضى الله عنها ان سودة لما كبرت قالت : يا رسول الله ! قد جعلت يومى منك لعائشة فكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقسم لعائشة يومين . يومها ويوم سودة متفق عليه(مشكوة ص: ۲۷۹ باب القسم)

[2] عن عائشة رضى الله عنها ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يقسم بين نسائه فيعدل ويقول : اللهم هذا قسمى فيما املك فلا تلمنى فيما تملك ولا املك رواه الترمذى وابوداؤد والنسائى وابن ماجة والدارمى (مشكوة ص: ۲۷۹ ، باب القسم الفصل الثانى)

[3] وعنها اى عَنْ عائشة قالتْ قال رسُولُ اللّه صلى الله عليه وسلم خيْرُكُمْ خيْرُكُمْ لأهْله وأنا خيْرُكُمْ لأهْلى رواه الترمذى والدارمى ورواه ابن ماجه عن ابن عباس (مشكوة ص: ۲۸۱ باب عشرة النساء الفصل الثانى)

الکبری.. او حافظ ابونعیم په. .خصائص نبوي اوعلامه قسطلاني په ..مواهب اللدنیه..
کې ددې خصائصو یوه لویه ذخیره راجمع کړې ده. دنکاح په باره کې دحضور ﷺ ګڼ شمیر خصوصیات وو. چې دسورة احزاب په شپږمه رکوع کې الله تعالی ذکرکړي دي او په هغو کې یو خصوصیت دا وچې دهغه له پاره دڅلورونه زیاتو ودونواجازه و
بل داچې دحضور ﷺ له پاره دخپل مورني اوپلرني خاندان دهغو ښځوسره دنکاح کولو جایز وه چاچې دمکې مکرمې نه مدینې طیبې ته هجرت کړې واودهغه دخاندان کوموښځوچې هجرت نه و کړی دهغوی سره دهغه نکاح روا نه وه. یوخصوصیت داوچې که یوه ښځه حضور ﷺ ته له مهر پرته دواده وړاندیز وکړي اوحضور ﷺ یې قبول کړي. نوله مهرپرته واده صحیح و. سره له دې چې دامت له پاره په نکاح کې مهرضروري دی. که ښځه او خاوند داشرط مقررکړي چې مهربه نه وي نوبیابه هم. .مهر مثل . .لازم وي.
دحضور ﷺ بل خصوصیت داوچې دښځوترمینځه برابري دهغه ذمه واري نه وه. (له دې سره به حضور ﷺ دازواج مطهرات ترمینځه برابري .عدل اوانصاف پوره پوره کاو. څنګه چې ماپورته وویل)[1] سره له دې چې دامت له پاره دچاچې دوه یاددوونه زیاتې ښځې وي دهغوی په ذمه دښځوترمینځه برابري ساتل فرض دي . په حدیث شریف کې دي چې:
"دچاچې دوه ښځې وي اودهغوی ترمینځه عدل اوبرابري ونکړي نوهغه به دقیامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې دهغه یوطرف به فالج وهلی وي[2] (ترمذی. ابوداود. نسائی. ابن ماجه. مشکوة. ص۲۷۹)

۱] یأیها النبی اِنَّآ اَحْلَلْنَا لَكَ أزواجك الاتی ءَاتَیْتَ أُجُورَهُنَّ } مهورهنّ { وَمَا مَلَكَتْ یَمِیْنُكَ مِمَّآ أفآءَ اللهُ عَلَیْكَ } {وَبَنَاتِ عَمِّكَ وبنات عماتك وبنات خالك وبنات خالاتك الاتیهاجرن معكَ } بخلاف من لم یهاجرن { وامرأةً مُؤْمِنَةً إن وهبتْ نفسها للنَّبِیِّ إنْ أَرَادَ النبی أن یَسْتَنكِحَهَا } یطلب نکاحها بغیر صداق {خَالِصَةً لَّكَ من دُونِ المُؤمنین } النکاح بلفظ الهبة من غیر صداق { قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَیْهِمْ } أي المؤمنین { فِیْ أزواجهم } من الأحکام بأن لا یزیدوا علی أربع نسوة ولا یتزوّجوا إلا بوليّ وشهود ومهر { لِکَیْلا یکُون عَلَیْكَ حَرَجٌ } ضیق في النکاح { تُرْجِي } تؤخر { مَن تشآء منهنّ } أي أزواجك عن نوبتها { وتُئوی } تضمّ { إِلَیْكَ مَن تشاء } منهنّ فتأتیها { ومن ابتغیت } طلبت { مِمَّنْ عزلتَ} من القسمة { فلا جُناح علیْكَ } فِي طلبها وضمها إلیك .{ لاَ یَحِلُّ لكَ النسآء من بعْدُ } بعد التسع اللاتي اخترنك { وَكَانَ اللهُ علی کُلِّ شَیْءٍ رَّقِیباً } (تفسیر جلالین ص:۳۵٦ سورة الاحزاب آیت ۵۰، ۵۱)

۲]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ « إِذَا كَانَ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ رواه الترمذی وابوداؤد والنسائی وابن ماجه والدارمی (مشکوة ج:۱.ص: ۲۷۹ باب القسم ، الفصل الثانی)

غرض دا چې د نکاح په باره کې د حضور ﷺ د بېرخصوصیات وواو په یو وخت کې د څلورونه زیاتې ښځې راجمع کول هم د دغه خصوصیاتو کې شامل دي.د کوم تصریح چې خپله په قران پاک کې موجود ده.

حافظ سیوطي رحمه الله په ..خصائص کبری..کې لیکي چې:په شریعت کې د غلام له پاره یو اخې د دوو ودونو اجازه ده او د ازاد له پاره د څلوروودونو اجازه ده.کله چې ازادته د غلام په مقابله کې د څلوروودونو اجازه ده نو حضور ﷺ ته به د عام امت په مقابله کې د زیاتوودونو اجازه ولې نه وي[1]

ګڼ شمیر داسې نبیان وو چې د هغوی له څلورونه زیاتې ښځې وې.لکه چې د حضرت داود علیه السلام په باره کې منقول دي چې د هغه سل ښځې وې[2].،صحیح بخاري ج ۱ ص ۳۹۵،کې دي چې د حضرت سلیمان رحمه الله سل یانهه نوي بیبیانې وې.په ځینو روایاتو کې کم یازیات تعداد راغلی دی.فتح الباری کې حافظ ابن حجر رحمه الله د دې روایاتو تطبیق کړی دی او د وهب بن منبه قول یې نقل کړی دی چې د حضرت سلیمان رحمه الله درې سوه بیبیانې او اووه سوه وینځې وې[3].،فتح الباری ج:۲ ص:۲۲۰،

په بایبل کې د دې برعکس ذکر شوي دي چې د حضرت سلیمان علیه السلام اوو سوه ښځې او درې سوه وینځې وې.،(۱ سلاطین ۱۱-۳،ښکاره ده چې دې ټولو حضراتو به د هغوی حقوق اداکول.له دې وجې نه د حضور ﷺ د نهو بیبیانو حقونه اداکول څه د تعجب خبره ده؟

5:د حضور ﷺ د خصوصیاتو په باره کې دا خبره هم هیرول نه دي پکار چې د ګڼو حدیثونو نه ثابته ده چې حضور ﷺ ته د څلویښتو جنتي سړیو برابر طاقت ورکړل شوی و او هر جنتي ته به

---

[1] قال العلماء لما كان الحر لفضله على العبد يستبيح من النسوة اكثر مما يستبيحه العبد وجب ان يكون النبى صلى الله عليه وسلم لفضله على جميع الامة يستبيح من النساء اكثر ما تستبيحه الامة (الخصائص الكبرى ج:۲،ص: ۴۲۶، باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم بنكاح اكثر من اربع نسوة وهو اجماع ، طبع دارالكتب العلمية،بيروت)

[2] ذكر انه كان لسيلمان عليه السلام ثلاث مئة امرة مهرية وسبع مئة سرية وانه كان لداؤد عليه السلام مائة امراة (روح المعانى ج:۱۳،ص: ۱۶۸، سورة الرعد :۳۸، التفسير الكبير ج:۷،ص: ۴۹ طبع حقانيه)

[3] عن ابى هريرة رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : قال سليمان بن داؤد عليه السلام لاطوفن الليلة عى ماة امراة او تسع وتسعين.......الخ (بخارى شريف ج:۱،ص: ۳۹۵،كتاب الجهاد ،باب من طلب الولد للجهاد) فمحصل الروايات ستون وسبعون وتسعون وتسع وتسعون وماة، والجمع بينها ان الستين كن حرائر وما زاد عليهن سرارى او بالعكس و اما السبعون فللمبالغة واما التسعون والماة فكن دون الماة وفوق التسعين فمن قال التسعون الغى الكسر ومن قال ماة جبره ومن ثم وقع التردد فى رواية جعفر....... وقد حلى وهب بن منبه (فى المبتداء) انه كان لسيلمان الف امراة ثلاث مائة مهرية وسبع مائة سريه (فتح البارى ج:۶،ص: كتاب الانبياء طبع دار نشر الكتب الاسلاميه لاهور پاكستان)

دسلو سړو برابرطاقت ورکول کیږي. په دې حساب سره په حضورﷺ کې دڅلور زرو سړیوبرابرطاقت و[۱] . (فتح الباري ج ۱ ص ۳۷۸)

کله چې دامت کمزوري سړي ته دڅلوروودونواجازه ده. نوحضورﷺ ته چې دڅلوروزرو سړیوبرابرطاقت ورکړل شوي و. نوهغه ته کم نه کم ددشپاړس زره ودونواجازه پکارو..!

۶:په دې مسئله باندې له یوبل اړخ نه هم غورکول پکاردي چې یوداعي خپل دعوت دسړیوپه حلقه کې بې تکلفه کولی شي. خو ښځوته بې مخامخ نه شي کولی. الله تعالی ددې یودااانتظام وکړچې هرکس ته دڅلوروښځوکولواجازه ده چې په نوې اصطلاح کې دهغه دپرائیویټ سیکرټري کار ورکړی شي اودښځوپه حلقه کې دده پیغام خپورکړی شي. کله چې دیوامتي له پاره الله تعالی په خپل حکمت سره دااانتظام کړی دی نودحضورﷺ له پاره، څوک چې دقیامت پورې دټول انسانیت له پاره نبي، هادي اومرشد دی .دقیامت پورې دپوره انسانیت سعادت دهغه دقدمونو سره تړل شوی دی که الله تعالی په خپل خصوصي رحمت سره دامت دښځوداصلاح اوتربیت له پاره خصوصي انتظام کړی وي. نوپه دې کې هیڅ دحیرانتیاخبره نشته، ځکه چې دحکمت اوهدایت همدغه غوښتنه ده

۷:له دې سره سره داخبره هم په یاد ساتل پکاردي چې دحضورﷺ دخلوت اوجلوت پوره ژوندد هدایت کتاب و. دحضورﷺ دجلوت افعال اواقوال نقل کولوله پاره خوپه زرګونو صحابه کرام موجود وو، خو دهغوی دخلوت اوتنهایي حالات دامهات المومنین نه پرته چا نقل کولی شول؟ الله تعالی دحضورﷺ ددې پټو حالاتو دښکاره کولوله پاره دتعددازواج انتظام وکړچې دهغه په وجه دسیرت طیبه پټ اړخونه هم دامت په وړاندې ښکاره شول اودحضورﷺ دخلوت اوجلوت ژوندیوه ښکاره کتاب جوړشو .کوم چې هرڅوک اوهروخت کتلی شي.

۸:که غوروکړل شي نوکثرت ازواج په دې لحاظ سره معجزه ده چې دمختلفو مزاجو اومختلفو قبایلوګڼ شمیرښځې دحضورﷺ د ذاتي ژوند شپه اوورځ مشاهده کوي اوهغوی ټولې په یوه خوله. دهغهﷺ دتقدس ،دهغه دحیثیت اوتقوی، دهغه دخلوص اوللهیت اودهغه دپیغمبرانه اخلاقواواعمالوګواهي ورکوي.

۱]اعطیت قوة اربعین فی البطش والجماع ، وعند احمد والنسائی ، وصححه الحاکم من حدیث زید بن ارقم رفعه : ان الرجل من اهل الجنة لیعطی قوة مائة فی الاکل والشرب والجماع والشهوة فعلی هذا یکون حساب قوة نبینا اربعة آلاف (فتح الباری ج:۱،ص: ۳۷۸ طبع دار نشر الکتب الاسلامیه لاهور پاکستان)

که خدای مکړه د حضور ﷺ په ذاتي ژوندکې څه معمولي کوږوالی موجود وی. نو ددومره ګڼ شمیر ازواجو په وړاندې هغه پټ نه شو پاتې کیدای .د حضور ﷺ د ذاتيي ژوند پاکي یو داسې شهادت دی چې په خپله د صداقت دلیل او د نبوت معجزه ده.د دلته د نمونې په ډول ام المومنین حضرت عائشې رضي الله عنها یوه وینا نقل کوم چې له هغې نه به د حضور ﷺ د ذاتي ژوند د پاکي. تقدس اوطهارت څه نا څه اندازه و شي. هغه فرمایي چې ما کله هم د حضور ﷺ عورت نه دی لیدلی او نه کله حضور ﷺ زما عورت لیدلی دی.[1] . .

ایا په دنیاکې یوه ښځه د خپل خاوند په باره کې داشهادت ورکولی شي چې ددومره مودې راهیسې هغوی دیو بل عورت نه وي لیدلی او ایاله دې اعلی اخلاقو.شرم اوحیا دنبي دذات نه پرته بل څوک نمونه کیدای شي؟ غوروکړئ چې د حضور ﷺ دژوند ددې پټ اړخ له ازواج مطهراتو نه پرته چانقل کولی شو؟

له طائف نه مکې مکرمې ته نبي علیه السلام دچا په پناه کې تشریف یوړ؟

سوال: سردار دوعالم ﷺ چې کله طائف ته لاړ.ایادهغه له مکې مکرمې نه شهریت ختم شوي واوبیاهغه دیوسړي په امن کې داخل شوی و.که داسې وي نودهغه سړي نوم هم ولیکئ چې هغه سړی څوک و؟

جواب: مولانامحمدادریس کاندهلوي رحمه الله په سیرة المصطفی (جلد ۱صفحه۲۸۱) کې، مولاناابوالقاسم رفیق دلاوي په سیرت کبری (جلد ۲صفحه۱-۷) کې د طبقات ابن سعد په حواله سره(په سیرت مصطفی کې د زادالمعاد حواله هم ورکړل شوې ده) او حافظ ابن کثیر په البدایه والنهایه(ج۳ص۱۳۷) کې د اموي-مغازي په حواله سره نقل کړي دي،چې نبي علیه السلام دمطعم بن عدي په پناه کې تشریف راوړی وواوپه پناه کې دراتلو دامطلب نه و.چې له دې نه مخکې دمکې شهریت ختم شوی و،بلکې دامطلب یې و چې مطعم بن عدي ضمانت ورکړی و.چې اینده له پاره به دمکې خلک نبي کریم ﷺ ته تکلیف نه ورکوي.[2]

---

[1] خصائل نبوی ص:۳۱۹ طبع میزان_

[2] د البدایه والنهایه عبارت دا دې ان رسول الله صلی الله علیه وسلم ...... فبعثه الی المطعم بن عدی یجیره ، فقال: نعم .....الخ (البدایه والنهایه ج:۳،ص: ۱۳۷ ، ایضاً : سیرة المصطفی ج:۱،ص: ۲۸۱ سیرت کبری ج:۲،ص: ۷۰۱)

د نبي کريم ﷺ د سينې اواز

سوال: يو روايت کې دي چې دلمونځ په وخت کې به د حضور ﷺ نه د جوش په وجه باندې د کتوې د ويشيدو په شان اواز راتلو او يو ځای کې ماد اهم لوستلي دي چې دا اواز به يوميل پورې اوريدل کيده، دا حديث د درايت خلاف معلوميږي. ځکه چې حضور ﷺ به کور ته داخل شو نو سلام به يې هم داسې اواز سره کاوچې ويده کس به هغه باندې نه راويښيده او ويښ کس به سلام اوريده. کوم اواز چې يوميل پورې اوريدل کيدای شي. نو هغه سړه د نژدې کس به څه حال وي؟ دما شومانو خوبه غوږونه شليدلي وي او د خوب خو سوال هم نه پيداکيږي

جواب: د يوميل پورې اوريدو خبره خومې په لومړي ځل باندې ستاسو په دې خط کې وليده. ماداسې هيڅ روايت نه دی ليدلی. نو د سند باره کې به څه عرض وکړم.

مخامخ ستاينه د هرچا له پاره منع ده

سوال: حديث شريف کې دي چې په مخامخ باندې د تعريف کونکې په خوله کې خاوره واچوئ او حضور ﷺ په خپله خپل شان کې قصيدې اوريدلي دي، يوه قصيده باندې خوشحاليدو سره حضور ﷺ کعب بن زهير ته خپل ځادر مبارک ورکړ، کوم چې بيا حضرت معاويه رضي الله عنه له هغه نه په شل زره درهمه باندې واخست.

جواب: د هر يو کس حالات مختلف وي، خوله کې خاورې اچولو نه مراد دادی چې ستاسو نفس خراب نه شي. د حضور ﷺ باره کې د دې خبرې هيڅ احتمال نشته[1]. بيا يو کس د کوم

---

[1] عن المقداد بن الاسود قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اذا رايتم المداحين فاحثوا فى وجوههم التراب رواه مسلم (مشكوة ص:۴۱۲) وفى المرقاة : والمراد زجر المادح والحث على منعه من المدح لانه يجعل الشخص مغروراً ومتكبراً (مرقاة المفاتيح ج:۴،ص: ۶۲۶ باب حفظ اللسان والغيبة والشتم) وفى شرح المسلم للنووى : باب النهى عن المدح اذا كان فيه افراط وخيف منه فتنة على الممدوح ذكر مسلم فى هذا الباب الأحاديث الواردة فى النهى عن المدح وقد جاءت أحاديث كثيرة فى الصحيحين بالمدح فى الوجه قال العلماء وطريق الجمع بينها أن النهى محمول على المجازفة فى المدح والزيادة فى الأوصاف أو على من يخاف عليه فتنة من إعجاب ونحوه اذا سمع المدح وأما من لايخاف عليه ذلك لكمال تقواه ورسوخ عقله ومعرفته فلا نهى فى مدحه فى وجهه اذا لم يكن فيه مجازفة بل إن كان يحصل بذلك مصلحة كنشطه للخير والازدياد منه أو الدوام عليه أو الاقتداء به كان مستحبا والله أعلم (شرح نووى على مسلم ج:۲،ص: ۴۱۴ طبع قديمى كتب خانه) وفى فتح البارى: حاصل النهى ان من افرط فى مدح آخربما ليس فيه لم يامن على ممدوح العجب لظنه انه بتلك المنزلة، فربما ضيع العمل والازدياد من الخير اتكالاً....على ما وصف به ولذلك تاول العلماء فى الحديث الآخر ... احثوا فى جوه المداحين التراب...ان المراد من يمدح الناس فى وجوههم بالباطل وقال عمر: المدح هو الذبح وقال واما من مدح بما فيه فلا يدخل فى النهى . فقد مدح صلى الله عليه وسلم فى الشعر والخطب والمخاطبة ولم يحث فى وجه مادحه تراباً (فتح البارى ج:۱۰،ص: ۴۷۷)

باره کې چې دقتل کولو حکم وفرمایلو هغه دامن او عقیدت قصیدې لولی. هغه په رښتیا باندې دانعام مستحق دی

د"نژدې وه چې نبیان شوي وای، ، معنا

سوال: حدیث شریف کې دي چې دیوې ډلې څه خلک دحضور ﷺ خدمت ته حاضرشول. دهغوی دصفتونو اوریدو سره حضور ﷺ وفرمایل چې "عجیبه به نه وه چې نبیان شوي وای. دخپل زوی حضرت ابراهیم علیه السلام باره کې یې هم داسې فرمایلي و. که ژوندی پاتې شوی وای نونبي به و. سوال دادی چې کله دحضور ﷺ نه وروسته نبي نشته نو "نژدې ده چې نبیان شوي وای، ، نه څه مراد دی؟

جواب: عجیبه نه ده چې نبیان شي. داترجمه غلطه ده، دحدیث شریف الفاظ دادی. حکماء علماء کادوامن فقههم ان یکونوا انبیاء. عالمان. دحکمت والاخلک دی اونژدې وه چې هغوی دخپلې فقې په وجه باندې نبیان شوي وای. عربي ژبه کې داسې الفاظ دچاپه مینه کې دډیرې مبالغې په طورباندې استعمالیږي. دحقیقت خلاف استدلال کول صحیح نه دي. ځکه چې دهغه ژوندي پاتې کیدل ممکن نه و. نونبي کیدل به یې څه ممکن و، که چیرې نبوت دهغه په په تقدیرکې وای نوهغه به ژوندی پریښودل شوی و. خونبوت ممکن نه و. په دې وجه باندې ژوند دهغه په برخه نه شو. دزوی باره کې یې فرمایلي و: "که چیرې ابراهیم ژوندی وای نوصدیق نبي به و. داروایت هم ډیرکمزوری دی. بیادلته تعلیق بالمحال دی. دابحث زماپه رساله "ترجمه خاتم النبین. کې په صفحه ۲۷۷ او ۲۷۸ باندې راغلی دی. هغه دلته نقل کوم:

اسماعیل بن ابی خالدوایي چې ماداېن ابی اوفی رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چې ایا تاسو د حضور ﷺ زوی حضرت ابراهیم رضی الله عنه لیدلی دی؟ وې فرمایل: **مات صغیرا، ولوقضی ان یکون بعد محمد ﷺ نبي عاش ابنه، ولکن لانبي بعده.** یعني هغه په ماشوموالي کې وفات شوی واو که چیرې دالله تعالی دافیصله وای چې دحضور ﷺ نه وروسته به بل نبي راځي، نود حضور ﷺ زوی به ژوندی وای، خود حضور ﷺ نه وروسته بل نبي نشته (په دې وجه باندې یې زوی هم ژوندی پاتې نه شو. (صحیح بخاري باب من سمي باسماء الانبیاء ج ۲ ص ۹۱۴)

اوهمدغه حضرت ملاعلي قاری ګڼلي دي. هغه په موضوعات کبری کې دابن ماجه دحدیث لوعاش ابراهیم..... الخ، په تشریح کې لیکلی:

الاان فی سنده ابوشیبة ابراهیم بن عثمان الواسطي، وهوضعیف لکن له طرق ثلثة یقوي بعضها بعضا، ویشیرالیه قوله، تعالی: ماکان محمداباأحدمن رجالکم ولکن رسول الله خاتم

النبين، بانه لم يعش له ولد يصل الى مبلغ الرجال. فان ولده من صلبه يقتضى ان يكون لب قلبه، كمايقال، الولدسرلابيه. ولوعاش وبلغ اربعين،وصارنبياً لزم ان لايكون نبياخاتم النبين،(موضوعات کبری حرف، ''لو، ص ٦٩ مطبوعه مجتبائي قديم)

ترجمه: ددې حديث دسند يوروايت کونکی ابوشيبه ابراهيم بن عثمان الواسطي ضعيف دی. خودهغه درې طريقې دې. چې ديو بل تاييد کوي اودالله تعالى ارشاددی: وخاتم النبين، الاية. هم دې طرف ته اشاره کوي. چې دحضور ﷺ يوزوی هم ژوندی پاتې نه شو. کوم چې دبالغ سړيوعمرته ورسيږي.خکه چې د حضور ﷺ زوی.دحضور ﷺ له شامبارکې څخه واودا خبره ددې غوښتنه کوله چې هغه دحضور ﷺ دزړه مغز،يعني دحضور ﷺ د کمالاتو اوخصوصياتو مجموعه) و.څنګه چې مشهورمتل دی چې: زوی دپلارپه شان وي. اوس که چېرې هغه ژوندی وای اودڅلوېښتو کالو عمرته رسيدلی وای اونبي شوی وای. نو نبي عليه السلام به خاتم النبيين نه و پاتې شوی.

د ملاعلي قاري رحمه الله پورته بيان شوې تشريح نه داخبره واضحه شوه چې:

الف: ايت خاتم النبين کې دختم نبوت داعلان بنياد د(ابوة) په نفي باندې ايښودلو سره دې طرف ته اشاره شوې ده چې دحضور ﷺ نه وروسته که چېرې موږ چاته نبوت ورکولی نوموږبه دحضور ﷺ زامن ژوندي ساتلي وواوهغوی ته به مودامنصب ورکړی و.خو حضور ﷺ باندې دنبوت سلسله ختمه شوه، له دې وجې د حضور ﷺ زامن ژوندي پاتې نه شول اونه حضور ﷺ دبالغو زامنو پلارشو.

ب: هم دامضمون دحديث لوعاش ابراهيم لکان صديقانبيا، هم دی. يعني دحضور ﷺ نه وروسته که چېرې دنبوت ګنجايش وای نوهغه له پاره به دحضور ﷺ زوی ژوندی ساتل شوی وای، اوهغه به نبي وای.دې حديث موږته بيان کړل چې ابراهيم رضي الله عنه په دې وجه باندې نبي نه شوچې دحضور ﷺ نه وروسته دنبوت دروازه بندشوه.که چېرې داسې نه وای نوهغه به ژوندی وی اوصديق نبي به و.

د حضور ﷺ د جنازې لمونځ څنګه شوی و؟

سوال: دحضور ﷺ دجنازې دلمونځ امامت چاکړی و؟ تفصيل سره وليکئ چې دحضور ﷺ دجنازې لمونځ کوم ترتيب سره شوی و؟

جواب: حاکم(ج٣ص ٦٠) دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دی چې موږدرسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه يارسول الله! ستاسودجنازې لمونځ به څوک کوي؟ حضور ﷺ وفرمايل: چې زما له کفن نه فارغ شئ. نوځه وخت له پاره دحجرې نه باندې ووځئ.دټولونه مخکې به جبريل زماد جنازې لمونځ کوي.بيامیکائيل.بيااسرافيل.بياملک الموت. بيا

تېولې فرښتې. له هغه نه وروسته زما داهل بیت سړي. بیا داهل بیت ښځې او بیا تاسو ټول ډلې ډلې ما باندې صلوة او سلام ولولئ [۱]

هم د دې وصیت مطابق د حضور ﷺ د جنازې لمونځ وکړل شو. دې لمونځ کې څوک امام نه و بلکې صحابه کرام رضی الله عنهم به ډلې ډلې د حضور ﷺ حجرې ته داخلیدل او صلوة او سلام به یې کاوه. هم دا د حضور ﷺ د جنازې لمونځ و [۲]. دابن سعد رضی الله عنه په روایت کې دي چې حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر رضی الله عنهما یوې ډلې سره حجرې ته ننوتل او د جنازې لمونځ یې وکړ [۳] دغه شان د یریش زره سړو او ښځو د حضور ﷺ د جنازې لمونځ وکړ. د دې مسئلې تفصیل د حضرت مولانا محمد یوسف کاندهلوي رحمه الله په کتاب "سیرة المصطفی ﷺ (ج۳ ص۱۸۷) کې او زما کتاب 'عهد نبوت کے ماه وسال' کې لوستلی شئ.

د حضور ﷺ د جنازې لمونځ چا ورکړی و؟

سوال: د حضور ﷺ د جنازې لمونځ شوی و او که نه؟ او د حضور ﷺ د جنازې لمونځ چا ورکړی و؟ مهرباني وکړئ او ځواب راکړئ. ځکه چې نن سبا دا مسئله زموږ ترمینځه د لوی بحث وذریعه جوړه شوې ده.

جواب: د حضور ﷺ د جنازې لمونځ د عام دود پشان جماعت سره نه و شوی او نه څوک امام جوړ شوی و. ابن اسحاق وغیره د اهل سیر نه نقل کړي دي چې تجهیز او تکفین نه وروسته د حضور ﷺ جنازه مبارکه په حجره شریفه کې کینبودلی شوه اول سړي راغلل او ډلې ډلې لمونځ یې وکړ، بیا ښځو او بیا ماشومانو [۴].

۱] عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال : لما ثقل رسول الله صلى الله عليه وسلم قلنا : من يصلي عليك يارسول الله فبكى وبكينا وقال: « مهلا ، غفر الله لكم ، وجزاكم عن نبيكم خيرا ، إذا غسلتموني وحنطتموني وكفنتموني فضعوني على شفير قبري . ثم اخرجوا عني ساعة ، فإن أول من يصلي علي خليلي وجليسي جبريل وميكائيل ، ثم إسرافيل ، ثم ملك الموت مع جنود من الملائكة ، ثم ليبدأ بالصلاة علي رجال أهل بيتي ، ثم نساؤهم،ثم ادخلوا أفواجا أفواجا وفرادى (المستدرک للحاكم ج:۳،ص: ٦٠ طبع دارالكتاب العربى، بيروت)

۲]لما توفى رسول الله صلى الله عليه وسلم وضع على سريره فكان الناس يدخلون عليه زمراً زمراً يصلون عليه ويخرجون ولم يؤمهم احد (طبقات ابن اسعد ج:۲،ص: ۲۸۸) وايضاً كما قال صلى الله عليه وسلم فصلى على صلى الله عليه وسلم اولاً.....فصلوا كلهم افذاذاً منفردين لا يؤمهم احد (بذل القوة ص:۲۹۹)

۳]لما كفن رسول الله صلى الله عليه وسلم ، وضع على سريره ودخل ابوبكر وعمر فقالا: السلام عليك ايهاالنبى ورحمة الله وبركاته، ومعهما نفر من المهاجرين والانصار قد ما يسع البيت فسلموا كما سلم ابوبكر وعمر وصفوا صفوفا لا يؤمهم عليه احد ..... (طبقات ابن اسعد ج:۲، ص: ۲۹۰)

٤]وقال محمد بن اسحاق لما مات رسول الله صلى الله عليه وسلم ادخل الرجال فصلوا عليه بغير امام ارسالاً حتى فرغوا ثم ادخل النساء فصلين عليه ثم دخل الصبيان فصلوا عليه ... .

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

حضرت حکیم الامت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه په نشر الطیب کې لیکي
په ابن ماجه کې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه روایت دی چې د حضور صلى الله عليه وسلم جنازه له تیاریدو نه وروسته کیښودل شوه اول سړي راغلل په ډلې ډلې یې لمونځ وکړ، بیا ښځې راغلې. بیا ماشومان راغلل او په دې لمونځ کې څوک امام نه و. (نشر الطیب ص: ۲۴۴ مطبوعه تاج کمپني)

علامه سهیلي ..الروض الانف.. (ج: ۲ ص: ۳۷۷ مطبوعه ملتان) کې لیکي.. دا د حضور صلى الله عليه وسلم خصوصیت و او دا د حضور صلى الله عليه وسلم په حکم باندې شوي و او د ابن مسعود رضي الله عنه روایت دی چې حضور صلى الله عليه وسلم د دې وصیت کړی و.[1] ..

علامه سهیلي دا روایت د طبراني او بزار په حوالې سره. حافظ نورالدین هیثمي په مجمع الزوائد (ج: ۹ ص: ۲۵) کې د بزار او طبراني[2] په حوالې سره او حضرت تهانوي رحمة الله عليه په نشر الطیب کې دواړو په حوالې سره دا روایت نقل کړی دی او الفاظ یې دا دي:
,, موږ عرض وکړ: یارسول الله! په تاسو باندې به جنازه څوک کوي؟ وې فرمایل کله چې د غسل او کفن نه فارغ شئ نو زما جنازه د قبر سره خواکې کیږدئ او لرې شئ اول به ملایکې د جنازې لمونځ کوي، بیا تاسو ډلې ډلې راځئ او لمونځ کوئ اول دې د اهل بیت سړي لمونځ وکړي بیا د هغوی زنانه بیا تاسو خلک..

په سیرة المصطفی صلى الله عليه وسلم کې د طبقات ابن سعد په حوالې سره د حضرات ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د یو ډلې سره د لمونځ کول نقل دي.

...بقیه د تیر مخ].. لم یؤمهم علی رسول الله صلی الله علیه وسلم احد ، وقال الواقدی لما ادرج رسول الله صلی الله علیه وسلم فی اکفانه وضع علی سریره ثم وضع عی شفیر حفرته ثم کان الناس یدخلون علیه رفقاء لا یؤمهم علیه احد (البدایه والنهایه ج:۵.ص: ۲۶۵ کیفیة الصلوة علیه صلی الله علیه وسلم وایضاً فی الروض ج:۲،ص: ۳۷۷)

[1] وذکر ابن اسحاق وغیره ان المسلمین صلوا علیه افذاذاً لا یؤمهم احد، کلما جاءت طائفة صلت علیه وهذا خصوص به صلی الله علیه وسلم ولا یکون هذا الفعل الا عن توقیف وکذلک روی انه اوصی بذلک ذکره الطبری مسند .... وقد رواه البزار ایضاً عن طریق مرة عن ابن مسعود .....الخ (الروض الانف ج:۲.ص: ۳۷۷ کیف صلی علی جنازته علیه السلام طبع ملتان)

[2] د مجمع الزوائد عبارت دا دي: فقلنا : فمن یصلی علیک منا ؟ فبکینا وبکی وقال ..... اذا غسلتمونی وضعتمونی علی سریری فی بیتی هذا علی شفیر قبری فاخرجوا عنی ساعة فان اول من یصلی علی خلیلی وجلیسی جبریل ..... ثم الملائکة صلی الله علیه وسلم ، ثم ادخلوا علیّ فوجاً فوجاً فصلوا علی وسلموا تسلیماً .... ولیبدا بالصلوة علی رجال اهل بیتی ثم انتم بعد .... رواه البزار .... وراه الطبرانی فی الاوسط بنحوه (مجمع الزوائد ج:۸.ص: ٤٢٧ باب فی وداعه صلی الله علیه وسلم . طبع دارالکتب العلمیة بیروت)

د حضور ﷺ د جنازې لمونځ او تدفین څنګه وشو او خلافت څنګه فیصله شو؟

سوال: دنبي اکرم ﷺ د وفات نه وروسته د هغه جنازه چا وکړه؟ او د حضور ﷺ په تدفین او غسل کې کوموکومو حضراتو برخه واخسته؟ او د حضور ﷺ نه وروسته د خلافت په منصب باندې څوک مقرر شو او آیا دا فیصله په اتفاق سره شوې وه؟

جواب: ۳۰ صفر (اخري هفته) باندې د حضور ﷺ د مرض الوفات پیل وشو[۱]. په ۸ ربیع الاول باندې د زیارت په ورځ په ممبر باندې تشریف فرماشو او ډیر و امورو په باره کې یې تاکید او نصیحت وکړ[۲]. په ۹ ربیع الاول د جمعې په شپه یې مرض سخت شو او درې ځله بې هوشه شو. له دې وجې نه یې جومات ته ولاړ نه شو او درې ځله یې وفرمایل چې: ابوبکر ته ووایئ چې خلکو ته لمونځ ورکړي. دا لمونځ حضرت ابوبکر رضی الله عنه ورکړ او باقي درې ورځې هم هغه امامت وکړ. د حضور ﷺ په ژوند مبارک کې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د اوولسو لمونځونو امامت وکړ. د کوم سلسله چې د ماسخوتن د لمونځ نه شروع شوه او په ۱۲ ربیع الاول د دوشنبې په ورځ د سحر په لمانځه باندې ختمه شوله[۳].

د مریضۍ په ورځو کې یوه ورځ د حضرت عائشې صدیقې رضی الله عنها په کور کې (چې بیا روسته د حضور ﷺ اخري آرام ګاه هم جوړ شو) اکابرو صحابه کرامو ته یې نصیحت وفرمایلو:

۱] فصل فی حوادث السنة الحادیة عشرة من الهجرة ..... وفیها مرض رسول الله صلی الله علیه وسلم فی آخر الاربعاء من صفر، وکان ذلک الیوم ثلثین من شهر صفر المذکور ..... وکانت مدة مرضه صلی الله علیه وسلم ثلاثة عشر یوماً علی القول المشهور الذی علیه الاکثرون (بذل القوة فی حوادث سنی النبوة ص:۲۹۶ طبع جامعة السند حیدرآباد پاکستان)

۲] وفیها فی ایام ذلک المرض خرج الی المنبر فخطب علیه قاعداً لعذر المرض واخبر فیها بامور کثیرة تحتاج الیه الامة وکانت تلک الخطبة یوم الخمیس الثامن من شهر ربیع الاول (بذل القوة ص:۲۹۸ طبع جامعة السند ،حیدرآباد پاکستان)

۳] وفیها لما اشتد علیه صلی الله علیه وسلم المرض لیلة الجمعة التی هی التاسعة من شهر ربیع الاول فاغمی علیه صلی الله علیه وسلم ثلاث مرات ، ولم یستطع الخروج الی صلوة العشاء ، قال ثلاث: مروا ابابکر فلیصل بالناس، فصلی ابوبکر رضی الله عنه مقام النبی صلی الله علیه وسلم تلک العشاء ، ثم لم یزل هم الصلوة الخمیس فی تلک الایام الثلاثة الباقیة حتی کانت صلوة ابی بکر رضی الله عنه التی صلاها بهم فی حیاته صلی الله علیه وسلم سبع عشر صلوة ، مبداها صلوة العشاء من لیلة الجمعة ومنتهاها صلوة الفجر من یوم الاثنین الثانی عشر من شهر ربیع الاول (بذل القوة فی حوادث سنی النبوة ص:۳۰۰ طبع جامعة السند ،حیدرآباد پاکستان)

..د وفات نه وروسته ما ته غسل راکړئ او کفن راواغوندئ. او زما کټ د قبر په خوا کې (چې په هم دې کور کې به وي) کېږدئ او دلږ ساعت له پاره باندې ووځئ. زما جنازه به اول جبرائیل ﷺ وکړي، بیا میکائیل ﷺ. بیا اسرافیل ﷺ. بیا عزرائیل ﷺ. د هریو سره به د فرښتو عظیم لښکرونه وي. بیا زما داهل بیت سړي. بیا ښځې. له امام نه پرته (ځانته ځانته) بیا تا سو خلک ډلې ډلې راشئ او ځانته ځانته لمونځ وکړئ.

د هم دې وصیت مطابق عمل وشو اول ملایکو د حضور ﷺ جنازه وکړه. بیا د اهل بیت سړیو. بیا ښځو. بیا مهاجرینو. بیا انصار. بیا ښځو. بیا ماشومانو. ټولو ځان ځان ته لمونځ وکړ. او هیڅ یو کس امام نه و[۱].

حضور ﷺ ته غسل حضرت علي کرم الله وجهه ورکړ. حضرت عباس او د هغه زامنو فضل او قثم رضی الله عنهم د هغه مدد کاوو. بل داچې د حضور ﷺ د په غسل کې دوو ازاد شویو غلامان حضرت اسامه بن زید او حضرت شقران رضی الله عنهما هم شریک وو. حضور ﷺ درې سخولي (د سخول نه جوړ شوي) کپړو کې کفن ورکړل شو[۲].

د حضور ﷺ د وفات په ورځ (۱۲ ربیع الاول) په سقیفه بني ساعده کې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په لاس باندې د خلافت بیعت وشو. اول د خلافت په مسئله باندې مختلفې رایې وړاندې شولې. خو د معمولي بحث نه وروسته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په انتخاب باندې اتفاق وشو او ټولو اهل حل وعقد د هغه په لاس باندې بیعت وکړ[۳].

۱] وفيها فى ايام مرضه صلى الله عليه وسلم وكونه صلى الله عليه وسلم فى بيت عائشة رضى الله عنها اوصى لاصحابه فقال : اذا انا مت فاغسلونى وكفنونى واجعلونى على سريرى هذا ، على شفير قبرى فى بيتى هذا ثم اخرجوا عنى ساعة فالاول من يصلى على جبريل ثم ميكايل ثم اسرافيل ثم ملك الموت كل واحد منهم بجنوده ... ثم يصلى على رجال اهل بيتى ثم ادخلوا انتم فوجاً فوجاً فصلو على فوقع كما قال صلى الله عليه وسلم فصلى عليه صلى الله عليه وسلم اولاً الملائكة عليهم السلام ثم رجال اهل بيته ثم نسائهم ثم رجال المهاجرين ثم الانصار ثم النساء ثم الغلمان فصلوا كلهم افذاذاً منفردين لا يؤمهم احد (بذل القوة ص : ۲۹۹ وايضاً الروض الانف ج:۲،ص: ۳۷۷)

۲] وفيها وقع انه لما توفى صلى الله عليه وسلم غسله على وحضر معه العباس وابناه الفضل وقثم ومولیا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورضى عنهما اسامة وشقران (بضم الشين المعجمة وسكون القاف) رضى الله عنهم وكفن فى ثلاثة اثواب بيض سهولية (بذل القوة ص:۳۰۳)

۳] فلما مات صلى الله عليه وسلم فجاء الصديق من منزله حين بلغه الخبر فدخل على رسول الله صلى الله عليه وسلم منزله، وكشف الغطاء عن وجهه وقبله وتحقق أنه قد مات ورجع الناس كلهم إليه وبايعه في المسجد جماعة من الصحابة ووقعت شبهة لبعض الانصار وقام في أذهان بعضهم جواز استخلاف خليفة من الانصار وتوسط بعضهم بين أن يكون أمير من المهاجرين وأمير من الانصار. حتى... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

حضرت سوده رضي الله عنها ته د طلاق ورکولو د ارادې حکمت

سوال: یو سړی که چېرې خپلې ښځې ته په دې وجه باندې طلاق ورکړي چې هغه بوډۍ شوې ده. او دهغه قابل نه ده پاتې شوې. دې خبرې ته څوک هم د استحسان په نظر نه ګوري. یو روایت کې دي چې حضور ﷺ حضرت سوده رضي الله عنها ته د هغې د بوډۍ والي په وجه باندې طلاق ورکول وغوښتل. بیا کله چې حضرت سوده رضي الله عنها خپل نمبر حضرت عائشې رضي الله عنها ته ورکړ. نو حضور ﷺ خپله اراده بدله کړه. دا خبره د حضور ﷺ ذات مبارک سره مناسبه نه ښکاري او د مخالفینو دې اعتراض ته چې نعوذبالله د بیبیانو تعدد د شهوت پوره کولو له پاره و مضبوطوالی ورکوي .سره له دې چې حضور ﷺ د کونډو او یتیمانو مدد کونکی ګڼل کیږي

جواب: عربو کې طلاق دومره بدنه ګڼړل کیږي.څومره چې زموږ ټولنه(معاشره) کې ګڼل کیږي.دې نه پرته د حضور ﷺ باره کې **ترجی من تشاء منهن وتووي الیک من تشاء** فرمایلو سره حضور ﷺ ته د ساتلو او نه ساتلو اختیار ورکړل شول و.په دې وجه باندې د حضور ﷺ له چانه د بېلیدو فیصله باندې چا ته هم د اعتراض کولو اختیار نشته او د ښځې خاوند ژوندیو اځې د شهوت پوره کولو له پاره نه وي.مینه او محبت د دې اهم مقصد و نه دی. ممکن کیدای شي چې یو بي بي سره مینه پاتې نه شي او د طلاق فیصله وکړل شي او حضرت عائشې رضي الله عنها ته خپل نمبر ورکول او د هغې په حق کې خپل ټول حقونه پرېښودل د حضرت سوده رضي الله عنها قرباني وه او د هغې په وجه باندې حضور ﷺ خپله فیصله بدله کړه[1]. دې باندې به مې له دې نه زیاتې خبرې کړې وې خو دلته یواځې اشاره کافي ده.

رَحمَةٌ للعَالَمین او بَد دُعاء

سوال: د روزنامه جنګ په اسلامي صفحه باندې یو مضمون لیکل شوی و چې "بئرمعونه کې په دوکې سره شهیدان شوي او یا کسان ټول اصحاب صفه وو.دهغه د پېښې له وجې نبي علیه السلام دومره غمجن شو چې پرلپسې یوې میاشتې پورې یې د سهار په لمانځه کې د هغوی د قاتلانو په حق کې ښېرې کولې".

...بقیه د تېر مخ]... بین لهم الصدیق أن الخلافة لا تکون إلا في قریش فرجعوا إلیه وأجمعوا علیه کما سنبینه وتنبه علیه (البدایه والنهایه ج:۵،ص: ۲۴۴) تفصیل له پاره او ګورئ البدایه والنهایه ج:۵،ص: ۲۴۵ تا ۲۵۰ _ قصة سقیفة بني ساعدة_

۱] عن عائشة رضی الله عنها ان سودة لما کبرت قالت : یا رسول الله ! قد جعلت یومی منک لعائشة فکان رسول الله صلی الله علیه وسلم یقسم لعائشة یومین ،یومها ویوم سودة متفق علیه(مشکوة ص:۲۷۹ باب القسم)

داخو هغه الفاظ دي چي ما ستاسو له اخبارنه ليکلي دي. دهغه چا اړوند چي الله تعالی د رحمة للعالمين پشان القابو سره په قران کريم کې مخاطب کړی دی هغه کله دچا په حق کې د ښېرو له پاره لاس اوچتولی شي؟ ايا په دې خبره يو عقلمن باور کولی شي؟

زه د سعوديه ګرلز کالج د بی اې طالبه يم. زما دنظرنه هم مختلف اسلامي کتابونه تيرشوي دي زما ذهن داخبره نه قبلوي اوکومه خبره چي غلطه وي هغه دهيڅچا ذهن نشي قبلولی چي نبي عليه السلام کله هم دچا په خق کې ښېرې کړی دي؟ هغه ﷺ سره خلکو کوم کوم سلوک ونکړ چي هغه ﷺ به په کومه لاره باندې تيريدی خلکو به پرې ګندګي اچوله اوهغه ﷺ به يې د طائف په کوڅوکې راکښلو يوځل خوخلکو تردې پورې ورسره وکړل چي هغه ﷺ يې دومره په کاڼو وويشت چي په وينوکې رنګ بنګ شواوپښې مبارکې يې په پڼو کې دزياتووينو له وجې بندې وې. بيا هم هغه ﷺ دبدبختو په حق کې ښېرې نه دي کړي. بلکې چي کله به هم خلکو هغه ﷺ ته تکليف رساوو. نو فرمايل به يې "اې الله! دوی ته هدايت وکړې او پوه يې کړې چي زه څوک يم".

يوطرف ته خوشاه صاحب ليکي چي اويا(۷۰) معلمين په دوکې سره شهيدان شول او وړاندې وايي چي نبي عليه السلام ددې قاتلانو په حق کې ښېرې وکړې. ايا دوی ته دا نه ده معلومه چي کوم خلک شهيدان شي هغوی کله هم نه مري بلکې هميشه ژوندي وي نوچاته چي دشهادت درجه ورکړل شوې وي دهغوی قاتلان به پخپله د دوزخ په اورکې غورخول کيږي هغوی له پاره دښېروڅه ضرورت دی؟ اوهغه هم رحمة للعالمين دسهار په لمانځه کې ديوې مياشتې پورې وکړې. ايا شاه صاحب (نعوذبالله) نبي عليه السلام دسهار لمانځه نه وروسته مسلسل په ښېرو کولو وليده يايې په کوم کتاب کې حديث له نظر نه تيرشوی دی. حواله خودې ورکړې چي زه يې پخپله هم ولولم زما هم مضمون اسلاميات دی ما هيڅکله هم داسې نه دي لوستلي.

جواب: په بئر معونه کې د اوياو قاريانو دشهادت واقعه دحديثو، تاريخ اوسيرت په ټولو کتابونو کې موجود دهاو دنبي عليه السلام تر يوې مياشتې پورې دسهار په لمانځه کې قنوت نازله لوستله او هغو کافرانو ته چاچي دا حضرات په دوکه شهيدان کړي وو. ښېرې کول دصحيح بخاري، صحيح مسلم، ابوداؤد، نسائي او دحديثو په نورو کتابونو کې موجود دي[۱]. په دې ستاسو انکار غلط دی. باقی ستاسو دا شبه چي نبي کريم ﷺ خو رحمة للعالمين و هغه

---

[۱] عن أنس رضي الله عنه قال: بعث النبي صلى الله عليه و سلم سبعين رجلا لحاجة يقال لهم القراء فعرض لهم حيان من بني سليم رعل وذكوان عند بئر يقال لها بئر معونة فقال القوم والله ما إياكم أردنا إنما نحن مجتازون في حاجة للنبي صلى الله عليه و سلم فقتلوهم فدعا النبي صلى الله عليه و سلم شهرا في صلاة الغداة....الخ (صحيح بخاري ج:۲، ص: ۵۸۶ باب غزوة الرجيع ورعل وذكوان وبئرمعونه)

څنګه ښېرې کولې ؟ ستاسو خيال هم دېې وزنه قياس پيداوار دی. ايا تکليف رسونکي قتلول هغوی ته سزا ورکول او تکليف ورکول رحمت نه دی. ايا د رحمة اللعالمين شفيق رحيم زړه ته به د دې مظلومو شهيدانو په مظلومانه شهادت باندې تکليف نه وي رسيدلی؟ تاسو خو ماشاءالله دېې اې طالبه يې. تاسو ته دې معلومه وي چې په غلو. ډاکوانو. غنډه ګانو او بدمعاشانو. باندې سختي کول عين رحمت دی او په هغوی باندې خفه کيدل د رحمت خلاف دي. د شيخ سعدي رحمه الله په قول.

نيکوئی با بدان کردن چنان است که بد کردن بجائ نيک مردان

ترجمه: بدانو سره نيکي کول داسې دي لکه د ښو خلکو سره بدي

پاتې شود داچې د شهيدانو قاتلان خو پخپله دوزخ ته ځي هغوی ته د ښېرو کولو څه ضرورت دی؟ د دې معنا خو داده چې د قاتل خلاف دې په عدالت کې استغاثه ونکړل شي ځکه چې ستاسو په قول هغه به پخپله د خپلو کړو سزا مومي او که چېرې ستاسو په نزد د يو قاتل خلاف په عدالت کې استغاثه جائز وي او دا خلاف رحمت نه وي نو که چېرې نبي عليه السلام د الله تعالی په دربار کې د دې قاتلانو خلاف استغاثه کوي نو دا تاسو ته ولې غلط په نظر راځي؟ شهيدان بيشکه په جنت کې ژوندي دي او لوړو مرتبوته رسيدلي دي. خو د دې دا معنا نه ده چې د يو شهيد په مظلومانه شهادت باندې موږ ته غم او خفګان هم نه دی پکار. د دې واقعې نه تاسو ډېرې ناپوهې په وجه انکار کوئ. خو د دې به څه توجيه کوئ چې په قران کريم کې د حضرت نوح عليه السلام [1]. حضرت موسی عليه السلام او د نورو بعضو انبياء کرامو عليهم السلام ښېرې نقل شوي دي ټولو پيغمبران د رحمت يوه ذريعه وي. له دې سره سره د کافرانو. بې ايمانو. موذيانو او ضرر ورکونکو خلاف د الله په دربار کې استغاثه کوي

تاسو د طائف د واقعې ذکر کړی دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې کاڼي اوورول شو. خو بيا هم هغه صلی الله عليه وسلم ښېرې ونکړې. تاسو به شايد د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث لوستلی وي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم کله هم خپله ذاتي بدله نه ده اخستې خو چې کله به د الله حدود ماتېدل ؛نو د هغه صلی الله عليه وسلم د غوسې به چا طاقت نه لاره" [2]. د طائف واقعه د نبي عليه السلام د ذات سره متعلق وه. هلته د صبر مجسم تصوير جوړ شو. او د بئر معونه واقعه د الله د حدودو د ماتولو. د وعدې د ماتولو

---

[1] قال نوح رب لا تذر على الارض من الكافرين ديارا (نوح :۲۶) ربَّنا اطْمِسْ علي امْوالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلي قُلُوبِهِمْ فلا يؤمنُوا حتّي يرَوُا الْعَذاب الْاليم (يونس :۸۸)

[2] عن عائشة رضى الله عنها قالت : ما ضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئاً قط بيده ولا امراة ولا خادماً الا ان يجاهد فى سبيل الله وما نيل منه شئ قط فينتقم من صاحبه الا ان ينتهک شئ من محارم الله فينتقم الله رواه مسلم (مشكوة ص: ۵۱۹)

اودمسلمانانو په ظلم دشهادت واقعه ده.په دې باندې دنبي عليه السلام بې ارامي او بيقراري اودالله تعالى ته يې نه ختمېدونكې فرياد دخپل ځان له پاره نه و چې تاسوددې له پاره دطائف مثال وړاندې كړى دى.دلته چې كوم څه و هغه ديني غيرت او دغه مظلومانوباندې دشفقت اظهار و.

غرض دا چې دبئر معونه واقعه صحيح ده. اودداسې ضرر وركونكو له پاره ښېرې كول دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دشان رحمة للعالمين خلاف نه دى.بلكې په خپل ځان كې داهم درحمت اوشفقت مظهر دى.

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره محبت او د الله تعالى ناراضگي

سوال: زموږ په ځاى كې يوصوفي پيردى يوه ورځ هغه ماته او زمايودوست ته وويل چې يوه ښائسته انجلۍ وي چې له هغه سره يو هلك محبت كوي اوته هم دهغه سره محبت شروع كړې نونتيجه به يې څه وي؟ موږ وويل چې انجام به يې جنگ او دښمني وي، نو هغه وويل ښكاره خبره ده چې كوم هلك دې انجلۍ سره محبت كوي ،نوهغه كله دا غواړي چې زمادمحبوبې سره دې څوك محبت وكړي بيايې وويل چې تاسودخپل رسول صلى الله عليه وسلم محبت مه كوئ ځكه چې دهغه صلى الله عليه وسلم سره الله تعالى محبت كوي اوتاسوچې كله دنبي كريم صلى الله عليه وسلم سره محبت كوئ نو الله پاك به ستاسودښمن شي، هغه به څنگه وغواړي چې زمادمحبوب سره دې بل څوك محبت وكړي.ددې باوجودهم كه څېرې بنده يې ونه مني.نو الله پاك ورته پوره سزا وركوي،كه څېرې دسزا وركولونه وروسته هم بنده دخپل نبي سره محبت كوي. نو بياالله تعالى دخپل بنده مخكې شكست تسليموي.يعنې الله پاك دبنده په مخكې ښكته شي.ددې وضاحت وكړئ چې دا انسان دكومې عقيدې خاوند دى؟

جواب: داصوفي صاحب بې علمه اوناخبره دى دهغه دا وينا چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره كه څېرې موږمحبت وكړو ، نو الله پاك به زموږ سره دښمن شي اوسزابه راكوي.دادكفرخبره ده اودهغه داخبره چې الله تعالى دخپل بنده په مخكې شكست تسليموي داهم دكفرخبره ده[1]، داسې بې دينه اوجاهل سره كيناستل نه دي پكار.

---

[1] وصح الاجماع على ان كل من جحد شيئاً صح عندنا بالاجماع ان رسول الله صلى الله عليه وسلم اتى به فقد كفر، وصح بالنص ان كل من استهزا بالله تعالى ...... او بنبي من الانبياء عليهم السلام او بآية من القرآن الكريم او بفريضة من فرائض الدين .... فهو كافر (اكفار الملحدين ص: ٦٤)

د نبي كريم ﷺ د نوم سره يواځې "ص" ليكل

سوال: څه موده وړاندې يوصاحب ستاسونه پوښتنه کړې وه چې څه خلک په انګلش کې لفظ د"محمد "Mohammad" د ليکلو په ځای يواځې "Mohd" ليکي اووايي چې موږ محمدپه لنډو الفاظوکې وليکو،ددې په ځواب کې تاسوفرمايلي و چې دانګريزانوپه نزدباندې د"محمد" دلفظ اهميت که هرڅومره کم وي خو ديومسلمان له پاره د"الله" دلفظ نه وروسته په ټولو ذخيره الفاظوکې اهم لفظ د"محمد" دی. ددې لفظ دکمولو مطلب خو دادی چې د ليکونکی نعوذبالله له دې لفظ نه نفرت لري.دمحمد دلفظ دکمولورواج غالبا دفرنګيانو سازش دی اومسلمان ددې مسئلې د سختي نه خبرنه دی"Mohammad" په ځای"Mohd" (موهډ) يو مهمل اوبې معنا لفظ دی اودنبي کريم ﷺ نوم مبارك په يومهمل اوبې معنا لفظ کې بدلول ديومسلمان له پاره بالکل جائزکيدای نشي. ددې سره سره تاسوداهم فرمايلي وچې څه حضرات يواځې "ايم" ليکي، داهم انګريزي فيشن دی.

زمامحترمه! مادامسئله اوستاسوځواب زيات نه زيات ناخبره خلکوته درسولوکوشش وکړ چې دهغه په نتيجه کې څوطالبانو داوعده وکړه چې اينده به موږ محمد"Mohd" يا يواځې ايم نه ليکو،بلکې پوره حروفو"Mohammad" سره به يې ليکواوس ماته د ټنډو ادم نه دخپل يوطالب علم ورور خط راورسيد.چاچې په سکول کې دخپل نوم نه مخکې دايم ليکلونه ځان وساته،استاد صاحب ترې ددې د وجې پوښتنه وکړه،نودې طالب العلم ورته ستاسوهغه ځواب دوباره بيان کړ او ويې ويل چې يواځې ايم ليکل انګريزي فيشن دی ،ددې په ځواب کې استادانوو ويل : که چيرې محمدپه انګريزي کې دپوره ليکلوپه ځای يواځې ايم ليکل غلط دي نوبياپه اخباونواو کتابونوکې دپوره (صلی الله عليه وسلم) ليکلوپه ځای يواځې ص ليکل کيږي،ايا داصحيح دي؟

جواب: يواځې د"ص" نښه کافی نه ده بلکې پوره درود شريف ليکل پکاردي اوپه دې کې څه بخل نه کاراخستل نه دي پکار[1]،ښکاره ده چې زموږ دليکلونه د درود شريف اهميت زيات دی هغه دې ولې ونه ليکل شي؟زه چې کله هم دنبي کريم ﷺ نوم مبارك ليکم نوپوره (صلی الله عليه وسلم) ليکم اوپه دې کې کله هم بخل نه کوم،خو داخبار ليکونکي د(صلی الله عليه وسلم) په ځای يواځې "ص" ليکي.

١] وقد استحب اهل الكتابة ان يكرر الكاتب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم كلما كتبه (تفسير ابن كثير ج:٥،ص: ٢٢٧ مطبوعه رشيديه)

د نبي ﷺ او حضرت آدم علیه السلام په نومونوسره "ص" او "ع" ليكل

سوال: عام طور د نبي كريم ﷺ او د حضرت آدم علیه السلام نومونو سره "ص" او "ع" ليكل كيږي. ايا دا صحيح دي؟

جواب: پوره درود او سلام ليكل پكار دي.[۱]

د خطاب صيغې سره صلوة او سلام ويل

سوال: قران مجيد كې خوصلوا عليه راغلي دي. ايا ,,صلى الله عليك يارسول الله،، ويلو سره د درود حق ادا كيږي؟

جواب: د مخاطب صيغې سره صلوة او سلام د نبي كريم ﷺ په روضه اقدس باندې ويل پكار دي، په بل ځاى كې د غائب په صيغې سره ويل پكار دي. ځكه چې نبي علیه السلام د درود شريف كومې صيغې امت ته ښودلې دي هغه د غائب صيغې دي.[۲]

د انبياء عليهم السلام او د صحابه وو رضي الله عنهم له نومونو سره څه ليكل پكار دي؟

سوال: د اتم ټولګي د انګريزي په كتاب (انګلش ميډيم) كې يو سبق دى، "حضرت علي رضي الله عنه" او په قوس (بركيټ) كې Peace Be Upon Him ليكل شوي دي چې د (صلى الله عليه وسلم) انګلش كې ترجمه ده، همدا رنګه د فارسي د اتم ټولګي په كتاب كې حضرت علي رضي الله عنه او حضرت امام حسين رضي الله عنه سره "عليه السلام" ليكل شوي دي. اياد پيغمبرانو نه پرته د صحابه وو سره دا الفاظ استعماليداى شي؟ كه چېرې د دې ځواب منفي وي نو تاسو د خپلې رسالې په ذريعې سره دا د نصاب ادارې او د حكومت اعلى منصوبېنو ته ورسوئ!

جواب: د اهل السنت والجماعت په نزد باندې (صلى الله عليه وسلم) او (عليه السلام)

۱] وقد استحب اهل الكتابة ان يكرر الكاتب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم كلما كتبه (تفسير ابن كثير ج:۵،ص: ۲۲۷ مطبوعه رشيديه) وينبغى ان يحافظ على كتابة الصلاة والتسليم على رسول الله صلى الله عليه وسلم ولا يسام من تكراره ومن اغفله حرم حظاً عظيماً .... ويكره الاقتصار على الصلاة او التسليم والرمز اليهما فى الكتابة بل يكتبهما بكمالهما (تقريب النواوى مع التدريب ص:۲۱۷، ۲۱۸ طبع بيروت

۲] عن ابى حميد الساعدى قال: قالوا : يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ! كيف نصلى عليك؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم قولوا: اللهم صل على محمد وازواجه وذريته كما صليت على آل ابراهيم وبارك على محمد وازواجه وذريته كما باركت على آل ابراهيم انك حميد مجيد متفق عليه (مشكوة ص: ۸۶)

دانبياء كرامو له پاره ليكل كيږي[1] او د صحابو كرامو له پاره (رضى الله عنه) ليكل پكار دي[2] او د حضرت علي له نوم سره (كرم الله وجهه) هم ليكل كيږي[3]. متعلقه حضراتو ته ستا په دې تنبيه باندې له مننې سره غور كول پكار دي.

د امام نوم سره عليه السلام ليكل

سوال: ايا د انبياء عليهم السلام نه پرته د بل امام نوم سره عليه السلام ليكل صحيح دي؟ ځكه چې نن سبا د ماشومانو د سكول په كتابونو كې ځاى پر ځاى علي عليه السلام. فاطمه عليها السلام. زينب عليها السلام. امام جعفر عليه السلام ليكل شوي وي. مخكې خو به په خاص خاص كتابونو كې و. خو اوس د پنجاب ټيكسټ بك بورډ له طرف نه چاپ شويو ټولو كتابونو كې دا عبارت موندل كيږي.

جواب: د دې اكابرينو په نوم باندې عليه السلام ليكل هم د شيعه ګانو عقيده ده.

د حضور صلى الله عليه وسلم د ټولې دنيا له پاره بعثت

سوال: حضور صلى الله عليه وسلم په اوومه عيسوي صدۍ كې دې دنيا ته تشريف راوړى و. ټوله دنيا كې براعظم امريكه هم شامله ده. خو هلته د اسلام دعوت پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم. صحابه كرامو رضي الله عنهم بلكې تابعينو رحمهم الله. تبع تابعينو رحمهم الله. اوله هغونه هم ډير وروسته پورې د صوفياء كرامو په ذريعه باندې نه و رسيدلى. كله چې پنځلسمه صدۍ كې امريكه وموندل شوه. دا وومې صدۍ نه تر پنځلسمې صدۍ پورې امريكه د جهالت په تياره كې وه.
دامريكې پخواني اوسيدونكي، كوم ته چې ريډ انډين ويل كيږي. هغوى مظاهرپرست دي، هغوى د حضرت نوح عليه السلام د كوم يو زوى أولاد ي؟ ځنګه چې د ايشاء قومونو ته د سام، دافريقې قومونو ته د حام او د يورپ قومونو ته د يافث اولاد ويل كيږي.
حضرت عقبه بن نافع رضي الله عنه چې كوم وخت په بحر ظلمات كې خپل اس كوزكړ. او د ځمكې په ختميدو باندې يې خفګان ښكاره كړى و. هغه وخت كې هم د هغه ځاى نه ډيرلېرې د امريكې ځمكه موجوده وه. سوال دا دى چې د حضور صلى الله عليه وسلم د نظرنه او د صحابه كرامو رضي الله عنهم او

1] قال الجمهور من اللعماء : لا يجوز افراد غيرالانبياء بالصلوة، لان هذا قد صار شعاراً للانبياء (تفسير ابن كثير ج:٥،ص: ٢٢٨ طبع رشيديه) ايضاً : واما السلام...... ولا يفرد به غير الانبياء فلا يقال على عليه السلام (تفسير ابن كثير ج:٥،ص: ٢٢٨ طبع رشيديه)

2] ويستحب الترضى للصحابة (فتاوى شامى ج:٦،ص: ٧٥٤)

3] د بعضې علماوو نه مو اوريدلي دي چې خوارجو د دوى مبارك (رضى الله عنه) د نوم نه وروسته سود الله وجهه زيات كړي و د هغه د جواب له پاره د كرم الله وجهه عادت جوړ كړل شو. (امداد الفتاوى ج:٤،ص: ٣٧٤)

صوفياء کرامو رحمهم الله د بصیرت نه امریکه ولې پټه پاتې شوه؟

جواب: کله چې په موجوده دنیاکې د امریکې وجودنه و، نوهلته د دعوت رسولو پابندي هم نه وه، اوکله چې امریکه ومونډل شوه نوهلته دعوت هم ورسید. دکوموکارونوچې انسان پابنددی، اودکوموباره کې به چې دقیامت په ورځ دهغه نه پوښتنه کیږي. انسان ته په هغو کارونوکې فکرکول پکاردي. اودکوموکارونوچې انسان پابندنه دی. په هغو کې غوراوفکرکول بې مقصده دي. ځکه چې دهغو هیڅ نتیجه نه وي. والله اعلم.

❖ عقیده حیات النبي صلی الله علیه وسلم ❖

الحمد لله وسلام علی عبادہ الذین اصطفی. امابعد!

جناب محترم مولانامحمد یوسف لدهیانوي صاحب...،

السلام علیکم!

خواست دادی چې ما یوڅوورځې مخکې دبهینس کالونی په کمرشل ایریا کې دګول په جومات کې دقران کریم ددرس واوریده. امام صاحب دقبرپه عذاب باندې درس کې وفرمایل چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل قبر کې ژوندی دي. اوددلیلونوړاندې کولو په ترڅ کې یې وفرمایل چې حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې کوم کس زمادروضې مبارکې زیارت وکړي نودقیامت په ورځ به زه دهغه له پاره شفاعت کوم. (دمولاناصاحب تعلق دديوبندي مسلک سره دی) اوماپخپله دشیخ القران حضرت مولاناغلام احمدخان صاحب نه اوریدلي دي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفات شوی دی اوپه دې باندې حضرت صاحب یو کتاب "وفات النبي صلی الله علیه وسلم هم لیکلی دی، چې حضور صلی الله علیه وسلم ته ددنیاهیڅ علم نشته.

جناب دقران اوحدیث په رڼاکې تفصیل معلومول غواړم چې:

۱: ایاحضور صلی الله علیه وسلم په خپل قبرکې ژوندی دی؟

۲: ایادنیاوي معاملاتوکې حضور صلی الله علیه وسلم ته علم شته؟

۳: ایادرسول الله صلی الله علیه وسلم روضې مبارکې ته حاضرۍ کول ضروري دي. اودحج ټول رکنونه په مدینه منوره کې مکمل کیږي.

جواب: ستاسو په سوال کې یوڅومسئلې دتحقیق قابل دي.

۱: مسئله: مسئله حیات النبي صلی الله علیه وسلم، ده دې باره کې په یوڅو خبرو پوهیدل ضروري دي.

لومړی: داچې محل نزاع څه ده؟ داخبره خوامي ته هم پته ده چې حضور صلی الله علیه وسلم ددنیانه رخصت شوی دی اوحضور صلی الله علیه وسلم په خپلې روضې مبارکې کې دفن دی. په دې وجه حیات النبي صلی الله علیه وسلم خبرې کولو وخت کې چې داخبره ذهن کې نه وي(اونه کیدل پکاردي) چې دحضور صلی الله علیه وسلم دنیاوي ژوندیاندې خبرېږي، نه! بلکې خبره دې باندې ده چې دې دنیانه له رخصتیدو وروسته

حضور ﷺ ته چې د برزخ کوم ژوند حاصل دی، د هغه تعلق بدن مبارک سره هم دی او که نه؟
د دې تنقیح نه معلومیږي چې دلته درې شیان دي
١: د دنیا ژوند نه کیدل. ٢: د برزخ ژوند حاصلیدل.
٣: او د برزخ د ژوند د دنیاله ژوند سره تعلق کیدل یا نه کیدل.
اول دو خبروکې د چاهم اختلاف نشته، اختلاف یواځې د دریمې خبرې کې دہ، زمونږ علماء د بدن مبارک سره دیو خاص قسمه ژوند تعلق مني.
دویم: د اهل حق عقیده ده چې د قبرعذاب او ثواب حق دی. په شرح عقائد نسفي کې دي:

ومن عذاب القبرللكافرين ولبعض عصاة المؤمنين وتنعيم أهل الطاعة في القبر...وسؤال منكرونكيرثابت بالدلائل السمعية.(شرح عقائد ص٩٨)

ترجمه: کافرانو او بعضې ګناه ګارو ایماندارو له پاره د قبرعذاب او قبر کې اهل طاعت له پاره نعمتونه او ثواب ورکول او د منکر و نکیرسوال کول. دا ټول حق دي او د سمعي دلائلو نه ثابت دي.
عقیده طحاویه کې دي:

ولؤمن بعذاب القبرونعيمه لمن كان لذالك اهل، وبسؤال منكرنكيرللميت فى قبره عن ربه ودينه ونبيه، على ماجاءت به الاثارعن النبي ﷺ وعن اصحابه، والقبرروضة من رياض الجنة، وحفرة من حفرالنيران،(عقيده طحاويه ص ٢٠، ٢١، مطبوعه دارالمعارف الاسلاميه آسيا آباد بلوچستان)

ترجمه: موږ ایمان لرو چې قبرکې به عذاب او ثواب هغه کس ته وي چې د هغه حق دار وي، او منکر او نکیر په قبرکې له مړي نه سوالونه کوي، د رب، د دین او د نبي ﷺ په باره کې، د نبي کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ نه په دې باره کې حدیثونه راغلي دي ، قبر د جنت په باغونو یو باغ دی یا د دوزخ د کندونه یوه کنده ده.
د امام ابو حنیفه رحمه الله په یوې رسالې "فقه اکبر،، کې دي:

وسؤال منكرنكيرفى القبرحق، واعادة الروح الى العبدوضغطة القبروعذابه حق كائن للكفار كلهم اجمعين ولبعض المسلمين.(شرح فقه اكبر ص١٢١ ومابعد، مطبوعه مجتبائى ١٣٤٨ھ)

ترجمه: قبرکې د منکراونکیرسوال کول حق دي، او قبر کې بدن ته د روح راتلل، او مړي ته قبر کې زور ورکول او ټولو کافرانو ځینې مسلمانانو ته قبرکې عذاب ورکول حق دي، ضرور به کیږي.
د قبرپه عذاب باندې د قران کریم ایتونه او د حضور ﷺ حدیثونه راغلي دي او د سلف صالحینو، صحابه کرامو او تابعینو رضوان الله علیهم اجمعین په دې باندې اتفاق دی، په شرح عقائد کې دیو څو ایتونو او حدیثونو حوالو نه وروسته لیکل شوي دي:

وبالجملة الأحاديث فی هذاالمعنی وفی کثیرمن احوال الاخرة متواترة المعنی وان لم یبلغ آحادهاحدالتواتر.(شرح عقائدص ١٠٠ مطبوعه مکتبه خیرکثیر،کراچی)

ترجمه: حاصل داچې دقبرعذاب اوثواب اوداخرت ډېرحالات په متواترو حديثونوکې راغلي دي، اګرچې احاد دي.

دشرح عقائدپه شرح "نبراس" کې دي:

ثم قدروي احاديث عذاب القبروسوال ه عن جمع عظيم من الصحابة فمنهم عمربن الخطاب، وعثمان بن عفان، وانس بن مالک، والبراء، وتميم الداری، وثوبان، وجابربن عبدالله، وحذيفة، وعبادة بن صامت، وعبدالله بن رواحة، وعبدالله بن عباس، وعبدالله بن عمرو، و عبدالله بن مسعود، وعمروبن العاص، ومعاذبن جبل، وابوامامة، وابوالدرداء، وابوهريرة، و عائشة رضی الله عنهم، ثم روي عنهم اقوام لايحصی عددهم.(نبراس ص ٢٠٨، مطبوعه مکتبه امداديه، ملتان)

ترجمه: دقبرعذاب اودثواب حديثونه دصحابه کرامورضوان الله عنهم اجمعين ديوې لويې ډلې نه روايت شوي دي، په هغوکې دا صحابه کرام دي:

حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت انس، حضرت براء، حضرت تميم داري، حضرت ثوبان، حضرت جابر، حضرت حذيفة، حضرت عبادة، حضرت عبدالله بن رواحة، حضرت عبدالله بن عباس، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت عمروبن عاص، حضرت معاذبن جبل، حضرت ابوامامة، حضرت ابوالدرداء، حضرت ابوهريرة، حضرت عائشة رضی الله عنهم، بیاله دوی نه هم دومره خلکونقل کړي دي، چې دهغې د تعداد شمېرنشته.

امام بخاري رحمه الله دقبرعذاب په باب کې دقرآن کريم درې ايتونه اودحضور صلی الله عليه وسلم شپږحديثونه ذکرکړي دي، کوم چې ددې پنځوصحابه کرامو رضی الله عنهم نه روايت دي، حضرت براء بن عازب، حضرت عمر، حضرت عائشه، حضرت اسماء اوحضرت انس بن مالک رضی الله عنهم.(ولولئ صحيح بخاري ج١ ص ١٨٣)

ددې لاندې حضرت حافظ ابن حجرعسقلانی رحمه الله ليکي:

وقدجاء فی عذاب القبرغيرهذه الأحاديث، منهاعن ابی هريرة، وابن عباس، وابی ايوب، وسعد، و زيد بن ارقم، وام خالدفی الصحيحين اوأحدهما، وعن جابرعندابن ماجة، وابی سعيد عندابن مردوية، وعمر، وعبدالرحمن بن حسنة، وعبدالله بن عمرو عندابی داؤد، وابن مسعود عند الطحاوي، وابی بکرة واسماء بنت يزيدعندالنسائي، وام مبشرعندابی شيبة، وعن غيرهم.(فتح الباری ج٣ ص ٢٤٠، دارلنشرالکتب الاسلاميه لاهور)

ترجمه: او د قبر په عذاب کې له دې پورته ذکرشویو حدیثونو پرته نور حدیثونه هم راغلي دي، دوی کې د حضرت ابوهریره، ابن عباس، ابوایوب، سعد، زیدبن ارقم او ام خالد رضوان الله علیهم اجمعین احادیث خو صحیحین کې یاد هغو یوه کې موجود دي.

او د حضرت جابر رضی الله عنه حدیث په ابن ماجه کې دی. د حضرت ابوسعید رضی الله عنه حدیث ابن مردویه روایت کړی دی، او د حضرت عمر رضی الله عنه، عبدالرحمن بن حسنه رضی الله عنه او عبدالله بن عمرو رضی الله عنه ابوداؤد کې دي. د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه حدیث طحاوي کې دی، د حضرت ابوبکره رضی الله عنه او اسماء بنت یزید رضی الله عنها حدیثونه نسائي کې دي او د حضرت ام بشر رضی الله عنها حدیث مصنف ابن شیبه کې دی، او له دوی نه پرته د نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم حدیثونه نقل شوي دي.

او په مجمع الزوائد (ج۳ ص ۵۷ مطبوعه دارالکتاب بیروت) کې د یعلی بن سیابه رضی الله عنه روایت هم نقل شوی دی.

دا تقریبا د دیرشو صحابه کرامو رضی الله عنهم نومونه شول، کوم چې ما په بیړه لیکلي دي او له هغوی نه د قبر د عذاب حدیثونه روایت دي، په دې وجه باندې د قبر د عذاب او ثواب کیدلو کې هیڅ شک نشته.

دریم: کله چې دا ثابته شوه چې د قبر عذاب او ثواب حق دی او دا د اهل حق اجتماعي عقیده ده نو اوس دې سوال باندې فکر کول پاتې دي چې د قبر عذاب او ثواب یوازې روح سره تعلق لري او که د مړي له بدن سره هم تعلق لري؟ او دا چې د عذاب او ثواب ځای یوازې هم دغه کنده ده، کومې ته چې عام طور باندې قبر ویل کیږي، یا برزخ یو خاص ځای دی چې هلته مړي ته عذاب او ثواب ورکول کیږي، او هماغه ته د قبر د عذاب نوم ورکول کیږي؟

د دې سوال ځواب دا دی چې د حضور صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو نه دا خبره معلومیږي چې د قبر عذاب او ثواب یوازې روح ته نه ورکول کیږي بلکې د مړي بدن هم دې کې شریک دی. د عذاب او ثواب ځای هم دغه قبر دی، په کوم کې چې مړی ښخولی شي. خو دا عذاب او ثواب د دې دنیا شی دی، نو ځکه په مړي چې قبر کې کوم حالات تیریږي، ژوندیو ته عام طور باندې د هغو پته نه لګیږي (عام طور باندې د دې له پاره وویل شول چې کله ناکله دا کارونه ښکاره هم شي) څنګه چې د ځنکدن په حالت کې وفات کیدونکی کس فرښتې ویني او هغه دنیاویني، خو خواکې ناستو خلکو ته د هغو معاملاتو او کارونو هیڅ پته نه لګیږي. کوم چې د ځنکدن په حالت کې هغه کس باندې تیریږي.

زموږ په دې دعوه باندې چې د قبر عذاب او ثواب هم دې قبر کې وي او دا چې د مړي بدن هم په عذاب او ثواب کې شریک وي، له حدیثونو نه ډیر ثبوتونه شته، خو چې د دغو شواهدو راټولول نه خو ممکن دي او نه یې ضرورت شته، په دې وجه باندې د یو څو عنوانو په ذریعه باندې د هغو ګواهانو نومونه وړاندې کوم:

۱: حديث جريد

عن ابن عباس ﷺ قال مرالنبي ﷺ بقبرين(وفی رواية: فسمع صوت انسانين يعذبان فی قبورهما فقال: انهماليعذبان ومايعذبان فی كبير.أما أحدهما فكان لايستترمن البول، واماالأخرفكان يمشي بالنميمة. ثم أخذجريدة رطبة فشقهانصفين فغرزفی كل قبرواحدة قالوا: يارسول لله! لم فلعت هذا؟ قال: لعله يخفف عنهما مالم ييبسا.(صحيح بخاري ج۱ ص ۳۵)

دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دي چې حضور ﷺ ددو قبرونو خوا کې تيريده نو حضور ﷺ ددوسړيو اوازونه واوريدل. چې هغوی ته دقبرعذاب ورکول کيده. حضور ﷺ وفرمايل چې ددې دواړو قبرونوخاوندانوته عذاب ورکول کيږي. اوعذاب هم ورته په څه غټ شي باندې نه ورکول کيږي (چې دهغه نه بچ کيدل سخت وي) دوی کې يوه ته دمتيازونه دڅان نه ساتلو په سبب سره اوبل ته دچغل خوري په سبب سره عذاب ورکول کيږي. بياحضور ﷺ دکهجورې يولوندخانګ واخست، اوهغه يې په مينځ سره مات کړ،هغه يې په يو يو قبرباندې کيښودله. صحابه کرامو رضی الله عنهم دې ليدوسره دحضور ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يارسول الله! تاسوداسې ولې وکړل؟ حضور ﷺ وفرمايل: کيدای شي ددې(عمل په سبب) باندې ددوی په عذاب کې(دهغه وخت پورې) کمی وشي. ترڅوپورې چې خانګونه وچ شوي نه وي.

دامضمون دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه پرته له دې صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم روايت دی:

۱: حضرت ابوبکره رضی الله عنه (ابن ماجه ص۲۹ مجمع الزوائد ج۱ ص ۲۰۷. فتح الباری ج۱ ص ۳۲۱) ۲: حضرت ابوهريره رضی الله عنه (ابن ابی شيبه ج ۱ ص ۳۷۲ مواردالظمان ص ۱۹۹ مجمع ج ۳ ص ۵۷) ۳: حضرت انس رضی الله عنه (مجمع الزوائدج۱ ص ۲۰۸)

۴: حضرت جابر رضی الله عنه (افراددراقطنی. فتح الباری ج۱ ص ۳۱۷)

۵: حضرت ابورافع رضی الله عنه (نسائی بحواله فتح الباری ج۱ص ۳۱۹)

۶: حضرت ابوامامه رضی الله عنه (مجمع ج۳ ص ۵۲ فتح ج۱ ص ۳۲۰)

۷: حضرت عائشه رضی الله عنها (مجمع ج۱ ص ۲۰۷)

۸: حضرت ابن عمر رضی الله عنهما (مجمع ج ۳ ص۵۷)

۹: حضرت يعلی بن سيابه رضی الله عنه (ابن ابی شيبه ج۳ ص ۳۷۲ مجمع ج ۳ ص ۵۷)

۱۰: هم داسې يوه بله واقعه دحضرت جابر رضی الله عنه نه صحيح مسلم کې ج ۲ ص ۴۱۸ باندې نقل شوې ده.

۱۱: هم داسې يوه بله واقعه دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه مسنداحمدکې صحيح سندسره نقل شوې ده. (مجمع الزوائدج۲ ص ۵۷)

۱۲: دې نه پرته هم داسې يوه بله واقعه مصنف ابی شيبه ج۳ ص ۳۷۲ او مسند احمد کې دحضرت يعلى بن سيابه رضی الله عنه نه نقل شوې ده. (مجمع ج۳ ص۵۷)
په حديثونو کې زموږ په دعوه باندې لاندې شواهد دي:
۱: دحضور صلی الله علیه وسلم هغه دوو قبرونو سره تيريدلو وخت کې دقبرعذاب محسوس ول اوکومو دوو کسانو ته چې دقبرعذاب ورکول کيده، دهغوی اوازاوريدل.
۲: دواړو قبرونو باندې دکجورې خانښونه کينښودل.
۳: اودپوښتنې په ځواب دافرمايل چې: کيداى شي ددوی په عذاب کې څه کمی وشي.هغه وخت پورې چې ترڅو داخانښونه وچ شوي نه وي.
که چېرې داکنده کومې ته چې قبرويل کيږي، دقبردعذاب ځاى نه واى نودغه خانښونه به يې په قبرنه کېښودل اوکه چېرې دمړي بدن ته عذاب نه ورکول کيداى نوحضور صلی الله علیه وسلم به هغه دوو کسانو اوازونه نه وو اوريدلي. اونه به دقبرسره تيريدوخت کې ورته دقبر دعذاب پته لګېدلې وه.

۲: دحضور صلی الله علیه وسلم دقبردعذاب اوريدل

پورته دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت کې راغلي دي.
فسمع صوت انسانين يعذبان فی قبورهما. (صحيح بخاري ج۱ ص ۳٤)
ترجمه: حضور صلی الله علیه وسلم ددوسړيو اواز واوريده چې هغو ته په قبرکې عذاب ورکول کيږي.
دامضمون هم ډيرو حديثونو کې راغلی دی:
۱: **عن ابي ايوب الانصاری رضی الله عنه قال: خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم بعدماغربت الشمس فسمع صوتا، فقال: يهود تعذب فی قبورها.** (صحيح بخاري ج۱ ص ۱۸٤، صحيح مسلم ج۲ ص ۳۸٦)
ترجمه: حضرت ايوب انصاري رضی الله عنه نه روايت دی چې حضور صلی الله علیه وسلم دلمرپريوتلونه وروسته باندې ووت، نواواز يې واوريد ،وې فرمايل يهودانو ته دهغوی په قبرونو کې عذاب ورکول کيږي.
۲: **عن انس رضی الله عنه قال: بينمارسول الله صلی الله علیه وسلم فی نخل لابی طلحة يبرزلحاجته قال: وبلال يمشي وراء يکرم نبي الله صلی الله علیه وسلم ان يمشي الی جنبه، فمرنبي الله صلی الله علیه وسلم بقبرفقام حتی لمّ اليه بلال، فقال: ويحک يابلال! هل تسمع مااسمع؟ قال: مااسمع شيئا! قال: صاحب القبريعذب! فسأل عنه فوجديهوديا.** (رواه احمدورجاله رجال الصحيح مجمع الزوائدج۳ ص ۵٦ واخرجه فی المستدرک ج۱ ص ٤۰ وقال صحيح علی شرط الشيخين واقره الذهبی)
ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه فرمايي چې حضور صلی الله علیه وسلم دقضاحاجت له پاره دحضرت طلحه رضی الله عنه دکجورو باغ ته تشريف يوړ، حضرت بلال رضی الله عنه دحضور صلی الله علیه وسلم وروسته روان و، دادب په سبب ورسره يوشان نه و روان. حضور صلی الله علیه وسلم ديوقبرخواکې ودريد ،تردې چې حضرت بلال رضی الله عنه هم ور

ورسيد، وې فرمايل: بلال! اياته هم هغه څه اورې چې زه يې اورم؟ بلال وويل: زه خوځه نه اورم، هغه وفرمايل: ددې قبرخاوندته عذاب ورکول کيږي، حضور ﷺ دهغه قبرباره کې پوښتنه وکړه چې دا قبرد چا دی؟ نومعلومه شوه چې هغه قبرد يهودي و.

۳: عن انس رضي الله عنه قال: اخبرني من لااتهمه من اصحاب النبي ﷺ قال: بينمارسول الله ﷺ وبلال يمشي بالبقيع، فقال رسول الله ﷺ: يابلال! هل تسمع مااسمع؟ قال والله يارسول الله مااسمعه! قال: الاتسمع اهل هذه القبوريعذبون ؟ يعني قبوراهل الجاهلية.(رواه احمدورجاله رجال الصحيح مجمع الزوائدج ۳ ص ۵٦)

ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دی چې دحضور ﷺ په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې يوصحابي ويلي دي چې حضور ﷺ اوحضرت بلال رضي الله عنه بقيع کې روان و، يو ناڅاپه حضور ﷺ وفرمايل: ای بلال! څه چې زه اورم، اياته هم هغه اورې؟ بلال وويل: په الله مې دې قسم وي، يارسول الله! زه څه نه اورم، هغه و فرمايل: اياته دقبرونودخاوندانو اوازنه نه اورې؟ هغوی ته قبرونوکې عذاب ورکول کيږي.

٤: عن جابر رضي الله عنه قال: دخل رسول الله ﷺ نخلالبني النجار، فسمع اصوات رجال من بني النجارماتوافى الجاهلية يعذبون فى قبورهم، فخرج رسول الله ﷺ فزعاً فامراصحابه ان يتعوذوامن عذاب القبر. (رواه احمدوالبزار، ورجاله رجال الصحيح مجمع الزوائدج ۳ ص ۵۵، وكشف الاستارعن زوائدالبزارج۱ ص ٤۱۲)

ترجمه: حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې: رسول الله ﷺ دبنونجارپه يوه علاقه کې داخل شو، نودبنونجارديوخوسړيواوازونه يې واوريدل، کوم چې دجاهليت په زمانه کې مړه شوي وو اوهغوی ته قبرونو کې عذاب ورکول کيده،حضور ﷺ هغه ځای نه په ويره باندې ووت او خپلو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته يې وفرمايل: چې دقبردعذاب نه پناه وغواړي.

په حديثونوکې دحضور ﷺ قبرونوخواته تلوسره دقبردعذاب اوريدو ذکرشوی دی،که چېرې داکندې (قبرونه) دعذاب ځای نه وای اوقبرونوکې خښ بدنونوته عذاب نه ورکول کيدای،نودقبرعذاب به دقبرخواکې نه اوريدل کيده.

۳: له حضور ﷺ نه پرته نوروخلک هم دقبرعذاب اوريدلای شي؟

ډيرحديثونوکې دامضمون هم راغلی دی که چېرې داويره نه وه چې تاسوبه دخپلومړو خښولوهمت ونه کړئ نومابه الله تعالی ته دعاکړې وه چې دقبرکوم عذاب زه اورم هغه تاسوهم واورئ، ددې مضمون يوڅوحديثونه په لاندې ډول دي:

۱: عن زيد بن حارث رضي الله عنه قال: بينما النبي ﷺ فى حائط لبني النجار على بغلة له ونحن معه اذ حادت به فكادت تلقيه واذا اقبر ستة وخمسة او اربعة، قال: كذا كان يقول الجريري. فقال: من يعرف اصحاب هذه الاقبر؟ فقال: رجل: انا! قال: فمتى مات هولاء؟ قال: ماتوا فى الاشرك! فقال: ان هذه الامة تبتلى فى قبورها فلولا ان لاتدافنوا لدعوت الله ان يسمعكم من عذاب القبر الذى اسمع منه... الحديث. (صحيح مسلم ج۲ ص ۳۸٦)

ترجمه: حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمايي چې يوه ورځ حضور ﷺ په خپلې خچرې باندې سور و او د بنو نجار يو باغ ته يې تشريف يوړ، موږ هم حضور ﷺ سره وو، يو ناڅاپه خچر وويريدها ونږدې وه چې حضور ﷺ د خچرنه غورځيدلى واى، هلته شلورپنځه قبرونه و، حضور ﷺ وفرمايل: دا قبرونه څوک پيژني؟ يو سړي وويل: زه يې پيژنم. حضور ﷺ وفرمايل دا کله مړه شوي وو؟ هغه وويل: د شرک په حالت کې. بيا حضور ﷺ وفرمايل بې شکه دې خلکو ته په قبرونو کې عذاب ورکول کيږي او که چېرې ماته داويره نه وه چې تاسو به خپل مړي خښول پرېږدئ، نو ما به الله تعالى ته دعا کړې وه چې هغه تاسو ته د قبر عذاب دراورولى وى، څنګه يې چې زه اورم.

۲: هم دا حديث صحيح ابن حبان کې د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه نه هم روايت دى. (موارد الظمان ص ۲۰۲)

۳: عن انس رضي الله عنه ان النبي ﷺ سمع صوتا من قبر. فقال: متى مات هذا؟ قالو: مات فى الجاهلية! فسر بذالک وقال: لولا ان لاتدافنوا لدعوت الله ان يسمعكم عذاب القبر. (سنن نسائى ج۱ ص۲۹۰ صحيح مسلم ج۲ ص ۳۸٦، موارد الظمان ص ۲۰۰)

ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې حضور ﷺ د يو قبر اواز واوريده: نو وې فرمايل: دى کله مړ شوى و؟ حضور ﷺ ته وويل شول چې د جاهليت په زمانه کې، دې باندې حضور ﷺ خوشحاله شو او وې فرمايل: که چېرې ماته داويره نه وى چې تاسو به خپل مړي خښول پرېږدئ نو ما به الله تعالى ته دعا کړې وه چې تاسو ته يې هم د قبر عذاب در اورولى و.

٤: عن انس رضي الله عنه قال دخل رسول الله ﷺ خرباً بالبني النجار كانه يقضى حاجته فخرج وهو مذعور. فقال: لولا ان تدافنوا لدعوت الله ان يسمعكم من عذاب القبر ما اسمعني. (اسناده صحيح، كنز العمال ج۱۵ ص۷٤۰ حديث ٤۲۹٤۳)

ترجمه: د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دى چې حضور ﷺ د بنو نجار ويراني (ويجاړې) ته د قضايې حاجت له پاره تشريف يوړ، نو وبېرېدلى باندې اووت. او وويې فرمايل: که چېرې داويره نه وى چې تاسو به خپل مړي خښول پرېږدئ نو ما به الله تعالى ته دعا کړې وه چې هغه تاسو باندې هم د قبر عذاب اوراولى واى، کوم چې زه اورم.

پورته بیان شویو حدیثونو کې درې خبرې زموږ په عقیده باندې ګواهي ورکوي:
۱: د حضور ﷺ د قبر عذاب اورېدل.
۲: او دا فرمایل چې ما به الله تعالی ته دعا کړې وه چې تاسو ته یې هم د قبر عذاب اوراولی و ای کوم چې زه اورم. له دې نه معلومیږي چې د قبر عذاب اورېدل زموږ په حق کې هم ممکن دي. که چېرې د قبر عذاب دې کندې سره تعلق نه ساته. نو د قبر د عذاب داورید و هیڅ سبب به نه و. ۳: او دا فرمایل چې: دوی په سبب سره به تاسو خپل مړي خښول پرېږدئ، که چېرې د قبر د عذاب تعلق دې کندې سره نه وی نو ددې ویرې هیڅ سبب به نه و.

څناورو د قبر عذاب اوري

پورته د حضرت زید بن ثابت او حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه حدیثونو کې د قبر عذاب اورېدو سره د څناورو پرېېدل ذکر شوي دي، دا مضمون په نورو ډېرو حدیثونو کې هم راغلی دی، چې مړو ته په قبر کې کوم عذاب ورکول کېږي. هغه پیریانو او انسانانو نه پرته تقریبا نور ټول څناور اوري، دې باره کې د په حدیثونو الفاظ ولولئ:

۱: د حضرت انس رضي الله عنه حدیث: ثم یضرب بمطرقة من حدید ضربة بین اذنیه فیصیح صیحة یسمعها من یلیه الا الثقلین، (صحیح بخاري ج۱ ص ۱۷۸، سنن ابوداؤد ج۲ ص ۶۵۳، نسائی ج ۲ ص ۲۸۸، مسند احمد ج۳ ص ۱۲۶، ۲۳٤)

ترجمه: بیا به هغه مړی د اوسپنې په څټک سره د دواړو غوږونو په مینځ کې ووهل شي، د هغه په سبب سره هغه مړی دومره په زور سره چیغه ووهي، چې هغه به له انسانانو او پیریانو نه پرته نور ټول څناور اوري.

۲: د حضرت ابو هریره رضي الله عنه حدیث:

فیفتح له باب من جهنم، ثم یضرب ضربة تسمع کل دابة الا الثقلین، (رواه البزار، مجمع الزوائد، ج ۲ ص ۵۳، کشف الاستار عن زوائد البزار ج۱ ص ٤۱۳)

ترجمه: بیا به د هغه له پاره د دوزخ یوه دروازه خلاصه کړل شي، او بیا به هغه ووهل شي، داسې وهل چې هغه به ټول څناور اوري بې له انسانانو او پیریانو څخه چې هغه به یې نه اوري.

۳: د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه حدیث

ویفتح له باب الی النار ثم یقمعه قمعة بالمطراق یسمعها خلق الله کلهم غیر الثقلین، (مسند احمد، ج ۳ ص ۲۹۶، کشف الاستار ج۱ ص ٤۱۳، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤۸)

ترجمه: بیا به د هغه کافر له پاره د دوزخ طرف ته دروازه خلاصه کړل شي، بیا به فرښته هغه ګرزباندې داسې ووهي، چې هغه به د انسانانو او پیریانو نه پرته ټول مخلوق اوري.

۴: د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه حديث

فيضربه بهاضربة يسمعهامابين المشرق والمغرب الاالثقلين فيصيرتراباً قال ثم تعادفيه الروح.(سنن ابو داؤد، ج۲ ص ٦٥٤)

ترجمه: وروسته به فرښته هغه ته داسې وهل ورکړي، کوم چې دانسانانو او پیریانونه پرته دمشرق اومغرب په مینځ کې ټول مخلوق اوري. اوهغه به دوهلو په سبب سره خاورې شي. هغه وفرمایل اوبیابه هغه ته روح ورکړل شي.

۵: د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث: انهم معذبون عذابا تسمعه البهائم كلها.(صحيح بخاري ج۲ ص ۹٤۲، صحيح مسلم ج۱ ص ۲۱۷)

ترجمه: مړوته قبرکې داسې عذاب ورکول کیږي چې هغه به ټول ځناور(ځاروي) اوري.

۶: د حضرت ام مبشر رضي الله عنها حديث

عن ام مبشر قالت: دخل عليّ رسول الله ﷺ وأنافي حائط من حوائط نبي النجار فيه قبور منهم، وهويقول: استعيذوبالله من عذاب القبر،قالت, قلت: يارسول الله! وإنهم ليعلذبون في قبورهم؟ قال: نعم! عذاباً تسمعه البهائم.(رواه احمدورجاله رجال الصحيح. مجمع الزوائدج۳ ص ٥٦ موارد الظمآن ص۲۰۰)

ترجمه: حضرت ام مبشر رضي الله عنها فرمايي چې: زه يوه ورځ دبنونجارپه باغ کې وم، چې حضور ﷺ تشريف راوړ،هلته دبنونجارقبرونه وو، (دهغو ليدوسره) حضور ﷺ وفرمايل: دالله تعالى نه دقبردعذاب پناه وغواړئ. ماعرض وکړ. يارسول الله! اياقبرکې عذاب ورکول کيږي؟ حضور ﷺ وفرمايل:هو! بې شکه دوی ته په خپلو خپلو قبرونوکې عذاب ورکول کيږي. کوم چې ټول ځناور اوري.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث

ان الموتی ليعذبون فی قبورهم حتی ان البهائم تسمع اصواتهم.(رواه الطبراني في الكبير واسناده حسن، مجمع الزوائد، ج ۳ ص ٥٦.)

ترجمه: حضور ﷺ وفرمايل چې: مړوته دهغوی په قبرونوکې عذاب ورکول کيږي، تردې پورې چې ځناوردهغوی اوازونه اوري.

۸: د حضرت ابی سعيد رضي الله عنه حديث

كنت مع رسول الله ﷺ فی سفر وهويسيرعلی راحلته فنفرت، قلت: يارسول الله ﷺ ماشأن راحلتک نفرت؟ قال: انهاسمعت صوت رجل يعذب فی قبره فنفرت لذالک.(رواه الطبراني فی

الاوسط وفيه جابر الجعفی وفيه كلام كثير وقد وثق. مجمع الزوائد ج ۳ ص ۵۶)

ترجمه: يوسفر کې زه د حضور ﷺ سره وم، حضور ﷺ په خپلې اوښې باندې روان و چې يو ناڅاپه يې سورلۍ ووېريده. ما وويل: يارسول الله! ستاسو په سورلۍ باندې څه وشو؟ دا ولې ووېريده؟ حضور ﷺ وفرمايل: دې ديوداسې کس اوازواورېده کوم ته چې په قبر کې عذاب ورکول کيږي. دهغه په سبب سره ووېريده.

په حديثونو کې د انسانانو او پيريانو نه پرته د باقي ټولو ځناورو د قبر د عذاب اورېدل ذکر شوي دي، د په حديثونو نه ثابته شوه چې د قبر عذاب يو حسي شی دی. کوم چې نه يوازې په هغه دنيا کې محسوس کيدای شي. بلکې د انسانانو او پيريانو نه پرته باقي ټولو مخلوقاتو ته هم د هغه پته لګيږي، انسانان او پيريان يې په دې وجه باندې نه شي محسوسولی. چې د دې کې يو حکمت دی، چې د هغوی ايمان، ايمان بالغيب پاتې شي. دويم حکمت هغه دی کوم چې پورته بيان شوی دی که چېرې د قبر د عذاب پته ولګيده کوم چې عام طور باندې انسانانو ته ورکول کيږي، نو يو کس به هم خپل مړی په قبر کې د ښخولو همت ونه کړي، په هرحال د دې عذاب محسوسيدل د دې خبرې دليل دی چې د قبر عذاب هم دې کنده کې وي او دا چې د مړي بدن ته هم ورکول کيږي.

۵: د قبر د عذاب د ليدو واقعات

د قبر عذاب د انسانانو او پيريانو نه پټ ساتل شوی دی. خو کله ناکله د عادت نه خلاف د قبر د عذاب څه اثرات انسانانو ته هم اوښودل شي. داسې قسمه واقعات بې شمېره دي، يو څو يې په لاندې ډول دي:

۱: عن قبيصة بن ذويب رضي الله عنه قال: اغار رجل من اصحاب رسول الله ﷺ على سرية من المشركين فانهزمت، فغشي رجل من المسلمين رجلا من المشركين وهو منهزم فلما اراد ان يعلوه بالسيف قال الرجل: لااله الاالله! فلم ينزع عنه حتى قتله، ثم وجد فی نفسه من قتله فذكر حديثه لرسول الله ﷺ، فقال رسول الله ﷺ: فهلا نقبت عنه قلبه، فلم يلبثوا الا قليلا حتى توفی ذالک الرجل القاتل، فدفن فاصبح علی وجه الارض فجاء اهله فحدثوا رسول الله ﷺ، فقال: ادفنوه! فدفنوه فاصبح علی وجه الارض فجاء اهله فحدثوا رسول الله ﷺ، فقال: ادفنوه! فدفنوه فاصبح علی وجه الارض فجاؤوا رسول الله a فحدثوه ذالک، فقال: رسول الله ﷺ: ان الارض قدابت ان تقبله فاطرحوه فی غار من الغيران. (بيهقی دلائل النبوة ج ٤ ص ۳۰۹؛ خصائص كبری ج۲ ص ۷۸ مصنف عبدالرزاق ج ۱۰ ص ۱۷۳، كنزالعمال ج ۱۵ ص ۱٤۷، ۱٤۸، حديث ٤۰٤٥٤)

ترجمه. دحضرت قبيصه بن ذويب ﷺ نه روايت دى چې دحضور ﷺ په صحابه كرامو ﷺ كې يو ملګري دمشركانو په يوې ډلې باندې حمله وكړه. هغې ډلې شكست وخوړ. بيا د مسلمانانو يو كس دمشركانو يو تښتيدونكى كس ونيوه. كله يې چې په توري باندې دوهلو اراده وكړه. نو هغه كس لااله الاالله. ووېله. خو مسلمان كلمه اوريدو سره هم وروسته نه شو. تردې چې هغه يې قتل كړ. بيا دى خپل ضمير په دې قتل باندې ملامته كړ. هغه خپله قصه درسول الله ﷺ په خدمت كې وكړه. رسول الله ﷺ دې اوريدو سره وفرمايل چې تا دهغه زړه ولې ونه كوت. څه وخت وروسته هغه قاتل مړشو. هغه خښ كړى شو. خو په سبا باندې ولېدل شو چې هغه دقبرنه دباندې په ځمكه باندې پروت دى. خلكو دا قصه د حضور ﷺ په خدمت كې وكړه. حضور ﷺ وفرمايل: هغه خښ كړئ. وروسته هغه په دويم ځل باندې خښ كړى شو. نو بيا وليدل شو چې پر ځمكه باندې پروت دى. درې ځله داسې وشول. حضور ﷺ وفرمايل: چې ځمكې دده له قبلولونه انكاركړى دى. دى چرته په غاركې واچوئ.

۲: عن انس بن مالك ﷺ قال: كان منا رجل من بنى النجار قد قرآ البقرة وال عمران وكان يكتب لرسول الله ﷺ فانطلق هاربا حتى لحق باهل الكتاب. قال: فرفعوه. قالوا: هذا قد كان يكتب لمحمد. فاعجبوا به. فمالبث أن قصم الله عنقه فيهم. فحفروا له فواروه. فاصبحت الارض قد نبذته على وجهها. ثم عادوا فحفروله فواروه. فاصبحت الارض قد نبذته على وجهها. ثم عادوا فحفرواله فواروه. فاصبحت الارض قد نبذته على وجهها. فتركوه منبوذا. (صحيح بخاري، ج۳ص ۵۱۱، صحيح مسلم ج۲ ص ۳۷۰، واللفظ له مسند احمد ج ۳ ص ۱۲۰، ۱۲۱، ۲۲۵، صحيح ابن حبان بحواله موارد الظمان ص ۳۶۵، خصائص كبرى ج۲ ص ۷۸)

ترجمه: دحضرت انس ﷺ نه روايت دى چې زموږ يو كس چې دبنو نجارنه و. هغه سورت البقره او سورة ال عمران لوستى و. اود رسول الله ﷺ له پاره به يې وحې ليكله. بيا هغه وتښتيده او اهل كتابو سره شو. هغوى دده قدراو خاطر او ويې ويل: ده به محمد(ﷺ) له پاره وحې ليكله. هغه خلك دې باندې ډيرزيات خوشحاله شول. څو ورځې وروسته الله تعالى دهغه څټ مات كړ(يعنې مړشو) هغوى كنده وكېندله او هغه يې خښ كړ. چې سهار شونو ځمكې بهرته غورځولى و. هغوى هغه بيا خښ كړ. ځمكې هغه بيا بهرته راوغورځاوه. هغوى په دريم ځل باندې خښ كړ. ځمكې هغه بيا بهر راوغورځاوه. كله چې هغوى مجبور شول نو له خښولو پرته يې هم داسې پريښود.

۳: عن اسامه بن زيد قال:..... وذالک انه بعث رسول الله ﷺ رجلا فكذب عليه. فدعا عليه رسول الله ﷺ فوجد ميتا قدانشق بطنه ولم تقبله الارض. (بيهقى دلائل النبوة ج٦ ص ۳۴۵، خصائص كبرى ج۲ ص ۷۸)

ترجمه: حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه نه روایت دی چې: رسول الله ﷺ یو سړی د څه کار له پاره ولیږه. هغه رسول الله منسوب کولو سره (دروغ وویل) حضور ﷺ د هغه له پاره ښېرې وکړې. دهغې په وجه باندې مړشو، خېټه یې شلېدلې وه. او هغه ځمکې قبول نه کړ.

٤: عن عمران قال: شهدت رسول الله ﷺ وقد بعث جيشا من المسلمين الى المشركين، الى قوله. فلم يلبث الا يسيرا حتى مات فدفناه. فاصبح على ظهر الارض. فقالوا: لعل عدوا نبشه فدفناه. ثم امرنا غلماننا يحرسونه فاصبح على ظهر الارض فقلنا: لعل الغلمان نعسوا. فدفناه ثم حرسناه بانفسنا فاصبح على ظهر الارض. فالقيناه فى بعض تلك الشعاب. وفي رواية: فنبذته الارض فاخبر النبي ﷺ. قال: ان الارض لتقبل من هو اشر منه ولكن الله احب ان يريكم تعظيم حرمة لا اله الا الله. (سنن ابن ماجه ص ۲۸۱، دلائل النبوة بيهقي ج ۷ ص ۱۲۸)

ترجمه: د حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دی چې: حضور ﷺ د مسلمانانو یو لښکر کافرانو سره د جهاد له پاره ولیږه. (د هغه نه وروسته یې د یو کس د قتل واقعه بیان کړه) بیا هغه قاتل څو ورځې وروسته مړشو. موږ هغه خښ کړ. نو سهار هغه د ځمکې له پاسه پروت و. موږ وویل کیدای شي چې د ښمن دې بهر را ویستلی وي. موږ په دویم ځل باندې خښ کړ او هغه باندې مو د خپلو غلامانو پیره ودروله. په دویمه ورځ بیا د ځمکې له پاسه پروت و. موږ وویل کیدای شي چې غلامان ویده شوي وي. موږ په دریم ځل باندې خښ کړ او په خپله مو پیره وکړه. خو بله ورځ بیا په ځمکه باندې پروت و. اخر کې موږ هغه یو غار کې واچولو.

او یو روایت کې دي چې ځمکې هغه بهرته راوغورځاو. حضور ﷺ ته د دې خبرورکړې شو. نو ویې فرمایل چې ځمکه خو د ده نه بدخلک هم قبلوي، خو الله تعالی دا وغوښتل چې تاسو ته وښایي چې د لا اله الا الله حرمت څومره ډېر دی.

٥: عن الحسن البصري ان محلما لما جلس بين يديه عليه الصلوة والسلام. قال له: امنته ثم قتله؟ ثم دعا عليه. قال الحسن: فوالله. ما مكث محلما الا سبعا حتى مات فلفظته الارض ثم دفنوه فلفظته الارض. ثم دفنوه فلفظته الارض. فرضموا عليه من الحجارة حتى واروه فبلغ رسول الله ﷺ فقال: ان الارض لتطابق على من هو شر منه ولكن الله اراد أن يعظكم فى حرم ما بينكم لما اراكم منه. (البدايه والنهايه ج ٤ ص ۲۲۵، مجمع الزوائد ج ۷ ص ۲۹٤)

ترجمه: حضرت حسن بصري رحمه الله روایت کوي چې محلم (یو مسلمان قتل کړ) کله چې د حضور ﷺ په خدمت کې کیناست نو حضور ﷺ وفرمایل: تا هغه له امن ورکولو نه وروسته قتل کړ؟ بیا یې د هغه له پاره ښېرې وکړې، حضرت حسن رحمه الله فرمایي چې محلم له دې واقعې نه یوه هفته وروسته مړشو. نو ځمکې هغه بهرته را وبرسېره کړ. خلکو هغه بیا خښ کړ، نو ځمکې هغه بیا رابرسېره کړ. اخر خلکو د هغه نه ګیرچاپېره کاڼي کېښودل او هغو کې یې پټ

کړ. حضور ﷺ ته چې ددې خبرراورسيد. نوحضور ﷺ وفرمايل چې ځمکه له دده نه بدخلک هم پټوي.خوالله تعالی تاسوته دده دامنظرښودل وغوښتل چې تاسوته خپلوکې دحرمتونوباره کې نصيحت اوعبرت درکړي.

٦: عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: بينما اسير بجنبات بدر اذخرج رجل من حفرة فی عنقه سلسلة فنادانی. ياعبدالله! اسقنی فلا ادری اعرف اسمي اودعاني بدعاية العرب، وخرج رجل فی ذالک الحفير فی يده سوط فنادانی: لاتسقه فانه کافر! ثم ضربه بالسوط حتی عادالی حفرته. فاتيت النبي ﷺ مسرعافاخبرته. فقال لی: اوقدرايته؟ قلت: نعم! قال: ذاک عدوالله ابوجهل بن هشام! وذاک عذابه الی يوم القيامة.(قال الهيثمي رواه الطبراني فی الاوسط وفيه عبدالله بن محمدالمغيرة وهوضعيف، مجمع الزوائدج٣ ص ٥٧)

ترجمه: حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمايي: چې کله زه دبدرخواکې تيريدم،نوده يوې کندې نه يوسړی راووت،په غاړه کې يې زنځير و. ماته يې وويل: اي عبدالله! ماباندې اوبه اوڅښه، ماته پته نشته چې هغه ته زمانوم معلوم واوکه دعربود دود مطابق هغه ماته عبدالله (دالله تعالی بنده) وويل: دهغې کندې نه يوبل سړی راووت.دده په لاس کې دوره (کوړه) وه. ماته يې وويل: چې ده ته اوبه مه ورکوه.دی کافردی. هغه لومړی کس يې په دورې (کوړې) باندې وواهه اوپه وهلووهلويې هغه کندې ته ور وغوځاو.زه سم دلاسه دحضور ﷺ په خدمت کې حاضرشوم، اوټوله واقعه مې ورته وکړه. حضور ﷺ وفرمايل چې تاهغه په رښتياسره وليد؟ ما؛ وويل: هو! حضور ﷺ وفرمايل: دی دالله تعالی دښمن ابوجهل و. اودقيامت پورې به هغه ته هم داسزا ورکول کيږي،نعوذبالله من ذالک.

٧: وقال: ابن ابي الدنياحدثنی ابی، حدثناموسی بن داؤد،حدثناحمادبن سلمة عن هشام بن عروة،عن ابيه، قال: بينماراکب يسيربين مکة والمدينة اذمر بمقبرة فاذابرجل قدخرج من قبريلتهب نارمصفدافی الحديد،فقال: ياعبدالله! انضح. ياعبدالله! انضح. قال: وخرج اخر يتلوه فقال: ياعبدالله لاتنضح. يا عبدالله لاتنضح. قال: وغشي علی الراکب، وعدلت به راحلته الی العرج. قال واصبح قدابيض شعره. فاخبرعثمان بذالک فنهی ان يسافرالرجل لوحده. (کتاب الروح ص ٩٤)

ترجمه: ابن ابي الدنيافرمايي چې ماته زماپلاروويل: هغه وايي چې ماته بيان وکړ،حمادبن سلمه، هغه روايت کوي دهشام بن عروه نه هغه دخپل پلارنه،چې يوکس دمدينې اومکې په منيځ کې په سورلۍ باندې روان و،چې يوقبريستان(هديرې) ته ورسيده،يو ناڅاپه يوکس ديوقبرنه راووت، کوم چې په اورکې سوزيده اوداوسپنې په پړيو(رسيو) باندې تړل شوی

و ،هغه وويل: اې دالله تعالى بنده! ماته اوبه راکړه. اې الله تعالى بنده ماته اوبه راکړه. اويوبل کس دهغه شاته راووت.هغه وويل اې دالله تعالى بنده. ده ته اوبه مه ورکوه. اې دالله تعالى بنده، اوبه مه ورکوه. ددې منظرپه وجه باندې هغه کس باندې بې هوشي راغله او سورلۍ يې عرج نومي ځای ته بوته. اوددې غم په وجه باندې دهغه ويښته سپين شول. حضرت عثمان رضي الله عنه ته ددې خبرورکړی شو .نوحضرت عثمان رضي الله عنه له يواځې سفرنه منع وکړه

٨: وقدذكرابن ابى الدنيا فى كتاب القبور، عن الشعبي انه ذكررجلاللنبي صلى الله عليه وسلم: مررت ببدرفرايت رجلا يخرج من الارض فيضربه رجل بمقمعة حتى يغيب فى الارض، ثم يخرج فيفعل به ذالك، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ذالک ابوجهل بن هشام يعذب الى يوم القيامة.(كتاب الروح ص٩٣)

ترجمه: ابن ابى الدنياکتاب القبورکې دامام شعبي رحمه الله نه نقل کړی دی چې: يوکس حضور صلى الله عليه وسلم ته وويل: چې زه بدرکې روان وم، ماوليدل چې يوسړی له ځمکې نه راووت اودويم سړي هغه په څټک باندې وواهه، تردې چې هغه په ځمکه کې ننوځي، هغه بياراوځي،نودويم سړی ورسره هم هغه شان کوي، دې اوريدوسره حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دا ابوجهل بن هشام دی، ده ته به دقيامت ترورځې پورې عذاب ورکول کيږي.

٩: وذكرمن حديث حمادبن سلمة عن عمروبن دينار، عن سالم بن عبدالله عن ابيه، قال: بينما انااسيربين مكة والمدينة على راحلة وانامحقب اداوة اذ مررت بمقبرة فاذارجل خارج من قبره يلتهب ناراوفى عنقه سلسلة يجرها، فقال: ياعبدالله، انضح، ياعبدالله انضح، فوالله ما ادري اعرفنى باسمي ام كما تدعوالناس؟ قال: فخرج آخرفقال: ياعبدالله، لاتنضح، ياعبدالله لا تنضح، ثم اجتذب السلسلة فاعاده فى قبره.(كتاب الروح ص ٩٤)

ترجمه: اوابن ابى الدنيادحمادبن سلمه نه روايت کړی دی. هغه دعمروبن دينارنه. هغه دسالم بن عبدالله نه، هغه دخپل پلار عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت کړی دی چې: زه دمکې اومدينې په مينځ کې په اوښ باندې روان وم، زما په سورلۍ باندې داوبومشک هم و.يوقبرستان کې تيريدم نو ومې ليدل چې سړی له خپل قبرنه راووت، هغه باندې اورلګيدلی و. اوپه غاړه کې يې زنځيرو.کوم چې هغه ځان سره راکش کاو.هغه ماته اوازوکړچې: اې عبدالله اوبه راکړه! اې عبدالله اوبه راکړه! په الله مې دې قسم وي، ماته پته نشته چې هغه ته زمانوم معلوم و يالکه څنګه چې خلک خلکوته اوازکوي، اې دالله بنده،همدارنګه هغه ماته اواز وکړو ،بيادهغه شاته يوبل سړی راووت،هغه ماته وويل اې عبدالله! ته ده ته اوبه مه ورکوه، اې عبدالله! ده ته اوبه مه ورکوه. بيايې دلومړي کس زنځير کش کړاوهغه يې بيرته قبرته ورکوزکړ.

حافظ ابن قیم رحمه الله په "کتاب الروح" کې هم داسې قسمه اتلس نورې واقعې نقل کولو نه وروسته لیکلي دي:

وهذه الأخبار وأضعافها وأضعاف أضعافها مما لايتسع لها الكتاب مما اراه الله سبحانه و تعالى لبعض عباده من عذاب القبر و نعيمه عياناً، و اما رؤية المنام فلو ذكرناها لجاءت عدة اسفار. (كتاب الروح ص ۹۹)

ترجمه: دا واقعات اوله دي نه نورې هم ډیرې واقعې کومې چې دې کتاب کې نه شي راتلی. داسې دي چې هغه کې الله تعالی بعضې بندګانو ته دقبرعذاب اوثواب ښودلی دی، ترکومه حده چې دخوب دواقعاتوتعلق دی. که چېرې موږ هغه بیانول شروع کړو. نودهغه له پاره به ډیر(دفترونه)رجسټرونه پکاروي.

قبر کې راتلونکي حالات او واقعات

حدیثونوکې هغه حالات او واقعات ډیرپه تفصیل سره بیان شوي دي کوم چې په قبرکې مړي سره کیږي، هغو ته په فکرسره دامعلومیږي چې داحالات قبرکې کیږي، اوددې حالاتوتعلق دمړي له بدن سره هم وي، دلته یوڅوحدیثونه ذکرکیږي. چې له هغه نه وروسته قبرکې دکېدونکو حالاتویوه خاکه وړاندې کیږي.

۱: عن انس بن مالك رضي الله عنه، ان رسول الله ﷺ قال: ان العبداذاوضع فى قبره، وتولى عنه اصحابه، انه ليسمع قرع نعالهم. اتاه ملكان، فيقعدانه فيقولان له، ماكنت تقول فى هذا الرجل، لمحمد؟ فاماالمؤمن فيقول: اشهدانه عبدالله ورسوله: فيقال له: انظر الى مقعدك من النار، قدابدلك الله به مقعدامن الجنة، قال النبي ﷺ فيراهماجميعا، قال قتادة، وذكرلناانه يفسح له فى قبره، ثم رجع الى حديث انس، قال: واما المنافق اوالكافر فيقال له: ماكنت تقول في هذا الرجل؟فيقول لاادرى، كنت اقول مايقول الناس، فيقال: لادريت ولاتليت، و يضرب بمطارق من حديدضربة: فيصيح صحية يسمعهامن يليه ا غير الثقلين، (صحيح بخاري، ج۱ ص ۱۸۳،۱۸۲، واللفظ له، صحيح مسلم ج۲ ص ۳۸٦، ابوداؤدج۲ ص ٦٥٤، نسائي ج۱ ص ۲۸۸ شرح السنه ج ٥ ص ٤١٥)

ترجمه: دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې: رسول الله ﷺ وفرمایل چې: کله انسان قبرکې کېښودل شي اودهغه خښونکي بېرته لاړ شي. نومړی دهغوی دپښواوازونه اوري، بیادوه فرښتې مړي ته راشي.هغه راکښنوي . بیاورته ووایي چې دې کس یعنې دمحمد (ﷺ) باره کې څه وایې؟ که چېرې هغه مومن وي . نووایي چې: زه ګواهي ورکوم چې حضورﷺ دالله تعالی بنده اودهغه رسول دی، بیاورته ته وویل شي چې: دخپل دوزخ

کورطرف ته وګوره! الله تعالی تاته ددې په بدله کې دجنت کوردرکړ. حضور ﷺ وفرمایل چې: هغه به جنت اودوزخ دواړوکې خپل کوروويني. قتاده رحمه الله فرمایي چې مونږته دا بیان شو چې بیابه دهغه قبر ورته ازادکړل شي.
خوکه کافراومنافق وي، هغه دفرښتودسوال په ځواب کې وايي چې زه يې نه پيژنم (چې داڅوک دی؟) ماخوبه دده باره کې هماغه خبره کوله. کومه چې نوروکافرانوکوله. هغه ته به وويل شي چې نه تاپخپله ځان پوه کړی دی اونه دې چېرته دپوه کس نه پوښتنه کړې ده. بیابه داوسپنې په ځتک باندې ووهل شي. چې له هغه وجې به داسې چغه ووهي. کومه چې دانسانانواوپيريانونه پرته ټول مخلوقات اوري.

۲: عن سمرة بن جندب رضي الله عنه قال: كان النبي ﷺ اذاصلی صلوة اقبل علينابوجهه فقال: من رای منكم الليلة رؤيا؟ قال: فان رای احدقصها، فيقول: ماشاء الله! فسالنايومافقال: قدرای منكم احد رؤيا قلنا: لا! قال: لكني رايت الليلة رجلين اتياني فأخذا بيديّ فأخرجاني إلى ارض مقدسة، فاذارجل جالس ورجل قائم بيده كلوب من حديد يدخله فی شدقه[۱] حتی يبلغ قفاه، ثم يفعل بشدقة الاخرمثل ذالک ويلتئم شدقه هذا، فيعودفيصنع مثله، قلت، ماهذا؟ قالا: انطلق! فانطلقناحتى اتيناعلى رجل مضطجع على قفاه، ورجل قائم على راسه بفهراوصخرة، فيشدخ بهاراسه، فاذاضربه تدهده الحجر، فانطلق اليه لياخذه فلايرجع الى هذاحتى يلتئم راسه وعاد راسه كماهو، فعاداليه فضربه، قلت: من هذا؟ قالا: انطلق! فانطلقنا الى نقب مثل التنور، اعلاه ضيق واسفله واسع تتوقدتحته النار، فاذا اقترب ارتفعواحتى كادوا يخرجون، فاذاخمدت رجعوافيها وفيها رجال ونساء عراة فقلت: ماهذا؟ قالا: انطلق! فانطلقنا حتى اتيناعلى نهرمن دم فيه رجل قائم، وعلى وسط النهررجل بين يديه حجارة، فاقبل الرجل الذي فی النهر، فاذااراد ان يخرج رماه الرجل بحجرفی فيه فرده حيث كان، فجعل كلماء جاء ليخرج رمى في فيه بحجرفيرجع كماكان، فقلت: ماهذا؟ فقلت: قدطوفتماني الليلة فاخبرانی عما رأيت! قالا: نعم! أماالذی رايته يشق شدقه فكذاب يحدث بالكذبة فتحمل عنه حتی تبلغ الأفاق، فيصنع به الى يوم القيامة، والذي رايته يشدخ راسه فرجل علمه الله القران فنام عنه بالليل ولم يعمل فيه بالنهار، يفعل به الى يوم القيامة، والذی رايته فی النقب فهم الزناة، والذی رايته فی النهرآكل الربا.الحديث، (صحيح بخاري ج۱ ص ۱۸۵، ج۲ ص ۱۰۴۳ واللفظ له، ترمذی ج۲ ص ۵۳.)

۱] شدق (کله): سر ، مخ، ژامنه (غياث اللغات ص: ۱۱۴۶ طبع علمی کتاب گهر لاهور)

دارِوایت دحضرت ابوامامه رضي الله عنه نه هم روایت شوی دی. ولولئ. موارالظمان ص ۴۴۵.
مجمع الزوائد ج ۱ ص ۷۲. کنزالعمال ج ۱۴ ص ۵۳۸،۵۳۷. مستدرک حاکم ج ۲ ص ۲۱۰.

ترجمه: دجناب رسول الله ﷺ عادت مبارک و. چې دسهارلمانځه نه وروسته به خپلوصحابه کرامو رضي الله عنهم ته متوجه شو او وبه یې فرمایل: چې تاسوکې دشپې چاخوب لیدلی دی؟ که چابه لیدلی و. نووبه یې ویل . حضور ﷺ به یې تعبیربیان کړ. دعادت مطابق یوځل یې دتولونه پوښتنه وکړه.چې چاخوب لیدلی دی؟ ټولوویل چې هیچاهم نه دی لیدلی. حضور ﷺ وفرمایل چې: مانن شپه خوب کې ولیدل چې ماته دوه کسان راغلل اوزمالاس یې ونیواوزه یې یوې مقدسې ځمکې ته بوتلم. چې ګورم چې یوسړی ناست دی اوبل ولاړدی، اودهغه په لاس کې داوسپنې زنبوردی. اودهغه ناست سړي سخوابنتی(اوخکی) کټ کوي، تردې چې دختې هډوکي پورې ورسیږي. بیادویم سخوابنتي (وخکي) سره هم دغه معامله کوي، اوبیادهغه سخوابنتي (وخکي) جوړشي. اوبیادهغه سره هم دغه معامله کوي. ما پوښتنه وکړه داڅه خبره ده؟ هغو دواړوکسانوویل: مخکې ځه! موږمخکې روان شو. تر دې چې یوداسې سړي باندې تیرشو.کوم چې پروت دی.دهغه سرته یوسړی ولاړدی چې دهغه په لاس کې غټ کاڼی دی اوپه کاڼي باندې دهغه سر ډیر په زورسره. ماتوي.کله چې دهغه سرپه کاڼي باندې ووهي،نوکاڼی لیرې پورې لاړشي.کله چې هغه سړی کاڼو راخستو پسې لاړشي اولاراغلی به نه و چې دهغه بل سړی سربه بیاجوړشوی واوبیابه یې هغه شان سر ورمات کړ. ماپوښتنه وکړه. داڅه دي؟ هغوی دواړوویل چې مخکې ځه، موږ مخکې لاړو،تردې چې موږ یوغارته ورسیدوکوم چې دتنورپه شان و. لاندې نه ازاد و.له پاسه نه تنګ، هغه کې اور بل و. اوپه هغه کې ډیر لوڅ سړي اوښځې پراته وو.کله به چې هغه اور راپورته شو،نوهغوی ټول به هم ورسره را پورته شول. تردې چې باندې راوتلوته به نژدې شول، بیابه چې کوم وخت اور ټیټ شو.نوهغوی به هم ورسره لاندې لاړل. ماپوښتنه وکړه، داڅه دي؟ هغوی دواړو وویل: مخکې ځه! موږ مخکې لاړو.تردې چې دویو یوې ویالې (نهر) ته ورسیدو،دهغه په مینځ کې یوسړی ولاړدی، اود نهر په غاړه یوبل سړی ولاړ دی، اودهغه مخې ته ډیرکاڼي موجوددي. نهرکې دننه سړی دنیرغاړې ته راځي. کله چې هغه راوتل غواړي، غاړه باندې ولاړکس یې په یوکاڼو باندې دومره زورسره او ولي چې هغه بیاخپل مخکې ځای ته ورسیږي، بیاچې کله هغه راوتل وغواړي نوهم همدارنګه یې په کاڼي باندې ورمینځ ته کړي، ماپوښتنه وکړه:داڅه دي؟ ماهغو دواړوکسانوته وویل :چې زه تاسوټوله شپه وګرځولم، اوس خوراته ووایئ چې داڅه خبره ده؟ هغوی وویل :چې کوم کس تاسو ولیده چې دهغه سخوابنتي(وخکي) کټ کیږي هغه کس دروغژن و. هغه به دروغ وویل اوخبرې به یې مشهورې شوې . هغه سره به دقیامت تر ورځې پورې هم داسې کیږي.

اودکوم کس چې سرماتول کیده، داهغه کس دی چې الله تعالی ورته دقران کریم علم ورکړی و، دشپې به دقران نه غافل ویده شواودورځې به یې په قران کریم باندې عمل نه کاوه. دقیامت پورې به ده سره هم داسې معامله کیږي. کوم کسان چې دوینې په نهرکې ولیده. هغه سودخوردی. (بهشتی زیوربرخه اول سچی کهانیا حکایت نمبر۴)

۳: ترجمه: حضرت براء بن عازب رضی الله عنه روایت دی چې موږ دیو انصاري په جنازه کې درسول الله ﷺ سره ولاړو. کله چې قبرته ورسیدو، نولحدتیارنه و. په دې وجه باندې رسول الله ﷺ کښناست او موږ هم دحضور ﷺ نه ګېرچاپېره کښناستو. لکه چې زموږ په سرونوباندې مرغۍ ناستې وي. دحضور ﷺ په لاس کې یوه امساوه. په امسا سره یې په ځمکه کې کرښې وهلې (لکه انسان چې سوچ اوفکرکوي) بیایې سرمبارک راپورته کړ او ویې فرمایل چې: دقبر له عذاب نه الله تعالی ځخه پناه وغواړئ. د سې یې درې ځله وویل. بیایې وفرمایل: کله چې خلک مړی خښ کړي اوخښونکي لاړشي. نومړی دخلکو دپښواواز اوري، اومړي ته دوه فرښتې راشي. راکښنوي یې اومړي ته وایي چې ستارب څوک دی؟ مړی وایي چې زمارب الله تعالی دی، فرښتې ورته وایي ستادین څه دی؟ مړی وایي زمادین اسلام دی. فرښتې پوښتنه وکړي چې داسړی څوک و، کوم چې تاسوته درلیږل شوی و؟ مړی وایي چې محمد دالله تعالی رسول دی، فرښتې وایي، چې تاته څه پته لګېدلې وه، مړی به ورته ځواب ورکړي چې ماد الله تعالی کتاب لوستلی دی، هغه باندې مې ایمان راوړی دی. اودرسول الله ﷺ مې تصدیق کړی دی.

دالله تعالی قول دی: ,,يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ،، (سوره ابراهیم ایت۲۷)

ترجمه: الله تعالی دایمان خاوندان په (دکلمې طیبې په برکت) په دنیااواخرت کې مضبوط کړي دي، دلته چې دکوم تثبیت ذکر دی له دې نه مراد دمړي دنکیراومنکردسوالونو په باره کې مضبوط پاتې کیدل مراددي.

بیایواوازکونکی اواز وکړي چې: زمابنده ریښتیاوویل، ده له پاره دجنت فرش خپورکړئ، ده ته دجنت جامې ورواغوندئ. اوده ته دجنت طرف ته دروازه خلاصه کړئ. (ده ته به دجنت دروازه خلاصه شي) دجنت هوا اوخوشبویي به ورته راځي. اودنظر ترحده به دهغه قبرازاد کړل شي.

بیاحضور ﷺ دکافرد مرګ ذکرکولونه وروسته دهغه دقبرحالات بیانولوکې وفرمایل چې: دهغه روح دهغه بدن ته ورداخل کړل شي، اودوه فرښتې هغه ته راشي. راکښنوي یې. بیابه هغه ته وایي چې ستارب څوک دی؟ هغه به ووایي چې هې! هې! ماته پته نشته. هغوی به ورته ووایي چې ستادین څه دی؟ هغه به ووایي هې! هې! ماته پته نشته. هغوی به ورته

وو ايي چې داسې ځوک دی کوم چې تاسو ته درليږل شوی و. هغه به وايي چې هی: هی: ماته پته نشته. داسمان نه يو اوازکونکی به اوازوکړي چې دی دروغ وايي، دده له پاره داور فرش خپورکړئ. ده ته داورجامې ورواغوندئ. اوده له پاره ددوزخ طرف ته دروازه خلاصه کړئ. دهغه له پاره به ددوزخ طرف ته دروازه خلاصه کړل شيا وهغه ته به ددوزخ ګرمي اوتاو راشيا ودهغه به قبرتنګ کړل شي.تردې چې دهغه دواړه پوښتې يوبل کې ننوځي.نعوذبالله بياهغه باندې يوه.ړنده اوکڼه فرښته مقورې شيا ودهغو په لاس کې داوسپنې ګرز وي.که چېرې هغه ګرز باندې غر ووهل شي نوهغه به خاورې شي.هغه کافرمړی به په هغه ګرز باندې داسې وهي. چې له انسانانوا وپيريانونه پرته به يې باقي ټول ځناور اوري.هغه ګرزباندې لګېدوسره خاورې شيا وهغه کې بياروح واچول شي.(جامع الاصول ج١١ ص ١٧٧،ابوداؤد ج٢ ص ٧٥٤. مصنف عبدالرزاق ج ٣ ص ٥٨١. مسند احمد ج٤ ص ٢٩٢)

٤: عن أبي هريرة ، عن النبي صلى الله عليه وسلم ، قال : « إن الميت يسمع خفق نعالهم إذا ولوا مدبرين ، فإن كان مؤمنا كانت الصلاة عند رأسه ، وكان الصوم عن يمينه ، وكانت الزكاة عن يساره ، وكان فعل الخيرات من الصدقة والصلاة والصلة والمعروف والإحسان إلى الناس عند رجليه ، فيؤتى من قبل رأسه فتقول الصلاة : ما قبلي مدخل ، ويؤتى من عن يمينه ، فيقول الصوم ما قبلي مدخل ، ويؤتى من عن يساره فتقول الزكاة ما قبلي مدخل ، ويؤتى من قبل رجليه فيقول فعل الخيرات ما قبلي مدخل ، فيقال له : اقعد فيقعد ، وتمثل له الشمس قد دنت للغروب فيقال له ما تقول في هذا الرجل الذي كان فيكم ، وما تشهد به ؟ فيقول : دعوني أصلي ، فيقولون : إنك ستفعل ولكن أخبرنا عما نسألك عنه قال : وعم تسألوني عنه ؟ فيقولون : أخبرنا عما نسألك عنه ، فيقول : دعوني أصلي . فيقولون : إنك ستفعل ولكن أخبرنا عما نسألك عنه ، قال : وعم تسألوني؟ فيقولون : أخبرنا ما تقول في هذا الرجل الذي كان فيكم وما تشهد به عليه ؟ فيقول : محمدا ، أشهد أنه عبد الله ، وأنه جاء بالحق من عند الله ، فيقال له : على ذلك حييت ، وعلى ذلك مت ، وعلى ذلك تبعث إن شاء الله ، ثم يفتح له باب من قبل النار فيقال له : انظر إلى منزلك وإلى ما أعد الله لك ، لو عصيت فيزداد غبطة وسرورا ، ثم يفتح له باب من قبل الجنة فيقال له : انظر إلى منزلك ، وإلى ما أعد الله لك فيزداد غبطة وسرورا ، وذلك قول الله تبارك وتعالى : (يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت في الحياة الدنيا ، وفي الآخرة ، ويضل الله الظالمين ويفعل الله ما يشاء) » قال : وقال أبو الحكم ، عن أبي هريرة ، فيقال له : « أرقد رقدة العروس الذي لا يوقظه إلا أعز أهله إليه اوأحب أهله إليه » . ثم رجع إلى حديث أبي سلمة ، عن

أبي هريرة ، قال : « وإن كان كافرا أتي من قبل رأسه فلا يوجد شيء ، ويؤتى عن يمينه فلا يوجد شيء ، ثم يؤتى عن يساره فلا يوجد شيء ، ثم يؤتى من قبل رجليه فلا يوجد شيء ، فيقال له : اقعد فيقعد خائفا مرعوبا ، فيقال له : ما تقول في هذا الرجل الذي كان فيكم ، وماذا تشهد به عليه ؟ فيقول : أي رجل ؟ فيقولون : الرجل الذي كان فيكم . قال : فلا يهتدي له ، قال : فيقولون : محمد فيقول : سمعت الناس قالوا فقلت كما قالوا ، فيقولون : على ذلك حييت ، وعلى ذلك مت ، وعلى ذلك تبعث إن شاء الله ، ثم يفتح له باب من قبل الجنة فيقال له : انظر إلى منزلك ، وإلى ما أعد الله لك لو كنت أطعته فيزداد حسرة وثبورا ، قال : ثم يضيق عليه قبره حتى تختلف أضلاعه ، قال : وذلك قوله تبارك وتعالى : (فإن له معيشة ضنكا ، ونحشره يوم القيامة أعمى .(مستدرک حاکم ج١ ص ٣٧٩، واللفظ له، ابن حبان ج٦ ص ٦٥، موارد الظمآن ص ١٩٧، ١٩٨، ابن ماجه ص ٣١٥، ترمذی ج١ ص ١٢٧)

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې: کله خلک مړی خښ کړي اوخښونکي لاړشي مړی دهغوی دپښواوازونه اوري، بياکه چېرې هغه مړی مومن وي نولمونځ دهغه سرطرف ته ، روژه ښي طرف ته. زکاة چپ طرف ته، اونورنفلي عبادتونه مثلاً صدقه، نفل لمونځ، صله رحمي، خلکوسره ښه کول اوښه اخلاق دهغه دپښوطرف ته راشي،که چېرې څوک دهغه دسر طرف ته راځي. نولمونځ ورته وايي چې دلته لاره نشته، اوکه چېرې دښي طرف نه راځي نوروژه ورته وايي چې دلته لاره نشته اوکه دچپ طرف نه راځي نوزکاة ورته وايي چې دلته لاره نشته، اوکه پښوطرف نه راځي نونفلي عبادتونه ورته وايي، چې دې طرف نه لاره نشته.

بيافرښتي(نکيراومنکر) هغه ته ووايي چې جک شه کېنه. هغه کېني.نوموږي ته داسې ښکاري لکه لمرچې غورځيدوته نژدې وي.فرښتې هغه ته وايي چې ددې کس باره کې څه وايي کوم چې تاسوکې و؟ اوته دده باره کې څه ګواهي ورکوې؟ مړی به ووايي:صبروکړئ. ترڅوزه لمونځ وکړم، فرښتې به وايي چې ته بيالمونځ کوه،خوموږچې دڅه له پاره راغلي يو،دهغه ځواب موږته راکړه! هغه به وايي تاسومانه څه پوښتنه کوئ؟ هغوی وايي هغه سوال چې موږيې کوو، دهغه ځواب راکړه! هغه به وايي لږصبروکړئ،چې زه لمونځ وکړم، فرښتې به ورته وايي، لمونځ خوبه ته کوې، موږچې ستانه څه پوښتنه کوو دهغه ځواب راکړه! هغه به وايي تاسومانه نوردڅه شي پوښتنه کوئ، هغوی به ورته وايي موږته دا ووايه چې داکس کوم چې تاسوکې و،دده باره کې ته څه وايي اوڅه ګواهي ورکوې؟ هغه به وايي چې ستاسومراد حضرت محمد ﷺ نه دی؟ زه ګواهي ورکوم چې هغه دالله تعالی بنده دی، هغه دالله تعالی دطرف نه موږته رښتونی دين راوړی و. بياهغه ته وويل شي چې تا هم په

دې عقيدې باندې ژوندتيرکړ .په هم دې باندې مړشوې. اوانشاء الله په هم دې باندې به بيا راژوندی کېږې. بيابه هغه له پاره ددوزخ طرف ته دروزاه خلاصه کړل شي، چې وګوره! که نه چېرې نافرمانه وی نودوزخ کې به ستاکوردغه و. الله تعالی ستادسزا له پاره داسامان تيار کړی و .دې سره دهغه په خوشحالي کې نور هم زيادت راشي، بيادهغه له پاره د جنت طرف ته دروازه خلاصه کړل شي او ورته به ووېل شي چې وګوره! اوس جنت کې ستاکوردغه دی اوالله تعالی ستا دسکون سامان تيارکړی دی،

اودالله تعالی ددې قول هم دامطلب دی. ايت,,يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ. .(سوره ابراهيم ايت۲۷)

ترجمه الله تعالی ايمان خاوندان دهغوی دمضبوطو خبرو (دکلمې طيبې په برکت)په دنيا اواخرت کې مضبوط ساتي.(ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

بياهغه ته ووېل شي چې ويده شه څنګه چې ناوې ويده کيږي.چې هغه له محبوب پرته هغه بل څوک نه رابيداروي.اوکه چېرې مړی کافروي اودهغه سرطرف ته څوک راتلل غواړي، نوڅوک منع کونکی بې نه وي . دښي طرف نه که څوک راتلل غواړي،نوهلته هم څوک نه وي. دچپ طرف نه که راتلل غواړي نوهلته هم څوک موجودنه وي، اوکه دپښودطرف نه راځي نوهغه طرف ته هم څه منع کونکی شی نه وي. فرښتې هغه ته وايي چې کېنه،نوهغه په ويره کې کېني. فرښتې ورته وايي چې داڅوک و،کوم چې په تاسوکې موجودو؟ اوته دده باره کې څه ګواهي ورکوې؟ هغه وايي کوم سړی؟ فرښتې ورته وايي، هماغه چې تاسوکې موجودو. خوهغه نه پوهيږي چې دا دکوم سړي باره کې پوښتنه کوي؟ بيا فرښتې (دحضور ﷺ نوم اخستلوسره) ووايي چې دمحمد (ﷺ) باره کې څه وايې؟ هغه وايي، چې ما دخلکونه دده باره کې يوه خبره اوريدلې وه. ماهم هغه خبره کوله چې(نعوذبالله) حضور ﷺ رښتونی نه دی. فرښتې وايي چې تا په دې عقيدې باندې ژوندتيرکړ،هم دې باندې مړشوې اوانشاء الله هم دې باندې به بيا راژوندی کېږې. بيادهغه له پاره دجنت طرف ته يوه دروازه خلاصه کړل شي اوورته به ووېل شي چې وګوره! که چېرې ته منونکی وی نودابه ستاځای و، اوالله تعالی ستادسکون سامان تيارکړی و. دهغه په افسوس اوپښېماني کې نور هم زياتوالی وشي. بيادهغه قبر تنګ کړل شي. تردې چې دهغه پوښتۍ په يوبل کې ننوځي،

اوهم دا دالله تعالی ددې قول مطلب دی: ,,وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾.(سوره طه ايت۱۲۴)

ترجمه. کوم کس چې زماد نصيحت نه سرغړونه کوي،نودهغه له پاره به تنګ ژوندوي اودقيامت په ورځ به موږ هغه ړوندله قبرنه راپورته کوو .(ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

۵: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصَلَّاهُ فَرَأَى نَاسًا كَأَنَّهُمْ يَكْتَثِرُونَ قَالَ أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ عَمَّا أَرَى فَأَكْثِرُوا مِنْ ذِكْرِ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ يَوْمٌ إِلَّا تَكَلَّمَ فِيهِ فَيَقُولُ أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ فَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ مَرْحَبًا وَأَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ قَالَ فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوْ الْكَافِرُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ قَالَ فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى يَلْتَقِيَ عَلَيْهِ وَتَخْتَلِفَ أَضْلَاعُهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصَابِعِهِ فَأَدْخَلَ بَعْضَهَا فِي جَوْفِ بَعْضٍ قَالَ وَيُقَيِّضُ اللَّهُ لَهُ سَبْعِينَ تِنِّينًا لَوْ أَنَّ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتْ الدُّنْيَا فَيَنْهَشْنَهُ وَيَخْدِشْنَهُ حَتَّى يُفْضَى بِهِ إِلَى الْحِسَابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (جامع ترمذی ج۲ ص ۶۹)

ترجمه: دحضرت ابوسعید خدري ﷺ نه روایت دی چې یوځل حضور ﷺ خپل دلمانځه ځای ته راغی. نوويې لیدل چې څه خلک خاندي. دې سره حضور ﷺ وفرمایل چې: واورئ! که چېرې تاسوخوند ختمونکی هروخت یادوئ نوهغه به تاسوله دې حالت نه مشغول کړي وای. کوم چې زه اوس تاسووینم.هغه خوند ختمونکی شی (یعني مرګ ډیر ډیر یادوئ)، ځکه چې قبرباندې یوه ورځ هم داسې نه تیریږي. په کومه کې چې هغه داخبره نه کوي چې زه دمسافري کوریم،زه دیواځې والي کوریم،زه دخاورو کوریم.زه دچنجوکوریم. بیاچې کله مومن بنده دې قبرکې ښخ کړل شي نوقبرهغه ته هرکلي ویلو نه وروسته وایي چې: زماله پاسه به څومره خلک ګرځیدل، په هغوی کې ته ماته دټولونه محبوب وې. اونن چې ته ماته سپارل شوی یې، اوماته رارسیدلی یې. نوته به وګورې چې زه تاسره څومره ښه سلوک کوم.قبربه دهغه له پاره دنظرترحده ازاد شي او دهغه له پاره دجنت طرف ته یوه دروازه خلاصه کړل شي.

اوکله چې بدکار یا(کافر) ښخ کړل شي نو قبر وایي چې ستاراتلل دې مبارک نه وي. زماله پاسه به چې څومره خلک ګرځیدل په هغوی کې له ټولونه زیاته کینه زماتاسره و. نن چې ته ماته سپارل شوی یې اوته ماته راورسیدلی نوته به وګورې چې زه تاسره څنګه بدسلوک کوم، قبرهغه باندې راتنګ شي، تردې چې هغه ته دومره زور ورکړي چې دیو طرف هډوکي یې بل طرف کې ننوځي(دې باندې پوهولوله پاره)، حضور ﷺ دلاسونوګوتې یوبل کې ورکړې، ویې فرمایل: هغه باندې اویا زهرلرونکي ماران مسلط کړل شي(هغه ماران دومره

زهرلرونكي وي) كه چېرې هغوكې يومار په ځمكه باندې پوكى وكړي، نوپاتې دنياپورې به دلته شين بوټى را ونه ځيږي. هغه ماران هغه ته هميشه ټكونه وركوي. تردې چې دقيامت په ورځ هغه دحساب كتاب له پاره راپاسولى شي.

حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې حضور ﷺ وفرمايل چې قبرخو يا دجنت دباغونو نه يوباغ دى، اويا د دوزخ دكندو نه يوه كند ده.

پورته بيان شوي حديثونه دنمونې په طورباندې وړاندې كړى شول. دې كې چې كوم مضمونونه ذكرشوي دي. دهغې خلاصه په دې عنوانوكې وړاندې كيږي:

مړى د خپنونكو د پښو اوازونه اوري

دامضمون په په حديثونوكې راغلي دي:

۱: دحضرت انس رضي الله عنه حديث مخكې تيرشوى دى، دهغه الفاظ دادي:

قَالَ الْعَبْدُ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتُوُلِّيَ وَذَهَبَ أَصْحَابُهُ حَتَّى إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ (بخاري ج١ ص ١٧٨، ١٨٣، مسلم ج ٢ ص ٣٨٦، ابوداؤد ج ٢ ص ٦٥٤، نسائي ج ١ ص ٢٨٨، شرح السنه ج ٥ ص ٤١٥، ابن حبان ج ٦ ص ٤٩)

ترجمه: مړى چې كله قبركې خښ كړى شي اودهغه خښونكي لاړشي، تردې چې هغه دهغوى دقدمونو اواز اوري.

۲: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

قال أبو هريرة: فإنه يسمع قرع نعالهم. (عبدالرزاق ج٣ ص ٥٦٧)

ترجمه:حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې: بياهغه (خښولونه وروسته دخښونكو) دپښو اوازاوري.

۳: دمسنداحمد الفاظ دادي:

قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ لَيَسْمَعُ خَفْقَ نِعَالِهِمْ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ (مسنداحمدج ٢ ص ٤٤٥، حاكم ج ١ ص ٣٧٩، ٣٨٠، وقال صحيح على شرط مسلم، واقره الذهبي، ابن حبان ج٦ ص ٤٥ــ ٤٨، مواردالظمان ص ١٩٦، ١٩٧، مجمع الزوائدج ٣ ص ٥٤، اتحاف ج١٠ ص ٤١٩)

ترجمه: كله چې خلك دمړي خښولونه وروسته لاړشي، نوهغه دهغوى دقدمونو اواز اوري.

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه ديوبل حديث الفاظ دادي:

إن الميت يسمع حسّ النعال إذاولوعنه مدبرين. (شرح السنه ج٥ ص ٤١٣)

ترجمه: بې شكه مړى دپښو اوازهم اوري. كله يې چې خلك هغه خښ كړي اوترې روان شي.

۴: دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

فإنه يسمع خفق نعال أصحابه إذا ولوا عنه (عبدالرزاق ج ۳ ص ۵۸۱، احمد ج ٤ ص ۲۹٦، ابو داؤد ج۲ ص ٦٥٤)

ترجمه: بې شکه هغه دهغوی د قدمونو اواز اوري، کله چې خلک د هغه د خښولونه لاړ شي:

۵: د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د حديث الفاظ دادي:

إذا دفن الميت سمع خفق نعالهم إذا ولوا عنه منصرفين، (رواه الطبراني في الكبر، ورجاله ثقات، مجمع الزوائد ج۳ ص ٥٤، كنز العمال ج۱٥ ص ٦۰۰، اتحاف ج۱۰ ص ٤۱٦، درمنثور ج٤ ص ۸۲)

ترجمه: د مړي خښولونه وروسته چې کله خلک لاړشي نو هغه (مړی) د هغوی د پښو اوازونه اوري.

۶: د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

حتى يسمع صاحبكم خبط نعالكم، (مصنف عبدالرزاق ج۳ ص ۵۸۳)

ترجمه: تردې چې ستاسو ملګری (مړی) ستاسو د پڼو اوازونه اوري.

۷: د عبد الله بن عبيد بن عمير رضي الله عنه د حديث الفاظ دادی.

قال: ان الميت يقعد وهو يسمع خطو مشيعيه، (اتحاف السادة ج ۱۰ ص ۳۹۷)

ترجمه: مړی کېنول شي او هغه د رخصت کونکو د قدمونو اوازونه اوري.

د منکر نکير راتلل

دامضمون په حديثونو کې ډېر راغلی دی چې کله مړی خښ کړل شي نو دوه فرښتې هغه ته راځي، هغه کېنوي او د هغه سره سوال او ځواب کوي، د هغوی سوال او ځواب ته فتنة القبر (د قبر کې د مړي امتحان) ويل شوي دي، حافظ سيوطي رحمه الله، شرح الصدور کې او علامه زبيدی رحمه الله، شرح احياء کې ليکي:

دې باندې پوهيدل پکار دي چې فتنة القبر د دوو فرښتو د سوال او ځواب نوم دی او دې باره کې د دې حضراتو څخه تواتر سره حديثونه روايت شوي دي، حضرت ابوهريره، براء بن تميم داري، عمر بن خطاب، انس، بشير بن اكال، ثوبان، جابر بن عبدالله، حذيفه، عباده بن صامت، ابن عباس، ابن عمر، ابن عمرو، ابن مسعود، عثمان بن عفان، عمرو بن عاص، معاذ بن جبل، ابوامامه، ابوالدرداء، ابورافع، ابوسعيد خدري، ابوقتاده، ابوموسی، اسماء او حضرت عائشه (رضی الله عنهم) (شرح الصدور ص ۴۹، اتحاف السادة المتقين ج ۱۰ ص ۴۱۲)

له دې نه وروسته د واړو حضراتو د ټولو روايتونو تخريج شوي دي. دلته مخکې د هغو حديثونو د ماخذ طرف ته اشاره کوم، کوم چې د دې د واړو حضراتو ذکر کړي دي، د دې نه وروسته به بيا د نورو حديثونو زيادت کوم، او د کوم و ماخذونو طرف ته چې مونږ نه شور سيدلای، هلته به د شرح صدور او شرح احياء په حواله باندې به ماخذ ذکر کيږي.

۱: د حضرت انس رضي الله عنه حديث مخکې بيان شوی دی، د هغه الفاظ دادي:

أَتَاهُ مَلَكَانِ فَأَقْعَدَاهُ فَيَقُولَانِ لَه ...... (صحيح بخاري ج۱ ص ۱۷۸_۱۸۳، صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۸۶، ابوداؤد ج۲ ص ٦٥٤، نسائی ج ۱ ص ۲۸۸)

ترجمه: هغه ته دوه فرښتې راشي او هغه کښنوي.

۲: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د حديث الفاظ دادي:

إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ (بخاري ج ۱ ص ۱۸٤، ترمذی ج ۱ ص ۱۲۷، نسائی ج ۱ ص ۲۹۲، ابن ماجه ص ۳۱۵)

ترجمه: کله چې انسان مړشي (نوقبرکې د سوال ځواب نه وروسته) د هغه مخې ته خپل اصل کور وړاندې کړی شي، که چېرې هغه جنتي وي نو جنت کې د هغه کورهغه ته وړاندې کړی شي او که چېرې دوزخی وي نو هغه ته دوزخ کې خپل کور وړاندې کړل شي، بیا هغه ته وويل شي چې دا ستا اصل کور دی.

اتحاف بين المتقين شرح احياء علوم الدين کې د دیلمي مسند الفردوس نه دا الفاظ نقل شوي دي: الظوا السنتكم قول لااله الاالله وان محمدرسول الله، وان الله ربنا، والاسلام ديننا، ومحمداً نبينا، فانكم تسئلون عنها فی قبوركم. (اتحاف السادة بين المتقين ج ۱۰ ص ٤١٦)

ترجمه: خپلې ژبې د کلمې "لااله الاالله محمد رسول الله. سره عادت کړئ. او دا خبره ډيره ډيره کوئ، چې الله تعالى زموږ رب دی، اسلام زموږ دين دی، او محمد صلی الله علیه وسلم زموږ نبي دی. ځکه چې تاسو نه به د دې باره کې په قبرونو کې سوال کيږي.

۳: د حضرت براء بن عازب د حديث الفاظ دادي:

قال: اذاقعد المؤمن فی قبره أتی... (صحيح بخاري ج۱ ص ۱۸۳، صحيح مسلم ج۲ ص ۳۸٦، نسائی ص ۲۹۰، ابوداؤد ج۲ ص ٦٥٤، ابن ابی شيبه ج۳ ص ۲۷۷)

ترجمه: ويې فرمايل: که چېرې مومن په قبرکې کښنول شي، نو هغه ته دوه فرښتې راځي.

۴: د حضرت اسماء بنت ابی بکر رضي الله عنهما د حديث الفاظ دادي:

يُقَالُ مَا عِلْمُكَ بِهَذَا الرَّجُلِ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ أَوِ الْمُوقِنُ لَا أَدْرِي بِأَيِّهِمَا قَالَتْ أَسْمَاءُ فَيَقُولُ هُوَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى فَأَجَبْنَا وَاتَّبَعْنَا هُوَ مُحَمَّدٌ ثَلَاثًا. (صحيح بخاري ج ۱ ص ۱۸، صحيح مسلم ج ۱ ص ۲۹۸، مؤطا ص ۱۷٦)

ترجمه: مړي ته وويل شي چې تا ته د دې کس (يعني حضور صلی الله علیه وسلم باره کې څه معلومات دي؟ نو مؤمن ځواب ورکوي چې: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالى رسول دی، موږ ته يې ښکاره حکمونه او هدايت راوړی و. موږ حضور صلی الله علیه وسلم قبول کړ او د حضور صلی الله علیه وسلم اطاعت مو وکړ. درې ځله

وايي چې دی محمد ﷺ دی

۵: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث مخکې تيرشوی دی. د هغه الفاظ دادي.

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ أَوْ قَالَ أَحَدُكُمْ أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا الْمُنْكَرُ وَالْآخَرُ النَّكِيرُ (ترمذی ج ۱ ص ۱۲۷، ابن ماجه ص ۳۱۵، مستدرک ج ۱ ص ۳۷۹، ابن حبان ج ٦ ص ۴۵)

ترجمه: کله چې مړی قبرکې کېښودل شي نو هغه ته دوه فرښتې راشي. توررنګ اوشنو سترګو والا. يوته منکر اوبل ته نکير ويل کيږي.

۶: د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

فَإِذَا دَفَنْتُمُونِي فَسُنُّوا عَلَيَّ التُّرَابَ سَنًّا ثُمَّ أَقِيمُوا حَوْلَ قَبْرِي قَدْرَ مَا تُنْحَرُ جَزُورٌ وَيُقْسَمُ لَحْمُهَا حَتَّى أَسْتَأْنِسَ بِكُمْ وَأَنْظُرَ مَاذَا رَاجِعُ بِهِ رُسُلَ رَبِّي (صحيح مسلم ج ۱ ص ۷٦، سنن کبری ج ٤ ص ٥٦)

ترجمه: کله چې ماخښ کړئ نوماباندې خاوره واچوئ. بيا زماقبرته نزدې دومره وخت پورې ودريږئ چې داوښ له ذبحې سره د هغه غوښه تقسيم شي. چې ماته ستاسو په موجودګۍ کې سکون وي، اوزه دا وګورم چې زه د خپل رب فرښتوته څه ځواب ورکوم.

۷: د حضرت عثمان رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

فَقَالَ اسْتَغْفِرُوا لِأَخِيكُمْ وَسَلُوا لَهُ بِالتَّثْبِيتِ فَإِنَّهُ الْآنَ يُسْأَلُ (ابوداؤد ج ۲ ص ۴۵۹، مستدرک حاکم ج ۱ ص ۳۷۰، مشکوة ص ۲٦ کنز العمال ج ۷ ص ۵۸، سنن کبری ج ٤ ص ٥٦)

ترجمه: ويې فرمايل: د خپل ورور له پاره بښنه غواړئ، اود هغه له پاره د ثابت قدمي دعاکوئ، ځکه چې اوس د هغه سره سوال اوځواب کيږي.

۸: د حضرت جابر رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

فإذا أدخل المؤمن قبره وتولى عنه أصحابه جاءه ملك شديد الانتهار فيقول له ما كنت تقول في هذا الرجل؟.... (مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤۸، مسند احمد ج ۳ ص ۳٤٦، مصنف عبد الرزاق ج ۳ ص ۵۸۵، الاحسان بترتيب ابن حبان ج ٦ ص ٤۷)

ترجمه: کله چې مومن قبرته داخل کړل شي اود هغه خښونکي لاړ شي، نو هغه ته ډېره غوسه ناکه فرښته راشي او هغه ته وايي چې دې کس (يعني د حضور ﷺ باره کې څه وايې؟

۹: د حضرت عائشه رضي الله عنها د حديث الفاظ دادي:

فَأَمَّا فِتْنَةُ الْقَبْرِ فَبِي تُفْتَنُونَ وَعَنِّي تُسْأَلُونَ فَإِذَا كَانَ الرَّجُلُ الصَّالِحُ أُجْلِسَ فِي قَبْرِهِ غَيْرَ فَزِعٍ وَلَا مَشْعُوفٍ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ فِيمَ كُنْتَ فَيَقُولُ: فِي الْإِسْلَامِ (مسند احمد ج ٦ ص ۱٤۰، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤۸، ٤۹)

ترجمه: پاتې شو د قبر از ميبنت؛ له تاسو نه به زمابار ه کې امتحان اخستل کيږي. او زمابار ه کې به تاسو نه پوښتنه کيږي. که مړی ښه سړی وي نو هغه قبر کې کېنول شي. او هغه ته وويل شي چې ته کوم دين باندې وې؟ هغه وايي چې زه په اسلام باندې وم.

۱۰: دحضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

إذا أدخل الرجل قبره فإن كان من أهل السعادة ثبته الله بالقول الثابت فيسأل ما أنت فيقول أنا عبد الله حيا وميتا. (مصنف ابن ابي شيبه ج ۳ ص ۳۷۷، اتحاف السادة المتقين ج ۱۰ ص ٤١٦، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٥٤)

ترجمه: کله چې انسان قبرته داخل کړل شي نو که چېرې نيك بخته وي، نو الله تعالى هغه د صحيح قول سره مضبوط وساتي، د هغه نه سوال وکړل شي چې ته څوک يې؟ نو هغه ځواب کې ووايي چې زه په ژوند کې هم د الله تعالى بنده وم، او د مرګ نه وروسته هم.

۱۱: دحضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنه د حديث الفاص هم دادي:

۱۲: دحضرت عبيد بن عمير رضي الله عنه د موقوف حديث الفاظ دادي:

وذكر منكرا ونكيرا، يخرجان في أفواههما وأعينهما النار.... فقالا: من ربك؟ (عبد الرزاق ج ۳ ص ۵۹۰، ۵۹۱)

ترجمه: حضور صلى الله عليه وسلم د منکر او نکير ذکر وکړ چې: د هغوی د خولې او سترګو نه داور شغلې وځي، او هغوی وايي چې ستا رب څوک دی؟

۱۳: دابو رافع رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا ولكني أففت من صاحب هذا القبر الذي سئل عني فشك في. مجمع الزوائد ج ۳ ص ۵۳، كنز العمال ج ۱۵ ص ٦٤١، اتحاف ج ۱ ص ٤١٨)

ترجمه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: نه! (ما تاسو باندې افسوس نه دی کړی) بلکې د هغه قبرخاوندانو باندې مې افسوس کړی دی، له چانه چې زمابار ه کې پوښتنه وشوه او هغه زمابار ه کې د شک اظهار وکړي.

۱۴: دحضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د حديث الفاظ دادي:

إذا دفن الميت يسمع خفق نعالهم حين إذا ولوا عنه منصرفين، قال: ثم يجلس فيقال له: من ربک؟ فيقول: الله. (مجمع الزوائد ج ۳ ص ٥٤، اتحاف ج ۱۰ ص ٤١٦)

ترجمه: له مړي نه خښونکي چې کله لاړ شي، نو د هغوی د پښو اواز هغه اوري، ويې فرمايل: بيا هغه کېنول شي، هغه ته وويل شي چې ستا رب څوک دی؟ هغه وايي. زما رب الله تعالى دی.

۱۵: دحضرت ابي درداء رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

فجاءكم ملكان أزرقان جعدان يقال لهما: منكرونكير. فقالا: من ربک؟ وما دينک؟ ومن نبيك؟...الخ. (اتحاف السادة المتقين، ج۱۰ ص ۴۱۷. شرح الصدور ص ۵۵)

ترجمه: بیابه تاسوته دوه فرښتې راځي. چې دهغوی سترګې به شنې اووېښته به یې ګوړ کوټي وي، هغوی ته منکراونکيرويلی شي. هغوی دواړه به وايي چې ستارب څوک دی؟ دين دې څه دی؟او ستانبي څوک دی؟

۱۶: دحضرت بشيراكال المعوي رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

إني مررت بقبروهويسال عني فقال: لاأدري فقلت: لادريت! (كنزالعمال ج۱۵ ص ۶۴۲. مجمع الزوائدج۳ ص ۴۸، شرح الصدورص۵۰)

ترجمه: زه ديوقبرخواکې شوم،په هغه کې چې زماباره کې پوښتنه کیدله.هغه ځواب ورکړچې زه یې نه پیژنم، دې باندې ماوويل چې تاپخپله نه پیژانده (اونه دې دکوم پوه کس خبره منله)

۱۷: دحضرت ابوقتاده رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

إن المؤمن إذامات أجلس فی قبره فيقال له: من ربک؟ فيقول: الله تعالى.... الخ. (اتحاف السادة المتقين ج۱۰ ص ۴۱۸، شرح الصدورص۵۵)

ترجمه: کله چې مومن مړشي نوهغه په خپل قبرکې کينول شي، بیاهغه ته وويل شي چې ستارب څوک دی؟ هغه ووايي: الله تعالى.

۱۸: دحضرت معاذبن جبل رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

فاذاوضع فی قبره وسوي عليه وتفرق عنه أصحابه،أتاه منكرونكير. فيجلسانه فی قبره. (اتحاف السادة المتقين، ج۱۰ ص ۴۱۷ شرح الصدورص۵۴)

ترجمه: کله چې مړی قبرکې کېښودل شي اوپه هغه باندې خاوره واچول شي اودهغه خښونکي رخصت شي، نوهغه ته منکر او نکير راشي اوهغه قبرکې کېنوي.

۱۹: دحضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

كيف أنت فی أربع أذرع فی ذراعين، ورايت منكراونكيرا؟ قلت: يارسول الله! ومامنكرنكير؟ قال: فتانا القبر. (اتحاف السادة ج۱۰ ص ۴۱۴، شرح الصدور ص۵۴)

ترجمه: څلورګزه اوږد او دوه ګزه پلن ځای (قبر) کې به ستاڅه حالت وي کله چې منکراونکير ووینې؟ ماوويل: يارسول الله! منکراونکيرڅوک دي؟رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قبرکې امتحان اخستونکې فرښتې.

۲۰: دحضرت ابودرداء رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

ثم سدوا عليک من اللبن واکثروا عليک من التراب، فجاءک ملکان أزرقان جعدان يقال لهما منکر ونکير.(کتاب الزهد ابن مبارک، بيهقي، ابن ابي شيبه ج ٣ ص ٣٧٨ـ ٣٨٩، اتحاف السادة ج ١٠ ص ٤١٧، شرح الصدور ج ١ص ٥٥)

ترجمه: ستاحالت به هغه وخت څه وي کله چې تا په قبر کې کېږدي اوستا دپاسه خښتې کېښودل شي او ډېره خاوره په تاباندې واچول شي؟ بيابه تاته د شنو سترګو او ويرونکي شکل والا دوه فرښتې راشي. چې هغو ته منکر او نکير ويل کيږي.

۲۱: دحضرت ابو امامه رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

فإن منکرا ونکيرا فيتأخر کل واحد منهما فيقول: إنطلق بنا... الخ.(مجمع الزوائد ج ٣ ص ٤٥، کنز العمال ج ١٥ ص ٦٠٥، شرح الصدور ص ٤٤، اتحاف السادة ج ١٠ ص ٣٦٨)

ترجمه: کله چې(مړی دسوالونو صحيح ځواب ورکړي) نو منکر او نکير ديو بل لاس ونيسي او ووايي، چې بس اوس له دې ځايه ځو.

۲۲: دحضرت حذيفه رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

إن الملک يمشي معه الى القبر، فإذا سوي عليه، سلک فيه، فذلک حين يخاطب. (شرح الصدور ص ٤٠، اتحاف السادة ج١٠ ص ٤٢٢)

ترجمه: بې شکه فرښته له جنازې سره دقبرخواته ځي. کله چې مړی په قبرکې کېښودل شي اوهغه باندې خاوره واچول شي ،نوهغه فرښته دهغه قبرته لاړه شي اودهغه سره خبرې وکړي.

۲۳: دحضرت تميم داري رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

ويبعث الله إليه ملکين، أبصارهما کالبرق الخاطف، وأصواتهما کالرعد القاصف....الخ. (اتحاف السادة ج ١٠ ص ٢٦٨)

ترجمه (کافر) مړی چې کله قبرکې کېښودل شي ، نوالله تعالی هغه ته دوه فرښتې(منکراونکير) راوليږي. چې دهغوی سترګې به دبجلۍ په شان پړقيږي اودتندر په شان اواز به يې وي.

۲۴: دحضرت عباده بن صامت رضي الله عنه دحديث نه پرته دې موضوع باندې دحضرت عطاء بن يسار رضي الله عنه حديث هم نقل دی.

دقبر فتنه

قبرکې مړي ته منکراونکيرراتلل اوله هغه سره سوال اوځواب کولو ته حديث شريف کې "فتنة القبر (قبرکې له مړي امتحان اخستل) ويل شوي دي، په حديثونوکې ددې ذکرپه داسې ډول سره دی:

۱: د حضرت عائشه رضي الله عنها د حديث الفاظ دادي:

إِنَّهُمْ يُعَذَّبُونَ عَذَابًا تَسْمَعُهُ الْبَهَائِمُ كُلُّهَا فَمَا رَأَيْتُهُ بَعْدُ فِي صَلَاةٍ إِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. (صحيح بخاري ج۱ ص ۱۸۳، ج۲ ص ۹۴۲، نسائي ج۱ ص ۲۹۱)

ترجمه: حضور ﷺ وفرمايل چې: کوموخلکوته قبرکې عذاب ورکول کيږي. ټول څناور يې اوري، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: له دې نه وروسته به حضور ﷺ په لمانځه کې د قبرله عذاب نه خامخا پناه غوښتله.

د صحيح مسلم د حديث الفاظ دادي:

كَانَ يَدْعُو بِهَؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ اللَّهُمَّ فَإِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ. (صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۴۷، ترمذی ج ۲ ص ۱۸۷، ابن ماجه ص ۲۷۲، مسند احمد ج ٦ ص ۵۷، مصنف عبدالرزاق ج ۲ ص ۲۰۸، ج۳ ص ۵۸۹، شرح السنه ج۵ ص ۱۵۷)

ترجمه: حضور ﷺ به دغو الفاظوکې دعاغوښتله، اې الله! زه پناه غواړم د دوزخ له فتنې اوعذاب نه، او د قبرله فتنې نه.

د مسند حميدي د روايت الفاظ دادي:

إنكم تفتنون في قبوركم. (مسند حميدی ص ۹۴، مسند احمد ج٦ ص ۵۳، ۸۹، ۲۳۸)

ترجمه: قبرونوکې به ستاسو سره امتحان (سوال او ځواب) وي.

۲: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْهَرَمِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. (بخاري ج۲ ص ۹۴۲، صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۴۷، ترمذی ج ۲ ص ۱۸۷، نسائی ج ۲ ص ۳۱۳، مسند احمد ج ۳ ص ۱۷۹، ۲۰۵، ۲۳٦، ۲٦۴، ابن ابي شيبه ج ۳ ص ۳۷۵)

ترجمه: اې الله! زه پناه غواړم له عاجزي او سستي نه. له بزدلي او ډېر زوړتوب (بوډاوالي) نه او زه ستانه پناه غواړم د ژوند او مرګ له فتنو نه.

د مسند احمد د روايت الفاظ دادي:

قَالَ تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ وَفِتْنَةِ الدَّجَّالِ قَالُوا وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِنَّ هَذِهِ الْأُمَّةَ تُبْتَلَى فِي قُبُورِهَا. (مسند احمد ج۳ ص ۲۳۳)

ترجمه: وې فرمايل: پناه وغواړئ د قبرله عذاب نه، او د دوزخ له عذاب نه او د دجال د فتنې نه، صحابه کرامو رضي الله عنهم وويل: يارسول الله! د قبر فتنه څه شی دی؟ ويې فرمايل: قبرکې له دې امت نه امتحان اخستل کيږي.

دیو بل حدیث الفاظ دادي:

فإن مات أو قتل غفرت له ذنوبه كلها وأجير من عذاب القبر. (مجمع الزوائد ج ٥ ص ۲۹۱)

ترجمه: مرابط (د اسلامي پولو ساتونکی) که چېرې مړشي یا شهید شي نو دهغه ټول ګناهونه به وبښل شي. او هغه به د قبر د عذاب نه بچ کړل شي.

۳: د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د حدیث الفاظ دادي:

كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو وَيَقُولُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ. (صحیح بخاري ج ۱ ص ۱۸٤، نسائي ج ۱ ص ۲۹۰، حاکم ج ۱ ص ۵۳۳، کنز العمال ج ۲ ص ۱۹۰)

ترجمه: حضور صلی الله علیه وسلم به دا دعا کوله. اې الله! زه ستانه پناه غواړم. د قبر د عذاب نه او د دوزخ د عذاب نه.

د ترمذي شریف د روایت الفاظ دادي: اسْتَعِيذُوا بِاللّٰهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. (ترمذی ج ۲ ص ۲۰۰)

ترجمه: د قبر له عذاب نه الله تعالی څخه پناه وغواړئ.

د سنن ابن ماجه د روایت الفاظ دادي:

مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَجْرَى عَلَيْهِ أَجْرَ عَمَلِهِ الصَّالِحِ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُ وَأَجْرَى عَلَيْهِ رِزْقَهُ وَأَمِنَ مِنَ الْفَتَّانِ. (ابن ماجه ص ۱۹۸، کنز العمال ج ۲ ص ٤۱۸)

ترجمه: کوم کس چې د الله تعالی په لارکې څوکیداري کولو کې مړشي. د هغه ټول نېه عملونه به جاري وي کوم به چې هغه کولو د هغه رزق جاري وي. او هغه به قبرکې د امتحان نه محفوظ وي. د هغه سره به سوال او ځواب نه کیږي.

۴: د حضرت اسماء رضی الله عنها د حدیث (کوم چې مخکې تیر شو دی) الفاظ دادي:

قام رسول الله صلی الله علیه وسلم خطیباً فذکر فتنة القبر.

(صحیح بخاري ج ۱ ص ۱۸۳، نسائي ج ۱ ص ۲۹۰، مشکوة ص ۲٦)

ترجمه: حضور صلی الله علیه وسلم خطبه وویله. او هغه کې یې د قبر د فتنې ذکر وکړ.

د مسند احمد د روایت الفاظ دادي:

إنه قد أوحى إلى إنكم تفتنون في القبور. (ج ٦ ص ۳٤۵)

ترجمه: ماته وحي شوې ده چې له تاسو نه به په قبرکې امتحان اخستل کیږي.

۵: د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د حدیث الفاظ دادي:

أللهم إنى أعوذبک من البخل، وأعوذبک من الجبن، وأعوذبک من أن أرد إلى أرذل العمر، وأعوذبک من فتنة الدنيا، وأعوذبک من عذاب القبر. (صحیح بخاري ج ۲ ص ۹٤۲، ۹٤۳، ج ۲ ص ۹٤۵، نسائي ج ۲ ص ۳۱۳، ابن ابي شیبه ج ۳ ص ۳۷٦، ج ۱۰ ص ۱۸۸)

ترجمه: اي الله! زه ستاسره پناه غواړم دبخل نه. او ستاسره پناه غواړم دبزدلي نه. او ستاسره پناه غواړم له دې چې دبوډاوالي په عمرکې مړشم، اوزه ستاسره پناه غواړم ددنيادفتنې نه. اوزه ستاسره پناه غواړم دقبرعذاب نه.

۶: دحضرت ام خالدبنت خالدبن سعيدبن العاص دحديث الفاظ دادي:

سمعت النبي ﷺ وهويتعوذمن عذاب القبر.(صحيح بخاري ج ۱ ص ۱۸۴، ج ۲ ص ۹۴۲، ابن ابى شيبه ج ۱۰ ص ۱۹۳، مسنداحمد ج ٦ ص ۳٦۵، كنزالعمال ج ۱۵ ص ۷۳۸)

ترجمه: ماله نبي كريم ﷺ نه دقبرعذاب څخه پناه غوښتل اوريدلي دي.

دمصنف ابن ابى شيبه درروايت الفاظ دادي:

قدأوحى إلىّ إنكم تفتنون فى القبور. (ابن ابى شيبه ج ۳ ص ۳۷۵)

ترجمه: ماته وحې شوې ده چې قبرونوكې ستاسوامتحان اخستل كيږي.

دكنزالعمال دطبراني په حواله باندې درروايت الفاظ دادي:

إستجيروا بالله من عذاب القبر.(كنزالعمال ج ۱۵ ص ٦۳۸)

ترجمه: دقبردعذاب نه په الله تعالى سره پناه غواړئ.

۷: دحضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

فقال: تعوذوابالله من عذاب القبر! فقالو: نعوذبالله من عذاب القبر. (صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۸٦، شرح السنه ج ۵ ص ۱٦۲، ابن ابى شيبه ج ۳ ص ۳۷۳، ج ۱۰ ص ۱۸۵، كنزالعمال ج ۲ ص ۲٦۳)

ترجمه: حضور ﷺ وفرمايل: په الله تعالى سره پناه وغواړئ دقبرله عذاب نه. صحابه كرامو رضي الله عنهم وويل: موږ دقبرله عذاب نه په الله تعالى سره پناه غواړو.

۸: دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دحديث الفاظ دادي:

أللّهم إنى أعوذبک من عذاب جهنم ومن عذاب القبر. (ترمذى ج ۲ ص ۱۸۷، نسائى ج ۱ ص ۲۹۰، ابن ماجه ص ۲۷۲، ۲۷۳، مسنداحمد ج۱ ص ۳۰۵، كنزالعمال ج ۲ ص ۲٦۳)

ترجمه: اي الله! زه ستاسره پناه غواړم ددوزخ له عذاب اودقبرله عذاب نه.

۹: دحضرت سلمان فارسي رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

رباط يوم وليلة خيرمن صيام شهروقيامه، وإن مات جرى عليه عمله الذى كان يعمله، وأجرى عليه رزقه، وأمن من الفتان.(صحيح مسلم ج ۲ ص ۱۴۲، سنن كبرى، بيهقى ج ۹ ص ۳۸، كنزالعمال ج ۴ ص ۲۹۴، مسنداحمد ج۵ ص ۴۴۰، مشكوة ص ۳۳۹، درمنثورج ۴ ص ۳٦۸)

ترجمه: يوه ورځ اويوه شپه داسلامي سرحدڅوكيداري ديوې مياشتې لمونځ اوروژې نه غوره ده اوكه چيرې دغه كس مړشي نوكوم عمل يې چې كاو، هغه عمل به دنوموړي له پاره همېشه جاري وي، اورزق به يې هم جاري وي اودقبرله امتحان نه به هم محفوظ وي.

ديوبل روايت الفاظ دادي:

رباط يوم فی سبيل الله أفضل، وربما قال: خير من صيام شهر وقيامه، ومن مات فيه وقی فتنة القبر ونمي له عمله إلى يوم القيامة. (ترمذی ج ۱ ص ۲۰۰، کنز العمال ج ٤ ص ۳۲٦، ۳۲۷ مجمع الزوائد ج ٥ ص ۲۹۰)

ترجمه: دالله تعالى په لارکې يوه ورځ ثوکيداري کول ديوې مياشتې دلمونځواوروژونه غوره دا، اوکوم کس چې دې حالت کې مړشي، هغه به دقبردسوال اوځواب نه وساتل شي او دهغه عمل به دقيامت پورې جاري وي.

ديوبل روايت الفاظ دادي:

من مات مرابطاً أجير من فتنة القبر. (مستدرک حاکم ج۲ ص ۸۰، ابن ابی شيبه ج ٥ ص ۳۳۷، اتحاف ج۱۰ ص ۳۸۱) ترجمه: ثوک چې دالله تعالى په لارکې ثوکيداري کې مړشي، هغه ته به دقبرله فتنې نه پناه ورکړشي.

۱۰: دحضرت زيدبن ارقم رضی الله عنه دحديث الفاظ دادي:

کان يقول: ألّلهم إنی أعوذبک من العجزوالکسل والجبن والبخل والهرم وعذاب القبر. (صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۵۰، نسائی ج ۲ ص ۳۱٤، ابن ابی شيبه ج ۳ ص ۳۷٤، ج ۱۰ ص ۱۸٦)

ترجمه: حضور صلی الله عليه وسلم به دادعاکوله: اې الله! زه ستاسره پناه غواړم دعاجزکيدونه، سستي نه، بزدلي نه، بخل نه، دډيرزيات بوډاوالی نه اودقبردعذاب نه.

دترمذي دحديث الفاظ دادي:

إنه کان يتعوذمن الهرم وعذاب القبر. (ترمذی ج ۲ ص ۱۹۷)

ترجمه: حضور صلی الله عليه وسلم به پناه غوښتله دډيرزيات بوډاوالی نه اودقبردعذاب نه.

۱۱: دحضرت ابوبکر رضی الله عنه دحديث الفاظ دادي:

ألّلهم إنی أعوذبک من الهم والکسل وعذاب القبر. (ترمذی ج ۲ ص ۱۸۸، نسائی ج ۲ ص ۳۱٤، مسنداحمد ج ٥ ص ٤۲، حاکم ج ۱ ص ۳۵، ۲۵۲، قال صحيح علی شرط مسلم، واقره الذهبی، ابن ابی شيبه، ج ۳ ص ۳۷٤، کنزالعمال ج ۲ ص ۱۸۱)

ترجمه: اې الله! زه پناه غواړم ددنياله فکرونو، سستي او دقبردعذاب نه.

۱۲: دحضرت عمربن خطاب رضی الله عنه دحديث الفاظ دادي:

أن النبي صلی الله عليه وسلم کان يتعوذمن الجبن والبخل وأرذل العمروعذاب القبروفتنة الصدر، وعذاب القبر. (نسائی ج ۲ ص ۳۱٦، مسنداحمد ج ۱ ص ۲۲، ٥٤، ابن ماجه ص ۲۷٤، مستدرک حاکم، ج ۱ ص ۵۳۰، وقال هذاحديث صحيح علی شرط الصحيحين، واقره الذهبی، ابن ابی شيبه ج ۲ ص ۳۷٤)

ترجمه: نبي کريم ﷺ به پناه غوښتله، له بزدلي نه، بخل نه، د کمزوري د عمرنه، د قبر د عذاب نه او د سينې له فتنې نه.

۱۳: د حضرت مقدام بن معديکرب رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

لشهيد عند الله ست خصال: يغفر له من أول دفعة، ويرى مقعده من الجنة، ويجار من عذاب القبر.... الخ. (ترمذی ج ۱ ص ۱۹۹، ابن ماجه ص ۲۰۱، مسند احمد ج ٤ ص ۱۳۱، مشکوة ص ۳۳۳، کنز العمال ج ٤ ص ٤۰٥)

ترجمه: شهيد ته شپږ انعامونه ورکول کيږي، لومړی مرتبه کې هغه وبښل شي، جنت کې هغه ته خپل کور وښودل شي او هغه د قبر عذاب نه وساتل شي.

۱۴: د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

لو سالت الله أن يعافيک من عذاب فی النار وعذاب فی القبر، لکان خيراً لک. (صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۳۸، جامع الاصول ج ٤ ص ۳٤۸، مسند احمد ج ۱ ص ٤۲۳، ابن ابی شيبه ج ۳ ص ۳۷٤، شرح السنه ج ٥ ص ۱٦۳)

ترجمه: که چېرې تا له تعالی غوښتنه کړې وای چې تاسو د دوزخ او قبر له عذاب نه محفوظ وساتي؛ نو دا ستاسو له پاره بهتروه.

د ترمذي شريف د روايت الفاظ دادي:

وأعوذ بک من عذاب النار وعذاب القبر. (ترمذی ج ۲ ص ۱۷٥)

ترجمه: اوزه د الله تعالی سره پناه غواړم د دوزخ او قبر له عذاب نه.

د حاکم د روايت الفاظ دادي:

أللهم إنی أعوذ بک.... من فتنة الدجال وعذاب القبر.

(مستدرک حاکم ج ۱ ص ۵۳۴)

ترجمه: اي الله! زه ستا سره پناه غواړم.... د دجال د فتنې نه او د قبر د عذاب نه.

۱۵: د فضاله بن عبيد رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

الذی مات مرابطاً فی سبيل الله فإنه ينمی له عمله إلی يوم القيامة، ويأمن فتنة القبر. (ترمذی ج ۱ ص ۱۹٥، ابوداؤد ج ۱ ص ۳۳۸، مشکوة ص ۲۳۲، مستدرک حاکم ج ۲ ص ۷۹، مسند احمد ج ٦ ص ۲۰، موارد الظمآن ص ۳۹۱، اتحاف ج ۱۰ ص ۳۸۱، درمنثور ج ۲ ص ۱۱٤)

ترجمه: کوم سړی چې د الله په لاره کې چوکيداري کولو کې مړ شي تر قيامته پورې د هغه عمل زياتيږي او هغه به د قبر له فتنې نه محفوظ وي.

۱٦: د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه د حديث (کوم چې مخکې تير شوی دی) الفاظ دادي:

قال ويأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان له: من ربک؟.....الخ.(ابو داؤد ج ۲ ص ٦٥٤، عبدالرزاق ج ۳ ص ٥٨١، ابن ابي شيبه ج ۳ ص ۳۷٤، ۳۷٥، مسند احمد ج ٤ ص ٤٩٦)

ترجمه: او مړي ته دوه فرښتې راشي، هغه کينوي، او هغه ته وايي: چې ستا رب څوک دی؟

۱۷ دحضرت عمرو بن ميمون رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

إن رسول الله ﷺ كان يتعوذ بهن دبر الصلوة: أللّهم إني أعوذبک من الجبن، وأعوذبک من البخل، وأعوذبک من أرذل العمر، وأعوذبک من فتنة الدنيا وعذاب القبر.

(ترمذي ج ۲ ص ۱۹٦، نسائي ج ۲ ص ۳۱٦، ۳۱۷، ابن ماجه ص ۲۷۳)

ترجمه: حضور ﷺ به دهر لمانځه نه وروسته له دې شيانونه پناه غوښتله، او فرمايل به يې: اې الله! زه ستا سره دبزدلي نه، بخل نه، د ذليل عمرنه، ددنيا دازميښت او دقبر دعذاب نه پناه غواړم.

۱۸: دحضرت سليمان بن صرد او خالد بن عرفطه رضي الله عنهما دحديث الفاظ دادي:

من يقتله بطنه لم يعذب في قبره. (ترمذي ج ۱ ص ۱۲٦، نسائي ج ۱ ص ۲۸۸، كنز العمال ج ٤ ص ٤٢٤، مسند احمد ج ٤ ص ۲٦۲، ج ٥ ص ۲۹۲، موارد الظمآن ص ۱۸٦)

ترجمه: هغه کس کوم چې دخېټې په مرض باندې مړ شي، هغه ته به دقبر عذاب نه وي.

۱۹: دحضرت علي كرم الله وجهه دحديث الفاظ دادي:

أللّهم إني أعوذبک من عذاب القبر ووسوسة الصدر. (ترمذي ج ۲ ص ۱۹۰، كنز العمال ج۲ ص ۱۸۱، عن شعب الايمان بيهقي)

ترجمه: اې الله! زه ستا سره پناه غواړم دقبر دعذاب نه او دسينې د وسوسو نه.

۲۰: دحضرت عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

أللّهم إني أعوذبک من الكسل.... وأعوذبک من عذاب القبر، وأعوذبک من النار. (نسائي ج ۲ ص ۳۱٦، مسند احمد ج۲ ص ۱۷٥، ۱۷٦)

ترجمه: اې الله! زه ستا سره پناه غواړم دسستى نه، دقبر دعذاب نه او اور نه.

۲۱: دحضرت ابو مسعود رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

كان النبي ﷺ يتعوذ من خمس: من البخل، والجبن، وسوء العمر، وفتنة الصدر، وعذاب القبر. (نسائي ج ۲ ص ۳۱۳)

ترجمه: حضور ﷺ به ددې پنځو شيانونه پناه غوښتله، بخل، بزدلي، بد عمر، دسينې له فتنې او دقبر دعذاب نه.

۲۲: دحضرت راشد بن سعد عن رجل من اصحاب النبي ﷺ دروايت الفاظ دادي:

قال: يارسول الله! مابال المؤمنين يفتنون فى قبورهم إلاّ الشهيد؟ (نسائى ج ۱ ص ۳۸۹)

ترجمه: يارسول الله! ايا د شهيد نه پرته د ټولو مومنانو به قبرکې ازميښت وي؟

۲۳: د حضرت عثمان بن ابو العاص رضي الله عنه د حديث الفاظ دا دي:

أللهم إنى أعوذبک.... ومن فتنة المحيا والممات. (نسائى ج ۲ ص ۳۱٦)

ترجمه: اې الله! زه ستا سره پناه غواړم د ژوند او مرګ وروسته فتنو څخه.

۲۴: د حضرت ام سلمه رضي الله عنها د حديث الفاظ دا دي:

أعوذبک... من عذاب القبر... ومن فتنة الغنى ومن فتنة القبر. (مستدرک حاكم ج ۱ ص ۵۲٤)

ترجمه: اې الله! زه پناه غواړم د قبر د عذاب نه. د مال له فتنې نه او د قبر د ازميښت نه.

۲۵: د حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه د حديث الفاظ دا دي:

إن هذه الأمة تبتلى فى قبورها. (مسند احمد ج ۳ ص ۳٤٦، كنز العمال ج ۱۵ ص ٦٣٦، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤٨)

ترجمه: بې شکه له دې امت نه په قبرونوکې اخستل کيږي.

د مصنف عبد الرزاق د روايت الفاظ دا دي:

فأمر أصحابه أن يتعوذوا من عذاب القبر. (مصنف عبد الرزاق ج ۳ ص ۵۸٤)

ترجمه: حضور صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وفرمايل: د قبر د عذاب نه پناه غواړئ!

۲٦: د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه د حديث (کوم چې مخکې تير شوي دي) الفاظ دا دي:

إن هذه الأمة تبتلى فى قبورها. (مسند احمد ج ۳ ص ۳، ابن ابى شيبه ج ۳ ص ۳۷۳)

ترجمه: بې شکه د دې امت به په خپلو قبرونوکې ازميښت کيږي.

د مجمع الزوائد د روايت الفاظ دا دي:

من توفى مرابطا وقى فتنة القبر. (مجمع الزوائد ج ۵ ص ۲۹۰)

ترجمه: کوم کس چې د اسلامي سرحدونو حفاظت کې وفات شي، هغه به د قبر د عذاب نه محفوظ وي.

د موارد الظمان د روايت الفاظ دا دي:

لولا أن تدافنوا لدعوت الله أن يسمعكم عذاب القبر الذى أسمع منه، إن هذه الأمة تبتلى فى قبورها. (موارد الظمان ص ۱۹۹، كنز العمال ج ۱۵ ص ٦٤٤)

ترجمه: که چېرې دا ويره نه وه چې تاسو به مړی خښول پريږدئ و. نو ما به الله تعالی ته دعا کړې وه، چې تاسو باندې يې د قبر عذاب اورولی وای. کوم چې زه اورم.

د اتحاف السادة المتقين شرح احياء العلوم الدين الفاظ دا دي:

من توفى مرابطا وقى فتنة القبر. (اتحاف السادة المتقين ج ۱۰ ص ۳۸۲)

ترجمه: کوم کس چې د اسلامي سرحدونو حفاظت کې وفات شي. هغه به د قبر د عذاب نه محفوظ وي.

۲۷: د حضرت ام بشر د حديث الفاظ دادي:

إستعيذوبالله من عذاب القبر! قلت: يارسول الله! وللقبر عذاب؟ قال: إنهم ليعذبون فى قبورهم عذابا تسمعه البهائم. (ابن ابى شيبه ج ۳ ص ۳۷۴، ۳۷۵، موارد الظمان ص ۲۰۰، مجمع الزوائد ج ۳ ص ۵۶)

ترجمه: د قبر د عذاب نه د الله تعالى سره پناه غواړئ. ما ووېل: يارسول الله! ايا قبرونو کې به عذاب وي؟ ويې فرمايل: هو! هغوی (کافرانو) ته داسې ورکول کيږي، چې ټول ځناورېې اوري.

۲۸: د حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه د حديث الفاظ دادي:

ويؤمن من فتان القبر. (مسند احمد ج ٤ ص ۱۵۰، مجمع الزوائد ج ۵ ص ۲۸۹، اتحاف السادة ج ۱۰ ص ۳۸۱) ترجمه: کوم کس چې د اسلامي سرحد په حفاظت کې وفات شي، هغه به د قبر د عذاب نه محفوظ وي.

۲۹: د حضرت واثله بن اسقع رضی الله عنه د حديث الفاظ دادي:

ألا! إن فلان بن فلان فى ذمتک وحبل جوارک فقه فتنة القبر وعذاب النار. (مسند احمد ج ۳ ص ۳۹۱) ترجمه: اې الله! فلاني د فلاني زوی ستا امان او ستا ګاونډ ته درغلی دی، هغه د قبر د ازميښت نه وساته!

۳۰: د جارة النبي صلى الله عليه وسلم د حديث الفاظ دادي:

أللهم إنى أعوذبک من عذاب القبر وفتنة القبر. (مسند احمد ج ۵ ص ۲۷۱)

ترجمه: اې الله! زه ستا سره پناه غواړم د قبر د عذاب او د قبر د فتنې نه.

۳۱: د حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه د حديث الفاظ دادي:

ويجار من عذاب القبر. (مسند احمد ج ٤ ص ۱۳۱، مجمع الزوائد ج ۵ ص ۲۹۳)

ترجمه: او (شهيد) به د قبر د عذاب نه محفوظ وي.

۳۲: د حضرت عمرو بن دينار رضی الله عنه د حديث الفاظ دادي:

كيف بک ياعمر! يفتان القبر. (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ۵۸۲)

ترجمه: اې عمر! هغه وخت کې به ستاڅه حال وي، کله چې قبر کې تا ته منکر او نکير راشي؟

۳۳: د حضرت عبدالرحمن بن حسنه رضی الله عنه د حديث الفاظ دادي:

فقال: أوماعلمتم ماأصاب صاحب بنى اسرائيل؟ كان الرجل منهم إذا أصابه الشي من البول قرضه بالمقراض فنهاهم عن ذالک فعذب فى قبره. (مصنف ابن ابى شيبه ج ۳ ص ۳۷۵، ۳۷۶)

ترجمه: تاسو ته پته نشته چې دبنی اسرائیلو هغه سړي سره څه وشول؟
بنی اسرائیلو کې به که چاباندې متیازې ولګېدې نوهغه ځای به یې کټ کړ، خوهغه کس هغه وساته، په دې وجه باندې هغه ته دقبرعذاب ورکړل شو.
۳۴: دحضرت یعلی بن شبابه رضي الله عنه دحدیث الفاظ دادي.

إن صاحب هذا القبر يعذب.... (ابن ابی شیبه ج ۳ ص ۳۷۶)
ترجمه: بې شکه دې قبروالاته عذاب ورکول کیږي.
۳۵: دحضرت حکم رضي الله عنه دحدیث الفاظ دادي:

اَللّهم إني أعوذبک من غلبة العدو ومن غلبة الدين وفتنة الدجال وعذاب القبر. (ابن ابی شیبه ج ۱۰ ص ۱۹۵)
ترجمه: اې الله! زه ستاسره پناه غواړم ددښمن دغلبې نه، دقرض دغلبې نه، ددجال دفتنې او د قبر دعذاب نه.
۳۶: دحضرت ابودرداء رضي الله عنه داثرالفاظ دادي:

فان بهاعذاباً من عذاب القبر. (ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۳۲۶)
ترجمه: بې شکه هلته دقبردعذاب په شان یوعذاب دی.
۳۷: دحضرت عبیدالله بن عمر رضي الله عنه دحدیث الفاظ دادي:

وأعوذبک من عذاب القبروأعوذبک من عذاب النار. (کنزالعمال ج ۲ ص ۲۱۰)
ترجمه: اې الله! زه ستاسره پناه غواړم دقبردعذاب نه، اوداوردعذاب نه.
۳۸: دحضرت حسن رضي الله عنه دحدیث الفاظ دادي:

حادت عن رجل يضرب في قبره من أجل النميمة. (کنزالعمال ج ۱۵ ص ۷۳۹)
ترجمه: (زماکچرپه دې وجه باندې) ویریده چې یوسړی قبرکې دچغل خوري په وجه باندې وهل کیده.
۳۹: دحضرت میمونه رضي الله عنها مولاة النبي صلى الله عليه وسلم دحدیث الفاظ دادي:

ياميمونة! تعوذي بالله من عذاب القبر. (کنزالعمال ج ۱۵ ص ۷۸)
ترجمه: اې میمونې! دقبردعذاب نه الله تعالی سره پناه غواړه!
۴۰: دحضرت ابوالحجاج ثماني رضي الله عنه دحدیث الفاظ دادي:

يقول القبر للميت... ألم تعلم إني بيت الظلمة وبيت الفتنة... الخ. (کنزالعمال ج ۱۵ ص ٦٤٤، حلية الاولياء ج ٦ ص ۹۰، اتحاف ج ٦ ص ۳۰۱)
ترجمه: قبرمړي ته وايي چې اياتاته پته نه وه، چې زه دتیارو او ازمیښتونو کوریم.
۴۱: دحضرت ابوامامه رضي الله عنه دحدیث الفاظ دادي:

من رابط فى سبيل الله أمنه الله من فتنة القبر. (مجمع الزوائد ج ٥ ص ٢٨٩، كنز العمال ج ٤ ص ٢٨٢)
ترجمه: كوم كس چې داسلامي سرحد څوكيداري وكړه، هغه به الله تعالى دقبردفتنې نه محفوظ وساتي.
۴۲: دحضرت ابودرداء رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي

رباط يوم وليلة يعدل صيام شهروقيامه .... ويوق الفتان، (كنزالعمال ج ٤ ص ٣٢٧، مجمع الزوائد ج ٥ ص ٢٩٠)
ترجمه: دالله تعالى په لاركې يوه ورځ څوكيداري كول ديوې مياشتې دروژواولمونځونو نه غوره دي ....اوكوم كس چې دې حالت كې مړشي هغه به دقبردسوال ځواب نه وساتل شي.
۴۳: دحضرت عثمان رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي

من مات مرابطافى سبيل الله .... أمن من الفتان ويبعثه الله تعالى آمناً من الفزع الأكبر. (اتحاف ج ١٠ ص ٣٨٢)
ترجمه: كوم كس چې دالله تعالى په لاركې څوكيداري كوي ... الله تعالى هغه دمنكر او نكير دسوال اوځواب نه محفوظ ساتي اود قيامت په ورځ به هغه باندې هيڅ ويره نه وي.
۴۴: دحضرت ثابت بنائي رحمه الله دحديث الفاظ دادي:

إذاوضع الميت فى قبره إحتوشته اعماله الصالحة وجاء ملك العذاب، فيقول له بعض اعماله: إليك عنه، فلولم يكن إلاأنالماوصلت إليه. (حلية الاولياء ج ٦ ص ١٨٩)
ترجمه: كله چې مړي قبركې كيښودل شي نودهغه ښه عملونه دهغه نه شا اوخوا راتاوشي، اوكله چې دعذاب فرښته راشي نودهغه په ښه عملونوكې يوعمل وايي: ده نه لېرې اوسه! كه چېرې زه يواځې واى، نوبياهم ته ده ته نزدې نه شوې راتلى.
۴۵: دحضرت ام سلمه رضي الله عنها دحديث الفاظ دادي:

أللهم اغفرلى لأبى سلمه وارفع درجته... وافسح له فى قبره ونورله فيه. (صحيح مسلم، جامع الاصول ج ١١ ص ٨٤، ابوداؤد ج ٢ ص ٤٤٥، مسنداحمد ج ٦ ص ٢٩٧، بيهقى سنن كبرى ج ٣ ص ٣٨٤، شرح السنه ج ٥ ص ٣٠٠، اتحاف ج ٥ ص ١٠٣) ترجمه: اې الله! ابوسلمه وبښه !اودهغه درجې اوچتې كړه! اې الله! دهغه قبرورته ازاد كړه اوهغه ورته رڼاكړه!
۴۶: دحضرت عوف بن مالك رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

أللهم اغفرله... وأعذه من عذاب القبر. (صحيح مسلم، ج ١ ص ٣١١، نسائى ج ١ ص ٢٨١، مسنداحمد ج ٦ ص ٢٣، ابن ابى شيبه ج ٣ ص ٢٩١، ج ١٠ ص ٤٠٩)
ترجمه: اې الله! دى وبښه! اوده ته دقبردعذاب نه خلاصى نصيب كړه!

نکیر او منکر مړی په قبر کې راکینوي

حدیثونو کې یو طرف ته مړي ته د نکیر او منکر د راتلو او سوال او ځواب ذکر دی. نو بل طرف حدیثونو کې راغلي دي چې منکر او نکیر مړي ته قبر کې د کېناستو حکم وکړي. او هغه د سوال او ځواب له پاره په قبر کې کېني. دې باره کې په دې حدیثونو حواله کافي ده

۱: د حضرت انس رضی الله عنه حدیث کې دي:

أتاه ملكان فأقعداه. (صحيح بخاري ج ۱ ص ۱۷۸، ۱۸٤، صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۸٦، نسائي ج ۱ ص ۲۸۸، ابن حبان ج ٦ ص ٤۹، شرح السنه ج ٥ ص ٤۱٥، كنز العمال ج ۱٥ ص ٦۳٤، مشكوة ص ۲٤)

ترجمه: قبر کې مړي ته دوه فرښتې راځي او هغه کېنوي.

۲: د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه حدیث کې دي:

إذا أقعد المؤمن في قبره.... (صحيح بخاري ج ۱ ص ۱۸۳، ابوداؤد ج ۲ ص ٦٥٤، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٥۰، ابن ابي شيبه ج ۳ ص ۳۸۱، مشكوة ص ۲٥)

ترجمه: مؤمن چې کله قبر کې کېنول شي.

د مسند احمد د حدیث الفاظ دا دي:

فيأتيه ملكان فيجلسانه.... (مسند احمد ج ٤ ص ۲۸۷، كنز العمال ج ۱٥ ص ٦۲۷)

ترجمه: مړي ته دوه فرښتې راځي او هغه کېنوي.

۳: د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د حدیث الفاظ دا دي:

إن الميت يصير إلى القبر فيجلس الرجل الصالح في قبره غير فزع ولا مشغوف إلى قوله، ويجلس الرجل السوء في قبره فزعاً مشغوفاً. (ابن ماجه ص ۳۱٥، ابن حبان ج ٦ ص ٤٥، موارد الظمان ص ۱۹۸، كنز العمال ج ۱٥ ص ٦۳۰، شرح الصدور ص ٥۸ مشكوة ص ۲٥)

ترجمه: بې شکه کله چې مړی قبر کې کېښودل شي. نو ښه سړی په قبر کې کېنول شي. هغه وخت کې نه هغه وېرېږي او نه پریشانه وي، او بد سړی چې په قبر کې کېنول شي. نو هغه وخت کې هغه ډېر زیات وېریدلی او پریشانه وي.

د مستدرک حاکم په روایت کې دا الفاظ دي:

فيقال له: أقعد! فيقعد وتمثل له الشمس. (ج ۱ ص ۳۷۹)

ترجمه: مړي ته وویل شي چې کېنه! هغه کېني او هغه ته لمر په غورځېدو باندې ښکاري.

مجمع الزوائد کې د طبراني په روایت باندې دا الفاظ دي:

فيقال له: أجلس! فيجلس، وقد مثلت له الشمس للغروب. (مجمع الزوائد ج ۳ ص ٥۱، قال الهيثمي حسن)

ترجمه: مړي ته وويل شي، چې پورته شه کېنه. هغه کېني. او هغه ته لمر د غوړځيدو غوندې په نظر سره راځي.
۴: د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه حديث کې دي:

فإذا الإنسان دفن فتفرق عنه أصحابه، جاءه ملك في يده مطراق فأقعده.... الخ. (مسند احمد ج ۳ ص ۳. مجمع الزوائد ج ۳ ص ۴۷، كنز العمال ج ۱۵ ص ۶۳۷، اتحاف السادة بين المتقين ج ۱۰ ص ۴۱۷، شرح الصدور ص ۵۵، وقال بسند صحيح)

ترجمه: کله چې يو انسان خښ کړل شي او د هغه خښونکي د هغه ځای نه لاړشي، نو هغه ته يو ه فرښته راشي، چې د هغې په لاس به کې ګرز وي، نو فرښته هغه کېنوي.
۵: د حضرت اسماء بنت ابی بکر رضي الله عنها حديث کې دي:

قال: فيناديه، أجلس! قال فيجلس فيقول له.... الخ. (مسند احمد ج ۶ ص ۳۵۲، مجمع الزوائد ج ۳ ص ۵۱، كنز العمال ج ۱۵ ص ۶۳۵، اتحاف السادة المتقين ج ۱۰ ص ۴۱۸)

ترجمه: وېې فرمايل، قبر کې مړي ته يو ه فرښته راځي ،هغه کېنوي او هغه ته وايي.
کنز العمال کې يو بل روايت کې د حضرت اسماء رضي الله عنها د حديث الفاظ داسې دي:

إن المؤمن ليقعد في قبره. (كنز العمال ج ۱۵ ص ۶۳۶، بحواله طبراني)

ترجمه: بې شکه مومن په قبر کې کېنول کيږي.
۶: د حضرت عائشه رضي الله عنها د حديث الفاظ دا دي:

فإذا كان الرجل الصالح أجلس في قبره غير فزع ولا مشغوف.... الخ. (مسند احمد ج ۱ ص ۱۴۰، مجمع الزوائد ج ۳ ص ۴۸، اتحاف السادة ج ۱۰ ص ۴۱۸، شرح الصدور ص ۵۹)

ترجمه: کله چې مړی ښه او نېک وي، نو هغه قبر کې کېنول شي، او هغه وخت کې هغه باندې هيڅ وېره يا پريشاني نه وي.
۷: د حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه حديث کې دي:

أما المنافق! فيقعد إذا تولى عنه اهله .... (مسند احمد ج ۳ ص ۳۴۶، كنز العمال ج ۱۵ ص ۶۳۶، اتحاف السادة ج ۱۰ ص ۴۱۶، طبراني وبيهقي عذاب القبر وابن ابي الدنيا شرح الصدور ص ۵۰)

ترجمه: پاتې شو منافق! نو کله چې د هغه خښونکي لاړشي، نو هغه قبر کې کېنول شي.
د ابن ماجه د روايت الفاظ دا دي:

إذا دخل الميت القبر مثلت الشمس عند غروبها، فيجلس يمسح عينيه ...(ابن ماجه ص ۳۱۶)

ترجمه: کله چې مړی په قبر کې خښ کړل شي نو هغه ته لمر غوړځيدو کې ښکاري، بيا هغه کېنول شي او ستر کې موښي.

۸: د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه حديث کې دي

إن المؤمن إذا مات جلس فی قبره فيقال: من ربك؟ (مجمع الزوائد ج ۳ ص ٥٤، وقال: رواه الطبراني فی الكبير واسناده حسن، اتحاف السادة ج ۱۰ ص ٤١٦، شرح الصدور ص ٥٣)

ترجمه: مؤمن چې کله مړشي نوهغه قبرکې کينول شي. اوهغه ته وويل شي چې ستارب څوک دی؟

۹ د حضرت ابودرداء رضي الله عنه په موقوف حديث کې دي:

ثم جاءك ملكان أسودان أزرقان جعدان اسماءهما منكر ونكير فأجلساك ثم سألاك....(ابن ابي شيبه ج۳ ص ۳۷۹)

ترجمه: بيابه تاته دوه د تورړنګ اوشنوسترګووالا وېرونکي دوه فرښتې راځي، چې دهغونوم به منکراونکيروي. بيابه هغوی تاکښنوي اوتانه به پوښتنه کوي.

۱۰: د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د حديث الفاظ دادي:

إن الميت يسمع خفق نعالهم حين يؤتون، قال ثم يجلس فيقال له:.... (اتحالف السادة ج ۱۰ ص ٤١٦، طبراني اوسيط حسن، شرح الصدور ص٥٢)

ترجمه: مړی له ښخولونه وروسته دتلونکوخلکو دپښواواز اوري، بياهغه کښنول شي اوهغه ته وويل شي.

۱۱: د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

إن المؤمن إذا مات أجلس فی قبره. (اتحاف السادة ج ۱۰ ص ٤١٨، مجمع الزوائد ج ۷ ص ٤٤، ابن ابي حاتم، طبراني فی الاوسط، ابن منده، شرح الصدور ص ٥٥، ٥٦.)

ترجمه: کله چې مومن مړشي، نوهغه قبرکې کينول کيږي.

۱۲: د حضرت معاذ رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

أتاه منكر ونكير، فيجلسانه فی قبره.... (اتحاف السادة ج ۱۰ ص ٤١٧، شرح الصدور ص ٥٤)

ترجمه: مړي ته منکراونکيرراځي اوهغه په قبرکې کښنوي.

د جنازې اوچتونکوپه اوږوباندې د مړي خبرې

کله چې څوک مړ شي اوهغه مړی دقبرخواته وړل کيږي، که چېرې هغه ښه انسان وي. نوهغه وايي چې ما زماکوړته زر بوځئ. اوکه چېرې هغه بدکار وي،نوهغه وايي چې هی افسوس! تاسوماکوم خواته بيايئ، په حديثونوکې ددې ذکرموجوددی.

عن أبي سعيد رضي الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذاوضعت الجنازة فاحتملها الرجال على أعناقهم، فإن كانت صالحة قالت: قدموني! قدموني! وإن كانت غير صالحة قالت: ياويلها! اين تذهبون بها؟ يسمع صوتهاكل شئ إلا الانسان، ولوسمعهاالانسان لصعق. (صحيح بخاري ج ۱ ص ۱۷۵، ۱۷۵،

۱۸٤، مسند احمد ج ۳ ص ٤۱، ۵۸، ۸۵، نسائی ج ۱ ص ۲۷۰، سنن کبری بیهقی ج ٤ ص ۲۱، شرح السنه ج ۵ ص ۳۲۵، کنز العمال ج ۱۵ ص ۵۹۹، حدیث ٤۲۳۷٤)

ترجمه: د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل کله چې جنازه کیښودل شي، او خلک هغه په خپلو اوږو باندې واخلي، که چېرې هغه ښه وي، نو هغه وايي چې ما زر بوځئ؛ ما زر بوځئ او که هغه ښه نه وي، نو وايي چې هی هلاک شوم. تاسو دا جنازه کومې خواته وړئ. دهغه اوازله انسان پرته هريو شی اوري، اوکه چېرې انسان دا اواز واوریده، نوبې هوشه به شي.

عن عبدالرحمن بن مهران أن أباهريرة قال: سمعت رسول الله ﷺ: إذاوضع الرجل الصالح على سرير قال: قدموني! قدموني! وإذاوضع الرجل يعني السوء على سريره قال: ياويلتى! اين تذهبون بي؟ (نسائی ج ۱ ص ۲۷۰، سنن کبری بیهقی ج ٤ ص ۲۱)

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې ما د حضور ﷺ نه اوریدلي دي چې کله د ښه سړي جنازه کټ کې کېښودل شي. نو هغه وايي چې ما زر مخکې بوځئ؛ زر مخکې لاړشئ. او کله چې دیو بدکار جنازه کټ کې کېښودل شي. نو هغه وايي چې هی هلاک شوم؛ ما کومې خواته بیایئ.

د قبر زور ورکول

مړی چې کله ښخ کړل شي، نو هغه ته نکیر او منکر راځي او سوال او ځواب ورسره کوي. بیا مړي سره د هغه د عملونو مطابق معامله کیږي.

کله نا کله قبر مړي ته زور ورکوي، دې ته "ضغطة القبر. ویل شوي دي، په لاندې حدیثونو کې ددې ذکر موجود دی:

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حدیث

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما حدیث الفاظ دا دي:

قال هذاالذی تحرک له العرش وفتحت له أبواب السماء وشهده سبعون ألفامن الملائكة لقدضم ضمة ثم فرج عنه. (نسائی ج ۱ ص ۱۸۹، اتحاف ج ۱۰ ص ٤۲۲، ابن ابی شیبه ج ۳ ص ۳۷۷، کنز العمال ج ۱۱ ص ۶۸۶، شرح الصدور ص ٤۵، المعتصر من المختصر ج ۱ ص ۱۱۵)

ترجمه: وېې فرمایل: دی هغه و، دچا په مرګ باندې چې عرش خوځېدلی و، او دده دروح له پاره د اسمان دروازې خلاصې شوې وې، دده په جنازه کې اویا زره فرښتې حاضرې وې، خو بیا هم ده ته قبر کې زور ورکړل شو او بیا روسته بېرته عذاب ترې لیرې شو.

د حضرت عائشي رضي الله عنها حديث

دحضرت عائشه رضي الله عنها دحديث الفاظ دادي.

إن للقبر ضغطة ولوكان أحد ناجيامنهانجامنهاسعدبن معاذ. (المعتصر من المختصر ج ۱ ص ۱۱۵، الاحسان بترتيب صحيح ابن حبان ج ٦ ص ٤٥، مسند احمد ج ٦ ص ٥٥، ۹۸، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤٦، رجالها رجال الصحيح، كنز العمال ج ۱٥ ص ٦۳۹، اتحاف ج ۱۰ ص ٤۲۲، البدايه والنهايه ج ٤ ص ۱۲۸، شرح الصدور ص ٤٥)

ترجمه: بې شكه قبرزور وركوي. كه چېرې دې نه چاته خلاصی وي. نوحضرت سعدبن معاذ رضي الله عنه به ضرور ساتل شوی و.

د حضرت جابر رضي الله عنه حديث : دحضرت جابر رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

قال: لقدتضايق على هذاالعبدالصالح قبره حتى فرجه الله عزوجل عنه. (مسند احمد ج ۳ ص ۲٦۰، ۳۷۷، مشكوة ص ۲٦، كنز العمال ج ۱٥ ص ٦٤۲، ٦٤۳، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٦٤، شرح الصدور ص ٤٥، البدايه والنهايه ج ٤ ص ۱۲۸)

ترجمه: وېې فرمايل: بې شكه په هغه ښه اونېک انسان باندې قبرتنګ شوی و .تردې پورې چې الله تعالى ورته خلاصی نصيب كړ.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه حديث: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

ويضيق عليه قبره حتى تلتقي أضلاعه، (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ٥٦۸، مواردالظمآن ص ۱۹۸، ابن جبان ج ٦ ص ٤٦، ٤۸، اتحاف ج ۱۰ ص ٤۰٤)

ترجمه: هغه(مړي) باندې قبرتنګ كړل شي. تردې چې دهغه پښتۍ يوپه بل كې ننوځي.

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه حديث

دحضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

قال: يضيق عليه قبره حتى تختلف أضلاعه، (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ٥۸٤، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤۷) ترجمه: وېې فرمايل: هغه باندې به قبرتنګ كړل شي. تردې پورې چې دهغه پښتۍ يوپه بل كې ننوځي.

د حضرت ابن عمرو رضي الله عنه حديث

دحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

ثم يؤمر به في قبره فيضيق عليه حتى تختلف أضلاعه، (مصنف عبدالرزاق ج ۳ ص ٥٦۷، ٥٦۸، مجمع الزوائد ج ۲ ص ۳۲۸)

ترجمه: بیابه په قبرکې دهغه اړوند حکم وشي :نوقبربه پرې تنګ شي . تردې پورې چې دهغه پښتۍ يو په بل کې ننوځي.

د حضرت حذیفه رضی الله عنه حدیث

دحضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه دحدیث الفاظ دادي

عن حذيفة قال: كنامع النبي ﷺ فى جنازة فلما انتهيا إلى القبر قعد على شفته فجعل يردّبصره فيه ثم قال: يضغط فيه المؤمن ضغطة تزول منها حمائله. ويملأ على الكافر ناراً. (مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤٦، اتحاف ج ۱۰ ص ٤٢٢، كنزالعمال ج ١٥ ص ٦٤٣، شرح الصدور ص ٤٥)

ترجمه: دحضرت حذیفه رضی الله عنه نه روایت دی چې: موږ حضور ﷺ سره يوې جنازې کې شريک وو. موږ يوقبرته ورسيدو .نو حضور ﷺ دهغه قبرخواکې کېناست اوهغه کې يې نظرکول شروع کړل. بیايې وفرمایل: چې دې مومن ته داسې زور ورکول کیږي چې دده اوږې اوسینه به سره بيل شي، اودکافرقبربه له اور نه ډک کړل شي.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث

دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دحدیث الفاظ دادي:

وعن ابن عباس أن النبي ﷺ يوم دفن سعدبن معاذوهو قاعد على قبره قال: لونجا أحدمن فتنة القبرأومسئلة القبرلنجاسعدبن معاذ، ولقدضم ضمة ثم أرخى عنه، رواه الطبراني فى الكبير ورجاله موثقون. (مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤٦، كنزالعمال ج ١٥ ص ٦٤٠، شرح الصدور ص ٤٥)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په کومه ورځ چې حضرت سعدبن معاذ رضی الله عنه خښ شو.دهغه دقبرپه خواکې ناست و،حضور ﷺ وفرمایل: که چېرې څوک دقبردازمیښت یا دقبردسوالو نه بچ کیدای شوی.نوحضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه به بچ شوی و، هغه ته هم يوځل زور ورکړل شو ، بیابېرته عذاب ترې لیرې شو.

د حضرت انس رضی الله عنه حدیث

دحضرت انس رضی الله عنه دحدیث الفاظ دادي:

عن أنس قال: توفيت زينب بنت رسول الله ﷺ فخرجنامعه فرأينارسول الله ﷺ مهتماشديدالحزن، فجعلنالانكلمه حتى انتهينا إلى القبر. فاذاهولم يفرغ من لحده فقعدرسول الله ﷺ وقعدناحوله، فحدث نفسه هينعة وجعل ينظرإلى السماء ثم فرغ من القبرفنزل رسول الله ﷺ فرأيته يزداد حزنه ثم إنه فرغ فخرج فرأيته سرى عنه وتبسم ﷺ فقلنا: يارسول الله ﷺ! رأيناک مهتماحزينا، فلم نستطع ان نكلمک، ثم رأيناک سرى عنک،

فلم ذالک؟ قال: کنت أذکر ضیق القبر وغمه وضعف زینب فکان ذالک یشق علیّ, فدعوت الله عزوجل أن یخفف عنها ففعل، ولقد ضغطها ضغطة سمعها من بین الخافقین. (مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤٧، کنزالعمال ج ١٥ ص ٢٤٢، اتحاف السادة المتقین ج ١٠ ص ٤٢٢، ٤٢٣، شرح الصدور ص ٤٥)

ترجمه: دحضرت انس ﷺ نه روایت دی چې دحضور ﷺ لورحضرت زینب ﷺ وفات شوه. نو موږهم دحضور ﷺ سره ووتو. موږ ولیدل چې حضور ﷺ ډیرزیات خفه دی. موږ د حضور ﷺ سره خبرې نه کولې. تردې پورې چې قبرته ورسیدو. نوموليدل چې او سه پورې دهغې لحد نه دی تیارشوی. حضور ﷺ کېناست اوموږهم له هغه سره کېناستو. حضور ﷺ څه وخت پورې زړه کې څه سوچ کاو اوداسمان طرف ته یې کتل. بیا قبر تیار شو. نو حضور ﷺ قبرته پخپله ور کوزشو. ماولیدل چې دحضور ﷺ غم نورهم زیاتیده. بیا حضور ﷺ فارغ شواوباندې(بهر) راووت. نوماولیدل چې دحضور ﷺ هغه حالت ختم شوی و او حضور ﷺ مسکې شو.موږ وویل یارسول الله! موږتاسوولیدئ چې تاسوډیرزیات غم اوفکرکې یئ. په دې وجه باندې موږتاسوسره خبرې ونه شوې کړای. بیا موږ ولیدل چې ستاسوهغه حالت ختم شو،ویې فرمایل: ددې وجه داوه چې ماته دقبرتنګې اوغم او دزینب کمزوري رایادېدل. داخبره ماباندې ډېره سخته وه. بیاماالله تعالی ته دعاوکړه. چې دې کې کمی وکړي ؛ نوالله تعالی هم داسې وکړل: قبرهغې ته داسې زور ورکړ،چې دمشرق اومغرب خلکوبه اوریدلی وي.

د حضرت ابن مسعود ﷺ حدیث

دحضرت ابن مسعود ﷺ دحدیث الفاظ دادي:

عن عبدالله بن مسعود قال: إذا أدخل الرجل قبره فإن کان من أهل السعادة ثبته الله بالقول الثابت فیسأل: ما انت؟ فیقول: أنا عبدالله حیا ومیتا وأشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله. قال: فیقال: کذالک کنت! فیوسع علیه قبره ماشاء الله ویفتح له باب إلی الجنة.... الخ. (ابن ابی شیبه ج ٣ ص ٣٧٧، اتحاف ج ١٠ ص ٤١٧)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه روایت دی چې کله انسان قبرته داخل کړل شي ،نوکه چیرې هغه نیک بختـه وي. نوالله تعالی هغه له صحیح قول سره ثابت قدم وساتي.له هغه نه پوښتنه وشي چې ته څوک یې؟ هغه ووایي: چې زه دالله تعالی بنده یم. په ژوندکې هم اودمرګ نه وروسته هم، اوزه ګواهي ورکوم چې دالله تعالی نه پرته دعبادت څوک لائق(ور) نشته، اوزه ګواهي ورکوم چې حضرت محمد ﷺ دالله تعالی رسول اوبنده دی. ویې فرمایل: هغه ته به وویل شي چې ته هم داسې وې. دې باندې به هغه ته قبرپراخ کړل شي. څومره چې دالله تعالی خوښه وي. اودهغه له پاره به دجنت دروازه خلاصه شي.

د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه حديث

دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه درروايت الفاظ دادي:

فينادي منادمن السماء أن كذب عبدي فأفرشوا له من النار، وافتحواله بابا إلى النار، فيأتيه حرهاوسمومها ويضيق عليه قبره حتى تختلف أضلاعه.

(كنزالعمال ج ۱۵ ص ۶۲۹، ۲۴۳، ابن ابى شيبه ج ۳ ص ۳۸۲)

ترجمه: ددوزخي دحالاتوذكركولوسره يې وفرمايل. داسمان نه يواوازكونكى اعلان وكړي چې: زمابنده دروغ وايي.ده له پاره داور قاليني وغوړوئ او ده له پاره داور طرف ته دروازه خلاصه كړئ، هغه كس ته به داورگرموالى اوتاو(دوپ)رارسيږي اوپه هغه باندې به قبرتنگ كړل شي تر دې پورې چې دهغه پښتۍ يوپه بل كې ننوځي.

د حضرت معاذ رضي الله عنه حديث: دحضرت معاذ رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

ألضمة فى القبر كفارة لكل مؤمن لكل ذنب بقي عليه ولم يغفرله. (كنزالعمال ج ۱۵ ص ۶۳۹، ۶۴۲)

ترجمه: قبركې زور وركول دهرمومن له پاره كفاره ده. دهغې گناه له پاره كومه چې دهغه په ذمه وي، اوهغه نه وي ببښل شوي.

د حضرت عبيد بن عمير رضي الله عنه حديث

دحضرت عبيدبن عمير رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

ثم يسلب كفنه فيبدل ثيابامن نار، ويضيق عليه حتى تختلف فيه أضلاعة. (مصنف عبدالرزاق ج ۳ص ۵۹۱)

ترجمه: بيا د هغه نه كفن واخستل شي او دهغه پر ځاى به ورته داورجامې ور واغوستل شي او قبر به په هغه باندې تنگ كړل شي.تر دې پورې چې دهغه ديوطرف پښتۍ به دبل طرف پښتيو كې ننوځي.

د حضرت صفيه بنت ابى عبيد حديث

دحضرت صفيه بن ابوعبيد رضي الله عنها دحديث الفاظ دادي:

وعن نافع قال: أتيناصفية بنت أبي عبيد فحدثتناأن رسول الله ﷺ قال: إن كنت لأرى لوأن احدااعفى من ضغطة القبر لعفى سعدبن معاذ، ولقدضم ضمة. (مجمع الزوائد ج ۳ ص ۴۷)

ترجمه: حضرت نافع رضي الله عنه فرمايي چې: موږدحضرت صفيه بنت ابى عبيدرضي الله عنها په خدمت كې حاضرشو.(داد حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بى بى وه) نوهغې موږته وفرمايل چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: زماخيال و كه چاته دقبردزور نه معافي كېدلاى شوه، نوحضرت

سعدبن معاذ رضي الله عنه ته به ضرور معافي شوې وه او په حقيقت کې يوځل هغه ته هم زور ورکړل شوی و.

د حضرت ابوايوب رضي الله عنه حديث

دحضرت ابوايوب انصاري رضي الله عنه دحديث الفاظ دادي:

وعن أبي أيوب أن صبيادفن فقال رسول الله ﷺ: لوافلت أحدمن ضمة القبر لأفلت هذالصبي، رواه الطبراني في الكبير ورجاله رجال الصحيح.

(مجمع الزوائد ج ۳ ص ٤٧، كنزالعمال ج ۱۵ ص ۱٤۰)

ترجمه: دحضرت ابوايوب انصاري رضي الله عنه نه روايت دي چې يوماشوم خښ کړل شو. نورسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرې څوک دقبر د زورنه محفوظ پاتې کېداي، نوداماشوم به ضرور پاتې شوی و.

د بدر دواقعې حديثونه

دمسلمانانو عقيده ده چې دانسان دمرګ نه وروسته دهغه دروح دهغه بدن سره تعلق وي، چې دهغه په ذريعه باندې هغه ته دثواب او عذاب احساس کېږي، دبدردغزا په وخت باندې دکافرانو اويا سرداران مړ شول. نوحضور ﷺ حکم وکړ، دوی ټول په کنده کې واچوئ، کله چې ټول په کنده کې واچول شول. نو حضور ﷺ هغې کندې ته لاړ او وې فرمايل: اې دکندې والو! اياتاسو هغه شيان وموندل، دکوموچې تاسوسره مو رب وعده کړې وه؟ ځکه چې ماهغه شی وموندہ دکوم چې ماسره زمارب وعده کړې وه! حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: تاسو داسې بدنونو سره خبرې کوئ، په کوموکې چې روحونه نشته. حضور ﷺ وفرمايل: زه چې هغوی ته څه وايم، ته يې دهغوی نه ښه نه اورې، په حديثونوکې ددې ذکرموجود دی،

هل وجدتم ماوعد ربكم حقا؟

د حضرت عائشه رضي الله عنها حديث : دحضرت عائشې رضي الله عنها دروايت الفاظ دادي:

عن عائشة قالت: أمررسول الله ﷺ بالقتلى أن يطرحوفي القليب، فطرحوا فيه، إلاماكان من امية بن خلف، فانه انتفخ في درعه فملأهافذهبوا يحركوه فتزايل فأقروه والقواعليه ماغيبه من التراب والحجارة، فلما القاهم في القليب وقف عليهم رسول الله ﷺ فقال: ياأهل القليب! هل وجدتم ما وعد ربكم حقا؟ فإني وجدت ماوعدني ربي حقا. (مسنداحمد ج ٦ ص ۲۷٦، ج ۲ ص ۳۸، صحيح بخاري ج ۱ ص ۱۸۳، صحيح مسلم ج ۱ ص ۳۰۳، البدايه والنهايه ج ۳ ص ۲۹۳)

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې حضور ﷺ په بدرکې دقتل شويو خلکوباره کې حکم وکړ، چې دوی ټول په يوې کندې کې واچوئ، هغوی يوې کندې ته واچول شول. خوداچې

امیه بن خلف په خپلې زغرې کې پړسیدلی و. دهغه په وجه باندې هغه غټ شوی و. هغه ته يې چې حرکت ورکړ. نونورهم غټیدو. هغه هم هغه شان پرېښودل شو اوهغه باندې څه داسې شی واچول شو. چې هغه يې په کې پټ کړ. يعنې خاورې اوکانړي. کله چې صحابه کرامو ﷺ هغوی په کنده کې واچول. نورسول الله صلی هغوی ته ودرېدا او ویې فرمایل چې اې دکندې والو! ایاتاسوهغه شیان وموندل. دکوم چې تاسوسره ستاسورب وعده کړې وه؟ ځکه چې ماخوهغه څه ومونډل دکوم چې ماسره زمارب وعده کړې وه.

د حضرت انس ﷺ حدیث

دحضرت انس ﷺ دروایت الفاظ دادي:

عن أنس قال: كنامع عمربين مكة والمدينة أخذ يحدثنا عن أهل بدر، فقال: إن رسول الله ﷺ ليرينامصارعهم بالأمس، قال هذامصرع فلان إن شاء الله غداً، قال عمر: والذى بعثه بالحق! ماأخطؤاتيک فجعلوفى بير، فأتاهم النبي ﷺ فنادى: يافلان بن فلان! يافلان بن فلان! هل وجدتم ماوعدربكم حقا؟ فإني وجدت ماوعدني الله حقا! فقال عمر! تكلم اجسادا لاأرواح فيها؟ قال: ماأنت بأسمع لماأقول منهم! (نسائي ج ۱ ص ۲۹۳، ابن ابي شيبه ج ١٤ ص ۳۷۹، مسلم ج ۱ ص ۳۰۳، ج ۲ ص ۳۸۷، مسنداحمد ج ۳ ص ١٠٤، ١٤٥، ۲۶۳، ۲۸۷، اتحاف ج ٥ ص ۲۳، دلائل النبوة ج ۳ ص ٤٨، درمنثور ج ٥ ص ١٥٧)

ترجمه: دحضرت انس ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې: موږ د حضرت عمر ﷺ سره دمکې اومدينې په مينځ کې وو.نوحضرت عمر ﷺ موږ ته داهل بدرپه باره کې بيان شروع کړ، ویې فرمایل چې: رسول الله ﷺ دمابنام په وخت کې موږته دهغوی دقتل کیدوځایونه وښودل. ویې فرمایل چې: انشاء الله صبابه دا د فلاني سړي دقتل ځای وي. حضرت عمر ﷺ فرمايي چې: قسم مې دې وي په هغه ذات باندې کوم چې محمد ﷺ رښتونی نبي رالیږلی دی. چې هغه خلک دهغه ځای نه یوې بلې خواته نه شول. هغوی په یوه کنده کې واچول شول، بیاحضور ﷺ هغوی ته ورغی او ویې فرمایل: اې دفلاني زويه! اې دفلاني زويه! ايا تاسو هغه څه ومونډل چې ستاسو رب درسره وعده کړې وه؟ ځکه چې الله تعالی ماسره کومه وعده کړې وه. هغه خومارښتونې ومونډله. حضرت عمر ﷺ وفرمایل: چې تاسوداسې بدنونوسره خبرې کوئ، کوموکې چې روح نشته؟ حضور ﷺ وفرمایل: زه چې دوی ته څه وایم، ته يې ددوی نه ښه نه اورې.

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حديث:

دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د روايت الفاظ دادي

حدثني نافع أن ابن عمر أخبره قال: إطلع النبي ﷺ على أهل القليب فقال: هل وجدتم ماوعدربكم حقا؟ فقيل له: تدعوا أمواتا؟ قال: ماأنتم بأسمع منهم. ولكن لايجيبون. (صحيح بخاري ج ۱ ص ۱۸۳، صحيح مسلم ج ۱ ص ۳۰۳، نسائي ج ۱ ص ۲۹۳، مسنداحمد ج ۱ ص ۳۸، ۱۳۱، ابن ابي شيبه ج ۱٤ ص ۳۷۷، البدايه والنهايه ج ۳ ص ۲۹۳)

ترجمه: دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې حضور ﷺ دهغې کندې طرف متوجه شو په کومه کې چې دبدر مړي اچول شوي وو. ويې فرمايل: اياتاسو هغه څه ومونډل دکومو چې ستاسو رب تاسو سره وعده کړې وه.ورته ووېل شو: چې اياتاسو مړوته خبرې کوئ؟ ويې فرمايل: ته زماخبره ددوی نه ښه نه اورې. خودوی يواځې ځواب نه شي ورکولای.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حديث

دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د روايت الفاظ دادي:

أخرج أبوسهل السري ابن سهل الجندنيسابوري الخامس من حديثه من طريق عبدالقدوس عن أبي صالح عن ابن عباس رضي الله عنهما في قوله: إنک لاتسمع الموتی. وماأنت بسمع من في القبور. قال: کان النبي ﷺ يقف على القتلى يوم بدرويقول: هل وجدتم ماوعدربکم حقا؟ (درمنثورج ۵ ص ۲٤۹)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه د إنک لاتسمع الموتی او وماأنت بمسمع من في القبور (بې شکه تاسو مړي نه شی اورولی) او (تاسو هغوی نه شی اورولئ کوم چې قبرکې دي) په تفسيرکې نقل دي چې: حضور ﷺ دبدرپه ورځ قتل شويو خلکوته ولاړ واوداسې يې فرمايل چې: کومه وعده چې تاسو سره ستاسو رب کړې وه. هغه تاسو رښتونې ومونډله.

د حضرت ابو طلحه رضي الله عنه حديث

دحضرت ابوطلحه رضي الله عنه د روايت الفاظ دادي:

عن ابن طلحة أن نبي ﷺ أمريوم بدربأربعة وعشرين رجلامن صناديد قريش، فقذفوافي طوى من اطواء بدرخبيث مخبث وكان إذاظهرعلى قوم أقام بالعرصة ثلاث ليال فلمان كان ببدراليوم الثالث أمربراحلته فشدعليها رحلهاثم مشى وأتبعه أصحابه وقالوا مانرى ينطلق إلالبعض حاجته حتى قام على شفة الركي فجعل يناديهم بأسمائهم وأسماء أباء هم: يافلان بن فلان! ويافلان بن فلان! أيسركم إنكم أطعتم الله ورسوله؟ فإناقدوجدناماوعدنا ربناحقا! فهل وجدتم ماوعدربكم حقا؟ قال: فقال عمر: يارسول الله ﷺ! ماتكلم من اجسادلاأرواح

لها؟ فقال النبي ﷺ: والذي نفس محمد بيده! ما أنتم بأسمع لما أقول منهم. (صحيح بخاري ج ۲ ص ٥٦٦، مسند احمد ج ٤ ص ۲۹)

ترجمه: د حضرت ابو طلحه رضی الله عنه نه روایت دی چې: حضور ﷺ د بدر په ورځ څلېریشتو سړو باره کې چې د قریش سرداران وو، حکم وکړ چې دوی د بدر په ګنده کنده کې واچوئ او حضور ﷺ به چې کله په یو قوم باندې غالب شو، نو هغه میدان کې به درې ورځې اوسیده. کله چې دریمه ورځ شوه حضور ﷺ د خپلې سورلۍ باره کې حکم وکړ، په هغه باندې کجاوه کېښودل شوه. بیا ولاړ او صحابه کرام رضي الله عنهم هم ور سره وو. موږ ته پته نه وه چې حضور ﷺ د کوم کار په غرض باندې ولاړ. تر دې چې د هغې کندې خواکې ودرید. د هغوی او د هغو د پلرنو نومونه یې واخستل او ویې ویل: اې فلانیه د فلاني زویه! د فلاني زویه! ایا تاسو ته دا خبره ښکاره شوه چې تاسو د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ خبره منلې وای؟ ځکه چې موږ سره خپل رب څه وعده کړې وه، هغه مو رښتوني وموندله او ایا تاسو هغه وعده چې خپل رب درسره کړې وه رښتوني وموندله؟ روایت کونکی وایي چې حضرت عمر رضی الله عنه وویل: چې اې رسول الله ﷺ تاسو له داسې بدنونو سره خبرې کوئ. کومو کې چې روحونه نشته؟ حضور ﷺ وفرمایل: قسم مې دې وي په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې د محمد ﷺ ساه ده، ته زما خبره د دوی نه ښه نه اورې.

د حضرت موسی بن عقبه رضی الله عنه حدیث

د حضرت موسی بن عقبه رضی الله عنه د روایت الفاظ دا دي:

وأمر رسول الله ﷺ بقتلى قريش من المشركين فألقوا في قليب بدر ولعنهم وهو قائم يسميهم بأسماء هم غير أن أمية بن خلف كان رجلا مسمناً فانتفخ في يومه فلما أرادوا أن يلقوه في القليب تفقأ، فقال رسول الله ﷺ: دعوه! وهو يلعنهم، هل وجدتم ما وعد كم ربكم حقا؟ (دلائل النبوة ج ۳ ص ۱۱۷)

ترجمه: حضور ﷺ د قریش قتل شویو خلکو باره کې حکم وکړ. هغوی د بدر په کنده کې واچول شول، او هغوی باندې یې لعنت وکړ، او حضور ﷺ ولاړ و، د هغوی او د هغو د پلرنو نومونه یې اخستل، له امیه بن خلف نه پرته. هغه چاغ سړی و او هغه ورځ باندې پړسیدلی و، خلکو چې کله د هغه په کنده کې د غورځولو اراده وکړه. نو هغه وشلید. حضور ﷺ وفرمایل، دی پرېږدئ! او حضور ﷺ لعنت پرې وکړ او دا یې وویل چې: کومه وعده چې تاسو سره ستاسو رب کړې وه، ایا تاسو هغه رښتوني وموندله او که نه؟

د قبر خاوند ته عذاب مه ورکوئ

قبر د خاورو ډېری نه ده بلکې د جنت د باغونو نه یو باغ دی، یا د دوزخ له کندونه یوه کنده ده.

قبر والاوو ته نه یواځې دعذاب اوثواب پته لګیږي. بلکې قبرباندې دکیناستو یاختلو په وجه باندې هغوی ته تکلیف هم رسیږي. حضور ﷺ هدیرې ته دتللو اداب بیان کړي دي. په لاندې حدیثونو کې یې ذکرموجود دی:

عن زیاد بن نعیم أن بن حزم أباعمارة أوأباعمرو قال: رأني النبي ﷺ وأنا متکی علی قبرفقال: قم! لاتؤذصاحب القبر أویؤذیک. (البغوي، کنزالعمال ج ۱۵ ص ۷۵۹، حدیث ٤۲۹۸۸)

ترجمه: حضرت ابوعماره رضی الله عنه یاابوعمرو رضی الله عنه فرمایي چې: حضور ﷺ زه ولیدم چې قبرته مې ډډه وهلې وه اوناست وم. حضور ﷺ وفرمایل جګ شه! قبروالاته تکلیف مه رسوه. یایې وفرمایل: چې قبرته ډډه مه وهه. ددې په وجه باندې به تاته عذاب درکړل شي.

عن عمروبن حزم قال: رآی النبي ﷺ وأنامتکی علی قبر، قال: لاتؤذ صاحب القبر. (ابن عساکر، مسنداحمد، کنزالعمال ج ۱۵ ص ۷٦۰، حدیث ٤۲۹۹۰)

ترجمه: عمروبن حزم رضی الله عنه فرمایي چې: حضور ﷺ ولیدم چې ماقبرته ډډه وهلې ده اوناست یم، حضور ﷺ وفرمایل: چې قبروالا ته تکلیف مه رسوه.

عن عمارة بن حزم رضی الله عنه قال: رأني رسول الله ﷺ جالساعلی قبر، قال: أنزل عن القبر! لاتؤذي صاحب القبرولایؤذیک! (طبراني، مستدرک، عماره بن حزم ج ۳ ص ۵۹۰، شرح معاني الاثار ج ۱ ص ۳٤٦، کنزالعمال ج ۱۵ ص ٦۵۷، حدیث ٤۲٦۰۵، ترغیب ج ٤ ص ۳۷٤، مجمع الزوائد ج ۳ ص ٦۱)

ترجمه: دحضرت عماره بن حزم رضی الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ زه قبرباندې ناست ولیدم، نو ویې فرمایل: قبروالاته تکلیف مه رسوه! قبرنه کوزشه! چې ستاداعمل ستاله پاره داخرت دعذاب ذریعه جوړه نه شي.

له ذکر شویو حدیثونو نه ثابت شو چې:

۱: دقبرعذاب اوثواب حق دي.

۲: دعذاب اوثواب تعلق هم دې کندې سره دی، کومې ته چې عام طورباندې قبرویل کیږي. په حدیث کې یې وضاحت شوی دی چې: **القبرروضة من ریاض الجنة أوحفرة من حفرالنار.** (قبردجنت په باغونو کې یوباغ دی، یاددوزخ په کندوکې یوه کنده ده.)

۳: اودا هم ثابت شو چې دقبردعذاب اوثواب له پاره حدیثونه متواتر راغلي دي، اوله دې نه انکار دیومسلمان له پاره (چې په الله تعالی اودهغه په رسول ﷺ باندې ایمان لري) ممکن نه دی.

۴: دبرزخ معاملات دعامو خلکوپه احساس اومشاهده کې نه راځي، په دې وجه باندې یواځې دخپلو احساساتو ومشاهداتو په وجه باندې دقبردعذاب اوثواب نه انکارکول غلط دي، موږ ته د حضور ﷺ په ارشاداتو اومشاهداتوباندې ایمان لرل ضروري دي اوهغه د

ضرورت مطابق پورته بیان شوي دي، کوم چې دیو مومن له پاره کافي دي.
تراوسه پورې موږ د عامو مړیو باره کې خبرې وکړې اودا مووویل چې دهغوی ثواب اوعذاب متواتردی. چې په هغه کې دهیڅ قسمه شک گنجائش نشته اوپه دې باندې ایمان راوړل فرض دي. اوله دې نه دانکارکونکي په حق کې دکفرو بره ده
اوس به موږ دې باندې خبرې کوو چې انبیاء کرام علیهم السلام اوخاص طورباندې دسیدالانبیاء سیدناحضرت محمدرسول الله ﷺ په خپل قبرکې ژوندي کیدل اوقبرکې دژوند ټول کارونه اداکول حق دي. اوپه دې باندې دامت اتفاق دی. پورته بیان شوي تقریبا یونیم سل حدیثونونه دانبیاء کرام علیهم السلام ژوند،کوم چې له عامو مړیو. شهیدانو اوصدیقینونه غوره دي، دلالت النص نه ثابت دی. محدث العصرحضرت مولانامحمدیوسف بنوري قدس سره دخپل خاص ملګري حضرت مولاناسیداحمدرضابجنوري رحمه الله په نوم لیکل شوي یوخط کې لیکلي دي:
۱: شهیدانوته دقران دایت له وجې ژوندحاصل دی. اودشک ختمولو له پاره "یرزقون. هم ذکرشوي دي، څنګه چې نن سبامحاروه هم ده: فلان حی یرزق، دعام اهل برزخ نه دهغوی ژونداعلی دی.
۲: کله چې دانبیاوو علیهم السلام درجه له عامو شهیدانونه غوره ده نوپه دلالة النص یابالاولی پخپله دقران کریم نه دهغوی ژوندثابت دی(علیهم الصلوات والتسلیمات) اوکله چې مرتبه پورته اواعلی ده نوژوندبه یې هم قوي اوکامل وي.
۳: ددې ژوند دکاملیت باره کې دوه حدیثونه راغلي دي:
۱: إن الله حرم على الأرض أن تأكل أجساد الأنبياء.
۲: ألأنبياء أحياء فى قبورهم يصلون.
اودې نه پرته هم نورډیرروایتونه موجوددي .... اوپه دې حدیثونودګواهي په توګه باندې نورډیرصحیح احادیث هم موجود دي. مثلاً دموسی علیه السلام دحج تلبیه.
۴: دروح بدن سره پنځه قسمه تعلقات دي:
(۱) فی حالة الجنین.
(۲) بعد الولادة فی الدنیا اوددې دوه صورتونه دي.
(۳) حالت نوم کې اوحالت یقظة کې.
(۴) دمرګ نه وروسته برزخ کې.
(۵) بعد البعث فی الحشر.

ترټولو ضعیف لومړی اوځلورم دی. دټولونه قوي پنځم اومینځنی دی. کماحققه المتکلمون وابن القیم فی کتاب الروح والقاری فی شرح الفقه الأکبر.

۵: دانبياء عليهم السلام (خوب) چې څنګه د عامو خلکو له خوب نه جلا (ممتاز) دی (إن عيناي تنامان ولاينام قلبي) هم دغه راز د هغوی مړي هم د عامو مړيو په شان نه دي، النوم اخ الموت، اوعامو مړيو کې تحقيق دادی. چې د هغوی د روح تعلق بدن په پوره توګه ختم شي او دلته په پوره ډول نه ختميږی او بیا چې څومره مرتبه پورته وي. هغومره به تعلق هم قوي وي

۶: د مفارقة الروح عن الجسد نه مفارقت تعلق الروح عن الجسد لازم نه راځي

۷: که چېرې د نبي کريم ﷺ بدن مبارک ته د تروح حالت حاصل وي. څنګه چې معراج کې بدن باندې د روح کيفيت طاري و. تجسد ارواح او تروح اجساد. د دواړو مثالونه په دنیا کې موجود دي. نو د عالم ارواح نه ولې استعباد وشي او د هغه تعلق عالم غيب سره دی.

۸: دنیا کې د صوفیاء کرامو د مثالي بدنونو تعدد په يووخت کې. په متعددو ځايونو کې ښکاره کيدل او د اثارو په ثبوت باندې مشهور واقعات دي. د انبياء کرام عليهم السلام حرکت بالاجساد المتروحه به د دې مثال وي.

۹: غرض دا چې د انبياء کرامو له پاره د جسد د بقاژوند، نقل او حرکت، علم او پوهه ټول شيان حاصل دي.

۱۰: داژوند د دنیاوي ژوند په شان بلکې له هغه نه قوي دی. دنيا کې همېشه بدن ته د روح خاصيت حاصل نه وي او په برزخ کې حاصل وي اوس که چېرې داژوند ځينو عالمانو د دنياژوند سره تعبير کړی دی، نو د دې حقيقت واضح کولو له پاره دې، په هرحال کې هغه دنیاوي ژوند هم دی او برزخي هم، يوازې برزخي ژوند نه دی کوم کې چې عام شهيدان او مړي هم شريک دي، بلکې قوي او مکمل ژوند دی. په دې وجه باندې د دنیا د ژوند په شان دی. بلکې د دې نه هم قوي دی.

د تعبيراتو په اختلاف کې نزاع لفظي ده. له دې دنيانه د رسمي تعلق ختميدو نه وروسته د برزخ دور شروع شي، اوس مو چې څه خوښه وي هغه نوم ورکړئ.

۱۱: که چېرې حديثونو کې د ژوند ثبوت دی او بيا له ازواج مطهرات سره د نکاح نه جواز او د هغه مال په ميراث نه پاتې کېدل او داسې نورو .. ته د ژوند اصلي علت وويل شي، نو صحيح دی په هرحال د شرعي حکم چې څنګه علت وي او دلته علت (من قبيل علل المعتبرة) دی نه د (علل مرسله) له قسم نه او د دې علت تنقيح. د د تنقيح اصول المناط او تحقيق المناط نه ډير قطعي دی. (بينات شعبان ۱۳۸۸ هـ)

د خيرالقرون نه ترڅوارلسمې پېړۍ پورې په دې مسئله کې د هیڅ ډول هيڅ قسمه اختلاف او تفرق نه و. بلکې دامت ټولو اکابرينو په خپلو خپلو کتابونو کې په خپل خپل اندازکې د دې مسئلې وضاحت کړی دی. تر دې پورې چې په اسلافو او اکابرينو کې ځينو دې باندې مستقلې رسالې هم ليکلې دي او ثابت کړي يې دي چې د انبياء عليهم السلام د ژوند مسئله

بالکل واضحه. ښکاره او د ټول امت د اتفاق عقیده ده او څنګه چې د شهیدانو ژوند د قران کریم نه ثابت دی، همدارنګه د انبیاء علیهم السلام ژوند هم د دلالت النص په طور د قران کریم نه ثابت دی. خو هغه هلاک وي چې د تحقیق په نوم یې باندې جهالت او د سنت په نوم باندې بدعت ته رواج ورکړ. چې د هغه په وجه باندې تش په نوم محققینو یو طرف ته له نورو اتفاقي مسائلو نه رجوع وکړه. بل طرف ته یې له دې عقیدې نه هم انکار وکړ. محدث العصر حضرت بنوري رحمه الله لیکي:

دانبیاء کرام علیهم الصلوات والتسلیمات دوفات نه وروسته د ژوند مسئله بالکل صفا او واضحه ده. د شهیدانو ژوند د قران نه ثابت دی او دلالة النص نه د انبیاء کرام ژوند د قران نه ثابت دی او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حدیثونو نه د عبارة النص په ذریعه باندې ثابت دې. خو د اتریخ حقیقت دی چې د اختلاف او فتنې له وجې یو حقیقت د بحث په وجه باندې شکمن شو. څومره تاریخي بدهیات بې علمه بحثونو نظري جوړ کړل او څومره شرعي حقیقتونه یې خراب کړل. دادنیا ده او د ادنیا په مزاج کې داخل دي چې دلته هر دور کې بې علمه، ګنده او بې علمه بحثونه موجود وی. ژبې بندول خو د الله تعالی په قدرت کې دي، د ملاحده او زنادقه ژبې کله بندیدای شي؟ ایا په دې دور کې د حضرت امام حسین رضي الله عنه شهادت ته ټوکه نه ده ویل شوې؟ او وویل شول چې دا بالکل واقعه نه ده او ایا امام حسین رضي الله عنه باغي، واجب القتل او یزید بن معاویه رضي الله عنه امیر المؤمنین او حق خلیفه نه دی ثابت کړل شوی؟ د یو صحیح حدیث د ضعیف ثابتولو له پاره دیوروای باره کې د اسماء رجال په کتابونو کې یوازې د جرح څه کلمه لیدل کافي دي چې په هغه باندې بنیاد قائم کړل شي؟ که چېرې د عقل نه کار وانه خستل شي او یوازې په یو کتاب کې جرح وکتل شي. نو دامام ابو حنیفه رحمه الله. امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، امام احمد رحمه الله په مجروح کېدو سره به د دین ربنتنی دولت ختم شي.

غرض دا چې د انبیاء علیهم السلام د ژوند مسئلې نه هم د همدارنګه بې علمه بحثونو په وجه باندې فتنه جوړه شوې ده. عصمت خو د انبیاء علیهم السلام خاصیت دی. عالمان خو معصوم نه دي، څه حضراتو علماوو په قصد یا خطا سره حدیثي او کلامي بحثونه پیدا کړي دي او داسې نظر ورکول کیږي چې د دې سره توسل بالأموات او د الله نه پرته استعانت او داسې نور... ډیر بدعتونه ختم شي. یعني دا علاج یې تجویز کړی دی چې د انبیاء علیهم السلام د ژوند نه انکار کولو سره به دا ټول مفاسد ختم شي. د دې مثال خو د باران نه پټیدو له پاره د ناوې لاندې کېناستل دي. په هرحال د دې د تفصیلاتو ضرورت نشته. د معاملې ختمولو له پاره د فکر او اخلاص خاوندانو دیو څو حضراتو نومونه تجویز کړل. چې د دې اختلاف چې د فتنې شکل یې اختیار کړی د ختمولو له پاره کوشش شي، د راقم الحروف نوم هم هغوی کې شامل و، تجویز دا و شو چې په دې موضوع باندې یو تحقیقي کتاب په ښه انداز کې ولیکل شي او شک پیدا کونکو حضراتو د شکونو ځواب ورکړل شي او د مسئلې په ټولو اړخونو

باندې پوره تبصره وشي، اتفاق سره ددې کارکولو له پاره محترم ورور ماثر مولانا ابوالزاهد محمد سرفرازصاحب منتخب شو، چې دهغه په دماغوکې دبحث اوتمحیص صلاحیت هم موجود دی اوقلم کې پختګي هم، دینی علومو، علم حدیث اواسماء رجال سره ښه اود قدر قابل مناسبت لري، بلکې اعلی بصیرت هم، دمختلفو ځایونونه دموادو راجمع کولوقدرت هم ورنه حاصل دی اودښه ترتیب اهلیت هم. الحمدالله چې موصوف دامیدنه ښه اوډیرو موادو جمع کولوسره ټول اړخونه ښه صحیح طورباندې واضح کړل اودتحقیق حق یې اداکړ. زمادناقص خیال مطابق دالیکنه (دزړه دسکون له پاره في تحقیق احوال الموتی فی البرزخ والقبور) په مسئله کې مکمل ترین کتاب دی اوپه دې دورکې چې څومره کتابونه په دې مسئلې باندې لیکل شوي دي، هغه ټولوکې مکمل، واضح او علمي بلکې تحقیقي دی. الله تعالی دې دموصوف داخدمت قبول کړي اوهغه ته دې دنوروخدماتوموقع ورکړي. (تسکین الصدورص ۲۲ تا۲۴)

له دې تمهید نه وروسته اوس موږ په ترتیب سره دقران اوسنت اود امت داتفاق په حواله حیات النبي ﷺ باندې یوڅوګذارشات وړاندې کوو، دټولونه مخکې حیات الانبیاء دقران کریم په رڼاکې.

حیات الانبیاء دقران په رڼاکې

قران کریم کې په ډیرځایونوکې دانبیاء علیهم السلام ژوند، اشارتا، دلالتا اواقتضاء موجوددې، ددې ټولو راټولول مشکل دي اوداوږدوالي وېره هم ده، په دې وجه باندې مختصرطورباندې یوڅو ایتونه دلته وړاندې کیږي:

,,وَسْـَٔلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلْنَا مِن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ءَالِهَةً يُعْبَدُونَ ﴿٤٥﴾،، (سوره الزخرف ۴۵)

ترجمه: اوتاسوله هغو پیغمبرانونه چې موږ له ستانه مخکې لیږلي و، پوښتنه وکړئ چې ایاموږ دالله تعالی نه پرته بل څوک دعبادت لائق ګرځولي و، چې دهغوی عبادت وکړل شي.

له دې ایت لاندې صاحب زادالمسیرلیکي:

أنه لما أسرى به جمع له الأنبياء فصلى بهم، ثم قال له جبريل سل من أرسلنا قبلك، الاية، فقال: لاأسأل، قدا كتفيت، رواه عطاء عن ابن عباس وهذا قول سعيدبن جبيروالزهرى وابن زيد، قالوا: جمع الرسل ليلة اسرى به فلقيهم وأمرأن يسالهم فماشك ولاسأل. (زادالمسيرفى علم التفسيرج۷ ص ۳۱۹)

ترجمه: کله چې حضور ﷺ باندې معراج وکړل شو، نودحضور ﷺ له پاره ټول انبیاء علیهم السلام راجمع کړل شو، حضور ﷺ په لمانځه کې دهغوی امامت وکړ، بیاحضرت جبریل علیه السلام

حضور ﷺ ته وويل: چې تاسو له دې ټولو پيغمبرانو نه پوښتنه وکړئ. کوم چې موږ له تاسو نه مخکې ليږلي دي...الخ. حضور ﷺ وفرمايل: ماته دسوال کولو ضرورت نشته. ماپه دې باندې صبرو کړ(څه چې ماته ويل شوي دي).

حضرت سعيد بن جبير، زهري او ابن زيد فرمايي: چې دمعراج په شپه حضور ﷺ له پاره ټول انبياء عليهم السلام راجمع کړل شو. په دې وخت کې حضور ﷺ له هغوی سره ملاقات وشو او حضور ﷺ ته حکم وشو چې تاسو له دوی نه پوښتنه وکړئ. حضور ﷺ ته هيڅ شک نه و او نه حضور ﷺ پوښتنه وکړه.

تفسير کبير کې دي.

قال عطاء عن ابن عباس رضي الله عنهما لماأسرى به ﷺ إلى المسجى الأقصى بعث الله له آدم وجمع المرسلين من ولده فأذن جبريل ثم أقام فقال: يامحمد! تقدم فصل بهم. فلما فرغ رسول الله ﷺ من الصلاة قال له جبريل عليه السلام، واسأل يامحمد من أرسلنا من قبلك من رسلنا، الاية. فقال ﷺ لاأسأل لأني لست شاكاً فيه. (تفسير کبير ج ۲۷ ص ۲۱۶)

ترجمه: حضرت عطاء له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړي دي. چې کله حضور ﷺ معراج ته بوتلل شو. چې کله حضور ﷺ مسجد اقصی ته ورسيد. نو الله تعالی حضرت ادم عليه السلام او باقي ټول انبياء عليهم السلام کوم چې دادم عليه السلام اولادکې وو. ټول راجمع کړل. حضرت جبرئيل عليه السلام اذان او اقامت وکړ او ويې ويل: اې محمده ﷺ! مخکې شه. دوی ته لمونځ ورکړه. کله چې حضور ﷺ دلمانځه نه فارغ شو. نو حضرت جبرئيل عليه السلام وفرمايل: اې محمده! له دوی نه پوښتنه وکړه چې موږ له تاسو نه مخکې رسولان کړي وو. حضور ﷺ وفرمايل چې زه دوی نه هيڅ پوښتنه نه کوم او ماته دې کې هيڅ شک نشته.

تفسير قرطبي کې ددې نورتفصيلات داسې بيان شوي دي:

لماأسرى برسول الله ﷺ من المسجد الحرام إلى المسجد الأقصى، وهو مسجد بيت المقدس، بعث الله له آدم ومن ولد من المرسلين، وجبرئيل مع النبي ﷺ. فأذن جبريل عليه السلام ثم أقام الصلاة، ثم قال: يامحمد! تقدم فصل بهم. فلمافرغ رسول الله ﷺ قال له جبريل عليه السلام: سل يامحمد من أرسلنا من قبلك من رسلنا أجعلنا من دون الرحمن الهة يعبدون، فقال: رسول الله ﷺ: لاأسأل قد اكتفيت، قال ابن عباس: وكانوا سبعين نبياً منهم ابراهيم وموسى وعيسى عليهم السلام. فلم يسألهم لأنه كان أعلم بالله منهم. في غيررواية ابن عباس: فصلوا خلف رسول الله ﷺ سبعة صفوف، المرسلون ثلاثة صفوف والنبيون أربعة، وكان يلي ظهر رسول الله ﷺ ابراهيم خليل الله، وعلى يمينه اسماعيل وعلى يساره اسحاق ثم موسى، ثم سائر المرسلين

فأمهم ركعتين، فلما انفتل قام فقال: إن ربي أوحى إلىّ أن أسألكم هل أرسل أحد منكم يدعو إلى عبادة غير الله؟ فقالو: يامحمد! انانشهد اناأرسلنا اجمعين بدعوة واحدة أن لا اله إلا الله وأن مايعبدون من دونه باطل، وأنك خاتم النبين وسيدالمرسلين، قداستبان ذالك لنابإمامتك إيانا، وأن لانبي بعدك إلى يوم القيامة إلا عيسى بن مريم فإنه مأمورأن يتبع أثرك.

ترجمه: کله چې حضور ﷺ د مسجد حرام نه مسجد اقصی ته معراج باندې بوتلل شو. نو الله تعالی حضرت ادم علیه السلام او دهغه په اولادکې چې کوم انبیاء کرام و. هغوی يې راجمع کړل. جبرائیل علیه السلام هم حضور ﷺ سره موجودو. جبرائیل علیه السلام اقامت او اذان وکړل او ويې ویل: . اې محمده! مخکې شه اودوی ته لمونځ ورکړه. کله چې حضور ﷺ فارغ شو. نو حضرت جبرئیل علیه السلام عرض وکړ. اې محمد ﷺ تاسو پوښتنه وکړئ له دې رسولانونه کوم چې له ستاسونه مخکې لیږل شوي وو. چې ایامور د الله تعالی نه پرته څوک د عبادت لائق ګرځولی و. چې دهغه عبادت وشي؟ حضور ﷺ وفرمایل: چې ماته د پوښتنې کولو ضرورت نشته. ماپه دې باندې صبر کړی دی په هغه څه چې ماته ویل شوي دي.

ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي چې هلته اویا نبیان موجود وو. په هغوی کې حضرت ابراهیم. حضرت موسی. او حضرت عیسی علیهم السلام هم و. حضور ﷺ د هغوی نه هیڅ پوښتنه ونه کړه. ځکه چې حضور ﷺ ته د الله تعالی د طرف نه د هغوی نه زیات علم و. د ابن عباس رضی الله عنهما دې روایت نه پرته بل روایت کې دي چې: حضور ﷺ پسې شاته اوو صفونه ول. په هغو کې درې صفونه د رسولانو او شلور د نبیانو وو. د حضور ﷺ شاته حضرت ابراهیم علیه السلام او ښي طرف ته حضرت اسماعیل علیه السلام او چپ طرف ته حضرت اسحاق علیه السلام. بیا موسی علیه السلام او بیا عیسی علیه السلام او بیا نور ټول انبیاء کرام وو. حضور ﷺ هغوی ته دوه رکعتنه لمونځ ورکړ. کله چې حضور ﷺ له لمانځه نه فارغ شو. نو ودرید او ويې فرمایل: بې شکه زما رب ما ته وحي وکړه چې زه تاسو نه پوښتنه وکړم چې ایا تاسو کې یو داسې رسول لیږل شوی و. چا چې به خلک د غیرالله د عبادت طرف ته رابلل او دعوت به يې ورکاو؟ هغوی ټولو وویل: اې محمد ﷺ مونږ ګواهي ورکوو چې مونږ لیږل شوي یو. د یو الله تعالی طرف ته د دعوت له پاره او داچې بل څوک د عبادت لائق (ور) له الله تعالی پرته نشته او داچې کوم خلک د الله تعالی نه پرته د چا عبادت کوي هغه ټول باطل دي. او بې شکه تاسو خاتم النبین یئ او د ټولو رسولانو سردار یئ او دا خبره له دې نه واضحه شوه چې تاسو زمونږ امامت وکړ او داچې ستاسو نه پرته به د قیامت تر ورځې پورې بل نبي نه راځي. د عیسی بن مریم نه پرته او هغه په دې باندې مامور دی چې هغه ستاسو اتباع وکړي.

همدارنګه له دې ایت نه په حیات الانبیاء باندې استدلال کولو سره خاتم المحدثیین علامه سید انورشاه کشمیري رحمه الله فرمایي:

يستدل به على حياة الأنبياء. (مشكلات القران ص ٢٣٤، درمنثور ج ٦ ص ١٦، روح المعاني ج ٢ ص ٢٥، جمل ج ٤ ص ٨٨، شيخ زاده ج ٣ ص ٢٩٨، خفاجي ج ٤ ص ٤٤٤)

۲: ايت ,,وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦ (سورة الم سجده ۲۴)

ترجمه: او موږ موسى عليه السلام ته كتاب وركړى و. نو ته له هغه سره په ملاقات كې هيڅ شك مه كوه!

د دې ايت په تفسير كې حضرت شاه عبدالقادر صاحب رحمة الله عليه فرمايي:

د معراج په شپه بې هغه سره ملاقات شوى و او نور هم ډير خله. (موضح القران)

او ملاقات د ژوندنه پرته ممكن نه دى. د دې ايت كې د اقتضاء النص نه د حضور ﷺ د ژوند ثبوت ښكاره كيږي. دلته د اصول فقه د امسئله هم مخې ته ساتل پكار دي چې كوم حكم د اقتضاء النص نه ثابت وي هغه انفرادي قوت او استدلال كې د عبارت النص په شان وي.

همدارنګه علامه آلوسي رحمة الله عليه فرمايي:

وأراد بذالك لقائه ﷺ اياه ليلة الأسراء كما ذكر في الصحيحين وغيرهما، وروي نحو ذالك عن قتادة وجماعة من السلف.... وكان المراد من قوله تعالى: ,,وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦ،، على هذا وعده تعالى نبيه عليه السلام بلقاء موسى وتكون الأية نازلة قبل الأسراء.

(روح المعاني ج ۲۱ ص ۱۳۸)

ترجمه: له دې نه مراد دا دي چې د معراج په شپه حضور ﷺ د حضرت موسى عليه السلام سره ملاقات شوى و. څنګه چې په صحيحين وغيره كې دي او هم همدارنګه يو بل روايت د حضرت قتاده رضي الله عنه او د بزرګانو د يوې ډلې نه هم نقل دي او د الله تعالى د ارشاد. تاسو د هغه په ملاقات كې هيڅ شك مه كوئ، معنا داده چې الله تعالى خپل نبي ﷺ سره د حضرت موسى عليه السلام د ملاقات وعده وكړه، په دې اعتبار سره دا ايت د معراج د واقعې نه مخكې نازل شوى دى.

تفسير زاد المسير كې دي:

والثاني من لقاء موسى ليلة الأسراء قاله أبو العاليح ومجاهد وقتادة وابن السائب. (زاد المسير ج ٦ ص ٤٣) ترجمه: دويمه خبره داده چې د حضور ﷺ له موسى عليه السلام سره ملاقات د معراج په شپه باندې شوى و.

تفسير بحر محيط كې له دې ايت لاندې ليكل شوي دي:

أي من لقائك موسى أي: في ليلة الأسراء، أي: شاهدته حقيقة وهو النبي الذى أوتي التوراة وقد وصفه الرسول فقال طوال جعد كأنه من رجال شنوءة حين رآه ليلة الأسراء. (بحر محيط ج ٧ ص ٢٠٥)

ترجمه: يعني تاسو (حضور ﷺ د معراج په شپه باندې حضرت موسی علیه السلام سره ملاقات کې شک مه کوئ، يعني حضور ﷺ په رښتيا باندې هغه ليدلی دی او هغه. هم هغه نبي و کوم ته چې تورات ورکړل شوی و او په يقين سره حضور ﷺ د هغه حليه مبارکه بيان کړه. چې هغه اوږده او ګه ګوتي و ښنته يې و. لکه د شنوۀ قبيلې د سړيو په شان.

٣. ..وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾.. (سورة البقره ١٥٤) ترجمه: او کوم خلک چې د الله تعالی په لارکې قتل کړل شي د هغوی باره کې داخيال مه کوئ چې هغوی مړه دي، بلکې هغوی ژوندي دي. خو تاسو ته پته نه لګيږي.

۴. ..بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ "(ال عمران ١٢٩)

ترجمه: بلکې هغه ژوندي دي او خپل پروردګارته نژدې دي. هغوی ته رزق هم ورکول کيږي هغوی خوشحاله دي. په هغه څه باندې کوم چې الله تعالی هغوی ته په خپل فضل باندې ورکړي دي.

د دې دواړو روايتونو باره کې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي:

وإذا ثبت أنهم أحياء من حيث النقل فإنه يقويه من حيث النظركون الشهدا أحياء بنص القرآن والأنبياء أفضل من الشهدا. (فتح الباري ج ٦ ص ٣٧٩)

ترجمه: کله چې د نقل په اعتبار باندې دا خبره ثابته شوې ده چې شهيدان ژوندی دي. نو د عقل په اعتبار باندې دا خبره يقيني ده چې انبياء کرام عليهم السلام ژوندي دي او انبياء کرام عليهم السلام خود شهيدانو نه په هرحالت کې غوره دي، په دې وجه باندې له دې ايت نه د هغوی ژوند په اولی طريقه باندې ثابتيږي

غوروکړئ چې حافظ الدنيا خومره قوت سره د دې ايت مبارک له دلالة النص نه په لومړۍ درجه کې د انبياء کرام عليهم السلام ژوند ثابتوي.

۵. ..فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُۥ ۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلْجِنُّ.. (سورة سبا ١۴)

ترجمه: بيا هر کله چې موږ هغه باندې د مرګ حکم جاري کړ. نو هيڅ يو شی نه د هغه د مرګ پته نه وه، پرته له هغه چنيجي نه چې د حضرت سليمان علیه السلام امسايې خوړله. کله چې هغه راپريوت، نو بيا پيريانو ته پته ولګېده.

له دې ايت نه هم د دلالة النص په طريقه باندې د انبياء کرام عليهم السلام د ژوند عقيده ثابتيږي، ځکه چې کله چنجو مضبوطه او سخته امسا وخوړله. نو د بدن خوړل ډېر زيات اسان و. خو د دې باوجود بدن ولاړو. بلکې محفوظ پاتې کېدل د ژوند ښکاره دليل دی.

همدارنګه په دې ايت کې ذکرشوي د "خرورسليمان. نه هم د انبياء عليهم السلام په ژوند باندې استدلال کيدای شي چې الله تعالی د حضرت سليمان عليه السلام بدن مبارک ځمکې ته راتلل دلفظ "خر، سره تعبيرکړي دي. هغه بې سقط سره تعبير کړي نه دي. ځکه چې د "خر. لفظ قران مجيد يا حديثونوکې چېرته هم ذکر شوی دی. هغه دژوندي انسان دغورځيدوله پاره ويل شوي دي. مثلاً:

الف: وخرّواله سجدا. (يوسف ۱۰۰) ترجمه: اوټول يوسف ته په سجده پرېوتل

ب: فلما تجلى ربه للجبل جعله دكا وخرّ موسى صعقا. اعراف ۱۴۳)
ترجمه: هرکله چې الله تعالی په غره باندې تجلي وکړه. نو هغه يې زرې زرې کړ او موسی(عليه السلام) بې هوشه راپرېوت.
دحضرت سليمان عليه السلام بدن مبارک صحيح ځمکې باندې غورځيدونه وروسته چې څوک دمرګ نه وروسته ژوندنه انکارکوي هغه دقران دعلوموا واصولونه بې خبره دي.

۲: ,,وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَـٰتِنَا فَقُلْ سَلَـٰمٌ عَلَيْكُمْ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ،،(سوره الانعام ۵۴)

ترجمه: اې نبي کريم صلی الله عليه وسلم کله چې تاته راشي هغه خلک چې زموږاياتونه مني. نوهغوی ته ووايه چې په تاسودې سلام وي. ستاسورب په خپل ځان باندې رحم لازم کړی دی.
مطلب دا چې هرهغه کس کوم چې د ايمان دولت سره دنبوت بارګاه کې حاضرشي. دهغه له پاره دالله تعالی خپل نبي ته حکم دی چې تاسوته هغه دالسلام عليکم دعاسره درب دررحمت اومغفرت پيغام ورسوئ. نودالله تعالیٰ داحکم دواړوحالتونو(دمرګ نه مخکې اوروسته) له پاره عام دی. يعنې دباقي پاتې دنياله پاره به داحکم باقي وي. څنګه چې دقران کريم دنوروايتونوباره کې دااصول دي اګرچې هغه دڅه خاصې واقعې له پاره نازل شوي وي. خودهغو حکم به دقيامت پورې جاري اوباقي وي. همدارنګه په دې ايت مبارک کې به هم داحکم ترقيامت پورې وي.

۷: ,,وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾.. (سورة النساء ۶۴)

ترجمه: اوکه هغه کسان چې په ځانونې زياتی کړی وي. تاسوته راغلي وای. له الله تعالی نه يې بښنه غوښتې وای اورسول هم دهغوی له پاره دالله تعالی نه بښنه غوښتې وای، نوضرور به يې الله تعالی توبه قبلونکی اورحمت کونکی موندلی و.

دامت دعالمانو دتصريحاتونه داثابت شوې ده چې دنبي كريم ﷺ ژوند په ښكاره طورباندې ختميدونه وروسته هم چې كوم مومن دحضور ﷺ درباركې حاضريدوسره دالله تعالى نه مغفرت اوغواړي، هغه به دحضور ﷺ دطرف نه ددعااومغفرت حقدار وي. تفسيرقرطبى كې دي:

عن على قال قدم علينا أعرابى بعدمادفنارسول الله ﷺ بثلاية أيام. فرمي بنفسه على قبررسول الله ﷺ وحثاعلى راسه من ترابه. فقال: قلت يا رسول الله ﷺ فسمعناقولك. ووعيت عن الله فوعيناعنك وكان فيماانزل الله عليك، ولوأنهم إذاظلموأنفسهم. الآية وقدظلمت نفسي وجئتك تستغفرلى افنودي من القبر: أنه قدغفرلك. (تفسير قرطبي ج ٥ ص ٢٦٥، ٢٦٦)

يعنې حضرت على رضي الله عنه نه نقل دي چې درسول الله ﷺ د ښخيدونه درې ورځې وروسته يوكلي وال دحضور ﷺ روضې مباركې ته حاضرشو اوددې ايت په حواله باندې يې دمغفرت غوښتنه وكړه، روايت دى چې دقبرمبارك نه اوازراغى: انه قدغفرلك.

دالله تعالى ددې ارشاداتومطابق درحمة للعالمين ﷺ ذات مبارك ددې دنيا دژوند ختميدونه وروسته هم حاضرشوي هرامتى ته دالسلام عليكم ځواب وركوي اوتاسوهغه ته درب درحمت او مغفرت پيغام رسولواودهغه له پاره دمغفرت ددعاكولوله پاره دالله تعالى له طرف نه مقرريږي، داهم دحضور ﷺ دژوندهميشه والى اودهغه په قبركې په ژوندباندې دقران دليل اوواضح ثبوت دى.له دې نه وروسته هم كه څوك انكاركوي نومنكر داويل كېداى شي چې: كه ته يې نه منې! نوباني په زركونودي.

دانبياء كراموژوند دحديثوپه رڼاكې

۱: عن أنس رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الأنبياء أحياء فى قبورهم يصلون، رواه ابويعلى البزارورجال أبي يعلى ثقات، (مجمع الزوائد ج٨ ص ٢١١، لسان الميزان: حسن بن قتيبة ص ٢٤٦، مسندابويعلى ج ٦ حديث ٣٤٢٥، فتح البارى ج ٦ ص ٤٨٧، المطالب العاليه ج ٣ ص ٢٦٩، حديث ٣٤٥٢، احاديث صحيحة للالبانى حديث ٦٢١، الجامع الصغير ص ١٢٤، تكمله فتح الملهم ج ٥ ص ٢٨، بيهقى حيات الانبياء ص ٣ الحاوي للفتاوي ج ٢ ص ١٤٨، خصائص الكبرى ج ٢ ص ٢٨١، مسندبزارص ٢٥٦)

ترجمه: دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت دى چې حضور ﷺ وفرمايل: انبياء كرام عليهم السلام په قبرونوكې ژوندي دي اولمونځ اداكوي. داحديث روايت كړې دې. ابويعلى اومسندبزار. اودابويعلى ټول روايت كونكي داعتبارقابل دي.

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل مشهور کتاب الحاوي للفتاوی کې دانبياء کرامو ژوند باره کې دخپلې عقيدې بيانولو پرمهال ليکلي دي:

حياة النبي ﷺ فى قبره هو وسائر الأنبياء معلومة عندنا علماً قطعياً كما قام عندنا من الأدلة فى ذالك وتواترت (به) الأخبار. (ج ٢ ص ١٤٧)

ترجمه: دحضور ﷺ او نورو انبياء کرامو په خپلو خپلو قبرونو کې ژوند زموږ په نزد باندې بالکل ثابت دي ،ځکه چې دې باره کې موږته دليلونه او خبرونه متواتر راغلي دي.

هغه دې باره کې زياتوي:

قال البيهقى فى كتاب الإعتقاد: الأنبياء بعد ماقبضوا ردت إليهم أرواحهم، فهم أحياء عند ربهم كالشهداء. وقال القرطبى فى التذكرة فى حديث الصعقة نقلاً عن شيخه: ألموت ليس بعدم محض إنما هو انتقال من حال إلى حال.. (الحاوي للفتاوي: ج ٢ ص ١٤٩)

ترجمه: امام بيهقي په کتاب الاعتقاد کې فرمايي چې دانبياء کرام (عليه السلام) روح قبض کولو نه وروسته هغوی ته بېرته ورکول کيږي، هغوی دخپل رب په نزد باندې دشهيدانو په شان ژوندي دي، علامه قرطبي په دې ذکر کې دصعقه حديث لاندې دخپل شيخ نه دنقل پرمهال ليکلي دي : دمرګ معنا يواځې ختميدل نه دي بلکې ديوحال نه بل حال طرف ته دمنتقل کيدو نوم مرګ دي.

مخکې زياتوي: **قال المتكلمون المحققون من أصحابنا أن نبينا ﷺ حى بعد وفاته. (الحاوي للفتاوي ج ٢ ص ١٤٩)**

ترجمه: زموږ په اصحابو کې تحقيق کونکي حضرات فرمايي چې بې شکه زموږ نبي کريم ﷺ دمرګ نه وروسته ژوندی دی.

نور مخکې ليکي:

وقال الشيخ تقى الدين ألسبكى: حيات الأنبياء والشهداء فى القبر كحياتهم فى الدنيا ويشهد له صلاة موسى فى قبره فإن الصلاة تستدعي جسداً حيا. (الخاوي للفتاوي ج ٢ ص ١٥٢)

ترجمه: شيخ تقي الدين سبکي فرمايي : دانبياء کرام او شهيدانو د قبر ژوند د دنيا د ژوند په شان دی او د دې ثبوت دادی چې حضرت موسی عليه السلام په خپل قبر کې لمونځ کاو، ځکه چې لمونځ کول د ژوندي بدن کار دی

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله، د حضرت انس رضي الله عنه د روايت نه استدلال کولو سره فرمايي

"برزخ صغری چون ازيک وجه ازمواطن دنيوي است ،ګنجائش ترقی دارد، واحوال اين موطن نظرباشخاص متفاوته تفاوت فاحش دارد الانبياء **يصلون فى القبور** شنيده باشند. (مکتوبات دفتردوم مکتوب ١٧)

ترجمه: وړوکی برزخ (قبر) په یوه وجه باندې دنیاوي خای دی. نو دې کې دترقي گنجائش شته او دمختلفو کسانو په اعتبار باندې ددې ځای حالات ډیر مختلف وي. تاسو خو به دا اوریدلي وي چې انبیاء کرام حضرات په خپلو قبرونوکې لمونځ کوي.

۲: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من صلى عليّ عند قبري سمعته ومن صلى علي نائيا أبلغته. رواه البيهقي في شعب الإيمان. (مشكوة ص ۸۷. خصائص كبرى ج ۲ ص ۲۸۰. كنزالعمال ج ۱ ص ۴۹۲، حديث ۲۱۶۵، ص ۴۹۸، حديث ۲۱۹۷، ۲۱۹۸. اتحاف السادة المتقين زبيدى رحمه الله ج ۳ ص ۲۸۹. تفسير درمنثور ج ۵ ص ۲۱۹. فتح الباری ج ۶ ص ۴۸۸. الحاوي للفتاوي ج ۲ ص ۱۴۷)

ترجمه: دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی. فرمایي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمابل چاچې زما د قبر خوا کې ماباندې درودشریف ولوست. زه هغه پخپله اورم او څوک چې ماباندې لیرې نه درود اوسلام لولي. هغه ماته رارسول کیږي.

د حدیث په سند باندې دشوي اعتراض ځواب

امام ابوالحسن علي بن محمدبن عراقي الكنائي (المتوفي ۹۲۳هـ) ددې حدیث په ضعف اوثقاهت باندې دبحث کولو پرمهال لیکي:

حديث من صلى عليّ عند قبري سمعته، ومن صلى علي نائيا وكل الله بها ملكا يبلغني وكفى أمر دنياه وآخرته وكنت له شهيدا أو شفيعا (خط) من حديث أبي هريرة ولايصح فيه محمدبن مروان وهوالسدي الصغير وقال العقيلي: لاأصل لهذا الحديث (تعقب) بأن البيهقي أخرجه في شعب الإيمان من هذا الطريق وتابع السدي عن الأعمش فيه أبومعاوية أخرجه أبوالشيخ في الثواب، قلت: وسنده جيد كما نقله السخاوي عن شيخه الحافظ ابن حجر والله تعالى أعلم وله شواهد من حديث ابن مسعود وابن عباس وأبي هريرة اخرجها البيهقي ومن حديث أبي بكر الصديق أخرجه الديلمي ومن حديث عمار أخرجه العقيلي من طريق على بن القاسم الكندي وقال علي بن قاسم شيعي فيه نظر لايتابع على حديثه انتهى، وفي لسان الميزان، (ج ۴ ص ۲۴۹) أن ابن حبان ذكر على بن القاسم في الثقات وقدتابعه عبدالرحمن بن صالح وقبيصة بن عقبة أخرجهما الطبراني، (تنزيه الشريعة ج ۱ ص ۳۲۵، بيروت)

ترجمه: حدیث من صلی علی.... الخ. یعنې چاچې زما قبرته نژدې درودشریف ولوست نوزه یې پخپله اورم او چاچې دلیرې نه ولوست. نو الله تعالی دهغه له پاره فرښته مقررکړې ده. چې هغه یې ماته رارسوي او الله تعالی دهغه ددنیا او اخرت کارونه پوره کوي اوزه به

دهغه په حق کې ګواه اوشفاعت کونکې یم. (خطیب بغدادي داحدیث نقل کړی دی) داحدیث دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت شوی دی اوصحیح نه دی. ځکه چې ددې په سندمحمدبن مروان السدی الصغیردی اوامام عقیلي رحمه الله وایي چې دهغه یوحدیث هم اصل نه دی. (دعقیلی په دې خبره باندې رد شوی دی) چې امام بیهقي په شعب الایمان کې دې طریقې سره ددې حدیث تخریج کړی دی اوابومعاویه اعمش رحمه الله نه روایت کولوکې دسند متابع دی. ددې تخریج امام ابوالشیخ په کتاب الثواب کې کړې دی. زه وایم چې دابوالشیخ سندصحیح دی. ځنګه چې علامه سخاوي رحمه الله دخپل استاذ حافظ ابن حجر رحمه الله نه نقل کړې دي. والله تعالی اعلم. اوددې حدیث دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما او حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه ګواهي موجودده، چې دهغو تخریج امام بیهقی کړی دی اودحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه حدیث هم ګواه دی. دکوم تخریج چې امام دیلمي رحمه الله کړی دی اودحضرت عمار رضي الله عنه حدیث هم ددې ګواه دی. دکوم تخریج چې دعلي بن القاسم الکندي په طریقه باندې امام عقیلي رحمه الله کړي دی اوویلي یې دي چې داروایت کونکی شیعه دی، په هغه کې خبره شته اودهغه دحدیث متابعت نه دی شوی خولسان المیزان (ج ۴ ص ۲۴۹) کې دي چې امام ابن حبان علي بن القاسم په ثقاتو کې لیکلی دی اوعبدالرحمن بن صالح اوقبیصه بن عقبه ددې متابع موجوددي.

۳: عن أوس بن أوس رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إن من افضل أيامكم يوم الجمعة فيه خلق آدم عليه السلام وفيه قبض وفيه النفخة وفيه الصعقة فأكثروا عليّ من الصلوة فإن صلوتكم معروضة عليّ، قالو: يارسول الله صلى الله عليه وسلم! كيف تعرض صلاتناعليك وقدأرمت؟ اى: يقولون قدبليت، قال إن الله عزوجل قدحرم على الارض أن تأكل أجساد الأنبياء عليهم السلام. (سنن نسائی ج ۱ ص ۲۰۳، ۲۰۴، مستدرک حاکم ج ٤ ص ٥٦٠، هذاحديث صحيح على شرط الصحيحين ولم يخرجاه، ابوداؤد ج ۱ ص ۳۰۷ (باب الاستغفار) سنن کبری بیهقی ج ۳ ص ۲٤۹، دارمي ج ۱ ص ۳۰۷ (باب فضل الجمعة) مسنداحمد ج ٤ ص ۸، صحیح ابن حبان خزیمه ج ۳ ص ۱۱۸، حدیث ۱۷۳۳، ابن حبان (باب ذکروفاته صلى الله عليه وسلم) ص ۱۱۸، الاحسان بترتيب ابن حبان ج ۳ ص ۷۸، حدیث ۹۰۷، کتاب الروح (ابن القیم رحمه الله) ص ٦۳، کنزالعمال ج ۸ ص ۳٦۸، حدیث ۲۳۳۰۱، ایضاً ج ۷ ص ۷۰۸، حدیث ۲۱۰۳۷، ترغیب منذری ج ۱ ص ٤۹۱، ایضاً ج ۲ ص ٥۰۳، ٥۰٤، نیل الاوطارج ۳ ص ۳۰٤، ابن ابی شیبه ج ٦ ص ٥۱٦، ابن ماجه ص ۷٦، ۱۱۸، شرح الصدور ص ۱۳۷، مطابع الرشید مدینه منوره)

ترجمه: حضرت اوس بن اوس رضي الله عنه نه روايت کوي چې بې شکه په ورځوکې ترټولو غوره ورځ دجمعې ده، په دې ورځ باندې حضرت ادم عليه السلام پيدا شوی دی، په هم دې ورځ باندې وفات شوی دی. په هم دې ورځ باندې به شپيلۍ وهل کيږي اوپه هم دې ورځ باندې به په دويم ځل باندې ژوندي کول کيږي. نو(دجمعې په ورځ) ماباندې درودشريف ډيرلولئ، بې شکه ستاسو درود ماته وړاندې کيږي. صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض وکړ: يارسول الله! زموږ درودا وسلام به ستاسو دوفات نه وروسته تاسو ته څنګه درسيږي؟ سره له دې تاسوخوبه هغه وخت خاوره شوي يئ؟ يعني خاوره کې به ستاسو ډيروخت شوي وي. حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل: بې شکه الله تعالى ځمکه باندې داحرام کړي دي چې دانبياء کرامو بدنونه وخوري.

٤: عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن لله ملائكة سياحين فى الأرض يبلغوني عن أمتي السلام. (نسائي ج ١ ص ١٨٩، مسنداحمد ج ١ ص ٤٤١، ابن ابي شيبه ج ٢ ص ٥١٧، مواردالظمان ص ٥٩٤، مشكوة ص ٨٦، البدايه والنهايه ج ١ ص ١٥٤، الجامع الصغير ج ١ ص ٩٣، خصائص كبرى ج ٢ ص ٢٨٠، الاحسان بترتيب ابن حبان ج ٣ص ٨، حديث ١٠٠٩، مصنف عبدالرزاق ج ٢ ص ١٥)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل: بې شکه ځمکې باندې دالله تعالى دطرف نه داسې ملائکې مقررې دي چې ماته زمادامت سلام رارسوي.

٥: عن أبي الدرداء رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم أكثروا الصلوة عليّ يوم الجمعة فإنه مشهودتشهده الملئكة وإن أحدا لن يصلي عليّ إلا عرضت عليّ صلوته حتى يفرغ منها، قال: قالت وبعدالموت؟ قال وبعدالموت، إن الله حرم على الأرض أن تاكل أجسادالأنبياء فنبي الله حي يرزق. (ابن ماجه ص ١١٨، ترغيب ج ٢ ص ٥٠٣، نيل الاوطار، ج ٣ ص ٣٠٤، شرح الصدور ص ١٣٧، مطابع الرشيدمدينه منوره)

ترجمه: دحضرت ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دي چې دجمعې په ورځ ماباندې ډيردرودلولئ، ځکه چې دجمعې په ورځ ماته ملائکې حاضريږي اوکله چې تاسوکې څوک ماباندې درود وايي، نودهغه لوستلوسره هغه درودماته وړاندې کيږي. حضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمايي چې ماعرض وکړ: ايا د مرګ نه وروسته هم؟ ويې فرمايل هو: دمرګ نه وروسته هم. بې شکه الله تعالى ځمکه باندې داحرام کړي دي چې دانبياء کرامو بدنونه وخوري. دالله تعالى نبي ژوندی وي، هغه ته رزق ورکول کيږي.

٦: عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: مامن أحد يسلم عليّ إلا رد الله عليّ عزوجل روحي حتى أرد عليه السلام. (ابوداؤد ج ١ص ٢٧٩. مسند احمد ج ٢ ص ٥٢٧. سنن كبرى بيهقي ج ٥ ص ٢٤٥. ترغيب وترهيب ج ٢ ص ٤٩٩، كنز العمال ج ١ ص ٤٩٨، حديث ٢٢٠٠. فيض القدير ج ٥ ص ٤٦٧، مجمع الزوائد ج ١٠ ص ١٦٢، وقال فيه عبدالله بن يزيد الاسكندراني ولم اعرفه ومهدى بن جعفر ثقه وفيه خلاف وبقية رجاله ثقات)

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې حضور ﷺ وفرمايل چې كله يوكس په ماباندې درود ولولي. نو الله تعالى زما روح ماته بېرته راكړي ، تردې چې زه دهغه سلام كونكي دسلام ځواب وركړم.

٧: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: حيثما كنتم فصلوا عليّ فإن صلوتكم تبلغني. (مسند احمد ج ٢ص ٣٧٦، ابوداؤد ج ١ ص ٢٧٩، خصائص كبرى ج ٢ ص ٢٨٠، مشكوة ص ٨٦، فتح البارى ج ٦ ص ٤٨٨)

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چې هرځاى يئ ماباندې درود لولئ. ځكه چې ماته ستاسو درود رارسيږي.

٨: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: والذى نفس أبي القاسم بيده! لينزلن عيسى ابن مريم، ثم لئن قام على قبري فقال يا محمد! لأجيبنّه. (مسند ابو يعلى ج ١١ ص ٤٦٢، حديث ٦٥٨٤، مجمع الزوائد ج ٨ ص ٢١١، المطالب العاليه ج ٤ ص ٢٣، باب حياته فى قبره ج ٤ ص ٣٤٩، حديث ٤٥٧٤، الحاوي للفتاوي ج ٢ ص ١٤٨، خصائص كبرى ج ٢ ص ٢٨٠، روح المعاني ج ٢٢ ص ٣٥)

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي. فرمايي چې ما رسول الله ﷺ نه اوريدلى دي چې قسم مې دې وي په هغه ذات باندې دچا په قبضه كې چې دابوالقاسم ﷺ ساه ده، چې حضرت عيسى بن مريم به نازليږي اوكه چېرې هغه زما قبرته ودريږي اودا ووايي يامحمد! زه به هغه ته خامخا ځواب وركړم.

علامه الوسي رحمه الله خودې حدپورې فرمايلي دي چې:

.... أنه عيسى عليه السلام يأخذ الأحكام من نبينا ﷺ شفاهابعدنزوله وهو ﷺ فى قبره الشريف، وايد بحديث أبي يعلى والذى نفسى بيده لينزلن عيسى ابن مريم ثم لئن قام على قبرى وقال يامحمد! لأجبته. (روح المعاني ج ٢٢ ص ٣٥)

ترجمه: حضرت عيسى عليه به دنازليدونه وروسته زمور د پيغمبر ﷺ قبرشريف ته حاضريږي اوله حضور ﷺ څخه به مخامخ حكمونه حاصلوي اوحضور ﷺ به خپل قبرشريف كې موجود وى اوددې تائيد دابويعلى ددې حديث نه كيږي. په كوم كې چې دي كه چېرې حضرت عيسى علیہ السلام زما قبرته راغى اوويې ويل چې يامحمد. نو زه به ورته ځواب وركوم

❖ انبياء كرام عليهم السلام سره ملاقات ❖

د حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ حديث

عن أبي هريرة رضی اللہ عنہ قال قال النبي ﷺ ليلة أسري بي لقيت موسى قال فنعته فإذا رجل حسبته قال: مضطرب رجل الرأس كأنه من رجال شنوئة قال: ولقيت عيسى فنعته النبي a فقال: ربعة أحمر كأنما خرج من ديماس يعني الحمام ورايت ابراهيم وأنا أشبه ولده به ....(صحيح بخاري ج ۱ ص ۴۸۹، ۴۸۱، ج ۲ ص ۶۸۴، ۸۳۶، ۸۳۸، صحيح مسلم ج ۱ ص ۹۶، ترمذي ج ۲ ص ۱۴۱، مصنف عبدالرزاق ج ۵ ص ۳۲۹، مسنداحمد ج ۲ ص ۲۸۲، نسائي ج ۲ ص ۳۲۹، الاحسان برتيب صحيح ابن حبان ج ۱ ص ۲۲۱)

ترجمه: د حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ نه روايت دى چې حضور ﷺ وفرمايل: دمعراج په شپه باندې حضرت موسى علیہ السلام سره زما ملاقات وشو. (حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ وفرمايل: چې بيا حضور ﷺ د حضرت موسى علیہ السلام شكل مبارك بيان وكړ او ويې فرمايل: هغه ځوان و، زما خيال دې حضور ﷺ وفرمايل: داوږدو اوخلاصو ويښتو والا و. داسې لكه د شنوه قبيلې سړى چې وي. بيايې و فرمايل: عيسى السلام سره مې ملاقات وشو. بيا حضور ﷺ د حضرت عيسى علیہ السلام شكل مبارك بيان كړ. اوويې فرمايل چې: دهغه بدن پلن اورنګ يې سور و. داسې ښكاريدل لكه چې همدا اوس له غسل خانې راوتلى وي اوما حضرت ابراهيم علیہ السلام وليده اوزه دهغه په اولادكې د ټولونه زيات دهغه په شان يم.

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہما حديث:

عن عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہما قال: قال النبي ﷺ: رأيت عيسى وموسى وابراهيم. فأما عيسى فأحمر جعد عريض الصدر وأما موسى فأدم جسيم سبط كأنه من رجال الزط. (صحيح بخاري ج ۱ ص ۴۸۹)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہما نه روايت دى چې حضور ﷺ وفرمايل: دمعراج په شپه باندې ما حضرت عيسى، حضرت موسى اوحضرت ابراهيم عليهم السلام وليدل. د حضرت عيسى علیہ السلام رنګ سوروو. بدن يې ډک و اوسينه يې غټه وه اوحضرت موسى غنم رنګه د صحيح بدن والاو اوهغه داسې و لكه چې د (سوډان) اوږد زطي وي.

❖ د انبياء عليهم السلام امامت ❖

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه حديث:

.... وقد رأيتني فى جماعة من الأنبياء فإذا موسى عليه السلام قائم يصلي....وإذا عيسى بن مريم عليه السلام قائم يصلي....وإذا ابراهيم عليه السلام قائم يصلي.... فقامت الصلوة فأممتهم فلما فرغت من الصلو...قال قائل يا محمد اهذا مالک صاحب النار فسلم عليه....(صحيح مسلم ج ١ ص ٩٦، مشكوة ص ٥٣٠)

ترجمه: ماځېل ځان دانبياء كرام په ډله كې وليده، ګورم چې حضرت موسى عليه السلام ولاړ دی لمونځ كوي اوبيامې وليدل چې حضرت عيسى عليه السلام ولاړ دی لمونځ كوي اوحضرت ابراهيم عليه السلام ولاړ دی لمونځ كوي دغه دوران كې دلمانځه وخت شو. نوماهغوی ته لمونځ وركړ. كله چې زه دلمونځ نه فارغ شوم...نوچاوويل چې اې محمد! دادوزخ مالكان دي. دوی ته سلام وكړه.

په قبركې دحضرت موسى عليه السلام لمونځ

انبياء كرام عليهم السلام نه يواځې په خپلو قبرونوكې ژوندي دي بلكې هغوی لمونځ هم اداكوي، په حديثونوكې دحضرت موسى عليه السلام په خپل قبركې دلمونځ كولوذكردی. حضرت انس رضی الله عنه دحضور صلی الله علیه وسلم ارشادنقل كوي:

عن أنس بن مالک رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال مررت على موسى ليلة أسرى بى عندالكثيب الأحمر وهو قائم يصلى فى قبره. (صحيح مسلم ج ٢ ص ٢٦٨، طبع رحيميه ديوبند، مسنداحمد ج ٥ ص ٥٩، ٣٦٢، ٣٦٥، مسنداحمد ج ٣ ص ١٤٨، ٢٤٨، تلخيص الحبير ج ٢ ص ١٢٦، الاحسان بترتيب صحيح ابن حبان ج ١ ص ٢١٦، طبع مكتبه اثريه شانګله هل پاكستان)

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل: دمعراج په شپه زه حضرت موسى عليه السلام باندې تيرشوم، هغه وړوكي سور غر (ډيبې) سره خپل قبركې لمونځ كاو.

حيات النبي صلی الله علیه وسلم دصحابه كرامو د اثاروپه رڼاكې

١: وعن عائشه رضی الله عنها قالت كنت أدخل بيتى الذى فيه رسول الله صلی الله علیه وسلم وإنى واضع ثوبى وأقول إنما هو زوجى وأبى فلما دفن عمر رضی الله عنه معهم فوالله مادخلته إلا وأنا مشدودة علىّ ثيابى حياء من عمر. (مشكوة ص ١٥٤)

ترجمه: د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روایت دی. هغه فرمایي چې زه خپلې کمرې ته کومې کې چې حضور ﷺ خښ دی له پردې پرته داخلیدم او ما داګڼل چې یو زما خاوند او بل مې پلار دی خو وروسته کله چې هغوی سره حضرت عمر رضي الله عنه خښ شو. نو په الله تعالی مې دې قسم وي. چې زه هغې کمرې ته د حضرت عمر رضي الله عنه نه د حیا په وجه باندې له پردې پرته یم داخله شوې د دې حدیث د وضاحت پرمهال د مشکوة په حاشیه کې لیکل شوي دي.

حياء من عمر أوضح دليل على حيات الميت. (حاشيه مشكوة ص ١٥٤)

ترجمه: د **حياء من عمر** الفاظ د مړي په ژوند باندې ښکاره طور باندې دلالت کوي.
دې باندې علامه سیوطي رحمه الله د مشکوة په شرحه کې لیکلي دي:

قال الطيبى فيه أن إحترام الميت كإحترامه حيًا.

(شرح طيبي ج ٣ ص ٤١٨، ادارة القران كراچى)

ترجمه: علامه سیوطي رحمه الله ویلي دي چې دې (حدیث) کې د دې خبرې دلیل دی چې د مړي هم هغه شان احترام کول پکار دي څنګه چې په ژوند کې کیږي.

۲: عن سعيد بن المسيب قال لم أزل أسمع الأذان والإقامة فى قبر رسول الله ﷺ أيام الحرة حتى عاد الناس. (خصائص كبرى ج ٢ ص ٢٨١، الحاوي للفتاوي ج ٢ ص ١٤٨، بحواله دلائل النبوة زرقاني ج ٥ ص ٣٣٢، ٣٣٣)

ترجمه: د حضرت سعید بن مسیب رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي: د حره د واقعې په ورځو کې. ما د حضور ﷺ په قبر باندې د اذان او اقامت اواز اوریده. تر دې پورې چې خلک وروسته شول.

شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیر احمد عثماني قدس سره لیکي:

أن النبي ﷺ حى كما تقرر، وانه يصلى (كما ثبت) فى قبره بأذان واقامة. (فتح الملهم ج ٣ ص ٤١٩)

ترجمه: بې شکه نبي کریم ﷺ په خپل قبر شریف کې ژوندی دی (څنګه چې ثابته شوې ده) او بې شکه حضور ﷺ په خپل قبر کې د اذان او اقامت سره لمونځ اداکوي.

❖ د حضور ﷺ د حیات عقیده او څلور واړه مذهبونه ❖
[حنفیه رحمهم الله]

فضل الله بن حسین توربشتي الحنفي رحمه الله المتوفی ۶۳۰هـ:

د فارسي عبارت ترجمه: دې خصوصیاتو کې یو دا هم پیژندل پکار دي چې د حضور ﷺ بدن مبارک ځمکه نه خوري .نه به هغه زرې زرې کیږي اودقیامت په ورځ به چې کله ځمکه وشلیږي (وشکیږي) نود حضور ﷺ بدن مبارک به صحیح حالت کې محفوظ وي اوهم دې وجود سره به د حضور ﷺ اونورانبیاء کرامو علیهم السلام حشروي اوصحیح حدیث کې راغلي دي چې الله تعالی ځمکه باندې دانبیاء کرام علیهم السلام بدنونه حرام کړي دي (ببایې مخکې فرمایلي دي) انبیاء علیهم السلام په خپل قبرونوکې ژوندي دي اولمونځونه کوي اودټولونه مخکې به دقبرنه زموږ پیغمبر ﷺ راپورته کیږي.
(المعتمد فی المعتقد باب ۲ فصل ۴ ص ۱۰۷ مطبع مظهر العجائب مدارس ۱۲۸۸هـ)

ملاعلي قاري رحمه الله (المتوفی ۱۰۱۴هـ):

فمن المعتقد المعتمد أنه ﷺ حيٌّ فی قبره کسائر الأنبياء فی قبورهم وهم أحياء عند ربهم وأن لأرواحهم تعلقا بالعالم العلوي والسفلي کماکانوفی الحال الدنيوي فهم بحسب القلب عرشيون وباعتبار القالب فرشيون.
(شرح شفاء ج ۲ ص ۱٤۲ طبع مصر)

ترجمه: داعتماد قابل (وړ) عقیده داده چې حضور ﷺ په خپل قبرکې ژوندی دی څنګه چې نورانبیاء کرام علیهم السلام په خپلو قبرونوکې ژوندي دي. اودخپل رب په نزد باندې ژوندي دي اودهغوی د روحونودې دنیا اوهغې دنیا داړوسره تعلق دی. څنګه چې دنیا کې و، هغوی دزړه په لحاظ باندې عرشي اوبدن په لحاظ باندې فرشي دي.

علامه ابن الهمام رحمه الله (المتوفي ۶۸۱هـ):

....تستقبل القبر بوجهک، ثم تقول: السلام عليک أيها النبي ورحمة الله وبرکاته... وذالک أنه عليه السلام فی القبر الشريف المکرم علی شقه الأيمن مستقبل القبلة... ثم يسئل النبي الشفاعة فيقول يارسول الله! أسالک الشفاعة يارسول الله! أسالک الشفاعة....وليکثر دعائه بذالک فی الروضة الشريفة عقيب الصلوة وعند القبر, ويجتهد فی خروج الدمع فإنه من إمارات القبول وينبغي أن يتصدق بشئ علی جيران النبي ثم ينصرف.

متباکیامتحسراً على الفراق الحضرة الشريفة النبوية والقرب منها. (فتح القدير ج ۲ ص ۳۳٦، ۳۳۷، ۳۳۹، اواخر الحج، مصر)

ترجمه: او تاسو د حضور ﷺ قبر ته مخامخ دريږ و سره السلام عليک يا ايها النبي ورحمة الله ووايئ.... او داځکه چې حضور ﷺ په خپل قبرشريف کې ښی طرف ته په ډډه باندې پروت دی.... او بيا حضور ﷺ ته د شفاعت کولو خواست هم وکړئ او ووايئ چې يارسول الله! زه د شفاعت له پاره سوال کوم. روضې شريفې کې د درود شريف نه وروسته.... او قبر سره خوا کې بيا ډيرې دعاګانې وکړئ او د ژړيدو حد پورې کوشش وکړئ. ځکه چې دا د قبليدو نښې دي او پکار دي چې د روضې په ګاونډيانو باندې څه صدقه کړئ. بيا په ژړا او د حضور ﷺ نه د بيلدو غم سره بېرته راستانه شئ.

حضرت علامه عيني المتوفي (۷۵۵هـ):

ومذهب أهل السنة والجماعة أن في القبر حياة وموتا فلابد من ذوق الموتتين لكل أحد غير الأنبياء. (عمدة القارى شرح بخاري ج۷ ص ٦٠١)

ترجمه: د ټولو اهل سنت والجماعت دا عقيده او مذهب دی چې قبر کې ژوند او بيا مرګ دا دواړو سلسلې وي. نو هر يو کس له پاره دوه مرګونه دي. پرته له انبياء کرامو عليهم السلام نه چې هغوی په خپلو قبرونو کې ژوندي دي. هغوی ته په دويم ځل باندې مرګ نه راځي.

علامه عيني رحمه الله بل ځای کې ليکي:

فإنهم لا يموتون في قبورهم بل هم أحياء. (باب فضيلة أبي بكر على سائر الصحابة. عمدة القارى شرح بخاري ج۷ ص ٦٠٠)

بې شکه انبياء عليهم السلام په خپلو قبرونو کې مړه نه بلکې هغوی هلته ژوندي دي.

علامه بدالدرين محمود بن احمد العيني الحنفي رحمه الله د الله تعالى د دې ارشاد "آمتنا اثنتين" الآية.. په تفسير کې ليکي

أراد بالموتتين الموت في الدنيا والموت في القبر وهما موتتان المعروفتان المشهورتنان فلذالک ذکرهما بالتعريف وهما الموتتان الواقعتان لکل أحد غير الانبياء عليهم السلام فإنهم لايموتون في قبورهم بل هم أحياء وأما سائر الخلق فإنهم يموتون في القبور ثم يحيون يوم القيامة. (عمدة القارى شرح بخاري ج ۸ ص ۱۸۵، جزء ۱٦ باب فضيلة ابى بكر على سائر الصحابة. مطبع دالفکر بيروت)

ترجمه: دوو مرګونو کې له یو مرګ نه هغه مرګ مراد دي کوم چې دنیا کې راځي او دویم هغه دی کوم چې قبر کې راځي. هم دا دوه مشهور مرګونه دي. (په دې وجه باندې دا د الف او لام حرف سره تعبیر شوی دی) او انبیاء کرام علیهم السلام له دې نه مستثنی دي. هغوی په خپل قبرونو کې نه مري. بلکې هغوی ژوندي وي. دنورو مخلوقاتو په خلاف ځکه چې هغوی دحساب کتاب نه وروسته) قبرونو کې مړه کیږي او بیا به دقیامت په ورځ ژوندي کیږي.

امام ملاعلي قاري رحمه الله المتوفي (۱۰۱٤هـ):

إن الأنبياء أحياء في قبورهم فيمكن لهم سماع صلوة من صلى عليهم. (مرقات طبع ممبي ج ۲ ص ۲۰۹)

ترجمه: بې شکه انبیاء کرام علیهم السلام په خپلو خپلو قبرونو کې ژوندي دي. تردې چې کوم کس چې په هغوی باندې درود وایي هغوی یې اوري.

حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله (المتوفی ۱۰۵۲هـ):

"حیات انبیاء متفق علیه است. هیچ کس رادروی خلافی نیست" (اشعة اللمعات ج ۱ ص ۷۱۳. مطبع نول کشور لکهنؤ)

ترجمه: دحضور ﷺ ژوندیو اجتماعي او متفقه مسئله ده. دیو اهل حق هم دې کې هیڅ اختلاف نشته.

علامه شرنبلاني رحمه الله (المتوفي ۱۰۶۹هـ):

ومما هو مقرر عند المحققين أنه ﷺ حيّ يرزق، متمتع بجميع الملاذ والعبادات غير أنه احجب عن ابصار القاصرين عن شريف المقامات .... ينبغي لمن قصد زيارة النبي ﷺ أن يكثر الصلوة عليه، فإنه يسمعها وتبلغ اليه. (مراقي الفلاح ص ٤٠٥، طبع میر محمد کراچی)

ترجمه: دمحققینو په نزد باندې دا منل شوې ده چې حضور ﷺ ژوندی دی. حضور ﷺ ته رزق هم ورکول کیږي او دعبادتونو نه هم حضور ﷺ مزه (خوند) اخلي او یوائې دومره خبره ده چې حضور ﷺ دهغه نظرونو نه پرده کې دی، چې هغه ځای ته نه شي رسیدلی .... کوم کس چې دحضور ﷺ زیارت ته لاړ شي. هغه ته پکار دي چې ډیر درود او سلام عرض کړي. ځکه چې حضور ﷺ هغه پخپله باندې اوري او دلیرې نه حضور ﷺ ته رسول کیږي.

علامه طحاوي رحمه الله (المتوفي ۱۲۳۳هـ):

فإنه يسمعها أي: إذا كانت بالقرب منه ﷺ (وتبلغ إليه) أي: يبلغها الملك إذا كان المصلي بعيدا. (طحطاوي ص ٤٠٥، طبع میر محمد کراچی)

ترجمه: حضور ﷺ درود او سلام هغه وخت کې پخپله باندې اوري کله چې قبرته نژدې ويل کيږي او فرښتې ورته هغه وخت کې رسوي کله چې دليرې نه لوستل کيږي.

علامه ابن عابدين شامي رحمه الله (المتوفي ١٢٥٢هـ):

فقد أفاد في الدر المنتقى أنه خلاف الإجماع قلت: ما نسب إلى الإمام الأشعري رحمه الله إمام اهل السنة والجماعة من إنكار ثبوتها بعد الموت فهو افتراء وبهتان، والمصرح به في كتبه وكتب اصحابه خلاف ما نسب إليه بعض أعدائه، لأن الأنبياء عليهم الصلوة والسلام أحياء في قبورهم وقد أقام النكير على إفتراء ذالک الإمام العارف ابوالقاسم القشرى.....(ردالمحتار، باب المغنم ج ٤ ص ١٥١، ايچ ايم سعيد کراچی)

ترجمه: دارالمنتقي کې دي چې (د حضور ﷺ رسالت د حضور ﷺ دوفات نه وروسته هم حقيقي طور باندې باقی دی او دې ته يواځې حکماً باقی ويل داجماع خلاف دی) زه وايم چې دامام اهل سنت امام اشعري رحمه الله طرف ته چې کومه خبره منسوب شوې ده چې هغه دحضور ﷺ دوفات نه وروسته دحضور ﷺ دحقيقي رسالت منکردی. داهغه باندې بهتان دی. ځکه چې دهغه او دهغه دشاگردانو کتابونو کې ددې خلاف ذکر شوې دی. حقيقت کې داخبره دهغه دښمنانو دهغه طرف ته منسوب کړې ده. ځکه چې انبياء عليهم السلام په قبرونو کې ژوندي دي، ددې افتراء خلاف امام عارف ابوالقاسم قشيري رحمه الله په خپل کتاب کې رد کړی دی.

علامه شامي رحمه الله يو بل ځای کې ليکي:

إن المنع هنا لإنتفاء الشرط وهو إماعدم وجود الوارث بصفة الوارثية كما اقتضاه الحديث ،وإما عدم موت الوارث بناء على أن الأنبياء أحياء في قبورهم كما ورد في الحديث. (رسائل ابن عابدين ج ٢ ص ٢٠٢، سهيل اکيدمي لاهور)

ترجمه: بې شکه دلته منع دشرط دختميدو په وجه باندې ده او هغه يا خو دوارث وجود دوراثت صفت نه بغير دی. څنگه چې حديث ددې غوښتنه کوي او يا دوارث نه مرگ دی، په دې وجه باندې انبياء په خپل قبرونو کې ژوندي دي. څنگه چې حديث کې راغلي دي:

علامه ابن عابدين شامي رحمه الله دامام ابوالحسن اشعري رحمه الله طرف ته دمنسوب شوې غلطې عقيدې په ترديد کې ليکي:

لأن الأنبياء عليهم الصلوة والسلام أحياء في قبورهم وقد أقام النكير علىٰ افتراء ذالک الإمام العارف أبوالقاسم القشيري.(شامي ج ٤ ص ١٥١ باب المغنم)

ترجمه: ځکه چې انبياء کرام عليهم السلام په خپلو قبرونو کې ژوندي دي او امام ابوالقاسم القشيری ددې افتراء سختې سره ترديد کړی دی.

نو موړي په يو بل ځای کې ليکي
ان الأنبياء أحياء فی قبورهم كما ورد فی الحديث. (رسائل ابن عابدين ج ٤ ص ٢٠٢. سهيل اکيډمي لاهور)
ترجمه: انبياء کرام عليهم السلام په خپلو قبرونوکې ژوندي دي. څنګه چې په حديث کې راغلي دي.

علامه محمد عابد السندي رحمه الله (المتوفي ١٢٥٧هـ):

أماهم (أی: الأنبياء) فحياتهم لاشک فيها ولا خلاف لأحد من العلماء فی ذالک.... فهو ﷺ حيّ علی الدوام. (رساله مدينه ص ٤١)
ترجمه: دانبياء کرامو عليهم السلام په ژوندکې هيڅ شک نشته اونه دعالمانو دي کې څه اختلاف شته. حضور ﷺ هميشه له پاره ژوندي دی.

نواب قطب الدين دهلوي رحمه الله (المتوفي ١٢٨٩هـ):

انبياء عليهم السلام قبرونوکې ژوندي دي. دې مسئلې باندې دټولو اتفاق دی. دهيڅا هم دې کې اختلاف نشته. چې هلته دهغوی ژوند ددنياوي بدني ژوند په شان دی.
(مظاهر حق ج ١ ص ۴۴۵)

[مالکيه رحمهم الله]

امام مالک رحمه الله (المتوفي ١٧٩ هـ):

نقل عن الإمام مالک أنه كان يكره أن يقول رجل: زرت قبر النبي ﷺ. قال ابن رشد من أتباعه: أن الكراهة لغلبة الزيارة فی الموتی وهو ﷺ أحياه الله تعالی بعد موته حياة تامة واستمرت تلک الحيوة وهي مستمرة فی المستقبل وليس هذا خاصة به ﷺ بل يشاركه الأنبياء عليهم السلام فهو حيّ بالحياة الكاملة مع الإستغناء عن الغذا الحسي الدنيوي. (نور الايمان بزيارة آثار حبيب الرحمن ص ١٤ مولانا عبد الحليم فرنګي محلي، وكذلک فی وفاء الوفاء ج ٢ ص ١٣٦٣ مصر)
ترجمه: له امام مالک رحمه الله نه نقل دي چې هغه دانه خوښوله چې چابه داسې وويل: ما د حضور ﷺ د قبر زيارت وکړ. دامام مالک رحمه الله په مقلدينوکې ابن رشد ددې تشريح داسې کوي چې ددې ناخوښوالي وجه داوه چې دزيارت لفظ عام طورباندې دمړي له پاره استعماليږي اوحضور ﷺ دوفات نه وروسته دهميشه له پاره ژوندی دی اوداژوندبه بياهم همداسې وي. دايواځې دحضور ﷺ خاصيت نه دی بلکې ټول انبياء کرام عليهم السلام دې

صفت کې حضورﷺ سره شریک دي. حضورﷺ د دنیاوي خوراک کولو نه پرته هم دهمیشه له پاره ژوندی دی.

مالکي عالمانوکي امام قرطبیؒ (تفسیرقرطبی ج ۵ ص ۲۲۵) امام ابوحیان اندلسي (بحرالمحیط ج ۱ ص ۲۸۳) علامه ابن الحاج. علامه ابن رشداندلسي اوابن ابی جمرة وغیره ددې مسئلو بنه وضاحت کړی دی.

علامه سمهوديؒ (المتوفي ۹۱۱هـ):

لاشک فی حیاته ﷺ بعد وفاته وکذا سائر الأنبیاء علیهم الصلوة والسلام أحیاء فی قبورهم حیاة أکمل، من حیوة الشهداء التی أخبر الله تعالی بها فی کتابه العزیز. (وفاء الوفاء ج ۲ ص ۱۳۵۲هـ مطبعة السعادة مصر)

ترجمه: دوفات نه وروسته دحضورﷺ په ژوندکي هیڅ شک نشته. اوهمدارنګه ټول انبیاء علیهم السلام په خپلو خپلو قبرونوکي ژوندي دي اودهغوی داژوندد شهیدانوله ژوندنه -کوم چي په قران کریم کي ذکرشوی دی -اعلی دی.

یوبل ځای کي لیکي:

وأما أدلة حیاة الأنبیاء فمقتضاها حیاة الأبدان کحالة الدنیا مع الإستغناء عن الغذا. (وفاء الوفاء ج ۲ ص ۱۳۵۵)

ترجمه: په هرحال دانبیاء کرام علیهم السلام دژونددلیلونه ددې خبرې غوښتنه کوي چي داژوند دبدنونو سره هم ځنګه چي دنیاکي و. خو د خوراک او څښاک ضرورت ورته نشته.

[شوافع رحمهم الله]

شوافعوکي امام بیهقيؒ اوامام سیوطيؒ دحیات انبیاء په عنوان باندې مستقل کتابونه لیکلي دي، دعلامه طیبيؒ او حافظ ابن حجرعسقلانيؒ په ډیروحوالو اوحدیثونوباندې بحثونه دي باره کي ستاسومخې ته راغلل اوعلامه سبکيؒ هم ددې حقیقت تصدیق فرمایلی دی:

علامه تاج الدین السبکيؒ (المتوفی ۷۷۷هـ)

دحضرت انس رضی الله عنه دحدیث حواله ورکولو سره لیکي:

عن أنس قال: قال رسول الله ﷺ: الأنبیاء أحیاء فی قبورهم یصلون فإذا ثبت أن نبیناﷺ حیٌ. فالحی لابد من أن یکون إما عالماً أو جاهلاً ولا یجوز أن یکون النبي ﷺ جاهلاً. (طبقات الشافعیه الکبری ج ۳ ص ٤١١، طبع دار الاحیاء)

ترجمه: د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور ﷺ فرمايلي دي چې انبياء عليهم السلام په خپلو خپلو قبرونوکې ژوندي دي اولمونځونه کوي. کله چې دا خبره ثابته شوه چې حضور ﷺ ژوندی دی، نود ژوندله پاره لازم دي چې هغه ياعالم وي اوياجاهل او(معاذالله) حضور ﷺ هيڅکله جاهل نه دی.

بل ځای کې ليکي: لأن عندنارسول الله ﷺ حيٌّ يحس ,ويعلم, وتعرض عليه أعمال الأمة ويبلغ الصلوة والسلام على مابيناً. (ج ۳ ص ۴۱۲)

ترجمه: زموږ په نزدباندې حضور ﷺ ژوندی دی. علم اوحس ورته حاصل دی اوحضور ﷺ ته دامت عملونه وړاندې کيږي اوحضور ﷺ ته دروداوسلام رسيږي. څنګه چې موږبيان کړي دي.

اوعلامه سبکي رحمه الله خپله عقيده بيانولوسره ليکي:

ومن عقائدناأن الأنبياء عليهم السلام أحياء فى قبورهم ,فأين الموت إلى أن قال: وصنف البيهقى رحمة الله جزاً سمعناه فى "حيوة الأنبياء عليهم السلام فى قبورهم، واشتد نكير الأشاعرة على من نسب هذالقول إلى الشيخ. (طبقات ج ٦ ص ٢٦٦)

ترجمه: زموږ عقيده دا ده چې انبياء عليهم السلام په خپلو خپلو قبرونوکې ژوندي دي، نوبياهغوی باندې مرګ له کوم ځای نه؟ (بيايې مخکې فرمايلي دي) چې امام بيهقي رحمه الله دانبياء کرام عليهم السلام په قبرکې ژوندباندې يوه رساله ليکلې ده. کومه چې موږ پخپله اوريدلې ده، اوکومو خلکوچې دامام ابوالحسن اشعري رحمه الله طرف ته داغلطه خبره منسوب کړې ده، اشاعره دهغې سختې سره ترديدکړی دی.

حافظ ابن حجر رحمه الله (المتوفي ۸۵۲ هـ):

ان حياته ﷺ فى القبرلا يعقبهاموت بل يستمرحيًا والأنبياء أحياء في قبورهم. (فتح البارى ج ۷ ص ۲۲ طبع مصر)

ترجمه: دحضور ﷺ قبرکې ژوندمبارک داسې دي چې هغه ته مرګ نه راځي. بلکې حضور ﷺ به هميشه ژوندی وي. انبياء کرام عليهم السلام به قبرونوکې همشه ژوندي وي يوبل ځای کې ليکي

وإذاثبت أنهم أحياء من حيث النقل فإنه يقوّيه من حيث النظركون الشهداء أحياء بنص القران والأنبياء أفضل من الشهداء. (فتح البارى ج ٦ ص ٤٨٨ دار النشر الاسلاميه لاهور)

ترجمه: اوکله چې له نقل څخه دهغوی ژوندي کيدل ثابت دي نو عقلي دليل اوقياس هم ددې تاييدکوي. هغه داچې دشهيدانو ژوند دقران نه ثابت دی اوانبياء کرام عليهم السلام خو دشهيدانونه افضل دي، (نوهغوی ته په درجه اولی باندې ژوندحاصل دی)

[حنابله رحمهم الله]

ابن عقيل رحمه الله

قال ابن عقيل من الحنابلة هو ﷺ حيٌّ فی قبره يصلی. (الروضة البهيه ص ١٤)
ترجمه: د (حنابله وو مشهوربزرګ، ابن عقيل فرمايي چې حضور ﷺ په خپل قبرکې ژوندی دی اولمونځونه اداکوي.

❖ د نبي کريم ﷺ د حيات عقيده اودامت اکابرين ❖

امام عبدالقادرالبغدادي (المتوفي ٤٢٩هـ)

واجمعوا علی أن الحيوة شرط فی العلم والقدرة والارادة والرؤية والسمع وان من ليس بحی لايصح أن يكون عالماً قادراً مريداً ساماً مبصراً وهذا خلاف قول الصالحی وأتباعه من القدرية فی دعواهم جواز وجود العلم والقدرة والرؤية والأرادة فی الميت. (الفرق بين الفِرق ص ٣٣٧ طبع مصر)
ترجمه: اهل سنت والجماعت دې خبرې باندې متفق دي چې دعلم. قدرت. ارادې کتلو او اوريدو له پاره ژوندشرط دی اودې خبرې باندې هم داهل سنت اتفاق دی چې کوم ذات کې ژوندنه وي هغه عالم، قادر، مريد. اوريدونکی اوليدونکی نه شي کيدای. دتقدير منکرانو کې صالحي اودهغه دپيروانوقول ددې خلاف دی. دهغوی دعوه داده چې علم او قدرت کتل اواراده دژوندنه پرته هم جائزکيدای شي.

امام بيهقي رحمه الله (المتوفي ٤٥٨هـ):

إن الله جل ثنائه ردإلی الأنبياء أرواحهم فهم أحياء عندربهم كالشهداء....الخ. (حيات الانبياء ص ١٤ وفاء الوفاء ج ٢ ص ١٣٥٢ شرح مواهب زرقانی ج ٥ ص ٣٣٢)
ترجمه: بې شکه الله تعالی دانبياء کرامو عليهم السلام روحونه هغوی ته بېرته ور کړی دی. هغوی دخپل رب په نزدباندې دشهيدانو په شان ژوندي دي.

امام شمس الدين محمدبن عبدالرحمن السخاوي رحمه الله (المتوفي ٩٠٢هـ):

نحن نؤمن ونصدق بأنه ﷺ حيٌّ يرزق فی قبره وأن جسده الشريف لا تأكله الأرض والإجماع علی هذا. (القول البديع ص ١٢٥ طبع اله آباد)
ترجمه: موږ دې خبرې باندې ايمان راوړو اوددې تصديق کووچې حضور ﷺ په خپل قبرکې ژوندی دی اوحضور ﷺ ته رزق ورکول کيږی اود حضور ﷺ بدن مباک خاوره نه شي خوړلی اوپه دې باندې اتفاق دی.

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله (المتوفي ۹۱۱هـ):

حياة النبي ﷺ فى قبره هو وسائر الأنبياء معلومة عندنا علماً قطعياً لما قام عندنا من الأدلة فى ذالک وتواترت به الأخبار الدالة على ذالک. (الحاوي للفتاوي ج ۲ ص ۱٤۷، مطبوعه دار الكتب العلميه بيروت بحواله انباء الاذكياء)

ترجمه: حضور ﷺ په خپل قبر کې او همدارنګه د نورو انبياء کرامو عليهم السلام ژوند زموږ په نزد باندې د علم نه ثابت دي، ځکه چې زموږ په نزد باندې دليلونه قائم او تواتر سره موجود دي، چې دې باندې دلالت کوي.

علامه سيوطي رحمه الله د حضور ﷺ د ژوند د عقيدې باره کې د تواتر دعوه کوي:

إن من جملة ماتواتر عن النبي ﷺ حياة الأنبياء فى قبورهم. (النظم المتاثر من الحديث المتواتر كذا فى شرح البوستوي ص ٤ طبع مصر)

ترجمه: يعنې کوم شيان چې حضور ﷺ نه تواتر سره روايت شوي دي هغو کې داهم دي چې انبياء عليهم السلام په خپلو قبرونو کې ژوندي دي.

علامه عبدالوهاب شعراني رحمه الله (المتوفي ۹۷۳هـ):

نوموړي د نبي کريم ﷺ د ژوند د عقيدې باره کې ليکي:

قد صحت الأحاديث أنه ﷺ حيٌّ فى قبره يصلي بأذان وإقامة. (منح المنه ص ۹۲ طبع مصر)

ترجمه: بې شکه د صحيح حديثونو نه ثابت دي چې حضور ﷺ په خپل قبر کې ژوندى دى او په اذان او اقامت سره لمونځ کوي.

عبدالله بن عبدالوهاب نجدي رحمه الله (المتوفى ۱۲۰٦هـ):

والذى نعتقد أن رتبة نبينا ﷺ على مراتب المخلوقين على الإطلاق وأنه حيٌّ فى قبره حيوة مستقرة أبلغ من حيات الشهداء المنصوص عليها فى التنزيل إذ هو أفضل منهم بلاريب وأنه يسمع من يسلم عليه.

(بحواله اتحاف النبلاء ص ٤١٥ طبع كانپور)

ترجمه: د هغه څه عقيده چې موږ لرو هغه داده چې حضور ﷺ مطلق درجې سره د ټولو مخلوقاتو نه اعلې کيدو سره خپل قبر کې د هميشه له پاره ژوندى دى، کوم چې د شهيدانو د ژوندنه اعلى او غوره دى، او د څه ثبوت چې د قران کريم نه معلوميږي، ځکه چې حضور ﷺ بې شکه د شهيدانو نه افضل دى. او کوم کس چې حضور ﷺ باندې (عند القبر) سلام وايي، هغه حضور ﷺ اوري.

علامه قاضي شوكاني رحمه الله (المتوفى ١٢٥٥هـ):

وقد ذهب جماعة من المحققين إلى أن رسول الله ﷺ حيّ بعد وفاته وأنه يسر بطاعات أمته وأن الأنبياء لايبلون مع أن مطلق الإدراک كالعلم والسماع ثابت بسائرالموتى. إلى أن قال: وورد النص فى كتاب الله فى حق الشهداء أنهم أحياء يرزقون وأن الحيوة فيهم متعلقة بالجسد فكيف بالأنبياء والمرسلين وقد ثبت فى الحديث أن الأنبياء أحياء فى قبورهم رواه المنذري وصححه البيهقي وفي صحيح مسلم عن النبي ﷺ قال: مررت بموسى ليلة أسرى بي عند الكثيب الأحمر وهو قائم يصلي فى قبره.

(نيل الاوطار ج ٣ ص ٣٠٥ طبع دار الفكر بيروت)

ترجمه: بې شکه د محققينو يوه ډله دې طرف ته تللې ده چې حضور ﷺ د خپل وفات نه وروسته ژوندي دي، حضور ﷺ د خپل امت د اطاعت په وجه باندې خوشحاليږي او دا چې دانبياء کرام عليهم السلام بدنونه نه خاورې کيږي، سره له دې چې مطلق شيان مثلاً علم او اوريدل خو د ټولو مړو له پاره ثابت دي (بيايې مخکې ويلي دي) او د الله تعالى په کتاب کې د شهيدانو له پاره ايت راغلى دى چې هغوى ژوندي دي او هغوى ته رزق ورکول کيږي او د هغوى ژوند بدن سره تعلق ساتي. نو د انبياء او مرسلين عليهم السلام ژوند به بدن سره تعلق ولې نه ساتي؟ او د حديث نه دا هم ثابت دي چې انبياء عليهم السلام په خپلو قبرونو کې ژوندي دي، امام منذري رحمه الله دا روايت کړى دى او امام بيهقي رحمه الله د دې تصحيح کړې ده او صحيح مسلم کې دي چې حضور ﷺ فرمايلي دي چې ما د معراج په شپه باندې د سور رنګ غره سره موسى عليه السلام په قبر کې لمونځ کولو باندې ليدلى دى.

نواب قطب الدين خان صاحب رحمه الله (المتوفي ١٢٧٩هـ):

انبياء کرام عليهم السلام ژوندي دي، د دې مسئلې باندې د ټولو اتفاق دى، د چا په دې کې هيڅ اختلاف نشته چې هلته د هغوى ژوند د دنيا وي بدن په شان دى. (مظاهر حق ج ١ ص ٤٤٥، باب الجمعة قبيل فصل الثالث طبع منشي نولكشور لكهنؤ)

مولانا شمس الحق صاحب عظيم آبادي رحمه الله (المتوفي ١٣٢٩هـ):

أن الأنبياء فى قبورهم أحياء. (عون المعبود ج ١ ص ٤٠٥، نشر السنع بوهر گيت ملتان)

ترجمه: انبياء کرام عليهم السلام په خپلو خپلو قبرونو کې ژوندي دي.

مولانا ابو العتيق عبد الهادى محمد صديق نجيب آبادى الحنفى:

انهم اتفقوا على حيوته ﷺ بل حيوة الأنبياء عليهم الصلوة والسلام متفق عليها. لاخلاف لأحد فيها. (انور المحمود شرح ابى داؤد ج١ ص ٦١٠)

ترجمه: محدثين حضرات دې باندې متفق دي چې حضور ﷺ ژوندی دی. بلکې د ټولو انبياء کرامو عليهم السلام په ژوند باندې اتفاق دی او په دې کې د هيڅ اختلاف نشته.

د ديوبند د عالمانو او اکابرينو تصريحات

السؤال الخامس.... ماقولكم فى حيوة النبي ﷺ فى قبره الشريف، هل ذالک أمر مخصوص به أم مثل سائر المؤمنين رحمة الله عليهم حيوة برزخية؟

الجواب .... عندنا وعند مشائخنا حياة حضرة الرسالة ﷺ حيٌ فى قبره الشريف وحيوته ﷺ دنيوية من غير تكليف وهى مختصة به ﷺ وبجميع الأنبياء صلوت الله عليهم والشهداء لابرزخية كماهى حاصلة لسائر المؤمنين بل لجميع الناس كمانص عليه العلامة السيوطي فى رسالته (أنباء الأذكياء بحيوة الأنبياء) حيث قال: قال الشيخ تقى الدين السبكى: حيوة الأنبياء والشهداء فى القبر كحياتهم فى الدنيا ويشهد له صلوة موسى عليه السلام فى قبره فإن الصلوة تستدعي جسداً حياً إلى أخرما قال فثبت بهذا أن حيوته دنيوية برزخية لكونها فى عالم البرزخ ولشيخنا شمس الاسلام والدين محمد قاسم العلوم على المستفيدين قدس الله سره العزيز فى هذا المبحث رسالة مستقلة دقيقة المأخذ بديعة المسلک لم ير مثلها قد طبعت وشاعت فى الناس واسمها (آب حيات، اى: ماء الحيات).... الخ. (المهند على المفند ص ١٣، ١٤، عقائد علماء ديوبند او حسام الحرمين ص ٢٢١ مطبوعه دار الاشاعت کراچى)

ترجمه: پنځم سوال.... څه فرمايئ ! د جناب رسول الله ﷺ په قبر کې د ژوند باره کې چې حضور ﷺ ته قبر کې خاص ژوند حاصل دی او که د عامو مسلمانانو په شان برزخي ژوندی دی؟

جواب: زمونږ او زمونږ د مشايخو په نزد باندې حضور ﷺ په قبر کې ژوندی دی او د حضور ﷺ ژوند د دنيا د ژوند په شان دې، له هر ډول تکليف پرته. دا ژوند خاص د حضور ﷺ سره او ټول انبياء کرامو عليهم السلام سره او شهيدانو سره. برزخي نه دی کوم چې عامو مسلمانانو بلکې ټولو خلکو ته حاصل وي. علامه سيوطي رحمه الله په خپلې رسالې انباء الاذکياء بحيوة الانبياء کې تصريح سره ليکلي دي. هغوی فرمايي چې علامه تقي الدين سبکي رحمه الله فرمايلي دي چې انبياء عليهم السلام او شهيدان قبر کې داسې ژوند تيروي څنګه چې په دنيا کې و او د موسى عليه السلام قبر کې لمونځ کول د دې دليل دی. ځکه چې لمونځ ژوندی بدن اداکولی شي.... الخ.

د دې نه ثابته شوه چې د حضور ﷺ ژوند دنيوي دی او په دې معنا کې برزخي هم چې برزخ کې

ورته حاصل دی. اوزمونږدشیخ مولانامحمدقاسم صاحب قدس سره دې بحث کې یوه مستقله رساله هم ده.ډیره دقیق او نوي انداز کې بې مثله ده اوچاپ شوې هم ده. دهغې رسالې نوم آب حیات دی.

حضرت مولانا احمدعلی سهارنپوری رحمه الله الحنفي (المتوفي ۱۲۹۷هـ):

والأحسن أن يقال أن حياته ﷺ لايتعقبهاموت بل يستمرحياً والأنبياء أحياء في قبورهم. (حاشيه بخاري ج۱ ص۵۱۷)

ترجمه: ښه خبره داده چې وويل شي چې دحضور ﷺ ژوندداسې دي چې دهغه نه وروسته مرګ نه راځي. بلکې حضور ﷺ ته نه ختميدونکی ژوندحاصل دی اونورانبياء کرام عليهم السلام هم په خپلو خپلو قبرونو کې ژوندي دي.

حضرت مولانا رشيداحمد ګنګوهي رحمه الله (المتوفي ۱۳۲۳هـ):

قبرته نژدې دانبياوو په اوريدلوکې دهيچاهم اختلاف نشته.(فتاوي رشيديه ج ۱ ص ۱۰۰)

حضرت مولانا خليل احمدسهارنپوري رحمه الله (المتوفي ۱۳٤٦هـ):

أن نبي الله ﷺ حيٌّ في قبره كماأن الأنبياء عليهم السلام أحياء في قبورهم. (بذل المجهودباب التشهيدج ۲ ص ۱۱۷)

ترجمه: حضور ﷺ په خپل قبرکې ژوندی دی. لکه څنګه چې نورانبياء کرام عليهم السلام په خپلو قبرونوکې ژوندي دي.

حضرت مولانا سيد محمدانورشاه (المتوفي ۱۳۵۲هـ):

وقد يتخايل أن ردالروح ينافي الحيوة وهويقررهافان الردإنمايكون إلى الحي لاإلى الجمادكماوقع في حديث ليلة التعريس يريدبقوله: الأنبياء مجموع الأشخاص لاالأرواح فقط.... الخ.

(تحية الاسلام ص ۳۵. ۳۶. مدينه پريس بجنور. يوپی)

ترجمه: کله کله داخيال کيږي چې روح واپس کول دژوندخلاف دي. سره له دې چې دروح رد ژوندثابتوي، ځکه چې روح دژوندي طرف ته واپس کيږي ، دمړي طرف ته نه. لکه چې دليلة التعريس په حديث کې دي:(کله چې ټول حضرات ويده شول اودلمر ختلونه وروسته ټول بيدارشول اوهغه کې دردروح ذکردی. بخاري ج ۱ ص ۸۳) اود انبياء کرام عليهم السلام د ژوند نه . يواځې روح نه(يعنې هغوی دخپلو بدنونوسره ژوندي دي)

يو بل ځای کې ليکي:

إن كثيراً من الأعمال قد ثبتت فى القبور كالأذان والاقامة عند الدارمي وقراءة القران عند الترمذي.....الخ. (فيض البارى ج ١ ص ٨٣ كتاب العلم، باب من اجاب الفتياء. طبع مجلس علمي ډابهيل)

ترجمه: قبرونو کې د ډيرو عملونو ثبوت شته، لکه د اذان او اقامت ثبوت د دارمي په روايت کې، او د قران د تلاوت ثبوت د ترمذي په روايت کې.

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله المتوفي (١٣٦٢هـ):

بيهقي وغيره د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې انبياء عليهم السلام په خپلو خپلو قبرونو کې ژوندي وي او لمونځونه کوي، كذافى المواهب، او د المونځ تکليفی نه وي بلکې د خوند (تلذذ) له پاره دی او دې ژوند نه د اسې گڼل پکار نه دي چې حضور ﷺ ته له هر ځای نه اواز کول روا دي.....الخ.

(نشر الطيب ص ٢٠٨، ٢٠٩ طبع كتب خانه اشاعت العلوم سهارنپور)

او يو بل ځای کې ليکي:

حضور ﷺ د قران مطابق، قبر کې ژوندی دی. (التكشف ص ٤٤٢)

شيخ الاسلام حضرت مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله (المتوفي ١٣٦٩):

أن النبي ﷺ حيٌّ كما تقرر وأنه يصلى فى قبره بأذان وإقامة. (فتح الملهم ج ٣ ص ٤١٩، باب فضل الصلاة بمسجدى مكة والمدينة، المطبعة الشهيرة بهانده پريس جالندهر)

ترجمه: حضور ﷺ ژوندی دی څنګه چې داثابت دي، او حضور ﷺ قبر کې اذان او اقامت سره لمونځ کوي.

حضرت مولانا سيد حسين احمد مدني رحمه الله (المتوفي ١٣٧٧هـ):

د حضور ﷺ ژوند نه يوازې روحانی دی چې عامو شهيدانو ته هم حاصل دی بلکې د بدني او د دنياوي ژوند په شان دی او په ډيرو وجو باندې له دې بهتر هم دی. (مکتوبات الاسلام مکتوب نمبر ٤٤ ج ١ ص ١٢٠، مطبوعه مکتبه دينيه ديوبند يوپی)

يو بل ځای کې ليکي:

هغوی (وهابيان) د ظاهري مرګ نه وروسته د انبياء عليهم السلام د بدني او بقايي (علاقة بين الروح والجسم) منکر دي او د (ديوبند) عالمان نه يوازې د دې قايل دي بلکې ثابته وي يې هم او په ډير زور او شورسره يې د دې باره کې رسالې چاپ کړي دي. (نقش حيات ج ١ ص ١٢٠ مطبوعه عزيز پبلی کيشنز لاهور)

❖ د حضور ﷺ د حیات په عقیده باندې اجماع ❖

علامه سخاوي رحمه الله (المتوفي ۹۰۲هـ):

نحن نؤمن ونصدق بأنه ﷺ حیٌّ یرزق فی قبره وأن جسده الشریف لا تأکله الأرض والإجماع علی هذا.(القول البدیع ص ۱۶۷ مطبعة الانصاف بیروت)

ترجمه: زمونږ ایمان دی او مونږ دې تصدیق کوو چې حضور ﷺ په خپل قبرشریف کې ژوندی دی، حضور ﷺ ته هلته رزق هم ورکول کیږي او د حضور ﷺ بدن مبارک خاوره هم نه خوري او دې عقیدې باندې د اهل حق اتفاق دی.

د منکرین حیات حکم

شیخ الاسلام حضرت علامه عیني رحمه الله (المتوفی ۸۵۵هـ) فرمایي:

من أنکرالحیوة فی القبروهم المعتزلة ومن نحانحوهم وأجاب أهل السنة عن ذالک.(عمدة القاری شرح بخاري ج ۸ ص ۶۰۱)

ترجمه: کومو خلکو چې د حضور ﷺ د ژوندنه انکاروکړ، نوهغوی معتزله او دهغوی دعقیدې والادي، اهل سنت دهغوی د دلیلونو ځوابونه ورکړي دي.

حافظ ابن حجرعسقلاني رحمه الله (المتوفي ۸۵۲هـ) هم داسې انداز سره فرمائیلي دي چې د حضور ﷺ د ژوندنه انکارکونکي اهل سنت نه دي:

قد تمسک به من أنکرالحیوة فی ا لقبروأجیب عن أهل السنة.... أن حیوته ﷺ فی القبر لایعقبها موت بل یستمرحیا.(فتح الباری ج۷ ص۲۲ طبع مصر)

ترجمه: قبرکې د ژوندنه انکار کونکي د دې حدیث نه استدلال کوي او د اهل سنت د طرف نه د دې ځواب ورکول کیږي چې د حضور ﷺ په قبرکې ژوند داسې دی چې هغه ته په دویم ځل باندې مرګ نه راځي ،بلکې حضور ﷺ به همیشه له پاره ژوندی وي.

حضرت مولانا احمدعلي صاحب محدث سهارنپوري رحمه الله هم دا عبارت د بخاري ج ۱ ص ۵۱۷ په حاشیه باندې نقل کړی او دا خبره یې تسلیم کړې هم ده.

تراوسه پورې بیان شویو قولونو څخه دا واضحه شوه چې د قرآن،سنت او د اکابرو عالمانو د تصریحاتو په رڼاکې دا د اهل سنت بنیادي عقیده ده او دې سره داوسني دور د بعض تجدد خوښونکیو نه پرته د بل چا اختلاف نشته، هلته دا هم ښکاره کول ضروري معلومیږي چې د دیوبند اکابرینو (المهند علی المفند) مرتب کولو سره امت ته دا حقیقت هم واضح کړچې د دیوبند د عالمانو په دې باره کې هغه عقیده ده کومه چې د امت د اسلافو وه.

خو له دې ټولو سره سره کله چې لږ خلکو، شرذمه قليله، له دې اجماعي عقيدې سره د اختلاف کولو کوشش وکړ، نو نه يوازې يې له دوی نه د بيزارې اظهار وکړ بلکې د اوسني دور عالمانو د دې مسئلې د اهميت او حقيقت ښکاره کولو سره د اليک وليکله او د دې يې اتفاق سره اعلان وکړ.

د مسئله حيات النبي ﷺ په اړه د ديوبند

د اوسني دور د اکابرينو مسلک او د هغوی اعلان

د حضرت اقدس نبي کريم ﷺ او د ټولو انبياء کرام عليهم السلام باره کې د ديوبند د اکابرينو مسلک دا دی چې د مرګ نه وروسته هغوی په خپلو قبرونو کې ژوندي دي او د هغوی پاک بدنونه محفوظ دي. له عنصري بدن سره هغوی ته برزخ کې ژوند حاصل دی او د دنياوي ژوند په شان دی.

يوازې دومره خبره ده چې هغوی په شرعي حکمونو مکلف نه دي. خو هغوی لمونځ هم کوي او روضې مبارکې سره چې کوم درود ولوستل شي هغه له څه واسطې پرته اوري. هم دا د جمهور محدثينو او د اهل سنت والجماعت د متکلمينو مسلک دی. د ديوبند د اکابرينو په مختلفو رسالو کې د دې تصريحات موجود دي. د حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله خو مستقله رساله د انبياء کرام عليهم السلام په ژوند باندې د "آب حيات" په نوم باندې موجوده ده. د حضرت مولانا خليل احمد صاحب - چې د حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله په خاص خليفه ګانو کې دې- رساله (المهند على المفند) هم د اهل انصاف او اهل بصيرت له پاره کافي ده. اوس چې څوک د دې مسلک خلاف دعوه کوي. دومره خبره يقيني ده چې د هغوی د ديوبند اکابرينو سره هيڅ تعلق نشته. **والله يقول الحق وهو يهدي السبيل.**

۱: مولانا محمد يوسف بنوري رحمه الله، مدرسيه عربيه اسلاميه کراچی نمبر ۵.
۲: مولانا عبد الحق رحمه الله مهتمم دار العلوم حقانيه اکوړه خټک.
۳: مولانا محمد صادق رحمه الله سابق ناظم محکمه امور مذهبيه بهاولپور.
۴: مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله شيخ الحديث دار العلوم اسلاميه ټنډو اله يار سنده.
۵: مولانا شمس الحق افغاني رحمه الله صدر وفاق المدارس العربيه پاکستان.
۶: مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله شيخ الحديث جامعه اشرفيه لاهور.
۷: مولانا مفتي محمد حسن رحمه الله مهتمم جامعه اشرفيه لاهور.
۸: مولانا رسول خان رحمه الله جامعه اشرفيه نيلا ګنبد لاهور.
۹: مولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله مهتمم دار العلوم کراچی
۱۰: مولانا احمد علي لاهوري رحمه الله امير نظام العلماء و امير خدام الدين لاهور. (تلک عشرة کاملة)

(ماهنامه پيام مشرق لاهور جلد ۳ شماره ۴ ربيع الاول ۱۳۸۰ هـ. ستمبر ۱۲۰) (بحواله تسکين الصدور ص ۳۷)

غرض دا چې زما او زما دا کابرینو عقیده دا ده چې حضور ﷺ په خپلې روضې کې بدني ژوند سره ژوندی دی، دغه ژوند برزخي دی خو د دنیاوي ژوند نه غوره دی. کوم خلک چې د دې مسئلې نه انکارکوي. دهغوی د دیوبند اکابرو عالمانو او د امت اساطینو د تصریح مطابق د دیوبند عالمانو سره هیڅ تعلق نشته .زه هغوی په اهل حق کې نه ګڼم او زما دا کابرینو په نزد باندې هغوی ګمراه دي او دهغوی په اقتداء کې لمونځ جائز نه دی او دهغوی سره هیڅ قسمه تعلق ساتل هم نه دي پکار. والله یقول الحق وهو یهدی السبیل.

د برزخ ژوند د بحث موضوع ده

سوال: له وفات نه وروسته د نبي کریم ﷺ د ژوند قایل ته منکرویل ستاسو په نزد شرعي طورباندې څنګه دی؟ او ایا د عالمانو مختلف تحقیقات د نبي کریم ﷺ طرف ته منسوبېدای شي؟ مثلاً یو عالم ورته دنیاوي ژوندی وویل. بل ورته برزخي وویل. نو لومړي ته شرعي طورباندې حق شته چې هغه دویم ته منکر ووایي؟

جواب: سوال باندې پوره طورباندې پوه نه شوم. که چېرې اختلاف یواځې د تعبیرا تو وي نو نزاع لفظي ده. او که چېرې د نتیجې او مآل فرق وي، نو د اعتناء قابل دی. د ژوند په مسئلې کې د برزخ ژوند د خبرو موضوع ده، د نفي او اثبات تعلق هم د دې سره دی. که چېرې د دواړو فریقینو مقصد یو وي. نو نزاع به لفظي وي. که نه معنوي به وي.

سوال: زما په شان دیو ځوانا لائقو خیال دی چې د حضور ﷺ د ژوند په مسئله کې د دیوبند له عالمانو نه مولانا حسین علي رحمه الله له د شاګردانو سره هم هغه سلوک وکړ کوم چې مولانا احمد رضا خان د دیوبند اکابرینو سره کړی و (یعني غلطه پراپیګنډه) تاسو د دې باره کې څه فرمایئ؟

جواب: هرکس ته حق دی چې هغه خپل خیال صحیح وګڼي، خو که چېرې هغه حقیقت وي، نو هغه به ربښتیاوي که نه غلط به وي. زما خطاکار په خیال باندې ستاسو خیال له حقیقت نه خلاف دی.

دروح بېرته ورکول

سوال: زمونږ عقیده ده چې حضور ﷺ السلام په خپل قبرکې ژوندی دی. نو بیا د دې حدیث شریف څه معنا شوه : کله چې زما قبرباندې څوک درود شریف ولولي نو ما ته زما روح بېرته را کړل شي او زه دهغه د سلام ځواب ورکړم. سو ال دا دی چې څوک له وړاندې ژوندي وي. هغه ته روح بېرته ورکول څه معنا لري؟ دویم دا چې د حضور ﷺ په دربارکې هروخت د سلام نذرانه وړاندې کیږي نو هم دارنګه باربار دروح وتل او داخلیدل خو یو قسمه عذاب شو (نعوذبالله) ایا دا حدیث صحیح دی؟

جواب: حافظ سیوطي رحمه الله دې موضوع باندې رساله لیکلې ده، هغې کې هغه ستاسو د سوال یوولس ځوابونه ورکړي دي خوزمازړه ته یوهم لوېدلی ، یا په صحیح الفاظوکې په یو هم نه یم پوه شوی.ددې رد روح حقیقت خوبه الله تعالی ته معلوم وي.زموږ د عقل اوپوهې نه بهرخبره ده، خو زماخیال دادی چې دنیاکې څوک یوطرف ته متوجه شي. نوبل طرف ته یې توجه نه وي، خوبرزخ اګرچې درسول الله ﷺ روح دالله تعالی په جمال کې مستغرق وي . خوهلته والله اعلم، یوطرف ته توجه دبل طرف توجه نه منع نه کوي، په لکونوبلکې کروړونو امتیان په یووخت کې سلام وړاندې کوي. خودحضور ﷺ روح هرطرفته متوجه دی. ردالله علیّ روحي ،مطلب دادی چې الله تعالی دهرسلام کونکي طرف ته پاک روح متوجه کوي.والله اعلم بحقیقة الحال!

د اشاعت التوحیدوالسنة پاکستان دمقننه مجلس فیصله

سوال: داشاعة التوحید دمقننه مجلس فیصله ستاسو خدمت کې وړاندې کوم. پوښتنه داده چې ایاددې فیصلې په ضد کې دديوبنداکابرین رحمهم الله تعالی نه راځي، چې دهغوی د انبیاء کرام علیهم السلام دژوندأودهغوی داورېدلو عقیده ده؟
دفیصلې الفاظ دادی:
داشاعة التوحیدوالسنة پاکستان دمقننه مجلس فیصله:
سماع موتی عقیده دقران کریم خلاف ده، قران کې سماع موتی ثابت نه ده، کوم خلک چې دبمشیة الله خرقاً للعادة عندالقبر سماع قایل دي. هغوی کافرنه دي اوکوم خلک چې دسماع موتی په هروخت لیرې اونزدې نه قایل دي. هغوی زموږپه نزدباندې دداسلام نه خارج دي.
دافیصله شرعي طورباندې صحیح ده؟ دشریعت مطابق ځواب راکړئ!
صوبیداراکبرخان

جواب: دسماع موتی باره کې چې حضرت ګنګوهي رحمه الله په فتاوي رشیدیه کې څه لیکلي دي هغه صحیح دي اوستاسورالیږل شوې پرچې باندې چې څه لیکل شوي دي هغه غلط دي، دحضرت ګنګوهي رحمه الله الفاظ دادي:
"دامسئله دصحابه کرامو رضي الله عنهم ددورنه مختلف فیها ده، ددې هیڅ فیصله نه شم کولی"
(فتاوي رشیدیه ص ۸۷، مطبوعه قران محل کراچی)
کله چې دامسئله دصحابه کرامو،تابعینواوسلف صالحینو (رضی الله عنهم) له زمانې نه مختلف فیها راروانه ده، نودې کې یوفریق ته کافرویونکی دګمراه اودخارجي ویلوقابل دی.
والله اعلم.

د نبي کريم ﷺ د حيات عقيده او مسلمان امت

سوال: ۱: د نبي کريم ﷺ د برزخي ژوند باره کې د مسلمان امت او د ديوبند د اکابرينو عقيده څه ده؟

سوال: ۲: کوم تقرير کونکي چې په خپل هر يو تقرير کې د نبي کريم ﷺ د ژوند په انکار کې ضرور څه نا څه وايي او د حضور ﷺ د ژوند قايل خلکو ته بد رد وايي. ايا هغه په اهل سنت کې دي؟

سوال: ۳: ايا دا په رښتيا باندې د ديوبند د مسلک ترجماني ده. څنګه چې د هغوی دعوه ده؟

سوال: ۴: ايا د نبي کريم ﷺ د ژوند عقيده د قران او حديث نه ثابته نه ده؟

سوال: ۵: ايا د انبياء عليهم السلام د اوريدو مسئله اختلافي ده؟

سوال: ۶: ايا فتاوی رشيديه کوم چې ستاسو په لاس نو کې ده. اصلي ده؟

سوال: ۷: د حضور ﷺ د ژوند منکران خپل معتقدينو ته وايي چې اوس ديوبند کې هم تخريب کار شامل شوي دي، په دې وجه باندې هلته هم د اصل عقيدې مخالفت کيږي او بريلوي ذهن خلک هلته هم شامل شوي دي. ايا دا خيال صحيح دی؟

سوال: ۸: مجمع الزوائد او مستدرک وغيره کې چې کوم حديث راغلی دی چې حضرت عيسی عليه السلام به د حضور ﷺ روضې ته حاضر شي او سلام به وکړي، حضور ﷺ به د هغه ځواب ورکړي، صحيح دی او که نه؟

جواب: ۱: زموږ او زموږ د اکابرينو د حضور ﷺ د ژوند باره کې دا عقيده ده چې دا برزخي ژوند دی کوم چې د دنياوي ژوند په شان دی.

جواب: ۲، ۳: د نبي کريم ﷺ د ژوند قايلينو ته بد رد ويونکي نه د اهل السنة والجماعت ترجمانان دي او نه د ديوبند د عالمانو.

جواب: ۴: د حضور ﷺ د ژوند عقيده د قران کريم نه په دلالة النص او د حديثونو نه په صراحة النص سره ثابته ده.

جواب: ۵: ما ته دې کې د چا اختلاف معلوم نه دی.

جواب: ۶: فتاوي رشيديه کې د سماع موتی باره کې بحث دی. د انبياء کرام عليهم السلام د ژوند باره کې نه.

جواب: ۷: المهند علی المفند. خو د بريليانو په مقابله کې ليکل شوی دی، په هغه باندې زموږ د اکابرينو دستخط موجود دی، دې کې د حضور ﷺ د ژوند مسئله شرح او تفصيل سره ذکر شوې ده.

جواب: ۸ دا روایت صحیح دی[۱] او د صحیح مسلم روایت ددې تائید کونکی دی[۲] والله اعلم

دحیات النبي په منکرینو پسې اقتداء

سوال: یو عالم دا عقیده لري چې حضور ﷺ ته برزخي ژوند حاصل دی. دا معنا چې دحضور ﷺ بدن مبارک په خپل قبرکې صحیح سلامت موجود دی. خو دغه بدن مړ دی. هغه کې ژوند نشته. یواځې روح ته ژوند حاصل دی او دروح بدن مبارک سره هیڅ تعلق نشته. کوم کس چې ددې عقیدې خلاف عقیده لري هغه کافر او هندو دی. ددې خبرې اظهار هغه اکثره په خپلو تقریرونو کې کوي. اوس سوال دا دی چې

سوال: ۱: ایا داسې عقیده لرونکي عالم سره دعقیدت ساتل جائزدي؟

سوال: ۲: ایا د داسې عقیدې لرونکي امام وروسته لمونځ کیږي؟

سوال: ۳: د داسې عقیده لرونکي کس تقریرونه اوریدل شرعي طور باندې جائزدي او که دګناه سبب جوړیږي؟

سوال: ۴: ددې عقیدې خلاف ښکاره طورباندې ردکول پکاردي او که خاموشي اختیارول پکاردي؟

جواب: زما او زما دا اکابرینو عقیده دا ده چې حضور ﷺ په خپل قبر مبارک کې بدني ژوند سره ژوندی دی. او دا برزخي ژوندی دی. حضور ﷺ درود او سلام وړاندې کونکو ته ددرود او سلام ځواب ورکوي[۳] او هغه ټول کارونه دکومو تفصیل چې الله تعالی ته معلوم دی. اداکوي. دحضور ﷺ ژوند ته برزخي ژوند په دې وجه باندې ویل کیږي چې ژوند ورته برزخ کې حاصل دی او ددې تعلق روح او بدن دواړو سره دی. کوم کس چې ددې عقیدې خلاف عقیده لري،

۱] عن عطاء ، مولى أم حبيبة قال : سمعت أبا هريرة ، يقول : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : « ليهبطن عيسى ابن مريم حكما عدلا ، وإماما مقسطا وليسلكن، فجا: حاجا ، أو معتمرا أو ابنيتهما ولياتين قبري حتى يسلم ولأردن عليه » يقول أبو هريرة : « أي بني أخي إن رأيتموه فقولوا : أبو هريرة يقرئك السلام » « هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه بهذه السياقة (مستدرک حاکم ج:۲،ص: ۵۹۵ هبوط عیسی علیه السلام وقتل الدجال واشاعة الاسلام ، طبع دار الفکر بیروت)

۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : والذی نفسی بیده ! لیهلن ابن مریم بفج الروحاء حاجا او معتمراً او لیثنینهما رواه مسلم (التصریح بما تواتر فی نزول المسیح ص:۱۰۰)

۳] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما من احد یسلم علی الا رد الله علی روحی حتی ارد علیه السلام (رواه ابوداؤد والبیهقی فی الدعوات الکبیر(مشکوة ص:۸۶ باب الصلوة علی النبی ، طبع قدیمی کتب خانه)

هغه زما د اکابرینو په نزد باندې گمراه دی. دهغه په اقتداء کې لمونځ جائزنه دی. دهغه تقریر اوریدل جائزنه دي. او هغه سره هیڅ قسمه تعلق ساتل نه دي پکار

دانبیاء علیهم السلام په قبرونوکې دژوند نه دانکارکونکوحکم

محترم مولانا محمد یوسف لدهیانوي صاحب.....السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.
روزنامه جنگ کراچي ۹ جون ۱۹۹۵ء کې تاسو لیکلي و
"سلف صالحین سره بې اعتمادي..

سوال: یوه فرقه دانبیاء کرام علیهم السلام په قبرکې دژوند .سماع موتی. دې دنیاکې په قبرکې دحساب کتاب، تعویذ، واسطې اووسیلې قایلینوته کافراومشرک وایي، ووایي چې دانبیاء کرام علیهم السلام ژوند اوحساب کتاب دبرزخ معاملې دي. برزخي قبرهرانسان ته ورکول کیږي ، دقبرنه مراد داکنده نه ده په کوم کې چې انسان خښیږي. افسوس چې داخلک دکافر او مشرک دفتوا شروع دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه کوي. هغوی وایي چې ددې عقیدو شروع له هغه نه وشوه. دهغه نه وروسته امام بن تیمیه رحمه الله. ابن قیم رحمه الله سره ټول صالحین دکفراوشرک دې فتوا کې داخل دي. دخداې له پاره ځواب راکړئ چې دغه فرقه مسلمانان دی او که کافران؟

دسوال وجه داده چې زمایوماماهم دې فرقې سره تعلق ساتي. اوس هغه کراچۍ کې وفات شوی دی او هم هلته خښ دی. زماهروخت هغه له پاره ددعاکولواوثواب بخښلونیت وي. خودهغه ددې عقیدوپه وجه باندې ویریږم. چې الله دې نه کړي هسې نه چې دغه فرقه بالکل مسلماني نه خارجه نه وي؟

جواب: دافرقه دخارجیانوپه شان ده. چې دوی دامت ټول اکابراهل سنت اوتر حدپورې چې امام احمدبن حنبل رحمه الله هم کافراومشرک گڼي اودهغوی دعقیدو مقصد سلف صالحینو باندې بې اعتمادي اوخپل جهالت باندې غرور دی. دعقیدوپه کتابونوکې دبعضې اکابرینوقول دی چې کومه فرقه ټولوسلفوصالحینوته گمراه وایي. هغه به گمراه گڼل کیږي اوکومه فرقه چې دې ټولوته کافروایي هغه به کافرگڼل کیږي. په هرحال هغوی ته کافرویلوکې احتیاط پکاردی. خودهغوی په گمراهي کې هیڅ شک نشته. تاسوداسې دعاکوئ که چېرې هغه مسلمان و. نوالله تعالی دې دهغه بښنه وکړي.

ددې ځواب په رڼاکې چې کومه فرقه دانبیاء کرام علیهم السلام په قبرونوکې دژوند .سماع موتی. دنیاوي قبرکې دحساب کتاب. تعویذاوواسطې وسیلې قایلینوته مشرکان وایي، هغوی ستاسوپه نزد دخارجیانوپه شان دي اودهغوی په گمراهي کې هیڅ شک نشته. دې باره کې زه تاسونه یوڅوسوالونه کول غواړم. تاسوته خواست دی چې دقران اوسنت مستندوحوالوسره ځواب راکړئ. هغه سوالونه دادي:

سماع موتی د قران په نظرکې

۱: قران کې الله تعالی نبي کریم ﷺ منع کړی دی چې: وماأنت بمسمع من فی القبور.(پاره ۲۲ رکوع ۱۵ سورة فاطر)
ترجمه: اې نبي ﷺ ته قبرکې موجود و مړوته څه نه شې وراورولی.
یوبل ایت کې دي: فإنک لاتسمع الموتی. (سورة روم رکوع ۸)
ترجمه: اې نبي ﷺ تاسو مړوته څه نه شئ وراورلی.
سورت نمل کې هم داسې یوایت موجوددی، کوم چې د سماع موتی نفی کوي. دپورته بیان شویو ایتونو نه دسماع موتی نفی کیږي اوستاسوپه ځواب کې(کوم چې روزنامه جنگ کې چاپ شوی دی) دسماع موتی تائید کیږي.
مهرباني وکړئ ددې اصل وجه وښایئ. یعنې ددې ایتونو چې څه مقصددی، دهغه نه موخبرکړئ، چې زموږشکونه ختم شي. کوم چې زماذهن کې پیداکیږي.

سماع موتی د حدیثونوپه نظرکې

عزوه بدرکې چې کوم کافران قتل شول. نبي کریم ﷺ دهغوی (مړه شوي)بدنونه یوې کندې ته وغورځول اوهغوی ته یې وفرمایل:
هل وجدتم ماوعدربکم حقا؟
ترجمه: تاسوسره چې ستاسوپروردگارکومه وعده کړې وه هغه تاسو حق ومونده؟
صحابه کرامورضوان الله علیهم اجمعین عرض وکړ. یارسول الله! تاسو مړوته خبرې کوئ؟
حضور ﷺ وفرمایل:
ماأنتم بأسمع منهم ولکن لایجیبون.
ترجمه: تاسودهغوی نه زیات نه اورئ. خودوی ځواب نه شي ورکولی.
داواقعه چې کله دحضرت عائشې رضی الله عنها خدمت کې وړاندې کړل شوه. نوام المؤمنین رضی الله عنها وفرمایل چې داخبره حضور ﷺ بالکل نه وه فرمایلې. بلکې حضور ﷺ فرمایلی و:
إنهم آلان لیعلمون أن ماکنت أقول لهم حق! (بخاري ج ۲ ص ۵٦۷)
ترجمه: دوی به اوس هغه خبره موندلې وي کومه به چې مادوی ته کوله.
اوحضور ﷺ داسې خبره نه ده کړې ځکه چې دالله تعالی ارشاددی: إنک لاتسمع الموتی.
(یقیناً تاسو مړوته څه نه شئ وراورولی.) (بخاري ج ۲ ص ۵٦۷)
پورته ذکرشوې واقعه هم دسماع موتی انکارکوي. تاسوسره موږنه زیات علم دی، تاسوته به پته وي چې دحضرت عائشې رضی الله عنها په علم کې څومره مقام و؟ دهغې نه ښه مفسره، محدثه،

فقیهه. خطیبه له ټولونه اعلی تاریخ پوهه اوله ټولونه د نسبونو ماهره ښاید په دنیاکې اوسه
پورې څوک نه وي پیداشوې. نه سړیوکې اونه ښځوکې. هغې هم دا فقهي اصول وړاندې
کړي وو. چې کوم روایت دقران خلاف وي هغه به د اعتبارقابل نه وي. یابه دهغه تاویل
کیږي اویابه دهغه رد کیږي.

سوال داپیداکیږي چې تاسووفرمایل چې د سماع موتی انکارکونکی خارجي دی او دا
تاریخ کې محفوظ دي چې حضرت عائشې رضی الله عنها د ټولونه مخکې د سماع موتی نه انکارکړی دی.
زماتاسونه دا غوښتنه ده چې موږ دهغې خبرې نه خبرکړئ. کومه چې د حضرت عائشې رضی الله عنها
په نظرکې نه وه.

سماع موتی دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نظرکې

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه یوسړی دځه ښوخلکوقبرونوته سلام کولو او هغوی ته داسې ویلوسره
ولیدچې: اې قبروالوتاسوته څه پته هم شته.او ایا تاسوباندې ددې څه اثرهم شته چې زه
تاسوته دډیرومیاشتونه راځم اوتاسونه زماسوال یوائې دادی چې زماپه حق کې دعاوکړئ
اووایئ! تاسوته زمادحال څه خبرهم شته اوکه تاسوبالکل غافل یئ؟

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دهغه داخبره واوریده له هغه نه یې پوښتنه وکړه. ایاقبروالوتاته څه
ځواب درکړ؟ هغه وویل نه! امام ابوحنیفه رحمة الله علیه چې دااوریدل نوویې ویل: هلاک شې! ستا
دواړه لاسونه دې په خاوروشي. ته داسې بدنونوسره خبرې کوې. کوم چې نه ځواب درکولی
شي. نه دڅه شی مالکان دي اونه هغوی اوازاوریدای شي. بیاابوحنیفه رحمة الله علیه دا ایت تلاوت کړ:

وماأنت بمسمع من في القبور.

ترجمه: اې نبي! ته دې خلکوته کوم چې قبرونوکې دي هیڅ نه شې وراورولی . (غرائب فی
تحقیق المذاهب وتفهیم المسائل ص ۱)

دلته هم سوال پیداکیږي چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه هم د سماع موتی انکاري و. بیاپه دې خبره
باندې نه پوهیږم چې دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه داعمل څنګه و؟ لږ ددې هم وضاحت وکړئ!

واسطه اووسیله

اوس به زماسوالونه دذکرشوي عنوانومطابق وي. امیدلرم چې ځواب راته راکړئ!

واسطه اووسیله دقران په نظرکې

سورۀ بقرة ایت ۱۸۶ کې الله تعالی فرمایي : او اې زما نبي! زمابندګان که چیرې تاسونه زما
باره کې پوښتنه وکړي نوتاسو هغوی ته ووایئ چې زه هغوی ته نژدې یم.بنده چې کله ماته
اوازاوکړي نوزه دهغوی اوازاورم اوځواب ورکوم. هغوی ته پکاردي چې زماحکم ومني
اومابادې ایمان راوړي. داخبره تاسوهغوی ته وکړئ.کیدای شي هغه سمې لارې ته راشي.

سورت ق ایت ۱۴ کې ارشاد دی
"موږ انسان جوړکړی دی او موږته دهغو خبروپته ده چې دهغوی زړونوکې راځي اوزه هغوی ته دهغوی دساه درګ نه هم نژدې یم.
سورة اعراف ایت ۱۸۰ کې ارشاد دی
"او دالله تعالی ټول نومونه ښه دي. هم ددې په ذریعه باندې دالله تعالی نه غوښتنه کوئ.
دپورته بیان شویو ایتونونه داخبره ذهن ته راځي چې الله تعالی ته دڅادواسطې اووسیلې ضرورت نشته. خوکیدای شي چې زموږ په پوهه کې خرابي وي. تاسومحترم ته ادب سره خواست دی چې دپورته بیان شویو ایتونو (کوم چې دواسطواووسیلونفې کوي) صحیح مفهوم بیان کړئ.

واسطه اووسیله د حدیثونو په نظرکې

ابوداؤد، نسائي، ترمذي اوابن ماجه دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت نقل شوی دی چې زه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره جومات کې ناست وم، یوکس لمونځ کاو، هغه دعاوکړه:
"اې الله! زه تانه دهغه وسیلې په ذریعه سوال کوم چې ټول ثنا صفت ستاله پاره دی، اوستانه پرته بل څوک دعبادت لائق نشته، ته مهربان اواحسان کونکی یې. دځمکې او اسمانونو جوړونکی یې. اې دجلال اواکرام والا! اې ژوندیه! اې بندوبست کونکیه! زه تانه سوال کوم. (ترمذي ج ۲ ص ۲۱۲)
حضور صلی الله علیه وسلم دې اوریدوسره وفرمایل:
"ده دالله تعالی دنوم په ذریعه باندې دعاکړې ده. کله چې هم دې ذریعه باندې دعاوکړل شي، قبلیږي. اوکله چې هم څه سوال وکړل شي ورکول کیږي.
دذکرشویو حدیثو نه دامعلومیږي چې الله تعالی ته دنبي، پیریا فقیر دواسطې اووسیلې څه ضرورت نشته اوداسې څه حدیث هم موږته نه دی معلوم چې په هغه کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دالله تعالی د نومونو نه پرته دڅه واسطې یاوسیلې ذکر وي.
تاسونه سوال دادی، چې موږ دواسطې اووسیلې قایل یو نو ولې؟ لږتفصیل سره ځواب راکړئ.

واسطه اووسیله د ابوحنیفه رحمه الله په نظرکې

داخبره دهیچاله پاره هم صحیح نه ده چې دالله تعالی نه دبل چاپه وسیله باندې دعا وغواړي، بلکې پکاردي چې دالله تعالی په نومونو اوصفتونووسیله ونیسي اودادې هم نه وایي چې زه ستانه غواړم دفلانی، فرښتې یادستادفلاني نبي په ذریعه باندې، یاداسې نور...(درمختار)
وګورئ دامام ابوحنیفه رحمه الله فتوا حاضره ده، که موږ د واسطې یاوسیلې قایل شونوولې؟ ادب سره عرض کوم.

تعویذاوبندونه

محترم مولوي صاحب!
دتعویذاوبندونو ذکرموږته قران کې نه دی پیداشوی اوحدیثونوکې ددې ردراغلی دی.
مثلاً عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې مادرسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې دم.
تعویذ او بندونه ټول شرک دي. (ابوداؤد. مشکوة ص ۳۸۹)
زموږناقص عقل خوداوايي چې قران دهدایت لاره ده. اودا هدایت موږهغه باندې پوهیدوسره حاصلولولی شو. تعویذجوړولوپه غاړه یامټ باندې تړلوسره نه. هسې هم موږ دهدایت طالبان یو. تاسوچې ددې نه منونکوته خارجي وایئ. خامخابه ستاسوپه نظرکې څه حدیث. یاواقعه وي. مهرباني وکړئ. موږهم دهغې نه خبرکړئ. مهرباني به وي.
قران مجیدکې الله تعالی دقران اوشهدودواړوباره کې فرمایلي دي چې دې دواړوکې مومنانوله پاره شفا ده. نوایاڅنګه چې قران مټ باندې تړل کیږي. یاغاړه کې اچول کیږي. همدارنګه دشهدوبوتلې هم غاړه کې اچولویامټ باندې تړلوسره شفا ورکول کېدای شي؟ ځواب راکړئ! ډیره مهرباني به مو وي.

دنیاوي قبرکې حساب کتاب

محترم لدهیانوي صاحب!
دپورته ذکرشویو عنوانو مطابق زماسوال دادی چې دنیاوي قبرکې حساب کتاب څوک نه مني هغوی خارجیان څنګه شول؟ اوپه قران مجیدکې الله تعالی فرمایي چې:
"دنطفې نه موږانسان پیداکړ. بیامودهغه تقدیرمقررکړ. بیامودهغه له پاره دژوندلاراسانه کړه. بیاموهغه ته مرګ او قبر ورکړ. (سورة عبس آیات ۱۸ تا ۲۱)
اوموږوینوچې ډیروخلکوته قبر(دخاورې والاقبر) نه پیداکیږي. څه خاروي وخوري. څه په اوبوکې مړه شي. څوک زرې زرې شي. څوک خلک وسوځوي. غرض داچې ډیرزیات خلک داسې دي. چې هغوی ته دنیاوي قبرنه پیداکیږي. نوبیادقران ددې دعوی نه چې موږانسان ته قبرورکړ. څه مراددي؟
زما د ناقص خیال مطابق دقران دادعوه بالکل ربښتوني ده اوقران کې دذکرشوي قبرنه مراد برزخي قبردی. کوم چې هریوته ورکول کیږي . مړي باندې دعذاب اوسکون وخت تیریږي.
قران کریم کې الله تعالی فرمایي. چې: الِ فرعون سهاراوماښام داورګرموالي ته وړاندې کیږي. (سورت مومنون ۴۵)
دفرعون بدن(لاش) وګورئ یورپ کې محفوظ دی. خوقران وایي چې هغه اورته وړاندې کیږي. دې نه داخبره په عقل کې نه راځي چې دعذاب دادورهغه باندې کوم وخت کې تیریږي.

د فرعون د لاش (بدن) د محفوظ ساتلو ذکر چې په باندې الله تعالى په سورت يونس (ايت ۹۰ نه ۹۲) کې کړی دی. چې خلک ترې عبرت واخلي

په قبرونو کې دا انبياء عليهم السلام ژوند

محترم لدهيانوي صاحب: الله تعالى قران پاک کې ارشاد فرمايي چې

ثم إنكم يوم القيمة عند ربكم تختصمون. (مؤمنون ايت ۱۵، ۱۶)

ترجمه: د دنياوي ژوند نه وروسته يو د ورځ به تاسو ضرور مرئ او بيا به د قيامت په ورځ باندې تاسو د الله تعالى په وړاندې خصومت (جنګ) کوي.

د غور کولو خبره دا ده چې د دې اصولو له پاره. د نبي. ولي يا د بزرګ د تخصيص ضرورت نشته. دا عام اصول دي. د دې کې څوک هم مستثنى نشته.

يو بل ځای کې ارشاد فرمايي **إنك ميت وإنهم ميتون. (الزمر ۳۰)**

ترجمه: بې شکه (اې نبي) ته هم مړکيدونکي يې او هغوی به هم مړه کيږي.

دا ايتونه موږ ته دا وايي چې هر ژوندي کس ته به مرګ راځي. که هغوی انبياء هم وي. د مرګ يو وخت مقرر دی او هغه مقرر وخت باندې به ټولو خلکو ته مرګ راځي.

سوال دا پيدا کيږي چې د دې واضح ايتونو په موجوديت کې دا ويل چې انبياء عليهم السلام په خپلو قبرونو کې ژوندي دي. نو د قران پاک دا خبره د کومو خلکو له پاره ده؟ ايا د عامو خلکو له پاره؟ ځکه که چېرې د انبياء کرام عليهم السلام په قبرونو کې ژوند صحيح وګڼل شي. نو د دې مطلب دا شو چې انبياء عليهم السلام ته مرګ نه راځي. او که چېرې راځي نو د ډير لږ وخت له پاره. قبر ته تلو سره هغوی ژوندي شي او قران کې دا ويل کيږي چې هر مړشوی کس به د قيامت په ورځ بيا راژوندی کيږي.

د انبياء کرام عليهم السلام په قبرونو کې د ژوند باره کې يوه واقعه ليکم. د بخاري شريف يو اوږد حديث دی او د معراج د واقعې باره کې دی. د هغه اخري برخه دا ده:

"نبي کريم ﷺ وفرمايل.... جبرايل خپل تعارف کولو سره وفرمايل: زه جبرايل يم. دا زما ملګری ميکائيل دی. لږ خپل سر اوچت کړئ. ما خپل سر اوچت کړ. نو ما د خپل سر د پاسه وريځ شان وليدله. هغوی دواړو وويل چې دا ستاسو مقام دی. ما وويل چې ما پرېږدئ چې زه خپل کور ته داخل شم. هغوی وويل چې ستاسو د عمر څه برخه باقي پاتې ده. چې هغه اوس پورې تاسو نه ده پوره کړې. که تاسو هغه پوره کړئ. نو تاسو به خپل کور ته راشئ.

(ترجمه از عبارت ص ۱۷۵ بخاري ج ۱ مطبوعه دهلی)

پورته بيان شوی حديث خو دا ثابتوي چې د مرګ نه وروسته حضور ﷺ د مديني منورې په قبر کې ژوندی نه دی بلکې خپل کور کې ژوندی دی. کوم چې جبرائيل عليه السلام هغه ته د معراج په وخت کې ښودلی و.

سعید بن مسیب رحمة الله علیه او عروة بن الزبیر رحمة الله علیه او ډیر عالمان بیانوي چي حضرت عائشي رضي الله عنها وویل حضور ﷺ به د تندرستي په زمانه کې فرمایل يونبي ته هم مرګ نه راځي، ترڅوپورې چې هغه ته جنت کې خپل ځای ونه ښودل شي. دځای ښودلو نه وروسته هغه ته دانتخاب (خوښې)موقع ورکړل شي. چې په دنیاکې اوسیدل غواړي او که الله تعالی سره ملاقات کول غواړي. کله چې دحضور ﷺ اخري وخت راغی او هغه وخت کې د حضور ﷺ سرمبارک زما غیږکې و. حضور ﷺ باندې لږ وخت له پاره بې هوشي راغله. عائشي رضي الله عنها وویل اخری کلمه. چې دهغې نه وروسته حضور ﷺ بله خبره ونه کړه (اللهم رفیق الأعلی) یعنې حضور ﷺ د الله تعالی ملاقات ته ترجیح ورکړه. (بخاري ص ۹۳۹ ج ۲ مطبوعه دهلی)

دبخاري داحدیث ثابتوي چې نبي کریم ﷺ د الله تعالی ملاقات ته ترجیح ورکړه اوددې دنیانه لاړ. اوس که څېرې هغه موږ د مدینې په قبرکې ژوندی ومنو. نوددې مطلب به داوي چې نبي کریم ﷺ د دنیا خلکوته ترجیح ورکړه اوله دوی سره یې تعلق وساته.

مهرباني وکړئ. ددې وضاحت وکړئ چې ددې حدیثونو صحیح مفهوم څنګه دی؟ کیدای شي چې زموږ پوهیدوکې غلطي شوې وي.

دبخاري یوحدیث داهم دی چې:

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې: رسول الله ﷺ هغه وخت وفات شو. کله چې ابوبکر رضي الله عنه مکې ته نژدې یو ځای کې و. هغه وخت کې حضرت عمر رضي الله عنه ودرید اوویې فرمایل: په الله مې دې قسم وي. نبي ﷺ نه دی وفات شوی او عمر رضي الله عنه داهم وویل چې الله تعالی به حضور ﷺ بیاژوندی کوي او حضور ﷺ به دخلکو (منافقانوکوم چې خوشحالي کوي) پښې اولاسونه ضرورکټ کړي. بیاابوبکر رضي الله عنه راغی اوهغوی دحضور ﷺ دمخ مبارک نه څادرلیرې کړاو دحضور ﷺ مخ مبارک یې ښکل کړ اوویې ویل: زمامور او پلارله تا قربان! په ژوندا ومرګ کې تاسوپاک یئ. په هغه ذات مې دې قسم وي، چې دهغه په قبضه کې زماساه ده. الله تعالی به تاسوته دوه مرګونه درنه کړي. بیاهغه بهرته راووت او عمر رضي الله عنه ته یې وفرمایل: ای قسم خوړونکیه! دومره تیزي مه کوه!

الزهري رحمة الله علیه وایي چې ابوسلمه ماته وویل چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وویل: ابوبکر رضي الله عنه بهرته راووت. عمر رضي الله عنه خلکو سره خبرې کولې. بیاخلک دحضرت ابوبکر رضي الله عنه طرف ته متوجه شول او عمر رضي الله عنه یې پرېښود. دحمد او ثنانه وروسته ابوبکر رضي الله عنه وویل: واورئ! چې تاسوکې چاد محمد ﷺ بندګي کوله. هغه دې خبر شي چې محمد ﷺ وفات شو او څوک چې د الله تعالی عبادت کونکې وو. نو الله تعالی ژوندی دی. هغه ته به څېرې هم مرګ نه راځي. بیایې دقران پاک ددې ایتونو تلاوت وکړ چې دهغو ترجمه داده:

ترجمه: محمد ﷺ له دې نه پرته هيڅ نه دی چې يواځې يو رسول دی. دده نه مخکې ډېر رسولان تيرشوي دي. که چېرې دهغه وفات شي يا شهيد شي. نوتاسو به ورروسته شئ اوڅوک چې وروسته شي. نوهغه الله تعالى ته هيڅ نقصان نه شي رسولی. الله تعالى خپل شکر کونکو بندګانو ته جزا ورکونکی دی.

(ترجمه ص ۵۱۷. جلد ۱ ص ۲۴۰ جلد ۲ بخاري)

صحابه کرامو رضی الله عنهم به خپل نبي ﷺ سره ډېره زياته مينه کوله. که چېرې هغوی ته داپته وی چې محمد ﷺ ژوندی دی. نو چېرې به يې هم د هغه خليفه نه و ټاکلی. نه به يې خپل پيغمبر خښ کړی و اونه به يې هغه قبرته کوزکړی و. بيانه داجتهادضرورت پېښېده. نه درجالو د تلاش کولو. نه به دحديثونوپه تحقيق کې دمحنت کولوضرورت و. کله به چې دڅه شي ضرورت و. قبرته به ورتلل او پوښتنه به يې کوله. ابوبکر رضی الله عنه به دارتدادپه موقع کې. عمر رضی الله عنه به دقحط په وخت کې. عثمان رضی الله عنه به دفتنې په وخت کې. اوحضرت عائشې رضی الله عنها او حضرت علی رضی الله عنه به دجنګ جمل اوصفين په موقع باندې له هغه ځخه مخامخ لارښو ونې حاصلولې.

زمادناقص عقل مطابق قبرکې دژوندي کيدوعقيده دقبرپرستي بنياددی. ځکه چې کله يوقبرپرست ته دايقين وشي چې قبرکې موجودکس ستا اواز نه اوري، ستاحاجت نه شي پوره کولی. بلکې هغه ته خوپخپله باندې ددې پته نشته چې کله به ژوندی کيږي؟ نو قبر پرست به دقبرپرستي نه توبه وکړي.

محترم لدهيانوي صاحب! دې معاملې باندې هم زمونږ راهنمايي وکړئ! مهرباني به وي.

خط ډيرزيات اوږدشو. څه اوکړودعقيدومسئلې وي. په کومو باندې چې زمونږددوزخ اوجنت معامله ده، ځکه چې دکوم کس عقيدې هغه نه وي کومې چې قران اوصحيح حديثونوبيان کړي وي، نوهغه کس که هرڅومره ښه عملونه وکړي. مثلاً: لمونځ، روژه، حج وغيره خوداشيان هغه ته هيڅ فائده نه شي رسولی. ځکه چې ايمان دټولونه وړاندې دی.

محترم! خط اوږددی، دابه ستاسوډيرقيمتي وخت اخلي، خواميدلرم چې تاسوبه ځواب ضرورراکړئ!

ستاسوپه روزنامه جنګ کې ورکړل شويو ځوابونوپه وجه باندې شکونه پيداشوي وو، زه هغه معلومول غواړم اوزه به ډيرشکرګذاريم چې تاسومايه ځواب باندې مطمئن کړئ!

فقط تحريم احمدصديقي

مکان نمبر ١٧ ے ميرفضل ټاون

نزدفضل مسجدوالی ګلی لطيف آبادنمبر ٩

١٠ دسمبر ١٩٩٥ء

ځواب

محترم و مکرم جناب تحریم احمد صدیقی صاحب!
د سنت سلام نه وروسته خواست دی چې ستاسو خط زماديو ليکل شوي ځواب په باره کې کوم چې ۹ جون ۱۹۹۵ء باندې جنګ اخبار کې چاپ شوې و راغی. په کوم کې چې جناب د سماع موتی، حیات فی القبور، تعویذ، توسل او داسې نورو مسئلو باره کې خپل خیال ښکاره کولو سره ماته د ځواب ليکلو باره ویلي دي.
دې خطاکار دغې فرقې ته "د خارجیانو په شان" ویلي دي او ددې بنيادي وجه د مستفتي دا فقره ده:
"افسوس چې د اخلک د کفر او شرک د فتوا شروع د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه کوي، چې ددې عقیدو شروع د هغه نه وشوه. د هغه نه وروسته امام ابن تیمیه رحمه الله، او ابن قیم سره ټول صالحین رحمهم الله د هغوی په فتوا کې داخل دي.
خارجي خلک هم د خپلو نظرياتو له پاره د قران پاک حوالې ورکوي او صحابه کرام او تابعین رحمهم الله کوم چې د هغوی د بدو نظرياتو سره متفق نه وو، هغوی ته کافر وايي، که چېرې تاسو هم د امام ابو حنیفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله امام احمد بن حنبل رحمه الله نه ترامام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله، شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله، مسند الهند شاه عبد العزیز محدث رحمه الله پورې او ددوی نه وروسته ټول اکابرينو باندې د کفر او شرک فتوا جاري کوئ، نو بیا شکه تاسو د خارجي فرقې په شان يئ، دې صورت کې ستاسو په دليلونو باندې د غور کولو او ستاسو د استدلال غلطي ښکاره کول فضول دي، ځکه چې د حديث مطابق "**لايعرف معروفاً ولاينكر منكرا إلا ما اشرب من هواه**" تاسو ديوې خبرې منلو له پاره تيار نه يئ. کله چې بوکس په خپل خيال باندې دومره مضبوط وي چې د خپل ځان نه پرته د ټول امت اکابرين کافر او مشرکان ګڼي. هغه سره په څه جزي مسئلو باندې خبرې کول فضول کار دي. خو بو ځو خبرې د جناب په خدمت کې وړاندې کوم، که د هغو وضاحت وکړئ نو انشاء الله د جناب ذکر شويو مسئلو باندې به معروضات وړاندې کولو سره د جناب نه د انصاف کولو خواست وکړم، دو ضاحت خبرې دا دي:
۱: ايا تاسو د امت هغه اکابرين حضرات کوم چې د حيات الانبياء في القبور، سماع موتی، په هغه قبر کې چې مړی ښخ دی، د حساب کتاب يا سوال ځواب کيدو او د تعويذ په جواز يا د وسيلې او واسطې قايل دي، په رښتيا باندې کافر او مشرک ګڼئ؟ او شرعي طور باندې د هغوی هغه حکم نه دي کوم چې د کافرانو او مشرکانو دي؟
۲: تاسو د ام المومنين حضرت عائشه رضي الله عنها باره کې ليکلي دي:
"له هغې نه ښه مفسره، محدثه، فقيهه، خطيبه، د ټولو نه اعلی تاريخ دانه، د ټولو نه اعلی ماهر انساب دنيا کې او سه پورې څوک نه دي پيدا شوي، نه سړيو کې او نه ښځو کې."

که چېرې پورته بيان شويو پنځو مسئلو کې ديوې مسئلې هم هغه قايله وي. نوايا هغه به هم ستاسو حضراتو په نزد (نعوذبالله) کافره او مشرکه وي؟

٣: کوم صحابه کرام رضی الله عنهم چې دې مسئلو باره کې ستاسو خلاف خيال لري. ايا هغوی هم کافران او مشرکان وو؟

۴: تاسو په خپل خط کې دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه دوه ځايونو کې حواله ورکړې ده. حالانکه امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په قبر کې دژوند قايل و اوهغوی دامسئله په عقيدو کې ذکرکړې ده. سوال دادی چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه هم ددې عقيدې په وجه باندې کافراومشرک شو او که نه؟

۵ دصحابه کرامو رضی الله عنهم دزمانې نه دنن پورې کوم حضرات چې ددې پنځو مسئلو قايل دي. هغوی خو ستاسو په نظر کې کافران اومشرکان وو او څوک چې کافراومشرک مسلمان وګڼي. هغه هم کافروي. نو ايادخوارلسوسووکالو په امت کې داسې څوک شته. کوم چې ددې پنځو مسئلو قايل نه وي؟ يا ددې مسئلو قايلين مسلمانان نه ګڼي؟ که چېرې څه خوش قسمته خلک داسې وي کوم چې ستاسو حضراتو مطابق مسلمانان وي نومهرباني وکړئ دهريوې صدئ دلسو لسو کسانو نومونه وليکئ.

۶: دکافراومشرک قول هم داعتبارقابل نه دی اودهغوی نقل اوروايت هم داعتمادقابل نه دی. نو:

الف: دقران کريم متواتر نقل کيدل به څنګه ثابت شي؟ اودقران نقل کونکي خو په دې مسئلو کې ديوې نه يوې مسئلې قايل دي. يادې مسئلوقايلين ستاسو په شان کافراومشرک نه ګڼي. اوپورته نمبرکې مابيان کړی دي چې کافراومشرک کافرنه ګڼونکي هم کافردي. د څوارلس سووکالوټول امت کافراومشرک و اوددې کافرانواومشرکانو لخوانقل شوی کتاب به څنګه داعتماد قابل وي؟ اوله دې نه به استدلال کول څنګه جائزوي؟

ب: همدا سوال به دصحيح بخاري باره کې هم وي. دې کې بې شميره روايتونه ستاسو په فکر کافرانواومشرکانونه نقل شوي دي او دصحيح بخاري کوم سندچې موږته رارسيدلی دی، هغه کې هم بعضې اکابرين داسې دي چې هغوی ددې ټولومسئلو يا دځينو قايل دي. سوال دادی چې صحيح بخاري کوم چې دکافرانو اومشرکانو (نعوذبالله) په ذريعه باندې موږته رارسيدلی دی. هغه داعتبارقابل څنګه کيدای شي؟ اوددې نه به استدلال څنګه جائز وي؟ بلکې پخپله امام بخاري رحمة الله عليه ددې ټولومسئلويابعضې مسئلوقايل و اوهغه هم ستاسو په نزدباندې کافراومشرک شو. بياهغه دامام احمدبن حنبل رحمة الله عليه شاګردی اوصحيح بخاري کې يې دهغه نه روايتونه کړي دي اوامام احمدبن حنبل رحمة الله عليه ستاسو په نزدباندې د مشرکانومشردی، نوداسې کس دکتاب څه اعتبار دی؟ کوم چې پخپله باندې مشرک وي اودمشرکانو شاګردهم وي.

ج: دحدیث دصحیح یاضعیف کیدو له پاره چې کوم اکابرین معیار دی. هغوی دې ینځومسئلوکې دېولو یاخینوېخیله قایل وو.بلکه نه که ددی مسئلوقایلینونه بې کافراومشرک نه ویل. دې صورت کې به یوحدیث نه دصحیح یاضعیف ویلوڅه صورت وی؟
۷. کومه فرقه یاسړی چې ټول امت کافراومشرک ګڼي. هغه مسلمان څنګه کیدای شي؟ اودا سلام اصول اوفروع به دچانه حاصلوي؟
زه امیدلرم چې تاسوبه ددې اوو سوالوپه ښه سوچ اوپوهې سره ځواب راکړئ. بیابه ستاسوداصولوپه رڼاکې ستاسودمسئلوباره کې خپل خیال ښکاره کړم. والسلام

د حضور ﷺ په قبرمبارک کې دسماع حدود

سوال: درسول الله ﷺ قبرته ددریدوسره درودشریف لوستل ددیوبند داکابرینومتفقه عقیده ده. چې حضور ﷺ یې پخپله اوري. سوال دادی چې دغه مبارک قبرباندې د اوریدو حد کوم ځای پورې دی؟
۱: ایادحضرت عائشې رضی الله عنها حجرې پورې؟
۲: دحضور ﷺ دزمانې دجومات حدودو؟
۳: دحضرت عثمان رضی الله عنه دزمانې دجومات حدکله چې دحضرت عائشې رضی الله عنها حجره هم جومات کې شامله شوه؟
۴: اوسنی جومات؟
۵: دراتلونکې جوړشوي جومات حدود؟
۶: دحضور ﷺ په زمانې کې دمدینې ښار؟
۷: اوسنی دمدینې ښار؟
۸: راتلونکی دمدینې ښار؟
جواب: څه تصریح خوراته یا د نه ده. خوداکابرینونه مواوریدلي دي چې جومات شریف کې دهرځای نه درود اوسلام ولوستل شي. پخپله باندې یې اوري. دجومات حدبه چې کوم ځای پورې وي هغه ځای پورې به داوریدوحکم وي اودحجرې شریفې نه سلام عرض کول به «أقرب إلى الأدب والمحبة» وي.

د قبرشرعي تعریف

سوال: ۱. دقبرشرعي تعریف څه دی؟ که چېرې دې نه مرادشرعي طور باندې هغه کنده وي. نوددې شرعي قبرکیدوباندې څه دلیل دی؟
سوال: ۲: منکرین حیات وایي چې دا کنده شرعي طورباندې قبرنه دی. که نه دهغو خلکو باره کې به څه ویل کیږي کوم چې وسوځول شي یاسمندرکې ډوبیدوسره یې کبان وخوري؟

سوال: ۳: که چېرې قبرنه شرعي طورباندې هم داکنده مرادده. نود بنه کس له پاره ددې قبر وسعت(خلاصېدل) اوبدعمله له پاره ددې قبر تنګېدل په نظرباندې ولې نه راځي؟ امیدلرم چې دیوطالب علم دتسلي له پاره به تفصیلي ځواب ورکړئ؟

جواب: دقبرنه مرادهم داکنده ده کومه کې چې مړی خښېږي . هم دې کې عذاب اوثواب ورکول کیږي، ددې دلیلونه ډیردي:

۱: إن رسول الله ﷺ قال: إنّ العبدإذاوضع فی قبره وتولی عنه أصحابه إنّه لیسمع قرع نعالهم أتاه ملکان فیقعدانه ,الحدیث. (صحیح بخاري ج ۱ ص ۱۸٤)

مړي هم دې قبرکې کینېودل کیږي. هم دې کې هغه دراستنېدونکو خلکو دپښواوازونه اوري اوهم دې قبرکې هغه ته دوه فرښتې راځي، کومې یې چې هم دې قبرکې هغه کینوي.

۲: خرج النبي ﷺ وقدوجبت الشمس فسمع صوتا ,فقال: یهودتعذب فی قبورها. (بخاري ج ۱ ص ۱۸٤) حضور ﷺ هم دې قبرنه دعذاب اوازاورېدوسره فرمایلي وچې یهودیانوته دهغوی په قبرونوکې عذاب ورکول کیږي.

۳: مرالنبي ﷺ علی قبرین فقال إنهما لیعذبان.....الخ، (بخاري ج ۱ ص ۱۸٤)

حضور ﷺ قبرونوباندې تیرشواو ویې ویل چې دوی دواړوته عذاب ورکول کیږي.

٤: بینماالنبي ﷺ فی حائط لبني النجارعلی بغلة له ونحن معه إذحادت به فکادت تلقیه وإذاأقبرة ستة اوخمسة اواربعة.... فقال: إن هذاالأمة تبتلی فی قبورها, فلولاأن لاتدافنوا لدعوت الله أن یسمعکم من عذاب القبرالذی أسمع منه.....الخ. (صحیح مسلم ج ۲ ص ۳۸٦)

له هم دې ظاهري قبرنه دحضور ﷺ سورلۍ ویریدلې وه اوهم دې قبرونوکې هغو خلکوته عذاب ورکول کیده اودهمدې قبرونوباره کې یې فرمایلي و: که چېرې داویره نه وای چې تاسوبه خپل مړی خښ نه کړئ. نومابه الله تعالی ته دعاکړې وه چې تاسوباندې یې هم دقبرعذاب اورولی وای.

۵: قولی:السلام علی أهل الدیارمن المؤمنین والمسلمین. (صحیح ج ۱ ص ٤۳۱٤)

السلام علیکم یاأهل القبور. (ترمذی ج ۱ ص ۱۲۵)

السلام علیکم دارقوم مومنین. (ابوداؤد ج ۳ ص ۱۰۵)

هم دې قبرونوته تلونکوته دالسلام علیکم ویلوحکم وشو اوهم دې قبرونوته (دارقوم مومنین) وویل شو.

دقبرعذاب اوثواب دغیبودعالم شی دي، په دې وجه باندې دازموږدنظرونونه پټ ساتل شوي دي، څنګه چې دخوب حالات بیداروخلکونه پټ وي. کوم خلک چې نه خښیږي.

کیدای شي چې هغوی له پاره دهوانه قبرجوړکړل شي؟ په هرحال دقبر دعذاب نه انکار کول یادنصوصو خلاف قبر کې تاویلونه کول دایمان اودانصاف له غوښتنو خلاف دی والله اعلم

د نبي ﷺ د حیات عقیده

سوال: دحیات النبي ﷺ دمسئلې په باره کې مې دمولانا الله یار خان کتاب "حیات انبیاء" ولوست اوددې نه وروسته دامسئله صراحتًا شیخ القران پخپل تفسیر جواهرالقران کې بیان کړې ده.خو مولانا الله یارخان دحیات کیفیت دروح دجسم اطهر یعني دبدن عنصری دمنلو له پاره دلائل ذکر کړي دي.حالانکه شیخ القران جسم مثالي منلی دی.مهرباني وکړئ ددې وضاحت وکړئ او اودا ووایئ چې ایادامسئله دایمان برخه ده؟

جواب: زما او زمادااکابرینوعقیده دا ده چې نبي کریم ﷺ پخپله پاکه روضه کې په حیات جسماني سره ژوندی دی[1].دا برزخي ژوندی.خوددنیاوي ژوندنه ډېرقوي دی[2].کوم حضرات چې له دې نه منکردي .زه هغوی اهل حق نه ګڼم نه هغوی دعلماء دیوبند په مسلک باندې دي.

❖ معراج ❖

د جسماني معراج ثبوت

سوال: دنبي کریم ﷺ معراج جسماني و اوکه روحاني و؟ ځواب په تفصیل سره راکړئ! ځینې وایي چې نبي کریم ﷺ ته جسماني معراج نه و حاصل شوی.

جواب: حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په نشرالطیب کې لیکي:

"دریم تحقیق: دجمهوراهل سنت والجماعت مذهب دادی. چې معراج په ویښه دجسم سره وشواودلیل یې اجماع ده اومستندې اجماع له پاره دامورکیدای شي"(وړاندې بیاددې دلایل وایي) (نشرالطیب ص ۸۰ مطبوعه سهارنپور)

---

[1]) فاقول حیاة النبی صلی الله علیه وسلم فی قبره وهو سائر الانبیاء معلومة قطعاً........ فمن الاخبار الدالة فی ذلک ما اخرجه مسلم عن انس رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم لیلة اسری به مر بموسی علیه السلام وهو یصلی فی قبره...... وعن انس رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: الانبیاء احیاء فی قبورهم یصلون (الحاوی للفتاوی ،انباء الاذکیاء بحیاة الانبیاء ج:۲،ص: ۱۴۷ طبع دارالکتب العلمیة ،بیروت،لبنان وایضاً آب حیات او المهند علی المفند اوګورئ)

[2]) والحق عندی عدم اختصاصها بهم بل حیاة الانبیاء اقوی منهم واشد ظهوراً (تفسیر مظهری ج:۱،ص: ۱۵۲ سورة البقرة آیة:۱۵۴ وایضاً فتاوی خلیلیة ج:۱،ص:۴۱۱)

اوعلامه سهيلي رحمه الله په الروض الانف شرح سيرت ابن هشام كې ليكلي چې "مهلب په شرح بخاري كې داهل علم ديوجماعت قول نقل كړى دى. چې معراج دوه خله شوى دى. يوځل په خوب كې دويم ځل په ويښه دجسم اطهرسره"[١] ،ص۲۴۴ج۱،
له دې نه معلومه شوه چې كوموحضراتوداويلي و. چې معراج په خوب كې شوى دى هغوى دلومړى واقعې په باره كې ويلي دي او دويمه واقعه چې په قران كريم او په حديثو متواتره كې ذكر ده هغه بيشكه دويښې (بيداري)واقعه ده.[٢]

په معراج كې د نبي كريم ﷺ حاضري څوځلې وشوه؟

سوال: نبي كريم ﷺ دمعراج په شپه دالله تعالى په درباركې څوځله حاضرشوى و؟

جواب: په لومړي ځل حاضري كې خوبې شک نشته اونهه(۹) ځله حاضري دلمونځونو د اسانتياپه سلسله كې وشوه. دهرځل په حاضري سره پنځه لمونځونه كم شوي وو. په دې ډول لس ځله حاضري شوې وه.[٣]

ايا د معراج په شپه نبي عليه السلام الله تعالى ليدلى دى؟

سوال: ايادمعراج په شپه نبي كريم ﷺ الله تعالى ليدلى دى؟

جواب: په دې سلسله كې دصحابوكرامواختلاف و. سهې داده چې ليدلى يې دى. خود ليدلو كيفيت يې معلوم نه دى.[۴]

١] ورايت المهلب فى شرح البخارى قد حكى هذا القول عن طائفة من العلماء وانهم قالوا: كان الاسراء مرتين، مرة فى نومه،ومرة فى يقظته ببدنه صلى الله عليه وسلم (قال المؤلف) وهذا القول هو الذى يصح وبه تتفق معانى الاخبار.....الخ (الروض الانف شرح سيرت ابن هشام ج:١،ص:٢٤٤ شرح ما حديث الاسراء من المشكل طبع ملتان وطبع مصر)

٢] سُبْحٰنَ الَّذِي اَسْرٰي بِعَبْدِه لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَي الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِي بٰرَكْنَا حَوْلَه لِنُرِيَه مِنْ اٰيٰتِنَا اِنَّه هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ وَاٰتَيْنَا مُوْسَي الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًي لِّبَنِي اِسْرَاءِيلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِي وَكِيلًا شرح عقائد (ص:١٤٣،طبع خيركثير) كښې دى : والمعراج لرسول الله صلى الله عليه وسلم فى اليقظة بشخصه الى السماء، ثم الى ما شاءالله تعالى من العلى حق اى ثابت بالخبر المشهور وايضاً تفسير ابن كثير ج:٤،ص: ١١٦ وشرح العقيدة الطحاوية ص:٢٤٥)

٣] وفيها وفى ليلة والمعراج .... فراجع رسول الله صلى الله عليه وسلم ربه عزوجل تسع مرات يساله التخفيف، وكان يخفف عنه كل مرة خمسة صلوات حتى بقى منها خمس.....الخ (بذل القوة ص:٣٦)

٤] ثم الصحيح انه عليه السلام انما راى ربه بفواده لا بعينه (شرح عقائد ص:١٤٤، نيز مشكوة ص:٥٠١) وايضاً شرح العقيدة الطحاوية ص:٢٤٨،وشرح العقائد ص:٧٥)

ایا د معراج په شپه حضرت بلال رضي الله عنه د نبي ﷺ سره و؟

سوال: ایا د معراج په شپه حضرت بلال رضي الله عنه د نبي ﷺ سره و؟

جواب: د معراج په شپه حضرت بلال رضي الله عنه د نبي ﷺ د سفر ملګری نه و.[۱]

نبي کریم ﷺ د معراج نه بېرته په څه شي راغلی و؟

سوال: زمونږ د وسنانو په مینځ کې یو بحث دی چې نبي کریم ﷺ د معراج په شپه خو په براق تللی و. خو بېرته په براق راغلی و؟

جواب: د دې څه تصریح مې نه ده تر سترګو شوې. خو داسې معلومیږي چې په کوم شي اسمان ته تللی و. په هغه باندې بیرته هم راغلی و.[۲]

❖ په خوب کې د نبي کریم ﷺ زیارت ❖

د نبي ﷺ د زیارت حقیقت

سوال: په خوب کې د نبي کریم ﷺ د زیارت حقیقت څه دی. یعني چې کوم سړی نبي ﷺ په خوب کې ووینې د هغه شفاعت ضروري شي. ایا ابلیس لعین د پیغمبر ﷺ او د نورو انبیاء علیهم السلام او د اولیاوو په شکل کې راتلای شي؟

جواب: په حدیث شریف کې دي: "چا چې زه په خوب کې ولیدم. نو هغه زه ولیدم. ځکه چې شیطان زما په شکل کې نه شي راتللی"[۳] په دې وجه د نبي ﷺ په خوب کې لیدل مبارک دي. خو دا د بزرګې دلیل ګڼل نه دی. اصل شی په ویښه سره د نبي ﷺ د سنتو تابعداري ده. څوک چې د سنتو اتباع کوي. هغه انشاءالله مقبول دی او څوک چې د نبي ﷺ د سنتو نه منحرف وي هغه مردود دی، اګر که هغه روزانه زیارت کوي او د ده له پاره شفاعت هم ضروري نه دی.

---

[۱] عن أبي هريرة رضي الله عنه:أن النبي صلى الله عليه و سلم قال لبلال عند صلاة الفجر (يا بلال حدثني بأرجى عمل عملته في الإسلام فإني سمعت دف نعليك بين يدي في الجنة) . قال ما عملت عملا أرجى عندي أني لم أتطهر طهورا في ساعة ليل أو نهار إلا صليت بذلك الطهور ما كتب لي أن أصلي متفق عليه (مشكوة ص:۱۶، باب التطوع) وفى المرقاة:قال ابن الملک وهذا امر کوشف به علیه السلام من عالم الغيب فى نومه او يقظته او بين النوم واليقظة او راى ذلک ليلة المعراج..... وانما اخبره عليه الصلوة والسلام بما رآه ليطيب قلبه ويدوم على ذلک العمل ولترغيب السامعين اليه (المرقاة شرح المشكوة ج:۲،ص:۱۸۴،باب التطوع الفصل الاول)

[۲] المعراج...... وهو بمنزلة السلم لكن لا يعلم كيف هو.وحكمه كحكم غيره من المغيبات نؤمن به ولا نشتغل بكيفيته (شرح العقيدة الطحاويةص:۲۴۵)

[۳] من رآنى فى المنام فقد رآنى،فان الشيطان لايتمثل فى صورتى (مشكوة ص:۳۹۴،كتاب الرؤيا الفصل الاول)

په خوب کې د نبي عليه السلام د زيارت بنيادي اصول

سوال: مولاناصاحب ! په خوب کې د رسول الله ﷺ د زيارت د پېژندلو څه معيار دی؟ چې داخوب رښتيادی او که دروغ. ښکه چې شيطان د اشرف الانبياء په شکل سره په خوب کې نه شي راتللی. خو د لکونو انسانانو په شکل سره په خوب کې راتللی شي او يو شکل د نبي په عنوان سره د رښودلی شي او په هغه شکل کې هغه نښې هم پيداکولی شي چې په نبي کې ښکاره وي او دا خو يواځې نبي پېژندلی شي چې دا شيطان دی.
حقيقت دادی چې که څېرې يو سړي بل سړی ليدلی نه وي. نو هغه يې په خوب کې هم نشي ليدلی او که څېرې يې ويني هم. نو هغه به يواځې يو خيالي تصوير وي. نو کومو خلکو چې رسول الله ﷺ بيخي ليدلی نه وي. د هغه په خوب باندې په کومو دليلونو سره يقين وکړل شي چې خوب رښتيادی. که دروغ ؟ دلائل مضبوط پکار دي ځکه چې په کمزورو دلائلو سره هرسړی په خوب کې د زيارت دعوه کولی شي.

جواب: په خوب کې که څېرې چا نبي کريم ﷺ زيارت وکړ. نو د هغه خوب خو صحيح دی. ځکه چې شيطان د نبي عليه السلام په شکل کې نشي راتلای[۱]. البته يو څو خبرې ياد ساتل پکار دي.
۱: د ځينو اهل علمو وينا ده. چې که څېرې د نبي کريم ﷺ زيارت د هغه ﷺ په اصل شکل او صورت کې و. نو دا خو د هغه زيارت کول دي او که څېرې په بل شکل کې وي. نو دا د نبي عليه السلام زيارت نه دی. خو اکثر محققين د دې قايل دي چې د نبي عليه السلام زيارت چې په هر شکل کې و. نو دا د هغه ﷺ زيارت دی او که څېرې نبي عليه السلام يې په ښه شکل او صورت کې وليده. نو دا د ليدلو والا د حالت د ښه کيدو علامت دی او که څېرې په خراب حالت کې يې وويني نو دا د ليدونکي د زړه ، د ماغو او د دين حالت د منتشر کيدو علامه ده. ګويا د نبي عليه السلام زيارت يوه اينه ده چې په هغه کې د هر کتونکي د حالت عکس په نظر راځي.[۲]
۲: په خوب کې د نبي کريم ﷺ زيارت هم ځينې وخت د تعبير محتاج وي مثلاً نبي عليه السلام يې د ځوانۍ په شکل کې وليد. نو د دې به يو تعبير وي او که په بوډاوالي کې يې وليد. نو د دې به بل تعبير وي. د خوشالۍ په حالت کې يې که وليده. نو يو تعبير به يې وي او که د خفګان په

۱] من رآني في المنام فقد رآني. فان الشيطان لايتمثل في صورتي (مشكوة ص: ۳۹٤. كتاب الرؤيا، الفصل الاول)
۲] فعلم ان الصحيح بل الصواب كما قال بعضهم ان رؤياه حق على اى حالته فرضت ثم قال ابن ابى جمرة: رؤياه فى صورة حسنة حسن فى دين الرائى. ومع شين او نقص فى بعض بدنه خلل فى دين الرائى. لانه صلى الله عليه وسلم كالمرآة الصقيلة ينطبع فيها ما يقابلها. وان كانت ذات المرآة على احسن حاله واكمله. وهذه الفائدة الكبرى فى رؤياه صلى الله عليه وسلم اذبه يعرف حال الرائى. الخ (تعطير الانام فى تعبير المنام ج: ۲، ص: ۲۷۷)

حالت کې يې وليده، نو ددې به بل تعبيروي. وعلى هذا[۱]

۳: هر کله چې خوب ليدونکي کله هم په ويښه د نبي عليه السلام زيارت نه دی کړی، نو دده نه به څنګه معلومه شي چې دا نبي عليه السلام دی؟ نو ددې ځواب دادی چې په خوب کې به هم دده ته ضرور علم حاصليږي او هم په دغه علم باندې دارومدار دی او ددې نه پرته بله ذريعه د علم نشته. يواځې دا چې د نبي عليه السلام زيارت صحيح هم په هغه شکل او خصلتونو سره وي کوم يې چې وصال نه مخکې په ژوند مبارك کې و او په دې سره د خوب تصديق وشي.

۴: په خوب کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم زيارت خو حق دی. خو ددې خوب نه ديو شرعي حکم ثابتول صحيح نه دي. ځکه چې په خوب کې د انسان حواس معطل کيږي. په دې حالت کې دده په ضبط باندې اعتماد نشي کيدای چې ده په صحيح طريقه داضبط کړی دی که نه؟ له دې نه پرته شريعت د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له دنيانه تر تلو وړاندې مکمل شوی دی او اوس په هغه کې دکمي او زياتي او د ترميم او منسوخ کولو هيڅ ګنجائش نشته، څنګه چې ټول علماء په دې باندې متفق دي چې خوب شرعي دليل نه دی[۲]، که چېرې په خوب کې چا د نبي عليه السلام څه فرمان واوريده، نو هغه به د شريعت په تله باندې تلل کيږي که چېرې د شريعت د قاعدو سره موافق و. نو دا د خوب ليدونکي د سلامتيا او استقامت دليل دی. که نه . نو دا د هغه د نقص او غلطۍ علامت دی.

۵: په خوب کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم زيارت د ډېرلوی برکت او نيك بختي خبره ده، خو دا د خوب ليدونکي د الله تعالى په نزد د محبوبيت او مقبوليت څه دليل نه دی. بلکې د مقبوليت دارومدار په ويښه د سنتو تابعداري ده. مثلاً يو سړي ته روزانه د نبي عليه السلام زيارت کيږي، خو هغه د نبي عليه السلام د سنتو پرېښودونکی دی او په فسق او ګناه کې مبتلا دی. نو دا سې سړی مردود دی او يو بل سړی دی چې هغه ډېر نيك، صالح او د سنتو تابعدار دی. خو ده کله هم نبي عليه السلام په خوب کې ونه ليد، نو دا د خدای تعالى په نزد باندې مقبول دی، خوب خو خوب دی. په ويښه چې کومو خلکو د نبي عليه السلام ملاقات کړی و، خو نبي عليه السلام د اتباع نه محروم پاتې شول. هغوی مردود شول او په دې زمانه کې هم چې کومو خلکو ته د نبي عليه السلام زيارت نصيب نه شو، خو

---

[۱] فعلم ان الصحيح بل الصواب كما قاله بعضهم ان رؤياه حق ..... ومن ثم قال بعض علماء التعبير: من رآه شيخاً فهو غاية سلم ومن رآه شاباً فهو غاية حرب، ومن رآه متبسماً فهو متمسک بسنته. وقال بعضهم: من رآه على هيئته وحاله كان دليلاً على صلاح الرائى وكمال جاهه وظفره بمن عاداه. ومن رآ متغيرا الحال عابسا كان دليلاً على سوء حال الرائى..الخ (تعطير الانام فى تعبير المنام للشيخ عبدالغنى النابلسى ج:۲، ص:۲۷۶)

[۲] ان الرؤيا من غير الانبياء لا يحكم بها شرعاً على حال الا ان تعرض على ما فى ايدينا من الاحكام الشرعية فان سوغتها عمل بمقتضاها والا وجب تركها والاعراض ولنا فائدتها البشارة اوالنذارة خاصة واما استفادة الاحكام فلا.....الخ (الاعتصام للشاطبى ج:۱، ص:۲۶۰ طبع بيروت)

دهغه تابعداري بې نصيب شو د هغه خلک مقبول شول

۲ دنبي کريم ﷺ دزيارت په دروغو سره دعوه کول په نبي علیه السلام پورې دروغ تړل دي او دېر سړي دبدبختي له پاره داکافي دة[1] که څېري چاته رښتياهم دنبي علیه السلام زيارت نصيب شي. نوبياهم پرته دځه ضرورت نه دهغه ښکاره کول مناسب نه دي

په خوب کې د نبي علیه السلام زيارت کولوسره د صحابي درجه

سوال: ايادا ويل صحيح دي چې که څېرې يو سړی په خوب کې دنبي کريم ﷺ زيارت وکړي. نوهغه ته دصحابو کرامو درجه ورکول کيږي؟

جواب: داسې خيال بالکل غلط دی. په خوب کې په زيارت کولو سره دصحابي درجه نه ورکول کيږي. صحابي هغه کس ته وايي چاچې دايمان په حالت کې دنبي ﷺ په ژوندکې دهغه زيارت کړی وي او بيا په ايمان باندې دهغه خاتمه شوې وي[2]. خودلته داهم يادساتل پکاردي چې دصحابي درجه بل هيچاته نه شي ورکول کيدای. که هغه لوی غوث. قطب ياولی الله هم وي.[3]

ايا غيرمسلم ته د نبي ﷺ زيارت کيدلی شي؟

سوال: په وړاندې ورخوکې زماکراچې ته دتلوموقع راغله هلته يوه جلسه جوړه شوه. يو امام راغی هغه پخپل بيان کې وويل چې يوځل يوسړی ماته راغي او ويې ويل چې حافظ صاحب يوعيسايي وايي چې زرکود ماته کلمه ووايه مادشپې په خوب کې نبي کريم ﷺ ليدلی دی اوماته يې وفرمايل چې الله تعالی تاته دين اوايمان درکړی دی. زر کوه اوايمان راوړه؛ لهذا امام صاحب دهغه سړي خبره واوريده اوبياهغه عيسايي ته ورغي اوکلمه يې ورته ووېله اوهغه سړی دکليمې ويلو نه وروسته فورا وفات شواوس تاسودا ووايئ چې د حافظ صاحب داخبره صحيح ده؟ چې عيسايي سړی په خوب کې دنبي علیه السلام زيارت کولی شي؟

---

[1] من كذب على متعمداً فليتبوا مقعده من النار(مشكوة ص:۳۵. كتاب العلم:الفصل الثانى)

[2] الفصل الاول فى تعريف الصحابى.واصح ما وقفت عليه من ذلک ان الصحابى من لقى النبى صلى الله عليه وسلم مؤمنا به ومات على الاسلام فيدخل فيمن لقيه.من طالت مجالسته او قصرت ومن روى عنه او لم يرو(الاصابة فى تميز الصحابة.خطبة الكتاب ومقدمته ج:۱.ص:۷ طبع دارصادر.بيروت)

[3] وروى ابن بطة باسناد صحيح عن ابن عباس انه قال: لا تسبوا اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم،فلمقام احدهم ساعة يعنى مع النبى صلى الله عليه وسلم خير من عمل احدكم اربعين سنة، وفى رواية وكيع خير من عبادة احدكم عمره (شرح فقه اكبر ص:۸۳، طبع مجتبائى دهلى) عن جابر قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ان الله اختار اصحابى على الثقلين سوى النبيين والمرسلين(الاصابة فى تميز الصحابة خطبة الكتاب ومقدمته ج:۱،ص:۱۲ طبع دارصادر.بيروت)

جواب: ضرور کیدلی شي ستا په دی کې څه شك دی ؟ که ستا دا خیال وي چې په خوب کې دنبي علیه السلام زیارت خوړېره دعزت او شرافت خبره ده،داعزت کافرته څنګه حاصلیدلی شي؟ نوددې ځواب دادی چې په ویښه دنبي علیه السلام زیارت ددې نه ډېره دعزت خبره کیدل پکار دي،ابوجهل اوابولهب نبي علیه السلام په ویښه لیدلی و ،هرکله چې دا شی دهغوی له پاره دشرف سبب جوړنه شو، نو دیو کافر دنبي علیه السلام په خوب کې لیدل دشرف باعث څنګه کیدای شي، اصل شرف د نبي علیه السلام زیارت نه دی بلکې دهغه تصدیق اوتابعداري ده، که دانه وي نو یوا ځې زیارت هیڅ شرف نه دی.[1]

په خوب کې د نبي علیه السلام زیارت

سوال: ایاپه خوب کې دحضور ﷺزیارت ممکن دی؟ که ممکن وي ،نوڅنګه به پته ولګیږي چې خوب رښتونی دی؟ ځیني خلک په خوب کې حضور ﷺپه بل شکل کې ویني، نوهغه به هم صحیح خوب وي؟

جواب: دصحیحینو په روایاتو کې دحضور ﷺدارشاداتو په ګڼو اومختلفو الفاظو کې روایت دی چې: من رأني في المنام فقدرأني،فإن الشيطان لا يتمثل بي.

ترجمه:چاچې په خوب کې زه ولیدم، هغه زه ولیدم، ځکه چې شیطان زما په صورت کې نه شي راتلی.

په یوبل روایت کې دي : من رأني فقدرأى الحق. (مشکوة ص:۳۹۴)

ترجمه :چاچې زه ولیدم هغه رښتونی خوب ولید.

په خوب کې د حضور ﷺدزیارت مبارک دوه صورتونه دي:

۱: حضور ﷺ په خپل اصلي شکل اوحلیه مبارکه کې ویني.

۲: په بل څه هیئت اوشکل کې یې ویني.

داهل علمو په دې کې پوره اتفاق دی، چې دحضور ﷺزیارت دهغه ﷺپه اصلي حلیه مبارک کې وي، نودارشادنبوي ﷺ مطابق، په رښتیا دهغه زیارت نصیب شو ،که په څه بل هیئت اوشکل کې یې ویني، نودې ته به هم زیارت نبوي ﷺ ویل کیږي که نه؟ په دې کې دعلماوو دوه قوله دي:

---

۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :کل امتی یدخلون الجنة الا من ابی،قیل:ومن ابی؟ قال:من اطاعنی دخل الجنة ومن عصانی فقدابی(رواه البخاری (مشکوة ص:۲۷،باب الاعتصام بالکتاب والسنة،الفصل الاول)

۱: دې ته به زيارت نبوي ﷺ ويل کيږي. ځکه چې دارشادنبوي ﷺ مطابق په خوب کې دحضور ﷺ دزيارت يواځې دامقصددی چې تاسوپه اصلي شکل اوصورت اوحليه مبارکه کې ووينی که چاپه مختلف حليه کې وليده، نودادپورتني حديث په شان نه دی.
۲: اودځينوعلماووقول دادی: چې تاسو که په هرصورت اوحليه کې يې ووينی، هغه هم دهغه ﷺ زيارت دی اودحضور ﷺ په مختلف شکل اوحليه کې ليدل دخوب ليدونکي دنقص علامت دی، شيخ عبدالغنی نابلسي رحمه الله په ..تعطيرالانام فی تعبيرالمنام.کې ددواړه قولونو له نقل کولونه وروسته ليکلي دي:

فعلم أن الصحيح، بل الصواب كما قاله بعضهم: أن رؤياه حق على أي حالته فرضت، ثم إن كانت بصورته الحقيقة في وقت ما، سواء كان في شبابه او رجوليته او كهولته او آخر عمره لم تحتج إلى تأويل، وإلا احتيجت لتعبير يتعلق بالرائي، ومن ثم قال بعض علماء التعبير: من رأه شيخا فهو غاية سلم، ومن رأه شابا فهو غاية حرب، ومن رأه متبسما فهو متمسك بسنته.

وقال بعضهم، من رأه على هيئته وحاله كان دليلاً على صلاح الرائي وكمال جاهه وظفره بمن عاداه، ومن رأه متغير الحال عابسا كان دليلا على سوء حال الرائي.

وقال إبن أبي جمرة: رؤياه في صورة حسنة حسن في دين الرائي، ومع شين اونقص في بعض بدنه خلل في دين الرائي، لأنه صلى الله عليه وسلم كالمرآة الصقيلة ينطبع فيها مايقابلها، وإن كانت ذات المراة على أحسن حاله وأكمله، وهذا الفائدة الكبرى ففي رؤياه صلى الله عليه وسلم إذ به يعرف حال الرائي. (ج:۲ ص:۲۷۶، ۲۷۷)

ترجمه: معلومه شوه چې صحيح بلکې صواب هغه خبره ده چې ځينوحضراتووفرمايله، چې په خوب کې دحضور ﷺ زيارت په هرحال حق دی، بياکه هغه ﷺ يې په اصلي حليه مبارکه کې وليداوکه هغه حليه دهغه ﷺ ځوانی وي يادپوخ عمروي، يادپيرۍ دزماني، ياداخري عمرمبارک وي، نوددې تعبيرحاجت نشته اوکه حضور ﷺ يې په اصلي شکل مبارک کې ونه ليده، نوخوب ليدونکي ته به دمناسب حال تعبيروي، ددې په وجه دخوبونوتعبيرځيني علماء فرمايي: چې چاحضور ﷺ په بوډاوالي کې ، نوداډيرښه دی اوچاچې حضور ﷺ ځوان وليده، نودانهايت جنګ دی اوچاچې حضور ﷺ په خنداباندې وليده، نوداکس دسنتو ټينګ نيونکی دی.

اوځينودتعبيرعلماووفرمايلي دی :چاچې حضور ﷺ په اصلي شکل اوحالت کې وليده، نودادکتونکي درست حالت، دهغه کمال اوجاهت اوپه دشمنانوباندې دغلبې علامت دی اوچاچې حضور ﷺ په غيرحالت کې مثلا دغصې په حالت کې وليده، نودادليدونکي دحالت دبديدو علامت دی.

حافظ ابن ابي جمرة رحمه الله فرمايي چې حضور ﷺ په ښه حالت کې ليدل. د کتونکي د دين د ښه کيدو علامت دی او دعيب يانقص په حالت کې د ليدونکي په دين کې د خلل علامت دی. ځکه چې د حضور ﷺ مثال ديوې صفا اينې په شان دی. چې د اينې مخې ته هرڅه راشي د هغه عکس پکې راځي. اينه په خپله که هرڅومره ښائسته او باکماله وي (خوبدصورت شی به په کې بدصورت په نظر راځي) او په خوب د حضور ﷺ د زيارت شريف لويه فائده داده چې دې سره د خوب ليدونکي د حالت پته لګيږي.

په دې سلسله کې مسند الهند شاه عبدالعزيز محدث دهلوي قدس الله سره يو تحقيق په فتاوی عزيزي کې بيان کړی دی کوم چې په لاندې ډول دی:

سوال: د حضور ﷺ زيارت په خوب کې اهل سنت او شيعه دواړو فرقو په په نظر کيږي او دهرې فرقې خلک د حضور ﷺ لطف وکرم سره په خپل حال باندې بيانول کوي او خپل ځان موافق احکام له حضور ﷺ نه اوريدل بيانوي، غالبا دواړو فرقوته د حضور ﷺ په شان کې افراط کول ښه نه معلوميږي او شيطاني خطراتو ته په دې مقام کې دخل نشته. نو دداسې خوب په باره کې څه خيال کول پکار دي؟

ځواب: دا حديث: من رأني في المنام فقد رأني!، يعني جناب حضور ﷺ فرمايلي دي: چاچې زه په خوب کې وليدم، نو هغه في الواقع زه وليدم، نو اکثرو علماوو ويلي دي چې دا حديث خاص د هغه کس په باره کې دی چې حضور ﷺ په هغه صورت مبارک کې ويني چې د وفات په وخت کې د حضور ﷺ صورت مبارک و او ځينو علماوو ويلي دي چې: دا حديث عام دی. حضور ﷺ که په هرصورت کې ويني. نو دهغه خوب به صحيح وي، يعنې د نبوت له پيل نه د وفات تر وخت پورې، په پوخ عمر کې او دسفر او حضر او صحت او مرض په حالت کې چې کوم د حضور ﷺ صورت مبارک و، په دې صورتونو کې که حضور ﷺ په هرصورت مبارک کې ويني، نو هغه خوب به صحيح وي، يعنې في الواقع حضور ﷺ به يې ليدلی وي او څنګه چې د حضور ﷺ په صورت کې سني حضور ﷺ په خوب کې وليده هغه شان شيعه کله هم ليدلی نه دی او فرضياتو ته اعتبار نشته.

تحقيق دادی چې د حضور ﷺ په خوب کې ليدل څلور قسمه دي:

١: روياء الهي دی، چې اتصال تعين يې د حضور ﷺ سره دی.

٢: روياء ملکي دی او هغه د حضور ﷺ متعلقات ليدل دي مثلاً: د حضور ﷺ دين، د حضور ﷺ سنت، د حضور ﷺ ورثه، د حضور ﷺ پاک نسب او د حضور ﷺ اطاعت او محبت کې د سالک درجه او دداسې نور... نو داامور د حضور ﷺ په صورت مقدس کې ليدل پټ مناسبات وي، چې په فن تعبير کې معتبر وي.

۳: رویاء نفساني دی، چې په خپل خیال کې دحضور ﷺ کوم صورت مبارک دی په هغه صورت کې لیدل. دادرې واړه قسمونه دحضور ﷺ په خوب کې دلیدلو په باره کې صحیح دي.
۴: رویاء شیطاني دی، یعنې دحضور ﷺ په صورت مقدس کې شیطان ورته ځان وښایي، داصحیح کیدای نه شي، یعني ممکن نه دی چې دحضور ﷺ دصورت مطابق شیطان خپل خبیث صورت جوړ کړي او په خوب کې ورته وښایي، خو مغالطه ورکولی شي او په دریم قسم خوب کې هم شیطان کله کله داسې کوي، چې دحضور ﷺ دخبرو په شان شیطان کله کله خبرې کوي اووسوسه لکه چې دځینو روایاتونه ثابته ده چې حضور ﷺ به دسورت نجم د لوستلو پرمهال دبعضو ایتونو نه وروسته سکوت وکړ. نوشیطان څه عبارت له خپل طرف نه جوړ کړ او ویې لوستلو، دې سره دځینو اوریدونکو مشرکانو شبه پخه شوه، دا روایت په یو مقام باندې په تفصیل سره ذکرشوی دې، نو هرکله چې دحضور ﷺ په ژوند کې شیطان داسې وکړل نو په خوب کې به داسې څنګه نه شي کیدای؟ له دې وجې نه په شریعت کې دهغو احکامو هیڅ اعتبار نشته چې په خوب معلوم شي او نه دخوب خبره حدیث ګڼل کیږي، که یو بدعتي ووایي چې حضور ﷺ مې په خوب کې ولیده ا فلانی حکم یې وکړ او هغه حکم دشریعت خلاف وي، نو ددې بدعتي په قول به اعتبار نه کیږي .والله اعلم.(فتاوي عزیزي ج:۱ ص:۲۸۵تا۲۸۷)

تیرو ورځو کې دقادیانیانو دنوي مشر مرزا طاهر احمد صاحب دخلافت په تاید کې قادیاني اخبار (الفضل ربوه) کې داسماني بشارتونو په عنوان سره ځینې شیان خپاره شول، په هغو کې دیو تعلق په خوب کې دحضور ﷺ دزیارت سره دی. له دې وجې یې کټ مټ هماغسې رانقلوم: ....، ومې لیدل چې مسجد (ربوه) ته ننوځم. هرطرف ته دسپوږمۍ رڼا خپره ده، څومره په تیزي سره چې ورد کوم هغومره خوندزیاتیږي او رڼا نوره هم واضح کیږي، په محراب کې بابا ګرونانک بزرګ ته ورته صورت کې حضرت نبي کریم ﷺ تشریف راوړی دی، دحضور ﷺ ګیر چا پیره دنوره اله دومره تیزه ده چې سترګې له ډیرکوشش سره مې بیاهم په شبیه مبارک نظر نه دریږي. (الفضل ربوه ۲نومبر ۱۹۸۲ء)

دعلم تعبیر په رڼا کې ددې خوب تعبیر بالکل واضح دی. دخوب خاوندته حضور ﷺ دسکانو دمشر په شکل کې په نظر راتلل ددې خبرې دلیل دی چې دهغه دین او مذهب کوم چې هغه په غلط فهمي کې ((اسلام)) ګڼي، په اصل کې دسک مذهب شبیه ده او دهغوی روحاني مشر (پیشوا) دحضور ﷺ په شان نه بلکې دسکانو دمشر بابانانک په شان دی.
او دخوب خاوندته انوارات په نظر راتلل چې دهغو په وجه دخوب اصل مراد پورې ونه رسیده، دشیطان هغه دوکه ده دکومې تذکره چې شاه عبدالعزیز محدث دهلوي قدس سره فرمایلې ده او په دې انواراتو کې دا اشاره ده چې ددوی مشر دبابانانک په شان تلبیس او

تدلیس په ذریعه خپل ځان د حضور ﷺ په نقش قدم باندې تلونکی ثابتوي، چې له دې وجې د دوی په شان ډېر وله حقیقت نه نا خبره خلکو دوکه خوړلې ده.

څنګه چې د خوب دا تعبیر بالکل واضح و له دې وجې خوب لیدونکی مرزا بشیر احمد صاحب او مرزا ناصر احمد صاحب د خوب له ښکاره کولو منع کړ. خوب لیدونکی لیکي:

،،بیا (مرزا بشیر احمد صاحب) وویل: چاته خوب مه بیانوه! کله چې د خلافت ثالثه انتخاب وشو، نو بیا مې د انظاره دلیک په واسطه د (مرزا ناصر احمد صاحب) خدمت ته ولیږله، د حضرت مولانا جلال الدین شمس صاحب په ذریعې راته پیغام وشو چې حضور یعنې (مرزا ناصر احمد صاحب) فرمایي: دا خوب نور خلکو ته مه بیانوه! (مرزا عبد الرشید وکالت تبشیر ربوه) -

مناسبه ده چې د دې خوب په تایید کې د ځینو نورو اکابرو خوب او کشف هم ذکر شي:

۱:: مولانا محمد لدهیانوي مرحوم په (فتاوی قادریه) کې لیکي:

مولانا محمد یعقوب صاحب نانوتوي (قدس سره صدر المدرسین دار العلوم دیوبند) له وعدې سره سم یوه فتوا په خپل لاس ولیکله او موږ ته یې د ډاک په ذریعه راولیږله، چې د هغې مضمون داو: داکس زما په علم غیر مقلد معلومیږي، دده الهامات داولیاء الله دالهاماتو سره هیڅ تعلق نه لري او نور دا چې دې کس د کوم ولي الله په صحبت کې او سیدلو سره باطني فیض هم نه دی حاصل کړی، معلومه نه ده چې ده ته د کوم روح اویسیت دی. (فتاوي قادریه ص: ۱۷)

حضرت مولانا محمد یعقوب نانوتوي قدس سره خوله دې نه دناپوهې اظهار وکړ چې مرزا صاحب ته د کوم ،، روح ،، نه فیض رسیدلی دی. خو په الفضل کې د ذکر شوي خوب سره دا مسئله حل کیږي، چې مرزا صاحب د سکانو د مشر سره روحاني تعلق و. مرزا صاحب چې څه هم حاصل کړي دي له هغه نه یې حاصل کړي دي.

۲:: مرزا غلام احمد قادیاني د لودیانې ښارته راغی او ۱۳۰۸ هجري کې یې دعوه وکړه چې زه مجدد یم، عباس علي صوفي او منشي احمد جان له مریدانو سره او مولوي محمد حسن له خپلې ډلې سره او مولوي شاهدین، مولوي عبد القادر او مولوي نور محمد د هغه دعوه ومنله او د هغه د مدد له پاره یې ملا وتړله. منشي احمد جان سره د مولوي شاهدین او عبد القادر یوې ډلې ته چې د مدرسه اسلامیه دا هتمام له پاره وه د شاهزاده صفدر جنګ د ځای د پاسه بیان وکړ، چې سبا سهار به مرزا غلام احمد قادیاني صاحب دې ښار لودیانې ته راشي او د هغه په تعریف کې یې ډېر زیات د مبالغې نه کار واخست او ویې ویل چې کوم کس په ده باندې ایمان راوړي ګویا هغه به اولنی مسلمان وي.

مولوي عبد الله صاحب مرحوم د کمال بردباري او تحمل نه وروسته و فرمایل:

اګرچې اهل مجلس باندې به زما بیان ښه ونه لګیږي، خو چې کومه خبره الله جل شانه په دې وخت کې زما په زړه کې اچولې ده درته بیانولو نه پرته به زما د طبیعت اضطرار ختم نه شي،

هغه خبره داده چې مرزا قادياني چې دچا تاسو تعريف کوئ بې دينه دى.
منشي احمد جان وويل چې: ما داول نه ويل چې په ده باندې به څوک عالم ياصوفي حسد کوي.
راقم الحروف (مولانا محمد عبدالقادر لوديانوي رحمه الله) دجلسې دختمېدلونه وروسته عبدالله صاحب ته وويل چې: ترڅوپورې څه دليل معلوم شوې نه وي، پرته دڅه ثبوت نه دچاپه باره کې دطعن ژبه پرانستل مناسب نه دي. مولوي عبدالله ورته وفرمايل چې: دغه وخت کې ماخپل طبيعت ډيرمنع کړ، خواخر داخبره الله جل شانه په دې موقع باندې زما په ژبه جاري کړه ، له الهام نه خالي نه ده.
په دغه ورځ مولوي عبدالله صاحب ډيرزيات پريشانه و. ماښام يې ډوډۍ هم ونه خوړله. دشپې په وخت کې يې په دووکسانو باندې استخاره هم وکړه اوپه خپله هم په دغه فکرکې ويده شو. څه وينى چې زه په يواوچت مکان کې دمولوي محمدصاحب اوخواجه احسن شاه صاحب سره ناست يم. دريوو کسانولنګونه وهلي دي او راروان دي.کله چې نژدې راورسيدل نويوکس کوم چې مخکې و. هغه لنګ وسپړلواودپرتوګ په شان يې وتاړه ، په خوب کې اواز راغى چې مرزاغلام احمدهم دغه دی، هم دغه وخت کې بيدارشواودزړه تياره يې فورا ختمه شوه اودا کامل يقين ورته حاصل شوچې داکس داسلام په جامه کې خلک ګمراه کوي، دخوب دتعبيرموافق په دويمه ورځ قادياني له دووهندوانو سره لودهيانيه ته راغى،(په دې خوب کې هم دغه اشاره وه چې داصاحب هندمذهب ته داسلام لباس وراغوندي .ناقل،)(فتاوى قادريه ص: ۲)
۳،۴: دمولاناعبدالله لدهيانوي رحمه الله سره چې کومودووکسانو استخاره کړې وه، دهغه په باره کې مولانامحمدصاحب رحمه الله ليکي:
استخاره کونکوکې ديوکس نه معلومه شوه چې داکس بې علمه دى اودويم کس مرزاصاحب په خوب کې داسې وليده، چې يوې ښځې بربنډه په خپله غيږ کې نيولى دى اوپه بدن ورته لاس موږي، چې ددې تعبرداده چې مرزا ددنيا راغونډولوپسې لګيدلى دى اوددين يې هيڅ پرواه نشته.(پورتنۍ حواله)
په فتاوى قادريه کې دي چې: شاه عبدالرحيم صاحب سهارنپوري مرحوم(چې صاحب کشف اوکرامت بزرګ و)دملاقات په وخت کې وفرمايل چې: ماته داستخارې نه وروسته معلومه شوه چې داکس په ميښه باندې داسې سپور دى. چې دده مخ لکۍ(شاطرف) ته دى. کله چې مې ورته په غورسره وکتل نوزنار(يوقسم تاردى چې هندوان يې په غاړه تړي)په نظرراغى. چې هغه سره ددې کس بې ديني ظاهره ده اوداهم زه درته په يقين سره وايم چې کوم اهل علم دده په تکفيرکې اوس ترد دکوي څه موده وروسته به ورته ټول کافروايي،(زنارهم په ځانګړې ډول دهندوکيدوعلامت دى اوپه الفضل کې دبيان شوي خوب تايدورسره کيږي چې داصاحب دهندوانونه مستفيد دى. ناقل) (پورتنۍ حواله)

۲: مولانامحمدابراهيم ميرسيالکوټي "شهادة القران" کې(چې په ۱۳۲۱هجري کې دمرزا صاحب په ژوندکې خپور شو)ليکي:
کله چې دې مبتدعې ميرزايي فرقې ته څوک مخکينی تفسير ووايي نودکفاروپه شان اساطيرالاولين،ويلوسره فوري انکارکوي اوکه ددوی په وړاندې حديث نبوي ﷺ ولولې نوهغه دبې علمي اومخالفت په وجه معارض قران جوړکړي اوليرې بې وغورځوي اودخپلې رايې تفسيرته چې په حقيقت کې تحريف اوتاويل منهی عنه وي مويدبالقران وايي،(ظاهره ده چې داطرزعمل دهيڅ يومسلمان نه شي کيدای.ناقل)اوبې علمه خلک ددوی دوکه کړي اوپه ډيرزيات ترددااوشبهاتوکې راګيرشي. نودداسې شبهاتوپه وخت کې الله تعالی ما عاجز ته يواځې په خپل فضل اوکرم سره دحق دلارې هدايت وکړ اوپه هرقسمه ظاهرا اوباطنا معقولا اومنقولا يې حق مسئله را وښودله. دځوانۍ په شروع کې په ۱۸۹۱ مادمسيح عليه السلام زيارت بابرکت وکړ . همدارنګه تاسوپه يوګاډي کې سپاره يئ اوبنده هغه له مخې نه راکاږي،په دې حالت باسعادت کې تاسودقادياني عليه ماعليه په نسبت سره عرض وکړ،تاسو دوحې دترجمان په ژبه په پاکوالفاظو داسې وفرمايل: هيڅ دخطرې خبره نشته،الله تعالی به دی ډيرزرهلاک کړي(شهادة القران طبع اول ص:۴)

❖ صحابه رضي الله عنهم ،صحابيات رضي الله عنهن او د نبي ﷺ بيبيانې او لونه ❖

حواري چاته وايي؟

سوال: موږ په قران مجيدکې دحوارييونوذکرپه دريمه او ومه او اته ويشتمه سيپاره کې ولوست، په دې ضمن کې څه سوالونه دي:

۱: حوارييين کوم خلک و؟

۲: دحواري مطلب څه دی؟

۳: حواري ته په اردو کې څه ويل کيږي؟

۴: دحواري نه پرته دويمه ډله خلك څوک وو چې کافر وګرځول شول؟

۵: ددې تفصيل بيان کړئ او دحوارييونو خطاب چاته وشو؟

جواب: دحواري لفظ د "حَوَرَ" نه اخستل شوی دی چې معنايې سپينوالی دی،په دې اياتونو کې دحواري لفظ دحضرت عيسی عليه السلام د مخلصودوستانوله پاره استعمال شوی دی چې

دهغوی تعداد دولس کسان وو[1]اودحواري لفظ په اردو کې هم دمخلص او دمددګار دوست په معنا استعمالیږي،د وارث سرهندي صاحب په کتاب" علمي لغت" کې دي:
"حواري:خاص، برګزیده،مددګار، دوبي ،دحضرت عیسی علیه السلام صحابي، هغه چې دچابدن ډېرسپین وي.[2]
هغه دکافرو ډله چې دهغه ذکر سورة الصف ایت ١۴ کې دی، په دې باره کې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي : کله چې حضرت عیسی علیه السلام اسمان ته پورته کړل شو. نو دعیسایانوقوم درې ډلې شو:
١: ډلې وویل: چې هغه پخپله خدای و، ځکه اسمان ته ولاړ.
٢: ډلې وویل چې هغه په خپله خدای نه و، خودخدای زوی و، له دې وجې نه پلار خپل زوی ځان ته وروغوښته،دا دواړه ډلې کافرشول.
٣: ډله دمسلمانانوه،هغوی وویل : هغه نه خدای و اونه دخدای زوی، بلکې دالله بنده اودهغه رسول و، الله تعالی دخپل خاص حکمت په وجه اسمان ته پورته کړ، (او قیامت ته نژدې به هغه بیا راکوزیږي) داډله مومنان وو، دحضرت عیسی علیه السلام د حوارینو اودهغه دریښتوني تابعدارو هم دا عقیده وه.[3]

عشره مبشره چاته وايي؟

سوال: یوحافظ صاحب ویل چې دبي بي فاطمې رضي الله عنها ذکرپه عشره مبشره کې دی ،عشره مبشره چاته وايي؟

جواب: عشره مبشره هغه لسوصحابه ووته وايي چې هغوی ته نبي کریم صلی الله علیه وسلم په یووخت کې دجنت زیری ورکړ، چې دهغوی نومونه دا دي:
١. حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه.
٢. حضرت عمربن خطاب رضي الله عنه.
٣. حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه.

١] الحوارى اصله من الحور وهو شدة البياض...... كانوا الحواريون اثنى عشر رجلاً اتبعوا عيسى عليه السلام (التفسير الكبيرج:٨،ص:٦٣،طبع دار احياء التراث العربى،بيروت)
٢] علمى لغت ص:٦٥٧ (مطبوعه علمى كتب خانه)
٣] عن ابن عباس قال: لما اراد الله عزوجل ان يرفع عيسى الى السماء .... فتفرقوا ثلاث فرق،قالت فرقة: كان الله فينا ما شاء ثم صعد الى السماء، وهؤلاء اليعقوبية،وقالت فرقة:كان فينا ابن الله ماشاءالله ثم رفعه اليه، وهؤلاء النسطورية،وقالت فرقة: كان فينا عبدالله ورسوله ماشاءالله ثم رفعه اليه وهؤلاء المسلمون (تفسير ابن كثيرج:٦،ص:٢١٠ طبع رشيديه كوئته)

۴۔ حضرت علی رضي الله عنه.
۵۔ حضرت طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه.
۶۔ حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه.
۷۔ حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه.
۸۔ حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه.
۹۔ حضرت ابوعبيده بن جراح رضي الله عنه. ۱۰۔ حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه.

دحضرت فاطمې رضي الله عنها فضائل بېشماره دي، هغه به د جنت د ښځو سرداره وي. خو عشره مبشره يو خاص اصطلاح ده په هغه کې حضرت فاطمه رضي الله عنها شامله نه ده. هم داسې د هر صحابه کرام رضي الله عنهم ته د نبي کريم ﷺ په ژبه د جنت زيرې ورکړل شوي دي. خو په "عشره مبشره" کې هغوی نه شمېرل کيږي.[1]

په خلفايې راشدينو کښې د څلورو خلفاو نه پرته نور خلفاء ولې شامل نه دي؟

سوال: دينې طورباندې چې کله د خلفاء راشدينو ذکر راځي ، نو له دې نه يواځې څلور خلفاء راشدين مراد اخستل کيږي، يعنې حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه، حضرت عثمان غنی رضی الله عنه او حضرت علي المرتضی رضی الله عنه اوله دې نه وروسته حضرت امام حسن رضی الله عنه او حضرت امير معاويه رضی الله عنه چې دا هم صحابه دي، د دوی نومونه په کې ولې نه دي شامل شوي، سره له دې چې دوی هم خلفاء راشدين دي او د حضرت عمر بن عبد العزيز د ورخو انتهايي مثالي دور و، تاسو ته خواست دی چې خاص طور باندې چې کومو څلور خلفاوو ته حق چار يار ويل کيږي، تاسو په قران او حديث سره د دې څلورو خلفاوو د خصوصيت ثبوت سره ځواب راکړئ او دا هم چې حضرت امام حسن رضی الله عنه او د حضرت امير معاويه رضی الله عنه ذکر د دوی سره ولې نه کيږي؟

جواب: "خلافت علی منهاج النبوة" له پاره د نورو اوصافو سره هجرت هم شرط دی[2]، چې د هغه طرف ته د سورة النور د استخلاف ايت کې اشاره فرمايل شوې ده[3] او دا شرط يواځې

[1] عن سعيد ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: عشرة فى الجنة ابوبكر فى الجنة، وعمر فى الجنة، و عثمان وعلى وزبير وطلحة وعبدالرحمن وابوعبيدة وسعد بن ابى وقاص وسعيد بن زيد،وقد ورد ان فاطمة سيدة نساء اهل الجنة(شرح فقه اكبر ص:۱۴۵،ابوداؤد ج:۱ص:۲۸۳ كتاب السنة،شرح عقيدة الطحاوية ص:۵۴۹)

[2] ازجمله لوازم خلافت خاصه آنست كه خليفه از مهاجرين اولين باشد(ازالة الخفاء عن خلافة الخلفاء ج:۱،ص:۱۰،مطبوعه سهيل اكيډمی)

[3] قوله تعالى: ليستخلفنهم فى الارض فيه قولان :احدهما يعنى ارض مكة لان المهاجرين سالو الله تعالى ذلك فوعدوا كما وعدت بنواسرائيل...... الثانى: بلاد العرب والعجم(تفسير القرطبى ج:۱۲،ص:۲۹۹)

په څلورو خلفاء راشدينو کې مونډل شوی دی. دحضرت امام حسن رضي الله عنه خلافت دحضرت علي رضي الله عنه دخلافت تتيمه وه چې دهغه سره دنبوت دخلافت ديرش کاله پوره شو[۱] چې دهغه تصريح حديث نبوي ﷺ "خلافة النبوة ثلثون سنة" کې راغلې دی. يعنې دنبوت خلافت به ديرش کاله وي، دادترمذي او ابوداود روايت دی[۲]. حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه کې دهجرت شرط نه دی مونډل شوي ځکه هغه په خلفاء راشدينو کې نه شمارل کيږي. دهغه خلافت دعدل خلافت واوحضرت عمربن عبدالعزيز صحابي نه و بلکې تابعي و ځکه دهغه خلافت ته هم خلافت راشده نه ويل کيږي. خو د خلافت راشده سره مشابه و.[۳]

د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د پيدائش او وفات تاريخ

سوال: د اميرالمومنين سيدنا حضرت ابوبکر رضي الله عنه د ولادت او وفات تاريخ څه و؟

جواب: د ولادت تاريخ يې معلوم نه دی وفات يې دسې شنبې په شپه ۲۲ جمادی الأخری ۱۳ھ، بمطابق ۲۳ اگست ۲۳۴ء د ۶۳ کالو په عمر کې وشو[۴]. ددې نه معلومه شوه چې دهجرت نه پنځوس کاله مخکې يې ولادت شوی و.

د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه خلافت په حقه و

سوال: که چيرې زمونږ ددريو خليفه گانو حضرت علي رضي الله عنه سره مينه وه، اوکله چې حضرت علي رضي الله عنه دحضور ﷺ نائب ،اهل بيت اودهغه خوږ وروروموجودو اوکه هغه کې هيڅ هم نه و ،خوداصفت خوبکې موجودو. دحضور ﷺ دحديث مطابق "دچاچې زه مولايم،دهغه علي مولادی،،

اوحضرت عمر رضي الله عنه حضرت علي رضي الله عنه ته په غديرخم کې ددې مبارکی ورکړه، چې اې علی رضي الله عنه مبارک شه ته دټولو مسلمانانو سړواومسلمانانو ښځو مولا مقررشوې، نوبياڅه وجه وه چې

۱] وخلافة النبوة ثلاثون سنة منها خلافة الصديق سنتان اشهر،وخلافة عمر عشر سنين ونصف،وخلافة عثمان اثناعشرسنة،وخلافة على اربعة سنين وتسعة اشهر،وخلافة الحسن ابنه ستة اشهر(شرح فقه اكبر ص:۸۳)

۲] ترمذی ج:۲،ص:۴۵ ابواب الفتن، باب ماجاء فى الخلافة،طبع رشيديه ساهيوال،ابوداؤد ج:۲، ص:۲۸۱،كتاب السنة،باب فى الخلفاء،طبع ايچ ايم سعيد

۳] والخلافة ثلاثون سنة بعدها ملک وامارة لقوله عليه السلام الخلافة بعدى ثلاثون سنة..... فمعاوية ومن بعده لايكون خلفاء بل ملوكاً وامراء(شرح عقائدص:۱۰۵،قديم نسخه)

۴] كانت وفاة الصديق رضى الله عنه فى يوم الاثنين.....وذلک لثمان بقين من جمادى الآخرة سنة ثلاث عشرة.... وكان عمره يوم توفى ثلاث وستين سنة(البداية والنهاية ج:۷،ص:۱۸،طبع بيروت)

خلفاوو حضرت علي رضي الله عنه خليفه مقرر نه کړ؟ او په سقيفه کې ولې دې دريو واړو خلفاوو نه يو هم حضرت علي رضي الله عنه ونه ټاکل شو؟

جواب: غديرخم کې چې کوم اعلان شوی و، هغه حضرت علي رضي الله عنه سره د دوستۍ اعلان و. د خلافت نه، هم دغه وجه ده چې حضور صلى الله عليه وسلم حضرت ابوبکر رضي الله عنه په خپله مصله باندې ودراوو په خپله ناروغۍ کې يې هغه ته د لمونځ ورکولو حکم وکړ، حضرت ابوبکر رضي الله عنه امام و او حضرت علي رضي الله عنه مقتدي. په دې وجه باندې خلافت هم حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته ورکړل شو.[۱]

سوال: زمونږ د دريو واړو خليفه ګانو د حضور صلى الله عليه وسلم په جنازه کې شرکت ولې ونه کړ او که چېرې د خلافت مسئله وه، نو د خلافت مسئله يې وروسته کوله ولې نه؟ ايا خلافت د هغوی له پاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه زيات اهميت لاره؟ اودې حضراتو داخبرولې نه ورکاوچې دلته د خلافت مسئله ده؟ او حضرت علي رضي الله عنه سره يې دې باره کې مشوره ولې نه کوله؟

جواب: دريو واړو خليفه ګانو د حضور صلى الله عليه وسلم په جنازه کې شرکت کړی دی[۲]. او دا اصولي خبره ده چې د يو حکمران د مرګ نه وروسته د هغه ځای ناستی (خليفه) ټاکل کيږي، امت د خليفه او حاکم نه پرته نه شي پاتې کيدای.

سوال: حضرت ابوبکر رضي الله عنه چې څه ډول خليفه شو، هغه ته څه ويل کيږي؟ اليکشن خو نه شي کېدای. د اسليکشن هم نه شي کيدای، ټاکل هم نه دي، نو دا څه معامله ده؟ او دې ته به څه نوم ورکول کيږي؟ او دا خلافت به څنګه جائز ګڼل کيږي؟

جواب: ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم (چې هغو کې حضرت علي رضي الله عنه هم شامل و) حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره بيعت وکړ، د دې نه زيات انتخاب (اليکشن) به څه وي؟ يو کس هم داسې نه و

۱] عن عبدالله بن زمعة بن الاسود بن المطلب بن اسد قال: لما استعزبرسول الله صلى الله عليه وسلم وانا عنده فى نفر من المسلمين دعا بلال للصلاة فقال: مروا من يصلى بالناس قال: فخرجت فاذا عمر فى الناس وكان ابوبكر غائباً، فقلت: قم يا عمر! فصل بالناس،قال:فقام،فلما كبر عمر سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم صوته وكان عمر رجلاً مجهراً، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم :فاين ابوبكر؟ يابى الله ذالك والمسلمون قال : فبعث الى ابى بكر فجاء بعد ما صلى عمر تلك الصلوة فصلى بالناس(البداية والنهاية ج:۵،ص:۲۳۲،طبع دارالفكر،بيروت)

۲]لما كفن رسول الله صلى الله عليه وسلم ووضع على سريره دخل ابوبكر وعمر رضى الله عنهما ومعهما نفر من المهاجرين والانصار بقدر مايسع البيت فقالا: السلام عليك ايهاالنبى ورحمة الله وبركاته وسلم المهاجرون والانصار كما سلم ابوبكروعمر،ثم صفوا صفوفاً لا يؤمهم احد(البدايه والنهاية ج:۵،ص:۲۹۵ طبع دارالفكر،بيروت)

چې هغه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په مقابله کې د خلافت دعوه کوله.[۱]

سوال: د فاطمې رضی الله عنها د ژړه حالت تر وفات پورې د دریو خلفاوو رضی الله عنهم سره څنګه و؟ که چېرې راضي وه نو هغې او د هغې خاوند حضرت علی رضی الله عنه په خپل ژوند کې بیعت ولې ونه کړ؟ او که چېرې هغه د خلکو نه خفه وه او د خفګان په حالت کې وفات شوي وي نو د هغې مذهبي عقیده هم هغه شوه کومه چې د شیعه ګانو ده؟

جواب: حضرت فاطمه رضی الله عنها د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه راضي وه[۲]. او حضرت علي رضی الله عنه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره بیعت کړی و.[۳]

سوال: مولاناصاحب زما اخري سوال دادی چې ابوطالب کافر وا و که مسلمان؟

جواب: د هغه اسلام نه راوړل ثابت دي.[۴]

د حضرت عمر رضی الله عنه د ولادت او شهادت تاریخ

سوال: د امیر المؤمنین سیدنا حضرت عمر رضی الله عنه د پیدائش او شهادت تاریخ څه دی؟

جواب: ولادت یې د هجرت نه څلویښت کاله مخکې وشو، په ۲۲ ذی الحجه ۲۳هـ د چارشنبې په ورځ په مطابق د ۳۱ اکتوبر ۶۴۴ء د سهار په مانځه کې ابولؤلؤ مجوسي په توره

۱] فقلت ابسط یدک یا ابابکر فبسط یده فبایعته وبایعه المهاجرون ثم بایعه الانصار(البدایة والنهایة ج:۵،ص:۲٤٦)

۲]وقد روینا عن ابی بکر رضی الله عنه ان ترضی فاطمة وتلاینها قبل موتها فرضیت رضی الله عنه (البدایة والنهایة ج:۵،ص:۲۸۹،طبع دارالفکر،بیروت)

۳] ثم نظر فی وجوه القوم فلم یر علیاً فدعا بعلی بن ابی طالب فجاء فقال: قلت ابن عم رسول الله صلی الله علیه وسلم وختنه علی ابنته اردت ان تشق عصا المسلمین قال: لا تثریب یا خلیفة رسول الله صلی الله علیه وسلم فبایعه(البدایة والنهایة ج:۵،ص:۲٤۹،طبع دارالفکر،بیروت)

٤] إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ } أي: هو أعلم بِمَنْ يستحق الهداية بِمَنْ يستحق الغوَاية، وقد ثبت في الصحيحين أنها نزلت في أبي طالب عَمّ رسول الله صلى الله عليه وسلم، وقد كان يَحوطُه وينصره، ويقوم في صفه ويحبه حبًّا شديدا طبيعيًا لا شرعيًا، فلما حضرته الوفاة وحان أجله، دعاه رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى الإيمان والدخول في الإسلام، فسبق القدر فيه، واختطف من يده، فاستمر على ما كان عليه من الكفر، ولله الحكمة التامة.(تفسير ابن كثير ج:۵،ص:۲۷)

زخمي کړ،دري ورځې زخمي حالت کې ژوندی و،په ۲۹ ذي الحجه (۳نومبر) باندې وفات شو،په يکم محرم۲۴ھ روضه مبارکه کې دفن کړل شو[1]. حضرت صهيب رضي الله عنه يې دجنازې لمونځ ورکړ.

د حضرت عمر رضي الله عنه په تائيد کې د قران نازليدل

سوال: دا دی چې دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه دکومې رايې په حق کې قران مجيدکې آياتونه نازل شوي دي؟

جواب: حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ته دا سعادت ځوځله حاصل شوی دی چې خداوندي وحي دهغه د رايې تائيدوکړ ،حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله په تاريخ الخلفاء کې شل، يويشت ځايونه ښودلي دي اوامام الهندشاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په "ازالة الخلفاء عن خلافة الخلفاء"[2] کې لس، يولس واقعات ذکرکړي دي په هغه کې ځوپه لاندې ډول دي:

۱: دحضرت عمر رضي الله عنه رايه دا وه چې دبدردجنګ قيديان دې قتل کړل شي ،دده دخبرې په تائيدکې دسورت انفال أياتونه ۲۷نه تر۲۹پورې نازل شو.

۲:دمنافقانومشرعبدالله بن ابی چې مړشونودحضرت عمررايه دا وه چې ددې منافق جنازه دې ونه شي ،ددې په تائيدکې دسورت توبه ايت ۸۴نازل شو.

۳:دهغه رايه دا وه چې مقام ابراهيم دې دلمانځه ځای جوړ کړل شي،ددې په تائيدکې د سورت بقره ايت نمبر۱۲۵نازل شو.

۴: حضرت عمر رضى الله عنه د ازواج مطهراتو په پرده کې د اوسيدومشوره ورکوله په دې باندې دسورت احزاب ايت نمبر۵۳ نازل شواوپرده لازم شوه.

۵: ام المومنين حضرت عائشه رضي الله عنها باندې چې کله منافقانوناروا تهمت ولګاوونبي کريم صلى الله عليه وسلم (دنورو صحابه وو نه پرته) دحضرت عمر رضي الله عنه نه هم رايه واخسته.نوهغه له اوريدو سره سمدستي وويل " توبه! توبه !داخوښکاره بهتان دی" او وروسته هم دې الفاظوکې دحضرت عائشې رضي الله عنها براءت نازل شو.

---

[1] فاتفق له ان ضربه ابو لؤلؤ فيروز المجوسى ...وهو قائم يصلى فى المحراب صلاة الصبح من يوم الاربعاء، لاربع يقين من ذى الحجة من هذه السنة بخنجر ...ومات رضى الله عنه بعد ثلاث ودفن فى يوم الاحد مستهل المحرم من سنة اربع وعشرين بالحجرة النبوية. (البداية والنهاية ج۷ ص۱۳۷، ۱۳۸، طبع دارالفكر بيروت)

[2] وافق عمر ربه فى احدوعشرين موضعاً(تاريخ الخلفاء ص:۴۸، ۴۷)

۲: په یوه موقعه باندې هغه د پیغمبر ﷺ د بیبیانو په هولو په غرض و ویل چې که چېرې پیغمبر ﷺ تاسو ته طلاق درکړي، نو الله تعالی به هغه ته تاسو نه بهترې بیبیانې ورکړي، نو د دې په تائید کې د سورت تحریم آیت نمبر ۵ نازل شو او داسې نور...

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه خلاف دروغ تړل

سوال: مادنن نه څه موده مخکې د جمعې په وعظ کې د امام صاحب نه یوه واقعه واوریدله چې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه باندې په قبر کې عذاب و (معاذالله) چې هغه سره د هغه د پنډۍ د ماتیدلو اواز بهرهم خلکو واوریده، د دې عذاب وجه دا وه چې په هغه باندې یو ځل د متیازو یو څاڅکی پریوتی و"

جناب عالي د غه وخت کې خوزمادومره پوهه نه وه خو نن زه په دې واقعه باندې غور کوم، نوزمازړه یې نه مني چې دا واقعه به ریښتیا وي خو بیاداسوچ کوم چې دا واقعه مې دیو عالم دین له خولې نه اوریدلې ده، یو عجیب کشمکش کې ګیر یم. اُمید دی چې تاسو به زمادا کشمکش لیرې کړئ، زما په خیال کې دا واقعه غلطه ده؟

جواب: ماته د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په باره کې د داسې واقعې هیڅ علم نشته. لومړی ځل مې ستاسو لیك کې ولوسته دا ښکاره غلطي او عظیم بهتان ګنم د دغه واعظ صاحب نه د حوالې پوښتنه وکړئ!

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه کشف

سوال: له ډېرو عالمانو نه مې اوریدلي دي چې دویم خلیفه حضرت عمر رضی الله عنه د جمعې خطبه لوستله او د شام په ملك کې د ده فوج د کافرو سره جنګیده، حضرت عمر رضی الله عنه د خطبې دوران کې د فوج جنرال حضرت ساریة رضی الله عنه ته وفرمایل: "اې ساریه غرسنبال کړه!" ساریه رضی الله عنهما د عمر فاروق رضی الله عنه آواز واوریده او غرېې سنبال کړ، دا شان هغه ته فتحه نصیب شوه، ایا دا صحیح دی؟

جواب: دا د حضرت عمر رضی الله عنه کشف او کرامت و، دا واقعه د حدیثو په کتابونو کې موجوده ده. (وګوره حیاة الصحابه ص ۵۲۸ ج ۳، الاصابة ص ۳ ج ۲، البدایة والنهایة ص ۱۳۱ ج ۷)[1]

---

[1] .....فوقع فی خاطر عمر وهو یخطب یوم الجمعة ان الجیش المذکور لاقی العدو وهم فی بطن واد وقد هموا بالهزیمة وبالقرب منهم جبل، فقال فی اثناء خطبته: یاساریة! الجبل، ورفع صوته فالقاه الله فی سمع ساریة فانحاز بالناس الی الجبل، وقاتلوا لعدو من جانب واحد ففتح الله علیهم (الاصابة ج:۲، ص:۳، طبع دار صادر، مصر دې سره سره اوګورئ حیاة الصحابة ج:۳، ص:۵۶۸، طبع دارالمعرفة، بیروت، البدایة والنهایة ج:۷، ص:۱۳۱ طبع دارالفکر، بیروت)

د حضور ﷺ د حجة الوداع په خطبه کې حضرت عمر رضي الله عنه ژړلي وو او که حضرت ابوبکر رضي الله عنه ؟

سوال: د جنگ اسلامي صفحه مې ولوستله، ریټائرډ (متقاعد) جسټس قدیرالدین صاحب په خپل مضمون "اسلام ایک مکمل ضابطه حیات هے". کې لیکي: چې د ۹ ذي الحجه په ورځ باندې په ۱۰ هـ کې حضور ﷺ چې د عرفات په میدان کې کومه خطبه بیان کړې وه هغې کې د دین اسلام د مکمل کیدو زیری (خوشخبري) ورکړل شوی و. هغه وخت کې مسلمانان خوشال شول، خو حضرت عمر رضي الله عنه ژړل، رسول الله ﷺ ترې د ژړا پوښتنه وکړه. نو حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل کیدای شي اوس تاسو موږ سره ډیرې ورځې پاتې نه شئ، خو مولانا صاحب! څه ورځې مخکې هم دا مضمون اسلامي صفحې باندې مولانا احتشام الحق صاحب هم لیکلی و، هغه کې نوموړي د همدې خطبې دوران کې د حضرت عمر رضي الله عنه په ځای باندې د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه د ژړا باره کې لیکلي و. او بالکل هم دا الفاظ یې لیکلي و، مهرباني وکړئ هم دې صفحه باندې ځواب راکړئ چې تسلي مو وشي، په پردي ملک کې د کتابونو نه پیدا کیدو په وجه باندې د مطالعې نه محروم یم، که نه د پوښتنه کولو ضرورت به نه و، امید دی چې تاسو به ضرور ځواب راکړئ!

جواب: د دې ایت د نازل کیدو په موقع باندې د ژړا واقعه د حضرت عمر رضي الله عنه ده، خو جسټس صاحب د حدیث الفاظ صحیح نه دي نقل کړي، چې د هغه په وجه باندې تاسو ته د دې واقعې اشتباه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د ژړا له واقعې سره وشوه، د حضور ﷺ په پوښتنه کولو باندې حضرت عمر رضي الله عنه دا نه و فرمایلي چې کیدای شي اوس به تاسو موږ سره ډیرې ورځې پاتې نه شئ. بلکې دا یې فرمایلي و. چې اوسه پورې زموږ په دین کې اضافه کیده. خو نن هغه مکمل شو او کله چې یو شی مکمل شي، نو هغه کې بیا اضافه نه کیږي، بلکې کمی او نقصان پکې شروع شي، حضور ﷺ وفرمایل چې ته رښتیا وایې. (تفسیر ابن کثر ج۲ ص۱۳)

د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د ژړا واقعه دا ده چې حضور ﷺ د وفات په مرض کې یوه خطبه فرمایلې وه، چې الله تعالی خپل یو بنده ته اختیار ورکړی دی. چې هغه د دې یا دنیا کې پاتې شي او یا دې د الله تعالی رحمت ته لاړ شي. حضرت ابوبکر رضي الله عنه په دې اشاره باندې پوه شو او په ژړا شو، او نور صحابه کرام رضي الله عنهم هغه وخت کې نه وو پوه شوي.

د نبي کريم ﷺ دا قول چې که زما نه وروسته پيغمبر واى نو فلانى به و، ددې مصداق څوک دى؟

سوال: ښکاره حوالې سره داوښايئ چې نبي کريم ﷺ دکوم صحابی په باره کې فرمايلي و، چې که چېرې زمانه وروسته بل نبي واى نو فلانى به و؟

جواب: دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه په باره کې يې فرمايلي و:

„لو كان نبي بعدي لكان عمر بن الخطاب . (ترمذي ص۲۰۹ ج۲)

دحضرت عثمان رضی الله عنه دشهادت تاريخ او عمر

سوال: د اميرالمومنين سيدنا حضرت عثمان غني رضی الله عنه د ولادت تاريخ او دشهادت تاريخ څه دى؟

جواب: دشهادت په تاريخ کې يې ګڼ اقوال دي ،مشهور قول ۱۸ذى الحجه ۳۵ه (۱۷جون ۶۵۵ع) دجمعې ورځ دى، عمر مبارک يې دمشهور قول مطابق دوه اتيا(۸۲) کاله و.[1]

د حضرت عثمان رضی الله عنه نکاح د حضرت أم کلثوم رضی الله عنها سره د اسماني وحې په ذريعه وشوه.

سوال: ايانبي کريم ﷺ سيدنا حضرت عثمان غنى رضی الله عنه ته فرمايلي و چې دسيده أم کلثوم رضی الله عنها نکاح الله تاسره وکړه؟

جواب: دطبراني روايت دى چې ما ﷺ دحضرت عثمان رضی الله عنه سره دام کلثوم رضی الله عنها نکاح نه ده کړې داسماني وحې په ذريعه سره شوې ده [2]" اود ابن ماجه په روايت کې دي چې نبي عليه السلام حضرت عثمان رضی الله عنه ته وفرمايل:" داجبرائيل عليه السلام وايي چې الله تعالى دام کلثوم سره ستا نکاح کړې ده، دحضرت رقيه رضی الله عنها دمهرپه اندازه مهرسره .

(مجمع الزوائد ص۸۲ج۹) کې ددې مضمون ګڼ روايتونه دي او دطبراني پورته ذکرشوي حديث ته يې حسن ويلى دى).

1] انه قتل يوم الجمعة لثماني عشرة خلت من ذى الحجة سنة خمس وثلاثين على الصحيح المشهور .....توف عن ثنتين وثمانين سنة واشهر(البداية والنهاية ج:۷،ص:۱۹۰

2] عن ام عياش قالت:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ما زوجت عثمان ام كلثوم الا بوحى من السماء(رواه الطبرانى فى الكبير والاوسط اسناده حسن،مجمع الزوائد ج:۹،ص:۶۱،باب تزويجه،طبع دارالكتب العلمية،بيروت)

د حضرت علي رضي الله عنه له نوم سره ,,کرم الله وجههٗ،، ولې ویل کیږي؟

سوال: مهرباني وکړئ دا بیان کړئ چې د هرصحابي نوم سره ,,رضی الله عنه،، ویل کیږي او د علي رضي الله عنه له نوم سره کرم الله وجهه. نو د دې څه وجه ده؟

جواب: خوارجو به د حضرت علي رضي الله عنه له نوم مبارك سره د ښېرو ګنده الفاظ استعمالول. له دې وجې نه اهل سنت والجماعت د هغوی په مقابله کې دا دعائیه الفاظ ویل شروع کړل چې "الله تعالی دې د هغوی مخ روښانه کړي"[1].

ایا د حضرت علي رضي الله عنه نکاح موقته وه؟

سوال: په روزنامه جنګ کې" د حضرت علي رضي الله عنه اولاد" په عنوان سره دیو صاحب په ځواب کې لیکل شوي و، چې حضرت علي رضي الله عنه د فاطمهٔ الزهرا دوفات نه وروسته ډېرې نکاح ګانې کړې وې او ډېر اولاد یې هم پیدا شوی و، هغه د بعضې اولاد نومونه هم لیکلي وو.

مولانا صاحب! سوال دا دی چې د فاطمې رضي الله عنها دوفات نه وروسته چې حضرت علي رضي الله عنه کومې نکاح ګانې کړې وې ایا هغه همیشه له پاره وې او که مؤقتي وې؟

مهرباني وکړئ د دې وضاحت وکړئ چې د فاطمه الزهرا رضي الله عنها دوفات نه وروسته چې حضرت علي رضي الله عنه څومره نکاح ګانې کړې وې. ایا دا همیشه وې که موقتي (متعه)؟ . بل دا چې د حضرت فاطمې رضي الله عنها نه پرته د حضرت علي رضي الله عنه د ځوبیبیانو نومونه ولیکئ!

جواب: په اسلام کې د موقتې نکاح هیڅ تصور نشته[2]، که چېرې داسې کیدای شو نو طلاق به نه جائزشوی، حضرت علي رضي الله عنه چې څومره نکاحونه کړي وو هغه وقتي نه وو، د هغه رضي الله عنه څه بیبیانې د هغه په ژوندکې وفات شوي بعضوته یې طلاق ورکړی او څه تر آخري وخته پورې ورسره وې، حافظ ابن کثیر په البدایهٔ والنهایهٔ جلد ٧ صفحه ٣٣٢ کې لیکي:

---

[1] سوال: د حضرت علي رضی الله عنه نوم مبارک سره د کرم الله وجهه ویلو وجه څه ده؟ جواب: د ځینو علماء کرامو نه مو اوریدلي دي چې خوارجو د حضرت علی رضی الله عنه نوم مبارک سره سودالله وجهه زیات کړي و د دې په جواب کښې د کرم الله وجهه عادت جوړ کړل شو او د یو بزرګ نه مې اوریدلي و چې چونکه دوی مبارک په ماشوموالی کې اسلام قبول کړی و او د دوی مخ مبارک بت وغیره ته بالکل ښکته شوی نه دی په دې وجه ورته ویل کیږي (امداد الفتاوی ج: ٤، ص: ٣٧٤)

[2] عن امير المؤمنين على بن ابى طالب رضى الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن نكاح المتعة.....الخ (تفسير ابن كثيرج: ٢ص: ٢٣١) ايضاً فى الدر المختار: وبطل نكاح متعة ومؤقت وان جهلت المدة او طالت فى الاصح وليس منه مالو نكحها على ان يطلقها بعد شهر او نوى مكثه معها مدة معينة (الدرالمختار مع الرد المحتارج: ٣، ص: ٥١)

علي رضي الله عنه د حضرت فاطمې رضي الله عنها په ژوند کې دويمه نکاح نه وه کړې. د هغې له وفات نه وروسته يې څو نکاح ګانې وکړلې.
بعضې بيبيانې د هغه رضي الله عنه په ژوند کې وفات شوي او بعضو ته يې طلاق ورکړی. د وفات په وخت کې د هغه رضي الله عنه څلور بيبيانې او نولس(۱۹) وينزې وې. څوارلس، پنځلس زامن يې وو او اوولس (۱۷) لونه وې.
د زامنو نومونه يې دا دي:
(۱): حسن رضي الله عنه (۲): حسين رضي الله عنه (۳): محسن (۴): عمر (۵): محمد بن حنيفه (۶): محمد اوسط (۷): عبد الله (۸): عباس (۹): جعفر (۱۰): عُبيد الله (۱۱): يحيی (۱۲): عون (۱۳): ابوبکر (۱۴): عثمان (۱۵): محمد اصغر
او د لونړو نومونه يې دا دي:
(۱) زينب کبریٰ (۲): اُم کلثوم (د دې نکاح د اميرالمومنين حضرت عمر رضي الله عنه سره شوې وه)،
(۳): رقيه (۴): اُم الحسن (۵): رمله کبری (۶): ام هاني (۷): ميمونه (۸): زينب صُغریٰ (۹): رمله صغریٰ (۱۰): اُم کلثوم صغریٰ (۱۱): فاطمه (۱۲): امامه (۱۳): خديجه (۱۴): ام الکرام (۱۵): اُم جعفر (۱۶): اُم سلمه (۱۷): جمانه.[1]

د آل رسول صلی الله علیه وسلم وجه

سوال: حضرت حسن او حسين رضي الله عنهما ته اولاد رسول صلی الله علیه وسلم ويل کيږي، د حضرت بی بی فاطمې رضي الله عنها په وجه باندې. نو څه وجه ده چې د حضور صلی الله علیه وسلم د نورو لونړو اولاد ته ال رسول صلی الله علیه وسلم نه ويل کيږي؟ حالانکه د حضرت عثمان رضي الله عنه د بيبيانو حضرت ام کلثوم (رضي الله عنها) او حضرت رقيه (رضي الله عنها) هم اولاد وو؟

جواب: دا عزت د حضرت فاطمې رضي الله عنها خصوصيت و، چې د هغې اولاد ته آلِ رسول صلی الله علیه وسلم وويل شو، د نورو لونړو نه يې نسل نه دی چليدلی.[2]

د حضرت علي رضي الله عنه عمر مبارک او د شهادت تاريخ

سوال: د اميرالمومنين سيدنا حضرت علي حيدر رضي الله عنه د ولادت او د شهادت تاريخ څه و؟

۱] البداية والنهاية ج:۷، ص: ۳۳۱، ۳۳۳ طبع دارالفکر، بيروت.
۲] وقد ولدت لعلى حسناً وحُسيناً سيدا شباب اهل الجنة كما ثبت فى السنة ومحسناً فمات محسن صغيراً...... ولم يكن لرسول الله صلى الله عليه وسلم عقب الا من ابنته فاطمة فانتشر نسله الشريف منها، فقط من جهة السبطين اعنى الحسنين (شرح فقه اكبر ص: ۱۳۳، طبع مجتبائى دهلى)

جواب: د هغوی شهادت په ۱۷ رمضان المبارک ۴۰ هـ بمطابق ۲۴ جنوري ۶۶۱ء باندې د درې شپیتو (۶۳) کالو په عمرکې وشو.[۱]

د حضرت عباس او حضرت علي رضی الله عنهم

په باره کې د يو څو شبهاتو ليرې کول

محترم المقام جناب يوسف لدهيانوي صاحب!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته امابعد:

قاضي ابوبکر ابن العربي (۴۶۸هـ تا ۵۴۳هـ) په خپل کتاب د "العواصم من القواصم" په يو باب کې ليکلي دي چې:

"د رسول الله ﷺ وفات يوه ملاماتونکې حادثه وه او د ټول عمر مصيبت و، ځکه حضرت علي رضی الله عنه د حضرت فاطمې رضی الله عنها په کور کې پټ کيناست".

"حضرت علي رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ د ناروغې دوران کې په خپل مصيبت کې پريوتل، حضرت علي رضی الله عنه ته حضرت عباس رضی الله عنه وويل چې د مرګ په وخت چې د بنی عبدالمطلب د مخونو کوم حالت وي، نو زه د نبي علیه السلام د مخ هغه حالت وينم، راځه چې موږ د نبي علیه السلام نه پوښتنه وکړو او معامله موږ ته وسپاري، نو موږ ته به معلومه شي".

"بيا دې نه وروسته حضرت عباس رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه د نبي علیه السلام په ميراث کې لګيا شول، د فدك، بنی نضير او د خيبر په ترکه کې يې د ميراث برخه غوښتله".

د حديثو د امامانو د روايت مطابق حضرت عباس رضی الله عنه د حضرت علي رضی الله عنه متعلق ويلي و چې کله حضرت عباس رضی الله عنه او علی رضی الله عنه دواړو د رسول الله ﷺ د وقف شوي مال په باره کې حضرت عمر رضی الله عنه ته خپله شخړه يوړله، نو حضرت عباس رضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه ته وويل: اې امير المومنين! زما او دده په مينځ کې فيصله وکړه"!

په بل ځای کې دي چې په خپل مينځ کې يې يو بل ته کنځل وکړل.... (ابن حجر، فتح باری).

" حضرت علي رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته راغی او نبي علیه السلام په خپله اخري ناروغۍ کې مبتلا و، خلکو د هغه نه پوښتنه وکړه چې اې ابوالحسنه! د نبي علیه السلام طبيعت څنګه دی؟ نو هغه وفرمايل: اوس د مخکې نه په ښه حالت کې دی، حضرت عباس رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه لاس ونيوه او ورته يې ويل: په الله قسم! د دريو ورځونه وروسته به په تا سودډنډې حکومت وي، ما ته معلوميږي چې په دې ناروغۍ کې رسول الله ﷺ ډېر زر وفات کيدونکی دی، ځکه چې د بني

[۱] وحاصل الامر ان علياً قتل يوم الجمعة وذلک لسبع عشرة خلت من رمضان..... عن ثلاث وستين سنة (البداية والنهاية ج:۷،ص: ۳۳۰،ج:۸،ص: ۱٤،طبع دارالفکر،بيروت)

عبدالمطلب د مخونو چې کوم حالت د مرګ په وخت کې وي هماغه حالت ماته د نبي علیه السلام هم ښکاري، راځه چې مونږ رسول الله ﷺ ته ورشو او د هغه نه پوښتنه وکړو چې د تاسو نه وروسته به خلیفه څوک وي؟ که مونږ ته یې خلافت راکړ، نو مونږ ته به معلومه شي او که بل چاته یې خلافت ورکړ، نو بیا به زمونږ متعلق هغه ته وصیت وکړي . حضرت علي رضی الله عنه ورته وویل: په الله قسم! که چېرې د دې متعلق مونږ د نبي علیه السلام نه پوښتنه وکړه او هغه خلافت مونږ ته رانکړ. نو بیا به یې خلک مونږ ته کله هم رانکړي، په الله قسم! زه خو د دې متعلق له رسول الله ﷺ نه بالکل سوال نه کوم". دا حدیث د صحیح بخاري په کتاب المغازي کې او په البدایه والنهایه کې د ابن عباس نه روایت شوی دی او امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې روایت کړی دی.

پوښتنې:

۱: حضرت علي رضی الله عنه ولې غلی ناست و؟

۲: ایا د دوی د واړو د مال او دولت د ومره حرص و چې بیا بیا یې د میراث غوښتنه کوله سره له دې چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه دوی پوه کړي وو، چې د دې مال حیثیت د میراث نه دی دا تقسیمیږي نه.؟

۳: دا شخړه نه یوازې د دې د واړو د مال او دولت حرص ثابتوي بلکې اخلاقي کمزوري هم ترې ثابتیږي؛ ځکه چې کنځل د شریفانو طریقه نه وي.

۴: "درې ورځې وروسته به په تاسو د ډنډې حکومت وي" د دې وضاحت وکړئ!

۵: حضرت عباس رضی الله عنه سره څنګه فکر، چې که خلافت ورکړل شو، نو سمه ده او که نه شو نو وصیت به وکړي چې د دوی مفادات محفوظ شي . د نبي کریم ﷺ د ناروغۍ او وفات غم که چېرې غالب وی نو دا فکر به چېرته و؟

۶: د حضرت علي رضی الله عنه له الفاظو نه خو دا اراده ښکاربدله چې که رسول الله ﷺ انکار هم وکړي خلافت ماته راکول پکار دي او دا هم چې ده ته د دې احتمال و، چې نبي علیه السلام به منع وفرمایي ځکه یې وویل چې زه پوښتنه نه کوم (د نبي علیه السلام د وفات نه وروسته به دا خلافت حاصلوم) د حضرت علي رضی الله عنه د الفاظو نه که چېرې دا مطلب نه ظاهرېږي نو تاسو یې مطلب ولیکئ!

اُمید دی چې تاسو به ځواب زر را ولیږئ!

فقط والسلام: محمد ظهور الاسلام

الجواب حامدا ومصلیا

په سوالونو باندې د غور کولو نه مخکې یو څو خبرې په د تمهید په طور عرض کول مناسب دي:

۱: د حق پرستو په نزد باندې د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین نه د هیچا سپکاوی جائز نه دی، بلکې ټول صحابه کرام په عظمت او محبت سره یادول لازم دي، ځکه چې هم دا

اکابر د نبي علیه السلام او دامت په مینځ کې واسطه دي. امام اعظم رحمه الله په خپله رساله "فقه اکبر" کې فرمايي: ولانذكر الصحابة (وفى نسخة ولانذكر أحدا من أصحاب رسول الله ﷺ إلا بخير (شرح فقه اکبر: ملاعلي قاري صفحه ۸۵، مجتبائی ۱۳۴۸ھ)

ترجمه: "او موږ صحابه کرام رضي الله عنهم (او په يوه نسخه کې دي چې موږ د رسول الله ﷺ صحابه وو نه څوک) له خير نه پرته نه يادوو.

امام طحاوي په عقيدة الطحاوية کې فرمايي: ونحب أصحاب رسول الله ﷺ ولانفرط فى حب أحد منهم, ولانتبرأ من أحد منهم ونبغض من يبغضهم, وبغير الحق يذكرهم ولانذكرهم إلابالخير, وحبّهم دين وايمان واحسان, وبغضهم كفر ونفاق وطغيان. (عقيدة الطحاوي صفحه ۲۲ طبع اداره نشر واشاعت مدرسه نصرة الغلوم گوجرانواله)

ترجمه: او موږ د رسول الله ﷺ د صحابه وو سره محبت کوو، د دوی نه د هیچا په محبت کې کمی زياتی نه کوواو نه له چانه د بيزاري اظهار کوو او موږ د داسې سړي سره بُغض (کينه) ساتو څوک چې د دوی سره بُغض کوي، يا دوی په ناروا الفاظو سره يادوی. د دوی سره محبت ساتل دين، ايمان او احسان دی او دوی سره بُغض ساتل کُفر، نفاق او سرکشي ده.

امام ابوزرعه عبيدالله بن عبدالكريم الرازي رحمه الله (المتوفى ۲۶۴ھ) دا ارشاد له ډېرو اکابرينو نه نقل کړی دی:

إذ رأيت الرجل ينقص أحدا من أصحاب رسول الله ﷺ فاعلم أنه زنديق لأن الرسول ﷺ عندنا حق, والقرآن حق, وإنما ادى الينا هذا القرآن والسنن أصحاب رسول الله ﷺ وإنما يريدون أن يجرحوا شهودنا ليبطلو الكتاب والسنة والجرح بهم أولى وهم زنادقة. (مقدمة العواصم من القواصم صفحه ۳۴)

ترجمه: کله چې ته يو سړی ووينې چې د رسول الله ﷺ د صحابه وو نه د چا نقص (کمی) لټوي، نو پوه شه چې دا زنديق دی، ځکه چې رسول الله ﷺ زموږ په نزد حق دی، قران کريم حق دی او قران کريم او د نبي علیه السلام ارشادات موږ ته صحابه وو رارسولي دي، دا خلک صحابه وو باندې جرح کوي او زموږ د دين ګواهان مجروح کول غواړي، دې له پاره چې کتاب او سنت باطل کړي سره له دې چې دا خلک پخپله د جرح مستحق دي ځکه چې دوی زنديقان دي.

دا خو د عامو صحابه کرامو عليهم الرضوان په باره کې د حق پرستو عقيده ده او حضرت عباس او حضرت علي رضي الله عنه خو په خاصو صحابو کې دي، حضرت عباس رضي الله عنه ته به نبي علیه السلام

"عمّي وَصِنو أبي" فرمایل[1]. یعني زما تره اوزما د پلار په څای او د هغه به یې بې حده عزت کاو ، حضرت عمر رضي الله عنه به د هغه په وسیله سره د باران سوال کاو[2]. د دې نه پرته د حدیثو په کتابونو کې د هغه د پرزیات فضائل او مناقب راغلي دي.

او د حضرت علي رضي الله عنه فضائل او مناقب خو د شمار نه بهر دي او د ده د نورو فضائلو نه پرته هغه د حق پرستو په نزد باندې په خلفاء راشدینو کې دی. قاضي ابوبکر بن العربي رحمه الله په العواصم من القواصم کې چې د هغه حوالي تاسو په خپل سوال کې لیکلي دي لیکي:

وقتل عثمان فلم یبق على الأرض أحق بها من عليّ فجاءته على قدر فى وقتها ومحلها, وبین الله على یدیه من الأحکام والعلوم ماشاءالله أن یبین, وقدقال عمر: لولا علی لهلك عمر, وظهر من فقهه وعلمه فى قتال أهل القبلة من إستدعائهم ومناظرتهم, وترك مبادرتهم والتقدم الیهم قبل نصب الحرب معهم, وندائه: لانبدأ بالحرب ولایتبع مول, ولایجهز على جریح, ولاتهاج امرأة, ولانغنم لهم مالا, وامره بقبول شهادتهم والصلوة خلفهم, حتى قال اهل العلم: لولا ماجرى ماعرفنا قتال أهل البغي. (صفحه ۱۹۳)

ترجمه: او حضرت عثمان رضي الله عنه شهید شو نو د ځمکې په مخ باندې له حضرت علي رضي الله عنه نه زیات بل څوک د خلافت حقدار نه و ، هغه ته د الله پاك د تقدیر مطابق خلافت په خپل وخت او خپل محل کې ورکړل شو او د هغه په لاس نو الله تعالى هغه احکام او علوم ظاهر کړل کوم چې الله ته منظور وو او حضرت عمر رضي الله عنه فرمایلي دي: "که چېرې علي رضي الله عنه نه وای نو عمر رضي الله عنه به هلاك شوی ؤ" او د ده په علم او پوهې سره د قبلې والو سره قتال کول ښکاره شو . مثلاً: دوی ته دعوت ورکول، دوی سره بحث او مناظره کول. په جنګ کې وړاندې والی نه کول، له دوی سره له جنګ کولو نه مخکې دا اعلان کول چې موږ به په جنګ کې وړاندې والی نه کوو، د تښتېدونکو تعاقب به نه کیږي، زخمي به نه قتلیږي، په میرمنو باندې به څوک غرض نه لري، موږ به د هغوی مال غنیمت نه ګڼو ، د قبلې والو ګواهي به قبوله وي، د دوی په اقتداء کې مونځ روا دی او داسې نور..... تر دې چې د عالمانو وینا ده: که چېرې د حضرت علي رضي الله عنه د قبلې والو سره د جنګ دا واقعات نه وی وړاندې شوې نو موږ ته به د باغیانو سره د قتال هیڅ صورت نه وی معلوم شوی.

---

[1] عن أبي أسيد الساعدي قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم للعباس بن عبدالمطلب ..... ثم قال يا رب هذا عمی وصنو أبي.....(مجمع الزوائد ج:۹،ص:۳۲۲،کتاب المناقب)

[2] عن انس ان عمر بن الخطاب رضى الله عنهما كان اذا قحطوا استسقى بالعباس بن عبدالمطلب فقال: اللهم انا كنا نتوسل اليک بنبينا فتسقينا،وانا نتوسل اليک بعم نبينا فاسقنا فيسقوا،رواه البخارى(مشكوة ج:۱، ص:۱۳۲، باب الاستسقاء)

ځنګه چې دیو پیغمبر تکذیب دټولو پیغمبرانو تکذیب دی ځکه چې دا په اصل کې دالله دوحي تکذیب دی، همدارنګه دیو خلیفه راشد نقص لټول دټولو خلفاء راشدینو نقص لټول دي،ځکه چې دا په اصل کې دنبوت دخلافت نقص لټول دي. همدارنګه دصحابه وو دډلې نه دیو صحابي نقص لټول او سپکاوی دټولو صحابه وو نقص لټول دي.ځکه چې دا په اصل کې دصحبت نبوت نقص لټول دي.له دې وجې نه نبي عليه السلام فرمايلي دي:

الله الله فی أصحابي لاتتخذوهم غرضًا من بعدي فمن أحبهم فبحبي أحبهم ومن أبغضهم فببغضي أبغضهم (ترمذی جلد ۲ صفحه ۲۶۲)

ترجمه:زمادصحابو په باره کې دالله تعالی نه وویرېږئ،دالله تعالی نه وویرېږئ.دوی له مانه وروسته دملامتیا نښه مه جوړوئ! چاچې دوی سره محبت وکړ نوزمادمحبت له وجې يې دوی سره محبت وکړاوچاچې دوی سره بُغض وکړ نوزمادبغض په وجه يې دوی سره بُغض وکړ.

خلاصه دا چې دیومسلمان له پاره دصحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین سره محبت ساتل او دوی په خیرسره یادول لازم دي.خصوصًا خلفاء راشدین رضي الله عنهم چې هغوی ته دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه وروسته دنبوت دخلافت منصب حاصل شو، همدارنګه هغه صحابه کرام چې دهغوی په دربارنبوت کې دمحبوبیت اودمحبت درجه ثابته ده،هغوی سره محبت ساتل دنبي عليه السلام دمحبت نښه ده ځکه امام طحاوي رحمه الله دې ته دین ،ایمان اواحسان ویلي دیاو ددوی نقص لټول اوسپکاوی يې کفر،نفاق اوسرکشي ګرځولی دی.

۲: دیوې واقعې ګڼ اسباب اووجې کیدای شي اودیوقول ډېر توجیهات کیدای شي له دې وجې نه موږته دیوې واقعې په خبرو اترو یادچادقول توجیه کولو په وخت کې دهغه صاحب دحیثیت او مرتبې لحاظ ساتل هم ضروري دي،مثلاً :یومسلمان دا فقره ووايي چې ماته دفلاني ډاکټرنه شفاء حاصله شوه نودویونکي دعقیدې په لحاظ به دې ته دکفرکلمه نشي ویلی،خو که دافقره یودهري ووایي نودابه دکفرکلمه وي،یامثلاً دیو پیغمبر توهین اوتذلیل یا دهغه نه ګیره نیول کُفردی،خو چې کله موږ هم دا واقعه د حضرت موسی عليه السلام په باره کې لولو، نودهغه دشان اودحیثیت لحاظ چاته ددې وسوسه هم نه راځي.[1]

۳: چې کوم شی سړی خپل حق ګڼي دهغه مطالبه کول نه دکمال منافي دی اونه داپه حرص باندې حمل کول صحیح دي،له پیغمبرانو نه وروسته دصحابه کرامو رضي الله عنهم نه زیات به څوک کامل او مخلص وي خو په حقوقو کې ځینې وختونو کې دهغوی په مینځ کې به هم شخړه

۱] وَلَمَّا رَجَعَ مُوْسٰى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ مِنْۢ بَعْدِيْ اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗ اِلَيْهِ (الاعراف ۱۵۰)

راتله، نبي کريم ﷺ به دهغوی په مينځ کې فيصلې کولې خو په دې خبره باندې به يې انکارنه کاو چې دا جګړه ولې راغله؟ او نه دحق طلب کولو ته حرص ويل کيږي.

۴: داجتهادي رايې له وجې نه په پوهه کې خطاکيدل دنيولو قابل نه وياونه دادکمال او اخلاص منافي دي، حضرات انبياء کرام عليهم السلام په اجماع داهل حق سره معصوم دي. خو د اجتهادي خطاصادريدل له دوی نه هم ممکن دي، خو په دوی باندې دوحې الهي اوعصمت پيره مقرره ده له دې وجې هغوی په اجتهادي خطاء باندې قائم پاتې کيدای نشي. بلکې الهي وحې فوراً خبر داری ورکوي. انبياءکرام عليهم السلام نه پرته نورکاملين معصوم نه دي. دهغوی نه اجتهادي خطاء کيدای شي اودهغوی په دې باندې قائم پاتې کيدل هم ممکن دي. خو دحق واضحه کيدو نه وروسته خپله اجتهادي خطاء دوباره نه کوي. بلکې دهغه نه رجوع کوي.[1]

۵: درايې اختلاف يوفطري امردی اودکاملينواومخلصينو په مينځ کې درايې داختلاف له وجې نه معمولي خفګان پيداکيدل څه دعقل نه ليرې خبره نه ده، بلکې داخوهره ورځ په مشاهده کې راځي، دبدر دقيديانودقتل يادفديې په باره کې دحضرت ابوبکر صديق اود حضرت عمر رضي الله عنهما په مينځ کې چې کوم اختلاف و هغه چاته معلوم نه دی، خو يواځې ددې نظري اختلاف په وجه ديو نوم هم داخلاص اوکمال د دفترنه ليرې نه شو. سره له دې چې الهي وحې دحضرت عمر رضي الله عنه تائيد وکړاودحضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه رايې باندې چې هغه ته دنبي کريم ﷺ تائيد حاصل و، يورحيمانه اندازکې ملامتياهم وويله[2] خو څوک دا ويلی شي چې له دې وجې دحضرت ابوبکر رضي الله عنه په بزرګۍ، کمال اولوی صداقت کې څه معمولي فرق راغلی دی؟ همدارنګه دبنوتميم وفدچې کله په دربارنبوي کې حاضرشو، نوپه دې مسئله باندې چې ددوی رئيس څوک جوړ شي، دحضراتو شيخينو رضي الله عنهما په مينځ کې درايې اختلاف راغی چې دهغه په وجه د دواړو په مينځ کې خبرې هم ترخې شوې اودسورت حجرات اولنې اياتونه په دې باره کې نازل شو[3]، خوله دې سره ددې دواړو بزرګانوپه قرب اومرتبه کې اودالله اودرسول ﷺ په نزدمحبوبيت کې هيڅ فرق هم رانغی.

1] ان المجتهد فى العقليات والشرعيات الاصلية والفرعية قد يخطئ وقد يصيب.....والمجتهد غيرمكلف باصابته .....وهذا مبنى على جواز اجتهاد الانبياء وتجويز وقوعهم فى الخطاء لكن بشرط ان ينتبهوا (شرح فقه اكبر ص:۱۶۲، ۱۶۳طبع مجتبائي بمبئ)

2] مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الآخِرَةَ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (الانفال:۶۷،تفسيرابن كثيرج:۳،ص:۴۳۴)

3] عن ابى مليكة أن عبد الله بن الزبير أخبرهم : أنه قدم ركب من بني تميم على النبي صلى الله عليه و سلم فقال أبو بكر أمر القعقاع بن معبد وقال عمر بل أمر الأقرع بن حابس فقال أبو بكر ما أردت إلى أو إلا خلافي فقال عمر ما أردت خلافك فتماريا حتى ارتفعت أصواهما فترل في ذلك { يا أيها الذين آمنوا لا تقدموا بين يدي الله ورسوله } . حتى انقضت(صحيح بخارى ج:۲،ص:۶۲۶،باب وفدبنى تميم)

غرض داچې ددې په لسګونو مثالونه شته چې په انتظامي امورو کې د رايې د اختلاف شخړې اوترخې خبرې راتلی شي خو هرسړی په خپل ځای مخلص وي ځکه دا اختلاف دهغه په فضيلت اوکمال کې هيڅ خلل نه شي راوستلی.

۲.حکومت او امارت يوه لويه اودرنه ذمه واري ده اودا ذمه واري پوره کول ډېرمشکل اوسخت کار دی،نوله دې وجې نه چې کوم سړی دخپل ځان په باره کې پوره اطمينان نه لري چې هغه به دالويه ذمه واري پوره کړي اوکه نه؟ دهغه له پاره دحکومت او امارت غوښتنه کول شرعًا او عرفًا ښه نه دي. دنبي کريم ﷺ ارشاد مبارك دی:

إنكم ستحرصون على الإمارة وستكون ندامة يوم القيمة فنعم المرضعة وبئست الفاطمة.(صحيح بخاري جلد۲صفحه ۱۰۵۸ کتاب الاحکام باب مايکره من الحرص على الامارة)

ترجمه:"بيشکه تاسو به دامارت حرص وکړئ اودابه ډېرزر دقيامت په ورځ پښيمانتيا وي . داچې شېدې ورکوي نوښه يې ورکوي اوچې دشېدو نه يې پرېکوي نو په بده طريقه يې پرېکوي". خو کوم سړی چې ددې حقونو د ادا کولو اهليت او صلاحيت لري،نودهغه له پاره ددې مطالبه کول شرعًا او عقلاً جائز دي.که چېرې دا ديو خير له پاره ذريعه وګرځي نو دا بهتره ده.

دسيدنا يوسف عليه السلام وينا په قران کې نقل شوې ده.چې هغه دمصر بادشاه ته فرمايلي و:

﴿ ٱجْعَلْنِى عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلْأَرْضِ إِنِّى حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴾ (يوسف:۵۵)

ترجمه:دملك په خزانوباندې مامقررکړه زه به ددې حفاظت کوماو زه ښه پوه يم".

اوپه قران کريم کې دحضرت سليمان عليه السلام دا دعاهم نقل شوې ده:

﴿ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَهَبْ لِى مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِى لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِىٓ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ﴾ (سوره ص:۳۵)

ترجمه:اې زماربه!زما(مخکې) قصورمعاف کړه او(آينده له پاره) ماته داسې بادشاهی راکړه چې زمانه پرته(زما په زمانه کې) چاته نه وي ورکړل شوې.(بيان القران)

دنبي کريم ﷺ خلافت اونيابت چې هغه ته په اسلامي اصطلاح کې خلافت راشده وايي، د يو عظيم الشان فضيلت او دالله تعالی دلاندنی وعدې مصداق دی:

﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ كَمَا ٱسْتَخْلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ ٱلَّذِى ٱرْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِى لَا يُشْرِكُونَ بِى شَيْـًٔا ۚ ﴾ (النور:۵۵)

ترجمه: (اې د امت ټولیه) په تاسوکې چې کوم خلك ايمان راوړي اونيك عمل وکړي هغوی سره دالله تعالی وعده ده چې هغوی ته به (ددې اتباع په برکت سره) په ځمکه کې حکومت

ورکړي، څنګه یې چې ددوی نه مخکې (دهدایت والا) خلکوته حکومت ورکړی و او کوم دین چې الله تعالی دهغوی له پاره خوښ کړی (اسلام) هغه ته به د دوی (داخرت دنفع) له پاره قوت ورکړي او ددوی د دې ویرې نه وروسته به هغه په امن بدله کړي، په دې شرط چې زما عبادت کوي او ماسره هیڅ قسمه شرك ونکړي. (بیان القران)

کوم سړی چې ددې خلافت اهل وي دهغه له پاره ددې دحاصلولو خواهش بدنه دی.بلکې دیوې اعلی درجې دفضیلت او کمال حاصلولو فطري خواهش دی،په حدیث کې دي چې کله نبي کریم ﷺ په غزوه خیبرکې دا اعلان وکړ چې "زه به دا جنډه(بیرغ) سباته یوداسې سړي ته ورکوم چې هغه دالله او د رسول ﷺ سره محبت ساتي اوالله او د هغه رسول ﷺ دهغه سره محبت ساتي". نود صحابه کرامو رضی اللہ عنہم نه دهرسړي ددې فضیلت د حاصلولو خواهش و. حضرت عمر رضی اللہ عنہ فرمایي:

ماأحببت الإمارة إلایومئذ قال: فتساورت لهارجاء أن أدعی لها,قال: فدعا رسول الله ﷺ علی بن ابی طالب فأعطاه ایاها. الحدیث (صحیح مسلم جلد۲صفحه ۲۷۹)

ترجمه:مادې ورځې نه پرته دامارت غوښتنه کله هم نه ده کړې ، مابه خپل ځان ښکاره کاو،په دې اُمید چې زه راوبلل شم، نبي کریم ﷺ حضرت علی بن ابی طلب رضی اللہ عنہ راوغوښت اوهغه جنډه (بیرغ) یې هغه ته ورکړه.

ښکاره خبره ده چې په دې موقعه باندې دحضرت عمر رضی اللہ عنہ او د نورو صحابه وو دا خواهش کول چې امارت دې ماته راکړل شي، ددې بشارت او فضیلت حاصلولو له پاره و،شیخ محي الدین نووي رحمہ اللہ ددې حدیث لاندې لیکي:

إنماکانت محبته لها لمادلت علیه الإمارة من محبته لله ولرسوله ﷺ ومحبتها له والفتح علی یدیه.(حاشیه مسلم)

ترجمه:دحضرت عمر رضی اللہ عنہ په دغه ورځ دامارت محبت او خواهش کول له دې وجې و چې دادالله اودهغه رسول ﷺ دمحبت او محبوب کیدو دلیل واوددې سړي په لاس باندې فتح کیدونکې وه.

غرض دا چې خلافت یولوی شرف . امتیاز او دفضائلو او بهتر والي مجموعه ده،کوم حضرات چې ددې اهل وو او هغوی ته ددې پوره اطمینان و چې موږبه ددې حقوق انشاء الله په پوره توګه اداکړو،دهغوی په زړه کې که چېرې ددې شرف او فضیلت حاصلولو خواهش وي نو دا په خواهش اقتدار باندې تعبیر کول جائز نه دي،بلکې دې ته دنبوت په کار کې شرکت او دجارحه نبوي ﷺ دجوړیدلو حرص ویل کیږي.

مسند الهند شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي.

ترجمه: دراشده خلفاوو دور. د نبوت ددورباقي ورځې وې، ګويا دنبوت په دور کې نبي کريم ﷺ ښکاره په ژبه مبارکه حکم کولو او دخلافت په دور کې خاموش ناست دی او د سر او لاس په اشاره سره به يې پوهولو.

ددې مقدماتو په ذهن کې کېنولو نه وروسته اوس په خپلو سوالو په ځوابونو ښه غور وکړئ:

(۱) د حضرت علي رضي الله عنه په کورکې کيناستل

قاضي ابوبکربن العربی رحمه الله لومړی قاصمه (ملاماتونکې حادثه) دنبي کريم ﷺ وفات ښودلی دی او په دې سلسله کې يې ليکلي دي چې دې هوش تښتونکې واقعې له وجې نه حضرت علي رضي الله عنه په کورکې غلی کيناست، حضرت عثمان رضي الله عنه باندې بيهوشي راغلې وه او حضرت عمر رضي الله عنه باندې دبې هوشی پشان حالت راغی او داسې نور....

له دې پوره عبارت نه داسې معلوميږي چې ددې قيامت پشان واقعې چې کوم اثرات په صحابه وو رضي الله عنهم باندې وو، قاضي ابوبکر ابن العربی رحمه الله هغه اثرات ذکرکوي حضرت علي رضي الله عنه باندې ددې واقعې دااثرشوی و چې هغه په کورکې يواځې ناست و.

تاسوبه ددې برخلاف ليدلي وي چې ديومحبوب ترين شخصيت د وفات نه وروسته دنيا دهغه له پاره توره تياره شياو دهغه طبيعت مړاوې اوبند شي.

اوپه زړه باندې يې يوه داسې غوټه کيني چې په هيڅ قسمه نشي پرانستل کيدای. دهغه طبيعت چاسره په ملاقات ياخبرو کولو باندې بالکل نه سميږي، هغه دځه قسمه ژړا انګولايابې صبري اظهارنه کوي خو طبيعت يې داسې مړشي چې ترډيرې مودې پورې هغه په خپل معمول نه راځي، دنبئ کريم ﷺ نه زيات بل محبوب دځمکې په مخ نه واو دصحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين نه زيات څوک عاشقان داسمان سترګونه دي ليدلي، موږ خو ددغو اکابرو په صبراو تحمل باندې حيران يو. چې هغوی ددې عشق او محبت سره سره دالويه حادثه څنګه برداشت کړه.... خو ته ددې عاشقانوپه باره کې پوښتنه کوې چې هغه په کورکې ولې غلی ناست و؟

ماخپل اکابرليدلي دي چې کله به په حديثو کې د نبي کريم ﷺ دوفات دلويې حادثې باب شروع کيده، نودسترګونه به يې د اوښکوقطار روان شواوازبه يې ستوني کې بندشواو بعضې وخت به د ژړا دسلګوسره د ژړا اواز بندشو. هرکله چې د زړونوپه خاوندانو څوارلس سوه کاله وروسته هم ددې حادثې دا اثردی نوکوموعاشقانوچې په خپلوسترګوداهرڅه ليدلي وو دهغوی به څه حال و؟

رفتم و از رفتن من عالمآ ويران شد
من مګرشمعم چون رفتم بزم برهم ساختم

د جنت د ښځو سرداره د نبي علیه السلام د زړه ټکړه حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها د نبي کريم صلى الله عليه وسلم خاص خادم حضرت انس رضي الله عنه ته فرمايل: "اې انسه! تاسو څنګه وزغمله چې تاسو به نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې خاورې واچوئ"[1]. (صحيح بخاري ج۲ص۶۴۱)

او د مسند احمد په روايت کې دي چې تاسو څنګه وزغمله چې نبي علیه السلام مو دفن کړ او په خپله ترې بېرته راغلئ[2]. (حياة الصحابه جلد ۲ صفحه ۳۲۸)

حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته چې کله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د وفات خبر ورسېد نو ويې فرمايل: اه! زما ملا ماته شوه. صحابه رضي الله عنهم فرمايي چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه جومات ته راورسيده خو دچا دا اميد نه و چې هغه به ترجومات پورې راشي[3]. (حياة الصحابه جلد ۲ صفحه ۳۲۳)

که چېرې مونږ د درد ددې خوند او د محبت ددې غم نه نا اشنا يو. نو آيا مونږ دا هم نشو کولای چې په کومو حضراتو باندې دا قيامت تېر شو نو مونږ هغوی معذور وګڼو؟

او بيا د حضرت علي رضي الله عنه په کور کې د کېناستو دا مطلب نه دی چې هغه د جمعې او د جماعت لمونځ او ديني او معاشرتي حقوق او فرائض هم پرېښې و. شيخ محب الدين الخطيب رحمه الله په حاشيه العواصم کې ليکي:

وأضاف الحافظ ابن كثير فى البداية والنهاية(٥:٢٤٩) ان عليّا لم ينقطع عن صلوة من الصلوت خلف الصديق وخرج معه إلى ذى القصة لما خرج الصديق شاهدا سيفه يريد قتال اهل الرّدة. (صفحه ٣٨)

ترجمه: او حافظ ابن کثير رحمه الله په البدايه والنهايه (۵.۲۴۹) کې په دې باندې دومره اضافه کړې دي چې حضرت علي رضي الله عنه د صديق اکبر رضي الله عنه په اقتداء کې د لمونځ کولو سلسله نه وه پرېښې بل دا چې کله حضرت صديق رضي الله عنه د مرتدينو سره د قتال کولو له پاره توره را ويستله او ذی القصه ته ولاړ، نو حضرت علي رضي الله عنه هم د هغه سره وتلی و.

هرکله چې د هغه نه په ديني او معاشرتي فرائضو کې نقصان نه دی شوی او نه د صديق رضي الله عنه په نصرت کې د هغه نه څه معمولي مخالفت راغلی دی. نو بيا په دې بناء باندې چې د ډېر سخت غم له وجې نه په هغه باندې د يو اځيتوب ذوق غالب شوی و. نو تاسو يې څنګه د الزام ځای ګرځوئ؟

۱] عن انس رضى الله عنه ......فلما دفن قالت فاطمة:يا انس! اطابت انفسكم ان تحثوا على رسول الله صلى الله عليه وسلم التراب؟

۲] وعند احمد: قالت فاطمة رضى الله عنها: يا انس! اطابت انفسكم ان دفنتم رسول الله صلى الله عليه وسلم فى التراب ورجعتم.

۳] سمعتم يقولون:مات محمدا! فاشتد ابوبكروهو يقول:واى انقطاع ظهرى! فلما بلغ المسجدحتى ظنواانه لم يبلغ.

(۲) د میراث غوښتنه

خوپوري چې بیابیا دمیراث غوښتلوتعلق دی دا یواځې غلط فهمې ده یوځل دحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په دورکې حضرت عباس رضی الله عنه اوحضرت فاطمه رضی الله عنها میراث غوښتی و اوبیشکه دا دهغوی اجتهادي رایه وه چې په دې کې دوی معذور و ،دوی هغه خپل حق ګڼلو او غوښتنه یې کوله، په دغه وخت کې دنبي علیه السلام ددې قول:

لانورث، ماترکناه صدقة[۱] (زمونږ مال په میراث کې نه وړل کیږي څه چې مونږ پریږدو هغه صدقه وي).

یاخودوی ته علم نه و یاممکنه ده چې دنبي علیه السلام د وفات دحادثې له وجې نه دهغوی نه هیر شوي وي، څنګه چې په دې وخت باندې دحضرت عمر رضی الله عنه نه دا ایت "ومامحمد الا رسول" هیرشوی و او حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه چې کله دا ایت (دنورو ایاتونو سره) په منبرباندې ولوست، نوهغه ته داسې محسوسه شوه چې دا ایت اوس نازل شو.[۲]

غرض دا دی چې ددې اکابرو دمیراث غوښتنه نه دمال د حرص په وجه وه اونه داثابته ده چې دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه نه یې ددې ارشادی نبوي صلی الله علیه وسلم له اوریدو نه وروسته دوباره غوښتنه کړې وي، یاهغوی په دې حدیث کې ابوبکر رضی الله عنه سره څه بحث کړی وي.قاضي ابوبکر ابن العربي رحمه الله لیکي:

وقال لفاطمة وعليّ والعباس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لانورث ماتركناه صدقة فذكر الصحابة ذالك.(العواصم صفحه ۴۷)

حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه حضرت فاطمه .علي اوعباس رضی الله عنهم ته وفرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې"زمونږ وراثت نه جاري کیږي،مونږ چې څه پریږدو هغه صدقه وي"بیانورو صحابو هم داحدیث ذکرکړ.

ددې په حاشیه کې شیخ محب الدین الخطیب رحمه الله لیکي:

قال شيخ الإسلام إبن تيمية في منهاج السنة: قول النبي صلى الله عليه وسلم لانورث ماتركناه صدقة" رواه عنه

۱] عن ابی بکر رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :لا نورث، ماترکناه صدقة متفق علیه(مشکوة ص: ۵۵۰)

۲] وما محمد الا رسول......حتی فرغ من الآیة ثم قال: فمن کان یعبدالله فان الله حی لا یموت،ومن کان یعبد محمدا صلی الله علیه وسلم فان محمداً صلی الله علیه وسلم قد مات فقال عمر:او انها فی کتاب الله؟ ما شعرت انها فی کتاب الله(البدایة والنهایة ج:۵،ص:۲۴۲) فقال عمر: هذه الآیة فی القرآن؟ والله! ما علمت ان هذه الآیة انزلت قبل الیوم (ایضاً ج:۵،ص:۲۴۳ طبع دارالفکر،بیروت)

ابوبكر, وعُمر, وعثمان, وعلي, وطلحة, والزبير وسعد, وعبدالرحمن ابن عوف, والعباس بن عبدالمطلب, و ازواج النبي, وابوهريرة والرواية عن هولاء ثابتة في الصحاح والمسانيد.

(صفحه۴۸)

ترجمه: شيخ الاسلام ابن تيمه رحمه الله په منهاج السنه (جلد ۲ صفحه۱۵۸) كې ليكي چې د رسول الله ﷺ دا ارشاد چې" زمونږ ميراث نه جاري كيږي مونږ چې څه پريږدو هغه صدقه وي" د نبي ﷺ نه دې لاندينو حضراتو روايت كړى دى: حضرات ابوبكر. عمر. عثمان. علي. طلحه. زبير. سعد. عبدالرحمن بن عوف. عباس بن عبدالمطلب. ازواج مطهرات او ابوهريره او د دې حضراتو حديثونه په صحاح او مسانيدو كې ثابت دي. المسانيد. (صفحه۴۸)

له دې نه واضحه شوه چې دا حديث "لا نورث ماتركناه صدقة" چې پخپله حضرت علي او حضرت عباس رضي الله عنهما هم د دې روايت كوي، يا خو دوى ته له دې نه مخكې د دې حديث علم نه و، يا به ترې په څه وجه باندې هيرشوى و او د دې احتمال هم دى چې د دې حديث په مطلب كې ورته څه اشتباه شوي وي او دوى هغه يواځې د منقولي مال په باره كې ګڼلى وي. خو په هرحال د حضرت ابوبكر رضي الله عنه د خبرولو نه وروسته هغوى په دى حديث باندې نه څه جرح وكړه اونه يې د حضرت ابوبكر رضي الله عنه سره څه بحث وكړ. بلكې خپل موقف يې پريښوده او دا د دغه مومناتو شان دى چې په هغوى كې د نفسانيت هيڅ ګډون نه و. غرض دا چې "بيا بيا د ميراث غوښتلو" چې كوم نسبت دې اكابرو طرف ته په سوال كې شوى دى، دا صحيح نه دى، يوځل خو هغوى مطالبه كړې وه، چې په هغه كې دوى معذور وو. خو د دليل له ښكاره كيدونه وروسته هغوى د حق په مخكې سرښكته كړى وو. خو هغوى د حضرت عمر رضي الله عنه په د خلافت په پيل كې دا غوښتنه كړې وه چې د نبي عليه السلام د وقف شويو شيانو انتظام دې مونږ ته وسپارل شي، د حضرت عمر رضي الله عنه خو اول په دې كې څه شك پيداشو. خو وروسته د هغه رايه هم دا شوه او دا اوقاف يې هغوى ته وسپارل.

وروسته له دې دا وقافو په انتظامي امورو كې د دوى په مينځ كې شخړه هم راغله. نو حضرت عباس رضي الله عنه د حضرت علي رضي الله عنه نه شكايت وكړ. (چې د هغه ذكر په دريم سوال كې شوى دى) او حضرت عمر رضي الله عنه ته يې درخواست وكړ چې دا اوقاف دى دواړو ته بېل بېل وسپارل شي، حضرت عمر رضي الله عنه دا درخواست ونه مانه. په صحيح بخاري كې د مالك بن اوس بن حدثان رضي الله عنه اوږد حديث ځوځايه ذكر شوى دى. "باب فرض الخمس" كې د هغه د روايت متعلقه الفاظ دا دي:

ثم جئتماني تكلماني وكلمتكما واحدة وامركما واحد جئتني يا عباس تسالني نصيبك من ابن اخيك وجاءني هذا يريد عليًا يريد نصيب امرأته من ابيها فقلت لكما أن رسول الله ﷺ قال:" لا نورث

ماتركناه صدقة" فلما بدالی أن أدفعه إليكما قلت إن شئتما دفعتها إليكما على أن عليكما عهد الله وميثاقه لتعملان فيها بما عمل فيها رسول الله ﷺ وبما عمل فيها ابوبكر وبما عملت فيها منذ وليتها فقلتما إدفعها الينا. فبذالك دفعتها اليكما فأنشدكم بالله هل دفعتها اليهما بذالك؟ قال الرهط: نعم ثم أقبل على عليّ وعباس فقال: أنشدكما بالله هل دفعتها إليكما بذالك؟ قال: نعم! قال: فتلتمسان مني قضاء غير ذالك؟ فوالله الذی بإذنه تقوم السماء والارض لاأقضي فيها غير ذالك فإن عجزتما عنها فادفعاها الیّ. فإنّي أكفيكماها. (ص نمبر ۱٤٤ په تصحيح كې وګورئ) (بخاري باب فرض الخمس جلد ا صفحه ۴۳۶)

ترجمه: حضرت عمر رضی الله عنه وفرمايل: بيا تاسو دواړه ماته راغلى او تاسو ماسره خبرې کولې او په دې حال کې چې ستاسو خبره يوه وه او ستاسو معامله يوه وه. اې عباسه! ته ماته راغلې تا زمانه دخپل وراره (دنبي عليه السلام) دمال نه برخه غوښتله او داصاحب. يعني على رضی الله عنه دخپلې بې بې برخه دهغې دپلار دمال نه غوښتله. ما تاسو ته وويل چې دنبي کريم ﷺ ارشاد دی چې "زمونږ ميراث نه ويشل کيږي مونږ چې څه پريږدو هغه صدقه وي" بيا زما دا رايه شوه چې دا اوقاف دې تاسو ته وسپارل شي، نو ما تاسو ته وويل چې که چيرې تاسو غواړئ، نو زه به دا تاسو ته وسپارم. مګر په تاسو باندې به دالله تعالى وعده وي. چې تاسو به په دې کې هماغه معامله کوئ کومه به چې رسول الله ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه کوله او کومه چې ما وکړله. له کومې ورځې چې حکومت ماته سپارل شوى دى، تاسو وويل چې سمه ده. دا تاسو مونږ ته وسپارئ ،نو په دې شرط باندې مادا اوقاف تاسو ته حواله کړل. بيا حاضرينو ته مخاطب شو او ويې فرمايل: چې زه تاسو ته په الله قسم درکوم او پوښتنه کوم چې ايا ما په دې شرط باندې دوى ته سپارلي وو که نه؟ ټولو وويل :هو ! بيا حضرت علي او حضرت عباس رضی الله عنهما ته يې وفرمايل : زه تاسو ته په الله قسم درکوم او پوښتنه کوم ايا ما دا اوقاف په دې شرط باندې تاسو ته سپارلي وو که نه؟ دواړو وويل: هو! په همدې شرط باندې دې راکړي وو ، هغه و فرمايل: اوس تاسو ما باندې بله فيصله کول غواړئ ؟(چې دواړو ته دې ببله ببله برخه ورکړل شي) زما دې قسم وي په هغه ذات باندې چې دهغه په حکم سره دا ځمکه او اسمان قائم دي. زه له دې پرته ستاسو په مينځ کې هيڅ فيصله نه کوم، که چيرې تاسو ددې اوقافو دذمه وارۍ نه عاجزه شوئ، نو ماته يې وسپارئ زه به په دې معامله کې ستاسو کفايت وکړم.

ددې روايت دپيل له الفاظو نه داوهم پيدا کيږي چې دې دواړو اکابرو دحضرت عمر رضی الله عنه نه بيا دميراث غوښتنه کړې وه. خو دسوال او ځواب او ددې روايت دمختلفو برخو دجمع کولو نه وروسته مطلب واضحه کيږي چې دا ځل د دوى غوښتنه دميراث نه وه. بلکې د دوى په نزدهم دا حقيقت منل شوى و چې ددې ځمکو حيثيت دوقف دى او په وقف کې ميراث نه

جاري کیږي . بلکې دا حل هغوی غوښتل چې ددې انتظام دې موږ ته وسپارل شي،حضرت عمر رضي الله عنه ته اول شك پیداشوچې داسې نه چې دا انتظام اخستل هم دوی میراث وګڼي،خو د غور اوفکرنه وروسته یې ددوی وړاندیز قبول کړاودا اوقاف یې دوی دواړوحضراتوته وسپارل.

بیاځنګه چې په انتظامي اموروکې دوقف په منتظمینو کې دراییې اختلاف وي همداسې د دوی په مینځ کې هم وشو. حضرت علي رضي الله عنه په علم اوپوهه کې لوړمقام درلود ځکه هغه خپلې رایې ته ترجیح ورکوله،ګویاعملي طورباندې په اوقافوکې زیات تصرف یواځې دحضرت علي رضي الله عنه و او دحضرت عباس رضي الله عنه تصرفات مغلوب وو،له دې وجې نه هغه ته شکایت پیداشو او هغه دویم ځل حضرت عمر رضي الله عنه نه مطالبه وکړه چې دا اوقاف دې تقسیم کړل شي او هریوته دې دخپل تصرف برخه بېله شي،خو حضرت عمر رضي الله عنه دا مطالبه ونه منله،بلکې داسې یې وفرمایل: یاخوپه اتفاق سره دواړه ددې انتظام کوئ! که نه ماته یې بېرته راکړئ زه به پخپله ددې انتظام وکړم.

اوکه داسې شي چې دا حضرات،دحضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کې هم په لومړي ځل دمیراث دغوښتنې له پاره راغلي وو بیاهم د دوی په موقف باندې څه علمي اشکال نشته اونه په دوی باندې دمال او دولت دحرص تور(الزام) لګول صحیح دي،بلکې دا ویل پکار دي چې د دوی دحدیث په تاویل کې اختلاف و،څنګه چې دبخاري شریف په حاشیه کې ددې تفصیل ذکر شوی دی:

دهغه تشریح داده چې حدیث د"لانورث ماترکناه صدقة" خو دهغوی په نزدهم منل شوی و،خوهغوی دا یواځې دمنقولاتو په حق کې ګاڼه،حضرت ابوبکر رضي الله عنه هغه دمنقولاتو اوغیرمنقولاتو دټولو په حق کې ګڼله.

بیشکه حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه چې له حدیث نه کوم مطلب اخستی و هغه صحیح و،خو څوپورې چې ددې حضراتو ددې حدیث په مفهوم باندې شرح صدر نه و شوی،هغوی ته د اختلاف کولو حق حاصل و،ددې مثال دزکوة نه دانکار کونکوپه باره کې دحضراتو شیخینو رضي الله عنهما مشهوره مناظره ده حضرت عمر رضي الله عنه به حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ته بیابیا ویل:

کیف تقاتل الناس وقدقال رسول الله صلی الله علیه وسلم أمرت أن أقاتل الناس حتی یقولوا لااله الا الله فمن قالها فقدعصم مني ماله ونفسه إلابحقه وحسابه علی الله.(صحیح بخاري جلد۱صفحه ۱۸۸)

ترجمه: تاسو له دې خلکوسره څنګه جنګ کوئ،سره له دې چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم وینا ده چې ماته حکم شوی دی چې زه له خلکوسره جنګ وکړم تردې پورې چې هغوی لااله الاالله ووایي، چاچې دا کلمه وویله نوهغه زمانه خپل مال او ځان بچ کړ،خویواځې داسلام په حق سره او دده حساب دالله په ذمه دی.

دلته حضرت عمر رضي الله عنه ته د يو حديث په مطلب پوهيدو کې مشکلات راځي او هغه د حضرت صديق اکبر رضي الله عنه موقف د حديث نه خلاف وګڼه او د هغه سره يې بحث او اختلاف وکړ. تردې چې الله تعالى په ده باندې هم د نبي عليه السلام د حديث هغه مفهوم پرانست کوم يې چې په حضرت صديق اکبر رضي الله عنه باندې پرانستى و. ترڅو چې د هغه شرح صدر نه و شوى تر هغه يې د حضرت صديق اکبر رضي الله عنه سره نه يوازې اختلاف وکړ بلکې بحث او مناظرې پورې خبره ورسيده.

نو همداسې دې حضراتو ته هم دې حديث "لانورث ماترکناه صدقة" کې چې ترڅو شرح صدر نه و شوى چې ددې مفهوم هم هغه دى په کوم چې حضرت صديق اکبر رضي الله عنه پوه شوى و. تر هغه پورې يې د اختلاف حق وا و د هغوى غوښتنه د خپل اجتهاد مطابق په ځاى او سمه وه خو وروسته دوى ته هم د حضرت عمر رضي الله عنه په شان شرح صدر وشوا و هغوى د حضرت ابوبکر رضي الله عنه موقف تسليم کړ. چې ددې واضح دليل دا دى چې حضرت علي رضي الله عنه د خپل خلافت په دور کې ددې اوقافو په حيثيت کې هيڅ تبديلي نه ده کړې، بلکې کوم حيثيت چې ورته حضرت صديق اکبر رضي الله عنه ټاکلى و هماغه يې برقرار وساته.

که چېرې ده ته د حضرت صديق اکبر رضي الله عنه په موقف باندې شرح صدر نه وى شوى، نو ددې اوقافو د حيثيت بدلولو نه هغه ته هيڅ مانع نه و.

خلاصه دا چې د ميراث غوښتنه ددې حضراتو له لورې نه يوځل وشوه بيا بيا نه ده شوې او دا د مال او دولت په حرص سره تعبير کول هيڅکله صحيح نه دي. دې ته اجتهادي رايه بايد وويل شي، که چېرې هغوى له دې موقف نه رجوع هم نه واى کړې بيا هم دوى د ملامتيا قابل نه وو او س کله چې هغوى له دې نه رجوع هم کړې، نو دا د هغوى د نفس سره د مخالفت او د للهيت يو اعلى ترين مثال دى. له دې وروسته ددې حضراتو خلاف خبره کول يوازې د کم علمي نه، بلکې ايمان د نقصان دليل هم دى.

(۳) د حضرت علي او حضرت عباس رضي الله عنهما خپل مينځ کې اختلاف

ددې تنازع (اختلاف) منشا پورته ذکر شوې ده او دا هم معلومه ده چې دا اختلاف د نفسانيت له وجې نه و، نه د مال او دولت له حرص سره ددې څه تعلق و، بلکې دا وقافو په انتظام کې دراېې د اختلاف په وجه حضرت عباس رضي الله عنه ته د حضرت علي رضي الله عنه نه وقتي طور باندې شکايت پيدا شوى وا وڅنګه چې مخکې بيان شو چې دا سې د نظر اختلاف نه بد دى او نه د فضل او کمال منافي دى، خو پورې چې د حضرت عباس رضي الله عنه د دې الفاظو تعلق دى کوم چې په سوال کې نقل شوي دي او د کوموپه وجه چې (نعوذبالله) په هغه باندې د اخلاقي کمزورې فتوا لګول شوې وه، نو مستفتي دا الفاظ وليدل خو دا سوچ يې ونکړ چې دا الفاظ چاويلي وواو چاته يې ويلي وو؟ او ددې دواړو په مينځ کې د کشرى او مشرى څه رشته وه؟ او عجيبه دا ده چې د قاضي ابوبکر بن العربي رحمه الله د کوم کتاب په حوالې سره چې دا الفاظ

نقل شوي دي هماغه كتاب كې په خپله موصوف چې كوم څواب وركړى دى هغه هم نظرانداز كول پكار دي، ابوبكربن العربي رحمة الله په "العواصم"كې دحضرت عباس رضي الله عنه دا الفاظ نقل كوي او ليكي:

قلنا أماقول العباس لعلي, فقول الأب للابن ,وذلك على الرأس محمول, وفي سبيل المغفرة مبذول, وبين الكبار والصغار ,فكيف الآباء والأبناء مغفور ,موصول. (صفحه۱۹۶)

ترجمه: موږ وايو چې دحضرت علي رضي الله عنه په باره كې دحضرت عباس رضي الله عنه الفاظ، دزوى په حق كې د پلار الفاظ دي ،چې په سرسترګو كېښودل كيږي اويواځې په سبيل المغفرت كې ويل كيږي ، مشران كه چېرې د كشرانو په حق كې داسې الفاظ استعمال كړي نوهغه دمغفرت لايق (وړ)او په صله رحمي باندې حمل كيږي،نو څنګه به دپلار الفاظ د زوى له پاره دمواخذې قابل شي.

او د"العواصم" په حاشيه كې دفتح الباري (ج۶ص۱۲۵) په حواله سره يې ليكل شوي دي:

قال الحافظ: ولم أرفي شئ من الطرق أنه صدر من عليّ في حق العباس شئ بخلاف مايفهم من قوله في رواية عقيل" استبا" واستصوب المازري صنيع من حذف هذه الالفاظ من هذا الحديث, وقال: لعل بعض الرواة وهم فيها, وإن كانت محفوظة فأجود ماتحمل عليه أن العباس قالها دلا لأعلى علي لأنه كان عنده بمنزلة الولد فأراد ردعه عمايعتقد أنه مخطئ فيه. (صفحه ۱۹۴)

ترجمه: حافظ ابن حجر رحمة الله فرمايي چې په يو روايت كې هم زما له نظرنه دانه دي تيرشوي چې دحضرت علي رضي الله عنه دطرف نه د حضرت عباس رضي الله عنه په حق كې څه ويل شوي وي. يواځې د عقيل په روايت كې د"استبا" دلفظ نه معلوميږي او مازرى رحمة الله دهغه راويانو طرزعمل صحيح ګرځولى دى، چاچې په دې حديث كې دا الفاظ حذف كړي دي، مازرى رحمة الله وايي چې غالبًا يوراوي ته به وهم شوي وي اوهغه په غلطۍ سره دا الفاظ نقل كړي دي اوكه دا الفاظ محفوظ وي نوددې بهترين محمل دا دى چې حضرت عباس رضي الله عنه دا الفاظ دناز په بناء باندې وويل ځكه چې دحضرت على رضي الله عنه حيثيت دهغه په نزد داولاد و، هغه يې په سختوالفاظو له داسې څه نه منع كول غوښتل چې دهغه په باره كې دهغه دا خيال و چې دى په غلطۍ باندې دى.

دحافظ ددې عبارت نه لاندې بيان شوي امور واضحه شو:

۱: دحضرت علي رضي الله عنه دطرف نه دحضرت عباس رضي الله عنه په حق كې هيڅ قسمه نامناسبه لفظ نه دى استعمال شوى اودعقيل په روايت كې چې د"استبا" په لفظ سره كوم وهم راغې هغه صحيح نه دى.

۲: دحضرت عباس رضي الله عنه چې كوم الفاظ دحضرت علي رضي الله عنه په حق كې نقل شوي دي په هغه كې هم د راويانو اختلاف دى بعضى دا نقل كوي اوبعضى يې نه نقل كوي، حافظ مازري رحمة الله په

د هغو راويانو تصديق کړی چاچې دا الفاظ نه دي نقل کړي، کومو راويانوچې نقل کړي دي هغوی ته يې د خطاء نسبت کړی دی او دا يې د يو راوي وهم ګڼلی دی.

۳: که چېرې فرض کړه دا الفاظ محفوظ هم وي نو د حضرت علی رضی الله عنه حيثيت د حضرت عباس رضی الله عنه په وړاندې د زوی پشان دی او مور پلار که چېرې د اولاد په حق کې داسې الفاظ استعمال کړي نو دا د هغوی په بزرګانه نازباندې حمل کيږي، څوک عقلمن دا الفاظ نه په حقيقت باندې حمل کوي او نه مور او پلار د داسې الفاظو په ويلو ملامت ګڼل کيږي، په دې وجه د حضرت عباس رضی الله عنه دا الفاظ د مشرۍ په ناز باندې محمول دي.

په تمهيدي نکاتو کې مې د حضرت موسی عليه السلام واقعې طرف ته اشاره کړې ده د حضرت عباس رضی الله عنه دا واقعه د موسی عليه السلام واقعې سره پرتله (مقايسه) کړئ او وګورئ! ايا دا وقعه هغې واقعې نه هم زياته سخته ده؟

که چېرې د حضرت موسی عليه السلام په مقام او مرتبه کې د دې غوسې له وجې څه فرق نه راځي نو که حضرت عباس رضی الله عنه د خپل زوی په حق کې د خپل مقام او مرتبې په لحاظ سره څه الفاظ استعمال کړل په هغه باندې (نعوذبالله ثم نعوذبالله) د اخلاقي کمزورئ فتوا ورکول زه نه پوهيږم چې د دين، ايمان، عقل او پوهې کومه غوښتنه ده؟ بيشکه کنځل کول د شريفانو طريقه نه ده، خو دلته خوبې نه بازاري کنځل کړي دي او نه له پردي کس سره سختې خبرې ، ايا خپل اولاد ته په سختو الفاظو کې زورنه (تهديد) ورکول هم د شريفانو له طريقې نه خلاف دي؟ او بيا په حديث کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا دعا راغلې ده:

اللّهم إنى أتخذعندك عهدًالن تخلفنيه، فإنما أنابشرفأی المؤمنين آذيته، شتمته، لعنته، جلدته، فاجعلها له صلوة، وزكوة، وقربة، تقربه بهاإليك يوم القيامة.(صحيح مسلم جلد۲صفحه ۳۲۴)

ترجمه: "اې الله! زه ستانه يوه وعده اخستل غواړم، ته زما په حق کې هغه ضرور پوره کړه، ځکه چې زه هم انسان يم، که کوم مومن ته ما تکليف رسولی وي، هغه ته مې څه نامناسبه الفاظ ويلي وي ، په هغه مې لعنت کړی وي، هغه مې وهلی وي، نو ته دا دده له پاره د رحمت، پاکي او د قرب ذريعه جوړه کړه چې د دې په وجه هغه ته د قيامت په ورځ خپل قرب او نزديکت ورکړې.

په دې حديث کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل طرف ته د بد رد ويلو نسبت کړی دی، چې د هغه نه مراد دا دی چې که چېرې د يو مسلمان په حق کې زما د ژبې نه داسې لفظ وتلی وي چې هغه يې مستحق نه و نو ته دا د هغه له پاره د رحمت او د قرب ذريعه جوړه کړې، ايا د دې ترجمه په کنځل کولو سره به نعوذبالله په نبي عليه السلام باندې به هم د اخلاقي کمزورۍ تهمت لګول کيږي او دا به د

- شریفانو د طریقې نه خلاف ګڼل کیږي؟ الله پاك دې په خبرو د پوهیدو او د مرتبې د پیژندلو له دولت نه یو مسلمان هم نه محرومه کوي.

(٤) د ډنډې (زور) حکومت

دحدیث اصل الفاظ دادي "أنت والله بعدثلث عبدالعصا" (په الله قسم! تاسو به درې ورځې وروسته محکوم شئ) دصحیح بخاري (ج۲ص۶۳۹) په حاشیه کې "عبدالعصا" لاندې لیکل شوي دي:

کناية عن صيرورته تابعالغيره كذافى التوشيح قال فى الفتح: والمعنى: أنه يموت بعدثالث وتصيرأنت ماموراعليك وهذا من قوة فراسة العباس.

ترجمه: دا کنایه ده له دې خبرې چې هغه به دنورو تابع شي، توشیخ کې همدارنګه دي، حافظ په فتح الباري کې لیکي چې مراددادی چې درې ورځې وروسته به رسول الله ﷺ وفات شي او په تاسو به دنورو خلکو حکومت وي دا دحضرت عباس رضي الله عنه دفراست قوت و.

خلاصه دا چې د "عبدالعصا" ترجمه" ترجمه کونکي "دډنډې حکومت" کړې ده، ددې نه مراد دا دی چې تاسو به محکوم یئ او ستاسو حیثیت به دعامو خلکو پشان وي.

دلته دا عرض کول ضروري دي چې په کنائي الفاظو کې لفظي ترجمه مرادنه وي او که چېرې لفظي ترجمه مراد کړل شي نومضمون به بدشکله شیاودویونکي اصل مرادبه دنظرنه پناه. شي، مثلاً په عربو کې "فلان کثیرالرماد" دسخاوت نه کنایه دی که چېرې ددې لفظي ترجمه واخستل شي چې د "فلانکي په کورکې دایرو ډیری دي" نوکوم سړی چې داصل مرادنه خبرنه وي هغه نه به دا فقره دمدح په ځای دمذمت په نظرراشي.

هم داحال دعبدالعصا ګڼل پکاردي، ترجمه کونکي ددې لفظي ترجمه وکړه اوعام لوستونکي خو دعربو دمحاوروا تو اودلفظ ددې کنائي مراد نه خبرنه وي په دې وجه هغه نه به دډنډو د باران نه پرته هیڅ په نظر رانشي.

په یو حدیث کې راځي: **لاترفع عصاك عن أهلك**

(دخپل کورروالونه کله هم همسا (ډنډه) مه پورته کوه!

په مجمع البحار کې ددې په شرح کې لیکل شوي:

أي لاتدع تأديبهم، وجمعهم على طاعة الله تعالى، يقال: "شق العصا" أى فارق الجماعة ولم يرد الضرب بالعصاالمعروفة بل أرادالأدب وذا حاصل بغيرالضرب. (ج: ۳ص: ۶۱۰. طبع دائرة المعارف العثمانية دكّن هند)

ترجمه: یعني هغوی نه ادب ورکول او هغوی دالله پاك په طاعت باندې راجمع کول کله هم مه پریږده، په محاوره کې ویل کیږي چې فلانکي امسا وشکوله "یعني ډلې نه بېل شو، دلته

دنبي عليه السلام مراد دا مسا نه وهل نه دي بلکې دا يو مثال دی، دلته هم د عصا نه هغه مشهوره امسا مراد نه ده، بلکې ادب ښودل ترې مراد دي او دا له وهلو نه پرته هم کيدای شي.
همدارنګه په "عبد العصا" کې هم په مشهورو معناوو کې امسا مراد نه ده، نه د ډنډې د حکومت دا مطلب دی چې هغه حکومت به په ډنډه باندې قائم وي، يا به قائم ساتل کيږي بلکې پخپله حکومت او اقتدار يې په همدا سره تعبير کړی دی او مطلب دا دی چې تاسو به د نورو د حکومت ماتحت يئ!
حضرت علي رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم رشته دار او زوم و او هغه صلى الله عليه وسلم د سوري لاندې د هغه حيثيت ديو شهزاده و (که چېرې دا تعبير بې ادبي نه وي) حضرت عباس رضي الله عنه چې هغه ته څه ويل هغه دا دي چې درې ورځې وروسته به د نبي عليه السلام د مهرباني د سوري پورته کېدل محسوسيږي، له دې نه وروسته به ستا حيثيت د ملت اسلاميه د عامو کسانو پشان وي.

(۵) د حضرت عباس رضي الله عنه مشوره

د قاضي ابوبکر رحمه الله په کتاب "العواصم من القواصم" کې د حضرت عباس رضي الله عنه الفاظ داسې نقل شوي دي:

إذهب بنا إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فلنسأله: فيمن يكون هذا الأمر بعده, فإن كان فينا علمنا ذالك, وإن كان في غيرنا, علمنا فأوصى بنا. (صفحه ۱۸۶)

ترجمه: راځه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته ورشو او د هغه صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړو چې ستاسو نه وروسته به دا د خلافت کار د چا سره وي که چېرې موږ سره وي نو موږ ته به معلومه شي او که د بل چا سره وي نو بيا به هم موږ ته معلومه شي په دې صورت کې به هغه زموږ په حق کې وصيت وکړي.
او دا بعينه د بخاري شريف (ج۲ ص۶۳۹) الفاظ دي "اول خو تا د دې الفاظو ترجمه صحيح نه ده کړې پته نه شته چې دا ترجمه تاسو پخپله کړې ده يا مو د بل چا ترجمه نقل کړې ده.
دويم دا چې عالمان ترننه پورې صحيح بخاري درس کوي، خو د حضرت عباس رضي الله عنه په الفاظو کې هغوی ته کله هم څه اشکال نه دی وړاندې شوی، پخپله قاض ابوبکر بن العربي رحمه الله دا روايت نقل کوي او ليکي:

رأي العباس عندي أصح وأقرب إلى الآخرة, والتصريح بالتحقيق, وهذا يبطل قول مدعی الإشارة باستخلاف عليّ, فكيف أن يدعى فيه نص. (ص۱۸۶،)

ترجمه: د حضرت عباس رضي الله عنه رايه زما په نزد زياته صحيحه او آخرت ته زياته نژدې ده، په دې کې د تحقيق تصريح ده او له دې نه د هغو خلکو قول باطل کيږي کوم چې دعوه کوي چې نبي عليه السلام د حضرت علي رضي الله عنه د خليفه کېدو اشاره کړې وه، څنګه به په دې باب کې د نص دعوه وکړل شي.

انصاف وکړئ چې کومه رایه ابوبکربن العربي رحمه الله زیاته صحیح او آخرت ته زیاته نږدې ښودلې ده تاسو دهماغه کتاب په حواله سره هغه "دخلافت په فکر کې پریوت" سره تعبیرکوئ "او حضرت عباس رضی الله عنه دتور (الزام) له پاره ښه جوړوئ!

ستاسو دا خیال هم ښه ګمان دی چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم د ناوغی. او وفات غم که چېرې غالب وی نو دا خیالات او کارونه به چیرته وو، په خپله چې تاسو کوم روایت نقل کړی دی په هغه کې تصریح ده چې حضرت عباس رضی الله عنه دا اندازه لګولې وه چې دنبي علیه السلام صحت دمایوسي حدته رسیدلی دی او هغه صلی الله علیه وسلم خپلو خادمانو به دبیلتون داغ ورکونکی دی.نو په هم دې حالت کې که چېرې یوسړی دا غواړي چې کوم کارونه داختلاف او جګړې او په امت کې دبېلتون اولیرې والي سبب کیدای شي دهغه صفائی پخپله دنبي علیه السلام په ذریعه کول مناسب دي.دې له پاره چې وروسته انتشار او فتنه نه وي،نو ستاسو په خیال هغه ډېر سخت زړی دی،چې دهغه له نبي علیه السلام سره لږ تعلق او محبت هم نه و،نه ورسره دهغه صلی الله علیه وسلم دناروغی غم وا او نه دوفات غم ،تاسو وایئ چې ایاد سوچ ښه طریقه ده؟

تاسو ته معلومه ده چې عباس رضی الله عنه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دخاندان یولوی او مشرسړی وا او دا هم تاسو ته معلومه ده چې دخاندان مشران په داسې موقعو باندې دراتلونکو واقعاتو خطرناك منظر پریشانه کوي،که چېرې دیو مشکل خطره وي نو هغه دوفات کیدونکي سړي په ژوند کې دهغه دحل کولو تدبیر کوي،دا هغه ورځني واقعات دي،چې تقریباً هرسړی ترې خبردی،په داسې موقعو باندې دداسې تجربه کارو مشرانو لاښو ونې دهغوی په ښه تدبیر او ژور نظر باندې حمل کیږي او په هیڅ تولنه (مُعاشره) کې هم دهغه بهترینه مشوره په سخت زړي (سنګ دلي) باندې نه حمل کیږي اونه دچاپه ذهن کې دا وسوسه راځي چې ددې لویو مشرانوله مرحوم سره څه تعلق نشته، مړ کېدونکی مري او دوی سره د داسې خبرو فکر دی.

هم دې حسن تدبیر او ژور نظر حضرت عباس رضی الله عنه په دې رایې باندې مجبور کړ چې که نبي کریم صلی الله علیه وسلم له دنیا نه تشریف وړي اوله دې وروسته دهغه صلی الله علیه وسلم دخلافت مسئله الله دې نکړي څه مشکل صورت اختیارنه کړي،له دې وجې نه ددې صفایي که پخپله دنبي علیه السلام په ذریعه وشي نوبهتره به وي او دهغه داخطره یوائې یوه وهمي اندازه نه وه بلکې وروسته همداسې وهم و او دا خودالله تعالی یوه خاصه مهرباني وه، چې دا تنازع فوراً ختمه شوه،که نه الله مه کړه که دا شخړه اوږده شوې وای نوفکر وکړئ چې له دې امت به څه جوړ شوي و؟ اوس که چېرې ددې نا اُمیدي او مایوسي په حالت کې حضرت عباس رضی الله عنه دخپلې پوهې او عقل نه دا مشوره ورکړه چې دا قصه پخپله دنبي علیه السلام په ژوندمبارك کې فیصله کول پکار دي نو تاسو ولې وایئ چې هغه څه بدکار وکړ؟

پورته چې ماکوم د الله پاك د مهرباني ذکر کړی دی غالبًا هم دې طرف ته نبي کريم ﷺ پخپل ارشاد مبارك ,, يأبى الله والمؤمنون إلا أبابكر" کې ارشاره کړې ده:

عن عائشة قالت قال لى رسول الله ﷺ فى مرضه :ادعى لى ابابكر أباك وأخاك حتى اكتب كتابا فإني أخاف أن يتمنى متمن ويقول قايل: أنا أولى, ويأبى الله والمؤمنون إلا ابابكر.(صحيح مسلم جلد٢صفحه ٢٧٣)

ترجمه: حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چې نبي كريم ﷺ پخپل مرض الوفات کې ماته وفرمايل : ماته خپل پلار ابوبکر رضي الله عنه اوخپل رور راوغواړه چې يو خط وليکم ځکه چې زه ويرېږم چې يو ارزو کونی دا ارزو وکړي اويو ويونکی ووايي چې زه له ټولو نه زيات د خلافت حقداريم سره له دې چې الله تعالى او مومنان له ابوبکر رضي الله عنه نه پرته دبل چا انکار کوي.

دصحيح بخاري په يو روايت کې دي:

لقدهممت أو أردت أن أرسل إلى أبي بكر وإبنه فأعهد أن يقول القايلون أويتمنى المتمنون ثم قلت: يأبى الله ويدفع المومنون أويدفع الله ويأبى المؤمنون.(صحيح بخاري جلد٢صفحه ٨٢٦)

ترجمه:زما اراده وه چې زه حضرت ابوبکر رضي الله عنه اودهغه زوی را وغواړم اوليک پرې وليکم، ځکه چې ماته ويره ده چې ويونکی به ووايي (او آرزو کونکی به آرزو وکړي،خو بياماوويل چې الله تعالى به (دابوبکرنه پرته دبل چا) انکار وکړي او مسلمانان به دفاع وکړي يايې دا وفرمايل چې الله تعالى به دفاع وکړياو مسلمانان به انکار وکړي.

ددې حديث نه معلومه شوه چې کومه ويره داختلاف اوشخړې دحضرت عباس رضي الله عنه په زړه کې وه چې دهغه صفايي کول يې غوښتل ددې ويرې نه دنبي عليه السلام ذهن مبارك هم خالي نه واو نبي عليه السلام پخپله هم غوښتل چې ددې ليکل شوې فيصله وکړل شي،خو هغه بيا دالله تعالى په رحمت اومهرباني او د مسلمانانو په پوهه اوبصيرت باندې اعتماد وکړاودا معامله يې الله پاك ته وسپارله،چې انشاء الله ددې له پاره به هم د ابوبکر رضي الله عنه انتخاب وي اوداختلاف څه خراب حالت به انشاء الله نه راوړاندې کيږي.

غرض داچې دحضرت عباس رضي الله عنه دا بزرګانه مشوره ډېره صحيحه اومخلصانه وه اوپه هغه کې څه داسې خبره په نظرنه راځي چې دهغې دصفايي يادمعذرت ضرورت وي ،پاتې شو دحضرت عباس رضي الله عنه دا ارشاد چې که چېرې خلافت زموږ نه پرته بل چاته ورکول کيږي نونبي کريم ﷺ به دخپل ځان نه روسته خليفه ته زموږ په باره کې وصيت وکړي.دا هم يواځې دخپلو مفاداتو تحفظ نه دی، (څنګه چې په سوال کې ويل شوي دي) بلکې دا يو باريك حکمت باندې بنا دی،هغه داچې دنبي کريم ﷺ دمتعلقينو عزت او قدر په حقيقت کې هم دنبي عليه السلام دمحبت ، عظمت ، عزت او قدر يوه برخه ده،هم داوجه ده چې نبي عليه السلام دخپلو ټولو

خادمانو او متعلقینو په باره کې په مختلفو عنواناتو سره تاکید او وصیت کړی دی، کله دعامو صحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کې، کله د خلفاء راشدینو په باره کې "کله د حضرات انصارو رضی الله عنهم په باره کې، کله د امهات المؤمنین په باره کې او کله د حضرت علي او حسنینو رضی الله عنهم په باره کې څنګه چې د حدیثو طالبان له دې امورو نه ښه واقف دي.

د حضرت عباس رضی الله عنه د وصیت د مشورې منشا دا ده چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه وروسته که خلافت د نبي علیه السلام رشته دارو ته ورنه کړل شي نو نبي علیه السلام دې د هغوی د عظمت او قدر په باره کې خصوصي وصیت وکړي ترڅو د خلافت بلافصل نه د دوی محرومي د دوی نقص او نااهلیت ونه ګڼل شي او خلک په دوی بد رد ووایي او د نبي علیه السلام سره د بې وفایي او بې مروتي مرتکب نشي، حضرت عباس رضی الله عنه سره د خپلو مفاداتو فکر نه و بلکې د هغو خلکو د ایمان او دین فکر و چې د خپلې کم عقلي نه د دوی د خلافت نه محرومي په دوی باندې د اعتراض بانه جوړه کړي.

او که چېرې دا فرض شي چې هغه د خلافت نه د محرومي په صورت کې د خپل خاندان د مفادو د تحفظ په باره کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه وصیت کول غوښتل بیا هم سوچ کول پکاردي، چې آخر هغه د چا خاندان دی؟ ایا د نبوت د خاندان په باره کې د نبي علیه السلام نه د خیر مطالبه کول جرم دی؟ حضرت عباس رضی الله عنه د خپلو ذاتي مفادو تحفظ نه کاو. (اګرکه عقلاً او شرعًا دا هم قابل اعتراض خبره نه ده) هغه خود نبي علیه السلام نه د هغه صلی الله علیه وسلم د خاندان په باره کې د خیرخبره ویل غوښتل، ایا د نبي علیه السلام خاندان د یو مسلمان په نظر کې د دې لائق هم نه دی چې نبي علیه السلام د هغوی په باره کې څه د خیرخبره امت ته وفرمایي؟ او چې کوم سړی دا خیال هم په زړه کې راولي نو هغه دې د بدو ردو نښه جوړ کړل شي؟ انا لله وانا الیه راجعون!

ایا په دې مرض الوفات کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د تکلیف د سختي سره سره د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په باره کې وصیتونه نه وو کړي؟[1] ایا د حضرات انصارو په باره کې یې وصیت نه و کړی؟[2] ایا

---

[1] عن ابن عباس قال: خرج رسول الله صلى الله عليه و سلم في مرضه الذي مات فيه عاصبا راسه بخرقة فقعد على المنبر فحمد الله وأثنى عليه ثم قال (إنه ليس من الناس احد أمن علي بنفسه وماله من أبي بكر بن أبي قحافة ولو كنت متخذا من الناس خليلا لاتخذت أبا بكر خليلا ولكن خلة الإسلام أفضل سدوا عني كل خوخة في هذا المسجد غير خوخة أبي بكر).....وفى قوله عليه السلام :سدوا عنى كل خوخة، يعنى الابواب الصغار الى المسجد غيرخوخة ابى بكر اشارة الى الخلافة اى ليخرج منها الى الصلاة بالمسلمين(البداية والنهاية ج:٥،ص: ٢٣٠،طبع دارالفكر،بيروت)

[2] أن رسول الله قال في مرضه: فجلس على المنبر ثم قال: يا معشر المهاجرين إنكم اصبحتم تزيدون، والانصار على هيئتها لا تزيد، وإنهم عيبتي التي أويت إليها، فاكرموا كريمهم، وتجاوزوا عن مسيئهم. (البدايةوالنهاية ج:٥،ص:٢٢٩) ان رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج فى مرضه الذى مات فيه..... فجلس على المنبر فذكر الخطبة وذكر فيه الوصايا بالانصار(البدايةوالنهاية ج:٥،ص: ٢٣٠)

د غلامانو او خادمانو په باره کې يې وصيت نه و کړى؟[1] که چېرې ديو نيك سړي په زړه کې خيال راشي چې نبي عليه السلام دې دخاندان نبوت په باره کې هم څه وصيت وکړي نو دادې خود غرضي و ګڼل شي؟ ايا دا دصحيح فكر طريقه ده؟
غالبًا په هم دې مرض وفات كې نبي عليه السلام امهات المومنين ته وفرمايل:
إن أمركن لمما يهمني من بعدي ولن يصبر عليكنّ إلا الصابرون الصديقون.
(ترمذى جلد۲صفحه ۲۱۶ مناقب عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه مستدرك حاكم جلد۳صفحه ۳۱۲، موارد الظمآن صفحه ۵۴۷ حديث ۲۲۱۶، مشكوة صفحه ۵۶۷)
ترجمه: بيشكه زمانه وروسته ستاسو حالت ما فكرمند كوي او ستاسو (په خرچ برداشت كولو) باندې به صبر نه كوي، مګر صبر كونكي او رېښتوني خلك.
غرض دا چې دژوند نه دناامېدۍ په حالت کې دمړه کېدونکي دمتعلقينو په باره کې دهغه فكرمندي يو فطرتي خبره ده په خپله نبي كريم صلى الله عليه وسلم دتعلق مع الله او دتوكل على الله دتلو نه دلوړ مقام سره سره دخپل ځان نه وروسته دخپلو متعلقينو په باره کې فكرمند شو، دهمدې عكس دحضرت عباس رضي الله عنه په زړه باندې پرېوت او دهغه دا خيال شو چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم دخپل خاندان والو په باره کې هم څه ارشاد وفرمايي.
نبي كريم صلى الله عليه وسلم دخپلو رشته دارو په باره کې هم ډېر تاكيدي وصيتونه كړي دي، دغه وجه ده چې صحابه كرامو رضي الله عنهم خصوصًا خلفاء راشدينو رضي الله عنهم ته دنبي عليه السلام د رشته دارو د رعايت ډېر اهميت و، چې دهغه بيشماره واقعات شته، دلته د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه يوه فقره نقل كوم، چې هغه د"العواصم" صفحه ۴۸ په حاشيه کې شيخ محب الدين الخطيب رحمه الله دصحيح بخاري په حوالې سره نقل كړې ده:
والذى نفسي بيده لقرابة رسول الله صلى الله عليه وسلم أحب إلىّ أن أصل من قرابتي.
(مناقب قرابت رسول صلى الله عليه وسلم)، (صحيح بخاري ج:۱ ص ۵۲۶ باب مناقب قرابة رسول الله)
ترجمه: په هغه ذات مې دې قسم وي چې دهغه په قبضه کې زما ساه ده، دنبي كريم صلى الله عليه وسلم خپلوانو سره ښه سلوك كول ما ته دخپلو رشته دارو سره تر ښه سلوكه زيات خوښ دي.
بيشكه ديو مومن مخلص هم دا ايماني جذبه پكار ده، ځكه چې دا دنبي عليه السلام سره دمحبت او تعلق ښكاره علامت دى، دنبي عليه السلام ارشاد مبارك دى:
أحبّوا الله لما يغذو كم به من نعمه وأحبّوني لحب الله وأحبّوا أهل بيتي لحبى.
(ترمذى۲، ۲۲۰ حاكم ۳، ۱۵۰ عن ابن عباس رضي الله عنهما، حسنه الترمذى وصححه الحاكم ووافقه

---

[1] عن انس بن مالک قال: كانت عامة وصية رسول الله صلى الله عليه وسلم حين حضرة الموت الصلاة وما ملكت ايمانكم .....الخ (البداية والنهاية ج:۵، ص:۲۳۸)

الذهبي ورقم له السيوطي رحمه الله في الجامع الصغير بالصحة. جلد ۱. صفحه ۱۱)

ترجمه: الله تعالی سره محبت ساتئ، ځکه چې پخپلو نعمتونو سره تاسو پالي. زما سره محبت ساتئ د الله تعالی د محبت له وجې نه او زما د اهل بیتو سره محبت ساتئ زما د محبت له وجې نه.

(٦) حضرت علی رضی الله عنه او د خلافت غوښتنه

د حضرت عباس رضی الله عنه د دې مشوره په ځواب کې چې ځه! لاړ شو د نبي کريم صلی الله علیه وسلم سره معلومات وکړو چې خلافت به زموږ سره وي او که د بل چا سره به وي؟ حضرت علی رضی الله عنه وفرمايل:

إنا والله لئن سالنا ها رسول الله صلی الله علیه وسلم فمنعناها لا يعطيناها الناس بعده، وإني والله لا أسالها رسول الله صلی الله علیه وسلم. (العواصم صفحه ۱۸٦، صحیح بخاري جلد ۲ صفحه ٦۳۹)

ترجمه: په الله قسم! که چېرې موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په دې باره کې سوال وکړو او هغه یې موږ ته رانکړي نو خلک به يې د هغه صلی الله علیه وسلم نه وروسته موږ ته هيڅکله رانکړي او په الله قسم! زه خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په دې باره کې پوښتنه نه کوم.

د کوم سړي په ذهن کې چې د حضرت علی رضی الله عنه طرف ته د خیرمیلان نه وي هغه خو به د دې فقرې مطلب هم داوګڼي چې د هغه مقصد د حضرت عباس رضی الله عنه مشوره نه قبلول و او په دې باندې هغه داسې دليل بيان کړ چې حضرت عباس رضی الله عنه په هغه سره چپ پاتې شو. يعني که چې تاسو پخپله هم تسليموئ چې څنګه دا احتمال دی چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم به خلافت موږ ته راکړي همدارنګه دا هم احتمال دی چې ديو بل چا نوم تجويز کړيا وس که چېرې دا معامله مبهمه پاتې شي نو د دې ګنجائش شته چې مسلمانان د خلافت له پاره موږ منتخب کړي، خو که چېرې سوال کولو نه وروسته نبي علیه السلام منع وکړي نو زموږ د انتخاب به هيڅ ګنجائش پاتې نشي اوس ووايئ چې دا د ابهام صورت ستاسو په خيال کې زموږ له پاره بهتر دی که د تعيين صورت؟

ښکاره خبره ده چې په دې تقرير باندې دليري نه هم چيرته د الزام شك په نظر نه راځي کوم چې تاسو په دې ويناسره په حضرت علي رضی الله عنه باندې لګول وغوښتل چې:

"د هغه د ارادې نه دا ښکاري چې که چېرې رسول الله صلی الله علیه وسلم انکار هم وکړي موږ ته خلافت پکار دی او دا هم چې د هغه همدا توقع وه، چې نبي علیه السلام به منع کوي ځکه هغه وويل چې زه سوال نه کوم او د نبي علیه السلام نه وروسته به دا خلافت حاصلوم".

د دې الزام د ترديد له پاره د حضرت علي رضی الله عنه طرز عمل کافي دی، که چېرې د هغه اراده داوي چې هغه به د نبي علیه السلام د ممانعت سره سره (نعوذ بالله) خپل خلافت قائموي نو هغه به ضرور داسې کړي و، خو واقعات ګواه دي چې د دريو خلفاوو په دورکې هغه يوه ورځ هم د خلافت دعوه نه ده کړې، حضرت علي رضی الله عنه په دې پوهيده چې د نبوت د خلافت مدار يواځې په نسبي خپلولۍ باندې نه دی بلکې په فضل او کمال او په اسلام کې په وړاندې والي باندې دی او هغه په دې هم پوهيده چې په دې کارونو کې حضرت صديق اکبر رضی الله عنه د ټولو نه اوچت

دی او دهغه په موجودیت کې بل څوک دخلافت حقدارنه دی. په صحیح بخاري کې دهغه دزوی حضرت محمدابن الحنفیه نه روایت دی:

قلت لأبي: أي الناس خير بعدالنبي ﷺ؟ قال: أبو بكر. قال: قلت: ثم من؟ قال: عمر، وخشيت أن يقول: عثمان قلت: ثم أنت؟ قال: ماأنا إلارجل من المسلمين. (صحيح بخاري جلد۱صفحه ۵۱۸)

ترجمه: ماخپل پلار حضرت علي رضي الله عنه نه وویل: له نبي علیه السلام نه وروسته ټولونه افضل اوبهترسړی څوک دی؟ویې فرمایل: ابوبکر رضي الله عنه، ماوویل: له هغه نه وروسته؟ویې فرمایل: عمر رضي الله عنه، زه ووېریدم چې که اوس ترې پوښتنه وکړم نودحضرت عثمان رضي الله عنه نوم به واخلي ځکه مې سوال بدل کړ او ومې ویل: له هغه نه وروسته ستاسو مرتبه ده؟ ویې فرمایل: زه خو دمسلمانانو دډلې نه یوکس یم.

هغوی به دخپل خلافت په زمانه کې په منبرباندې دا اعلان کاو:

خيرهذه الأمة بعدنبيهاأبو بكر، وبعدأبي بكرعمر رضي الله عنه، ولوشئت أخبرتكم بالثالث لفعلت.

(مسند احمد جلد۱ صفحه ۱۰۶)

ترجمه: دنبي کریم ﷺ نه وروسته په دې امت کې له ټولونه افضل ابوبکردی او دابوبکرنه وروسته عمر رضي الله عنه او که زه وغواړم نودد ریمې مرتبې سړی هم ښودلی شم.

ددې سلسلې ټول روایتونه حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله په "ازالة الخفاء (ج۱ص۲۲" کې جمع کړي دي، هلته یې وګورئ!

حضرت علي رضي الله عنه په دې هم پوهیده چې نبي کریم ﷺ په اخري ورځو کې ابوبکر رضي الله عنه ته چې کوم امامت صغری حواله کړی و داپه حقیقت کې دامامت کبری له پاره دهغه استخلاف دی،

أخرج أبوعمرو في الاستيعاب عن الحسن البصري عن قيس بن عباد قال: قال لي علي بن ابي طالب: أن رسول الله ﷺ مرض ليالي وأياما ينادي بالصلوة فيقول: مروا أبابكريصلي بالناس فلما قبض رسول الله ﷺ نظرت، فإذا الصلوة علم الاسلام وقوام الدين فرضينالدنيانامن رضي رسول الله ﷺ لديننا فبايعنا ابابكر رضي الله عنه. (ازالة الخفا جلد۱صفحه ۶۸)

ترجمه: حافظ ابوعمرو ابن عبدالبر رحمه الله په الاستیعاب کې له حضرت حسن بصري رحمه الله اوهغه له قیس بن عباد نه روایت کوي چې حضرت علي رضي الله عنه ماته وفرمایل: رسول الله ﷺ څو څو ورځې شپې ناروغ و دلمانځه له پاره به چې اذان وشونو هغه ﷺ به وفرمایل: ابوبکر رضي الله عنه ته ووایئ چې لمونځ ورکړي، چې کله رسول الله ﷺ وفات شو نوماولیدل چې مونځ داسلام د ټولونه لویه نښه او ددین مدار دی. نوموږ دخپلې دنیا (دانتظام) له پاره هغه سړی خوښ کړ چې رسول الله ﷺ زموږ ددین له پاره خوښ کړی و. ځکه موږ دحضرت ابوبکر رضي الله عنه سره بیعت وکړ.

له دې وجې حضرت علي رضي الله عنه ته دنبي كريم صلى الله عليه وسلم نه ددې پوښتنې ضرورت نه و چې تاسو نه وروسته به خليفه څوک وي؟ له دې سره چې په حضرت علي رضي الله عنه كې هم دنبوت دخلافت قابليت او اهليت په كامله درجه موجود و او دنبي عليه السلام د ډېرو ارشاداتو نه هغه ته دا هم معلومه وه چې په خلافت كې هم دده برخه شته اودا خلافت به پخپل مقرره وخت باندې ده ته خامخا وركول كيږي، دنبي عليه السلام د دې ارشاداتو د تفصيل او تشريح ځاى دا نه دى دلته يواځې يو حديث نقل كوم:

عن أبي سعيد ن الخدري رضي الله عنه قال كنا ننتظر رسول الله صلى الله عليه وسلم فخرج علينا من بعض بيوت نسائه, قال: فقمنا معه, فانقطعت نعله, فتخلف عليها عليٌّ بخصفها, فمضى رسول الله صلى الله عليه وسلم, ومضينا معه ,ثم قام ينتظره وقمنا معه, فقال: إن منكم من يقاتل على تاويل هذا القران كما قاتلت على تنزيله فاستشرفنا وفينا أبوبكر وعمر رضي الله عنه فقال: لا! ولكنه خاصف النعل قال فجئنا نبشره قال: وكأنه قدسمعه.(مسنداحمد: ۸۲،۳ قال الهيثمي رواه احمدورجاله رجال الصحيح غير فطربن خليفه وهو ثقة مجمع الزوائد جلد۹ صفحه ۱۳۳).

ترجمه: د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چې موږه ناست وو دنبي كريم صلى الله عليه وسلم انتظار مو كاوو ، هغه صلى الله عليه وسلم د ازواج مطهراتو ديوكور نه را ووت ، موږ دنبي عليه السلام سره دتلو له پاره ودريدو نو دنبي عليه السلام پته مباركه وشليده، حضرت علي رضي الله عنه دهغې دجوړولو له پاره ايسارشو اونبي عليه السلام روان شو بيا دحضرت علي رضي الله عنه په انتظار كې ودريده او موږ هم ودريدو، نبي عليه السلام وفرمايل: په تاسو كې به يوسړى دقران په تاويل باندې جګړه كوي، څنګه چې ماددې په نزول باندې جګړه كړې وه. موږ ټول ددې په انتظاركې شوچې دابه څوک وي؟په موږ كې حضرت ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه هم وو .نبي عليه السلام وفرمايل: نه! بلكې له دې نه دپڼو ګنډلو والا مراددى، ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې موږ دزيرى وركولو له پاره حضرت علي رضي الله عنه ته راغلو نوداسې محسوسه شوه چې هغه دنبي عليه السلام دا ارشاد دمخكې نه اوريدلى دى.

له دې تفصيل نه دحضرت علي رضي الله عنه دوينا مطلب واضحه كيږي چې زه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم نه په دې باره كې سوال نه كوم او دا چې كه چېرې نبي عليه السلام انكار وكړ نوبيابه بې مسلمانان موږته كله هم رانكړي، ځكه چې كه چېرې نبي عليه السلام په دې موقع باندې دا فرمايلي واى(اودا فرمايل يواځې ګمان نه و بلكې يقيني و) چې زمانه وروسته علي رضي الله عنه خليفه مه جوړوئ!بلكې ابوبكر رضي الله عنه خليفه جوړ كړئ! نوددې زر په ذهن كې راتلونكى مفهوم خودا و چې دنبي عليه السلام نه وروسته خليفه بلافصل حضرت علي رضي الله عنه نه دى ،خو خلكوته داغلط فهمي ضرور كيداى شوه چې په علي رضي الله عنه كې دخلافت صلاحيت او اهليت نشته، ياداچې دنبوت په خلافت كې دهغه هيڅ برخه نشته او دهغه په دورخلافت كې به دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دهمدې ارشاد وړاندې

کولو سره خلک په دې غلط فهمي کې ولوېږي چې نبي ﷺ فرمايلي و چې"زمانه وروسته علي رضي الله عنه خليفه مه جوړوئ" دا هغه غلط فهمي ده چې په بناء يې حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل: که چېرې په دې موقع باندې نبي عليه السلام موږ منع کړو، نو دا خطره ده چې مسلمانان به ددې نه هميشه له پاره يو قانون جوړ کړي او موږ به دخلافت له پاره نااهله وګڼل شو. ښکاره خبره ده چې دا غلط فهمي دکومې چې خطره وه نه يوازې دنبي عليه السلام دمنشا خلاف به وي بلکې دنبي عليه السلام هغه ارشاداتو سره به يو بدترين ظلم هم وي چې هغه ﷺ دحضرت علي رضي الله عنه په باره کې فرمايلي دي.

﴿ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَـٰنِ وَلَا تَجْعَلْ فِى قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾ ﴾

د پوښتنه کونکي دويم ليک

محترم المقام جناب علامه محمد يوسف لدهيانوي صاحب!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته، وبعد:

دجناب دمحبت نه ډک ليک راورسېد. دا يو حقيقت دی چې په دې ليک ډېر وخت لګېدلی دی بيا ستاسو پشان مصروف سړي له پاره خو نور هم مشکل شي خو څنګه چې تاسو ليکلي دي چې "درفع الإلتباس" ديوازې خپرولو ارا ده لرئ له دې وجې نه دوضاحت له پاره ديو څو خبرو دليکلو جرات کوم څکه چې داخبرې زموږ داوچتې مرتبې په کتابونوکې ذکر دي، مترجمينو حضراتو دترجمه کولو په وخت عوام په دوه قسمه نقصان کې مبتلا کړل. يو خوخلک په شك کې مبتلاشي اوددې شك نه اماميه حضرات فائده اوچتوي، چې داهل سُنت په مذهب باندې بد وايي اودخپلو باطلو عقيدو اشاعت شروع کوي. بوعام سُني مسلمان چې دهغه مذهب د اوريدل شوو خبرو اوڅه معاشرتي رسمونو باندې (چې هغه ته په ميراث کې ورکول کيږي) مبني وي که چېرې اماميه هم نشي خود هغوی نه متاثره کيږي او په خپلو مشرانو بدګمانه شي.

نورې تولې خبرې به زه انشاء الله په ملاقات کې وکړم، خو فی الحال څو هغه خبرې ليکم چې که چېرې دهغه صفايي وشي، نو ستاسو داتحرير به ديو مقدس تحقيق مرتبه پيدا کړي (ان شاء الله) تاسو ليکلي دي چې په هرحال دحضرت ابوبکر رضي الله عنه له تنبيه نه وروسته هغوی په دې حديث کې نه څه جرح وکړه او نه يې بحث وکړ. بلکې دخپلې خبرې نه يې لاس واخست او دا دهغو مومنانو او قانتينو شان دی چې په هغوی کې دنفسانيت څه ګډون نه وي" ددې ليکلو نه وروسته که چېرې دا ومنل شي چې حضرت علي رضي الله عنه دحضرت ابوبکر رضي الله عنه فيصله په اخلاص سره ومنله او دخپلې خبرې نه يې لاس واخست نو بيا دګيلې او شکايت څه معنا ده؟

تاسو ددې بیان نه وروسته د"باب فرض الخمس" کوم حدیث حواله چې ورکړی ده "ثم جئتماني" نه مخکې برخه مونقل کړې ده پخپله دې حدیث کې ددې نه وړاندې بیان و چې پخپله دحضرت عمر رضی الله عنه په دې فیصله باندې شکایت و، حضرت عمر رضی الله عنه دوی مخاطب کړل او ورته وېې ویل: "تاسو دهغه وخت نه په دې مسئله کې شکایت کاوو". خو په حقیقت کې خبره یواځې شکایت پورې محدوده نه وه په دې کې دیحیی بن بُکیر والا روایت په بخاري کې وګورئ نومعلومیږي چې حضرت فاطمه رضی الله عنها په دې مسئله کې دحضرت ابوبکر رضی الله عنه نه خفه شوه، بلکې ترخپل وفاته پورې یې له هغه سره خبرې ونکړې. په فتح الباري کې ابن حجر رحمة الله علیه په نهم جلد کې لیکلي دي چې هغه ته لیږل شوي وه (لیږونکی حضرت علی رضی الله عنه و) "ان فاطمة ارسلت الی ابی بکر رضی الله عنه تساله میراثها" غور وکړئ چې دداسې سړي نه خفګان، چې هغه خپل ذاتي مال ټول په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې لګولی و، څه معنا لري؟ ابن حجر رحمة الله علیه د اووم جلد په حاشیه کې چې کوم بحث کړی دی هلته لیکي چې"دا بېلتون دمیراث دنه ورکول کېدو دغوسې په نتیجه کې و" دا مضمون مې په تیسیرالباري کې هم ولیده، علامه وحید الزمان په صفحه ۲۸۰، ۲۸۱باندې لیکلي دي :" دفاطمې رضی الله عنها خفګان دلوروليۍ غوښتنه وه اوددې هیڅ علاج نه و"

په دې عبارت زه پوه نه شوم چې جناب څه ویل غواړي ددې نه وړاندې یې اوږد بحث کړی دی چې غیرمتعلق اوبې معنا دی، ابوبکر رضی الله عنه درسول صلی الله علیه وسلم دحکم مطابق فیصله کړی وه، دافیصله دهغه خپله نه وه، دالله درسول صلی الله علیه وسلم فیصله وه، بیا دابوبکر رضی الله عنه نه خفګان څه معنا لري؟ خبره په دې باندې نه ختمیږي، په دې حدیث کې وړاندې وګورئ! دحضرت فاطمې رضی الله عنها په ژوندکې حضرت علي رضی الله عنه ته په خلکوکې عزت حاصل و، چې کله حضرت فاطمه رضی الله عنها وفات شوه حضرت علي رضی الله عنه دخلکو توجه بدله ومونده نو دحضرت ابوبکر رضی الله عنه سره یې دصلح او بیعت وړاندیزوکړ". ګویادا صُلح او بیعت دمجبوري په حالت کې واوچې کوم مقام حضرت علي رضی الله عنه ته دصحابه وو په مینځ کې حاصل و هغه دنوموړي خپل ذاتي عزت اوقابلیت نه و، بلکې صحابه وو به دحضرت فاطمې رضی الله عنها لحاظ کاوو اوهغې ته به یې اهمیت ورکاوو دهغې په وفات باندې حضرت علي رضی الله عنه هغه مقام له لاسه ورکړ، ترڅوچې تربې خلکو نظر نه و اړولی هغه نه خو صُلح ته اماده شو اونه بیعت ته(اناالله واناالیه راجعون)بیا که راضي هم شو نو شرائط یې ولګول چې یواځې راشئ، ایاعمر رضی الله عنه څه مقام نه لاره؟ ایا عمر رضی الله عنه څه دکم حیثیت سړی و؟ دابوبکر رضی الله عنه افضلیت منل، ایا دعمرخدمات، دهغه ایمان، دهغه داسلام څه مثال تاسووړاندې کولی شئ؟ کوم څه چې عمر رضی الله عنه د اسلام له پاره وکړل، ایا تاسوبل نوم اخستی شئ؟ پخپله په همدې حدیث کې حضرت علي رضی الله عنه د دې خبرې اقرار کړی دی، "چې دخپلولۍ د وجې نه هغه خلافت خپل حق ګاڼه".

ایا ددې مقصد دحاصلولو له پاره دصفین جنګ قائم نکړای شو؟ "عراقیان" او"عجمیان" کومو ته چې شیعان علي رضي الله عنه وویل شو.د شامیانو او عربوسره څه له پاره په جنګ کې شو،هغه هم په داسې وخت کې چې کله د امیرمعاویه رضي الله عنه د رومیانوسره جنګ و،ایا دحضرت علي رضي الله عنه دا عجمې اوعراقی شیعه ګان هم هغه خلک نه وو چې دعثمان رضي الله عنه دقتل په هیرو(سنبول) کیدوباندې یې فخرکولو؟ هم دې خلکوحضرت علي رضي الله عنه ته خلافت ورکړ او مجبوریې کړ چې د مسلمانانو صفونه ګډوډکړي،په مسلمانانو کې دانتشار پیدا کولو لومړۍ کامیابه کارنامه هم دا انجام شوه،آخر د چنګیزخان، نپولیناو ددوی دقبیلې د نورو خلکو حالات خوهم شته حالانکه داخلک کافران وو بیاهم داسې غافله او بې وسه نه وو چې دیواهم شخصیت دقتل په سلسله کې دا معلومه نه شي چې قاتل څوک دی؟ پخپله چې دکومو سپاهیانو سره دجنګ په میدان کې مصروف وي دهغوی متعلق ورته هم پته نه وي چې داڅه قسمه خلک دي، د انګریزانو او فرانسیانو دپېړیو زړه دښمني له چانه پټه نه ده ،دلائف آف نپولین مصنف یوانګریز دی، هغه اعتراف کړی دی چې هغه ته دیو یو عسکر (سپاهي) نوم به یادواویواځې یونپولین نه دی،بیشماره مشهورخلک داسې تیرشوي دي او تاسو ته هم ښه معلومه ده چې دخپل ملك دهرې برخې له حالاتو نه به خبر وو،وقتي هیریدل او اجتهادي غلطي به آخرترکومې پورې وي،دکوم سړي دتدبرچې دا حال وي چې هغه خپل حقیقي ورور هم خپل موافق جوړنه شي کړای اوکله چې حضرت عقیل رضي الله عنه دده نه خفه شواو معاویه رضي الله عنه ته ولاړ نوڅه وشو؟ او دا سلسله کله دصفین دجنګ نه وروسته ختمه شوې وه؟ د"بنوامیه" او"بنوعباس" په زمانوکې دعلوي اوعباسی جنګونه یو دوه خونه دي چې دچانه پټ وي په یولیک کې داټول بیان ناممکن دی.

په دې کې شك نشته چې شاه ولی الله رحمه الله په ازالة الخفا کې دحضرت علي بیشماره مناقب بیان کړي دي (سره له دې چې د ابوبکر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه او دعثمان رضي الله عنه په دورخلافت کې چې اسلام ته کومه ترقی حاصله شوه، دحکومت طریقه، معاشرت، غرض دا چې دهرقسم تفصیل هغه لیکلی دی) دې نه پرته یې نور هم څه لیکلی شو؟ بیا شاه ولی الله رحمه الله اکثرد ریاض النضرة" لمحب الطبري نه نقل کړی دی، دجزیات موضوعي او ضعیف روایتونه پکې ذکر دي،څومره پورې چې زما حافظه کار کوي دې صاحب او دتاریخ اسلام مولف نجیب خیرآبادي هم دحضرت علي رضي الله عنه خلافت نه دی تسلیم کړی،بلکې ددرې واړو دخلافت حالت لیکلو نه وروسته یې باب په دی عنوان سره قائم کړی دی:"حضرت علي رضي الله عنه دکوفې دګورنر په حیثیت.

زماخیال و چې دعمر رضي الله عنه په تقریرباندې دعلامه عینی رحمه الله خیال هم وګورم خو دې ګنهګار تراوسه پورې داسې ونکړای شو.دفتح الباری داووم جلدپه۱۴،۱۵ صفحه باندې دا بحث شته ،هلته ددریو حدیثونو حواله موجود ده.

(۱) عمر بن شبة من طريق ابي البختري على سبيل الميراث (نسائي)

(۲) بلکې نسائی کې هم د ,, من طريق عكرمة على سبيل الولاية .. حواله ده

(۳) او د ابوداود په حدیث کې په دوالي په توګه مطالبه کول هم ذکر دي .په هرحال څنګه چې تاسو ته هم معلومه ده چې امام نسائي دحدیث په معامله کې امام بخاري نه هم سخت و ،ددې درې حدیثونو په رڼا کې څنګه رایه درست کیدای شي په دې سلسله کې دا هم واضحه کړئ چې هغه څه خبره وه چې حضرت علي رضي الله عنه کسب معاش طرف ته څه توجه ورنکړه.

سره له دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به امت ته ددې ترغیب ورکاو کله یې چې د نکاح مطالبه وکړه نو حضرت علي رضي الله عنه سره هیڅ نه و ،خپله زغره یې خرڅه کړه ،بواخې فاطمې رضي الله عنها ته نه بلکې دنبي علیه السلام له پاره هم تکلیف و ،چې دنبي علیه السلام د دښمن د لور سره دنکاح اراده کوي.نکاح خوخیردځلورو پورې کیدای شي خو داسې سړی چې دیوې بی بي دکفالت او پخپله خپل کفالت نشي کولی ،ایا ده ته هم اجازه ده چې دنکاح دپاسه نکاح وکړي؟ دحدیثو په کتابونو کې په وقتي توګه باندې يواځې دوه کارونه یې په نظر راځي، دیهودي په باغ کې اوبه لګول یا یوځل وابنه ریبل.

والسلام: محمد ظهور الاسلام

الجواب حامدا ومصليا

الحمدلله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى

مخدوم ومکرم،زیدت عنایاتهم.السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه تقریبًا دوه میاشتې وروسته دفترکې حاضرشوم.بیا دجمع شوي ډېرکار ډېروالی دخط کتلو مهلت هم رانکړ.نن لږ دساه اخستلو موقعه پیدا شوه. ستاسو خط مې راواخست اوکیناستم دتفصیل لیکلو اوس هم موقعه نشته بیاهم مختصرېې لیکم،

دلیک په بیان شویو خبروباندې غور کولو نه مخکې له تکلیف پرته خوخیرخواهۍ سره عرض کوم چې د روافضو سرکشه ردعمل په طورباندې زموږ ډېرځوانان دحضرت علي کرم الله وجهه نقص اوعیبونه تلاش کوي ، علمي اشکالات خوهرځای مخې ته راځي په دې وجه چې څنګه روافض دحضرات شیخینو رضي الله عنهما په باره کې څه نا څه تلاش کوي،داشان زموږ دا نوجوان طبقه دحضرت علي رضي الله عنه په باره کې هم څه نا څه تلاش کوي، په زړه کې یې دبُغض او نفرت غوټه ناسته وي له دې وجې نه هغوی ته ددې اشکالاتو په علمي ځواب سره هم تسلي نه کیږي.سره له دې چې حضرت علي رضي الله عنه په اتفاق داهل سنت خلیفه سره راشددی اونبي کریم صلی الله علیه وسلم دهغه بیشماره فضائل بیان کړي دي.ددې نه پرته پخپله حضرات شیخینو رضي الله عنهما په

خپل عمرکې دده سره د محبت او اکرام سلوک کړی دی .خو زموږ جذباتي ځوانان.د شیعه ګانو د رد عمل په طور باندې د حضرت علي رضي الله عنه چې کوم عیبونه راجمع کوي هغه نه د نبي علیه السلام په نزد د توجه قابل وو او نه د حضرات شیخینو رضي الله عنهما په نظرکې او نه د اهل سنت د اکابرو په نظرکې.

اوس ددې اشکالاتو د حل دوه صورتونه دي.یو دا چې ددې وهمي عیبونو دیو یو خواب ورکړل شي، دا طریقه اوږده هم ده او تسلي بخش هم نه ده.ځنګه چې فطرتي خبره ده چې کوم سړي سره د نفرت او دښمنۍ غوټه په زړه کې ناسته وي د هغه طرف نه که هرڅومره صفائي وړاندې شي خوخیرې نه وځی او دویم صورت دا دی چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم.په حضرات شیخینو رضی ا لله عنهما او اکابراهل سنت باندې اعتماد وکړل شي او حضرت علي رضي الله عنه خپل محبوب وګڼل شي اود هغه په باره کې چې کوم اشکالات راوړاندې شي هغه د خپلې پوهې قصور وګڼل شي،بلکې (ددې ناکاره) په نزد دا آخرې طریقه خوښه اوډېره منل شوې ده .ددې دواړو صورتونو مثال داسې دی چې دکور په انګړ (غولي) کې ډېرګند پروت وي او سړی ددې نه دکورصفائي کول غواړي نویوصورت خو دا دی چې یو یو ترې پورته کړې او بهرېې وغورځوې.ښکاره ده چې په دې کې به وخت هم زیات ولګیږي او پوره صفایي به بیاهم ونه شي او دویم صورت دا دی چې جارو واخلې او ټول انګړصفاکړئ.په دې کې به وخت هم زیات ونه لګیږي او صفایي به هم په ښه طریقه باندې وشي.

زما په نزد آخرې طریقه داسې جاروده چې په دې سره به د شکونو د ټول ګند نه دمومن سینه پاکه شي،دا روایتونه دکومو په بنیاد باندې چې اشکالات کیږي.زموږد اکابرو د اهل سنت دنظرنه پناه نه دي.خو دهغوی په بې حسده سینو کې دحضرت علي رضي الله عنه یادحضرت فاطمې رضي الله عنها طرف نه کله هم ښبرې نه دي راغلي او نه چا په دې بزرګانو باندې بد ویلي دي.زړه مې غواړي چې موږ او تاسو هم بس دا طریقه خپله کړو.

په دې ضمن کې یوه بله خبره مې هم زړه غواړي.هغه دا چې حضرت علي رضي الله عنه ته چې کومه زمانه ورکړل شوه هغې ته دحدیثو په اصطلاح کې د"فتنې دور" ویل کیږي اود فتنې تعریف هم دا دی چې په دې کې صورت حال مشتبه شي او یو طرف ته فیصله کول مشکل شي.ځنګه چې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته هم دغه اشکال راوړاندې شو .څه حضرات د حضرت علي رضي الله عنه سره شول.څه دده مقابلا وڅه یکې غیرجانبدار.دخپلې پوهې او اجتهاد مطابق کومې ډلې چې کوم اړخ غوره او حق ته نژدې وګاڼه هغه یې اختیار کړاو هره ډله په خپل اجتها باندې دالله په نزد داجرلائق شوه.ځکه چې د دوی نه هرسړی دالله په نزد پخپل اجتهاد باندې د عمل کولو مکلف واوهریو دالله درضا کوشش کاو.چې کله دفتنې داګرداوغبار کیناست نو داهل سنت اکابرو ددې فتنې په تفصیلاتوکې غور ، فکر اوتلاش کول خوښ نه کړل.بلکې یومختصرشان فیصله یې محفوظه کړه چې په دغه دورکې حضرت علي رضي الله عنه خلیفه راشد

واو په حق باندې و . باقي حضرات د خپل خپل اجتهاد په بناء باندې معذور او اجر مونډنکي دي اوس زمونږ ځوانان د سرنه دهغې زماني تفصيلات لټوي او د اکابرو په باره کې بې باکه فيصلې کوي، پخپله انصاف وکړئ چې دکومو اکابرو په سر دا ټول واقعات تيرشو چې کله هغوی پخپله دې کې پريشانه شوي وو او هغوی ته دصورت حال د تحليل نه وروسته فيصله کول مشکل و ،نونن ځوارلس سوه کاله وروسته زه اوته دکتابونو لوستلو نه وروسته فيصلې کوو ،نوايايوې صحيحې نتيجې ته درسيدلو توقع کيدای شي؟ کم نه کم زما په نظر کې خو دا بالکل ناممکن دي. دفکري انتشار او د زړونو د کوږوالي نه پرته به يې هيڅ نتيجه راونه وځي ،بيا داکاربې فائدې هم دی ،نه خوبه په قبرکې زمونږ نه دا پوښتنه کيږي چې تادفتنې د ورځوپه واقعاتوکې غور او فکرولې نه و کړې؟ او نه به په حشرکې ددې پوښتنه کيږي چې ته ددې اکابرو په مينځ کې فيصله وکړه اودهريوفرد جرم (نعوذبالله) معلوم کړه. يو داسې بې فائدی شی چې په هغه کې دبحث کولو دنتيجې هيڅ اُميدنه وي. بلکې په هغه سره دايمان دلمنې دتارتار کيدو خطره وي په دې کې قيمتی وخت ضائع کول اوخپل طاقت مصرفول به ترکومه پورې صحيح وي؟ دی وجې نه زما ذوق دا دی او ددې تاسوته هم مشوره درکول غواړم چې په دې شيانوکې خپل وخت ضائع نه کړل شي .بلکې داهل سُنت دعقيدې مطابق دټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم داحترام لحاظ وساتل شي.

حضرت علي رضي الله عنه دې دهغه په دورخلافت کې دټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم دسرتاج وګڼل شي اوپه دې سلسله کې که چېرې څه اشکال مخې ته راشي نوهغه دې دخپلې پوهې قصور وګڼل شي. ددې اکابرو په حق کې دې خُله نه پرانستل کيږي. خو که چېرې يو سړی د روافضو او خوارجو پشان داهل سُنتو تحقيق صحيح نه ګڼي اوپخپل ګمان کې هغه خپل ځان دټولواکابرونه زيات محقق ګڼي .دهغه له پاره دا تقرير کافی نه دی خو الله دی نکوي چې موږ اوتاسو دا لاره اختيارکړو دې بې تکلفه وړنديز نه وروسته اوس زه ستاسوچې ليکل شوو خبرو مختصرڅه ليکم:

(۱) دميراث دطلب په باره کې ما دوه ځوابونه درکړي وو. يودا چې داحضرات .دحضرت صديق رضي الله عنه دفيصلې نه مطمئن شوي وو. ځکه چې هغه پخپله هم حديث" لانورث ما ترکناه صدقة" روايت کوي، زمايه نزدهم داتوجيه راجح ده او درواياتو له کومو الفاظو چې ددې خلاف معلوميږي ،هغه دتاويل لايق (وړ) دي په دويم ځواب کې چې دبخاري دحاشې په حواله شوی ؤ چې که چېرې دا فرض شي چې دا حضرات .دحضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه د رايې سره متفق نه شو. بيا هم دهغوی په موقف باندې څه علمي اشکال نشته. بلکې دا دحديث دتوجيه اود تاويل اختلاف دی او دا د بد رد ويلو ځای نه دی. دقران او دحديث په پوهيدو کې دمجتهدينو درايې اختلاف کله هم دبد ويلو ځای نه دی ګڼل شوی. دحديث په

مطلب کې که چېرې دې حضراتو ته دحضرت ابوبکر رضي الله عنه سره اختلاف وي او په دی سلسله کې دشکایت موقع هم راغلې وي. نو دا ددې حضراتو خپل مینځ کې معامله وه. ما او تاسو ته په دوی کې دیو فریق نه دشکایت کولو څه حق دی. سره له دې چې هغوی په خپل مینځ کې خوازه وو.

(۲) داهل سُنت دعلماوو په نزد دحضرت فاطمه رضي الله عنها دخفه کیدو روایت د راوي تعبیر دی.

حافظ رحمه الله دعمربن شبه روایت نقل کړی دی. **فلم تكلمه في ذالك المال**" چې حضرت فاطمې رضي الله عنها له حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه سره ددې مال په باره کې بیا خبرې ونکړې. دا خبرې نه کول خفګان وګڼل شوا وبیا امام بیهقي رحمه الله دامام شعبي رحمه الله نه په صحیح سند سره نقل کړي دي. چې حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه دحضرت فاطمې رضي الله عنها عیادت(دناروغی پوښتنې) له پاره ورغی او هغه یې راضي کړه.

دا دواړه حضرات، خوپخپل مینځ کې راضي شول او الله تعالى هم د دواړو نه راضي شو. (رضي الله عنهما) اوس که چېرې شیعه ګان دا رضامندي نه مني او دحضرت صدیق اکبر رضي الله عنه نه راضي نه وي. ایا موږ او تاسو درسول الله صلی الله علیه وسلم دزړه له ټکړې(ټوټې) نه خفه شو. نو ددې نقصان به دچاوي؟ زموږه یاددې بزرګانو؟ اوکه چېرې دا فرض شي چې هغه ترې دمرګه پورې خفه وه. نو دهغې دا خفګان هم دالله له پاره و. هغې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه دتاویل سره اختلاف و. اګرچې دهغې رایه دحضرت ابوبکر رضي الله عنه په مقابله کې مرجوحه وه. مګر دا دهغې اجتهادو او هغې چې څه وکړل. یواځې دالله درضا له پاره یې کړي دي. بل خوا حضرت ابوبکر رضي الله عنه هم چې کوم موقف اختیار کړی و. هغه هم یواځې دالله درضاله پاره و. ما وراندې ویلي و. چې د رایې اختلاف دمخلصینو په مینځ کې هم کیدای شي او شوي دي.

(۳) "إن فاطمة أرسلت" کې د(ارسلت) لفظ دې دمعروف په صیغه سره ولوستل شي. یعنې حضرت فاطمې رضي الله عنها حضرت علي رضي الله عنه حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته ور ولېږه

(۴) حضرت علي رضي الله عنه ته خپل ذاتي وجاهت هم حاصل و. خو حضرت ابوبکرصدیق په رضي الله عنه مخکې هغه مغلوب و. لکه څنګه چې دسپوږمۍ په مخکې ستوري مغلوب وي. خو دحضرت فاطمې رضي الله عنها په ژوند کې یې دوه قسمه عزت حاصل و. دهغې له وفات نه وروسته دا دویم وجاهت پاتې نشو او په قدرتي طورسره دحضرات شیخینو رضي الله عنهما په موجودګي کې ده طرف ته دخلکو رجوع کمه وه. له دې نه دا ګڼل چې دصحابه وو رضي الله عنهم په نظر کې دهغه څه قدرپاتې نه شو. دا غیرمنطقي خبره ده. چې کله حضرت ابوبکر رضي الله عنه هغه ته دومره اهمیت ورکړ. چې پخپله دهغه کورته ورشي. نو دهغه دعظمت او وجاهت له پاره دبل دلیل ضرورت نشته. ایا دحضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ددې کار نه وروسته هم ما او تاسو ته حق حاصلیږي. چې دحضرت ابوبکر رضي الله عنه په حمایت کې دحضرت علي رضي الله عنه بې عزتي وکړو؟

(۵) دحضرت ابوبکر رضی الله عنه سره دخلافت بیعت په ثقیفه بني ساعده کې سمدستي شوی و او په دې سلسله کې حضرت علي رضی الله عنه او د بنوهاشم د نورو مشرانو سره دمشورې موقع نه وه پیداشوې چې په دې سره هغوی ته طبعي خفګان و. دې مشرانو ته په دې باندې اعتراض نه و. چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه ولې خلیفه شو؟ البته دهغوی دوستانه ګیله وه چې دنبي علیه السلام کورنۍ دومره بې اهمیته ولې وګڼل شي. چې له دوی نه دې مشوره هم وانه خستل شي. یو خودنبي علیه السلام دوفات دپېښې له وجې نه. دویم دحضرت فاطمې رضی الله عنها دناروغۍ له وجې نه او دریم ددې غم له وجې نه به اکثر وخت حضرت علي رضی الله عنه په یواخې والي کې اوسیده او دحضرت ابوبکر رضی الله عنه نه به په ډېره ګرځیده. دحضرت فاطمې رضی الله عنها په ژوند کې به هم خلکودا خفګان محسوساوو. خو دحضرت فاطمې رضی الله عنها دغم. دهغې دناروغي اودحضرت علي رضی الله عنه دمشغولیدو له وجې نه دخلکو همدردي له دوی سره وه. دحضرت فاطمې رضی الله عنها له وفات نه وروسته په دې حالت کې بدلون ضروري و. د نورو حضراتو هم دا غوښتنه وه. چې دا دخفګان حالت ختم شي او پخپله حضرت علي رضی الله عنه هم دا غوښتل. خو کېدای شي هغه په انتظار کې و. چې دخفګان د لیرې کولو پیل له بل طرف نه وشي. اخرحضرت علي رضی الله عنه فیصله وکړه. چې ددې خفګان په ختمولو کې پخپله زه باید وړاندې والی وکړم. ددې له پاره هغه حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته خبر ولیږه. چې هغه طرف ته تاسو اشاره کړې ده. کم نه کم دې ناکاره ته په دې کې داسې څه خبره په نظر نه راځي چې هغه د اعتراض وړ وګرځول شي.
دانساني نفسیاتو دمطالعې نه واضحه کیږي. چې په داسې کارونو کې خفګان اوشکایت یوفطرتي خبره ده اودحضرت علي رضی الله عنه ددې حالت په ختمولو کې وړاندې والی کول. ددې ناکاره په نزد خودهغه ډېرلوی فضیلت دی او پخپله حضرت ابوبکر رضی الله عنه هم هغه ته دمجبورۍ پیغور نه دی ورکړی. کوم چې تاسو ورکوئ. بلکې څنګه چې په دې روایت کې دي چې دحضرت علي رضی الله عنه تقریر اوریدو سره حضرت ابوبکر رضی الله عنه په ژړا شو ګویادهغه طبعي شکایت او خفګان یې قبول کړ. له ددې نه وروسته. ایازما او ستاسو له پاره به دا جائزوي چې دا واقعه هم (نعوذبالله) ددې مشرانو د عیبونو په فهرست کې شامله کړو او د دوی متعلق خوله پرانیزو؟ نه! بلکې زمونږ فرض. خو دانبودل شوي دي چې مونږ دا وو وایو:

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ○

(۶) او پاتې شود ستاسو داخبره چې حضرت عمر رضی الله عنه یې په دې موقعه باندې له ورتلو نه ولې منع کړ؟ په دې باره کې ګذارش دی چې دحضرت عمر رضی الله عنه فضائل او مناقب حضرت علي رضی الله عنه زما اوستانه زیات پیژندل. دحدیثو په کتابونو کې چې دحضرت عمر رضی الله عنه کوم فضائل او مناقب دحضرت علي رضی الله عنه نه نقل دي په دې سلسله کې دهغو مطالعه کافي ده.

په دې موقعه باندې حضرت علي رضي الله عنه خپل خفګان او شکایت ښکاره کاو. هغه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د صبر او زغم نه خبرو. ځکه هغه ته یقین و. چې ابوبکر رضي الله عنه به زما شکایت واوري او له صبر سره به ځواب راکړي او او ښکې به تویې کړي او که بل څوک ورسره وي .نو د شکایتونو په ځواب کې به هغه هم د شکایتونو دفتر پرانیزي اوخبره به شخړې ته ورسیږي. ځکه هغه غوښتنه وکړه چې یواځې راشي.

د دې له پاره چې د کومو دوو کسانو معامله ده هغه به دننه په کورکې یواځې ختمه کړي. د دریم کس د مداخلې ضرورت به نه وي. حضرت عمر رضي الله عنه هغه د راتلونه نه و منع کړی. بلکې حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته یې د ډ اجې ورتلو وړاندیز کړی و اوپه دې دواړوتعبیرونوکې د ځمکې اوداسمان فرق دی اوکه چېرې بالفرض هغه حضرت عمر رضي الله عنه منع کړی هم وي. بیاهم څه د اعتراض خبره نه ده. نه له دې نه دحضرت عمر رضي الله عنه دفضیلت اومنقبت اواهمیت انکار لازمیږي.د حضرت عمر رضي الله عنه فضیلت منل شوی دی. خو چې کله دهغه نه څه ګیله اوشکایت نشته .که چېرې دده مداخلت دمصلحت په اساس ښه ونه ګڼل شو. نو ما اوتاته به څه شکایت وي؟ بیاد حضرت عمر رضي الله عنه طبعي سختي خومثالي ده. په دې موقعه باندې که هغه وای،نو ممکنه وه چې دعلي رضي الله عنه کوم شکایت یې غلط ګڼلی وای اوپه سختئ سره یې دهغه تر دید کړی وای اوخبرو اترو به مصلحت په ځای دمناظرې صورت اختیار کړی و. نوله دې وجې نه دحضرت عمر رضي الله عنه دانتهایي ټینګار سره سره حضرت ابوبکر رضي الله عنه هغه له ځان سره بو ول مصلحت ونه ګڼل او ددې مثال د ثقیفه بني ساعده واقعه ده.چې هلته هم حضرت ابوبکر رضي الله عنه پخپله تقریر کول غوره وګڼل. حضرت عمر رضي الله عنه ته یې دتقریر اجازه ورنکړه. ځینې وخت کې یوه خبره بالکل حقه وي. خو دبیان په انداز کې دسختي کولو په وجه دهغې فائده کمه شي. دمصالحت په موقعو کې که سړی پوره تلل شروع کړي، نوکله هم صلح نه کیږي. ځینې وخت معمولي خبره باندې جوړه شوي خبره ورانه شي. په هرحال په داسې مصالحتي وختونوکې د دریم کس راتلل نه حضرت علي رضي الله عنه ښه وګڼل او نه حضرت ابوبکر رضي الله عنه . له دې نه که چېرې موږ دا نتیجه وا نه خلو. چې ددې اکابرو دحضرت عمر رضي الله عنه نه نفرت و. یادهغوی په نظرکې دده هیڅ اهمیت نه و.

(۷) تاسو دحضرت علي رضي الله عنه دا قول نقل کړی دی چې"دخپلوي په وجه هغه خلافت خپل حق ګانه. دا فقره کېدای شي تاسو دحضرت علي رضي الله عنه دهغه تقریر نه اخستی وي کوم چې هغه دابوبکر رضي الله عنه په مخکې کړی و. چې دهغه پوره متن په لاندې ډول دی:

فتشهد عليّ ابن ابي طالب ثم قال: إنا قد عرفنا يا أبا بكر فضيلتك وما أعطاك الله ولم ننفس عليك خيرًا ساقه الله إليك ولكنك إستبددت علينا بالأمر وكنا نحن نرى لنا حقا لقرابتنا من رسول الله ﷺ فلم يزل يكلم أبا بكر حتى فاضت عينا أبي بكر .(صحيح مسلم جلد۲صفحه۹۱)

ترجمه: حضرت علي رضي الله عنه د حمد او صلاة نه وروسته وويل چې: اې ابوبکر! ستاسو د فضيلت او کوم څه چې الله تاسو ته درکړي دي مونږ د هغه اعتراف کوو او په دې خبر باندې زمونږ له تاسره څه حسد نشته کوم چې الله تعالٰی تاسو ته درکړي دي. خو زمونږ ګيله ده چې تاسو زمونږ نه پرته معامله فيصله کړه او زمونږ خيال دا و چې د نبي عليه السلام د خپلوۍ په اساس باندې مونږ هم په دې معامله کې څه حق لرو، حضرت علي رضي الله عنه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره خبرې کولې تردې چې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د سترګو نه اوښکې وبهيدلې.

د حضرت علي رضي الله عنه په دې خطبه کې څه داسې خبره نشته چې د هغې مطلب دا وي. چې هغه خلافت يواځې خپل حق ګڼه. بلکې د دې صحيح مطلب دا دی چې زمونږ خيال دا و چې دا معامله به زمونږ نه پرته نه فيصله کيږي. د نبي عليه السلام د خپلوۍ په وجه سره به په دې سلسله کې مونږ سره هم ضرور مشوره وکړل شي. خو تاسو معامله زمونږ نه پرته فيصله کړه او مونږ ته مو د مشورې ورکولو موقعه رانکړه، څنګه چې امام نووي رحمه الله د دې حديث په شرحه کې ليکي:

وكان سبب العتب أنه مع وجاهته وفضيلته في نفسه في كل شيء وقربه من النبي ﷺ وغير ذالك رأى انه لايستبدا بأمر إلا بمشورته وحضوره وكان عذر أبي بكر و عمر و سائر الصحابة واضحا لأنهم راؤا المبارزة بالبيعة من أعظم مصالح المسلمين وخافوا من تأخيرها حصول خلاف و نزاع تترتب عليه مفاسد عظيمة الخ. (شرح مسلم جلد ۲ صفحه ۹۱)

ترجمه: د حضرت علي د خفګان او شکايت سبب دا و چې د خپل ذاتي وجاهت او په هره معامله کې خپل فضيلت او د نبي کريم ﷺ سره د خپلې خپلوۍ او د نورو کارونو په اساس باندې هغه دا ګڼل چې د خلافت کار به زمونږ د مشورې او د حاضرۍ نه پرته نه فيصله کيږي. بل خوا د حضرت ابوبکر، حضرت عمر او د نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم عذر واضحه دی. چې هغوی د بيعت په معامله کې بيړه کول د مسلمانانو د ټولو نه لوی مصلحت وګڼه او د دې په وروسته کيدو کې د خلاف او د جګړې د راپورته کيدو خطره وه. چې په هغه باندې ديو عظيم فساد مرتب کيدل و.

غرض دا چې حضرت علي رضي الله عنه پخپل تقرير کې چې کوم حق ذکر کوي د دې نه دا مراد نه دی چې هغه خپل ځان د خلافت په باره کې د ابوبکر رضي الله عنه نه زيات حقدار ګڼه. بلکې د دې حق نه مراد د رايې ورکولو حق دی او په دې کې څه شك دی چې هغه د خپل حيثيت او مرتبې په وجه د خلافت په کارکې د رايې ورکولو زيات حقدار و او د هغه دا شکايت په خپل ځای باندې صحيح و. چې د ده نه ولې مشوره وانه خستل شوه. همدا وجه ده چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه د هغه د دې شکايت ترديد ونکړ. بلکې خپل عذر يې وړاندې کړ. په هرحال د حضرت علي رضي الله عنه د دې فقرې نه د خلافت د حقدار کيدو دعوه يا خوشيعه ګانو وګڼله او د دې په بنياد يې حضرات شيخين او نور صحابه کرام رضي الله عنهم د ملامتيا نښه جوړ کړل، ايا بيا تاسو

هم دا نظريه سرچپه استعمال کړه او دا مو دحضرت علي رضي الله عنه په عيبونو کې شامل کړل. اهل سنت ددې فقرې هما غه مطلب ګڼي کوم چې پورته دامام نووي رحمه الله په عبارت کې تير شو.

(٨) ستاسو دې فقره باندې زه پوه نه شوم چې:

"ايا ددې مقصد دحاصلولو له پاره دصفين جنګ قائم نکړل شو؟------ عراقيان او عجميان کوم ته چې شيعان علي رضي الله عنه وويل شو، د شاميانو اوعربو سره څه له پاره په جنګ شو. هغه هم په داسې وخت کې چې دامير معاويه رضي الله عنه د روميانو سره جنګ و.

اهل حق حضرت علي رضي الله عنه دهغه په دور خلافت کې په حقه خليفه او خليفه راشد منلى دى اوداخبره دنبي کريم صلى الله عليه وسلم د ډېرو ويناوو په بناء باندې داهل سنتو په عقائدو کې داخله ده. په دې وجه همېشه اهل سنت حضراتو ددې صحابه کرامو رضي الله عنهم عذر واضح کړى دى. کوم چې دحضرت علي رضي الله عنه په مقابل کې په صف کې ولاړ وو. خو ستاسو دتحريرنه ظاهرېږي چې نعوذبالله حضرت علي رضي الله عنه ظالم خليفه و. چې هغه د اقتدار په وجه په زرګونو مسلمانان مړه کړل، ګوياتاسو هم دحضرت علي رضي الله عنه دخلافت نه انکار کوئ. له دې نه وړاندې هم تاسو په دې ويلو سره تقريبًا تصريح کړې ده چې:

"څومره پورې چې زماحافظه کارکوي، دې صاحب او دتاريخ اسلام مولف نجيب خيرابادي هم دحضرت علي رضي الله عنه خلافت نه دى تسليم کړى. بلکې ددرې واړو دخلافت دحالاتو ليکلو نه وروسته يې باب په دې عنوان سره قائم کړى دى. "حضرت علي رضي الله عنه دکوفې د ګورنر په حيث،

که چېرې تاسو داهل سنت دعقيدې په خلاف حضرت علي رضي الله عنه خليفه راشده نه تسليموئ، نوماته په جنګ صفين وغيره کې دحضرت علي رضي الله عنه د موقف په باره کې هيڅ ويل نه دي پکار، بلکې پخپله په دې مسئله باندې خبرې پکاردي چې داهل سنتو عقيده او نظريه صحيح ده، که (نعوذبالله) غلطه ده؟ خو که چېرې تاسو داهل سنتو عقائد اونظريات حق ګڼئ اودهغه مطابق حضرت علي رضي الله عنه خليفه راشده منئ، نوتاسو پخپله انصاف وکړئ، چې خليفه راشد ته دبغاوت ښکاره کيدو په صورت کې څه کول پکار و.

څو پورې چې دعراقيانو اوعجميانو دشاميانو اوعربو سره دجنګونو خبره ده، دادعراقي اوشامي اوعربي فرق دحضرت علي رضي الله عنه په ذهن کې نه و. دهغه په وړاندې يواځې دمنونکو اونه منونکو سوال و. هغه که هرڅوک و. دهغه نه دشاميانو دشامي کيدو اودعربو دعربي کيدو په وجه دهغوى نه څه نفرت و اونه يې دعراقيانو اوعجميانو سره يواځې دهغوى په عراقي اوعجمي کيدو باندې څه محبت و. هم دا تفريق دجاهليت عصبيت دى چې داخوزما اوستاسو په ذهن کې راتلاى شي، خو دحضرت علي رضي الله عنه لمن اوذهن په دې داغونو باندې ککړ نه و، هغه يقيني خليفه راشد و. ددوى په حمايت کې صحابه هم وو او تابعين هم، عرب هم وو او عجم هم "دشيعان علي" اصطلاح دهغه دزمانې څخه نه ده. بلکې دا د

وروسته پیدا وار دی حضرت علي رضي الله عنه چي کوفي ته لاړ هلته يې د کورنري منصب نه و سنبال کړی، بلکې د مديني نه د خليفه په حيث تللی و او مهاجرينو او انصارو د هغه سره د خلافت بيعت کړی و .بلکې حضرت عمر رضي الله عنه چې کوم شپږ اکابر د خلافت له پاره ټاکلي و په هغو کې يواځې د حضرت عثمان رضي الله عنه او د حضرت علي رضي الله عنه نومونه باقي پاتې شوي و او د حضرت عثمان رضي الله عنه له شهادت نه وروسته هغه پخپله د خلافت مستحق پاتې شو .ځکه دا ويل به بې ځايه نه وي چې حضرت علي رضي الله عنه پخپله د حضرت عمر رضي الله عنه مقررشوی خليفه و .[1]

(۹) تاسو دا شک هم کړی و چې حضرت علي رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه د قاتلانو نه بدله ولې وانه خستله ؟ او تا د هغه د غافل ثابتولو له پاره د قلم ډېر زور استعمال کړی دی . نن سبا دا شک په ډېرو عنواناتو سره بيابيا ويل کيږي ماته په صفايي سره د دې اعتراف کول پکار دي چې څه موده زه پخپله د دې وسوسې تر يو حده پورې ناروغ وم. خو الحمدلله دا يواځې د وسوسې ترحده پاتې شوه .ماهيڅکله دا وسوسه په حضرت علي رضي الله عنه باندې د اعتراض ذريعه نه ده جوړه کړې او نه د دې په وجه د هغوی رضي الله عنه سره زما په محبت او عقيدت کې ذره برابرفرق راغی. بلکې چې کله هم يو داسې وسوسه راغلې ده ،نو فورا دا خيال هم راغلی دی چې حضرت علی رضي الله عنه د يرش کاله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په مجلس کې تير کړي دي.چې هغه ته د پيغمبر په "ژبه" يحبّ الله ورسوله ويحبّه الله ورسوله.(صحيح بخاري و مسلم و ترمذی

١] وخلافتهم اى نيابتهم عن الرسول صلى الله عليه وسلم فى اقامة الدين بحيث يجب على كافة الامم الاتباع على هذا الترتيب ايضاًيعنى ان الخلافة بعد رسول الله عليه السلام لابى بكر ثم لعمر ثم لعثمان ثم لعلى،وذلك لان الصحابة قد اجتمعوا يوم توفى رسول الله صلى الله عليه وسلم فى سقيفة بنى ساعدة واستقر رأيهم بعد المشاورة والمنازعة على الخلافة أبي بكر فأجمعوا على ذلك وبايعه علي على رؤس الأشهاد بعد توقف كان منه ولو لم تكن الخلافة حقا لما اتفق عليها الصحابة ولنازعه علي كما نازع معاوية ولاحتج عليهم لو كان في حقه نص كما زعمت الشيعة فكيف يتصور في حق أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم الاتفاق على الباطل أو ترك العمل بالنص الوارد ثم ان ابابكر لما يئس من حياته دعا عثمان واملى عليه كتاب عهده لعمر فلما كتب ختم الصحيفة واخرجها الى الناس وامرهم ان يبايعوا لمن فى الصحيفة فبايعوا حتى مرت بعلى فقال: بايعنا لمن فيها وان كان عمر، وبالجملة وقع الاتفاق على خلافته ثم استشهد عمروترک الخلافة شورى بين ستة عثمان وعلى وعبدالرحمن بن عوف وطلحة وزبير وسعد ابن ابى وقاص رضى الله عنهم اجمعين ثم فوض الامر خمستهم الى عبدالرحمن بن عوف ......ورضوا بحكمه فاختار عثمان وبايعه بمحضر من الصحابة فبايعوه وانقادوا لاوامره وصلوا معه الجمع والاعياد فكان اجماعاً ثم استشهد وترک الامر مهملاً فاجمع كبارالمهاجرين والانصار على على والتمسوا منه قبول الخلافة وبايعوه لما كان افضل اهل عصره واولاهم بالخلافة وما وقع من المخالفات والمحاربات لم يكن من نزاع فى خلافته بل عن خطا فى الاجتهاد وما وقع من الاختلاف بين الشيعة واهل السنة فى هذه المسئلة وادعاء كل من الفريقين النص فى باب الامامة وايراد الاسولة والاجوبة من الجانبين فمذكور فى المطولات (شرح عقائدص:١٤٩، ١٥١)

مشکوة صفحه۵۲۲)، یو ه اعلی درجه ورکړل شوې ده.چې هغه ته په سختو مسائلو کې دصحیح فیصله کولو سند په "أقضاهم عليّ" (ترمذي مشکوة صفحه۵۲۷) وینا سره ورکړل شویاو اللّهم أدرِالحق معه حیث دَارَددعاء کولو سره حق له ده سره اودی یې له حق سره دائر اوسائر کړ. هغه په علم اوعقل ،دیانت اوامانت، په طهارت اوتقوا اودشریعت دمقاصدو په فهم اوبصیرت کې خوزما نالائقه او بدکاره نه په هرحال بهتردی.

،واقعه دا ده چې دا ناکاره دا خیال هم گستاخي اوبې ادبي گڼي او په هغه باندې سل ځله استغفار کوم چرته حضرت علي رضي الله عنه او چرته زما په شان کم علمه!

"چه نسبت خاك را با علم پاك"

هغوی چې په کامل علم او تقوا سره په پوره ویرې او رجوع سره اودالله او درسول دمحبت اومحبوبیت دصفت سره چې څه کړي دي هغه به عین دشریعت اودتقوا دغوښتنې مطابق وي اوکه دهغه دا موقف زما نالائقه په پوهه کې رانشي. نودا په هغه باندې د اعتراض موجب نه دی. بلکې خپله ناپوهي دماتم او افسوس لایقه ده.غرض دا چې دا وسوسه مې همېشه خپله نالایقي اوناپوهي گڼلې ده تردې چې دالله تعالی درحمت لایق شوم اوله دې وسوسې نه یې نجات راکړ.فله الحمدوله الشکر.

ددې اعتراض حل دادی چې کوموخلکو دمظلوم خلیفه حضرت عثمان شهید رضي الله عنه خلاف حمله وکړه اودهغه ځای یې محاصره کړ. داسلامي فقې مطابق دهغوی حیثیت د باغیانو و. بیا دهغوی دوه قسمونه وو.یوهغه خلک وو چې حضرت عثمان رضي الله عنه یې شهید کړ اوخپله دنیا او آخرت یې برباد کړل او دویم هغه خلک وو چې دهغوی عمل دمحاصرې پورې محدود پاتې شو.

په اوله فرقه کې شپږنومونه ذکرکیږي.(۱) محمدبن ابی بکر رضي الله عنه (۲) عمروبن حمق رضي الله عنه.(۳) کنانه بن بشیر،(۴) غافقي، (۵) سودان بن حمران(۶) کلثوم بن تجیب.خو دعثمان رضي الله عنه په قاتلانوکې د لومړنیو دوو کسانو نومونه اخستل بیخي غلط دي. ځکه چې دمحمدبن ابی بکرپه باره کې. خوتصریح موجود ده چې کله هغه دحضرت عثمان رضي الله عنه کریوان ته لاس واچاو او حضرت عثمان رضي الله عنه ورته دا وفرمایل چې"ورازه" که چېرې ستاپلار ژوندی وای اوهغه داحرکت لیدلی وای. نوهغه به دا نه و خوښ کړي. نو دی شرمنده شو او وروسته شو.له دې نه وروسته نه یواځې داچې پخپله په قتل کې شریك نه شوبلکې دنورو دمنع کولو کوشش

يې هم وکړ[۱] او حضرت عمروبن حمق رضي الله عنه صحابي دی[۲] او علماءِ اهل سنت تصريح کړې ده چې صحابه کرامو رضي الله عنهم نه هيڅوک په دې ګناه کې نه وو شريك شوي.[۳]

له دې نه معلومه شوه چې محمدبن ابی بکر رضي الله عنه او عمروبن حمق رضي الله عنه د قاتلانو په فهرست کې شاملول صحيح نه دي، پاتې شو څلورکسان په دې کې دا اخري ذکرشوي دوه کسان په عين موقع باندې د حضرت عثمان رضي الله عنه د غلامانو دلاسه قتل شول[۴]. اوس يواځې دوه کسان پاتې شو، کنانه بن بشير او غافقي، دا دواړه په دې وخت باندې وتښتيدل وروسته دوی هم قتل شو[۵] همدارنګه د حضرت عثمان رضي الله عنه په قاتلانو کې يو کس هم د هلاکت نه بچ نه شو. پاتې شو هغه خلک چې د هغوی عمل محاصرې پورې محدود و او هغوی لاسونه د عثمان رضي الله عنه په وينو نه و رنګ شوي، د هغوی حيثيت د باغيانو و او حضرت عثمان رضي الله عنه پخپله هم تر اخري وخته پورې د هغوی خلاف د توري پورته کولو اجازه ورنه کړه[۶] او د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت نه وروسته چې کله حضرت علي رضي الله عنه خليفه شو، نو هغوی د نوي خليفه اطاعت وکړ، له تسليميدو او اطاعت نه وروسته يواځې د بغاوت په جرم د چا د قتلولو څه شرعي جواز نشته.

---

[۱] والصحيح أن الذي فعل ذلك غيره، وأنه استحى ورجع حين قال له عثمان: لقد أخذت بلحية كان أبوك يكرمها. فتذمم من ذلك وغطى وجهه ورجع وحاجز دونه (البداية والنهاية ج:۷،ص:۱۸۵) وايضاً ودخل محمد ابن أبي بكر يأخذ بلحيته، فقال مهلا يا ابن أخي، فوالله لقد أخذت مأخذا ما كان أبوك ليأخذ به، فتركه وانصرف مستحييا نادما، فاستقبله القوم على باب الصفة فردهم طويلا حتى غلبوه.....الخ (البداية والنهاية ج:۷،ص:۱۸٤،صفة قتله رضي الله عنه ،طبع دارالفكر،بيروت)

[۲] عمروبن الحمق بفتح اوله وكسر الميم بعدها قاف ابن كاهل.... قال ابن السكن: له صحبة، وقال ابوعمر: هاجر بعد الحديبية وقيل بل اسلم بعد حجة الوداع ،والاول اصح (الاصابة فى تمييز الصحابة ج:۲، ص:۵۳۲، ۵۳۳ القسم الاول، طبع دارصادر، بيروت

[۳] اعلم! ان قتل اميرالمؤمنين عثمان رضى الله عنه من اكبر الكبائر، فانه امام حق.....ولم يدخل احد من الصحابة رضوان الله عليهم اجمعين فى قتله ولم يرض به احد منهم ايضاً بل جماعة من الفساق اجتمعوا كاللصوص (فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ص:٤٤٤، طبع نولكشور لكهنؤ) وايضاً وأما ما يذكره بعض الناس من أن بعض الصحابة أسلمه ورضي بقتله، فهذا لا يصح عن أحد من الصحابة أنه رضي بقتل عثمان رضي الله عنه، بل كلهم كرهه، ومقته، وسب من فعله. (البداية والنهاية ج:۷،ص:۱۹۸، طبع دارالفكر، بيروت)

[٤] ثم تقدم سودان بن حمران بالسيف، فجاء غلام عثمان فضرب سودان فقتله، (البداية والنهاية ج:۷،ص:۱۸۸) ..... حتى استلب رجل يقال له كلثوم التجيبي، ملاءة نائلة، فضربه غلام لعثمان فقتله، (البداية والنهاية ج:۷،ص:۱۸۹)

[۵] ...... وقد أقسم بعض السلف بالله إنه ما مات أحد من قتلة عثمان إلا مقتولا. رواه ابن جرير (البداية والنهاية ج:۷،ص:۱۸۹)

[٦] ازالة الخفاء ج:۱،ص: ۲٤۳

په «البحر الرائق جلد ۵ صفحه ۱۵۳» کې دي: وفي المحيط قال الباغي: تبت، و القى السلاح كف عنه، لأن توبة الباغي بمنزلة الإسلام من العربي في افادة العصمة والحرمة.

ترجمه: اوپه محيط کې دي چې کله باغي وايي چې زه توبه کوم او وسله وغورځوي. نو هغه نه دې لاس بندکړل شي(هغه دې نه قتليږي)، ځکه چې څنګه حربي کافر داسلام راوړلو نه وروسته دهغه وينه محفوظه شي. همدارنګه دباغي توبه کولو نه وروسته دهغه ځان او مال محفوظ شي.

د اطاعت اوتسليميدونه وروسته که چېرې حضرت علي رضي الله عنه ددې باغيانوسره څه مقابله ونکړه، نو دا د شرعي قواعدو سره عين مطابق و. يادساته چې دلته يواځې دحضرت علي رضي الله عنه دموقف وضاحت کوم چې کوموقاعدو سره عين وضاحت کوم چې کومولويو صحابه وو دقصاص مطالبه کوله. هغوی هم دخپل علم. اجتهاد او فهم وبصيرت مطابق خپل موقف په حقه ګڼه . هغوی دالله په نزدپخپل اجتهاد باندې دعمل کولو مکلف وو .دهغوی دموقف دوضاحت دا موقعه نه ده.

او په هغوی باندې نکته چيني په اصل کې دياغيانو د احکامو د نه پيژندلو وجه ده. اوستاسو دا فقره چې "وقتی هيريدل او اجتهادي غلطي به اخرترکومې پورې وي".په دې موقع باندې قطعا بې ځايه ده.حضرت علي رضي الله عنه په دې سلسله کې نه څه غفلت وکړ او نه هغه څه اجتهادي غلطي وکړه، بلکې په پوره بيداري سره يې په دې سخته اوپيچيده مسئله کې صحيح دشريعت دمنشاء مطابق عمل وکړ.

(۱۰) تاسو دحضرت عقيل رضي الله عنه دحضرت معاويه رضي الله عنه سره يوځای کيدل دحضرت علی رضي الله عنه دتدبر دنشتوالي دليل ګرځولی دی او ددې خيال اظهار موکړی دی چې يوسړی خپل سکه ورور پخپل موقف باندې قايل نه کړای شي دهغه به څه تدبير وي. تاسو به دا لطيفه اوريدلي وي چې يوصاحب(ماته يې په نوم کې شك دی او کتاب مې دا وخت مخې ته نشته) به خوراك دحضرت معاويه رضي الله عنه په دسترخوان باندې کاو او لمونځ به يې حضرت علی رضي الله عنه پسې کاو،ددې وجې پوښتنه ترې وشوه، نوويې وويل:"خوراك دهغه مزيدار وي اولمونځ دده".[1]

واقعه دا ده چې حضرت علي رضي الله عنه دبيت المال په معامله کې ډېرمحتاط و اوحضرت معاويه رضي الله عنه په دې سلسله کې ډېر دفراخه زړه والا و.حضرت علي رضي الله عنه په زهد او تقوی کې

---

[1] وعن أبي رافع قال: كان أبو هريرة رضي الله تعالى عنه يأكل على سماط معاوية ويصلي خلف علي ويجلس وحده. فسئل عن ذلك فقال: طعام معاوية أدسم، والصلاة خلف علي افضل، وهو أعلم والجلوس وحدي لي أسلم(المستطرف ج:۱،ص:۲۸۶طبع داراحياء التراث العربی،بيروت)

دحضور اکرم ﷺ او دشيخينو رضي الله عنهما په نقش قدم باندې و او دهغه په لوړ معيار باندې پوره راتلل دبل چادوس خبره نه وه. ځکه دحضرت عقيل رضي الله عنه خپل سکه ورور پرېښودل او حضرت معاويه رضي الله عنه ته ورتلل دحضرت علي رضي الله عنه په فضائلو کې شامل پکار دي چې دهغه دتقوا د لوړ معيار سره چليدلو نه دهغه سکه ورور هم قاصرو [1]. خو څنګه چې دکوم شخصيت سره د الفت او محبت رشته پاتې نشي دهغه ښه خوبونه هم عيبونه په نظر راځي. عربي شاعر صحيح ويلي دي: وعين الرضا عن كل عيب كليلة ولكن عين السخط تبدى المساويا

(١١) اموي او عباسي دورکې وخت په وخت چې کومې علوي او عباسي جګړې کيدې، تاسو هغه هم دعلي رضي الله عنه په عيبونوکې ذکر کړي دي. پرته له دې چې ددې "جګړو" منشاء څه وه؟ په دوی کې څوک په حقه و او څوک په ناحقه؟ اودا چې دهغه وخت دامت مشرانو دې جنګونو په باره کې څه ويلي وو؟ زه تاسو نه په دې پوښتنه کولو کې ګستاخي کوم. چې تاسو داجنګونه دحضرت علي رضي الله عنه خلاف په فرد جرم کې څنګه شامل کړل؟ ايا دوروسته خلکو د قول اوفعل که چېرې هغه په ناحقه وي ذمه واري به هم په حضرت علي رضي الله عنه باندې وي؟ که چېرې ديوشخصيت زموږ په زړه کې خدای مه کړه څه خبره وي. نوهغه چې کوم ګناهونه نه وي کړي، اياهغه دده په کاته(حساب) کې اچول پکار دي؟

(١٢) تاسو ليکلي دي:"په دې کې شک نشته چې شاه ولي الله په ازالة الخفا کې دحضرت علي رضي الله عنه بې شماره مناقب بيان کړي دي،(سره له دې چې ابوبکر رضي الله عنه ،عمر رضي الله عنه اودعثمان رضي الله عنه په دورخلافت کې چې اسلام ته کومه ترقي حاصله شوه. دحکومت طريقه ،معاشرت ،غرض دا چې هرقسمه تفصيل کوم چې هغه ليکلي دي) له دې نه پرته يې نور هم څه ليکلي دي؟ بياشاه ولي الله رحمه الله اکثرد" رياض النضرة للمحب الطبرى" نه اخستي.دي چې هلته ډېرزيات موضوعي اوضعيف روايتونه پکې ذکردي".

دا ناکاره ګندذهن دجناب ددې فقرې دمقصد پوهيدونه قاصردی. شايدچې تاسو داسې ويل غواړئ چې حضرات خلفاء ثلاثه (رضی الله عنهم) دور داسلام دخدماتونه ډک دی،مګر د حضرت علي رضي الله عنه خانه دخدماتو نه بالکل خالي ده. دهغه تله کې پرته دفضائلو اومناقبونه بل څه نشته اودهغه دفضائلو اومناقبو روايتونه هم زيات ترمحب طبري نه نقل شوي دي. له دې وجې نه هغه موضوعي اوناقابل اعتبار حده پورې ضعيف دي، ګويادهغه دمناقبو موټېرهم په موضوعي اومنکر روايتونوچليږي که نه هغه په دې ميدان کې هم تقريبا صفردی.

---

[1] عقيل ابن ابي طالب...... فقيل : إن معاوية قال له يوما : هذا أبو يزيد لولا علمه بأني خير له من اخيه لما أقدم عندنا . فقال عقيل : أخي خير لي في ديني وانت خير لي في دنياي وقد آثرت دنياي وأسأل الله خاتمة خير بمنه...الخ (اسدالغابة ج:٣،ص:٤٢٣)

پاتې شو دحضرت علي رضي الله عنه خدمات ،دهغو خدماتو نه پرته کوم يې چې دنبي کريم ﷺ اودحضرات خلفاء ثلاثو رضي الله عنهم په مبارك دور کې کړي و، دهغه دخلافت دزماني خدمات هم دامت له پاره د سلګونو نېک بختيو سرمايه ده.خو د زماني درنګونو دمختلف کيدو په وجه سره دحضرت ابوبکر رضي الله عنه دخدماتو رنګ بيل دی دحضرت عمراو عثمان رضي الله عنهما دخدماتو رنګونه بيل او دحضرت علي رضي الله عنه دخدماتو رنګ بيل دی.ددې اُمورو دتفصيل له پاره حجة الإسلام مولانامحمد قسم نانوتوي رحمه الله رساله "انتباه المؤمنين" مطالعه ډېره ګټوره ده، چې په هغې کې په تفصيل سره ښودل شوي دي. چې الله تعالى د څلورو خلفاو رضي الله عنهم نه په هريوکې هغه خصوصيات ايښي و چې هغو ته د دوی په دورخلافت کې ضرورت و. ددې ناکاره احساس دا دی اوانشاء الله دا احساس به غلط نه وي. که چېرې دحضرت عمر رضي الله عنه زمانه حضرت علي رضي الله عنه ته ورکړل شوې وای، نودهغه نه به هم هغه څه ظاهرشوي و کوم چې دحضرت عمر رضي الله عنه په لاس باندې وشول اوکه چېرې دحضرت علي رضي الله عنه زمانه حضرت عمر رضي الله عنه ته ورکړل شوې وای، نوده به هم هغه کړي و کوم چې حضرت علي رضي الله عنه وکړل. دفتنو نه ډکه زمانه کې چې هغه دکوم استقامت مظاهره وکړه اوقدم په قدم باندې دمشکلاتو او ازغوو سره سره چې هغه دشريعت په لاره په کوم مضبوطي سره روان و ، دهغه نه وروسته هيڅوک ددې مثال نشي وړاندې کولی. دا دهغه کمال دی چې په زرګونو خوبيانو باندې دپاسه دی بيادفتني والوسره څه معامله پکارده؟ داعلم يواځې دحضرت علي رضي الله عنه په ذريعه امت ته حاصل شو، بې شکه دهغه خدمات دفتنو په ګرداوغبار کې پټ پاتې شوي دي. څکه ښکاره ليدونکوته هغه په نظر نه راځي. خو داهم دخپل بصيرت قصور دی نه چې دحضرت علي رضي الله عنه دقاضي ابوبکربن العربي هغه فقره دې بيا وکتل شي چې هغه مې په دې سلسله کې مخکې نقل کړې ده.

اوکه چېرې دا فرض شي چې دهغه سره يواځې بې شماره فضائل او مناقب دي او نور څه نشته ، بياهم زه تاسونه پوښتنه کول غواړم چې دخدماتو نه مقصد دالله په نزد دقرب نه پرته څه وي؟ اوهرکله چې دهغه نزديکت دالله په دربارکې پخپله نبي عليه السلام فرمايلی دی،نوتاسو به يې خدماتوته ګورئ، يادهغه دقرب او رضا اوچتودرجوته، کومې چې دنبي عليه السلام دښکاره قول نه ثابتې دي؟ غرض دا چې هرکله دخدماتومقصداوغرض نوموړي ته حاصل دی. نوته دخدماتو دتلاش په فکر کې ولې پريوځې؟

پاتې شوه ستاسو داخبره چې دمناقبو روايات چې په "ازالة الخفاء کې ذکرشوي دي. موضوعي ياضعيف دي اول خو دا خبره پخپله دحضرت شاه ولي الله صاحب رحمه الله دتصريح خلاف ده هغه فرمايي:

ترجمه: موږ له موضوعي حديثونو اوله داسې ضعيفو حديثونو.کوم چې د متابعاتواو شواهدو په کارنه راځي، دهغه د ذکرکولونه پرهيزکوو اوکوم چې دصحت اوحسن په مرتبه

کې دي یا قابل قبول ضعف لري هغه به روایت کوو.
له دې نه وروسته حضرت شاه صاحب رحمه الله "من المتواتر" ویلو سره د بر حدیثونه ذکر کړي دي اوله دې نه پرته. خو دمناقب علي له پاره موږ ته د محب طبري په الریاض النضرة باندې دانحصار کولو ضرورت نشته. صحاح سته او نور مسانید او معاجم کې چې کوم روایات نقل شوي دي په هغه کې صحیح، حسن او مقبول حدیثونه هم څه کم نه دي. په شرط د دې چې زموږ زړه په دې باندې راضي هم وي او د حدیثونو نه پرته دصحابه کراموعوم او دحضرات مهاجرینو اوانصاروخصوصا چې کوم فضائل په قران کریم کې ذکر شوي دي. ایا تاسو حضرت علي رضی الله عنه د هغه نه مستثنی ګڼې؟ بیا د کوم سړي چې فضائل الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړي وي، په هغه باندې نکته چیني څنګه روا کیدای شي؟

(۱۳) تاسو پوښتنه کړې ده چې حضرت علي رضی الله عنه کسب معاش باندې توجه ولې ورنکړه، حالانکه رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته ددې ترغیب ورکړی دی حضرت علي رضی الله عنه ته دغریبي او فقر پیغور ورکول هم نن سبا دځه خلکو خوندناکه مشغله ده. ستاسو دا سوال هم غالبا ددغو خلکو دتاثر نتیجه ده، په دې باندې تفصیل سره دلیکلو ضرورت و، مګر وخت ددې بار د اوچتولو وس نه لري، مختصر دا چې کسب معاش د هریو له پاره یوشان حکم نه لري. دچا له پاره ضروري وي او دچاله پاره غیرضروري وي ددې له پاره دمرتبو اوددرجو تفصیل د امام غزالي رحمه الله او دنورو اکابرو په تصنیفاتو کې پیداکیږي، کوم حضرات چې د دیني خدماتو له پاره وقف دي او په کسب معاش کې دمشغولیدو سره په دې خدماتو کې نقصان راځي دهغو په کسب معاش کې مشغولیدل صحیح نه دي، پخپله نبي کریم صلی الله علیه وسلم اسوه حسنه زموږ مخې ته ده.

چې دوه دوه میاشتې یې په نغري کې اور نه دی بل شوی. ددې سره سره دنبوت منصب سنبالولو نه وروسته نبي علیه السلام دکسب معاش هیڅ کله مشغله نه دا ختیار کړې اوس که چیرې یو سړی ستاسو ټوله فقره نقل کړي اوحضرت علي رضی الله عنه په ځای په دې کې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نوم مبارك ولیکي اوستاسو نه دا پوښتنه وکړي چې تاسو دحضرت علي رضی الله عنه په باره کې کړې ده. نوووایئ چې ستاسو ځواب به څه وي؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې هرکله (ستاد وینا مطابق) امت ته دکسب معاش ترغیب ورکاو، نوپخپله یې کوم کسب کاو؟ او په دې سوال کې که چیرې ستاسو دا فقره هم نقل کړل شي چې "کوم سړی چې دیوې بي بي کفالت نشي کولی اوپخپله خپل کفالت هم نشي کولی نوایا ده ته هم اجازه شته چې په نکاح باندې دې نکاح وکړي؟"
"نوسوچ وکړه چې معامله به څومره نازکه اوسخته شي. خصوصا هرکله چې دا هم راپیښه وي

چې دامهات المؤمنین د نفقې دغوښتنې واقعه نه یواځې په صحیح حدیثونوکې بلکې په قران کریم کې هم ذکر شوې ده.[1]
کسب معاش خودخپل ځان له پاره یادبال بچ له پاره ذ ضرورت په بناء باندې یوه مجبوري ده او دا پخپله څه کمال نه دی حضرت علي ﷺ که چېرې هیڅ نه ګټل.نوهغه پخپله یادهغه کور والا دچا دروازې ته دسوال کولو له پاره خونه و وتلې. چې هغوی ته دنه ګټلوپېغور ورکړل شي اوکه چېرې هغه دغریبۍ، لوږې.زهد ، قناعت اوددنیانه دیوطرف ته کیدلو سره سره ستاسو دقول مطابق.نکاح دپاسه بې نکاح کولې. نوخلکوبه ورته جینکودپاسه جینکۍ نه ورکولې؟ څومره عجیبه خبره ده چې دغریبۍ ، لوږې ، زهداو قناعت دا صفت کوم چې په مخکې زمانوکې دسلو فخرونوسرمایه ګڼل کېده اوهغه به څومره اوچت فضیلت شمارل کېده : نن هما غه عیب ګڼل کیږي!
ستادقول مطابق که چېرې حضرت علي ﷺ ته دیهودي دباغ اوبه کولو نه یادوبنو ریبلونه پرته بل هنر نه و زده، نودې له پاره زما اوستادپریشانه کیدو څه ضرورت دی، ددې فکرکه چېرې وی نوهغې پاکې هستۍ ته به و چاچې خپله نیازبینه لور"دجنت دښځو سرداره" هغه ته په نکاح ورکړه (صلی الله علیه وسلم ورضی الله عنها) څومره عجیبه خبره ده چې د حضرت علي ﷺ دکسب معاش نه نه نبي ﷺ ته شکایت دی اونه دحضرت علي ﷺ کور والوته.خو نن په حضرت علي ﷺ دا بدهم ویل کیږي چې هغه به څه ګټه نه کوله(انا لله وانا الیه راجعون)
(۱۴) تاسو د حضرت علي ﷺ دابوجهل دلور سره دنکاح د ارادې دواقعې نه داتنیجه اخستې ده چې یواځې فاطمې ﷺ ته بې تکلیف نه ورکولو بلکې رسول الله ﷺ ته یې هم

---

[1] يَأَيُّهَا النَّبِي قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللهَ وَرَسُوْلَه وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيمًا(الاحزاب :۲۸) عن جابر قال: أقبل أبو بكر، رضي الله عنه، يستأذن على رسول الله صلى الله عليه وسلم والناس ببابه جلوس، والنبي صلى الله عليه وسلم جالس: فلم يؤذن له. ثم أقبل عمر فاستأذن فلم يؤذن له. ثم أذن لأبي بكر وعمر فدخلا والنبي صلى الله عليه وسلم جالس وحوله نساؤه، وهو ساكت، فقال عمر: لأكلمن النبي صلى الله عليه وسلم لعله يضحك، فقال عمر: يا رسول الله، لو رأيت ابنة زيد امرأة عمر سألتني النفقة آنفا، فوجأت عنقها. فضحك النبي صلى الله عليه وسلم حتى بدا نواجذه وقال: "هن حولي يسألنني النفقة". فقام أبو بكر، رضي الله عنه، إلى عائشة ليضربها، وقام عمر، رضي الله عنه، إلى حفصة، كلاهما يقولان: تسألان النبي صلى الله عليه وسلم ما ليس عنده. فنهاهما رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلن نساؤه: والله لا نسأل رسول الله بعد هذا المجلس ما ليس عنده. قال: وأنزل الله، عز وجل، الخيار، فبدأ بعائشة فقال: "إني أذكر لك أمرًا ما أحب أن تعجلي فيه حتى تستأمري أبويك". قالت: وما هو؟ قال: فتلا عليها: { يا أيها النبي قل لأزواجك } الآية(تفسير ابن كثيرج:۵،ص:۱۶۶)

تکلیف ورکاو، چې د نبي علیه السلام د دښمن د لور سره بې د نکاح اراده کوله.[1] سره له دې چې حضرت علي رضی الله عنه نه حضرت فاطمې رضی الله عنها ته د تکلیف ورکولو اراده وه او نه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته. هغه د ابوجهل له لور سره د نکاح کولو اراده کړې وه خو دا خبره د هغه په خیال کې هم نه وه چې دا خبره د نبي علیه السلام د ناخوښۍ سبب کیدای شي. که نه د دې نکاح به هغه ته خیال هم نه وی راغلی. بیا چې کله نبي صلی الله علیه وسلم د ناخوښۍ اظهار وکړ نو هغه دا اراده فوراً پریښوده.[1] که چیرې هغه دا نکاح کړې وی نو حضرت فاطمې رضی الله عنها ته او د هغه په وجه به نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته تکلیف وی. خو نه هغه نکاح وکړه او نه دې حضراتو ته تکلیف ورکړل شو، بلکې د هغه له ارادې تېرېدو سره به دا حضرات یقیناً خوشحال شوي وي. خو تاسو په هغه باندې دا الزام لګولی دی چې هغه نبي علیه السلام ته تکلیف رسولی دی او الزام هم داسې سخت چې په هغه باندې په قران کریم کې لعنت راغلی دی. تاسو خولږ انصاف وکړئ چې که چیرې هغه نبي علیه السلام ته تکلیف ورکړی وای نو هغه ته به د "رجل یحب الله ورسوله ویحبه الله ورسوله"[2] او د "رضی الله عنه" زیری ورکول کېده که د "ان الذین یؤذون الله ورسوله لعنهم الله فی الدنیا والاخرة واعدلهم عذاباً مهیناً.(الاحزاب:۵۷) په ډله کې به راته؟

تاسو د خبرو په ختمیدو کې د نبي علیه السلام د تکلیف خبره ذکر کړې ده. نو دا ناکاره هم تاسو نه دیوې پوښتنې جرات کوي. هغه دا چې د نبي علیه السلام سره چې د حضرت علي رضی الله عنه کوم تعلق و هغه هم تاسو ته معلوم دی او نبي علیه السلام چې کوم د ده بیشماره مناقب بیان کړي دي هغه هم ستاسو مخې ته دي. سوال دا دی چې د نبي علیه السلام د محبوب ترین شخصیت نقصانونه او عیبونه پلټل، د هغه په باره کې ناخوښه الفاظ استعمالول، د هغه د سپکاوی کول. د هغه سره پخپله نفرت ساتل او د نورو خلکو د متنفر کولو کوشش کول. ایا د دې ټولو خبرو سره به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تکلیف نه وي رسیدلی؟ اوس چې کوم خلک د حضرت علي رضی الله عنه عیبونه خپروي، ایا د هغوی دا فعل د نبي علیه السلام په نظر کې د تعریف قابل دی؟ ایا هغوی به د نبي علیه السلام د محبوب رشته دار د عیبونو راویستلو سره د نبي علیه السلام ته د تکلیف رسولو مجرم او په دنیا او آخرت کې د لوی تاوان حقدار نه وي؟ د روافضو نه زموږ هم دغه شکایت دی چې

[1] (ولا تجتمع بنت رسول الله) ای فاطمة،(وبنت عدوالله) ای بنت ابی جهل(مکانا واحدا ابداً) قال الحافظ،وقال اهل التین اصح ما تحمل علیه هذه القصة ان النبی صلی الله علیه وسلم حرم علی علی رضی الله عنه ان یجمع بین ابنته وابنة ابی جهل لانه علل بان ذلک یؤذیه واذیته حرام بالاتفاق.....لانه یبعد ان فی خصائص النبی صلی الله علیه وسلم ان لا تزوج علی بناته ویحتمل ان ذلک مختصاً لفاطمة سلام الله علیها(بذل المجهود، کتاب النکاح،باب ما یکره ان یجمع بین النساء ج:٤،ص:١٥،طبع مکتبه امدادیه)

[2] مشکوة، باب مناقب علی بن ابی طالب ص:٥٦٣

هغوی د رسول الله ﷺ د محبوبو کسانو عیبونه راوباسي او نبي علیه السلام ته تکلیف ورکوي. که چېرې موږ هم دا کار شروع کړو نو په موږ او هغوی کې به څومره فرق پاتې شي. الله جل شانه دې موږ د دې مصیبت نه محفوظ وساتي' والسلام

د حضرت بلال رضی الله عنه واده

سوال: ایا د حضرت بلال رضی الله عنه واده د هغه تر وفاته خوورخې وړاندې شوی و. هغه هم په غیبي اشارې باندې او ایا د حضرت بلال رضی الله عنه عمر د الله تعالی له لوري څلویښت کاله زیات شوی و؟

جواب: حضرت بلال رضی الله عنه په یمن کې واده کړی دی[1] او دا معلومه نه ده چې د وفات نه څومره موده مخکې یې کړی و. نه د غیبي اشارې ماته علم شته او د څلویښتو کالو د عمر زیاتیدو خبره غلطه ده. د هغه عمر د شپیتو کالو نه څه زیات وا و په اتلسم یا نولسم یا په شلم هجري باندې وفات شوی دی.[2]

په حضرت ابوسفیان رضی الله عنه بدګماني

سوال: د حضرت ابو سفیان رضی الله عنه په اړه ډېر خلک بدګماني کوي او وایي چې صحابي نه و. دهغه په باره کې وضاحت وکړئ؛ بل دا چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم له نومونو پرته د بل چا د نوم سره رضی الله عنه ویل کیدای شي او که نه؟

جواب: حضرت ابو سفیان رضی الله عنه صحابي و د هغه په حق کې دا بدګماني غلطه ده.[3]

"رضی الله عنه" د صحابه وو له پاره دي. د نورو له پاره نه دي ویل پکار. اګرچې د لغوي معنا په لحاظ سره دعا ده او په دې وجه باندې د تابعینو او ددین د امامانو له پاره هم دا صیغه استعمال شوي ده.[4]

۱] خطب بلال واخوه الى اهل بيت من اليمن......اخبرنا قتادة ان بلالاً تزوج امراة عربية من بنى زهرة(طبقات ابن اسعد ج:۳،ص:۲۳۷، ۲۳۸ بلال بن رباح)

۲] توفى بلال بدمشق....... وهو ابن بضع وستين سنة(طبقات ابن اسعد ج:۳، ص:۲۳۸ طبع بيروت)

۳] وكان أبوه من سادات قريش، ثم لما أسلم حسن بعد ذٰلك إسلامه، وكان له مواقف شريفة. وآثار محمودة في يوم اليرموك وما قبله وما بعده(البداية والنهاية لابن كثير ج:۸،ص:۱۱۷ ترجمة معاويه بن ابى سفيان)

٤] وفى در المختار: وَيُسْتَحَبُّ التَّرَضِّي لِلصَّحَابَةِ وَالتَّرَحُّمُ لِلتَّابِعِينَ وَكَذَا يَجُوزُ عَكْسُهُ) التَّرَحُّمُ وَلِلصَّحَابَةِ وَالتَّرَضِّي لِلتَّابِعِينَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ وفى ردالمحتار: وَيُسْتَحَبُّ التَّرَضِّي لِلصَّحَابَةِ لِأَنَّهُمْ كَانُوا يُبَالِغُونَ فِي طَلَبِ الرِّضَا مِنْ اللَّهِ تَعَالَى وَيَجْتَهِدُونَ فِي فِعْلِ مَا يُرْضِيه ، وَيَرْضَوْنَ بِمَا يَلْحَقُهُمْ مِنْ الِابْتِلَاءِ مِنْ جِهَتِهِ أَشَدَّ الرِّضَا ، فَهَؤُلَاءِ أَحَقُّ بِالرِّضَا وَغَيْرُهُمْ لَا يَلْحَقُ أَدْنَاهُمْ وَلَوْ أَنْفَقَ مِلْءَ الْأَرْضِ ذَهَبًا(ردالمحتار ج:٦،ص:٧٥٤.طبع ايچ ايم سعيد)

د حضرت ابوسفیان نوم څنګه لیکل کیږي ؟

سوال: په کورس کې چې کوم دینیات لوستل کیږي په دې کتاب کې یوځای دصحابه وو دهغه دور واقعه راځي چې په کوم وخت کې هغوی مسلمانان شوي نه وو. نوهلته یې لیکلی وي چې فلانی صحابي رضي الله عنه (چې کله هغه ایمان نه و راوړی) خو چې کله د ابوسفیان خبره وي. نوهلته یې یواځې ابوسفیان لیکلی وي. حضرت او رضی الله عنه ورسره نه وي لیکل شوي (سره له دې چې هغه مسلمان شوی و) ددې څه وجه ده. ایادا دمصنفینو غلطي ده یابله څه وجه ده؟

جواب: دا غلطي ده، دهغه دنوم هم ادب او تعظیم سره لیکل پکار دي[1]. داسلام نه مخکې غلطیانې معاف دي.[2]

عمر، بکر، زید فرضي نومونو سره د صحابه وو بې ادبی نه کیږي

سوال: زیددیوسکول هیډماسټر دی، په دی سوال کې د "زید" لفظ دیوفرضي نوم په طور لیکل شوی دی. له دې نه پرته هم په اُردو ژبه کې د زید، عمر، بکر الفاظ د فرضي نومونو په ځای استعمالیږي، جناب مولانا صاحب! تاسو زمانه ډیرښه پوهیږئ چې دا ډیر دجلیل القدر صحابه کرامورضي الله عنهم نومونه دي. څکه موږ ته دمسلمان په حیث سره دعزت او احترام په خاطر دا نومونه د فرضي نومونو په طورباندې استعمالولو نه ځان ساتل پکار دي؟

جواب: ښه تجویز دی خو ددې فرضي نومونو داستعمالولو په وخت کې کله هم دچاذهن دغو اکابرو طرف ته نه ځي، له دې وجې نه دبې ادبي نظریه غلطه ده.

د نبي کریم ﷺ لوراني

سوال: ځینې خلک وایي چې درسول الله ﷺ یوه لور(سیده فاطمه رضي الله عنها) وه، سره له دې ما لوستلي و چې دهغه ﷺ څلور لوراني وې اوزوی یې ابراهیم و چې هغه په مدینه منوره کې وفات شوی و، په لورانو کې دسیده فاطمه رضي الله عنها نکاح د شیرخدا حضرت علي رضي الله عنه سره وشوه او د سیده رقیه رضي الله عنها او سیده زینب رضي الله عنها نکاح حضرت عثمان غني رضي الله عنه سره وشوه، دڅلورمې لور علم راته نشته. تاسو دا وښایئ چې دا څلور واړه دکومې بی بی له خیټې نه پیدا شوې وې او نکاح یې چاسره وشوه او وفات یې چرته شوی و او که چیرې د دوی دخیټې نه

1] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اکرموا اصحابی فانهم خیارکم(مشکوة ص: ٥٥٤، باب مناقب الصحابة)

2] ان الاسلام یهدم ماکان قبله (صحیح مسلم ج: ١،ص: ٧٦، کتاب الایمان، طبع کتب خانه رحیمیه دیوبند)

نور اولاد شوي وي. نوهغه هم ونبايئ .ايا په دوی کې دچانکاح په عرش معلی کې تړل شوي وه. که نه ؟

جواب: دنبي کريم ﷺ لوراني خوځلور وې[1].له ټولو نه مشره حضرت زينب رضي الله عنها ددې نکاح حضرت ابو العاص رضي الله عنه سره وشوه[2]او ددې نه کشره سيده رقيه رضي الله عنها او د دې نه کشره سيده اُم کلثوم رضي الله عنها ددې دواړو نکاح ديوې دمرګ نه وروسته دحضرت عثمان رضي الله عنه سره و شوه په له دې وجې دده لقب ذوالنورين دی[3] دټولو نه کشره سيده فاطمه زهرا رضي الله عنها چې دجنت دښځو سرداره ده رضی الله عنها .د دې نکاح دحضرت علي رضي الله عنه سره وشوه [4]

دزامنو په تعداد کې بې اختلاف دی.ځينو پنځه ليکلي دي:

۱:قاسم ۲:طيب ۳ عبدالله۴:طاهر۵:ابراهيم(رضي الله عنهم:)اولني ځلور دحضرت خديجه الکبری رضي الله عنها له خيټې نه وو[5]او حضرت ابراهيم رضي الله عنه دحضرت ماريه قبطيې رضي الله عنها له خېټې نه و[6].ځينې حضرات فرمايي چې طيب او طاهر دعبدالله لقبونه دي[7].رضی الله عنهم.

د حضرت خديجې رضي الله عنها د وفات پرمهال د نبي عليه السلام عمر

سوال: کله چې ام المؤمنين سيده خديجه رضي الله عنها له دې دنيا نه رخصت شوه. نودنبي کريم ﷺ عمر مبارك څومره و؟

جواب: پنځوس(۵۰) کاله.[8]

۱] وفيها اسلمت بنات النبى صلى الله عليه وسلم الاربع كلهن (۱) زينب وهى اكبر بناته (۲) وفاطمة (۳) ورقية (٤) وام كلثوم (بذل القوة ص:٤.فصل فى حوادث السنة الاولى من النبوة،القسم الاول)

۲] ابوالعاص بن الربيع زوج زينب بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم (بذل القوة ص:۳۰۷،السنة الحادية عشرة من الهجرة)

۳] تزوج عثمان بن عفان رضى الله عنه رقية بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم (بذل القوة ص:١٤) وتزوج عثمان بن عفان رضى الله عنه بام كلثوم بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم (بذل القوة ص:١٣٦،فصل فى حوادث السنة الثالثة من الهجرة)

٤] تزوج على بفاطمة رضى الله عنها فى صفر لليال بقين منه (بذل القوة ص:١٣٤،السنة الثالثة من الهجرة)

٥] ان خديجة بنت خويلد ولدت لرسول الله صلى الله عليه وسلم القاسم والطاهر والطيب وعبدالله وزينب ورقية وام كلثوم وفاطمة (اسد الغابة ج:٥،ص:٤٣٦)

٦] واما ابنه صلى الله عليه وسلم ابراهيم وكان من سريته مارية (بذل القوة ص:٤،حوادث السنة الاولى من النبوة)

٧] وعبدالله الملقب بالطيب والطاهر ايضاً (بذل القوة ص:٤.مرقاة شرح مشكوة ج:۱،ص:١٥٥)

٨] وكان موتها قبل الهجرة بثلاث سنين (اسدالغابة فى معرفة الصحابة ج:۱،ص:١٩ طبع داراحياء التراث العربى) وايضاً توفيت خديجة الكبرى زوجة النبى صلى الله عليه وسلم ورضى عنها وهى بنت خمس وستين سنة وكانت مدة مقامها مع النبى صلى الله عليه وسلم خمساً وعشرين سنة (بذل القوة ص:٢٩.فصل فى حوادث السنة التاسعة من النبوة)

نبي علیه السلام د عائشې رضی الله عنها سره کله واده وکړ؟

سوال: ایا ام المؤمنین حضرت خدیجه رضی الله عنها ژوندۍ وه چې نبي علیه السلام د ام المؤمنین مریم اسلام، حبیبه حبیب خدا سیده عائشه رضی الله عنها سره واده وکړ؟

جواب: د حضرت خدیجې رضی الله عنها د وفات نه وروسته یې واده وکړ.[1]

د واده په وخت کې د حضرت عائشه رضی الله عنها عمر نهه کاله و

سوال: څه فرمایي ددین عالمان اومفتیان دې باره که چې د ام المؤمنین حضرت عائشې رضی الله عنها عمر د هغې د واده په وخت کې څو کاله و؟ ایا دې کې اختلاف شته چې د حضرت عائشې رضی الله عنها عمر د نهه کالو نه زیات تقریبا دولس کاله و؟ ایا چیرته د حدیث نه د داسې قسمه ثبوت شته؟ که چېرې وي، نو د هغه حدیث څه حیثیت دی؟ او دې باره کې د عالمانو اجتماعي طور باندې څه نظر دی؟

جواب: د واده په وخت کې د حضرت عائشې رضی الله عنها عمر نهه کاله و. د دې ثبوت له دې کتابونو نه کیدای شي:

(۱) صحیح بخاري ج۲ ص ۷۷۵، (۲) صحیح مسلم ج۱ ص ۴۵۲، (۳) ابوداؤد ج۱ ص۲۸۹، (۴) ترمذی ج۱ ص۱۳۲ (۵) نسائي ج ۲ ص ۹۱ (۶) ابن ماجه ص ۱۳۵، (۷) دارمي ج۲ ص۸۲، (۸) مسند احمد ج۶ ۲ ۴۲، ۱۱۸، ۲۱۱، ۲۸۰، (۹) طبقات ابن سعد ج۸ ص ۴۰، ۴۴، ۵۴، (۱۰) الاصابه ج ۴ ص ۳۵۹، (۱۱) الاستیعاب برحاشیه اصابه ج ۴ ص ۳۵۹

ایا د نهو کالو په عمر کې انجلۍ بالغه کیدای شي؟

سوال: د ښځې د بالغه کېدو عمر کم نه کم څومره دی؟ ځینې حضرات د عائشې رضی الله عنها د نهو کالو په عمر کې په واده باندې اعتراض کوي. ایا دا روا دي؟ مدلل او مفصل ځواب راکړئ

جواب: دا یواځې د ملحدانو او منکرینو ځېره شوې خبره ده. که نه انجلۍ د نهو کالو په عمر کې بالغه کیدای شي[2]. په دې سلسله کې د روزنامه جنګ. خبرو ګورئ:

په برازیل کې نهه کلنې انجلۍ تیره میاشت یوه ماشومه وزیږوله او د دنیا تر ټولو کم عمر مور شوله. (دیلي مرر) اخبار د چارشنبې په ورځ د دې خبر په ورکولو کې وویل چې: (ماریا

۱] ام المؤمنین عائشة بنت ابی بکر وزوجة رسول الله صلی الله علیه وسلم .....تزوجها بمکة بعد وفاة خدیجة (البدایة والنهایة ج:۸،ص:۹۱،طبع بیروت)

۲] وادنی المدة لذلک فی حق الغلام اثنا عشرة سنة وفی حق الجاریة تسع سنین (هدایة ج:۳،ص:۳۵۶)

ایلاینې جیزز) په ۲۵ مارچ د شمالي برازیل ژاکوئي کلي کې د اپریشن په ذریعه یوه ماشومه وزیږوله. دزیږیدلې شوې ماشومې د پلار عمر ۱۲ کاله نبودل کیږي. د ماریا ایلاینې مور په خپله د هغې د زیږولو نه وروسته مړه شوې وه. چې د هغې نه وروسته یو ۲۲ کلن زمیدار د هغې پالنه کړې وه. مرر دکم عمرې مور او ماشومې تصویرونه هم خپاره کړي دي. (روزنامه جنګ کراچي ۱۰ اپریل ۱۹۸۲ ص: ۱۰)

د ۱۲ اپریل په اخبارونوکې د دې کم عمره مور او د زیږیدلې ماشومې تصویرونه هم خپاره شوي دي. فکر کیږي چې دبرازیل اخبار ډیلي مرر په حوالې سره داعجیبه خبر د دنیا په ټولو اخبارونوکې خپور شوی وي چې ماریا ایلاني د دنیا د ټولونه کم عمره مور شوه. بې شکه یوه عجیبه خبره ده. خو دا واقعه که هرڅومره عجیبه وي. خو په وجود او مشاهدې کې راغلې ده د دې وجې نه هیڅ یو د عقل خاوند داسې ویلو سره د دې نه انکار نه شي کولی چې داڅنګه کیدای شي؟

صحیح بخاري شریف او د سیرت او تاریخ په ټولو کتابونوکې د ام المومنین حضرت عائشه رضي الله عنها دواده واقعه په خپله د ام المومنین په ژبه داسې نقل شوې ده:

أن النبي صلى الله عليه وسلم تزوجها وهي بنت ست سنين، وأدخلت عليه وهي بنت تسع ومكثت عنده تسعا. (صحيح بخاري ج ۲ ص: ۷۷۱)

ترجمه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې کله له دې سره کوژدن وکړ. نو هغه د شپږو کالو وه او کله چې هغه واده کېده. نو هغه د نهو کالو وه او هغه د حضور صلی الله علیه وسلم سره ترنهو کالو پورې وه.

دامت فقهاوو له دې حدیث نه ګڼ شمیر مسائل اخذ کړي دي. مثلاً یو داچې یو پلار د خپل نابالغه اولاد، انجلۍ او هلک نکاح کولی شي. امام بخاري رحمه الله په دې باندې باب قائم کړی دی (باب النكاح الرجل ولده الصغار) د خپل کم عمر د اولاد نکاح کول.

د دې نه لاندې حافظ ابن حجر رحمه الله لیکي:

قال المهلب: اجمعوا أنه يجوز للأب تزويج ابنته الصغيرة البكر ولوكانت لايطأمثلها، إلاان الطحاوي حكى عن ابن شبرمة منعه فيمن لا توطأ، وحكى ابن حزم عن ابن شبرمة ملطقا ان لأب لايزوج بنته البكر الصغيرة حتى بلغ، وتأذن وزعم ان تزويج النبي صلى الله عليه وسلم وهي بنت ست سنين كان من خصائصه. (حاشيه بخاري ص: ۷۷۱، فتح الباری ج: ۹ ص: ۱۹۰)

ترجمه: مهلب فرمایي چې د اهل علم په دې باندې اجماع ده چې د پلار له پاره جائز دي چې د خپلې وړې ناواده کړې لور واده وکړي اګرکه هغه د وظیفه زوجیت دادا کولو لائقه نه وي. خو امام طحاوي د ابن شبرمه نه نقل کړې دي چې کومه انجلۍ د زوجیت د وظیفې دادا کولو قابله نه وي پلار د هغې نکاح نه شي کولی او ابن حزم د ابن شبرمه نه نقل کړې دي چې پلار دوړې

لورنکاح نه شي کولی. تردې پورې چې هغه بالغه شي او اجازه ورته وکړي. دابن شبرمه په نظر دحضرت عائشې رضي الله عنها شپږو کالو په عمرکې دحضور ﷺ سره واده کېدل. داد حضور ﷺ خصوصيت و.

ګويا دامت ټول فقهاء او محدثين دحضرت عائشې رضي الله عنها داواقعه تسليموي او په دې باندې داحکامو تفريع کوي. دڅوارلسو سوو کالو راهيسې هيڅ يو عالم له دې څخه انکار نه دی کړی. خو منکرين حديث او ملحدان له دې واقعې(چې په حديث. سيرت. تاريخ. فقې او په بې شمېره کتابونو کې موجوده ده او دڅورلسو سوو کالو راهيسې دپوره امت منل شوې واقعه ده) نه انکار کوي او دانکار دليل يو اځې دادی چې دنهو کالو دعمر انجلۍ څنګه واده کېدای شي؟سره له دې چې دنهو کالو په عمرکې انجلۍ بالغه کيدای شي .په هدايه کې دي:

وأدنى المدة لذالک في حق الغلام اثنا عشرة سنة وفي حق الجارية تسع سنين.(ج:۳ ص:۳۵۶)

ترجمه: دبالغ کېدو کم عمر دهلک په حق کې دولس کاله او دانجلۍ په حق کې نهه کاله دي.

په هرحال دلته په دې باندې خبرې کول مقصد نه دي. بلکې يو اځې دا ويل دي چې اوس کله څه عجيبه واقعه په اخبارونو کې چاپ شي. نوزموږ دتعليم يافته حضراتو پکې هيڅ شک نه وي او نه ددې په تسليمولو کې څه ويره محسوسوي او نه ترې د انکار جرات کوي او که څوک دداسې واقعې نه انکار وکړي. نوزموږ روشن خياله طبقه هغه ته بې وقوف وايي. خو ددې په شان بلکې ددې نه هم دوړکي نوعيت څه واقعه که دحديثو په کتابونو کې به نظر راشي .نو دهغې نه فورا انکار کوي او په هغې پورې ټوکې کوي او په حديثونو او محدثينو باندې دطعن او تشنيع باران جوړکړي او غريب ملا ته په مړه خيټه کنځل وکړي او کله کله دهمدردې په طور دکتب حديث داصلاح اعلان هم وکړل شي او ديوزياتو سره دشپږو نه شپاړس او نهو نه نولس جوړولو کوشش کيږي او د دومره تميز نه هم کار نه اخستل کيږي چې څنګه په اردو کې دشپږو. .املا . .دشپاړسو سره او دنهو .دنورلس سره نه شي کيدای . نو هم هم دارنګه په عربي کې هم ناممکن دي.

سوال دادی چې په اخباراتو کې چاپ شوي واقعات پرته له عذرنه منل او دهمدې نوعيت په حديث کې ذکرشويو واقعاتو باندې په سوونو شکونه کول، ددې اصل مقصد څه دی؟ددې منشا داده چې ددې خلکو د رسول الله ﷺ په صفت رسالت او نبوت باندې ايمان نشته او ددوی په زړونو کې دحضور ﷺ د اقوالو او احوالو او افعالو عظمت نشته. ددې وجې نه دوی دحضور ﷺ پاک دژوند له خلاف عادت واقعاتو نه ډېر په جرات او دزړه له تله انکار کوي.

ایا د حضرت زینب رضي الله عنها خاوند مسلمان و؟

سوال: د سیده زینب رضي الله عنها چې چاسره نکاح شوې وه ایا هغه مسلمان و؟

جواب: دحضرت زینب رضي الله عنها نکاح دحضرت ابوالعاص بن ربیع رضي الله عنه سره شوې وه. دنکاح په وخت کې خو هغه مسلمان نه و. (هغه وخت کې دغیرمسلموسره دنکاح ممانعت نه و راغلی) دجنګ بدرنه وروسته هغه مسلمان شو اومدینې منورې ته یې هجرت وکړ [1]

حضرت اُم هَاني رضي الله عنها څوک وه؟

سوال: دحضرت اُم هاني رضي الله عنها دنبي کریم صلی الله علیه وسلم سره څه خپلوي وه؟ اُم هاني رضي الله عنها چې دهغه د کور نه نبي علیه السلام معراج ته تشریف وړی و. د اُمِ هاني رضي الله عنها نسب نامه څه وه ځواب په تفصیل سره راکړئ!

جواب: اُمِ هاني رضي الله عنها، دحضرت علي رضي الله عنه خور وه. [2]

د (الصحابة کلهم عدول) تشریح

سوال: الصحابة کلهم عدول، اصحابي کالنجوم، ایادا دحدیثونو اقوال دي؟ خوپه مستند حدیث کې دي چې خلک به حوض کوثرته راشي، فرښتې به هغه منع کوي، زه به ورته ووایم چې دازمااصحاب دي، ځواب به راکړل شي چې تاته پته نشته، دوی له تاسونه وروسته څه کړي دي؟ دې حدیث شریف نه دټولوصحابه وو عادلان کېدل په ښکاره باندې نه معلومیږي (دایواځې یواشکال دی) همدارنګه داحدیث مبارک چې دکوم صحابي اقتداء وکړئ، هدایت به درته وشي. که چېرې څوک ووایي چې زه خودعمروبن العاص اومغیره بن شعبه رضي الله عنهم اقتداء کوم اومعاملاتوکې انصاف نه کوي اودهغه دواقعاتوحواله ورکوي. مثلا عمروبن العاص رضي الله عنه دابوموسی اشعري رضي الله عنه سره چې څه کړي و. حالانکه دواړه په صفین کې حکم (ثالث) جوړکړل شو، نوله دې نه معلومیږي چې هغه اقتداء له کومې نه چې هدایت فایده کیږي، هغه دصحابه کرامو رضي الله عنهم دعقیدې اودایمان اقتداء ده، چې دهغې مثال ګران دی، اودهغوی داعمالو، عاداتو او طریقو اقتداء مراد نه ده.

جواب: داصحابي کالنجوم مضمون صحیح دی، خودحدیث الفاظ صحیح سند سره ثابت نه

---

[1] ابوالعاص القرشي العبشمي صهر رسول الله صلی الله علیه وسلم علی ابنته زینب...... وقد هاجر بعد وقعة بدر ثم اسلم بعد ذلک ......الخ (اسد الغابة ج:٤،ص:٢٦٥، ٢٦٦)

[2] ام هانی بنت ابی طالب.....واخت علی ابن ابی طالب...... الخ (اسد الغابة ج:٥،ص: ٦٢٤)

دي[1]، د صحابه کرامو رضي الله عنهم کارونه دوه قسمه دي. خینې خو د نصوصو د تابعداري په وجه باندې او خینې د اجتهاد په وجه باندې. بیا اجتهادي کارونه هم په دوه قسمه دي. یو هغه کوم باندې چې د یو فریق ثواب یا خطا کیدل په غالب ګمان متعین نه وي. دا سې اجتهادي کارونو کې د مجتهد له پاره یو قول اختیارول صحیح دي. کوم چې د مجتهد په نزد باندې صحیح وي او دویم قسم هغه دی چې د یو فریق په غالب ګمان خطا کیدل ثابت شي. دا سې قولونو او کارونو کې به د مخطي اتباع نه کیږي. البته هغوی به د خپل اجتهاد په وجه باندې معذور، بلکې ماجور ګڼل کیږي. په له دې وجې باندې (بأیهم اقتدیتم اهتدیتم) به له دې شرط سره وي چې د هغوی خطا با کېدل په غالب ګمان ثابت نه وي. خو دا سې به وویل شي چې هغوی هم د هدایت د اتباع قصد کړی و. هغوی باندې هیڅ ملامتیا نشته. تر کومه حده چې الصحابة کلهم عدول تعلق دی. دا هم حدیث نه دی بلکې د اهل سنت یوه قاعده ده او هغه د اکابرینو (کلهم عدول) کېدو سره دا نه لازمیږي چې هغوی معصوم و. کوم هدایت چې مونږ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته منسوب کړ. هغه دوه شیان دي. یو دا چې هغوی به د کبائرونه پرهیزکاوو او د هغوی په نفس کې د کبائرونه د ځان ساتلو صلاحیت پیدا شوی و. دویم دا که چېرې له چانه به د انسانیت په وجه باندې خطا څه کبیره ګناه وشوه. نو هغوی به سمدستي له هغه نه توبه وکړه او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د صحبت د برکت په وجه باندې د هغوی نفس د هغې ګناه اثروانه خست او ،،التائب من الذنب کمن لاذنب له،، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وینا ده. له دې وجې د کبیره ګناه کولو نه وروسته د توبې په وجه باندې هغوی عادلان دي. فاسقان نه دي. حضرت نانوتوي رحمه الله او نورو اکابرینو دې باندې ډیر تفصیل سره بحث کړی دی. ما یې خلاصه ولیکله. چې ستاسو د مشکل د حل له پاره به انشاء الله کافي وي.[2]

---

[1] واما ما یروی عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال: اصحابی کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم فهو حدیث ضعیف قال البزار، هذا حدیث لا یصح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم .ولیس هو فی کتب الحدیث المعتمدة (شرح عقیدة الطحاویة.ص: ۵۳۰.وایضاً مرقاة شرح مشکوة ج:۵،ص:۵۲۳)

[2] ولا نذکر الصحابة ای مجتمعین ومنفردین......الا بخیر.یعنی وان صدر من بعضهم بعض ما فی صورة شر. فانه اما کان عن اجتهاد او لم یکن علی وجه فساد من اصرار وعناد بل کان رجوعهم عنه الی خیر معاد بناء علی حسن الظن بهم، لقوله علیه السلام خیرالقرون قرنی! ولقوله علیه السلام اذا ذکر اصحابی فامسکوا! ولذلک ذهب جمهورالعلماء الی ان الصحابة کلهم عدول، قبل فتن عثمان وعلی وکذا بعدها(شرح فقه الاکبر ص:۸۵، ۸۶)

صحابه کرام د هدایت ستوري دي

سوال: ,,أصحابي كالنجوم او الصحابة كلهم عدول.. تاسو وفرمایل چې دواړه د حدیث اقوال نه دي، که چېرې داسې ده. نو هیڅ مشکل نشته. که چېرې حدیث شریف وي. نو درایت باندې پوره نه راځي. ځکه چې ډېرو صحابه کرامو نه لوی لوی لغزشونه شوي دي. لکه حضرت امیر معاویه رضی الله عنه. عمرو بن العاص رضی الله عنه مغیره بن شعبه رضی الله عنه. عبیدالله بن عمر رضی الله عنه عبدالله بن ابی سرح رضی الله عنه وغیره.

جواب: الصحابة كلهم عدول حدیث نه دی. خو داهل حق عقیده ده[1]. او داکابرینو په تقلید کې زماهم داعقیده ده چې صحابه کرام رضی الله عنهم له شک پرته د هدایت ستوري وو. او ټول عادلان وو. خو تاسو د عدل معنا عصمت ګڼلې ده. صحابه کرام رضی الله عنهم عادلان وو. معصوم نه وو او دعدل معنا ده. قصدا د کبائرونه ځان ساتل او په صغائرباندې داصرار کولونه ځان ساتل او که چېرې به په خطاکې ترې ګناه وشوه .نو سمدستي به یې توبه کوله[2]

د کومو صحابه کرامو رضی الله عنهم نوم اخستلو سره چې تاسو فرمایلي دي چې له دوی نه لوی لوی لغزشونه شوي دي. هغو کې کومه داسې غلطي ده د کومې له وجې چې د الله تعالی له طرف نه د معافي اعلان نه وي شوی؟ او هغوی د (كُلاًّ وعدالله الحسنى) د الله تعالی د وعدې نه مستثنی دي، ابن ابی سرح رضی الله عنه مرتد کیدونه وروسته مسلمان شوی و[3]. له دې وروسته د هغه نه کومه غلطي شوې وه؟ حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه. مغیره بن شعبه رضی الله عنه او امیرمعاویه رضی الله عنه

---

[1] ولا نذكر الصحابة اى مجتمعين ومنفردين......الا بخير،يعنى وان صدر من بعضهم بعض ما فى صورة شر، فانه اما كان عن اجتهاد او لم يكن على وجه فساد من اصرار وعناد بل كان رجوعهم عنه الى خير معاد بناء على حسن الظن بهم، لقوله عليه السلام خيرالقرون قرنى! ولقوله عليه السلام اذا ذكر اصحابى فامسكوا! ولذلک ذهب جمهورالعلماء الى ان الصحابة كلهم عدول. قبل فتنة عثمان وعلى وكذا بعدها.ولقوله عليه السلام :اصحابى كالنجوم بايهم اقتديم اهتديتم! رواه الدارمى(شرح فقه الاكبر ص:٨٥، ٨٦)

[2] قوله العدل قال فى الذخيرة:واحسن ما قيل فى تفسير العدالة: ان يكون مجتنباً للكبائر،ولا يكون مصرا على الصغائر، ويكون صلاحه اكثر من خطئه (فتاوى شامى كتاب الشهادات ج:٥،ص:٤٦٥) وايضاً: ان هذه الآثار المروية فى مساويهم منها ما هو كذب. ومنها ما قد زيد فيه ونقص وغيره وجهه والصحيح منه هم فيه معذورون، اما مجتهدون مصيبون واما مجتهدون مخطئون. وهم مع ذلک لا يعتقدون ان كل واحد من الصحابة معصوم من كبائر الاثم وصغائره بل يجوز عليهم الذنوب فى الجملة. ولهم من الفضائل والسوابق ما يوجب مغفرته ما يصدر منهم ان صدر(الروضة الندية شرح العقيدة الواسطية ص:٤٤٩، طبع رياض، وايضاً الصواعق المحرقة ص :١٢٩،طبع مصطفى البابى مصر)

[3] واسلم ذلك اليوم فحسن اسلامه ولم يظهر منه بعد ذلك ماينكر عليه وهو احد العقلاء الكرماء من قريش (اسدالغابة ج٣ ص١٧٣، الاصابة فى تمييز الصحابة ج٢ ص٣١٧ طبع بيروت)

چې څه کړي وو. هغه دهغوی اجتهادي غلطي وه او تاسو ته به پته وي چې اجتهادي غلطي خو دعصمت خلاف هم نه ده. نو دعدالت به څنګه خلاف شي؟ قران کریم کې دنبي معصوم باره کې فرمایل شوي دي " وعصی ادم ربه فغوی" دې کې حضرت ادم علیه السلام ته د. عصیان او غوایت نسبت شوی دی، خو دا کار د اجتهاد په وجه باندې و. داعصیان هم یواځې ظاهري و، حقیقي نه[1]. همدارنګه دصحابه کرامو رضی الله عنهم دکومو غټو غټو غلطیو ذکر چې تاسو کوئ، هغه هم اجتهادي وې، په هغو باندې هغوی نه ماجوردي اونه ما زور[2].

خلاصه داده چې دې حضراتو چې څه کړي دي دخپل اجتهاد مطابق یې دالله تعالی درضا له پاره کړي دي. که دچا اجتهاد خطا وکړه، نو بیا هم هغوی دملامتیا لائق نه دي اونه دهغوی اجتهادي غلطي ته حقیقي غلطي ویل صحیح دی اونه دهغوی اجتهادي غلطي دعدل خلاف ده، اونه ددې خلاف ده چې هغوی دهدایت ستوري دي.

دبې ادبي بوی راځي

سوال: صحابه کرامو رضی الله عنهم محبت ساتل، عزت او عقیدت سره دهغوی ذکر کول هم دانسان دایمان برخه ده، بلکې اکثر دې کې هم مبالغه وي. زما سوال یواځې داو چې داکوم قول دی یعنې چې دچا اقتداء کوئ هدایت به مومئ، نو دااقتداء ما عرض کړې وه چې دهغوی دعقیدو اود ایمان اقتداء معلومیږي، چې په هغوی کې دایمان څومره مظبوطي وه. ددې مثال مشکل دی، خو دهغوی په عملونو کې دااقتداء حکم نه دی، زه په دې خوشحاله یم چې زما ددې قول دامام مزني رحمه الله قول هم تائید کوي. د (اصحابي کالنجوم) په شرح کې فرمايي: که چیرې داحدیث صحیح وي، نو ددې معنا داده چې ددین په روایت کې ټول صحابه کرام معتبر او داعتبار قابل دي. دې نه پرته بله څه معنا زما په نزد باندې صحیح نه ده، ځکه که چیرې صحابه کرامو رضی الله عنهم په خپل خیال کې خپل ځان همیشه صحیح او د غلطیو نه پاک ګڼلی. نو په خپلو کې به یې چیرې هم تغلیط نه کاوو اونه به یې دخپل قول نه رجوع کوله. سره له دې چې بې شمیره موقعو باندې یې داسې کړي دي.

۱] البحث الثانی.... اولم نجد له عزماً على الاحتياط فى كيفية الاجتهاد اذا قلنا انه عليه السلام انما اخطا بالاجتهاد (التفسير الكبير ج۲۲ ص۱۲۴ طبع بيروت)

۲] عن عمرو بن العاص، انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: اذا حكم الحاكم فاجتهد فاصاب فله اجران، واذاحكم فاجتهد ثم اخطا فله اجر، (صحيح بخارى ج۲ ص۱۰۹۲، باب اجرالحاكم اذا اجتهد فاصاب اواخطا) وهذا هو مذهب اهل السنة والجماعة ان علياً هو المصيب وان كان معاوية مجتهدا وهو ماجور ان شاء الله. (البداية والنهاية ج۷ ص۲۷۹)

الحمدالله ثم الحمدالله بس هم دامراد ده اوزماددي قول مطلب هم دادی چې دصحابه کرامو رضی الله عنهم اقتداء دايمان اوعقيدو معلوميږي. دهغوی داعمالو. عادتونو او طريقو نه. تاسو دې سره ترکومه حده پوري اتفاق کوئ؟

جواب: تاسوچې دحضرت معاويه رضی الله عنه، حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه اوحضرت مغيره بن شعبه رضی الله عنه باره کې څه ليکلي وو. دهغو نه د بې ادبې بوی راځي. عقيده اوايمان خودتولويو او ډېر عملونه هم اوځينو عملونوکې يې اجتهادی اخلاف وو اودچاچې اقتدا کوئ. هدايت به مومئ. ددې هم دامطلب دی. يعنې ټول په خپل خپل ځای باندې په حق اوهدايت باندې دي[۱]. څنګه چې دڅلورو امامانو رحمهم الله په حق کې اهل سنت ددې قايل دي چې هغوی ټول حق دي اودهغوی ديوبل ترديداوتغليط کول هم داجتهادپه وجه باندې دي. هر مجتهد خپل خيال دغلطي اوګناه نه پاک ګڼي. خوظناً.[۲]

دصحابه کرامو رضی الله عنهم باره کې تاريخي ګډې وډې خبرې نقلول بې ادبی ده

سوال: تاسوفرمايلي وچې دصحابه کرامو رضی الله عنهم باره کې چې کوم الفاظ ماليکلي و.له هغو نه د بې ادبي بوی راځي. الله تعالی دې ما د بې ادبي نه محفوظ وساتي. صحابه کرام رضی الله عنهم خود ډېرو لوړو مرتبوخاوندان دي. زه يوفاجراوفاسق مسلمان ته هم دعزت په نظر باندې ګورم. دې باندې زمايوشعرونه ولولئ!

هر مسلمان کو محبت ہے رسول اللہ سے
ہر مسلمان کو رسول اللہ کی نسبت سے دیکھ
ہر مسلمان تجھ کو محترم نظر آئے گا پھر
جب بھی دیکھے تومسلمان کواسی نسبت سے دیکھ

دې نه مخکې هم يوادب دی، کوم چې دخالق اومخلوق نسبت سره دی:

وہ شرابی ہو کہ زانی فعل مطلق ہے بُرا
فعل کی تحقیر کر پر ذات کو عزت سے دیکھ

۱] د تيرې صفحې حواله نمبر۱ ، ۲ اوګورئ.

۲] وانما النزاع بين الناس فی احکام الفروع، واليک مجمل الآراء، الاول: ان الحق واحد،فان اصابه کان له اجران، وان اخطاه کان معذوراً ماجوراً، وهذا مذهب جمهورالفقهاء ومختار عامة المحققين(نظرية الاجتهاد فی الشريعة الاسلامية ص:۵۵، ص:الفصل الحادی عشر،المصيب فی الاجتهاد،طبع دارالشرق،وايضاً فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ص:۶۱۴،طبع لکهنؤ)

بیا زما په نظر کې د دې نه مخکې هم یو ادب دی:

کنبه سب خالق کا هے مخلوق هے جتنی یهان

کیا نصاری کیا مسلمان سب کو تو عزت سے دیکھ

زما دا شعرونه د الله تعالی د عامو بندګانو باره کې دي. نو د دې نه د صحابه کرامو رضي الله عنهم د ادب اندازه تاسو خپله کولی شئ. یوه واقعه چې هغې باندې ټول متفق وي. د تاریخ یا حدیث نه نقل کول خو زما په خیال کې د ادب خلاف نه دي. ځکه چې دا خو په سلګونو تاریخ لیکونکي. مفسرین. محدثین او عالمان هم کوي. بیا خو هغوی ټول بې ادبه شول

که چېرې تاسو د امام مزني رحمه الله قول سره اتفاق کوئ. نو هغه زما هم مطلب و. چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم اقتداء د هغوی د دین د روایت او د دین د اعتبار معلومېږي. د هغوی په کارونو. قولونو. عادتونو او ذاتي کارونو کې نه. خلاصه داده چې کله د شارع علیه السلام عادتونه او ناسته پاسته. څه ته چې سنن زوائد ویل کیږي. د هغو د اتباع کولو مسلمانان پابند نه دي. نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو رضي الله عنهم د عادتونو او طریقو او کارونو څنګه پابند کیدای شي؟ زه کم علمه یم. په دې وجه باندې ما خپله خبره صحیح طور باندې بیان نه کړای شوه. تاسو سره علم دی. په دې وجه باندې به تاسو ضرور پوه شوي یئ چې زما مقصد څه دی؟

جواب: تاریخ کې خو رطب و یابس (دروغ و رښتیا) هر څه لیکل شوي دي، خو هغه واقعات د استدلال په طور باندې نقلول د بې ادبۍ نه خالي نه دي. د هغوی د احساناتو په مقابله کې د اسې ویل چې د هغوی نه غټې غټې غلطۍ شوي دي. زمونږ د حوصلې خبره نه ده.

د امام مزني رحمه الله قول زما د نظر نه نه دی تیر شوی. چې په دې پوه شوی وای. چې د هغه څه مطلب دی؟ ترکومه حده چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم د اقتداء مسئله ده. ځینې خود هغوی قولونه او کارونه حجت نه ګڼي. ابن حزم ظاهري اکثر دا جمله وایي: **لاحجة فی قول صاحب ولاتابع.**[1] خو د عامو عالمانو په نزد باندې د صحابه کرامو رضي الله عنهم قولونه او کارونه د اقتداء قابل دي. خو حالاتو او افعالو کې د تعارض په وجه باندې د ترجیح اصول دي. په څه باندې چې مجتهدین پوهیږي[2]. په هر حال زمونږ له پاره دې مسئله باندې خبرې کول فضول دي. زمونږ له پاره خبره یو اځې دومره ده چې صحابه کرام رضي الله عنهم د اقتداء لائق دي.[3]

---

[1] فلا حجة فی احد دون رسول الله صلی الله علیه وسلم (ج:۱،ص: ۵۵ المحلی لابن حزم،طبع بیروت)

[2] اعلم ان الترجیح ......هو بیان الرجحان فی القوة لاحدالمتعارضین علی الآخر. وتقدیم الراجح علی المرجوح، وهو المعقول،وعلیه انعقد الاجماع(تسهیل الاصول الی علم الاصول.ص: ۲۴۰،بحث المرجحات)

[3] عن العرباض بن ساریة قال : قام رسول الله صلی الله علیه وسلم ......فقال: اوصیکم بتقوی الله والسمع والطاعة وان کان عبدا حبشیاً فانه من یعش منکم بعدی فسیری ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

دا د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره مینه نه بلکې دا جهالت دی

سوال: ستاسو هفته واره رساله "ختم نبوت".. شماره ۳۰. جلد ۲ صفحه ۹ باندې د حضرت مولانا احمد سعید صاحب په مضمون کې د حضور ﷺ یو جلیل القدر صحابي حضرت زبیر رضي الله عنه ته (نعوذ بالله) ظالم ویل شوي دي. ایا په غلطي سره شوي دي او که قصداً؟ له دې وجې مو تاسو ته تکلیف درکړ. چې د ختم نبوت په جماعت کې هغه کوم خلک دي چې د حضور ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم دښمنان دي؟ چې د هغوی بندوبست وکړل شي.

جواب: د مکتوب الیهم په فهرست کې تاسو د مینې په وجه باندې زما نوم هم لیکلی دی. پرته د خه تواضع نه عرض کوم چې زه د دې قابل نه یم چې زما شمیر په (والله ثم والله) عالمانو کې وشي. زه یوازې د هغو عالمانو مهمل تابع او د پېښو خاورې یم او نور هیڅ هم نه. زمونږ حضرت عارف بالله ډاکټر عبدالحی عارفي قدس سره به اکثر دا شعر لوستلو:

گرچې از نیکان نیم لیکن به نیکان بسته ام   در ریاض آفرنیش رشته گلدسته ام

په هر حال زه تاسو شکریه ادا کوم او د دې لیک په سلسله کې یو خوخبرې وړاندې کوم:

۱: سحبان الهند حضرت مولانا احمد سعید دهلوي رحمه الله زمونږ به مشهورو اکابرینو کې و. د جمعیة العلماء هند جنرل سیکټري او د امام رباني شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدني قدس سره ملګری و. د هغوی د قران ترجمه. (جنت کی کنجی)، (دوزخ کا کھٹکا) او (موت کا جھٹکا) مشهور کتابونه دي. تاسو به هم لوستلي وي. هم د غه کتابونو کې یو ایمان تازه کونکی کتاب (معجزات رسول الله ﷺ) دی. کوم چې په هفته واره رساله کې د "سرور مخلوق معجزات یا وړاندوینې".. په نوم باندې سلسله وار چاپ کیږي. او ستاسو په لیک کې چې د کوم لیک حواله ده. هغه هم د دې کتاب یوه برخه ده او کوم الفاظ چې تاسو بیان کړي دي، هغه د حضور ﷺ الفاظ دي. کوم چې لیکونکي د حضرت امام بیهقي رحمه الله د کتاب په حواله باندې نقل کړي دي. هغه حدیث دا دی:

بیهقي رحمه الله په (دلائل النبوة) کې نقل کړي دي چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ حضرت زبیر رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه خپلو کې په خندا باندې ولیدل. حضور ﷺ د حضرت علي رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه: اې علي رضي الله عنه! ایا زبیر ستا دوست دی؟ علي رضي الله عنه وویل هو! زه هغه خپل دوست ولې جوړ نه کړم چې دی زما د تړور زوی او زما د دین پابند دی؟ بیا حضور ﷺ د حضرت زبیر رضي الله عنه نه

بقیه د تیر مخ].. اختلافاً کثیراً فعلیکم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین، تمسکوا بها وعضوا علیها بالنواجذ .....الخ (مشکوة ص ۳۰ ــ لاعتصام بالکتاب والسنة،الفصل الثانی)

پوښتنه وکړه چې اې زبیر! ایاته علي رضی الله عنه خپل دوست ګڼې؟ زبیر رضی الله عنه وویل: چې زه علي رضی الله عنه خپل دوست ولې ونه ګڼم چې دی زما دماما زوی اوزمادددین منونکی دی. بیاحضور ﷺ وفرمایل: اې زبیر رضی الله عنه یوه ورځ به ته حضرت علي رضی الله عنه سره قتال(جنګ) کوې اوته به ظالم یې. په جنګ جمل کې حضرت زبیر رضی الله عنه دحضرت علي رضی الله عنه مقابله وکړه اوجنګ وکړ. کله چې حضرت علي رضی الله عنه هغه دحضور ﷺ ارشاد وریادکړ چې تاته دحضور ﷺ هغه فرمان یاد دی چې: ته به علي رضی الله عنه سره جنګ کوې اوته به ظالم یې؟ حضرت زبیر رضی الله عنه وفرمایل: چې هو! داخبره حضور ﷺ فرمایلې وه خوماته یادنه وه. له ې نه وروسته حضرت زبیر رضی الله عنه وروسته شو. خوابن جبرودپه وادی السباع (چې یوه مشهوره علاقه وه)کې حضرت زبیر رضی الله عنه شهیدکړ. حضور ﷺ چې څنګه وړاندوینه کړې وه . هما غه شان وشو. حضرت زبیر رضی الله عنه دحضرت علي رضی الله عنه په مقابله کې راغی اوکله یې چې په هغه علاقه کې خوب کاو. نودخوب پرمهال کې ابن جبرود شهیدکړ[1]. (دلائل النبوۀ للبیهقی ج۲ ص ۴۱۵، کنزالعمال ،ج ۱۱ص ۳۲۰ حدیث ۳۱۲۵۲)

زه پخپله باندې دانجمن سپاه صحابه داحساساتوقدرکوم. خو د پورته بیان شویو حالاتو په رڼا کې تاسو نه د انصاف کولو غوښتنه کوم چې ستاسو دلیک دافقره مورږدختم نبوت دخدمتګارو له پاره ډیره دتکلیف ده چې:

"ختم نبوت کې هغه کوم خلک دي چې دصحابه کرامو رضی الله عنهم دښمنان دي. چې دهغوی بندوبست وکړل شي"

انصاف وکړئ که چېرې دنبوت خدمتګاران ددې کتاب دنقل کولوپه وجه باندې دصحابه کرامو رضی الله عنهم دښمنان دي، نومولانا احمدسعیددهلوي رحمه الله علیه اودهغه نه مخکې امام بیهقي رحمه الله علیه اوهغه نور ټول اکابرین کوموچې داحدیث نقل کړې دي. دکوم خطاب مستحق دي؟

---

[1] عن أبي حرب بن الاسود قال : لما دنا علي وأصحابه من طلحة والزبير ودنت الصفوف بعضها بعضها من بعض خرج علي وهو على بغلة رسول الله صلى الله عليه وسلم فنادى : ادعوا لي الزبير بن العوام ! فدعي له الزبير فأقبل ، فقال علي : يا زبير ! نشدتك بالله أتذكر يوم مر بك رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن في مكان كذا وكذا فقال : يا زبير تحب عليا ؟ فقلت : ألا أحب ابن خالي وابن عمي وعلى ديني، فقال يا عليّ! اتحبه؟ فقلت: يا رسول الله! الا احب ابن عمتي وعلى ديني؟ فقال : يا زبير! أما والله لتقاتلنه وأنت ظالم له ؟ قال : بلى والله ! لقد نسيته منذ سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم ذكرته الان ، والله لا أقاتلك ! فرجع الزبير على دابته يشق الصفوف فعرض له ابنه عبدالله بن الزبير، فقال له ابنه عبد الله : مالك ؟ فقال : ذكرني علي حديثا سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : لتقاتلنه وأنت له ظالم فلا أُقاتله، قال : وللقتال جئت؟ إنما جئت تصلح بين الناس ويصلح الله هذا الامر ، قال : قد حلفت أن لا أقاتله ، قال : فأعتق غلامك وقف حتى تصلح بين الناس فأعتق غلامه ووقف ، فلما اختلف أمر الناس ذهب على فرسه(دلائل النبوة واللفظ له ج:٦،ص:٤١٥، طبع المتكبة الاثرية،كنزالعمال ج:١١،ص:٣٢٠،حديث ٣١٦٥٢)

زه ګنم چې دا یو داسې زیاتی دی چې د انجمن سپاه صحابه د طرف نه د ختم نبوت د خدمتګارو سره شوی دی او د دې شکایت به د حضور ﷺ په دربار کې کیږي. او زه تاسو نه دا توقع لرم چې تاسو به د دې معذرت وغواړئ!

۲: تاسو چې کوم عالمانو ته خطونه لیکلي دي. تاسو له پاره به داسې ښه و. چې تاسو د هغه حضراتو نه د دې پوښتنه کړې وای چې دا حدیث کوم چې په ختم نبوت کې د حضرت مولانا سعید احمد دهلوي رحمه الله په کتاب کې د امام بیهقي رحمه الله په حواله باندې نقل شوی دی. د جرح او تعدیل په لحاظ باندې د دې څه وزن دی؟ د اد حدیثو د فن په رڼاکې صحیح دی او که ضعیف؟ او که له ځان نه جوړ شوی دی؟ او د امقبول دی او که مردود؟ که چیرې صحیح او مقبول وي نو د دې تاویل څه دی؟ چې د یو جلیل القدر صحابي، د حضور ﷺ د خدمتګار. احد العشرة المبشرة د جلالت ګواهي ورکوي.

تاسو د دې سوال په ځواب کې چې عالمانو څه فرمایلي وو، تاسو به هغه "ختم نبوت،، کې چاپ کولو له پاره لیږلي وي، دا به یو علمي خدمت هم و او د دې په وجه باندې به د صحابه کرامو رضی الله عنهم عظمت او محبت هم په زړه کې پیدا شوی و.

ما ته د دې خبرې ویره ده چې په خط کې تاسو کوم قسمه جذبات ښودلي دي، چیرته مخکې لاړ نه شئ او سبا داسې ونه وایئ چې قران کریم کې د جلیل القدر انبیاء کرام علیهم السلام ته، نعوذبالله. ظالم ویل شوي دي. مثلاً:

د حضرت ادم علیه السلام باره کې د وه ځایونو کې دي:

ولاتقربا هذه الشجرة فتکونا من الظلمین. (البقرة ۳۵ الاعراف ۱۹)

د حضرت موسی علیه السلام باره کې دي: رب انی ظلمت نفسي فاغفرلي. (القصص ۱۶)

د حضرت یونس علیه السلام باره کې دي: لااله الاانت سبحانک انی کنت من الظالمین. (الانبیاء ۸۷)

اوس به یو سپاه انبیاء جوړ کړل شي، او هغه به د بزرګانو په نوم باندې د دې مضمون خط ولیکي: چې: د قران په ترتیب کې هغه کوم خلک راننوتي وو کوم چې د انبیاء کرامو د ښمنان وو؟ چې د هغوی بندوبست وکړل شي.

ښکاره خبره ده چې د انبیاء کرامو مرتبه د حضرت زبیر رضی الله عنه نه پورته ده او د "ختم نبوت،، قران کریم سره څه نسبت کیدای شي؟

اوس که چیرې د انبیاء کرام علیهم السلام په حق کې د قران کریم د مقدس الفاظو څه مناسبه توجیه کیدای شي. نو همداسې توجیه د حضرت زبیر رضی الله عنه په حق کې د حضور ﷺ د الفاظو ولې نه شي کیدای؟ "ختم نبوت،، کې د صحابه کرامو رضی الله عنهم د ښمنانو د تلاش کولو ضرورت نشته.

حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه کله اسلام راوړ؟

سوال: حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه کله اسلام راوړی و او په کومه موقعه یې ایمان راوړی و؟ تفصیل سره یې ولیکئ!

جواب: مشهوره خو دا ده چې حضرت معاویه رضی الله عنه د فتح مکې په ورځ ایمان راوړی و. خو په «الاصابه کې دریم جلد ۴۳۳ صفحه» کې د واقدي نه نقل شوي دي چې هغه د صلح حدیبیه نه وروسته اسلام راوړی و. خو هغه د خپل اسلام اظهار د فتح مکې په موقع باندې وکړ [۱]

❖ د حضرت حُسین رضی الله عنه او د یزید په باره کې د اهل سُنت والجماعت مسلک ❖

د حضرت حُسین رضی الله عنه او یزید حیثیت

سوال: په مسلمانانوکې د کربلا د واقعې په حواله سره ډېرې غلط فهمې موندل کیږي. څه خلک د یزید خلافت صحیح مني او حضرت حسین (رضی الله عنه) ته باغي او یزیدته امیرالمومنین وایي. مهرباني وکړئ! دا اوفرمایئ چې حضرت امام حسین رضی الله عنه ته دباغي ویلو څه حکم دی. یزید ته امیرالمومنین ویل ترکومه حده صحیح دي؟

جواب: د اهل سنت موقف دادی چې حضرت حسین رضی الله عنه په حقه و. د هغه په مقابله کې یزید په حق باندې نه و. ځکه یزید ته به امیرالمومنین نشي ویل کېدای. حضرت حسین رضی الله عنه ته دباغي ویلو والا د اهل سنت د عقیدې نه باغیان دي [۲]

په صحیح حدیث کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې "حسن او حسین رضی الله عنهما د جنت د ځوانانو سرداران دي". (ترمذي) [۳]

کوم خلک چې حضرت حسین رضی الله عنه ته (نعوذبالله) "باغي" وایي هغوی په کومه خوله دا اُمید لري چې دوی به د حضرت امام حسین رضی الله عنه په مشرۍ او سردارۍ کې جنت ته لاړ شي

[۱] أسلم هو وأبوه وأمه هند بنت عتبة بن ربيعة يوم الفتح. وقد روي عن معاوية أنه قال: أسلمت يوم عمرة القضاء ولكني كتمت إسلامي من أبي إلى يوم الفتح (البداية والنهاية ج:۸، ص: ۲۱ طبع دارالفكر، بيروت)

[۲] قال اهل السنة والجماعة: ان الحسين رضي الله عنه كان الحق في يده وقد قتل ظلماً (شرح عقائد ص: ۱۶۲، حاشيه نمبر: ۷، طبع مكتبة خيركثير) وايضاً: واما ماتفوه بعض الجهلة من ان الحسين كان باغياً فباطل عنداهل السنة والجماعة، ولعل هذامن هذيانات الخوارج، الخوارج عنداجادة (شرح فقه الاكبرص: ۸۷، طبع دهلي)

[۳] عن ابي سعيد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الحسن والحسين سيدا شباب اهل الجنة (ترمذي، ج: ۲، ص: ۲۱۸، مناقب ابي محمد الحسن بن علي والحسين بن علي)

ايا يزيد ته پليت ويل جائز دي؟

سوال: ددې مسئلې پوښتنه کول دي چې د قسطنطنيه دفتح په سلسله کې يو مشهور حديث دی چې لومړی دسته دفوج چې په قسطنطنيه باندې بې حمله وکړي. نوهغو خلکوته به ښنه کيږي. يزيد هم په دې برخه کې شريك و ، نوځکه به دهغه ښنه کيږي. په داسې صورت کې يزيد ته پليت ويل مناسب دي؟ خلك په کتابونو کې اکثر يزيد په دې نوم سره يادوي بل دا چې چاته پته شته چې که يزيد له مرګ نه مخکې توبه کړې وي. الله تعالى ښه پوهيږي ترڅوپورې چې ددې يقين ونشي. چې دفلاني مرګ په کفرباندې شوی دی. هغه ته کافرويل ياپه هغه باندې لعنت ويل به صحيح وي اوکه نه؟

جواب: يزيد ته دهغه د کارنامو په وجه پليت ويل کيږي . د حضرت حسين رضي الله عنه شهادت. د مدينې والو قتل عام او په کعبه باندې کاڼې ورول دهغه د دربوګلنوتورې کارنامې دي[۱]. داويل چې ابن زيادحضرت حسين رضي الله عنه شهيدکړ.لهذا ددې څه ذمه واري په يزيدباندې نه راځي.

دابالکل غلطه ده. ابن زيادخودحضرت حسين رضي الله عنه دمقابلې له پاره دکوفي ګورنر ټاکل شوی و[۲]. ترڅوپورې چې په حديث شريف کې دښنې دزيرې تعلق دی هغه بالکل صحيح دی[۳]. خو ددې نه دانه ثابتيږي چې دیزيد غلطو کارونوته دې صحيح وويل شي. ښنه

۱] ويزيد اميرالمؤمنين،وكان قبيح الآثار فى الاسلام قتل اهل المدينة وافاضل الناس وبقية الصحابة رضى الله عنهم يوم الحرة فى آخر دولته،وقتل الحسين رضى الله عنه واهل بيته فى اول دولته،وحاصر ابن الزبير رضى الله عنه فى المسجد الحرام واستخف بحرمة الكعبة والاسلام فاماته الله فى تلك الايام.......الخ (جمهرة انساب العرب لابن حزم ظاهرى ص:۱۱۲،طبع دارالمعارف مصر) تفصيل له پارهه اوګورئ اسماء الخلفاء والولاة وذكر مددهم ص:۳۵۷، ۳۵۸ طبع مصر.

۲] كتب يزيد الى ابن مرجانة ان اغز ابن الزبير فقالا: لا اجمعهما للفاسق ابداً اقتل ابن بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم واغزوالبيت ......الخ (تاريخ طبرى ج:۵،ص:۴۸۳) وبعث اهل العراق الى الحسين الرسل والكتاب يدعونه اليهم فخرج من مكة الى العراق فى عشر ذى الحجة ومعه طائفة من آل بيته رجالاً ونساء وصبياناً،فكتب يزيد الى وليه بالعراق عبيدالله بن زياد بقتله فوجه اليه جيشاً اربعة آلاف......الخ (تاريخ الخلفاء ص:۱۶۹ طبع مؤسسة الكتب الثقافية)

۳] قَالَ عُمَيْرٌ فَحدَّثَتْنَا أُمُّ حَرَامٍ أَنَّهَا سَمِعَت النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ « أَوَّلُ جَيْشٍ مِنْ أُمَّتِى يَغْزُونَ الْبَحْرَ قَدْ أَوْجَبُوا » . قَالَتْ أُمُّ حَرَامٍ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّه أَنَا فِيهِمْ . قال « أَنْت فِيهِمْ » . ثُمَّ قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم « أَوَّلُ جَيْشٍ مِنْ أُمَّتِى يَغْزُونَ مَدِينَةَ قَيْصرَ مَغْفُورٌ لَهُمْ » . فَقُلْتُ أَنَا فِيهِمْ يَا رَسُولَ اللَّه . قَالَ « لا » (صحيح البخارى، كتاب الجهاد،باب ما قيل فى قتال الروم ج:۱،ص:۴۰۹، ۴۱۰)

د ګناهګارو کبیرې له دې وجې نه په ښښنه او ګناه کې څه تعارض نشته[1]. خو د یزید د کفرفتوا د هغه د خاتمې یقیني علم باندې مبني ده او هغه علم نشته . ځکه د کفرفتوا په هغه باندې موږ هم نه ورکوو [2] . اګرچې د یزید د تورو کارنامو په وجه د بڼو حضراتو هغه د لعنت حقدار ګرځولی دی، مګرد هغه د نوم اخستلو سره لعنت هم موږ نه کوو. خو په چا باندې د لعنت نه کولو دا معنا نه ده چې د هغه حمایت دې هم وکړل شي[3]. والله اعلم

په یزید باندې د لعنت ویلو څه حکم دی؟

سوال: ایا یزید باندې لعنت ویل جائز دي؟

جواب: د اهل سنتو په نزد باندې په یزید باندې لعنت ویل جائز نه دي. دا د شیعه ګانو شعار دی .بدء الامالي) چې د اهل سنتت والجماعت په عقائدو کې ده د هغه شعر دی:

ولم یلعن یزیدًا بعد موت سوی المکثار فی الاغراء غال[4]

1] قال الشاه ولی الله الدهلوی فی شرح تراجم ابواب البخاری (قوله مغفور لهم) تسمک بعض الناس بهذا الحدیث فی نجات یزید لانه کان من جملة هذا الجیش الثانی. بل کان راسهم ورئیسهم علی ما یشهد به التواریخ، والصحیح انه لا یثبت بهذاالحدیث الا کونه مغفوراً له ما تقدم من ذنبه، علی هذه الغزوة لان الجهاد من الکفارات، وشان الکفارات ازالة آثار الذنوب السابقة علیها لاالواقعة بعدها، نعم لو کان مع هذالکلام انه مغفور له الی یوم القیامة یدل علی نجاته، واذ لیس فلیس بل امره مفوض الی الله تعالی فیما ارتکبه من القبائح بعد هذه الغزوة من قتل الحسین علیه السلام وتخریب المدینة والاصرار علی شرب الخمر ان شاء عفا عنه وان شاء عذبه کما هو مطرد فی حق سائر العصاة علی ان الاحادیث الواردة فی شان من استخف بالعترة الطاهرة، والملحد فی الحرم والمبدل للسنة، تبقی مخصصات لهذا العموم لو فرض شموله لجمیع الذنوب (شرح ترجمة ابواب البخاری ،ملحقه بخاری شریف ص:۳۱، ۳۲ طبع نورمحمد کتب خانه)

۲] ولا یخفی ان قوله : والحق بعد نقله الاتفاق لیس فی محله مع ان الرضی بقتل الحسین لیس بکفر لما سبق من ان قتله لا یوجب الخروج عن الایمان بل هو فسق وخروج عن الطاعة الی العصیان ثم دعواه انه مما تواتر معناه فقد سبق انه لا یثبت اصلاً فضلاً عن التواتر قطعاً......وحقیقة الامر التوقف فیه ومرجع امره الی الله تعالی ......الخ (شرح فقه الاکبر ص:۸۸ وایضاً اصول الدین لابی الیسر بزدوی ص:۹۸، طبع مصر)

۳] یزید بی دولت از زمره فسقه است،توقف درلعنت او بنابراصل مقرر اهل سنت است که شخص معین را اگرچه کافر باشد تجویز لعنت نکرده اند نگر آنکه بیقین معلوم کنند که ختم او برکفر بوده کابی لهب الجنهمی وامرته، نه آنکه او شایان لعنت نیست،ان الذین یؤذون الله ورسوله لعنهم الله فی الدنیا والآخرة (مکتوبات امام ربانی ،دفتر اول، مکتوب:۲۵۱، ص۴۱۷ طبع ایچ ایم سعید وایضاً دفتر اول،مکتوب :۲۶۶ ص:۴۸۷)

٤] لم یلعن احد من السلف یزید بن معاویة سوی الذین اکثروالقول فی التحریض علی لعنه وبالغوا فی امره وتجاوزوا عن حده کالرافضیة والخوارج وبعض المعتزلة........ فلا شک ان السکوت اسلم......(شرح الامالی لملا علی القاری ص:۲۷، ۲۸ طبع استنبول)

ددې په شرح کې علامه علي قاري رحمه الله ليکي چې "په يزيد باندې په سلفو کې هيچا لعنت نه دی کړی. بغيرله شيعه ګانو. خوارجو او ځينو معتزله وونه چې هغوی په فضول ويناکې دمبالغې نه کار اخستې دی او په دې مسئله باندې د اوږد بحث نه وروسته ليکي:

"فلاشك ان السكوت أسلم.."

له دې وجې نه داهل سنت والجماعت عقيده داده چې نه دې په يزيد باندې لعنت ويل کيږي او نه دې د حضرت حسين رضي الله عنه په مقابله کې دهغه تعريف او صفت کيږي.

يزيد او داعتدال مسلک

يزيد په باره کې چې پورته کوم دوه سوالونه او ځوابونه ذکر شو. په دې باندې مونږ ته دوه مخالف ليکونه راغلل. لاندې اول هغه دواړه خطونه ذکر کيږي. له دې نه وروسته به په هغه باندې تبصره کيږي. د تصحيح په صفحه نمبر ۲۱۵ وګورئ.

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

اُميد دی چې طبيعت به مو ښه وي. ځوورځې وشوې چې يو دوست ماته په ډېرافسوس سره تذکره وکړه چې مولانامحمديوسف لدهيانوي صاحب هم غيرارادي او غيرشعوري طور باندې دشيعه ګانو دخوشحالولو له پاره دعام حقيقت نه خلاف خبرې شروع کړي. له پلټنې (تلاش) کولووروسته پته ولګيده چې تاسو په يوه هفته واره رساله کې "يزيدپليت" ليکلي دي، خوماورته عرض وکړ چې ته به غلط پوه شوی يې څه بل شان به وي، د مولانايوسف لدهيانوي پشان عالم او محقق سړی داسې خبره نشي کولی. هغه په ښه شان پوهيږي چې يزيدديوجليل القدرصحابي زوی دی اودزرګونوصحابه وو معتمددی او دهغه د ولي عهدکېدو تجويزددين اوملت دلويو اوفراخه مفادو په خاطر پخپله دبيعت رضوان اصحابو وړاندې کړ. هغه وخت کې موجود ټولو صحابه کرامو او تقريبا نيم درجن ازواج مطهرات دا تجويزخوښ کړ. ځنګه چې شپږم خليفه راشد امام عادل حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه دخليفه وخت په حيث ددې متفقه تجويزاعلان وکړ. بيعت وشو. لس کاله وروسته چې کله يزيد عملا خليفه جوړشو. نو ددغه فيصله شوې پاليسي مطابق په ټول ملک کې پخپله دخلافت بيعت په عمل کې راغی. په دغه وخت کې په سونو جليل القدر صحابه رضی الله عنهم چې موجودوو هغوی بيعت وکړ. اعتماد يې وکړ. تعاون يې وکړ. د يواو دوو داختلاف اواز ښکاره خبره ده چې دڅه کم سلونه هم زياتو د اتفاق او اتحاد په مقابله کې څه حيثيت نه لري دعبدالله بن عمر رضي الله عنه اوعبدالله بن عباس رضي الله عنه په شان جيدو عالمانو اوفاضلانو صحابه وو نه هيڅ پليتي په نظر رانغله. کوم چې حقيقي بُزرګان او ليدونکي ګواهان دي. له دې نه روسته دې وړوکو بزرګانو ته پليتي دکوم ځای نه په نظر راغله. بيادحضرت حسين رضي الله عنه ځوان. متقي او نيک زوی کوم چې ددغه دور اودکوفې دمنافقانو له لوري دجوړې شوې کربلا ليدونکي

ګواه دی. هغه هم څه خبره نه کوي .نه ورنه قاتل وايي نه ورته پليت وايي. بلکې بيعت ترې کوي اوتر اخره پورې ورسره وفاداري اومکمل تعاون کوي. نوعرض يې وکړ چې وروره .داټول د صحابه وو دښمنان دشيعه ګانو پروپګنډه او دمسلمانانو سادګي ده. که نه دتابعينو د اول صف سخصيت. دحج اودجهاد قائد .متفقه خليفه پليت وغيره څنګه کيدای شي؟ داسې د اميانو خبره مولانا لدهيانوي صاحب نشي کولی". هغه زماوعظ ډېرپه تحمل سره واوريده اوبيايې څو ګينتې وروسته هفته روزه "ختم نبوت"رساله زما مخکې کېښوده ماچې دا ولیدله حيران پاتې شوم چې دهغه خبره صحيح وه.واقعي ستاسونه سهوه وشوه.مابه کله ستاسو نوم ته کتل او کله ديزيد پليت عنوان ته اوحيران وم

حضرت بې پروايي پريږدئ. شيعيت دکُفرياتو مجموعه ده.خوپېړۍ تيرې شوې. نه د دوی تکفير وکړل شو .نه دوی دامت مسلمه نه کټ کړل شو .اسلامي فرقه ګڼل کيږي. دې خلکو پخپل مکر او فريب سره دسُني مسلمانانو په زړه او دماغو باندې هم قبضه کړې ده.دماتم نه پرته په خيالاتوکې هيڅ فرق په نظرنه راځي.مولانابنوري رحمه الله مرحوم څلويښت کاله وروسته مودوديت وپيژنده.مولانا منظورنعماني اوس شيعيت وپيژنده؟ تاسو به څومره موده په دې کې ولګوئ؟

دخدای له پاره د سبائيت اثرات پريږدئ دصحابه وو.تابعينو اودتبع تابعينودعزت او شرافت حفاظت وکړئ اود دروغو بهتانونه وپيژنئ!

والسلام

ارشاداحمدعلوي ايم اے .هوايي اډه روډ نزد مسجداقصی.رحيم يارخان

دويم خط:

محترم مولاناصاحب دامت برکاتهم!

درمضان اوشوال ۱۴۰۱هجري.مطابق داګست ۱۹۸۱شمارنمبر۳.۴.ج۳۹ مې مخکې ده .دمسائلو اواحکامو دعنوان دلاندې فضل القيوم نومې سائل ته ديواهم سوال په ځواب کې تاسو ليکلي چې:

"داهل سنت والجماعت په نزد يزيدباندې لعنت کول جائزنه دي.دا دشيعه ګانو شعاردی صفحه ۷۷.۷۲.تاسوته معلومه ده چې دمحمود احمد عباسي دتشدد والا تحقيق او د مودودي منافقانه تاليف"خلافت وملوکيت" نه وروسته دې قسمه مسائلو يو خاص اهميت حاصل کړی دی. له دې وجې نه زه ددې خط په ذريعه دزيات تحقيق او د رواياتو دتطبيق اُميد لرم.

ستاسو له دې ځواب نه معلوميږي چې په اهل سنت والجماعت کې هيڅوک هم په يزيد باندې دلعنت ويلو دجواز قايل نه دي، قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په خپل مشهور

کتاب "السیف المسلول کې فرمایي: "دفقیرپه نزدباندي غوره خبره داده چې په یزیدباندي لعنت ویل جائزدي او داهل حدیثو دمحققینو هم دا مذهب دی چې په دې کې امام ابوالفرجاو ابن جوزي هم دي، د علم او شان په جلالت کې ډېرلوړ. هغه په دې مسئله باندې یوکتاب هم لیکلی دی چې دهغه نوم دی " الردعلی المتعصب العنیدالمانع من ذم یزید" صفحه ۴۸۸.

داهل دیوبند دمسلک ترجمان حکیم الاسلام حضرت مولانامحمدطیب مدظله العالي په "شهید کربلا او یزید" کې فرمایي:

"دا ټول شهادتونه موږ له دې وجې نه نه دي وړاندې کړي چې زموږ په یزید باندې دلعنت ویلو سره څه خاص دلچسپي شته ده، نه موږ ترننه پورې په هغه لعنت کړی دی او نه زموږ اینده اراده شته اونه دهغه لعنت ثابتونکو علماوو او امامانو منشاء د یزید لعنت په طور د وظیفې وړاندې کول دی، د هغوی منشاء یواځې یزید دهغه دغیرمعمولی نالائقه حرکتونو په وجه د لعنت حقدار ګرځول یازیات نه زیات د لعنت جواز ثابتول دي". صفحه ۱۴۵

علامه آلوسي رحمه الله د روح المعاني مصنف فرمایي:

ان الإمام أحمد لماسأله ولده عبدالله عن لعن یزید, قال: کیف لایلعن من لعنه الله تعالى في کتابه فقال عبدالله: قدقرأت کتاب الله عزوجل فلم أجدفیه لعن یزید! فقال الإمام: ان الله تعالى یقول: ﴿ فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ ۝٢٢ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ ﴾. (محمد ۲۲:۲۳)

"وأی فساد وقطیعة أشد ممافعله یزید"

دڅوکرښونه وروسته فرمایي: وقدجزم بکفره, وصرح بلعنه جماعة من العلماء, فمنهم الحافظ ناصر السنة ابن الجوزي, وسبقه القاضي أبویعلى, وقال العلامة التفتازاني:

"لانتوقف فی شانه بل فی ایمانه لعنة الله علیه وعلى أنصاره وأعوانه".

وممن صرح بلعنه الجلال السیوطي علیه الرحمة. (روح امعاني ص۷۲ج۲۶)،

وأنا أقول الذی یغلب على ظني, أن الخبیث لم یکن مصدقًا برسالة النبي ﷺ, وان مجموع مافعل مع أهل حرم الله تعالى, وأهل حرم نبیه علیه الصلوة والسلام وعترته الطیبین الطاهرین فی الحیاة وبعدالمماة, وماصدر منه من المغازي لیس بأضعف دلالة على عدم تصدیقه من القاء ورقة من المصحف الشریف فی قذر, ولاأظن ان أمره کان خافیاعلى أجلة المسلمین اذ ذاك, ولکن کانوا مغلوبین مقهورین لم یسعهم الاالصبر لیقضی الله أمرا کان مفعولاً, ولوسلم أن

الخبيث كان مسلمًا فهو مسلم جمع من الكبائر مالا يحيط به نطاق البيان, وأنا أذهب إلى جواز لعن مثله على التعيين. (ج٢٦ص٧٣)

ستاسو پشان معتدل او د مضبوط علم والا باندې دا ضروري ده چې ددې مسئلې صفايي کولو سره ځواب راکړئ او د اهل سُنت د مشرانو ددې مختلفو اقوالو تطبيق وکړئ او ذهني نا ارامي مې لېرې کړئ! احقر عبدالحق رحيم يارخان.

جواب: دا د واړه خطونه د يزيد په باره کې د کمي او زياتي د دوو انتهايي رازونو نمائندګي کوي. يو فريق "د يزيد په محبت" کې تردې حده پورې وړاندې تللي دي چې د يزيد صفت يې د اهل سنت والجماعت شعار ثابت کړی دی. د هغه خواهش دادی چې د يزيد شمار که څېرې په خلفاء راشدينو کې نه دی، نو کم نه کم په خلفاء عادلينو کې ضرور کېدل پکاردي او يزيد د دريو کالو په درو کې چې کوم سخت واقعات ښکاره شو، يعني د حضرت حسين رضي الله عنه او د نورو اهل بيتو شهادت، دحره په واقعه کې د مدينې والو قتل عام او د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه په مقابله کې په حرم کعبه باندې حمله. په دې واقعاتو کې دې يزيد په حقه او د ده په مقابله کې د لويو صحابه وو او په حقه امامانو ته دې باغي وويل شي.

دويم فريق "په بغض يزيد" کې په اخري کرښه باندې دی. د دوی په نزد باندې د يزيد د بدو کارونو د مذمت حق نه ادا کيږي، ترڅو پورې چې يزيد ته د دين او ايمان نه خارج او کافر او ملعون ونه ويل شي.

دا فريق يزيد د هغې عامې بښنې او رحمت غوښتلو د دعا حقدرا هم نه ګڼي، کومه چې د امت محمديه (على صاحبها الصلوة والسلام) د ګناهګارو له پاره کيږي.

خو داعتدال لاره شايد ددې دواړو په مينځ کې تېره شوي وي او هغه دا چې يزيد د صفت نه ځان وساتل شي، ددې په مقابل کې حضرت حسين رضي الله عنه حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه او نور د لوړ شان والا صحابه وو او تابعينو (کوم چې د يزيد په ظلم سره شهيدان شو) موقف په حقه وګڼل شي. خو د هغه د ټولو بدو کارونو سره سره د هغه په کفرباندې خاتمه په قطعي دليل سره ثابته نه ده. ځکه د هغه په کفر کې دې خاموشي وکړل شي او د هغه د نوم سره د لعنت ويلو نه دې هم ځان وساتل شي. د جمهور اهل سنتو او د ديوبند د مشرانو همدا مسلك دی او هم دا د سلامتيا لار ده.

حضرت مولانا محمد يوسف بنوري نورالله مرقده په "معارف السنن" کې ليکي:

ويزيد لاريب فى كونه فاسقًا ولعلماء السلف فى يزيد وقتله الإمام الحسين خلاف فى اللعن والتوقف قال ابن الصلاح: فى يزيد ثلاث فرق فرقة تحبه, و فرقة تسبه, و فرقة متوسطة لاتتولاه ولاتلعنه قال: وهذه الفرقة هي المصيبة الخ. (ص٨ ج٦)

ترجمه:"د یزید په فاسق کېدو کې هیڅ شك نشته او د سلفو علماوو په دې کې اختلاف دی چې په یزید باندې او د امام حسین رضی الله عنه په قاتلانو باندې دې لعنت وویل شي اویا دې په کې خاموشي وکړل شي. ابن صلاح وايي چې دیزید په باره کې درې فرقې دي. یوه فرقه د هغه سره محبت کوي دویمه فرقه د هغه سره بغض ساتي او هغه ته کنځل کوي اودریمه فرقه د دوی په مینځ کې ده نه هغه ته ښه وايي اونه په هغه باندې لعنت کوي. ابن صلاح وايي هم دا فرقه په صحیح لاره ده"

د حضرت بنوري رحمه الله نه دې تحریر نه معلومه شوه چې دیزید په فسق باندې تعریف د اهل سنت والجماعت اجماع ده، خو په دې کې اختلاف دی چې په یزید باندې لعنت وکړل شي که په دې معامله کې دې خاموشي وشي؟ په دویم خط کې د دې فرقې نمائندګي شوې ده. چې دیزید په ایمان کې هم شك کوي او پرته د شك شبهې په هغه باندې دلعنت د جواز قایل دي. اګرچې دا قول هم دسلفو یو جماعت اختیار کړی دی. خو څنګه چې ماعرض کړی و. د جمهور اهل سنت اوددیوبند داکابرینو دا قول دی چې یزید ګناهګار مسلمان دی په ده باندې دلعنت په باره کې د توقف قایل دي.

د یزید صفت کول داهل سُنت والجماعت شعار ګرځول څنګه چې زموږ دعلوي صاحب د لیکونو نه معلومیږي ،دا یو نوی انکشاف دی چې زموږ دعقل او پوهې نه ډېر پورته دی.

زموږ دځینو اکابرو دقلم نه د" یزید پلیت" لفظ وځي. زماچې کوم مضمون دهفت روزه"ختم نبوت" کې دیوسوال په ځواب کې خپور شوی و په هغه کې ددغه اکابرو ددې طرز عمل توجیه شوې وه. چې دا د یزید دبدوکارونوخلاف دناخاپي نفرت او غوسې اظهاردی. څنګه چې امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله په خطونو کې ډېر په اهتمام سره د یزید دنوم سره د"بې دولت" لفظ لیکي[1]، شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله[2]، مسندالهند شاه عبدالعزیز دهلوي رحمه الله[3] حجة الاسلام مولانامحمد قاسم نانوتوي رحمه الله. قطب العالم حضرت مولانارشید احمد ګنګوهي رحمه الله او نور مشران د"یزید پلیت" لفظ لیکي. زموږ علوي صاحب انکشاف کړی چې دا ټول "واړه" بُزرګان وو ،ماشاء الله! دبدنظرنه دې لیرې وي، همداسې دخپلو بزرګانو ادب او احترام وي (!). زماله پاره دا پوهیدل مشکل دي، چې که چېرې دا ټول مشران واړه بزرګان وو ،نو د دوی په مقابله کې د محمدیوسف لدهیانوي یادجناب ارشاد علوي صاحب څه اهمیت دی؟ که چېرې دا مشران په حدیث او تاریخ. دصحابه وو په حالاتو

---

[1] مکتوباب امام ربانی ،مکتوب :۲۵۱، دفتر اول:ص ۴۱۷ حصه چهارم، ایضاً مکتوب:۲٦٦دفتر اول ص:۴۸۷.

[2] تکمیل الایمان ص:۷۱ طبع مجتبائی

[3] فتاوی عزیزی ج:۱،ص:۱۰۰ طبع مجتبائی.

او د اهل سنت والجماعت په عقائدو باندې نه وو پوه شوي. نو زما او ستاد "تحقیق" به څه وزن پاتې شي؟ شاید چې زموږ د علوي صاحب په نزد د "حضرت یزید رحمه الله" په مقابل کې حضرت حسین رضی الله عنه. حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه. حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه. حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه. حضرت ابوشریح رضی الله عنه او د حرې د واقعې ټول صحابه او تابعین به هم واړه بزرګان وي. بلکې پخپله د مدینې حرم. د مکې حرم او د نبي صلی الله علیه وسلم د کورونو حرمت هم د یزید په مقابله کې به وړوکی شان وي، ځکه چې یزید د نبي صلی الله علیه وسلم د اولاد د حرمت هم لحاظ ونه ساته. د مدینې حرم یې هم تر پښو لاندې کړ او د کعبې په حرم باندې یې هم حمله وکړه. که چېرې دا ټول شیان د یزید په مقابله کې واړه شان دي، نو موږ ته یقین ساتل پکار دي چې بس د "یزید محبت" د اسلام داسې مقدسه عقیده ده چې د هغه په مقابله کې نه د مکې د حرم څه عظمت شته نه د مدینې د حرم، نه د نبي علیه السلام د خاندان. نه د جلیل القدر صحابه وو او تابعینو او نه د وروسته دیارلس سوه کاله د امت د مشرانو. پاتې شوه د علوي صاحب دا شبه چې ډېرو صحابه وو او تابعینو د یزید نه بیعت کړی و. د هغوی له لوري ټاکل شوي خلیفه ته "پلیت" څنګه ویل کېدای شي؟ د دې ناکاره په خیال کې دا شبه داسې نه ده چې څوک عقلمن سړی په دې کې ونښلي.

جناب علوي صاحب غور وکړئ چې دلته دوه بحثونه بېل بېل دي. یو دا چې د یزید استخلاف صحیح وا و که نه؟ او دویم دا چې د خلیفه ټاکل کېدو نه وروسته یې چې کومې کارنامې وکړې هغه د شاباسي لائق دي یا د نفرت لائق دي؟ او د دې کارنامو په بناء باندې هغه د ایمان والو د محبت او تعریف مستحق دي یا د نفرت، بېزارۍ، مذمت او قباحت حقدار دي؟

د جناب علوي صاحب استدلال که چېرې کتهور کېدای شي. نو په لومړي بحث کې کېدای شي، ځکه چې ټولو صحابه وو او تابعینو د هغه نه بیعت کړی وو . ځکه د هغه استخلاف صحیح ګڼل پکار دي، بیا هم په دې دلیل باندې د جرح او قدح کافي ګنجائش شته. خو دلته د یزید د استخلاف بیخي بحث نه دی . له دې وجې د علوي صاحب دا شُبه بالکل بې ځایه ده. دلته خو بحث د یزید د استخلاف نه وروسته د هغه کارنامې دي چې د خلافت سنبالولو نه وروسته چې هغه کوم څه وکړل هغه د خیر او برکت اعمال وو. یا د فسق او فجور؟ په دې وجه سره هغه د طاهر او مطهر ویلو حقدار دی یا د "پلیت او ملعون" ویلو؟ او د دې کارنامو نه وروسته د هغه په باره کې د امت د اکابرو څه رایه ده؟ ما پورته عرض کړی و چې د ده د دریو کالو د دور درې واقعې مشهورې دي. د نبي علیه السلام محبوب لمسی حضرت حسین رضی الله عنه او د هغه د اهل بیتو شهادت. د مدینې حرم نړول او د مدینې د خلکو عام وژنه. د کعبې په حرم باندې د فوج راخېژول. ایا د یو داسې سړي چې د هغه په زړه کې د ایمان اخري سلګۍ وي. د دې واقعاتو نه وروسته هم د هغه په زړه کې د یزید محبت او د هغه عزت او عظمت باقي پاتې کېدای شي؟ ایا زموږ علوي صاحب د یو صحابي یا د یو جلیل القدر تابعي حواله وړاندې کولی شي چې هغه په دې واقعاتو باندې یزید ته شاباسي ورکړې وي؟ او ایا دا

واقعات زمونږ د علوي صاحب په نزد باندې نبي کريم ﷺ ته د تکليف ورکولو سبب به نه وي؟ د يزيد د حمايت او مخالفت نه ذهن فارغ کړه او لږ په يخ زړه سره سوچ وکړه. چې کله دنبي عليه السلام خاندان په خاورو او وينو کې ولړل شي او دنبي عليه السلام په ښار کې صحابه او دهغوی اولاد ختميږي او دکعبې په حرم باندې حملې کولو سره دهغه بې حرمتي کيږي او بيا دا واقعات پرله پسې وروسته کيږي. نو دا به کوم مسلمان وي چې د يزيد په دې کردار به د افرين اوازپورته کړي.

او ددې ټولو ناکاره کارونو باوجود په ژبه يې د يزيد تعريف او صفت وي. الله تعالى دې مونږ ته دخپلې رضا توفيق راکړي. (آمين)

اجتهاد او تقليد

د تقليد تعريف او حکمونه

سوال: دتقليد تعريف په دې الفاظو کيږي. چې دتقليد مطلب دادی چې دکوم کس قول په شريعت کې نه وي دهغه په قول باندې د تحقيق کولو نه پرته عمل کول. اهل حديث حضرات دا ډيره دغټې ګناه خبره ګڼي. خوزه دې قول باندې پوهيدل غواړم. مخکې چې زه ځنګه پوه شوې يم دهغې دښکاره کولو کوشش کوم. چې وروسته ستاسو په خبره باندې په اساني سره پوه شم.

دشريعت اخست ځای (مأخذ) شرعي دليلونه دي. ديو مجتهد قول وي او هغه قول دشريعت دڅه نا څه دليل لاندې وي. دا خبره ايا تقليد کې داخل ده. زما په خيال دکوم حد پورې چې زه پوه شوی يم. داسې قول صحيح ګڼل دا هل حديث په نزد باندې تقليد نه دی. ځکه چې هغه قول خود شريعت د دليل نه ثابت دی.

۲: زما خپله تجربه داده چې اهل حديث دلته يوه غلطي کوي. هغه دا چې که چېرې دمجتهد په قول باندې دشريعت نه يو دليل پخپله باندې په پوهه کې راشي. نو بيا خو سمه ده، خوکه چېرې دهغوی علم ديو مضبوط شرعي دليل پورې نه رسيږي. نو بيا هغه قول ته داسې څه وايي چې څه يې خوښه وي.

دويمه خبره کومې باندې چې زه پوهيږم هغه دا چې دپورته بيان شوي دتقليد دتعريف مطابق مقلد. دامام قول خودشريعت مأخذ نه ګڼي. هغه خو شرعي ادله دي. خو يو داسې قول (پته نشته چې داسې قول شته هم او که نه) چې هغه باندې دشريعي دليلونو ثبوت نه وي. يعنې د شريعت نه هغه مسئله معلومه نه شي. يو اخې دمجتهد اجتهاد يا خيال وي. دې قول باندې د دليل له غوښتنې نه پرته عمل کول. ځکه چې دهغه مقام دادی چې دقران اوسنت په علومو باندې بصيرت لري. قول باندې د دليل نه غوښتلو دا معنا ده او که بل څه؟

ديوې بلې خبرې کولو همت کوم. کيداى شي چې زه نه يم پوه شوى. خو د اظهار له پاره يې کوم چې نن سبا خلک د شپيته اويا صفحو کتاب کې د دوه دوه نيم سوو حوالو په پيوندونو باندې د څه ثابتولو کوشش کوي. ماهنامه "بينات". محرم الحرام ۱۴۱۲ھ کې ستاسو مضمون کوم چې د اصلاح مفاهيم باره کې و. د هغه اخري جملې کومې چې د تبليغ باره کې وې. يو چا ستاسو په نوم باندې غلطه حواله ورکولو سره ليکلي يعني: اهل تبليغ. د حضرت شيخ نورالله مرقده کتابونه او ستاسو تعليمات ډير خوښ ګڼلو سره نقل و حرکت کوي (د قران او حديث او صحابه کرامو رضي الله عنهم طريقې نه. بلکې د حضرت شيخ رحمة الله عليه تعليمات خپروي) لکه چې د اعتراض په طور باندې ويل کيږي چې حضرت مولانا محمد الياس رحمة الله عليه فرمايلي دي. زما زړه غواړي چې طريقه زما وي او تعليم د حضرت تهانوي رحمة الله عليه وي.

جواب: ۱: شرعي دليلونه څلور دي.

(۱) د الله تعالى کتاب. (۲) د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت (۳) د امت اجماع او (۴) د مجتهدينو قياس، د لومړي دريو شيانو څخه خو اهل حديث هم منکر نه دي، خو د څلورم شي منکر دي.

۲: کوم شيان چې ښکاره طور باندې د کتاب او سنت يا اجماع نه ثابت وي او د هغې په مقابله کې بل څه دليل نه وي. هلته خود مجتهدينو د قياس ضرورت نه وي. البته د کومو مسئلو ذکر چې په کتاب او سنت او اجماع کې ښکاره طور باندې نه وي، هغو کې د شرعي حکم معلومولو له پاره د قياس او اجتهاد ضرورت وي.

۳: همدارنګه چې په کومو مسئلو کې ښکاره طور باندې اعتراض وي. هلته د تطبيق يا ترجيح ضرورت وي او يا دا چې منسوخ خونه دي؟ بيان خو په جواز باندې محمول نه دى؟ په څه عذر باندې خو محمول نه دى؟ او داسې نور....

۴: دا دوه مرحلې طى کول خو د مجتهد کار دى، يعني د غير منصوصي مسئلو حکم معلومول، او په کومو مسئلو باندې چې دليلونو کې اعتراض وي، هغو کې تطبيق او ترجيح او د هغو مقام معلومول.

۵: او خلک دوه قسمه دي. يو هغه کوم چې د اجتهاد صلاحيت لري. دويم عامي. کوم چې د دې صلاحيت نه لري، پورته ذکر شويو دوو مرحلو کې مجتهد باندې اجتهاد لازم دى. چې هغه د انساني طاقت مطابق کوشش وکړي چې د دې مسئلې کې د الله تعالى او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم څه حکم دى؟ او عامي سره د دې نه پرته بل څه اختيار نه وي چې هغه د مجتهد په خبره باندې عمل وکړي.

۶: د عامي له پاره هم دا کافى ده چې هغه د کوم مجتهد خبره مني. هغه د عالمانو په نزد باندې د اعتبار قابل وي، په هره يوه مسئله کې د دليل مطالبه کول هغه له پاره ممکن نه وي، دا د دې خبرې مطلب شو چې د مجتهد خبره د دليل له مطالبې پرته منل تقليد دى.

۷. اهل حدیث هم په حقیقت کې مقلدین دي. ځکه چې د کومو اکابرینو قول هغوی اخلي. د هغوی نه د دلیل مطالبه نه کوي او نه یې کولای شي. تقلید پرېښودل هم یو قسمه تقلید دي.

۸. د دې تحقیق نه معلومه شوه چې د مجتهد قول د شرعي دلیل نه پرته نه شي کېدای. خو دا ممکن دی چې کله ناکله هغه دلیل د یو عامي د ذهن او پوهې نه لوړ وي. خاص طور باندې چې کله شرعي دلیلونو کې په ظاهره د تعارض ښکاري. اهل حدیث حضرات د اسې وخت کې د اجتهاد د امامانو قول بې دلیله ګڼي. سره له دې چې د بې دلیله کېدو مطلب دا وي چې دلیل د هغوی د پوهې نه لوړ دی. په نورو الفاظو کې داسې ویل کېدای شي چې په دلیل د نه پوهېدو په وجه باندې هغوی ورته د دلیل نه کېدو نوم ورکوي. سره له دې چې د شي نه شتون ښېله خبره ده او په هغه نه پوهېدل بېله خبره ده او بیا عدم علم ځانته شی دی او علم عدم بیل. دا هماغه خبره ده کومه چې تاسو په نمبر ۲ کې ذکر کړې ده.

۹. شرعي دلیلونه په حقیقت کې هم درې دي. خود مجتهد قول ته چې کوم شرعي دلیل ویل کېږي، د هغه وجه دا ده چې هغه همیشه په څه ناڅه دلیل شرعي دلیل (پټ یا ښکاره) باندې مشتمل وي، خو دغه شرعي دلیل باندې مجتهد ښه پوهېدای شي. په دې وجه باندې د عامي په حق کې د مجتهد قول شرعي دلیل ګرځول شوی دی.

۱۰. د شیخ د کتابونو باره کې چې ما څو مره څه لیکلي دي. د سیاق او سباق نه د هغو مفهوم ښکاره دی، له دې سره سره که څوک ترې غلط استدلال کوي، نو د دې څه علاج کېدای شي؟ خلکو غلط استدلال له پاره د قران کریم لحاظ نه دی کړی، نو د دې ناپاک د لیکنې لحاظ یې ولې وکړي؟

د څلورو امامانو مذهب حق دی

سوال: تاسو په خپل کتاب کې حنفي فقه د خلاصې معیار ګرځولې ده، سوال دا دی چې د نورو دریو امامانو باره کې ستاسو څه خیال دی؟ زه چې کوم ځای کې اوسېږم هلته د شافعي رحمه الله مذهب منونکي دي او زما ژوند هم د امام شافعي رحمه الله په تقلید کې تېر شوی دی، زه د خپل ټول عمر د عبادتونو باره کې پرېشان یم. ایا زما له پاره مسلک بدلول ضروري دي؟ او مسلک بدلول د ډېر ګران کار دی. ایا د امام شافعي رحمه الله مسلک د کتاب او سنت خلاف دی؟ زما پرېشاني ختمه کړئ!

جواب: ستاسو په حق پرستي او ځان پوهولو باندې مې زړه خوشحاله شو. الله تعالی دې ما او تاته خپله رضا او مینه نصیب کړی امین!

حضرت امام شافعي رحمه الله په ځلورو امامانو کې یو امام دی او ځلور واړه امامان حق دي. ددوی په مینځ کې حق او باطل اختلاف نشته[1]، بلکې دراجح او مرجوح اختلاف دی. زه حنفي یم په دې وجه باندې دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک اقرب الی الکتاب والسنته ګڼم اود امام شافعي رحمه الله اودنورو امامانو مسلک هم حق ګڼم. دې اکابرینو کې چې له چاسره اعتقاد او اعتمادزیات وي په هغه مسلک باندې عمل کوئ. انشاء الله دخلاصی ذریعه به وي.

ستاسو ډیرعمردحضرت امام شافعي رحمه الله په حق مسلک باندې تیرشوی دی او تاسو چې په کومه علاقه کې اوسیږئ هلته هم دشافعي رحمه الله مسائلو ښوونکي خلک ډیردي. له دې وجې باندې زما په فکر چې تاسوله پاره دامام شافعي رحمه الله په مسلک باندې ژوندتیرولو کې اساني ده. تاسوهم دغه مسلک اختیارساتئ!

دکتاب اوسنت دنصوصو په تطبیق کې دامامانو حضراتو خیال مختلف وي. په دې باندې به دامام شافعي رحمه الله خیال هم یقیناً صحیح وي اوتاسوله پاره بس دومره عقیده ساتل کافي ده اوکه چیرې تاسودامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک اختیاروئ، نوشرعي طور باندې دې کې هم څه بده خبره نشته، خودې شرط سره چې دحنفي مسایلو ښوونکي څوک موجودوي.[2]

ځلورواړه امامان حق دي

سوال: یوصاحب یوڅوپوښتنې کړې وې، دهغو ځوابونه تاسودقران او حدیث مطابق نه و ورکړي بلکې دهرسوال په ځواب کې تاسو لیکلي و چې زموږپه نزدباندې داناجائزدي، یا زموږ په نزد باندې داجائزدي، څو ځایونو کې تاسوداسې هم لیکلي و چې د احنافو په نزد باندې ددې ځواب داسې دی، ددغو ځوابونو مادااندازه ولګوله چې تاسونبي نه منئ، ځکه که چیرې تاسوالله تعالی اودهغه رسول ﷺ منلی، نوداسې به موویل چې قران اوحدیث کې داسې دي، یاداسې به موویل چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم داسې کړي، فلاني حدیث نه داثابت دي او فلاني حدیث په نزدباندې داکارمنع دی.

جواب: دلته عام طورباندې خلک حنفي مذهب باندې دي اوزه پخپله باندې مجتهدنه، بلکې دامام ابوحنیفه رحمه الله مقلدیم، له دې وجې ضروري ده چې فتوا دهغه مطابق ورکړل شي

۱] فقد بان لک یا اخی مما نقلناه عن الائمة الاربعة ان جمیع الائمة المجتهدین دائرون مع ادلة الشرع حیث دارت...... وان مذاهبهم کلها محررة علی الکتاب والسنة (میزان الکبری ج:۱،ص:۵۵)

۲]....... فعلیکم بسنی وسنة خلفاء الراشدین المهدیین......الخ (رواه ابوداؤد واحمد والترمذی قال الشیخ عبدالغنی المجددی الدهلوی: ومن العلماء من عمم کل من کان علی سیرته علیه السلام من العلماء والخلفاء کالائمة الاربعة المتبوعین المجتهدین (انجاح الحاجة حاشیه ابن ماجة ص:۵، باب اتباع سنة الخلفاء الراشدین)

اوټول امامان د قران او سنت منونکي وو[۱]. له دې وجې موږ چې کله د يو مجتهد امام حواله ورکوو، نوګويا دا د قران او سنت حواله شوه. دې باره کې داويل چې موږ نعوذبالله حضور ﷺ نه منو، داسې غلط تهمت دی څنګه چې د حديث منکران يې دحديث په حواله باندې لګوي چې داخلک دقران منکردي.[۲]

سوال: ايا څلورواړه امامان. امام ابوحنيفه رحمه الله. امام شافعي رحمه الله. امام مالک رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله (نعوذبالله) دالله تعالى او دهغه درسول ﷺ منونکي نه وو؟ اوکه څېرې وو، نوبيا موږ دهغوی طرف ته ولې نسبت کوو اوهغوی ټول هم نبي کريم ﷺ مني. نوبيا موږهم داسې ولې نه وايوچې دنبي ﷺ په نزدباندې ددې مسئلې ځواب دادی؟يا دفلاني حديث نه داثابت دي؟

جواب: دا څلورواړه امامان دالله تعالى اودهغه درسول ﷺ منونکي وو. دې حضراتودقران اوحديث نه استدلال کولوسره مسئلې بيان کړي دي اوځينې ځايونوکې دپوهې په وجه باندې په دوی کې اختلاف پيداشوی دی، پله دې وجې دې حضراتوکې ديوحواله ورکول، حقيقت کې دهغه دپوهې مطابق دقران اوحديث حواله ده.[۳]

۱] فقد بان لک يا اخي مما نقلناه عن الائمة الاربعة ان جميع الائمة المجتهدين دائرون مع ادلة الشرع حيث دارت...... وان مذاهبهم کلها محررة على الکتاب والسنة (ميزان الکبرى ج:۱،ص:۵۵)

۲] بل يجب عليهم اتباع الذين سبروا اى تعمقوا وبوبوا اى اوردوا ابوابا لکل مسئلة عليحدة فهذبوا مسئلة کل باب، ونقحوا کل مسئلة عن غيرها وجمعوا بينها بجامع، وفرقوا بفارق وعللوا اى اوردوا لکل مسئلة علة وفصلوا تفصيلاً، يعنى يجب على العوام تقليد من تصدق بعلم الفقة......وعليه بنى ابن الصلاح منع تقليد غيرالائمة الاربعة الامام الهمام امام الائمةامامنا ابوحنيفة الکوفى،والامام مالک، والامام الشافعى، والامام احمد رحمهم الله تعالى وجزاهم عنا احسن الجزاء لان ذلک المذکور لم يدر فى غيرهم (فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ص:۶۲۹ طبع لکهنؤ) وايضاً والانصاف ان انحصار المذاهب فى الاربعة واتباعهم فضل الهى وقبوليته عند الله تعالى لا مجال فيه للتوجيهات والادلة (تفسير احمدى لملاجيون ص:۲۹۷)

۲،۳] بل يجب عليهم اتباع الذين سبروا اى تعمقوا وبوبوا اى اوردوا ابواباً لکل مسئلة عليحدة فهذبوا مسئلة عليحدة فهذبوا مسئلة کل باب، ونقحوا کل مسئلة عن غيرها وجمعوا بينها بجامع، وفرقوا بفارق وعللوا اى اوردوا لکل مسئلة علة وفصلوا تفصيلاً، يعنى يجب على العوام تقليد من تصدق بعلم الفقة......وعليه ابنى ابن الصلاح منع تقليد غيرالائمة الاربعة الامام الهمام امام الائمةامامنا ابوحنيفة الکوفى،والامام مالک، والامام الشافعى، والامام احمد رحمهم الله تعالى وجزاهم عنا احسن الجزاء لان ذلک المذکور لم يدر فى غيرهم (فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ص:۶۲۹ طبع لکهنؤ) وايضاً والانصاف ان انحصار المذاهب فى الاربعة واتباعهم فضل الهى وقبوليته عند الله تعالى لا مجال فيه للتوجيهات والادلة (تفسير احمدى لملاجيون ص:۲۹۷)

سوال: دې څلورواړو امامانوکې اختلاف ولې دی؟ يو وايي چې لمونځ کې په نامه (ناف) باندې لاسونه تړئ، دويم وايي په سينه باندې لاسونه تړئ، دريم وايي چې د سينې نه لاندې لاسونه تړئ. څلورم وايي لاسونه ځوړند پريږدو سره لمونځ کوئ. که په څلور واړو طريقو باندې لمونځ کول صحيح وي. يعني نبي ﷺ په دې طريقو باندې لمونځ اداکړی و. نو بيا مونږ دين کې اختلاف ولې پيداکوو. چې زمونږ په نزد باندې داسې دي، څلورواړه طريقې د حديثو نه ثابتې کړئ؟

جواب: دا اختلاف د صحابه کرامو ﷺ په مينځ کې هم و . له دې وجې چې د دغو اکابرينو په مينځ کې اختلاف و. زمونږ له پاره داضروري شو چې د يو قول واخلو او د بل قول وانخلو[۲]

سوال: ايا په څلورواړو امامانو کې د يو امام تقليد کول واجب دي؟ که چېرې واجب دي. نو نبي کريم ﷺ کوم ځای فرمايلي دي چې د يو امام تقليد ضروري دي؟

جواب: قران او حديث باندې عمل کول واجب دي، د اختلاف او د هوا د غلبې او د ناقصه پوهې په صورت کې قران او حديث باندې د عمل کولو ذريعه يو اځې داده چې د کومو اکابرينو پوهه چې د قران او سنت مطابق وي. په هغوی کې د يو په فتوا باندې عمل وکړو. دې ته تقليد ويل کيږي.[۱]

سوال: ايا امامانو هم داويلي دي چې زمونږ تقليد په تاسو باندې واجب دی؟ او ايا تقليد نه کونکي به جنت ته نه ځي؟ کله چې د هغه عمل د قران او حديث مطابق وي او هغه يو اځې قران او حديث مني.

جواب: دې امامانو باندې د اعتماد نه پرته به قران او حديث باندې عمل نه شي کيدای. او کله چې په قران او حديث باندې عمل نه وي ، نو انجام يې ټولو ته معلوم دی.[۲]

سوال: ايا څلورواړه امامان غلط وو، چې هغوی د چا تقليد نه وو کړی، صحابه کرام ﷺ او څلورواړه خليفه ګان ﷺ چې هغوی د چا تقليد نه وو کړې. هغوی يو اځې قران او حديث منلو. د فقې نوم او ننبه قدرې هم نه وه. نو ايا (نعوذبالله) دوی ټول په غلطه وو؟ هغوی دين باندې نه وو پوه شوي په کوم باندې چې داوروسته عالمان پوه شول؟

[۱] وفى ذلک (اى التقليد) من المصالح مالا يخفى، لا سيما فى هذه الايام التى قصرت فيها الهمم جدا واشربت النفوس الهوى واعجب كل ذى راي برايه (حجة الله البالغة ج:۱،ص:۱۵٤ طبع مصر)
[۲] اعلم ان فى الاخذ لهذه المذاهب الاربعة مصلحة عظيمة، وفى الاعراض عنها مفسدة كبيرة (عقدالجيد لشاه ولى الله رحمه الله ص:۳٦،طبع مصر)

جواب: د تقليد ضرورت مجتهد ته نه بلکې غيرمجتهد ته وي. څلور واړه خليفه ګان رضي الله عنهم او څلور واړه امامان رحمهم الله پخپله باندې مجتهدين وو. هغوی ته د چا د تقليد کولو ضرورت نه و، کوم کس چې د هغوی په شان مجتهد وي هغه ته هم ضرورت نشته. خو يو عام سړی چې مجتهد نه وي. هغه د تقليد نه پرته ګذاره نه شي کولی[1]

سوال: که چېرې د دين نوم تقليد وي او تقليد کول ضروري وي. نو مونږ د څلورو خليفه ګانو طرف ته نسبت ولې نه کوو. يو دې وايي چې زه صديقی يم. دويم دې وايي چې زه فاروقی يم. دريم دې وايي چې زه عثمانی يم او څلورم دې وايي چې زه علوي يم. که چېرې خلک داسې ويل شروع کړي. نو زما په خيال به ټول اختلافات ختم شي. ځکه چې دې څلورواړو کې هيڅ اختلاف نشته. اختلاف خو بيا وروسته پيدا شوی دی.

جواب: د څلورو امامانو مذهب چې څنګه مدون دی. هغه شان د څلورو خليفه ګانو رضي الله عنهم مذهب مدون نه دی، که نه ضرور به هم د دغه حضراتو تقليد وکيده او دا ګمان چې دې څلورو واړو کې څه اختلاف نه و. د بې علمي خبره ده. د حديثو په کتابونو کې د دوی په مينځ کې اختلاف ذکر شوی دی.[2]

د څلورو امامانو د حقانيت مطلب

سوال: عرض دا دی چې د تقليد مسئلې زه په يو عجيبه مشکل کې ګرفتار کړی يم .الحمدلله،زه حنفي سني يم،څه موده مخکې مې د مولانا ..مودودي..مسلم اعتدال.. ولوست. هغوی رايه داده چې هرکله څلور واړه امامان په حقه دي. نو بيا چې مونږ کوم وخت کې د کوم امام مذهب باندې وغواړو عمل وکړو. نو څه نقصان به نه وي؟مثلاً:کله رفع يدين وکړو او کله نه.کله له امام وروسته قرآءت وکړو او کله نه او داسې نور...دا خبره واقعي متاثرکونکې ده. چې له دې نه وروسته دا لاندې سوالونه زما په ذهن کې راغلل.

١:د څلورو اوړو امامانو د حق کېدو څه مطلب دی؟ديو امام په نزد امام وروسته قرات ويل قطعي منع دي، هرکله چې دويم امام دا ضروري ګرځوي اونه ويلو سره لمونځ نه کيږي،اوهم همدا رنګه نور هم فرقونه شته چې تاسو ته معلوم دي ...

---

[1] وقد ذكروا ان المجتهد المطلق قد فقد. واما المقيد فعلى سبع مراتب مشهورة، واما نحن فعلينا اتباع ما رجحوه ....الخ (درمختار مع الشامي ج:١،ص:٧٧ طبع ايچ ايم سعيد)

[2] اعلم ان رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يكن الفقه فى زمانه الشريف مدوناً، ولم يكن البحث فى الاحكام يومئذ مثل البحث من هؤلاء الفقهاء ....وكذلک كان الشيخان ابوبكر وعمر.........الخ (حجة الله البالغة ج:١،ص:١٤٠، ١٤١)

۲:که یو کس کله ناکله دڅلورو واړو امامانو په مسلک باندې عمل وکړي. نو په دې کې څه نقصان دی؟

۳:دڅلورو امامانو په خبرو باندې عمل.ایاپه قران او حدیث باندې عمل به نه وي؟

۴:یواځې دامام ابوحنیفه رحمه الله تقلیدضروري ګڼل اود نورو په مسلک باندې دعمل نه کولو څه دلائل دي؟

۵:دعقلي دلائلونه پرته په څلوروواړومذهبونوباندې عمل نه کولو څه شرعي دلائل هم شته؟

۶: د تقلیداهمیت دقران اوحدیث په رڼاکې واضح کړئ!اواهل حدیث حضرات څوک چې دتقلید په وجه په موږ پورې ټوکې کوي دهغوی خبره ترکومه حده صحیح ده؟ (ستاسو کتاب، اختلاف امت...کې هم غالباً ددې سوالونومکمل یاتفصیل سره ځواب نشته)

دویمه مسئله داده چې دسړي اوښځې په لمونځ کې کوم فرق دی . نودقران اوحدیث نه په دې باره کې څه دلائل شته؟ځکه چې داهل حدیثو حضراتو ښځې هم دسړیو په شان لمونځ کوي اوزموږ دښځو نه داخلک دلیل غواړي؟

جواب: دڅلورو واړو امامانو په حق کېدومطلب دادی چې په اجتهادي مسائلوکې هر مجتهد په خپل اجتهادباندې دعمل کولومکلف دی. په څلورو امامان کې داجتهاد شرطونه پوره وواوهغوی دانساني طاقت مطابق دالهي مراد دموندلوکوشش کړی وو.له دې وجې نه دکوم مجتهد اجتهاد چې کومې درجې پورې ورسیده دهغه په حق کې هماغه شرعي حکم دی اوهغوی د الله له لوري په هغو باندې دعمل کولومکلف دیاوس یومجتهد په شرعي دلائلو باندې غورکولو سره په دې پوه شوچې دامام په اقتداء کې قرات منع دی.

لقوله تعالی:"فاستمعوا له وأنصتوا لعلكم ترحمون" ولقوله عليه السلام:"وإذ قرأ فأنصتوا!"وقوله عليه السلام:"إذا أمّن القاري فأمّنوا!" نودامجتهدبه ددلیل شرعي په وړاندې مجبور وي چې ددې نه په سختي سره منع وکړي.

ددویم مجتهدنظر دې طرف ته لاړ چې په لمونځ کې سورت فاتحه ویل دهرلمونځ کونکي له پاره ضروري دي.که هغه امام وي اوکه مقتدي،یامنفرد .نودی به دخپل اجتهادمطابق ددې په ضروري کېدوباندې فتوا ورکوي.

غرض داچې هرمجتهددخپل اجتهادمطابق دعمل کولواوفتوا ورکولوباندې مکلف دی . هم دغه مطلب دهرامام دحق کېدودی.

۲:کوم کس چې داجتهاد شرطونوجامع نه وي هغه دې په اختلافي مسائلوکې د یو مجتهد

لمن ونیسي او دهغه په فتوا باندې دعمل کولو مکلف دی. ددې نوم تقلید دی[۱]. بیا د تقلید یو صورت خو دادی چې کله دیو امام په فتوا باندې عمل وکړل شي او کله دبل امام په فتوا باندې، په یوه مسئله کې بې دیو امام فتوا واخستله او په بله مسئله کې دبل امام فتوا باندې، خو دبنده نفس حیله ګردی، که ده ته اجازه ورکړل شي. نو دعامو خلکو په باره کې دا عام احتمال دی چې دهغه نفس ته دکوم امام فتوا ښه معلومه شي یا فتوا دهغه دنفس د خواهش مطابقه وي هماغه به اخلي. په داسې صورت کې به دشریعت پیروي ونه شي. له دې وجې نه عوامو ته دنفس دخواهشاتو له پیروي دبچ کېدو او دهغوی ته په شریعت خداوندي دعمل کولو له پاره داضروري ګرځول شوې ده چې دیو امام پابند شي[۲].

او په ځینو صورتونو کې ددې بې قیدۍ نه تلفیق لازمیږي، چې دهغه یو مثال دادی چې یو کس اودس په حالت کې ښځې سره لاس ولګیده. یاخپل اندام مخصوص سره یې لاس ولګیده. هغه وویل چې: زه په دې مسئله کې دامام ابوحنیفه رحمه الله قول اخلم. دهغوی په نزد په دې شیانو سره اودس نه ماتیږي. بیا دهغه دبدن نه وینه راووتله. نو ویې ویل چې: زه په دې مسئله کې دامام شافعي رحمه الله قول اخلم. چې وینې وتلو سره اودس نه ماتیږي. نو ددې کس اودس بالاجماع مات شو. خو ده په خپل ګمان په یوه مسئله کې دامام صاحب او په بله مسئله کې ددویم امام صاحب قول اختیارولو سره داوګڼل چې دده اودس نه دی مات شوی. ظاهره ده چې داسې تلفیق شرعاً باطل دی[۳].

خو په ځینو صورتونو کې خپل امام مقتداء پرېښودل او ددویم امام قول اخستل جائز او ځینو وختونو کې بهتردي، مثلاً: ددویم امام په قول کې احتیاط زیات وي او داکس دکمال احتیاط په وجه ددویم امام په فتوا باندې عمل کوي. ددې یو مثال اوس شو چې دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد (مس المرأة او مس ذکر) اودس نه ماتوي. دنورو امامانو په نزدیې ماتوي، که یو حنفي داحتیاط له غو ښتنې لاندې دخپل عمل له پاره دنورو امامانو قول اخلي

۱] التقلید فی اللغة.......قال المحققون من الاصولیین: العامی وهو من لیس له اهلیة الاجتهاد وان کان محصلاً لبعض العلوم المعتبرة فی الاجتهاد یلزمه اتباع قول المجتهدین والاخذ بفتواهم لقوله تعالی فسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون (تیسیر الاصول الی علم الاصول ص:۳۲۳ بحث فی التقلید للشیخ عبدالرحمن محلاوی حنفی وایضاً فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ص:۶۲۶ طبع لکهنؤ)

۲]..... وفی وقت یقلدون من یفسده وفی و قت یقلدون من یصححه بحسب الغرض والهوی، ومثل هذا لا یجوز باتفاق الامة (الفتاوی الکبری ج:۲،ص:۲۴۳، المسالة السابعة والاربعون،طبع دارالقلم بیروت)

۳]وَأَنَّ الْحُكْمَ الْمُلَفَّقَ باطل بالاجماع الْمُرَادُ بِالْحُكْمِ الْحُكْمُ الْوَضْعِيُّ كَالصِّحَّةِ وفی رد المختار: مِثَالُهُ: مُتَوَضِّئٌ سَالَ مِنْ بَدَنِه دَمٌ وَلَمَسَ امْرَأَةً ثُمَّ صَلَّى فَإِنَّ صِحَّةَ هَذِهِ الصَّلَاةِ مُلَفَّقَةٌ مِنْ مَذْهَبِ الشَّافِعِيِّ وَالْحَنَفِيِّ وَالتَّلْفِيقُ بَاطِلٌ، فَصِحَّتُهُ مُنْتَفِيَةٌ(ردالمحتار ج:۱،ص:۷۵)

نو دا د تقوا خبره ده. یا د امام شافعي رحمه الله په نزد وینه وتلو سره اودس نه ماتیږي که یو شافعي مذهبه په دې مسئله کې په حنفیه فتوا باندې عمل وکړي، نو دا د تقوا خبره ده. خو په کومه مسئله کې چې د دویم امام په قول باندې عمل کولو کې د خپل امام مخالفت لازمیږي هلته د بل امام په قول باندې عمل کول به خلاف احتیاط وي. مثلاً یو کس د (قرآءت خلف الإمام) په مسئله کې د امام شافعي رحمه الله په فتوا باندې عمل کوي، نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد هغه د مکروه تحریمي، بلکې د حرامو مرتکب کیږي. په داسې حالت کې د امام ابوحنیفه په مذهب باندې د عمل کوونکو له پاره د امام شافعي په فتوا باندې عمل کول احتیاط نه دی. بلکې د حرامو د ارتکاب ویره ده، چې دا په ښکاره د احتیاط خلاف ده.[1]

او د هم دې احتیاط یو قسم دا دی چې یو کس اګرچې په درجه اجتهاد باندې فائز نه وي، خو د قران او حدیث په نصوصو کې ښه علم لري. د شریعت په اصولو او مقاصدو باندې نظر ساتي، د احکامو علل او د اسبابو په معرفت کې هغه ته في الجمله حذاقت او مهارت حاصل دی، خو د هغه زړه د خپل امام په یوه مسئله باندې نه مطمئن کیږي، بلکې د دې په مقابله کې د دویم امام مجتهد فیصله اقرب الی الکتاب والسنة ورته ښکاري، د داسې کس له پاره په دې مسئله کې د بل امام تقلید کول به روا وي، خو په دې شرط چې د دې دویم امام مجتهد د فتوا د ټولو شرطونو او قیودو لحاظ وساتي، که نه هماغه تلفیق پرې لازمیږي د کوم حرام کېدل چې بالاجماع پورته ذکر شوي دي[2]. رښتوني خبره خو دا ده چې تفقه او اجتهاد ډیر نازک او ګران شی دی، زموږ په شان امیانو له پاره په دې باندې سم سم پوهېدل هم ګران دي، لهذا زموږ له پاره د دین او ایمان سلامتیا او له خپل نظري او کج روي نه حفاظت هم په دې کې دی چې: ،،یک درګیر و محکم ګیر،، باندې عمل وکړ او دا تاسو چې څه فرمایلي دي چې: کله یې رفع یدین وکړ او کله یې ونه کړ او کله یې په امام پسې شاته تلاوت وکړ او کله یې ونه کړ. ظاهره ده چې داسې کس ته کله هم یو طرفي نه نصیب کیږي، بلکې همیشه به حیران او پریشانه وي ایا دا صحیح ده او که هغه؟ او بیا د کله کولو کله نه کولو څه معیار خو د هغه په ذهن کې کېدل پکار دي چې د کولو څه وجه ده؟ او د نه کولو څه وجه ده؟ که غور پرې وکړل شي، نو د دې تردد او تحیر سبب به هماغه را ووځي چې کله مې زړه غواړي او کله نه غواړي، بلکې دا خبره ثبوت ته رسیدلې ده چې څلور واړه امامان د خپل اجتهاد مطابق په حقه دي نو بیا ولې نه ،،یک درګیر و محکم ګیر (یو اونیسه او ښه محکم یې اونیسه)،، باندې عمل ونه کړل شي؟

1] وَأَنَّ الْحُكْمَ الْمُلَفَّقَ باطل بالاجماع وان الرجوع عن التقليد بعد العمل باطل اتفاقاً (درمختار ج۱، ص: ۷۵)

2] وَأَنَّ الْحُكْمَ الْمُلَفَّقَ باطل بالاجماع (وفى الشامية) وانه يجوز له العمل بما يخالف ما عمله على مذهبه مقلداً فيه غيرامامه مستجمعاً شروطه ويعمل بامرين متضادين فى حادثتين لا تعلق لواحدة منهما بالاخرى (فتاوى شامى ج: ۱، ص: ۷۵، طبع ايچ ايم سعيد)

۳: اختلافي مسائلوکې په یووخت کې په ټولوباندې عمل کول په ځینوصورتونوکې ممکن نه وي، بلکې یوقول به اخیستل کیږي اوبل به خامخاپریښودل کیږي اودځلورواړوپه قولونوباندې دعمل کولومطلب به داوي چې په کومه مسئله کې دچاپه قول باندې مې زړه وغواړي عمل به وکړم. نوددې په باره کې مې پورته عرض کړی دی چې بې شکه دځلورواړه امامانوعمل په قران اوحدیث باندې دی. خو داجتهادمدارک مختلف دي. لهذاپه دوی کې دیوي خبرې دعمل له پاره اختیاروول هم په قران اوحدیث باندې عمل کول دي

۴: دیوامام اقتداء لازمول (که هغه امام ابوحنیفه رحمه الله، یاامام مالک رحمه الله، یاامام شافعي رحمه الله یا امام احمدبن حنبل رحمه الله وي) ددې ضرورت خومې پورته ذکرکړی دی، چې دشک اوتلفیق اوددین حفاظت زموږ د امیانو په همدې کې دی .دادلیل خودټولوامامانو دتقلیدله پاره شخصي دی [1] اوپه دې کې داامام ابوحنیفه رحمه الله تخصیص نشته، خوداخبره بالکل ښکاره ده چې دکوم امام اومجتهد پیروي وکړل شي دهغه داصولواوفروعو، راجح ومرجوح، قوي وضعیف معلومول ضروري دي. پاک وهنداوافغانستان نه واخله ترمشرق بعیدپورې داامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب عام طور باندې رواج دی اوپه دې ملکونوکې دفقه حنفي دکتابونو ذخیرې اوددې مذهب دماهرینو موجودیت ډیر دی. کوموته چې په مسائلو کې رجوع کول د هرکس له پاره اسان و. دنورو امامانو دمذهب رواج په دې علاقوکې نه و .له دې وجې نه په دې علاقوکې داامام ابوحنیفه رحمه الله تقلید رائج شو .څنګه چې په مغربي ملکونوکې داامام مالک مذهب عام دی اودنورو مذهبونورواج په دغو ملکونوکې ډیرکم دی. له دې وجې نه په دغه ملکونوکې داامام مالک دمذهب تقلیدمتعین شو .غرض داچې زموږ په علاقوکې د امام ابوحنیفه رحمه الله تقلیدپه دې وجه ضروري وګرځول شوچې دلته دحنفي فقهې ماهرین موجود دي اوپه مغربي ملکونوکې داامام مالک تقلیدضروري وګرځول شو .ځکه چې هلته دهغه دمذهب ماهران موجودوو .هلته چې دبلې فقهې ماهرین موجودنه وي هلته په دویمې فقهې باندې دعمل کولوڅنګه صورت کیدای شي؟په هغې باندې عمل کول څنګه ممکن دي؟

۵: په پورتنیونکاتوباندې دې ځان ښه پوه کول پکار دي،نوددې سوال ضرورت باقي نه پاتې کیږي، ځکه چې مطلق تقلید یاتقلیدشخصي محض عقلي شی نه دی،بلکې دشریعت مطهره عملي شکل دی اوکوم دلائل چې دشریعت دپیروي دي هماغه دیوعام انسان له پاره دیوامام مجتهدپه داقتداء ثابتونکي دي اودې ایت شریف:"فسئلوا أهل الذكر ن كنتم لاتعلمون".(النحل :۴۳)اوحدیث نبوي ﷺ:"قتلوه،قتلهم الله ،الاسئلوا إذا لم يعلموا؟ فإنما

[1] اما فی زماننا فقال ائمتنا لایجوز تقلید غیرالائمة الاربعة،الشافعی ومالک وابی حنیفة واحمد بن حنبل(فتح المبین شرح الاربعین بحواله جواهر الفقه ج:۱،ص:۱۳۲)

شفاء العي السؤال"(مشکوة ص: ٥٥. بروایت ابي داود عن جابر رضي الله عنه. وابن ماجه عن ابن عباس رضي الله عنه) کې د دا سې کولو ضروري کېدل ذکر شوي دي

۲:: د تقلید اهمیت د قران او حدیث په رڼاکې پورته واضح شوي دی او رښتوني خبره خو دا ده چې کوم حضرات د تقلید له وجې نه په موږ طعن کوي، د تقلید نه پرته د هغوی گوزاره هم سخته ده، ځکه چې یو عام کس چې د قران او حدیث د فهم په مرتبه باندې فائزنه وي. نو خامخا به د چامني او هغه پسې به ځي او په مختلف فیها مسائلو کې به د یو مجتهد په تحقیق باندې اعتماد کول د هغه له پاره ضروري وي. خو په موږ ضعیفانو او د وی حضراتو کې په لاندې څو وجوسره فرق دی:

اول: دا چې موږ د یو داسې مجتهد امام په تحقیق باندې عمل کوو، چې د هغه امامت او درجه اجتهاد باندې فائزکیدل د امت د ټولو بزرگانو له لوري نه منل شوي دي، (د دې خلاصه ما په اختلاف امت او صراط مستقیم کې بیان کړې ده.) له دې سره سره موږ د نورو اکابرو امامانو او د هغوی د اتباعو په باره کې سپکه ژبه نه استعمالوو. بلکې د هغوی په حق کې د دوی اجتهاد واجب العمل گڼو او دا حضرات د خپل ځان نه پرته باقي ټول باطل پرست گڼي. په هغوی پسې سپکې خبرې کوي. گویا دې حضراتو په نزد د عمل بالحدیث غوښتنه نه پوره کیږي ترڅو پورې چې د بزرگانو بې عزتې ونه کړل شي او په هغوی باندې د گمراهۍ او باطل پرستۍ فتوا ونه لگول شي.

دویم: دا چې موږ د امام ابو حنیفه رحمه الله په تحقیق باندې عمل کونکي یو، چا چې د صحابه کرامو زمانه بیاموندلې وه او د صحابه وو او تابعینو په دین باندې عمل یې په خپلو سترگو سره لیدلی وا و دا حضرات اکثر د امام بخاري رحمه الله، یا شیخ ابن تیمیه تحقیق اولی او راجح گڼي او کله هغوی هم پریږدي او د حافظ ابن حزم رحمه الله تحقیقات د سترگو رڼا گڼي او س هم دا حضرات که انصاف وکړي چې د صحابه وو او تابعینو په دور کې (کوم ته چې په حدیث شریف کې خیرالقرون ویل شوي دي) په دین باندې بهتر عمل کیده یا د دې وروستنیو اکابرو رحمهم الله په زمانه کې؟

دریم: دا چې موږ خلکو ته د خپل آمي کېدو اعتراف دی، له دې وجې نه د چا امام مجتهد اقتداء د دین د پیروي له پاره ضروري گڼو، د دې برعکس دا حضرات سره له دې چې د یو ایت یا حدیث د ترجمې کولو له پاره د اردو د ترجمې محتاج دي، خپلو ځانونه ته آمي ویلو باندې شرم محسوسوي او خپل ځانونه د امامانو او مجتهدینو برابر، بلکې د هغوی نه هم ځانونه لوړ گڼي.

په هرحال اهل حدیث حضرات په موږ امیانو باندې د دې وجې نه طعن کوي چې موږ د خپل جهل اعتراف کړی دی او یو عالم رباني او عالم حقاني په پیروي کې اتباع شریعت مو د خپل ځان له پاره ضروري گڼلې ده، نو موږ د هغوی دې سپکو خبرو سره نه خفه کیږو، الله تعالی دې

ددوی په علم او اجتهاد کې برکت واچوي او موږ به انشاء الله ددې اکابرو ائمه وو په اقتداء سره جنت ته رسیږو.

هلته چې ورسیږو، نوانشاء الله ددې سپکې خبروکولو والوته به هم پته ولګیږي چې ددوی د طعن او سپکو خبرو څومره قمیت و؟

۷: د ښځې د لمانځه په باره کې په ،، اختلاف امت اوصراط مستقیم،، برخه دوم کې مسئله نمبر ۴ کې مې ضروري تفصیل سره لیکلي دي هلته یې وګوري. خودلته یوه بل نکته هم اضافه کوم:

ماهلته درې روایات ذکر کړي دي، دوه مرفوع اویو دخلیفه راشد حضرت علي رضي الله عنه قول، نور دا چې ماهلته هم ذکر کړي دي چې تقریباً دټول امت ائمه اوفقهاء د ښځې او سړي په لمانځه کې (په څینو مسائلو) د فرق قایل دي، دکوموتفصیل چې دهغه فقهاوو دکتابونونه معلومیدای شي.

اهل حدیث حضرات چې دلمونځ په مسائلو کې د سړي او ښځې دتفریق قایل نه دي هغوی عموماً دحدیثونو په عموم باندې استدلال کوي. په کوموکې چې فرمایل شوي دي چې رکوع دې داسې وکړل شي اوسجده دې داسې وکړل شي اوقاعده دې داسې وکړل شي، دې حضراتو دا قاعده دسړیو اوښځوله پاره یوشان عام وګڼله اودکوموحدیثونو چې ماپورته حواله ورکړې ده هغه یې ضعیف وګرځول اومستردیې کړل، سره له دې که دې حضراتو غور کړی وای، نوپه دې باندې پوهیدل ګران نه و، چې څلوروواړو امامانو د ښځې او سړي په لمونځ کې په څینو مسائلو کې چې کوم تفریق کړی دی دهغو منشاسترده دی، دڅه په باره کې چې ما په اختلاف امت کې هم اشاره کړې ده اودامنشاد صحیح حدیثونو نه ثابته ده، دسړیوله پاره جمعه اوجماعت کې حاضري لازم ګرځول شوې ده خو دښځوله پاره هم ددې سترله وجې نه واجب کیدل ساقط شوي دي اوددوی په حق کې:،، **وبیوتهن خیر لهن**،،،(**مشکوة ص:۹٦**) فرمایل شوي دي، له دې وجې نه په کوم حدیث کې چې ددواړوپه لمونځونوکې دتفریق مضمون راغلی دی که هغه ضعیف هم وي ،خوبیاهم دعموماتوپه مقابله کې دترجیح وړ دي، ځکه چې د ښځې ښځه کیدل په خپله دهغې سترغواړي. بیا دائمه وو مجتهدینوپه اتفاق سره فیصله هم ددې تایید کوي، امام بخاري تعلیقاً دام الدرداء رضي الله عنها اثر نقل کړی دی چې هغه به دسړیوپه شان کیناستله او هغه فقیه وه.[1]

---

[1] وكانت ام الدرداء رضى الله عنها تجلس فى صلاتها جلسة الرجل، وكانت فقيهة (بخارى ج:۱، ص:۱۱٤ باب سنة الجلوس فى التشهد)

دحافظ ابن حجر رحمه الله تحقیق دادی چې دا ام الدرداء صغری وه. کومه چې تابعیه ده او د تابعي مجرد عمل که دهغه مخالف هم نه وي موجود دلیل نه دی.[1]

ددې په مقابله کې په مسند ابي حنیفه رحمه الله کې روایت دی چې دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه پوښتنه وشوه چې دحضور ﷺ په زمانه کې به ښځوڅنګه لمونځ کاوو؟ ویې فرمایل چې اول به په پلتریو(چارزانو) کیناستې بیاوروسته ورته حکم وشوچې ځانونه راغونډکړئ اوکېنئ.(لامع الدراری ج: ۱ ص: ۳۳۱)

ظاهره ده چې دحضور ﷺ دزمانې دښځوچې کوم عمل و هغه دحضور ﷺ دحکم لاندې و او دا به دام الدرداء صغری تابعیه دعمل نه اولی اودېر مناسب وي او ددې حکم اوعمل منشاهم ستر و. له دې وجې ددې علت نه دسړیو اوښځوپه لمونځ کې دفرق نورجزئیات به هم ثابت شي، کوم چې پورته ذکر شوي حدیث کې ظاهردي اودائمه اربعه وو په مینځ کې متفق علیه هم دي.(وبالله التوفیق، والله اعلم وعلمه اتم واحکم)

مجتهدین شارع اومقنن نه دي

سوال: ,, اِتَّخَذُوا اَحبَارَهُم وَرُهبَانَهُم اَربَابًا مِن دُونِ اللهِ،، په شان خومور تول مقلدین یو، ځکه چې زمور مفتیان مور ته څه حرام اوحلال ښایي مور په هغه باندې عمل کوو. مور ته پخپله باندې داپته نه وي چې صحیح وایي اوکه غلط؟ خاص طورباندې ددې ایت مطابق هغه مریدان کوم چې دخپلوپیرانویوخبره هم غلطه نه مني اودهغوی غلطې خبرې دتاویلونوپه ذریعه درښتیا ثابتولو کوشش کوي.

جواب: که څوک کم عقل داجتهاد امامان په رښتیا شارع اومقنن (دشریعت اوقانون جوړونکي) ګڼي، نوهیڅ شک نشته چې هغه ددې ایت مصداق دي. خوداهل اصول متفقه فیصله ده چې: (**القیاس مظهرلامثبت**) یعنې داجتهاد دامامانو قیاس اواجتهادي حکمونه د شرعي حکمونوثابتونکي نه دي. بلکې (**مظهرمن الکتاب والسنة**) دي[2]. کوم حکمونه چې واضح طورباندې قران اوسنت کې نه دي ذکرشوي او دکومو استخراج اواستنباط ته چې زمور امیانوعقل اوپوهه نه رسیږي. داجتهاد دامامانوقیاس او استنباط دغه حکمونه دکتاب او سنت نه بَهرراباسي. دتقلید ضرورت په دې وجه باندې دی چې زمور عقل اوپوهه

۱] وعرف من روایة مکحول ان المراد بام الدرداء رضی الله عنها الصغری التابعیة لا الکبری الصحابیة،لانه ادرک الصغری ولم یدرک الکبری، وعمل التابعی بمفرده ولم لم یخالف لایحتج به (فتح الباری ج:۲،ص:۳۰٦،کتاب الاذان،باب سنة الجلوس)

۲]نورالانوار ص:۵،طبع میرمحمد

دکتاب اوسنت دغه حکمونه ته نه شي رسيدای. په اصل کې دکتاب اوسنت اتباع ده اود اجتهاد د امامانو دتقليد کولو ضرورت په دې وجه باندې دی چې مورچيرته د کتاب هدی داتباع په ځای داتباع هوا کندې ته ونه غورځيږو. اود اکابرينو اومشائخو دلغزشونو(خطاګانو) تاويل په دې وجه باندې دی چې په هغوی باندې بنه ګمان وکړل شي. دا نه چې دهغوی دلغزشونو اقتداء دې هم وشي.[1]

ايا څلور امامان دپيغمبرانو درجه لري؟

سوال: ايادپيغمبرانودرجې سره دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله. امام شافعي رحمه الله اوداسې نورو برابر ول ضروري دي؟

جواب: امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله خوامتيان دي اويو امتي ديونبي د پښو خاورو ته هم نشي رسيدلای.[2]

ايا د اجتهاد دروازه بنده شوې ده؟

سوال: دعلماء کرامونه مونږ اورو چې ددريمې پېړۍ نه وروسته داجتهاد دروازه بنده شوې ده، ددې څه وجه ده؟اوددې نه وروسته دراوړاندېدونکو مسئلو دحل کولو به څه صورت وي؟

جواب: د څلورمې پېړۍ نه وروسته داجتهاد دروازه بنده شوې ده يعنې ددې نه وروسته يو مطلق مجتهد نه دی پيدا شوی .ترکومه چې دنويو راتلونکو مسئلودحل کولو تعلق دی په هغه کې به د مجتهدينو اېښودل شويو اُصولو په رڼا کې غورکيږي او ددې ضرورت به هميشه وي،داجتهاد ددروازې بنديدلو مطلب دا نه دی چې ددريمې پېړۍ نه وروسته اجتهاد ممنوع وګرځول شو، بلکې ددې مطلب دا دی چې دمطلق اجتهادله پاره دکوم علم، پوهې، بصيرت،ادراك اوتقوا ضرورت دی، هغه معيارختم شوی دی. اوس ددغې درجې يو سړی هم داسې نشته چې هغه دې داجتهاد مطلق په مسندباندې دقدم اېښودلوصلاحيت ولري، کېدای شي ددې حکمت دا وي چې داجتهاد نه څه مقصود و يعنې دقران اودحديثو

---

[1] بل يجب عليهم اتباع الذين سبروا اى تعمقوا وبوبوا اى اوردوا ابواباً لكل مسئلة عليحدة فهذبوا مسئلة عليحدة فهذبوا مسئلة كل باب، ونقحوا كل مسئلة عن غيرها وجمعوا بينها بجامع، وفرقوا بفارق وعللوا اى اوردوا لكل مسئلة علته وفصلوا تفصيلاً......وعليه بنى ابن الصلاح منع تقليد غيرالائمة الاربعة الامام الهمام امام الائمةامامنا ابوحنيفة الكوفى،والامام مالک، والامام الشافعى، والامام احمد رحمهم الله تعالى وجزاهم عنا احسن الجزاء لان ذلک المذكور لم يدر فى غيرهم (فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ص:٦٢٩)

[2]) الولى لا يبلغ درجة النبى (شرح فقه اكبر ص:١٤٨) علمنا انه صلى الله عليه وسلم افضل الانبياء وسيدالاصفياء وسندالاولياء ثم قال: ونبى واحد افضل من جميع الاولياء وقد ضل اقوام بتفضيل الولى على النبى ....الخ (شرح فقه الكبر ص:١٤٣، ١٤٤ طبع مجتبائى بمبئ)

نه شرعي مسائل راویستل هغه که اصولي مسائل دي اوکه فروعي هغه مکمل شوي وو، ځکه اوس د هغه ضرورت باقي نه و. که چېرې دا دروازه د همیشه له پاره پرانستې پاتې وي، نو د امت اجتماعیت ته خطره پیدا کیدای شوه. والله اعلم بالصواب.[۱]

د یو امام تقلید ولې ضروري دی؟

سوال: هرکله چې څلور واړه امامان: امام ابو حنیفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، امام مالک رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله ټول په حقه دي. نو بیا په مونږ باندې د یو امام تقلید ولې ضروري دی؟ له دې څلورو نه مخکې خلکو د چا تقلید کاوو؟

جواب: کله چې څلور واړه امامان په حق دي، نو د یو تقلید کول هم د حق تقلید دی. خو په یو وخت کې د ټولو تقلید کیدای نه شي. نو ضرور به د یو امام تقلید کیږي.[۲]

بل دا چې د تقلید ضرورت ځکه راغی چې د خواهشاتو په دام کې ګیرنه شي او د امامانو نه مخکې دور د خیرالقرون و. په هغه وخت کې به خلکو د خپلې خوښې په ځای باندې د هرې خبرې پوښتنه د صحابه وو نه کوله.[۳]

د یو بل په مسلک باندې عمل کول

سوال: که چېرې یو سړی د خپل مسلک نه پرته د بل چا د مسلک تابعدراي په یوه یا دیوې نه په زیاتو مسئلو کې وکړي. نو ایا د دې اجازه شته؟ یعنې که یو شافعي مذهبه د امام ابو حنیفه رحمه الله په مسئله باندې عمل وکړي. نو ایا د دې اجازه شته؟

جواب: د خپل امام مسلک پرېښودل او بل مسلک باندې عمل کول په دوو شرطونو سره صحیح دي: یو دا چې دده اراده د نفس د خواهش نه وي. بلکې د دویم مسلک دلیل ورته زیات قوي او زیات احتیاط والا ښکاره شي. دویم دا چې دوه مسلکونه ګډوډ نه کړي چې هغه نه

۱] والتفصیل فی تسهیل الاصول الی علم الاصول (ص: ۳۱۹ طبع المکتبة الصدیقیة ملتان) وایضاً فی الشامیة ج:۱،ص:۷۷ وقد ذکروا ان المجتهد المطلق قد فقد،واما المقید فعلی سبع مراتب مشهورة واما نحن فعلینا اتباع ما رجحوه ....الخ

۲] یجب علی العامی وغیره ممن لم یبلغ مرتبة الاجتهاد التزام مذهب معین(الحاوی للفتاوی ج:۱،ص:۲۹۵) فقد صرح العلماء بان التقلید واجب علی العامی لئلا یضل فی دینه(میزان الکبری ج:۱،ص:۸۸،طبع مصر،الیواقیت والجواهر ج:۲،ص:۹۶)

۳] خیرالقرون قرنی ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم(مشکوة ص:۵۵۳،باب مناقبة الصحابة) وبعدالمائتین ظهر فیهم التمذهب للمجتهدین باعیانهم وقل من کان لا یعتمد علی مذهب مجتهد بعینه وکان هذا هوالواجب فی ذاک الزمان (الانصاف ص:۵۹،لشاه ولی الله)

دفقهاوو په اصطلاح کې "تلفيق" وايي. بلکې چې په کوم مسلك عمل کوي. نو دهغه مسلك دټولو شرطونو به خيال ساتي.[۱]

د څلورو امامانو په يو وخت کښې تقليد کول

سوال: د موجوده زماني يو مشهور واعظ ... فرمايي چې زه ديوې فقهې مقلد نه يم. بلکې زه دپنځو امامانو(امام ابوحنيفه،امام مالك، امام شافعي، امام احمدبن حنبلواو امام بخاري رحمهم الله تعالى عنهم) تابعداري کوم.پوښتنه داده چې ايا په يووخت کې ديونه دزياتو فقهو تابعداري کيداى شي؟ انسان پخپله خوښه دکومې فقهې فيصله خپلولى شي؟ ايادا عمل ښکاره دشريعت دمقصد سره منافي نه دي؟

جواب: دا مسائل په دوه قسمه دي: يوهغه مسائل دي چې هغه دټولو فقهاوو ترمينځه متفق عليه دي،دويم قسم هغه مسائل دي چې په هغو کې دفقهاوو اجتهادي اختلاف دی.په دې کې په يووخت دټولوتابعداري خونه شي کيداى .بلکې ديوتابعداري به کيږي اود کوم فقيه تابعداري چې کيږي، نودهغه دمسلك دټولوشرطونو لحاظ ساتل به ضروري وي. بيا ددې هم دوه قسمه دي: يوداچې په ټولومسائلوکې ديوې فقهې تابعداري وکړل شي، په دې کې سهولت هم دى او له يکسويي اودنفس د ازادي نه هم پکې امن دى،دويم صورت دادى چې په يومسئله کې ديوفقيه تابعداري وکړي اوپه بله کې دبل فقيه په دی کې څو خطرې دي:

يوه خطره دا چې په ځينې وختونوکې يوداسې صورت پيداشي چې دهغه عمل دټولوفقهاوو په نزد باندې غلط وي،مثلاً يوسړى دا خيال وکړي چې دامام شافعي رحمه الله په نزد په کلي کې دجمعې لمونځ جائزدی،له دې وجې نه زه دهغه په مسلك باندې دجمعې لمونځ کوم،سره له دې چې دامام شافعي رحمه الله په مذهب باندې دلمانځه دصحيح کيدو له پاره ځينې شرطونه داسې دي چې دهغو ده ته علم نه وي اونه ده دهغو شرطونوڅه لحاظ ساتلى وي،نو دده دا دجمعې لمونځ کول نه دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد وشواونه دامام شافعي رحمه الله په نزد باندې.

دويمه خطره دا ده چې په دې صورت کې نفس آزاد شي چې دکوم مسلك کومه مسئله دده خوښه وي او دده دخواهش موافقه وي، نو هغه به اختيار وي اودا دنفس او خواهش تابعداري ده.

دريمه خطره دا ده چې په ځينې وختونوکې ده ته ددوو مسئلو په مينځ کې ديوپه اختيارولو کې شک پيداشي او پخپله خوبې علم نه وي . په دې وجه يومسلك ته ترجيح ورکول به ورته

---

[۱] وان الحكم الملفق باطل بالاجماع، وفى الشامية: وانه يجوزالعمل بما يخالف ما عمله على مذهبه مقلداً فيه غيرامامه مستجمعاً شروطه.....الخ (فتاوى شامي ج:۱،ص:۷۵)

مشكل شي. نو د عامو خلكو سلامتيا په دې كې ده چې هغوى دې يو مسلك اختيار كړي او دا عقيده دې ساتي چې دا ټول فقهي مسلكونه د شريعت د درياب نه راوتلي نهرونه دي.

د شريعت په روا او ناروا كارونوكې د امامانو اختلاف ولې دى؟

سوال: اكثرمونږ اورو، چې دا فلاني كار دفلاني امام په نزد باندې جائزدى، خو دفلاني امام په نزد باندې جائزنه دى.د دين په اعتبار سره هركارچې وي دوه خبرې پكې كيداى شي جائز او ناجائز. خو دا خبره مهمله ده. اصل خبره راته وكړئ! مامخكې هم دځو كسانونه پوښتنه كړې وه، خو زه هيڅ مطمئن نه كړم.

جواب: په ځينې امورو كې خو قرآن كريم او حديث نبي ﷺ صفا صفا فيصله كړې ده(او هم دا زمونږ دشريعت ډيره برخه ده) په داسې كارونوكې دجائز او ناجائز كيدو كې،خو دهيڅ اختلاف نه شته او په ځينې كارونوكې دقران اوحديث ښكاره حكم نه وي، نو په داسې كارونو كې مجتهدين حضرات دخپل اجتهاد نه كار اخلي او دهغه دجواز يانه جواز فيصله كيږي، خو په علم ، فهم او په اجتهادي قوت كې فرق دا يو فطري شى دى. په دى كې دوړوكې شان دوو مثالونو سره تاسو په ښه طريقه پوهيداى شئ:

۱: نبي كريم ﷺ صحابه ؓ په يو كار پسې وليږل او هدايت يې ورته وكړ چې: د مازديگر لمونځ به په فلاني ځاى كې كوئ،د مازديگر دلمانځه وخت هلته رسيدو نه مخكې ختميده، نو صحابه په خپل مينځ كې دوه ډلې شول.يوې ډلې وويل چې نبي عليه السلام هلته رسيدونه وروسته دلمانځه حكم كړى دى.اګركه دا مونځ قضا كيږي خو هلته به ځان رسوو. نو بيابه لمونځ كوو.دويمې ډلې وويل: چې دحضور اراده خو يوا ځې دا وه چې مونږ دې دلمر غورځيدو نه مخكې هلته ځان ورسوو.نو كله چې نه شو رسيدلاى، نو دلمونځ قضا كولو خوځه جواز نشته.[1]

بيا دا قصه په دربار رسالت كې وړاندې شوه،نو هغه ﷺ دواړو ته په حقه وفرمايل او په هيڅا باندې يې دناخوښى اظهار ونه كړ.دواړو ډلو دخپل اجتهاد مطابق دنبي ﷺ مقصد باندې عمل وكړ.اګرچې ددوى په مينځ كې دجواز او عدم جواز اختلاف هم راغى،همدارنګه ټول مجتهدين دخپل اجتهادي صلاحيت مطابق دشريعت په منشاء باندې عمل كول غواړي، خو ددوى په مينځ كې هم اختلاف راځي او دغه اختلاف يوا ځې دا نه چې نبي عليه السلام زغملى دى،

۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم « لاَ يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الْعَصْرَ إِلاَّ فِى بَنِى قُرَيْظَةَ » . فَأَدْرَكَ بَعْضُهُمُ الْعَصْرَ فِى الطَّرِيقِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لاَ نُصَلِّى حَتَّى نَأْتِيَهَا ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ نُصَلِّى لَمْ يُرَدْ مِنَّا ذَلِكَ . فَذُكِرَ ذَالِكَ لِلنَّبِىِّ صلى الله عليه وسلم فَلَمْ يُعَنِّفْ وَاحِدًا مِنْهُمْ(بخارى شريف ج:۲،ص:۵۹۱)باب مرجع النبى صلى الله عليه وسلم من الاحزاب.....الخ)

بلکې هغه ته يې رحمت هم فرمايلي دي[1] اودې ناکاره ته ددې اختلاف رحمت کيدل داسې په ښکاره باندې په نظر راځي لکه لمر.

دويم مثال: مونږ ته روزانه مخې ته راځي چې ديو مجرم نيول يو عدالت جائز وګرځوي او دويم عدالت يې ناجائز. دقانون کتاب دواړو ته يوشان وړاندې وي. خو په دې خاصه واقعه باندې د قانون په تطبيق کې اختلاف وي او ترننه پورې دغه اختلاف هيڅ مهمله خبره نه ده ګرځولې. څلور واړه داجتهاد امامان زمونږ ددين محکمه (هايي کورټ) ده. هرکله چې اختلافي مقدمه دهغوی په وړاندې راشي. نو په قران اوحديث باندې دغور کولو نه وروسته هغوی ددې په باره کې فيصله کوي. ديو رايه دا وي چې جائز ده. دبل رايه دا وي چې ناجائز ده او ددريم رايه دا وي چې دا مکروه ده. خو دټولو رايې په دې فيصله کې دقران او حديث په دلائلو باندې مبني وي، په دې وجې دټولو فيصله داحترام وړ (لائقه) ده. اګرکه دعمل کولو له پاره ديو اختيارول ضروري دي.[2] دا څوحرفونه مې وليکل دزياتې ليکنې ماسره وخت نشته، که نه دا ديوې مستقلې رسالې موضوع ده.

ديوې فقهې پابندي د يوعام سړي له پاره ضروري ده دمجتهد له پاره نه

سوال: ايا په مونږ باندې ديوې فقهې پابندي واجب ده؟ ايا فقه حنفي. فقه شافعي. فقه مالکي اوفقه حنبلي. دا ټول اسلام دی حق. خو يواځې يووې. ايا ستاسو امامانو فقه واجب ګرځولې ده؟ امام شافعي رحمه الله دامام ابوحنيفه رحمه الله دفقهې پابندي ولې ونکړه؟ يو واجب يې پريښود اوګناهګار شو. يواځې دانه. بلکې يوه نوې فقه يې وړاندې کړه (نعوذ بالله)

جواب: ديو مسلمان له پاره دالله او درسول دحکمونو پابندي لازم ده کوم چې دقران او د حديث نبوي ﷺ نه معلوميږي، داحکامو دعلم له پاره داجتهاد ضرورت وي اود اجتهاد د صلاحيت په لحاظ سره دعلم خاوندان په دوه قسمه دي: يو مجتهد او بل غير مجتهد. مجتهد باندې دخپل اجتهاد مطابق عمل کول لازم وي او دمقلد له پاره يو مجتهد ته رجوع کول پکار دي. لقول تعالى: ﴿ فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ (النحل، ۴۳)

ولقوله عليه السلام الا سألوا إذلم يعلموا فإنما شفاء العي السؤال. (ابو داؤد ص۴۹ ج۱)

دا څلور واړه امامان مجتهدين وو. عام خلک به په قران او حديث باندې دعمل کولو له پاره دغو مجتهدينو ته رجوع کوي اوکوم خلک چې په خپله مجتهدين وي دهغوی له پاره بل

---

[1] اختلاف امتى رحمة.....اختلاف اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم رحمة.....الخ (المقاصد الحسنة للسخاوى ص: ۴۹، حديث نمبر: ۳۹ طبع بيروت)

[2] ولما اندرست المذاهب الحقة الا هذه الاربعة كان اتباعها اتباعاً للسواد الاعظم (عقدالجيد ص: ۳۸)

مجتهد ته رجوع کول یواځې غیرضروري نه. بلکې جائزهم نه دي[1] او یومعین مجتهد ته رجوع کول ځکه ضروري دي چې په قران او حدیث باندې دعمل کولو په ځای چېرته دنفساني خواهشاتوتابعداري شروع نه شي چې کومه مسئله یې دخپل خواهش مطابق وه هغه به اخلي[2]. تاسوکه پخپله داجتهاد صلاحیت لرئ. نوپه خپل اجتهاد باندې عمل کوئ ماچې څه ولیکل، نو دا مې دغیر مجتهدینو په باره کې لیکلي دي.

د قران اوحدیث په موجودیت کې په څلورو فقهو خصوصاپه فقه حنفي باندې ولې زورکیږي؟

سوال: یوسړی دفقه حنفي سره تعلق لري.خو خپله مسئله په فقه مالکي سره حل کول غواړي، نوتاسوهغه منع کوئ چې دهغه یوه وجه خودا وي چې دفقه حنفي باوجود فقه مالکي ته ځکه رجوع کوي چې په هغه کې نرمي وي. نوپه داسې دائره (حنفي فقه) کې داوسیدو باوجود دې ته ناجائز وویل شو، خو ددې تولوخبرو نه پرته زه تاسو نه دا پوښتنه کول غواړم چې ااخر ددې څلورو امامانو فقهې ته دمذهب درجه ولې ورکول شوه.چې دې وخت کې دڅلورو امامانود منونکو ترمنځ دومره ډېرلیرې والی دی.کله چې یوښه مسلمان له پاره هرهغه خبره چې دقران او دحدیثوپه نزد باندې حقیقت وي هغه منل پکار دي اود فقهې اهمیت ډېرزیات شو سره له دې چې دالله اودهغه درسول اطاعت ضروري دی. ددې واضحه حکم نه وروسته تاسو ونښایئ چې دیوامام ، مجدد ، ظلي یابروزي. نبي ګنجائش چیرته پاتې کیږي؟

جواب: محترم اومکرم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته:

زه ستاسوپه لیک ډېرخوشحاله شوم چې تاسو خپل ټول شکونه دکمې زیاتي نه پرته په پوره وضاحت سره بیان کړل،افسوس چې ماته په تفصیل سره دلیکلوفرصت نشته.خو که مخامخ ملاقات شوی وای، نو زباني معروضات وړاندې کول به زیات ااسان وو.خوپه هرحال څه امور عرض کوم:

۱: داسلام ددین ډېرکارونه خو داسې دي چې په هغه کې نه دچااختلاف شته او نه داختلاف ګنجائش شته.خو ډېرکارونه داسې دي چې دهغو حکم صفا په قران کریم یاپه حدیث

---

[1] وهو محمول من له قدرة على استنباط الاحكام من الكتاب والسنة،والا فقد صرح العلماء بان التقليد واجب على العامى، لئلا يضل فى دينه (ميزان الكبرى ج:۱،ص:۸۸ طبة مصر،اليواقيت والجواهر ج:۲،ص:۹۶)

[2] وفى ذلك (اى التقليد) من المصالح مالا يخفى، لا سيما فى هذه الايام التى قصرت الهمم جدا واشربت النفوس الهوى واعجب كل ذى راي برايه (حجة الله البالغة ج:۱،ص:۱۲۳ طبع مصر)

نبوي ﷺ کې ذکرشوی نه وي،دداسې کارونودشرعي حکم دمعلومولو له پاره د ژورعلم،فراخه نظر، داعلی درجې دیانت او امانت پکار دی.دا څلور واړه بزرګان په دې صفتونوکې دټول امت په نزدباندې مشهور او منل شوي وو.څکه ددوی فیصلې دقانون دشارح په حیث منل شوي دي لکه څنګه چې دلوی عدالت له لوري دقانون وضاحت مستند وي، نوله دې وجې نه دا تصور صحیح نه دی چې خلک د الله او درسول ﷺ دتابعداري په ځای ددې بزرګانوتابعداري کوي، صحیح تعبیر مستند ګڼل کیږي او دقانون تشریح یوعقلمن سړی له قانون نه انحراف نه ګڼي.په دې وجه دڅلور واړه امامانو فقه له قران او سنت نه اخیستل شوې ده او ددوی تابعداري دقران او حدیث تابعداري ده.

۲. پاتې شوه داخبره چې هرکله دا څلور واړه تشریحات مستند دي، نوبواځې فقه حنفي ولې غوره کیږي؟ نوددې وجه دا ده چې د نورو فقهو پوره تفصیل زموږ په مخکې نه شته او نه یې ټول کتابونه موجود دي، په دې وجه دنورو د فقهې ماهرینو ته درجوع مشوره ورکول کیدای شي خوپخپله داسې کول داحتیاط نه خلاف دي.

دویم دا چې دلته اکثر خلک دفقه حنفي منونکي دي.نوکه چیرې یوسړی دویمې فقهې ته رجوع کوي، نوددې خبرې ویره ده چې هغه بواځې داسانتیا په وجه داسې کوي . دخدای او رسول دتابعداري په وجه داسې نه کوي.

ایا یوه فقه منل ضروري دي؟

سوال: ایاپه اسلام کې یوه فقه منل اوپه هغه باندې عمل کول لازم دي؟که په خپل عقل او پوهې سره دامعلومول چې دکوم امام خبره زیاته مناسبه وي په هغې باندې عمل کول جائزدي؟

جواب: دیوې فقهې پابندي واجب ده اوکه داسې ونه شي، نوانسان به دخپلې رایې او خود غرضي په دام کې ونښلي.[۱]

د حنفي فقهې د څو خبروصحیح تعبیر

سوال: ۱...که یوې ښځې ته اجرت ورکړل شي اوهغې سره زنا وشي، نوپه هغې باندې به حدجاري کیږي اوکه نه؟ځینې خلک وایي چې په حنفي فقه کې په دې باندې دزناحدنشته اوپه خپل تایید کې داحواله وړاندې کوي "لواستأجر المرأة ليزنی بها فزنی لا يحد فی قول ابی حنيفة." ددې قول څه ډول تعبیر کیږي؟

[۱] وفی ذلک (ای التقليد) من المصالح مالا يخفی، لا سيما فی هذه الايام التی قصرت الهمم جدا واشربت النفوس الهوی واعجب کل ذی رای برايه (حجة الله البالغة ج:۱،ص:۱۲۳ طبع مصر)

سوال: ۲.... ايا رښتيا هم دحنفي فقهې کې ځينې يااکثر مسائل دقران اوصحيحو حديثونو خلاف دي؟

سوال: ۳.... اياداامام اعظم رحمه الله دمقلدينو تقليدداسې دی چې که بالفرض دامام صاحب کومه مسئله دقران پاک دايت يادصحيح حديث خلاف وي. نوحنفي حضرات.قران پاک اوحديث رسول صلى الله عليه وسلم داسې ويلوسره پريږدي چې: داايت ياحديث زمونږ دامام دقول خلاف دي له دې وجې نه مونږ دا نه منو.زمونږ له پاره دامام تقليداودهغه مسئله دتقليد وړ(لائقه)ده...دداسې خبرې کونکي څه حکم دی؟

سوال: ۴...په کوم کس چې دشهوت غلبه وي اودهغه ښځه ياوينزه نه وي،نوهغه دشهوت دتسکين له پاره استمنا باليد کولې شي،اميددی چې په دې باندې به څه گناه نه وياوکه دزنا ويره وي. نواستمناباليدواجب ده.(دشامي په حواله ص: ۱۵۲)

اميدلرم چې محترم به دخپلو ضروري مصروفياتو نه وخت وباسي اودمذکوره سوالونوځوابونه به راکړي .والسلام عليکم!

جواب: ۱...کومې ښځې سره چې داجرت په بدل کې زنا شوي وي دصاحبينو په نزدپه هغې باندې حد شته،په درمختارکې له فتح القديرنه نقل شوي دي چې:

"والحق وجوب الحد کالمستأجرة للخدمة" (شامي ج:٤ ص:٢٩)

ترجمه::اوحق دادی چې حد واجب دی،څنګه چې دخدمت له پاره نيول شوې ښځې سره زناکولوباندې حدواجب دی.

حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله دشک له وجې حدساقطوي (اودتعزيزحکم ورکوي) اودهغه استدلال دحضرت عمر رضي الله عنه داثرله وجې نه دی.کوم چې امام عبدالرزاق رحمه الله په خپل منصف کې په دې الفاظوسره نقل کړی دی:

الف:..."أخبرنا ابن جريج قال ثنی محمد بن الحارث بن سفيان عن ابی سلمة بن سفيان: أن المراة جاءت عمر بن خطاب رضي الله عنه فقالت:ياامیرالمومنين :اقبلت اسوق غنما،فلقينی رجل ،فحفن لی حنفة من تمر،ثم حفن لی حفنة من تمر،ثم حفن لی حفنة من تمر،ثم اصابني قال عمر رضي الله عنه:قلت:ماذا؟فأعادت،فقال عمر بن الخطاب رضي الله عنه ويشير بيده:مهر!مهر!مهرا....الخ.

ترجمه::مونږ ته جريج بيان وکړ.هغه فرمايي چې ماته محمدبن حارث بن سفيان بيان وکړ ،هغه روايت کوي دابوسلمه بن سفيان نه چې:يوه ښځه حضرت عمر رضي الله عنه ته راغله اوو يې ويل چې:اې اميرالمومنين!ماخپلې بزې راوستلې. ماسره ديوکس ملاقات وشو.هغه ماته يوموټی کجورې راکړلې.بيايې يوموټی نورې کجورې راکړلې اوبيايې يو موټی نورې کجورې راکړلې.بياهغه ماسره صحبت(کوروالی) وکړ.حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل تاڅه

وويل؟هغې بيان دوباره وکړ،حضرت عمر رضي الله عنه دخپل لاس اشارې سره وفرمايل :مهردی،مهردی ،مهردی!

ب: "وعن سفيان بن عيينة عن الوليد بن عبدالله عن ابي الطفيل ان امرأة أصابها الجوع .فاتت راعيا. فسالته الطعام .فأبی عليها حتی تعطيه نفسها .قالت: فحثی لي ثلاث حثيات من تمر .وذكرت انها كانت جهدت من الجوع .فأخبرت عمر .فكبر .وقال: مهر امهر امهر اكل حفنة مهر .ودرأعنها الحد". (مصنف عبدالرزاق ج:۷ ص:۴۰۶)

ترجمه: عبدالرزاق له سفيان بن عيينه نه روايت کوي. هغه دوليد عبدالله بن جميع نه او هغه دابوالطفيل (واثله بن اسقع صحابي رضي الله عنه) نه چې يوه ښځه لوږې تنګه کړله.هغه يو شپونکي ته ورغله اودهغه نه يې ډوډۍ وغوښتله،هغه ورته وويل چې ترڅوپورې خپل نفس ماته ونه سپارې ډوډۍ به درنکړم، دښځې بيان دی چې هغه ماته درې موټي کجورې راکړلې اوهغې زياته کړه چې دلوږې له لاسه بې تابه وه،هغې داکيسه حضرت عمر رضي الله عنه ته وکړه، هغه تکبير ووايه او ويې وفرمايل: مهردی. مهردی. مهردی اودهغې نه يې حدساقط کړ.

ددې دواړوروايتونوراويان ثقه دي.حافظ ابن حزم اندلسي رحمه الله دادواړه په (المحلی) کې ذکرکړي دي اوپه دوی يې جرح نه ده کړې.بلکې دمالکيانواوشوافعوخلاف يې بطوردليل وړاندې کړی ده. هغه ليکي:

"وأما المالکيون والشافعيون فعهدنا بهم يسنعون خلاف الصاحب الذی لايعرف له مخالف إذا وافق تقليدهم وهم قدخالفوا عمر .ولايعرف له مخالف من الصحابة.....بل هم يعدون مثل هذا اجماعا.ويستدلون علی ذالک بسکوت من الحضرة من الصاحبة عن النکيرلذالک."(محلی ابن حزم ج:۱۱ ص:۲۵۰)

ترجمه:پاتې شول مالکيان اوشوافع موږ ليدلي دي چې هغوی دداسې صحابي په مخالفت باندې تشنيع کوي دچاپه وړاندې چې له صحابه وو نه مخالف معلوم نه وي.بلکې دی اجماع شميري اوپه دې اجماع باندې استدلال کوي.ددې صحابه ووپه سکوت سره څوک چې په دې موقعه باندې موجودوو ،خوهغوی په دې باندې څه انکار ونه کړ.

کله چې ددې حضراتودا اصول دي، نو دحضرت عمر رضي الله عنه داپورتنۍ واقعه ولې دليل نه ګڼي سره له دې چې په صحابه کرامو کې چاپه حضرت عمر رضي الله عنه باندې انکار ونه کړ؟کيدای شي چې دچادا خيال وي چې حضرت عمر رضي الله عنه دلوږې دمجبورې له وجې نه هغه مجبوره وګڼله اوحدېې ترې ساقط کړ.

حافظ ابن حزم رحمه الله دا احتمال غلط ګرځولوسر ليکي:

"فإن قالوا: أن اباالطفيل ذکرفی خبره أنها قدکان جهدها الجوع .قلنا لهم.....أن خبرابی الطفيل

ليس فيه أن عمر عذرها بالضرورة.بل فيه أنه درا الحد من أجل التمر الذى اعطاها.وجعله عمر مهرا"(محلى ج:١١ ص:٢٥٠)

ترجمه: كه مالكي او شافعي حضرات دا ووايي چې ابو الفضل په خپل روايت كې ذكر كړي دي چې لوږې دا ښځه بې تابه كړې وه.(كېداى شي چې له دې وجې نه حضرت عمر رضي الله عنه د هغې نه حد ساقط كړى وي)مونږ هغوى ته وايو چې: دابو الفضل په روايت كې دا نشته چې حضرت عمر رضي الله عنه هغه د مجبوري له وجې نه معذوره ګرځولې وه بلكې په دې روايت كې خودا دى چې هغه د هغوى كجورو له وجې نه حد ساقط كړ.كومې چې هغه وركړې وې او هغه رضي الله عنه دا كجورې مهر وګرځاو.

د دې تفصيل نه دوه خبرې واضحې شولې يوه دا چې په سوال كې كوم ويل شوي دي چې په فقه حنفي كې په دې باندې حد نشته.دا تعبير غلط دى.تاسو اوريدلي دي چې په دې مسئله كې د فقه حنفي فتوا د صاحبينو په قول باندې ده.چې په دې باندې حد لازم دى.

دويم دا چې په دې مسئله كې كوم خلك د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله باندې زبان درازي كوي هغه په مسئله باندې په صحيح طورسره نه پوهيدو له وجې نه كوي او د هغوى د طعن په حضرت امام باندې نه دې. بلكې د هغوى وړاندې رو حضرت اميرالمومنين عمربن الخطاب رضي الله عنه باندې دي.څه مسئلې سره اتفاق نه كول.بله خبره ده.خو داسې مسئلې راخستل او په امامانو باندې زبان درازى كول بله خبره ده.

دلته به دا خبره ذكر كول هم بې ځايه نه وي چې په زيربحث صورت كې د حضرت امام(او له هغه مخكې د حضرت عمر رضي الله عنه)په نزد هم زناده.حلاله نه ده.خو له مهرسره د تشبيه له وجې حد ساقط شو.له دې وجې دا ګڼل به بدفهمي وي چې دا دواړه بزرګان زنا بالاستيجار حلال ګڼي،څنګه چې ځينو خلكو داسې ګڼلې ده.وللبسط محل آخر!

جواب: ٢...دا ويل چې: د حنفي فقهي ځينې يا اكثر مسائل د قران او صحيح حديثونو خلاف دي، د ناپوهي نتيجه ده،په حنفي فقه كې د مسائلو استناد له قران كريم.احاديث نبويه (على صاحبها الصلوة والتسليمات).اجماع امت او قياس صحيح باندې ده.البته دائمه مجتهدينو مدارك اجتهاد مختلف دي.حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله چې د اجتهاد په كومه لوړه درجه باندې فائزو.د دې اعتراف د امت سترو امامانو كړى دى.

جواب: ٣...په سوال كې چې د كوم څه پوښتنه شوې ده هغه يواځې تهمت دى.همدا اوس اوس تاسو د مستاجرې په مسئله كې وليدل كې چې احنافو د حضرت امام رحمه الله قول پرېښې دى او د صاحبينو قول يې اختيار كړى دى او دا يې وويل:والحق وجوب الحد... داسې ډېر مثالونه وړاندې كولى شم، چې خلكو ته په ظاهره په نظر راځي چې حنفيه د صحيح حديث

خلاف کوي،هلته يوائې دحضرت امام دقول له وجې څخه نه.دقران وسنت اواجماع امت دقوي د لائلوله وجې څخه.ددې هم ډېرمثالونه وړاندې کولی شم. خونه راسره فرصت شته اونه يې ضرورت غوښتنه کوي

جواب: ۴. درمختارکي دی "في الجوهرة:الإستمناء حرام وفيه التعزيز."

ترجمه: په جوهره کې دي چې:استمنابالیدحرام ده اوپه دې باندې تعزیزلازم دی

علامه شامي ددې په حاشيه کې ليکلي دي:

قوله:(الإستمناء حرام) اى: بالكف إذا كان لإستجلاب الشهوة.أما إذا غلبته الشهوة وليس له زوجة ولاامة ففعل ذالک لتسكينها فالرجاأنه لاوبال عليه.كما قال ابوالليث.ويحب لوخاف الزنا.(ردالمختار:ج:٤ ص:٢٧ كتاب الحدود)

ترجمه:په خپل لاس سره دمني خارجول حرام دي ،کله چې داکار دشهوت په اساس وي . خو په داسې صورت کې کله چې پرې دشهوت غلبه وي اوښځه یا وینزه یې هم نه وي.که هغه د شهوت دتسکین له پاره داسې وکړي. نوامیددی چې په دې باندې به وبال نه وي. څنګه چې ابوالليث رحمه الله فرمايلي دي چې که په زناکې داخته کېدو وېره وي. نوداسې کول واجب دی.

ددې عبارت نه څوخبرې معلومې شولې:

اول: په عام حالات کې داسې کول حرام دي او د وبال سبب دی اوپه دې باندې تعزیزلازم دی.

دويم:که په یوځوان باندې شهوت دومره غالب شي چې دشدت شهوت له وجې نه دهغه ذهن دومره متوحش شي چې هغه نه هيڅ قسمه سکون اوارام نه محسوسيږي اودهغه سره د تسکین شهوت له پاره څه حلاله ذريعه هم نه وي.په داسې دمجبوري په حالت کې که هغه د علاج په طور ددې عمل په ذریعه دشهوت تسکین وکړي. نودالله تعالى درحم اوکرم نه توقع کیدای شي چې په ده باندې به وبال نه وي،ددې مثال داسې دی چې رشوت اخيستل او ورکول دواړه حرام دي.خو که يومظلوم دظلم ددفع له پاره رشوت ورکولوباندې مجبورشي. نوتوقع کیدای شي چې په دې مظلوم باندې به مواخذه نه وي داابوالليث رحمه الله قول دی.

دريم:که دشهوت دغلبې له وجې نه په زناکې داخته کیدو ویره وي، نودزنانه دبچ کیدوله پاره ددې بدکارکول ضروري دي.داداسې صورت دی چې ديوکس په دوو حرامو کارونو کې په يوحرام کې لوېدل يقيني شي، نوچې کوم په حرمت کې کم وي دهغه اختيارول لازم وي فقهاء رحمهم الله تعالى دا اصل په دې الفاظوسره تعبیرکړی دی:

"من أبتلى ببليتين فليختر أهونهما."

ترجمه. کوم کس چې په دوه مصيبتونوکې راګيروي هغه ته پکاردي چې کوم په هغو کې اسان وي هغه دې اختيارکړي.

شیخ ابن نجیم په (الاشباه والنظائر) داول فن د پنځمې قاعدې لاندې داصل ذکرکړی دی او ددې یې ګڼ شمیر مثالونه ذکرکړي دي .ددې په تمهید کې فرمایي
څلورمه قاعده داده چې کله دوه مفاسد راجمع شي. نو دلوی مفسدنه دبچ کیدوله پاره دې وړکی مفسد وشي. امام زیلعي رحمة الله علیه په (باب شروط الصلوة) کې فرمایي چې ددې قسمه مسائلو اصول دادي چې کوم کس په دوو بلاګانو کې راګیرشي اودواړه په ضررکې یوشان وي، نو په هغه دواړو کې چې کومه یې خوښه وي هغه دې اختیارکړي اوکه دواړه مختلف وي، نو په بدي کې چې کومه کمه وي هغه دې اختیارکړي، ځکه چې دحرامو ارتکاب یواځې په اضطراري حالت کې جائزدی اودکوم شي ضرر چې زیات وي دهغه په اختیارولو کې هیڅ اضطرار نشته... (الاشباه والنظائر مع شرح حموي ج ۱ ص ۱۲۳ مطبوعه ادارة القران ،کراچي)
داستمناء بالید کوم صورت چې شامي نیکلی دی په هغه کې هم دغه اصل چلېدلی دی یعنې دلوی حرام (زنا) نه دبچ کیدوله پاره دوړوکي حرام (استمناء) اختیارول اوداداسې ګڼل چې د استمنا اجازه ورکړل شوې ده یا واجب ګرځول شوی دی قطعاً غلط دي .ددې داسې تعبیر کول به صحیح وي چې لوی حرام نه ځان ساتل واجب ګرځول شوي دي. اګر که دوړوکي حرام دارتکاب په ذریعه وي.
پاتې شوه داچې انسان ته له ضبط نفس (دنفس له کنټرول) څخه کار اخستل پکار دي. نه دې د زنا خوا ته ورځي اونه دې استمناء کوي، داخبره بالکل صحیح ده .ضرورهم همداسې کول پکاردي. خو سوال دادی چې کوم کس دنفس اوشیطان په پنجه کې داسې راګیرشوی وي چې دهغه په خپل ځان هیڅ اختیارنه وي اوهغه ته له داسې کولو پرته هیڅ چاره نه وي ،نو آیا هغه دې ستره ګناه وکړي اوهمیشه له پاره دې مخ تور شي ،یاخپل لاس سره دې داشهوت ختم کړی؟په داسې صورت کې ده ته څه کول پکاردي ؟لږ دسوچ سره له خپل ځان نه ددې فتوا پوښتنه وکړئ! والله اعلم.

دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه د راتګ اشاره

سوال: ایاحضور صلی الله علیه وسلم دحضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د راتګ اشاره کړې وه ،چې یوکس به داسې راځي چې دثریا (ستوري) نه به هم علم راوړي؟

جواب: دصحیح بخاري دروایت ,,لوکان الدین بالثریا،، نه ځینو علماوو دحضرت امام ابوحنیفه رحمة الله علیه طرف ته اشاره ګڼلې ده.

❖ سنت او بدعت ❖

د بدعت تعریف

سوال: بدعت څه ته وايي؟ او د بدعت نه څه مراد دي؟

جواب: د بدعت تعریف په درمختار، مع حاشیه شامي جلد ۱ صفحه ۵۲۰ طبع جدید، کې داسې شوی دی: "**هی إعتقاد خلاف المعروف عن الرسول (صلی الله علیه وسلم) لا بمعاندة بل بنوع شبهة**".

ترجمه: کوم شیان چې د رسول الله ﷺ نه نقل دي د هغو خلاف عقیده ساتل د ضد او عناد سره نه، بلکې د څه شك په بناء باندې. "او علامه شامي رحمه الله د علامه شمسي نه د دې تعریف په دې الفاظو کې نقل کړی دی: "**ما أحدث علی خلاف الحق المتلقی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم من علم أو عمل او حال بنوع شبهة" أو استحسان وجعل دینًا قویمًا وصراطًا مستقیمًا**"

ترجمه: هر هغه علم، عمل یا حال چې رسول الله ﷺ نه نقل کړی شوي وي. له هغو څخه د شك یا استحسان په بناء باندې خلاف جوړول او بیا د غه قوي دین او صراط مستقیم ګڼل دا بدعت دی خلاصه دا چې په دین کې څه داسې نظریه یا طریقه جوړول بدعت دي چې:

الف: د نبي د طریقې نه خلاف وي ، له نبي کریم ﷺ څخه نه قولاً ،نه فعلاً ،نه صراحتًا ،نه دلالة، نه اشارة ثابت وي.

ب: چې د دې د اختیار ونکي د نبي علیه السلام مخالفت د ضد او عناد په وجه باندې نه وي کړی. بلکې په خپل ګمان کې دا یو ښه کار او ښه خبره وګڼي او ختیار یې کړي.

ج: هغه شی چې دیو دیني مقصد له پاره ذریعه او وسیله نه وي هغه پخپله د دین خبره وګڼي.

د بدعت قسمونه

سوال: د بدعت څو مره قسمونه دي او حسنه بدعت په کوم قسم کې داخل دی؟ او د حسنه بدعت مکمل تعریف هم بیان کړئ! جناب زه الله تعالی حاضر او ناظر ګڼلو سره دا خبره کول غواړم چې د دې فتوا په ذریعه باندې زه یوا ځې خپله او د خپلو دوستانو اصلاح کول غواړم. مهرباني وکړئ او د سوال ځواب ضرور را کړئ!

جواب: د بدعت دوه قسمونه دي: یو شرعي بدعت. دویم لغوي بدعت. شرعي بدعت دا دی چې داسې شی دین کې داخل کړل شي. چې هغه د کتاب ،سنت، د امت د اجماع او د مجتهد د قیاس نه هیڅ ثبوت نه لري، دا بدعت همیشه سیئه بدعت وي او دا د شریعت په مقابله کې بل شریعت جوړول دي.

دبدعت دويم قسم هغه شيان دي دکومو وجود چې دحضور ﷺ په زمانه کې نه وو[۱]. لکه دهر زماني ايجادات، دې کې ځينې شيان مباح دي. لکه دهوايي جهاز سفر کول او داسې نور... اوهغه کې چې کوم شيان دنورو مستحبو ذريعه وي هغه مستحب دي. کوم چې دواجب کارذريعه وي هغه به واجب وي. مثلاً: دصرف اونحو دعلم نه پرته کتاب اوسنت باندې پوهيدل ممکن نه دي. نو ددې علمونه زده کول به هم واجب وي

همدارنګه دکتابونوليکل اوديني مدرسو جوړول ددين دزده کولواوښودلوذريعه ده او ددين تعليم فرض عين يافرض کفايي ده. نوداشيان پخپله باندې مباح دي اوددين دتعليم د حاصلولو ذريعه ده. نودابه دضرورت مطابق ضروري وي. دې ته بدعت ويل دلغت اعتبار سره دي. که نه داسنت کې داخل دي. ددې تفصيل نه معلومه شوه چې د مدرسو جوړولو باندې دصلوة اوسلام بدعت قياس کول غلط دي.[۲]

دا بدعت نه دي

سوال: له کلونورا په دېخوا تبليغيان شب جمعه ته ځي اوکله هم رخصتي نه کوي. الله تعالی دې نه کړي داعمل خوبه دې حديث کې داخل نه وي چې "**لاتختصوالليلة الجمعة... الخ**" اودې باندې دوام خوبه بدعت نه وي؟

جواب: دتعليم اوتبليغ له پاره شپه ياورځ خاص کول بدعت نه دی اونه ددې التزام بدعت دی، ديني مدرسوکې دسبق له پاره وخت ټاکل شوی وي. دهغه پابندي التزام سره کيږي او

۱]وفی ردالمحتار: قَوْلُهُ أَيْ صَاحِبُ بِدْعَةٍ) أَيْ مُحَرَّمَةٍ ، وَإِلَّا فَقَدْ تَكُونُ وَاجِبَةً، كَنَصْبِ الْأَدِلَّةِ لِلرَّدِّ عَلَى أَهْلِ الْفِرَقِ الضَّالَّةِ ، وَتَعَلُّمِ النَّحْوِ الْمُفْهِمِ لِلْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَمَنْدُوبَةً كَإِحْدَاثِ نَحْوِ رِبَاطٍ وَمَدْرَسَةٍ وَكُلِّ إحْسَانٍ لَمْ يَكُنْ فِي الصَّدْرِ الْأَوَّلِ ، وَمَكْرُوهَةً كَزَخْرَفَةِ الْمَسَاجِدِ.وَمُبَاحَةً كَالتَّوَسُّعِ بِلَذِيذِ الْمَآكِلِ وَالْمَشَارِبِ وَالثِّيَابِ كَمَا فِي شَرْحِ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ لِلْمُنَاوِيِّ عَنْ تَهْذِيبِ النَّوَوِيِّ ، وَبِمِثْلِهِ فِي الطَّرِيقَةِ الْمُحَمَّدِيَّةِ لِلْبِرْكِلِيِّ (ردالمحتار، مطلب البدعة خمسة اقسام ج:۱،ص:۵۶۰)

۲] فکل من احدث شيئاً ونسبه الى الدين ولم يکن له اصل من الدين يرجع اليه،فهو ضلالة والدين برئ منه،وسواء فی ذلک مسائل الاعتقادات اوالاعمال اوالاقوال الظاهرة والباطنة، وأما ما وقع في كلام السَّلف مِن استحسان بعض البدع ، فإنَّما ذلك في البدع اللُّغوية . لا الشرعية(جامع العلوم والحکم لابن رجب الحنبلی ص:۲۳۳) البدعة کل شئ عمل علی غيرمثال سبق وفی الشرع: احداث مالم يکن فی عهد رسول الله صلی الله عليه وسلم وتحصل العبدالضعيف من کلمات شيوخنا وافادالهم ان الاصل فی البدعة الشرعية انما هو قول الرسول صلی الله عليه وسلم من احدث فی امرنا هذا ماليس منه فهو رد والمراد بالامر الدين کما صرحوا به فلا الا علی الامور المحدثة فی الدين لا علی کل امر محدث ولهذا يخرج امثال التوسع فی المطاعم وغيرها من الامور المباحة بل بعض الرسوم التی يفعل فاعلوها لا علی وجه التقرب والاحتساب ايضاً عن حدالبدعة الشرعية وان کانت داخلة فی حد البدعة اللغوية(فتح الملهم ج:۲،ص:۴۰۷ شبيراحمدعثمانی)

دې باندې کله هم چا بدعت شک نه دی کړی.[۱]

سوال: مایو د کتاب (تحذیر المسلمین عن الابتداع والبدع فی الدین) اردو ترجمه "بدعات اوران کاشرعی پورسټ مارټم.. (د علامه شیخ احمد بن حجر قاضي. دوحه قطر. لیکنه، وکتله، ډیر ګټور کتاب دی. د بدعاتو باره کې یې ډیرې ښې خبرې کړې دي. خو د کفن او جنازې سره د تګ د بدعتونو تر عنوان لاندې یې د خپل کتاب په صفحه نمبر ۵۰۲ باندې لیکلي دي چې قبر باندې د درې موټې خاورو اچولو خت کې هرموټې سره "منها خلقناکم" همدارنګه دویم سره **وفیها نعیدکم**" او دریم سره "**ومنها نخرجکم تارة اخری**" ویل بدعت دي. تاسو نه غوښتنه ده چې دې باره کې وضاحت وکړئ.

هم دې صفحې باندې لیکي: چې د مړي سرطرف ته سورت فاتحه او د پښو طرف ته سورت بقرة لوستل بدعت دي. د دې وضاحت هم وکړئ! د غه راز په صفحه نمبر ۵۲۱ باندې لیکي: چې ځینې خلک د صدقې په نیت باندې د قربانۍ ټوله غوښه پخه کړي یا ټاکل شوې اندازه غوښه پخه کړي او فقیران را وغواړي او هغوی باندې پخ شوې غوښه تقسیم کړي. دې ته یې هم بدعت ویلي دي او ویلي یې دي چې دا طریقه جائز نه ده. مهرباني وکړئ! د دې وضاحت هم وکړئ!

جواب: د دې دریو واړو شیانو بدعت کیدل زما په عقل کې نه راځي:

۱: حافظ ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کې د دغه ایت شریف نه لاندې دا حدیث نقل کړې دی.

وفی الحدیث الذی في السنن: أن رسول الله ﷺ حضر جنازة، فلما دفن المیت أخذ قبضة من التراب، فالقاها فی القبر وقال: منها خلقناکم، ثم أخذ أخری وقال: وفیها نعیدکم، ثم أخری وقال: ومنها نخرجکم تارة اخری. (تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۵٦)

ترجمه: او هغه حدیث چې په سننو کې دي هغه کې دي چې رسول الله ﷺ جنازې ته حاضر شو، کله چې مړی ښخ کړل شو، نو حضور ﷺ د خاورې نه موټی ډک کړ او هغه یې قبرته وغورځاو او ویې فرمایل: **،،منها خلقناکم،،** (هم دې خاورې نه موږ تاسو پیدا کړئ) بیا یې دویم ځل باندې موټی ډک کړ او قبر کې اچولو سره یې وفرمایل: **،،وفیها نعیدکم،،** (او هم دې ته به تاسو واپس کوو) او بیا یې دریم ځل باندې موټی ډک کړ او قبرته د اچولو وخت کې وفرمایل: **،،ومنها نخرجکم تارة أخری،،** (او له هم دې نه به موږ تاسو بیا راوباسو)

۱] وعن شقیق قال: کان عبدالله بن مسعود یذکر الناس فی کل خمیس. فقال له رجل: یا اباعبدالرحمن! لوددت انک ذکر تنالی کل یوم قال: اما انه یمنعنی من ذلک انی اکره ان املکم وانی اتخولکم بالموعظة کما کان رسول الله ص یتخولنا بها مخافة السآمة علینا متفق علیه (مشکوة ص: ۳۲ کتاب العلم، الفصل الاول

اوزمونږ فقهاء هم ددې داستحباب تصريح کړې ده. په ''الدرروالمنتقى شرح ملتقى الابحر''

کې ددې تصريح موجودده. (ج۱ ص۱۸۷)

۲: اودقبرسرته دسورت دبقرې پيل اوپښوطرف ته دسورت بقرې دپای لوستلو تصريح دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په حديث کې موجودده. چې دهغه باره کې بيهقي رحمه الله ويلي دي:

والصحيح أنه موقوف عليه. (مشكوة ص۱٤٩)

اواثارالسنن کې (۲: ۱۲۵) کې حضرت لجاج صحابي رضي الله عنه قول نقل شوی دی چې هغه خپل زوی ته وصيت کړی و:

"ثم سنّ عليّ التراب سنًا، ثم اقرأعند راسي بفاتحة البقرة وخاتمتها، فإني سمعت رسول الله ﷺ يقول ذالک، رواه الطبراني في المعجم الكبير، وإسناده صحيح، وقال الحافظ اليثمي في مجمع الزوائد: رجالة موثقون. (اعلاء السنن ج۸ ص۳٤۲ حديث ۲۳۱۷)

ترجمه: بيامابانديې خاروه واچوئ، بيازمادسرطرف ته (په ولاړه باندې) دسورة بقره لومړي اواخري ايتونه ولولئ، ځکه چې مادحضور ﷺ نه داسې ويل اوريدلی دي.

۳: دقربانۍ دغوښې تقسيمول خوحکم دی، که پخه شي او فقيرانوباندې وخوړل شي ،نودابدعت ولې شو. داخبره زما په پوهه کې نه راځي. والله اعلم.

پيري اومريدي په خپله مقصود نه دي

سوال: يوڅومياشتې مخکې زمادسوال په ځواب کې تاسوماته د"اختلاف امت اوصراط مستقيم". د مطالعه کولو فرمايلي و. ماذا کتاب ډيرغورسره ولوستاوډيرګټور مې ومونده. الحمدالله ددې لوستلو سره زماډيرمشکلات حل شول.خاص طور باندې يوې اصولی خبرې باندې پوه شوم اوزړه ته مې پريوتله. چې کله ديوکاردبدعت اوسنت کېدوباره کې شک پيداشي،يعنې ځينې عالمان ورته سنت وايي اوځينې ورته بدعت. نوسنت پريښودل دبدعت نه بهتردي، (صفحه ۱۲۵، ۱۲۲) داخبره بالکل صحيح اصولي اوداحتياط مطابق ده. ځکه چې بدکارپريښودل په هرحالت کې ضروري دي. اوس يوائې داخيال پيداکيږي چې داسې خبرې خوډيرزياتې دي په کوموکې چې دعالمانواختلاف دي. تردې چې مروجه کومه پيري اومريدي ده. کومه چې دنفس داصلاح له پاره ډيره ضروري ګڼل کيږي، دې ته هم ډيرعالمان خاص طورباندې دعربوعالمان بدعت وايي. بلکې دې ته پيرپرستي اوشرک پورې هم ويل کيږي . نوددې اصل په بنياد باندې داهرڅه پريښودل پکاردي، اميدلرم چې دې باره کې به تاسوڅه واضح خبره بيان وکړئ. ايادې پيري اومريدي باره کې قران کريم يادحضور ﷺ په حديثونوکې څه خاص ارشادموجوددی؟ ياڅلورووارواماmanوکې يوامام دا طريقه ددين په فرائضواوواجباتوکې شامله کړې ده؟

دویمه خبره خوښکاره ده چې دین کې څه نوې خبره کول کومه چې د قران او سنت او د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو د عمل نه ثابته نه وي، هغه بدعت ده. خو دا هم ویل کیږي که چېرې یوه نوې خبره یا طریقه د دیني مقصد د حاصلولو له پاره د تدبیر په طور باندې اختیار کړل شي. نو هغه بدعت نه ده، یعنې احداث فی الدین خو بدعت دي او احداث للدین بدعت نه دي. خو غور کولو نه وروسته معلومیږي چې زیاتر بدعتونه د (للدین) په وجه باندې شروع شوي دي او بیا عوامو هغو نه د دین برخه جوړه کړه. او عالماء کرامو ورته بدعت ویل شروع کړل. عام طور باندې چې کومه قران خواني کیږي. ید ... حواني. دریمه او داسې نور . دا خو مړه بدعتونه چې دي، ټولو ته د څه ناڅه ګټې نسبت کیدای شي: نو رکه هیڅ نه وي. نو دا خو ویل کیږي چې نن سبا د غفلت په دې دور کې خلکو ته کله ناکله د قران کریم د لوستلو موقع په لاس ورځي. په دې ډول خو د ټولو بدعتونو له پاره څه ناڅه جواز پیداکیږي. امید لرم چې تاسو به په واضحه توګه زما مشکل حل کړئ. د خپلو ټولو دنیاوي او دیني کارونو له پاره د دعا غوښتنه هم کوم.

جواب: ډیرښه پوښتنه ده. زړه مې پرې خوشحاله شو. د دې مختصر ځواب ستاسو د سوال په دویمه برخه کې موجود دی. لږشان تفصیل به یې درته بیان کړم:

پیري او مریدي پخپله مقصود نه دي. اصل مقصد دا دی چې ډیر مرضونه انسان پخپله باندې نه شي معلومولی او که چېرې معلوم یې هم کړي. نو بیا د هغو علاج نه شي کولي، مثلاً: ما کې کبر، یاعجب شته او که نه؟ او که چېرې شته. نو د دې علاج څنګه وکړم؟ نو د دې له پاره د یو محقق او په سنتو عمل کونکي شخص سره اصلاحي تعلق قائمول د همدې له پاره دي او بیعت چې په عامه اصطلاح پیري او مریدي بلل کیږي یوا ځې د اصلاح معاهده ده. د مرید له لوري د اصلاح غوښتنې او د شیخ له لوري د اصلاح کولو نوم دی. که یو کس د ټول عمر له پاره بیعت ونه کړي، خو خپله اصلاح وکړي، نو سمه ده او که چېرې بیعت وکړي او اصلاح ونه شي، نو ګټه یې نشته، غرض دا چې د بیعت نه مراد اصلاح ده او د اصلاح شرعي طور باندې واجب کېدل ښکاره دي او د واجب مقدمه هم واجب وي.

له دې پرته د نفس مثال د ماشوم په شان وي، څنګه چې سکول کې د ماشومانو په سر استاذ ولاړ وي، نو هغوی کارکوي او که چېرې استاذ هغوی ازاد پریږدي. نو کار نه کوي. که انسان یو محقق عالم سړی خپل شیخ جوړکړي، نو د هغه نفس به هم کارکوي او که چېرې هغه ازاد پریږدي، نو د کار په ځای باندې لهو لعب کې مبتلا شي.

له دې نه پرته دالله تعالی عادت دا دی چې انسان صحبت سره لوړې درجې ته رسوي، صحابه کرامو رضی الله عنهم ته چې کله د حضور ﷺ د صحبت شرف حاصل شو. نو هغوی له کوم مرتبې نه کومې ته ورسیدل! که چېرې په سنتو عمل کونکي شیخ سره تعلق وي. نو د هغه

دصحبت به خپل اثروي. له دې وجې دصوفياء كرامو په اصطلاح كې بيعت ته سلسله صحبت،، هم ويل كيږي. دعلم اوعمل سره دصحبت سلسله هم دحضور ﷺ له زماني نه راروانه ده، غرض داچې بيعت اوارشاد بدعت ګڼل صحيح نه دي، بلكې په دين باندې دپابند اوسيدو يوه ذريعه ده، والله اعلم.[1]

مروج ميلاد

سوال: زموږعلاقه كې دې خبرې باندې بحث دى چې رواج شوى ميلادولې ناجائزدى؟ سره له دې چې دې كې دحضور ﷺ مبارک ذكر كيږي. بياحضرت حاجي امدادالله مهاجر مكي رحمه الله په خپلې هفت روزه رساله كې دې ته جائزويلې دي اوډيوبندنوراكابرين دې ته د بدعاتو او مفاسدو په وجه باندې بدعت وايي. دې باره كې ما دحضرت مولانا محمد سرفرازخان صفدرصاحب طرف ته هم رجوع وكړه.خودهغه په ځواب باندې مې تسلى ونه شوه، تاسونه مې ددې مسئلې باره كې غوښتنه ده چې صحيح صورت حال څه دى؟

جواب: محترم اومكرم!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

ستاسو ليک راورسيد، دابنده ډيرزيات مصروف دى اوكومه موضوع باندې چې تاسو د ليكلو خواهش ښكاره كړى دى، دې باندې له ډيروخت را په دې خوا خبرې كيږي اوسنى فتنو پريښودوسره داسې پخوانيو مسئلوباندې خپل صلاحيتونه ختمولو نه ځان ساتل پكار دي، په دې وجه باندې ليكلوته مې طبيعت نه كيده. خاص طور باندې كله چې داوينم چې حضرت مخدوم مولانامحمدسرفرازخان صاحب مدظله العالى(چې دهغوى دعلم اوفضل او تقوا زكوة هم كه چيرې ماخطاكارته راكړل شي. نوډيرغټ غني به شم) دهغه په ليک باندې ستاسوتسلى نه ده شوې، نوددې خطاكارپه الفاظوبه ستاسو څه تسلي وشي؟

---

[1] عن عَوْفُ بْنُ مَالك الأَشْجَعِىُّ قَالَ كُنَّا عنْدَ رَسُول اللَّه صلى الله عليه وسلم تسْعَةً أَوْ ثمانيةً أَوْ سبْعة فقَال « أَلاَ تُبَايعُونَ رَسُولَ اللَّه » وَكُنَّا حَديث عَهْد ببَيْعَة فَقُلْنا قَدْ بَايَعْنَاكَ يا رَسُولَ اللَّه. ثُمَّ قَال « أَلا تُبَايعُونَ رسُول اللَّه ». فَقُلْنَا قَدْ بَايَعْنَاكَ يَا رَسُولَ اللَّه. ثمّ قال « أَلا تُبايعُون رسُول اللَّه ».قال فبسطْنا أَيْدينا وقُلْنا قدْ بايعناك يَا رَسُولَ الله فَعَلاَمَ نُبَايعُكَ قَال « على أَنْ تعْبدُوا اللَّه ولا تُشْرِكُوا به شيْئا والصَّلوات الْخمْسِ وتُطيعُوا الله وَأَسرَّ كَلمَةً خَفيَّةً وَلاَ تَسْأَلُوا النَّاس شيْئا ». فلقدْ رَأَيْتُ بَعْضَ أُولَئكَ النَّفر يَسْقُطُ سَوْطُ أَحَدهِمْ فَمَا يَسْأَلُ أَحَدًا يُنَاوِلُهُ إِيَّاهُ(صحيح مسلم ج:۱،ص:۳۳۴،جامع الاصول ج:۱،ص:۲۵۴، ۲۵۵) حضرت تهانوى رحمة الله عليه د دې حديث مبارک د نقل كولو نه وروسته فرمائى چې په حديث كښې د بيعت نه مراد نه خو د جهاد بيعت مراد دې او نه د اسلام بيعت بلكې د التزام او د اهتمام اعمال بيعت د دې نه مراد دې ورنه تحصيل د حاصل به لازم راشى (التكشف عن مهمات التصوف ص:۲۶۰، ۲۶۱)

خوستاسو خواهش نه پوره کول ډېر مشکل و. دمجبوري له وجې مې يوڅو الفاظ وليکل. که
ګټه درکړي، نو شکردی.ورنه کالائے بدبريش خاوند

دمسئلې دوضاحت له پاره يوخبرې يادساتئ

اول: دې کې خوهيڅ شک نشته اونه پکې داختلاف ګنجائش شته چې دحضورﷺ مبارک
ياد په اعلی کارونوکې يوکاردی اودې کې هم هيڅ شک نشته چې دميلاد په نوم باندې کوم
محفلونه جوړيږي. هغه کې ډيرې داسې خبرې ايجاد شوې دي کومې چې دشريعت له حدودو
نه بهردي. يعنې دا ميلادونه ددوو شيانو مجموعه دهٔ. يومستحب اومندوب. يعنې دنبي
کريمﷺ ياد اوبل دشريعت خلاف کارونه کوم چې دې سره يوځای شوي دي. چې له هغو
پرته ميلاد .ميلادنه ګڼل کيږي. هغه دميلادله پاره لازم ګڼل شوي دي.

دويم: کوم شی چې دخپل اصل په اعتبارباندې مباح يامندوب وي. خوعام طور باندې هغه
سره قبيح کارونه يوځای شوي وي. دهغه باره کې څه طريقه اختيارول پکاردی؟ دې کې
دذوق اختلاف يو فطري شی دی. دچانظرچې په نفس مندوب وي. دهغه ذوق به دافيصله
کوي چې دې کارونونه خوبې شکه ځان ساتل پکاردی. خونفس مندوب ولې پريښودل شي.
ددې په مقابله کې چې دچا نظر دعوامو په جذباتوباندې وي. دهغه فتوا به داوي چې خاص
خلک خوبه له دې نه ځان وساتي. خوعوام به ددې کارونونه منع کول ممکن نه وي. په دې
وجه باندې عوام ددې سيلاب نه بچ کولوله پاره هم داصورت دی چې ددوی مخکې بند وتړل
شي.دادواړه ذوقونه په خپل خپل ځای باندې صحيح دي اوددوی په مينځ کې حقيقي
اختلاف نشته. ځکه چې کوم خلک دجوازقايل دي هغه دنفس مندوب قايل دي، دشريعت
خلاف کارونوهغوی هم قايل نه دي اوکوم خلک چې دعدم جوازقايل دي. هغوی هم نفس
مندوب ته ناجائز نه وايي، خو دشريعت خلاف کارونو په وجه باندې ورته ناجائز وايي.

دريم: ددې ذوقي اختلاف پيداکيدو په وجه باندې دخلکو درې فرقې جوړې شوې.

يوه فرقه خو دبرزګانو دقول اوفعل سند دخپلو بدعتونو له پاره دجوازپه طورباندې
استعمالوي دويمه فرقه هغه برزګان مبتدع ګڼلوسره هغوی ته بدردوايي اوهغه ملامته کوي.
اودريمه فرقه دکتاب اوسنت اودامامانواومجتهدينوارشادات دسند په طور باندې حجت
ګڼي اودهغو بزرګانودقول اوفعل داسې توجيه وړاندې کوي، چې هغوی ته دبد رد ويلوڅه
ګنجائش پاتې نه شي اوکه يوه توجيه په پوه کې نه راځي. نوبياهم داګڼل چې بزرګان معصوم
نه دي هغوی ته بدرد ويل جائزنه ګڼي. لومړي دوه مسلکونه دافراط اوتفريط دي اودريم
مسلک داعتدلال والاوودی.

له دې امورو نه وروسته دحضرت حاجی صاحب نورالله مرقده له کارنه داهل بدعت استدلال
غلط دی. ځکه چې زمونږخبرې د"ميلاد . په هغو دريوطريقوباندې دي کومې چې شپه ورځ
په خپلوسترګوباندې وينو. داسې ميلادته خوحضرت حاجی صاحبؒ هم جائزنه وايي.

اوکوم میلاد ته چې حضرت حاجی صاحب رحمه الله جائزوایي.هغه اهل بدعت نه کوي. ددې مثال بالکل داسې دی چې مرزاغلام احمدقادیانی وایي چې "مسیح موعود.. راتلل مسلمانان له مخکې نه مني اوزه مسیح موعودیم. دقران اوحدیث ټولې وړاندوینې (پشنهادونه) ټول زماپه حق کې دي.که چېرې مرزاقادیاني، دقران اوحدیث والا مسیح موعود نه دی اودهغه له لوري دقران اوحدیث په خپل ځان باندې تطبیقول غلط وي. نو بالکل همداسې داهل بدعت والاوو میلادهم دحضرت حاجی صاحب رحمه الله میلادنه دی. په دې وجه باندې دحضرت قول اوفعل دخپل "میلاد . له پاره دلیل جوړول یوازې مغالطه ده.

په هرحال صحیح اواستدلال والا مسلک هغه دی.کوم چې د دیوبند اکابرینو خپل کړی دی. چې موږ نه دې میلادته صحیح وایو اونه هغو اکابرینوته بدعتیان وایو.داخودمسئلې مختصر شان وضاحت و.ستاسو باره کې زماداخلاص نصیحت دادی چې خپل صلاحیتونه ددین په لوړ والي اوخپلې اصلاح کې استعمال کړئ.چې موږ اخرت کې دالله تعالی په دربار کې کامیاب شو اوبښنې دورکې دحق جذبه ډیره کمه پاتې شوې ده، کوم کس چې په ذهن کې څه غلطه خبره کینوله، که په زرګونو دلیلونو سره هغه پوه کړل شي هغه به یې پرېښودوته تیارنه شي، بس انسان ته د الله تعالی شکر ادا کول پکاردي چې یوځل دحق وضاحت کولونه وروسته خپل کارکوي.که څوک یې مني اوکه نه؟ ددې فکرکول نه دي پکار.

حافظ وظیفه تودعاگفتن است وبس   دربند آن مباش که نه شنید یا شنید

د پیدائش یا وفات جشن

سوال: عام طورباندې دحضور صلی الله علیه وسلم دپیدائش ورځ ډیرالتزام او انتظام سره لمانځل کیږي. ددې شرعي حیثیت څه دی؟ اودا دپیدائش جشن دې که دوفات ؟

جواب: عام طورباندې په ۱۲ ربیع الاول باندې دسیرت النبي صلی الله علیه وسلم د جلوسونولمانځنه کیږی اوجشن عیدمیلادالنبي صلی الله علیه وسلم هم ډیراهتمام سره لمانځل کیږي.چراغونه رڼاکیږي اوجنډې لګول کیږي، جلسې وي.جلوسونه راوځي.داټول کارونه حضور صلی الله علیه وسلم سره دمحبت حق ګڼلوپه وجه باندې کیږي. دې باره کې فکر لرونکو ته دې خبرې باندې غورکول پکاردي چې دحضور صلی الله علیه وسلم په پیدائش کې مشهورقول ۱۲ ربیع الاول دی[1].خود محققینوپه نزد

---

[1] والمشهور انه صلی الله علیه وسلم ولد یوم الاثنین ثانی عشر ربیع الاول وهو القول الثالث فی الکلام المصنف وهو قول محمد بن اسحاق بن یسار وامام المغازی وقول غیره قال ابن کثیر وهو المشهور عندالجمهور وبالغ ابن الجوزی وابن الجزار فنقلا فیه الاجماع وهوالذی علیه العمل(المواهب اللدنیة ج:۱،ص:۱۳۲ طبع دارالمعرفة ،بیروت)

باندې صحیح قول دادی چې حضور ﷺ په ۸ ربیع الاول باندې پیداشوی دی[۱] او د حضور ﷺ وفات د صحیح او مشهور قول مطابق په ۱۲ ربیع الاول باندې شوی دی[۲]. د ربیع الاول میاشت او دولسم تاریخ نه یواځې د حضور ﷺ د پیدائش ورځ ده. بلکې د حضور ﷺ د وفات ورځ هم ده. کوم خلک چې دې تاریخ باندې جشن لمانځي. هغوی نه سل ځله سوچ کول پکاردي چې ایا هغوی خو به د خپل محبوب ﷺ په وفات باندې جشن نه لمانځي؟ مسلمان ډیرساده قوم دی. د دین د دشمنانو په ښائسته عنوانا تو باندې غ ستان شي. د صفر په اخري چارشنبه باندې د حضور ﷺ د وفات مرض شروع شو[۳]. دښمنان دې باندې خوشحاله شول او دې خوشحالۍ کې یې متیاېاني تقسیمول شروع کړل. دلته یې د مسلمانانو په غوږونو کې داخبره واچوله چې دې ورځ باندې سرور کون ومکان ﷺ د صحت غسل کړی و او حضور ﷺ د سیل او تفریح له پاره وتلی و. ناخبره مسلمانانو د دښمن داخبره د قران حرف وګڼله او قبوله یې کړه او په هغه ورځ باندې یې کورپه کور باندې متیاېاني تقسیم کړې. همدارنګه یې د مرض ورځ د صحت په ورځې باندې مشهوره کړه او په همدې ورځ د رسول الله ﷺ دښمنانو د رسول الله ﷺ د امتیانو په مټ متیاېاني تقسیم کړې. همدارنګه یې د حضور ﷺ د وفات ورځ د "یوم میلاد" په نوم باندې مشهور کړه او دې ورځ باندې یې مسلمانان په جشن لمانځلو باندې وګمارل، شیطان به دې قوم نه څومره خوشحاله وي کوم چې د حضور ﷺ د مرض په ورځ باندې متیاېاني تقسیموي او د حضور ﷺ د وفات په ورځ باندې جشن لمانځي، ایا د دنیا یو غیرتي قوم به داسې وي چې د خپل مقتدا او مشر د وفات

۱] وقیل لثمان خلت منه قال الشیخ قطب الدین القسطلانی وهو اختیار اکثر اهل الحدیث ونقل عن ابن وجبیر بن مطعم وهو اختیار اکثر من له معرفة بهذا الشان یعنی التاریخ واختاره الحمیدی وشیخه بن حزم وحکی القضاعی فی عیون المعارف اجماع اهل الزیج علیه ورواه الزهری عن محمد بن جبیربن مطعم وکان محمد عارفاً بالنسب وایام العرب اخذ ذلک عن ابیه جبیر(المواهب اللدنیة مع شرحه ج:۱،ص:۱۳۱، ۱۳۲ طبع دارالمعرفة بیروت)

۲] وکانت وفاته یوم الاثنین بلاخلاف من ربیع الاول وکاد یکون اجماعاً...... ثم عنداسحاق والجمهور انها فی الثانی عشرمنه (فتح الباری،باب مرض النبی صلی الله علیه وسلم ووفاته ج:۸،ص:۱۲۹) فتوفی علیه السلام حین زاغت الشمس وذلک عندالزوال.......ثم الذی عندابن اسحاق والجمهور........انه مات لاثنتی عشرة لیلة خلت من شهر ربیع الاول.....ثم انه وفاته علیه السلام فی الیوم الاثنین(المواهب اللدنیة مع شرحه ج:۳،ص:۱۱۰، ۱۱۱ طبع دارالمعرفة،بیروت)

۳] فصل فی حوادث السنة الحادیة عشرة من الهجرة ..... وفیها مرض رسول الله صلی الله علیه وسلم فی آخر الاربعاء من صفر، وکان ذلک الیوم ثلثین من شهر صفر المذکور ..... (بذل القوة فی حوادث سنی النبوة ص:۲۹۶ طبع جامعة السند حیدرآباد پاکستان،ایضاً البدایة والنهایة ج:۳،ص:۱۹۷،تاریخ طبری ج:۳،ص:۱۸٤، تاریخ ابن کثیر ج:۲ص:۱۲۱)

په ورځ باندې جشن کوي؟ نو سوال دادی چې مسلمانان (۱۲ وفات) باندې دا جشن دچاپه اشاره باندې لمانځي؟ ایاالله تعالی هغوی ته ددې حکم کړی دی؟ ایارسول الله ﷺ دنیا نه رخصت کیدو وخت کې فرمایلي و چې زما دوفات په ورځ باندې به جشن کوئ؟ ایاخلفاء راشدینو.صحابه کرامو رضی الله عنهم.تابیعنو رحمہم الله. امامانو او مجتهدینو کې چادې ورځ باندې جشن لمانځلی دی؟ ایادحدیث اوفقهې په یو کتاب کې ذکرشوي دي چې د(۱۲ وفات) ورځ په اسلام کې داخترحیثیت لري؟ اوداچې دې ورځ باندې مسلمانانو ته سرکاري رخصتي کول پکاردیااوداخترجشن کول پکاردي؟

د(جشن عید) لمانځل درافضیانو په نزدباندې دمحرم دماتم تقلید دی اودچا کلیزه (که هغه دپیدائش وي که دوفات)لمانځل دعقل خلاف دي.حضرت شاه عبدالعزیزصاحب رحمه الله په تحفه اثناعشریه کې لیکي (دفارسی عبارت پښتو ترجمه داده):

ترجمه. پنځلسمه نوع نوي نوي مثالوسره یوشی پیژندل اوداوهم کول په ضعیف العقول باندې غالب وي.تردې پورې چې ددریاب اوبه اوشعله اوډیوه اودفوارې اوبه اکثرخلک یواور اواوبه ګڼي،اکثرشیعه ګان دې خیالونو په عادتونوکې ډوب کړي دي.مثلاً: هرکال لسم محرم وي.هرکال دامام حسین رضی الله عنه دشهادت ګمان کوي اودماتم حکمونه ژړافریاد او داسې نور... کوي.دښځوپه شان هرکال په خپلو مړوباندې داعمل کوي.سره له دې چې عقل لرونکوته پته ده چې دهر کال زمانه (غیر قرارده). یعني په خپل ځای باندې دریدونکې نه ده.یوجز هم ددې ثابت اوقائم نه دی اودهغې زمان بېرته راتلل هم ممکن نه دي اود حضرت امام رضی الله عنه شهادت چې په کومه ورځ باندې شوی دی،دهغې ورځې دنن ورځې سره فاصله یوولس نیم سوه کاله ده، دا اوهغه ورځ څنګه یوه کیدای شي اوڅه مناسبت یې دی؟

وړوکی اولوی اخترډې باندې قیاس کول نه دي پکار. ځکه چې دې کې خوشحالي هرکال نوې ده.یعني درمضان روژې نیول اودکعبې حج اداکول چې **شکرالنعمة المتجددة**(یعني دنوي نوي نعمت شکردی) هرکال نوی سرورپیداکیږي.په دې وجه باندې اخترونه دشریعت په دې فاسد وهم باندې مقررنه دي.بلکې اکثرعاقلانو نوروز او مهرجان اوداسې نور... دنوو خبرو او اسماني تغیر ګڼلوسره اختر اختیارکړی دی چې هرکال یونوی شی پیداکیږي.هغه باندې نوي نوي حکمونه جاری کیږي اوعلی هذالقیاس د بابا شجاع الدین او دغدیرجشن لمانځل اوداسې نورو... ټولو بنیاد په فاسد وهم باندې دی اوددې موقعې نه معلومه شوه چې په کومه ورځ باندې داایت نازل شو ((**الیوم اکملت لکم دینکم**)) اوپه کومه ورځ چې وحې نازله شوه اودمعراج شپه.دغه ورځې په شریعت کې داختر شپې ولې ونه ګڼل شوې اووړوکی اوغټ اختر ورته ولې ونه ویل شو.هغه ورځې خوهم دخوشحالي وې.همدارنګه یې دیونبي دپیدائش اوفات ورځ اختر ونه ګرځوله اودعاشورا دورځې

لومړی کال دیهودیانوسره دیوشان والي په وجه باندې حضور ﷺ ولې منسوخ کړ؟ دې ټولوخبروکې هم داراز دی چې دوهم دخل نه دی پکاراوله یونوي نعمت پرته دفرحت اوسرورکول یاغم اوماتم کول دهغه عقل خلاف دي کوم چې دوهم نه صفاوی،ترجمه تحفه اثناعشریه ص ۷۲۲)

له دې پرته په داسې جشنونوکې وخت خرابیږي.په زرګونو روپۍ ضائع کیږي.لمونځ قضا کیږي.ځان ښوونه پکې وي.سړي او ښځې یوبل ته مخامخ کیږي.بې پردګي پکې وي.لږ غور وکړئ:ایا ددې ټولوخبرو دحضور ﷺ ژوند یا کردارسره څه تعلق شته؟ اودحضور ﷺ په مقدس نوم باندې داټول شیان کول څومره غټ ظلم دی؟

دحضور ﷺ پیدائش اودحضور ﷺ ټول وجودرحمت دی. (دالله تعالی نوررحمتونه چې موږته یې دحضور ﷺ په امت کې دپیداکیدوعزت رانصیب کړی،اللهم فلک الحمدولک الشکر) خودې نعمت نه ګټه اخستونکي هماغه خوش قسمته دي.کوموته چې دحضور ﷺ په سنت اوسیرت اودحضور ﷺ دمقدسو اخلاقو خپلولو توفیق ورکړل شي.چې هم دادحضور ﷺ دنیاته دراتګ مقصددی.

دحضور ﷺ اخلاق دهرامتی له پاره دنور میناردی اوددین او دنیا کامیابي. دحضور ﷺ دتعلیماتو،دحضور ﷺ اخلاقو اوعادتونو اودحضور ﷺ دحکمونو اوارشاداتو په منلوکې ده اودهغو ضرورت یواځې دلمونځونو،روژواونورو عباداتو پورې محدودنه دی.بلکې په عقیدو،عبادتونو،معاملو، معاشرت،اخلاقو،عادتونو،شکل، صورت اولنډه داچې دژوندپه هره شعبه کې موجود دی.

دمسلمان امت له پاره دحضور ﷺ دژونددطریقو خپلول دډیرو وجو باندې ضروري دي

اول: الله تعالی باربار دحضور ﷺ داطاعت،فرمانبرداري اود حضور ﷺ په طریقوباندې دعمل کولوحکم کړی دی. بلکې خپل اطاعت اوبندګي یې دحضور ﷺ اطاعت اواتباع سره تړلې ده. دالله تعالی ارشاد دی: ,,ومن یطع الرسول فقداطاع الله.(النساء ۸۰)

دویم: موږ دلااله الاالله محمدرسول الله وعدې کولوسره په حضور ﷺ باندې ایمان راوړی دی اوزموږ ددې ایمانی عهد دا غوښتنه ده چې موږ دحضور ﷺ په بود بود فیصله باندې دزړه له تله راضي شو،د حضور ﷺ دهریوحکم تعمیل وکړواودحضور ﷺ یویوسنت خپل کړو،دالله تعالی ارشاد دی:

﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ ﴾(سورة النساء: ۶۵)

دریم: حضور ﷺ د هر یو امتي له پاره محبوب دی او دا محبت د ایمان شرط دی. د حضور ﷺ ارشاد دی: "والذي نفسي بيده، لايؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه من والده وولده والناس اجمعين. (صحيح بخاري، كتاب الايمان، باب حب الرسول ﷺ من الايمان)

او د محبت دا خاصیت دی چې یو ربښتونی محبت کونکي د خپل محبوب په هر یوه ادا باندې ځان وژني او هغه ته د محبوب ټولې اداګانې خوښې وي. که چېرې داسې نه وي، نو د محبت دعوه به یوائې د خولې خبره وي. زمونږ د ایماني محبت هم دا غوښتنه ده چې مونږ د حضور ﷺ د اخلاقو په قالب کې ځان واچوو. د حضور ﷺ په یوې یوې ادا باندې ځان قربان کړو او د حضور ﷺ یو یو سنت ژوندی وساتو او دې نه پرته مونږ ته د الله تعالی د دربار نه د حضور ﷺ سره د محبت سند نه راکول کیږي.

څلورم: د حضور ﷺ ذات د انسان د کمال معراج دی او د حضور ﷺ ټولې اداګانې، ټول سنتونه او د حضور ﷺ ژوند د کمال تر حده پورې پاک او ښائسته دی. کوم یو کس چې د حضور ﷺ څومره پیروي کوي، هغومره به ورته د حضور ﷺ اقتدا او اتباع نصیب شي او هغومره به د انسانیت معراج ته رسیږي او څومره چې هغه د نبي کریم ﷺ له ژوند سره بغض کوي هغومره به هغه د انسانیت د معراج نه ښکته وي. د حضور ﷺ ذات د کامل انسان له پاره د نمونې او معیار حیثیت لري. نه یوائې ایمان لرونکو ته بلکې ټول انسانیت ته د انسانیت معراج ته رسیدو له پاره د هغه پوره انسان یعنې حضور ﷺ په نقش قدم باندې تلل ضروري دي. والله اعلم

دا په دې امت باندې د الله تعالی ډیر لوی احسان دی چې د الله تعالی د محبوب حضرت محمد ﷺ د ژوند ټول ریکارډ د امت مخکې داسې موجود دی. لکه چې حضور ﷺ پخپله باندې ګرځي. کیسې، پورته کیږي او ویده کیږي زمونږ په وړاندې. د حضور ﷺ د پاکیزه شمائلو او مستندو حدیثونو ذخیره موجود ده او په هر دور کې د امت اکابرین او محدثین (رحمهم الله) دا په خپل خپل انداز کې چاپ کوي. چې دا امت د ژوند په هره شعبه کې د حضور ﷺ د ارشاداتو او هدایاتو نه خبر شي. د حضور ﷺ قولونه او کارونه د خپل ژوند مقصد وګرځوي او د حضور ﷺ د اخلاقو په قالب کې د خپل ژوند ټولې شعبې واچوي.

او سني دور کې د حضور ﷺ د سنتونه بې پروایي کول ډیر زیات شوي دي او مسلمانانو د خپل دین د تعلیماتو او خپل مقدس نبي حضرت محمد ﷺ د اخلاقو او کردار پرېښودو سره د نورو خلکو طریقې خپلول شروع کړي دي. د دې خبرې ډیر زیات ضرورت دی چې مسلمانان دیوځوو رځو د جشن لمانځلو په ځای د هغه ورک شوي مال او دولت طرف ته راپلل پکار دي او هغوی ته باید د اسلامي تعلیماتو او د حضور ﷺ د سنتو دعوت ورکړل شي، ځکه چې د مسلمان دنیاوي او دیني هر قسمه ګټه یوائې د سنتو په اتباع کې ده.

ماتمي جلوس

سوال: د ماتمي جلوس په شریعت کې څه حیثیت دی؟ کله او څنګه ایجاد شو؟ او او سنیو واقعاتو کې د اهل سنت عالمانو څنګه تجویز وړاندې کړی دی؟

جواب: د محرم د ماتمي جلوسونو بدعت په څلورمه پېړۍ کې د معزالدولة دیلمي له لوري ایجاد شوی دی، د شیعه ګانو مستند کتاب (منتهی الآمال ج ۱ ص ۴۵۳) کې دي:
د فارسی عبارت ترجمه: ټولو تاریخ دانانو نقل کړي دي چې په ۳۵۲هـ کې د عاشورا په ورځ معزالدولة دیلمي د بغداد اوسیدونکو ته په حضرت امام حسین رضی الله عنه باندې د ژړا کولو، د مخ وهلو او ماتم کولو حکم وکړاو داچې ښځې د سرونو وېښته خلاص کړي، مخونه تورکړي او بهرته راووځي. بازارونه بند شي. په دوکانونو باندې ټاټونه ولګول شي او اشپز دې ډوډۍ نه پخوي. شیعه ګانو ښځو دا سې جلوس وویسته چې د دیګونو په تور والي باندې یې مخونه تورکړي وو او ځانونه یې وهل. د ډېروخت پورې دا رواج وا و اهل سنت دا بدعت نه شو منع کولی، ځکه چې باد شاه د شیعه ګانو له طرف نه و.
حافظ ابن کثیر رحمه الله په البدایه والنهایه کې د ۳۵۲هـ لاندې هم دا واقعه دا سې نقل کړې ده:

في عاشر المحرم من هذه السنة أمر معزالدولة بن بويه، قبحه الله، أن تغلق الأسواق، وأن يلبس النساء المسوح من الشعر، وأن يخرجن في الأسواق حاسرات عن وجوههن ناشرات شعورهن يلطمن وجوههن ينحن على الحسين علي بن ابي طالب، ولم يكن أهل السنة منع ذلك لكثرة الشيعة وظهورهم وكون السلطان معهم. (البدايه والنهايه ج١١ ص٢٤٣)

ترجمه: د دې کال (۳۵۲هـ) د محرم په لسم تاریخ باندې معزالدوله بن بویه دیلمي حکم وکړ چې بازار بند وساتئ، ښځې دې د وېښتونو جوړشوي کالي واغوندي او بربنډ سرونه. ښکاره مخونه، خلاص وېښته اومخونو وهلوسره دې حضرت حسین رضی الله عنه باندې ژړا وکړي اوبازارونو ته راووځي، داهل سنت له پاره د دې منع کول ممکن نه و. د شیعه ګانو د غلبې او زیات والی په وجه باندې او په دې وجه باندې چې باد شاه له هغوی سره و.
د دې نه معلومېږي چې د څلورمې پېړۍ ترمینځ پورې امت د دې جلوسونو نه بالکل خبر نه وو، دې وخت کې یوسني امام خو پرېږده یو شیعه مقتدي هم دا بدعت نه شو زغملی. ښکاره خبره ده که چېرې دې ماتمي جلوسونو کې که معمولی خیر هم وی، نود خیرالقرون حضرات به له دې نه محروم نه وای، د حافظ ابن کثیر رحمه الله د قول مطابق:

وهذا تكلف لاحاجة اليه في الإسلام، ولوكان هذا أمراً محموداً لفعله خير القرون وصدر هذاه الأمة وخيرتها، وهم أولى به ولوكان خيراً ماسبقونا إليه وأهل السنة يقتدون ولايبتدعون.

(البدايه والنهايه ج١١ص ٢٥٤)

ترجمه. او دا يو داسې تکليف دی چې په اسلام کې هيڅ حاجت ورته نشته، که چېرې دا کار د تعريف قابل وای. نو د خيرالقرون او اولې زمانې حضرات چې د دوروستي امت نه بهتر او افضل وو. هغوی به دا ضرور کولو. خکه چې هغوی د خير او صلاح زيات مستحق وو. که چېرې دا د خير خبره وای. نو هغوی به ضرور مخکې وو او اهل سنت به د سلف صالحينو اقتدا کوله. د هغوی د طريقې خلاف نوې بدعتونه نه جوړول.

غرض دا چې کله يو خود غرضه بادشاه دا بدعت د حکومت او اقتدار د زور په وجه باندې شروع کړو او شيعه ګانو دا ايمان يوه برخه وګرځوله. نو ددې څه نتيجه شوه؟ راتلونکې کال دا ماتمي جلوسونه د شيعه ګانو او سنيانو د فسادونو ځای جوړ شو او د حسين رضي الله عنه قاتلانو هر کال د ماتمي جلوسونو په شکل کې د کربلا معرکې شروع کړې. حافظ ابن کثير رحمه الله د ۳۵۳هـ په حالاتو کې ليکي:

ثم دخلت سنة ثلاث وخمسين وثلاث مائة، في عاشر المحرم، منها: عملت الرافضة عزا الحسين كماتقدم فى السنة الماضية. فاقتتل الروافض وأهل السنة فى هذا اليوم قتالاشديداً وانتهبت الأموال. (البدايه والنهايه ج١١ ص ٢٥٣)

ترجمه: بيا ۳۵۳ هـ کال شروع شو. رافضيانو په لسم محرم باندې د تېر کال په څېر ماتمي جلوس وکړ. دې کال د رافضيانو او اهل سنت په مېنځ کې سخت جنګ وشو او مالونه لوټ کړای شول.

فتنه او فساد د جلوسونو سره لازم دي. په دې وجه باندې زياتره اسلامي ملکونو کې ددې بدعت هيڅ وجود نشته. تردې چې پخپله شيعه ايران کې هم ددې بدعت دا رنګ نه دی کوم چې زموږ ملک کې دې جلوسونو اختيار کړی دی اوس اوس دا ايران د صدر بيان په اخبارونو کې چاپ شوی دی، هغه کې ويل شوي دي:

علم او تعزيه غيراسلامي دي. د عاشورا رواجونه غلط دي. دا ايران د صدر خامنيي تنقيد (تهران خصوصي رپورټ)

دا ايران صدر خامنه ای ويلي دي چې د عاشورا په ورځ باندې د امام حسين رضي الله عنه د ياد تازه کولو له پاره رائجې طريقې بالکل غلطې او غيراسلامي دي. د اسلام اباد د انګريزي اخبار د (مسلم) د رپورټ مطابق د ايران صدر د جمعې د لمونځ اجتماع ته په خطاب کولو کې وويل: چې دا طريقه يوازې د ځان ښودنې مطابق ده او د اسلامي اصولو خلاف ده. فضول خرچي او اسراف موږ د حضرت امام حسين رضي الله عنه له لارې ليرې کوي. هغوی د علم او تعزيې مخالفت کې وويل چې دا د محراب او ګنبد په شکل کې هم وي. د ياد تازه کولو اسلامي شکل نه دی. په دې ټولو نمائشي شيانو باندې پيسې خرچ کول حرام دي او د عاشورا د مقصد خلاف دي. خکه چې د عاشورا ورځ د تفريح ورځ نه ده. د امام خميني د فتوا په حوالې ورکولو سره صدر خامنه ای

وويل چې دمذهبي مجلسونو په دوران کې لاوډسپيکر ډير لوړ اوازسره استعمالول نه دي پکاراودعزاداري په ځای کې هم ګاونډيانوته تکليف رسول نه دي پکار.خلک په ماتم کولوباندې مجبورول نه دي پکار اونه داړواج دخلکوله پاره دتکليف ذريعه جوړول پکاردي (روزنامه جنگ کراچی پير۹محرم ۱۴۰۵ھ ۱۵اکتوبر۱۹۸۴ء)

په هندوستان اوپاکستان کې داجلوسونه دانګريزانوپه زمانه کې هم وتل اواسلامي جمهوريه پاکستان کې هم ددې سلسله شروع ده.اهل سنت اکثردلوی زړه نه کاراخستل شوی دی او ماحول دښه ساتلوکوشش شوی دی.خوددې ټولو کوششونو سره سره دابدعت دفتنې اوفسادنه خالي نه دی. دانګريزانوپه دور کې خوددې جلوسونواجازه ورکول خوعقل مني،ځکه چې (جنګ جوړ کړئ اوحکومت وکړئ) دانګريزانودسياست اهمه خبره وه،خوداخبره په عقل کې نه راځي چې دپاکستان جوړيدو نه وروسته دافتنې او فساد بنيادولې جاری وساتل شوچې ددې په وجه باندې هرکال قيمتي خلک مړه کيږي اودملک په دوه طبقوکې داختلاف او نفرت ذريعه جوړيږي؟ په ښکاره باندې ددې بدعت دجاری ساتلو يوځو وجوهات کيدای شي:

يوداچې زموږمشرانودې ماتمي جلوسونو ښايست او قباحت ته په اسلامي نظرنه دي کتلي اونه يې هغو معاشرتي نقصانونو اوخطرونو ته کتلي دي چې ددې ماتمي جلوسونوپه وجه باندې رامنځ ته شوي دي.هغه نظام چې دانګريزانو له زمانې نه شروع و،دوی هماغه شان جاري وساته اودې کې تبديلي راوستل يې دحکومت دشان خلاف وګڼل.دمحرم په عاشورا کې چې کوم قتلونه ،فتنې اوفسادونه کيږي.هغه دهغوی په خيال کې څه معمولي خبره نه ده،چې دهغو په وجه باندې پريشانه شي.ياهغه دغورکولوقابل وګڼل شي.

دويمه وجه يې داده چې داهل سنت دطرف نه هميشه دحوصلې او بردباري مظاهره شوې ده اوپه دې شر پيدا کونکو ماتمي جلوسونوباندې دپابندي مطالبه نه ده شوې او زموږ دمشرانومزاج داسې دی چې ترڅوپورې دمطالبې تحريک ونه شي. هغوی يوې مسئلې باندې غور نه کوي.

دکراچۍ محترم صدر راغی اومختلفوطبقو سره يې ملاقات وکړ.له ټولونه مخکې شيعه ګانوته دملاقات شرف حاصل شو.اخرکې مولانابنوري.مولانامفتي ولی حسن اومفتي محمد رفيع عثماني صاحب نمبرراغی. مولانامفتي محمدرفيع عثماني په ډيره سنجيدګۍ اواوښايسته اندازکې صورت حال وړاندې کړ.خو د اهل سنت ويروته هيڅ ارزښت ورنه کړل شو،اهل سنت دحق لپاره دامطالبه وکړه چې:

۱. ماتمي جلوسونو باندې پابندي لګول پکاردي.

۲. کومو شرخوښونکو چې قومي اوانفرادي مالونوته نقصان ورساوو. هغوی ته دغلااوډاکې سزاورکول پکاردي.

۳، د اهل سنت کوم مال ته چې نقصان رسول شوی وي،دهغو دې ورته پوره معاوضه ورکړل شي. ۴، داهل سنت کوم عالمان چې دبې ګناهۍ په جرم کې نظربند شوي دي،هغوی دې ازاد کړل شي.

د مرګ خبر ورکول

سوال: یوڅو احادیث ستاسو په خدمت کې وړاندې کوم،چې په لاندې ډول دي. ددې مفهوم ولیکئ! ستاسو به ډیره مهرباني وي.

۱: عن عبدالله عن النبي ﷺ قال: إيا كم والنعي فإن النعى من عمل جاهلية. (ترمذی)

۲: عن حذيفة قال: إذا مت فلاتؤذنوا بی أحدا فإني أخاف أن يكون نعياً وإني سمعت رسول الله ﷺ ينهى عن النعى. (ترمذي)

جناب مولاناصاحب! داخواحادیث دي اوزموږ په علاقه کې دا رسم اورواج دی چې کله څوک(که غریب وي اوکه مالدار) مړشي، نو دجومات په لاؤډسپیکرباندې اعلان وکړل شي چې فلانی دفلاني زوی وفات شوی دی،دجنازې لمونځ به یې درې بجې وي، چې جنازه واخیستل شي، جنازګاه ته لاړشئ. نوایاداسې اعلان کول جائزدي اوکه دحدیثونوخلاف دي؟ که چېرې خلاف اوناجائزوي، نوانشاء الله داسې اعلانونه به بیانه کوو، دلیل سره ځواب راکړئ. اوداموهم اوریدلي دي چې دجومات په منځ کې اذان کول مکروه دي؟

جواب: دعامو عالمانو په نزدباندې دمړي اطلاع کول جائز،بلکې سنت دي،په حدیثونوکې دهغې نعې منع شوې ده. کوم به چې دجاهلیت په زمانه کې وو،چې دمړي مفاخر بیانولو سره به دهغه دمرګ اعلان کیده.

د مرګ اعلان څنګه سنت دی؟

سوال: ستاسو فتوا لوستلوسره مې تسلي ونه شوه. نن سبازموږ محله کې دې مسئلې باندې ډیر زیات بحث دی، په دې وجه باندې فوټوسټیټ کولوسره یې تاسوته بیادرلیږم، چې تفصیلي اودلیل سره ځواب راکړئ، دمرګ اطلاع کول موسنت لیکلي دي. نومهرباني وکړئ، ددې دلیل هم ولیکئ!

سوال: ۱: دجاهلیت په زمانه کې چې داعلان کولوکوم رواج و،نو هغوی به په کومو الفاظو کې اعلان کاوو؟

سوال: ۲: جومات کې دننه اذان کول څنګه دي؟ ددې ځواب کیدای شي تاسونه هیرشوی و مهربانی وکړئ ددې ځواب زرترزره راکړئ،چې پریشانی موختمه شي، ډیره ډیره مهرباني.

جواب: ۱: فی الحديث أن النبي ﷺ نعى للناس النجاشي، أخرجه الجماعة.

ترجمه: حديث كې ديچې حضور ﷺ دنجاشي بادشاه دمرګ اعلان کړی و.

۲: وفي فتح الباری(۳، ۱۱۷): فإن ابن العربي، يؤخذمن مجموع الأحاديث ثلاث حالات: الأولى أعلام الاهل ,والاصحاب, وأهل الصلاح فهذاسنة. الثانية دعوة الحفل للمفاخرة فهذه تكره. الثالثة: الإعلام بنوع آخركالنياعة ونحوذالک فهذاحرام، وقدنقله الشيخ فى الأوجز.(۱، ۴۴۳) عن الفتح) ترجمه: فتح البارى كې دي چې ابن عربي رحمه الله فرمايي چې دمرګ د اعلان كولودرې حالتونه دي:

۱: خپلو خپلوانو ،دوستانو او نيكو خلكوته خبر وركول. داسنت دي.

۲: فخراوستاينې له پاره ډيروخلكو راجمع كولو له پاره اعلان كول. دامكروه دي.

۳: دخلكو دژړاكولوله پاره اطلاع وركول اوراغونښتل. داحرام دي.

۳: وفى العلائية: ولابأس بنقله قبل دفنه وبالإعلام بموته...الخ.

وفى الشامية: قوله وبالإعلام بموته أى :إعلام بعضهم بعضاً، ليقضواحقه، هداية: وكره بعضهم أن ينادي عليه فى الأزقة والأسواق, لأنه يشبه نعى الجاهلية، والأصح أنه لايكره إذالم يكن معه تنويه بذكره وتفخيم... فإن نعى الجاهلية ماكان فيه قصدالدوران مع الضجيج والنياحة وهوالمرادبدعوى الجاهلية فى قوله ﷺ: ليس منامن ضرب الخدودوشق الجيوب ودعابدعوى الجاهلية...شرح المينة.(شامي ۲_۲۳۹) وكذافى الفتح:(۱_۴۶۳)

ترجمه: اوعلائيه كې دي چې دمړي له خښولونه مخكې يوځاى نه بل ځاى ته وړل اودمرګ اعلان كولوكې هيڅ بده خبره نشته...الخ اوفتاوي شامي كې دي: اودهغه دمرګ اطلاع وركول، يعني يوبل ته اطلاع وركول. چې دهغه حق اداشي،(جائزدي) اوبعضې حضراتوپه بازارونواوكلوكې دمرګ اعلان مكروه ګڼلى دى.ځكه چې دادجاهليت دزمانې دمرګ د اطلاع كولوپه شان دى، صحيح دادي چې دامكروه نه دى.كله چې اعلان كې دجاهليت د زمانې په شان دمړى دلويي بيان نه وي، بې شكه دجاهليت په شان دمرګ اطلاع هغه ده كومې كې چې دزړه دتنګۍ اود بين ذكروي.اوهم دغه مقصد دحضور ﷺ ددې ارشادهم دى چې: هغه زمونږځخه نه دى، چاچې خپل ځان وواهه،ګريوان يې وشلاوه اودجاهليت دعوى يې وكړه.

۲: جوماتكې اذان كول مكروه تنزيهي دي[۱]، خو دجمعې دويم اذان دمنبرمخې ته كول

۱]وينبغى ان يؤذن على الماذنة او خارج المسجد ولا يؤذن فى المسجد كذا فى فتاوى قاضيخان (عالمگيرى ج:۱،ص:۵۵، الفصل الثانى فى كلمات الاذان والاقامة وكيفيتهما)

معمول دي.[۱]

قبر باندې اذان کول

سوال: جناب زمامسئله داده چې زموږ کلي ته يومولوي صاحب راغلی دی اودهغه له راتلوسره موږ په يوه نوې کشاله کې اچولي يواوهغه داده چې دمړي ددفن کولونه وروسته په لوړ اوازسره اذان کوي.

جواب: علامه شامي په حاشيه درمختارکې په دوه ځايونو کې(ج: ۱ ص۳۵۸)[۲] اوپه حاشيه بحرکې (ج: ۱ ص: ۲۶۹)[۳] ددې بدعت کيدل نقل کړي دي.

سوال: زموږ په ځای کې دمړي لاسونه په نوم(ناف) باندې کيښودل کيږي.داطريقه صحيح ده که غلطه؟زموږ رهنمائي وکړئ چې زموږ شک ليرې شي.

جواب: دمړي دواړه لاسونه دې اړخونوکې کيښودل شي په سينه يانوم باندې نه.[۴]

په قبرونو باندې د ګلونواچولو باره کې د شاه تراب الحق موقف

په تيره شوې جمعه ۱۲ دسمبر په روزنامه جنګ کې د سوالونو او ځوابونو په کالم کې ديوسوال په ځواب کې جناب يوسف لُدهيانوي صاحب په قبرونوباندې ګلونه اچول خلاف سُنت ګرځولي دي ،ديوسُنی په حيث دخيالاتو په وړاندې نظر زموږ فرض دي چې موږ ته صحيح مسئلې وضاحت وشي.واضحه دې وي چې په قبر باندې ګلونه اچول بالکل دسنتو نه خلاف نه دي،څنګه چې د رسول الله ﷺ دحديث نه ثابت دي چې يوځل نبي کريم ﷺ صحابه کراموسره په دوو قبرونوباندې تيرشو او ويې فرمائيل چې: دې دواړو ته قبرونو کې عذاب ورکول کيږي. نو بيا نبي عليه السلام يوه شنه څانګه واخسته .هغه يې ماته کړه او په دواړو قبرونو باندې يې يوه يوه ښخه کړه. دصحابو د پوښتنې په ځواب کې نبي عليه السلام وفرمايل چې: ترڅو

۱] واذا جلس على المنبر اذن بين يديه فاقيم بعد تمام الخطبة بذلک جرى التوارث. كذا فى البحرالرائق(عالمگيرى ج:۱،ص:۱٤۹ الباب السادس عشرفى صلاة الجمعة)

۲] (تنبيه) فى الاقتصار على ما ذكر من الوارد واشارة الى انه لا يسن الاذان عندادخال الميت فى قبره كما هو المعتاد الآن، وقد صرح ابن حجر فى فتاويه بانه بدعة ....الخ (فتاوى شامى، باب صلاة الجنائز ج:۲،ص:۲۳۵ وايضاً فتاوى شامى ج:۱،ص:۳۸۵)

۳] ورايت فى كتب الشافعية ان قد يسن الاذان لغير الصلاة كما ....قيل وعند ادخال الميت القبر قيا ساً علي اول خروجه للدنيا لكن رده ابن حجر في شر العباب (منحة الخالق على البحر الرائق ج : ۱ ص :۲۶۹)

٤] ويلينُ مفاصله ويرد ذراعيه الى عضد يه ثم يمد ها ويرد اصابع يديه الى كفيه ثم يمد ها ويرد فخذيه الى بطنه وساقيه الى فخذيه ثم يمد ها كذا فى الجوهرة النيرة (عالمگيرى ج: ۱ ص : ۱۵۷ ، الفصل الاول فى المحتضر)

پورې دا شنه وي، په دوی باندې به په عذاب کې کمی وي. (مشکوة المصابیح، باب آداب الخلاء فصل اول)

ددې حدیث په شرح کې شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په (اشعة اللمعات شرح مشکوة) کې فرمایي چې دې حدیث نه یوې ډلې دلیل نیولی دی چې په قبرونو باندې د شنو ګلونو او د خوشبو اچول روا دي.

ملاعلي قاري په (مرقات) کې د همدې حدیث په شرح کې فرمایي چې په زیارتونو باندې شنه ګلونه اچول سنت دي. دا غه راز علامه عبدالغني نابلسي رحمه الله هم په "کشف النور" کې ددې تصریح کړې ده. په طحطاوي علی مراقي الفلاح صفحه ۳۶۴ کې دي چې زمونږ ځینې متاخرینو حضراتو ددې حدیث په رڼا کې فتوا ورکړه، چې د خوشبو او ګلونو په قبرباندې د اچولو چې کوم عادت دی هغه سنت دی. د فقه حنفي مشهور کتاب (فتاوی عالمګیري، کتاب الکراهیة، پنځم جلد، باب زیارت القبور) کې په قبرونو باندې د ګلونو اچول ښه فعل لیکل یاد شوي دي. دغه راز علامه شامي هم د فقهې حنفي په مشهورکتاب (درالمحتار) اول جلد، زیارة القبور په بحث کې یې دې ته مستحب ویلي دي

نو ثابته شوه چې قبرونوباندې ګلونو اچولو ته خلاف سنت ویل سخت جهالت او د علم حدیث او د فقهې د کتابونو نه د بې خبره کیدو دلیل دی. زمونږ په خیال کې روزنامه جنګ ته د داسې زړه ازاره بحث نه ځان ساتل پکار دي او ځواب ورکونکو ته هم تنبیه پکار ده.

شاه تراب الحق قادري

په قبرونو ګلونه اچول بدعت دي

سوال: د روزنامه جنګ (۱۲) دسمبر په اشاعت کې چې تاسو دیو سوال په ځواب کې لیکلي و چې په قبرونو باندې ګلونه اچول خلاف سنت دی. د (۱۹) دسمبر په اشاعت کې یو صاحب شاه تراب الحق قادري تاسو جاهل او له کتاب او سنت نه بې خبره ګرځولي یې او دې ته یې سنت ویلي دي. چې دې سره ډېر خلک په شك کې مبتلا شول. مهرباني وکړئ دا تردد لیرې کړئ!

جواب: ددې مسئلې د تحقیق له پاره دځو خبرو په یاد ساتل ضروري دي:

۱: سنت: دنبي کریم صلی الله علیه وسلم معمول ته وایي[1] دخلفاء راشدینو صحابه وو او تابعینو عمل هم د

۱] السنة لغةً : العادة، وشريعة: مشترک بين ما صدر عن النبی صلی الله عليه وسلم من قول او فعل او تقرير. وبين ما واظب النبی صلی الله عليه وسلم بلاوجوب (التعريفات للجرجانی ص:۱۰۸، طبع المکتبة الحمادية، اصول الفقة الاسلامی ج:۱، ص:۴۴۹)

سنت په درجه کې شمېرل کېږي[1] کوم عمل چې د خیرالقرون نه وروسته ایجادشوی وي هغه ته سنت نه ویل کیږي ،په قبرونوباندې ګلونه اچول که چېرې سنت وي .نونبي کریم ﷺ او تابعین به په دې عمل کونکي وو ،خو د حدیثو پوره ذخیره کې یو حدیث هم نه شته چې نبي کریم ﷺ یاکوم خلیفه راشد . یوصحابي یاکوم تابعي په قبرونوباندې ګلونه اچولي وي په دې وجه دانه دنبي علیه السلام سُنت دي،نه دخلفاء راشدینو ،نه دصحابه وو اونه د تابعینو".

۲: زموږ په دین کې د قران او حدیث او د اجماع امت نه وروسته مجتهدینو اجتهاد هم شرعي حجت دی، چې کوم عمل یو مجتهد امام روا یامستحسن ګڼلی وي هغه به هم د سنتو نه ثابت شوي شی ګڼل کیږي. په قبرونوباندې ګلونه اچول یو مجتهد امام هم مستحب نه دي ګرځولي ،دحنفي فقهي تدوین (ترتیب) زموږ د امام اعظم رحمه الله اودهغه د لوړې درجې شاګردانو له زمانې نه شروع شو او زموږ فقهاوو ټولو سنتو او آدابو ته یو یو ترتیب ورکړ، خو زموږ یوه فقهي ذخیره کې دیو امام هم دا قول نه دی ذکرشوی چې په قبرونوباندې ګلونه اچول سنت یامستحب دي اونه له یو امام او فقیه نه دا منقول دي چې هغوی په یو قبر باندې ګلونه اچولي وي.

۳: څنګه چې علامه شامي لیکلي دي ،ددریمې پېړۍ نه وروسته د متاخرینو دور شروع کیږي،دا حضرات پخپله مجتهدین نه وو[2] بلکې دمجتهدینوامامانو مقلدین وو. ددوی په استحسان سره د یو فعل سُنت یا مستحب کیدل نه ثابتیږي،څنګه چې امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله په مکتوبات شریف کې د فتاوی غیاثیې نه نقل کوي چې:[3]

۱] السنة معناها فی اللغة: الطریقة والعادة......واعلم ان لفظ السنة عندالاطلاق مثل قول الراوی السنة کذا لا یفید الاختصاص بسنة رسول الله صلی الله علیه وسلم بل یحتمل سنته وسنة الصحابة ولا یتعین الا بدلیل عندنا لان تقلید الصحابی لما کان واجباً کانت طریقته متبعة کطریقة الرسول علیه السلام (تیسیرالاصول الی علم الاصول ص:۱۳۷، ۱۳۸)

۲] قال الذهبی :الحد الفاصل بین العلماء المتقدمین والمتاخرین راس القرن الثالث وهو الثالث ماة، فالمتقدمون من قبله والمتاخرون من بعده(شفاء العلیل،ملحق رسائل ابن عابدین ج:۱،ص:۱۶۱طبع سهیل اکیډمی لاهور)

۳] کما ذکر فی الفتاوی الغیاثیة قال الشیخ الامام الشهید رحمه الله سبحانه: لا ناخذ باستحسان مشائخ بلخ وانما ناخذ بقول اصحابنا المتقدمین رحمهم الله سبحانه، لان التعامل فی بلدة لا یدل علی الجواز وانما یدل علی الجواز ما یکون علی الاستمرار من الصدر الاول لیکون ذلک دلیلاً علی تقریر النبی علیه السلام ایاهم علی ذلک فیکون شرعاً عنه علیه وعلی آله الصلوة والسلام واما اذا لم یکن کذلک لا یکون فعلهم حجة الا اذا کان ذلک من الناس کافةً فی البلدان کلها لیکون اجماعاً، والاجماع حجةً الا تری انهم لو تعاملوا علی بیع الخمر وعلی الربوا لا یفتی بالحل(مکتوبات امام ربانی ص:۱۴۸، مکتوب: ۵۴ دفتردوم طبع ایچ ایم سعید)

. شيخ امام شهيد رحمه الله وفرمايل چې مونږ د بلخ دمشائخو استحسان نه اخلو .بلکې مونږ يواځې دخپلو متقدمينو اصحابو قول اخلو ځکه چې په يوه علاقه کې د يو شي رواج دهغه د جواز دليل نه دی،دجواز دليل هغه تعامل دی چې په صدر اول(خيرالقرون) له زماني نه راروان وي،چې دا ددې خبرې دليل شي چې پخپله نبي کريم ﷺ صحابه په دې عمل باندې برقرار ساتلي وو. ځکه چې دا به دنبي عليه السلام له طرفه تشريح وي،خو چې کوم تعامل چې دصدر اول نه متواتر نه وي راغلی، نو د وروسته خلکو فعل حجت نه دی .مګر هغه چې په هغه دټولو ملکونو دټولو انسانانو تعامل وي،تردې چې اجماع شي او اجماع حجت دی.ګورئ که چېرې دخلکو تعامل شراب فروشي ياسود خوري باندې جوړشي ،نودهغه دحلال کيدو فتوا به نه ورکول کيږي" (مکتوب(۵۴)دويم دفتر)

د امام شهيد رحمه الله له دې ارشاد نه معلومه شوه چې که چېرې متاخرينو مشائخو په قبرونو باندې دګلونو اچولود استحسان فتوا ورکړې وي بياهم دې فعل ته مونږ " سنت " نشو ويلی. خو زمونږ متاخرينو مشائخو نه هم چا هېڅکله په قبرونو باندې د ګلونو اچولو د جواز يا د استحسان فتوا نه ده ورکړې،همدا وجه ده چې ملاعلي قاري رحمه الله او علامه شامي رحمه الله د متاخرينو شوافعوقول نقل کړی دی(چې وړاندې به معلوم شي) خو هغوی له متاخرينو ديو حنفي فقيه نه هيڅ يوقول نه دی موندلی.

اوس انصاف کولای شئ چې کوم عمل نه د صاحب شريعت ﷺ نه ثابت وي نه دصحابه وو او تابعينو نه،نه مونږ د ائمه مجتهدينو نه .نه زمونږ دمتقدمينو او متاخرينو نه،ايا دې ته سنت ويل کيدای شي؟

۴: شاه صاحب د(مشکوةاداب الخلاء)[1] نه چې کوم حديث نقل کړی دی چې نبي کريم ﷺ په دوو قبرونوباندې څانګې ښخې کړي دي دې نه په عامو قبرونوباندې دګلونو اچولو جواز نه ثابتيږي،ځکه چې په حديث کې صراحت دی چې دا څانګې يې دکافرانو يادګناهګارو مسلمانانو په داسې قبرونوباندې ښخې کړې وې چې دالله تعالی دقهر او عذاب دنازليدو ځای و ،په عامو قبرونوباندې څانګې ښخول دنبي کريم ﷺ اوصحابه کرامو معمول نه و .نبي کريم ﷺ چې کومه معامله چې دفاسقانو او معذبو خلکو له قبرونو سره وکړه هم هغه سلوک داولياء الله له قبرونو سره کول ددغو اکابرو سخت سپکاوی دی اوبيا هغه ته سنت ويل دظلم په سر ظلم دی،سنت خوبه هلته وی چې نبي کريم ﷺ دګنهګارانو دقبرونو په ځای (دکومو

1] د حديث الفاظ دا دی عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: مر النبی صلی الله عليه وسلم بقبرين،فقال: انهما ليعذبان،وما يعذبان فی کبير،اما احدهما فکان لا يستتر من البول........واماالآخر فکان يمشی بالنميمة ،ثم اخذ جريدة رطبة فشقها بنصفين ثم غرز فی کل قبرواحدة، قالوا: يا رسول الله ! لم صنعت هذا؟فقال: لعله ان يخفف عنهما ما ييبسا(مشکوة ج: ۱،ص: ۴۲،باب آداب الخلاء)

عذاب چې نبي علیه السلام ته د وحي په ذريعه معلوم شوی و، د خپل خواږه تره سيد الشهداء حضرت حمزه رضي الله عنه يا د خپل خواږه او محبوب رور حضرت عثمان بن مظعون رضي الله عنه يا د بل مقدس صحابي له قبر سره دا سلوك کړی و

۵: بيا نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته خو ددې قبرونو عذاب په وحې سره معلوم شوی و او څنګه چې په صحيح مسلم، صفحه۴۱۸ج۲، کې د حضرت جابر رضي الله عنه په حديث کې تصريح شوې ده. نبي علیه السلام د هغوی له پاره شفاعت کړی وا و د شفاعت د قبوليت تصريح ده. نبي علیه السلام د هغوی له پاره شفاعت کړی وا و د شفاعت د قبوليت د مودې له پاره د علامې په ډول څانګې خښې کړې وې[۱]. په دې وجه اول خو دا واقعه د نبي کريم صلی الله علیه وسلم خصوصيت دی او ددې شمار په معجزات نبوي صلی الله علیه وسلم کې کيږي.[۲]

بالفرض که څېرې يو سړی دا د نبي علیه السلام خصوصيت او معجزه تسليم نه کړي. نو بيا هم له دې حديث نه زيات نه زيات دا ثابتيږي چې کوم سړي ته په قطعي ډول د يو قبرعذاب معلوم شي او هغه د شفاعت اهليت هم لري. هغه د علاې په ډول په قبرباندې څانګې ښخولی شي. خو ددې حديث نه په عامو قبرونو باندې د څانګو ښخول او د ګولونو اچول سنت کيدل په هيڅ شان نه ثابتيږي اونه ددې مضمون دې حديث سره څه تعلق شته. حافظ بدرالدين عيني رحمه الله په عمدة القاري شرح بخاري کې ليکي:

" همدارنګه چې کوم فعل ډيرى خلک کوي يعنې ګلونه . شنې څانګې او داسې نور... لانده شيانو په قبرونو باندې اچول هيڅ شی نه دي (ليس بشئ)، سنت که دي نو يوائې څانګه ښخول دي.[۳]

۶: شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله د اشعة اللمعات په حوالې سره ليکلي دي چې يوې ډلې له دې حديث نه دليل نيولی دی چې په قبرونو باندې شنې څانګې، ګلونه او خوشبويي اچول جائز دي"

۱] قالَ « يا جابِرُ هَلْ رَأَيْتَ مَقامى ». قُلْتُ نَعَمْ يا رَسُولَ اللّه. قالَ « فَانْطَلِقْ إِلى الشَّجرتَيْنِ فَاقْطَعْ مِنْ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُما غُصْنًا فَأَقْبِلْ بِهِما حَتّى إِذا قُمْتَ فَقُلْتُ قَدْ فَعَلْتُ يا رَسُولَ اللّه فَعَمَّ ذاكَ قالَ « إِنّى مَرَرْتُ بِقَبْرَيْنِ يُعَذَّبانِ فَأَحْبَبْتُ بِشَفاعَتى أَنْ يُرَفَّهَ ذاكَ عَنْهُما ما دامَ الْغُصْنانِ رَطْبَيْنِ ».......الخ (صحيح مسلم ج:۲،ص:٤١٨ باب حديث جابر الطويل)

۲] وفي هذا الحديث معجزات ظاهرات لرسول الله صلى الله عليه وسلم والله اعلم (شرح النووى على مسلم ج:۲،:٤١٨)

۳] وكذلك ما يفعله اكثر الناس من وضع مافيه رطوبة من الريا حين والبقول ونحوهما على القبور ليس بشئ وانما السنة الغرز (عمدة القارى شرح بخارى ج:۳،ص:١٢١ طبع دارالفكر،بيروت)

کاش! جناب شاه صاحب دا هم لیکلي وای چې حضرت شیخ محدث دهلوي رحمه الله ددې قول نقل کولو سره دامام خطابي په قول سره ددې رد هم کړی دی حضرت شیخ لیکي

"امام خطابي رحمه الله چې د علم له امامانو او دحدیث د شارحینو له مشرانو څخه دی .دا قول رد کړی دی او دې حدیث سره یې دلیل نیولو سره یې قبرونوباني دشنوخانګو او ګلانو اچولو نه انکار کړی دی او فرمایلي یې دي چې داخبره هیڅ اصل نه لري او په لومړنی زمانه کې نه وه"[1] (اشعة اللمعات صفحه ۲۱۵ ۱)

شیخ رحمه الله چې د ځونامعلومه خلکو نه کوم جواز نقل کړی دی .هغه نقلول او "د اهل علم او دحدیثو د شارحینو دمقتدا" په حوالې سره " این سخن اصل ندارد و درصدر اول نبوده ویلو سره یې چې ددې دبدعت کیدو تصریح کړې ده له هغه نه سترګې پټول داهل علم له شان نه ډېره لیرې خبره ده.

اوبیا حضرت شیخ محدث دهلوي په (لمعات التنقیح) کې دحنفیانوله امام حافظ فضل الله توربُشتي نه هم ددې قول په باره کې دا نقل کړي دي:

"قول لاطائل تحته ،ولا بحبرة به عنداهل العلم". (صفحه ۲/۴۴)

"دا یو بې مغزه او بې مقصده قول دی او دعالمانو په نزد ددې هیڅ اعتبار نشته".

کاش! شاه صاحب په دې باندې هم کله نظر کولای .نوهغه ته به معلوه شوې وه چې حضرت محدث دهلوي رحمه الله په قبرونو باندې دګلونو داچولو جواز نه نقل کوي،بلکې دا بې اصله او ناقابل اعتبار خبره ګڼي.

۷: شاه صاحب : ملاعلي قاري رحمه الله د (مرقات) په حوالې سره نقل کړي دي چې: " په زیارتونوباندې ګلونه اچول سنت دي" دلته هم شاه صاحب د شیخ ملاعلي قاري دمخکې او وروسته عبارت کتلو زحمت نه دی کړی،ملاعلي قاري رحمه الله په زیارتونوباندې دګلونو اچولو ته سنت نه دي ویلي[2] بلکې د امام خطابي شافعي رحمه الله په مقابله کې د ابن حجر شافعي رحمه الله قول یې نقل کړی دی،چې" زمونږ (شافعیانو) ځینو متاخرینو ددې فتوا ورکړې ده . دامام خطابي رحمه الله او امام نووي رحمه الله په مقابله کې هغه متاخرین شوافع چې دکوموحواله ابن حجر شافعي رحمه الله نقل کوي چې دهغوی قیمت دعلم له خاوندانونه پټ نه دی .نوداد شافعي

۱] خطابی که از ائمه اهل علم وقدوه شراح حدیث ست این قول رارد کرده است وانداختن سبزه وگل رابرقبور به تمسک باین حدیث انکار نموده وگفته که این سخن اصلی ندارد ودرصدر اول نبوده(اشعة اللمعات ج:۱،ص:۲۱۵ طبع رشیدیه)

۲] ثم رأیت ابن حجر صرح به وقال قوله لا أصل له ممنوع بل هذا الحدیث أصل أصیل له ومن ثم أفتی بعض الأئمة من متأخري أصحابنا بأن ما اعتید من وضع الریحان والجرید سنة لهذا الحدیث (مرقاة،باب آداب الخلاء ج:۱،ص:۲۸۶)

متاخرينو قول دى، په حنفي علماوو کې يوه هم ددې په جوا فتوا نه ده ورکړې. نه متقدمينو علماوو او نه ملاعلي قاري رحمه الله د کوم حنفي فتوا نقل کړې ده. داحنافو له متاخرينو نه د امام حافظ فضل الله توريشتي رحمه الله قول پورته تيرشوى دى چې: دا بې مغزه خبره ده او دا چې د اهل علم په نزد ددې هيڅ اعتبار نشته، دارنګه د علامه عيني قول هم تيرشوى دى چې په قبرونو باندې ګلونه اچول سنت نه دي.

٨:شاه صاحب يوه حواله د طحطاوي له حاشيې مراقي الفلاح نه نقل کړې ده.علامه طحطاوي چې کوم څه ليکلي دي هغه يې "فى شرح المشكاة" ويلو سره د ملاعلي قاري رحمه الله په حوالې سره ليکلي دي،[١] دې ته مستقل حواله ويل غلط دي ،خو په دې کې دا تصرف ضرور شوى دى چې د مشکوة په شرحه کې يې د ابن حجر رحمه الله نه د ځينې متاخرينو شافعيانو قول نقل کړى و، چې د شاه صاحب په حواله کې هغه " زمونږ ځينې متاخرينو ددې حديث په رڼا کې فتوا ورکړه، دا خبره متاخرينو حنفيانو ته منسوب کړاى شوه، ګويا د مشکوة د شرحې له حوالې نه يې څه بل شى جوړ کړي دي.

٩:شاه صاحب يوه حواله د علامه شامي ردالمحتار نه نقل کړې ده چې هغه دا مستحب ليکلي دي،دلته هم شاه صاحب په نقل کې له افسوسناکې سستۍ نه کار اخستى دى.

علامه شامي رحمه الله د يوې مسئلې په ضمن کې (حديث جريد) نقل کړى دى او ليکلي يې د چې "ددې مسئلې او ددې حديث نه په قبرباندې د څانګو کېښودلو استحباب د اتباع په طور اخيستل کيږي او دې باندې د کشمالو اوداسې نورو...څانګو کېښودل قياس شوي دي،چې زمونږ په زمانه کې عادت شوي دي او د شافعيانو يوې ډلې ددې تصريح هم کړې ده اوداأولى ده په نسبت د ځينې مالکيانو د قول چې ددغو قبرونو نه د عذاب کم والى د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د لاس په برکت سره و ي د هغه صلى الله عليه وسلم د دُعا په برکت سره و،نو په دې باندې قياس نه شي کيدلاى.[٢]

د علامه شامي رحمه الله په دې عبارت کې په قبرونو باندې د ګلونو اچولو د استحباب ذکر نه دى شوى، بلکې د اتباع په طور د کجورې د ښاخ خښولو استحباب اخيستل شوى دى او د کشمالو وغيره څانګو خښول په دې قياس شوي دي اوددې علت يې هم هغه ذکرکړى دى

١] وفى شرح المشكوة وقد أفتى بعض الأئمة من متأخري أصحابنا بأن ما اعتيد من وضع الريحان والجريد سنة لهذا الحديث(حاشيه طحطاوى ص:٣٤٣ قبيل باب احكام الشهيد،طبع ميرمحمد كتب خانه)

٢] فتاوى شامى ج:٢،ص:٢٤٥،باب زيارت القبور ويوخذ من ذلك ومن الحديث ندب وضع ذلك للاتباع، ويقاس عليه مااعتيد فى زماننا من وضع اغصان الآس ونحوه وصرح بذلك ايضاً جماعة من الشافعية، وهذا اولى مما قاله بعض المالكية من ان التخفيف عن القبرين انما حصل ببركة يده الشريفة صلى الله عليه وسلم او دعائه لهما فلا يقاس عليه غيره.

کوم چې د امام تورپشتی رحمه الله په قول" لاطائل اوداهل علم په نزدغیرمعتبردی" هرکله چې زموږ امامانو دا علت ردکړی دی، نوپه دې باندې قیاس کول به هم مردود وي.
علامه شامي هم دځینوشوافعو فتوا ذکرکړې ده. له دې نه معلومیږي چې زموږ دعلماوو نه دیوفتوا علامه شامي ته په لا نه ده ورغلي .له دې نه اندازه کیږي چې زموږ دعلماوو دفتوا خلاف یو غیر معتبراوبې اثره تعلیل باندې قیاس کول به ترڅومره حده معتبروي.
شاه صاحب یوه حواله د شیخ عبدالغني نابلسي رحمه الله هم نقل کړې ده .دهغه رساله "کشف النور" ددې ناکاره په مخکې نشته چې دهغه په مخکې او وروسته عبارت باندې غور شوی وای ،خو دومره خبره واضحه ده چې علامه شامي رحمه الله وي یا شیخ عبدالغني نابلسي رحمه الله یا ددولسمې ،دیارلسمې پیړۍ بل بزرګ،دا ټول بس زموږ پشان مقلدین دیاودمقلد کار دخپل متبوع امام تقلیدکول دي، که چېرې علامه شامي رحمه الله ،شیخ عبدالغني رحمه الله نابلسي رحمه الله اویابل کوم بزرګ زموږ دامامانو فتوا نقل کوي نوپه سر سترګو باندې. که نه د حضرت امام رباني مجدد الف ثاني" په الفاظو کې بواځې دا عرض کیدای شي:
" دلته د امام ابو حنیفه رحمه الله ،امام ابویوسف رحمه الله او دامام محمد رحمه الله قول معتبر دی ،نه د(ابو بکرشبلي او ابوالحسن نوري) عمل".(دفتر اول مکتوب ۲۲۲)
۱۰: جناب شاه صاحب چې ددی ناکاره طرف ته کوم الفاظ منسوب کړي دي . هغه پرې خفه نه دی، د عارف قول دی:

بدم گفتی وخر سندم عفاك الله نکو گفتی جواب تلخ مي زیبد لب لعل شکر خارا

غالبًا د سنت نبوي صلی الله علیه وسلم د عشق داکمه سزا ده چې شاه صاحب دې ناکار ته ورکړې ده، ددې لوی جرم سزا کم نه کم دومره خوپکار وه چې دا ناکاره دالله پاك په لوی دربارکې پیش شوی وای:

بجرم عشق توام مي کشند وغوغا رایست نیز بر سر بام آکه خوش تماشا ئیست

په هرحال دا ناکاره خو دخپل جهل اقرار او اعتراف کوي او " بترزانم که گوئی" باندې یې پوره اعتماد دی،په دې وجه دا ناکاره به دشاه صاحب دقند اوشکرو نه ولې خفه کیږي؟خو په ادب سره هغه ته دا عرض کولی شم چې دی ناکاره خو ډېر داحتیاط په الفاظو سره دې ته " خلاف سنت" ویلي و(چې په هغه کې دسنت نبوي صلی الله علیه وسلم نه د نه ثابتیدلو باوجود د جواز یااستحسان گنجائش بیاهم باقي پاتې کیده) په دې باندې خو دشاه صاحب د دربار نه دجهالت او ناپوهي بدله دې کم علمه ته ورکړل شوه، خو امام خطابي رحمه الله ،امام نووي رحمه الله ،امام تورپشتي، امام عیني رحمه الله چې هغوی دې ته بې اصل،منکر،لاطائل غیر معتبر عند اهل العلم،او لیس بشيءٍ ویلي دي،دهغوی الفاظ خوددې ناکاره دالفاظو په نسبت ډېر زیات سخت دي،سوال دادی چې د شاه صاحب د دربار نه به دې حضراتو ته کوم انعام

ورکول کیږي؟ اوبیا شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله چې هغه دې بزرګانو ته ..د عالمانو امامان او د حدیث د شارحینو مشران..ویلو سره عقیدت او پیرزوینې ورانديې کوي او د دوی تصدیق او تایید کوي هغه ته به کوم خطاب ورکوي؟ څه خیال مودی. دې حضراتو ته د علم دین ،حدیثو. او د فقهې له کتابونو څخه خبروواوکه دوی هم د شاه صاحب په قول په سخت جهالت کې مبتلا وو"؟

۱۱: دې بحث ختمولو سره مې زړه غواړې چې د جناب شاه صاحب په خدمت کې د دوو بزرګانو عبارت وړاندې کړم چې دهغو ټولو خلاف سنت کارونو حال واضحه شي.کوم کې چې موږ مُبتلا یو.

اول عبارت د شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله دی هغه په (شرح سفرالسعادة) کې لیکي:

"ډېراعمال .افعال او طریقې چې د سلف صالحینو په زمانه کې مکروه او ناخوښه وې هغه په آخری زمانه کې مستحسن ګرځول شوي دي اوکه چېرې جاهلان او عوام څه کار کوي. نو یقین ساتل پکار دي چې د بزرګانو روحونه به له هغوی نه خوشحاله نه وي او د هغوی د کمال ، دیانت او نورانیت دربار له هغو نه پاك او منزه دی"[۱].(صفحه ۲۷۲)

او حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله لیکي:

" ترڅوچې انسان د بدعت حسنه نه هم د بدعت سیئه پشان ځان ونه ساتي،ترڅو د دې دولت(اتباع سنت) بوی هم د هغه د روح پورې ته نشي رسیدلای او دا خبره نن ډېره ګرانه ده .ځکه چې پوره دنیا د بدعت په دریاب کې ډوبه شوې ده او د بدعت په تیارو کې پرته ده. د چامجال دی چې دې و بدعت خلاف اواز پورته کړي او د سنتو په ژوندي کول باندې خوله پرانیزي،د دې وخت اکثر علماء بدعت ته رواج ورکونکي او د سنتو ختمونکي دي،کوم بدعات چې خپاره شي. نو د خلکو تعامل قصداً دهغو د جواز بلکې د استحسان فتوا ورکوي او بدعت طرف ته د خلکو لاربنو ونه کوي"[۲] (دویم دفتر مکتوب ۵۴)

دُعاکوم چې الله تعالی موږ ټولو ته د اتباع سُنت نبوي صلی الله علیه وسلم توفیق راکوی.

---

[۱] بسا اعمال وافعال واوضاع که درزمان سلف از مکروهات بوده' درآخر زمان از مستحبات گشته واگر جهال وعوام چیزے کنند یقین که ارواح بزرګان ازان راضی نخواهد بود' وساحت کمال ودیانت ونورانیت ایشان منزه است ازان (شرح سفرالسعادة ص: ۲۷۲)

[۲] تا از بدعت حسنه در رنگ بدعت سیئه احتراز ننماید بوئے ازین دولت بمشام جان او نرسد' واین معنی امروز متعسر است که عالم در دریائے بدعت غرق گشته است وبظلمات بدعت آرام گرفته'. کرامجال است که دم از رفع بدعت زند'وبه احیائے سنت لب کشاید'اکثر علماء این وقت رواج دهندهائے بدعت اند'ومحو کنندهائے سنت'بدعتهائے پهن شده راتعامل خلق دانسته بجواز بلکه باستحسان آن فتوی مے دهند ومردم رابدعت دلالت مینمایند (مکتوبات امام ربانی' دفتردوم 'مکتوب: ۵۴' ج: ۲' ص: ۱۴۸'طبع ایچ ایم سعید)

په قبرونو ګلونه اچول بدعت دي (د مسئلې تحقيق)

د روزنامه جنګ د ١٢ دسمبر ١٩٨٠ء په اسلامې صفحه کې راقم الحروف د يو سوال په ځواب کې په قبرونو باندې ګلونه اچول خلاف سنت ليکلي و. دا ترقع نه وه چې يو څوک چې د سنتو دمفهوم نه خبر وي.ددې د ترديد تکليف به وکړي. مګرافسوس چې شاه تراب الحق صاحب د خپلو معتقداتو خلاف وګنل او د ١٩ دسمبرد جمعې په ايډيشن کې يې دهغه له جوشه ډک ترديد وکړ. په دې وجه ضرورت و چې ددې مسئلې ددلائلو په رڼا کې وضاحت وشي. راقم الحروف د ٢ جنوري ١٩٨١ء په جمعه ايډيشن کې ..دمسئلې تحقيق.. تر عنوان لاندې په دې مسئله باندې دفريقينو د دلائلو جائزه وړاندې کړه.جناب شاه تراب الحق صاحب د ١٢ جنوري په "شعت کې" دمسئلې دتحقيق ځواب بيا ليکلی دی.خو پورې چې د مسئلې دتحقيق تعلق دی الحمد لله زما تېره شوې ليکنه بس هغه له پارد کافي شافي ده.خو صاحب چې کومې نوې نکتې پورته کړي دي لاندې دهغو تجزيه(تحليل) وړاندې کيږي:

١ "سُنت" د لفظ وضاحت مې مخکې هم کړی دی خو شاه صاحب دهغه اصطلاح په اهميت باندې هيڅ توجه نه ده ورکړې. په دې وجه دومره خبره زياتول مناسب دي چې کله موږ يو شی ته سُنت وايو. نو دهغه معنا دا ده چې: موږ هغه دنبي کريم ﷺ ذات طرف ته منسوبوو. د يو داسې شي نسبت نبي عليه السلام ته جائز نه دی چې نه نبي عليه السلام کړی وي او نه نبي عليه السلام دهغه ترغيب ورکړی وي نه صحابه وو او تابعينو چې د سنتو دتبعداري ترټولو لوی عاشقان وو په دې باندې عمل کړي وي .زموږ تربحث لاندې مسئله کې شاه صاحب دا هم ثابت نکړای شو چې نبي عليه السلام به پخپله په قبرونو باندې ګلونه اچول. يانبي عليه السلام امت نه ددې ترغيب ورکړی دی .ياصحابه وو اوتابعينو په دې باندې عمل کړی دی .يا مجتهدينو نه چاپه قياس او اجتهادسره ددې د استحسان فتوا ورکړې ده.دا مسئله خو دمتاخرينو تربحث لاندې راغلې ده او ځينې متاخرينو شوافعو دحديث جريد نه ددې د استحسان ثابتولو کوشش کړی دی ،خودشافعيانو ،حنفيانو او مالکيانو. محققينو ډېر په زور سره ددې استدلال ترديد کړی دی او دا يې بې اصله بدعت اوغير معتبر عنداهل العلم ګڼلی دی .که چېرې شاه صاحب دانصاف په نظر غور کړی وای .نوشاه صاحب به داسې شی کوم چې محققينو امامانو بدعت ګرځولی دی هغه ته به يې په سُنت ويلو باندې ټينګار نه کاو . ځکه چې دا دځان نه دجوړې شوې خبرې دنبي کريم ﷺ ذات طرف ته د منسوبولو يو سخت جرم دی.

٢:زموږ شاه صاحب نه يواځې دا چې دې ته سُنت وايي او نبي کريم ﷺ ته يوغلطه خبره منسوبوي، بلکې ددې نه زيات دتعجب وړ خبره دا ده چې هغه په قبرونو باندې ګلونه اچول په عقائدو کې شامل کړي دي ځکه چې دهغه له يو ې فقرې نه معلوميږي:

"حقیقت دا دی چې په اخباراتو او رسالو کې د داسې پوښتنو او مسائلو ځوابونه ور کړل شي چې هغو سره دنورو خلکو جذبات مجروح نشي او دهغوی معتقداتو ته نقصان ونه رسیږي".
د شاه صاحب مشوره په ځای ده خو ماته دا معلومه نه وه چې دچا په نزدباندې به په قبرونوګلونه اچول هم ددین حنیفي په معتقداتو کې شامل وي . یابه دیته خلاف سنت ویلو سره د اسلامي عقائدو نفې کیږي،راقم الحروف د اسلامي عقائدو . ملل او نحل کومو کتابونو مطالعه چې کړې ده ،په هغو کې چیرته یې هم دا له نظره نه دي تیرشوي چې په قبرونوباندې ګلونه اچول هم داهل سنت والجماعت دمعتقداتو یوه برخه ده،دا خوماد شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله نه نقل کړي دي چې " این سخن اصل ندارد و در صدر اول نبود" یعنې ددې هیڅ اصل نشته اوپه لومړني دور کې ددې هیڅ وجود نه و". ایا زه د شاه تراب الحق صاحب نه په ادب سره دا پوښتنه کولي شم چې په قبرونو باندې ګلونه اچول ددین اسلام په معتقداتو کې دکوم وخت نه داخل شول؟ اودا چې ایا دشاه صاحب معتقدات د لومړني دور نه خلاف دي؟چې دکوم شی په صدر اول کې هیڅ وجود نه و ماشاء الله نن هغه دشاه صاحب دعقیدې جزء ګرځېدلی دی؟ په قبرونوباندې ګلونه اچول په معتقداتو کې داخلول افسوسناکه غلو پسندي ده او دا افراط پسندي دبدعت خاصه ده.
داسې کیږي چې بدعت په ارام ارام دسنتوځای ونیسي او بیا مخکې تلوسره دخلکو دایمان جزء جوړشي اوخلک دا بدعت ډېرپه عقیدت سره داسلام لوی شعار ګڼي او عمل پرې کوي، اوچې کله دالله تعالی یوبنده ددې بدعت خلاف خوله پرانیزي،نودا خلک خیال کوي چې دا سړی داسلام د سنت اویو عظیم الشان شعار مخالفت کوي، امام دارمي دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه یوارشاد نقل کړی دی کوم چې دبدعت ددې نفسیاتو تشریح کوي هغه فرمایي:
"هغه وخت به ستاسو څه حال وي چې کله د بدعت فتنه تاسوپټ کړي مشران به په هغه کې بوډاګان شي او ماشومان به هم په دې کې ځوانان شي ،خلک به دافتنه سُنت جوړ کړي، که چیرې دا پرېښودل کیږي ،نو خلک به وایي چې سنت پرېښودل شو(او په یو روایت کې دی چې که چیرې دهغه د اصلاح کوشش وکړل شي، نو خلک به وایي چې سنت بدلولیږي) پوښتنه وشوه چې دا به کله وي؟ ویې فرمایل : چې کله ستاسو علماء لاړشي ،جاهلان به ډېر شي،حرف لوستونکي به زیات وي خو فقیه به کم وي ،امیران به ډېر وي ،امانتداربه کم وي، د اخرت عمل سره به ددنیاطلب کیږي او دفقهې علم به دغیر دین له پاره حاصلیږي."[1] (مسند دارمي ص، ٣٢ ،باب تغیرالزمان،مطبوعه نظامي کانپور١٢٩٣هـ)

١] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ : قال كَيْفَ أَنْتُمْ إِذَا لَبِسَتْكُمْ فِتْنَةٌ يَهْرَمُ فِيهَا الْكَبِيرُ وَيَرْبُو فِيهَا الصَّغِيرُ ، إِذَا تُرِكَ مِنْهَا شَيْءٌ قِيلَ تُرِكَتِ السُّنَّةُ؟ (وفيه رواية متقدمة: فاذا غيرت قالوا: ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

په دې وجه که څېړې شاه صاحب د قبرونو ګلونه په معتقداتو کې شاملوي. نو دا به هما غه افراط پسندي وي چې د بدعت خاصيت دی او د دې په اصلاح باندې د شاه صاحب ناراضه کېدل هماغه خبره ده، چې د هغې ښکارندوي حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه کړې ده. حسبنا الله ونعم الوکيل.

۳: د مسئلې د تحقيق په آخرکې ما د شاه صاحب توجه راګرځولې ده چې د قبرونو ګلونو ته د خلاف سنت ويلو جرم په لومړي ځل زما نه نه دی شوی. زما نه مخکې لويو امامانو علماوو په دې باره کې زما نه زيات سخت الفاظ فرمايلي دي، په دې وجه شاه صاحب يوازې ماته جاهل او ناپوهه نه دي ويلي، بلکې د هغو اکابرو په حق کې يې هم ګستاخي کړې ده.

د حق خوښولو غوښتنه دا وه چې زما په دې توجه باندې شاه صاحب د دې ګستاخي نه توبه کړې وای او داعذر يې وړاندې کړی وای چې ماته پته نه وه چې مخکې اکابرو هم دا بدعت ردکړی دی ،خو افسوس چې شاه صاحب ته د دې توفيق ورنه کړل شو . خوماچې په خپلو الفاظو کې د نرمي سره کومه تشريح بين القوسين کړې وه هغې ته يې غلطه معنا ورواغوستوله او په ماباندې سوال کوي:

(الف) چې کله ستاسو په نظر د ګلونو اچول جائز يامستحسن دي ،يا د دې د مستحسن کېدلو ګنجائش وي، نو په دې موضوع باندې د طوفان قائمولو څه ضرورت و؟"

زما محترمه! په دې تشريح کې ز ه د ګلونو اچولو د جواز يا استحسان فتوا نه ورکوم. بلکې د خپلو لومړيو الفاظو "خلاف سنت" کوموکې چې نرمي اودل چسپي وه د هغو تشريح کولو سره ستاسو پوهول مقصود و چې تاسو به هم دا عين سنت نبوي صلى الله عليه وسلم نه ګڼئ. زيات نه زيات د استحسان او جواز قايل به يئ، دا عقيده به ستاسو هم نه وي چې پخپله به نبي کريم صلى الله عليه وسلم په قبرونو باندې ګلونه اچول، په دې وجه تاسوزما په الفاظو "خلاف سنت" کې دا تاويل کولای شو چې دا عمل اګر چې له سنتو څخه ثابت نه دی. خو مو ږ دا مستحسن ګڼلی دی او کوو يې، عين سنت مونه دی ګڼلی. خو افسوس چې تاسو زما د محتاط تعبير هيڅ قدر ونکړ ،بلکې فوراً د دې د ترديد له پاره تاسو ملا وتړله او د علمي دلائلو په ځای د ناپوهۍ او کم عقلۍ طريقه مو خپله کړه اوس انصاف وکړئ چې طوفان چا قائم کړ ،ما او که تاسو پخپله؟ اوچې کوم عمل نبي عليه السلام ، صحابه وو او تابعينو نه ثابت نه وي د هغه خلاف سنت ليکلو ته ستاسو د (فساد د خبرې خپرولو) سره تعبير کول هم بازاري ژبه ده چې عالمانو سره نه ښايي.

...بقيه د تېر مخ].. غيرت السنة) قَالُوا : وَمَتَى ذَاكَ؟ قَالَ : إِذَا ذَهَبَتْ عُلَمَاؤُكُمْ وَكَثُرَتْ جُهَلَاؤُكُمْ ، وَكَثُرَتْ قُرَّاؤُكُمْ وَقَلَّتْ فُقَهَاؤُكُمْ ، وَكَثُرَتْ أُمَرَاؤُكُمْ وَقَلَّتْ أُمَنَاؤُكُمْ ، وَالْتُمِسَتِ الدُّنْيَا بِعَمَلِ الآخِرَةِ وَتُفُقِّهَ لِغَيْرِ الدِّينِ(مسند دارمی ج: ۱ ،ص: ۵۸ ،باب تغيرالزمان وما يحدث فيه،طبع نشرالسنة ملتان،پاکستان)

(ب) دهمدې په ضمن کې شاه صاحب فرمايي
"د حيرانتيا خبره ده چې يو طرف ته تاسو دا کار خلاف سنت گرځوئ او بل طرف ته تاسو نه په دې کې دجائز بلکې د مستحب کيدو گنجائش په نظر درځي. مهرباني وکړئ داسې يو مثال وړاندې کړئ چې په هغه کې يو عمل دخلاف سنت کيدلو سره سره مستحب هم وي"
گويا چې شاه صاحب دا ويل غواړي چې کوم کار نبي کريم ﷺ نه ثابت نه وي هغه مستحب خوځه چې جائز هم نه دی.په دې وجه هغه زمانه ددې مثال غوښتنه کوي. دجناب شاه صاحب په خدمت کې عرض دی چې په زرگونه شيان داسې دي چې دخلاف سنت کيدلو سره سره جائز دي. مثلاً: ترکي خولی، يا جناح کيپ (قراقولي) سنت نه دي خو جائز دي او د لمونځ نيت په ژبه کول خلاف سنت دی[1].خو فقهاوو ورته مستحسن ويلي دي. که چېرې ځوک دې ته سنت ووايي نو غلط به يې ويلي وي.
۴: د سنت د لمر مخکې د بدعت ډيوه بې رڼا پاتې کيږي.شاه صاحب په قبرونو باندې دگلونو اچولو هيڅ ثبوت دنبي عليه السلام او دتابعينو له عمل نه وړاندې نکړل شواو نه يې زما دهغو دلائلو ځواب راکړای شو.کوم چې ما د ستروامامانو نه ددې په بدعت کيدلو باندې نقل کړي وو.په،دې وجه شاه،صاحب ددې ناکاره د(کتاب فهمي) بحث شروع کړ.علامه عيني رحمه الله ديوې کرښې عبارت ترجمه چې مانقل کړې وه. شاه صاحب هغه نقل کړې ده او ليکلي يې دي:
" راقم الحروف(شاه صاحب) داهل علم په مخکې اصل عربي عبارت وړاندې کوي اودانصاف غوښتونکی دی چې لُدهيانوي صاحب ددې عبارت مفهوم صحيح وړاندې کړی دی بلکې ترجمه يې هم صحيح کړې ده اوکه نه ؟
شاه صاحب پخپلو لوستونکو ته باور کول غواړي چې داسې ناپوهه سړی چې دعربي دمعمولی عبارت مفهوم هم نه پيژني، بلکې د يوې کرښې عبارت صحيح ترجمه هم نشي کولای.هغه د لويو لويو علماوو کوم عبارتونه چې په قبرونوباندې د گلونو اچولو خلاف سنت کيدلو باندې نقل کړي دي دهغو څه اعتبار دی.
راقم الحروف نه دعلم دعوه کوي نه په کتاب دپوهيدو. معمولي طالب دی او د طالب علمانو د پڼو په صف کې ځای پيداکول فخر او سعادت گڼي.
گرچې از نيکان نيم خو به نيکان بسته ام   در رياض آفرينش رشته کگلدسته ام
شاه صاحب اصل موضوع پرېښودله او بې له څه وجې يې دکتاب فهمي بحث شروع کړی دی په دې وجه ځو امور وړاندې کول مناسب دي:

1] النية بالاجماع وهى الارادة والتلفظ عندالارادة بها مستحب هوالمختار(الدرالمختار مع شرحه ج:١،ص:٤١٥)

اول--- شاه صاحب ته شکایت دی چې زه دعلامه عیني دعبارت په مفهوم باندي نه یم پوه شوی اونه مي صحیح ترجمه کړې وه. زه خپله او د شاه صاحب ترجمه دواړه نقلوم لوستونکي دې د دواړو موازنه وکړي او ودې ګوري چې زما په ترجمه کې څه عیب دی؟

د شاه صاحب ترجمه:

"او همدارنګه (ددې یې هم انکار کړی دی) کوم چې ډېر خلک کوي. یعني لانده شیان مثلاً: ګلونه . شنې څانګې وغیره په قبرونوباندې اچوې دا هیڅ نه دي. بیشکه سنت خښول دي"

د راقم الحروف ترجمه:

"همدارنګه کوم فعل چې اکثرخلک یې کوي یعنې ګلونه . شنې څانګې وغیره لوانده------

------ شیان په قبرونوباندې اچول دا هیڅ شی نه دی (لیس بشئ) سنت که چېرې وي نو یواځې د څانګو خښول دي"

له دې نه پرته چې دې دواړو ترجمو کې کومه اسانه ده او په کومه کې سختوالی دی؟ کومه اصلي عربي عبارت ته نژدې ده او کومه نه ؟ اخر د دواړو په مفهوم کې بنیادی فرق څه دی ؟ د دواړو نه دا معلومیږي چې د څانګو خښول خو سنت دي .خو ګلونه او شنې څانګې وغیره اچول هیڅ سنت نه دي" ددې کم علمه په ترجمه کې شاه صاحب ته څه نقص په نظر راغلی چې دی یې له عالمانو نه د انصاف غوښتنه کوي.

دویم:...ددې عبارت آخري جمله "وإنما السنة الغرز" ددې ترجمه موصوف دا کړې ده:

" او بیشکه سنت ښخول دي" سره له دې چې دعربي طالب العلم پوهیږي چې د (انما) لفظ د حصر له پاره دی ،چې په یو وخت د یو شي دنفي او د بل شي د اثبات فائده ورکوي. د دی حصر د اظهار له پاره راقم الحروف دا ترجمه کړې ده چې " سنت که چېرې وي. نو یواځې دڅانګو ښخول دي" چې دهغه مطلب دا دی چې ګلونه او شنې څانګې وغیره،لانده شیان اچول هیڅ سنت نه دي،یواځې دڅانګو ښخول سنت دي خو شاه صاحب د(انما) ترجمه" بیشکه" کوي. سبحان الله وبحمده! اومهرباني یې دا ده چې تا ترجمه غلطه کړې ده.

دریم :... د کوم عبارت چې ماترجمه نقل کړې ده .شاه صاحب له هغه نه مخکې او وروسته عبارت هم نقل کړ ،حالانکه دهغه" قبرونوباندې د ګلونو اچولو " زیربحث مسئلې سره هیڅ تعلق نه و ،خو دهغه نه افسوسناك تسامح(سترګې پټول) دا شوي دي چې هغه د" وكذالك مایفعله اکثرالناس" نه واخله تراخري عبارت فافهم پورې د امام خطابي رحمه الله عبارت ګڼلی دی،سره له دې چې دا دامام خطابي رحمه الله عبارت نه دی،بلکې دعلامه عیني عبارت دی.

دامام خطابي حواله هغه یواځې د "وضع الیابس الجرید" له پاره ورکړې ده، دحدیث دیوطالبعلم مخکې دا عبارت کیږدئ دهغه فیصله به هم دا وي ځکه چې اول خودهرمصنف

دبیان طریقه بېله وي.امام خطابي دڅلورمې پېړۍ سړی دی. دهغه د لیکلو طریقه دا نه ده بلکې صفا طورباندې دا دعلامه عیني لیکل شوی انداز دی. ددې نه پرته د خطابي رحمة الله علیه معالم السنن موجود دی .کومو حضراتو چې دامام خطابي رحمة الله علیه حواله ورکړې ده هغه یې د "معالم" نه ورکړې ده .شاه صاحب که لږ دهغه دکتلو تکلیف کړی وی. نوهغه ته به معلومه شوې وی چې امام خطابي رحمة الله علیه څه لیکلي دي او حافظ عیني رحمة الله علیه دهغه حواله ترکومه حده پورې ورکړې ده.ددې ټولو امورو نه پرته که چېرې "وکذالك مایفعله اکثرالناس" عبارت د"انکرالخطابي" لاندې داخل شي (څنګه چې شاه صاحب ته خوش فهمي شوې وه) نوعبارت قطعي بې جوړې کېږي شاه صاحب دی لږ دمبتدا او خبر رعایت و ساتي اوپه عبارت باندې بې بیا غور وکړي او دحدیث دیو طالب علم نه دې هم رایه واخلي.

څلورم: دا خو دشاه صاحب د کتاب فهمي دبحث جائزه وه اوس دې لږ دهغوی په صحیح ترجمه باندې هم غور وکړل شي. دحافظ عیني رحمة الله علیه عبارت دی:

ومنها:أنه قبل هل للجرید معنا یخصه فی الغرزعلی القبرلتخفیف العذاب،والجواب أنه لامعنا یخصه بل المقصود ان یکون مافیه رطوبة من أی شجر کان ولهذا أنکر الخطابی ومن تبعه وضع الجریدالیابس"

شاه صاحب ددې ترجمه داسې کوي:

"ددې حدیث متعلق مسائلو نه دا هم ده چې ځینې حضرات دا پوښتنه کوي چې دعذاب دکم والي له پاره په قبرباندې خصوصي طورباندې دڅانګې خښول دي؟

نوځواب دادی چې دڅانګې هیڅ خصوصیت نشته بلکې هرهغه شی چې په هغه کې رطوبت وي هغه مقصوددی.خطابي رحمة الله علیه او دهغه متبعینو په قبرباندې د وچې څانګې دکېښودلو انکارکړی دی------- الخ".

د شاه صاحب دا ترجمه څومره له خونده ډکه ده ددې اصل ذائقه خوپه عربي پوهیدونکی کس پورته کولی شي، بیاهم څولطیفوطرفته اشاره کوم:

الف:علامه عیني رحمة الله علیه ددې حدیث متعلقه احکام او مسائل ص۴ نه ۷پورې" بیان استنباط الاحکام" په عنوان سره بیان کړي دي او د ص۷ ص ۹پورې "دالاسئلة والاجوبة" عنوان یې قائم کړی دی او ددې حدیث متعلق یې څوسوالونه او ځوابونه ذکرکړي دي،دهغه نه یوسوال او ځواب هغه دی کوم چې شاه صاحب نقل کړی دی ،هغه د "منها" ترجمه کوي" ددې حدیث د متعلقه مسئلو نه دا هم ده".شاه صاحب دې غور وکړي چې دلته ایا دحدیثو مسائل ذکرکیږي؟

ب: نبي كريم ﷺ د عذاب والا قبرونو باندې "جريد" خښ كړې و او "جريد" د كجورې څانګې ته ويل كيږي، علامه عيني چې كوم سوال پورته كړې دې هغه دا دې چې ايا د كجورې پهڅانګه كې څه داسې خصوصيت شته چې د عذاب دليرې كولو له پاره ګټور وي چې د هغه له وجې نبي عليه السلام هغه خښه كړه؟ ايا دا مقصد د هرې ونې د څانګې نه حاصليداى شي؟ علامه عيني رحمه الله ځواب وركوي چې نه؛ د كجورې د ونې هيڅ خصوصيت نشته .بلكې مقصود دا دې چې شنه څانګه وي كه د هرې ونې وي.دا خو و د علامه عيني رحمه الله د سوال ځواب.زموږ شاه صاحب د سوال او ځواب په مقصد پوه نه شو.څكه شاه صاحب د سوال او ځواب ترجمه داسې كوي:

"ځيني حضرات دا پوښتنه كوي چې د عذاب د كم والي له پاره په قبرباندې خصوصي طورباندې څانګه خښول دي؟

نو ځواب دا دى چې د څانګې څه خصوصيت نشته بلكې هرهغه شى چې په هغه كې لوندوالى وي،هغه مقصود دى".

كه چېرې شاه صاحب په مجمع البحار يا د لغت حديث بل كوم كتاب كې د "جريد" ترجمه كتلې واى يا د شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله د مشكوة شرحه كې يې د دې حديث ترجمه كتلې واى، نوهغه ته به د علامه عيني د سوال او ځواب په پوهيدلو كې مشكل نه واوهغه به داسې ترجمه نه كوله او كه چېرې د ډېر مصروفيت په وجه هغه ته د كتابونو د كتلو موقعه نه پيداكېده نوكم نه كم دومره خبره باندې به يې غور كړې و چې كه چېرې د علامه عيني رحمه الله مقصد دا وى چې د څانګې څه خصوصيت نشته بلكې د هرلوند شى نه دا مقصد حاصليږي.

نوپه وړاندې ساه كې به هغه ګلونو وغيره اچولو ته ليس بشئ ويلو سره د دې نفى وله كوله؟ ترجمه كولو كې خو دا سوچ كول پكار و چې د علامه دا دواړه جملې خپل مينځ كې ولې نه سره لګيږي".

ج: د شاه صاحب په خيال كې علامه عيني رحمه الله د څانګې د خصوصيت نفى وكړه اوهرلوند شى يې مقصود وګرځاو ،په دې وجه هغه د علامه د عبارت نه "من اى شجركان" ترجمه بالكل وركه كړه.

د : بيا علامه عيني رحمه الله "ولهذا انكر الخطابي" وويل او پخپل سوال او ځواب باندې يې تفريع وړاندې كړه شاه صاحب د " لهذا " ترجمه هم خذف كړه چې هغه سره د دې جملې ربط بالكل ختم شو.

ه: وكذالك مايفعله اكثر الناس" سره علامه عيني رحمه الله د دې سوال او ځواب دويمه تفريع ذكركړې ده،زموږ شاه صاحب هغه د امام خطابي د انكار لاندې ذكركړه اوترجمه يې داسې

وکړه: او دارنګه ددې نه یې هم انکار کړی دی کوم چې اکثر خلک کوي". په دې ترجمه کې ددې نه یې هم انکار کړی دی " دا د شاه صاحب له لوري زیات شوي الفاظ دي.

و: علامه عیني رحمه الله په قبرونو باندې ګلونه وغیره اچولو ته "لیس بشئ" (دا هیڅ شی نه دی) ووېل، ویې فرمایل :(انما السنة الغرز) یعنې" سُنت یواځې ځانګه خښول دي" په دی باندې یو اعتراض کېدای شو دهغه ځواب یې ورکړ او دهغه په اخرکې فرمایي:" فافهم" چې په هغه کې اشاره ده چې په دی ځواب باندې د زیات سوال او ځواب ګنجائش شته. خو زموږ شاه صاحب خودا ټول هرڅه دامام خطابی رحمه الله نوم ته منسوبوي. په دې وجه هغه ډېر په جوش سره فرمایي:

" بیا خطابی بیچاره دبحث په اختتام باندې د" فافهم " لفظ هم اضافه کړ.خو افسوس چې مولانا صاحب دې طرف ته توجه ونکړه".

دا ناکاره دجناب شاه صاحب په دتوجه په وړاندېز باندې باندې ګزار دی.کاش! شاه صاحب پخپله هم دتوجه زحمت کړی وای چې هغه دڅه ځخه ځه ګڼي اولیکي:

شاید چې دعلامه عیني رحمه الله دا فافهم" هم الهامي و،الله تعالی ته معلومه وه چې دعلامه عیني رحمه الله نه به ۵۴۵ کاله وروسته زموږ شاه صاحب دعلامه عیني دعبارت دا ترجمه کوي په دی وجه یې دهغه سره یې د فافهم لفظ ولیکه چې شاه صاحب دعلامه ددې وصیت خیال وساتي او دهغه دعبارت ترجمه لږ سوچ اوفکر سره وکړي.

پنځم:" دکتاب فهمي" او د " صحیح ترجمې" نه وروسته اوس دشاه صاحب په طریقه استدلال باندې دې هم نظر واچول شي موصوف دعلامه عیني دپورته بیان شوي عبارت نه څو قوائد تمهید سره اخستي دي:

" د پورته ذکرشوې ترجمې نه به د لُدهیانوي صاحب دکتاب فهمئ او د طریق استدلال اندازه وشي،خو کتونکو له پاره څو اُمور لاندې بیانول مناسب دي:

۱: شاه صاحب دنمبر ۱ لاندې لیکي:

" یواځې ځانګې خښول مسنون نه دي،دا شی لوندهم پکار دی،لهذا وچې ځانګې لګول مسنون نه دي،خو ځانګې او ګلونه دلوند والي په وجه مسنون دي".

دګلونو اچولو مسنون کېدل دعلامه عیني له عبارت نه اخستل شوي دي ،حالانکه دهغه دعبارت ترجمه پخپله شاه صاحب داسې کړې ده:

" او دا رانګه ددې یې هم انکار کړی دی کوم چې اکثرخلک یې کوي یعنې: لانده شیان مثلاً: ګلونه ، شینکي وغیره په قبرونو باندې اچوي دا هیڅ نه دی او بیشکه سنت خښول دي".

ګلونه ، شینکي وغیره لانده شیان قبرباندې اچولو ته علامه عیني رحمه الله خلاف سنت او لیس بشئ فرمایي ،خو دشاه صاحب د استدلال عجیبه طریقه ددې عبارت نه دګولونو اچول سنت ثابتوي ،کیدای شي چې دشاه صاحب په اصطلاح کې به د لیس بشئ (هیڅ شی نه دی، معنا: (مسنون شي) وي.

۲:د شاه صاحب فائده نمبر۲ له دې نه هم زیاته دلچسپه ده چې

"وضع یعني اچول مسنون نه دي بلکې غرس یعني خښول مسنون دي او خطابي رحمه الله دګلونو او شنو له اچولو انکار کړی دی له خښولو څخه نه. ځنګه چې دمخکې عبارتونو نه ظاهره ده. دا رنګه :وه بنیادي شیان مسنون دي:یو غرز یعني: خښول .دویم لانده شیان".

د شاه صاحب پریشاني دا ده چې علامه عیني(او د شاه صاحب په قول امام خطابي رحمه الله) خو ګلونو اچولو ته لیس بشئ او غیرمسنون وایي او شاه صاحب په هرحال د ګلونو اچول مسنون ثابتوي،په دې وجه دخپل استدلال مخصوص انداز سره د دوی د قول ځنګه بنائسته تاویل کوي چې دخطابي په قول ګلونو اچول خو مسنون نه دي .خو خښول د دوی په نزد هم مسنون دي،الله الصمد!

شاه صاحب تاویل وکړ،خو اول یې دا سوچ ونکړ چې زموږ بحث هم دګلونو اچولو سره متعلق دی اوددې غیرمسنون کیدل خوجناب پخپله ولیکل، نو که چیرې دې ناکاره په قبرباندې ګلونو اچولوته خلاف سنت وویل، نو څه جرم یې وکړ. بیایې دی باندې هم غور ونکړ،چې کوم حضرات د اولیاء الله په مزارونو باندې ګلونو اچولو له پاره راځي ،نوهغوی هم ستاسو د ارشاد مطابق خلاف سنت کار کوي. ځکه چې د سنت کیدلو له پاره تاسو دوه بنیادي شرطونه تجویزکړي دي:یودهغه شی لوند والی او دویم دهغه خښول .

بیایې په دی باندې هم غور ونکړ چې په قبرباندې خوځانګه خښیږي نه اونه ګلونه او شینکي څوک په قبرباندې خښوي،بلکې دا خو یواځې خلکیړې اچوي،نوچې کله د ګلونو خښول عادتا ممکن نه دي او نه یې څوک خښوي او پخپله شاه صاحب هم لیکي چې دیوشی په قبرباندې خښول سُنت دي .اچول یې سنت نه دي .نو دجناب ددې فقرې به اخر څه مطلب وي چې: "خطابي دګلونو او شینکو له اچولو انکار کړی دی له خښولو یې نه".

ایا کوم یوملك کې شاه صاحب په قبرونوباندې دګلونو خښولو رواج لیدلی او یا اوریدلی هم دی؟ اوایا دا ممکن هم دي ؟ که چیرې نه وي، نوبیابیا غوروکړئ چې آخرستاسو دافقره څه حاصل او مفهوم لري؟

بیا ځنګه چې عرض وشو شاه صاحب دا ټولي خبرې امام خطابي رحمه الله ته منسوب کړي. که نه د امام خطابي رحمه الله په عبارت کې د ګلونو اچولو او خښولو د (باریك منطبق) چیرته دلیرې هم

پته نه لګېږي. مناسبه ده چې دلته داما م خطابي رحمه الله اصل عبارت وړاندې کړم. شاه صاحب دې په دې باندې غور وکړي.
دحديث "جريد" په شرح کې امام خطابي رحمه الله ليکي:

وأما غرسه شق العسيب على القبر وقوله لعله يخفف عنهما مالم ييبسا فإنه من ناحية التبرك بأثر النبي صلى الله عليه وسلم ودعائه بالتخفيف عنهما وكأنه صلى الله عليه وسلم جعل مدة بقاء النداوة فيهما حدا لماوقعت به المسئلة من تخفيف العذاب عنهما وليس ذالك من أجل ان فى الجريد الرطب معنا ليس فى اليابس والعامة فى كثير من االبلدان تفرش لخوص فى قبور موتاهم واراهم ذهبوا إلى هذا وليس لماتعاطوه من ذالك وجه. والله اعلم. (معالم السنن ص٢٠،١٩ ج١)

ترجمه: باقي دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دکجورې ماتول او په قبرباندې خښول او دا فرمايل چې " شايد ددوی په عذاب کې کمی وشي ترڅو چېدا څانګې وچې نه شي". نودا کمی دنبي کريم صلى الله عليه وسلم د اثر اودهغوی د دُعاء تخفيف په برکت سره وشو.
او داسې معلومېږي چې نبي عليه السلام ددې قبرونو په حق کې دعذاب دکم والي دعاکړې وه ددې څنګود لوندوالي باقي پاتې کيدو موده يې ددې کمي له پاره حد مقررکړی و.
او ددې تخفيف وجه دا نه وه چې دکجورو لوندو څانګوکې څه داسې خصوصيت شته چې په اوچوکې نه موندل کيږي او د ډېرو علاقو عوام د خپلو مړو په. قبرونوکې د کجورې پاڼې خوروي او زما خيال دی چې هغوی هم دې طرف ته تللي دي، (چې په لوندشي کې څه داسې خصوصيت شته چې دتخفيف عذاب له پاره ګټور وي) حالانکه کوم عمل چې دا خلک کوي ددې هيڅ اصل نشته. والله اعلم".
٣: شاه صاحب دريمه افاده دعيني رحمه الله دعبارت نه دا اخستې ده چې:" په قبرونوباندې دګلونو اچولو سلسله څه نوې نه ده، بلکې دخطابي رحمه الله له زمانې نه راروانه ده او داسې هم نه ده چې څينې خلک داسې کوي، بلکې دخطابي رحمه الله بيان دی چې دا فعل دډېرو خلکو دی".
شاه صاحب ددې نکتې نه دا ثابتول غواړي چې دخطابي دزمانې نه په قبرونوباندې ګلونو اچولو باندې دډېرو خلکو اجماع ده او ددې اجماع خلاف خُوله پرانستل ګويا الحاد او زنديقيت دی، چې د ډېرو خلکو معتقداتو ته رسيدلی دی. خو محترم شاه صاحب ددې نکتې نه مخکې که لاندې بيان شويو اُمورو باندې غور کړی وای، نوشايد چې هغه ته به پخپل طرزِاستدلال باندې افسوس وو.
اول:---------- هغه چې کوم عبارت باندې دخپلې دې نکتې بُنياد مضبوطوي، هغه د امام خطابي رحمه الله نه ده. بلکې دعلامه عيني رحمه الله ده. په دې وجه قبرونوباندې ګلونه اچول داما م خطابي رحمه الله د زمانې د "اکثرالناس" فعل ثابتول.. بناء د فاسد په فاسد.. ده. خو داسې ووايئ چې داما م خطابي رحمه الله دزمانې "عوامو" به دمړي په قبرکې دکجورو لندې پاڼې

خورولي دعلامه عيني رحمه الله زماني پورې دا سلسله دکجورو د پاڼو نه تيره شوه اوګلونو اچولو ته ورسيده.

ثانيًا.... چې کله دا سلسله په عواموکې شروع شوه دهغه وخت نه دامت علماوو په دې باندې دانکار سلسله هم شروع کړه. خطابي رحمه الله "ددې هيڅ اصل نشته" وويل اوددې دبدعت کيدو اعلان يې وکړاو علامه عيني "ليس بشئ" وويل اودا يې خلاف سنت وګرځاو. ارمان چې جناب شاه صاحب هم دعلماء امت په نقش قدم باندې تللی وای او دعوامو دی فعل ته يې بې بنيده او خلاف سنت ويلي وای.

په هرحال که چېرې جناب شاه صاحب دخطابي رحمه الله يا د عيني رحمه الله دزمانې د عوامو تقليد کوي نو دې ناکاره ته (بحول الله وقوته) د اکابرعلماوو او ددين داامامانو په نقش قدم باندې دتلو سعادت حاصل دی اوهغه دعلامه عيني او دامام خطابی پشان ددې عاميانه فعل خلاف سنت کيدلو اعلان کوي. جناب شاه صاحب ته که چېرې دعوامو په تقليد باندې فخر وي، نو دا کم علمه ددين داامامانو په اتباع باندې ناز کونکی دی اوپه دی باندې شکر ادا کوي. دا خپل خپل نصيب دی دهرچاپه برخه کې چې هرڅه راشي:

هرکسی رابهر کار ساختند

ثالثًا.... جناب شاه صاحب دعلامه عيني عبارت خطابي رحمه الله طرف ته منسوب کړ او دامقصد يې ترې واخست چې دګلونو اچول دخطابي له زمانې نه راروان دي ارمان! چې هغه چيرته دا لټون هم کړی وای چې د ځلورمې پيړۍ (دخطابي رحمه الله دزمانې) عوامو چې کوم بدعتونه ايجاد کړي وو. هغه په څوارلسمه پيړۍ کې نه يواځې سنت ګرځېدلي بلکې داهل سنت والجماعت په عقائدو او شعار کې هغه ته ځای ورکړل شوی دی(اناالله وانا اليه راجعون!)

جناب شاه صاحب که چېرې زمامخکنی مضمون لوستلي وي. نو د امام شهيد ارشاد به هم دهغه له نظرنه تيرشوي وي کوم چې امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله له فتاوی غياثيه نه نقل کړی دی چې د متاخرينودور (له ځلورمې پيړۍ نه شروع کيږي) دهغواستحسان موږ نه اخلو. غور وکړئ چې د کوم دور د اکابر علماوو د استحسان نه هم يو سنت نه ثابتيږي. شاه صاحب دهغې زمانې د عوامو ايجاد کړي بدعات سنت ګرځوي اوتينګار کوي چې ددې بدعاتو په باره کې دهغه زمانې سترو علماوو چې که هرڅه فرمايلي وي زموږ له پاره دهغه دکتلو ضرورت نشته. له پيړيو نه عوام په دی بدعت کې اخته دي. لهذا دې ته خلاف سنت ويل جائز نه دي. زه نه پوهيږم چې دې" لاجوابه منطق" سره شاه صاحب خپل ضمير څنګه مطمئن کړ.

رابعاً... زموږ شاه صاحب خو د امام خطابي د زماني عوام دحجت اودليل په طور وړاندې کوي او دامت دعلماوو د انکار سره سره د هغوی له فعل نه دليل نيسي. راشئ! زه تاسو ته ددې نه هم دوه پېړۍ وړاندې د عوامو په باره کې د علماوو رايه وښايم:

د درمختار صاحب دباب الاعتکاف نه لږ مخکې دا مسئله ذکر کړې ده چې اکثر عوام چې دمړو په نوم نذر او نياز کوي او د اولياء الله په قبرنوباندې روپۍ، شمع، تيل او داسې نور... اچوي دوی يې د تقرب (ثواب) په نيت اچوي، دا بالکل بالاجماع باطل او حرام دي. مګر دا چې په فقراوو باندې دخرچ کولو په قصد سره يې وکړي[1]. په دې ضمن کې هغه زموږ دامام محمدبن الحسن الشيباني د مذهب نعماني رحمه الله مدون (المتوفی ۱۸۹هـ) قول نقل کړی دی: "**ولقد قال الامام محمد: لوكانت العوام عبيدی، لأعتقتهم وأسقطت ولائي، و ذلك لأنهم لايهتدون فالكل بهم يتعيرون**"

ترجمه: او امام محمد رحمه الله وفرمايل: که چېرې عوام زما غلامان واي، نو ما به دوی ازاد کړي وو او د دوی د ازادولو نسبت به مې هم ځان ته نه کاو. ځکه چې هغوی هدايت نه مومي، په دې وجه هرسړی له دوی نه شرم کوي".

علامه شامي ددې په حاشيه کې ليکي:

"د پوهې خاوندانو نه پټه نه ده چې د امام مراد ددې کلام نه د عوامو مذمت کول او خپل ځان طرف ته ددوی دځه قسمه نسبت نه ليرې والي اختيارول دي که د ولاء (دآزادي نسبت) ساقطولو نه وي چې قطعي طورباندې ثابت دي او ددې اظهار برات سبب د عوامو عام جهل دی اودهغوی ډېر احکام بدلول او د حرامو اوناجائزو شيانوپه ذريعه د تقريب (ثواب) حاصلولو کوشش کول دي، نو د دوی مثال د څناورو پشان دی چې علماء او اکابر له دوی نه شرم کوي او ددوی له عظيموقباحتونو نه د برات اظهار کوي"(فتاوي شامي ج:۲ ص: ۴۴۰)[2]

دا د امام محمد رحمه الله د زماني عوام دي چې دهغوی له افعالو اوبدعاتو نه امام محمد رحمه الله او نور اعلام او اکابر د برات اظهار کوي، خو دهغوی نه دوه پېړۍ وروسته دعوامو بدعات زموږ داشاه صاحب له پاره عين دين جوړيږي او ډېر په اطمينان سره وايي چې دګلونو اچولو

---

[1] واعلم أن النذر الذي يقع للاموات من أكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع فهو بالاجماع باطل وحرام ...(درمختار ج:۲،ص:٤٣٩،قبيل باب الاعتكاف)

[2] ولا يخفى على ذوى الافهام ان مرادالامام بهذالكلام انما هو ذم العوام والتباعد عن نسبتهم اليه باى وجه يرام ولو باسقاط الولاء الثابت الانبرام وذلک بسبب جهلهم العام وتغيرهم لكثيرمن الاحكام، وتقربهم بما هو باطل وحرام ،فهم كالانعام يتعيرهم الاعلام، ويتبرؤن من شنائعهم العظام(فتاوى شامى ج:۲،ص:٤٤٠،مطلب فى النذر الذى يقع للاموات ....الخ)

سلسله خو د امام خطابي رحمه الله د دور نه راروانه ده او دا سوچ نه کوي چې دا هم هغه عوام دي چې دهغوی د جهل عام او د تغیر احکام شکایت زموږ د اعلامو او اکابرو نه راروانه ده.
دا ددې ناکاره مضمون باندې د شاه صاحب د تنقیداتو څو نمونې دلوستونکو په خدمت کې وړاندې شوې دي، چې دهغو نه اندازه کیږي چې شاه صاحب او دهغه هم فکره دبدعاتو د ترویج او اشاعت له پاره کوم ډول تاویلات جوړوي. الله پاك دې زموږ زړه، دماغ او روح د سنتو په رڼا سره روښانه کړي او دبدعاتو د ظلمت (تیاریو) او نحوست نه دې موږ په خپله پناه کې وساتي.

د بُزرګانو په قبرونو باندې عُرس کول، څادرونه پرې اچول او هغوی نه آرزوګانې غوښتل څنګه دي؟

سوال: ډېروځایونو کې دځه بُزرګانو زیارتونه جوړیږي (نن سبا خوځینې نقلي هم جوړیږي) او په هغه باندې هرکال عُرس کیږي، څادرونه پرې اچول کیږي، دهغوی نه آرزوګانې غوښتل کیږي، دا څومره پورې صحیح دي؟

جواب: دا بالکل ناجائز او حرام دي[1]، دبزرګانو دعُرسونو د رواج بنیاد غالبًا چې دا وي چې دیو شیخ (پیر) دمرګ نه وروسته به دهغه مُریدان یوځای جمع کیدل او څه وعظ او نصیحت به یې کاوو خو په مزه مزه دا مقصد خوغائب شو او دبزرګانو ځای ناستو خلکو باقاعده د استخوان (دپیرصاحب دهډوکو) خرڅولو کاروبار شروع کړاو د "عُرس شریف" په نوم دبزرګانو په قبرونوباندې په سوونو بدعاتو، محرماتو اودبې هوده کارونو یوسیلاب راغی، چې خلکو کله دقبر فروشي کاروبار مخ په ترقي ولیده نوهغوی جعلی قبرونه جوړول شروع کړل (انا لله وانا الیه راجعون)!

په قبرونو باندې ګلونه اچول د سُنت خلاف دي

سوال: د خپلوخپلوانو په قبرونوباندې اُوبه اچول، ګلونه اچول، اوړه اچول. اوګربتی بلول صحیح دي او که غلط؟

جواب: د خښولو نه وروسته اوبه اچول جائز دي، ګلونه اچول د سُنتو نه خلاف دي او اوړه

[1] کره بعض الفقهاء وضع الستور والعمائم والثیاب علی قبور الصالحین والاولیاء .قال في فتاوی الحجة وتکره الستور علی القبور (شامي ج:٦ص :٣٦٣ ،تتمة ،فصل ف اللبس)

اچول بې فائدې خبره ده او کربتې سوځول مکروه او منع دي.[1]

د نذر (منښتې) منل ولې منع دي؟

سوال: دځينې خلکونه مواوريدلي دي چې د نذر په شريعت کې منع راغلې ده. ددې څه وجه ده؟

جواب: حديث کې چې د نذر نه کومه منع راغلې ده. عالمانو ددې ډير وجوهات ښودلي دي. يو داچې ځينې جاهل داګڼي چې نذرمنلو سره هغه کارضرور وشي. حديث کې ددې خيال د ترديدله پاره فرمايل شوی دی چې د نذر په وجه باندې دالله تعالى تقدير نه بدليږي. دوېمه داچې د بنده داويل که چېرې زمامريض ته شفاء ورکړل شوه. نوزه به دومره روژې نيسم. يا دومره مال به صدقه کوم. داپه ښکاره باندې الله تعالى سره سودابازي کول دي او دا د بندګۍ شان نه دی.

د کعبې نياز

سوال: والبدن جعلنها لكم من شعائر الله. د کعبې د نياز. هر تفسير او ترجمه کې نياز يا کعبې باندې قرباني کولوله پاره اوښ ليکل شوې ده. کومه چې د والهدى والقلائد. ترجمه ده، سوال دادی چې کعبه شريفه خوهم غيرالله ده. بيا ددې نيازڅه کيدای شي؟

جواب: کعبه بيت الله ده. په دې وجه باندې د کعبې نياز په حقيقت کې د کعبې د رب نياز دی.

ايا د نبي کريم ﷺ نياز به دالله تعالى نيازوي؟

سوال: حضرت محمد ﷺ دالله تعالى رسول دی. دهغه نيازهم د کعبې د رب نيازدی، همدارنګه بيا د نوروټولو اولياء د نذرنه ولې منع شوې ده؟

جواب: ډيرښائسته سوال ده. داوښ دڅاروي نيازد کعبې د رب نياز دی. دهغې دنيازځای دحج مقام يعنې حرم شريف دی. په دې وجه باندې هغې ته د کعبې نيازهم ويل کيږي. ددې خلاف دحضور ﷺ او داولياء کرام نياز دالله تعالى له پاره مشروع نه دی. په دې وجه باندې

١] قوله ولا باس برش الماء عليه بل ان يندب، لانه صلى الله عليه وسلم فعله بقبر سعد كما رواه ابن ماجة، وبقبر ولده ابراهيم كما رواه ابوداؤد فى مراسيله، وامر به فى قبر عثمان بن مظعون رضى الله عنه كما رواه البزار (شامى ج:٢،ص:٢٣٧) واعلم أن النذر الذي يقع للاموات من أكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها إلى ضرائح الاولياء الكرام تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام (درمختار ج:٢،ص:٤٣٩،قبيل باب الاعتكاف)

درمختار[1] کي ليکل شوي دي چې داولياء الله مزارونو ته چې کوم نذرونه راوړل شي. که چېرې دهغه مقصدهلته په موجودو فقيرانوباندې صدقه کول وي. نودانذرالله تعالى له پاره دى اوپه دې وجه باندې جائزدى. اوکه چېرې پخپله داولياء الله نذرمقصدوى نودا حرام دى،ځکه چې دانذرعبادت دى اودالله تعالى نه پرته دچا عبادت جائزنه دى. ددې مثال دبيت الله طرف ته سجده ده. چې سجده خوالله تعالى ته کيږى. اوسجدې طرف بيت الله دس، خورسول الله ﷺ ته سجده جائزنه ده

داولياء الله په مزارونوباندې نذر

سوال: دکعبې دنياز داوښ باره کې تاسو وفرمايل چې داولياء الله مزارونوته چې کومې نذرانې هلته موجودو فقيرانو باندې صدقه کولوله پاره راوړل کيږي اوثواب يې مزارته بښل کيږي نوبيا جائزده .

بې شکه دربط شيخ اوفيضان شيخ دحاصلولوله پاره داډېره غټه ذريعه ده، او ټولو مشائخوکې ددې معمول دى، خوافسوس چې زموږسلسله کې ددې کمى ده. بلکې دې نه منع کيږي، ما دانه ليدلي اونه اوريدلي چې چادخپل شيخ له پاره صدقه کړي وي. نقدي، خوراک،کپړې، هيڅ قسمه نه کورکې اونه مزارباندې. اونه دنورواولياء الله په مزارونو باندې ددې التزام کيږي او حديث شريف کې دعامو مومنانودقبرونودزيارت کولو تاکيد شوى دى، همدارنګه نورې ډيرې طريقې چې دهغو په وجه باندې دنفس تزکيه اودزړه په سکون کې مدد کيږي اودعلاج په سلسله کې رواج دي(بدعتونونه پرته) زموږپه سلسله کې رواج نه دي،حلقه جوړولوسره دذکرکولونه ځان ساتل کيږي،لمونځ، روژه. اونوروفرائض اوواجب په سالک اوغيرسالک دواړوکې يوشان دي،ټول مشائخ دې خبرې باندې اتفاق کوي، يواځې په لمونځ اوروژه وغيره باندې دنفس تزکيه نه شي حاصليداى، ترڅوپورې چې دې سره باطني عملونه، دنيت اصلاح،غنى،توکل ماسوانه ځان ساتل اونور رياضتونه او مجاهدې چې متقدمينو کې رواج وې،خاص طور باندې طعام،کلام،منام. دخلکوسره په اختلاط کې تقليل وغيره نه وي. مختصرداچې مشائخ دي. دخليفه ګانوغټ غټ فهرستونه دي، دمريدانويوفوج دى،خوهغه روح نشته اونه هغه اثرات په چاکې ښکاري،کوم چې د مجاهدوپه ذريعه باندې راځي،الاماشاء الله، اونوروسلسلوکې مثلاً سلسله عاليه نقشبنديه

---

[1] وفي الدرالمختار: اعلم أن النذر الذي يقع للاموات من أكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها إلى ضرائح الاولياء الكرام تقربا إليهم فهو بالاجماع باطل وحرام وفى الشامية:قوله باطل وحرام،لوجوه: منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز لانه عبادة،والعبادة لا تكون لمخلوق (ردالمحتار ج:٢،ص:٤٣٩ مطلب فى النذر الذى يقع للاموات)

کې هغه صفات لیدل شوي دي کوم چې ددې طریقې لازمي شیان دي. دوفات نه وروسته هم خپل مریدانو اوعقیدت مندوته دخوب یامراقبې یاواقعې په ذریعه باندې فیض ورکوي او دهغوی نګهداشت کوي، داسې لکه څنګه چې یوشپونکی دخپلو چیلویو کوي.

دویمه خبره داچې شیخ اوپیرطریقت جوړیدوله پاره دکومو شرطونواوصفتونواوباطني کمالاتو ضرورت دی، څنګه چې دتصوف په مستند کتابونوکې لیکل شوي دي اوخاص طور باندې امداد السلوک کې خودې حدپورې لیکل شوي دي که چېرې داصفتونه په شیخ کې نه وي نودهغه شیخ طریقت جوړیدل حرام دي، نوجناب داخبرې نن سباپه اکثرمشائخوکې نشته (ستاسوپه شان یوڅو بزرګانوکې به یقیناً داصفتونه موجودوی.خوزه داکثریت خبره کوم)

جواب: شیخ سره تعلق دثواب بښلوپه ذریعه باندې اودزیارت له پاره قبرونوته حاضریدل پکار دي. دې کې ډیرې فائدې دي. الحمد لله دا خطاکارپخپله باندې ددې اهتمام کوي د امدادالسلوک په شرط باندې خوڅوك هم نن سبا پوره نه شي کیدای.که زه پخپله باندې داعرض وکړم چې زه هم دې شرط باندې پوره نه یم.نودروغژن به نه یم.په دې وجه باندې داخطاکار دحق مشائخوطرف ته محول کول ضروري ګڼي، مخکې خوبه مې بالکل انکارکاوچې زه اهل نه یم،خوزما ځینې بزرګانوماته خبرې وکړې چې ته دحضرت شیخ رحمة الله علیه داجازې توهین کوې.دهغه وخت نه وروسته مادخپلې نااهلي باوجودبیعت اخستل شروع کړلاو اوس خوبې شکه نورهم مضبوط شوی یم. الله تعالی دې هغه خلکو باندې رحم وکړي په کوموکې چې پیراوشیخ زماپه شان خلک وي، بس هم هغه قصه ده کومه چې تذکرة الرشید کې حضرت ګنګوهي (قدس سره) دیو ډاکودپیرکیدوباره کې لیکلې ده.

یوائې زړه کې خیال راتلوسره نذرنه کیږي

سوال: محترم مولاناصاحب! ستاسوپه ځواب باندې مې تسلي ونه شوه.ځکه چې قران کریم کې ارشاددی، "چې څه تاسو غواړئ، الله تعالی ته ستاسودنیت علم کیږي(سورة بقرة ٢٧٠) دنیت باره کې رسول الله ﷺ فرمایي: بې شکه دټولوعملونو دارمدارپه نیت باندې دی، هرکس ته به هغه څه ورکول کیږي دڅه چې هغه نیت کړی وي. (حواله صحیح بخاري کتاب الایمان باب النیة) یوبل ځای کې ارشاددی:ستاسومخونو اوستاسومالونه ته نه کتل کیږي ،ستاسو زړونو اوعملونو ته کتل کیږي اویوروایت کې دی چې حضور ﷺ دسینې طرف ته اشاره وکړه او ویې فرمایل: تقوا دلته وي.

له دې حدیثونو نه معلومه شوه چې دنیت دخلوص مقام زړه دی اوچونکه سوال کونکي دزړه اخلاص سره دهغه منت منلی و. اودهغه پوره کول هغه اوسه پورې خپله ذمه داري ګڼي، خودخپلو حالاتوپه وجه باندې هغه معذوره ده اوپخپله باندې هغه نه شي اداکولی، تاسونه

بې دهغه معلومول غوښتي دي. خو ستاسوځواب دادی چې زړه کې خيال کولوسره نيت نه کيږي، ترڅو پورې چې ژبه باندې هغه الفاظ ادانه کړل شي
دقران ايت اوپورته بيان شويو حديثونوپه رڼاکې ستاسوپه ځواب باندې تسلي نه کيږي، دسوال کونکي نيت سرسري نه بلکې حقيقي و .چې دهغه دادا کولو يادمتبادل له پاره هغه بې قراره ده.ځکه چې نذرپه ځان باندې څه شی واجبولوته ويل کيږي کوم چې دالله تعالى دطرف نه مخکې واجب نه وي او سوال کونکي نذرمنلی دی.که هغه زړه کې خيال کولوسره ولې نه وي،دهغه اداکول هغه باندې واجب شو ،که نه ګناهګاره به وي.
دويمه يوه اهمه خبره داده چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي، چې نذر مه منئ.ځکه چې نذردتقديرپه کارونوکې هيڅ فائده نه ورکوي. بس ددې نه دومره ثابته شوه چې دبخيل مال ختميدل دي. (حواله صحيح مسلم کتاب النذراوصحيح بخاري کتاب الايمان والنذر) ددې حديثونونه معلومه شوه چې داسې قسمه نذرمنل فضول دي اوکه چېرې زماپه پوهيدوکې څه غلطي شوې وي نوزمااصلاح وکړئ!

جواب: د نذرمعنا ده: دداسې عبادت په ځان باندې لازمول چې دهغه په ذمه باندې لازم نه وي اوپه خپله ذمه کول، دخولې کار دی. يواځې زړه کې خيال کولوسره هغه شی دهغه په ذمه باندې نه لازميږي،ترڅوپورې چې په ژبه باندې الفاظ ادانه شي[۱]. هم دا وجه ده چې دلمونځ نيت کولوسره لمونځ نه شروع کيږي،ترڅوپورې چې تکبيرتحريمه ونه ويل شي،دحج اوعمرې نيت کولوسره حج او عمره نه شروع کيږي،ترڅوپورې چې دتلبيې الفاظ ونه ويل شي، د طلاق خيال زړه کې راتلوسره طلاق نه واقع کيږي.ترڅوپورې چې دطلاق الفاظ په خوله باندې ونه ويل شي اودنکاح نيت کولوسره نکاح نه کيږي، ترڅوپورې چې دايجاب اوقبول الفاظ په ژبه باندې ادا نه شي،همدارنګه دنذرخيال زړه کې راتلوسره نذرنه کيږی،ترڅو پورې چې دنذرالفاظ په ژبه باندې ادانه کړل شي، علامه شامي رحمه الله کتاب الصوم کې شرح ملتقى نه نقل کړي دي چې "نذردژبې عمل دی."[۲]
تاسوچې دقران پاک کوم ايت نقل کړی دی هغه کې فرمايل شوي دي "تاسوچې کوم نذر ومنئ، ماوپلي دي چې نذر منل په خوله باندې کيږي.په دې وجه باندې دا ايت ددې مسئلې خلاف نه دی.
تاسوچې کوم حديث نقل کړی دی چې داعمالوحقيقت په نيت باندی دی، دې کې عمل

۱] حقيقة النذر التزام الفعل بالقول مما يكون طاعة الله عزوجل ومن الاعمال قربة........الخ (احكام القرآن لابن العربى ج:۲،ص:۱۸)
۲] وفى ردالمحتار :وفى شرح الملتقى والنذر عمل اللسان(شامى ج:۲،ص:۴۳۳ طبع جديد)

اونيت ببل ببل ذکر شوي دي. ددې نه معلوميږي چې يواځې نيت کولو سره عمل نه کيږي. بلکې عمل کې دنيت کولو شرط قبوليت دی. ددې حديث په نزدباندې يواځې نيت اوخيال سره نذرنه کيږي، ترڅوپورې چې دخولې عمل پکې نه وي.

دويم حديث کې هم دعملونواوزړونوببل ببل ذکرشوی دی. ددې نه معلوميږي چې يواځې دزړه دخيال نوم عمل نه دی، خو دعمل له پاره دزړه دنيت صحيح کيدل ضروري دي او تاسو چې کوم حديث نقل کړی دی چې "نذرمه منئ. داحديث صحيح دی. خوتاسو چې ترې کومه نتيجه اخستې ده چې داسې قسمه نذربې مقصده او منع دی. دانتيجه غلطه ده.ځکه که چېرې دحديث شريف هم دا مطلب وي چې نذربې مقصده اومنع دی، نوشريعت کې به دنذر د پوره کولوحکم نه وای. حالانکه دامت ټول اکابرين دې باندې متفق دي چې دعبادت مقصد باندې نذرمنل صحيح دي اودهغه پوره کول لازم دي.

حديث کې چې دنذرنه کومه منع شوې ده، عالمانودهغې ډيروجوهات بيان کړي دي[1]: يو داچې ځينې جاهل داګڼي چې نذر منلوسره هغه کارضرور وشي. حديث کې ددې خيال ترديد له پاره فرمايل شوي دي چې دنذرپه وجه باندې دالله تعالى تقديرنه بدليږي.دويمه داچې د بنده داويل که چېرې زمامريض ته شفاء ورکړل شوه نوزه به دومره روژې نيسم. يادومره مال به صدقه کوم.داپه ښکاره باندې الله تعالى سره سودابازي کول دي اودادبندګۍ شان نه دی.

ديوعالم نه پوښتنه کولوسره سړی نه خلاصيږي

سوال: حضرت! ماته يومشکل پيداشوی دی. ددې حل ستاسونه غواړم. هغه داچې موږ دخپلو عالمانونه کوم چې مستندګڼواودخپل حيثيت مطابق په هغوی باندې اعتمادهم کوو، هغوی نه ددينې مسئلوپوښتنه کوواو هغو باندې عمل کوو، څنګه چې حکم دی: ,,فاسئلوا اهل الذکران کنتم لاتعلمون،، اوددې نه وروسته موږخپل ځان برې ګڼو،که چېرې مسئله يې راته غلطه هم ښودلې وي اودهغې په وجه باندې موډګناه کار وکړ ،نو موږ به دالله تعالى په دربارکې د مواخذې نه بچ يو. کوم خلک چې بدعت کې مبتلادي، هغوی هم دخپل طرف نه دمستند وعالمانو نه پوښتنه کوي اوپه هغوی باندې اعتماد کولو سره هغو باندې عمل کوي. نواياهغوی هم دالله تعالى په دربارکې دمواخذې نه بچ دي؟ همدارنګه خوبه ټولې باطلې فرقې هم خلاصې شي.ځکه چې هرکس دخپل حيثيت مطابق په مستندعالم باندې اعتمادکولوسره دهغوی په ښودل شويو طريقو باندې عمل کوي اودهريوې فرقې عالمان دادعوه کوي چې موږ صحيح يواونورټول غلط دي.

1] يحتمل ان يكون سبب النهى عن النذر كون الناذر يصير ملتزماً له فياتى به تكلفاً بغيرنشاط......الخ (شرح النووی علی صحيح مسلم ج:۲،ص:٤٤،كتاب النذر)

دویمه خبره داده چې ایاقران مجید یاحدیثونوکې داسې څه ایت یاحدیث شته چې دهغه ښکاره طورباندې داوضاحت کیږي چې دیو عالم نه پوښتنه کولونه وروسته عمل کونکي باندې به هیڅ ګناه نه وي، که هغه غلطه مسئله هم وي اودهغه په وجه باندې دګناه کارونه هم وکړي.

حضرت: ددې وضاحت کولوسره زمامشکل ختم کړئ. الله تعالی دې تاسوته ددې بدله درکړي.امین.دخپل ټول دیني او دنیاوي کارونوله پاره ددعاخواست هم کوم.

جواب: ډیرښائسته سوال دی، ددې ځواب دمستقل کتاب موضوع ده. زمارسالې (اختلاف امت او صراط مستقیم) هم دداسې قسمه سوال په ځواب کې لیکل شوې ده. دغه رساله ضرور ډګولئ. یوڅو خبرې نورې هم لیکم.

لومړی: دهرعقل لرونکي اوبالغ په ذمه لازم دي چې حق تلاش کړي اودا وګوري چې مختلفو فرقو اومذهبونوکې په حقه څوک دي؟ که چادې فرض کې سستي وکړه ونوهغه به معذورنه وي، تاسوچې کوم ایت شریف نقل کړی دی، دې کې هم داهل ذکرنه دپوښتنه کولو حکم راغلی دی، که چېرې دحق داطلب کول لازم ونه ګرځول شي ،نولازم به وي چې دټولې دنیاباطل دین منونکي معذور وګڼل شي اوددې باطل کیدل دعقل اونقل ددواړوپه نزدباندې واضح دي.

دویمه : کومې فرقې چې خپل ځان اسلام ته منسوب معرفي کوي هغوی ته پکاردي چې دا وګوري چې زموږدفرقې دعالمانو اصول او نظریات دحضور ﷺ اودحضور ﷺ دصحابه کرامو رضي الله عنهم په سنت او طریقه باندې دي اوکه نه؟ دحضور ﷺ دتوحیداوسنت دعوت ورکول.دبدعاتو او خواهشاتونه ویرول.دحضور ﷺ دپاک ژوند نه واضح دي.

دریمه: که چېرې دحق دطالب په دې باندې تسلی ونه شي اودهغه مخکې حق ښکاره نه شي نودڅه وخت پورې دې دهریوې فرقې د اکابرینوپه خدمت کې پاتې شي. که چېرې دحق دطلب له پاره داسې وکړي، نو الله تعالی به هغه باندې حقیقت ضرورښکاره کړي. ځکه چې وعده ده. والذین جاهدوفینالنهدینهم سبلنا.

څلورمه: که چېرې په هغه طلب اوتحقیق باندې هم هغه ته حق ښکاره نه شو .نوداسې کس به معذوروي،هغه به دخپل کوشش اوطاقت مطابق عمل کوي. خوکه چېرې دحق تلاش ونه کړي یابې بستي نه کاروا خست .نومعذوربه نه وي والله اعلم:

❖ يوځه د اصلاح مفاهيم باره کې ❖

سوال: د علوي مالکی نومي يومکي عالم دکتاب اردوترجمه "اصلاح مفاهيم"، باندې نن سبا بحث شروع دی، ځينې حضرات داکتاب دبريليانو او ديوبنديانو په اختلاف ختمولوکې ډير مدد کونکی ګڼي اوځينې حضرات دې ته ديوبنديانو دعقيدې دتغليط او د بريليانو د عقيدې د تاييدولو تصديق وايي، صحيح صورتحال بيان کړئ، چې زموږ رهنمايي وشي!

جواب: بالکل! دمکې مکرمې ديوعالم شيخ محمدعلوي مکي کتاب (**مفاهيم يجب ان تصحيح**) دډيرو ورځونه دبحث موضوع ده، پاکستان کې ددې اردوترجمه د"اصلاح مفاهيم"، په نوم باندې چاپ شوې ده اوزموږخلکوکې دې باره کې ښې کافي خبرې شروع دي، انوار مدينه، لاهور، الخير، ملتان، اوحق چاريار، چکوال کې دې باره کې کافي ليکل شوي دي، دکتاب ناشرجناب پروفسيرالحاج احمدعبدالرحمن زيدلطفه، په دې سلسله کې زمادنظر پوښتنه وکړه، مادهغه ليک په ځواب کې په کتاب باندې تفصيلي تبصره وکړه، اويوڅوصفحې ليکل مې وکړل، بيامې سوچ وکړچې دې له پاره به ډيرزيات وخت پکاروي، په دې وجه باندې مې يومختصرشان ليک دهغه په خدمت کې وليکه، دې باره کې ډيراستفسارکيږي، په دې وجه باندې اوس اوس ديو صاحب ليک راغی، اودې باره کې يې زما مشوره غوښتې ده، په دې وجه باندې مې مناسب وګڼل، چې دې باره کې خپل خيال ښکاره کړم:

مخکې هغه مختصرشان ليک وړاندې کيږي کوم چې دجناب پروفيسر احمدعبدالرحمن په خدمت کې ليکل شوی و، له هغه نه وروسته هغه تفصيلي تبصره وړاندې کيږي دکومې چې دهغه په نوم باندې ليکل شروع شوي و، خوهغه مونيمايي کې پريښودو اومختصرليک مې وليکه، اوله هغه نه وروسته دهغې پوره کول اواخرکې ديوڅو حضراتو ليکونه اوزمادطرف نه دهغو ځوابونه وړاندې کيږي. **والله الموفق لکل خيروسعادة!**

...

لومړی لیک

مخدوم ومکرم جناب پروفیسر احمدعبدالرحمن صاحب!

السّلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو لیک اوهدیه "اصلاح مفاهیم،، له ډیرو ورځونه راغلی پروت دی، د زیاتو مصروفیاتو له وجې دکتاب دلوستلو موقع پیدانه شوه، اوطبیعت مې هم دهغه طرف ته مائل نه و اوکتاب مې په الماری کې حفاظت سره ایښی و،بیامې یو ناڅاپه فکرشو چې تاسو به دځواب انتظارکوئ، کتاب مې ولوست،خواهش مې پیداشوچې په هغه تفصیلي طور باندې څه ولیکم، خومشغلوراته ددې کاراجازه رانه کړه، په دې وجه باندې مختصر طور باندې لیکم، چې دکتاب ځینې بحثونه خوایمان تازه کونکي دي، خوجناب مصنف صاحب ځای په ځای باندې بخمل کې دټاټ پیوندونه لګولي دي، اوچیني (بوره)کې یې دخپل بیل فکر زهرهم ګډکړي دي، دې کتاب باره کې زماخیال دجناب محترم مولاناالحاج الحافظ مفتي عبدالستاردام مجده(صدرمفتی جامعه خیرالمدارس،ملتان) سره یوشان دی، داکتاب زمونږ ددیوبند د اکابرینو دمسلک ترجماني بالکل نه کوي، اودې سره چې دامت په مینځ کې داتحاداواتفاق کوم امیدونه قائم شوي دي، هغه نه یواځې کم، بلکې ختم دي، ددې په مقابله کې زماخیال دادی چې امت خوامت، داکتاب به زمونږ د دوستانوپه مینځ کې هم دنفرت اوبیلوالي اودجنګ جګړې ذریعه جوړیږي، که چیرې دکتاب د ترجمې اوددې دچاپ کیدونه مخکې زمادخیال پوښتنه شوې وای، نومابه دترجمې اوچاپ مشوره نه درکوله، کومو حضراتوچې په دې باندې تقریظات لیکلي دي، زماپه خیال هغوی دلوستلو نه پرته یواځې دلیکونکي سره دمحبت اوعقیدت په وجه باندې لیکل کړي دي اوکه چا لوستې وي نوهغه باندې صحیح طورباندې پوه شوي نه دي اونه زمونږ داکابرینوپه مسلک باندې صحیح طورباندې پوه شوي، بلکې زماخودې حدپورې فکر دی چې ډیر حضرات دکتاب دنوم په مفهوم باندې هم نه دي پوه شوي، که چیرې دهغوی نه پوښتنه و شي چې (**مفاهیم یجب ان تصحح**) څه مطلب دی؟ نوکیدای شي چې غشی یې په نښه باندې ونه لګیږي، ددې اردونوم "اصلاح مفاهیم،، ددې خبرې ګواهي کوي، چې ترجمه کونکی ددې په مطلب باندې نه دی پوه شوی، امیدلرم چې د مختصرې تبصرې نه وروسته به دتفصیلي تبصرې ضرورت نه وي، ددعا محتاج اوغوښتونکی. والسلام.

محمد یوسف عفاالله عنه، ۱۴۱۵/۷/۲۰ھ

دویم لیک

جناب مخدوم ومکرم زیدت الطافهم!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو لیک راته څوورځې مخکې راورسېد، چې هغه کې د "اصلاحِ مفاهیم،، باره کې زما خیال معلومول غوښتل شوي و، خو ما ستاسو حکم دیوڅو وجو له امله پوره نه شو کړای:

١: زه په خپلو مشغلوکې دومره مصروف وم، چې دډاکه مې څواب هم نه شوورکولای او بعضې سوالونه داسې وو چې دیوې مقالې موضوع وه، داخیال مې ووچې ددې مشغلونه راته فرصت په لاس راشي ، نوکتاب به وګورم، له هغه وروسته به خپل خیال ښکاره کړم، داسې کم وخت کې یوغټ کتاب لوستل هم مشکل و، اوچونکه ستاسو غوښتنه هم ډېره ضروري ده، په دې وجه باندې نورې مشغلې مې پرېښودلې، اوکتاب مې مطالعه کړ اودڅواب لیکلو حالت راغی،

٢: زه داکابرینو په کتابونو باندې نه ستړی کېږم، اونه دهغو په لوستلو باندې مړېږم، خو زموږ داوسنی محققینوداوسني انداز نه مې داسې ویره کیږي، چې ددې کتابونو یو څو صفحې کتل هم زما له پاره مجاهده وي، په دې وجه باندې مې کتاب لوستلو ته زړه نه کیده.

٣: زما ټول عمر د ملحدینو اومارقینو سره په معرکوکې تیرشو، اوددې مې همیشه داسې ذوق وچې:

تیغ بران بهر هر زندیق باش اے مسلمان! پیر وصدیق باش

خو دخپلو په جنګ کې له داخلیدو نه زه همیشه څان ساتم، د "اصلاحِ مفاهیم،، باره کې هم دخپلې رایې ښکاره کولو نه په ویره کې وم، څکه چې دې کتاب پخپله زموږ دشیخ نورالله مرقده په حلقه کې تنازع جوړه کړې ده، زما محترم بزرګ مولانا صوفي محمد اقبال مهاجر مدني ددې تاید کونکی اوحامي دی، دهغه په حکم باندې داکتاب له عربي نه اردو ته ترجمه شوی دی او دهغه په حکم باندې پاکستان کې چاپ شوی دی، بل طرف ته دحضرت شیخ نورالله مرقده دعقیدت مندوی‌وه غټه ډله دې کتاب په "چیني (بوره) کې زهر،، ګڼي، زما خبـل دادی چې زماحیثیت دې کې هیڅ هم نه دی، په دې وجه باندې دې معرکې نه څان وساتم نوښه به وي، دشاعر مطابق

فقلت لمحرز لما التقینا تجنب لایقطرک الزدحام

ددې نه مخکې دصوفي صاحب زيدمجده ددوستانو دطرف نه يوه رساله "اکابر کامسلک ومشرب،، چاپ شوې وه، اوبيا هماغه مضمونونه د"اسلامي ذوق،، نومې رسالې په شکل کې چاپ کړل شو، اومانه دهغو رسالوباره کې زمادخيال پوښتنه وشوه، خود "اياز! بقدر خويش به شناس، په شان زه چپ پاتې شوم، اودهغو دواړورسالوباره کې مې دڅه ليکلونه ځان وساته.

۴: دخاموشي اصل وجه داوه چې دې زمانه کې څوک دچا هم نه اوري، هرکس خپله رايه داسې پخه اومضبوطه وړاندې کوي، چې بس هم اوس اوس جبرائيل عليه السلام دالله تعالى حکم نازل کړ، کله چې په خپله رايه باندې دمضبوط اعتماد داحالت وي نودبل رايې ته څوک اهميت ورکوي؟ اختلاف کونکی که هرڅومره عالم وي، اوډيرپه خلوص باندې داختلاف وجه بيان کړي، هغه ته (الاماشاء الله) دنفس هوا اوکبرويل کيږي،داسې ماحول کې تنقيد اوداصلاح خيال ګټه نه کوي، البته زړونوکې دنفرت اوفتنې دزياتولوذريعه جوړيږي، په دې وجه باندې ماپه داسې کارونوکې دحضور صلى الله عليه وسلم نصيحت خپل کړی دی:

بل ائتمروا بالمعروف وتناهوا عن المنكر، حتى اذارايت شحامطاعاوهوى متبعاً ودنيا موثرة، واعجاب كل ذى راى برايه، ورايت امرا لابدلک منه فعليک نفسک، ودع امرالعوام.

(مشکوة ص۴۳۷)

ترجمه: دښو حکم کوئ اود بدو نه ځان ساتئ، تردې پورې کله چې ووينئ چې دحرص اونفس اطاعت اودخواهشاتومنل کيږيا ودنياوي ګټو ته ترجيح ورکول کيږي اوهريوکس خپل خيال باندې نازکوي، اوتاسووينئ چې داسې کاردی، چې ددې نه پرته ګذاره نه کيږي، نوخپل فکرکوئ، اودعوامو قيصې پريږدئ!

بزرګانوکې داخبره مشهوروه چې خپل خيال هميشه صحيح ګڼئ، دې حضراتوبه خپل خيال به ناقص ګاڼه، اوهميشه به يې ددې انتظارکاو چې څوک دهغوی په خبره کې غلطي راوباسي اوهغوی ددې نه رجوع وکړي، حضرت مولاناسيدمحمديوسف بنوري رحمه الله به فرمايل چې: حضرت مولاناسيدسليمان ندوی رحمه الله به دخپل جلالت اولوړې مرتبې سره سره فرمايل چې: ابتدايي دورکې د(حضرت حکيم الامت سره تعلق نه مخکې) مانه څه غلطی وشوې، زما زړه غوښتل چې ستاسو(حضرت بنوری رحمه الله) په شان حضرات زماکتابونه ولولي او زما غلطی ماته وښايي، نوزه به په خپل ژوندکې دهغو نه درجوع اعلان وکړم.

عارف بالله حضرت اقدس ډاکټر عبدالحی عارفي قدس سره به فرمایل چې: یو ځل مولانا بنوري رحمه الله په "بینات"، کې یو مضمون ولیکه، بیا ماسره ملاقات ته راغی، نوماهغه ته وویل چې: داکومه خبره چې تاسو لیکلې ده، دا ستاسو دشان خلاف ده، سمدستي یې وویل چې: غلطي وشوه، معاف مې کړئ، بیابه داسې نه کیږي، حضرت ډاکټر صاحب رحمه الله به ددې خبرې نقل کولو سره فرمایل چې: مولانابنوري رحمه الله لوړ سړی و، حضرت به دافقره بار باره اداکوله.

دا زموږ دهغو اکابرینو واقعات دي چې موږ په دې ګناهګارو سترګو باندې لیدلي دي، زموږ شیخ برکة العصر، قطب العالم مولانا محمد ذکریا مهاجرمدني قدس سره خوخاص اصول وو، چې ترڅو پورې به دهغه دلیکنې دوو محققو حضراتو تصدیق اوتصویب ونه کړ، هغه کتاب به نه چاپ کیده، له همدې نه قیاس کیدای شي چې زموږ دبزرګانو به نفسي، اخلاص او د الله تعالی اودفنائیت به څه حدوو؟

خواوس دخپل خیال ښکاره کولو دومره غلبه ده چې څوک دچا اوریدوته بالکل تیارنه دي، اونه څوک دچامني(الاماشاء الله) په دې وجه زه دخپلودوستانوپه مینځ کې متنازعه مسئلوباندې دخپلې رایې ښکاره کولونه ویریږم، چې لومړی خوزما دخیال هیڅ اهمیت نشته، او بیا زما دخیال په وجه باندې داصلاح امیدهم کم دی، بلکې که چیرې خیال دیوصاحب خلاف شي، نوپه زړونوکې دبغض اوکینې پیدا کیدو ویره هم ده.

حیاة الصحابه (ج ۲ ص ۱۲۰) کې دحضرت ابوعبیده او دحضرت معاذ رضی الله عنهما یو لیک دحضرت عمر رضی الله عنه په نوم باندې نقل شوی دی، دهغه په اخرکې یې داهم لیکلي دي چې: موږ ته به ویل کیدل چې اخري زمانه کې به ددې امت داحال شي چې په ښکاره باندې به ورونه وي اوپه پټه کې به دیوبل دښمنان وي، موږ دالیک ستاسو دهمدردي اوخیرخواهي له پاره لیکلی دی، دالله تعالی پناه! چې تاسو داپه کوم بل څیزباندې محمول کړئ!

حضرت عمر رضی الله عنه ددې په ځواب کې فرمایلي وچې:

د اخري زمانې باره کې چې څه فرمایل شوي دي، نه تاسو دهغه په شان یئ، اونه دا هغه اخری زمانه ده، دابه هغه زمانه وي په کومه کې به چې رغبت اورهبت ښکاره شي، اود خلکو رغبت به دیوبل سره ددنیاوي کارونو له پاره وي، بې شکه تاسوحضراتو چې څه لیکلي دي، هغه مودخیرخواهي اوهمدردي له پاره لیکلي دي اوماته ددې په وجه باندې هیڅ تکلیف نشته، مهرباني وکړئ ماته لیکل کوئ!

غرض داچې، دپورته بیان شویو وجوهاتوله امله زه ستاسو"اصلاح مفاهیم"، باره کې دخپل خیال ښکاره کولونه ویریدم، اوزړه مې هم داغوښتل چې هیڅ ونه لیکم، خوبیاراته خیال راغی چې تاسوبه دځواب انتظارکوئاوستاسو به دځواب دنه درسېدو شکایت وي، په دې وجه باندې یواځې دحکم پوره کولو له پاره لیکم، که نه ماته پته ده چې زه څه یم اوزما لیکل څه دي؟ دعا کوم چې زمادالیکل دفتنې دزیاتولوذریعه جوړه نه شي.

اللهم اني اعوذبک من شر نفسی! هغه رحيم اوکريم دې زمادليکلو دشرنه خپل بندګان محفوظ وساتي، اوزماپه غلطيودې پرده واچوي، **انه رحيم ودود**.

د"اصلاح مفاهيم،، دسرسري لوستلونه چې ماڅه خبرې يادانبت کړي دي، که چېرې هغو باندې تفصيل سره خبرې وکړل شي نويوغټ کتاب ترې جوړيږي، په دې وجه باندې په مسئلوباندې دخبروکولوپه ځای باندې ديوڅواصولي کارونه وړاندې کوم، **والله ولی التوفيق**

اول: ددې ليکونکی صاحب په سعودی کې اوسيږي، اوهغه ماحول کې دداسې حضراتواواز غالب دی، کوم چې په وړه وړه خبره باندې دکفرفتوا ورکوي، دتوسل نه بالکل انکارکوي، دحضور ﷺ دمبارکې روضې دزيارت کولوپه اراده باندې سفرکول هم صحيح نه ګڼي، د ليکونکو صاحب نظرهم دهغو حضراتودتشدد پسندۍ داصلاح باره کې دی اوهغه داغواړي چې ددليلونوپه ذريعه باندې دهغو حضراتوپه خيالاتوکې اعتدال پيداکړي، دهندوستان او پاکستان ماحول دليکونکي حضرت په نظرکې نه دی، هغه ته ددې پته نشته چې د هندوستان اوپاکستان عوام په څه څه بدعتونواوګندګيوکې مبتلادي، په دې وجه باندې د جناب په نظرکې دعواموا اصلاح نه ده، دافطری خبره ده چې دحضرت په کتاب کې د بزرګانو داصلاح کوشش خوپه نظرراځي، چې همدادهغه دکتاب موضوع ده، خودعوامو دکم عقلي اصلاح کول دهغه په کتاب کې په نظرنه راځي، ددې په مقابله کې زموږ ددیوبند داکابرينو دواړو فرقوسره تعلق وي، دبزرګانو حضراتو دخشکۍ اوشدت سره هم، اودعوامودعاميانه خيالاتوسره هم، په دې وجه باندې زموږ اکابرين دافراط اوتفريط په مينځ کې اعتدال باندې قائم دي، اوهغوی دېربنائست اوکاميابي سره داعتدال داتله قائمه ساتلې ده.

درکفے جام شریعت درکفے سندان عشق

ہر ہو سناکے نہ داند جام وسندان باختن

غرض داچې، په متنازعه مسئلوکې کوم اعتدال اوتوازن چې زموږ اکابرينوکې قائم کړی دی، هغه ته زه "لسان الميزان، وايم، له همدې ځای نه معلوميږي چې دجناب مصنف دا کتاب زموږ داکابرينو دذوق کتاب نه دی، بلکې ددې تله دبدعتيانوطرف ته ده، کومو حضراتوچې داګڼلې ده چې دمالکی صاحب رحمه الله دا کتاب زموږ داکابرينوترجماني کوي، زماپه خيال کې هغه حضرات خونه زموږ داکابرينوپه مسلک باندې صحيح طورباندې پوه شوي دي اونه هغوی دمالکي صاحب رحمه الله کتاب غورسره کتلی دی.

دويم: کتاب باندې دډيروبزرګانوتقريظونه موجود دي، چې دهغو لوستلونه وروسته لوستونکي باندې رعب پريوځي، ددې بزرګانو د تقريظ اوتصديق نه وروسته زماپه شان کم علمه کس داختلاف هيڅ ګنجائش نه پاتې کيږي، خوزماپه خيال باندې کوموبزرګانوچې دې

کتاب باندې تقریظونه لیکلي دي، هغوی داکتاب مکمل طور باندې نه دې لوستی اونه دلیکونکي صاحب په مقصد باندې پوه شوي دي، یاخودې حضراتو دکتاب لوستلو زحمت نه دې کړې او یا هغوی ته دغورا وفکرکولو وخت نه دی پیداشوی، دلیکونکي صاحب سره د عقیدت اواحترام په وجه باندې یاداحترام وړ بزرگ تقریظ لیدوسره هغوی هم دکتاب د اعتماد باره کې وویل،داسې تقریظونه داعتماد کولووړ نه دي.

نن سبا یوائې دلیکونکي سره دښه تعلقاتو په وجه باندې د تقریظونو لیکلورواج عام دی، او زما په خیال درواج داصلاح قابل دی اودرواج پرېښودل پکاردي، ماته پخپله ددې ناخوښه تجربه شوې ده، زمادخپلو کتابونوباره کې داسې ذوق دی چې ماخپل کتاب باندې دتبرک له پاره یوبزرګ ته دیوڅوکلماتو لیکلوتکلیف نه دی ورکړی، اونه مې ددې فرمائش کړی دی، ځکه چې همیشه به مې داخیال وچې ددې اکابرینو په قیمتي وخت کې دومره ګنجائش نه شي کیدای؟ چې زما په شان خلکو لیکل ولولي اوخپل قیمتي وخت ضائع کړي، چیرته پرته دلوستلونه هغې باندې دتبرک الفاظ ونه لیکي: اودهغه نتیجه به داوي چې زماغلطي به دهغه بزرګانو په سرشي، زمارساله "اختلاف امت اورصراط مستقیم،، کوم چې ټولو اکابرینو ډیر زیات خوښ کړ اودهندوستان اوپاکستان ډیرو چاپ کونکو اداروهغه د زرګونو په تعدادکې چاپ کړ، خوماهغه باندې چیرته دیوبزرګ تقریظ نه دی لیکلی، اوریدلي مودي چې زموږشیخ برکة العصرنورالله مرقده په مجلس کې هم داکتاب ټول حرف په حرف بیان شو اوحضرت نورالله مرقدهغه اورېدلی دی، خوزما په زړه کې چېرې هم داخیال نه دی پیداشوی چې په یوبزرګ باندې په دې باندې تقریظ ولیکم اوخپلې کوټه پیسې دهغو بزرګانودتقریظ په مهر باندې جیدې کړم(زمادوه کتابونوباندې حضرت بنوري رحمه الله مقدمه لیکلې وه، خودخواهش اوفرمائش نه پرته، ددې دتفصیل وخت نشته)

غرض داچې دکتاب لوستلونه پرته دتفریظ لیکلو رواج زما په خیال باندې صحیح نه دی، درواج داصلاح قابل دی، اوزما په خیال باندې دجناب علوي مالکي صاحب په کتاب **مفاهیم یجب ان تصحح**(عربي) باندې چې څومره تقریظات په نظرراځي، دادجناب مصنف په احترام کې دلوستلونه پرته لیکل شوي دي، یاچیرته داحترام دقابل شخصیت لیدوپه وجه باندې دهغه په تقلید کې لیکل شوي دي، که زه چېرې دې کتاب باره کې دخپل خیال اظهاروکړم اوهغه دتقریظ لیکونکیو حضراتودخیال اوتصدیق خلاف وي، نودهغو بزرګانودادب خلاف دې ونه ګڼل شي، اونه دې دهغه اکابرینودعلم اوفضل خلاف وګڼل شي، ځکه چې دبزرګانو ارشاددی چې:

گاه باشدکودک نادان به غلط برهدف زندتیرے

دریم: پورته مې عرض کړې دی چې دلیکونکي حضرت اصل مقصد دبزرګانو حضراتو د تشدد اصلاح کول دی، کوم چې دې مسئلو کې دهغوی په علاقه کې موجود دی اوپه کومو کې چې هغوی څه نرمي نه کوي،
جناب مصنف په خپل دې شدت کې معذور هم ګنم، هغه لیکي:
موږ به هغه دخپل حسن ظن په وجه باندې معذور ګڼو. اودابه وایوچې دهغوی نیت خو صحیح دی، دامربالمعروف اونهی عن المنکرذمه داري ګڼلوسره هغو حضراتودا سې وکړل. خو موږبه وایوچې دهغو حضراتو نه یوه خبره پاتې شوې ده، چې امربالمعروف او نهی عن المنکرکې دحکمت اومصلحت اوښایسته طریقه اختیارول پکاردي.(اصلاح مفاهیم ص۴۹)
دا دوه اصول کوم چې مصنف دکتاب په شروع کې لیکلي دي، ډیر قیمتي اصول دي، بلکې داسې ویل پکاردي چې ددعوت د اصولوروح دي، یوداچې دخپلو مخالفینو. تنقید کونکو بلکې د کافرانوباره کې هم داصول قائم ساتل پکاردي، ځکه چې دتنقید کولواصل مقصدکه چېرې اخلاص وي. اوهغه په ریښتیاباندې دالله تعالی درضاله پاره وي، نونه یوازې داچې هغه به معذوروي، بلکې انشاء الله ماجور به هم وي.
دویم داچې دامربالمعروف اونهی عن المنکرپه شان دلوړې مرتبې کارکې هم دحکمت او مصلحت مطابق ترتولو دښې طریقې اختیارولوضرورت دی.
زما امید دی چې مصنف صاحب ددعوت دکومواصولوباره کې فرمایلي دي. هغه به پخپله هم دې باندې پابندي کوي، اودهغه داکتاب به ددعوت یوه عظیم الشانه ذریعه وي. اوهغه به دتنازعي مسئلولیکلو سره داسې ښه طریقه خپلوي چې دهغه خبره به ډیرښې طریقې سره دلوستونکو زړه ته کوزیږي، بې شکه فطري طورباندې به دازموږخواهش وي چې کومه خبره موږحق او صحیح ګڼو، نورخلک دې هم دهغې دحقانیت قایل شي، خوموږدخپلې خبرې نوروته په صحیح طریقه باندې درسولوپابندیو؛ دهغې په خلکو باندې دمنلوپابندنه یو، که موږپه ښائسته طریقې باندې خپله خبره خلکوته بیان کړه،نو موږ دخپل وفرضو نه بري شو، اوس که مخاطب دامني اوکه نه؟ دادهغه ذمه داری ده، اودهغه په اختیار کې ده.
ماته افسوس دی چې مصنف، کوم حضرات دحسن ظن په وجه باندې معذورګڼي، هغوی ته خطاب کولوکې ددعوت اودمصلحت اندازنه دی خپل کړی، بلکې دمناظرې او بحث مباحثې اندازیې اختیارکړی دی اوکه چېرې داخبره هم دې ځای پورې وه نوبیاهم دا منل کیدای شوه، خوافسوس چې مصنف صاحب په خپل لیک کې دغوسې حالت دومره ډیر کړی دی، چې ددې توقع بالکل نه شي کیدای، چې دهغه خبره به دمخاطب زړه ته پریوځي، مصنف صاحب یوه نکته هم داسې نه ده پریښودې چې هغې کې یې خپل مخاطب ته جاهل، غبي، کم عقل، کم فهمه، تنګ نظریاوبدفهمه په شان القاب نه وي ورکړي.

مثلاً : د"خالق اومخلوق دمقام په عنوان کې دې ذکرکولو سره چې الله تعالى حضور ﷺ ته ډيرزيات خصوصيات نصيب کړي وو، چې دهغو په وجه باندې حضور ﷺ د نورو حضراتونه ممتاز و، مصنف صاحب ليکي:

"داکارونه، ډيروخلکوباندې، دهغوى دکم فهمي، تنګ نظري اوبدفهمي په وجه باندې مشکوک شول، هغوى ددې کارونوپه قايل حضراتوباندې دکفراودمسلمانۍ نه د بهر کيدو حکم وکړ. (اصلاح مفاهيم ص٥٧)

يوځاى کې دمخالفينودخيال ذکرکولوکې مصنف صاحب ليکي:

"دا ښکاره جهالت دى. (اصلاح مفاهيم ص٢٥)

دترجمه کونکي داترجمه دعربي داصلي الفاظومطابق نه ده، دعربي اصل الفاظ دادي، **وهذاجهل محض**، (اوديواځې جهالت دې، يا خالص جهالت دې)

يوبل ځاى کې ليکي:

,,حالانکه حقيقت کې داجهالت اوتعنت دى. (مفاهيم عربي ص ٩٢)

غرض داچې کتاب کې ځاى په ځاى هم دا اندازاختيار شوى دى، اوليکونکي دخپل خيال سره اتفاق نه کونکي حضراتوباره کې دداسې قسمه الفاظو استعمالولو کې د تکلف نه کارنه دې اخستى، ښکاره خبره ده که چېرې دمصنف صاحب په نظرکې په رښتياباندې ددې طبقې اصلاح وي، نو دهغوى اصلاح په دې انداز باندې مشکله ده، دغالب دقول مطابق:

نکالا چاھتا ھے کام طعنوں سے تو اے غالب :: ترے بے مہر کہنے پر بھلا وہ مہرباں کیوں ہو؟

زماخيال دې چې دسعودي دکوموتشددپسندو حضراتو د اصلاح له پاره مصنف صاحب داليکل کړي دي، هغوى به ددې کتاب په لوستلوباندې اصلاح ونه مومي، بلکې ددې الفاظو اوخطاباتو لوستلونه وروسته به دهغوى په خيالاتوکې به نورهم شدت پيداشي، ددې کتاب خلاف به دځوابي کتابونواورسالويوه نوې سلسله شروع شي،بل طرف ته به څه عربان حضرات دمصنف په حق کې ودريږياوقلمي جهادبه کوي، داکتاب به دهغو حضراتو د اصلاح په ځاى باندې ديوې نوې معرکې له پاره لار ه هواره کړي.

داخوبه دسعودي په ماحول کې ددې کتاب اثرات وي، ترکومه حده چې زموږ دهندوستان اوپاکستان تعلق دى، ماپورته ذکرکړي دى چې دې مسئلوباره کې درې فرقې دمخکې نه موجودې دي:

يوډله هم ددې بزرګانوحضراتوده، دکوموذکرچې پورته شوى دى، هغوى باندې به خوهم هغه اثروي کوم مې چې اوس ذکر کړ.

دويمه ډله زموږ د ديوبند د اکابرينو ده، ما مخکې ويلي دي چې ددې کتاب زموږ د اکابرينود ذوق سره هيڅ تعلق نشته، ديوبندي حلقه کې به داکتاب انتشارپيداکوي، څه

حضرات به ددې کتاب په تایید او حمایت کې دیوبند د اکابرینو مسلک ددې کتاب مطابق کول غواړي. او څه حضرات به ددې نه دبرات اعلان وکړي، د اهل حق په ډله کې به انتشار او خفګان پیدا شي.

خو دریمه ډله دبریلوي حضراتو ده، هغوی به دخپلې عقیدې په تایید او حمایت کې اوزموږ د اکابرینو دتجهیل اوتحمیق له پاره ددې کتاب حوالې ورکوي، اوکتاب باندې دلیکل شوېو تقریظاتو په وجه باندې به ددیوبند په حلقه باندې الزام لګولو کې ښه اساني پیدا شي، کاش! چې دچاپ کولونه مخکې دې باره کې مانه مشوره اخستل شوې وای، نو زما دخیال مطابق ددې چاپ کیدل به ستاسو طرف ته نه وشوي.

ځلورم: څنګه چې د هریو شیخ دنسبت یو خاص رنګ وي، چې د هغه شیخ په اکثره مریدانو کې ښکاري، مثلاً: د رائې پوري حضراتو د نسبت رنګ په هغوی باندې دومره ښکاره وي چې انسان دلیرې نه لیدو سره هغوی پیژندای شي چې دحضرات د رائې پوري سلسلې سره تعلق ساتي، همدارنګه دحکیم الامت تهانوي قدس سره په حلقه باندې دحضرت رحمه الله دنسبت رنګ دومره غالب دې چې یو بصیرت لرونکی انسان اساني سره پیژندګلوي کولای شي چې دې حلقې باندې دحضرت رحمه الله دنسبت رنګ غالب دی، وعلی هذا، غرض دا چې څنګه چې د هریو شیخ دنسبت رنګ وي، همدارنګه د هریو لیکونکي هم خپل اندازوي، کوم چې د هغه دعقیدت په ډلې باندې خپل اثر کوي، دمودودي صاحب دلیکنو هم یو خاص رنګ دی، د ډاکټراسرارصاحب دلیکنو هم یو خپل خاص رنګ دی او داسې نور...

جناب علوي صاحب هم دې کتاب "مفاهیم"، کې یو خاص رنګ ښودلی دی، دکوم طرف چې ما پورته اشاره کړې ده، یعنې د هغه دخیال سره اختلاف ساتونکو حضراتو کم عقل، کم فهم، تنګ نظر، جاهل اوبدفهم وغیره ګڼل، اوس چې کوم حضرات دجناب مالکی صاحب رحمه الله سره عقیدت لري، هغوی به هم دغه رنګ خپلوي، اوهم دغه رنګ به هغوی باندې غالب شي، ددې نتیجه به دا شي چې جناب مصنف سره دلږشان اختلاف کونکی به هم تنګ نظري او جهالت ګڼل کیږي، ، یا دده داختلاف وجه به ضد او عناد اومقابله ګڼل کیږي، ښکاره خبره ده چې کوم حضراتو باندې دارنګ غالب وي، هغوی دنورو خلکو خبرې صبر او فکر سره نه اوري اونه دمسئلې په دلیلونو باندې غور کوي اونه به دهغوی له پاره زموږ د اکابرینو حوالې ګټه ورې وي، ځکه چې کله دهغو حضراتو په زړونو کې دعقیدت په طور باندې دې خبرې ځای پیدا کړی چې یو اځې جناب محمدعلوي مالکی صاحب رحمه الله عقل من دی، هماغه عالم اوخوش اخلاقه دی، اوهماغه فیصله کونکی اوانصاف کونکی دی، نو دهغه په مقابله کې دنورو خلکو څه حیثیت دی؟

دا يو داسې حالت دی چې د هغه تصور کولو سره هم انسان پريشانه شي، چې د جناب علوي صاحب عقيدت مندو سره د صلحې او صفايي څنګه صورت اختيار کړل شي؟ او د هغوی په زړه کې څنګه ځای جوړ کړل شي؟ والله المستعان ولاحول ولاقوة الا بالله!

او د دې پريشاني هغه وخت په دوه چنده باندې شي، کله چې وينم چې زموږ د شيخ نورالله مرقده د ډلې خلک، د جناب مالکي رحمه الله عقيدت کې ګرفتار شوي دي او د خپلو اکابرينو مسلک د جناب د علوي رحمه الله په نظرياتو کې داخلوي.

فإلی الله المشتکی! کاش! الله تعالی موږ ته هم د تواضع او فنائيت کوم چې زموږ د شيخ نورالله مرقده خاص رنګ و، د هغه څه برخه نصيب کړ]، نو په خپلو کې د نفرت او انتشار دا منحوس سوري به زموږ نه ختم شي.

پنځم: دې ځای پورې چې ما څه ليکلی دي، هغه په دې وجه باندې دي چې ما داګڼل چې جناب شيخ محمد علوي مالکی صاحب د ښې عقيدې والا عالم دی او د هغوی په نزد باندې يو اځې د تشدد پسندو خلکو اصلاح کول دي، خو په "چارحق"، کې د حضرت مولانا قاضي مظهر حسين مد ظله العالی بريلوي د ماهنامه رسالې "جهان رضا، لاهور"، په حواله باندې يو عجيبه خبره ښکاره شوه، چې جناب مصنف محمد علوي مالکي په حقيقت کې د بريلوي عقيده لرونکی او پخواني بريلوي جناب مولانا احمد رضا خان مرحوم خليفه دی، او د جناب علوي د دې بريلوي سره دومره عقيدت دی چې علوي صاحب د هغه باره کې فرمايي:

نحن نعرف تصنفاته وتاليفاته فحبه علامة السنة، وبغضة علامة البدعة.

ترجمه: موږ ته د امام رضا د هغو کتابونو په وجه باندې پته لګيږي، د هغو سره مينه ساتل د سنتونښه، او بغض ساتل د بدعت نښه ده.

د دې ليکلو نه وروسته د حضرت مولانا قاضی مظهر حسين مد ظله د ټول مضمون فوټوسټيټ د ماهنامه "چارحق" نه نقل کيږي:

د حضرت قاضی صاحب مد ظله العالی د دې انکشاف نه وروسته د غور او فکر انداز بالکل بدل شي، او ښکاره طور باندې په نظر راځی چې:

١: "اصلاح مفاهيم"، په حقيقت کې د بريلوي نظريې د يو صاحب جناب مولانا احمد رضا خان بريلوي مرحوم د يو عقيدت مند کتاب دی، کوم چې د بريلوي عقيدې د تبليغ له پاره ليکل شوی دی

٢: د دې کتاب مقصد يو اځې د بزرګانو د تشدد اصلاح کول نه دي، (څنګه چې ما پورته د حسن ظن په وجه باندې بيان کړي و) بلکې د دې اصل مقصد د ديوبندي حضراتو په مقابله کې د بريلوي حضراتو حمايت کول دی.

۳: د جاهل، غبي، کم فهم، بدفهم او متعنت وغيره الفاظو دتکرار اصل مقصد د ديوبند دټولو اکابرينو (حضرت قطب العالم مولانا رشيد احمد ګنګوهي نه زموږ د شيخ برکة العصر مولانا محمد زکريا مهاجر مدنی پورې) تجهيل او تحميق دی.

۴: مصنف صاحب چې د ديوبند د حضراتو کوم تقريظات راجمع کړي دي، د دې اصل مقصد هم دا ښکاري چې د تقريظاتو داسې التزام په حقيقت کې د ديوبند د اکابرينو رحمهم الله خلاف د ديوبند د حضراتو خپله فتوا اخستل دي، چې ټول تقريظ ليکونکي هم خپلو اسلافو ته جاهل او ناپوهه ويلو سره اتفاق وکړي.

۵: دبريلوي حضراتو خيالونه د سعودي د مشايخو باره کې ټولو ته معلوم دي، خو جناب مالکي داحتياط په وجه باندې دشيخ الاسلام حافظ ابن تيميه رحمه الله او شيخ محمد بن عبدالوهاب نجدی رحمه الله نوم ډيرپه احترام باندې اخستی دی، او ځای په ځای باندې يې خپل کتاب کې دهغوی حوالې هم ورکړي دي.

يو داسې کس چې هغه د مولانا احمد رضاخان بريلوي مينه د سنت او دهغه مخالفت دبدعت نښه ګڼي، دهغه نه دسعودي داکابرينو تعريف کول څنګه عجيبه شان ښکاري، خو داکيدای شي دهغه مجبوری وي، چې د دې نه پرته د سعودی په ماحول کې د دې کتاب چاپ کيدل به مشکل و.

۶: زما محترم بزرګ جناب صوفي اقبال صاحب زيد مجده، او دهغه ملګري کوم چې د جناب مصنف علوي مالکی صاحب دکتاب ډير زيات خوښونکي دي، او د دې په چاپ کولو کې ډير مخکې دي، هغوی ته به هم زما په شان د مصنف صاحب سره حسن ظن شوی وي، او دا خيال به يې و چې دا بزرګ (کوم کې چې ډيرنسبتونه راجمع شوي دی) د سلفي تشدد په مقابله کې اکبر جهاد کوي، په دې وجه باندې د دوی مدد کول واجب دي، دې حضراتو ته به د جناب مصنف اصل حقيقت نه وي معلوم، ځکه چې د دې بزرګانو ارشاد دی، چې:

خبث باطن نه ګردد سالها معلوم!

که چېرې دا روايت صحيح وي، چې جناب صوفي صاحب زيد مجده، د جناب علوي مالکي صاحب مريد جوړ شوی دی، نو دا هم دهغه بې دخبري په وجه او حقيقت ته دنه رسيدو په وجه باندې دی، زما اميد دی چې زر يا څه وخت وروسته به هغوی ته د حقيقت پته ولګيږي، نو دا حضرات به خپل خيال باندې نظرثاني وکړي.

۷: دشيخ علوي مالکی صاحب د بريليانو سره تعلق لرل ښکاره شوي دي، نو دهغه په کتاب باندې د ديوبنديانو او بريليانو داتحاد او مفاهمت دعوت ورکول، په حقيقت کې د ديوبنديانو حضراتو د بريليانو حق کيدل منل دي، او دا خبره هم د اعجوبې نه څه کمه نه ده. چې دا ديوطرف دعوت د ديوبند د اکابرينو منتسبينو ته ورکول کيږي، د مولانا احمد رضاخان مرحوم دډلې يو کس هم دې دعوت کې ښکاره نه دی، نورو الفاظو کې داويل

کیدای شي چې دا دیوبندیانو ته دبریلوي کیدو دعوت دی، او دا چې زموږ اکابرین کوم چې د بدعت دطوفانونو اوسه پورې مقابله کوي، دامقابله ختمه کړل شي او عوام په بدعاتو کې مبتلا کیدو ته پریښودل شي. ولا فعل الله ذالک.

ما عاجز په بیړه یو څو نکات عرض کړل، که زړه مو وغواړي نو قبول یې کړئ، امیدلرم چې ستاسو طبیعت به صحیح وي.

والسلام! محمدیوسف عفاالله عنه

دریم لیک

جناب حضرت اقدس مولانامحمدیوسف لدهیانوي صاحب مدظله، الله تعالی دې ستاسو په ژوند کې برکت واچوي!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

عرض دادی چې زه دلیک ډیرخفګان سره لیکم، چې دډیروخت نه دمولاناعزیزالرحمن صاحب دامت برکاتهم مریدیم، اوحضرت سره مې مینه ده، دهغوی باره کې مې زړه صفادی، خو د"اصلاح مفاهیم،، کتاب دتاییدپه وجه باندې یوعالم وایي، چې اوس دهغه عقیده صحیح نه ده، یعنې ستابیعت صحیح نه دی، حضرت چې ماته کوم معمولات ښودلي دي، هغو باندې عمل کوم،تاسوهم هغه سلسلې سره تعلق ساتئ، په دې وجه باندې عرض کوم چې ماته څه کول پکاردي؟ ماته چې کومه لار اختیارول پکاردي،هغه عرض کړئ، ځکه چې تاسوته هم دحضرت اقدس شیخ الحدیث رحمه الله نه دخلافت دولت نصیب شوی دی، په دې وجه باندې راته صحیح مشوره راکړئ، مهرباني.

ستاسو بزرګانو عقیدت مند د الله تعالی یوبنده.

نوټ: داحضرات دتبلیغی جماعت خلاف هم ذهنونه جوړوي، په دې وجه باندې ماته سخت تکلیف رسیږي.

جواب: محترم ومکرم.... السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

حضرت مولانا عزیزالرحمن مدظله سره زما هم دنیازمندي تعلق دی، هغه زما خواجه صاحب دی او دوخت ډیرزیات افضل اوبهترسړی دی، خو د"اصلاح مفاهیم،، په مضمونونو کې ورسره زما اتفاق نشته، اودا زموږ داکابرینو حضرت قطب العالم ګنګوهي نورالله مرقده نه تر شیخ برکة العصرقطب العالم قدس بالکل خلاف دی، مادکتاب چاپ کونکي مولانا احمد عبدالرحمن صدیقی زیدلطفه، په اصرار باندې دکتاب باره کې خپل خیال دهغه په نوم لیک کې ښکاره کړی دی.

دکتاب مصنف جناب علوي مالکي صاحب په حقیقت کې دبریلیانو عقیدې سره تعلق ساتي، اوریدلي مودي چې صوفی محمد اقبال صاحب زید مجده، دهغه سره بیعت کړی دی، په دې وجه باندې دهغه دکتاب اشاعت کوي، والله اعلم!

داروایت دکوم حد پورې صحیح دی، جناب مولانا عزیزالرحمن صاحب دصوفي صاحب سره ډیرزیات اخلاص لري، په دې وجه باندې هغه هم دخپلو ملګروپه تاییدکې مصروف شو، اوددې تحریک نوم یې "دیوبندي بریلوي اتحادکی مخلصانه کوشش،، کیښود، حالانکه زموږ داکابرینوله طرف نه چېرې هم افتراق نه وشوی، چې هغه ته داتحاددعوت ورکړل شي، دکومو حضراتو (بریلیانو) له طرف نه چې افتراق شوی و، هغوی ته داتحاددعوت اوتلقین ورکول پکاردي.

په هرحال زماپه خیال کې دابزرګان کوم چې د"اصلاح مفاهیم" په بنیادباندې د"دیوبندي بریلوي اتحاد،، ددعوت له پاره پورته شوي دي،دابزرګان په خپل تحریک کې مخلص دي، خو دهغوی دا اخلاص دیو څو وجوهاتو له امله صحیح نه دی: والعلم عندالله!

لومړی: داچې حضرت شیخ نورالله مرقده په خدمت کې ډیروخت پاتې کیدو، اودخلافت او اجازه دخلعت ملاویدونه وروسته دعلوي مالکی سره دعقیدت اوبیعت درشتې دقائمولو څه معنا ده؟ دچا طرف ته کتل هم نه وپکار، دادحضرت شیخ نورالله مرقده سره دتعلق سره بې وفایي ده.

دویم: داحضرات دجناب مالکي صاحب په حقیقت اودهغه په نظریاتو باندې صحیح طور باندې نه دی پوه شویاونه داچې ددې صاحب دشخصیت جوړیدل دچاسره شوي دي؟ که دې حضراتوته پته وای چې داحضرت په اصل کې دجناب مولانااحمدرضاخان خانواده باندې ځان قربانوي، نوزمایقین دی چې داحضرات به دهغه په عقیدت مندوکې نه داخلیدل او دهغه دنظریاتو په خورولو کې به یې خپل صلاحیتونه نه خرابول.

دریم: د"اصلاح مفاهیم، په ذریعه باندې دې حضراتو ددیوبندیانو داصلاح کارشروع کړی دی، ددې مطلب داشوچې ددې دواړوفریقوپه مینځ کې چې داختلاف کوم میدان تقریباً د پنځویشتوکالو نه شروع ده، هغه کې ددیوبندداکابرینوغلطي وه، اوس داحضرات غواړي چې ددیوبنداکابرینوته دهغوی دغلطي احساس وشي اوددې غلطي په اصلاح کولوباندې راضی شي، بل طرف ته بریلوي حضراتو داصلاح کوشش دنوم ترحدپورې هم نشته، لکه چې ټول قصور د دیوبند داکابرینووي، اهل بدعت په خپل کارونوکې بالکل معصوم اوپه حق وي، بریلوي حضرات داخپله کامیابي ګڼي، اوپه رسالوکې ددې په ښکاره باندې اعلان کوي، که غور وکړل شي چې داصلاح دادیوطرف ټریفک، که هرڅومره داخلاص په جذبه وي، دکوم حدپورې ددې نتیجې راوځي؟

څلورم: د اصاغرو کار د اکابرو تقلید او اتباع کول او د هغوی په نقش قدم چلیدل دي، د هغوی اصلاح کول نه، زه د خپلو اکابرینو یو کمزوری نوم اخستونکی یم. او خپل اکابرین د قوت حامل ګڼم، نور خلک چې د کلونو محنت نه وروسته په کومه نتیجه رسیدلي دي، زما اکابرین د خپل خپل فراست او قوت قدسیه په وجه باندې په لومړۍ ورځ هغې نتیجې ته رسیدلي دي، خود "اصلاح مفاهیم، د تحریک اصل مقصد دادی چې زمونږ اکابرینو غلطي کړې وه، اوس دې اصاغرو ته پکار دي چې د خپلو مشرانو د غلطي اصلاح وکړي.

انالله وانا الیه راجعون!

پنځم: دې حضراتو خودا ولیدل که چیرې دیوبندیان، د بدعاتو په رد کې خپل اصول لږشان نرم کړي، نو دوا ړو فرقو کې اتحاد کیدای شي، خو د دې حضراتو نظر دې طرف ته نه دی تللی، چې بیا به د دین د تجدید او په بدعاتو باندې د رد فرض څوک اداکوي؟ او د سنتو د وسلې سره به د دین حفاظت څوک کوي؟ بیا خو به عرس، قوالي او نور داسې قسمه څیزونه د دین په بازار کې پاتې شي. **ولا فعل الله ذالک.**

شپږم: د علوي مالکي د نسبت اثر دی چې دا حضرات په ښکاره یا پټه باندې د تبلیغ مخالفت کوي او د خلکو د دې "ناروغۍ"، نه دیچ کولو له پاره فکرمن دي، حالانکه دوی ته د دې علم پکار دی چې زمونږ شیخ نورالله مرقده د تبلیغ یوه اهمه ستن وه او اهل تبلیغ د حضرت شیخ نورالله مرقده، کتابونه او د هغوی تعلیمات خپلو لو سره هغه خپروي، که چیرې د علوي مالکي صاحب په نسبت باندې د حضرت شیخ نورالله مرقده رنګ غالب وي نو د دې حضراتو نه به زیات د تبلیغ حمایت کونکي څوک نه وو.

په هرحال زه دا ګڼم چې دا حضرات په خپل ځای باندې مخلص دي، خو د دې تحریک د دوی د نظر نه ډیر څیزونه پټ کړي دي، او زه اوس هم دا امید لرم چې اوس یا څه وخت وروسته به دوی ته د خپلې غلطې احساس وشي.

تاسو له پاره زما خطا کار دا مشوره ده چې تاسو د جناب مولانا عزیزالرحمن صاحب په بیعت کې شامل اوسئ، او د هغه په ښودل شویو معمولاتو باندې پوره پابندي سره عمل کوئ، خو د علوي مالکي صاحب رنګ مه قبلوئ، بلکې د خپلو اکابرینو په ذوق او مشرب باندې عمل کوئ، که چیرې مولانا صاحب تاسو پخپله باندې د خپل بیعت نه خارج کړي، نو چرته بل بزرګ سره تعلق قائم کړئ، او د هغه نه وروسته هم د مولانا صاحب په حق کې چیرې هم دوړې نه وړه بې ادبي مه کوئ!

د ارادې نه پرته ځواب اوږد شو، تاسو ته یې په اورولو باندې معافي غواړم، او که چیرې یو لفظ ستاسو یا ستاسو د شیخ د طبیعت خلاف وي نو هغه باندې هم معافي غواړم. والسلام.

محمد یوسف عفاالله عنه ۱۴۱۵،۱۲،۲۵هـ

د ډارون نظریې ارتقا او اسلام

په تیرو ورځوکي دلته یو ډاکټرصاحب چي د تنظیم اسلامي مشرهم دی امریکې ته راغی او په خپلو خطباتو کې یې وویل چي:

د حضرت ادم علیه السلام د جسماني تخلیق په باره کي چي حضور ﷺ څه فرمایلي دي (کوم چي په صحیح حدیثونو کي محفوظ دي) هغه صحیح نه دي، ځکه چي دا د حضور ﷺ میدان نه و. له دي وجي نه په دې مسئله کې دامت له پاره د حضرت محمد ﷺ دا ارشادات دالتفات ورنه دي. بلکې فلاسفه طبیعیین (ډارون واتباعه) چي کومه نظریه وړاندې کړې ده هغه صحیح ده. په دې سلسله کښوحضراتو موږ ته خطونه راولیږل. په دې کې یو جامع خط د لوستونکو په خدمت کې وړاندې کوم. (سعید احمد بلال پوري)

سوال: د دین علماء او مفتیان په دې مسئله کې چي یو کس دا عقیده لري چي حضرت ادم علیه السلام د روح اچولو نه مخکي ژوندی و. خو حیوان په شکل کې و او په حیواني شکل کې هغه هم د جماداتو او نباتاتو د مرحلونه تیرشوی دی" **والله انبتكم من الارض نباتا**"(الاية) د دې ایت کریمه نه هغه کس د خپلي عقیدې له پاره استدلال کوي. حضرت ادم علیه السلام کې د روح اچولو نه مخکې کیفیت هغه کس. حیوان ادم ګرځوي.

دا کس د حضرت ادم علیه السلام د جسماني تخلیق په باره هم د دغه مرحلونه تیریدو او د حیوان شکل ته د رسید وعقیده لري. د کومو مرحلو تذکره چي ډارون په خپله نظر ارتقا. کې کړې ده.

د حضرت ادم علیه السلام د تخلیق په باره کي د جناب رسول اکرم ﷺ صریح، صحیح او واضح حدیثونه مبارک داکس هیڅ د اعتبار قابل نه ګني. دهغه په نزدیوا څې هغه حدیثونه قابل اتباع دي چي د علم الاحکام. یا حلال او حرام په باره کې وي. د علم الحقائق او حکمت په باره کې د حدیثونو خبره دده په نزد بله ده

داکس وایي چي څوک داګني چي د حضرت ادم علیه السلام له خاورې نه قواره جوړه شوې وه او بیا په دې بې روحه قواره کي ساه واچول شوه. نو دا کفرخونه دی خو ناپوهي ضرور ده.

داکس د حضرت ادم علیه السلام د جسماني تخلیق په باره کي تفصیل او تحقیق دنیاوي امور ګني. بیا د حضور نبي کریم ﷺ او د صحابه وو کرامو (رضوان الله اجمعین) د کجورو پیوندکاري په باب: "**أنتم أعلم بأمور دنیاکم**"والا حدیث د خپل دلیل په طور وړاندې کوي. چي د حضرت ادم علیه السلام د جسماني تخلیق په باره کې که حضور ﷺ څه واضح موقف نه دی اختیار کړی، نو دا هیڅ خبره نه ده، دا معامله د دنیاوي امورو نه ده، کومه چي د حضور ﷺ د میدان کار نه دی.

داکس ذکرشوې ټولې خبرې د ممبر د پاسه د جمعې په خطبه کې د خلکو په وړاندې بیانوي. د دې کس د ذکرشویو خبرو په رڼاکې د څواب غوښتنې امور دادي:

❁د حضرت ادم علیہ السلام د جسماني تخليق متعلق اوحديثونوپه باره کې ددې کس رويه دګستاخي اوګمراهي نه ده؟
❁حضرت ادم علیہ السلام ته حيوان ادم ويل ګستاخي نه ده؟
❁ايا داکس د تفسير باالرايې مرتکب نه شو؟
❁د حضور ﷺ او اسلاف امت عقيده د حضرت ادم علیہ السلام د خاورې د کالبوت جوړ لو ده او که نه ؟
❁ددې کس بيعت ياله ده سره څه قسم تعلق ستاسو په نزد څنګه ده؟ د کتاب او سنت په رڼاکې په تفصيلاتو موخبر کړئ او ثواب دارين حاصل کړئ.

جواب: تاسو چې ددې صاحب کوم افکار او خيالات نقل کړي دي مناسب به داوي چې اول ددې تنقيدي جائزه واخيستل شي او بيا وروسته ستاسو د سوالونو ځوابونه درکړل شي.
ستاسو سوال نه معلومېږي چې داخبره ددې صاحب په علم کې ده چې حضور ﷺ د حضرت ادم علیہ السلام په باره کې څه تصريحات ارشادات کړي دي، کوم چې داصاحب امور دنيا ګرځولو سره د توجه او التفات وړ نه ګڼي، له دې وجې به دلته په دوو خبرو باندې فکرکول ضروري دي: ١: حضور ﷺ د حضرت ادم علیہ السلام د جسماني جوړښت په باره کې امت ته څه ويلي دي؟
٢: ايا د حضور ﷺ دا ارشادات دامت له پاره د توجه وړ نه دي؟

[لومړی امر]

دادم علیہ السلام د تخليق په باره کې نبوي تصريحات

حضور ﷺ د حضرت ادم علیہ السلام د تخليق جسماني د کيفيت او د هغه د تخليق د مرحلو په سلسله کې چې کوم تصريحات فرمايلي دي، د هغه خلاصه داده چې الله تعالى کله د حضرت ادم علیہ السلام د تخليق اراده وکړه، نو د ټولې ځمکې نه يې د خاورې خلاصه واخستله، بيا يې په هغه کې او به ګډې کړې او خټه يې ترې جوړه کړله، بيا يې د څه وخته پورې هغه همداسې پرېښودله، تردې پورې چې هغه خټه توره شوه او هغې بوی وکړ او هغه متېنه (مئينه خَټه) په خير شوه، بيا له دې خټې نه يې د حضرت ادم علیہ السلام شپېته لاسه اوږد قالب جوړکړ، بيا دا قالب څه وخته پورې پروت و، تردې پورې چې وچ شو او کړنګا په کې پيدا شوه او هغه به د کدوړې په څير ټنګا کوله، په دې دوران کې به شيطان له دې قالب نه ګيرچاپېره ګرځيده او هغه به يې ټنګاو اوکوت او ويل به يې چې: ددې مخلوق په خيټه کې خلاده، له دې وجې نه به په خپل ځان باندې قابو نه شي کولی.
بيا په دې بې روحه قالب کې د روح پوک ووهل شو او له هغه ژوندی انسان جوړ شو، کله چې د هغه په نيم پورتني بدن کې روح داخل شو، نو هغه ته پرنجې ورغی او د هغه د ژبې مبارکې نه چې کومه اولني خبره ووتله هغه الحمدلله وه، چې په دې باندې الله تعالى په ځواب کې وفرمايل: ،،يرحمک ربک،، (ستارب دې په تا رحم وکړي) حضرت ادم علیہ السلام چې په کوم وخت

کې پيدا شو، هغه وخت کې د هغه قدشپيته لاسه اوږد و او د هغه ټول جسماني اندامونه ظاهري اوباطني قوي کامل اومکمل و. هغه د غټېدا د هغو مرحلونه تير نه شو چې په هغو باندې د ادم اولاد تيريدو سره د غټېدا خپل اخري مدارجو پورې رسيږي.

دا خلاصه ده د حضور ﷺ د ګڼو ويناوو چې له هغوی نه د حضرت ادم علیه السلام د تخليق په باره کې نقل شوي دي، زه د دې ګڼو حديثونونه دلته يوازې په څلورو باندې اکتفا کول غواړم:

اول حديث:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خلق الله عزوجل آدم على صورته، طوله ستون ذراعا، فلما خلقه قال: إذهب فسلّم على اولئك النفر! وهم نفر من الملئكة جلوس، فاستمع مايحيونک به؟ فإنها تحيتک وتحية ذريتک، قال: فذهب فقال: السلام عليكم! فقالو: السلام عليک ورحمة الله! قال: فزادوه "ورحمة الله" قال: فكل من يدخل الجنة على صورة ادم وطوله ستون ذراعا، فلم يزل الخلق ينقص بعده حتى الآن. (صحيح بخاري ج:٢ ص:٩١٩، صحيح مسلم ج:٢ ص:٣٨٠، مسند احمد ج:٢ ص:٢٤٤)

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه د حضور ﷺ نه روايت کوي چې: الله تعالى حضرت ادم علیه السلام په داسې صورت باندې پيدا کړی دی، چې د هغه قد شپيته لاسه و، کله چې هغه پيدا شو، نو هغه ته يې وفرمايل چې: لاړ شه، د دې ډلې ته سلام وکړه. دلته د فرښتو يوه ډله ناسته وه. واوره، چې دوی تاته څه ځواب درکوي؟ ځکه چې هم دغه به ستا او ستا د اولاد سلام وي. حضرت ادم علیه السلام ولاړ او فرښتو ته يې، السلام عليکم. ووېل. هغوی ورته په ځواب کې وويل: وعليک السلام ورحمة الله، فرښتو په ځواب کې د "ورحمة الله" لفظ اضافه کړ. حضور ﷺ وفرمايل چې: څومره کسان چې جنت ته داخليږي هغوی به د حضرت ادم علیه السلام په صورت باندې وي اوهغوی قد به شپيته لاسه وي. بيا وروسته د انسانانو قدونه واړه کيدل چې د دې سلسله تر اوسه پورې جاري ده.

حافظ الدنيا ابن حجر عسقلاني رحمه الله، د حضور ﷺ وينا: الله تعالى حضرت ادم علیه السلام د هغه په صورت باندې پيدا کړ، په شرح کې ليکي:

والمعنى أن الله تعالى أوجده على الهيئة التى خلقه عليها لم ينتقل فى النشأة أحوالا، ولاتردد فى الأرحام أطوارا كذريته، بل خلقه الله رجلا كاملا سويا من اول مانفخ فيه الروح، ثم عقب ذلك لقوله، وطوله ستون ذراعا. (فتح البارى ج:٦ ص:٣٦٦، كتاب الانبياء باب خلك آدم وذريته)

ترجمه: د دې حديث مطلب دادی چې الله تعالى حضرت ادم علیه السلام په کوم شکل او هيئت باندې پيدا کړ هغه ته يې هم په هغه هيئت او شکل باندې وجود ورکړ. هغه د خپل اولاد په شان د

پيدائش د مختلفو مرحلونه تيرشو، نه د مور په خيټه کې د يو حالت نه بل حالت ته منتقل شو. بلکې الله تعالى د هغه تخليق داسې وکړ، چې د نفخ روح په وخت کې هغه کامل سړی و او د هغه ټول جسماني طاقتونه د کمال په درجه کې و. له دې وجې نه يې وفرمايل چې د غه وخت کې د هغه قد شپيته لاسه و.
د دې حديث هم دغه تشريح ډير علماوو کړې ده.

دويم حديث

"عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الله تعالى خلق آدم من قبضة قبضها من جميع الأرض فجاء بنو آدم على قدر الأرض، منهم الأبيض والأحمر والأسود و بين ذلك، والسهل والحزن والخبيث والطيب. (ترمذي ج:٢ ص:١٢٠، ابوداود ج:٢ ص:٦٤٤، مسند احمد ج:٤ ص:٤٠٠، مستدرک حاکم ج:٢ ص:٢٦١، صحيح ابن حبان، الاحسان، ج:٩ ص:١١)
ترجمه: د حضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: بې شکه الله تعالى حضرت ادم عليه السلام د خاورې د موټې نه پيدا کړ. کومه يې چې د ټولې ځمکې نه اخستې وه او د ادم اولاد په ځمکه باندې د اندازې مطابق ظاهرشول، په دوی کې ځوک سپين دي، ځوک سره دي، ځوک توردي او ځوک د دې رنګونو په مينځ کې، ځوک نرم، ځوک سخت، ځوک خبيث او ځوک پاک دي.

دريم حديث

عن أنس رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لما صور الله آدم في الجنة تركه ماشاء الله أن يترک، فجعل إبليس يطيف به ينظر ماهو، فلما رآه أجوف عرف أنه خلق خلقا لا يتمالک. (صحيح مسلم ج:٢ ص:٣٢٧، مسند احمد ج:٣ ص:٢٤٠، مسند طيالسی ص:٣٧٠ حديث:٢٠٣٤)
ترجمه: د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: کله چې الله تعالى په جنت کې د ادم عليه السلام صورت جوړ کړ، نو هغه يې په هغه حالت کې پريښود څومره موده چې الله تعالى ته منظوره وه، نو شيطان به له هغه نه ګيرچاپيره تاويده د دې د کتولو په پاره چې داځه شی دی؟ کله چې هغه وليدل چې دده په خېټه کې خلاده، نو هغه پوه شو چې دده تخليق داسې شوی دی چې دی به په خپل ځان باندې قابو نه کړای شي.

ځلورم حديث:

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: إن الله خلق آدم من تراب، ثم جعله طينا، ثم تركه حتى إذا كان حمأ مسنونا خلقه وصوره، ثم تركه حتى إذا كان صلصالا كالفخار، قال: فكان

إبليس يمر به فيقول: لقد خلقت لأمر عظيم ا. ثم نفخ الله، فيه من روحه. فكان أول شيء جرى فيه الروح بصره وخياشيمه. فعطس فلقاه الله حمد ربه. فقال الرب: يرحمك ربك... الخ.

(فتح الباري ج:٦ ص:٣٦٤، مسند ابو على ج:٦ ص:٩٧، حديث: ٦٥٤٩. مجمع الزوائد ج:٨ ص:١٩٧)

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه دحضور صلى الله عليه وسلم ارشادنقل کوي چې: بې شکه الله تعالى حضرت ادم عليه السلام دخاورې نه جوړکړ، بيايې په دې خاوره کې اوبه واچولې، بيايې هغه پرېښودله، تردې پورې چې توره خټه ترې جوړه شوه، بيايې دهغه قالب جوړکړ، تردې پورې چې په اوورکې دېخ شوي په شان وټنګيده، ابليس به دهغه په خواکې تيريده، نوويل به يې: ته دڅه لوی کارله پاره جوړ شوی يې، بياالله تعالى په دې قالب کې خپل روح واچاو. له ټولونه مخکې چې په کوم شي کې روح جاري شوهغه دحضرت ادم عليه السلام سترګې اوسپږمې وې، هغه ته پرنجی ورغی، نوالله تعالى هغه ته دالحمدلله ويلوالهام وکړ، هغه الحمدلله وويله، نوالله تعالى په ځواب کې وفرمايل: ، يرحمک ربک! (ستارب دې په تاباندې رحم وکړي)

ددې حديثونوخلاصه اومضمون مخکې ذکرشوی دی اوس په دې باندې غوروکړئ چې په دې احاديثو کې دتخليق ادم کوم مدارج چې ذکر شوي دي اوددې تخليق چې کوم کيفيت بيان شوی دی دقران کريم له ډيرايتونونه ددې تصديق شوی دی:

اول: داچې حضرت ادم عليه السلام تخليق بلاواسطه دخاورې نه وشواودادهغه دتخليق دپيل نقطه ده، دالله تعالى ارشاددی:

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ (ال عمران:٥٩)

ترجمه: بې شکه دحضرت عيسى عليه السلام عجيبه حالت دالله تعالى په نزد دحضرت ادم عليه السلام په شان دی، چې دهغه قالب يې دخاورې نه جوړکړ، بيايې ورته حکم وکړ چې ژوندی شه! هغه ژوندی شو (ترجمه حضرت تهانوي)

دويم: داچې په خاوره کې اوبه واچول شوې، دالله تعالى ارشاددی:

إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِّن طِينٍ (ص: ٧١)

ترجمه: کله چې ستاسورب فرښتوته وفرمايل چې: زه دخټې نه دانسان (يعني دهغه دقالب) جوړونکی يم. (ترجمه حضرت تهانوي)

دريم: داچې خټه دډيرې مودې پورې پرته وه، تردې پورې چې توره شوله اودهغې نه بوی راغی، دالله تعالى ارشاددی:

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ (الحجر: ٢٦)

ترجمه: اوموږ انسان دکړنګيدلې خاورې نه، چې بدبويه شوې خټې نه جوړه شوې وه پيدا کړ. (ترجمه حضرت تهانوي)

څلورم: داچې د يروخت پورې پرتې وه څکه په کې د انبنتلو صلاحيت پيدا شو، ارشاددى:
إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ .(الصافات: ١١)
ترجمه: مونږ داخلک د سريښناکې خاورې نه پيدا کړل.(ترجمه حضرت تهانوي)
پنځم: داچې د دې خاورې نه يې قالب جوړ کړ چې وچ شو نو ټنګيده، ارشاددى:
وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِّن صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ .(الحجر: ٢٨)
ترجمه: اوکله چې ستاسو رب ملائکوته وفرمايل چې زه يوانسان ته چې د ټنګيدونکې بدبويه ختې نه پيدا کونکى يم. (ترجمه حضرت تهانوي)
خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ .(الرحمان: ١٤، ١٥)
ترجمه: هغه انسان له داسې خاورې نه چې دکدرې په شان ټنګيدله پيدا کړلاو پيريان يې د خالص اورنه پيدا کړل.(ترجمه حضرت تهانوي)
شپږم: داچې کله د حضرت ادم عليه السلام قالب د پورتنيو مدارجونه تيرشول، نو په هغه کې روح واچول شو، دا د هغه د تخليق تکميل و، ارشاددى:
إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِّن طِينٍ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ(ص: ٧١، ٧٢)
ترجمه: اوکله چې ستارب فرښتوته وفرمايل چې زه له ختې نه يوانسان(يعني د هغه قالب) جوړونکي يم، کله چې زه هغه پوره کړم اوپه هغه کې خپل روح واچوم نوتاسو ټول د هغه په وړاندې په سجده پريوځئ! (ترجمه حضرت تهانوي)

الله تعالى حضرت ادم عليه السلام په خپلو لاسونو جوړ کړ

په قران کريم کې داهم وضاحت شوى دى چې د حضرت ادم عليه السلام تخليق الله تعالى په خپلو لاسونو وکړ، لکه چې ارشاددى:
قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ الْعَالِينَ .(ص: ٧٥)
ترجمه: الله تعالى وفرمايل چې: اې ابليسه! ته کوم شي هغه ته له سجدې کولو نه منع کړې.(ترجمه حضرت تهانوي)
داخو ظاهره ده چې ټول مخلوق الله تعالى پيدا کړې دى، خود حضرت ادم عليه السلام په باره کې يې چې وفرمايل: ما دى په خپلو لاسونو جوړ کړ، د دې سره د حضرت ادم عليه السلام د عظمت او شرافت اظهار مقصود دى، يعني د هغه تخليق توالدو تناسل معروفې طريقې سره ونه شو، بلکې الله تعالى په خپلو لاسونو د خاورې نه جوړ کړ او په هغه کې يې روح واچاو.
امام ابوالسعود رحمه الله د دې ايت په تفسير کې ليکي:
أي: خلقه بالذات من غير توسط أب وأم. (تفسير ابي السعود ج: ٧ ص: ٢٢٦)

ترجمه: يعنې ماد دمورپلار له واسطې پرته پخپله پيدا کړ.
ددې تفسيرنه معلومه شوه چې حضرت ادم عليه السلام په باره کې:
خلقت بيدي. (ماهغه په خپلولاسونوجوړ کړ)سره وفرمايل دا دلوی حقيقت اظهاردی، چې دده تخليق دتولداوتناسل په معروفې طريقې سره نه دی شوی.هم دې ځای نه دعقل خاوندانو ته پوهيدل پکاردي چې دکوم شخصيت تخليق کې دمورپلار واسطه هم قدرت ته منظورنه وي دهغه په باره کې دادعوه کول چې:هغه جمادات.نباتات.حيوانات.او بيزوګانو شکل بدليدوسره په انساني شکل کې راغی،څومره لوی ظلم به وي.... غرض داچې **خلقت بيدي**، قراني الفاظو سره چې يو خوادحضرت ادم عليه السلام دتوالداوتناسل په ذريعې سره دپيدا کيدو نفی کيږي،هلته دې سره دجمادات، نباتات، اوحيوناتواوبيزوګانوارتقايي مرحلونه تيريدونه وروسته په انسان جوړيدل په درجه اولی نفې کيږي.له دې وجې نه داهل ايمان په نزدحق هماغه دي کوم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي ،دکوموتفصيلات چې پورته تيرشوي دي.

دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره کې دا نبياء عليهم السلام عقيده

دقران کريم دوينا: "**خلقت بيدي**"(ماهغه په خپلولاسونوجوړکړ)مفهوم په ښې طريقې سره ذهن نشين کولونه وروسته اوس په دې باندې غوروکړئ چې په دې باره کې دحضرات انبياکراموڅه عقيده وه؟
دحديثوتقريباًپه ټولومشهوروکتابونو:(صحيح بخاري،صحيح مسلم، ابوداود، ترمذي، ابن ماجه،موطاامام مالکاومسنداحمدوغيره)کې دحضرت موسی اوحضرت ادم عليه السلام مباحثه ذکر ده، حضرت موسی عليه السلام حضرت ادم عليه السلام ته وفرمايل:
"أنت آدم الذى خلقک الله بيده ونفخ فيک من روحه وأسجدلک ملئکته وأسکنک فى جنته."(مشکوة ص:١٩)
ترجمه: ته هغه ادم عليه السلام يې چې الله تعالی په خپلو لاسونو جوړ کړې اوپه تا کې يې خپل روح واچاو ،په خپلو فرښتويې درته سجده وکړله اوته يې په خپل جنت کې اووسولې.
دحضرت موسی عليه السلام په دې وينا کې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره کې ټيک هماغه الفاظ استعمال شو ي دي چې په مذکورة الصدرايت شريف کې راغلي دي،يعنې دالله تعالی دحضرت ادم عليه السلام په خپلولاسونوجوړول اودهغه په قالب کې دخپل طرف نه روح اچول،له دې نه واضحه کيږي چې دحضرات انبياء کراموعليهم السلام هم دغه عقيده لرله.چې دحضرت ادم عليه السلام قالب الله تعالی په خپلولاسونوجوړکړ اوپه هغه کې يې روح واچاو،هغه د توالد او تناسل معروفې طريقې سره انسان نه.دی جوړشوی،نه دجمادات،ونباتاتاوحيوانات او بيزوګانو شکل بدليدوسره انسان جوړشوی دی.

دقيامت په ورځ به هم اهل ايمان ددهمدې عقيدې اظهاركوي

حديث شفاعت کې راځي چې اهل ايمان به دقيامت په ورځ دشفاعت کبرى له پاره له ټولو نه وړاندې دحضرت ادم عليه السلام په خدمت کې حاضرشي اوهغه ته به عرض وکړي:

أنت آدم أبوالناس ,خلقک الله بيده, وأسكنک جنته وأسجدلک ملئكته وعلمک اسماء كل شيء. (مشكوة ص:٤٨٨)

ترجمه:: ته ادم يې، دټولو انسانانو پلار، الله تعالى ته په خپلو لاسونو جوړکړې اوته يې په خپل جنت کې اووسولې اوپه خپلو فرښتويې درته سجده وکړله اوتاته يې دټولوو شيانودنومونه دروښودل.

ددې حديث نه ثابتيږي چې دقيامت په ورځ به اهل ايمان هم ددې عقيدې اظهاركوي، چې د حضرت ادم عليه السلام تخليق الله تعالى په خپل لاس سره وکړ، دخاورې نه يې دهغه قالب جوړکړ او روح پکې واچاو اوهغه يې ژوندی انسان جوړکړ، دهغه په تخليق کې نه دتوالداوتناسل واسطه وه اونه دجماداتونه دبيزوګانو پورې دارتقايي مرحلو تيريدونه وروسته انسان جوړشو. دقران كريم ښكاره ايتونه، دحضور صلی الله عليه وسلم مبارکې وينا وې، دحضرت موسى عليه السلام فرمودات اود محشرپه ميدان کې دايمان لرونكو تصريحات ستاسوپه وړاندې موجود دي، كوم كس چې په دې ټولو امورو باندې دانصاف په نظرسره غوروكړئ ،نو هغه ته به درڼا ورځې په شان دا حقيقت ښكاره شي چې دحضرت ادم عليه السلام دجسماني تخليق په باره کې حقيقي واقعه هم دغه ده كومه چې حضور صلی الله عليه وسلم بيان کړې ده اوددې ضاحب دفلاسفه وو دطبيعيينو تقليد او تخليق ادم عليه السلام ته كرشمه ارتقاء ګرځول په صريح طورسره غلط اودنصوصو نه قطعي انحراف دي. والله يقول الحق وهويهدي السبيل.

دويم امر

دنبوي حديثونوپه باره کې ددې كس دخيالاتواظهار

ددې كس داويل چې:په دې مسئله کې نبوي حديثونه دتوجه اواعتباروړ نه دي. په څو وجو دجهل ښكاردي:

اول: پورته چې دقران كريم كوم واضح ايتونه بيان شوي دي كه هغه دنبوي وينا وو سره يوځاى ولولې ،نوواضحه به شي چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دتخليق ادم عليه السلام په باره کې څه فرمايلي دي هغه هم ددې واضحه ايتونوشرح اوتفصيل دى اوكومه مسئله باندې چې قران اوحديث دواړه متفق وي ، نوهيڅ يومومن ته له هغه نه دانحراف ګنجائش نه وي، كوم كس چې له الهي فرمان اونبوي ارشاداتو تسليمولونه وروسته كيږې په خپله انصاف وكړئ چې په ايمان اواسلام کې دهغه څومره برخه ده؟

دويم: بالفرض كه دقران كريم سره ددې حديثونو تائيدنه كيداى .نوبيا هم دحضرت محمد ﷺ د ارشاداتو اوريدلوسره ويل چې .دا دتوجه او اعتبار وړ نه دي.بارګاه رسالت كې بې حده جسارت او ګستاخي ده،چې داوريدلوبې يومومن هم تاب نه شي راوړلی.چې ددې په اوريد وسره دايمان روح په لړزان شي،بياكه يومسلمان داسې موذي الفاظ په ژبه باندې دراويستلوجرات وكړي،لږشان سوچ وكړئ! چې كوم وخت كې حضور ﷺ دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره كې دا حقائق بيانول نوكه يوكس(بالفرض هم داصاحب)به دحضور ﷺ په وړاندې داويل وي چې: نعوذبالله،، داستاميدان كار نه دی،بلكې داد ډارون ميدان تحقيق دی،نوووايئ چې داسې كس به په كوم صف كې شمار يږي؟

حافظ ابن حزم رحمه الله ليكي:

وكل من يكفر بما بلغه وصح عنده عن النبي صلى الله عليه وسلم أو جمع عليه المومنون مماجاء به النبي عليه السلام فهوكافر اكما قال الله تعالى: ومن يشاقق الرسول من بعد ما تبين له الهدى ويتبع غير سبيل المومنين نوله ماتولى ونصله جهنم. (المحلى ج:١ ص:١٢)

ترجمه: اوهرهغه كس چې دڅه داسې خبرې نه انكار وكړ،كومه چې دحضور ﷺ نه رارسيدلې وي اودهغه په نزد ددې ثبوت له حضور ﷺ نه صحيح و،ياهغه دداسې خبرې نه انكار وكړ په كومه چې داهل ايمان اجماع وي چې حضور ﷺ فرمايلي ده، نوداسې كس كافردی،لكه دالله تعالى ارشاددی : اوچاچې درسول الله ﷺ مخالفت وكړ،له دې وروسته چې هغه ته هدايت واضح شو اوهغه داهل ايمان لاره پريښودله .نوموږ به هغه وګرځو كوم خوا چې ګرځي اوموږ به هغه جهنم ته داخل كړو.

دريم: حضور ﷺ چې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره كې كوم تفصيلات بيان كړي دي، ددې په باره كې دغور وړ خبره داده چې حضور ﷺ ته ددې خبرې علم كومې ذريعې سره وشو؟ ښكاره ده چې انبياءكرامو عليهم السلام سره له وحې الهي نه پرته كومه ذريعه نه وي، لهذادعقلي دليل نه ثابته ده چې حضور ﷺ په دې سلسله كې چې څه بيان كړيدي دهغو سرچينه وحې الهي كيداى شي اوددې ردكول ګوياوحې خداوندي ردكول دي اوظاهره ده چې داكارديوكافراومنافق كيداى شي ديومسلمان نه،خصوصاً كله چې دلته داحقيقت په نظركې وساتل شي چې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق واقعه دهغه دور ده كوم چې مورخين قبل از تاريخ كې شميري اوكله چې هغه وخت كې څوك انسان موجودنه و ،نودهغه دور دتاريخ او واقعاتوتفصيلات به چاليكل ؟اوالله تعالى چاچې دحضرت ادم عليه السلام تخليق وكړ داپوره واقعه دهغه په وړاندې وه اوددې دضروري تفصيلاتونه الله تعالى حضور ﷺ خبركړ او حضور ﷺ په دې تفصيلاتوباندې امت خبركړ،ددې باوجود چې دحضور ﷺ داصحيح ارشادات ردكول اودفلاسفه وو دافواهاتو تقليدكول اياديوصاحب دايمان شان كيداى شي؟

څلورم: دحضور ﷺ دافرمايل چې:دحضرت ادم عليه السلام تخليق داسې وشو..دايوخبر دی او خبربه ياخودواقعې مطابق وي،يابه دواقعې خلاف وي،كوم خبرچې دواقعې مطابق وي ورته رښتونی خبرويل كيږي اوخبرورکونکی رښتونی ګڼل كيږي اوکوم خبرچې دواقعې خلاف وي هغه ته ددروغوخبروايي اوخبرورکونکی دروغژن ګڼل كيږي اوس داصاحب چې كوم څه وايي چې: حضور ﷺ چې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره کې كوم خبرورکړی دی هغه دواقعې خلاف دی،اهل عقل دې غوروکړي چې ددې مطلب څه كيدای شي؟ ايا دا د حضور ﷺ صريح تکذيب نه دی؟ اوايادا خبره عقلاً ممكن ده چې يوكس دحضور ﷺ ورکړل شوی خبرغلط ګڼي اوهغه باندې ايمان هم لري؟هيڅ كله نه! ضدان لا يجتمعان!(دادواړه ديوبل ضد دی،چې كله هم جمع كيدای نه شي)

پنځم: ددې صاحب داويل چې:دحضرت ادم عليه السلام دتخليق واقعه ددنيا له امورو نه ده،ځکه دحضور ﷺ ارشادات دالتفات وړنه دي،دده ددليل صغری اوكبری دواړه غلط دي،ځکه چې خبره دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره کې ده اوهرکس ته پته ده چې تخليق دالله تعالی كاردی اوخالقيت دهغه صفت دی اوس دې له دې صاحب نه پوښتنه وکړل شي چې دالله تعالی صفات اوافعال بيانول،دحضور ﷺ منصب دی يا(نعوذبالله)ددې اړون دميدان كاردی؟ اوداچې په الهي صفاتو بيانولو کې دهمده دخبرې مطابق،دحضور ﷺ ارشادات عاليه لائق التفات نه دي ،نوبيابه په كوم شی کې درسول الله صلی الله عليه وسلم خبره داعتماد وړ وي؟ نعوذبالله من سوء الفهم وفتنة الصدر!

دالله تعالی دصفاتو اوافعالو هغه ميدان دی چيرته چې دعقل پښې شلې دي،داهغه فضاده چيرته چې دعقل اوفکروزرې سوځي اوانساني عقل دالهي حقائقو پوره ادراک كولونه عاجزه دی،چيرته چې سيدالانبياء صلی الله عليه وسلم پورې په دې ويلوباندې مجبور دی:

اللّهم لا أحصی ثناء عليک أنت كما أثنيت علی نفسک. ترجمه :ياالله!زه ستادتعريف حق اداكولونه قاصريم،ته بس هماغه شان يې څنګه چې تاخپله ثناء په خپله كړې ده.

هلته دبل دعقل درسيدلو او دعجز اودرماندګۍ څه پوښتنه كوې؟ همدا وجه ده چې كومو فلاسفه وو دانبياء كرامو عليهم السلام لمن پريښې ده اويواځې دخپل نه رسيدونکي عقل په اسونو باندې سواره شوي ،په دې ميدان کې تږپونه وهي هغوی ته دحيرت اوګمراهي نه پرته نورهيڅ په لاس ورنغلل،دادالله تعالی انعام دی چې ددې انبياءكرام عليهم السلام په ذريعې سره يې دومره الهي حقايقوکې څه برخه بيان كړه دكومې چې انساني عقل تحمل كولای شو،څومره عجيبه خبره ده چې يودمسلماني دعويدارد انعام الهي شكراداكوي اود حضور ﷺ ارشاداتوته د ناقابل التفات ګرځولوسره دفلاسفه وواومحلدانودلګۍ نيولو تلقين كوي.

شپږم: ددې صاحب داویل چې:حضور ﷺ دحضرت ادم علیه السلام دتخلیق په باره کې څه واضح موقف نه دی اختیار کړی،خالص دروغ اوحضور ﷺ باندې افتراء ده،ځکه چې په تیروکړښوکې تاسوولیدل چې حضور ﷺ دپوره وضاحت او تشریح سره فرمایلي دي چې الله تعالی دټولې ځمکې نه خاوره راغونډه کړه ،هغه یې په اوبو خشته کړه،بیایې ددې ختې نه دحضرت ادم علیه السلام شپیته لاسه اوږد قالب جوړکړ،بیایې په دغه قالب کې روح واچاو اوداسې نور.....

ددې ټولو وضاحتونو نه وروسته څوک داخبره کولی شي چې:په دې مسئله کې حضور ﷺ څه واضحه موقف نه دی اختیار کړی؟اوکه ددومره وضاحت اوتاکید سره بیان شوې مسئلې په باره کې هم دا وویل شي چې:حضور ﷺ په دې باندې څه واضح موقف نه دی اختیارکړی ،نوتاسو ووایئ چې ددې نه زیات واضح موقف په کوموالفاظوسره بیانېدای شي؟

د "أنتم أعلم بأمردنیاکم" تشریح

ددې صاحب دحضور ﷺ له ارشاد:"أنتم أعلم بأمر دنیاکم"نه داکلیه راویستلې ده چې ددنیاپه هېڅ کارکې دحضور ﷺ ارشادات دالتفات وړنه دي،په دې سلسله کې څوگزارشات وړاندې کول غواړم:

اول: دې صاحب ددې حدیث په کتواودې ته غلطه معنا ورکولونه مخکې که دقران کریم دکتلو زحمت کړی وای ،نوددې حدیث دغلطې معنا کولوجرات به یې نه و کړی.

په قران کریم کې دالله تعالی ارشاد دی:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا. (الاحزاب: ٣٦)

ترجمه:اوهیڅ ایمان دارسړي اوایمان دارې ښځې ته گنجائش نشته ،کله چې الله تعالی اودهغه رسول حکم وکړي چې (بیا)دې(مومنانو)نه دې کارکې څه اختیارباقي پاتې شي اوکوم کس چې دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ حکم ونه مني هغه په صریحه گمراهي کې پریوت (ترجمه حضرت تهانوي)

داایت شریف دیوې دنیاوي معاملې په باره کې نازل شو،ددې واقعه په لنډ ډول داده چې:حضور ﷺ دخپلې ترور دلورحضرت زینب بن حجش رضی الله عنها واده دحضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه سره کول غوښتل،چونکه زیدغلام پاتې شوې واودیخواحضرت زینب بنت حجش دقریش داعلی ترین خانداندسترگوتور و ،له دې وجې نه دهغوی خاندان والاوو ته دخانداني وقارپه لحاظ سره دا رشته بې جوړې محسوسه شوه اوحضرت زینب اودهغې وروړحضرت عبدالله بن حجش ددې رشتې له منلو عذر وړاندې کړ،په دې باندې دا ایت نازل شو،نودواړو دزړه له کومې ددې اطاعت وکړ.

دلته دوه خبرې خاص طورسره دغور وړ دي:
يوه داچې ديوې انجلۍ رشته چرته وکړل شي اوچرته ونه کړل شي؟ديوخالص ذاتي او شخصي قسم دنياوي معامله ده،خو ديوکس خالص ذاتي اوشخصي معامله کې دخل کولو سره چې حضورﷺ يوځاى کې رشته منظوره کړه ،نودقران کريم ددې قطعي حکم په روى سره دهغه خاندان ته په خپله ذاتي دنياوي معامله کې هم اختيارپاتې نه شو،بلکې دحضورﷺ تجويزدزړه له اخلاصه منظورول دايمان شرط وګرځول شو.
دويمه دغورقابل خبره داده چې حضورﷺ ددې رشتې چې کوم تجويزکړى و،په هيڅ يوروايت کې نه دي راغلي،چې داتجويزوحې الهي سره و،خو قران کريم دحضورﷺ دې ذاتي تجويزته،،دالله تعالى اودرسولﷺ فيصله ګرځولوسره ټولو خلک په دې باندې خبر کړل چې څه دنياوي معامله کې دحضورﷺ ذاتى تجويزهم دالله تعالےٰ فيصله ده،چې دهغې نه انحراف دهيڅ يومسلمان له پاره روانه دى.
قران کريم خودحضورﷺ ذاتي رايه هم دالله تالى حتمي فيصله ګرځوي،خودې بدمذاقي داډه ورکړ چې ويونکى داوايي چې:دحضورﷺ فيصله په دنياوي کارکې معتبره نه ده.
بياقران کريم امت ته تلقين کوي:
وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا . (الحشر:٧) ترجمه::رسول الله (ﷺ)چې تاسوته څه درکړي هغه واخلئ !اوله څه نه موچې منع کړي له هغه منع شئ!
خونن ويل کيږي چې دحضرت ادمعليه السلام دتخليق په باره کې چې حضورﷺ تاسوته څه خبردرکړى هغه مه قبلوئ،بلکې د ډارون په نظريه کې انسان دبيزو اولاد وګرځوئ!(انالله وانا اليه راجعون)
دويم: حضورﷺ دانساني ژوندبې شميره اړخونه اود انسانيت درهنمايي اودنياوي امورو په زرګونوګرانې خبرې حل کړي دي،کومې چې دامت عالمان دحضورﷺ په معجزاتوکې شميري.
قاضي عياض رحمه الله ليکي: ومن معجزاته الباهرة ماجمعه الله له من المعارف والعلوم وخصه به من الإطلاع على جميع مصالح الدنيا والدين...الخ.
ترجمه :او دحضورﷺ له روښانه معجزو نه يوه هغه علوم اومعارف دي چې الله تعالى دهغه له پاره راجمع کړلاو هغه يې (دانسانى ضرورت)دټولو دنياوي مصالحواطلاع سره مخصوص کړ.
حضورﷺ دانسانى ژوندپه ټولو شعبوکې چې کوم ټوليز تعليمات فرمايلي دي بې شکه دې ته معجزات نبوت اوتعليم الهى ويل کيداى شي،دمثال په طورباندې دطب اومعالجې باب واخلئ،ظاهره ده چې علاج معالجه يوخالص بدني ،جسماني اودنياوي شى دى،خو

حضور ﷺ داسې اصول او کليات او فروع وجزئيات بيان کړي دي چې عقل حيران دی، د حافظ شيرازي رحمه الله عليه د قول مطابق:

نگارمن که به مکتب نرفت وخط ننوشت بغمزه مسئله اموز صد مدرس شد

دعلم خاوندانو دطب نبوي ﷺ په نامه لوی لوی کتابونه ليکل دي او حافظ ابن قيم رحمه الله عليه په زادالمعاد کې ددې ډيره ذخيره راجمع کړې ده، دلته بې واره مې زړه ددې واقعې ذکرکول غواړي چې په صحيح بخاري، صحيح مسلم، ترمذي اوحديثو په ډير کتابونوکې مروي ده چې: يو صاحب راغی اوعرض يې وکړچې: زما رورته داسهال (دستونو) تکليف دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هغه له شهدورکړه: هغه شهدورکړل او وروسته بيا راغی اوعرض يې وکړچې: ما شهد ورکړل خودې سره دستونه نورهم زيات شول، ويې فرمايل: ده ته شهدورکړه! ځلورځله هم دغه کيسه راپيښه شوه، دهغه په دستونوکې اضافه وشو، حضور ﷺ په ځلورم ځل وفرمايل چې:

صدق الله وكذب بطن اخيك. (جامع الاصول ج:٧ ص:٥١٧)

ترجمه: دالله تعالی کلام رښتونی دی او ستاد وروړ خيټه دروغژنه ده.

هغه بيا شهدورکړل، نو دهغه دستونه بند شول.

حضور ﷺ دقران کريم دایاتونو په رڼاکې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق کومه واقعه چې وفرمايله دهغې په مقابله کې ددې صاحب داويل چې: دحضرت ادم عليه السلام تخليق داسې نه دی شوی، په دې باره کې هم دا ويل کيدای شي چې:

صدق الله ورسوله! وكذب داروين والدكتور.

ترجمه: دالله تعالی او دهغه درسول فرمان رښتونی دی او ډارون او ډاکټر دروغ وايي.

په يو طب او معالجه باندې څه منحصر دی، دژوند ديوې شعبې نوم خوواخلئ چې په کومه کې حضور ﷺ رهنمايي نه وي کړې او دحضور ﷺ له هدایاتونه محرومه پاتې شوي وي، تگ راتگ، ناسته پاسته، ويده کيدل، ښځې، بچو اوخپل خپلوانو سره ملاقات، صلح او امن، جنگ وجگړه، نکاح طلاق، بيع وشراء، سياست اواداب، الغرض دنياوي اموروکې کوم يو داسې امردی چې په هغو کې معلم انسانيت دهدایاتو او تعليمات نقوش موجود نه وي، دصحيح مسلم او ابوداود، نسائی او ترمذي کې حديث دی چې يهودو او مشرکانو په حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه باندې اعتراض وکړ:

قد علمكم نبيكم كل شيء حتى الخراءة؟ قال: اجل! (جامع الاصول ج:٧ ص:١٣٣)

ترجمه: تاسو ته ستاسو نبي هرڅه ښائي، تردې پورې چې بول اوبراز (ميتيازې) هم، ويې فرمايل: هو! (موږته حضور ﷺ دبول برازدا اداب هم ښودلي دي)

ددې اعتراض نه ديهودانو مقصد ،والله اعلم. ياخوپه مسلمانانوباندې نکته چيني کول و ،چې تاسوداسې کم عقل يئ چې تاسوته متيازې کول هم نه درځي،تاسوددې له پاره هم دنبي دتعليم محتاج يئ؟ياددې لعين مقصدرسالت ماب ﷺ باندې اعتراض کول و ،چې انبياء کرام داعلی علمونه ښودنې له پاره راځي،داخه نبي دی چې خلکوته دمتيازو دطريقوتعليم ورکوي.

حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه دهغوی دې بيهوده اعتراض نه مرعوب نه شو. بلکې دايې وفرمايل چې:هو!موږته زموږ نبي دبول وبراز طريقه هم ښودلې ده اوهغه په دې باره کې دفلاني فلاني اداب تعليم ورکړی دی...که ددې مقصدپه مسلمانانوباندې اعتراض کول و ،نوددې ځواب به داوي چې دالله تعالی شکر دی چې موږخود حضور ﷺ نه بيت الخلاء ته دتلوطريقه زده کړې ده،تاسوخپل فکرکوئ،چې تاسودځناورپه شان داطبعي ضرورت پوره کوئ،خودانسانانوله طريقې تراوسه پورې محروم يئ اوکه ددې مقصدپه حضور ﷺ باندې نکته چيني کول و، نودځواب حاصل به داوي چې زموږ دنبي ﷺ کمال دادی چې ددې طبعی انساني ضرورتونوداسې تعليم ورکوي چې دانسان داطبعي حاجات هم دتقرب الی الله ذريعه جوړشي اوداشيان هم دعبادت په ډله کې شمارشي،بې شکه دحضور ﷺ ددتعليماتو خيال ساتلوسره استنجاخانې ته تلل په عبادت کې راځي،لکه چې زموږ شيخ المشائخ شاه عبدالغني مجددي دهلوي مهاجرمدني قدس سره حاشيه ابن ماجه کې ليکي:

"قال علماءنا أن إتيان السنة ولو كان أمرا يسيرا كإدخال الرجل الأيسر فى الخلا ابتداء أولى من البدعة الحسنة وان كان امرا فخيما كبناء المدارس". (حاشيه ابن ماجه: ص: ٣)

ترجمه: زموږ عالمان فرمايي چې:دسنت پوره کول اګرچې معمولی خبره وي مثلاً:بيت الخلا ته دتلوپه وخت کې چپه پښه مخکې کيښودل ،دبدعت حسنه نه بهتردي،اګرچې هغه عظيم الشان کاروي،لکه مدرسې جوړول.

خلاصه داده چې دانساني ژوندهيڅ يوه شعبه اوهيڅ داسې اړخ نشته چې په هغه کې حضور ﷺ دامت رهنمايي نه وي کړي،ځکه حضور ﷺ فرمايي:

إنما أنا لكم بمنزلة الوالد أعلمكم. (ابوداود: ص: ٣)

ترجمه: زه تاسو له پاره دپلارپشان يم، تاسوته تعليم درکوم.

له دې وجې نه ددې صاحب داويل چې:اموردنيادحضور ﷺ دکار ميدان نه و ،ځکه په امور دنياکې دحضو ﷺ قول۔نعوذبالله۔ دالتفات وړنه دی قطعاً غلط اوغلط دی.

دريم: داصاحب دحضور ﷺ دارشاد: "أنتم أعلم بأمر دنياكم"په مدعا پوه شوی نه دی،ځکه يې داوويل،چې په دنياوي معاملاتوکې دحضور ﷺ ارشادلائق التفات نه دی،ښه پوه شئ چې په دې واقعه کې حضور ﷺ څه فرمايلي و هغه دمشورې په طور و ،شيخ المشائخ شاه

عبدالغني محدث دهلوي رحمه الله حاشيه ابن ماجه کې په دې سلسله کې روايات راجمع کولو نه وروسته ليکي:

"فعلم أن هذا الأمرمنه صلى الله عليه وسلم كان بطريق الإجتهاد والمشورة فما كان واجب الاتباع. (حاشيه ابن ماجه:١٧٨)

ترجمه: معلومه شوه چې په دې واقعه کې چې حضور ﷺ څه وفرمايل هغه داجتهاد مشورې په طور و، ځکه واجب الاتباع نه و.

دمشورې اوحکم ترمينځه فرق دحضرت بريره رضي الله عنها دقيصې نه واضح دی، حضرت عائشې رضي الله عنها حضرت بريره رضي الله عنها ازاده کړله، داواده شوې وه، دازادي نه وروسته هغې دخپل خاوند مغيث رضي الله عنه دقبلولو نه انکار وکړ، حضور ﷺ ورته شفارس وکړچې: بريرې ته مغيث قبول کړه! هغې ورته عرض وکړ يارسول الله ﷺ! داحکم دی که مشوره؟ ويې فرمايل حکم نه دی مشوره ده، عرض يې وکړکه مشوره وي نوزه دانه قبلوم.[١]

ددې واقعې نه معلومه شوه چې دحضور ﷺ حکم اګر که په دنياوي امورکې وي واجب التعميل دی، خو که دمشورې په طورڅه ارشاداوفرمايي نوددې معامله دويمه ده.

دايت نه غلط استدلال

دې کس ايت شريف: "والله أنبتكم من الأرض نباتا" سره دډارون په نظريه ارتقا باندې استدلال کې داوويل چې: حضرت ادم عليه السلام هم دجماداتو، نباتاتو اوحيوانات دمرحلونو نه تيريدونه وروسته، انسان ادم، جوړشوی و، سراسرمهمل اولايعني دی ځکه چې:

اولاً: داکس په خپله مني چې حضور ﷺ دحضرت ادم عليه السلام دجسماني تخليق يوکيفيت بيان کړی دی، چې ددې صاحب ذکر شوې نظرې سره متضاددی اوس داصاحب به په دووخبروکې يوه خبره مني، ياخوداچې په خپله صاحب قران ﷺ ـ نعوذبالله ـ دقران دايت په مفهوم باندې پوه نه شو، ځکه که په حضور ﷺ باندې دايت هغه مفهوم منکشف شوی وی کوم چې دې صاحب ته القاشوی دی، نوحضور ﷺ به دحضرت ادم عليه السلام دتخليق جسماني په باره کې داسې متضاد اومختلف کيفيت نه و بيان کړی اويا داصاحب به داتسليموي چې په خپل

١] عن عائشة رضى الله عنها ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لها فى بريرة خذيها فاعتقيها وكان زوجها عبداً فتخيرها رسول الله صلى الله عليه وسلم فاختارت نفسها ولو كان حراً لم يخيرها متفق عليه وعن ابن عباس رضى الله عنه قال: كان زوج بريرة عبداً اسود يقال له مغيث كانى انظر اليه يطوف خلفها فى سكك المدينة يبكى ودموعه تسيل على لحيته فقال النبى صلى الله عليه وسلم للعباس: يا عباس! الا تعجب من حب مغيث بريرة، ومن بغض بريرة مغيثاً، فقال النبى صلى الله عليه وسلم لو راجعتيه فقالت يا رسول الله ! تامرنى! قال انما اشفع! قالت لا حاجة لى فيه رواه البخارى مشكوة كتاب النكاح باب الفصل الاول ص:٢٧٦ـ

ذهن کې جوړې شوې کومې معناوې قران کريم ته وراغوندي هغه سراسر لغو او لايعنې دي او الله تعالى او دهغه رسول ﷺ د دې نه بري دي.
ممکنه ده چې داکس هم دغلام احمدقادياني په شان عقيده لري چې هغه دقران حقائق او معارف دحضور ﷺ نه زيات بيانولى شي، لکه چې مرزا غلام احمد قادني ليکي:
داخيال چې گوياخه چې حضور ﷺ دقران کريم په باره کې بيان کړي دي دهغه نه زيات بل څوک نه شي کولى، بديهي البطلان دي. (کرامات الصادقين ص:١٩ مندرجه روحانى خزائن ج:٧ ص: ٢١)
غرض داچې ديوايت نه داسې نظريه استنباط کول چې دحضور ﷺ دتصريحاتونه خلاف وي له دې سره په دووخبروکې يوه خبره لازميږي، چې ياخوله دې سره ـ نعوذبالله ـ دحضور ﷺ تجهيل لازميږي چې حضور ﷺ د دې ايت په مطلب باندې پوه نه شو، ياخپل خام خيالات په قران کريم کې ننوستل لازميږي چې دکوموپه باره کې دحضور ﷺ ارشاددى:
من قال فى القران برأيه فليتبوأ معقده من النار. (مشکوة ص:٣٥)
ترجمه: کوم کس چې دخپلې رايې نه څه مفهوم په قران کې دننه کړهغه دې خپل داوسېدو ځاى په دوزخ کې جوړ کړي.
ثانياً: دا ايت شريف، کوم نه چې دې صاحب نظريه ارتقا ته دحضرت دادم عليه السلام دجسماني تخليق باندې دلګولوکوشش کړى دى، دسورت نوح ايت دى، په کوم کې چې الله تعالى دحضرت نوح عليه السلام هغه خطاب نقل کړى دى چې هغه دخپل قوم کافرانوته کړى و، کوم کس چې دمعمولي غوراوفکرنه هم کاروا خلي ،نودهغه نه به داخبره پټه پاتې نه شي چې حضرت نوح عليه السلام دخپل قوم کسانوته د ډارون دارتقايې نظريې تعليم اوتلقين نه دى کړى ،بلکې دغو خلکوته ديوفردپه تخليق دالله تعالى دقدرت دکوموعجائباتواظهارکړى دى هغه ذکر کول فرمايي چې الله تعالى دځمکې دخاورې نه غذاګانې پيداکړي دي، ددې غذاګانونه بې داوبودڅاڅکيو تخليق وکړدکوم نه چې تاسوپيداشوي يئ، بيابې د اوبو دې قطرو ته د موريه خېټه کې مختلف شکلونه ورکړل اوپه دې کې يې روح واچاواوتاسوژوندى انسانان جوړ شوئ، بيانفخ روح نه وروسته هم د موريه خېټه کې دځمکې نه پيدا شويو غذاګانوپه ذريعه ستاسو دنشونما عمل جاري وساته، تردې پورې چې دمور د خېټې نه ستاسوپيدائش وشو اوبياد پيدائش نه وروسته هم ستاسودنشونماسلسله جاري وه اوداهرڅه الله تعالى د ځمکې دخاورې اوددې نه پيداشويو غذاګانوپه ذريعه وکړل، الغرض، ،والله انبتکم من الارض نباتا، ،کې دانساني افرادو ددې اوږدې سلسلې نشونماطرف ته اشاره کړې ده، چې د کومې نه تېريدوسره هرانسان دنشونمامرحلې تيروي، په دې سلسله کې ابتداء له خاورې نه کيږي اوددې انتهادنشونماپه تکميل باندې کيږي، لکه چې حضرت مفتي محمدشفيع رحمه الله

په خپل تفسیر، ،معارف القران،، کې د خلاصه تفسیرپه عنوان سره ددې ایت شریفه لاندې دحضرت حکیم الامت تهانوي رحمه الله دبیان القران په حواله لیکي:

اوالله تعالی دځمکې نه تاسو په خاص طور پیدا کړلئ، (یاخوداسې چې حضرت ادم علیه السلام د خاورې نه جوړ شوی و ،یاداسې چې انسان دنطفې نه جوړشو اونطفه د غذانه او غذا د عناصرونه جوړه شوه او عناصروکې غالب اجزا دخاورې دي...(معارف القران ج:۸ ص:۵۲۲)

لهذادې ایت شریف نه(یادویم ایت کریم)دډارون نظریه ارتقا اخستل دخپل عقل اوفهم سره هم زیاتی کول دي اودقران کریم سره هم بې انصافي ده.

ددې صاحب کوم دلائل چې تاسوذکرکړي دي ددې علمي حیثیت واضح کولونه وروسته اوس زه ستاسو دسوالونو ځوابونه درکوم، چونکه خبره اوږده شوه له دې وجې نمبرپه نمبرستاسو سوالونه نقلوم اودهغو مختصرځواب لیکم:

سوال: ۱.ایادپورته ذکر شوي کس عقائدو ته داهل سنت والجماعت عقائدویل کېدای شي؟

جواب: ددې کس داعقائد داهل سنت والجماعت عقائدنه دي،ائمه اهل سنت په اجماع سره ددې خبرې قایل دي کوم چې دحضرت ادم علیه السلام دتخلیق جسماني په باره کې په احادیث نبویه کې بیان شوي دي،ځکه ددې کس دانظریه بدترین بدعت دی.

سوال: ۲:...دحضرت ادم علیه السلام دجسماني تخلیق متعلق حدیثونو په باره کې ددې کس رویه د ګستاخي اوګمراهي ده؟

جواب: دحضرت ادم علیه السلام دجسماني تخلیق په باره کې بیان شویو حدیثونو په باره کې ددې کس رویه پرته دځه شک نه ګستاخانه ده،دکوموتفصیل چې مې پورته ذکرکړی دی اودارویه بې شکه ګمراهي اوکج روي ده.

سوال: ۳:حضرت ادم علیه السلام ته (حیوان ادم)ویل ګستاخی نه ده؟

جواب: حضرت ادم علیه السلام ته په قطعي نصوصو سره اواجماع سلف سره(حیوان ادم)ویل اودهغه سلسله نسب دبیزوګانونه اخستل ،،داشرف المخلوقات حضرت انسان توهین دی اودانهیواځې دحضرت ادم علیه السلام په شان کې ګستاخي ده بلکې دهغه په نسل کې پیداشویو ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام هم توهین اوتنقیص دی،ظاهره ده چې حضرت ادم علیه السلام دټولوانسانانوپلاردی، اوس که ستاسوپلارته څوک، ،ځناور،یابیزو، ،ووایي، نوسوچ کول پکاردي چې داکنځل دي اوکه نه؟ همدارنګه (مثلاً که هم دې صاحب ته)دځناوراولاد یا،دبیزاولاد،، وویل شي ،نوداصاحب به داکنځل ګڼي اوکه نه؟اودابه خپل توهین اوتنقیص ګڼي او که نه؟

سوال: ۴: ایا داکس د تفسیربالرايې مرتکب نه دی؟

جواب: پورته مې ذکرکړي دي. چې خپله مزعومه نظريه باندې دقران پاک ايت جوړول تفسير بالرايه ده اوداکس ، دحضور ﷺ دارشادمبارک :**فليتبوا مقعده من النار**.، مستحق دی، يعني ده ته پکاردي چې خپل استوګنځای په دوزخ کې جوړ کړي.

سوال: ۵: دحضور ﷺ اودامت داسلافو عقيده داده چې دحضرت ادم علیه السلام قالب له خاورې نه جوړشوی دی او که نه؟

جواب: پورته مې ذکرکړي دي چې دحضور ﷺ، دصحابه کرامو اوسلف صالحينوهم دغه عقيده ده چې: دحضرت ادم علیه السلام قالب له خاورې نه جوړ شوی و ، بيا په دې قالب کې ساه واچول شوه ، نوژوندی انسان جوړشو ، فلاسفه وو چې په دې سلسله کې څه ويلي دي هغه يواځې يوه مفروضه ده ، چې دهغو حيثيت دوهم اوظن نه پرته نورهيڅ نه دي اوظن اوتخمين اوتحقيق په بازارکې يې هيڅ قيمت نشته. دالله تعالى ارشاددی:

وَمَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ‹النجم: ۲۸›

ترجمه: اوهغوی سره په دې باندې هيڅ دليل نشته، يواځې په بې اصله خيالاتوباندې روان دي اويقيناً بې اصله خيالات دحق په مقابله کې هيڅ هم نه دي.

کوم قومونه چې دنبوت له نور نه محروم دي ، اګرکه هغوی له تاريخ وړاندې په ميدانونوکې ورک شوي ګرځي ، نوګرځي دې اوظن اوتخمين اسونه که زغلوي نوزغلوي دې، اهل ايمان ته دهغوی دپاتې شويو خوړو هيڅ ضرورت نشته، ددوی په وړاندې دنبوت لمر راختلی دی، دوی چې هرڅه وايي نودورځې په رڼاکې وايي اودوی دقران اوسنت رڼاله ظن اوتخمين نه بې نيازه کړي دي.

سوال: ۶: ددې کس بيعت يادده سره تعلق ستاسوپه نزد څنګه دی؟

جواب: دپورته تفصيل سره مې واضحه کړې ده چې څه حضور ﷺ فرمايلي دي ، هماغه حق دي اوددې کس دفلاسفه وو په تقليدکېله نبوي ويناوو نه انحراف، دده دکج روي اوګمراهي دليل دی، له دې وجې نه دې کس له پاره لازم دي چې دخپلو عقائدواونظرياتونه توبه وکړي اورجوع الى الحق وکړي اوندامت سره دايمان تجديدوکړي اوهريوکس له پاره چې په الله تعالى اودهغه په رسول ﷺ باندې يې ايمان راوړي ، ددې کس ملګرتياجائزنه ده، که يومسلمان دده په بيعت کې داخل وي، نودده نظريات اوخيالات معلوميدونه وروسته دده نه بيعت فسخ کول لازم دي.

د ډارون نظريه دالله تعالى نفې كول دي

سوال: ځناور، مرغۍ اوپه زرګونو مخلوقات الله تعالى پيدا كړي دي، تاسو په ځواب كې فرمايلي وچې: دې باره كې مې څه وضاحت دنظرنه نه دى تيرشوى. نودې باره كې څه عقيده ساتل پكاردي؟ كه مذهب دې باره كې څه رهنمايي نه كوي، نودمخلوق باره كې دډارون نظريه صحيح ثابتيږي.

جواب: دډارون نظريه خودالله تعالى نفې كول دي، دومره عقيده ساتل خو لازم دي چې ټولومخلوقات ته وجودالله تعالى وركړى دى، خوځنګه يې وركړى دى، دې باره كې څه . تفصيل معلوم نه دى.[١]

انسان څنګه پيداشو

سوال: مولاناصاحب دقران اوحديث نه ثابت ده چې الله تعالى په انسانانو كې حضرت ادام عليه السلام جوړكړ اوموږټول دهغه اولاديو، خوپه ١٩٨٩/٤/١٥ باندې دجمعې په ورځ موږ په ټي وي دورځې لس بجې يوفلم كتلى و، هغه كې ښودل شوي وچې انسان د مختلفومرحلونه وروسته دې شكل ته رارسيدلى دى، يعنې لومړى جراثيم، بياكب، بيزو وغيره اواخري شكل يې دنن انسان شو.

اوس تاسووضاحت سره ووايئ چې دشريعت دې باره كې څه فيصله ده، اوديومسلمان دې باره كې څه ايمان پكاردى؟ كه چيرې دټى وي والادافلم غلط وي، نوددې ذمه دارڅوك دي؟

جواب: داد ډارون دارتقاء نظريه ده، چې دټولونه لومړى انسان (حضرت ادم عليه السلام) سمدستي په وجودكې نه وراغلى، بلكې د يرو ارتقايي منزلونونه وروسته دبيزو شكل وجودكې راغى اوبيا بيز كې نورې تبديليانې هم راغلې اودانسان شكل يې اختياركړ،دانظريه اوس د سائنس په نظركې كمزورې شوې ده، ځكه چې دې دومره ډيروخت كې انسان كې څه تبديلي رانغله، بلكې دترقي په وجه باندې ورو ورو دانسان په شان ځناورجوړيږي.

تركومه حده پورې چې دمسلمانانوتعلق دى،هغوى ته دډارون د ارتقاء په نظريه باندې دايمان راوړلوضرورت نشته، دهغوى مخكې دقران كريم ښكاره اعلان موجود دى، چې الله تعالى د خاورې نه دادم عليه السلام قالب جوړكړ، هغه كې يې روح واچاو اودهغه نه ژوندى انسان جوړشو.[٢]

١] تفصيل له پارهه اوګورئ خطبات بهاول پور كا علمي جائزه مطبوعة مكتبه لدهيانوى كراچى

٢] اِنَّ مَثَلَ عِيسٰي عِنْدَ اللهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ (آل عمران: ٥٩)

دکوم فلم چې تاسو ذکرکړی دی، کیدای شي چې دهغوی په قران اوحدیث باندې ایمان نه وي اوکوموخلکوچې په تې وي باندې فلم ښودلی وي، هغوی هم دقران اوحدیث په ځای باندې په ډارون باندې ایمان لري، خوپه کوم شي اندې چې زه حیران یم هغه دادی چې پاکستان کې دې فلم ښودلوباندې چااحتجاج ونه کړوداسې ښکاري چې دپاکستان غیرشعوري طورباندې بې دینه کولو کوشش کیږي.

په مذهب اوسائنس کې فرق

سوال: مولاناصاحب!گزارش دادی چې کوم طالب علمان سائنس لولي دهغوی په نظرکې دمذهب په باره کې عجیبه کش مکش پیداشي اوکه هغوی سائنس مني، نومذهب ته هم دروغ نه نه شي ویلي،خو په سائنس کې ځینې مظاهر داسې دي چې دیوشش وپنج په کیفیت کې مومبتلاکوي اوس موږ په سائنس کې دټولونه مخکې نظریه ارتقاء اخلو،چې انسان د بیزوګانو بن مانسونه ترقي کړې ده،خو په قران کریم کې ارشاددی چې اول الله تعالی انسان له خاورې نه بت جوړکړ،بیايې پکې ساه واچوله،بیايې حوا د آدم علیه السلام د پښتۍ نه پیداکړه،هرکله چې سائنس وایي چې دکله نه ادم جوړشوی دی، نوحوادده سره ده،بلکې هغمې زیږولی دی اوادم یې دجنت نه ځمکې ته راکوزکړی نه دی،بلکې دی یې په ځمکه باندې پیداکړی دی،ددې سوال نه ظاهریږي چې نعوذبالله بزوګانواوبن مانس یانورځناوربه هم جنت یادوزخ ته ځي؟ځکه چې دسائنس مطابق دوی هم زموږ په شان دي.

په یوحدیث مبارک کې دي چې دشپې لمردالله تعالی په وړاندې په سجده کې پریوځي اوسهاررده ته دلمرخاته نه دراختوحکم کیږي،خو موږ ته ښه پته ده چې دشپې لمرپه امریکه کې وي،یعنې دځمکې دویم طرف ته.

په یوحدیث مبارک کې راغلي دي چې ستورې داسمان دچت سره په رسیو(پړیو)باندې تړل شوي دي .مشره!که خلا ته ورتلوسره وکتل شي ،نوځمکه هم دسپوږمۍ په شان په اسمان کې په نظرراځي،یعنې هرطرف ته اسمان په نظرراځي اوسائنس دانان وایي چې هیڅ چت نشته،داټولي خبرې موپه شک کې اخته کوي.

اودجن،په باره کې داعرض دی چې ایا ،،پیریان یواځې په پیریان منونکوباندې ولې کېني؟ په انګریزانواوروسانواو داسې نورو... باندې چې شراب اونورشیان کوم چې دانسان له پاره ناپاک ګڼل کیږي استعمالوي،خو په هغوی باندې پیریان نه کیني،ایاداټول خیالات دیوانسان دماغ نه منجمدکوي، اوپرته دځه وجې نه په دخوف او وېرې په کیفیت کې وي؟ ایا مذهب اوسائنس یوځای چلیدای شي؟که تاسوځواب رانکړ،نوزه به اوګڼم چې تاسوهم په شک کې پریوتي یئ؟

جواب: ستاسو خط د تفصيلي ځواب غوښتنه کوي هرکله چې ماسره وزګار وخت نشته. دا هم داشاراتو په ژبه درته مختصراً عرض کوم اول څه اوصول په ذهن کې کښينوه:
١: دسائنس بنياد په مشاهده اوتجربه باندې دى اوکوم شى چې دتجربې اومشاهدې نه ماوراء وي هغه دسائنس دوس نه بهردي، ددې په باره کې دسائنس هيڅ يوه دعوه دالتفات وړنه ده، هرکله چې وحې اونبوت هم هغه موضوع ده چې دانساني عقل اوتجربې اومشاهدې نه بالاتر ده، ظاهره ده چې په داسې معامله کې به دوحې اطلاع قابل اعتباروي.
٢: ډيرشيان زموږ مشاهدې سره تعلق لري، خودهغو پټو علتونو اواسبابو مشاهده موږ نه شوکولى، بلکې دهغو دعلم له پاره موږ دڅه صحيح ذريعه علم محتاج يو، داسې اموريواځې په دې وجې سره انکارکول يواځې بيوقوفي ده چې داشيان زموږ په نظرنه راځي.
٣: دوه شيان که خپل مينځ کې داسې ټکرشي چې د دواړو په يووخت کې تسليمول ممکن نه وي، نودا نه شي ويل کېداى چې دواړه صحيح دي؟ددې فيصله کولوله پاره موږ ته داکتل وي چې دڅه ثبوت په يقيني اوقطعي ذريعې سره شوى دى؟اودڅه په ظن اوتخمين په ذريعې سره؟دڅه شي ثبوت چې په يقيني ذريعې سره وي هغه حق دى اودويم باطل يامؤول.
۴: کومه خبره چې دخپل ذات په اعتبارسره ممکن وي اويورښتوني خبرورکونکى دهغې خبر ورکړى وي دهغې تسليمول لازم دي اوهغې نه انکارکول محض ضداوتعصب ده، چې ديو عاقل شان نه دى.
۵: په انساني عقل باندې اکثره دوهم تسلط وي، ډيرشيان چې قطعي اوبې شکه دي خلک دوهم دغلبې په وجه هغه خلاف عقل تصورکول شروع کړي اوډيرشيان چې دعقل صحيح خلاف وي دوهم دغلبې په وجه خلک نه يواځې صحيح ګڼي، بلکې دهغو دعقل مطابق په نوروهم دمنلو کوشش کوي.
داپنځه اوصول بالکل فطري دي، په دې باندې ښه پوه شئ، که په څه نکته کې ستاسواختلاف وي، نودهغه تشريح به وکړم اوس ددې اوصولو په رڼاکې ستاسو په سوالونو باندې غورکوم:

نظريه ارتقاء

دمسټر ډارون نظريه ارتقا خواوس په خپله په سائنسي دنياکې هم په اخري سلګوده اوپه سائنس داناڼوکې بدنامه شوې ده، خو تاسوهغه د قرني وحې په مقابله کې وړاندې کولوسره ددشک اظهارکوئ، داسوال چې دانسان دپيدښت اغازڅنګه وشو؟ ظاهره ده چې دايوه تاريخي واقعه ده اودڅه اندازې اوتخمين په وجې سره ددې په باره کې دوټوک خبره کېداى نه شي.

دموجوده دور انسان نه خو په خپله په ابتدايي وخت کې موجودو. چې دخپلو سترګو ليدلی حال يې ويلی و ،نه دا داسې شی دی،چې انساني تجربې ددې تصديق کړی وای،که نه په زرګونو کلونوکې به دې يوبيزو په انسان جوړيدلوکې ليدلی وای؟يايوبيزو ته دانسان جوړولو تجربه به يې کړې وه، هرکله چې دانظريه دمشاهدې اوتجربې دواړو نه محرومه ده نوددې په بنيادباندې په ګډو وډ انداز او د وهم کرشمه سازو باندې به قائمه وي،ددې په مقابله په خپله دخالق مخلوق قطعي، غير مبهم اوصفاارشادموجود دی،کوم چې تاپه سوال کې نقل کړي دي اوس په دې مسئله کې په خپله انصاف وکړه،کومه چې دانساني تجربې او مشاهدې نه ماورا ده،دمستېر ډارون اودهغه دملګرو له ځان وړاندې شوې تخمينه د اعتبار لائق ده که دالله تعالی علام الغيوب ارشاد؟که وحي په دې معامله کې زموږ رهنمايي نه وای کړې ،نوبياهم دعقل غوښتنه داوه چې موږ دډارون دغير مشاهداتي اوغيرتجرباتي خبرې نه وی اخيستې،ځکه چې دعقل خاوندان،په عقل سره ناپ کول کوي،په غيرعقلي او قياساتو او تخمينو باندې په پټوسترګوايمان نه راوړي، دنظريه ارتقاء په ملګرو کې دانسان نسل دبيزو نه اخستل هرکله چې دوحي الهي اومشاهدې اوتجربې تکذيب کوي نودانظريه داهل عقل په نزدڅنګه دالتفات وړکيدای شي؟

حضرت ادم علیہ السلام او جنت

دنظريه ارتقاجوړونکودانسانی نسل دنسب سلسله بيزوګانو پورې رسولوسره چې دانساني عقل کومه بيعزتي کړې ده له همدې نه پرې بنده پوهيدای شي،چې داول انسان په باره کې ددوی دنوروتخمينواوقياساتوکې به څومره رښتياوي،په خاص ډول دهغوی داوينا:چې انسان په اول کې دجنت نه راکوز شوی نه و ،بلکې په همدې ځمکه باندې دبيزو دجنس نه تبديل شوی و اوکه داچې:حوادده ښځه نه بلکې موربې وه،چاته پته نشته چې جنت اودوزخ دعالم غيب هغه حقيقونه دي چې په دې عالم کې دانساني مشاهدې اوتجربې نه بالاتردي اودکوموپه باره کې چې دصحيح معلوماتويواځې يوه ذريعه ده اوهغه انبياء عليهم السلام باندې نازل شوې وحی ده، هغه غيبي حقائق چې دانساني مشاهدې اوتجربې دوس نه قطعي بهردي اودمشاهدې هيڅ يو خوردبين دهغو پورې رسيدوکې کاميابيدای نه شي په خپله سوچ وکړئ چې دهغو په باره کې په وحی الهی باندې اعتمادکول پکاردي که ددې خلکوپه وهم اوقياس باندې چې په اسونوباندې سواره په يوداسې ميدان کې ټوپونه وهي چې دهغوی دعقل اوادراک دحد نه بهرده؟ دسائنس دمشکل نه مشکل اسرارو او رموزو په باره کې ديوبې وقوف خبره چې څومره خندې دونکې ده له دې نه ډيرزيات ددې خلکواندازې او تخمينې مضحکه خيزدي،چې دوحي الهی درڼانه پرته امورالهيه پورې دتلوکوششونه کوي، دې مسکينانوته پته نشته چې ددوی دحقيقاتو دائره دماديت پورې ده،نه چې

د مابعد الطبیعات پورې،کوم شی چې د دوی دعقل او ادراک نه ماورا دی دهغو په باره کې چې دوی څه قیاس هم کوي دهغه حیثیت دتیارې دکاڼي اوپه تیاره کې دغشي چلولوپه شان به وي،قطعاً ممکن نه ده چې ددوی داغشي په صحیح نښه باندې ولګیږي اوهغوی په خپله هم له ډیرخت نه دوادی ضلالت لاره ورکه کړې مسافران به ویاودهغوی مقلدین هم، مسلمانانو ته په تیاره کې د ډغرو وهلو ضرورت نشته اونه ورته ددې تیاروپه وادویو کې دورکیدو ضرورت شته، الحمدلله دهغوی سره د نبوت دلمر رڼاموجوده ده اوهغوی چې د امورالهیه په باره کې څه هم وایي بایددورځې په رڼاکې یې وایي.

د لمر سجده کول

دلمرسجدې کولوکوم حدیث چې تانقل کړی دی هغه صحیح دی اوهغه دڅه سائنسي تحقیقاتواوعامې انساني مشاهدې خلاف نه دي،انساني مشاهده داده چې لمر روان دی،خو ددې رفتار دده خپل ذاتي دی،که دچاقادرمطلق دحکم اومشیت تابع دی؟ داهغه سوال دی چې دهغه ځواب په دې حدیث کې ورکړل شوی دی،چې حاصل یې دادی چې دلمر دراختلو او پریوتلو نظام دخودکارمشین په شان نه دی،بلکې دحق تعالی دمشیت اوارادې لاندې دی اوهغه دخپلو راختلواوپریوتلوله پاره الله تعالی جل شانه نه اجازه اخلي،یووخت به راشي چې حسب معمول دراختلواجازه به وغواړي خواجازه به ورنه کړل شي،بلکې دسرچپه تلوحکم به ورته وشي، په دغه ورځ به لمرد مشرق په ځای دمغرب نه راوخیژي اوتقریباً دڅاښت دوخت پورې داوچتیدونه وروسته به بیا مغرب طرف ته لاړشي اوددې نه وروسته دقیامت دقائمیدوپورې به حسب معمول طلوع اوغروب کیږي.

اوس دلته څوامورد توجه وړ دي:

اول: ددې نظام شمسي دحق تعالیٰ جل وعلی دمشیت تابع کیدل دټولو دینونو اومذهبونو مسلمه عقیده ده اوکوم سائنس دانان چې دالله تعالی دوجوداقرارکوي ،هغوی هم ددې عقیدې نه انکار نه کوي،کوم خلک چې داکارخانه جهان خودکارمشین ګڼي اوداصانع حکیم تخلیق نه ګڼي، ددوی دانظریه دعقل اوحکمت په میزان کې هیڅ وزن هم نه لري، د صانع عالم په وجودباندې دلائلوداموقعه نه ده ځکه چې الحمدلله زمامخاطب مسلمان دی، ددې وجې نه دهغه په وړاندې دوجودباري تعالی باندې بحث کول نه یواځې غیرضروري بلکې بې موقعه هم دی،دلته یواځې په دې خبره باندې خبرداري مقصود ده چې هرکله دامنل شوی حقیقت دی چې نه یواځې نظام شمسي بلکې ټوله کارخانه عالم دالله تعالی دمشیت او ارادې تابع ده ،نود لمر دا راختل اوپریوتل هم باید ددې مشیت تابع کیدل وګڼل شي،ددې نکتې نه حضور ﷺ دلمرد روزمره سجدې کولو او ائنده ورځې راختلوپه اجازه سره تعبیرکړی ده.

دویم: څنګه چې په سوال کې ذکرشوي دي اومشاهده هم ده چې هره لمحه اوهروخت دلمر د راختلو اوپریوتلوعمل جاري دی،که په یو افق باندې پریوځي ،نوپه دویم افق باندې راخیژي،که په یوځای کې دسهار رڼابنکاره کیږي ،نوپه بل ځای کې دشپې دتیارې خوربدو اغازکیږي،ددې وجې نه په حدیث پاک کې دوه احتماله دي،یوداچې حضورﷺ دیوخاص افق (مثلاً مدینې طیبې افق،یادعامې ابادۍ اُفق) ترې مراد واخیستل شي،په دې صورت کې به دحدیث مطلب داوي چې لمرکله په دغه خاص افق باندې پریوځي ،نوراتلونکې ورځ دراختلوله پاره اجازه غواړي اوپه اجازه باندې راخیژي، تاسوته معلومه ده چې درياضي والا دهفتې دورځودتعین له پاره دلمر يو خاص افق مقررکړی دی،کوم ته چې (ډیټ لائن) وايي، ددې خط فاصل نه دیخوا دجمعې ورځ وي اوبل طرفته دهفتې ورځ،که داصورت اختیار شوی نه وی ، نودورځوتعین ممکن نه و ،ځکه چې لمرخوپه دنیاباندې نه پریوځي ،له دې وجې نه د(ډیټ لائن) نه پرته دتاریخ او ورځې د تعین صورت نه و. هرکله چې اهل فن نه دورځودتعین له پاره دیوخاص افق مقررولونه پرته هیڅ چاره نه وه ،هم داسې دطلوع او غروب له پاره به په علم الهي کې هم څه خاص نقطه متعینه وي،چې هغې پورې رسیدونه وروسته به اینده ورځ دراختلوله پاره داجازې ایستل وي،نوپه دې کې هیڅ عقلي شک نشته.

دویم احتمال دادی چې ددې لمردراختلوله پاره څه خاص افق مقرر نه شي ،بلکې داوویل شي چې دده طلوع په هریوافق باندې له اجازې نه وروسته وي،خو لمر طلوع هره لمحه په څه نا څه افق باندې جاري وي،نو دحدیث پاک منشابه داوي چې دافتاب دحرکت یوه یوه لمحه دالله تعالی داجازې اومشیت مرهون منت ده اودیوې لمحې له پاره هم دده حرکت (په کوم باندې چې دطلوع اوغروب نظام قائم دی)له اجازې نه پرته جاري نه شي پاتې کیدای.

دریم: پاتې شوه دلمرسجده کول،نوکه داسې زموږ د امیانوله پاره څه نوې اوعجیبه معلومیږي ، خو اهل عقل ته پته ده چې دمخلوق هرشی دالله تعالی په وړاندې سرپه سجده دی اوهرشی دهغه دعظمت اوتقدس تسبیح وایي،خو دهرشی سجده کولاوتسبیح کول،دهغه دحالت اوفطرت اوشان مطابق دبېل نوعیت سره ده،موږ خلک دهغه ، ، بې وینا زبان، ،باندې نه پوهیږو ،ځکه داخبره موږ ته عجیبه معلومیږي،دې طرف ته په قران کریم کې داسې فرمان سره اشاره شوې ده:"ولکن لا تفقهون تسبیحهم"(خوتاسوددې شیانوپه تسبیح باندې نه پوهیږئ)موږ خلک چې دعقل اوادراک اوشعوراوفهم یوه عامه درجه لرو اوداسې ویلوسره خپل زړه پوهوو چې دمخلوق هرشی دالله تعالی په قبضه اوتصرف کې مسخردی اومسخرکیدل دهغه سجده اوتسبیح دي،خو کوم حضرات چې په علم اوادراک اوعقل وفهم کې دعاموانسانانونه لوړدي دهغوی وینا ده چې مخلوق یواځې په زبان حال سره

هم د الله تعالی تسبیح خواني اود هغه په وړاندې سجده کولو فرائض نه پوره کوي .بلکې هرشي ته الله تعالی د هغه د حال مطابق د شعوراوادراک نعمت هم ورکړی دی او هريوته يې د هغه مناسب ګويا ژبه هم ورکړې ده،ددې وجې نه هرشی دخپل خپل شعوراوادراک مطابق الله تعالی ته سجده کوي اوپه خپله ژبه کې د هغه تسبيح لولي:

خاک وباد واب واتش بنده اند بامن وتو مرده باحق زنده اند

په هرحال دلمرالله تعالی ته سجده کول بلاشبه حق اوصحیح ده،په خپله په قران کې ددې وضاحت موجود دی اوس دغه سجده زبان حال سره ده یازبان قال سره؟ ددې توجیه هرکس دخپلې اندازې اوپیمانه عقل اوفکرمطابق کولی شي اوکه دچاعقل يې يواځې له دې وجې نه نه مني چې داعجوبه (نااشنا) ده نوهغه ته به داویل بې ځایه نه وي چې دنیادقدرت دعجائبونوم دی.

دا د اور جوړه کره چې ورته لمرویل کیږي ددې وجود په خپله دقدرت دعجایبویوه نمونه ده اوبیاددې راختل اوپریوتل یوه مستقل عجوبه ده.که خدای مکړه لمریوځل نیم راختلی وي، نو دنیا به ددې اعجوبې دمشاهدې طاقت ونه لري، په کومه دنیاکې چې په زرګونو اعجوبې زموږدسترګوپه وړاندې موجودې دي اوموږ پرته دځه تذبذب اوشرمندګۍ نه په دې عجائبوباندې یقین لرو ،نو محض ددې عجوبه کیدل زموږ دانکار دجواز وجه نه جوړیږي اوددې نه دانکارکولووالا په حق کې دپاګلتوب اولیونتوب فیصله کوو، نوهیڅ وجه نشته چې کوم شی زموږ دمشاهدې اوتجربې،زموږ دعلم اوادراک اوزموږدعقل او شعورنه لوړوي اویوشناسایې راز اودانایې رموز موږ ته ددې خبرراکړي ،نوموږ یواځې د عجوبې په وجه ددې نه انکار وکړو، ایادموجوده دور سائنسي ایجادات دیوعام عقل اوفهم والا انسان له پاره کم عجوبه دي؟ایادیوکم عقل بنده له دې نه دانکارکول یواځې په دې بنیاد باندې به جائزوي چې دهغه عقل دې شیانوباندې ګرفت کولونه قاصردي؟نه! بلکې کوم کس چې ددې جرات وکړي هغه کس به دانتهائي درجې بې وقوف وګرځول شي.سمه ده همدا رنګه کوم کسان چې ددې عجائبات قدرت نه انکارکوي کوم چې یواځې دنبوت په علم اوادراک کې راتلای شي ،داخلک دخپل عقل دورسته والي اظهارکوي.

څلورم:دلمردراختلواوپریوتلوله پاره اجازه غوښتلو سره دانه لازمیږي چې ددې په حرکت کې ځه دریدل (سکون) راشي،بلکې دا دواړه شیانوپه یوځای جمع کیدای شي،خوزه ددې نکتې نوروضاحت اوتشریح ضروري نه ګنم اواهل فهم له پاره یواځې اشاره هم کافي ده.

د یوحدیث حواله

تاسودیوحدیث حواله ورکړې ده چې:ستوري داسمان دچت سره په رسیو(پړیو)باندې تړل شوي دي.ماته هیڅ داسې حدیث یادنه دی،چې دهغه داسې مضمون وي،که تاسوددې حواله

ورکولی شئ ،نوددې دالفاظو اومفهوم په باره کې څه عرض کیدای شي،په قران کریم کې دوه ځایه (الاعراف :۵۴،النحل:۱۲)ستورو ته (مسخرات بأمره،،)فرمایل شوي دي،یعنې ستوري حکم خداوندي سره مسخردي،ددوی په فضاکې معلق کیدل،هم ددې تسخیر یو مظهر دی،هم دغه هغه رنسئ دی چې دکوموسره دافضایي کرې ترل شوې دي اوکله چې ددې مخلوق دورانولو فیصله وکړل شي ،نوددوی دارسۍ به وسپړل شي اوستوری به خپل مینځ کې وجنګیږي اومات به شي اوددوی په خپل مینځ کې جنګیدل دتصادم قیامت وړاندې خیمه به وي، که په څه حدیث کې دستورو په رسیوسره دتړلو ذکرراځي، نوددې نه مراد داراده الهي هغه داوسپنې زنځیرونه دي کوموچې په فضاکې دا محیرالعقول ستوري نیولي دي،دمادي رسیوتکلیف دې ولې وشي؟ که سائنسدانان ددې خلائي کُرې داستقرار اواستحکام له پاره دکشش ثقل څه اصول وړاندې کوي ،نوموړ ته ددې دنه منلو ضرورت نشته،ظاهري سترګې تحریر دکاتب دلاسودحرکت کرشمه ګڼي ،خودلاس حرکت ددماغو د ارتعاشي لهرونو تابع دی اودماغ دروح دحس اوحرکت تابع دي اودروح ،روح اراده خداوندي ده، همدارنګه ددې خلایي سیارولـه پاره په سائنسي دنیاکې چې کوم اصول وړاندې کیږي، هغه ددوی دخپل عقل معیارپورې صحیح دي،اسلام ددې نفې نه کوي، بلکې په دې اصولوکې داراده الهي دکارکردګي عقیده وړاندې کوي،که یوسائنسدان د اسبابو اوعلتونو دسلسلې دکړیو په مینځ کې ختمولوباندې اصرارکوي ،نودادهغه د بصیرت اومشاهدې قصور دی.

د پیریانو په باره کې

دپیریانوپه باره کې دوه خبرې قابل ذکردي:

یوه داچې ایادپیریانووجود شته،یانشته؟

دویم داچې پیریان بنده ته تکلیف رسولی شي که نه؟ چې په عام عرف کې ورته دپیریان کیناستل وایي.

ترڅو پورې چې دپیریانودوجوتعلق دی په قران کریم کې دپیریانوذکر(دجن یاجان په عنوان سره)۲۹ځایه راغلی دی اود ،،سوره الجن،،په نامه په قران پاک کې یومستقل سورت دی، دسوره انعام ایت:۱۲۸،کې یواځې دپیریانواوسورت انعام کې ایت : ۱۳۰ اوسوره الرحمان ایت:۳۳کې،یامعشرالجن والانس،،ویلوسره پیري اوانسان ته خطاب شوی دی،دسورت الرحمان ایت ،،فبای الاء ربکماتکذبن،،کې کوم چې ۳۱ واره ده دواړوته خطاب دی،سوره الجن ایت:۱ ،سوره الاحقاف ایت:۲۹ کې دپیریانویوې ډلې دحضورﷺپه خدمت کې راتلل اوایمان راوړلو تذکره موجوده او داسې نور....

همدارنګه دحضور ﷺ په پاکو ويناوو کې ځای په ځای دپيريانوذکرراغلی دی، چې تفصيل يې غيرضروري دی، دقران کريم او احاديث شريفه نه واضح کيږي چې:

١: پيريان يو مستقل مخلوق دی.

٢: ددوی له اور نه پيدا شوي دي.

٣: دانسانانو په شان په دوی کې هم دتولد اوتناسل سلسله جاري ده.

۴: دانسانانو په شان هغوی هم داحکامات الهيه وومکلف دي.

۵: دانسانانو په شان په دوی کې هم ځينې مومنان دي اوځينې کافر.

۶: دوی دانساني نظرنه پټ دي.

٧: دوی کې چې کوم کافراوسرکشه وي هغوی ته (شيطان) يا (مردة الجن) ويل کيږي.

٨: ددوی نيکه ابليس دی.

په قران کريم اوحاديث نبويه ﷺ کې چې دپيريانوپه باره کې څومره ذکرشوی دی که هغه مخې ته کيښودل شي ،نويومستقل کتاب پرې ليکل کيدای شي اوعلمايې امت په دې موضوع باندې کتابونه هم ليکلي دي،چې په هغو کې (**اکام المرجان فی احکام الجان**)په عربي کې يومشهورکتاب دې،کوم کسان چې په قران کريم اورسول الله ﷺ باندې ايمان لري دهغوی خو دپيريانودوجودمنلونه پرته بله لارنشته اوکوم خلک چې ددوی دوجودنفې کوي دهغوی سره ددې نه پرته بل دليل نشته چې مخلوق ددوی له سترګونه پټ دی،له دې وجې نه که دااصول صحيح وي چې کوم شی په نظرنه راځی، نودهغه نه دې انکاروکړل شي ،نويواځې دپيريانودوجودنه بلکې دبې شميره شيانو دوجود نه به انکارکول وي،کوم چې په سترګوپه نظر نه راځي،په دې کې په اول نمبر دانسان خپل روح دی،کوم چې هيچاپه سترګونه دی ليدلی ،موجوده سائنس دداسې جراثيموانکشاف کړی دی چې که هغوی په لکونوچنده لوی هم شي ،خوبياهم دهغو په نظرراتلل مشکل دي، که دااصول صحيح وي نوخلکوته مشوره ورکول پکاردي چې دټولونظرنه راتلونکو شيانونه دې انکاروکړي،خو ماته پته ده چې داسې مشورې ته به تاسواحمقانه مشوره ووايئ، ځکه که داشيان عاموانسانانوته په نظرنه راځي، خو اثاراوقرائن ددې دوجودپته ورکوي،که داسائنسي دروبين ياخوردبين باندې نظرراتلونکی يوې وړوکې شان جرثومې باندې ايمان راوړل واجب دي اوددې نه منونکی احمق دی ،نودنبوت په دوربين اوخوردبين سره چې دکومو شيانو مشاهده کولوسره دهغو دوجودخبرورورکړل شوی دی ،دهغو په وجودباندې ايمان راوړل ولې ضروري نه دي؟اوددې نه منل ولې حماقت نه دی؟ دنه منونکو په لاس کې له دې نه پرته بل هيڅ دليل نشته چې دهغوی کوتاه نظرددې شيانو دمشاهدې کولونه قاصردی.

زماستاسونه ګیله ده چې د پیریانو د وجود بحث نه تاسو د سائنسي پیداکړل شویو شکونو کې ولې ځای ورکړ، ؟سائنس خو(د مادیات ترحده پورې)د علم اوتحقیق نوم دی،هرکله چې د پیریانو دوجود نه نفی په علم اوتحقیق باندې مبني نه ده،بلکې د ناواقفي اوجهل په بنیاد باندې ده، د پیریانووجود دځنې سائنسي اصول سره نه ټکریږي اونه سائنسي اصول د پیریانو دجودنفې کوي، زموږددې جدید دور یومصیبت دادی چې په دې کې د، ،جهل ..نوم علم کیښودل شوی دی اوداخبره زماپه علم کې نه ده چې ددې دوجود نفې باندې ددلیل په طورسره وړاندې کیږي، ګویادافرض کړل شوې ده چې که موږ ته پته نه وي، نوداګڼل پکاردي چې په واقعې کې هغه دخپل وجودنه هم محروم دي،دا ددې ددور جدید هغه منفرداصول دي چې ددې په ذریعه حقائق اوواقعات په ډېرجرات سره دروغ ګرځول کیږي.

دویم بحث داچې ایاپیریان په انسانانوباندې کیناستی شي؟ددې ځواب دادی چې عقلاً هیڅ شی ددې مانع نه دی،نن دمسمریزم اوعمل تنویم په ذریعه چې دنیادکوموعجائباتومشاهده کوي هغه دهیڅ یوصاحب عقل نه پټه نه ده،نو که یوکس په یوخاص مشقي عمل سره خپل معمول مسخرکولی اودلږ ساعت له پاره بې عقل کولی شي اودهغه دروح سره خبرې کولی شي اودهغه نه چې غواړي خبرې ویستلی شي ،نوڅه وجه ده چې ددې امکان نه دې انکاروکړل شي،دغه هرڅه جنات هم کولی شي،هرکله چې دانسان اوپیري دقوت مقابله دمیږی اوفیل مقابله ده، کوم تصرف چې کمزوری میږی کولای شي ولې ترې انکاروکړل شي چې هم هغه تصرف فیل هم کولای شي؟

داخبرې خوپه امکان باندې وې،ترڅوپورې چې دواقعې تعلق دی په دې کې هیڅ شک نشته چې په دې باره کې زموږ ډیرخلک دتوهم پرستی ښکاردي اوپه معمولي طبي مرضونو باندې هم ، ،دپیریانودناستې شک کوي،دځینې صحیح معالج طرف ته رجوع کولوپه ځای دغلط قسمه عاملانوپه چکرکې داسې بندشي چې ترمودو مودو پورې ددې جال نه یې خلاصیدل نه نصیب کیږي،خو دعوامودفضول توهم پرستی علاج دانه ده،چې دواقعاتونه دې هم انکار وکړل شي،واقعه داده چې په ځینو شاذ ونادر حالاتوکې دپیریانواثرهم کیږي،په قران کریم کې دوه ځایه ددې ذکرراغلی دی،یوپه سورت بقره کې دسودخورو ذکرکولوکې یې فرمایلي دي:

الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ. (البقره :٢٧٥)

ترجمه:کوم کسان چې سودخوري هغوی به په قیامت کې نه پورته کیږي ،خودهغه چا په شان چې حواس یې ورک شوي وي، دپیریانودناستې له امله. (ترجمه شیخ الهند)

حضرت مفتي محمدشفیع صاحب رحمه الله ددې ایت په تفسیر کې لیکلي دي:

ارشاد دی چې کوم کسان سودخوري،هغوی نه دریږي خوداسې دریږي، لکه هغه کس چې شیطان پیري خبط کړی وي،په حدیث کې دي چې د دریدونه مراد محشرکې دقبرنه پورته کېدل دي،چې سودخورکله دقبرنه پورته کیږي ،نودهغه پاګل اولیوني په شان به وي چې شیطان لیونی کړی وي.

ددې جملې نه یوه خبره معلومه شوه چې دجناتو او شیطانانو داثرنه انسان بې هوشه یالیوني کیدای شي اوداهل تجربه متواتر مشاهدات په دې باندې ګواه دي اوحافظ ابن قیم جوزي رحمه الله لیکلي دي چې طبیبانواوفلاسفه ووهم دامنلې ده چې صرع،بیهوشي یاجنون دمختلفو اسبابوله وجې نه وي،په دې کې بعضې وختونوکې دپیریانو اوشیطانانوداثرسبب هم وي، کوموخلکوچې ددې نه انکارکړی دی ،دهغوی سره دظاهري استعباد په ځای نورهیڅ دلیل نشته.(معارف القران ج: ۱ ص: ۲۴۷)

دویم ځای سورت انعام کې دهدایت پرېښودلواوګمراهي اختیارو نکومثال ورکولوکې فرمایل شوي دي:

كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيَاطِينُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُ أَصْحَابٌ يَدْعُونَهُ إِلَى الْهُدَى ائْتِنَا . (الانعام: ۷۱)

ترجمه: دهغه چا په شان چې شیطان په ځنګل کې بې لارې کړی وي،اریان دریان ګرځي په داسې حال کې چې دهغه ملګري بلنه ورکوي . چې راشه زموږ خواته!

دلومړي ایت نه معلومه شوه چې پیریان کیني، نودبنده نه مخبوط الحواس جوړوي اوپه دویم ایت کې هم ددې مخبوط الحواسي مثال ذکرشوی دی چې شیطان هغه دلارې نه بې لارې کړي،هغه حیران اوپریشان ګرځي اودهغه ملګری هغه ته اوازونه کوي چې موږ دلته یو موږ ته راشه،خوهغه دخپلې مخبوط الحواسۍ په وجه دهغوس اوازونو ته توجه نه ورکوي.

پاتې شو ستاداشک چې: پیریان یواځې په منونکوباندې ولې کیني؟ستاداشک هم په اصل کې دناواقفیت له وجې نه ده،تقریب فهم له پاره عرض کوم چې دمثال په طورد یودور افتاده دښته کلي اوسېدونکي صحرایي تصوروکړه،هغه ته څه خطرناکه بیماري لګیږي،خوهغه مسکین دخپلې ناواقفي له وجې نه نه پوهیږي چې دهغه دمرض اسباب څه دي؟دهغه دعلاج صحیح تدبیرڅنګه کیدای شي؟ظاهره ده چې دهغه ددې جهل په وجه دمرض داسبابو اوعلتونو نه نفي کول به هیڅ طورسره صحیح نه وي،ددې مثال به وروسته دابیان کړم چې په امریکه اویورپ کې دنفیساتي مریضانوځومره بهتات دی،هغه الحمدلله زموږ طرفونوته نشته،په دې ملکونوکې دداسې مریضانوله پاره لویې لویې شفاخانې هم موجودې دي، دعلاج معالجې سهولتونه هم ښه ډیردي،داعلی درجې ماهرین اومتخصصین هم موجود دي، نفسیاتي معالج دیوبل نه ښه موجود دی،خو ددې ټولووشیانوباوجودپه هغوی کې دنفسیاتي مریضانوتعدادورځ په ورځ په زیاتیدودی اودهغوی هیڅ دارو نه دواء کیږي

او تاد ابن قيم په ژبه د طبيبانو او فلاسفه وو فيصله اوريدلې ده چې ددې نفسياتي امراضو په اسبابو کې اسيب او د اسيب اثر هم کيداى شي، هر کله چې جديد مغرب ددې سبب نه منکر دى او عرض مې درته کړى دى چې دد دوى ددې انکار وجه د جهل نه پرته نور هيڅ نه ده، ماته ددې خبرې اجازه راکړئ چې د جديد مغرب مثال د هغه صحرايي په شان دى چې د مرض د اصل سبب نه بې خبره او جاهل دى، لطيفه داده چې کوم خلک ددې مرض د اصل سبب نشاندهي کوي د جاهلان هغوى پورې ټوکې کوي، تاسو ووايئ اچې په داسې صورت کې به د هغوى مريضان لاعلاجه نه وي نو نور به څه وي؟ داويل چې انګريزان او روسان د پيريانو د وجود نه منکر دي ددې وجې نه په هغوى باندې پيريان هم نه کيني، حقيقت ته ورته خبره نه ده، بلکې صحيح داده چې په مشرق کې پيريان په لکونو کرورونو کې په يو کس کيني، خو په مغرب په په زرګونو کسانو باندې ناست دي او بې شميره کسان يې مخبوط الحواس او نفسياتي مريضان جوړکړي دي ،فرق که دى نو دا چې مشرق، د پيريانو د وجود قايل دي او د نفسياتي مرضونو په فهرست کې پيريان کيناستل هم شماري او ددې صحيح تشخيص په وجه باندې هغوى په علاج کې هم کامياب دي، الاماشاءالله، ددې برعکس مغرب د خپلې ناواقفۍ ،تعصب او جهل په وجه باندې د نفسياتي مرضونو کې اهم سبب نه تشخيص کولى شي او نه ددې د علاج قدرت لري، خو ځومره ستم ظريفى ده چې تاسو قصور وار مشرق ګڼئ او د مغرب جهل هنر تصور کوئ او په دې ښکاره خبره باندې سوچ نه کوي چې که په مغربيانو باندې پيريان نه کيني، نو د مشرق په مقابله کې ددې لاعلاجه نفسياتي مريضانو دومره ګڼ شميرولې دى؟

د مذهب او سائنس ټکر

پاتې شو دا سوال چې: ايا مذهب او سائنس په يو ځاى تللى شي؟
ارمان چې فرصت واى، نو په دې نکته به مې په تفصيل سره ليکل کړي و، خو دلته يو اخې ستا په ځواب کې دومره عرض کوم چې که د مذهب نه مراد غير فطري او باطل مذهبونه وي کوم چې د مثال په طور، ، درې يو او يو درې، ، په شان نظرياتو باندې خپل بنيادونه او چت کړي دي، نو زما ځواب په نفى سره دى، د سائنس په مقابله کې داسې پخواني او فرسوده مذهبونه له دې سره نه شي تللى او که مذهب نه مراد دين فطرت وي دکوم اعلان چې خالق فطرت په (ان الذين عند الله الاسلام) سره کړى دى ، نو زما ځواب دادى چې مذهب د سائنس سره تللى شي او روان دى او انشاء الله ځى به، ځکه که سائنس (واقعتاً سائنس وي) د رموز فطرت نه د پردوا چتولو نو دى، اسلام په خپله فطرت دى (فطرة الله التى فطر الناس عليها)
فطرت کله هم د فطرت سره ډغره نه خوري، ددې وجې نه اسلام ته د سائنس نه هيڅ خطره نشته، بلکې واقعه داده چې سائنس داسې ډير اسلامي نظريات فهم ته نزدې کړي دي کوم ته

چې به دپخوانۍ زماني انسان دحيرانتياپه نظرسره کتل،هم ددې ځای نه زموږ په دې يقين کې اضافه کيږي چې اسلام پرته دڅه شک نه دخالق له لوري نازل شوی فطري دين دی اوکه سائنس دانان څه داسې خبره کوي چې داسلام دقطعي نظرياتوسره ډغره خوري، نوزموږ يقين دی چې هغوی دفطرت خلاف وايي،که نن نه وي نوسبابه په هغوی باندې دخپلې نظريې غلطيدل اوباطل کيدل ښکاره شي،خوهغوی نه ددې وجودختمولای شي او نه ددې رڼاغائبولای شي،اسلام دپوره انسانيت له پاره دهدايت لمردی،ړانده ددې نه سترګې پټولای شي ګمراه اوکج روخلک دخپلونظرياتو دوړې اوچتولای شي ،خو داوريځې به په هرحال ليرې کيږي اوداسلام دلمر رڼاګانې به په هرحال پرقيدلې وي.

غرض داچې:دسائنس هيڅ صحيح نظريه داسلام سره ډغره نه خوري اوکوم نظريات چې په ظاهرکې داسلام سره متصادم په نظرراځي هغه دسائنس فطري نظريات نه دي،بلکې ياخو ورته خام خياله خلکودهوا اوهوس،،سائنسي نظريې،،نوم ورکړی دی،ياهغه دتحقيق او تجسس دخلا او نور دواړو ترمنځ دسفردرميانه منزلونه دي، کوم چې په غلط فهمي او عجلت پسندي کې ،،حرف اخر،، ګڼل شوي دي،له دې وجې نه زموږ ځوانانوته ددې شکونو او شبهاتوپه تياروکې دهلته او دلته ګرځيدوضرورت نشته،ددوی سره دمحمدصلی الله عليه وسلم راوړل شوی قطعي پيغام هدايت اود فطرت دين موجوددی،څمکه اواسمان دخپل ځای نه ليرې کيدای شي ،خوپه پيغام محمدي ﷺ کې دوينښته برابر دکمي زياتي ګنجائش نشته،ضرورت ددې خبرې دی چې زموږ ځوانان دې دايمان اويقين په غيرمتزلزل قوت باندې خانونه ښائسته کړي اومخکې دې ځي، په خپله دې مسلمانان جوړشي او سائنس دې هم مسلمان کړي،دسائنس مثال دتورې په شان دی،که دادااسلام دغازيانوپه لاس کې وي نودجهادفی سبيل الله کاربه ورکوي اوکه دشوکمارو په لاسوکې وي نوپه فسادفی الارض کې به نوره اضافه کوي.والسلام.

دسائنس دانانودالحاداسباب

سوال: ماهنامه،،بينات،،کراچی بابت ماه جمادی الاولی ١٣٩٣هجری کې دجناب پروفيسر مجتبی کريم صاحب يومضمون دسائنس په ابتدائي معلوماتوباندې خپور شوی دی،موصوف په اولنې پرګراف کې ليکلي دي:

ويل کيږي چې دسائنس لوستونکی دهري وي،خوواقعه دانه ده،که دسائنس اصولوته په غورسره وکتل شي .

دالله تعالی دقدرت کرشمې چې وليدل شي ،نو پرته داعتراف کولو نه به لاره نه وي،سائنس دانانوباندې دهريه کيدو الزام لګول غلط دي.

جواب: زما په خیال کې داخبره جزءي طورسره خوصحیح ده،ځکه چې په امریکه، یورپ، روس اوکمیونسټ ملکونو کې اکثرسائنسدانان نیم ملحد اوددهري نظریې والا په نظر راځي،په دې کې شک نشته چې دسائنس ایجاداتوعقل حیران کړی دی اوپه مادی سطح باندې دانسان دراحت اوسهولت دوه صورتونه په وجودکې راغلل،دکوم چې څه موده مخکې تصورهم نه شو کیدای ، خوسائنس دان دحقیقت کبری پورې رسایي نه محروم دی.

دایتم زره ځیرولوسره اودهغه بنیادي عناصراوپه هغو کې پټ قوت موندلوکې هغوی ضرورکامیاب شوي دي،خودانسانیت اجزاء ترکیبي اودهغوی دقدروقیمت معما هغوی نه حل شوې نه ده،هغوی دټولووعلویاتو اوسفلیاتودنظام ارتقائي کړي په ډیرمحنت سره تلاش کړي دي،خوپه خپله دانسان دمعراج ارتقاء اومبداء اومنتهاڅه ده ؟ددې ځواب هغوی ته معلوم نه شو،هغوی دمخلوق دیویوشی خواص اواوصاف ولټول خودانسانیت اخلاق اواقداراوددې دجوړیدو اوورانیدواسباب دجستجونه هغوی همیشه عاجزدي،انسان دمختلف اعراض اوجواهرو دپیمائش له پاره الات ایجادکړل،خودپیمائش انسانیت پیمانه دهغوی دلاسونو نه پریوتله اوماته شوه،هغوی په ډیرحساس خوردبینونو باندې ترټولو واړه جراثیم ولیدل خوهغوی ته دخودشناسی خوردبین په لاس ور نه غی،چې په هغه کې ورته دخپل نفس څه جرمونه په نظرراغلي وی،غرض داچې دسائنس ترقی یوه دنیابدله کړه،خوافسوس چې دمشرق اومغرب ملحد سائنسدانان دخداشناسی اوانسان شناسی ددولت نه محروم پاتې شول،بیشکه همدارنګه کیدل پکارنه و، خو وشو اودټولوپه وړاندې کیږي،داسې ولې وشو؟ددې ولې ځواب دچا (خضر راه) نه معلوم کړئ.دحضرت موسی علیه السلام اوحضرت حضر علیه السلام کومه کیسه چې په قران پاک کې ذکر شوې ده.په دې کیسه کې دحضرت حضر علیه السلام یوه فقره په صحیح بخاري حدیث کې مروي ده،دکومې سره چې داعقده حل کیږي،یعنې حضرت موسی علیه السلام چې کله دطالب علم په حیثیت سره دحضرت حضر علیه السلام سره درفاقت وړاندیزوکړ ،نوددې په ځواب کې حضرت حضر علیه السلام وفرمایل:

"یاموسی إني على علم من علم الله علمنيه لا تعلمه أنت،وأنت على علم من الله علمك الله، لاأعلمه. (صحیح بخاري ج:٢ ص:٦٨٨)

ترجمه:اې موسی!زه دالله تعالی دطرف نه راکړل شوي یوداسې علم باندې یم په کوم چې ته نه پوهیږې اوته دالله تعالی دطرف نه درکړل شوي یوداسې علم باندې حاوي یې په کوم چې زه نه پوهیږم.

اوپه دویم روایت کې ددې په ځای داالفاظ دي:

"أما يكفيك أن التوراة بيديك؟ وأن الوحى تأتيك؟ياموسى!إن لى علمًا لا ينبغى لك أن تعلمه وإن لك علمًا لا ينبغى لى أن أعلمه." (ج:٢ ص:٦٨٩)

ترجمه: ایا ستاله پاره دومره کافي نه ده چې ستا په لاسونو کې تورات دی او دا چې تاته وحې هم راځي؟اې موسی!زما سره چې کوم علم دی د هغه زده کول ستا شایان شان نه دی او تا سره چې کوم علم دی په هغه باندې حاوي کېدل زما دوس خبره نه ده.

د حضرت حضر علیه السلام په دې حکیمانه فقره کې چې په څه باندې پوهول شوي دي د هغو د تشریح له پاره لاندیني نکات دې ملحوظ وساتل شي:

١: د الله تعالی د طرف نه دوه قسمه علمونه ورکړل شوي دي:

یو د مخلوق د اسرار او رموزو، د شیانو اوصافاو د فوائد او نقصاناتو علم، کوم ته چې ..علم مخلوق،،یا،،علم تکویني،،ویل کیږي،ټول انساني علمونه او ددې په سوونو شعبې ددې،علم مخلوق،، ښاخونه دي،خو د معلومات خداوندي په مقابله کې د انسان د امخلوقي علم د سمندر په مقابله کې د قطرې او د غره په مقابله کې د یوې ذرې نسبت هم نه لري.

دویم هغه علم کوم چې خالق مخلوق د ذات اوصفات،د هغه د مرضیاتو او نامرضیاتو او د انسان د سعادت او شقاوت ښکارندویي کوي دې ته،،علم الشرائع،،یا تشریعی علوم،،ویل کیږي.

٢: دا دواړه علمونه هم د الله تعالی د طرف نه بندګانو ته ورکول کیږي،خو د دواړو ذرائع بېل بېل دي،د لومړي قسم له پاره احساس،عقل،تجربه ،فهم او فراست ورکول شوي دي او کوم ځای ته چې د انسان د عقل او سوچ رسېدل کېدای نه شي هلته وحې او الهام سره دده رهنمائي کیږي،لکه د انسان د دنیاوي ژوند سره متعلق د ټولو علمونو مبادیات د وحې او الهام په ذریعه ښودل شوي دي(وعلم ادم الاسماء كلها)نور دا چې په انساني فطرت کې عقلي او تجرباتي علمونو کې د ترقي کولو پوره استعدا ایښودل شوې دی.د همدې علم یوه شعبه حضرت حضر علیه السلام ته وهبي طور سره ورکړل شوه او د خالق مخلوق د ذات وصفات د معرفت او د هغه د مرضیات او نامرضیات پېژندګلوي چونکه د انساني ادراک نه پورته وه،ددې په وجه ددې مدار یواځې په عقل او تجربه باندې کېښنبودل شو،بلکې ددې د تعلیم له پاره د انبیاء کرامو علیهم السلام یوه مستقله سلسله جاري شوه،د کومې شروع چې د حضرت ادم علیه السلام نه وشوله او انتهاء یې په حضرت محمد ﷺ باندې وشوه،حضرات انبیاء کرامو ته د معرفت، ذات او صفات،مبداء ومعاد ،سعادت وشقاوت،فضائل ورذائل،عذاب وثواب تفصیلاتو باندې وحې په ذریعه خبر ورکړل شو.د هغوی په وړاندې الله تعالی پورې د رسیدو صفا سوتره لاره پرانستی شوه.دوی ددې صراط مستقیم په دعوت باندې مامور شول او دا

حضرات ادم داولاد مقتدایان جوړ شول اودپوره انسانیت سعادت اوشقاوت ددوی دقدمونو سره وتړل شو، هم داهغه علم و کوم چې موسی علیه السلام ته ورکړل شوی و.

۳: انبیاء کرام چونکې دانساني ورور ولی یومعززه ډله ده اوهغوی سره هم ددې ژوند ضروریات په هرحال لاحق دي، له دې وجې نه هغوی دانسان ددنیوي حاجاتونه بې خبره نه دي نه دکسب معاش حوصله شکني کوي اونه له ژوندسره دمتعلقه علومو نفې کوي. بلکې د ضرورت په اندازه په خپله هم کسب معاش کوي، خو دژوندپه حرکت، سکون اوکسب معاش په هرطورطریقې باندې په دې نقطه نظرسره بحث کوي چې داالله تعالی په نزدخوښ دي او که نه ؟اوداداخرت دمسافرله پاره دلارې توښه ده، یادهغه منزل ته نقصان ورکوي؟ غرض داچې هغوی دژوند دهرې شعبې په باره کې هرکس ته هدایات ورکوي، جایز او ناجایز ښیي، دښه اوبدښکارندوي کوي، خوپه خپله څه علم اوفن خپله موضوع نه جوړوي، بلکې،، **انتم اعلم بأموردنیاکم**،، ویلوسره مخکې ځی، ګویادنیاڅه علم یافن اوفلسفه اوسائنس موضوع جوړول دهغوی داعلی اوارفع شان نه فروترشی دی، همدا مطلب دحضرت حضر علیه السلام ددې ارشاددی چې: اې موسی! ماسره چې کوم علم دی دهغه زده کول ستاشایان شان نه دی، همدا وجه ده چې دمادیاتوکومه ترقي ددوی دامتیانو په لاسونوشوه په خپله دهغو حضراتو لاسونه په دې کې ملوث نه شولاوغالباً همدغه نکته ده چې ترکومې پورې ددین دترقۍ تعلق دی حضور ﷺ دهغې محنت پایه تکمیل پورې ورسوله اوکله چې په ده باندې دفتوحاتودروازه پرانستل شوه نولاسونه یې وځنډل اوله دنیایې تشریف یوړ اوداکارېې خپلوخلیفه ګانوته حواله کړ.

۴: په انبیاء کراموعلیهم السلام باندې چې کوم علمونه پرانستل شوي وو هغه یواځې دهغوی له پاره نه دي، بلکې ټول انسانیت دهغو محتاج دی، ددې وجې نه ددنیاترټولو دانشور، حکیم، سائنس داناوفیلسوف داعلوم دانبیاء کراموعلیهم السلام له وساطت نه پرته نه شی حاصلولی، دعام انسان همدغه کمال دی چې هغوی دعلوم نبوت څه برخه دهغه حضراتوپه ذریعې سره حاصله کړي، خونه هغوی دټول علوم نبوت احاطه کولی شي اونه دانبیاء کراموعلیهم السلام نه مستغني کېدای شي اونه دعلوم نبوت څه کرشمه ورته نصیب کېدای شي، هم دغه مطلب دحضرت حضر علیه السلام ددې ارشادی چې: اوتاسره چې کوم علم دی په هغه باندې حاوي کېدل زمادوس خبره نه ده، که دپرائمري طالب علم دریاضي ګرانو مسائلو یاداینټمي نظریې تشریحاتوباندې پوهیدو نه قاصردی، نوپه دې کې دهغه مسائلو څه قصورنشته، بلکې دطالبعلم ذهني کمزوري ده، دانبیاء کراموپه وړاندې دټولې دنیا عقلاء، حکماء، افلاطوناوجالینوس طفل مکتب دیاونه د ددوی اساتذه فطرت (علیهم السلام) نه مستغني کېدای شي اونه په دې علمونوباندې دحاوي کېدوحوصله لري.

دفلسفې اوسائنس ماهرين، چې دعلم اودانش ،عقل اوفهم په کومه مرتبه باندې فائزدي ،ددې په وجه دمخلوق له رنګونو په نسبت دنورو نه زيات واقف اودفطرت دنيرنګينو(چل اوفريب) سره زيات اشنا دي،دهغوی نه داتوقع بې ځايه نه وه چې هغوی به دقدرت خداوندي په وړاندې دټولونه زيات سرپه سجده وي،درسالت اونبوت ضرورت اواهميت اودانبياء کراموقدر اومنزلت دټولونه زيات په هغوی باندې ښکاره کيږي اووحي الهي سره کومه چې په انبياء کراموباندې نازليږي دټولونه زياته استفاده هم هغوی کوي.
انبياء کرام عليهم السلام سره وفاداري،وجان نثاري ،اطاعت اودفرمانبرداري مظاهره دټولونه زياته دهغوی له طرف نه وي،خو دبد قسمتي نه دسائنس قيادت چې دچاپه لاس کې راغلی دی هغوی دمعرفت دروازې ته چې ورغلل نو وروسته شول اوهغوی دانبياء کرامو عليهم السلام اطاعت شرم وګاڼه اودتعليمات نبوت نه يې داستغنامظاهره وکړه،همدارنګه ارشادخداوندي: **واضله الله على علم**.(اوګمره کړل الله تعالى دوی له علم سره سره)په دوی باندې صادق راځي،دقديم دور فلاسفه دانبياء کرامودعظمت قايل وو ،خودهغوی وينا وه چې دوی خودعواموداصلاح له پاره رالېږل شوي دي، کله چې موږ دتهذيب اوتربيت په منصب باندې فائزيو،نو دنبوت نه داستفادې ضرورت باقي نه پاتې کيږي"**ونحن قوم هذبنا انفسنا**" دنوي دور فلاسفه (سائنس دانان)په غروراوتکبرکې له هغوی نه زيات ترقي يافته ثابت شول،هغوی انبياء کرام عليهم السلام اودهغوی مشن ته په سپک نظر وکتل،دانبياء کرامو عليهم السلام دزهد اوقناعت اوددنياسره بې رغبتي دکوم دعوت چې دانبياء کرامو خاص موضوع وه،دهغو نه يې دنفرت اوبيزاري اظهاروکړ اومخصوص علوم چې انبياء کرامو ته ورکړل شوي وو ،دهغو په باره کې يې نه يواځې شک اوشبه بلکې ضداو عنادهم ښکاره کړ چې په نتيجه کې نه يواځې دايمان له نورنه محرومه شول بلکې دانسانيت داعلى اخلاقي اقداررونه يې هم لاسونه ووينځل اوس ددوی محنت،انساناوانسانيت په ځای په خاوره اودخاورې نه راوتوتکيو شيانوباندې خرچ کيږي،شيان جوړيږي اوانسانيت ورانيږي.
سائنس دخپلې ټولې ترقۍ باوجود دامغرور سائنسدانان ددهريت اوالحاد له غولې بهر نه کړای شول،بلکې ددې برعکس دوی دسائنس ملحد اودهري جوړولوکې کامياب شول، دسائنس دنيم پوخته اونيمګړيو نظرياتو په وجه چې(نن په ډيرزور اوشورسره دهغو د ثابتولو کوشش کوي اوسبا ددې غلط ثابتيدو باندې دلائل ورکوي)دسائنس ډيرو زده کوونکو داسلام په مقابله کې دهريت ته په لالچي نظر سره کتل شروع کړي دي،همدارنګه دهريت اوبې ديني دسائنس فيشن جوړشو،دانبياء کراموعليهم السلام په مقابله کې ددې سائنس دانانو دمتکبرانه عادت سبب دماديت غلطه نشه ده،دسائنس عالمانو دافرض کړه چې دماديت داترقي،دا روښانتيا،داسيارې اوطيارې،دااټم اوقوت دانسانيت کمال او

خير بس يواځې هم په همدې شيانوكې دس، په فضا كې الوتل، په دريابونوكې لامبو وهل، سپوږمۍ ته رسيدل، دلمرطول اوعرض ناپ كول او دزهره اومشتري خبرراوړل. بس دغه دانسانيت اخري معراج دی اوداترقي دانبياء كرامو په زمانه كې نه ده شوې. ځكه يواځې دا نه چې دسائنس دور، ددورنبوت نه افضل دی، بلكې دا ترقي يافته خلك په خپله دټولو انسانونه بهتردي اودې پروپيګنډې (افواه) ته دومره هوا وكړل شوه چې نن ډيرمسلمانان هم موجوده دور ته (مهذب دور) اوپخوانی دورته (چې دانبياء كرامودور و) په تو دورسره تعبير كولو باندې نه شرميږي (اناالله وانااليه راجعون)!

سره له دې چې دنبوت نه كټ كيدوسره په كومه ترقۍ چې نن دنيا په جاموكې نه ځاييږي دانبياء كرامو په نظردې قيمت دماشي دوزر برابرهم نه دی. دحضور ﷺ ارشاد مبارك دی:

"لوكانت الدنيا تعدل عندالله جناح بعوضة لماسقى كافرًا منها شربة". (مشكوة)

ترجمه: كه دالله تعالی په نزد دپوره دنياقيمت دماشي دوزر برابر هم وای. نوهيڅ كافرته به يې يوغړپ اوبه هم نه وې وركړې.

دانبياء كراموعليهم السلام په وړاندې داخرت نه ختميدونكی ژوند دی. دكوم ځای دنعمت اولذت اوراحت ارام چې تصورهم دلته نه شي كيدای. دانسان هيڅ داسې خواهش نشته چې هلته به پوره نه شي اوهيڅ قسمه غم اواندېښنه داسې نشته چې دهغې دلاحق كيدوخطره دې هلته وي، داسې ژوند چې دمرګ به هيڅ ويره نه وي، داسې صحت چې دمرض به هيڅ خطره نه وي، داسې ځواني چې دبوډاوالي (زړښت) تصوربه هم نه وي، داسې راحت چې دتكليف نوم به هم نه وي، سلطنت دومره لوی چې دهغه په مقابله كې دا ځمكه اواسمان هيڅ حيثيت نه لري، ظاهره ده چې دچادسترګوپه وړاندې داخرت دابې حده اوبې حسابه ژوند دخپلو ټولو نعمتونوسره وي، هغه چې زموږ له سختيواوحوادثونه ډك ژوند په په لوبې اوتماشې سره تعبيرنه كړي، نوله دې نه زيات صحيح تعبيرڅه كيدای شي؟ قران كريم بار بار داسې ويلو سره انسانيت دغفلت له خوب نه رابيداركړی دی:

وَمَا هَٰذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ (العنكبوت: ٦٤).

ترجمه: او دادنياژوند (په حقيقت كې) له لهواولعب نه پرته نورهيڅ نه دی. اصلي ژوند دعالم اخرت دی اوكه ددې پته ورته وای، نوداسې به يې نه كول (چې په فاني كې مشغول شي اوباقي هيره كړي). (بيان القران)

دځلورو پنځوكالوماشوم كه دلرګي يوڅوټكې له يوې اوبلې خوا راجمع كړي اوګډوډ دسپوږمۍ ګاډۍ (چاندګاړی) ترې جوړكړي. نودالوبه دهغه دذهانت دليل ده اوكه پلارېې هم دزوی په نقالي كې همدارنګه ګاډي جوړل دخپل ژوندموضوع جوړه كړي. نودا ذهانت نه

دي،بلکې دليونتوب علامت ده.تاسوواړه ماشومان روزانه په شګوخاوروکې کورونه جوړولوباندې وينئ اوکه يوه ورځ يومشرصاحب هم دغه مشغله باندې ووينئ. نوددې صاحب په باره کې به ستاسورايه څه بل ډول وي؟دټوکر وړې وړې ټوټې راجمع کول اودهغې نه دګوډيانو(لانځکو) له پاره جامې جوړول د وړو ماشومانو جينکو خوښه مشغله ده او د هغوی دحوصله افزايي له پاره مورهم کله کله دهغوی رهنمايي کوي.خو که بيګم صاحبه ټول کارونه پريږدي اودګوډيانولوبې دخپل ژوندهدف جوړکړي، نوورته دعلاج ضرورت دی،
بالکل همداسې ددنياپوره ژوندخپلې ښکلا او فتنو سره سره دانبياء کراموعليهم السلام په نظرکې يوه لوبه ده اوکوموکسانوچې دالوبه دخپل ژوند واحد مقصد جوړکړ اوټول محنت يې يواځې په همدې باندې خرچ کيږي او يواځې ددې له پاره ګرځي اومري اوژوندی کيږي اګرکه ډيرې کارنامې وکړي اونوي نوي ايجادونه وکړي، يالوی لوی جمهوريتونه چلوي خودانبياء کراموعليهم السلام په نزد ددوی انسانيت دعلاج وړ دی.

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا ۔ الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا . (الكهف :۱۰۳،۱۰۴)

ترجمه:تاسو ﷺ(دوی ته)ووايئ چې اياتاسوته داسې خلک وښايم دچاکارنامې چې دټولونه زياتې په تاوان کې دي؟(نوواورئ)داهغه خلک دي دچاچې په دنياباندې شوی محنت هم دلته ضائع شو اوهغوی دجهل په وجه په دې خيال کې دي چې هغوی ډيرښه کارکوي.

غرض داچې دانبياء کراموعليهم السلام په دورکې په خپله دهغوی په لاس دمادي ترقۍ نه کيدو وجه دانه ده چې دهغوی دور دنن دورپه نسبت_نعوذبالله_تياره اوغيرمهذب و اود انسانيت دارتقاء ابتدايي منزلونه يې طی کړي نه وو.بلکې ددې اصلی سبب دادی چې دهغوی دبلندترين منصب اوعظيم هدف په مقابله کې دماديت داټوله لوبه دماشومانو د لوبې په شان حيثيت لري،انبياء کرام دايټم موندلوله پاره نه وو راغلي،بلکې هغوی هغه اوچت ذات سره انسانيت اشناکوي دچاپه وړوکې شان اشارې،،کن،،کې په زرګونه ايټمونه پټ دي،دهغوی نظريواځې دمخلوق په باهمي ربط کې نه وي، بلکې په دې باندې غورکوي چې ددې مخلوق،خالق قدرت سره څه ربط دی؟دهغوی موضوع په شيانوباندې محنت نه وي ،بلکې په انسان سازۍ باندې محنت وي،دهغوی په نزد ددې چيتروهيڅ حيثيت نشته.کوم چې ددنيانابالغه خلکوپه ډيرښايست سره په الماريوکې ايښې دي ،ددې خاورينوکورکيو هيڅ قيمت نشته،چې دانادان ماشومان يې نقش ونګارسره ښائسته کوي اوددنياظاهري ښکلا و جلا کې دهغوی له پاره هيڅ کشش نشته،په کوم باندې چې دابې عقله ماشومان مين دي،هغوی ته پته ده چې ددې اصلي حقيقت څه دی؟هغه ديوې فناکيدونکې خاورينې

غونډۍ نه پرته هيڅ هم نه ده، ددې حقيقت اظهار هم هغوی په داسې الفاظو سره کوي:

"مالي وللدنيا؟ وما أنا والدنيا إلا كراكب إستظل تحت شجرة ثم راح وتركها" (مشكوة)

ترجمه: زماله دنياسره څه؟ زمااو ددنيامثال خوداسې دي لکه چې يومسافرديوې ونې دسوري لاندې کيناست، لږ وخت يې ارام وکړ، بيايې هغه پرېښود اوروان شو. (اوبياکله هم ورته ددويم ځل راتلوضرورت پيښ نه شو)

اوکله خلک په دې لوی حقيقت باندې داسې پوهوي:

"كن في الدنيا كأنك غريب أو عابر سبيل وعد نفسك في أهل القبور." (صحيح بخاري)

ترجمه: په دنياکې داسې اوسيږئ ګوياتاسودلته ديو ښوورڅومسافريئ اوداسې وګڼئ چې تاسوداهل قبورپه صف کې شامل يئ، (نن که نه وي نوسبابه ستاسونوم هم وا نه خستل شي)

مابعدالطبيعات نه ړونداوکوڼ سائنس، دچاپه نزدچې يوشی منلوله پاره دهغه شی مشاهده کول اوپه لاسوسره کتل شرط دي، چونکه په حقيقت باندې دپوهيدونه عاجزدی، ددې وجې نه هغوی د(ايمان بالغيب)دټولې نبوي سرمايې دخندا نذرکوي اوهم ددې ځای نه دهغوی دملحدانه شفقت اغازکيږي.

غرض داچې دسائنس دانانودټولې محرومۍ باعث د..نبوت..نه انحراف دی اوددې انحراف وجه جهل اوغرور ده، که په دوی باندې ددې مخلوق پټ حقيقت ښکاره شوی وای، نو دوی ته به معلومه شوې وه چې مخلوق يوازې دانه دی دکوم تعلق چې دمرګ نه مخکې دمشاهدې سره دی، بلکې داخواصل دمخلوق يوه وړه شان ذره ده، که داصل مخلوق اوبيادمخلوق نه وروسته دخالق مخلوق رازپه دوی باندې منکشف شي، نودوی ته به معلومه شي چې په کربونه ډاي اکسائډ الرخرچ کول اودسپوږمۍ نه يوه دړې خاوره راوړل دترقۍ علامه نه ده، بلکې دسفاهت اوکم عقلۍ نښان دی، دنبوت دلمن نه کټ کيدوسره ددې سائنس دا..سفيهانه محنت،.انسانيت ته دبې قرارۍ،.ناخوښۍ، کرب واضطراب تحفه ورکړې ده اوددې نا ارامۍ دوختې ارام له پاره دمختلف قسم مصنوعي تفريحاتو اومنشياتو نسخه يې تجويزکړه، دنن مفلوج انسان چې دکوم اخلاقي، روحاني،.نفسياتي.جسماني مرضونو نمونه جوړه شوې ده اهل عقل ته ددې تجزيه کول پکار دي، چې په دې کې دسائنسی ترقۍ برخه څومره ده؟ زماخپل دا ايمان دی چې ترڅوپورې دسائنس داکوششونه دنبوت تابع شوي نه وي اوترڅوپورې چې سائنس دانان دانبياء کرام عليهم السلام په وړاندې دخپل علمي عجزاعتراف ونه کړي ترهغو پورې به سائنس هم هغه شان ملحدوي اوددې ټول ترقياتي کارنامه به دانسانيت دهلاکت اوبربادۍ په کارراځي. پاتې شوداسوال چې سائنس دنبوت دلمنې سره تړل ممکن دي؟ ددې ځواب دمسلم سائنس دانانو دجرات اوهمت اوفهم فراست په انتظاردی.

دسائنس جدید نظریاتوتر ټولو لوی دهریت نوازسائنس دان هم د..وجودخدا..په اعتراف کولوباندې مجبورکړی دی،(اګرچې هغوی دومره جرات نه لری چې په ښکاره ددې اعلان وکړي) خوداهم هیرول نه دي پکار چې یواځې د..وجودخدا،،مبهم تصورددهریت ددې مارخوړلو له پاره تریاق نه دي،نه محض دې تصورسره یوبنده ته،،خداپرست..ویل کیدای شي ،بلکې هغه لره به دایمان اویقین په رڼاکې نورې مرحلې هم طی کول پکاروي.یعنی دخدایي صفات څه دي؟ددې عالم دتخلیق مقصدڅه دی؟هغه دانسان دښیګړې اوبدۍ څه معیارتجویزکړی دی؟

دالقران ریسرچ سنټر د تنظیم او ددې د باني محمد شیخ شرعي حکم

سوال: مولاناصاحب! نن سبایوه نوې فتنه دقران سنټرپه نامه سره ډیره په ترقۍ ده.ددې باني محمدشیخ په انګلش کې بیان کوي اوددین دضروریاتو نه انکارکوي.موږ په دې انتظارکې ووچې:اپ کے مسائل اورانکاحل،،کې به ستاسوڅه مفصل تحریرخپور شي خواپ کے مسائل کې دیوې زنانه دسوال نامې په ځواب کې تاسومختصرشان ځواب مې ولوست،اګرچې هغه تحریرترڅه حده پورې کافي و،خوپه دې سلسله کې دتفصیلي تحریراوس هم ضرورت دی،که تاسوڅه داسې تحریرلیکلي وي یاخپور شوی وي، نو هغه راته وښایئ اوبیا دامت مسلمه په دې سلسله کې رهنمایي وکړئ!

جواب: ستاسوخبره صحیح ده:،اپ کے مسائل اوانکاحل،،کې زمایومختصرشان ځواب خپور شوی واوددوستانواصرارو چې په دې سلسله کې یومفصل تحریرراتلل پکاردي، چنانچې زمایومفصل تحریرپه ماهنامه،،بینات،،کراچۍ کې ،،بصائروعبر،،کې خپور شوی دی،مناسبه ده چې داتحریر دعامې فائدې له پاره دلوستونکو په خدمت کې وړاندې شي:

"دهندوستان دمسلمانانوداخواهش اومینه وه چې یوداسې ازاد ریاست اوملک ورته په ګوتوورشي چیرته چې مسلمانان په ازادۍ سره دقران وسنت قانون نافذکړای شي اوهغوی ته په دین اودیني شعائرو کې څه خنډ(مانع) نه وي.چونکه دمسلمانانوجذبه ښه وه له دې وجې نه په دې کې ځوانانو،بوډاګانو،عوامو اوخواصواوعالم اوجاهل ټولوبرابریوشان کوششونه کول.

په اخره کې دلکونوسرونواوعزتونوله قربانۍ نه وروسته په ۱۴اګست ۱۹۴۷کې دیومسلم ریاست په حیثیت سره پاکستان په معرض وجودکې راغی،دقیام پاکستان مقصد داسلامي نظام حکومت یعني حکومت الهیه دقیام باور ورکړل شوی و،دکوم چې عنوان و :(پاکستان کامطلب کیا؟لااله الاالله)اودایوه داسې نعره وه چې دکومې زیراثر ټول مسلمانان دهرقسمه قربانیوله پاره تیاروو،تردې پورې چې هغه مسلمانان دچاعلاقې چې دتقسیم هند نه وروسته دهندوستان په حدودوکې راتلې هغوی هم ددې په قیام کې له هرچانه مخکې وو،خو:(اے .

بساارزوکه خاک شده،ځومره موچې علاج کاوو هغومره مرض زیاتیده، .په شان نن د پنځوسو کلونونه زیات وخت تیربدو سره دپاکستان مسلمانانو ته اسلامي نظام حکومت حاصل نه شو ، اناالله وانااليه راجعون!

برعکس پاکستان ورځ په ورځ مسائلستان جوړیده،په دې کې مذهبي،سیاسي ،روحاني ،هرقسمه فتنې پیداکیدل شروع شول،یوطرف ته په انګلینډکې دمرتدرشدي فتنه رپورته شوه،نودویم طرف په پاکستان کې دیوسف کذاب په نامه یوبدباطنه دنبوت ددعوې سره میدان ته راوت، همدارنګه په بلوچستان کې ذکري مذهب ایجادشو .چاچې هلته کعبه اوحج جاري کړ،دلته رافضیت اوخارجیت هم ترقي کړې ده،دلته شرک اوبدعاتووالا هم شته او دساز اوسرود والا هم،په دې ملک دګوهرشاهي په نامه یوملعون هم شته دچامریدانوته چې په شپوږمې کې دهغه تصویرپه نظرراځیاوپه خپله هغه ته په متیازوکې دخپل مصلح شکل په نظرراځي،په دې کې یوبدبخته عاصمه جهانګیرهم شته چې دتحفظ حقوق انسانیت په نامه باندې دځومره جینکو دعزت لوټې یې شلولي دي.

همدارنګه په دې ملک د، ،جماعت المسلمین، ،په نامه هم یوجماعت شته چې دپوره امت تجهیل اوتحمیق کوي،دلته دډاکټرمسعوداولاد هم شته چې دخپل ځان نه پرته بل څوک مسلمان ګڼلوته تیارنه دي،دلته دغلام احمدپرویزاولادهم شته چې امت دذخیره احادیث نه بدظن کول اوځان وروسته لګول غواړي اوددې ټولونه مخکې اوډیرمخکې یوه نوې فتنه او نوې ډله ده دکوم تارونه اګرچې دغلام احمدپرویزسره ملاویږي. خوهغوی په ګڼو شیانوکې غلام احمدپرویزهم روسته پرینښي دی.غلام احمدپرویزامت له احادیثو د منکرولو ناکام کوشش کړی واووسره یې په ځوقراني ایتونوباندې هم دخپلوباطلوتاویلاتوتیشه چلولې وه،خوددې نوې جماعت اونوې فتنې سربراه محمدشیخ خوتقریباً دپوره اسلامې عمارت دراغورځولواراده کړې ده، هغه دتورات، زبور،انجیل اونوروا سماني کتابونو دوجودنه اود حضورﷺ په نورانبیاء کراموباندې فضیلت اواوچتوالی اود نورو انبیاء کرامو دمادي وجودنه منکردی،بلکې هغه په اصل کې د مرزاغلام احمدقادیاني په شان دنبوت دعویدار دی،خودغلام احمد قادیاني ناکام حکمت عملي په دویم ځل کول نه غواړي.ځکه چې هغه دغلام احمدقادیاني په شان نیغ په نیغه دنبوت اوعقیده اجراء اودوجې دعوه کولوسره دقران اوسنت اوعلماء امت په پنجه کې ځان راګیرول نه غواړي،په دې خوهغه هم پوه دی چې دنبوت وحې بنده شوې ده اوکوم کس چې دحضورﷺ نه وروسته دځان له پاره اجراء وحې اودنبوت دعوه وکړي هغه دجال.کذاب اوواجب القتل دی.له دې وجې نه محمدشیخ ددې عنوان بدل کړ اویې ویل چې کوم کس چې په کوم وخت کې قران لولي.په هغه باندې دقران هم هغه برخه نازلیږي اوچېرته چې په قران پاک کې . .قل. .ویل شوي دي هغه دهمدغه

انسان له پاره ویل کیږي، همدارنګه هغه دهرکس دنزول وحي په شان جوړول او دخپل ځان له پاره دنزول وحي او اجرايې نبوت په معامله کې دخلکو په نظر کې سپکولو کوشش کوي، لکه هغه داداسې هم تعبیروي:

نبیان، دالله تعالی پیغام رسوي او دخلکو اصلاح کوي اوزه هم دغه کار کوم.

نعوذبالله! منصب نبوت دومره سپکولو کوشش کولاو دجرات کول چې زه هم همدغه کار کوم چې-نعوذبالله-انبیاء کرامو به کاوو، نوایادانبوت دعوه او منصب نبوت باندې کیناستلو ناپاکه کوشش کول نه دي؟

دخلکو نفسیات هم عجیبه دي، که هغوی په منلو باندې راشي. نو یوداسې کس چې دهیڅ اعتبار قابل نه دی، دچاشکل اوشباهت هم دمسلمانانو په شان نه دی، دچا او سیدل چې د اسلافو سره تعلق نه لري، دمغربي ابلیس نقل کول یې شعار وي، اسوه نبوي سره یې یوه ذره هم مناسبت نه وي، دهغه چال وډال، رفتار وګفتار او لباس پوشاک نه هیڅوک داندازه نه شي لګولی چې داکس مسلمان هم دی اوکه نه؟ او بله لاداچې دنصوصو نه صریح منکروي اودفاسدو تاویلاتو په ذریعه اسلام ته دکفر او کفر ته داسلام باور ورکولو په کوششونو کې دغلام احمد قادياني غوږونه پریکوي، داجرايې نبوت نه یواځې قایل وي بلکې ددې داعي او منادي هم وي،

هغه دټولو اسماني کتابونو نه منکر دی، هغه دانبیاء کرامو دمادي وجود قایل نه دی. دحضور ﷺ دروحاني وجود ګډوډ ښکاره کولو سره دنبوت اورسالت اومادي وجودنه هم انکاري دی، دبني اسرائیلو په نبیانو کې حضرت موسی علیه السلام ته په حضور ﷺ باندې ترجیح ورکوي.

ذخیره احادیث ته من ګړت (هسې خوشې) کیسې وايي اوناقابل اعتبارې ګڼي، غرض داچې داسلامي عقائدو دهرجزنه انکاري او دنوي دین دوړاندې کولو کوشش کوي اوخلک دي چې دده دعقیدت او اطاعت صفتونه کوي اودی خپل مشر او راهنما ګڼي.

ددې برعکس بل طرف ته دالله تعالی قران دی، دنصوصو او حدیثونو ذخیره ده، دحضور ﷺ اسوه حسنه او دصحابه کرامو رضوان الله اجمعین دسیرت او کردار لویه لاره ده او اجماع امت ده. چې په چغو چغو دانسانانو دهدایت او راهنمايي خطونه متعین کوي، خوددوی دازلي محرومي له پاره داهرڅه داعتماد وړ نه دي.

څومره دشرم خبره ده چې دابدنصیبه دنبي اکرم ﷺ داطاعت او فرمانبردارۍ په ځای په خپله غاړه کې دملحداوبې دینه دغلامۍ پټۍ اچوي اودهغه امتي کیدو باندې .فخر. محسوسوي، افسوس په داسې عقل، دین او مذهب باندې، دڅه بنیاد چې په الحاد او زندقه باندې وي، په کوم کې چې دقران اوسنت په ځای دیوجاهل مطلق کفریه نظریاتو او عقائدو ته دسند درجه حاصله وي، رښتیا ده چې کله الله تعالی ناراضه شي، نو عقل ترې هم واخلي، دربنتیا او دروغو تمیز پکې ختم شي او دهدایت توفیق ترې واخستل شي.

د تیرې څه مودې راهیسې داسې شکایات په اوریدو دي چې ساده ګان مسلمانان ددې فتنې ښکار کیږي، په دې سلسله کې د څه لیکلو خیال مې راغی ،نو یو صاحب راقم الحروف ته د دارالعلوم کراچۍ فتوا راوړله اوغوښتنه یې وکړه چې ددې فتنې خلاف دې اواز پورته شي،ځکه چې حکومت او انتظامیه ددې فتنې په ختمولو کې ډیر غیرسنجیده او بې حسه دی،هرکله چې دافتنه ورځ په ورځ نوره هم زیاتیږي،خو مره دافسوس خبره ده چې که یو کس دباني پاکستان یاموجوده وزیراعظم په شان کې دګستاخي ارتکاب وکړي. نو دحکومت پوره مشینري په حرکت کې راشي،خو دلته دقران او سنت او دین متین او حضرات انبیاء کرام اودنبوت نه انکار کیږي او دهغوی په شان کې نامناسبې خبرې کیږي ،خو حکومت پرې بیخي غور هم نه کروي .

ځکه راته مناسبه معلومه شوه چې هرهغه تحریرخپور شي چې دادواړه تحریر رایوځای کړي چې ورسره د مسلمانانو دین او ایمان محفوظ شي اوخلک ددې فتنې له خطر نه باخبره او بچ وساتل شي.

دراقم الحروف مختصرځواب اګرچې دروزنامه جنګ په کالم،اپ کے مسائل اوران کاحل،، کې خپور شوی دی،خو ددارالعلوم فتوا خپره نه شوله، له ټولونه مخکې دیوې داسې ښځې جوړه کړای شوې سوال نامه ده چې مخامخ له دې فتنې نه متاثره شوې اوله دې نه وروسته زماځواب دی اوپه اخره کې ددارلعلوم کراچۍ ځواب دی اودټولونه په اخره کې اختتامي کلمات دي ،خو ددارلعلوم کراچۍ په فتوا کې دقراني ایاتو اونورونصوصو ترجمې نه وې ،دعامې فائدې له پاره دقراني ایتونواوعربي عبارتونو ترجمې هم شوي دي دقراني ایتونوترجمه دحضرت تهانوي له ترجمې نه اخستل شوې ده.

سوال نامه

سوال: محترم مولانا محمد یوسف لدهیانوي صاحب!السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

حال څه داسې دی چې دیو مسلمان په حیثیت سره اوخپلې دیني فریضې ګڼلو سره اودین دنقصان نه بچ کولو له پاره اوددې دعقائدو دعمارت ورانولو چې کوم کوششونه روان دي دهغو متعلق غلط فهمي لیرې کولو له پاره ترخپله حده پوره کوشش کول غواړم.

محترم!دلته دیوڅونام نهاده تنظیمونو له لوري نه پمفلټ،اډیو-ویډیو کیسټو په ذریعه داسې لټریچر خپریږي چې هغه سره یوه لویه طبقه خلک دشکوکو .شبهاتو او بې یقینۍ دکیفیت ښکارکیږي،دپاکستان - چې داسلامې فلسفې د فکرپه ذریعې سره حاصل شوی و - په کراچۍ ښار کې یو تنظیم (القران ریسرچ سنټر)په نامه سره تیروشپږو اوو کلنو راهیسې قائم دی،ددې تنظیم بنیادي عقائد په لاندې ډول دي:

۱:ددنیاپه وجودکې دراتلونه مخکې دانسانیت دښیګړې له پاره قران پاک په معجزانه طورپه یوځای په دنیاکې موجود و،په مختلفونبیانوبـندې مختلف کتابونه نازل شوي نه و،بلکې دې کتاب ته،یعنې قران پاک ته مختلفو زمانوکې مختلف نومونه ورکړای شول،کله تورات،کله انجیل اوکله دزبورپه نامه.

قران چې څوک اوکوم وخت کې لولې په هغه باندې هغه وخت کې نازلیږي اوچېرته چې (قل،ویل شوي دي هغه ددې انسان له پاره ویلی شوي دي چې لولې یې.

۲:دانبیاوو علیهم السلام هیڅ مادي وجودنشته،هغوی دې دنیاته نه دي رالیږل شوې، بلکې هغوی یواځې دانساني هدایت له پاره د(symbols)په طورسره استعمال شول اودموجوده دنیاسره دهغوی هیڅ تعلق نشته،په قران کې هغوی دانسان درهنمایي له پاره یواځې دفرضي کردار او کیسوپه شکل کې موجوددي.

۳: قران پاک کې چونکه حضورﷺ ته په زمانه حال یعنې (present) کې خطاب شوی دی لهذا بحثییت روح حضورﷺهرځای اوهروخت موجود دی اوهغه دمادي وجودنه مبرادی اونه و.

۴: حضورﷺ ته نور و نبیانوباندې هیڅ فضیلت حاصل نه دی اونه د نورو نبیانو برابر دی، بلکې حضرت موسیؑ په ځینومعناوو اوحیثیتونوکې یعنې قران پاک دبنی اسرائیلو او حضرت موسی په کثرت سره ذکرکړی دی چې دهغه په وجې سره دهغه فضیلت په حضورﷺ باندې زیات دی،دحضورﷺ په باره کې چې هرڅومره احادیث اوتاریخ اوتفسیرموجوددی هغه دانسانانو له لوري جوړې شوې کیسې دي.

داټول عقائدمخې ته کېږدئ اودقران اوسنت په رڼاکې دافتوا ورکړئ چې:

۱: داعقائدداسلام په نظر صحیح دی او که نه؟

۲: ددې خپلونکی مسلمان پاتې کېدای شي؟

۳: دداسې تنظیمونو باید مخ نیوی وکړای شي؟

۴:دداسې کس دښځې له پاره څه حکم دی؟دچاعقائدچې دقران اوسنت مطابق وي چې په نبیانوباندې اوټولوکتابونوباندې،داخرت په ورځ باندې اوحدیثونوباندې مکمل یقین اوایمان لري؟

۵: په اخره دمسلمانۍ په نامه یوه غوښتنه کوم چې داسې کس سره دې پوره مناظره وکړل شي څوک چې دادعوه کوي چې موږ سره څوک دخبروکولوجرات نه لري،ځکه چې موږ رښتوني مسلمانان یو.

یوه خور،کراچۍ،

د راقم الحروف ځواب

ځواب: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

زما خوري! دادفتنو زمانه ده اوکوم کس چې په ذهن کې چې کومه راځي هغه دهغې بيانول شروع کوي اوزه پوهيږم چې داد سلف بيزارۍ اوانکارحديث نتيجه ده. کوم خلک چې دحديث نه انکارکوي هغوی دپوره دين نه انکارکوي اودداسې خلکوپه باره کې په خپله رساله (انکارحديث کيون؟) کې ماليکلي دي چې:

..دحضور ﷺ دپاکو ارشاداتوسره بې پروايي اودهغه په اقوالو پورې ټوکې کونکوپه باره کې اعلان شوی دی چې ددوی په زړونوباندې خدايي مهرلګيدلی دی چې دهغه په وجه دوی دايمان اويقين اورشداوهدايت استعداد ورک کړی دی اوددې خلکوټول کوششونه د نفسي خواهش دپيروۍ ترحده پورې محدوددي ،لکه چې الله تعالی فرمايي:

وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتَّى إِذَا خَرَجُوا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوا لِلَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ آنِفًا أُولَئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ (محمد: ۱۶)

ترجمه: اوځيني کسان داسې دي چې دحضور ﷺ طرف ته يې غوږونه نيولي وي. تردې پورې چې هغوی ستاسونه پورته شي اوبهرته ووځي، نونوروا هل علمو سره (ستاسو ﷺ دارشاداتو دتحقيرپه طورسره) وايي چې: حضرت دا اوس څه خبره کړې وه! داهغه خلک دي چې الله تعالی ددوی په زړونوباندې مهرونه لګولي دي اودوی په خپلونفساني خواهشاتوباندې چليږي (ترجمه حضرت تهانوي)

قران کريم صفاصفاداا علان وکړچې: انبياء کرام ﷺ يواځې ددې مقصدله پاره راليږل شوي دي چې ددوی اطاعت دې وکړل شي، دحضور ﷺ د اطاعت نه انکاراود هغه د ارشاداتونه مخ اړول ګويا انکار رسالت دی اوهمدارنګه دهغه (صلی الله عليه وسلم) اطاعت نه انکار کونکی دانکاررسالت مرتکب دی.

دحضور ﷺ اقوالوته چې کله هم قران وحي خداوندي وايي :(وما ينطق عن الهوی.إن هو إلاوحی يوحی) اودحضور ﷺ کلماتوته چې کله هم قران (ګفته اوګفته الله بود) مرتبه ورکوي، نووواييئ چې دحديث نبوي په حجت کيدوکې دڅه شک اوشبهې ګنجائش پاتې کيږي؟ اوايا دحديث نبوي نه انکارکونکي ،باندې په خپله دقران نه انکارنه لازميږي؟ او ايا په فيصله نبوت کې بدلون په خپله په قران کې بدلون به نه وي؟اوپه دې باندې هم غورکول پکار دي چې قران کريم هم امت دحضور ﷺ دژبې مبارکې نه اوريدلی دی اوپه هغه يې ايمان راوړ، اود حضور ﷺ دافرمان چې داقران دی .دا ارشادخوهم حديث نبوي دی اوکه حديث نبوي حجت نه دی ،نودقران کريم ،قران کيدل به څنګه ثابتيږي؟اخرداکومه دعقل

اوپوهې خبره ده چې ددې مقدسې اومعصومې ژبې نه صادرېدونکې يوه خبره خوواجب التسليم وي اودويمه نه ؟

اميرشريعت سيد عطاءالله شاه بخاري رحمه الله په يوه موقعه باندې فرمايلي و:

"دازمادمحبوب(ﷺ)کمال و،چې هغه ﷺ وفرمايل چې:دا دالله تعالى كلام دى اودازما كلام دى،كه نه موږ خودواړه ديوې ژبې نه اوريدلي دي."

كوم خلک چې داوايي چې:قران حجت دى، خوحديث حجت نه دى،دې ظالمانوته څوک ووايي چې څنګه دايمان په معامله كې دخداى اورسول ترمينځه تفريق نه شي كيداى.چې يودې ومنل شي اودويم دې ونه منل شي، همداسې دكلام الله اوكلام رسول په مينځ كې دفرق كولوګنجائش نشته،چې يو دې واجب الاطاعت ومنل شي اودويم نه،يوچې منې نوبل به په هرصورت كې منل وي اوپه دوى كې ديوانكاركول به په خپله دبل نه انكارشي،خدايي غيرت دانه خوښوي چې دهغه دخبرې دمنلودې دعوه وكړل شي اودهغه دنبي ﷺ كلام دې ردكړل شي اودداسې ظالمانوخلاف صفاصفااعلان كوي:

فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ . (الانعام:٣٣)

ترجمه: اې نبي ﷺ!داخلک ستاسوكلام نه ردكوي ،بلكې داظالمان دالله تعالى له ايتونو نه منكردي.

لهذاكوم كسان چې په الله تعالى باندې دايمان لرلواودكلام الله دمنلودعوه كوي ،هغوى ته به خامخاپه رسول اوكلام رسول(ﷺ)باندې هم ايمان راوړل وي،كه نه دهغوى دايمان دادعوه غلطه ده.

دكوم تنظيم چې تاسوذكركړى دى ددې عقائدو لرونكي مسلمانان نه دي،ځكه چې دوى ددين دپوره عمارت دراغورځولوكلكه اراده كړې ده،نور داچې دوى دټولو شعائراسلام اوقران اوحديث اوانبياء اوپه هغوى باندې نازل شويو كتابونونه انكاركړى دى اوكوم كسان چې داسلامي عقيدې نه انكاروكړي اوپه هغه كې باطل تاويلات وړاندې كوي اوخپل كفرته داسلام جامه وركوي ،هغوى ملحداوزنديق دي،[1] اودكافراومرتدنه زيات بددي،ځكه چې هغوى دچيلې (بزې) په نامه دخنزيرغوښه خرڅوي اوامت مسلمه ته دوكه وركوي اودهغوى اسلام خرابوي، په همدې وجه كه زنديق ونيول شي اوتوبه اوباسى .نودهغه دتوبې اعتبارنشته[2]، دحكومت پاكستان فرض دي چې داسې كسان دالحاد او زنديقت نه منع

١] قد ظهر ان الكافر اسم لمن لاايمان له....وان كان مع اعترافه بنبوة النبى صلى الله عليه وسلم واظهاره شعائرالاسلام يبطن عقائد هى كفر بالاتفاق خص باسم الزنديق. (شرح مقاصد ج٢ ص٢٦٨)

٢]ان الزنديق لو تاب قبل اخذه، اى: قبل ان يرفع الى الحاكم تقبل توبته عندنا وبعده لا اتفاقاً. (فتاوى شامى ج٤ ص٢٣٦، مطلب مهم فى حكم ساب الانبياء)

کړي که دوی منع شي ،نوښه ده ،که نه د اسلامي قانون مطابق په ارتداد دې دوی ته د زندقیت سزاوار کړل شي.
د اهل ایمان دوی سره رشته او تعلق جائزنه دی،که په دوی کې د چاپه نکاح کې ځوک مسلمانه ښځه وي ،نو د هغې نکاح هم فسخ کیږي.[۱]
او پاتې شوه د مناظرې خبره ،داسې کسانو سره مومناظرې هم وکړلې،خود دوی په زړونو کې چې کومه خبره ښنه شوې ده هغه یواځې د قبرخاوره او د جهنم اور لرې کولی شي.والله اعلم

د دارالعلوم کراچی ځواب

الجواب حامداً مصلیاً

۱،۲:په سوال کې ذکرشوي اکثرعقائد دقران ، سنت او اجماع امت د تصریحاتو او موقف نه بالکل خلاف دي، له دې وجې نه که په یقین سره دیوکس داسې عقائدوی، نوهغه کافر او د اسلام له دائره نه خارج دی او ددې منونکي هم کافران او د اسلام له دائره نه خارج دي.
مذکوره نظریات او عقائد د قران او سنت سره باطل دي لاندې ترتیب او تفصیل سره دې وکتل شي:
۱: دا (وېل چې قران پاک ته په مختلفو زمانوکې مختلف نومونه ورکړل شوي دي،کله تورات، کله انجیل،کله زبور او په مختلفو زمانوکې مختلف کتابونه نازل نه دي شوي)دا کفریه عقیده ده، ځکه چې دا دامت اجماعي عقیده ده چې د صحف اسماني نه پرته څلور اسماني کتابونه دي او په قران کریم کې ددې تصریح موجوده ده ،له قران کریم نه پرته درې اسماني کتابونه نوردي،په کوم کې چې تورات په موسی علیه السلام ،انجیل په حضرت عیسی علیه السلام او زبورپه حضرت داود علیه السلام باندې نازل شوي وو، لهذا قران نه پرته مذکور درې کتابونه د مستقل وجودنه انکارپه حقیقت کې د قران کریم د وجودنه انکاردی.په کوم کې چې ددې کتابونو د مستقل وجود ذکردی، په لاندې ډول ددې ایتونه او ترجمې وګورئ:
"وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ * مِنْ قَبْلُ هُدًى لِلنَّاسِ". (ال عمران ۳،۴)
ترجمه:او هغه له دې نه وړاندې تورات او انجیل نازل کړي دي ، د خلکو د هدایت له پاره.
(ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)
"وَمَا أُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ وَالْإِنْجِيلُ إِلَّا مِنْ بَعْدِهِ". (ال عمران :۶۵)
ترجمه: او تورات او انجیل له هغه نه وروسته نازل شوي دي. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)
"وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ". (المائده: ۴۶)
ترجمه::او موږ هغه ته انجیل ورکړ،چې په هغه کې هدایت او رڼا وه.

۱] مایکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح ...الخ (فتاوی شامی ج۴ ص۲۴۶، عالمگیری ج۲ ص۲۸۳)

"وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الْإِنْجِيلِ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِ". (المائده: ۴۷)

ترجمه: او انجيل والاوو ته پکار ده چې الله تعالى په دې کې څه نازل کړي دي، د هغه موافق فيصله وکړي.

"وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ". (المائده: ۱۱۰)

ترجمه: او چې ما تا ته د کتاب او پوهې د خبرو او تورات او انجيل تعليم در کړ.

"الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ". (الاعراف: ۱۵۷)

ترجمه: او هغه کسان چې د داسې رسول نبي امي اتباع کوي، کوم چې هغوى د خپل ځان سره په تورات او انجيل کې ليکل شوى موندلى دى.

"وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ". (الانبياء: ۱۰۵)

ترجمه: او موږ (ټولو اسماني) کتابونه کې په لوح محفوظ کې (ليکلو) نه وروسته ليکلي دي چې د ځمکې (جنت) مالکان به زما نېک بندګان وي.

"وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَى بَعْضٍ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا". (الاسراء: ۵۵)

ترجمه: او بې شکه موږ بعضو نبيانو ته په بعضو باندې فضيلت ورکړ او موږ داود (عليه السلام) ته زبور ورکړى دى.

"فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ". (ال عمران: ۹۳)

ترجمه: بيا تورات راوړئ! هغه ولولئ که تاسو رښتوني يئ.

"وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرَاةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ". (المائدة: ۴۳)

ترجمه: او هغوى په تاسو (صلى الله عليه وسلم) باندې څنګه فيصلې کوي حالانکه هغوى سره تورات شته په کوم کې چې د الله تعالى حکم دى. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ". (المائده: ۴۴)

ترجمه: موږ تورات نازل کړى و او په هغه کې هدايت او رڼا وه.

"وَقَفَّيْنَا عَلَى آثَارِهِمْ بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ". (المائده: ۴۶)

ترجمه: او موږ هغوى پسې وروسته عيسى بن مريم په داسې حالت کې ولېږه چې هغه له خپل ځانه مخکې د تورات تصديق کاو. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ". (الصف: ۶)

ترجمه: زه تاسو ته د الله تعالى رالېږل شوى استازى يم، چې زما نه مخکې کوم تورات (راغلى) دى زه د هغه تصديق کونکى يم. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا". (النساء: ١٣٦)
ترجمه: اوکوم کس چې دالله تعالی نه ،دهغه له فرښتونه.دهغه له کتابونونه. دهغه له رسولانونه اودقيامت له ورځې نه انکار وکړي ،بې شکه هغه کس په ګمراهۍ کې ډيرليرې پريوت. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"كُلٌّ آمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ". (البقره: ٢٨٥)
ترجمه: ټول ايمان لري الله تعالی باندې،دهغه په فرښتو،دهغه په کتابونواودهغه په پيغمبرانوباندې.

اودا ويل چې: قران په کوم وخت کې لو ستل کيږي، نوپه هغه باندې هم هغه وخت کې نازليږي او ،،قل،، هم دهغه له پاره ويل کيږي چې يې لولي،،، داهم دتعبيرپه لحاظ سره غلط دي،ځکه چې قران کريم يوځل په حضور صلی الله عليه وسلم باندې پوره نازل شوی دی اوددې اولين اواخرين مخامخ مخاطب حضور صلی الله عليه وسلم دی ، اوس يې چې کوم کس لولي هغه دقران اولين او مخامخ مخاطب نه دی،بلکې دحضور صلی الله عليه وسلم په واسطې سره مخاطب دی اوهم په دې اعتبار سره خپل ځان مخاطب ګڼل پکاردي.

٢:داعقيده هم کفريه ده (چې دنبيانوهيڅ مستقل وجودنه و) ځکه چې دقران کريم ګڼ شمير ايتونه په دې باندې دلالت کوي چې دانبياوومستقل وجود و ،هغوی دنياته دخلکودهدايت له پاره راليږل شوي وو اودبشريت په اعلی مقام باندې فائز وو.هغوی دعاموانسانانوپه شان په دنياکې وخت تيرکړ، په هغوی کې بشري حوائج اومادي صفات موجود وو ، هغوی به خوراک څښاک کاوو،هغوی نکاح ګاني هم کولې اوالله تعالی دهغوی په لاسو معجزات هم ښکاره کړل، هغوی دالله تعالی په لاره کې جهادهم وکړ، داټول شيان داسې دي چې دخپل وجودله پاره دمادي اومستقل وجودغوښتنه کوي اوله دې نه پرته ددې وجوداوپه ظهور کې راتګ محال دی ،لهذا داوينا چې: دانبياوو مادي وجودنشته،په قران کې هغوی يواځې دفرضي قيصوپه صورت کې موجوددي، دا بالکل غلط اودقران اوسنت دنصوصو نه خلاف دي،په دې سلسله کې په لاندې ډول دقران ايتونه وګورئ:

"كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ". (البقره: ٢١٣)
ترجمه:اول خلک په يو دين باندې وو(بياکله چې اختلاف پيدا شو) الله تعالی نبيان راوليږل، زيري ورکونکي او وېرونکي وو اوله هغوی يې برحق کتابونه نازل کړل.چې داختلافاتو په هکله دخلکو ترمنځه فيصلې وکړي.

" وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ ".(الانعام: ٤٨)

ترجمه: موږ پیغمبران یواځې ددې له پاره رالیږلي دي ،زیری ورکونکي او وېرونکي.

"يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا". (الانعام: ۱۳۰)

ترجمه: اې د پيريانو او انسانانو ډلې! ايا تاسو ته ستاسو نه پيغمبران راغلي نه وو؟ چې تاسو ته به يې زما احكام بيانول او تاسو ته به يې د دنني ورځې له ملاقات نه يې وېرولئ. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً". (الرعد: ۳۸)

ترجمه: او موږ يقيناً ستاسو نه مخكې ډېر رسولان رالېږلي او موږ هغوی ته ښځې او بچې هم وركړل. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ". (النحل: ۳۶)

ترجمه: او موږ په هر امت كې يو نه يو پيغمبر رالېږلى دى چې تاسو د الله تعالى عبادت كوئ او د شيطان نه ځانونه ساتئ. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا". (الاسراء: ۱۵)

ترجمه: او موږ (كله) سزا نه وركوو، ترڅو پورې چې رسول ونه لېږو.

"وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ". (الفرقان: ۲۰)

ترجمه: او موږ چې ستاسو نه مخكې څومره پيغمبران هم رالېږلي وو، هغوى ډوډۍ هم خوړله او بازارونو كې هم ګرځېدل. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِنْ نَبِيٍّ فِي الْأَوَّلِينَ * وَمَا يَأْتِيهِمْ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ (الزخرف: ۶، ۷)

ترجمه: او موږ مخكينو خلكو ته هم ډېر پيغمبران لېږلي وو او دې خلكو ته هيڅ يو نبي داسې نه دى راغلى، چاپورې چې دوی ټوكې نه وي كړې.

"كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ". (البقره: ۱۵۱)

ترجمه: څنګه چې په تاسو كې موږ يو عظيم الشان نبي درولېږه، چې تاسو ته زموږ ايتونه (احكام) دروا وروي او د جهالت نه ستاسو صفايي وكړي او تاسو ته د الله تعالى د كتاب او پوهې خبرې ښيي او تاسو ته د داسې ګټورو خبرو تعليم هم دركوي چې تاسو ته پرې خبر نه و. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"وَقَالُوا مَالِ هَذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ". (الفرقان: ۷)

ترجمه: اودا (کافر) خلک (د رسول الله ﷺ په باره کې) داسې وايي چې په دې رسول باندې څه وشول (چې زموږ په شان) خوراک کوي او په بازارونو کې ګرځي. (ترجمه حضرت تهانوي رحمة الله عليه)

"لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ". (ال عمران ۱۶۴)

ترجمه: بې شکه الله تعالی په مسلمانانو باندې احسان کړی دی، چې په دوی کې يې د دوی (د خپل قوم) نه پيغمبر رالېږلی دی، چې هغوی ته د الله تعالی ايتونه اوروي او د دوی صفايي کوي او دوی ته د کتاب او حکمت خبرې ورښيي.

"هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ". (الفتح: ۲۸)

ترجمه: هغه داسې الله دی، چې خپل رسول ته يې هدايت ورکړ. رښتونی دين (يعنې اسلام) يې ورکړ او دنيا ته يې راولېږه چې په ټولو دينونو باندې يې غالب کړي. (ترجمه حضرت تهانوي رحمة الله عليه)

"رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ لِيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ". (الطلاق: ۱۱)

يو رسول مو (ولېږه) چې تاسو ته د الله تعالی څرګند احکام اوروي، چې داسې کسان څوک چې ايمان راوړي او ښه عمل وکړي د کفر او جهل د تيارونه د نور طرف ته راوباسي.

"لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ". (التوبه: ۱۲۸)

ترجمه: (اې خلکو) تاسو ته يو داسې پيغمبر راغلی دی چې ستاسو د جنس (بشر) نه دی، څوک چې ستاسو د نقصان خبرې يې خفه کوي او ستاسو د ګټې د خبروډېر خواهش مند دی. (دا حالت خود ټولو سره دی خو) په ايمان دارو ډېر زيات شفيق او مهربانه دی.

"يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ". (الحجرات: ۲)

ترجمه: اې ايمان والاوو! تاسو خپل غږونه د پيغمبر له غږ نه مه پورته کوئ او مه له هغه سره داسې خبرې کوئ څنګه چې تاسو په خپل مينځ کې کوئ.

په قران کريم کې حضور ﷺ په زمانه حال کې مخاطب شوی دی. د دې وجه داده چې په کوم وخت کې د قران کريم نازليدل په حضور ﷺ باندې شروع و، په هغه وخت کې حضور ﷺ د مادي وجود سره په دې دنيا کې موجود و، له دې وجې نه په زمانه حال کې د حضور ﷺ سره خطاب شو، د دې دا مطلب نه دی چې هغه د روح په حيث هر چېرته موجود دی.

دا عقيده ساتل چې په قران شريف کې د حال صيغه استعمال شوې ده، ځکه نو حضور ﷺ د روح په حيث هرچېرته موجود دی او د مادي وجود نه پاک دی، د قران او سنت د صريحو

نصوصو اوداهل سنت والجماعت دموقف خلاف دي،عثمان ليكي: چې كه ديوكس داعقيده وي چې څنګه الله تعالى هروخت په هرځاى كې موجودى، همدارنګه حضورﷺ هم هروخت په هرځاى كې موجوددى، نودابنكاره شرک دى اودنصاراوو په شان رسول ته خدايي درجه وركول دي اوكه يوكس ددې تاويل سره داعقيده لري، نوبياهم ددې عقيدې په غلط اوفاسدكيدوكې هيڅ شک نشته اوداسې كس ګمراه دى،(وګورئ :جواهرالفقه:ج:١ ص:١١٥ تبريدالنواظر مصنف مولانا سرفرازصاحب مدظلهم)

۴:داهل سنت والجماعت متفقه عقيده ده چې حضورﷺ په مجموعي حيث سره دټولو نبيانو نه افضل دى[١]،خوكه په ځينوجزئياتواوواقعاتوكې كه يونبي ته څه فضيلت حاصل دى، نوهغه ددې سره معارض نه دى، څنګه چې حضرت موسىعليه السلام ته د خبروكولوشرف حاصل دى اوحضرت ابراهيمعليه السلام ته د ،،خلت،، صفت حاصل دى اوداسې نور... ،داټول جزئي فضيلتونه دحضورﷺ دمجموعي فضيلت خلاف اوله هغه سره معارض نه دي.

اودا ويل چې:دحضورﷺ په باره كې چې څومره احاديث، تاريخ اوتفسير موجود دي،هغه دانسانانوجوړې شوې قيصې دي، په حقيقت كې دحديثونونه انكاردى،كوم چې ښكاره كفردى[٢]،دامت محمدي په دې باندې اجماع ده چې حديث،دقران كريم نه وروسته ددين دويم اهم ماخذدى[٣]،قران كريم چې څنګه دالله رب العزت داحكامو واجب ګرځونكى دى[۴]،همدارنګه درسول اللهﷺ افعال اواقوال يې واجب الاطاعت ګرځولي دي، لهذاپه قران پاک كې ډيرداسې احكام دي دكوموتفصيل چې په قران كې موجودنه دى، رسول اللهﷺ په حديثونوكې ددې تفصيلات اوپه دې باندې دعمل كولوطريقه په خپل قول اوفعل سره بيان كړله،كه احاديث انسانانوخپله جوړكړي دي، نودقران كريم په داسې احكاموباندې به دعمل كولوطريقه څنګه وي؟اوموږ ته به داڅنګه معلوم شي؟

١]والفضل الانبياء محمد عليه السلام ،لقوله تعالى : كنتم خير امة.....وذلک تابع لكمال نبيهم الذى يتبعونه ......الخ (شرح عقائد ص:٢١٥،طبع ايچ ايم سعيد)

٢]من انكر المتواتر فقد كفرومن انكر المشهور يكفر عندالبعض وقال عيسى بن ابان يضلل ولا يكفر وهو الصحيح ومن انكرخبرالواحدلايكفرغيرانه ياثم بترک القبول هكذافى الظهيرية(فتاوى عالمگيرى ج:٢،ص:٢٦۵)

٣]واعلم ان من يعتد بعلمه من العلماء قد اتفق على ان السنة المطهرة مستقلة بتشريع الاحكام وانها كالقرآن فى تحليل الحلال وتحريم الحرام، وقد ثبت انه عليه السلام قال اوتيت القرآن ومثله معه اى واوتيت مثله من السنة التى لم ينطق بها القرآن (تيسيرالاصول الى علم الاصول ص:١٣٧،طبع ادارة الصديق ملتان)

۴]قل اطيعواالله والرسول (آل عمران :٣٢) يٰاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا اَطِيعُوا اللهَ وَاَطِيعُوا الرَّسُوْلَ (النساء:۵٩) اَطِيعُوا اللهَ وَرَسُوْلَه وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ (الانفال : ٢٠)

الله رب العزت چې څنګه د قران کریم د الفاظو د حفاظت ذمه اخیستې ده. همدا رنګه یې د قران پاک د معنا د حفاظت ذمه هم اخیستې ده او د قران پاک د معناوو تعلیم د حدیثو په ذریعه شوی دی، او په کومو ذرائعو چې قران کریم مونږ ته راسیدلی دی، نو په دغو ذرائعو احادیث هم مونږ ته رارسیدلي دي، که دا احادیث دځان نه جوړ شوي وي او ذرائع یې قابل اعتماد نه وي، نو دا امکان په قران کریم کې هم کیدای شي، نو قران کریم لره هم _نعوذ بالله_ دځان نه جوړ کړل شوی ویل به لازم وي ، لهذا په دې کې هیڅ شک نشته چې څنګه قران کریم تر اوسه پورې محفوظ راروان دی همدا رنګه احادیث هم محفوظ راروان دي او الله تعالی د دې د حفاظتې مثاله انتظام کړی دی، د کومو تفصیل چې د تدوین حدیث د تاریخ نه معلومیږي، لهذا حدیثو نو ته د انسانانو له ځان نه جوړې شوې قیصې ویل صریحه ګمراهي او ښکاره کفر دی.

د نور تفصیل له پاره وګورئ: حجیت حدیث ،مصنفه مولانا محمد تقي عثماني صاحب مدظلهم ، ، کتاب حدیث عهد رسالت و عهد صحابه مین ، ،مصنفه مولانا محمد رفیع عثماني صاحب مدظلهم ،حفاظت و حجیت حدیث ، ،مصنفه مولانا فهیم عثماني صاحب.

۳: مسلمانانو ته پکار دي چې کوم کس یا تنظیم د داسې عقائدو والا وي د هغوی سره دې د هیڅ قسمه تعلق نه ساتي او د هغوی د لټریچر او کیسټو وغیره نه دې مکمل احتراز کوي، په خپله دې ځانونه ساتي او د نورو د بچ کولو کوشش دې هم کوي او د حکومت د واکدارانو توجه دې د داسې تنظیمونو طرف ته راګرځوي چې په دوی باندې پابندي ولګول شي.

۴: کوم کس چې مذکور عقائد پر ته د څه مناسب دلیل نه مني هغه کس مرتد او اسلام نه خارج دی او د هغه مسلمانه ښځه د هغه د نکاح نه ووتله اوس د هغه په عقد کې یوه مسلمانه ښځه نه شي پاتې کېدای او نه دیوې مسلمانې ښځې سره یې نکاح کیدلی شي.

د پورته ذکر شوي کس عقائد د قران او سنت،اجماع امت او د اکابرو علماوو اهل سنت والجماعت د تصریحاتو خلاف دي، د دې له پاره لاندې ذکر شوي تصریحات وګورئ:

في شرح العقائد ۲۱۷: ولله تعالى كتب أنزلها على أنبياءه ,وبين فيها أمره ونهيه ووعده ووعيده وكلها كلام الله تعالى..... وقد نسخت بالقران تلاوتها وكتابتها بعض احكامها, وفي الحاشية قوله ،،ولله كتب،، ركن من أركان مايجب به الإيمان مما نطقت النصوص القرانية والأخبار النبوية.

ترجمه: شرح عقائد ص: ۲۱۷ کې دي چې: د الله تعالی (د قران نه پرته) نور کتابونه هم دي، کوم چې الله تعالی په خپلو نبیانو باندې نازل کړي دي او په دې کتابونو کې یې امر او نهي ،وعده او وعیدونه بیان کړي دي او دا ټول کتابونه کلام الهي دی او د قران کریم په نازلیدو باندې د دې سابقه کتابونو تلاوت او د دې ځینې احکام منسوخ شول او په حاشیه کې دي چې: قوله ،،ولله كتب،، یعنې د ایمان په ارکانو کې یو رکن دا دی چې په دې سابقه کتابونو باندې ایمان راوړل شي د کومو باره کې چې په قران کریم او احادیث نبوي کې شهادت موجود دی.

وفيه ص:٤٥: والرسول انسان بعثه الله تعالى الى الخلق لتبليغ الأحكام.
ترجمه: او په شرح عقائد ص:۴۵ کې دي چې: رسول هغه انسان ته وايي څوک چې د الله تعالى د مخلوق طرف ته د تبليغ او احکامو رسولو له پاره مبعوث شوی وي.

وفى شرح المقاصد ج:٥ ص:٥: النبي انسان بعثه الله تعالى لتبليغ ماأوحى إليه وكذا الرسول.
ترجمه: او په شرح مقاصد کې ج:۵ ص:۵ کې دي چې: نبي هغه انسان ته وايي: کوم چې د الله تعالى د احکامو د تبليغ له پاره راليږل شوی وي، چې د هغه طرف ته وحې کيږي او د رسول تعريف هم دغه دی.

وفى شرح العقيدة الطحاوية لإبن أبي العز: ص:٢٩٧٠: قوله: ونؤمن بالملئكة والنبيين والكتب المنزلة على المرسلين نشهد أنهم كانوا على الحق المبين، هذه الأمور من أركان الإيمان .قال تعالى: " آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ". (البقره:٢٨٥)
وقال تعالى: " لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ". (البقره:١٧٧)
فجعل الله سبحانه وتعالى الإيمان هو الإيمان بهذه الجملة وسمى من آمن بهذه الجملة مومنين، كما جعل الكافرين من كفر بهذه الجملة بقوله: " وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ". (النساء:١٣٦)
ترجمه: او د ابن ابي العز په شرح عقيده طحاويه ص:۲۹۷ کې دي چې: موږ ايمان راوړو په ملائکو باندې، په نبيانو باندې او په هغوی باندې نازل شويو کتابونو باندې او موږ ګواهي ورکوو چې هغه (رسولان) ټول په حق باندې وو او دا ټول امور د ايمان ارکان دي، د الله تعالى ارشاد دی: پيغمبر په هغه کتاب باندې ايمان راوړی دی کوم چې هغه ته د خپل پروردګار له خوا ورکړل شوی و. او مومنانو هم پرې ايمان راوړی دی، دې ټولو په الله تعالى، د هغه په فرښتو، د هغه په کتابونو او د هغه په پيغمبرانو باندې ايمان راوړی دی او د هغه په پيغمبرانو کې په چا کې تفريق نه کوي.
او د الله تعالى ارشاد دی: په دې کې نيکي نشته چې تاسو واړوی موخونه خپل مشرق يا مغرب طرف ته، بلکې نيکي خو داده چې يو کس ايمان راوړي په مضبوط يقين سره په الله تعالى، په ورځ د قيامت، په فرښتو، کتابونو او پيغمبرانو باندې.
له دې دلائلونه معلومه شوه چې الله تعالى ايمان هم دغه شيان ګرځولي دي، چې په دې ټولو شيانو باندې ايمان وي او الله تعالى په قران کريم کې ، ،مومنين، ، نوم هم دغو کسانو ته ورکړی دی، چې په دې ټولو شيانو باندې ايمان لري څنګه چې: ، ،کافرين، ، هغه خلکو ته ويل

کيږي ، چې ددې ټولو شيانو نه انکارکوي څنګه چې دالله تعالى ارشاددى: څوک چې له الله تعالى ، دهغه له فرښتو ،کتابونو ،رسولانو اودورځې دقيامت نه انکاروکړي. يقينا هغه دحق له لارې ډيرليرې دى.

وقال فى الحديث المتفق على صحته، حديث جبريل، وسواله للنبي صلى الله عليه وسلم عن إيمان فقال:أن تؤمن بالله وملئكته وكتبه ورسله.....الخ.فهذه الأصول التى اتفقت عليها الأنبياء والرسل صلوات الله عليهم وسلامه ،ولم يؤمن بها حقيقة الإيمان إلا اتباع الرسل.

ترجمه:په حديث جبريل(دکوم په صحت باندې چې بخاري اومسلم متفق دي)کې دي چې: حضرت جبرايل عليه السلام دحضرت محمد ﷺ نه دايمان په باره کې پوښتنه وکړه. نوحضور ﷺ وفرمايل :ايمان دادى، چې ته ايمان راوړې په الله تعالى،دهغه په فرښتو ، دهغه په ټولو کتابونواو په ټولو رسولانو باندې، داهغه اصول دي په کوموباندې چې دټولو رسولانو اوپيغمبرانو(صلوات الله عليهم وسلامه) اتفاق دى اوپه دې باندې چاپه صحيح معناکې ايمان نه دى راوړى ،خويواځې هغو چې دنبيانواورسولانوصحيح اتباع کونکي دي.

وفيه ص:۳۱۱:وأما الأنبياء والمرسلون فعلينا الإيمان بمن سمى الله تعالى فى كتابه من رسله، والإيمان بأن الله تعالى أرسل رسلا سواهم وأنبياء لا يعلم أسماء هم وعددهم إلاالله تعالى، الذي أرسلهم ،،،وعلينا الإيمان بأنهم بلغوا جميع ما أرسلوا به على ما أمرهم الله به وأنهم بينوه بيانا لايسع أحدا ممن أرسلوا إليه جهله ولا يحل خلافه.....الخ.

....."وأما الإيمان بالكتب المنزلة على المرسلين فنؤمن بماسمى الله تعالى منها فى كتابه من التوراة والانجيل والزبور،ونؤمن بأن الله تعالى سوى ذلک كتبا أنزلها على أنبياءه لا يعرف أسمائها وعددها إلاالله تعالى."

ترجمه: اوددې کتاب په صفحه ۳۱۱ کې دي چې :په رسولانواونبيانوباندې، زموږ په ذمه واجب دي چې په دوى کې په هغه ټولوباندې ايمان راوړو چې قران کريم کې الله تعالى ذکرکړي دي،(همدارنګه)په دې باندې هم ايمان راوړوچې الله تعالى له دوى نه پرته نورنبيان او رسولان هم راليږلي وو چې دهغوى په نومونو او تعدادباندې الله تعالى ښه پوهيږي، يعني دالله تعالى نه پرته پرې څوک نه پوهيږي اوپه موږ باندې لازم دي چې موږ په دې خبره باندې ايمان راوړوچې الله تعالى نبيانو ته دکومواحکامورسولوحکم ورکړى و دوى نبيانو هغه ټول احکام رسولي وو او دوى هغه ټول احکام دومره واضح اوښکاره بيان کړي وو،چې په امت کې دناخبره نه ناخبره کس ته هم څه شک پاتې نه شو اوددې خلاف کول حلال پاتې نه شو.

او په هغه کتابونوباندې ايمان راوړل کوم چې په رسولانوباندې نازل شوي وو، نوموړې په هغه ټولوکتابونوباندې ايمان راوړو،دکوموچې الله تعالى په قران کې نومونه اخستي دي،يعنې تورات،انجيل اوزبور اوموږ ايمان راوړودالله تعالى له ذکرشوي کتابونونه پرته په نوروکتابونو هم ، چې په خپلونبيانوباندې يې نازل کړي دي دکومو نومونه اوتعداد چې بې دالله تعالى نه بل چاته معلوم نه دى.

وفي شرح العقيدة الطحاوية للميداني ص:١٠٤:والإيمان المطلوب من المكلف هوالإيمان بالله وملئكته وكتبه بأنها كلام الله تعالى الأزلي القديم المنزه عن الحروف والأصوات وبأنه تعالى، أنزلها على بعض رسله بألفاظ وحادثة في ألواح أوعلى لسان ملك وبأن جميع ماتضمنته حق و صدق ، ورسله بأنه أرسلهم إلى الخلق لهدايتهم وتكميل معاشهم معادهم وأيدهم بالمعجزات الدالة على صدقهم فبلغوا عنه رسالته........الخ.

ترجمه::اودميداني په شرح طحاويه ص:۱۰۴ کې دي: مکلف(يعني انسانان اوپيريان)نه چې کوم ايمان مطلوب دي هغه دادي چې: په الله تعالى،دهغه په فرښتواودهغه په ټولوکتابونو باندې ايمان راوړل اوداسې ايمان راوړل چې دادالله تعالى کلام،کلام ازلي اوقديم دى،کوم چې دحروف اواواز نه پاک دى، نوداچې الله تعالى دا کلام په خپلوځينونبيانورسولانوباندې دتختو اوالفاظوپه صورت کې نازل کړي و ،يادفرښتې په ژبه يې نازل کړ ، نورداچې هغه ټول کلام چې په کتاب باندې مشتمل دي حق اوصادق دي اودالله تعالى رسولان څوک چې الله تعالى دمخلوق طرف ته دهدايت اوتکميل معاش ومعادله پاره راليږلي وو او ددوى يې په داسې معجزاتوسره تائيدوکړ،کومې چې ددې نبيانوپه صدق باندې دلالت کوي،دې نبيانو دالله تعالى پيغام ورساو.

قال القاضي عياض في شرح الشفاء ص:٣٣٥:واعلم أن من استخف بالقرآن اوالمصحف أوبشيء منه أوسبه أوجحده أوحرف منه أو آية أوكذب به أوبشيء مما صرح به فيه من حكم أو خير أوخبر أوأثبت مانفاه اونفي ما أثبته على علم منه بذلك أوشك في شيء من ذلك فهو كافر عندأهل العلم باجماع.

ترجمه:علامه قاضي عياض شرح شفاء ص:۳۳۵ کې ليکلي : پوهه شئ چا چې قران کريم يايومصحف يادقران څه شی سپک وګڼه ياېې قران ته کنځل وکړل، يا ديوې برخې نه يې انکار وکړ يادېوحرف ،يا ديوايت يې نه يې انکاروکړ،يادقران دڅه داسې برخې نه يې انکاروکړ په کوم کې چې دڅه حکم يا خبر صراحت وي ياڅه داسې حکم ياخبريې ثابت کړ دکوم چې قران نفي کوي، يا داسې شی يې قصداً نفي کړ له کوم چې له قران نه ثابت دى،يادقران په څه شی کې يې شک وکړ،نوداسې کس بالاجماع داهل علم په نزدکافردى.

وفي شرح العقائد ص: ۲۱۵: وأفضل الأنبياء محمد صلى الله عليه وسلم ،لقوله تعالى: . كنتم خير امة. .ولاشك أن خيرية الإمة بحسب كمالهم في الدين وذلك تابع لكمال لبيهم الذي يتبعونه.

ترجمه :شرح عقائد ص: ۲۱۵ کې دي چې: په نبیانو کې د ټولونه افضل حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی، دالله تعالی ددې قول له وجې نه چې(تاسو بهترین امت یئ)او په دې کې هیڅ شک نشته، چې ددې امت بهتر والی په دین کې د دوی دکمال په اعتبار سره دی او ددې امت په دین کې کامل کیدل داتابع دي دهغه نبي دکمال د چا چې دوی اتباع کوي.

وفي المشكوة: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :أناسيد ولد آدم يوم القيامة وأول من ينشق عنه القبر وأول شافع وأول مشفع. (رواه مسلم)

ترجمه: او په مشکوة شریف کې دي: دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی ،فرمایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه به دقیامت په ورځ د ادم دا ولاد سرداریم، زه به اولنی هغه کس یم دچا چې قبر اول پرانستل شي اوزه به دټولونه مخکې شفاعت کونکي یم او دټولو نه مخکې به زما شفاعت قبول شي.

وفي المرقاة ج: ۸ ص: ۱۰: في شرح مسلم للنووي....وفي الحديث دليل على فضله على كل الخلق لأن مذهب أهل السنة أن الآدمي أفضل من الملئكة وهو أفضل الآدميين بهذا الحديث.

ترجمه: اوپه مرقاة ج: ۷ ص: ۱۰ کې دي چې: داحدیث دحضور صلی الله علیه وسلم په ټول مخلوق باندې د فضیلت دلیل دی، ځکه چې داهل سنت مذهب دی چې انسان دملائکونه افضل دی او حضور صلی الله علیه وسلم ددې حدیث په وجه دټولو انسانانو نه افضل دی، (نوګویا حضور صلی الله علیه وسلم دټولو مخلوقاتو نه افضل شو).

غرض داچې داکس ضال ومضل اومرتد اوزندیق دی، داسلام او قرآن په نامه دمسلمانانو په دین اوایمان باندې ډاکه اچوي اوسادګانو مسلمانانو ته دنبي اخرالزمان صلی الله علیه وسلم یرحمت له لمنې پرې کوي او په ځان پسې یې لګول غواړي.

په حکومت پاکستان باندې فرض دي چې فورا دې ددې فتنې مخه و نیسي اوددې بې دینه په سرګرموباندې دې پابندي ولګوي، دوی ته دې داسې عبرتناکه سزاورکړل شي چې ددوی اینده نسلونه یې هم یاد وساتي اوڅوک بدخت اینده داسې جرات ونه کړي.

نور داچې له دوی نه دې داهم معلوم شي اوداتحقیق دې ترې وشي چې دکوموقوتونوپه اشاره باندې داخلک پاکستان کې اوپه مسلمانانو کې داضطراب اوبې ارامي فضاء پیدا کول غواړي.؟

صحيح بخاري باندې د عدم اعتماد تحريک

سوال: مسئله داده چې دصحيح بخاري په رواياتواواسنادو باندې دعدم اعتمادتحريک روان دی، ددې تحريک ترشا چې کوم خلک دي دهغوی فهرست اوتفصيل کافي اوږد دی، په هرحال دنمونې په ډول يواځې يومثال درته وړاندې کوم، اداره فکراسلامي جنرل سيکرټري جناب طاهرالمکي صاحب،جناب عمراحمدعثماني صاحب کتاب،رجم اصل حد ياتعزير،،په تعارفي يادښت کې ليکي:

داهل حديث حضراتونه پرته دنوراسلامي فکرخصوصا داحنافو دامام بخاري په تحقيقاتو په باره کې چې کوم نقطه نظردی، هغه مولاناعبدالرشيدنعماني مدرس جامعه بنوري ټاون.

علامه زاهدالکوثري مصري اوانورشاه کشميري له کتابونونه ظاهر دی.

دمولاناعبدالرشيدنعماني دتحقيقاتونو يواځې يواقتباس وګورئ:

،،ايادوه تهائی بخاري غلط دی،،،

ترجمه:....علامه مقبلي په خپل کتاب ،،الأرواح التوفخ،،کې ليکي::

يو ډير زيات دين دار اوباصلاحيته کس مانه دعراقي ،الفيه،،(کوم چې په اصول حديث کې دی) ولوست اوزموږ ترمينځه دصحيحينوپه مقام اومرتبه اوپه خاصه توګه دبخاري د رواياتوپه باره کې خبرې اترې وشولې، نوهغه صاحب حضورﷺ په خوب کې وليده او د حضور ﷺ نه يې پوښتنه وکړه چې ددې کتاب يعني خصوصاً دبخاري دکتاب په باره کې څه حقيقت امردی؟

حضورﷺ وفرمايل :دوتهائی غلط دي.

په خوب کې دليدونکي غالب ګمان دادی چې درسول اللهﷺ دا ارشاد دبخاري دراويانو په باره کې دی،يعنې په هغوی کې دوه تهائی راويان غيرعدل دي. ځکه چې په بيدارئ کې زموږ موضوع اوبحث دبخاري راويان وو، والله اعلم.(وګورئ دمقبلي کتاب الارواح النوافخ، ص: ۲۸۹، ۲۹۰)

په دې عجيبه دليل باندې ظاهرالمکي صاحب ليکي:

دادبخاري په فني طورسره دټولونه دزيات صحيح کيدوحقيقت، ددې په ايډيټ کولوکې دمولاناعبدالرشيدنعماني سره دجامعه بنوري ټاون مفتي ولي حسن هم شامل دی، څنګه چې دخپل حاشې په اخره کې نعماني صاحب دهغوی په شکريه اداکولوکې ويلي دي،

عبدالرشيد صاحب فرمايي:

کله چې دبخاري دوتهائی راويان غيرعادل دي، نوددې دروايات څه حيثيت دی،کوم چې يقيناً ددې دبخاري ددوتهائی نه زيات جوړيږي ځکه چې ډيرروايان داسې وي چې څوڅوروايتونه بيانوي،(بحواله رجم اصل حدهے ياتعزير ص:۳۹)

محترم! اوس تاسو ماته ووايئ چې ايا پورته ذکرشوي حوالونه کوم بيان شوي دي ايا هغه صحيح دي يا غلط؟اوکه ستاسو په نزد صحيح وي، نو ايا زه د صحيح بخاري نسخې ضائع کړم؟ او ايا د مدرسو انتظامي ته داخبار په ذريعه ترغيب ورکړم چې هغوی دې د خپلو مدرسو د نصاب نه صحيح بخاري خارج کړي؟زه اميدلرم چې تاسو به زما د شک خالص د الله تعالی د رضاله پاره لېرې کړئ.

جواب: پورته ذکرشوې خط ليدلو نه وروسته ما حضرت نعماني مدظله العالي په خدمت کې يو عريضه وليکله کوم چې په دې لاندې ډول ده:

بسم الله الرحمن الرحيم

حضرت مخدوم و معظم! مدت فيوضهم وبرکاتهم ،السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته-

يو صاحب د طاهر المکي په حوالې سره د جناب يو عبارت نقل کړی او د هغه په باره کې يې ګرم ګرم سوالونه کړي دي دا د هغه کس څلورم خط دی ما مناسبه وګڼله چې: توجيه القول بما لايرضی به قائلة، په ځای ستاسو سره مشوره وکړل شي ،مختصرشان سره اشاره راته وکړئ چې د طاهر المکي نقل ترکوم حد پورې صحيح دی؟او د دې صاحب اخذ شوې نتيجې سره د کوم حد پورې اتفاق کېدای شي؟ زه د هفتې په ورځ په سفر باندې تلونکی يم،له دې وجې نه زه ستاسو د خط ځواب سبا ختمول غواړم ،د ښکو دعاګانو غوښتنه هم کوم.

والسلام

خويدکم محمد يوسف عفا الله عنه

حضرت موصوف مدظله العالي: په لاندې ډول د دې ځواب وليکه:

محترم! وفقني الله وايا کم لما يحب ويرضی!

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته-

دې وخت کې په درس ګاه کې، الأرواح النوافخ، موجود نه دی، ، دراسات اللبيب، ، د معين سندهي رحمه الله په تعليقاتو کې ډېر وخت شوی دی چې د صحيحينو په بحث اختلاف کې مې ليکلي دي چې د تلقي مسئله اختلافي ده،په اختلافي حديثونو کې د اجماع دعوه صحيح نه ده، په دې باندې بحث کولو کې چېرته د دغه خوب ذکرهم راغلی و، د، الارواح، ،مصنف علامه مقبلي اول زيدي و، بيا د مطالعې کولو نه وروسته سني شوی و او بيا د عامو يمنيانو په شان لکه څنګه چې اميريماني،وزيريماني اوقاضي شوکاني وغيره دې غيرمقلدشوی و او هغه د تلقي رواة په سلسله کې د دې خوب ذکرکړی و ،د خوب چې څه حيثيت دی هغه ظاهر دی،د رواة په تعديل او تجريح کې اختلاف د شروع نه راروان دی.څنګه چې په څلورو واړو مذاهبو کې اختلاف دی،د دې سره نه د څه شی باطل کيدل لازميږي او نه په مختلفو شيانو

باندې اجماع.ددتلقي امت دبحث اصلي حقيقت دی،چې نه خودمتون ټول امت تلقي دي اونه په رواة باندې.څنګه چې دټولو اختلافي مسائلوحال دی.
دقران کريم ثبوت قطعي دی.خو ددې په تعبيراوتفسيرکې اختلاف دی.نوبيااياددې اختلاف له وجې نه به قران کريم پرېښودل کيږي ؟هم دغه حال دمتون صحيحينو اورواة دصحيحين دی،چې نه خوددې متن دامت له پاره واجب العمل دی اونه ددې هرروای بالاجماع قابل قبول دی اوس منکرين حديث په دې سلسله چې څه غواړي طريقه دې اختيارکړي .دقران کريم په تعبيراوتفسيرکې اختلاف و او وي به،درواياتوډقبول،عدم قبول کې دمجتهدينو اختلاف و او وي به.

فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليكفر.

والسلام.
محمدعبدالرشيدنعماني.
۲۵_۲_۱۴۱۵هجری.

بسم الله الرحمن الرحيم.

مکرم ومحترم! زيدلطفه السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!
ستاسو دخط په ځواب کې څوامورمختصرا ليکم ،وزګار وخت راسره نشته که نه په دې موضوع به مې پوره مقاله ليکلې وه:
۱: ستاسودتحريک بنياددطاهرالمکي صاحب هغه تحريردی دکومې حواله چې تاسوپه خط کې نقل کړې ده اوتاسوپه دې تحريرباندې دومره باور وکړ،چې ددې په بنيادباندې زمانه پوښتنه کوئ چې:
دمذکوره حوالې نه چې څه بيان شوي دي اياهغه صحيح دي او که غلط؟که تاسو(يعنې راقم الحروف)په نزدباندې صحيح هم وي، نوايازه دصحيح بخاري نسخې ضائع کړم؟ او ايا دمدرسوانتظامي ته داخبارپه ذريعه ترغيب ورکړم چې هغوی دخپلومدرسوله نصاب نه صحيح بخاري خارج کړي.؟
دطاهرالمکي صاحب په تحريرباندې دومره لويه فيصله کولونه مخکې تاسوته داسوچ کول پکارو چې ددې صاحب تعلق خوچېرته دمنکرين حديث دطبقې سره نه وي؟اواياداکس ددې نتيجې په اخذکولو کې دمکراوفريب نه خوکارنه اخلي؟
دطاهرالمکي تعلق چې دکومې طبقې سره دی مکراوفريب ددې طبقې عادت دی او اوريدل شوي دي چې دطاهرالمکي په نامه کې هم فريب دی، دده والدمرحوم ميانجي جی عبدالرحيم به په ..مکي مسجدکراچی..په مکتب کې ماشومانوته سبق ښوده اوددوی رهائش ګاه هم دغلته وه.په دې دوران کې داصاحب پيداشو اودمکي مسجدطرف ته نسبت

سره علامه طاهرالمکي جوړشو اوريدونکي داسې ګڼي چې دې حضرت دمکې نه تشريف راوړی دی.

۲:دمولاناعبدالرشيدنعماني مدظله په حوالې سره هغه قطعا غلطه اوګمراه کونکې نتيجه اخيستې ده،څنګه چې دمولاناصاحب دخط نه ظاهره ده اول خومقبلې زيدي اوبيا غيرمقلد و، بيا دهغه حواله دخوب ده اوهرچاته پته ده چې خوب په ديني مسائلوکې دليل نه دی[1].

بيا مولاناصاحب داحواله ظاهرولوله پاره نقل کړې ده چې درواة بخاري په باره کې دځينو خلکو دا رايه ده،مولاناعبدالرشيدنعماني مدظله العالي ديوې ديني مدرسې شيخ الحديث دی اوکه دهغوی دارايه وي کومه چې تاسودطاهرالمکي مکارانه عبارت نه ګڼلې ده، نو هغوی به ستاسو دتحريک،عدم اعتماد..علمبرداروای.نه چې دصحيح بخاري ښودونکی شيخ الحديث.

۳:طاهرالمکي امام العصرحضرت مولانامحمدانورشاه کشميري په کې هسې رابنکل کړی دی،حضرت دشلوکالونه زيات دصحيح بخاري درس ورکړی دی اوددرس بخاري دشروع کولومخکې يې ۱۳ځله دصحيح بخاري شريف په ښه غورسره مطالعه کړې ده اوددې دټولو وشرحويې په تدبراوغورسره مطالعه وکړه، دصحيح بخاري دوه لويې شرحې،فتح الباري او،،عمدة القاري،،خوحضرت ته داسې يادې وې لکه چې دهغه په وړاندې پرانستل شوې پرتې وي[2].(مقدمه فيض الباری ص:۳۱)

حضرت شاه صاحب نه يواځې داچې صحيح بخاري ته،،اصح الكتب بعدكتاب الله،، ګڼه بلکې دصحيحينودحديثونودقطعيت قايل و، په فيض الباري کې فرمايي:

۱]قال العلامة ملا على القارى رحمه الله: ولذا لم يعتبر احد من الفقهاء جواز العمل فى الفروع الفقهية بما يظهر للصوفية من الامور الكشفية او حالات المنامية(مرقاة شرح مشكوة ج:۹،ص:۳۵۸كتاب الفتن ايضاً قال ابن السمعانى رحمه الله: ويؤخذ من هذا ما تقدم التنبيه عليه ان النائم لو راى النبى صلى الله عليه وسلم يامره بشئ هل يجب عليه امتثاله ولابد، او لا بد ان يعرضه على الشرع الظاهر فالثانى هو المعتمد كما تقدم(فتح البارى ج:۱۲،ص:٤٨١،كتاب التعبير،طبع قديمى)

۲]المحدث الجليل امام العصر محمد انورالكشميرى الذى شامت نفحة من ترجمته قد اعتنى بصحيح البخارى درساً واملاء وخوضاً وامعاناً مالم يعتن بماعداه،فطالعه قبل الشروع فى تدريسه ثلاث عشرة مرة من اوله الى آخره مطالعة بحث وفحص وتحقيق، وطالع شروحه المطبوعة من الفتح والعمدة والارشاد وغيرها من المطبوعة والمخطوطة ما تيسر له فى ديار الهند والحجاز وكان العمدة والفتح كانهما صفحة بين عينيه ثم وفق لتدريسه ما يربو على عشرين مرة دراسة امعان وتدقيق حتى اجهد نفسه شطر عمره فى العكوف عليه تحقيقاً وبحثاً (مقدمة فيض البارى ص:۳۱،طبع قاهرة)

صحيح احاديث دقطعيت فائده ورکوي که نه؟په دې کې اختلاف دی.دجمهوروقول دادی چې دقطعيت فائده نه ورکوي،خودحافظ رضی الله عنه مذهب دی چې قطعيت فائده ورکوي. شمس الائمه سرخسي له احنافونه،په حنابله ووکې حافظ ابن تيميه اوشيخ ابن صلاح هم دې طرف ته مائل وو، ددې حضراتوتعداد اګرچې کم دی خوددوی رايه هم صحيح رايه ده. دشاعر دا قول ضرب المثل دی:

زمانبخه ماته پېغورراکوي ، چې زموږ تعدادکم دی ،ماهغې ته وويل چې کريم خلک اکثرکم وي.[1] (فيض الباري ص:۴۵)

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په ،،حجة البالغه ،،کې ليکي:

دمحدثينواتفاق دی چې په صحيحينوکې څومره حديثونه متصل مرفوع دي ،صحيح دي اودا دواړه دخپلومصنفينوپورې متواتردي اوکوم کس چې ددې دواړو توهين کوي هغه مبتدع دی اود مسلمانانودلارې نه بې لارې شوی دی.[2]

۴:ديوحديث صحيح کېدل يوشی اودهغه واجب العمل کېدل بل شی دی.له دې وجې نه د يوحديث دصحيح کېدوله پاره دانه لازمېږي چې هغه دې واجب العمل هم وي،ځکه چې کېدای شي چې هغه منسوخ وي،يامقيدوي،يامؤول وي.له دې وجې نه ديو امي علم کافي نه دی،بلکې ددې له پاره موږ دائمه مجتهدينو رحمهم الله داتباع محتاج يو .دقران کريم قطعي کېدل خودهرقسمه شک اوشبهې نه پاک دي،خو دقران کريم ځيني اياتونه منسوخ اومؤول يامقيد بالشرائط دي،يواځې په دې اجمالي خبروباندې اکتفاکوم،دتفصيل اوتشريح ګنجائش نشته.والله اعلم!

په خپله نه بدلېږي اوقران بدلوي

سوال: تاسوته زحمت درکوم ،روزنامه ،،نوائے وقت،، اتوار۱۰جون ۱۹۹۰ کې (دنوربصيرت) دمستقل عنوان دلاندې ميا عبدالرشيدصاحب ،،بازاراوبرهيا ،،په عنوان سره يوتحريرليکلی و،،(هغه څه درليږم) په کوم چې زمادعلم مطابق مصنف دحديث نبوي

---

[1] القول الفصل فی ان خبر الصحيحين يفيد القطع، اختلفوا فی ان احاديث الصحيحين هل تفيد القطع ام لا؟ فالجمهور الی انها لا تفيد القطع وذهب الحافظ رضی الله عنه الی انها تفيد القطع واليه جنح شمس الائمة السرخسی رضی الله عنه من الحنفية والحافظ ابن تيمية من الحنابلة والشيخ عمروبن الصلاح رضی الله عنه وهؤلاء وان كانوا اقل عدداً الا ان رايهم هو الرئ وقد سبق فی المثل السائر: تعيرنا انا قليل عددينا فقلت لها ان الكرام قليل (مقدمه فيض الباری ص:۴۵،طبع قاهره)

[2] اما الصحيحان فقد اتفق المحدثون على ان جميع ما فيهما من المتصل المرفوع صحيح بالقطع وانهما متواتران الی مصنفيهما وانه كل من يهون امرهما فهو مبتدع متبع غير سبيل المؤمنين (حجة الله البالغة ج:۱،ص:۱۳۴،باب طبقة كتب الحديث)

دنفي، جهادبالسيف او دجهادباللسان په باره کې خپله رايه اودمسواک (سنت رسول ﷺ) په باره کې هرزه سرايي نه کاراخيستې دی، تاسوته خواست دی چې دميا عبدالرشيد دکم علمي او هرزه سرائي مدلل ځواب ورکړئ چې داحقريې په دې روزنامه که خپره کړي او د ډيرو مسلمانانو شکونه کوم چې دمصنف په تحريرسره پيداشوي دي ليرې شي، الله تعالى به تاسوته اجرعظيم درکړي.

د نور بصيرت په عنوان سره ليکل شوی دميا عبدالرشيد پورته ذکر شوی مضمون دادی:

بازاوبوډۍ

رومي رحمه الله يوحکايت ليکلی دی چې ديوې بوډۍ دکورپه چت باندې يوبازکېناست اواتفاق سره دبوډۍ لاس ته ورغی، بوډۍ دهغه سره مينه کوله اودهغه منښوکې ته يې وکتل، نوويې ويل ،هاى افسوس!منښوکه دې دومره اوږده شوې ده اودمخې طرف نه کږه شوې ده،بيادهغه پنجې ته يې وکتل، نوډيرافسوس يې وکړ،چې نوکونه يې دومره لوی شوي دي،بوډۍ قينچی راواخستله اول يې دباز منښوکه کټ کړه، بيايې دهغه پنجې پرې کړلې، بيايې دهغه وزرې کټ کړلې اوله دې نه وروسته په خوشالۍ سره يې وويل :اوس ځومره ښه ښکاري!

رومي رحمه الله له دې نه دانتيجه اخلي، چې ځينې خلک ښه ښه شيان بيکاره اوفضول کړي اودا ګڼي چې هغوی ددی اصلاح کړې ده، همدغه څه زموږ داسلام سره روان دي،چې يو طرف ته ددې ددننه نه دجهادشوق ويستل کيږي، نودويم طرف ته رسمونوباندې زوراچول کيږي اوداعمال بې روحه جوړولوکوششونه روان دي،دکومې له وجې نه چې په مسلمانانو کې تنګ نظري،تعصب اوفرقه پرستي خبريږي،دريم طرف ته مسلمانان په قيصو راګيروي،چې دهغه په نتيجه کې دحقيقت نه ليرې کيږي.

يوفوځي افسرماته وويل چې دهغه ددفترسره کوم جومات دی په هغه کې دماسپښين د لمانځه نه وروسته يوکتاب لوستل کيږي،يوه ورځ دابن ماجه په حوالې سره داحديث بيان شو،چې دوه کسان و په هغوی کې يوکس دشهادت مرګ وموندلواودويم کس په طبعي مرګ مړشو، چاپه خوب کې وليدل چې طبعي مرګ باندې مړکيدونکی څوکاله وړاندې دشهيدنه جنت ته داخل شو، په پوښتنه باندې معلومه شوه چې طبعي مرګ باندې مړکيدونکي لمونځونه اوروژې زياتې نيولې وې له دې وجې نه هغه ته په شهيدباندې فوقيت حاصل شو،دادمنلوخبره ده؟ايادا خبره داسلام دتعليم بالکل خلاف نه ده؟متفقه مسئله ده چې دشهادت مرګ افضل ترين مرګ دی،شهيدپرته دڅه حساب کتاب نه جنت ته داخليږي، ايا د فوځيانو ددننه دشهادت دشوق ختمولويوکوشش نه دی؟

دسورة الصف په څلورم ايت کې دي چې:يقينا الله تعالى هغه کسان خوښوي چې دالله تعالى په لارکې جنګيږي، لکه چې هغوی د اوسپنې ديوالونه وي.

داپه واضح ډول دجنګ په باره کې دی.

خو دې افسرماته وویل چې هلته داایت پرېښودل شوی دی دایت ۱۱ تفسیرهمدارنګه بیان شوی دی، کوم خلک چې دالله تعالی په لاره کې (جهادنه بلکې)کوشش کوي په خپلو مالونو اوجانونو سره.

ظاهره ده چې ددې کوشش نه مرادپه تبلیغي دوره باندې تلل دي

یوبل فوجي افسرراته واقعه واوروله چې دبهاولپورطرف دهغوی درې ټینکونه په نهرکې غورځېدلي وو،ځوانانوهغه ولټول،دوه پیداشول خودریم پیدا نه شو. ماښام کې کرنل صاحب چاچې ماشاءالله ددې پرهیزګاره جماعت سره تعلق لاره،ځوانان راغونډکړل او ویې ویل چې: معلومیږي چې نن تاسومسواک په صحیح طریقې سره نه و استعمال کړی ،له دې وجې نه ټینک (ټانګ) پیدانه شو،سباپه ښه طریقې سره مسواک وکړئ او راشئ،په دویمه ورځ چې ځوانانوپه ښه طریقې سره مسواک وکړ اونهرته کوزشول نودریم ټینک هم پیداشو.

جواب: میا صاحب چې درومي رحمه الله په حوالې سره کوم حکایت ، ،بازاوبوډی، ،نقل کړی دی هغه هم په ځای ده اوددې په نقل کولوسره دمیا صاحب داویناهم په سر سترګوچې:

هم دغۀ څه زموږ داسلام سره کیږي.

دمیا صاحب زیرنظرمضمون هم ددې یوښه مثال دی،په کوم کې دګنواړخونونه د، ،روایتي بوډۍ، ،کردار ادا شوی دی.

اول: دیوامتي چې دحضور ﷺ سره کوم تعلق دی دهغه غوښتنه داده چې دحضور ﷺ ارشاد ګرامې اوریدلوسره دهغه سرښکتة شي اودهغه له پاره دهیڅ اګر،خوګنجائش پاتې نه شي، ځکه چې دادیوامتی له پاره،که هغه واقعتاً خپل ځان دحضور ﷺ امتی ګڼي.دټولونه اخري فیصله دحضور ﷺ فیصله کیدای شي اودحضور ﷺ دارشادنه وروسته بایدهیڅ داګر اوخو ګنجائش باقي پاتې نه شي اونه دحضور ﷺ دفیصلې خلاف اپیل کیدای شي .په قران کریم کې ارشاددی:

"فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا". (النساء:۶۵)

ترجمه: ستاپه رب مې دې قسم وي! چې دا خلق به ترهغه ایمان نه رواړي. ترڅوچې په خپلو جګړوکې ستاحکم ونه مني اوبیا چې ته فیصله وکړې،نودوی په خپلو زړونوکې په هغه فیصله کې هیڅ بوج ورته نه وي اوهغه فیصله پوره ومني . (ترجمه حضرت تهانوي)

خو دارشادرباني مطابق،دحضور ﷺ فیصله اوریدلوسره دمیا صاحب سرنه ښکته کیږي بلکې هغه دې لره ، ،دجهادجوش اودشهادت شوق ویستل اویواځې په رسمونوباندې زور ورکول اواعمال پرته دروح نه جوړولوغلطي سره تعبیرکوي. هغه داحدیث نبوي ﷺ .داسلام

اوږده شوې منبو که ګڼي اودروايتي بوډۍ په شان فوراً داقينچي سره کټ کوي اوداسلام داکټ کوټ عمل ددوی په نظرکې ورته، ،نوربصيرت ، ،وايي،حالانکه دروايتي بوډۍ په شان نه دوی ته دامعلومه ده چې ددې حديث شريف مقصدڅه دی؟اونه په دې خبردي چې دجذبه جهاداوشوق شهادت صحيح مفهوم څه دی،هغه داحديث شريف دجذبه جهاداوشوق شهادت مخالف ګڼي اوهغوی ته داحديث شريف هم هغه شان فالتوپه نظرراځي څنګه چې بوډۍ ته دبازمنبو که او نوکونه اوږده په نظرراغلي وو.

دويم:ميا صاحب ديوفوځي افسرپه حوالې سره موږ ته وايي چې: ددوی په جومات کې دماسپښين له لمانځه وروسته يوکتاب لوستل کيږي ،يوه ورځ هلته دابن ماجه په حوالې سره داحديث بيان کړل شو.

داکتاب چې دماسپښين نه وروسته بيانيده دحضرت شيخ الحديث مولانا محمدزکريا مهاجرمدني نورالله مرقده کتاب، ،فضائل نماز، ،دی اوپه دې کې داحديث يواځې دابن ماجه په حوالې سره نه دی ذکرشوی بلکې ددې دحوالوله پاره لاندې ذکرشوي کتابونه دي:

۱:موطاامام مالک. ۲:مسنداحمد. ۳:ابوداود. ۴:نسائي. ۵:ابن ماجه. ۶:صحيح ابن خزيمه. ۷:صحيح ابن حبان. ۸:مستدرک حاکم. ۹:بيهقي. ۱۰:ترغيب وترهيب منذري. ۱۱:درمنثور.

خو دې فوځي افسر وويل چې دابن ماجه حوالې سره داحديث بيان کړل شو اوميا صاحب پرته دتحقيق نه په خپله کالم کې دننه کړ،شائدميا صاحب دروايتي بوډۍ په شان دقران کريم ذکر ايت هم (نعوذبالله)فالتوګڼي:

"يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ". (الحجرات:۶)

ترجمه: اې ايمان والاوو! که يوشرارتي کس تاسوته خبرراوړي، نوښه تحقيق يې کوئ،چې چرته په ناداني کې يوقوم ته نقصان ونه رسوئ اوبياپه هغه باندې پښيمانه ئي.(ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

ميا صاحب پرته دتحقيق نه په دې خبرباندې باور وکړ اوداحديث شريف يې دخپل ناروا تنقيدنښه کړ.

دريم: داحديث کوم چې دميا صاحب دقول مطابق دابن ماجه په حوالې سره لوستل کيده، دلاندېنوصحابه کرامونه مروي دي:

۱:حضرت سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه:موطاامام مالک ص:۱۲۱،مسنداحمدج:۱ ص:۱۷۰، صحيح ابن خزيمه ج:۱ ص:۱۲۰، مستدرک حاکم ج:۱ ص:۲۰۰.

امام حاکم رحمه الله داد خپل سندسره نقل کولوکې فرمايي :صحيح الإسناد،امام ذهبي رحمه الله په تلخيص مستدرک کې فرمايي :داحديث صحيح دی،امام نورالدين هيثمي رحمه الله دا د مسند

امام احمد او طبراني په حوالې سره نقل کړی او فرمايي :د مسند احمد ټولو راويان صحيح راويان دي.

۲:حضرت عبيدبن خالد رضي الله عنه: مسند احمد ،ج:۳ ص: ۵۰۰ ،ج:۴ ص:۲۱۹ ،ابوداود ج:۱ ص: ۳۴۲ ،نسائي ج:۱ ص: ۲۸۱ ،سنن کبری بيهقي ج:۳ ص:۳۷۱ ،مصباح السنة ج:۳ ص: ۴۴۲ ،مشکوة ص: ۴۵۱ ،داحديث صحيح دی او ددې ټولو راويان ثقه دي.

۳:حضرت طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه: مسند احمد ج:۱ ص:۱۲۳ ،ابن ماجه ص: ۲۸۱ سنن کبری بيهقي ج:۳ ص: ۳۷۲ ،مسند ابويعلی ج:۲ ص:۹ صحيح ابن حبان ج:۵ ص:۲۷۷ مسند بزار (کشف الاستار عن زوائد البزار ج ۴ ص:۲۲۷).

امام نورالدين هيثمي رحمه الله داحديث د مسند احمد ،مسند ابويعلی او مسند بزار په حوالې سره نقل کړی او فرمايي چې ددې ټولو روايان صحيح دي.(مجمع الزوائد ج: ۱۰ ص:۲۰۴)

۴:حضرت ابوهريره رضي الله عنه: مسند احمد ج:۲ ص:۳۳۳.

امام هيثمي رحمه الله فرمايي :باسناد حسن،(مجمع الزوائد ج: ۱۰ ص:۲۰۴)او همدغه خبره شيخ دامام منذري نه هم نقل ده.

۵:مسند احمد ج:۱ ص:۱۲۳ مشکوة ص:۴۵۱ ،مجمع الزوائد ج: ۱۰ ص:۲۰۴ (حضرت شيخ هم ددې ټولو حديثونو طرف ته اشاره کړې ده.)

تاسو ګورئ چې داحديث د ګڼو صحابه کرامو نه مروي دی، ائمه حديث ددې تخريج کړی دی او د دې دراويانو يې توثيق او تعديل هم کړی دی،خو زمونږ دميا صاحب په نزد باندې شائد د حضراتو محدثينو جرح او تعديل او تصحيح او تحسين هم يو فالتو شی وي اودوی يې دادروايتي بو ډی په شان کڅ کول غواړي.

څلورم: دصحابه کرامو د دور نه ترنن دور پورې اهل علم داحديث اوري او اوروي يې لولي يې او درس کې يې ، خو دچا په زړه کې هم داخيال رانغی چې ددې سره جذبه جهاد او دشوق شهادت نفي کيږي،البته په حديث کې دلمونځ فضيلت او طاعت او عبادت سره اوږد عمر ورکول سعادت باندې ضرور استدلال وکړل شو، صاحب مصابيح السنة او صاحب مشکوة داحديث،، **باب استحباب المال والعمر للطاعة**،،دلاندې ذکر کړی دی،امام نورالدين هيثمي رحمه الله دا يو څل د ، ،دلمونځ دفضيلت،، په بيان کې او په دويم ځل ،،**باب طال عمره من المسلمين**،،دلاندې ذکر کړی دی او په صحيح ابن حبان کې داحديث دلاندې عنوان ترلاندې ذکر شوی دی:

ذکر البيان بأن من طال عمره وحسن عمله قد يفوق الشهيد في سبيل الله تبارک وتعالی.

ترجمه: ددې امر بيان چې دکوم کس عمر اوږد وي او عمل يې ښه وي هغه کله دشهيدي سبيل الله نه هم مخکې شي.

غرض داچې: دجهاد فی سبیل الله اوشهادت فی سبیل الله بې شمیره فضائل دي، خو په دې ځوک پوه نه دي چې جهاد فرض کفایه دی اولمونځ فرض عین دلمونځ په پرېښودونکي باندې دکفراطلاق شوی دی اوهم دلمونځ په باره کې فرمایل شوي دي چې لمونځ ددین ستن ده، چاچې داقائم کړ دین یې قائم کړ اوچاچې دا وغورځولو هغه دین وغورځولو. په اسلام کې دداخلیدونه وروسته ددین دټولونه لوی اواهم رکن لمونځ دی، دلمونځ ددې فضائلو ذکرکولوسره داچېرته لازم راغلل چې جذبه جهاداوشوق شهادت ورسره ختمیږي اوکوم کس چې لمونځ نه کوي (څنګه چې زمونږ دمعاشرې داکثریت حال دی اوپه کوموکې چې فوځي افسران اوځوانان هم شامل دي) هغوی به دالله تعالی په لاره کې جهاد څنګه وکړي؟ اودهغه په زړه کې به څنګه دشهادت شوق وي؟ خو دمیا صاحب په خیال کې شائد جذبه جهاداوشوق شهادت په مقابله کې لمونځ، روژه اوددین نوراعمال اوشعائرفالتوشیان وي، ځکه که خضورﷺ دیوشی فضیلت لره شهادت فی سبیل الله نه زیات بیان کړي، نومیا صاحب به دهغه دمنلوله پاره هم تیارنه وي اوس انصاف وکړئ چې داسلام سره دروایتي بوډۍ کردارڅوک اداکوي؟

میا صاحب دسورة الصف دڅلورم ایت ذکرکولوکې دفوځي افسرپه حوالې سره موږ ته وایي چې: ، ،هلته داایت پرېښودل شوی اودایت نمبر ۱۱ تفسیرداسې بیان شوی دی: څوک چې د الله تعالی په لاره کې (جهادنه بلکې) کوشش کوي په خپلومالونو سره اوپه خپلوجانونوسره، ظاهره ده چې دکوشش نه مرادپه تبلیغی دوروه باندې تلل دي.

مااول دقران ایت حواله درکړې ده چې پرته دتحقیق نه یواځې په اورېدل شوې خبره باندې کاروایي کول پکارنه دي اومیا ضاحب دفوځي افسردروایت حال هم پورته معلوم شوی دی، چې حضرت شیخ رحمة الله دیوحدیث له پاره دیودرجن کتابونوحواله ورکوي اوددې فوځي افسر ، ،حافظه یواځې ، ،یواځې ابن ماجه مشکل نوم اوچت کړی شو، هم ددې اندازه لګیدلی شي چې خبره به چېرته روانه وي اودمیا صاحب راوي به دادڅه نه څه ګڼلې وي؟

کومه خبره چې روانه وي اوکیږي هغه به داوي چې ددین په دعوت اوتبلیغ اودمسلمانانوپه اسلامي شعائروقائمولوکې چې کوم محنت هم وي په دې باندې دفي سبیل الله، ،اطلاق کیږي، په خپله جهادهم دفي سبیل الله ددې محنت یوشکل دی، ټولوته معلومه ده چې دجهادنه مخکې دمسلمانانوامیرلشکردطرف نه کافرانوته دادعوت ورکول کیږي:

❁: تاسواسلام قبول کړئ، ستاسوحقوق به هماغه وي کوم چې زمونږ دي اوستاسوذمه واري به هم هغه وي کومه چې زمونږ ذمه واري ده.

❁: که تاسواسلام رانه وړئ، نوموږ چې کوم داسلام دقانون نظام نافذکړی دی دهغه دلاندې اوسیدل قبول کړئ اوددې له پاره جزیه ورکړئ.

❁ او که جزیه ورکول او د اسلام دلاندې اوسیدل درته قبول نه وي، نو د مقابلې له پاره میدان ته راشئ، توره به زموږه او ستاسو ترمینځه فیصله وکړي [۱].

د اسلامي جهاد دا دفعات هر یو طالب علم ته معلوم دي، د کوم نه چې واضح ده چې جهاد هم دعوت الی الله د اعلاء کلمة الله له پاره وي، له دې نه وروسته د دعوت او تبلیغ په ،،في سبیل الله،، کیدو کې څه شک پاتې کیږي، حضراتو مفسرینو، د في سبیل الله په تفسیر کې چې کوم څه لیکلي دي چې هغه وکتل شي د کوم نه به چې معلومه شي چې د دین د علم حاصلولو له پاره په سفرباندې تلل هم په ،،في سبیل الله،، کې داخل دي او حج او عمره هم په في سبیل الله کې شامل دی او س یو کس داوایي چې د دین د سربلندې له پاره او د اسلام د ترقي له پاره چې کوم کوششونه وکړل شي، هغه هم په في سبیل الله کې داخل دي او په دې باندې به هم هغه ثواب او اجرورکول کیږي، کوم چې د في سبیل الله له پاره موعود دی. نو آیا د هغه دا خبره بې ځایه ده؟ [۲]

زه د میا صاحب نه داپوښتنه کوم چې په تبلیغي سفرونه باندې تلل خو ستاسو په خیال کې په ،،في سبیل الله،، کې داخل نه دي، خو د جهاد في سبیل الله هغه درې دفعات کوم چې ما ذکر کړي دي آیا هغه تاسو پوره کړي دي؟

آیا زموږ فوځي افسران کافرانو ته دا دعوت ورکوي چې تاسو هم زموږ په دین کې داخل شئ او زموږ ورونه جوړ شئ؟

آیا دا دعوت ورکول کیږي چې که اسلام نه قبلوئ، نو د اسلام نظام کوم چې موږ قائم کړی دی، جزیه ورکړئ او د دې ماتحتي قبوله کړئ؟ او آیا زموږ په ملک کې په یقین سره اسلامي نظام هم نافذ دی؟ د کوم په ماتحتي کې چې یو کافر قوم ته دعوت ورکړل شي؟ ترڅو پورې چې تاسو اسلامي نظام قائم نه کړئ د دې دعوت به څنګه ورکړئ؟ او ترڅو پورې چې د دې دعوت ورنه کړل شي، اسلامي جهاد به څنګه وي؟ او په دې باندې به د اسلامي جهاد فضائل څنګه مرتب کیږي؟ آیا میا صاحب به دا معما حل کړای شي؟

۱] وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُونَ دَارَ الْحَرْب فَحَاصَرُوا مَدِينَةً أَوْ حِصْنًا دَعَوْهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ) لِمَا رَوَى ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا " { أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَا قَاتَلَ قَوْمًا حَتَّى دَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ } قَالَ (فَإِنْ أَجَابُوا كَفُّوا عَنْ قِتَالِهِمْ) لِحُصُولِ الْمَقْصَدِ ، وَقَدْ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ { أُمِرْت أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ } الْحَدِيثَ.(وَإِنْ امْتَنَعُوا دَعَوْهُمْ إِلَى أَدَاءِ الْجِزْيَةِ) (فَإِنْ بَذَلُوهَا فَلَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ) (هداية ج:۲،ص:۵۵۹،كتاب السير)

۲] فى الدرالمختار: فى سبيل الله وهو منقطع الغزاة وقيل الحاج وقيل طلبة العلم وفسره فى البدائع بجميع القرب (الدرالمختار مع الردالمحتار ج:۲،ص:۳۴۳باب المصرف)

اودمسواک په باره کې چې میا صاحب کومې خبرې کړې دي ددی ځواب په خپله دهغوی په تحریرکې په اخره کې موجوددی چې:
په دویمه ورځ چې کله ځوانانوپه ښې طریقې سره مسواک وکړاونهرته کوزشول ،نودریم ټینک (ټانګ)هم پیداشو.
که په سنت نبوي(علی صاحبهاالف الف صلوة وسلام)باندې عمل کولوسره دالله تعالی مددشامل شي ،نوپه دې کې هیڅ حیرانتیانشته اوترڅوپورې چې مجاهدین اسلام دسنت نبوي پابندنه وي دهغوی سره دالله تعالی نصرت اومدد نه شي کیدای ، دصحابه کرامورضوان الله اجمعین حالات په دې باندې ګواه دي اوپه خپله میا صاحب چې کومه واقعه نقل کړې ده هغه هم ددې روښانه دلیل دی،خو کیدای شي چې دمیا صاحب په زړه کې درسول اللهﷺ دسنتو څه خاص اهمیت نه وي، له دې وجې نه هغو ی ددې صحیح واقعې پورې ټوکې کول غواړي اوددې روایتي بوډۍ په شان وزرونه کټ کول غواړي،حق تعالی شانه دې ورته فهم سلیم ورکړي.

قران کریم اوحدیث قدسي

سوال: ماد خطبات بهاول پورمصنفه ډاکټرمحمدحمیدالله صاحب لوستل شروع کړي دي،صفحه ۲۲ باندې یې دیوسوال ځواب ورکړی دی، هغه سوال اوځواب دلته نقل کوم:
سوال: نمبر ۱۰: حدیث قدسي دالله تعالی الفاظ دي، نوحدیث قدسي په قران پاک کې ولې نه دی شامل شوی؟ وضاحت وکړئ!
جواب: رسول اللهﷺ مناسب نه دي ګڼلي، هم دا اصل ځواب دی، ځکه چې دقران مجید د اوږدولو ضرورت نه و، بهتردا و چې قران کریم مختصروي اودضرورت ټول شیان دې کې موجوددي اووخت په وخت سره دې باندې زوراچولو له پاره حضورﷺ نورشیان هم بیانول، کوم حدیث چې راغلي دي اوکه حدیث قدسي دي، له هغه نه مونږ فائده اخستی شو، خودهغه په قران کې دشاملولو ضرورت حضورﷺ نه دی محسوس کړی، دحدیث قدسي چې کوم کتابونه دي،په هغو کې داسې څه شی نشته کوم چې قران کې اضافه ګڼل کیږي، بلکې هم دقران ځینو خبروباندې په نوروالفاظو کې زور ورکولوسره بیان شوي دي.
زه دلته کې ونښتلم، ځکه چې دډاکټرصاحب خیال زما د بنیادي عقیدې خلاف معلومیږي، زماایمان دی چې قران کریم مکمل طورباندې په لوح محفوظ باندې لیکل شوی دی او جبریلعلیه السلام دالله تعالی دفرمان مطابق هغه په حضورﷺ باندې نازل کړ ، حضورﷺ به یاداوه اوحضورﷺ به هغه لیکه اوصحابه کرامو رضی الله عنهم باندې به یې یادولو ،داخبره چې څنګه په قران مجیدکې شامل کړل شي اوڅنګه دحضورﷺ په اختیار کې نه وه، که چیرې مونږدا ومنوچې قران کریم په هغه ایتونوباندې مشتمل دی، کوم چې حضورﷺ مناسب ګڼلي

دي،نور مور کتاب به هم دبائبل په شان شي. تاسو ته خواست دی چې دې باره کې زما راهنمائي وکړئ.

جواب: ستاسو دا خيال صحيح دی، دقران کريم الفاظ او معنا دالله تعالی دطرف نه دي[1] او حديث قدسي مضمون خو دالله تعالی له طرفه دی، خو هغه مضمون حضور ﷺ په خپلو الفاظو کې بيان کړی دی[2]، قران مجيد کې څه کمی زياتی نه شي کيدای، په دې وجه باندې داسې ويل چې قدسي حديثونه حضور ﷺ په قران شريف کې نه دي شامل کړي، غلطه خبره ده، ډاکټرحميدالله صاحب ته چې څه په خوله ورځي هغه وايي، هغه د استاذ علم نه دی حاصل کړی او په خطبات بهاول پور کې هم ډيرې غلطيانې دي.[3]

دفکري تنظيم په خلاف اواز پورته کول

سوال: مونږ ديوې ديني مدرسې دشورا ممبران يو، دشورا مجلس رجسټرډ دی، مهتمم صاحب، دحضرت مولاناخيرمحمدصاحب رحمه الله خليفه دی، قانون او اصول ليکل شوي دي چې دامدرسه به دحضرت مولانا نانوتوي رحمه الله اومولاناتهانوي رحمه الله دمسلک اومشرب مطابق وي، دمهتمم صاحب دوه زامن دفکري تنظيم سره تعلق ساتي اودشورا دمجلس دناګوارۍ باوجودمهتمم صاحب هغوی په مدرسه کې نوکران کړي دي، دپلارد سادګۍ نه فائده اخستوسره دهغه زامنودليرې ليرې نه نوراستاذان رااوغوښتل اودځان په شان خيالات لرونکي خلک يې برتی کړل اوخپل پلار(مهتمم صاحب) يې دصدرپه شان بې اختياره کولو سره مدرسې باندې خپل اثرقائم کړی دی، څنګه به چې ستاسوعلم کې وي چې داحضرات دحضرت شاه ولي الله رحمه الله اومولاناعبيدالله سندهي رحمه الله نوم اخستلوخلک خپل ځان طرف ته متوجه کوي، دهغوی ديواستاذ درپورټ مطابق دغه خلک دخپل ملکيت قايل نه دي، دخميني مداح، دافغانستان دجهاد خلاف اودروسي نظام خوښونکي، دښځې دمشرۍ قايل، تبليغي جماعت ته ګمراه وايي، په دې وجه باندې دهغوی دذهنيت خلاف استاذان پريشانه کولوسره په وتلوباندې مجبوروي اوکوم طالبان چې دهغوی دخيالاتومنونکي جوړ نه شول، هغوی يې هم له مدرسې نه وايستل، دپيښوردا خبارنجات مارچ ١٩٩٨ء مطابق

١] فالقرآن منزل على الرسول صلى الله عليه وسلم ....وهو النظم والمعنى جميعاً فى قول عامة العلماء وهو الصحيح.........الخ (حسامى ص:٦)

٢] ....لان القرآن وحى كله بالفاظه ومعانيه نزل به الروح الامين على قلبه،واما السنة فالفاظها من عندالرسول صلى الله عليه وسلم وان كانت السنة كلها ارائة من الله تعالى .....الخ (ما تمس اليه الحاجة على ابن ماجة ص:٥،للشيخ نعمانى)

٣] ''خطبات بهاول پور كا علمى جائزه،، مكتبه لدهيانوى شائع كړی دی.

ددې تنظيم ذهن لرونکو طالبانو داخله يې د صوبه سرحد په مدرسو کې بندکړې ده.
مولانا سرفراز صاحب صفدر نصرت العلوم والاوو هم ديو سوال په ځواب کې دوی ته
د اسلافو خلاف ويلې دي او د شيطان د شر او د هغه د دوستانو نه يې پناه غوښتې ده. له دې نه
پرته په حساب کتاب کې هم څه ګړ بړ شروع شوی دی. د مجلس شورا کې مهتمم صاحب
او شيخ الحديث صاحب جامعه خيرالمدارس ملتان. مدرسه خيرالعلوم خيرپور ټاميوالي
مهتمم او د مدرسې ناظم جامعه عباسيه صادقيه منچن آباد نه پرته څه مقامي خلک دي.
مهتمم صاحب خو دا مني چې زما د زامنو نظريې صحيح نه دي. خو وايي چې د اولاد کيدو په
وجه باندې مجبوريم. د هغوی خلاف څه نه شم کولی. د بچو په وجه باندې مهتمم صاحب
د شورا اجلاس راغوښتل بند کړي دي. د قانون او اصولو خلاف. جمع شوې پيسې په خپل
ذاتي اکاونټ کې جمع کوي د خپلې خوښې مطابق يې استعمالوي، که څېرې د شورا
ممبران د هغوی نه پوښتنه کول پرېږدي .نو خلک نظر به نور هم خپرول شروع کړي. د پوښتنې
په وجه باندې بيا لړشان احتياط کوي. ددې مثالي او ښې مدرسې په صحيح لار باندې
راوستلو له پاره د هغوی له مدرسې نه ويستل ضروري دي. پوښتنه دا کول غواړم چې ددې
مسئلې په نزد باندې مورډ مجلس شورا ممبران د هغوی د وېستلو کوشش وکړو او که چپ
پاتې شو؟ مهتمم صاحب دا هم وايي چې ما نن پورې د هغوی پير صاحب سره د هغه
د غلطو عقيدو په وجه باندې لاس نه دی ورکړی.

جواب: زما مسلک خو د خپل اکابرينو په شان دی. د مدرسې دا حضرات که څېرې مدرسه کې
د خپلو اکابرينو د مسلک مطابق عمل کوي. نو دنيا او اخرت کې به هغوی ته برکتونه نصيب
شي، که نه بيا يو اخې ويره ده.

پاتې شوه دا چې ستاسو حضراتو د هغوی خلاف اواز پورته پکاردي او که چپ پاتې کيدل
پکاردي؟ دې باره کې خواست دی که څېرې ستاسو اواز پورته کول فائده کولی شي نو اواز
ضرورر پورته کول پکاردي او که څېرې د فتنې او فساد ويره وي. نو الله تعالی نه
دعا غواړئ چې الله تعالی خپل بندګان د هغوی د شر نه محفوظ وساتي.

حقا که بنائې لا اله است حسين

سوال: خواست دی چې د حضرت خواجه معين الدين اجميري رحمه الله طرف ته منسوب شوې
يو رباعي کومه چې د شيعه ګانو نه پرته د اهل سنت والجماعة د مقررينو او عالمانو په ژبه
وي، زما مراد دی:

شاه است حسين بادشاه است حسين دين است حسين دين پناه است حسين
سرداد و نداد در دست يزيد حقا که بنائے لا اله است حسين

همدارنګه د علامه اقبال مرحوم یو شعر دی.

بهرحق در خاک و خون غلیطده است ن بنائے لا اله گر دیده است

او د ظفر علي خان مرحوم د شعر اخري برخه.

اسلام زنده هوتا هے هر کربلا کے بعد

دا شعرونه او دا پورته بیان شوي شعرونه کوم ته چې کرښه ورکړل شوې ده. دې باندې ډیر حیران یم. زما د ناقص علم مطابق د قران او سنت علم سره مطابقت نه لري. یا د مسائل پکار دي چې د حضرت حسین رضی الله عنه مقام زما په زړه کې ډیر زیات اوچت دی. تاسو مهرباني وکړئ د اسلام د تعلیماتو په رڼا کې دلیل سره ځواب راکړئ چې دا صحیح دي او که غلط؟

که چیرې بنائے لا اله حسین رضی الله عنه نه دی. نو د شریعت په نزد باندې لا اله څه دی؟ د دین یو عالم فرمایي چې دا رباعي د ملا معین کاشفي رافضي ده. د حضرت خواجه اجمیري رحمه الله نه ده. چونکه دا دهغوی په رسالو نو او دیوان کې نشته. ځواب دلیل او تفصیل سره بیان کړئ.

جواب: د ظفر علي خان مرحوم په شعر کې خو هیڅ مشکل نشته. د هر کربلا نه مراد .هر شهادت ګاه ده او د شعر مطلب دا دی چې قرباني او شهادت د اسلام د ژوند ذریعه ده.

د کوم حد پورې چې د لومړۍ ذکر شوې رباعي او د اقبال د شعر تعلق دی. دا خالص د اشیعه ګانو ترجماني کوي. د خواجه اجمیري رحمه الله طرف ته د دې رباعي منسوب کول غلط دي او د اقبال شعر في کل و اد یهیمون. په شان دی. مزه داده چې رباعي کې سر دا دونه دا د دست در دست یزید. ته. او د ښل په شعر کې "بهرحق درخاک وخون غلطیدن. نه بنائے لا اله. کید و علت ګرځول شوی دی. حالانکه د توحید چې څه مفهوم دی، لا اله د الله تعالی صفت دی، د انسان یو صفت د الله تعالی د توحید او یو اځې والی علت څنګه کیدای شي؟ او کوم خلک چې په معصومانو امامانو کې د الله تعالی د صفاتو قایل وي. د هغوی نه دا سې مبالغه مستعبد نه ده.

غرض دا چې دا رباعي چرته د شیعه ده او د اقبال شعر د هغه غلا ده. والله اعلم!

د زمکې او اسمان په تخلیق کې د تدریج حکمت

سوال: د سونو احتراماتو لائق جناب یوسف لدهیانوي صاحب!

السلام علیکم.

" الله تعالی په دوو ورځو کې ځمکه جوړه کړه. په دوو ورځو کې یې په دې کې د دننه قوتونه او برکت کینښوده او په دوو ورځو کې یې اسمان جوړ کړ(حم سجده ایت ۹ تا ۱۲) حواله: تفسیر عثماني رحمه الله).

" الله تعالی چې څه شی پیدا کول غواړي. نو هغه ته وایي چې وشه ' هغه شی وشي (ال عمران. ایت نمبر ۴۷) .. حواله تفسیر مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله)

ددې اياتونو په باره کې يوشيطاني خيال مادخه مودي نه پريشانه کوي،چې دځمکې او آسمان د وجود په راتلوکي شپږ ورځې ولې لګيدلي چې کله زموږ ايمان دی چې دځمکې او اسمان پيداکولو له پاره دالله پاك يوه اشاره هم کافي ده اوهغه به فوراً په وجودکې راشي.مهرباني وکړئ او په دی اشکال ليرې کولو کې زما سره مرسته وکړئ چې زه ددې شيطاني خيال نه خلاص شم.

جواب: د يوشی تدريجًا(په مزه مزه) وجودکې راوستل ددې دوه وجې کيدای شي.يوه دا چې فاعل دهغه په يوځل وجودته راوستلو باندې قادر نه وي ځکه هغه مجبور دی چې دا شی په مزه مزه وجودته راولي او دويم صورت دا دی چې فاعل ددې شي سمدستي وجود ته په راوستلو باندې خوقادر وي ،خو دځه حکمت په بناء باندې يې هغه وجودته سمدستي نه راولي،بلکې په مزه مزه يو خاص مقرره موده کې يې وجود ته راولي.الله پاك چې ځمکه او اسمان په دوو دوو ورځوکې پيدا کړل ددې وجه لومړی نه وه بلکې دويمه وه په دی وجه ستاسوسوال خوختميږي البته داسوال کيدلی شي چې هغه کوم حکمت و چې دهغه په بناء باندې دځمکې او اسمان تخليق تدريجًا وشو.نو ددې ځواب دادی چې دالله دافعالو دحکمت احاطه څوک کولی شي په دې کې چې هرڅنګه حکمتونه هم ملحوظ وي هغه به ټول خير وي،مثلاً يوحکمت بندګانو ته دتدريج اوپه مزه مزه دکولوتعليم ورکول کيدای شي چې هرکله موږ دقادر مطلق کيدلو باوجود خپل تخليق کې دتدريج خيال ساتلی دی، نوستاسو له پاره خوپه څه کارکولوکې په اولې درجه کې دتدريج نه کار اخستل پکاردي،يامثلاً داحکمت کيدای شي چې ددې دنيا نظام به داسبابو اومسبباتودتدريجي سلسلې دلاندی چليږي .څنګه چې الله تعالى قادر دی چې انسان يې په يوه لمحه کې پيداکړی وای او نيغ يې ژوندي درولي وای خو نه؛ دهغه حکمت ديوخاص نظام دلاندی تدريجًا دهغه پالنه کوي.هم دا حال دنباتاتو وغيره هم دی او که چيرې غور وکړل شي ، نوددې دنياټول ترقيات دتدريج دلاندی چليږي څه تعجب دی چې داسمان اوځمکې ترديجي تخليق کې دا حکمت هم ملحوظ وي.

دانسان سپوږمۍ ته رسيدل

سوال: زموږ د دوستانو په مينځ کې نن سبا يو بحث کيږي اوهغه داچې انسان سپوږمۍ ته ختلی دی اوکه نه؟ او ځمکه ګردش کوي يانه؟ زماخيال خودا دی چې انسان سپوږمۍ ته ختلی دی او ځمکه ګردش کوي،موجوده نوي دورته د ټيکنالوجي دور وايي اوپه دې دور کې يوه خبره هم ناممکنه نه ده پاتې شوې چې کله په خلاء کې مصنوعي سيارې پرېښودل کيږي. نوبيا سپوږمۍ ته ختل ولې ممکن نه دي په دی سلسله کې چې کله موږدخپل جومات د موذن صاحب نه پوښتنه وکړه ، نوهغه وويل چې دقران اوحديث په رڼا کې داخبره بالکل ناممکن ده، چې انسان سپوږمۍ ته وخيږي او ځمکه ګردش کوي.

تاسو مهرباني وکړی د قران اوحدیث په رڼا کې زموږ معلوماتو کې اضافه وکړئ چې دا خبره څومره پورې ومنل شي چې انسان سپوږمۍ ته رسیدلی دی او دا چې ځمکه ګردش کوي؟

جواب: انسان سپوږمۍ ته خو رسیدلی دی او دنوي تحقیق مطابق ځمکه هم ګردش کوي ،خو داخبره په پوهه کې نه راځي چې ستاسو دوست په دې نکته باندې مجلس مذاکره ولې منعقد کوي اوددې بحث حاصل څه دی. ستاسو د موذن صاحب دا ویل چې دقران او حدیث په رڼاکې دانسان سپوږمۍ ته رسیدل ناممکن دي بالکل غلطه ده؛ نبي کریم ﷺ خو سپوږمۍ ته نه بلکې عرش پورې رسیدلی او راغلی و. سپوږمۍ ته رسیدل ولې ناممکن شول؟

ځمکه او اسمان په څوورځو کې پیدا شوي دي

سوال: دجمعې په ورځ باندې "الله تعالی کی نشانیان.، په عنوان باندې دمختلف سورتونو دیو څو ایتونو ترجمه وړاندې کیږي. دسوره حم السجده د٩تر١٢ ایتونو په بیان کې لیکل شوي دي چې ځمکه دوه ورځوکې پیدا شوه او دوه ورځوکې اووه اسمانونه جوړکړل شول. دسورت ق په بیان کې لیکل شوي دي چې ځمکه اسمان اوټول مخلوقات په شپږورځوکې پیدا شول، اوسه پورې خوموږ داسې اوریدلی و چې ځمکه اواسمان په اووه ورځوکې پیداشوي دي اوداهم صحیح دي چې الله تعالی لفظ کن وویل اوهرڅه وشول. کله چې دکن په ویلو باندې هرڅه شوي دي، نوددې دوه ورځو.شپږورځواواووه ورځوضرورت ولې پیښ شو؟ ددې وضاحت وکړئ.

جواب: دلته دیو څوخبروذکرکول ضروري دي:

٧ ځمکه اواسمان وغیره په اووه ورځوکې نه دي پیدا شوي بلکې په شپږورځوکې شوي دي، څنګه چې تاسو دسورت ق په حواله باندې لیکلي دي دپیداکولوشروع دهفتې په ورځ باندې شوې وه اودزیارت(پانشنبې) په ماښام باندې ختمه شوه.

٨ الله تعالی یوځمکه اویو اسمان څنګه. په زرګونوجهانونه په یومنټ کې پیداکولی شي، خوشپږو ورځوکې پیداکولوکې یې حکمت و. څنګه چې ماشوم په یوه لمحه کې پیداکولو باندې قدرت لري، خودمورپه خیټه کې هغه په نهه میاشتوکې جوړوي.

٩ دکن ویلو په وجه باندې هریوشی پیداکیږي. خوکوم یوشی چې سمدستي پیداکول غواړي هغه پیداشي اوکوم چې څه وخت وروسته پیداکول غواړي هغه څه وخت وروسته پیداشي.

❹ دوه ورځوکې اسمان، دوه ورځوکې ځمکه اودوه ورځوکې ځمکه کې موجودټول شیان یې پیداکړي دي.

⑤ دې جوړولو کې ترتیب څنګه و؟ دې باره کې دعامو مفسرینو خیال دی چې مخکې دځمکې ماده جوړه کړل شوه. بیا اسمان جوړ کړل شو. بیا ځمکه خوره کړل شوه او بیا ځمکه کې موجود شیان جوړ کړل شول. والله اعلم!

لومړی امر

دادم علیه السلام دتخلیق په باره کې نبوي صلی الله علیه وسلم تصریحات

حضور صلی الله علیه وسلم دحضرت ادم علیه السلام دتخلیق جسماني دکیفیت او دهغه دتخلیق دمرحلو په سلسله کې چې کوم تصریحات فرمایلي دي. دهغه خلاصه داده چې الله تعالی کله دحضرت ادم علیه السلام دتخلیق اراده وکړه. نو دټولې ځمکې نه یې دخاورې خلاصه واخیستله. بیایې په هغه کې اوبه ګډې کړې او خټه یې ترې جوړه کړله. بیایې دڅه وخته پورې هغه همداسې پرېښودله. تردې پورې چې هغه خټه توره شوه او هغې بوی وکړ او هغه متینه (مئینه خټه) په خیر شوه. بیاله دې خټې نه یې دحضرت ادم علیه السلام شپیته لاسه اوږد قالب جوړ کړ. بیادا قالب څه وخته پورې پروت و. تردې پورې چې وچ شو او کړنګا په کې پیدا شوه او هغه به دکدورې په شان ټنګا کوله. په دې دوران کې به شیطان له دې قالب نه ګیرچاپیره ګرځیده او هغه به یې ټنګاو اوکوت او ویل به یې چې ددې مخلوق په خېټه کې خلاده. له دې وجې نه به په خپل ځان باندې قابو نه شي کولی.

بیا په دې بې روحه قالب کې د روح پوک ووهل شو او له هغه ژوندی انسان جوړ شو. کله چې دهغه په نیم پورتني بدن کې روح داخل شو. نو هغه ته پرنجی ورغی او دهغه دژبې مبارکې نه چې کومه اولني خبره ووتله هغه الحمدلله وه چې په دې باندې الله تعالی په ځواب کې وفرمایل: ..یرحمک ربک.. (ستارب دې په تا رحم وکړي) حضرت ادم علیه السلام چې په کوم وخت کې پیدا شو. هغه وخت کې دهغه قد شپیته لاسه اوږد و او دهغه ټول جسماني اندامونه ظاهري او باطني قوي کامل او مکمل و. هغه دغتېدا دهغو مرحلونه تیر نه شو چې په هغو باندې دادم اولاد تیریدو سره دغتېدا خپل اخري مدارجو پورې رسیږي

داخلاصه ده دحضور صلی الله علیه وسلم دګنو ویناوو چې له هغوی نه دحضرت ادم علیه السلام دتخلیق په باره کې نقل شوي دي. زه ددې ګڼو حدیثونو نه دلته یوازې په څلورو باندې اکتفا کول غواړم:

اول حدیث

عن أبي هريرة رضي الله .... قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خلق الله عزوجل آدم على صورته. طوله ستون ذراعا. فلما خلقه قال: إذهب فسلّم على اولئک النفر! وهم نفر من الملئكة جلوس. فاستمع ما يحيونک به؟ فإنها تحيتک وتحية ذريتک. قال: فذهب فقال: السلام

عليكم! فقالو: السلام عليک ورحمة الله! قال: فزادوه "ورحمة الله" قال: فكل من يدخل الجنة على صورة ادم وطوله ستون ذراعا. فلم يزل الخلق ينقص بعده حتى الآن. (صحيح بخارى ج:٢ ص:٩١٩، صحيح مسلم ج:٢ ص:٣٨٠، مسند احمد ج:٢ ص:٢٤٤)

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه د حضور ﷺ نه روايت کوي چې الله تعالى حضرت ادم علیه السلام په داسې صورت باندې پيدا کړې دی. چې دهغه قد شپيته لاسه و. کله چې هغه پيدا شو. نوهغه ته يې وفرمايل چې: لاړشه دې ډلې ته سلام وکړه. دلته د فرښتو يوه ډله ناسته وه. واوره: چې دوی تاته څه ځواب درکوي؟ ځکه چې هم دغه به ستا او ستا د اولاد سلام وي. حضرت ادم علیه السلام ولاړ او فرښتو ته يې، السلام عليكم. وويل. هغوی ورته په ځواب کې وويل: وعليک السلام ورحمة الله. فرښتو په ځواب کې د "ورحمة الله" لفظ اضافه کړ. حضور ﷺ وفرمايل چې: څومره کسان چې جنت ته داخليږي هغوی به د حضرت ادم علیه السلام په صورت باندې وي او دهغوی قد به شپيته لاسه وي. بيا وروسته د انسانانو قدونه واړه کيدل چې ددې سلسله تراوسه پورې جاري ده.

حافظ الدنيا ابن حجر عسقلاني رحمه الله. د حضور ﷺ وينا: الله تعالى حضرت ادم علیه السلام دهغه په صورت باندې پيدا کړ. په شرح کې ليکي

والمعنى أن الله تعالى أوجده على الهيئة التى خلقه عليها لم ينتقل فى النشأة أحوالا، ولا تردد فى الأرحام أطوارا كذريته، بل خلقه الله رجلا كاملا سويا من اول ما نفخ فيه الروح ثم عقب ذلك لقوله، وطوله ستون ذراعا. (فتح البارى ج:٦ ص:٣٦٦، كتاب الانبياء باب خلق آدم وذريته)

ترجمه: ددې حديث مطلب دادی چې الله تعالى حضرت ادم علیه السلام په کوم شکل او هيئت باندې پيدا کړ هغه ته يې هم په هغه هيئت او شکل باندې وجود ورکړ. هغه د خپل اولاد په شان د پيدائښ د مختلفو مرحلونه تيرشو. نه د مور په خيټه کې د يو حالت نه بل حالت ته منتقل شو. بلکې الله تعالى د هغه تخليق داسې وکړ. چې د نفخ روح په وخت کې هغه کامل سړی و او د هغه ټول جسماني طاقتونه د کمال په درجه کې و. له دې وجې نه يې وفرمايل چې دغه وخت کې د هغه قد شپيته لاسه و.

ددې حديث هم دغه تشريح ډير علماوو کړې ده

دويم حديث

"عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الله تعالى خلق آدم من قبضة قبضها من جميع الأرض فجاء بنو آدم على قدر الأرض. منهم الأبيض والأحمر

والأسودوبين ذلك ,والسهل والحزن والخبيث والطيب. (ترمذى ج:۲ ص:۱۲۰.ابوداود ج:۲ ص:٦٤٤.مسنداحمد ج:٤ ص:٤٠٠. مستدرک حاکم ج:۲ ص:۲٦۱.صحيح ابن حبان.الاحسان.ج:۹ ص:۱۱)

ترجمه: دحضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دى چې:رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: بې شکه الله تعالى حضرت ادم عليه السلام دخاورې دموټې نه پيداکړ. کومه يې چې دټولې ځمکې نه اخيستې وه اودادم اولاد په ځمکه باندې داندازې مطابق ظاهرشول. په دوی کې څوک سپين دي، څوک سره دي. څوک تور دي اوڅوک دد ې رنګونو په مينځ کې. څوک نرم، څوک سخت، څوک خبيث اوڅوک پاک دي.

دريم حديث

عن أنس رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:لما صورالله آدم فى الجنة تركه ماشاء الله أن يترک.فجعل إبليس يطيف به ينظر ماهو.فلما رآه أجوف عرف أنه خلق خلقا لا يتمالک. (صحيح مسلم ج:۲ ص:۳۲۷.مسنداحمد ج:۳ ص: ۲٤۰.مسندطيالسى ص:۳۷۰ حديث : ۲۰۳٤)

ترجمه: دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت دي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې:کله چې الله تعالى په جنت کې دادم عليه السلام صورت جوړ کړ، نوهغه يې په هغه حالت کې پريښود څومره موده چې الله تعالى ته منظوره وه، نوشيطان به له هغه نه ګيرچاپيره تاويده ددې دکتوله پاره چې داڅه شى دى؟ کله چې هغه وليدل چې دده په خېټه کې خلاده، نوهغه پوه شو چې دده تخليق داسې شوى دى چې دى به په خپل ځان باندې قابوونه کړاى شي.

څلورم حديث

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:إن الله خلق آدم من تراب،ثم جعله طينا،ثم تركه حتى إذا كان حمأ مسنونا خلقه وصوره،ثم تركه حتى إذا كان صلصالا كالفخار،قال:فكان إبليس يمربه فيقول:لقدخلقت لأمرعظيم!،ثم نفخ الله فيه من روحه،فكان أول شيء جرى فيه الروح بصره وخياشيمه،فعطس فلقاه الله حمد ربه،فقال الرب:يرحمک ربک...الخ.

(فتح البارى ج:٦ ص: ۳٦٤.مسندابوعلى ج:٦ ص:۹۷.حديث :٦٥٤۹.مجمع الزوائدج:۸ ص:۱۹۷)

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه دحضور صلى الله عليه وسلم ارشادنقل کوي چې: بې شکه الله تعالى حضرت ادم عليه السلام دخاورې نه جوړکړ، بيايې په دې خاوره کې اوبه واچولې، بيايې هغه پريښودله، تردې پورې چې توره خټه ترې جوړه شوه. بيايې دهغه قالب جوړکړ. تردې پورې چې په اوورکې دپخ شوي په شان وټنګيده.ابليس به دهغه په خواکې تيريده. نوويل به يې: ته دڅه

لوى كارله پاره جوړ شوى يې. بيا الله تعالى په دې قالب كې خپل روح واچاو. له ټولونه مخكې چې په كوم شي كې روح جاري شو هغه د حضرت ادم عليه السلام سترګې او سپږمې وې. هغه ته پرنجى ورغى. نو الله تعالى هغه ته د الحمد لله ويلو الهام وكړ. هغه الحمد لله وويله. نو الله تعالى په ځواب كې وفرمايل: . . يرحمك ربك! (ستا رب دې په تا باندې رحم وكړي)

د دې حديثونو خلاصه او مضمون مخكې ذكر شوى دى اوس په دې باندې غور وكړئ چې په دې احاديثو كې د تخليق ادم كوم مدارج چې ذكر شوي دي او د دې تخليق چې كوم كيفيت بيان شوى دى د قران كريم له ډيرا يتونو نه د دې تصديق شوى دى:

اول: دا چې حضرت ادم عليه السلام تخليق بلاواسطه د خاورې نه وشو او دا د هغه د تخليق د پيل نقطه ده. د الله تعالى ارشاد دى:

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ (ال عمران:۵۹)

ترجمه: بې شكه د حضرت عيسى عليه السلام عجيبه حالت د الله تعالى په نزد د حضرت ادم عليه السلام په شان دى، چې د هغه قالب يې د خاورې نه جوړ كړ. بيا يې ورته حكم وكړ چې ژوندى شه! هغه ژوندى شو (ترجمه حضرت تهانوى)

دويم: دا چې په خاوره كې اوبه واچول شوې، د الله تعالى ارشاد دى:

إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِّن طِينٍ (ص:۷۱)

ترجمه: كله چې ستا سو رب فرښتو ته وفرمايل چې: زه د ختې نه د انسان (يعنې د هغه د قالب) جوړونكى يم. (ترجمه حضرت تهانوى)

دريم: دا چې ختې ته ډيرې مودې پورې پرته وه، تر دې پورې چې توره شوله او د هغې نه بوى راغى. د الله تعالى ارشاد دى:

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ (الحجر:۲۶)

ترجمه:: او موږ انسان د كړنګيدلې خاورې نه، چې بد بويه شوې ختې نه جوړه شوې وه پيدا كړ. (ترجمه حضرت تهانوى)

څلورم دا چې ډيروخت پورې پرتې وه ځكه په كې د انبتلو صلاحيت پيدا شو. ارشاد دى:

إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ. (الصافات:۱۱)

ترجمه :موږ دا خلك د سريښناكې خاورې نه پيدا كړل. (ترجمه حضرت تهاوى)

پنځم: دا چې د دې خاورې نه يې قالب جوړ كړ چې وچ شو نو ټنګيده. ارشاد دى:

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِّن صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ. (الحجر:۲۸)

ترجمه: اوکله چې ستاسو رب ملائکوته وفرمایل چې زه یو انسان ته چې د تنګیدونکې بدبویه خټې نه پیداکونکی یم. (ترجمه حضرت تهانوی)

(الرحمان: ١٤،١٥)

خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ

ترجمه: هغه انسان له داسې خاورې نه چې د کډرې په شان تنګیدله پیداکړلاو پیریان یې د خالص اورنه پیداکړل.(ترجمه حضرت تهانوی)

تشریح: داچې کله د حضرت ادم علیه السلام قالب د پورتنیو مدارجونه تیرشول. نوپه هغه کې روح واچول شو. دا د هغه د تخلیق تکمیل و. ارشاددی

إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِنْ طِينٍ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ (ص: ٧١،٧٢)

ترجمه: اوکله چې ستارب فرښتو ته وفرمایل چې زه له خټې نه یو انسان (یعنې د هغه قالب) جوړونکې یم. کله چې زه هغه پوره کړم اوپه هغه کې خپل روح واچوم. نوتاسوټول د هغه په وړاندې په سجده پریوځئ! (ترجمه حضرت تهانوی)

الله تعالی حضرت ادم علیه السلام په خپلو لاسو نو جوړ کړ

په قران کریم کې داهم وضاحت شوی دی چې د حضرت ادم علیه السلام تخلیق الله تعالی په خپلولاسونو وکړ. لکه چې ارشاددی:

قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِينَ.(ص:٧٥)

ترجمه. الله تعالی وفرمایل چې: اې ابلیسه: ته کوم شي هغه ته له سجدې کولو نه منع کړې. (ترجمه حضرت تهانوی)

داخو ښکاره ده چې ټول مخلوق الله تعالی پیداکړی دی. خو د حضرت ادم علیه السلام په باره کې یې چې وفرمایل: مادی په خپلولاسونوجوړکړی دی سره د حضرت ادم علیه السلام د عظمت اوشرافت اظهار مقصوددی. یعنې د هغه تخلیق توالدوتناسل معروفې طریقې سره ونه شو. بلکې الله تعالی په خپلولاسونو د خاورې نه جوړکړ اوپه هغه کې یې روح واچاو. امام ابوالسعود رحمه الله د دې ایت په تفسیرکې لیکي:

أي: خلقه بالذات من غير توسط أب وأم.(تفسیرابی السعود ج:٧ ص:٣٢٦)

ترجمه: یعنې ماد مورپلارله واسطې پرته پخپله پیداکړ.

د دې تفسیرنه معلومه شوه چې حضرت ادم علیه السلام په باره کې

خلقت بيدي. (ماهغه په خپلولاسونوجوړ کړ) سره وفرمايل: دا دلوی حقيقت اظهاردی، چې دده تخليق دتولداوتناسل په معروفې طريقې سره نه دی شوی، هم دې ځای نه دعقل خاوندانو ته پوهيدل پكاردي چې دكوم شخصيت تخليق كې دموړپلار واسطه هم قدرت ته منظورنه وي دهغه په باره كې دادعوه كول چې: هغه جمادات، نباتات، حيواناتاوبيزوګانو شكل بدليدوسره په انساني شكل كې راغی،څومره لوی ظلم به وي.

غرض داچې خلقت بيدي،قراني الفاظو سره چې بو خوادحضرت ادم عليه السلام دتوالداوتناسل په ذريعې سره دپيداكيدونفی كيږي. هلته دې سره دجمادات، نباتات او حيوناتو او بيزوګانو ارتقايي مرحلونه تيريدونه وروسته په انسان جوړيدل په درجه اولی نفې كيږي. له دې وجې نه داهل ايمان په نزدحق هم نه دي كوم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي. د كومو تفصيلات چې پورته تيرشوي دي.

دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره كې دانبياء عليهم السلام عقيده

دقران كريم دوينا: "**خلقت بيدي**" (ماهغه په خپلولاسونوجوړکړ) مفهوم په ښې طريقې سره ذهن نشين كولونه وروسته اوس په دې باندې غوروكړئ چې په دې باره كې دحضرات انبياءكراموڅه عقيده وه؟

دحديثوتقريباپه ټولومشهوروكتابونو (صحيح بخاري، صحيح مسلم، ابوداود، ترمذي، ابن ماجه، موطاامام مالک اومسنداحمدوغيره) كې دحضرت موسی اوحضرت ادم عليه السلام مباحثه ذكر ده. حضرت موسی عليه السلام حضرت ادم عليه السلام نه وفرمايل:

"أنت آدم الذی خلقک الله بيده ونفخ فيک من روحه وأسجدلک ملئکته وأسکنک فی جنته." (مشكوة ص:١٩)

ترجمه: ته هغه ادم عليه السلام يې چې الله تعالی په خپلو لاسونو جوړ كړې اوپه تا كې يې خپل روح واچاو، په خپلو فرښتويې درته سجده وكړله اوته يې په خپل جنت كې ووسولې.

دحضرت موسی عليه السلام په دې وينا كې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره كې ټيک هماغه الفاظ استعمال شوي دي چې په مذكورة الصدرايت شريف كې راغلي دي.يعني دالله تعالی دحضرت ادم عليه السلام په خپلولاسونوجوړول اودهغه په قالب كې دخپل طرف نه روح اچول. له دې نه ښكاره كيږي چې دحضرات انبياء كراموعليهم السلام هم دغه عقيده لرله. چې دحضرت ادم عليه السلام قالب الله تعالی په خپلولاسونوجوړكړ اوپه هغه كې يې روح واچاو. هغه دتوالداوتناسل معروفې طريقې سره انسان نه دی جوړشوی، نه دجمادات،ونباتات اوحيوانات اوبيزوګانوشكل بدليدو سره انسان جوړشوی دی.

دقيامت په ورځ به هم اهل ايمان ددهمدې عقيدې اظهار كوي

حديث شفاعت كې راځي چې اهل ايمان به دقيامت په ورځ دشفاعت كبرى له پاره له ټولونه وړاندې دحضرت ادم عليه السلام په خدمت كې حاضرشي اوهغه ته به عرض وكړي:

أنت آدم أبوالناس, خلقك الله بيده, وأسكنك جنته وأسجدلك ملئكته وعلمك اسماء كل شيء. (مشكوة ص:٤٨٨)

ترجمه: ته ادم يې.دټولو انسانانو پلار، الله تعالى ته په خپلولاسونوجوړكړې اوته يې په خپل جنت كې ووسولې اوپه خپلوفرښتو يې درته سجده وكړله اوتاته يې دټولوشيانودنومونه دروښودل.

ددې حديث نه ثابتيږي چې دقيامت په ورځ به اهل ايمان هم ددې عقيدې اظهار كوي، چې دحضرت ادم عليه السلام تخليق الله تعالى په خپل لاس سره وكړ،دخاورې نه يې دهغه قالب جوړكړاو روح پكې واچاو اوهغه يې ژوندى انسان جوړكړ،دهغه په تخليق كې نه دتوالداوتناسل واسطه وه اونه دجماداتونه دبيزوګانوپورې دارتقايي مرحلو تيريدو نه وروسته انسان جوړشو.

دقران كريم ښكاره ايتونه،دحضور صلى الله عليه وسلم مباركې ويناوې،دحضرت موسى عليه السلام فرمودات اودمحشرپه ميدان كې دايمان لرونكو تصريحات ستاسوپه وړاندې موجود دي،كوم كس چې په دې ټولو امورو باندې دانصاف په نظرسره غوروكړئ، نوهغه ته به دريا ورځې په شان داحقيقت ښكاره شي چې دحضرت ادم عليه السلام دجسماني تخليق په باره كې حقيقي واقعه هم دغه ده كومه چې حضور صلى الله عليه وسلم بيان كړې ده اوددې صاحب دفلاسفه وو دطبيعيينو تقليداوتخليق ادم عليه السلام ته كرشمه ارتقاء ګرځول په صريح طورسره غلط اود نصوصو نه قطعي انحراف دى.والله يقول الحق وهويهدى السبيل.

دويم امر

د نبوي حديثونوپه باره كې ددې كس دخيالاتواظهار

ددې كس داويل چې: په دې مسئله كې نبوي حديثونه دتوجه اواعتباروړ نه دي، په څو وجو دجهل ښكاردى:

اول: پورته چې دقران كريم كوم واضح ايتونه بيان شوي دي كه هغه دنبوي ويناوو سره يوځاى ولولې، نوواضحه به شي چې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دتخليق ادم عليه السلام په باره كې څه فرمايلي دي هغه هم ددې واضحه ايتونوشرح اوتفصيل دى اوكومه مسئله باندې چې قران اوحديث دواړه متفق وي، نوهيڅ يومومن ته له هغه نه دانحراف ګنجائش نه وي، كوم كس

چې له الهي فرمان اونبوي ارشاداتو تسليمولونه وروسته کيږي په خپله انصاف وکړئ چې په ايمان او اسلام کې دهغه څومره برخه ده؟

دويم: بالفرض که دقران کريم سره ددې حديثونو تائيدنه کيداى، نوبيا هم دحضرت محمد ﷺ د ارشاداتو اوريدلو سره ويل چې: دادتوجه او اعتبار وړ نه دي، بارګاه رسالت کې بې حده جسارت او ګستاخي ده، چې داوريدلوېې يومومن هم تاب نه شي راوړلى، چې ددې په اوريد وسره دايمان روح په لړزان شي، بياکه يومسلمان داسې موذي الفاظ په ژبه باندې دراويستلوجرات وکړي، لږشان سوچ وکړئ! چې کوم وخت کې حضور ﷺ دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره کې دا حقائق بيانول، نوکه يوکس (بالفرض هم داصاحب)به دحضور ﷺ په وړاندې داويل وي چې: نعوذبالله. داستاميدان کار نه دى، بلکې داد ډارون ميدان تحقيق دى. نووواييئ چې داسې کس به په کوم صف کې شماريږي؟

حافظ ابن حزم رحمه الله ليکي:

وكل من يكفر بما بلغه وصح عنده عن النبي صلى الله عليه وسلم أو جمع عليه المومنون مماجاء به النبي عليه السلام فهوكافر اكما قال الله تعالى: ومن يشاقق الرسول من بعد ما تبين له الهدى ويتبع غير سبيل المومنين نوله ماتولى ونصله جهنم. (المحلى ج:١ ص:١٢)

ترجمه: اوهرهغه کس چې دځه داسې خبرې نه انکار وکړ، کومه چې دحضور ﷺ نه رارسيدلى وي اودهغه په نزد ددې ثبوت له حضور ﷺ نه صحيح و، ياهغه دداسې خبرې نه انکار وکړ په کومه چې داهل ايمان اجماع وي چې حضور ﷺ فرمايلي ده، نوداسې کس کافردى. لکه دالله تعالى ارشاد دى: اوچاچې درسول الله ﷺ مخالفت وکړ، له دې وروسته چې هغه ته هدايت واضح شو اوهغه داهل ايمان لاره پريښودله، نومونږ به هغه وګرځو کوم خوا چې ګرځي اومونږ به هغه جهنم ته داخل کړو.

دريم: حضور ﷺ چې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره کې کوم تفصيلات بيان کړي دي، ددې په باره کې دغور وړ خبره داده چې حضور ﷺ ته ددې خبرې علم کومې ذريعې سره وشو؟ ښکاره ده چې انبياءکرامو عليهم السلام سره له وحي الهي نه پرته کومه ذريعه نه وي، لهذادعقلي دليل نه ثابته ده چې حضور ﷺ په دې سلسله کې چې څه بيان کړيدي دهغو سرچينه وحي الهي کيداى شي اوددې ردکول ګوياوحي خداوندي ردکول دي اوظاهره ده چې داکارديوکافراومنافق کيداى شي ديومسلمان نه، خصوصا کله چې دلته داحقيقت په نظر کې وساتل شي چې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق واقعه دهغه دور ده کوم چې مورخين قبل از تاريخ کې شميري اوکله چې هغه وخت کې څوک انسان موجودنه و، نودهغه دور دتاريخ او واقعاتوتفصيلات به چاليکل ؟اوالله تعالى چاچې دحضرت ادم عليه السلام تخليق وکړ داپوره

واقعه دهغه په وړاندې وه او ددې دضروري تفصيلاتو نه الله تعالى حضور ﷺ خبر کړ او حضور ﷺ په دې تفصيلاتو باندې امت خبر کړ. ددې باوجود چې دحضور ﷺ داصحيح ارشادات ردکول او دفلاسفه وو دافواهاتو تقليد کول ايا ديو صاحب دايمان شان کيداى شي؟

څلورم دحضور ﷺ دافرمايل چې: دحضرت ادم عليه السلام تخليق داسې وشو.. دا يو خبر دى او خبر به ياخو دواقعې مطابق وي. يابه دواقعې خلاف وي. کوم خبر چې دواقعې مطابق وي ورته رښتونس خبر ويل کيږي او خبر ورکونکي رښتونى ګڼل کيږي او کوم خبر چې دواقعې خلاف وي هغه ته ددروغو خبر وايي او خبر ورکونکى دروغژن ګڼل کيږي اوس دا صاحب چې کوم څه وايي چې: حضور ﷺ چې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره کې کوم خبر ورکړى دى هغه دواقعې خلاف دى. اهل عقل دې غور وکړي چې ددې مطلب څه کيداى شي؟ ايا دا دحضور ﷺ صريح تکذيب نه دى؟ او ايا داخبره عقلاً ممکن ده چې يو کس دحضور ﷺ ورکړل شوى خبر غلط ګڼي او هغه باندې ايمان هم لري؟ هيڅ کله نه! **ضدان لا يجتمعان!** (دا دواړه ديو بل ضددي. چې کله هم جمع کيداى نه شي)

پنځم: ددې صاحب داوس چې: دحضرت ادم عليه السلام دتخليق واقعه ددنيا له امورو نه ده. ځکه دحضور ﷺ ارشادات دالتفات وړنه دي. دده ددليل صغرى او کبرى دواړه غلط دي. ځکه چې خبره دحضرت ادم عليه السلام دتخليق په باره کې ده او هرکس ته پته ده چې تخليق دالله تعالى کار دى او خالقيت دهغه صفت دى اوس دې له دې صاحب نه پوښتنه وکړل شي چې دالله تعالى صفات او افعال بيانول. دحضور ﷺ منصب دى يا (نعوذبالله) دوارون دميدان کار دى؟ او دا چې په الهي صفاتو بيانولو کې دهمده دخبرې مطابق. دحضور ﷺ ارشادات عاليه لائق التفات نه دي. نو بيا به په کوم شى کې درسول الله صلى الله عليه وسلم خبره داعتماد وړ وي؟ **نعوذبالله من سوء الفهم وفتنة الصدر!**

دالله تعالى دصفاتو او افعالو هغه ميدان دى چېرته چې دعقل پښې شلې دي. داهغه فضاده چېرته چې دعقل او فکروزرې سوځي او انساني عقل دالهي حقائقو پوره ادراک کولو نه عاجزه دى. چېرته چې سيد الانبياء صلى الله عليه وسلم پورې په دې ويلو باندې مجبور دى

اللّهم لا أحصي ثناء عليک أنت کما أثنيت على نفسک.

ترجمه: يا الله! زه ستا دتعريف حق اداکولو نه قاصريم، ته بس هماغه شان يې څنګه چې تا خپله ثناء په خپله کړې ده

هلته دبل دعقل درسيدلو او دعجز او درماندګى څه پوښتنه کوې؟ همدا وجه ده چې کوم فلاسفه وو دانبياء کرامو عليهم السلام لمن پرېښې ده او يوازې دخپل نه رسيدونکي عقل په اسونو باندې سواره شوي. په دې ميدان کې تږپونه وهې هغوى ته دحيرت او

ګمراهي نه پرته نورهیڅ په لاس ورنغلل.دا دالله تعالی انعام دی چې ددې انبیاءکرام علیهم السلام په ذریعې سره یې دومره الهي حقایقوکې څه برخه بیان کړه دکومې چې انساني عقل تحمل کولای شو.څومره عجیبه خبره ده چې یودمسلماني دعویدارد انعام الهي شکراداکوي اودحضورﷺ ارشاداتوته د ناقابل التفات ګرځولوسره دفلاسفه وواومحلدانودلکې نیولوتلیقن کوي.

دگر مرکب عقل راپویه نیست	عنانش بگیرد تحیر که است
درین بحر جز مرد داعی نرفت	گم آن شد که دنبال راعی نرفت
کسانی که زین راه برگشته اند	برفتند و بسیار سرگشته اند
خلاف پیمبر کسی ره گزید	که هرگز به منزل نخواهد رسید
مپندار سعدی که راه صفا	توان رفت جز در پی مصطفی

شپږم: ددې صاحب داویل چې:حضورﷺ دحضرت ادم علیه السلام دتخلیق په باره کې څه واضح موقف نه دی اختیار کړی.خالص دروغ اوحضورﷺ باندې افتراء ده.ځکه چې په تیروکرښوکې تاسوولیدل چې حضورﷺ دپوره وضاحت او تشریح سره فرمایلي دي چې الله تعالی دټولې ځمکې نه خاوره راغونډه کړه، هغه یې په اوبو خشته کړه، بیایې ددې ختې نه دحضرت ادم علیه السلام شپیته لاسه اوږد قالب جوړکړ، بیایې په دغه قالب کې روح واچاو اوداسې نور.....

ددې ټولو وضاحتونو نه وروسته څوک داخبره کولی شي چې:په دې مسئله کې حضورﷺ څه واضحه موقف نه دی اختیار کړی؟ اوکه ددومره وضاحت اوتاکیدسره بیان شوې مسئلې په باره کې هم دا وویل شي چې:حضورﷺ په دې باندې څه واضح موقف نه دی اختیارکړی، نوتاسو ووایئ چې ددې نه زیات واضح موقف په کوموالفاظوسره بیانېدای شي؟

د "أنتم أعلم بأمردنیاکم" تشریح

ددې صاحب دحضورﷺ له ارشاد:"أنتم أعلم بأمردنیاکم"نه داکلیه راویستلې ده چې ددنیاپه هېڅ کارکې دحضورﷺ ارشادات دالتفات وړنه دي،په دې سلسله کې څوګزارشات وړاندې کول غواړم:

اول: دې صاحب ددې حدیث په کتواودې ته غلطه معنا ورکولونه مخکې که دقران کریم دکتلو زحمت کړی وای ،نوددې حدیث دغلطې معنا کولوجرات به یې نه و کړی.

په قران کريم کې د الله تعالى ارشاد دی:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا. (الاحزاب:۳۶)

ترجمه: او هيڅ ايمان دارسړي اوايمان داري ښځې ته ګنجائش نشته .کله چې الله تعالى اودهغه رسول حکم وکړي چې (بيا)دې(مومنانو)ته دې کارکې څه اختيارباقي پاتې شي اوکوم کس چې د الله تعالى اودهغه درسول ﷺ حکم ونه مني هغه په صريحه ګمراهي کې پريوت (ترجمه حضرت تهانوي)

دا ايت شريف ديوې دنياوي معاملې په باره کې نازل شو ،ددې واقعه په لنډ ډول داده چې حضور ﷺ دخپلې ترور دلور حضرت زينب بن حجش رضي الله عنها واده د حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه سره کول غوښتل، چونکه زيدغلام پاتې شوې واوديخواحضرت زينب بنت حجش دقريش داعلى ترين خانداند ستر ګوتور و ،له دې وجې نه دهغوی خاندان والاوو ته دخانداني وقارپه لحاظ سره دا رشته بې جوړې محسوسه شوه اوحضرت زينب اودهغې وروړحضرت عبد الله بن حجش ددې رشتې له منلو عذر وړاندې کړ، په دې باندې دا ايت نازل شو ،نودواړو دزړه له کومې ددې اطاعت وکړ.

دلته دوه خبرې خاص طورسره دغور وړ دي:

يوه دا چې ديوې انجلۍ رشته چرته وکړل شي اوچرته ونه کړل شي؟ديوخالص ذاتي اوشخصي قسم دنياوي معامله ده، خو ديوکس خالص ذاتي اوشخصي معامله کې دخل کولوسره چې حضور ﷺ يوځای کې رشته منظوره کړه ،نودقران کريم ددې قطعي حکم په روی سره دهغه خاندان ته په خپله ذاتي دنياوي معامله کې هم اختيارپاتې نه شو ،بلکې دحضور ﷺ تجويزدزړه له اخلاصه منظورول دايمان شرط وګرځول شو.

دويمه دغورقابل خبره داده چې حضور ﷺ ددې رشتې چې کوم تجويزکړی و ،په هيڅ يوروايت کې نه دي راغلي، چې دا تجويزوحي الهي سره و ،خو قران کريم دحضور ﷺ دي ذاتي تجويزته ،دالله تعالى اودرسول ﷺ فيصله ګرځولوسره ټولو خلک په دې باندې خبر کړل چې څه دنياوي معامله کې دحضور ﷺ ذاتي تجويزهم د الله تعالى فيصله ده، چې دهغې نه انحراف دهيڅ يومسلمان له پاره روانه دی.

قران کريم خودحضور ﷺ ذاتي رايه هم دالله تالى حتمي فيصله ګرځوي، خودې بدمذاقي داډاډ ورکړ چې ويونکي داوايي چې دحضور ﷺ فيصله په دنياوي کارکې معتبره نه ده.

بيا قران کريم امت ته تلقين کوي:

وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا. (الحشر:۷)

ترجمه: رسول الله (ﷺ) چې تاسو ته څه درکړي هغه واخلئ! او له څه نه موچې منع کړي له هغه منع شئ.

خونن ویل کیږي چې د حضرت ادم علیه السلام د تخلیق په باره کې چې حضور ﷺ تاسو ته څه خبر درکړی هغه مه قبلوئ. بلکې د ډارون په نظریه کې انسان د بیزو اولاد وګرځوئ! (انالله وانا الیه راجعون)

دویم: حضور ﷺ د انساني ژوندبې شمیره اړخونه او د انسانیت درهنمایي اودنیاوي امورو په زرګونو ګرانې خبرې حل کړي دي. کومې چې دامت عالمان د حضور ﷺ په معجزاتوکې شمیري.

قاضی عیاض رحمه الله لیکي: **ومن معجزاته الباهرة ماجمعه الله له من المعارف والعلوم وخصه به من الإ طلاع على جميع مصالح الدنيا والدين... الخ.**

ترجمه: او د حضور ﷺ له روښانه معجزو نه یوه هغه علوم او معارف دي چې الله تعالى د هغه له پاره راجمع کړلاو هغه یې (د انساني ضرورت) د ټولو دنیاوي مصالحو اطلاع سره مخصوص کړ.

حضور ﷺ د انسانی ژوند په ټولو شعبوکې چې کوم ټولییز تعلیمات فرمایلي دي بې شکه دې ته معجزات نبوت او تعلیم الهی ویل کیدای شي، دمثال په طورباندې د طب اومعالجې باب واخلئ. ظاهره ده چې علاج معالجه یوخالص بدني، جسماني اودنیاوي شی دی. خو حضور ﷺ داسې اصول اوکلیات اوفروع وجزئیات بیانکړي دي چې عقل حیران دی. د حافظ شیرازي رحمه الله د قول مطابق:

نګارمن که به مکتب نرفت وخط ننوشت بغمزه مسئله اموز صد مدرس شد

د علم خاوندانو د طب نبوي ﷺ په نامه لوی لوی کتابونه لیکل دي او حافظ ابن قیم رحمه الله په زادالمعاد کې د دې ډیره ذخیره راجمع کړې ده، دلته بې واره مې زړه د دې واقعې ذکرکول غواړي چې په صحیح بخاري، صحیح مسلم، ترمذي او حدیثو په ډیرکتابونوکې مروي ده چې یوصاحب راغی اوعرض یې وکړچې زما رورته د اسهال (دستونو) تکلیف دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه له شهدورکړه! هغه شهدورکړل او وروسته بیاراغی اوعرض یې وکړچې: ماشهد ورکړل خودې سره دستونه نورهم زیات شول، ویې فرمایل: ده ته شهدورکړه! څلورځله هم دغه کیسه راپیښه شوه، دهغه په دستونوکې اضافه وشو. حضور ﷺ په څلورم ځل وفرمایل چې:

صدق الله وكذب بطن اخيك. (جامع الاصول ج:٧ ص:٥١٧)

ترجمه: د الله تعالى کلام رښتونی دی او ستاد وروړ خیټه دروغژنه ده.

هغه بیا شهد ورکړل .نو د هغه دستونه بند شول

حضور ﷺ د قران کریم د ایاتونو په رڼاکې د حضرت ادم علیه السلام د تخلیق کومه واقعه چې وفرمایله د هغې په مقابله کې د دې صاحب داویل چې د حضرت ادم علیه السلام تخلیق داسې نه دی شوی. په دې باره کې هم دا ویل کیدای شي چې

صدق الله ورسوله او کذب داروین والدکتور.

ترجمه: د الله تعالی او د هغه د رسول فرمان رښتوني دي او ډارون او ډاکټر دروغ وایي.

په یو طب او معالجه باندې څه منحصر دي، د ژوند د یو شعبې نوم خو واخلئ چې په کومه کې حضور ﷺ رهنمایي نه وي کړې او د حضور ﷺ له هدایاتونه محرومه پاتې شوي وي. تګ راتګ. ناسته پاسته. ویده کیدل. ښځې، بچو او خپل خپلوانو سره ملاقات، صلح او امن. جنګ وجګړه. نکاح طلاق. بیع وشراء. سیاست او ادب. الغرض دنیاوي امورو کې کوم یو داسې امر دی چې په هغو کې معلم انسانیت د هدایاتو او تعلیمات نقوش موجود نه وي. د صحیح مسلم او ابوداود. نسائي او ترمذي کې حدیث دی چې یهودو او مشرکانو په حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه باندې اعتراض وکړ:

قد علمکم نبیکم کل شيء حتی الخراءة؟ قال: اجل! (جامع الاصول ج:۷ ص:۱۳۳)

ترجمه: تاسو ته ستاسو نبي هر څه ښائي، تر دې پورې چې بول او براز (میتیازې) هم. ویې فرمایل: هو! (مونږ ته حضور ﷺ د بول براز دا اداب هم ښودلي دي)

د دې اعتراض نه د یهودانو مقصد، والله اعلم. یا خو په مسلمانانو باندې نکته چیني کول و. چې تاسو داسې کم عقل یئ چې تاسو ته متیازې کول هم نه درځي، تاسو د دې له پاره هم د نبي د تعلیم محتاج یئ؟ یا د دې لعین مقصد رسالت ماب ﷺ باندې اعتراض کول و. چې انبیاء کرام د اعلی علمونه ښودنې له پاره راځي، دا څه نبي دی چې خلکو ته د متیازو د طریقو تعلیم ورکوي.

حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه د هغوی د دې بیهوده اعتراض نه مرعوب نه شو. بلکې دایې وفرمایل چې: هو! مونږ ته زمونږ نبي د بول وبراز طریقه هم ښودلې ده او هغه په دې باره کې د فلاني فلاني اداب تعلیم ورکړی دی... که د دې مقصد په مسلمانانو باندې اعتراض کول و. نو د دې ځواب به داوي چې د الله تعالی شکر دی چې مونږ خود حضور ﷺ نه بیت الخلاء ته د تلو طریقه زده کړې ده. تاسو خپل فکر کوئ، چې تاسو د ځناور په شان د اطبعي ضرورت پوره کوئ. خو د انسانانو له طریقې تر اوسه پورې محروم یئ او که د دې مقصد په حضور ﷺ باندې نکته چیني کول و. نو د ځواب حاصل به داوي چې زمونږ د نبي ﷺ کمال دادی چې د دې طبعي انساني ضرورتونو نو داسې تعلیم ورکوي چې د انسان د اطبعي حاجات هم د تقرب الی الله ذریعه جوړشي او دا شیان هم د عبادت په ډله کې شمارشي، بې شکه د حضور ﷺ د د تعلیماتو

خيال ساتلو سره استنجاخانې ته تلل په عبادت كې راځي.لكه چې زموږ شيخ المشائخ شاه عبدالغني مجددي دهلوي مهاجرمدني قدس سره حاشيه ابن ماجه كې ليكي:

"قال علماءنا أن إتيان السنة ولو كان أمرا يسيرا كإدخال الرجل الأيسر فى الخلا ابتداء أولى من البدعة الحسنة وان كان امرا فخيما كبناء المدارس". (حاشيه ابن ماجه:ص:۳)

ترجمه: زموږ عالمان فرمايي چې:دسنت پوره كول اګرچې معمولي خبره وي مثلاً بيت الخلا ته دتلوپه وخت كې چپه پښه مخكې كيښودل ،دبدعت حسنه نه بهتردي.اګرچې هغه عظيم الشان كاروي.لكه مدرسې جوړول.

خلاصه داده چې دانساني ژوندهيڅ يوه شعبه اوهيڅ داسې اړخ نشته چې په هغه كې حضور ﷺ دامت رهنمايې نه وي كړي.ځكه حضور ﷺ فرمايي:

إنما أنا لكم بمنزلة الوالد أعلمكم. (ابوداود:ص:۳)

ترجمه: زه تاسو له پاره دپلارپشان يم، تاسوته تعليم دركوم.

له دې وجې نه ددې صاحب داويل چې:اموردنيادحضور ﷺ دكار ميدان نه و،ځكه په امور دنياكې دحضو ﷺ قول-نعوذبالله- دالتفات وړنه دی قطعاً غلط اوغلط دی.

دريم: داصاحب دحضور ﷺ دارشاد:"أنتم أعلم بأمردنياكم"په مدعا پوه شوی نه دی.ځكه يې داوويل.چې په دنياوي معاملاتوكې دحضور ﷺ ارشادلائق التفات نه دی.نبه پود شئ چې په دې واقعه كې حضور ﷺ څه فرمايلي و هغه دمشورې په طور و.شيخ المشائخ شاه عبدالغني محدث دهلوي رحمه الله حاشيه ابن ماجه كې په دې سلسله كې روايات راجمع كولونه وروسته ليكي:

"فعلم أن هذا الأمرمنه صلى الله عليه وسلم كان بطريق الإجتهاد والمشورة فما كان واجب الاتباع. (حاشيه ابن ماجه:۱۷۸)

ترجمه: معلومه شوه چې په دې واقعه كې چې حضور ﷺ څه وفرمايل هغه :اجتهاد مشورې په طور و.ځكه واجب الاتباع نه و.

دمشورې اوحكم ترمينځه فرق دحضرت بريره رضي الله عنها دقيصې نه واضح دی.حضرت عائشې رضي الله عنها حضرت بريره رضي الله عنها ازاده كړله،داواده شوې وه.دازادي نه وروسته هغې دخپل خاوند مغيث رضي الله عنه دقبلولو نه انكار وكړ،حضور ﷺ ورته شفارس وكړچې:بريرې ته مغيث قبول كړه:هغې ورته عرض وكړ يارسول الله ﷺ!داحكم دی كه مشوره؟ويې فرمايل حكم نه

دی مشوره ده.عرض یې وکړکه مشوره وي نوزه دانه قبلوم.[1]

ددې واقعې نه معلومه شوه چې دحضورﷺ حکم اګر که په دنیاوي امورو کې وي واجب التعمیل دی،خو که دمشورې په طورځه ارشاداوفرمایي نوددې معامله دویمه ده.

دایت نه غلط استدلال

دې کس ایت شریف:"والله أنبتکم من الأرض نباتا"سره دډارون په نظریه ارتقا باندې استدلال کې داوویل چې:حضرت ادم علیه السلام هم دجماداتو ،نباتاتو اوحیوانات دمرحلونو نه تیریدونه وروسته ، انسان ادم، جوړشوی و،سراسرمهمل اولایعني دی ځکه چې:

اولاً:داکس په خپله منې چې حضورﷺ دحضرت ادم علیه السلام دجسماني تخلیق یوکیفیت بیان کړی دی،چې ددې صاحب ذکر شوې نظرې سره متضاددی اوس داصاحب به په دووخبروکې یوه خبره منې.یاخوداچې په خپله صاحب قرانﷺ_نعوذبالله_دقران دایت په مفهوم باندې پوه نه شو،ځکه که په حضورﷺ باندې دایت هغه مفهوم منکشف شوی وی کوم چې دې صاحب ته القاشوی دی ،نوحضورﷺ به دحضرت ادم علیه السلام دتخلیق جسماني په باره کې داسې متضاد اومختلف کیفیت نه و بیان کړی اویا داصاحب به داتسلیموي چې په خپل ذهن کې جوړې شوې کومې معناوې قران کریم ته وراغوندې هغه سراسر لغو او لایعني دیااوالله تعالی اودهغه رسولﷺ ددې نه بری دي.

ممکنه ده چې داکس هم دغلام احمدقادیانی په شان عقیده لرې چې هغه دقران حقائق اومعارف دحضورﷺ نه زیات بیانولی شي.لکه چې مرزاغلام احمدقادني لیکي داخیال چې ګویاځه چې حضورﷺ دقران کریم په باره کې بیان کړي دي دهغه نه زیات بل څوک نه شي کولی، بدیهي البطلان دي.(کرامات الصادقین ص:۱۹ مندرجه روحانی خزائن ج:۷ ص:۶۱)

غرض داچې دیوایت نه داسې نظریه استنباط کول چې دحضورﷺ دتصریحاتونه خلاف وي له دې سره په دووخبروکې یوه خبره لازمیږي، چې یاخوله دې سره_ نعوذبالله_

---

[1] عن عائشة رضى الله عنها ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لها فى بريرة خذيها فاعتقيها وكان زوجها عبداً فخيرها رسول الله صلى الله عليه وسلم فاختارت نفسها ولو كان حراً لم يخيرها متفق عليه وعن ابن عباس رضى الله عنه قال: كان زوج بريرة عبداً اسود يقال له مغيث كانى انظر اليه يطوف خلفها فى سكك المدينة يبكى ودموعه تسيل على لحيته فقال النبى صلى الله عليه وسلم للعباس: يا عباس! الا تعجب من حب مغيث بريرة، ومن بغض بريرة مغيثاً. فقال النبى صلى الله عليه وسلم لو راجعتيه فقالت يا رسول الله ! تامرنى! قال انما اشفع! قالت لا حاجة لى فيه رواه البخارى مشكوة كتاب النكاح باب الفصل الاول ص:۲۷۶_

دحضور ﷺ تجهیل لازمیږی چې حضور ﷺ ددې ایت په مطلب باندې پوه نه شو.یاخپل خام خیالات په قران کریم کې ننوستل لازمیږي چې دکوموپه باره کې دحضور ﷺ ارشاددی:

من قال فی القران برأیه فلیتبوأ معقده من النار.(مشکوة ص:٣٥)

ترجمه:کوم کس چې دخپلې رايې نه څه مفهوم په قران کې دننه کړهغه دې خپل داوسېدو ځای په دوزخ کې جوړ کړي.

ثانیاً: دا ایت شریف.کړ. ـ چې دې صاحب نظریه ارتقا ته دحضرت دادم علیه السلام دجسماني تخلیق باندې دلګولوکوشش کړی دی،دسورت نوح ایت دی،په کوم کې چې الله تعالی دحضرت نوح علیه السلام هغه خطاب نقل کړی دی چې هغه دخپل قوم کافرانوته کړی و.کوم کس چې دمعمولي غوراوفکرنه هم کارواخلي ،نودهغه نه به داخبره پته پاتې نه شي چې حضرت نوح علیه السلام دخپل قوم کسانوته د ډارون دارتقايي نظريې تعليم اوتلقين نه دی کړی ،بلکې دغو خلکوته ديوفردپه تخليق دالله تعالی دقدرت دکوموعجائباتواظهارکړی دی هغه ذکر کول فرمايي چې الله تعالی دځمکې دخاورې نه غذاګانې پيداکړي دي،ددې غذاګانونه يې داوبودڅاڅکيو تخليق وکړدکوم نه چې تاسوپيداشوي يئ.بيايې د اوبو دې قطرو ته د مورپه خېټه کې مختلف شکلونه ورکړل اوپه دې کې يې روح واچاواوتاسوژوندی انسانان جوړ شوئ. بيانفخ روح نه وروسته هم د مورپه خېټه کې دځمکې نه پيدا شويو غذاګانوپه ذريعه ستاسودنشونماعمل جاري وساته.تردې پورې چې دمور د خېټې نه ستاسو ـ نش وشو اوبيادپيدائش نه وروسته هم ستاسودنشونماسلسله جاري وه اودا هرڅه نه تعالی دځمکې دخاورې اوددې نه پيداشويو عذاګانوپه ذريعه وکړل، الغرض،، والله انبتکم من الارض نباتا،،کې دانساني افرادو ددې اوږدې سلسلې نشونماطرف ته اشاره کړې ده،چې دکومې نه تيريدوسره هرانسان دنشونمامرحلې تيروي،په دې سلسله کې ابتداء له خاورې نه کيږي اوددې انتهادنشونماپه تکميل باندې کيږي.لکه چې حضرت مفتي محمدشفيع رحمه الله په خپل تفسير،،معارف القران،،کې دخلاصه تفسيرپه عنوان سره ددې ايت شريفه لاندې دحضرت حکيم الامت تهانوی رحمه الله دبيان القران په حواله ليکي:

اوالله تعالی دځمکې نه تاسوپه خاص طور پيداکړلئ.(ياخوداسې چې حضرت ادم علیه السلام د خاورې نه جوړ شوی و ،يااسې چې انسان دنطفې نه جوړشواونطفه دغذانه او عذا د عناصرونه جوړه شوه اوعناصروکې غالب اجزا دخاورې دي..(معارف القران ج:٨ص:٥٦٢)

لهذادې ايت شريف نه(يادويم ايت کريم)دډارون نظريه ارتقا اخستل دخپل عقل او فهم سره هم زياتی کول دي اودقران کريم سره هم بې انصافي ده.

ددې صاحب کوم دلائل چې تاسو ذکرکړي دي ددې علمي حيثيت واضح کولو نه وروسته اوس زه ستاسو د سوالونو ځوابونه درکوم. چونکه خبره اوږده شوه له دې وجې نمبرپه نمبرستاسو سوالونه نقلوم او دهغو مختصرځواب ليکم:

سوال: ١...ايادپورته ذکر شوي کس عقائدو ته داهل سنت والجماعت عقائدويل کېداى شي؟

جواب: ددې کس داعقائدداهل سنت والجماعت عقائدنه دي،ائمه اهل سنت په اجماع سره ددې خبرې قايل دي کوم چې دحضرت ادم عليه السلام دتخليق جسماني په باره کې په احاديث نبويه کې بيان شوي دي،ځکه ددې کس دانظريه بدترين بدعت دى.

سوال: ٢...دحضرت ادم عليه السلام دجسماني تخليق متعلق حديثونو په باره کې ددې کس رويه د ګستاخي او ګمراهي ده؟

جواب: دحضرت ادم عليه السلام دجسماني تخليق په باره کې بيان شويو حديثونو په باره کې ددې کس رويه پرته دځه شک نه ګستاخانه ده،دکومو تفصيل چې مې پورته ذکرکړى دى اودارويه بې شکه ګمراهي اوکج روي ده.

سوال: ٣ حضرت ادم عليه السلام ته (حيوان ادم)ويل ګستاخي نه ده؟

جواب: حضرت ادم عليه السلام ته په قطعي نصوصو سره اواجماع سلف سره(حيوان ادم) ويل اودهغه سلسله نسب دبيزو ګانونه اخستل ،،داشرف المخلوقات حضرت انسان توهين دى اودانهيواځې دحضرت ادم عليه السلام په شان کې ګستاخي ده بلکې دهغه په نسل کې پيداشو يو ټولو انبياء کرامو عليهم السلام هم توهين اوتنقيص دى،ظاهره ده چې حضرت ادم عليه السلام دټولوو انسانانو پلاردى، اوس که ستاسو پلارته څوک،،ځناور،يابيزو،،وواېي، نوسوچ کول پکاردي چې داکنځل دي او که نه؟ همدارنګه (مثلاً: که هم دې صاحب ته)دځناوراولاد يا،دبيزاولاد،، وويل شي ،نوداصاحب به داکنځل ګڼي اوکه نه؟اودابه خپل توهين اوتنقيص ګڼي او که نه؟

سوال: ۴ ايادا کس دتفسيربالرايې مرتکب نه دى؟

جواب: پورته مې ذکرکړي دي چې خپله مزعومه نظريه باندې دقران پاک ايت جوړول تفسيربالرايه ه اوداکس ،دحضور صلى الله عليه وسلم دارشادمبارک :**فليتبوا مقعده من النار**،، مستحق دى،يعنې ده ته پکاردي چې خپل استوګنځاى په دوزخ کې جوړ کړي.

سوال: ۵:دحضور صلى الله عليه وسلم اودامت داسلافو عقيده داده چې دحضرت ادم عليه السلام قالب له خاورې نه جوړشوى دى او که نه؟

جواب: پورته مې ذکر کړي دي چې دحضور ﷺ، دصحابه کرامو او سلف صالحینو هم دغه عقیده ده چې دحضرت ادم علیه السلام قالب له خاورې نه جوړ شوی و. بیا په دې قالب کې ساه واچول شوه، نوژوندی انسان جوړ شو. فلاسفه وو چې په دې سلسله کې څه ویلي دي هغه یواځې یوه مفروضه ده. چې دهغو حیثیت دوهم او ظن نه پرته نور هیڅ نه دي او دظن او تخمین او تحقیق په بازار کې یې هیڅ قیمت نشته. دالله تعالی ارشاد دی:

وَمَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا. (النجم:۲۸)

ترجمه: او هغوی سره په دې باندې هیڅ دلیل نشته، یواځې په بې اصله خیالاتو باندې روان دي او یقیناً بې اصله خیالات دحق په مقابله کې هیڅ هم نه دي.

کوم قومونه چې دنبوت له نور نه محروم دي، اګرکه هغوی له تاریخ وړاندې په میدانونو کې ورک شوي ګرځي، نو ګرځي دې او دظن او تخمین اسونه که زغلوي نو زغلوي دې، اهل ایمان ته دهغوی دپاتې شویو خوړو هیڅ ضرورت نشته، ددوی په وړاندې دنبوت لمر راختلی دی، دوی چې هرڅه وایي نو دورځې په رڼاکې وايي او دوی دقران او سنت رڼا له ظن او تخمین نه بې نیازه کړي دي.

سوال: ۲: ددې کس بیعت یا دده سره تعلق ستاسو په نزد څنګه دی؟

جواب: دپورته تفصیل سره مې واضحه کړې ده چې څه حضور ﷺ فرمایلي دي، هماغه حق دي او ددې کس دفلاسفه وو په تقلید کېله نبوي وینا وو نه انحراف، دده دکج روي او ګمراهي دلیل دی. له دې وجې نه دې کس له پاره لازم دي چې دخپلو عقائدو او نظریاتو نه توبه وکړي او رجوع الی الحق وکړي او ندامت سره دایمان تجدید وکړي او هر یو کس له پاره چې په الله تعالی او دهغه په رسول ﷺ باندې یې ایمان راوړي، ددې کس ملګرتیا جائزنه ده، که یو مسلمان دده په بیعت کې داخل وي، نو دده نظریات او خیالات معلومیدو نه وروسته دده نه بیعت فسخ کول لازم دي.

دډارون نظریه دالله تعالی نفې کول دي

سوال: څناور، مرغۍ او په زرګونو مخلوقات الله تعالی پیدا کړي دي، تاسو په خواب کې فرمایلي وچې: دې باره کې مې څه وضاحت دنظرنه نه دی تیرشوی، نودې باره کې څه عقیده ساتل پکاردي؟ که مذهب دې باره کې څه رهنمایي نه کوي، نو دمخلوق باره کې دډارون نظریه صحیح ثابتیږي.

جواب: دډارون نظریه خودالله تعالی نفې کول دي، دومره عقیده ساتل خو لازم دي چې ټولومخلوقات ته وجودالله تعالی ورکړی دی، خوځنګه يې ورکړی دی، دې باره کې څه تفصیل معلوم نه دی.[1]

انسان څنګه پیداشو

سوال: مولاناصاحب دقران اوحدیث نه ثابت ده چې الله تعالی په انسانانو کې حضرت ادام عليه السلام جوړکړ اوموږټول دهغه اولادیو. خوپه ۱۵.۴.۱۹۸۹ باندې دجمعې په ورځ موږ په ټي وي دورځې لس بجې یوفلم کتلی و. هغه کې ښودل شوي وچې انسان د مختلفومرحلونه وروسته دې شکل ته رارسیدلی دی. یعنې لومړی جراثیم، بیاکب، بیزو وغیره اواخري شکل یې دنن انسان شو.

اوس تاسووضاحت سره ووايئ چې دشریعت دې باره کې څه فیصله ده. اودیومسلمان دې باره کې څه ایمان پکاردی؟ که چیرې دټي وي والادافلم غلط وي. نوددې ذمه دارڅوک دي؟

جواب: داد ډارون دارتقاء نظریه ده، چې دټولونه لومړي انسان (حضرت ادم عليه السلام) سمدستي په وجودکې نه وراغلی، بلکې د یرو ارتقايي منزلونونه وروسته دبیزو شکل وجودکې راغی اوبیا بیز کې نورې تبدیلیانې هم راغلې اودانسان شکل یې اختیارکړ.دانظریه اوس د سائنس په نظرکې کمزورې شوې ده، ځکه چې دې دومره ډیروخت کې انسان کې څه تبدیلي رانغله، بلکې دترقي په وجه باندې ورو ورو دانسان په شان څناورجوړیږي.

ترکومه حده پورې چې دمسلمانانوتعلق دی،هغوی ته دډارون د ارتقاء په نظریه باندې دایمان راوړلوضرورت نشته، دهغوی مخکې دقران کریم ښکاره اعلان موجود دی، چې الله تعالی د خاورې نه دادم علیه السلام قالب جوړکړ. هغه کې يې روح واچاو اودهغه نه ژوندی انسان جوړشو.[2]

دکوم فلم چې تاسوذکرکړی دی، کیدای شي چې دهغوی په قران اوحدیث باندې ایمان نه وي اوکوموخلکوچې په ټي وي باندې فلم ښودلی وي، هغوی هم دقران اوحدیث په ځای باندې په ډارون باندې ایمان لري، خوپه کوم شي اندې چې زه حیران یم هغه دادی چې پاکستان کې دې فلم ښودلوباندې څ‌ااحتجاج ونه کړوداسې ښکاري چې دپاکستان غیرشعوري طورباندې بې دینه کولوکوشش کیږي.

---

[1] تفصیل له پارهه اوګوری خطبات بهاول پور کا علمی جائزه مطبوعة مکتبه لدهیانوی کراچی
[2] اِنَّ مَثَلَ عِيسٰي عِنْدَ اللهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ خَلَقَه مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَه كُنْ فَيَكُوْنُ (آل عمران : ٥٩)

په مذهب اوسائنس کې فرق

سوال: مولاناصاحب!گزارش دادی چې کوم طالب علمان سائنس لولي دهغوی په نظرکې دمذهب په باره کې عجیبه کش مکش پیداشي اوکه هغوی سائنس مني، نومذهب ته هم دروغ نه نه شي ویلي.خو په سائنس کې ځینې مظاهر داسې دي چې دیوشش وپنج په کیفیت کې مومبتلاکوي اوس موږ په سائنس کې دټولونه مخکې نظریه ارتقاء اخلو.چې انسان دبیزوګانو بن مانسونه ترقي کړې ده.خو په قران کریم کې ارشاددی چې اول الله تعالیٰ انسان له خاورې نه بت جوړکړ،بیایې پکې ساه واچوله،بیایې حوا د آدم علیه السلام د پښتۍ نه پیداکړه،هرکله چې سائنس وایي چې دکله نه ادم جوړشوی دی. نوحوادده سره ده،بلکې هغمې زیږولی دی اوادم یې دجنت نه ځمکې ته راکوزکړی نه دی،بلکې دی یې په ځمکه باندې پیداکړی دی،ددې سوال نه ظاهریږي چې نعوذبالله بزوګانواوبن مانس یانورځناوربه هم جنت یادوزخ ته ځي؟ځکه چې دسائنس مطابق دوی هم زموږ په شان دي.

په یوحدیث مبارک کې دي چې دشپې لمردالله تعالی په وړاندې په سجده کې پریوځي اوسهارردده ته دلمرخاته نه دراختوحکم کیږي،خو موږ ته ښه پته ده چې دشپې لمرپه امریکه کې وي،یعنې دځمکې دویم طرف ته.

په یوحدیث مبارک کې راغلي دي چې ستوري داسمان دچت سره په رسیو (پړیو) باندې تړل شوي دي .مشره!که خلا ته ورتلوسره وکتل شي ،نوځمکه هم دسپوږمۍ په شان په اسمان کې په نظرراځي.یعنې هرطرف ته اسمان په نظرراځي اوسائنس دانان وایي چې هیڅ چت نشته،داټولې خبرې موپه شک کې اخته کوي.

اودجن،په باره کې داعرض دی چې ایا،،پیریان یواځې په پیریان منونکوباندې ولې کېنې؟په انګریزانواوروسانواو داسې نورو... باندې چې شراب اونورشیان کوم چې دانسان له پاره ناپاک ګڼل کیږي استعمالوي،خو په هغوی باندې پیریان نه کیني،ایاداټول خیالات دیوانسان دماغ نه منجمدکوي. اوپرته دڅه وجې نه په دخوف او وېرې په کیفیت کې وي؟ ایا مذهب اوسائنس یوځای چلیدای شي؟که تاسوځواب رانکړ،نوزه به اوګڼم چې تاسوهم په شک کې پریوتي یئ؟

جواب: ستاسوخط دتفصیلي ځواب غوښتنه کوي هرکله چې ماسره وزګار وخت نشته.داهم داشاراتوپه ژبه درته مختصراً عرض کوم اول څه اوصول په ذهن کې کښېنوه:

١ ::دسائنس بنیادپه مشاهده اوتجربه باندې دی اوکوم شی چې دتجربې اومشاهدې نه ماوراء وي هغه دسائنس دوس نه بهردي،ددې په باره کې دسائنس هیڅ یودعود دالتفات وړنه ده،هرکله چې وحې اونبوت هم هغه موضوع ده چې دانساني عقل اوتجربې اومشاهدې نه بالاترده.ظاهره ده چې په داسې معامله کې به دوحې اطلاع قابل اعتباروي.

۲: ډیرشیان زموږ مشاهدې سره تعلق لري، خودهغو پټو علتونو اواسبابو مشاهده موږ نه شوکولی. بلکې دهغو دعلم له پاره موږ دڅه صحیح ذریعه علم محتاج یو. داسې اموریواځې په دې وجې سره انکارکول یواځې بیوقوفي ده چې داشیان زموږ په نظرنه راځي.
۳: دوه شیان که خپل مینځ کې داسې ټکرشي چې د دواړو په یووخت کې تسلیمول ممکن نه وي، نودا نه شي ویل کېدای چې دواړه صحیح دي؟ددې فیصله کولوله پاره موږ ته داکتل وي چې دڅه ثبوت په یقیني اوقطعي ذریعې سره شوی دی؟اودڅه په ظن اوتخمین په ذریعې سره؟دڅه شي ثبوت چې په یقیني ذریعې سره وي هغه حق دی اودویم باطل یامؤول.
۴: کومه خبره چې دخپل ذات په اعتبارسره ممکن وي اویوربښتونی خبرورکونکی دهغې خبر ورکړی وي دهغې تسلیمول لازم دي اوهغې نه انکارکول محض ضداوتعصب ده، چې دیو عاقل شان نه دی.
۵: په انساني عقل باندې اکثره دوهم تسلط وي، ډیرشیان چې قطعي اوبې شکه دي خلک دوهم دغلبې په وجه هغه خلاف عقل تصورکول شروع کړي اوډیرشیان چې دعقل صحیح خلاف وي دوهم دغلبې په وجه خلک نه یواځې صحیح ګڼي. بلکې دهغو دعقل مطابق په نوروهم دمنلوکوشش کوي.
داپنځه اوصول بالکل فطري دي، په دې باندې بنه پوه شئ، که په څه نکته کې ستاسواختلاف وي ،نودهغه تشریح به وکړم اوس ددې اوصولوپه رڼاکې ستاسوپه سوالونوباندې غورکوم:

نظریه ارتقاء

دمسټر ډارون نظریه ارتقا خواوس په خپله په سائنسي دنیاکې هم په اخري سلګوده اوپه سائنس دانانوکې بدنامه شوې ده، خو تاسوهغه د قرني وحې په مقابله کې وړاندې کولوسره ددشک اظهارکوئ. داسوال چې دانسان دپیدیښت اغازڅنګه وشو؟ ظاهره ده چې دایوه تاریخي واقعه ده اودڅه اندازې اوتخمین په وجې سره ددې په باره کې دوټوک خبره کېدای نه شي.
دموجوده دور انسان نه خوپه خپله په ابتدایي وخت کې موجودو، چې دخپلوسترګولیدلی حال بې ویلی و. نه دا داسې شی دی، چې انساني تجربې ددې تصدیق کړی وای، که نه په زرګونوکلونوکې به دې یوبیزو په انسان جوړیدلوکې لیدلی وای؟یایوبیزو ته دانسان جوړولوتجربه به یې کړې وه. هرکله چې دانظریه دمشاهدې اوتجربې دواړو نه محرومه ده نوددې په بنیادباندې په ګډو وډ انداز او د وهم کرشمه سازو باندې به قائمه وي، ددې په مقابله په خپله دخالق مخلوق قطعي، غیر مبهم اوصفاارشادموجود دی، کوم چې تاپه سوال کې نقل کړي دي اوس په دې مسئله کې په خپله انصاف وکړه، کومه چې دانساني تجربې

اومشاهدې نه ماورا ده،دمستر ډارون اودهغه دملګرو له ځان وړاندې شوې تخمينه داعتبارلائق ده که دالله تعالی علام الغيوب ارشاد؟که وحې په دې معامله کې زموږ رهنمايي نه وای کړې ،نوبياهم دعقل غوښتنه داوه چې موږ دډارون دغير مشاهداتي اوغيرتجرباتي خبرې نه وی اخيستې،ځکه چې دعقل خاوندان،په عقل سره ناپ کول کوي،په غيرعقلي اوقياساتواوتخمينوباندې په پټوسترګوايمان نه راوړي. دنظريه ارتقاء په ملګرو کې دانسان نسل دبيزو نه اخستل هرکله چې دوحې الهي اومشاهدې اوتجربې تکذيب کوي نودانظريه داهل عقل په نزدځنګه دالتفات وړکيدای شي؟

حضرت ادم علیہ السلام او جنت

دنظريه ارتقاجوړونکودانساني نسل دنسب سلسله بيزوګانو پورې رسولوسره چې دانساني عقل کومه بيعزتي کړې ده له همدې نه پرې بنده پوهيدای شي،چې داول انسان په باره کې ددوی دنوروتخمينواوقياساتوکې به څومره رښتياوي،په خاص ډول دهغوی داوينا:چې انسان په اول کې دجنت نه راکوز شوی نه و ،بلکې په همدې ځمکه باندې دبيزو دجنس نه تبديل شوی و اوکه داچې حوادده ښځه نه بلکې موريې وه،چاته پته نشته چې جنت اودوزخ دعالم غيب هغه حقيقونه دي چې په دې عالم کې دانساني مشاهدې اوتجربې نه بالاتردي اودکومو په باره کې چې دصحيح معلوماتوبواځې يوه ذريعه ده اوهغه انبياء عليهم السلام باندې نازل شوې وحی ده. هغه غيبي حقائق چې دانساني مشاهدې اوتجربې دوس نه قطعي بهردي اودمشاهدې هيڅ يو خوردبين دهغو پورې رسيدوکې کاميابيدای نه شي په خپله سوچ وکړئ چې دهغو په باره کې په وحی الهی باندې اعتمادکول پکاردي که ددې خلکوپه وهم اوقياس باندې چې په اسونوباندې سواره په يوداسې ميدان کې ټوپونه وهي چې دهغوی دعقل اوادراک دحد نه بهرده؟ دسائنس دمشکل نه مشکل اسرارو او رموزو په باره کې ديوبې وقوف خبره چې څومره خندې دونکې ده له دې نه ډيرزيات ددې خلکواندازې اوتخميني مضحکه خيزدي،چې دوحې الهی دړڼانه پرته امورالهيه پورې دتلوکوششونه کوي،دې مسکينانوته پته نشته چې ددوی دحقيقاتو دائره دماديت پورې ده،نه چې دمابعدالطبيعات پورې،کوم شي چې ددوی دعقل او ادراک نه ماورا دی دهغو په باره کې چې دوی څه قياس هم کوي دهغه حيثيت دتيارې دکاڼي اوپه تياره کې دغشي چلولوپه شان به وي،قطعاً ممکن نه ده چې ددوی داغشي په صحيح نښه باندې ولګيږي اوهغوی په خپله هم له ډيرخت نه دوادی ضلالت لاره ورکه کړې مسافران به وياودهغوی مقلدين هم،مسلمانانوته په تياره کې د ډغرو وهلو ضرورت نشته اونه ورته ددې تيارو په وادويو کې دورکيدوضرورت شته. الحمدلله دهغوی سره د نبوت دلمر رڼاموجوده ده اوهغوی چې دامورالهيه په باره کې څه هم وايي بايددورځې په رڼاکې يې وايي.

د لمر سجده کول

دلمر د سجدې کولو کوم حدیث چې تانقل کړی دی هغه صحیح دی اوهغه دڅه ساټنسي تحقیقاتو او عامې انساني مشاهدې خلاف نه دی، انساني مشاهده داده چې لمر روان دی، خو ددې رفتار دده خپل ذاتي دی، که دچاقادرمطلق دحکم اومشیت تابع دی؟ داهغه سوال دی چې دهغه ځواب په دې حدیث کې ورکړل شوی دی. چې حاصل یې دادی چې دلمر دراختلو او پریوتلو نظام دخودکارمشین په شان نه دی، بلکې دحق تعالی دمشیت اوارادې لاندې دی اوهغه دخپلو راختلواوپریوتلوله پاره الله تعالی جل شانه نه اجازه اخلي، یووخت به راشي چې حسب معمول دراختلواجازه به وغواړي خواجازه به ورنه کړل شي، بلکې دسرچپه تلوحکم به ورته وشي، په دغه ورځ به لمردمشرق په ځای دمغرب نه راوخیژي اوتقریباً دڅاښت دوخت پورې داوچتیدونه وروسته به بیا مغرب طرف ته لاړشي اوددې نه وروسته دقیامت دقائمیدوپورې به حسب معمول طلوع اوغروب کیږي.

اوس دلته څوامورد توجه وړ دي:

اول: ددې نظام شمسي دحق تعالی جل وعلی دمشیت تابع کیدل دټولو دینونو اومذهبونو مسلمه عقیده ده اوکوم سائنس دانان چې دالله تعالی دوجوداقرارکوي ،هغوی هم ددې عقیدې نه انکار نه کوي، کوم خلک چې داکارخانه جهان خودکارمشین ګڼي اودادصانع حکیم تخلیق نه ګڼي. ددوی دانظریه دعقل اوحکمت په میزان کې هیڅ وزن هم نه لري. دصانع عالم په وجودباندې دلائلوداموقعه نه ده ځکه چې الحمدلله زمامخاطب مسلمان دی، ددې وجې نه دهغه په وړاندې دوجودباري تعالی باندې بحث کول نه یواځې غیرضروري بلکې بې موقعه هم دی، دلته یواځې په دې خبره باندې خبرداري مقصود ده چې هرکله دامنل شوی حقیقت دی چې نه یواځې نظام شمسی بلکې ټوله کارخانه عالم دالله تعالی دمشیت اوارادې تابع ده ،نوډ لمر دا راختل اوپریوتل هم باید ددې مشیت تابع کیدل وګڼل شي، دې نکتې ته حضور ﷺ دلمرد روزمره سجدې کولو او ائنده ورځې راختلوپه اجازه سره تعبیرکړی ده.

دویم: څنګه چې په سوال کې ذکرشوي دي اومشاهده هم ده چې هره لمحه اوهروخت د لمر دراختلواوپریوتلوعمل جاري دی، که په یو افق باندې پریوځي ،نوپه دویم افق باندې راخیژي. که په یوځای کې دسهار رڼابنکاره کیږي .نوپه بل ځای کې دشپې دتیارې خورېدو اغاز کیږي، ددې وجې نه په حدیث پاک کې دوه احتماله دي، یوداچې حضور ﷺ دیوخاص افق (مثلاً مدیني طیبې افق، یادعامې ابادۍ اُفق) ترې مراد واخیستل شي، په دې صورت کې به دحدیث مطلب داوي چې لمرکله په دغه خاص افق باندې پریوځي ،نوراتلونکې ورځ د راختلوله پاره اجازه غواړي اوپه اجازه باندې راخیږي، تاسوته معلومه ده چې دریاضي والا

دهفتې دورځو دتعین له پاره دلمر یو خاص افق مقررکړی دی.کوم ته چې (ډیټ لائن) وایي.
ددې خط فاصل نه دیخوا دجمعې ورځ وي اوبل طرفته دهفتې ورځ.که داصورت اختیار
شوی نه وی ، نودورځوتعین ممکن نه و.ځکه چې لمرخوپه دنیاباندې نه پریوځي .له دې
وجې نه د(ډیټ لائن)نه پرته دتاریخ اوورځې دتعین صورت نه و. هرکله چې اهل فن ته د
ورځو دتعین له پاره دیوخاص افق مقررولونه پرته هیڅ چاره نه وه .هم داسې دطلوع او
غروب له پاره به په علم الهي کې هم څه خاص نقطه متعینه وي.چې هغې پورې رسیدونه
وروسته به اینده ورځ دراختلوله پاره داجازې ایستل وي.نوپه دې کې هیڅ عقلي شک نشته
دویم احتمال دادی چې ددې لمردراختلوله پاره څه خاص افق مقرر نه شي .بلکې داوویل
شي چې دده طلوع په هریوافق باندې له اجازې نه وروسته وي.خو لمر طلوع هره لمحه په
څه نا څه افق باندې جاري وي.نو دحدیث پاک منشابه داوي چې دافتاب دحرکت یوه یوه
لمحه دالله تعالی داجازې اومشیت مرهون منت ده اودیوې لمحې له پاره هم دده حرکت (په
کوم باندې چې دطلوع اوغروب نظام قائم دی)له اجازې نه پرته جاري نه شي پاتې کیدای.

دریم: پاتې شوه دلمرسجده کول،نوکه داسې زموږ د امیانوله پاره څه نوې اوعجیبه
معلومیږي ، خو اهل عقل ته پته ده چې دمخلوق هرشی دالله تعالی په وړاندې سرپه سجده
دی اوهرشی دهغه دعظمت اوتقدس تسبیح وایي،خو دهرشی سجده کولاوتسبیح کول.
دهغه دحالت اوفطرت اوشان مطابق دبېل نوعیت سره ده.موږ خلک دهغه ،، بې وینا
زبان،، باندې نه پوهیږو.ځکه داخبره موږ ته عجیبه معلومیږي.دې طرف ته په قران کریم
کې داسې فرمان سره اشاره شوې ده:"**ولکن لا تفقهون تسبیحهم**"(خوتاسوددې شیانوپه
تسبیح باندې نه پوهیږئ)موږ خلک چې دعقل اوادراک اوشعوراوفهم یوه عامه درجه لرو
اوداسې ویلوسره خپل زړه پوهوو چې دمخلوق هرشی دالله تعالی په قبضه اوتصرف کې
مسخردی اومسخرکیدل دهغه سجده اوتسبیح دي.خو کوم حضرات چې په علم اوادراک
اوعقل وفهم کې دعاموانسانانونه لوړدي دهغوی وینا ده چې مخلوق یوا ځې په زبان حال سره
هم دالله تعالی تسبیح خوانې اودهغه په وړاندې سجده کولوفرائض نه پوره کوي .بلکې
هرشي ته الله تعالی دهغه دحال مطابق دشعوراوادراک نعمت هم ورکړی دی اوهریوـه یې
دهغه مناسب ګویا ژبه هم ورکړې ده.ددې وجې نه هرشی دخپل خپل شعوراوادراک مطابق
الله تعالی ته سجده کوي اوپه خپله ژبه کې دهغه تسبیح لولي:

خاک وباد واب واتش بنده اند   بامن وتو مرده باحق زنده اند

په هرحال دلمرالله تعالی ته سجده کول بلاشبه حق اوصحیح ده.په خپله په قران کې
ددې وضاحت موجود دی اوس دغه سجده زبان حال سره ده یازبان قال سره؟ ددې توجیه
هرکس دخپلې اندازې اوپیمانه عقل اوفکرمطابق کولی شي اوکه دچاعقل یې یوا ځې له دې

وجې نه نه مني چې داعجوبه (ناآشنا) ده نوهغه ته به داویل بې ځایه نه وي چې دنیاد قدرت دعجائبونوم دی.

دا د اور جوړه کړه چې ورته لمرویل کیږي ددې وجود په خپله دقدرت دعجایبویوه نمونه ده اوبیاددې راختل اوپریوتل یوه مستقل عجوبه ده.که خدای مکړه لمریوځل نیم راختلی وي. نودنیا به ددې اعجوبې دمشاهدې طاقت ونه لري. په کومه دنیاکې چې په زرګونواعجوبې زموږدسترګوپه وړاندې موجودې دي اوموږ پرته دڅه تذبذب اوشرمندګۍ نه په دې عجائبوباندې یقین لرو .نو محض ددې عجوبه کیدل زموږ دانکار دجواز وجه نه جوړیږي اوددې نه دانکارکولووالا په حق کې دپاګلتوب اولیونتوب فیصله کوو. نوهیڅ وجه نشته چې کوم شی زموږ دمشاهدې اوتجربې،زموږ دعلم اوادراک اوزموږدعقل اوشعورنه لوړوي اویوشناسایي راز اودانایې رموز موږ ته ددې خبرراکړي ،نوموږ یواځې دعجوبې په وجه ددې نه انکار وکړو. ایادموجوده دور سائنسي ایجادات دیوعام عقل اوفهم والا انسان له پاره کم عجوبه دي؟ایادیوکم عقل بنده له دې نه دانکارکول یواځې په دې بنیادباندې به جائزوي چې دهغه عقل دې شیانوباندې ګرفت کولونه قاصردي؟نه! بلکې کوم کس چې ددې جرات وکړي هغه کس به دانتهائي درجې بې وقوف وګرځول شي.سمه ده همدارنګه کوم کسان چې ددې عجائبات قدرت نه انکارکوي کوم چې یواځې دنبوت په علم اوادراک کې راتلای شي .داخلک دخپل عقل دورسته والي اظهارکوي.

څلورم: دلمردراختلواوپریوتلوله پاره اجازه غوښتلو سره دانه لازمیږي چې ددې په حرکت کې څه دریدل (سکون) راشي.بلکې دا دواړه شیانوپه یوځای جمع کیدای شي.خوزه ددې نکتې نوروضاحت اوتشریح ضروري نه ګڼم اواهل فهم له پاره یواځې اشاره هم کافي ده.

دیوحدیث حواله

تاسودیوحدیث حواله ورکړې ده چې ستورې داسمان دچت سره په رسیو(پړیو)باندې تړل شوي دي،ماته هیڅ داسې حدیث یادنه دی.چې دهغه داسې مضمون وي.که تاسوددې حواله ورکولی شئ ،نوددې دالفاظواومفهوم په باره کې څه عرض کیدای شي.په قران کریم کې دوه ځایه(الاعراف :٥٤،النحل:١٢)ستورو ته (مسخرات بامره)فرمایل شوي دي،یعنې ستورې حکم خداوندي سره مسخردي،ددوی په فضاکې معلق کیدل،هم ددې تسخیریومظهردی،هم دغه هغه رسئ دی چې دکوموسره دافضایي کرې تړل شوې دي اوکله چې ددې مخلوق دورانولو فیصله وکړل شي ،نوددوی دارسۍ به وسپړل شي اوستورې به خپل مینځ کې وجنګیږي اومات به شي اوددوی په خپل مینځ کې جنګیدل دتصادم قیامت وړاندې خیمه به وي، که په څه حدیث کې دستورو په رسیوسره دتړلو ذکرراغلې، نوددې نه مراد داراده الهي هغه داوسپنې زنځیرونه دي کوموچې په فضاکې دا محیرالعقول ستورې نیولې دي.

د مادي رسيو تکليف دې ولې وشي؟ که سائنسدانان د دې خلائي کُرې د استقرار او استحکام له پاره د کشش ثقل څه اصول وړاندې کوي ،نو موږ ته د دې د نه منلو ضرورت نشته. ظاهري سترګې تحرير د کاتب د لاس و د حرکت کرشمه ګڼي ،خو د لاس حرکت د د ماغو د ارتعاشي لهرونو تابع دی او دماغ د روح د حس او حرکت تابع دې او د روح ،روح اراده خداوندي ده، همدارنګه د دې خلايي سيارو له پاره په سائنسي دنياکې چې کوم اصول وړاندې کيږي، هغه د دوی د خپل عقل معيار پورې صحيح دي، اسلام د دې نفې نه کوي، بلکې په دې اصولو کې د اراده الهي د کارکردګي عقيده وړاندې کوي، که يو سائنسدان د اسبابو او علتونو د سلسلې د کړيو په مينځ کې ختمولو باندې اصرار کوي ،نو دا د هغه د بصيرت او مشاهدې قصور دی.

د پيريانو په باره کې

د پيريانو په باره کې دوه خبرې قابل ذکر دي:

يوه دا چې آيا د پيريانو وجود شته، يا نشته؟

دويم دا چې پيريان بنده ته تکليف رسولی شي که نه؟ چې په عام عرف کې ورته د پيريان کيناستل وايي.

ترڅو پورې چې د پيريانو د وجو تعلق دی په قران کريم کې د پيريانو ذکر (د جن يا جان په عنوان سره) ۲۹ ځايه راغلی دی او د ،،سوره الجن،، په نامه په قران پاک کې يو مستقل سورت دی، د سوره انعام ايت: ۱۲۸، کې يوازې د پيريانو او سورت انعام کې ايت: ۱۳۰ او سوره الرحمان ايت: ۳۳ کې،،يامعشرالجن والانس،، ويلو سره پيري او انسان ته خطاب شوی دی، د سورت الرحمان ايت ،،فبأی الاء ربکماتکذبن،، کې کوم چې ۳۱ واره ده دواړوته خطاب دی، سوره الجن ايت: ۱، سوره الاحقاف ايت: ۲۹ کې د پيريانو يوې ډلې د حضور ﷺ په خدمت کې راتلل او د ايمان راوړلو تذکره موجوده او داسې نور...

همدارنګه د حضور ﷺ په پاکو ويناوو کې ځای په ځای د پيريانو ذکر راغلی دی، چې تفصيل يې غيرضروري دی، د قران کريم او احاديث شريفه نه واضح کيږي چې:

۱: پيريان يو مستقل مخلوق دی.

۲: د دوی له اور نه پيدا شوي دي.

۳: د انسانانو په شان په دوی کې هم د تولد او تناسل سلسله جاري ده.

۴: د انسانانو په شان هغوی هم د احکامات الهيه وو مکلف دي.

۵: د انسانانو په شان په دوی کې هم ځينې مومنان دي او ځينې کافر.

۶: دوی د انساني نظر نه پټ دي.

۷: دوی کې چې کوم کافر او سرکشه وي هغوی ته (شيطان) يا (مردة الجن) ويل کيږي.

۸: د دوی نيکه ابليس دی.

په قران کريم اوحاديث نبويه ﷺ کې چې دپيريانو په باره کې څومره ذکرشوی دی که هغه مخې ته کيښودل شي ،نويومستقل کتاب پرې ليکل کيدای شي اوعلمايې امت په دې موضوع باندې کتابونه هم ليکلي دي،چې په هغو کې (اکام المرجان فی احکام الجان)په عربي کې يومشهورکتاب دې،کوم کسان چې په قران کريم اورسول الله ﷺباندې ايمان لري دهغوی خو دپيريانودوجود منلونه پرته بله لارنشته اوکوم خلک چې ددوی دوجودنفې کوي دهغوی سره ددې نه پرته بل دليل نشته چې مخلوق ددوی له سترگونه پټ دی،له دې وجې نه که دااصول صحيح وي چې کوم شی په نظرنه راځی، نودهغه نه دې انکاروکړل شي ،نويواځې دپيريانودوجودنه بلکې دبې شميره شيانو دوجود نه به انکارکول وي،کوم چې په سترگوپه نظر نه راځي،په دې کې په اول نمبر دانسان خپل روح دی،کوم چې هيڅاپه سترگونه دی ليدلی ،موجوده سائنس دداسې جراثيموانکشاف کړی دی چې که هغوی په لکونوچنده لوی هم شي ،خوبياهم دهغو په نظرراتلل مشکل دي، که دااصول صحيح وي نوخلکوته مشوره ورکول پکاردي چې دټولونظرنه راتلونکو شيانونه دې انکاروکړي،خو ماته پته ده چې داسې مشورې ته به تاسواحمقانه مشوره ووايئ، ځکه که داشيان عاموانسانانوته په نظرنه راځي، خو اثاراوقرائن ددې دوجودپته ورکوي،که داسائنسي دروبين ياخوردبين باندې نظرراتلونکی يوې وړوکې شان جرثومې باندې ايمان راوړل واجب دي اوددې نه منونکی احمق دی ،نودنبوت په دوربين اوخوردبين سره چې دکومو شيانو مشاهده کولوسره دهغو دوجودخبروروکړل شوی دی ،دهغو په وجودباندې ايمان راوړل ولې ضروري نه دي؟اوددې نه منل ولې حماقت نه دی؟ دنه منونکو په لاس کې له دې نه پرته بل هيڅ دليل نشته چې دهغوی کوتاه نظرددې شيانو دمشاهدې کولونه قاصردی.

زماستاسونه گيله ده چې دپيريانو د وجود بحث ته تاسودسائنسي پيداکړل شويو شکونو کې ولې ځای ورکړ؟ سائنس خو(دماديات ترحده پورې)دعلم اوتحقيق نوم دی،هرکله چې دپيريانو دوجود نه نفی په علم اوتحقيق باندې مبني نه ده،بلکې دناواقفې اوجهل په بنياد باندې ده، دپيريانووجوددځنې سائنسي اصول سره نه ټکرېږي اونه سائنسي اصول دپيريانو دجودنفې کوي، زمونږ ددې جديد دور يومصيبت دادی چې په دې کې د ،،جهل ،،نوم علم کيښودل شوی دی اوداخبره زماپه علم کې نه ده چې ددې دوجود نفې باندې ددليل په طورسره وړاندې کيږي، گويادافرض کړل شوې ده چې که مونږ ته پته نه وي، نوداگڼل پکاردي چې په واقعې کې هغه دخپل وجودنه هم محروم دي،دا ددې ددور جديد هغه منفرداصول دي چې ددې په ذريعه حقائق اوواقعات په ډيرجرات سره دروغ گرځول کيږي.

دويم بحث داچې اياپيريان په انسانانوباندې کيناستی شي؟ددې ځواب دادی چې عقلاً هيڅ شی ددې مانع نه دی،نن دمسمريزم اوعمل تنويم په ذريعه چې دنيا دکومو عجائباتو مشاهده کوي هغه دهيڅ يوصاحب عقل نه پټه نه ده،نو که يوکس په يوخاص

مشقي عمل سره خپل معمول مسخرکولی اودلږ ساعت له پاره بې عقل کولی شي اودهغه دروح سره خبرې کولی شي اودهغه نه چې غواړي خبرې ويستلی شي ،نوځه وجه ده چې ددې امکان نه دې انکاروکړل شي،دغه هرځه جنات هم کولی شي،هرکله چې دانسان اودپيري دقوت مقابله دميږي اوفيل مقابله ده، کوم تصرف چې کمزوری ميږی کولای شي ولې ترې انکاروکړل شي چې هم هغه تصرف فيل هم کولای شي؟

داخبرې خوپه امکان باندې وې،ترڅوپورې چې دواقعې تعلق دی په دې کې هيڅ شک نشته چې په دې باره کې زموږ ډيرخلک دتوهم پرستۍ ښکاردي اوپه معمولي طبي مرضونوباندې هم ،،دپيريانودناستې شک کوي،دځيني صحيح معالج طرف ته رجوع کولوپه ځای دغلط قسمه عاملانوپه چکرکې داسې بندشي چې ترمودو مودو پورې ددې جال نه يې خلاصيدل نه نصيب کيږي،خو دعوامودفضول توهم پرستۍ علاج دانه ده.چې د واقعاتونه دې هم انکار وکړل شي،واقعه داده چې په ځينو شاذ ونادر حالاتوکې د پيريانو اثرهم کيږي،په قران کريم کې دوه ځايه ددې ذکرراغلی دی،يوپه سورت بقره کې دسودخورو ذکرکولوکې يې فرمايلي دي:

الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ. (البقره:٢٧٥)

ترجمه:کوم کسان چې سودخوري هغوی به په قيامت کې نه پورته کيږي ،خودهغه چا په شان چې حواس يې ورک شوي وي، دپيريانودناستې له امله. (ترجمه شيخ الهند)

حضرت مفتي محمدشفيع صاحب رحمه الله ددې ايت په تفسير کې ليکلي دي:

ارشاد دی چې کوم کسان سودخوري،هغوی نه دريږي خوداسې دريږی، لکه هغه کس چې شيطان پيري خبط کړی وي،په حديث کې دي چې د دريدونه مراد محشرکې دقبر نه پورته کيدل دي،چې سودخورکله دقبرنه پورته کيږي ،نودهغه پاګل اوليوني په شان به وي چې شيطان ليونی کړی وي.

ددې جملې نه يوه خبره معلومه شوه چې دجناتو او شيطانانو داثرنه انسان بې هوشه ياليوني کيدای شي اوداهل تجربه متواتر مشاهدات په دې باندې ګواه دي اوحافظ ابن قيم جوزي رحمه الله ليکلي دي چې طبيبانواوفلاسفه ووهم دامنلې ده چې صرع،بيهوشي ياجنون دمختلفو اسبابوله وجې نه وي،په دې کې بعضې وختونوکې دپيريانواوشيطانانوداثرسبب هم وي، کوموخلکوچې ددې نه انکارکړی دی ،دهغوی سره دظاهري استعباد په ځای نورهيڅ دليل نشته.(معارف القران ج:١ ص:٦٤٧)

دويم ځای سورت انعام کې دهدايت پريښودلواوګمراهي اختيارو نکومثال ورکولوکې فرمايل شوي دي:

كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيَاطِينُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُ أَصْحَابٌ يَدْعُونَهُ إِلَى الْهُدَى ائْتِنَا. (الانعام:٧١)

ترجمه: دهغه چا په شان چې شيطان په ځنګل کې بې لارې کړې وي، اريان دريان ګرځي په داسې حال کې چې دهغه ملګري بلنه ورکوي ، چې راشه زموږ خواته!

دلومړي ايت نه معلومه شوه چې پيريان کيني، نودبنده نه مخبوط الحواس جوړوي اوپه دويم ايت کې هم ددې مخبوط الحواسي مثال ذکرشوی دی چې شيطان هغه دلارې نه بې لارې کړي، هغه حيران اوپريشان ګرځي اودهغه ملګری هغه ته اوازونه کوي چې موږ دلته يو موږ ته راشه، خوهغه دخپلې مخبوط الحواسی په وجه دهغوس اوازونو ته توجه نه ورکوي.

پاتې شو ستاداشک چې: پيريان يواځې په منونکوباندې ولې کيني؟ستاداشک هم په اصل کې دناواقفيت له وجې نه ده، تقريب فهم له پاره عرض کوم چې دمثال په طورديودور افتاده دښته کئې اوسېدونکي صحرايي تصوروکړه، هغه ته څه خطرناکه بيماری لګيږي، خوهغه مسکين دخپلې ناواقفي له وجې نه نه پوهيږي چې دهغه دمرض اسباب څه دي؟دهغه دعلاج صحيح تدبيرڅنګه کيدای شي؟ظاهره ده چې دهغه ددې جهل په وجه دمرض داسبابو اوعلتونو نه نفي کول به هيڅ طورسره صحيح نه وي، ددې مثال به وروسته دابيان کړم چې په امريکه اويورپ کې دنفيساتي مريضانوځومره بهتات دی، هغه الحمدلله زموږ طرفونوته نشته، په دې ملکونوکې دداسې مريضانوله پاره لويې لويې شفاخانې هم موجودې دي، دعلاج معالجې سهولتونه هم ښه ډيردي، داعلی درجې ماهرين اومتخصصين هم موجود دي، نفسياتي معالج ديوبل نه ښه موجود دی، خو ددې ټولوشيانوباوجودپه هغوی کې د نفسيايي مريضانوتعدادورځ په ورځ په زياتيدودی اودهغوی هيڅ دارو نه دواء کيږی او تا دابن قيم په ژبه دطبيبانواوفلاسفه وو فيصله اوريدلې ده چې ددې نفسياتي امراضوپه اسبابوکې اسيب اوداسيب اثرهم کيدای شي، هرکله چې جديدمغرب ددې سبب نه منکردی اوعرض مې درته کړی دی چې ددوی ددې انکاروجه دجهل نه پرته نورهيڅ نه ده، ماته ددې خبرې اجازه راکړئ چې دجديدمغرب مثال دهغه صحرايي په شان دی چې دمرض داصل سبب نه بې خبره اوجاهل دی، لطيفه داده چې کوم خلک ددې مرض داصل سبب نشاندهي کوي داجاهلان هغوی پورې ټوکې کوي، تاسووواييئ!چې په داسې صورت کې به دهغوی مريضان لاعلاجه نه وي نونوربه څه وي؟ داويل چې:انګريزان اوروسان دپيريانودوجودنه منکردي ددې وجې نه په هغوی باندې پيريان هم نه کيني، حقيقت ته ورته خبره نه ده، بلکې صحيح داده چې په مشرق کې پيريان په لکونوکروړونوکې په يوکس کيني، خو په مغرب په په زرګونوکسانوباندې ناست دي اوبې شميره کسان يې مخبوط الحواس اونفسياتي مريضان جوړکړي دي ،فرق که دی نوداچې مشرق، دپيريانودوجودقايل دياودنفسياتي مرضونوپه فهرست کې پيريان کيناستل هم شماري اوددې صحيح تشخيص په وجه باندې

هغوی په علاج کې هم کامیاب دي،الاماشاءالله،ددې برعکس مغرب دخپلې ناواقفي ،تعصباوجهل په وجه باندې دنفسیاتي مرضونوکي اهم سبب نه تشخیص کولی شي اونه ددې دعلاج قدرت لري،خو خومره ستم ظریفي ده چې تاسوقصوروار مشرق گڼئ اودمغرب جهل هنر تصورکوئ اوپه دې ښکاره خبره باندې سوچ نه کوي چې که په مغربیانوباندې پیریان نه کیني، نودمشرق په مقابله کې ددې لاعلاجه نفسیاتي مریضانودومره کڼې شمیرولې دی؟

دمذهب اوسائنس ټکر

پاتې شودا سوال چې:ایامذهب اوسائنس په یوځای تللی شي؟

ارمان چې فرصت وای، نوپه دې نکته به مې په تفصیل سره لیکل کړي و،خودلته یواځې ستاپه ځواب کې دومره عرض کوم چې که دمذهب نه مرادغیرفطري اوباطل مذهبونه وي کوم چې دمثال په طور، ،دريِ یواویودرې، ،په شان نظریاتوباندې خپل بنیادونه اوچت کړي دي، نو زما ځواب په نفي سره دی،دسائنس په مقابله کې داسې پخواني اوفرسوده مذهبونه له دې سره نه شي تللی اوکه مذهب نه مراد دین فطرت وي دکوم اعلان چې خالق فطرت په (ان الذین عند الله الاسلام) سره کړی دی ، نوزماځواب دادی چې مذهب دسائنس سره تللی شي اوروان دی اوانشاء الله ځی به،ځکه که سائنس(واقعتاً سائنس وي)درموزفطرت نه دپردواچتولونو دی،اسلام په خپله فطرت دی(فطرة الله التی فطر الناس علیها)

فطرت کله هم دفطرت سره ډغره نه خوري،ددې وجې نه اسلام ته دسائنس نه هیڅ خطره نشته،بلکې واقعه داده چې سائنس داسې ډیراسلامې نظریات فهم ته نزدې کړي دي کوم ته چې به دپخوانی زمانې انسان دحیرانتیاپه نظرسره کتل،هم ددې ځای نه زموږ په دې یقین کې اضافه کیږي چې اسلام پرته دځه شک نه دخالق له لوري نازل شوی فطري دین دی اوکه سائنس دانان څه داسې خبره کوي چې داسلام دقطعي نظریاتوسره ډغره خوري، نوزموږ یقین دی چې هغوی دفطرت خلاف وایي،که نن نه وي نوسبابه په هغوی باندې دخپلې نظریې غلطیدل اوباطل کیدل ښکاره شي،خوهغوی نه ددې وجودختمولای شي او نه ددې رڼاغائبولای شي.اسلام دپوره انسانیت له پاره دهدایت لمردی،ړانده ددې نه سترګې پټولای شي ګمراه اوکج روخلک دخپلونظریاتو دوړې اوچتولای شي ،خو داوریځې به په هرحال لیرې کیږي اوداسلام دلمر رڼاګانې به په هرحال پرقیدلې وي.

غرض داچې:دسائنس هیڅ صحیح نظریه داسلام سره ډغره نه خوري اوکوم نظریات چې په ظاهرکې داسلام سره متصادم په نظرراځي هغه دسائنس فطري نظریات نه دي،بلکې یاخو ورته خام خیاله خلکودهوا اوهوس، ،سائنسي نظریې، ،نوم ورکړی دی،یاهغه دتحقیق اوتجسس دخلا او نور دواړو ترمنځ دسفردرمیانه منزلونه دي، کوم چې په غلط فهمي

اوعجلتْ پسندي کې ،،حرف اخر،، گڼل شوي دي،له دې وجې نه زموږ ځوانانوته ددې شکونو او شبهاتوپه تیاروکې دهلته او دلته گرځیدوضرورت نشته،ددوی سره دمحمدصلی الله علیه وسلم راوړل شوی قطعي پیغام هدایت اود فطرت دین موجوددی،ځمکه اواسمان دخپل ځای نه لیرې کیدای شي ،خوپه پیغام محمدي ﷺ کې دوبښته برابر دکمي زیاتي گنجائش نشته،ضرورت ددې خبرې دی چې زموږ ځوانان دې دایمان اویقین په غیرمتزلزل قوت باندې ځانونه ښائسته کړي اومخکې دې ځي، په خپله دې مسلمانان جوړشي اوسائنس دې هم مسلمان کړي،دسائنس مثال دتورې په شان دی،که داداسلام دغازیانوپه لاس کې وي نودجهادفي سبیل الله کاربه ورکوي اوکه دشوکمارو په لاسوکې وي نوپه فسادفی الارض کې به نوره اضافه کوي.والسلام.

دسائنس دانانودالحاداسباب

سوال: ماهنامه،،بینات،،کراچی بابت ماه جمادی الاولی ۱۳۹۳هجری کې دجناب پروفیسرمجتبی کریم صاحب یومضمون دسائنس په ابتدائي معلوماتوباندې خپور شوی دی،موصوف په اولني پرگراف کې لیکلي دي:

ویل کیږي چې دسائنس لوستونکی دهري وي،خوواقعه دانه ده،که دسائنس اصولوته په غورسره وکتل شي .

دالله تعالی دقدرت کرشمې چې ولیدل شي ،نو پرته داعتراف کولونه به لاره نه وي،سائنس دانانوباندې دهریه کیدوالزام لگول غلط دي.

جواب: زمایه خیال کې داخبره جزءي طورسره خوصحیح ده،ځکه چې په امریکه، یورپ، روس اوکمیونسټ ملکونو کې اکثرسائنسدانان نیم ملحد اوددهري نظریې والا په نظر راځي،په دې کې شک نشته چې دسائنس ایجاداتوعقل حیران کړی دی اوپه مادی سطح باندې دانسان دراحت اوسهولت دوه صورتونه په وجودکې راغلل،دکوم چې ځه موده مخکې تصورهم نه شو کیدای ، خوسائنس دان دحقیقت کبری پورې رسایي نه محروم دی.

دایټم زړه څیرولوسره اودهغه بنیادي عناصراوپه هغو کې پټ قوت موندلوکې هغوی ضرورکامیاب شوي دي،خودانسانیت اجزاء ترکیبي اودهغوی دقدروقیمت معما هغوی نه حل شوې نه ده،هغوی دټولوعلویاتواوسفلیاتودنظام ارتقائي کړي په ډیرمحنت سره تلاش کړي دي،خوپه خپله دانسان دمعراج ارتقاء اومبداء اومنتهاڅه ده ؟ددې ځواب هغوی ته معلوم نه شو،هغوی دمخلوق دیوپوشي خواص اواوصاف ولټول خودانسانیت اخلاق اواقداراوددې دجوړیدو اوورانیدواسباب دجستجونه هغوی همیشه عاجز دي، انسان دمختلف اعراض اوجواهرو دپیمائش له پاره الات ایجادکړل،خودپیمائش انسانیت پیمانه دهغوی دلاسونو نه پریوتله اوماته شوه،هغوی په ډیرحساس خوردبینونو باندې

ترټولو واړه جراثیم ولیدل خوهغوی ته دخودشناسۍ خوردبین په لاس ور نه غی،چې په هغه کې ورته دخپل نفس څه جرمونه په نظرراغلي وی،غرض داچې دسائنس ترقۍ یوه دنیابدله کړه،خوافسوس چې دمشرق اومغرب ملحد سائنسدانان دخداشناسۍاوانسان شناسۍ ددولت نه محروم پاتې شول،بیشکه همدارنګه کیدل پکارنه و، خو وشو اودټولوپه وړاندې کیږي،داسې ولې وشو؟ددې ولې ځواب دچا (خضر راه) نه معلوم کړئ،دحضرت موسیٰ عليه السلام اوحضرت حضر عليه السلام کومه کیسه چې په قران پاک کې ذکر شوې ده،په دې کیسه کې دحضرت حضر عليه السلام یوه فقره په صحیح بخاري حدیث کې مروي ده،دکومې سره چې داعقده حل کیږي،یعنې حضرت موسیٰ عليه السلام چې کله دطالب علم په حیثیت سره دحضرت حضر عليه السلام سره درفاقت وړاندیزوکړ ،نوددې په ځواب کې حضرت حضر عليه السلام وفرمایل:

"یاموسی إني علی علم من علم الله علمنیه لا تعلمه أنت،وأنت علی علم من الله علمک الله،لاأعلمه. (صحیح بخاری ج:٢ ص:٦٨٨)

ترجمه: اې موسیٰ!زه دالله تعالی دطرف نه راکړل شوي یوداسې علم باندې یم په کوم چې ته نه پوهیږې اوته دالله تعالی دطرف نه درکړل شوي یوداسې علم باندې حاوي یې په کوم چې زه نه پوهیږم.

اوپه دویم روایت کې ددې په ځای داالفاظ دي:

"أما یکفیک أن التوراة بیدیک؟ وأن الوحی تاتیک؟یاموسی!إن لی علمًا لا ینبغی لک أن تعلمه وإن لک علمًا لا ینبغی لی أن أعلمه." (ج:٢ ص:٦٨٩)

ترجمه: ایاستاله پاره دومره کافي نه ده چې ستاپه لاسونوکې تورات دی اوداچې تاته وحې هم راځي؟اې موسیٰ!زماسره چې کوم علم دی دهغه زده کول ستاشایان شان نه دی اوتاسره چې کوم علم دی په هغه باندې حاوي کیدل زمادوس خبره نه ده.

دحضرت حضر عليه السلام په دې حکیمانه فقره کې چې په څه باندې پوهول شوي دي دهغو دتشریح له پاره لاندیني نکات دې ملحوظ وساتل شي:

١ :دالله تعالی دطرف نه دوه قسمه علمونه ورکړل شوي دي:

یودمخلوق - داسراراورموزو،دشیانواوصافاودفوائداونقصاناتوعلم،کوم ته چې،،علم مخلوق ،،یا،،علم تکوینی،،ویل کیږي،ټول انساني علمونه اوددې په سوونوشعبې ددې، علم مخلوق، ، ښاخونه دي،خودمعلومات خداوندي په مقابله کې دانسان دامخلوقي علم دسمندرپه مقابله کې دقطرې اودغره په مقابله کې دیوې ذرې نسبت هم نه لري.

دویم هغه علم کوم چې خالق مخلوق دذات اوصفات،دهغه دمرضیاتو اونامرضیاتواود انسان دسعادت اوشقاوت ښکارندویي کوي دې ته،،علم الشرائع،،یا تشریعی علوم،،ویل کیږي.

۲: دادواړه علمونه هم دالله تعالى د طرف نه بندګانو ته ورکول کیږي، خو ددواړو ذرائع بېل بېل دي، دلومړي قسم له پاره احساس، عقل، تجربه، فهم او فراست ورکول شوی دی او کوم ځای ته چې دانسان دعقل او سوچ رسېدل کیدای نه شي هلته وحي او الهام سره دده رهنمائي کیږي، لکه دانسان ددنیاوي ژوند سره متعلق دټولو علمونو مبادیات دوحي او الهام په ذریعه ښودل شوي دي(وعلم ادم الاسماء کلها) نور داچې په انساني فطرت کې عقلي او تجربات علمونوکې دترقي کولو پوره استعدا اېښودل شوی دی، دهمدې علم یوه شعبه حضرت حضر علیه السلام ته وهبي طورسره ورکړل شوه او دخالق مخلوق دذات وصفات دمعرفت او دهغه دمرضیات او نامرضیات پېژندګلوي چونکه دانساني ادراک نه پورته وه، ددې په وجه ددې مداریواځې په عقل او تجربه باندې کېښودل شو، بلکې ددې دتعلیم له پاره دانبیاء کرامو علیهم السلام یوه مستقله سلسله جاري شوه، دکومې شروع چې دحضرت ادم علیه السلام نه وشوله او انتهاء یې په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې وشوه، حضرات انبیاء کرامو ته دمعرفت، ذات او صفات، مبداء ومعاد، سعادت وشقاوت، فضائل ورذائل، عذاب وثواب تفصیلاتو باندې وحي په ذریعه خبر ورکړل شو، دهغوی په وړاندې الله تعالى پورې درسیدو صفاسوتره لاره پرانستی شوه، دوی ددې صراط مستقیم په دعوت باندې مامور شول او داحضرات ادم داولاد مقتدایان جوړ شول او دپوره انسانیت سعادت او شقاوت ددوی دقدمونوسره وتړل شو، هم داهغه علم و کوم چې موسی علیه السلام ته ورکړل شوی و.

۳: انبیاء کرام چونکې دانساني ورور ولی یو معززه ډله ده او هغوی سره هم ددې ژوند ضروریات په هرحال لاحق دي، له دې وجې نه هغوی دانسان ددنیوي حاجاتونه بې خبره نه دي نه دکسب معاش حوصله شکني کوي او نه له ژوند سره دمتعلقه علومو نفي کوي، بلکې دضرورت په اندازه په خپله هم کسب معاش کوي، خو دژوند په حرکت، سکون او کسب معاش په هرطور طریقې باندې په دې نقطه نظر سره بحث کوي چې داد الله تعالى په نزد خوښ دي او که نه ؟او داداخرت دمسافر له پاره دلارې توښه ده، یادهغه منزل ته نقصان ورکوي؟غرض داچې هغوی دژوند دهرې شعبې په باره کې هرکس ته هدایات ورکوي، جایز او ناجایز ښیي، دښه او بد ښکارندوي کوي، خو په خپله څه علم او فن خپله موضوع نه جوړوي، بلکې، ،انتم اعلم بامور دنیاکم، ،ویلو سره مخکې ځی، ګویاددنیا څه علم یا فن او فلسفه او سائنس موضوع جوړول دهغوی داعلی او ارفع شان نه فروترشی دی، همدا مطلب دحضرت حضر علیه السلام ددې ارشاد دی چې اې موسی! ماسره چې کوم علم دی دهغه زده کول ستاشایان شان نه دی، همدا وجه ده چې دمادیاتو کومه ترقي ددوی دامتیانو په لاسونو وشوه په خپله دهغو حضراتو لاسونه په دې کې ملوث نه شولاو غالباً همدغه نکته ده چې ترکومې پورې ددین دترقی تعلق دی حضور صلی الله علیه وسلم دهغې محنت پایه تکمیل پورې ورسوله او کله چې

په ده باندې دفتوحاتودروازه پرانستل شوه نولاسونه یې وښندل اوله دنیایې تشریف یوړ اوداکاریې خپلوخلیفه ګانوته حواله کړ.

۴: په انبیاء کراموعلیهم السلام باندې چې کوم علمونه پرانستل شوي وو هغه یواځې دهغوی له پاره نه دي،بلکې ټول انسانیت دهغو محتاج دی.ددې وجې نه ددنیاترټولو دانشور، حکیم،سائنس داناوفیلسوف داعلوم دانبیاء کراموعلیهم السلام له وساطت نه پرته نه شي حاصلولی ،دعام انسان همدغه کمال دی چې هغوی دعلوم نبوت څه برخه دهغه حضراتوپه ذریعې سره حاصله کړي ،خونه هغوی دټول علوم نبوت احاطه کولی شي اونه دانبیاء کراموعلیهم السلام نه مستغني کیدای شي اونه دعلوم نبوت څه کرشمه ورته نصیب کېدای شي،هم دغه مطلب دحضرت حضر علیه السلام ددې ارشادی چې:اوتاسره چې کوم علم دی په هغه باندې حاوي کیدل زمادوس خبره نه ده،که دپرائمري طالب علم درياضي ګرانو مسائلو یاداپتهمي نظریې تشریحاتوباندې پوهیدو نه قاصرُدی، نوپه دي کې دهغه مسائلوڅه قصورنشته،بلکې دطالبعلم ذهني کمزوري ده،دانبیاء کراموپه وړاندې دټولې دنیاعقلاء،حکماء،افلاطوناوجالینوس طفل مکتب دیاونه د ددوی اساتذه فطرت(علیهم السلام)نه مستغني کیدای شي اونه په دې علمونوباندې دحاوي کیدوحوصله لري.

دفلسفې اوسائنس ماهرین، چې دعلم اودانش ،عقل اوفهم په کومه مرتبه باندې فائزدي ،ددې په وجه دمخلوق له رنګونو په نسبت دنورو نه زيات واقف اودفطرت د نیرنګینو (چل اوفریب) سره زیات اشنا دي،دهغوی نه داتوقع بې ځایه نه وه چې هغوی به دقدرت خداوندي په وړاندې دټولونه زیات سرپه سجده وي،درسالت اونبوت ضرورت اواهمیت اودانبیاء کراموقدر اومنزلت دټولونه زیات په هغوی باندې ښکاره کیږي اووحي الهي سره کومه چې په انبیاء کراموباندې نازلیږي دټولونه زیاته استفاده هم هغوی کوي.

انبیاء کرام علیهم السلام سره وفاداري،وجان نثاري ،اطاعت اودفرمانبرداري مظاهره دټولونه زیاته دهغوی له طرف نه وي،خو دبدقسمتي نه دسائنس قیادت چې دچاپه لاسوکې راغلی دی هغوی دمعرفت دروازې ته چې ورغلل نو ورروسته شول اوهغوی دانبیاء کرامو علیهم السلام اطاعت شرم وګڼه اودتعلیمات نبوت نه یې داستغنامظاهره وکړله،

همدارنګه ارشادخداوندي: **واضله الله علی علم**.(اوګمره کړل الله تعالی دوی له علم سره سره) په دوی باندې صادق راځي،دقدیم دور فلاسفه دانبیاء کرامودعظمت قایل وو،خودهغوی وینا وه چې دوی خودعوامودااصلاح له پاره رالیږل شوي دي، کله چې موږ دتهذیب اوتربیت په منصب باندې فائزیو،نو دنبوت نه داستفادې ضرورت باقي نه پاتې کیږي"**ونحن قوم هذبنا انفسنا**" دنوي دور فلاسفه (سائنس دانان)په غروراوتکبرکې له هغوی نه زیات ترقي یافته ثابت شول،هغوی انبیاء کرام علیهم السلام اودهغوی مشن ته په سپک نظر وکتل،

دانبياء كرامو عليهم السلام دزهد او قناعت او ددنيا سره بې رغبتي دكوم دعوت چې دانبياء كرامو خاص موضوع وه، دهغو نه يې دنفرت او بيزاري اظهار وكړ او مخصوص علوم چې انبياء كرامو ته وركړل شوي وو، دهغو په باره كې يې نه يوائې شك او شبه بلكې ضداو عناد هم ښكاره كړ چې په نتيجه كې نه يوائې دايمان له نور نه محرومه شول بلكې دانسانيت داعلى اخلاقي اقدارو نه يې هم لاس ونه وينځل او س ددوى محنت، انسانا و انسانيت په ځاى په خاوره او دخاورې نه راوتو تكيو شيانو باندې خرچ كيږى، شيان جوړيږي او انسانيت ورانيږي.

سائنس دخپلې ټولې ترقى باوجود دامغرور سائنسدانان ددهريت او الحاد له غولې بهر نه كړاى شول، بلكې ددې برعكس دوى دسائنس ملحد او دهري جوړولو كې كامياب شول، دسائنس دنيم پوخته او نيمګړيو نظرياتو په وجه چې(نن په ډيرزور او شورسره دهغو دثابتولو كوشش كوي او سبا ددې غلط ثابتيدو باندې دلائل وركوي)دسائنس ډيرو زده كوونكو داسلام په مقابله كې دهريت ته په لالچي نظر سره كتل شروع كړي دي، همدارنګه دهريت او بې ديني دسائنس فيشن جوړشو، دانبياء كرامو عليهم السلام په مقابله كې ددې سائنس دانانو دمتكبرانه عادت سبب دماديت غلطه نشه ده، دسائنس عالمانو دافرض كړه چې دماديت داترقي، دا روښانتيا، داسپارې اوطيارې، داايټم او قوت دانسانيت كمال او خير بس يوائې هم په همدې شيانو كې دس، په فضا كې الوتل. په دريابونو كې لامبو وهل، سپوږمۍ ته رسيدل. دلمرطول اوعرض ناپ كول او دزهره او مُشتري خبرراوړل، بس دغه دانسانيت اخري معراج دى اوداترقي دانبياء كرامو په زمانه كې نه ده شوې، ځكه يوائې دا نه چې دسائنس دور، ددورنبوت نه افضل دى، بلكې دا ترقي يافته خلك په خپله دټولو انسانونه بهتردي اودې پروپيګنډې (افواه) ته دومره هوا وكړل شوه چې نن ډيرمسلمانان هم موجوده دور ته(مهذب دور)او پخوانى دورته (چې دانبياء كرامودور و)په تو دورسره تعبير كولو باندې نه شرميږي(انا لله وانا اليه راجعون)!

سره له دې چې دنبوت نه كټ كيدوسره په كومه ترقى چې نن دنيا په جامو كې نه ځاييږي دانبياء كرامو په نظرددې قيمت دماشي دوزر برابرهم نه دى.

دحضور ﷺ ارشاد مبارك دى:

"لوكانت الدنيا تعدل عند الله جناح بعوضة لما سقى كافرًا منها شربة". (مشكوة)

ترجمه: كه دالله تعالى په نزد دپوره دنياقيمت دماشي دوزر برابر هم واى. نو هيڅ كافرته به يې يوغړپ اوبه هم نه وې وركړې.

دانبياء كرامو عليهم السلام په وړاندې داخرت نه ختميدونكې ژوندى دى، دكوم ځاى د نعمت اولذت اوراحت ارام چې تصورهم دلته نه شي كيداى، دانسان هيڅ داسې خواهش نشته چې هلته به پوره نه شي او هيڅ قسمه غم او انديښنه داسې نشته چې دهغې دلاحق

کېدو خطره دې هلته وي، داسې ژوند چې د مرګ به هيڅ ويره نه وي، داسې صحت چې د مرض به هيڅ خطره نه وي، داسې څواني چې د بوډاوالي (زړښت) تصور به هم نه وي، داسې راحت چې د تکليف نوم به هم نه وي، سلطنت دومره لوی چې د هغه په مقابله کې د اځمکه او اسمان هيڅ حيثيت نه لري، ظاهره ده چې د چا دسترګو په وړاندې داخرت دابې حده اوبې حسابه ژوند دخپلو ټولو نعمتونو سره وي، هغه چې زمونږ له سختيو او حوادثونه ډک ژوند په په لوبې او تماشې سره تعبيرنه کړي، نوله دې نه زيات صحيح تعبيرڅه کېدای شي؟ قران کريم بار بار داسې ويلو سره انسانيت د غفلت له خوب نه راببدار کړی دی:

وَمَا هَٰذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ. (العنكبوت: ٦٤)

ترجمه: او دا د دنيا ژوند (په حقيقت کې) له لهو او لعب نه پرته نور هيڅ نه دی، اصلي ژوند د عالم اخرت دی او که دوی پته ورته وای، نو داسې به يې نه کول (چې په فاني کې مشغول شي او باقي هېره کړي). (بيان القران)

دځلورو پنځوکالو ماشوم که دلرګي يو څو ټکړې له يوې اوبلې خوا راجمع کړي او ګډوډ دسپوږمۍ ګاډی (چاند ګاړی) ترې جوړ کړي، نو دا لوبه د هغه دذهانت دليل ده او که پلارېې هم دزوی په نقالي کې همدا رنګه ګاډي جوړل دخپل ژوند موضوع جوړه کړي، نو دا ذهانت نه دې، بلکې دليونتوب علامت ده، تاسو واړه ماشومان روزانه په شګو خاورو کې کورونه جوړولو باندې وينئ او که يوه ورځ يو مشر صاحب هم دغه مشغله باندې ووينئ، نو ددې صاحب په باره کې به ستاسو رايه څه بل ډول وي؟ د ټوکر وړې وړې ټوټې راجمع کول او د هغې نه دګوډيانو (لانځکو) له پاره جامې جوړول د وړو ماشومانو جينکو خوښه مشغله ده او د هغوی د حوصله افزايي له پاره مور هم کله کله د هغوی رهنمايي کوي، خو که بيګم صاحبه ټول کارونه پرېږدي او د ګوډيانو لوبې دخپل ژوند هدف جوړ کړي، نو ورته د علاج ضرورت دی،

بالکل همدا سې د دنيا پوره ژوند دخپلې ښکلا او فتنو سره سره د انبياء کرامو عليهم السلام په نظر کې يوه لوبه ده او کوم کسانو چې دا لوبه دخپل ژوند واحد مقصد جوړ کړ او ټول محنت يې يواځې په همدې باندې خرچ کېږي او يواځې ددې له پاره ګرځي او مري اوژوندي کېږي اګر که ډېرې کارنامې وکړي او نوي نوي ايجادونه وکړي، يا لوی لوی جمهوريتونه چلوي خو د انبياء کرامو عليهم السلام په نزد ددوی انسانيت د علاج وړ دی.

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا. الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا. (الكهف: ١٠٣، ١٠٤)

ترجمه: تاسو ﷺ (دوی ته) ووايئ چې آيا تاسو ته داسې خلک وښايم د چا کارنامې چې د ټولو نه زياتې په تاوان کې دي؟ (نو واورئ) دا هغه خلک دي د چا چې په دنيا باندې شوی محنت هم

دلته ضائع شو او هغوی د جهل په وجه په دې خیال کې دي چې هغوی ډېر ښه کار کوي.

غرض دا چې د انبیاء کرامو علیهم السلام په دور کې په خپله د هغوی په لاس د مادي ترقۍ نه کیدو وجه دا نه ده چې د هغوی دور د نن دور په نسبت_نعوذبالله_تیاره او غیرمهذب و او د انسانیت د ارتقاء ابتدایي منزلونه یې طی کړي نه وو ،بلکې د دې اصلي سبب دا دی چې د هغوی د بلندترین منصب او عظیم هدف په مقابله کې د مادیت دا ټوله لوبه د ماشومانو د لوبې په شان حیثیت لري،انبیاء کرام دا یتیم موندلوله پاره نه وو راغلي،بلکې هغوی هغه اوچت ذات سره انسانیت اشناکوي د چاپه وړوکې شان اشارې، ،کن، ،کې په زرګونه ایتمونه پټ دي،د هغوی نظریواځې د مخلوق په باهمي ربط کې نه وي، بلکې په دې باندې غورکوي چې د دې مخلوق،خالق قدرت سره څه ربط دی؟ د هغوی موضوع په شیانو باندې محنت نه وي ،بلکې په انسان سازۍ باندې محنت وي،د هغوی په نزد د دې چیټړو هیڅ حیثیت نشته،کوم چې د دنیا نابالغه خلکو په ډېرښایست سره په الماریو کې ایښي دي ،د دې خاورینو کورکیو هیڅ قیمت نشته،چې دا نادان ماشومان یې نقش ونګار سره ښائسته کوي او د دنیا ظاهري ښکلا و جلا کې د هغوی له پاره هیڅ کشش نشته،په کوم باندې چې دا بې عقله ماشومان مین دي،هغوی ته پته ده چې د دې اصلي حقیقت څه دی؟ هغه دیوې فناکیدونکې خاورینې غونډۍ نه پرته هیڅ هم نه ده ،د دې حقیقت اظهار هم هغوی په دا سې الفاظو سره کوي:

"مالي وللدنیا؟ وما أنا والدنیا إلا کراکب إستظل تحت شجرة ثم راح وترکها" (مشکوة)

ترجمه: زما له دنیا سره څه ؟زما او د دنیا مثال خو داسې دی لکه چې یو مسافر دیو ونې د سوري لاندې کیناست،لږ وخت یې ارام وکړ ،بیا یې هغه پرېښود او روان شو،(او بیا کله هم ورته د دویم ځل راتلو ضرورت پیښ نه شو)

او کله خلک په دې لوی حقیقت باندې داسې پوهوي:

"کن فی الدنیا کأنک غریب أو عابر سبیل وعد نفسک فی أهل القبور." (صحیح بخاری)

ترجمه: په دنیا کې داسې اوسېږئ ګویا تاسو دلته دیو څو ورځو مسافریئ او داسې وګڼئ چې تاسو د اهل قبور په صف کې شامل یئ،(نن که نه وي نو سبا به ستاسو نوم هم وا نه خستل شي)

مابعدالطبیعات نه ړوند او کوڼ سائنس،د چا په نزد چې یوشی منلو له پاره د هغه شي مشاهده کول او په لاس سره کتل شرط دي،چونکه په حقیقت باندې د پوهیدو نه عاجزدی، د دې وجې نه هغوی د (ایمان بالغیب)د ټولې نبوي سرمایې دخندا نذرکوي او هم د دې ځای نه د هغوی د ملحدانه شفقت اغاز کیږي.

غرض دا چې د سائنس دانانو د ټولې محرومۍ باعث د ، ،نبوت، ،نه انحراف دی او د دې انحراف وجه جهل او غرور ده،که په دوی باندې د دې مخلوق پټ حقیقت ښکاره شوی وای ، نو دوی ته به معلومه شوې وه چې مخلوق یواځې دا نه دی د کوم تعلق چې د مرګ نه مخکې

دمشاهدې سره دی،بلکې داخواصل دمخلوق یوه وړه شان ذره ده،که داصل مخلوق اوبیادمخلوق نه وروسته دخالق مخلوق رازپه دوی باندې منکشف شي ،نودوی ته به معلومه شي چې په کربونه ډالرخرچ کول اودسپوږمۍ نه یوه دړې خاوره راوړل دترقۍ علامه نه ده ،بلکې دسفاهت اوکم عقلۍ نشان دی،دنبوت دلمن نه کټ کیدوسره ددې سائنس دا،،سفیهانه محنت،،انسانیت ته دبې قرارۍ ،ناخوښۍ،کرب واضطراب تحفه ورکړې ده اوددې نا ارامۍ دوختي ارام له پاره دمختلف قسم مصنوعي تفریحاتو اومنشیاتو نسخه بې تجویزکړه،دنن مفلوج انسان چې دکوم اخلاقي، روحاني،نفسیاتي،جسماني مرضونو نمونه جوړه شوې ده اهل عقل ته ددې تجزیه کول پکار دي . چې په دې کې دسائنسی ترقۍ برخه څومره ده؟زماخپل دا ایمان دی چې ترڅوپورې دسائنس داکوششونه دنبوت تابع شوي نه وي اوترڅوپورې چې سائنس دانان دانبیاء کراموعلیهم السلام په وړاندې دخپل علمي عجزاعتراف ونه کړي ترهغو پورې به سائنس هم هغه شان ملحدوي اوددې ټول ترقیاتي کارنامه به دانسانیت دهلاکت اوبربادۍ په کارراځي،پاتې شوداسوال چې سائنس دنبوت دلمنې سره تړل ممکن دي؟ددې ځواب دمسلم سائنس دانانو دجرات اوهمت اوفهم فراست په انتظاردی.

دسائنس جدیدنظریاتوتر ټولو لوی دهریت نوازسائنس دان هم د،،وجودخدا،،په اعتراف کولوباندې مجبورکړی دی،(اګرچې هغوی دومره جرات نه لري چې په ښکاره ددې اعلان وکړي) خوداهم هیرول نه دي پکار چې یواځې د،،وجودخدا،،مبهم تصورددهریت ددې مارخوړلو له پاره تریاق نه دي.نه محض دې تصورسره یوبنده ته،،خداپرست،،ویل کیدای شي ،بلکې هغه لره به دایمان اویقین په رڼاکې نورې مرحلې هم طې کول پکاروي،یعنې دخدایي صفات څه دي؟ددې عالم دتخلیق مقصدڅه دی؟هغه دانسان دښېګړې اوبدۍ څه معیارتجویزکړی دی؟

دالقران ریسرچ سنټر د تنظیم او ددې د باني محمد شیخ شرعي حکم

سوال: مولاناصاحب! نن سبایوه نوې فتنه دقران سنټرپه نامه سره ډیره په ترقۍ ده،ددې باني محمدشیخ په انګلش کې بیان کوي اوددین دضروریاتو نه انکارکوي،موږ په دې انتظارکې ووچې:اپ کے مسائل اورانکاحل،،کې به ستاسوڅه مفصل تحریرخپور شي خواپ کے مسائل کې دیوې زنانه دسوال نامې په ځواب کې تاسومختصرشان ځواب مې ولوست،اګرچې هغه تحریرترڅه حده پورې کافي و،خوپه دې سلسله کې دتفصیلي تحریر اوس هم ضرورت دی،که تاسوڅه داسې تحریرلیکلي وي یاخپور شوی وي، نو هغه راته وښایئ اوبیا دامت مسلمه په دې سلسله کې رهنمایي وکړئ!

جواب: ستاسو خبره صحیح ده: ،،اپ کے مسائل اوانکاحل،، کې زمایو مختصر شان ځواب خپور شوی واودوستانو اصرارو چې په دې سلسله کې یو مفصل تحریرراتلل پکاردي، چنانچې زمایو مفصل تحریرپه ماهنامه، ،بینات،، کراچئ کې ، ،بصائروعبر،کې خپور شوی دی،مناسبه ده چې داتحریر دعامې فائدې له پاره دلوستونکو په خدمت کې وړاندې شي:

"د هندوستان دمسلمانانو دا خواهش اومینه وه چې یوداسې ازاد ریاست اوملک ورته په ګوتوورشي چېرته چې مسلمانان په ازادۍ سره دقران وسنت قانون نافذکړای شي اوهغوی ته په دین اودیني شعائرو کې څه خنډ(مانع) نه وي،چونکه دمسلمانانو جذبه ښه وه له دې وجې نه په دې کې ځوانانو،بوډاګانو،عوامو اوخواصواوعالم اوجاهل ټولو برابر یوشان کوشونه کول.

په اخره کې دلکونوسرونواوعزتونوله قربانۍ نه وروسته په ۱۴اګست ۱۹۴۷کې دیومسلم ریاست په حیثیت سره پاکستان په معرض وجودکې راغی،دقیام پاکستان مقصد داسلامي نظام حکومت یعنې حکومت الهیه دقیام باور ورکړل شوی و،دکوم چې عنوان و :(پاکستان کامطلب کیا؟لااله الاالله)اودایوه داسې نعره وه چې دکومې زیراثر ټول مسلمانان دهرقسمه قربانیوله پاره تیاروو،تردې پورې چې هغه مسلمانان دچاعلاقې چې دتقسیم هندنه وروسته دهندوستان په حدودوکې راتلې هغوی هم ددې په قیام کې له هرچانه مخکې وو،خو:(اے بساارزوکه خاک شده)ځومره موچې علاج کاوو هغومره مرض زیاتیده،،په شان نن دپنځوسو کلونونه زیات وخت تیرېدوسره دپاکستان مسلمانانوته اسلامي نظام حکومت حاصل نه شو. اناالله واناالیه راجعون!

برعکس پاکستان ورځ په ورځ مسائلستان جوړیده،په دې کې مذهبي،سیاسي ،روحاني ،هرقسمه فتنې پیداکیدل شروع شول،یوطرف ته په انګلینډکې دمرتدرشدي فتنه رپورته شوه،نودویم طرف په پاکستان کې دیوسف کذاب په نامه یوبدباطنه دنبوت ددعوې سره میدان ته راوت، همدارنګه په بلوچستان کې ذکري مذهب ایجادشو،چاچې هلته کعبه اوحج جاري کړ،دلته رافضیت اوخارجیت هم ترقي کړې ده،دلته شرک اوبدعاتووالا هم شته او دساز اوسرود والا هم،په دې ملک دګوهرشاهي په نامه یوملعون هم شته دچامریدانوته چې په شپوږمۍ کې دهغه تصویرپه نظرراځیاوپه خپله هغه ته په متبازوکې دخپل مصلح شکل په نظرراځی،په دې کې یوبدبخته عاصمه جهانګیرهم شته چې دتحفظ حقوق انسانیت په نامه باندې دځومره جینکو دعزت لوپټې یې شلولې دي.

همدارنګه په دې ملک د ، ،جماعت المسلمین،،په نامه هم یوجماعت شته چې د پوره امت تجهیل اوتحمیق کوي،دلته دډاکټرمسعوداولاد هم شته چې دخپل ځان نه پرته بل ځوک مسلمان ګڼلوته تیارنه دي،دلته دغلام احمدپرویزاولادهم شته چې امت دذخیره

احاديث نه بدظن کول او ځان وروسته لګول غواړي او ددې ټولونه مخکې او ډېر مخکې يوه نوې فتنه او نوې ډله ده دکوم تارونه اګرچې دغلام احمد پرويز سره ملاويږي. خو هغوی په ګڼو شيانو کې غلام احمد پرويز هم روسته پريښی دی، غلام احمد پرويز امت له احاديثو د منکرولو ناکام کوشش کړی وا و وسره يې په ځو قراني ايتونو باندې هم دخپلو باطلو تاويلاتو تيشه چلولې وه، خو ددې نوي جماعت او نوې فتنې سربراه محمد شيخ خوتقريباً دپوره اسلامې عمارت دراغورځولو اراده کړې ده، هغه دتورات، زبور، انجيل اونوروا سماني کتابونو دوجودنه اود حضور ﷺ په نورانبياء کرامو باندې فضيلت او اوچتوالی اود نورو انبياء کرامو دمادي وجودنه منکردی، بلکې هغه په اصل کې د مرزاغلام احمد قادياني په شان دنبوت دعويدار دی، خو دغلام احمد قادياني ناکام حکمت عملې په دويم ځل کول نه غواړي، ځکه چې هغه دغلام احمد قادياني په شان نيغ په نيغه دنبوت اوعقيده اجراء اودوجې دعوه کولو سره دقران اوسنت اوعلماء امت په پنجه کې ځان راګيرول نه غواړي، په دې خوهغه هم يوه دی چې دنبوت وحې بنده شوې ده او کوم کس چې دحضور ﷺ نه وروسته دځان له پاره اجراء وحې اودنبوت دعوه وکړي هغه دجال، کذاب او واجب القتل دی، له دې وجې نه محمد شيخ ددې عنوان بدل کړ او يې ويل چې کوم کس چې په کوم وخت کې قران لولي، په هغه باندې دقران هم هغه برخه نازليږي اوچېرته چې په قران پاک کې ، ،قل، ،ويل شوي دي هغه دهمدغه انسان له پاره ويل کيږي، همدارنګه هغه دهر کس دنزول وحې په شان جوړول اودخپل ځان له پاره دنزول وحې او اجرايې نبوت په معامله کې دخلکو په نظر کې سپکولو کوشش کوي، لکه هغه داداسې هم تعبيروي:

نبيان ،دالله تعالى پيغام رسوي او دخلکو اصلاح کوي اوزه هم دغه کار کوم.

نعوذبالله! منصب نبوت دومره سپکولو کوشش کولا ودجرات کول چې زه هم همدغه کار کوم چې-نعوذبالله-انبياء کرامو به کاوو، نوايا دادنبوت دعوه اومنصب نبوت باندې کيناستلو ناپاکه کوشش کول نه دي؟

دخلکو نفسيات هم عجيبه دي، که هغوی په منلو باندې راشي، نو يو داسې کس چې دهيڅ اعتبار قابل نه دی، دچا شکل او شباهت هم دمسلمانانو په شان نه دی، دچا او سيدل چې داسلافو سره تعلق نه لري، دمغربي ابليس نقل کول يې شعار وي، اسوه نبوي سره يې يوه ذره هم مناسبت نه وي، دهغه چال ډال، رفتار وګفتار اولباس پوشاک نه هيڅوک داندازه نه شي لګولی چې داکس مسلمان هم دی او که نه؟

او بله لاداچې دنصوصو نه صريح منکروي اود فاسدو تاويلاتو په ذريعه اسلام ته دکفر اوکفر ته داسلام باور ورکولو په کوششونو کې دغلام احمد قادياني غوږونه پريکوي، دا جرايې نبوت نه يوازې قايل وي بلکې ددې داعي اومنادی هم وي،

هغه دټولو اسماني كتابونو نه منكردى،هغه دانبياء كرامو دمادي وجودقايل نه دى، د حضور ﷺ دروحاني وجود ګډوډ ښكاره كولوسره دنبوت اورسالت اومادي وجودنه هم انكاري دى، دبني اسرائيلو په نبيانوكې حضرت موسى عليه السلام ته په حضور ﷺ باندې ترجيح وركوي.
ذخيره احاديث ته من ګړت (هسې خوشې) كيسې وايي اوناقابل اعتبارېې ګڼي، غرض داچې داسلامې عقائدوهرجزنه انكاري اودنوي دين دوړاندې كولوكوشش كوي او خلك دې چې دده دعقيدت اواطاعت صفتونه كوي اودى خپل مشراوراهنماګڼي.
ددې برعكس بل طرف ته دالله تعالى قران دى،دنصوصواوحديثونوذخيره ده، دحضور ﷺ اسوه حسنه اودصحابه كرامورضوان الله اجمعين دسيرت اوكردارلويه لاره ده او اجماع امت ده، چې په چغوچغودانسانانودهدايت اوراهنمايي خطونه متعين كوي، خو ددوى دازلي محرومي له پاره داهرڅه داعتماد وړ نه دي.
ډومره دشرم خبره ده چې دابدنصيبه دنبي اكرم ﷺ داطاعت اوفرمانبردارۍ په ځاى په خپله غاړه كې دملحداوبې دينه دغلامۍ پټۍ اچوي اودهغه امتي كيدوباندې ،فخر، ، محسوسوي،افسوس په داسې عقل ،دين اومذهب باندې،دڅه بنيادچې په الحاداوزندقه باندې وي،په كوم كې چې دقران اوسنت په ځاى ديوجاهل مطلق كفريه نظرياتواوعقائدوته دسنددرجه حاصله وي،رښتياده چې كله الله تعالى ناراضه شي ،نوعقل ترې هم واخلي، درښتيا اودروغو تميز يكې ختم شي اودهدايت توفيق ترې واخستل شي.
دتيرې څه مودې راهيسې داسې شكايات په اوريدو دي چې ساده ګان مسلمانان ددې فتنې ښكاركيږي، په دې سلسله كې دڅه ليكلوخيال مې راغى ،نويوصاحب راقم الحروف ته د دارالعلوم كراچۍ فتوا راوړله اوغوښتنه يې وكړه چې ددې فتنې خلاف دې اواز پورته شي،ځكه چې حكومت اوانتظاميه ددې فتنې په ختمولوكې ډيرغيرسنجيده اوبې حسه دى،هركله چې دافتنه ورځ په ورځ نوره هم زياتيږي،ډومره دافسوس خبره ده چې كه يوكس دباني پاكستان ياموجوده وزيراعظم په شان كې دګستاخي ارتكاب وكړي، نودحكومت پوره مشينري په حركت كې راشي،خو دلته دقران اوسنت اودين متين اوحضرات انبياء كرام اودنبوت نه انكاركيږي اودهغوى په شان كې نامناسبې خبرې كيږي ،خوحكومت پرې بيخي غوږ هم نه ګروي.
ځكه راته مناسبه معلومه شوه چې هرهغه تحريرخپور شي چې دادواړه تحرير رايوځاى كړي چې ورسره دمسلمانانودين اوايمان محفوظ شي اوخلك ددې فتنې له خطر نه باخبره او بچ وساتل شي.
دراقم الحروف مختصرځواب اګرچې دروزنامه جنګ په كالم،اپ كے مسائل اوران كاحل،كې خپور شوى دى،خوددارالعلوم فتوا خپره نه شوله، له ټولونه مخكې ديوې داسې ښځې جوړه كړاى شوې سوال نامه ده چې مخامخ له دې فتنې نه متاثره شوې اوله دې نه

وروسته زماځواب دی اوپه اخره کې ددارلعلوم کراچۍ ځواب دی اودټولونه په اخره کې اختتامي کلمات دي ،خو ددارلعلوم کراچۍ په فتوا کې دقراني اياتو اونورونصوصو ترجمې نه وې. د عامې فائدې له پاره دقراني ايتونواوعربي عبارتونو ترجمې هم شوي دي دقراني ايتونوترجمه دحضرت تهانوي له ترجمې نه اخستل شوې ده.

سوال نامه

سوال: محترم مولانا محمديوسف لدهيانوي صاحب!السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

حال څه داسې دی چې ديومسلمان په حيثيت سره اوخپلې ديني فريضې ګڼلوسره اودين دنقصان نه بچ کولوله پاره اوددې دعقائدو دعمارت ورانولوچې کوم کوششونه روان دي دهغو متعلق غلط فهمي لېرې کولوله پاره ترخپله حده پوره کوشش کول غواړم.

محترم!دلته ديوڅو نام نهاده تنظيمونو له لوري نه پمفلټ،اډيو-ويډيوکيسټوپه ذريعه داسې لټريچر خپرېږي چې هغه سره يوه لويه طبقه خلک دشکوکو ،شبهاتو اوبې يقينۍ دکيفيت ښکارکيږي.دپاکستان - چې داسلامي فلسفې د فکرپه ذريعې سره حاصل شوی و - په کراچۍ ښار کې يوتنظيم (القران ريسرچ سنټر)په نامه سره تيروشپږو اوو کلنو راهيسې قائم دی،ددې تنظيم بنيادي عقائدپه لاندې ډول دي:

١:ددنياپه وجودکې دراتلونه مخکې دانسانيت دښېګړې له پاره قران پاک په معجزانه طورپه يوځای په دنياکې موجود و،په مختلفونبيانوباندې مختلف کتابونه نازل شوي نه و،بلکې دې کتاب ته،يعنې قران پاک ته مختلفو زمانوکې مختلف نومونه ورکړای شول،کله تورات،کله انجيل اوکله دزبورپه نامه.

قران چې څوک اوکوم وخت کې لولې په هغه باندې هغه وخت کې نازلیږي اوچېرته چې (قل)ويل شوي دي هغه ددې انسان له پاره ويلی شوي دي چې لولي يې.

٢:دانبياوو عليهم السلام هيڅ مادي وجودنشته،هغوی دې دنياته نه دي رالیږل شوې، بلکې هغوی يوائې دانساني هدايت له پاره د(symbols)په طورسره استعمال شول اودموجوده دنياسره دهغوی هيڅ تعلق نشته،په قران کې هغوی دانسان درهنمايي له پاره يوائې دفرضي کردار او کيسوپه شکل کې موجوددي.

٣: قران پاک کې چونکه حضورﷺ ته په زمانه حال يعنې(present)کې خطاب شوی دی لهذابحثييت روح حضورﷺهرځای اوهروخت موجود دی اوهغه دمادي وجودنه مبرادی اونه و.

۴: حضورﷺ ته نور و نبيانوباندې هيڅ فضيلت حاصل نه دی اونه د نورو نبيانو برابر دی، بلکې حضرت موسیٰؑ په ځينومعناوو اوحيثيتونوکې يعنې قران پاک دبنی اسرائيلو او حضرت موسیٰ په کثرت سره ذکرکړی دی چې دهغه په وجې سره دهغه فضيلت

په حضور ﷺ باندې زيات دي، دحضور ﷺ په باره کې چې هرڅومره احاديث اوتاريخ اوتفسيرموجود دی هغه دانسانانو له لوري جوړې شوې کيسې دي.

داټول عقائد مخې ته کيږدئ اودقران اوسنت په رڼاکې دافتوا ورکړئ چې:

۱: داعقائد داسلام په نظر صحيح دی او که نه؟

۲: ددې خپلونکی مسلمان پاتې کېدای شي؟

۳: دداسې تنظيمونو بايدمخ نيوی وکړای شي؟

۴: دداسې کس دښځې له پاره څه حکم دی؟دچاعقائدچې دقران اوسنت مطابق وي چې په نبيانوباندې اوټولووکتابونوباندې، داخرت په ورځ باندې اوحديثونوباندې مکمل يقين اوايمان لري؟

۵: په اخره دمسلمانۍ په نامه يوه غوښتنه کوم چې داسې کس سره دې پوره مناظره وکړل شي څوک چې دادعوه کوي چې موږ سره څوک دخبروکولوجرات نه لري، ځکه چې موږ رښتوني مسلمانان يو.

يوه خور، کراچۍ،

دراقم الحروف ځواب

جواب: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

زماخورې! دادفتنوزمانه ده اوکوم کس چې په ذهن کې چې کومه رائې هغه دهغې بيانول شروع کوي اوزه پوهيږم چې دادسلف بيزارۍ اوانکارحديث نتيجه ده، کوم خلک چې دحديث نه انکارکوي هغوی دپوره دين نه انکارکوي اودداسې خلکوپه باره کې په خپله رساله (انکارحديث کيون؟) کې ماليکلي دي چې:

،، دحضور ﷺ دپاکو ارشاداتوسره بې پروايی اودهغه په اقوالو پورې ټوکې کونکو په باره کې اعلان شوی دی چې ددوی په زړونوباندې خدايي مهرلګيدلی دی چې دهغه په وجه دوی دايمان اويقين اوړشداوهدايت استعداد ورک کړی دی اوددې خلکوټول کوششونه د نفسي خواهش دپيروۍ ترحده پورې محدوددي .لکه چې الله تعالی فرمايي:

وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتَّىٰ إِذَا خَرَجُوا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوا لِلَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ آنِفًا أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ .(محمد:١٦)

ترجمه: اوځينې کسان داسې دي چې دحضور ﷺ طرف ته يې غوږونه نيولې وي، تردې پورې چې هغوی ستاسونه پورته شي اوبهرته ووځي، نونوروااهل علمو سره (ستاسو ﷺ د ارشاداتو دتحقيرپه طورسره) وايي چې: حضرت دا اوس څه خبره کړې وه! داهغه خلک دي چې الله تعالی ددوی په زړونوباندې مهرونه لګولي دي اودوی په خپلو نفساني خواهشاتو

باندې چليږي. (ترجمه حضرت تهانوي)

قران کريم صفاصفااعلان وکړچې: انبياء کرام ﷺ يواځې ددې مقصدله پاره راليږل شوي دي چې ددوی اطاعت دې وکړل شي. دحضور ﷺ د اطاعت نه انکاراود هغه د ارشاداتونه مخ اړول ګويا انکار رسالت دی اوهمدارنګه دهغه (صلی الله عليه وسلم) اطاعت نه انکارکونکی دانکاررسالت مرتکب دی.

دحضور ﷺ اقوالوته چې کله هم قران وحي خداوندي وايي :(**وما ينطق عن الهوى، إن هو إلا وحي يوحى**)اودحضور ﷺ کلماتوته چې کله هم قران (ګفته اوګفته الله بود) مرتبه ورکوي . نو ووايئ چې دحديث نبوي په حجت کيدوکې دڅه شک اوشبهې ګنجائش پاتې کيږي؟ اوايا دحديث نبوي نه انکارکونکې،باندې په خپله دقران.نه انکارنه لازميږي؟

او ايا په فيصله نبوت کې بدلون په خپله په قران کې بدلون به نه وي؟اوپه دې باندې هم غورکول پکاردي چې قران کريم هم امت دحضور ﷺ دژبې مبارکې نه اوريدلی دی اوپه هغه يې ايمان راوړ. اود حضور ﷺ دافرمان چې داقران دی ،دا ارشادخوهم حديث نبوي دی اوکه حديث نبوي حجت نه دی ،نودقران کريم ،قران کيدل به څنګه ثابتيږي؟

اخر دا کومه دعقل اوپوهې خبره ده چې ددې مقدسې او معصومې ژبې نه صادريدونکې يوه خبره خو واجب التسليم وي او دويمه نه ؟

امير شريعت سيد عطاءالله شاه بخاري رحمه الله په يوه موقعه باندې فرمايلي و:

"دازمادمحبوب(ﷺ)کمال و ،چې هغه ﷺ وفرمايل چې:دا دالله تعالی کلام دی او دا زما کلام دی،که نه مونږ خودواړه ديوې ژبې نه اوريدلي دي."

کوم خلک چې داوايي چې: قران حجت دی، خوحديث حجت نه دی،دې ظالمانوته څوک ووايي چې څنګه دايمان په معامله کې دخدای اورسول ترمينځه تفريق نه شي کيدای، چې يودې ومنل شي اودويم دې ونه منل شي، همداسې دکلام الله اوکلام رسول په مينځ کې دفرق کولوګنجائش نشته،چې يو دې واجب الاطاعت ومنل شي اودويم نه،يوچې منې نوبل به په هرصورت کې منل وي اوپه دوی کې ديوانکارکول به په خپله دبل نه انکارشي،خدايي غيرت دانه خوښوي چې دهغه دخبرې دمنلودې دعوه وکړل شي اودهغه دنبي ﷺ کلام دې ردکړل شي اودداسې ظالمانوخلاف صفاصفااعلان کوي:

فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ. (الانعام:۳۳)

ترجمه: اې نبي ﷺ :داخلک ستاسوکلام نه ردکوي ،بلکې داظالمان دالله تعالی له ايتونو نه منکردي.

لهذاکوم کسان چې په الله تعالی باندې د ایمان لرلو او د کلام الله د منلو دعوه کوي .هغوی ته به خامخا په رسول او کلام رسول ﷺ باندې هم ایمان راوړل وي .که نه د هغوی د ایمان دادعوه غلطه ده

دکوم تنظیم چې تاسو ذکر کړی دی د دې عقائدو لرونکي مسلمانان نه دي .ځکه چې دوی د دین د پوره عمارت دراغورځولو کلکه اراده کړې ده .نور داچې دوی د ټولو شعائر اسلام او قران او حدیث او انبیاء ، او په هغوی باندې نازل شویو کتابونو نه انکار کړی دی او کوم کسان چې د اسلامي عقیدې نه انکار وکړي او په هغه کې باطل تاویلات وړاندې کوي او خپل کفر ته د اسلام جامه ورکوي .هغوی ملحد او زندیق دي .[1] او د کافر او مرتد نه زیات بد دي .ځکه چې هغوی د چیلی (بزې) په نامه د خنزیر غوښه خرڅوي او امت مسلمه ته دوکه ورکوي او د هغوی اسلام خرابوي. په همدې وجه که زندیق ونیول شي او توبه او باسی .نو د هغه د توبې اعتبار نشته[2]. د حکومت پاکستان فرض دي چې د اسې کسان د الحاد او زندیقت نه منع کړي که دوی منع شي .نو ښه ده ،که نه د اسلامي قانون مطابق په ارتداد دې دوی ته د زندقیت سزا ورکړل شي.

د اهل ایمان دوی سره رشته او تعلق جائز نه دی .که په دوی کې د چا په نکاح کې څوک مسلمانه ښځه وي .نو د هغې نکاح هم فسخ کیږي.[3]

او پاتې شوه د مناظرې خبره ،د اسې کسانو سره مومناظرې هم وکړلې ،خو دوی په زړونو کې چې کومه خبره ښنه شوې ده هغه یواځې د قبر خاوره او د جهنم اور لېرې کولی شي .والله اعلم

د دارالعلوم کراچی ځواب

الجواب حامداً مصلیاً

۱.۲: په سوال کې ذکر شوي اکثر عقائد د قران ، سنت او اجماع امت د تصریحاتو او موقف نه بالکل خلاف دي، له دې وجې نه که په یقین سره دیو کس د اسې عقائد وی. نو هغه کافر او د اسلام له دائره نه خارج دی او د دې منونکي هم کافران او د اسلام له دائره نه خارج دي.

مذکوره نظریات او عقائد د قران او سنت سره باطل دي لاندې ترتیب او تفصیل سره دې وکتل شي

---

[1] قد ظهر ان الکافر اسم لمن لاایمان له....وان کان مع اعترافه بنبوة النبی صلی الله علیه وسلم واظهاره شعائرالاسلام یبطن عقائد هی کفر بالاتفاق خص باسم الزندیق. (شرح مقاصد ج۲ ص۲۶۸)

[2] ان الزندیق لو تاب قبل اخذه. ای: قبل ان یرفع الی الحاکم تقبل توبته عندنا وبعده لا اتفاقاً. (فتاوی شامی ج۴ ص۲۳۶، مطلب مهم فی حکم ساب الانبیاء)

[3] مایکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح ...الخ (فتاوی شامی ج۴ ص۲۴۶، عالمگیری ج۲ ص۲۸۳)

۱: دا (ویل چې قران پاک ته په مختلفو زمانوکې مختلف نومونه ورکړل شوي دي، کله تورات، کله انجیل، کله زبور اوپه مختلفو زمانوکې مختلف کتابونه نازل نه دي شوي) دا کفریه عقیده ده، ځکه چې دا دامت اجماعي عقیده ده چې دصحف اسماني نه پرته څلور اسماني کتابونه دي اوپه قران کریم کې ددې تصریح موجوده ده .له قران کریم نه پرته درې اسماني کتابونه نوردي، په کوم کې چې تورات په موسی علیه السلام .انجیل په حضرت عیسی علیه السلام اوزبورپه حضرت داود علیه السلام باندې نازل شوي وو. لهذا دقران نه پرته مذکور درې کتابونه دمستقل وجودنه انکارپه حقیقت کې دقران کریم دوجودنه انکاردی، په کوم کې چې ددې کتابونودمستقل وجود ذکردی، په لاندې ډول ددې ایتونه اوترجمې وګورئ:

"وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ *مِنْ قَبْلُ هُدًى لِلنَّاسِ". (ال عمران ۳، ٤)

ترجمه: اوهغه له دې نه وړاندې تورات اوانجیل نازل کړي دي ، دخلکودهدایت له پاره. (ترجمه حضرت تهانوي رحمة الله)

"وَمَا أُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ وَالْإِنْجِيلُ إِلَّا مِنْ بَعْدِهِ". (ال عمران :۶۵)

ترجمه: او تورات او انجیل له هغه نه وروسته نازل شوي دي. (ترجمه حضرت تهانوي رحمة الله)

"وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُور". (المائده:٤۶)

ترجمه: اومونږ هغه ته انجیل ورکړ، چې په هغه کې هدایت اورڼا وه.

"وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الْإِنْجِيلِ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِ". (المائده :٤٧)

ترجمه: اوانجیل والاوو ته پکارده چې الله تعالی په دې کې څه نازل کړي دي، دهغه موافق فصله وکړي.

"وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ". (المائده: ۱۱۰)

ترجمه: اوچې ما تاته دکتاب اوپوهې دخبرو اوتورات اوانجیل تعلیم درکړ.

"الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ". (الاعراف :۱۵۷)

ترجمه: اوهغه کسان چې دداسې رسول نبي امي اتباع کوي ،کوم چې هغوی دخپل ځان سره په تورات اوانجیل کې لیکل شوی موندلی دی.

"وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ". (الانبياء :۱۰۵)

ترجمه: او موږ (ټولو اسماني) کتابونه کې په لوح محفوظ کې (لیکلو) نه وروسته لیکلي دي چې د ځمکې (جنت) مالکان به زما نیک بندګان وي.

"وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَىٰ بَعْضٍ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا ".(الاسراء:٥٥)

ترجمه: او بې شکه موږ بعضو نبیانو ته په بعضو باندې فضیلت ورکړ او موږ دواد (علیه السلام) ته زبور ورکړی دی.

" فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ".(ال عمران :٩٣)

ترجمه: بیا تورات راوړئ! هغه ولولئ که تاسو رښتوني یئ.

"وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرَاةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ ". (المائدة:٤٣)

ترجمه: او هغوی په تاسو (صلی الله علیه وسلم) باندې څنګه فیصلې کوي حالانکه هغوی سره تورات شته په کوم کې چې د الله تعالی حکم دی. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله علیه)

"إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ". (المائده: ٤٤)

ترجمه: موږ تورات نازل کړی و او په هغه کې هدایت او رڼا وه.

"وَقَفَّيْنَا عَلَىٰ آثَارِهِمْ بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ". (المائده:٤٦)

ترجمه: او موږ هغوی پسې ورو سره عیسی بن مریم په د سې حالت کې ولیږه چې هغه له خپل ځانه مخکې د تورات تصدیق کاوو (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله علیه)

"إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ".(الصف:٦)

ترجمه: زه تاسو ته د الله تعالی رالیږل شوی استازی یم. چې زمانه مخکې کوم تورات (راغلی) دی زه د هغه تصدیق کونکی یم. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله علیه)

"وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا". (النساء :١٣٦)

ترجمه: او کوم کس چې د الله تعالی نه ، د هغه له فرښتونه، د هغه له کتابونونه، د هغه له رسولانونه او د قیامت له ورځې نه انکار وکړي . بې شکه هغه کس په ګمراهۍ کې ډیر لیرې پریوت. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله علیه)

"كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ" . (البقره:٢٨٥)

ترجمه: ټول ایمان لري الله تعالی باندې. د هغه په فرښتو . د هغه په کتابونو او د هغه په پیغمبرانو باندې.

اودا ويل چې: قران په کوم وخت کې لو ستل کيږي، نو په هغه باندې هم هغه وخت
کې نازليږي او ،،قل،، هم دهغه له پاره ويل کيږي چې بې لولي،،، داهم دتعبير په لحاظ سره
غلط دي،ځکه چې قران کريم يوځل په حضور ﷺ باندې پوره نازل شوی دی او ددې اولين او
اخرين مخامخ مخاطب حضور ﷺ دی ، اوس بې چې کوم کس لولي هغه دقران اولين او
مخامخ مخاطب نه دی،بلکې دحضور ﷺ په واسطې سره مخاطب دی اوهم په دې اعتبار
سره خپل ځان مخاطب ګڼل پکاردي.

۲: داعقيده هم کفريه ده (چې دنبيانو هيڅ مستقل وجودنه و) ځکه چې دقران کريم ګڼ
شمير ايتونه په دې باندې دلالت کوي چې دانبياوو مستقل وجود و،هغوی دنيانه دخلکو
دهدايت له پاره راليږل شوي وو اودبشريت په اعلی مقام باندې فائز وو،هغوی د عامو
انسانانو په شان په دنياکې وخت تيرکړ، په هغوی کې بشري حوائج اومادي صفات موجود
وو ، هغوی به خوراک څښاک کاوو،هغوی نکاح ګانې هم کولې اوالله تعالی دهغوی په لاسو
معجزات هم ښکاره کړل، هغوی دالله تعالی په لاره کې جهادهم وکړ، داټول شيان داسې دي
چې دخپل وجودله پاره دمادي اومستقل وجودغوښتنه کوي اوله دې نه پرته ددې وجوداوپه
ظهور کې راتګ محال دی ،لهذا داوينا چې: دانبياوو مادي وجودنشته،په قران کې هغوی
يواځې دفرضي قيصوپه صورت کې موجوددي، دا بالکل غلط اودقران اوسنت دنصوصو نه
خلاف دي،په دې سلسله کې په لاندې ډول دقران ايتونه وګورئ:

"كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ". (البقره:۲۱۳)

ترجمه:اول خلک په يو دين باندې وو(بياکله چې اختلاف پيداشو) الله تعالی نبيان
راولېږل، زيري ورکونکي او وېرونکي وو اوله هغوی بې برحق کتابونه نازل کړل،چې
داختلافاتو په هکله دخلکو ترمنځه فيصلې وکړي.

"وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ ".(الانعام:٤٨)

ترجمه: موږ پيغمبران يواځې ددې له پاره راليږلي دي ،زيری ورکونکي او وېرونکي.

" يَامَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا ".(الانعام:۱۳۰)

ترجمه: اې دپيريانو اوانسانانو ډلې:ايا تاسوته ستاسونه پيغمبران راغلي نه وو؟چې
تاسوته به بې زمااحکام بيانول اوتاسوته به بې ددنن ورځې له ملاقات نه بې وېرولئ.
(ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً". (الرعد:٣٨)

ترجمه: اومونږ يقيناً ستاسونه مخکې ډيررسولان راولیږل اومونږ هغوی ته ښځې اوبچي هم ورکړل. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله عليه)

"وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ".(النحل:٣٦)

ترجمه: اومونږ په هرامت کې يونه يو پيغمبررالیږلی دی چې تاسو دالله تعالى عبادت کوئ اودشيطان نه ځانونه ساتئ. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله عليه)

"وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا". (الاسراء:١٥)

ترجمه::اومونږ(کله)سزانه ورکوو، ترڅوپورې چې رسول ونه لیږو.

"وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ". (الفرقان:٢٠)

ترجمه: اومونږ چې ستاسونه مخکې څومره پيغمبران هم راليږلي وو، هغوی ډوډۍ هم خوړله اوبازارونوکې هم ګرځيدل. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله عليه)

وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِنْ نَبِيٍّ فِي الْأَوَّلِينَ * وَمَا يَأْتِيهِمْ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ (الخزفرف:٧،٦)

ترجمه: اومونږ مخکينو خلکوته هم ډيرپيغمبران ليږلي وو اودې خلکوته هيڅ يونبي داسې نه دی راغلی، چاپورې چې دوی ټوکې نه وي کړې.

"كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ".(البقره:١٥١)

ترجمه: څنګه چې په تاسوکې مونږ يوعظيم الشان نبي درولیږه، چې تاسوته زمونږ ايتونه(احکام)دراوروي اودجهالت نه ستاسوصفايي وکړي اوتاسوته دالله تعالى دکتاب اوپوهې خبرې ښيي اوتاسوته دداسې ګټوروخبروتعليم هم درکوي چې تاسوته پرې خبر نه و. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله عليه)

"وَقَالُوا مَالِهَذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ".(الفرقان:٧)

ترجمه: اودا(کافر)خلک (درسول الله صلى الله عليه وسلم په باره کې)داسې وايي چې په دې رسول باندې څه وشول (چې زمونږ په شان) خوراک کوي اوپه بازارونوکې ګرځي. (ترجمه حضرت تهانوی رحمة الله عليه)

"لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ". (ال عمران:١٦٤)

ترجمه: بې شکه الله تعالى په مسلمانانوباندې احسان کړی دی، چې په دوی کې يې ددوی

(د خپل قوم) نه پېغمبر رالېږلى دى ،چې هغوى ته د الله تعالى ايتونه اوروي او د دوى صفايي كوي او دوى ته د كتاب او حكمت خبرې ورښيي.

"هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ". (الفتح:٢٨)

ترجمه: هغه داسې الله دى ،چې خپل رسول ته يې هدايت ورکړ ،رښتونى دين (يعني اسلام) يې ورکړ او دنيا ته يې راولېږه چې په ټولو دينونو باندې يې غالب کړي. (ترجمه حضرت تهانوى رحمة الله عليه)

" رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ لِيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ".(الطلاق :١١)

ترجمه: يو رسول مو (ولېږه) چې تاسو ته د الله تعالى څرګند احكام اوروي ،چې داسې كسان ثوک چې ايمان راوړي او ښه عمل وکړي د كفر او جهل د تيارونه د نور طرف ته راوباسي.

"لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ".(التوبه:١٢٨)

ترجمه:(اې خلكو)تاسو ته يو داسې پيغمبر راغلى دى چې ستاسو د جنس (بشر) نه دى،ثوک چې ستاسو د نقصان خبرې يې خفه كوي او ستاسو د ګټې د خبرو ډېر خواهش مند دى.(دا حالت خو د ټولو سره دى خو) په ايمان دارو ډېر زيات شفيق او مهربانه دى.

"يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ". (الحجرات:٣)

ترجمه:: اې ايمان والاوو!تاسو خپل غږونه د پيغمبر له غږ نه مه پورته کوئ او مه له هغه سره داسې خبرې کوئ څنګه چې تاسو په خپل مينځ کې کوئ.

په قران كريم كې حضور صلى الله عليه وسلم په زمانه حال كې مخاطب شوى دى،د دې وجه داده چې په كوم وخت كې د قران كريم نازليدل په حضور صلى الله عليه وسلم باندې شروع و ،په هغه وخت كې حضور صلى الله عليه وسلم د مادي وجود سره په دې دنيا كې موجود و. له دې وجې نه په زمانه حال كې د حضور صلى الله عليه وسلم سره خطاب شو ،د دې دا مطلب نه دى چې هغه د روح په حيث هرچېرته موجود دى.

دا عقيده ساتل چې په قران شريف كې د حال صيغه استعمال شوې ده. څكه نو حضور صلى الله عليه وسلم د روح په حيث هرچېرته موجود دى او د مادي وجود نه پاک دى.د قران او سنت د صريحو نصوصو او د اهل سنت والجماعت د موقف خلاف دي.عالمان ليكي: چې كه ديو كس دا عقيده وي چې څنګه الله تعالى هر وخت په هر ځاى كې موجود دى، همدارنګه حضور صلى الله عليه وسلم هم هر وخت په هر ځاى كې موجود دى، نو دا ښكاره شرک دى او د نصاراوو په شان رسول ته خدايي درجه وركول دي او كه يو كس د دې تاويل سره دا عقيده لري، نو بيا هم د دې عقيدې

په غلط اوفاسدکیدوکې هیڅ شک نشته اوداسې کس ګمراه دی.(وګورئ :جواهرالفقه:ج:۱ ص:۱۱۵ تبریدالنواظر مصنف مولانا سرفرازصاحب مدظلهم)

۴: داهل سنت والجماعت متفقه عقیده ده چې حضورﷺ په مجموعي حیث سره دټولو نبیانو نه افضل دی[۱].خوکه په ځینوجزئیاتواوواقعاتوکې که یونبي ته څه فضیلت حاصل دی، نوهغه ددې سره معارض نه دی. څنګه چې حضرت موسیٰ علیه السلام ته د خبرو کولو شرف حاصل دی اوحضرت ابراهیم علیه السلام ته د..خلت.. صفت حاصل دی اوداسې نور... .داټول جزئي فضیلتونه دحضورﷺ دمجموعي فضیلت خلاف اوله هغه سره معارض نه دي.

اودا ویل چې:دحضورﷺ په باره کې چې څومره احادیث، تاریخ اوتفسیر موجود دي. هغه دانسانانوجوړې شوې قیصې دي. په حقیقت کې دحدیثونونه انکاردی،کوم چې بنده کفر دی[۲].دامت محمدي په دې باندې اجماع ده چې حدیث،دقران کریم نه وروسته ددین دویم اهم ماخذدی[۳].قران کریم چې څنګه دالله رب العزت داحکامو واجب ګرځونکی دی[۴].همدارنګه درسول اللهﷺ افعال اواقوال یې واجب الاطاعت ګرځولي دي. لهذاپه قران پاک کې ډیرداسې احکام دي دکوموتفصیل چې په قران کې موجودنه دی. رسول اللهﷺ په حدیثونوکې ددې تفصیلات اوپه دې باندې دعمل کولوطریقه په خپل قول اوفعل سره بیان کړې.که احادیث انسانانوخپله جوړکړي دي. نودقران کریم په داسې احکاموباندې به دعمل کولو طریقه څنګه وي؟اوموږ ته به داڅنګه معلوم شي؟

الله رب العزت چې څنګه دقران کریم دالفاظودحفاظت ذمه اخیستې ده، همدارنګه یې دقران پاک دمعنا دحفاظت ذمه هم اخیستې ده اودقران پاک دمعناوو تعلیم دحدیثوپه ذریعه شوی دی. اوپه کوموذرائعوچې قران کریم موږته راسیدلی دی، نو په دغو ذرائعو احادیث هم موږ ته رارسیدلي دي.که دا احادیث دځان نه جوړ شوي وي اوذرائع یې قابل

---

[۱] والفضل الانبياء محمد عليه السلام ،لقوله تعالى : كنتم خير امة.....وذلک تابع لكمال نبيهم الذى يتبعونه ......الخ (شرح عقائد ص:۲۱۵،طبع ايچ ايم سعيد)

[۲] من انكر المتواتر فقد كفرومن انكر المشهور يكفر عندالبعض وقال عيسى بن ابان يضلل ولا يكفر وهو الصحيح ومن انكرخبرالواحد لا يكفر غيرانه ياثم بترک القبول هكذا فى الظهيرية(فتاوى عالمگيرى ج:۲،ص:۲۶۵)

[۳] واعلم ان من يعتد بعلمه من العلماء قد اتفق على ان السنة المطهرة مستقلة بتشريع الاحكام وانها كالقرآن فى تحليل الحلال وتحريم الحرام، وقد ثبت انه عليه السلام قال اوتيت القرآن ومثله معه اى واوتيت مثله من السنة التى لم ينطق بها القرآن (تيسيرالاصول الى علم الاصول ص:۱۳۷،طبع ادارة الصديق ملتان)

[۴] قال اطيعوالله والرسول (آل عمران :۳۲) يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ (النساء:۵۹) اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَه وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ (الانفال :۲۰)

اعتمادنه وي، نو دا امکان په قران کريم کې هم کيداى شي. نو قران کريم لره هم ـ نعوذبالله ـ دخان نه جوړ کړل شوی ويل به لازم وي. لهذا په دې کې هيڅ شک نشته چې څنګه قران کريم تراوسه پورې محفوظ راروان دی همدارنګه احاديث هم محفوظ راروان دي او الله تعالی ددې دحفاظتې مثاله انتظام کړی دی. دکومو تفصيل چې دتدوين حديث دتاريخ نه معلوميږي. لهذا حديثونو ته دانسانانو له ځان نه جوړې شوې قيصې ويل صريحه ګمراهي اوښکاره کفردی.

دنور تفصيل له پاره وګورئ حجيت حديث. مصنفه مولانا محمد تقي عثماني صاحب مدظلهم. ،کتاب حديث عهد رسالت وعهد صحابه مين. ،مصنفه مولانا محمد رفيع عثماني صاحب مدظلهم. حفاظت وحجيت حديث، ،مصنفه مولانا فهيم عثماني صاحب.

۳: مسلمانانو ته پکاردي چې کوم کس يا تنظيم دداسې عقائدو والا وي دهغوی سره دې دهيڅ قسمه تعلق نه ساتي اودهغوی دلټريچر او کيسټو وغيره نه دې مکمل احترازکوي. په خپله دې ځانونه ساتي اودنورو دبچ کولو کوشش دې هم کوي اودحکومت دواکدارانو توجه دې دداسې تنظيمونو طرف ته راګرځوي چې په دوی باندې پابندي ولګول شي.

۴: کوم کس چې مذکور عقائدپرته دځه مناسب دليل نه مني هغه کس مرتد او اسلام نه خارج دی اودهغه مسلمانه ښځه دهغه دنکاح نه ووتله اوس دهغه په عقدکې يوه مسلمانه ښځه نه شي پاتې کېداى اونه ديوې مسلمانې ښځې سره يې نکاح کيدلی شي.

دپورته ذکرشوي کس عقائد دقران اوسنت، اجماع امت اوداکابروعلماووا هل سنت والجماعت دتصريحاتو خلاف دي، ددې له پاره لاندې ذکرشوي تصريحات وګورئ:

في شرح العقائد ٢١٧: ولله تعالى كتب أنزلها على أنبياءه، وبين فيها أمره ونهيه ووعده ووعيده وكلها كلام الله تعالى..... وقدنسخت بالقران تلاوتها وكتابتها بعض احكامها، وفي الحاشية قوله ،،ولله كتب،، ركن من أركان مايجب به الإيمان مما نطقت النصوص القرانية والأخبار النبوية.

ترجمه: شرح عقائد ص: ۲۱۷ کې دي چې: دالله تعالى (دقران نه پرته) نورکتابونه هم دي، کوم چې الله تعالى په خپلو نبيانو باندې نازل کړي دي اوپه دې کتابونوکې يې امر اونهې، وعده او وعيدونه بيان کړي دي اوداټول کتابونه کلام الهي دی اودقران کريم په نازليدو باندې ددې سابقه کتابونو تلاوت اوددې ځينې احکام منسوخ شول اوپه حاشيه کې دي چې: قوله، ،ولله کتب، ،يعنې دايمان په ارکانوکې يورکن دادی چې په دې سابقه کتابونو باندې ايمان راوړل شي دکومو باره کې چې په قران کريم او احاديث نبوي کې شهادت موجود دی.

وفيه ص: ٤٥: والرسول انسان بعثه الله تعالى الى الخلق لتبليغ الأحكام.

ترجمه: او په شرح عقائد ص: ۴۵ کې دي چې: رسول هغه انسان ته وايي: څوک چې د الله تعالى د مخلوق طرف ته د تبليغ او احکامو رسولو له پاره مبعوث شوی وي.

وفي شرح المقاصد ج: ٥ ص: ٥: النبي انسان بعثه الله تعالى لتبليغ ماأوحى إليه وكذا الرسول.

ترجمه: او په شرح مقاصد کې ج: ۵ ص: ۵ کې دي چې: نبي هغه انسان ته وايي: کوم چې د الله تعالى د احکامو د تبليغ له پاره راليږل شوی وي، چې د هغه طرف ته وحې کيږي او د رسول تعريف هم دغه دی.

وفي شرح العقيدة الطحاوية لإبن أبي العز: ص: ٢٩٧٠: قوله: ونؤمن بالملئكة والنبيين والكتب المنزلة على المرسلين نشهد أنهم كانوا على الحق المبين، هذه الأمور من أركان الإيمان .قال تعالى: " آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ". (البقره:٢٨٥)

وقال تعالى: "لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ ".(البقره :١٧٧)

فجعل الله سبحانه وتعالى الإيمان هو الإيمان بهذه الجملة وسمى من آمن بهذه الجملة مومنين، كما جعل الكافرين من كفر بهذه الجملة بقوله: " وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ".(النساء :١٣٦)

ترجمه: او د ابن ابي العز په شرح عقيده طحاويه ص: ۲۹۷ کې دي چې: موږ ايمان راوړو په ملائکو باندې، په نبيانو باندې او په هغوی باندې نازل شويو کتابونو باندې او موږ ګواهي ورکوو چې هغه (رسولان) ټول په حق باندې وو او دا ټول امور د ايمان ارکان دي، د الله تعالى ارشاد دی : پيغمبر په هغه کتاب باندې ايمان راوړی دی کوم چې هغه ته د خپل پروردګار له خوا ورکړل شوی و او مومنانو هم پرې ايمان راوړی دی، دې ټولو په الله تعالى، د هغه په فرښتو، د هغه په کتابونو او د هغه په پيغمبرانو باندې ايمان راوړی دی او د هغه په پيغمبرانو کې په چا کې تفريق نه کوي.

او د الله تعالى ارشاد دی : په دې کې نيکي نشته چې تاسو واړوی مو خونه خپل مشرق يا مغرب طرف ته ،بلکې نيکي خو داده چې يو کس ايمان راوړي په مضبوط يقين سره په الله تعالى، په ورځ د قيامت ،په فرښتو ،کتابونو او پيغمبرانو باندې.

له دې دلائلونه معلومه شوه چې الله تعالى ايمان هم دغه شيان ګرځولي دي. چې په دې ټولو شيانو باندې ايمان وي او الله تعالى په قران کريم کې ،،مومنين،، نوم هم دغو کسانو ته ورکړی دی، چې په دې ټولو شيانو باندې ايمان لري څنګه چې: ،،کافرين،، هغه

خلکو ته ویل کیږي . چې د دې ټولو شیانو نه انکار کوي څنګه چې د الله تعالی ارشاد دی: څوک چې له الله تعالی . د هغه له فرښتو .کتابونو .رسولانو او د ورځې د قیامت نه انکار وکړي. یقینا هغه د حق له لارې ډیر لیرې دی

وقال في الحديث المتفق على صحته، حديث جبريل، وسواله للنبي صلى الله عليه وسلم عن إيمان فقال:أن تؤمن بالله وملئكته وكتبه ورسله.....الخ.فهذه الأصول التى اتفقت عليها الأنبياء والرسل صلوات الله عليهم وسلامه ،ولم يؤمن بها حقيقة الإيمان إلا اتباع الرسل.

ترجمه:په حدیث جبریل(د کوم په صحت باندې چې بخاري او مسلم متفق دي)کې دي چې حضرت جبرایل علیه السلام د حضرت محمد ﷺ نه د ایمان په باره کې پوښتنه وکړه. نو حضور ﷺ وفرمایل :ایمان دادی، چې ته ایمان راوړې په الله تعالی،د هغه په فرښتو . د هغه په ټولو کتابونو او په ټولو رسولانو باندې. دا هغه اصول دي په کوم باندې چې د ټولو رسولانو او پیغمبرانو(صلوات الله علیهم وسلامه) اتفاق دی اوپه دې باندې چا په صحیح معنا کې ایمان نه دی راوړی .خو یوازې هغو چې د نبیانو او رسولانو صحیح اتباع کونکي دي.

وفيه ص:٣١١:وأما الأنبياء والمرسلون فعلينا الإيمان بمن سمى الله تعالى في كتابه من رسله،والإيمان بأن الله تعالى أرسل رسلا سواهم وأنبياء لا يعلم أسماء هم وعددهم إلاالله تعالى،الذي أرسلهم ،،،وعلينا الإيمان بأنهم بلغوا جميع ما أرسلوا به على ما أمرهم الله به وأنهم بينوه بيانا لايسع أحدا ممن أرسلوا إليه جهله ولا يحل خلافه.....الخ.

......"وأما الإيمان بالكتب المنزلة على المرسلين فنؤمن بماسمى الله تعالى منها في كتابه من التوراة والانجيل والزبور،ونؤمن بأن الله تعالى سوى ذلك كتبا أنزلها على أنبياءه لا يعرف أسمائها وعددها إلاالله تعالى."

ترجمه: او د دې کتاب په صفحه ۳۱۱ کې دي چې :په رسولانو او نبیانو باندې. زموږ په ذمه واجب دي چې په دوی کې په هغه ټولو باندې ایمان راوړو چې قران کریم کې الله تعالی ذکر کړي دي.(همدارنګه)په دې باندې هم ایمان راوړو چې الله تعالی له دوی نه پرته نور نبیان اورسولان هم رالیږلي وو چې د هغوی په نومونو او تعداد باندې الله تعالی ښه پوهیږي،یعنې د الله تعالی نه پرته بل څوک نه پوهیږي اوپه موږ باندې لازم دي چې موږ په دې خبره باندې ایمان راوړو چې الله تعالی نبیانو ته د کوم احکامو رسولو حکم ورکړی و دوی نبیانو هغه ټول احکام رسولي وو اودوی هغه ټول احکام دومره واضح او ښکاره بیان کړي وو ،چې په امت کې د نا خبره نه ناخبره کس ته هم څه شک پاتې نه شو او د دې خلاف کول حلال پاتې نه شو.

او په هغه کتابونوباندې ایمان راوړل کوم چې په رسولانوباندې نازل شوي وو، نوموړ په هغه ټولوکتابونوباندې ایمان راوړو.دکوموچې الله تعالی په قران کې نومونه اخستي دي.یعني تورات،انجیل اوزبور اوموږ ایمان راوړودالله تعالی له ذکرشوي کتابونونه پرته په نوروکتابونو هم . چې په خپلونبیانوباندې یې نازل کړي دي دکومو نومونه اوتعداد چې بې دالله تعالی نه بل چاته معلوم نه دی.

وفي شرح العقيدة الطحاوية للميداني ص:١٠٤:والإيمان المطلوب من المكلف هوالإيمان بالله وملئكته وكتبه بأنها كلام الله تعالى الأزلي القديم المنزه عن الحروف والأصوات وبأنه تعالى،أنزلها على بعض رسله بألفاظ وحادثة في ألواح أوعلى لسان ملك وبأن جميع ماتضمنته حق وصدق .ورسله بأنه أرسلهم إلى الخلق لهدايتهم وتكميل معاشهم معادهم وأيدهم بالمعجزات الدالة على صدقهم فبلغوا عنه رسالته........الخ.

ترجمه::اودمیداني په شرح طحاویه ص:۱۰۴ کې دي: مکلف (یعني انسانان اوپیریان) نه چې کوم ایمان مطلوب دي هغه دادي چې: په الله تعالی،دهغه په فرښتواودهغه په ټولو کتابونو باندې ایمان راوړل اوداسې ایمان راوړل چې دادالله تعالی کلام،کلام ازلي اوقدیم دی، کوم چې دحروف اواواز نه پاک دی، نوداچې الله تعالی دا کلام په خپلو ځینو نبیانو رسولانوباندې دتختو اوالفاظوپه صورت کې نازل کړي و،یادفرښتې په ژبه یې نازل کړ، نور داچې هغه ټول کلام چې په کتاب باندې مشتمل دي حق اوصادق دي اودالله تعالی رسولان څوک چې الله تعالی دمخلوق طرف ته دهدایت اوتکمیل معاش ومعادله پاره رالیږلي وو او ددوی یې په داسې معجزاتوسره تائیدوکړ.کومې چې ددې نبیانوپه صدق باندې دلالت کوي.دې نبیانودالله تعالی پیغام ورساو.

قال القاضي عياض في شرح الشفاء ص:٣٣٥:واعلم أن من استخف بالقرآن اوالمصحف أوبشيء منه أوسبه أوجحده أوحرف منه أو آية أوكذب به أوبشيء مما صرح به فيه من حكم أوخير أوخبر أوأثبت مانفاه اونفي ما أثبته على علم منه بذلك أوشك في شيء من ذلك فهوكافر عندأهل العلم بإجماع.

ترجمه:علامه قاضي عیاض شرح شفاء ص:۳۳۵ کې لیکلي : پوهه شئ چا چې قران کریم یایومصحف یادقران څه شی سپک وګڼه یایې قران ته کنځل وکړل. یا دیوې برخې نه یې انکار وکړ یادیوحرف .یا دیوایت یې نه یې انکاروکړ،یادقران دڅه داسې برخې نه یې انکاروکړ په کوم کې چې دڅه حکم یا خبر صراحت وي یاڅه داسې حکم یاخبریې ثابت کړ دکوم چې قران نفي کوي، یا داسې شی یې قصداً نفې کړ له کوم چې له قران نه ثابت دی،

یادقران په څه شی کې یې شک وکړ. نو داسې کس بالاجماع داهل علم په نزد کافر دی

وفي شرح العقائد ص: ٢١٥: وأفضل الأنبياء محمد صلى الله عليه وسلم، لقوله تعالى: ،، كنتم خير امة،، ولاشك أن خيرية الإمة بحسب كمالهم في الدين وذلك تابع لكمال نبيهم الذي يتبعونه.

ترجمه: شرح عقائد ص: ۲۱۵ کې دي چې: په نبيانوکې دټولونه افضل حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دی، دالله تعالى د دې قول له وجې نه چې (تاسو بهترين امت يې) او په دې کې هيڅ شک نشته، چې د دې امت بهتر والی په دين کې د دوی دکمال په اعتبار سره دی او د دې امت په دين کې کامل کيدل دا تابع دي د هغه نبي دکمال دچا چې دوی اتباع کوي.

وفي المشكوة: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أنا سيد ولد آدم يوم القيامة وأول من ينشق عنه القبر وأول شافع وأول مشفع. (رواه مسلم)

ترجمه: او په مشکوة شريف کې دي: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه به دقيامت په ورځ د ادم دا ولاد سرداريم، زه به اولنی هغه کس يم دچا چې قبر اول پرانستل شي او زه به دټولونه مخکې شفاعت کونکي يم او دټولو نه مخکې به زما شفاعت قبول شي.

وفي المرقاة ج: ٨ ص: ١٠: في شرح مسلم للنووي.... وفي الحديث دليل على فضله على كل الخلق لأن مذهب أهل السنة أن الآدمي أفضل من الملئكة وهو أفضل الآدميين بهذا الحديث.

ترجمه: او په مرقاة ج: ۷ ص: ۱۰ کې دي چې: داحديث دحضور صلى الله عليه وسلم په ټول مخلوق باندې دفضيلت دليل دی، ځکه چې داهل سنت مذهب دی چې انسان دملائکونه افضل دی او حضور صلى الله عليه وسلم د دې حديث په وجه دټولو انسانانو نه افضل دی، (نوګويا حضور صلى الله عليه وسلم دټولو مخلوقاتونه افضل شو).

غرض داچې داکس ضال ومضل اومرتد اوزنديق دی. د اسلام او قران په نامه د مسلمانانو په دين اوايمان باندې ډاکه اچوي او سادګانو مسلمانانو ته دنبي اخرالزمان صلى الله عليه وسلم يرحمت له لمنې پرې کوي او په ځان پسې يې لګول غواړي.

په حکومت پاکستان باندې فرض دي چې فورا دې د دې فتنې مخه و نيسي او د دې بې دينه په سرګرموباندې دې پابندي ولګوي، دوی ته دې داسې عبرتناکه سزاورکړل شي چې د دوی اينده نسلونه يې هم ياد وساتي اوڅوک بدبخت اينده داسې جرات ونه کړي.

نورداچې له دوی نه دې داهم معلوم شي اوداتحقيق دې ترې وشي چې دکومو قوتونو په اشاره باندې داخلک پاکستان کې اوپه مسلمانانوکې داضطراب اوبې ارامي فضاء پيدا کول غواړي؟

صحيح بخاري باندې د عدم اعتماد تحريک

سوال: مسئله داده چې دصحيح بخاري په رواياتو او اسنادو باندې دعدم اعتماد تحريک روان دی. ددې تحريک ترشا چې کوم خلک دي دهغوی فهرست او تفصيل کافي اوږد دی، په هرحال دنمونې په ډول يو اخې يومثال درته وړاندې کوم. اداره فکراسلامي جنرل سيکرټري جناب طاهر المکي صاحب، جناب عمراحمد عثماني صاحب کتاب،رجم اصل حد ياتعزير. .په تعارفي يادښت کې ليکي:

داهل حديث حضراتو نه پرته دنوراسلامي فکرخصوصا داحنافو دامام بخاري په تحقيقاتو په باره کې چې کوم نقطه نظردی. هغه مولاناعبدالرشيدنعماني مدرس جامعه بنوري ټاون.علامه زاهد الکوثري مصري اوانورشاه کشميري له کتابونو نه ظاهر دی.

دمولاناعبدالرشيدنعماني دتحقيقاتو نو يو اخې يواقتباس وګورئ:

..ايا دوه تهائی بخاري غلط دی،،،

ترجمه. علامه مقبلي په خپل کتاب ،،الأرواح التوفخ،،کې ليکي::

يوډيرزيات دين دار اوباصلاحيته کس مانه دعراقي ،الفيه،،(کوم چې په اصول حديث کې دی)ولوست اوزموږ ترمينځه دصحيحينو په مقام اومرتبه اوپه خاصه توګه دبخاري درواياتو په باره کې خبرې اترې وشولې، نوهغه صاحب حضورﷺ په خوب کې وليده اودحضورﷺ نه يې پوښتنه وکړه چې ددې کتاب يعني خصوصاً دبخاري دکتاب په باره کې څه حقيقت امردی؟

حضورﷺ وفرمايل :دوتهائی غلط دي.

په خوب کې دليدونکي غالب ګمان دادی چې درسول اللهﷺ دا ارشاد دبخاري دراويانو په باره کې دی،يعنې په هغوی کې دوه تهائی راويان غيرعادل دي، ځکه چې په بيدارئ کې زموږ موضوع اوبحث دبخاري راويان وو، والله اعلم،(وګورئ دمقبلي کتاب الارواح التوافخ، ص: ٦٨٩،٦٩٠)

په دې عجيبه دليل باندې ظاهر المکي صاحب ليکي:

دادبخاري په فني طورسره دټولونه دزيات صحيح کيدو حقيقت، ددې په ايډيټ کولو کې دمولاناعبدالرشيدنعماني سره دجامعه بنوري ټاون مفتي ولي حسن هم شامل دی، ځکه چې دخپل حاشې په اخره کې نعماني صاحب دهغوی په شکريه اداکولو کې ويلي دي.عبدالرشيد صاحب فرمايي:

کله چې دبخاري دوتهائی راويان غيرعادل دي، نوددې درواياتو څه حيثيت دی.کوم چې يقيناً ددې دبخاري ددوتهائی نه زيات جوړيږي ځکه چې ډيرروايان داسې وي چې څوڅورو ايتونه بيانوي،(بحواله رجم اصل حده□ ياتعزير ص:٣٩)

محترم! اوس تاسو مانته ووايئ چې ايا پورته ذکرشوي حوالونه کوم بيان شوي دي ايا هغه صحيح دي يا غلط؟اوکه ستاسو په نزد صحيح وي. نو ايا زه د صحيح بخاري نسخې ضائع کړم؟ او ايا د مدرسو انتظامي ته د اخبار په ذريعه ترغيب ورکړم چې هغوی دې دخپلو مدرسو د نصاب نه صحيح بخاري خارج کړي؟زه اميدلرم چې تاسو به زما دشک خالص دالله تعالی درضاله پاره لرې کړئ.

جواب: پورته ذکرشوې خط ليدلو نه وروسته ما حضرت نعماني مدظله العالي په خدمت کې يوه عريضه وليکله کوم چې په دې لاندې ډول ده :

بسم الله الرحمن الرحيم

حضرت مخدوم ومعظم!مدت فيوضهم وبرکاتهم ،السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته۔

يو صاحب دطاهرالمکي په حوالې سره دجناب يو عبارت نقل کړی او دهغه په باره کې يې ګرم ګرم سوالونه کړي دي دادهغه کس څلورم خط دی مامناسبه وګڼله چې:**توجيه القول بما لايرضی به قائلة،،** په ځای ستاسو سره مشوره وکړل شي ،مختصرشان سره اشاره راته وکړئ چې دطاهرالمکي نقل ترکوم حدپورې صحيح دی؟اوددې صاحب اخذ شوې نتيجې سره دکوم حدپورې اتفاق کېدای شي؟ زه دهفتې په ورځ په سفرباندې تلونکی يم.له دې وجې نه زه ستاسو دخط ځواب سباختمول غواړم ،دنېکو دعاګانو غوښتنه هم کوم.

والسلام

خويدکم محمديوسف عفاالله عنه

حضرت موصوف مدظله العالي:په لاندې ډول ددې ځواب وليکه:

محترم! وفقني الله وايا کم لمايحب ويرضی!

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته

دې وخت کې په درس ګاه کې،،الأرواح النوافخ،،موجودنه دی، ،دراسات اللبيب، ،دمعين سندهي رحمه الله په تعليقاتو کې ډيروخت شوی دی چې دصحيحينو په بحث اختلاف کې مې ليکلي دي چې دتلقی مسئله اختلافي ده.په اختلافي حديثونوکې داجماع دعوه صحيح نه ده، په دې باندې بحث کولو کې چېرته ددغه خوب ذکرهم راغلی و،د،،الارواح،،مصنف علامه مقبلي اول زيدي و، بيا دمطالعې کولو نه وروسته سني شوی و اوبيا دعامو يمنيانو په شان لکه څنګه چې اميريماني،وزيريماني اوقاضي شوکاني وغيره دې غيرمقلدشوی و او هغه دتلقي رواة په سلسله کې ددې خوب ذکرکړی و ،دخوب چې څه حيثيت دی هغه ظاهر دی، درواة په تعديل اوتجريح کې اختلاف دشروع نه راروان دی.څنګه چې په څلورو واړو مذاهبوکې اختلاف دی،دې سره نه دڅه شی باطل کېدل لازميږي اونه په مختلفو

شیانو باندې اجماع، د دتلقي امت دبحث اصلي حقیقت دی، چې نه خودمتون ټول اُمت تلقي دي اونه په رواة باندې، څنګه چې دټولو اختلافي مسائلو حال دی.

دقران کریم ثبوت قطعي دی، خو ددې په تعبیراوتفسیرکې اختلاف دی، نوبیاایاددې اختلاف له وجې نه به قران کریم پرېښودل کیږي ؟هم دغه حال دمتون صحیحینو اورواة د صحیحین دی، چې نه خوددې متن دامت له پاره واجب العمل دی اونه ددې هرروای بالاجماع قابل قبول دی اوس منکرین حدیث په دې سلسله چې څه غوارې طریقه دې اختیار کړي . دقران کریم په تعبیراوتفسیرکې اختلاف و او وي به، درواياتودقبول، عدم قبول کې دمجتهدینو اختلاف و او وي به.

فمن شاء فليؤمن و من شاء فليكفر.

والسلام.

محمدعبدالرشیدنعماني.

۲۵_۲_۱۴۱۵هجري.

بسم الله الرحمن الرحيم

مکرم ومحترم !زیدلطفه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو دخط په ځواب کې ځامورمختصرا لیکم ،وزګار وخت راسره نشته که نه په دې موضوع به مې پوره مقاله لیکلې وه:

۱: ستاسودتحریک بنیاددطاهرالمکي صاحب هغه تحریردی دکومې حواله چې تاسوپه خط کې نقل کړې ده اُوتاسوپه دې تحریرباندې دومره باور وکړ، چې ددې په بنیادباندې زمانه پوښتنه کوئ چې:

دمذکوره حوالې نه چې څه بیان شوي دي اياهغه صحیح دي او که غلط؟که تاسو (یعني راقم الحروف)په نزدباندې صحیح هم وي، نوایازه دصحیح بخاري نسخې ضائع کړم؟ او ایا دمدرسوانتظامي ته داخبارپه ذریعه ترغیب ورکړم چې هغوی دخپلومدرسوله نصاب نه صحیح بخاري خارج کړي ؟

دطاهرالمکي صاحب په تحریرباندې دومره لویه فیصله کولونه مخکې تاسوته دا سوچ کول پکارو چې ددې صاحب تعلق خوچېرته دمنکرین حدیث دطبقې سره نه وي؟ او ایا داکس ددې نتیجې په اخذکولوکې دمکراوفریب نه خوکارنه اخلي؟

دطاهرالمکي تعلق چې دکومې طبقې سره دی مکراوفریب ددې طبقې عادت دی او اوریدل شوي دي چې دطاهرالمکي په نامه کې هم فریب دی، دده والدمرحوم میانجي جی عبدالرحیم

به په ، ،مكي مسجد كراچي، ،په مكتب كې ماشومانو ته سبق ښوده او د دوى رهائش ګاه هم دغلته وه،په دې دوران كې د اصاحب پيداشو او د مكي مسجد طرف ته نسبت سره علامه طاهرالمكي جوړشو او ريدونكي داسې ګڼي چې دې حضرت دمكې نه تشريف راوړى دى.

۲:د مولاناعبدالرشيدنعماني مدظله په حوالې سره هغه قطعا غلطه او ګمراه كونكې نتيجه اخيستې ده.څنګه چې د مولاناصاحب دخط نه ظاهره ده اول خو مقبلي زيدي او بيا غيرمقلد و. بيا دهغه حواله دخوب ده او هرچاته پته ده چې خوب په ديني مسائلو كې دليل نه دى[1]، بيا مولاناصاحب داحواله ظاهرولوله پاره نقل كړې ده چې درواة بخاري په باره كې دځينو خلكو دا رايه ده،مولاناعبدالرشيدنعماني مدظله العالي ديوې ديني مدرسې شيخ الحديث دى او كه دهغوى دارايه وي كومه چې تاسو دطاهرالمكي مكارانه عبارت نه ګڼلې ده ،نوهغوى به ستاسو دتحريک،عدم اعتماد، ،علمبرداروای،نه چې دصحيح بخاري ښودونكى شيخ الحديث.

۳:: طاهرالمكي امام العصرحضرت مولانامحمدانورشاه كشميري په كې هسې رانښكل كړى دى،حضرت دشلوكالونه زيات دصحيح بخاري درس وركړى دى او ددرس بخاري د شروع كولو مخكې يې ۱۳ځله دصحيح بخاري شريف په ښه غورسره مطالعه كړې ده او ددې دټولو وشرحويې په تدبراوغورسره مطالعه وكړه. دصحيح بخاري دوه لويې شرحې،فتح الباري او ، ،عمدة القاري، ،خوحضرت ته داسې يادې وې لكه چې دهغه په وړاندې پرانستل شوې پرتې وې[2] (مقدمه فيض البارى ص:۳۱)

---

[1] قال العلامة ملا على القارى رحمه الله: ولذا لم يعتبر احد من الفقهاء جواز العمل فى الفروع الفقهية بما يظهر للصوفية من الامور الكشفية او حالات المنامية(مرقاة شرح مشكوة ج:۹،ص:۳۵۸كتاب الفتن ايضاً قال ابن السمعانى رحمه الله: ويؤخذ من هذا ما تقدم التنبيه عليه ان النائم لو رائ النبى صلى الله عليه وسلم يامره بشئ هل يجب عليه امتثاله ولابد، او لا بد ان يعرضه على الشرع الظاهر فالثانى هو المعتمد كما تقدم(فتح البارى ج:۱۲،ص:۴۸۱،كتاب التعبير،طبع قديمى)

[2] المحدث الجليل امام العصر محمد انورالكشميرى الذى شاممت نفحة من ترجمته قد اعتنى بصحيح البخارى درساً واملاء وخوضاً وامعاناً مالم يعتن بماعداه،فطالعه قبل الشروع فى تدريسه ثلاث عشرة مرة من اوله الى آخره مطالعة بحث وفحص وتحقيق، وطالع شروحه المطبوعة من الفتح والعمدة والارشاد وغيرها من المطبوعة والمخطوطة ما تيسر له فى ديار الهند والحجاز وكان العمدة والفتح كاهما صفحة بين عينيه ثم وفق لتدريسه ما يربو على عشرين مرة دراسة امعان وتدقيق حتى اجهد نفسه شطر عمره فى العكوف عليه تحقيقاً وبحثاً (مقدمة فيض البارى ص:۳۱،طبع قاهرة)

حضرت شاه صاحب نه یواځې داچې صحیح بخاري ته،، اصح الکتب بعد کتاب الله،، ګاڼه بلکې دصحیحینو دحدیثونو دقطعیت قایل و. په فیض الباري کې فرمایي:
صحیح احادیث دقطعیت فائده ورکوي که نه؟ په دې کې اختلاف دی. دجمهوروقول دادی چې دقطعیت فائده نه ورکوي، خودحافظ رضی الله عنه مذهب دی چې قطعیت فائده ورکوي.
شمس الائمه سرخسي له احنافونه. په حنابله ووکې حافظ ابن تیمیه اوشیخ ابن صلاح هم دې طرف ته مائل وو. ددې حضراتوتعداد اګرچې کم دی خوددوی رایه هم صحیح رایه ده. دشاعر دا قول ضرب المثل دی:
زمانبڅه ماته پېغورراکوي ، چې زموږ تعدادکم دی ،ماهغې ته وویل چې کریم خلک اکثرکم وي.[1] (فیض الباری س:٤٥)
حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په ،، حجة البالغه ،، کې لیکي:
دمحدیثینواتفاق دی چې په صحیحینوکې څومره حدیثونه متصل مرفوع دي، صحیح دي اودا دواړه دخپلومصنفینوپورې متواتردي اوکوم کس چې ددې دواړو توهین کوي هغه مبتدع دی اود مسلمانانودلارې نه بې لارې شوی دی.[2]
۴: دیوحدیث صحیح کیدل یوشی اودهغه واجب العمل کیدل بل شی دی. له دې وجې نه د یوحدیث دصحیح کیدوله پاره دانه لازمیږي چې هغه دې واجب العمل هم وي، څکه چې کیدای شي چې هغه منسوخ وي. یامقیدوي. یامؤول وي. له دې وجې نه دیو امي علم کافي نه دی، بلکې ددې له پاره موږ دائمه مجتهدینو رحمهم الله داتباع محتاج یو. دقران کریم قطعي کیدل خودهرقسمه شک اوشبهې نه پاک دي، خو دقران کریم څینې ایاتونه منسوخ او مؤول یامقید بالشرائط دي، یواځې په دې اجمالي خبرو باندې اکتفا کوم. د تفصیل او تشریح ګنجائش نشته. والله اعلم!

(دلومړي جلد پای)

---

[1] القول الفصل فی ان خبر الصحیحین یفید القطع، اختلفوا فی ان احادیث الصحیحین هل تفید القطع ام لا؟ فالجمهور الی انها لا تفید القطع وذهب الحافظ رضی الله عنه الی انها تفید القطع والیه جنح شمس الائمة السرخسی رضی الله عنه من الحنفیة والحافظ ابن تیمیة من الحنابلة والشیخ عمروبن الصلاح رضی الله عنه وهؤلاء وان کانوا اقل عدداً الا ان رایهم هو الرئ وقد سبق فی المثل السائر: تعیرنا انا قلیل عددینا فقلت لها ان الکرام قلیل (مقدمه فیض الباری ص:٤٥،طبع قاهره)

[2] اما الصحیحان فقد اتفق المحدثون علی ان جمیع ما فیها من المتصل المرفوع صحیح بالقطع وانهما متواتران الی مصنفیهما وانه کل من یهون امرهما فهو مبتدع متبع غیر سبیل المؤمنین (حجة الله البالغة ج:۱،ص:۱۳٤،باب طبقة کتب الحدیث)

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

مُقَدِّمَة

تفسیر شاه منصوری

دقرآن لغوی او اصطلاحي معنی، تعریف، دعلم تفسیر، دتفسیر اوتاویل په مینځ کښی فرق، دتفسیراومطالبودقرآن دپوهې آداب اوشرطونه، دتفسیرماخذ، دقرآن کریم نومونه، دوحي ضرورت، دوحي اقسام، دوحی کاتبان، فرق په مابین دوحی، کشف او الهام کښې،

افادات

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا

نورالهادی المعروف بصاحب حق صاحب مدظله

مرتب

مولوی صدیق الله حقانی

مدرس: جامعه عربیه منارالقرآن اکوره ختك

ناشر

جدید مکتبه رشیدیه

قصه خوانی بازار محله جنگی پشاور 091-2580074

النحو في الكلام كالملح في الطعام

دروس الكافيه

پښتو شرح

کافیه ابن حاجب

افادات

حضرت العلامہ مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی مدظلہ العالی

مدرس دار العلوم حقانیه اکوره ختک

مرتب: مولوی محمد سلیم سواتی

ناشر:

تفسير الحسن البصري رحمه الله تعالى

١١٠ هـ

جمع وتحقيق ودراسة

د/ شير علي شاه المدني - د/ عمر يوسف كمال المدني

المجلد الخامس

٥

المكتبة الرشيدية

جرنلي روڈ، سردار پلازه، اکوڑہ خٹک، ضلع نوشہرہ

Mob: 0344-9084693

تفسير الحسن البصري رحمه الله

مَن لَّمْ یَعْرِفِ الْمَنْطِقَ فَلَا ثِقَةَ لَه فِی الْعُلُوْمِ (غزالی رحمۃ اللہ علیہ)

تحقیقاتِ نعیمی

پښتو

شرحِ قطبی

تالیف

حضرت مولانا نعیم احمد مدظله

استاذ جامعه خیر المدارس ملتان

ژباړن

مولانا لائق زاده حقانی

ناشر

مکتبہ رشیدیہ

جی۔ٹی روڈ سردار پلازه اکوڑه خټک ضلع نوشهره

۰۳۴۴-۹۰۸۴۶۹۳

د اول جلد اجمالي فهرست

ایمانیات او عقائد، د تقدیر مسائل، محاسن اسلام، نبي کریم ﷺ نور دی که بشر، عقیده حیات النبي، انبیاء کرام سره ملاقات، د معراج مسائل، په خوب کې نبي کریم لیدل، صحابه او صحابیات، حضرت حسین او یزید، د اجماع او تقلید مسائل، د سنت او بدعت تعریف، مروجه میلاد، اصلاح مفاهیم، د ډارون نظریه اعتقاد او اسلام

د دویم جلد اجمالي فهرست

د کفر، شرک او د ارتداد تعریف او احکام، قادیاني فتنه، کافرانو سره تعلقات، د ختم نبوت عقیده او د عیسیٰ علیه السلام نزول، د قیامت نښې، د ګناهونو نه توبه، د برزخ حالات، د جنت بحث، تعویذ کول او جادو، پیریان، رسومات او رواجونه، په اسلام کې د فال مسائل، متفرق مسائل، د اودس مسائل د غسل مسائل، د اوبو احکام، د تیمم مسائل، د موزو مسائل، د حیض او نفاس مسائل، د نوکانو د رنګ کولو مسائل، بغیر د اوداسه نه دعا او اذکار کول، د نجاست مسائل، د مانځه مسائل، د جماعت مسائل.

د دریم جلد اجمالي فهرست

د جماعت متعلق باقي مسائل، د آذان او اقامت مسائل، د مانځه شرطونه، د مونځ ادا کولو طریقه، د لاؤډ سپیکر مسائل، د صف جوړولو مسائل، د امام مسائل، د مقتدي مسائل، په کورکې مونځ کول، د مانځه نه پس دعا او اذکار، د مسبوق او لاحق مسائل، د ښځو د مانځه مسائل، د معذور احکام، د وترو مونځ، د سنت مونځ ادا کول، د مسافر مونځ، د جمعې مونځ

د څلورم جلد اجمالي فهرست

د خطبو متعلق باقي مسئلې، د اخترونو د مونځ مسائل، د تراویحو مسائل، نفلي مونځونه د سجده تلاوت مسائل، د مانځه متفرق مسائل، اوراد او وظائف، د مړي حکمونه، د اندامونو پیوندکاري، د جنازې مونځ، د قبرونو زیارت، ایصال ثواب کول، د قرآن کریم فضائل او مسائل، د روژې فضائل او مسائل، د رویت هلال مسائل، د اعتکاف مسائل، د تکبیرات تشریق مسائل

د پنځم جلد اجمالي فهرست

د زکاة مسائل، د عشر مسائل، د صدقه فطر مسائل، د نظر مسائل، نفلي صدقه، د فقیرانو متعلق مسئلې، د حج او عمرې فضیلت او فرضیت، په حرامو پیسو حج کول، د عمرې مسائل، د حج بدل مسائل، د محرم نه پرته حج کول، د قرباني مسائل، د حاجی د قرباني مسائل، مدینې منوره ته حاضري، د عقیقې مسائل، د ښکار مسائل، د ترخي، لړي او د هګو حکم، د سپي ساتلو مسائل

د شپږم جلد اجمالي فهرست

د کوژدن مسائل، د نکاح طریقه، شرعي مهر، د طلاق مسائل، د واده نه مخکې طلاق، د طلاق اقسام، خلعه کول، د حاملې طلاق، د ظهار مسائل، د نکاح د تنسیخ مسائل، طلاق نه انکار کول، د عدت مسائل، د اولاد تربیتي حق، غیر مسلمو سره کاروبار کول، معاملاتو کښې دهوکه کول، ذخیره کول، بیانه ورکول، د حصو کاروبار کول، د مضاربت مسائل، کور، زمکه او دکان په کرایه ورکول

د اووم جلد اجمالي فهرست

د کور او ځمکې په کرایه ورکولو باقی مسئلې، د قسطونو کاروبار، د قرض مسئلې، امانت، رشوت، د اخستلو او خرڅولو متفرق مسئلې، معاملات، د سود حکم، د بینک نه سود اخستل، د سود دې پیسو مصرف، د بینک نوکري، د بیمه کمپنی مسئلې، جواري (قمار) کول، د بانډ حکم، کمیشن، د میراث مسائل، لو نه له میراث محرومول، د وصیت مسائل، د جهاد او شهید حکمونه، د سیاست مسائل

د اتم جلد اجمالي فهرست

د پردې مسائل، اخلاقیات، سلام او مصافحه، د تعلیم مسائل، د دین تبلیغ مسئلې، د تصوف مسائل، د خوب حقیقت او تعبیر، د نومونو سره متعلق مسائل، د ږیرې مسائل، جسماني وضع قطع، د جامو متعلق مسائل، د خوراک او څکاک شرعي احکام، لوبې کول، موسیقي او ګډا، فلم کتل، د تصویر حکم، خانداني منصوبه بندی، د نعتونو متعلق مسائل، د مور پلار او خپلوانو سره تعلقات